بسم الله الرحمن الرحیم

د کتاب پیژندنه

د کتاب نوم: سپیځلی نبوي سیرت(الرحیق المختوم)

مؤلف:صفي الرحمن مبارکفوري

مترجم: سلطان محمود صلاح

کمپوز: د القلم کمپوز څانګه

Download from:aghalibrary.com

Edited by Foxit PDF Editor
Copyright (c) by Foxit Software Company, 2003 - 2009
For Evaluation Only.

بسم الله الرحمن الرحيم

ددې پښتو چاپ په اړه

نحمده و نستعينه ونستغفره و نعوذ بالله من شرور انفسنا و سيئات اعمالنا من يهده الله فلا مضل له و من يضلله فلا هادي و نشهد ان لا اله الا الله وحده لا شريک له ، له الملک و له الحمد و هو على كل شيئ قدير. اما بعد:

دروند لوستونکی نیکمرغه دی چې د داسې یوه کتاب لوستلو ته یې اراده کړیده چې د مخلوقاتو د سردار او نبیانو (علیهم السلام) د امام حضرت محمد (صلی الله علیه وسلم) د مبارک ژوند په هکله د قدر وړ معلومات وړاندې کوي.

انسان د خپل فطرت په حکم تل د ګټې، خیر، آرامۍ، نیکمرغۍ او بري په تکل کې وي، خو متاسفانه ډیر کسان خپل دا هدف نه شي موندلی، د بري ساحل ته د رسیدو په تمه د سفر په پیل یا جریان کې د سمندر د وژونکو څپو ښکار شي، په تیارو سر او ډوب شي.

یوازې هغه څوک به اصلي هدف ته رسیږي، د سعادت او فلاح په درشل به پل ږدي چې د حضرت محمد (صلی الله علیه وسلم) اواره او سیده لاره ونیسي او تر وروستي منزله یې د همغه د هدایاتو مطابق تعقیب کړي.

د کائناتو پروردګار راته څرګنده کړیده چې له اسلام نه پرته نورې ټولې لارې کږې، تیاره او وروستی منزل یې بدمرغي او تباهي ده. قرآنکریم فرمایي: ((ان الدين عند الله الاسلام...)). د خدای په نزد غوره او مقبول دین اسلام دی.

که وغواړو د اسلام لنډ تعریف وکړو، نو ویلی شو: هغه دین چې حضرت محمد (صلی الله علیه و اله وصحبه وسلم) د الله تعالی له لوري راوړی، بیا یې پخپلو اقوالو،

Edited by Foxit PDF Editor
Copyright (c) by Foxit Software Company, 2003 - 2009
For Evaluation Only.

افعالو، اخلاقو اوصفاتو د عمل په ډګر کې ټکی په ټکی عملي کړی، د قرآن او سنت په رڼا کې يې د ځمکې اوسيدونکو ته په ميرات پريښی تر څو تر قيامته د هر بنده په هر موقف مکان او مقام کې چې وي لارښوونه وکړي.

نو که څوک نجات او بری، خير او ښيګڼه غواړي، بايد مسلمان شي، او که څوک غواړي رښتونی مسلمان وي، نو بايد د حضرت محمد (صلی الله عليه واله وصحبه وسلم) په سپيڅلي شريعت ايمان او عمل ولري.

د مطلوب ايمان او مقبول عمل لپاره دکائناتو د سردار حضرت محمد (صلی الله عليه واله و صحبه وسلم) په مبارک سنت او سيرت سيي پوهه درلودل ډير ضروري او حتمي دي.

دا کتاب (سپيڅلی نبوي سيرت) چې د هند مشهور عالم الشيخ صفي الرحمن مبارکپوري (رحمه الله) په عربي ژبه د (الرحيق المختوم) په نوم ليکلی بيا يې اردو ته هم پخپله اړولی دی، د حضرت محمد (صلی الله عليه و آله وصحبه وسلم) د مبارک ژوند په مختلفو اړخونو د پوهيدو لپاره ډيره سوچه او غني چينه ده.

د خوښۍ ځای دی چې پښتو ژبړه يې د دوهم ځل لپاره پداسې حال کې چاپ ته سپارل کيږي چې د لومړي چاپ ډيرې غلطۍ پکې اصلاح شويدي. د لومړي ځل لپاره کتاب هغه وخت چاپ ته وسپارل شو چې زه د شهادت ورځپانې د مسئول مدير په توګه پدې ونه توانيدم کتاب ته مراجعه وکړم، د تصحيح چارې يې هم نورو ورونو سرته رسولې وې نو څه داسې غلطۍ وې پکې چې بايد تصحيح شوې وای.

دا دی د رحمان خدای په توفيق سره پدې بريالی شوم، کتاب ته له سره مراجعه وکړم او په نوې بڼه يې د سيرت قدرمنو مينه والو ته وړاندې کړم.ددې چاپ نوي شيان او زياتونې دا دي:

- ټول کتاب له سره کمپوز شوی.
- تيرې طباعتې غلطۍ تصحيح شوې .
- د ځينو عباراتو ژبړه تجديد او سمه شوې.
- د احاديثو اصلي نصوص را نقل شوي.

له خدای تعالی نه سوال کوم دا عمل مې پخپل کرم سره قبول کړي، او همدا ارزښتمن اثر د لوستونکو د علمي تندې د خړبولو او سم عمل وسيله او د آخرت توښه وګرځوي.له رحمان خدای نه د مغفرت او له لوستونکو نه د دعا په هيله. و صلی الله علی سيدنا محمد و علی آله واصحابه و من تبعهم باحسان الی يوم الدين. په احترام

Edited by Foxit PDF Editor
Copyright (c) by Foxit Software Company, 2003 - 2009
For Evaluation Only.

سلطان محمود صلاح
حیات آباد_ پیښور
پنجشنبه ۱۳۲۸/۸/۱۰=۲۰۰۷/۱۱/۱م

د مترجم سریزه

الحمدلله، الحمدلله الذي أرسل رسوله بالهدى و دين الحق ليظهره على الدين كله، و الصلاة و السلام على سيدنا و مولانا محمد و على آله و أصحابه أجمعين .

شکردی چې رحیم خدای یو ځل بیا د دې توفیق راکړ چې د حضرت محمد (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) د سیرت له کتابونو نه یو بل کتاب په پښتو وژباړم او د اسلام په ګناه ځوړول شوي افغان ولس ته یې نذرانه کړم .

دا یو واقعیت دی چې هیڅوک تر هغې پورې د ایمان دعوی نه شي کولی تر څو پورې یې چې د الله تعالی او رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) احکامو ته د اطاعت غاړه نه وي ایښی. مسلمان هغه دی چې اسلام یې د ژوند د قانون په حیث منلی او عملی کړی وي. اسلام هغه دین دی چې الله تعالی د خپلو بندګانو لپاره غوره او خوښ کړیدی. همدغه غوره دین الله تعالی د خپل افضل او وروستي پیغمبر حضرت محمد (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) پواسطه مونږ ته رالیږلی دی. حضرت محمد (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) د الله تعالی دین په پوره اخلاص او امانت سره لومړی پخپل ځان عملي کړی او بیایې امت ته رسولی دی. د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) مبارک سیرت یعنی د هغه اقوال، افعال او اخلاق، د اسلامي مقدس دین مکمله او عملي نمونه ده. که څوک غواړي ریښتونی مسلمان وي باید د خپل ژوند په هره لویه او وړه کې د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) اطاعت او پیروي وکړي. الله تعالی فرمایي: ((وَأَطِيعُوا اللَّهَ وَأَطِيعُوا الرَّسُولَ...)) (المائدة:۹۲) [د الله او رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) اطاعت وکړئ.]

د الله تعالی او رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) اطاعت فرض دی. مسلمان باید د الله تعالی دا حکم په بشپړه توګه عملي کړي، خو دا باید له یاده ونه

Edited by Foxit PDF Editor
Copyright (c) by Foxit Software Company, 2003 - 2009
For Evaluation Only.

باسو چې د دې الهي حکم پوره تعميل هغه وخت ممکن دی چې مسلمان د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) په مبارک سیرت خبر او پدې هکله پوره علم ولري، ځکه حضرت محمد (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) د الله تعالی رسول او داسې بنده وٴ چې د اسلام له نیغې لارې نه یې د یوه ویښته په اندازه هم انحراف ندی کړی. د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) ژوند یا د اسلام عملي بڼه او شکل، له عائشې (رضي الله عنه) نه د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) د اخلاقو او ژوند په هکله پوښتنه وشوه هغې په ځواب کې وفرمایل: ((**کان خلقه القرآن**)) یعنې د رسول (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) اخلاق او عملي ژوند قرآن و،د هغه مبارک ژوند د قرآنکریم عملي نمونه او مثال و. نبوي سیرت د اسلامي دین عملي توضیح او بیان دی. سیرت مو د رسول (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) له شخصیت نه خبروي، د قرآنکریم بشپړ او صحیح تفسیر راته بیانوي او د ژوند په ټولو برخو کې د هدایت داسې ډیوې راته بلوي چې که اقتدا پسې وکړو نو دنیوي او اخروي نیکمرغي به مو په برخه شي. الله تعالی فرمایي:

((**لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ اللَّهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ**)) (الاحزاب : ٢١)

د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) په شخصیت کې د تاسو لپاره ډیره نیکه نمونه ده.

په تاسف سره باید اعتراف وکړو چې زمونږ هیوادوال که څه هم له اسلام سره ډیره مضبوط تړاو لري، خو د سیرت د زده کړې او پوهې په اړه یې مطلوبه او لازمه توجه نده کړی. کیدای شي ډیرو افغانانو د سیرت کتابونه لوستلي او مطالعه کړي وي، خو ډیر کم به داسې وي چې د سیرت کتاب یې پدې نیت لوستی وي چې د خپل دین احکام ورنه زده کړي او څه چې لولي هغه پخپل ژوند کې پلی کړي، همدا وجه ده چې زه له درنو لوستونکو نه هیله کوم چې ددې کتاب له لوستلو نه مخکې پدې هکله خپل تصور تصحیح او برابر کړي. د دې کتاب او د سیرت د نورو موثقو کتابونو لوستلو ته پدې نیت ملا وتړي چې له همدې مبارک سیرت نه د خپل دین احکام زده کړي، همدا یې د لارې مشال وي اوپه مکمله توګه د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) په مبارک قدم پل کیږدي. سیرت باید د نورو تاریخي کتابونو حیثیت ونلري، چې یوازې په تیرو واقعاتو د خبریدو او پوهیدو لپاره ویل کیږي، بلکه د سیرت لوستنې او زده کړې هدف باید خپل ژوند د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) د ژوند په شان برابرول اوعیارول دي. مسلمانان مکلف دي د خپل رسول (صلی

Edited by Foxit PDF Editor
Copyright (c) by Foxit Software Company, 2003 - 2009
For Evaluation Only.

الله عليه و اله و صحبه و سلم) پيروي وکړي، الله تعالى امر کوي: ((قُلْ إِنْ كُنْتُمْ تُحِبُّونَ اللَّهَ فَاتَّبِعُونِي يُحْبِبْكُمُ اللَّهُ وَيَغْفِرْ لَكُمْ ذُنُوبَكُمْ وَاللَّهُ غَفُورٌ رَحِيمٌ)).(آل عمران: ۳۱)

[ووايه اې محمده (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم)! که چيرې تاسې له الله تعالى سره محبت کوئ نو زما (محمد(صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) متابعت وکړئ تر څو الله تعالى هم محبت درسره وکړي اوګناوې مو وبښي.]

دا هم يو واقعيت دى چې زمونږ په ټولنه کې د زياترو ناخوالو عوامل له اسلام نه بې خبري او ليرې والى دى . نو اې زما ځوريدليه وروره! ته که د ژوند په هره مرحله کې قرار لرې، او اجتماعي موقف دې که هرڅه وي کولى شې په همدې کتاب سره چې اوس ستا په لاس کې دى خپلې ډيرې ستونزې حل کړې، ځکه دا کتاب د هغه رسول (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) سيرت دى چې اطاعت يې د کاملې نيکمرغۍ او بشپړ بريالیتوب ضامن دى. زه ځان نيکمرغه او بختور شميرم چې الله تعالى توفيق راکړ چې د صفي الرحمن مبارکپوري ((الرحيق المختوم)) نومى کتاب له عربي نه په پښتو وژباړم. دا ژباړه مې لومړى ځل په ۱۹۹۱ کال کې پيل کړې وه، خو د ژوندنيو ستونزو له امله ايله په ۲۰۰۲ کال کې بشپړ شوه، او دا ده اوس دالله تعالى په فضل سره دکتاب په بڼه کې ستاسې مخې ته قرار لري. په ژباړه کې مې تر ډيره حده له احتياط او دقت نه کار اخيستى د شعرونو په ترجمه کې مې د همدې کتاب له اردو نسخې نه استفاده کړې، خو بيا هم د اشتباهاتو امکان نه شم ردولى. دکتاب په کمپوز او تصحيح کې د خواجه محمد اسحق او سيد سليمان هاشمd مرستې دقدر وړ دي. الله تعالى دې ټولو ته لا زيات توفيق ورپه برخه کړي. و صلى الله تعالى على سيدنا محمد وعلى آل سيدنا محمد و أصحابه و بارك وسلم عليهم أجمعين .

سلطان محمود صلاح

پيښور

۲۰۰۲/۱۰/۱۰

Edited by Foxit PDF Editor
Copyright (c) by Foxit Software Company, 2003 - 2009
For Evaluation Only.

د ا کـتـاب

الحمدلله رب العالمين، والصلاة و السلام على عبده و رسوله محمد افضل الرسل و خاتم النبيين، و على آله و صحبه و من اهتدى بهديه الى يوم الدين . و بعد

دا هغه کتاب دی چې د سيرت ليکنې د هغه نړيوالې سيالۍ لپاره مې ليکلی و چې د رابطة العالم الاسلامي له اړخه تنظيم شوې وه. د دې سيالۍ اعلان د نبوي سيرت له لومړي کنفرانس نه وروسته وشو، کوم چې د ۱۳۹۲ هـ قمري کال د ربيع الاول په مياشت کې د پاکستان د حکومت له خوا جوړ شوی و.

الله تعالى دې کتاب ته داسې مقبوليت او برى ليکلی و چې ما يې د ليکلو په مهال تمه نه درلوده، په سيالۍ کې يې لومړی مقام وګاټه، عامو او خاصو داسې خوښ کړ چې رشک (غبطة) وربانديې کيږي.

خبره داسې وه چې زه د رابطې له خوا د مسابقې په اعلان پخپل وخت خبر نه شوم، وروسته مې چې خبر واورید ، نو په سيالۍ کې د ګډون څه فکر مې ونکړ، بلکه پدې اړه مې وړاندیز هم ونه مانه، خو تقدير پکې ورګډ کړم.رابطې د ليکنو د تسليمولو لپاره د ۱۳۹۷هـ.ق کال د محرم مياشتې لومړۍ نيټه ټاکلې وه. د سيالۍ له اعلان نه تر دې نيټې پورې له تقريبا نهو مياشتو نه څو مياشتې له ما نه هسې ضايع شوې وې، او پاتې موده راته ددې ډول ليکنې لپاره کافي نه ښکاريده. خو چې اراده وکړه نو له الله سبحانه وتعالى نه مرسته وغوښته، متې مې بډ وهلې تر څو ليکنه بشپړه او پخپل وخت ولیږل شوه.

هغه وخت نه يوازې دا چې وخت کم و، بلکه زه په نورو مصروفيتونو هم بوخت وم، د ليکنې لپاره کافي مصادر په لاس کې نه وو، او موجودو منابعو ته مراجعه هم ستونزمنه وه. زما هيله دا وه چې له ډير دقت نه کار واخلم، زياتې او اضافي خبرې را نه وړم، او تر وسه د موضوع حق ادا کړم. د ليکنې په مهال مې څو داسې موضوع تر نظر تير شول چې خالي او ناکافي راته ښکاريدل او ددې وړ وو چې بايد بشپړ او زياتونه پکې وشي، خو هغه ددې کار د تر سره کولو جوګه نه وم، بس دومره مې کولی شوای چې په لاس کې موجود مواد تسويد او ترتيب کړم او بيا يې له مراجعې او تدقيق پرته کافي او نقل کړم.

نو په زړه کې مې دا پاتې شوه چې بايد هغه کمبود پوره شي، او د لازمو زياتونو هيله

Edited by Foxit PDF Editor
Copyright (c) by Foxit Software Company, 2003 - 2009
For Evaluation Only.

مې همداسې نيمه خوا وه ، ورځې او کلونه تير شول، فرصت را نه لاړ. وروسته به مې په کتاب کې ګوتې وهلې، څه به مې مخکې او څه وروسته کول، ځنې عبارتونه به مې بدلول، څه به مې پکې زياتول، او دا ټول که څه هغه څه وو کوم چې د ليکنې په مهال مې سترګې پرې لګيدلې وې ، خو بيا هم ګټور او مهم دي ان شاء الله . همدا راز اوس پدې بريالی شوم تر ډيره حده پخواني مصادر وګورم چې له املې يې د هغو نويو مراجعو له احتياج نه خلاص شوم کومې چې د ليکنې په وخت کې مې مراجعه ورته کړې او حواله مې يې ورکړې وه، دا دی پدې چاپ کې دا هم ورزياتوم.

دا تمه مې هم درلوده چې د کتاب په اړه علمي او ارزښتناک ملاحظات تر لاسه کړم، تر څو د موضوعات په اصلي محتوی کې ګټه ورنه واخلم، خو پدې برخه کې چې کوم ملحوظات را رسيدلي هغه يو هم د موضوعاتو تر جوهر او اصل پورې اړه نلري، ټول د جانبي امورو په هکله دي چې څه ګټه ورنه نشي کيدلی، بلکه ځنې ملاحظات خو بالکل غلط او دومره بې اساسه دي چې متخصصين خو څه کوې بايد عام څيړونکي يې هم په خوله رانه وړي.

دا چاپ به چې زياتونې او بدلونونه پکې شوې له مخکنيو چاپونو نه زيات ګټور او غوره وي ان شاء الله. او همدا اصلي اوقانوني چاپ دی . دا کتاب تر اوسه څو ځله د رابطې له خوا او څو ځله د مؤلف په اجازه د يو شمير ورونو له خوا چاپ شويدی، خو په لس ګونو طبعې يې داسې دي چې د مؤلف له اجازې پرته په غير قانوني توګه چاپ شوې ، خپروونکو د کتاب ښه شهرت ته کتلي او چاپ کړی يې دی، ځينو خو دومره جرات کړی چې د کتاب ټول حقوق يې هم دځان لپاره محفوظ بللي، الله تعالى دې هدايت ورته وکړي، او دا توفيق دې ورکړي چې د هغې ورځې له راتګ نه مخکې چې نه دوستي شته پکې او نه سوداګري، ټول حقوق پخپلو حقدارانو وسپاري.

و صلى الله على خير خلقه محمد و على آله و صحبه و بارک وسلم.

۱۸ ربيع الاول ۱۴۱۵هـ ق
۲۲ اګست ۱۹۹۴م
صفي الرحمن مبارکپوري
الجامعة الاسلامية ، المدينة المنورة

Edited by Foxit PDF Editor
Copyright (c) by Foxit Software Company, 2003 - 2009
For Evaluation Only.

د ښاغلي دکتور عبد الله عمر نصيف خبرې

الحمد لله الذي بتعمته تتم الصالحات، و اشهد ان لا اله الا الله وحده لا شريک له، و اشهد ان محمدا عبده و رسوله و صفيه و خليله، ادى الرسالة و بلغ الامانة و نصح الامة و ترکها على المحجة البيضاء ليلها کنهارها، صلى الله عليه و على آله و صحبه اجمعين، و رضي الله عن کل من تبع سنته و عمل بها الى يوم الدين، و عنا معهم بعفوک و رضاک يا ارحم الراحمين. اما بعد:

[ټولې ستاينې هغه الله لره دي چې په نعمت سره يې نيکۍ سرته رسيږي، شاهدي وايم چې له الله پرته بل د عبادت وړ معبود نشته، الله يوازې دی، شريک نلري، او شاهدي وايم چې محمد يې بنده او رسول، او غوره او خليل دی. محمد (صلى الله عليه وسلم) خپل رسالت ادا کړی، امانت يې رسولی، امت ته يې نصيحت کړی، او پداسې سپين غولي يې پريښی چې شپه يې له ورځ داسې رڼا ده، د الله درود دې وي پر محمد (صلى الله عليه وسلم) آل او اصحابو يې. الله دې راضي وي له هغه نه چې تر قيامته دهغه د سنت پيروي کوي او عمل ورباندې کوي. اې ارحم الراحمين خدايه! مونږ هم له خپلې عفوې او رضا نه برخمن کړه.]

سپيڅلی نبوي سنت هغه ذخيره او توښه ده چې تر قيامته به پاتې وي، خلک به يې په هکله خبرو او ليکنو کې سيالۍ او مسابقې کوي، د موضوعاتو په اړه يې د خبرو، کتابونو او ليکنو لړۍ د رسول (صلى الله عليه وسلم) له بعثت نه پيل شوې او تر هغې به دوام لري تر څو قيامت قايم شي. دا سنت هغه مشال دی چې د ژوند تر پايه د مسلمانانو لپاره لاره روښانه ساتي، د سلوکياتو، افعالو، اقوالو، له خدای سره اړيکو، له کورنۍ، خپلوانو، ورونو، امت او ټول بشريت سره د اړيکو په برخه کې عملي قدوه او نمونه ورته وړاندې کوي.

Edited by Foxit PDF Editor
Copyright (c) by Foxit Software Company, 2003 - 2009
For Evaluation Only.

الله تعالى فرمايلي: {لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ اللهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ لِّمَن كَانَ يَرْجُو اللهَ وَالْيَوْمَ الْآخِرَ وَذَكَرَ اللهَ كَثِيرًا} [الأحزاب: ٢١].[يقينا د تاسو هر هغه چا لپاره په رسول الله کې ډيره غوره اسوه ده، چې د الله او آخرت هيله لري او الله ډير يادوي.]

له حضرت عائشة (رضوان الله عليها) نه چې د رسول (صلى الله عليه وآله وسلم) د اخلاقو په هکله پوښتنه وشوه ، نو ويې فرمايل: (كان خلقه القرآن). قرآن يې اخلاق و.

پدې کې شک نشته څوک چې بری او نجات غواړي، نو په ټولو دنيوي او اخروي چارو کې به د الهي منهج پيروي کوي او د رسول (صلى الله عليه وسلم) په قدمونو به پل ږدي، نبوي سيرت به د خپل فکر او تدبر اساس ګرځوي او پدې ايمان پيدا کوي چې دا الهي منهج چې رسول (صلى الله عليه وسلم) د ژوند په ټولو برخو کې په عملي توګه پلی کړی، هغه خزانه ده چې د هر چا لپاره د هدايت ضمانت کوي،پدې کې د مشرانو،کشرانو، قومندانانو، افرادو، حاکمانو، محکومينو، وعظ کوونکو، وعظ اوريدونکواو مجاهدينو ټولو لپاره لارښوونې او هدايت شته. د ژوندانه په هر ډګر کې بشپړې لارښوونې لري، په سياست، حکومت، اقتصاد، اجتماع، انساني اړيکو، اخلاقو او نړيوالو اړيکو کې د هدايت اوچت څلی او نيکه قدوه ده.

مسلمانان چې لدې سيده لارې او الهي منهج نه د ليرې والي او انحراف له امله د جهالت او وروسته والي په کنده کې لويدلي، بايد بيرته خپلې اصلي لارې ته راوګرځي، سپيڅلي نبوي سيرت ته مخه کړي، په تعليمي نصاب کې يې شامل کړي.

او پدې پوه شي چې دا سيرت تش تاريخ او فکري تسکين نه دی ، بلکه دا الله تعالى ته د عودت او رسيدو لار ده. پدې سره انسانان اصلاح کيږي، دا د خلکو د نجات او بري لار ده، او دا د الله تعالى د کتاب عملي ترجمه، تصوير او تمثيل دی، او دا هغه نظام دی چې په تطبيق سره يې مسلمان او مؤمن د ژوند په ټولو چارو کې د الهي شريعت تابع او خاضع ګرځوي.

دا کتاب [الرحيق المختوم] د مؤلف محترم الشيخ صفي الرحمن المباركفوري له خوا يوه غوره او د ستاينې وړ هڅه ده. محترم مؤلف د رابطة العالم الاسلامي غوښتنې ته په ځواب سره د نبوي سيرت په هغه مسابقه کې ګډون وکړ، کومه چې په ١٣٩٦هـ ق کال کې د همدې اداري له خوا تنظيم شوې وه. او لکه چې د کتاب د لومړي چاپ په

Edited by Foxit PDF Editor
Copyright (c) by Foxit Software Company, 2003 - 2009
For Evaluation Only.

مقدمه کې د رابطې پخواني عمومي سکرتر محترم الشيخ محمد علي الحرکان ﴿رحمه الله، و جزاه الله عنا خير الجزاء﴾ ويلي دغه کتاب په همغه مسابقه کې لومړی مقام وګاټه.

خلکو ډير خوښ کړ، زياتې ستاينې يې وشوې، د لومړي چاپ ټولې نسخې خلاصې شوې، له ما نه يې وغوښتل د دريم چاپ لپاره څه وليکم، چې دادی دا لنډه مقدمه مې وليکله، له الله عزوجل نه سوال کوم چې دا عمل د خپل ذات لپاره خاص کړي، مسلمانانو ته يې د ګټې، خير او غوره بدلون وسيله وګرځوي ، او امت ته بيرته هغه له لاسه وتلی برم او د بشريت د مشرتابه مقام ورکړي، تر څو امت ددې الهي قول عملي مصداق شي چې فرمايي: {كُنتُمْ خَيْرَ أُمَّةٍ أُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ تَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَتَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنكَرِ وَتُؤْمِنُونَ بِاللهِ } [آل عمران: ١١٠]. [تاسو هغه غوره امت ياست چې د خلکو لپاره پيدا شوي يئ، په نيکۍ امر او له بدۍ نه نهی کوئ، او په الله ايمان لرئ.]

و صلى الله على المبعوث رحمة للعالمين، رسول الهدى و مرشد الانسانية الى طريق النجاة والفلاح، و على آله و صحبه و سلم. والحمد لله رب العالمين.

دکتور عبدالله عمر نصيف
د رابطة العالم الاسلامي عمومي سکرتر ﴿پخوانی﴾
د سعودي عربستان د مجلس الشوری د رئيس مرستيال

Edited by Foxit PDF Editor
Copyright (c) by Foxit Software Company, 2003 - 2009
For Evaluation Only.

د محترم الشيخ محمد بن علي الحركان خبرې

الحمد لله رب العالمين، خالق السموات و الارض، و جاعل الظلمات و النور، و صلى الله على سيدنا محمد خاتم الانبياء والرسل اجمعين، بشر و انذر و وعد و اوعد، انقذ الله به البشر من الضلالة، و هدى الناس الى صراط مستقيم، صراط الله الذي له ما في السموات و ما في الارض الا الى الله تصير الامور. و بعد:

[ټولې ستاينې هغه الله لره دي چې د عالميانو پروردګار دی. د آسمانونو او ځمکې، تیارو او رڼا پیدا کونکی دی، د الله تعالی درود دې وي زمونږ پر سردار د ټولو نبیانو او رسولا پر خاتم محمد باندې، هغه چې زیری راوړونکی او ویرونکی و، وعده کونکی او ګواښونکی، الله تعالی په همده سره بشریت له ګمراهۍ نه وژغوره او د همده په واسطه يې خلک نیغې لارې ته هدایت کړل، د هغه الله لارې ته چې د آسمانونو او ځمکې واکمني له همده سره ده، یاده دې وي چې هر څه د الله لوري ته ورتلونکي دي.]

الله سبحانه و تعالی چې خپل رسول ته د شفاعت حق او لوړه درجه ورکړه، مسلمانانو ته له ده سره د محبت امر او هدایت وکړ، او د ده پیروي يې د الهي محبت ننبه وبلله، الله تعالی فرمايي:

{قُلْ إِن كُنتُمْ تُحِبُّونَ اللَّهَ فَاتَّبِعُونِي يُحْبِبْكُمُ اللَّهُ وَيَغْفِرْ لَكُمْ ذُنُوبَكُمْ} [آل عمران: ۳۱].

[ورته ووایه که چیرې له الله سره محبت لرئ، نو زما (محمد) پیروي وکړئ، الله به له تاسو سره محبت وکړي او ګناوې مو دربښي.]

همدا هغه اسباب دي چې له امله يې زړونه له رسول (صلى الله عليه وسلم) د محبت هیله من کیږي، او د هغه په لټه پسې په حرکت راځي چې رسول (صلى الله عليه وسلم) ته د وصول او رسیدو سبب کیږي. د اسلام له لمر څرک نه را پدیخوا مسلمانان د رسول اکرم (صلى الله عليه وسلم) د محاسنو په بیان او سپیڅلي سیرت په خوږولو کې

Edited by Foxit PDF Editor
Copyright (c) by Foxit Software Company, 2003 - 2009
For Evaluation Only.

سيالي او مسابقې کوي. د رسول (صلى الله عليه وسلم) اقوال، افعال او لوړ اخلاق د هغه سيرت دی، ام المؤمنين حضرت عائشة (رضي الله عنها) يې د اخلاقو په هکله وايي: (**كان خلقه القرآن**). قرآن دمحمد (صلى الله عليه وسلم) اخلاق و. او معلومه ده چې قرآن خو د الله کتاب او بشپړ کلمات دي، او څوک چې پدې لوړ مقام کې قرار ونيسي په رښتيا چې هغه له ټولو خلکو نه غوره، اکمل، او له ټولو نه د زيات محبت حقدار دی.

له رسول (صلى الله عليه وسلم) سره د همدې مسلسل او دوامدار محبت له امله وه چې په ۱۳۹۲هـ .ق کال کې د پاکستان له خوا د سپيڅلي نبوي سيرت لومړنی اسلامي کنفرانس جوړ شو، او هملته وه چې رابطة العالم الاسلامي د سيرت په هکله دمسابقې اعلان وکړ او ژمنه يې وکړه چې پدې برخه کې ليکل شويو لومړنيو پنځو کتابونو يا څيړنو ته به د يو سل او پنځوس زره سعودي ريالونو په اندازه جايزه ورکوي. خو د کتاب يا څيړنې لپاره يې دا شروط وټاکل:

۱. بحث يا ليکنه بايد بشپړه وي، او تاريخي پيښې پکې د واقع کيدو د نيټې په اساس ترتيب شوې وي.
۲. څيړنه بايد په زړه پورې وي او مخکې نه وي خپره شوې.
۳. څيړونکی بايد ټول هغه مخطوطات او علمي مصادر ذکر کړي، کوم چې په ليکنه کې يې استفاده وره کړې وي.
۴. ليکونکی بايد خپل بشپړ ژوند ليک وليکي، تعليمي سويه وښيي او که تاليفات ولري نومونه يې واخلي.
۵. ليکنه دې په ښه او واضح خط وليکل شي، که ټيپ شي غوره به وي.
۶. ليکنې په عربي ژبه او يا نورو ژوندیو ژبو د منلو وړ دي.
۷. د بحث د منلو نيټه د ۱۳۹۲ هـ کال د ربيع الثاني له لومړۍ نيټې نه پيل او ۱۳۹۷هـ.ق دمحرم په لومړۍ پای ته رسيږي.
۸. ليکنې په بنده لفافه کې په مکه کې د رابطة العالم الاسلامي عمومي سکرتريت ته سپارل کيږي، او د اداري له خوا ځانګړې مسلسله شماره ورکول کيږي.
۹. بحثونه به پدې برخه کې له لويو علماوو نه جوړه شوې کميټه ګوري.

دې اعلان هغه علماء مسابقې ته وهڅول چې الله تعالى د خپل رسول (صلى الله عليه وسلم) محبت ور په برخه کړيدی. د رابطې دفتر تياري ونيوله چې په عربي، انګليسي، اردو او يا

Edited by Foxit PDF Editor
Copyright (c) by Foxit Software Company, 2003 - 2009
For Evaluation Only.

کومه بله ژبه لیکل شوې لیکنې به منې.
ورونو خپل بحثونه ولیکل او مونږ یو سل یو اویا بحثونه راورسیدل، لدې جملې نه۸۴ بحثونه په عربي ، ۲۴ په اردو ، ۲۱ په انګلیسي، یو په هوساوي او یو په فرانسوي ژبه لیکل شوی و.
رابطې د لویو علماوو کمیټه جوړه کړه تر څو دا بحثونه او لیکنې وګوري، او په درجه یې برابرې کړي. هغه لیکنې او بحثونه چې د جائزې وړ وبلل شول پدې ترتیب دي:

۱. د لومړۍ جائزې ګټونکی د هند له الجامعة السلفية نه الشيخ صفي الرحمن المبارکفوري وپیژندل شو او د جائزې اندازه یې پنځوس زره ریاله وه.
۲. دوهمه جائزه د د دکتور ماجد علي خان چې د هند د نوي ډیلي له الجامعة الملية نه دی، په برخه ورسیده او اندازه یې څلویښت زره ریاله کیږي.
۳. دریمه جائزه په پاکستان د الجامعة الاسلامية رئیس دکتور نصیر احمد ناصر وګټله او دا دیرش زره ریاله وه.
۴. څلورمه جائزه د مصر استاذ حامد محمود محمد منصور لیمود و ګټله او د هغې اندازه شل زره ریاله وه.
۵. پنځمه جائزه د سعودي عربستان د مدینې منورې استاذ عبد السلام هاشم تر لاسه کړه او هغه لس زره ریاله وه.

د بریالیو پنځو څیړونکو نومونه د رابطې له خوا په هغه اسلامي کنفرانس کې اعلان شول چې د ۱۳۹۸هـ.ق په شعبان میاشت کې د پاکستان په کراچۍ ښار کې جوړ شوی و. همدا راز د بریالیو نومونه په ټولو اخبارونو کې هم خپاره شول.
په همدې مناسبت د رابطې عمومي سکرتریت پخپل دفتر مکه مکرمه کې د مکې د امارت د وکیل شهزاده سعود بن عبد المحسن بن عبد العزیز تر لارښوونې او اشراف لاندې یوه لویه غونډه را وبلله. او همدلته د۱۳۹۹کال د ربیع الاول په دوولسمه نیټه د هفتې په سهار شهزاده سعود د مکې مکرمې د امیر شهزاده فواز بن عبد العزیز په استازیتوب جائزې ګټونکو ته وسپارلې.
په همدې غونډه کې رابطې اعلان وکړ چې دا بریالي بحثونه به چاپوي او په څو ژبو به یې خپروي، د همدې ژمنې په اساس دا دی د چاپ لړۍ د همغه بحثونو د سر په ګل سره پیلوو. دا د هند د سلفیه جامعې د شیخ صفي الرحمن مبارکفوري بحث دی، څکه همده لومړی مقام ګټلی و. ورپسې نورې لیکنې او بحثونه په خپل ترتیب سره چاپ ته سپارو. له

Edited by Foxit PDF Editor
Copyright (c) by Foxit Software Company, 2003 - 2009
For Evaluation Only.

الله تعالى نه سوال كوو چې زمونږ ټولو اعمال خالص دځان لپاره قبول كړي، انه نعم المولى و نعم النصير.

و صلى الله على سيدنا محمد و على آله و صحبه وسلم.

محمد بن علي الحركان

د رابطة العالم الاسلامي عمومي سكرتر

Edited by Foxit PDF Editor
Copyright (c) by Foxit Software Company, 2003 - 2009
For Evaluation Only.

د مؤلف خبرې

الحمد لله الذي أرسل رسوله بالهدي ودين الحق ليظهره على الدين كله، فجعله شاهداً ومبشراً ونذيراً، وداعيًا إلى الله بإذنه وسراجًا منيراً، وجعل فيه أسوة حسنة لمن كان يرجو الله واليوم الآخر وذكر الله كثيراً. اللهم صل وسلم وبارك عليه وعلى آله وصحبه ومن تبعهم بإحسان إلى يوم الدين، وفجّر لهم ينابيع الرحمة والرضوان تفجيرا.

وبعد:

[ټوله ثنا هغه الله لره ده چې خپل رسول يې له هدايت او حق دين سره راليږلی، تر څو پر ټولو اديانو برلاسي ورکړي، نو هغه يې شاهد، زيری ورکونکی او ويرونکی، د خدای په امر د خدای لوري ته بلونکی او روښانونکی چراغ ګرځولی، او د هغو کسانو لپاره يې نيکه قدوه ګرځولی کوم چې الله ډير يادوي او په الله او آخرت پوري زړونه تړي. يا خدايه! پر رسول(صلى الله عليه وسلم) درود، سلام او برکت وکړه، په آل ، اصحابو او دقيامت تر ورځې پيروانو يې هم همدا پيرزوينه وکړه، د رحمت او رضا چينې ورته را وخوځوه.]

د رخې (غبطې) او خوښۍ ځای دی چې رابطة العالم الاسلامي په پاکستان کې د سپيڅلي نبوي سيرت د کنفرانس په پای يعنې د ۱۳۹۲هـ کال د ربيع الاول په مياشت کې د سيرت په اړه د ليکنې او څيړنې نړيواله مسابقه اعلان کړه، تر څو په سپيڅلي سيرت کې تر ټولو غوره بحث وليکل شي، او تر څو ليکونکي تشويق او وهڅول شي او خپلې فکري هڅې ترتيب او تنظيم کړي. زه فکر کوم چې دا ډير ارزښتناک کار دی. ځکه که ځير شو نبوي سيرت ـ على صاحبها مايستحق من الصلاة والسلام ـ هغه يوازينې منبع او چينه ده چې د اسلامي ټولنې ژوند او بشريت نيکمرغي ورپورې تړلې ده.

Edited by Foxit PDF Editor
Copyright (c) by Foxit Software Company, 2003 - 2009
For Evaluation Only.

زما نیکمرغي ده چې پدې مبارکه مسابقه کې پخپلې لیکنې سره ونډه اخلم، خو چیرته زه او چیرته دا مقام چې د سید المرسلین، سید الاولین والاخرین په ژوند رڼا واچوم. زه هغه څوک یم چې ټوله نیمکرغي او نجات مې پدې کې وینم چې د هغه له نور نه رڼا واخلم تر څو په تیارو کې ورک او هلاک نه شم، او زه هغه عاجز یم چې په ژوند یې له امت نه یم ، مرم به او امتي به یې وم، او دهمده په شفاعت سره به مې الله تعالی ګناوې راته ببني.

پدې کتاب کې زما اسلوب هسې دی چې د رابطې د شروطو له پوره کولو سره سره مې پوره اعتدال مراعات کړی، له ستړي کونکي اوږدوالي او مخل یا ناقصونکي لنډوالي نه مې ځان ساتلی. ځینې موضوعات مې داسې مخې ته راغلي چې په هکله یې د مصادرو تر منځ داسې اختلاف وجود درلود چې جمع او توفیق یې ممکن نه و، پداسې حالت کې مې له ترجیح نه کار اخیستی او هغه څه مې په کتاب کې لیکلي چې له ځیرنې، تدقیق او نقد نه وروسته راجح او قوي راته ښکاره شویدي، خو د ترجیح دلایل او وجوهات مې له اوږدوالي نه د ویرې له امله نه دي ذکر کړي.

د روایاتو د منلو او ردولو په اړه مې د محققو امامانو له لیکنو نه استفاده کړیده، او د صحیح، حسن او ضعیف په پیژندلو کې مې د دوی پر حکم او فیصلو باور او تکیه کړیده، ځکه وخت د نور تدقیق او بحث اجازه نه راکوله.

په ځینو ځایونو او موضوعاتو کې مې یو شمیر دلایلو او د ترجیح وجوهاتو ته اشاره کړیده، او دا په هغه ځای کې چې ویریدلی یم لوستونکي حیران نه شي، عجیبه ورته ښکاره نه شي، او یا په هغه موضوع او ځای کې چې لیدلي مې دي لومړنیو او وروستنیو ټولو هسې خبره کړیده او په داسې څه یې اتفاق کړی چې صحیح نه دی. والله ولي التوفیق.

اللهم قدر لي الخير في الدنيا والآخرة انک انت الغفور الودود ، ذو العرش المجيد.

صفي الرحمن المباركفوري

بنارس ـ هند

Edited by Foxit PDF Editor
Copyright (c) by Foxit Software Company, 2003 - 2009
For Evaluation Only.

دعربو موقعيت اوقومونه

نبوي پاک سيرت په حقيقت کې له هغه رسالت (پيغام) نه عبارت دی کوم چې رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) بشري ټولنې ته راوړی، او په هغه سره يې خلک له تيارو نه رڼا او د بندګانو له عبادت نه ديوه الله (جل جلاله) عبادت ته رابللي دي.
د دې سپيڅلي سيرت ريښتوني اوحقيقي ځيره تر هغې پورې په سيي توګه نه شي څرګندیدی ترڅو د دې رسالت نبۍ او آثار له هغه نه مخکنيو شيانو او حالاتو سره نه وي پرتله شوي، نو له همدې کبله مونږ د کتاب په لومړني فصل کې له عربي قومونو له اسلام نه وړاندې د هغوی له تطور او بدلون، او له هغې وضعې او حالاتو نه خبرې کوو په کومه کې چې محمد(صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) په نبوت مشرف شوی و.

د عربو موقعيت

العرب په لغت کې دښتو، ډاګونو او هغه وچو ځمکو ته ويل کيږي چې نه پکې اوبه وي او نه بوټي. عربي جزيره او د دې سيمې اوسيدونکي له ډيرې پخوا زمانې راهيسې پدې نامه يادیږي. د دې جزيرې لويديځ ته سره بحيره او د سينا ټاپوزمه، ختيځ ته خليج او د عراق جنوبي زياتره برخې، جنوب ته عربي بحيره چې له بحرالهند نه امتداد مومي، او شمال ته يې شام اوعراق (که څه هم هلته د پولو په هکله اختلاف وجود لري) پروت دی. مساحت يې د يو مليون متر مربع او يو ميليون او درې سوه زره ميله مربع تر منځ اټکل شويدی. داجزيره د طبيعي جغرافيايي موقعيت له پلوه ډيره ارزښتناکه ده. چارچاپيره ئې داسې پراخه او ارتې دښتې او ريګستانونه دي چې دې جزيرې ته يې د يوې داسې پخې کلا بڼه ورکړيده چې پردې وروباندې په آسانۍ سره تسلط او قبضه نشي لګولی، او همدا وجه ده چې ددې سيمې خلک له ډيرې پخوا زمانې راهيسې پخپلو ژوندونو او کارونو کې آزاد او خود مختاره دي. که دا دښتې او ريګستانو نه نه واى نو بيا د عربو له وسه نه وه پوره چې د خپلو پولو نه اخوا پرتو دوو لويو امپراطوريو حملې او يرغلونه په شا وتمبوي او يا د هغوی له تسلط نه آزاد پاتې شي.
له بله پلوه دا جزيره د نړۍ د مشهورو وچو په مينځ کې پرته ده او له هغو ټولو سره د

وچې او اوبو له لارې ټړل شویده، پدې معنی چې په شمال کې له افریقا، شمال ختیځ کې له اروپا، او لویدیځ کې له عجمو، منځنې او نژدې ختیځ او همداسې له هند او چین سره لاره لري. همدا راز د اوبو له لارې له دې ټولو وچو نه کښتۍ او بحري جهازونه سیخ سیده د دې جزیرې بندرګاه ته راتلی شي.

او د همدې جغرافیایي موقعیت له برکته د عربي جزیرې شمالي او جنوبي برخو په تیره زمانه کې د مختلفو ولسونو لپاره د ورکړې راکړې (تجارت) فرهنګ، دیانت، هنر، فن او علم د یوه لوی مرکز حیثیت درلود.

عربي قومونه

تاریخ پوهانو عربي قومونه د عربو د اصل او نسل په اساس په دریو برخو ویشلي دی:

۱ ـ (البائدة) **له مینځه تللي عربان:** دا هغه پخواني عربان دي چې په هکله یې پوره تاریخي معلومات په لاس ندي راغلي، او دا لکه د عاد، ثمود، طَسْم، جَدیس، عِمْلاق، أُمَیْم، جُرْهُم، حَضُور، وَبـــار، عَبیل، جاسم، حَضْرَمَوت او نور قومونه.

۲ ـ عاربة **عربان:** دوی د یَشْجُب بن یَعْرُب بن قَحْطان اولاده ده، او قحطاني عربان ورته ویل کیږي.

۳ ـ **مستعرب عربان:** دوی د اسماعیل (علیه السلام) اولاده ده او عدناني عربان بلل کیږي.

د عاربة **عربانو** (**قحطان پښه**) اصلي ځای یمن دی. **دسبأ بن یشجب بن یعرب بن قحطان** له اولادې نه زیاتې قبیلې لري، **خو دوې قبیلې یې حِمْیَر بن سبأ، اوکَهْلان بن سبأ ډیرې مشهورې دي، او نورې** یوولس یې دومره شهرت **نلري.** او دغه عربان د **سبأ له اولادې نه پرته نورې قبیلې نلري.**

الف: حِمْیَر بن سبأ، چې مشهورې کورنۍ یې :

۱ ــ **قُضَاعة: او له هغې نه بَهْراء، بَلِيٌّ، القَیْن، کَلْب، عُذْرَة او وَبَرَة منځته راغلې.**

۲ ـ السَّكاسك: دا د بنو زيد بن وائلة بن حمير كورنۍ ده، او د زيد لقب سكاسك و. او دوی د كِنْدة له سكاسك نه بيل قوم دی.

۳ ـ زيد الجمهور: او پښې يې حمير الأصغر، سبأ الأصغر، حضور، او ذو أصبح دي.

ب: كَهْلان بن سبأ، مشهوري كورنۍ يې دا دي:

هَمْدان، أَلْهَان، الأشْعَر، طيئ، او مَذْحِج [له مذحج نه: عَنْس او النَّخْع]، او لَخْم [له لخم نه: كندة، او له كندة نه : بنو معاوية، السَّكُون او السكاسك]، او جُذَام، عاملة، خَوْلان، مَعَافِر، او أنمار [او له أنمار نه: خَثْعَم، بَجيلَةَ، او له بجيلة نه: أحْمَس] او الأزْد، [او له الأزد نه: الأوس، الخزرج، خُزَاعة او د جَفْنَة اولاده چې د شام پاچايان وو او آل غسان شهرت لري].

د كهلان كورنۍ پخوا له يمن نه وتلې او د جزيرې په مختلفو برخو كې خورې شويدي زياتره يې له عرم سيلاب نه مخكې هغه وخت له يمن نه ووتلې كله چې روميانو مصر او شام ونيول او د يمن په تجارتي بحري لارو يې هم قبضه ولګوله، د وچې لارې يې هم ګډې وډې كړې. ددې تر څنګ د كهلان او حمير كورنيو خپل مينځي جګړې او مقابلې هم د دې سبب شوې چې كهلان وطن پريږدي او د حمير قبيله پخپل ځای پاتې شي.

د كهلان قبيلې مهاجرين په څلورو برخو ويشلی شو:

۱ - ازد – دوی د خپل مشر عمران بن عمرو مزيقباء په امر خپل وطن پرينبود، لومړی په يمن كې د ننه له يوه ځای نه بل ته تلل، راتلل، د حالاتو د معلومولو پخاطر يې د څارګروپونه استول تر څو په پای كې د شمال په لور لاړل او مختلفې كورنۍ يې په مختلفو سيمو كې ميشتې شوې چې تفصيل يې داسې دی:

ثعلبه بن عمرو په حجاز كې د ثعلبيه او ذي قار تر مينځ واړول او كله يې چې اولادونه لوی شول او شميره يې ډيره شوه نو مدينې ته ننووت او هملته ميشت شو، اوس او خزرج او د حارثه بن ثعلبه اولاده له همدې (ثعلبه) قبيلې څخه دي.

حارثه بن عمرو (خزاعه) او اولاده يې په ظهران كې ځای په ځای شول، وروسته يې په

مکه حمله وکړه او د مکې اصلي اوسيدونکي (جرهميان) يې له مکې نه وايستل او دوی پکې ميشت شول.

عمران بن عمرو او اولاده يې عمان ته لاړل، همدوی د عمان ازديان دي.

د نصر بن ازد کورنۍ په تهامه کې ميشته شوه او دوی ته ازد شنوءه وايي.

جفنه بن عمرو او اولاده يې شام ته ورسيدل او هملته ميشت شول، جفنه په شام کې د غساسنه پاچايانو پلار و، دوی ته غساسنه ځکه ويل کيږي چې مخکې لدينه چې شام ته لاړ شي په حجاز کې يې د غسان په نامه مشهورې چينې تر خوا اړولي وو او همدې چينې ته د نسبت په اساس غساسنه وبلل شول.

۲ـ لخم او جذام – دوی د خټې او شمال په لوري لاړل. او **د لخم** له کورنۍ نه يو هم په حيره کې د مناذره پاچايانو پلار نصر بن ربيعه و.

۳ـ بنو طيئ – د ازد کورنۍ له وتلو وروسته بنو طيئ د شمال په لور وخوځيدل تر څو د اجا او سلمی نومیو غرونو تر مينځ ځای په ځای شول چې وروسته دا دواړه غرونه د طيئ د غرونو په نامه مشهور شول.

۴ـ کِنده- دوی لومړی بحرين ته لاړل، خو وروسته مجبور شول چې حضرموت ته ولاړ شي، هلته يې هم ګذاره ونشوه نجد ته لاړل او هلته يې لوی حکومت جوړ کړ، خو هغه هم ډير ژر له مينځه لاړ.

د حمير يوه قبيله (قضاعه) هم له يمن نه ووتله او د عراق د سرحدي برخو په السماوه نومي کلي کې ميشته شوه[1] خو پدې کې اختلاف شته دی چې قضاعه له حمير څخه وه او که نه.

مستعرب عربان

د مستعربه عربانو نيکه حضرت ابراهيم (عليه السلام) اصلا د عراق د (ار) نومي ښار ګوتي اوسيدونکي و. (ار) د فرات سيند په لويديځه غاړه له کوفې سره نژدې پروت دی، په اوس وخت له ځمکې کيندنې او څيړنې وروسته د نومورې ښارګوتي او د ابراهيم (عليه السلام) د کورنۍ او د دوی د ټولنيزې او ديني وضعې په هکله زيات

---

[1]. د نوموړو قبيلو د هجرت او نورو تفصيلاتو په هکله د الخضري تاريخ الامم الاسلاميه نومي کتاب ۱۱/۱-۱۳ او د قلب جزيره العرب کتاب ۲۳۱ او ۲۳۵ مخ ته مراجعه وکړه. د نوموړو قبايلو د هجرت د نيټګيګ او عواملو په هکله تاريخي منابع پخپل مينځګ کې زيات اختلافات لري خو مونږ دلته له زيات دقت او خګيږنيګ وروسته هغه خګه رانقل کړيدي چيګ د دليل له پلوه راته سيي او پياوړي شګکاره شويدي.

معلومات په لاس راغلي دي.[۲]

څرګنده ده چې ابراهیم (علیه السلام) د عراق له (ار) نومي ځای نه حاران یا حران او له هغه ځای نه فلسطین ته تللی و او همدغه ځای یې د خپل دعوت لپاره مرکز ټاکلی و پدې ملک کې د ننه او بهر یې ډیر سفرونه کړیدي[۱]. یو ځل مصر ته تللی و هلته چې د وخت د فرعون له فریب او مکر سره مخ شوی و، فرعون غوښتل چې د ابراهیم (علیه السلام) ښځې حضرت ساره ته ضرر ورسوي، خو الله تعالی د هغه دا چل او ول ناکام کړ، فرعون پدې پوه شو چې ساره له خپل خدای (جل جلاله) سره څومره نژدې او ټینګې اړیکې لري، همغه وه چې خپله لور (هاجر)[۲] یې ساره ته د خادمې او نوکرې په صفت ورکړه او بیا ساره هغه (هاجر) ابراهیم (علیه السلام) ته په نکاح ورکړه.[۳]

ابراهیم (علیه السلام) بیرته فلسطین ته راستون شو او هلته الله تعالی له هاجر نه زوی ورکړ، دغه وخت له ساره سره څه ضد پیدا شو او ابراهیم (علیه السلام) یې دېته اړ یوست چې هاجر او ورځوکی زوی یې (اسماعیل علیه السلام) له دې ځای نه وباسي، نو ابراهیم (علیه السلام) هغوی دواړه له ځان سره بوتلل او د بیت الله شریف سره خوا کې تر هغې لوی ونې لاندې یې ځای په ځای کړل چې په هغه لږ اوچت شانته ځای چې شا او خوا یې د سیلاب اوبو وهلي و ولاړه وه، هغه وخت په مکه کې هیڅوک هم نه اوسیدل ځکه هلته نه اوبه وې او نه واښه.

ابراهیم (علیه السلام) هاجر او اسماعیل (علیه السلام) ته لږ څه اوبه او یوه کمه اندازه خواړه (خرما) پرېښودل او خپله بیرته فلسطین ته ستون شو، څو ورځې لانه وې تیرې شوې چې د دوی د څښاک اوبه او خواړه خلاص شول په همدې وخت کې د الله تعالی په فضل او کرم سره د زمزم چینه را وخوټیده او پدې ترتیب سره رحیم خدای د دوی د څښاک او خوراک تدبیر وکړ. دا کیسه اوږده او مشهوره ده.[۴]

وروسته د یمانیه قبیلې خلک (دوهم جرهمیان) راغلل او د اسماعیل (علیه السلام) د مور په اجازه په مکه کې میشته شول. ویل کیږي هغوی لدینه مخکې د مکې په شا او خوا درو کې اوسیدل.

---

[۲] تفهیم القران د سید ابو الاعلی مودودي لیکنه ۱/ ۵۵۳-۵۵۴-۵۵۵-۵۵۶

[۱] تفهیم القران ۱۰۸/۱

[۲] مشهوره دا ده چې (هاجر) وینځه وه خو سر محقق او لیکوال قاضي محمد سلیمان المنصور پوري دا ثابته کړیده چې (هاجر) د فرعون لور وه، او هغه وینځه نه بلکه آزاده وه. رحمة للعالمین ۳۲/۲-۳۷.

[۳] رحمة للعالمین ۳۴/۲ . د تفصیل لپاره صحیح بخاري ۴۷۴/۱ وګورئ.

[۴] صیح البخاري کتاب الانبیاء ۴۷۴/۱ -۴۷۵ ته مراجعه وکړئ.

د بخاري شریف له روایت نه دا په ډاګه کیږي چې یمانیان له اسماعیل (علیه السلام) نه وروسته خو مخکې لدینه چې هغه ځوان شي په مکه کې میشت شوي وو، پداسې حال کې چې لدینه وړاندې به هم هغوی پدې دره باندې تیریدل.[1]

ابراهیم (علیه السلام) به کله کله د اسماعیل (علیه السلام) او حضرت هاجر د لیدو پخاطر مکې ته تشریف وړ، خو دا نده معلومه چې څو ځله مکې ته تللی دی، تاریخي مصادرو مکې ته د ابراهیم (علیه السلام) یوازې څلور سفرونه ذکر کړیدي:

۱- قرآنکریم فرمایي چې الله تعالی ابراهیم (علیه السلام) ته داسې خوب ورولید چې خپل زوی اسماعیل (علیه السلام) ذبح کوي، نو هغه هم د الله تعالی د دې امر د تعمیل لپاره اقدام وکړ: (فَلَمَّا أَسْلَمَا وَتَلَّهُ لِلْجَبِينِ (۱۰۳) وَنَادَيناهُ أَنْ يَا إِبْرَاهِيمُ (۱۰٤) قَدْ صَدَّقْتَ الرُّؤْيَا إِنَّا كَذَلِكَ نَجْزِي الْمُحْسِنِينَ (۱۰۵) إِنَّ هَذَا لَهُوَ الْبَلاءُ الْمُبِينُ (۱۰٦) وَفَدَيناهُ بِذِبْحٍ عَظِيمٍ) (الصافات: ۱۰۳– ۱۰۷)

[ترجمه: ((او کله چې غاړه کیښوده (دواړو حکم د الله ته) او وایې چاوه دغه (اسماعیل) پر ښي اړخ دده او غږ وکړ مونږ ده ته داسې چې اې ابراهیم! په تحقیق رښتیا کړ تا خوب (خپل او ومو مانه هغه له تا) بیشکه مونږ همداسې (نیکه جزا لکه د ابراهیم نېکه) جزا ورکوو (نورو محسناتو نیکو کارانو ته، بیشکه چې هم دا ذبحه خوا مخوا دا ابتلا ازموینه وه ښکاره او فدیه مو ورکړه دغه (اسماعیل) ته په مذبوحي لویې سره)).]

په سفر التکوین (بایبل) کې راغلي چې اسماعیل (علیه السلام) له اسحاق (علیه السلام) نه (۱۳) دیارلس کاله مشر و، او د نوموړې کیسې له سیاق نه داسې معلومیږي چې دا پیښه د اسحاق (علیه السلام) له زیږیدو نه مخکې واقع شویده ځکه د اسحاق (علیه السلام) د پیدا کیدو زیری د کیسې په پای کې راغلی دی.

لدې کیسې نه دا ثابتیږي چې د اسماعیل (علیه السلام) له ځوانیدو نه مخکې ابراهیم (علیه السلام) لږ تر لږه یو ځل مکې ته سفرکړیدی. او د پاتې دریو نورو **سفرونو** تفصیلات یې بخاري شریف د ابن عباس (رضي الله عنهما) په روایت را نقل کړیدي چې لنډیز یې داسې دی [2]:

۲- کله چې اسماعیل (علیه السلام) ځوان شو او له جرهمیانو نه یې عربي ژبه زده

---

[1] البخاري ج۱/۴۷۵

[2] البخاري ج ۱/۴۷۵ - ۴۷۲

کړه، د جرهمیانو مینه ورسره پیدا شوه، نو یوه ښځه یې ده ته په نکاح ورکړه، دغه وخت یې مور (حضرت هاجر) وفات شوه. په همدې وخت کې حضرت ابراهیم (علیه السلام) هم د دوی د احوال او لیدو پخاطر مکې ته راغی، اسماعیل (علیه السلام) یې ونه موند، له ښځې نه یې دده او د ژوند د حال، احوال په هکله پوښتنه وکړه، ښځې یې له ژوند نه ډیرې ګیلې او شکوې وکړې، نو ابراهیم (علیه السلام) ورته وویل کله چې اسماعیل (علیه السلام) راغی ورته ووایه چې د دروازې ته دری دې بدله کړه. اسماعیل (علیه السلام) چې راغی د پلار په مقصد پوه شو، نو خپله دا ښځه یې طلاقه کړه، او د جرهم قبیلې د مشر مضاض بن عمرو له لور سره یې واده وکړ.[1]

۳ - د اسماعیل (علیه السلام) له دوهم واده نه وروسته ابراهیم (علیه السلام) یو ځل بیا مکې ته راغی، خو دا ځل یې هم خپل زوی ونه ولید، له ښځې نه یې د حال او احوال پوښتنه وکړه هغې د الله تعالی حمد او ثنا ویله او پخپل ژوند یې شکر یوست، نو ابراهیم (علیه السلام) ورته وویل:اسماعیل (علیه السلام) ته ووایه چې د خپلې دروازې ته دری دې ټینګه ساته، او پخپله بیرته فلسطین ته ستون شو.

دریم ځل چې کله ابراهیم (علیه السلام) مکې ته راغی اسماعیل (علیه السلام) زمزم اوبو ته نژدې تر یوې لویې ونې لاندې غشي جوړول، کله یې چې خپل پلار ولید ورپاڅید یو له بل سره یې د مینې او محبت څرګندونه وکړه. د دوی دا لیدنه له ډیرې مودې جدایی وروسته شوې وه، ډیره ګرانه ده چې دومره اوږده موده دې د ابراهیم (علیه السلام) په شان مشر، مهربان او مشفق پلار د خپل زوی جدایي وزغملی شي، او یا دې د اسماعیل (علیه السلام) په شان نیک صالح، او مطیع زوی له خپل پلار نه بیل او جدا و اوسیدلی شي!! همدا ځل دوی دواړو (علیهما السلام) کعبه شریفه جوړه کړه او ابراهیم (علیه السلام) د الله تعالی په امر خلکو ته د حج کولو بلنه او دعوت ورکړ.

الله تعالی اسماعیل (علیه السلام) ته د مضاض له لور نه دولس زامن ورکړل چې نومونه یې دادي[2]:

نابت یا نبایوط، قیدار، ادبائیل، مبشام، مشماع، دوما، میشا، حدد، یتما، یطور، نفیس، قیدمان، بیا له دوی نه دولس کورنۍ جوړې شوی، یو څه موده ټول په مکه کې

---

[1] قلب جزیره العرب ص. ۲۳۰

[2] قلب جزیره العرب.

اوسیدل او د یمن، شام او مصر تر مینځ یې تجارت کاوه، بیا وروسته دا کورنۍ په ټوله عربي جزیره او حتی چې له جزیرې نه اخوا هم خورې شوې لدې معلوماتو نه علاوه د قیدار او نابت له اولادې پرته د نورو په هکله څه نور معلومات په لاس کې نشته.

انباطي تمدن د حجاز په شمال کې ډیر پرمختګ وکړ،هغوی هلته یو پیاوړی حکومت جوړ کړ (بطراء) د دوی پایتخت و، هیچا یې هم مقابله نشوای کولای، تر څو رومیان راغلل او هغوی یې له مینځه یوړل. سلیمان ندوي له ډیر بحث او څیړنې وروسته وایي چې د آل غسان پاچایان او انصار (اوس او خزرج) د ال قحطان له اولادې څخه نه وو، بلکه هغوی د نابت بن اسماعیل (علیه السلام) له اولادې څخه دي[1].

د قیدار بن اسماعیل (علیه السلام) اولاده په مکه کې پاتې شوه، تر څو عدنان او ورپسې یې زوی معد پیدا شول د عدناني عربو د نسب سلسله تر همدې ځایه پورې په سیي توګه محفوظ ده. عدنان د رسول اکرم (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) یوویشتم نیکه دی. په یوه حدیث شریف کي راځي: کله به چې رسول الله (صلی الله علیه وسلم) د خپل نسب شجره ویله نو چې عدنان ته به ورسید توقف به یې وکړ او نور نومونه به یې نه یادول ویل به یې:(**کذب النسابون**). شجره ویونکو دروغ ویلي دي[2].

یو شمیر عالمان له عدنان نه پورته هم د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) د نسب د شجرې ویل روا بولي ځکه هغوی پدې هکله دا مخکې یاد شوی حدیث ضعیف بولي، دوی وایي چې د عدنان او ابراهیم (علیه السلام) تر مینځ څلویښت پلرونه (پوشته) تیر شویدي.[3]

ویل کیږي چې (معد) یو زوی درلود چې (نزار) نومیده، د نزار څلور زامن پیدا شول چې له هغوی نه د (ایاد)، (انمار)، (ربیعه)، او (مضر) څلور لویې کورنۍ جوړې شوې، خو ربیعه او مضر ډیرې لویې او د زیاتو پښو درلودونکې کورنۍ دي. د ربیعه کورنۍ پښې دا دي: اسد بن ربیعه، عنزه، عبدالقیس، د وائل دوه زامن (بکر، تغلب) حنیفه او نوري.

مضر قبیله په دوو لویو کورنیو قیس عیلان بن مضر او الیاس بن مضر باندې ویشل شویده، بیا له قیس عیلان نه بنو سلیم، بنو هوازن، بنو غطفان، او له غطفان نه عبس، ذبیان، اشجع او غني بن اعصر، او له الیاس بن مضر نه تمیم بن مره، هذیل بن

---

[1]. تاریخ ارض القرآن ۲/ ۷۸ تر ۸۲

[2]. الطبري ۱۹۱/۱ تر ۱۹۴. الاعلام ۲/۵

[3]. رحمة للعالمین ۷/۲- ۸ -۱۴- ۱۵-۱۲ - ۱۷

مدرکه، بنو اسد بن خزيمه او د کنانه بن خزيمه کورنۍ، او له کنانه نه د قريشو قبيله چې د فهر بن مالک بن النضر بن کنانه له اولادې څخه دي جوړه شويده.
بيا قريش په مختلفو کورنيو ويشل شويدي چې مشهورې يې د جمح، سهم، عدي، مخزوم، تيم، زهره او د قصي بن کلاب کورنۍ دري واړه پښې يعنی (عبدالدار بن قصي، اسد بن عبدالعزی بن قصي، او عبدمناف بن قصي) کورنۍ دي.
د عبدمناف کورنۍ څلور پښې لري چې عبد شمس، نوفل، المطلب، او هاشم نومېږي، او د همدې هاشم له کورنۍ نه الله تعالی خپل رسول حضرت محمد (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) بن عبدالله بن عبدالمطلب بن هاشم د رسالت لپاره غوره کړيدی.[1]
رسول اکرم (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) فرمايلي:
((**إن الله اصطفى من ولد ابراهيم اسماعيل، واصطفى من ولد اسماعيل كنانه، واصطفى من بني كنانه قريش، و اصطفى من قريش بني هاشم و اصطفاني من بني هاشم**)) .(رواه مسلم عن واثله بن الاسقع، باب فضل نسب النبي (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) ٢٤٥/٢ و الترمذي ٢٠١/٢.) [الله تعالی د ابراهيم (عليه السلام) له اولادې نه اسماعيل (عليه السلام) او د اسماعيل (عليه السلام) له اولادې نه کنانه او له بني کنانه نه قريش، او له قريشو نه بني هاشم او له بني هاشم نه يي زه غوره کړی يم.]
له عباس بن عبدالمطلب (رضي الله عنه) نه روايت دی چې رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) فرمايي:((**إن الله خلق الخلق فجعلني من خير فرقهم و خير الفريقين، ثم تخير القبائل فجعلني من خير القبيلة، ثم تخير البيوت فجعلني من خير بيوتهم، فأنا خيرهم نفسا و خيرهم بيتا**)).(رواه الترمذي باب ماجاء فی فضل النبي (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) ٢٠١/٢.
[الله تعالی مخلوق پيدا کړ، نو زه يې په له ټولو نه غوره فرقه او ډله کې وګرزولم، بيايې د هغوی په دوو غوره ډلو کې هم له هغې ډيرې غوره ډلې نه وګرزولم، بيايې قبيلې غوره کړې او زه يې په له ټولو نه غوره قبيله کې

[1]. محاضرات تاريخ الامم الاسلامية للخضري بك ١٤/١-١٥

وګرزولم، بيايې کورنۍ غوره کړې زه يې له ټولو نه په غوره کورنۍ کې وګرزولم، نو زه د خپل ذات له پلوه او د خپلې کورنۍ له اړخه (يعنی له دواړو خواوو نه) له ټولو نه غوره او بهتر يم.]

او کله چې د عدنان اولاده زياته شوه، نو د عربي وطن په مختلفو برخو کې خواره شول. عبدالقيس، د بکر بن وائل او د تميم ځنې کورنۍ بحرين ته لاړې، بنوحنيفه بن صعب بن علي بن بکر يمامه ته لاړل او په حجر نومي ځای کې ميشته شول، د بکر بن وائل نورې کورنۍ له يمامه، بحرين سيف کاظمه، خليج او ان د عراق تر شا او خوا سيمو لکه ايله او هيت پورې ورسيدلې، د تغلب ځنې کورنۍ د فرات په جزيره او نور يې له بکر سره ميشته شول، بنو تميم د بصری په دښته کې واړول.

بنوسليم مدينې ته نژدې د القری له درې نه تر خيبره او له خيبر نه د مدينې تر ختيځ، او د مدينې له ختيځ نه تر جبلين او پدې ترتيب سره ان تر حره نومې سيمې پورې خواره شول. ثقيف په طائف او هوازن د مکې په ختيځ د اوطاس په برخه کې چې د مکې او بصری په لاره کې پرته ده ځای په ځای شول. بنو اسد د تيماء په ختيځه او د کوفې په لويديځه خوا کې ميشت شول، د دوی او تيماء تر مينځه د طي قبيلې بحتر نومې کورنۍ اوسيدله، د دوی له ځای نه تر کوفې پورې د پنځو شپو مزل و. ذبيان کورنۍ د تيماء سره خوا کې تر حوران پورې پرته وه. د کنانه کورنۍ په تهامه او د قريشو پښه په مکه او شا او خوا سيمو کې پاتې شول، خو هغوی ډير خپل مينځي اختلافات درلودل، اتفاق يې نه درلود بلکه تيت او پرک و تر څو چې قصي بن کلاب ځوان شو، او دوی يې سره متحد او يو موټی کړل، د نفاق اور يې ګل کړ، او خپل قوم يې د يووالي په رسۍ سره وتاړه، او د همدې اتفاق او وحدت له برکته هغوی د قدر، مقام او منزلت خاوندان شول[1].

---

[1]. محاضرات تاريخ الامم الاسلامية للخضري بك ۱/۱۵-۱۲

د عربو حکومت او امارت

کله مو چې وغوښتل له اسلام نه وړاندې د عربو له حال او احوال نه خبرې وکړو، نو لازمه مو وليده چې د عربو د حکومت، امارت، قومونو او مذهبونو د تاريخ په هکله هم لنډ شانته معلومات وړاندې کړو، تر څو د اسلام د ظهور په وخت کې د وضعې څرګندونه او پيژندنه راته آسانه شوې وي. د اسلام له لمر څرک نه مخکې عربي واکداران په دوه ډوله وو، يو ډول يې داسې تاج لرونکي پاچايان وو چې په حقيقت کې يې پوره استقلال او آزادي نه درلوده، بل ډول د قبائلو او کورنيو مشران وو چې د پاچايانو په شان د پوره صلاحيت او امتيازاتو خاوندان وو، او زيات شمير يې د پوره استقلال درلودونکي هم وو، او کيدای شې چې يو شمير نورو به يې د کوم پاچا تابعيت هم درلود. د يمن، آل غسان او الحيره پاچايان تاج لرونکي او نور پاتې بې تاجه پاچايان وو.

د يمن پاچايي

په يمن کې د العاربه عربو له مينځ نه تر ټولو لومړی پيژندل شوی قوم د سبا قوم دی. د (اور) په ځمکه کيندنه چې پدې وروستيو کې شوې ځنې داسې معلومات په لاس راغلې دي چې له ميلاد نه (۲۵) پيړۍ مخکينۍ زمانه پورې اړه لري او د ددی قوم (سباء) يادونه هم پکې شويده. د دوی د تمدن پرمختګ او واکمنۍ وسعت او پراختيا له ميلاد نه يوولس (۱۱) پيړۍ مخکې شروع شويدی .

د دوی واکمني په لاندې ډول په مختلفو مرحلو ويشلی شو:

۱_ له ۶۵۰ ق. م نه مخکې پيړۍ، پدې وختونو کې د دوی پاچايان د ((مکرب سبا)) په نامه يادېدل، پايتخت يې د (صرواح) ښار و چې لا تر اوسه پورې يې د مارب ښار لويديځ لوري ته د يوې ورځې مزل په اندازه ليرې مسافه کې ننبې ننبانې ليدلې کيږي او د (خريبه) په نامه يادول کيږي. د يمن په تاريخ کې مشهور بنډ (سدمارب) هم په همدې دوره کې جوړ شويدی. ويل کيږي چې د سبا قوم د واکمنۍ لمن دومره پراخه وه چې د عربي وطن په د ننه او بهر کې يې ډيرې مستعمرې درلودې.

۲_ له ۶۵۰ ق.م نه تر ۱۱۵ ق.م پورې، پدې دوره کې د دوی پاچايان د سبا د پاچايانو

په نامه یادیدل، او د مکرب لقب یې پریښود پایتخت یې له صرواح نه مارب ته انتقال کړ، او اوس هم د صنعاء ختیځې خواته شپیته (۶۰) میله لیرې د دې ښار (مارب) نښې نښانې لیدل کیږي.

۳ _ له ۱۱۵ق. م نه تر ۳۰۰م پورې، پدې دوره کې حمیر قبیلې د سبا پاچایانو ته ماتې ورکړه او د (مارب) په ځای یې د (ریدان) ښار خپل پایتخت وټاکه دا ښار وروسته د (ظفار) په نامه ونومول شو، ځنې آثار یې تر اوسه پورې (یریم) ته نژدې د مدور په غره باندې باقي پاتې دي. د هغوی انحطاطه (ځوړتیا) له همدې دورې نه پیل شوه، تجارت یې له ناکامۍ سره مخ شو ځکه چې لومړی د حجاز پر شمال انباطیانو خپل تسلط ټینګ کړ او د سبا قوم یې له دې ځایه ویوست ورپسې رومیانو په مصر، سوریې او د دوهم ځل لپاره په شمالي حجاز باندې له تسلط او واکمنۍ وروسته بحري تجارتي لارې هم تر خپل کنترول لاندې راوستلې، او لدې نه علاوه د مختلفو قبیلو خپل مینځې اختلافات هم د دې سبب شول چې ال قحطان د ورکې او تباهۍ په څنډه ودریږي او له خپل وطن نه بې وطنه او در په در شي.

۴ _ له ۳۰۰م کال نه تر اسلامي لمر څرک پورې- پدې دوره کې هغوی له ډول ډول ستونزو، کودتا ګانو، او خپل مینځې جنګونو سره لاس او ګریوان وو، تر څو دوی خپل هر څه حتی آزادي هم له لاسه ورکړه. په همدې وخت کې رومیان عدن ته ننوتل، حبشیانو د دوی په مرسته او د همدان او حمیر قبیلو له داخلي جګړو نه په استفادې سره په (۳۴۰)م کال کې د لومړي ځل لپاره یمن ونیو چې تر (۳۷۸م) پورې له همدوی سره و.

وروسته یمنیانو بیرته خپله آزادي وګټله، خو پدې وخت کې د مارب په بندکې درزونه پیدا شول تر څو په ۴۵۰ یا ۴۵۱م کال کې هغه لوی سیلاب چې قرآنکریم د سیل العرم په نوم یاد کړی راوبهید، هر څه یې په مخه کړل او ډیره تباهي او بربادي یې جوړه کړه.

په (۵۲۳م) کال یهودي مشر ذو نواس د نجران پر مسیحیانو سخته حمله وکړه او غوښتل یې هغوی په زور او جبر سره له مسیحیت نه واړوي، خو کله چې هغوی دا ونه منله نو ذونو اس ورته د اور کندې وایستلې او هغه مسیحیان یې پکې ورواچول. همدې کیسې ته قرآنکریم د (البروج) په سورت کې اشاره کوي فرمایي:

((قُتِلَ أَصْحَابُ الأُخْدُودِ * النَّارِ ذَاتِ الْوَقُودِ * إِذْ هُمْ عَلَيْهَا قُعُودٌ * وَهُمْ عَلَى مَا يَفْعَلُونَ بِالْمُؤْمِنِينَ شُهُودٌ * وَمَا نَقَمُوا مِنْهُمْ إِلاَّ أَنْ يُؤْمِنُوا بِاللَّهِ الْعَزِيزِ الْحَمِيدِ * الَّذِي

لَهُ مُلْكُ السَّمَوَاتِ وَالأَرْضِ وَاللَّهُ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ شَهِيدٌ)) (البروج: ٤ ـ ٩)

[ترجمه : هره دې شي کندې ايستونکي، اور ډير خس و خاشاک لرونکی.کله چې دوی پر هغوی ناست وو، او هغه څه يې ليدل چې پر مسلمانانو يې کول. اوله هغوی نه يې بدله نه اخيسته مګر ددې چې هغوی په عزيز او حميد خدای ايمان درلود، هغه خدای چې د اسمانونو او ځمکې پاچايي ورسره ده او الله پر هر څه شاهد او خبر دی.]

او د همدې پيښې په نتيجه کې نصرانيان د خپل انتقام پخاطر د روم د امپراطور تر مشرۍ لاندې په عربو باندې د تسلط او د خپلې واکمنۍ د پراختيا په تکل کې شول، حبشيان يې راپورته کړل، بحري قوت (کښتۍ او جهازونه) يې ورته برابر کړل، بالاخره اويا زره (۷۰۰۰۰) حبشي سپاهيان په يمن وروختل او په (۵۲۵م) کال يې يمن ونيو او ارياط يې حاکم وټاکل شو. نوموړی تر يو وخته د يمن حاکم و، تر څو د خپلو لښکرو د يوه قوماندان (ابرهه) له لاسه ووژل شو. ابرهه د قدرت واګې پخپل لاس کې ونيولې، او دا همغه ابرهه دی چې د مکې دورانولو لپاره يې لښکرې را ايستلې وې، دی او لښکر يې د اصحاب الفيل په نامه شهرت لري.

د الفيل له پيښې نه وروسته يمنيانو له فارسيانو نه د مرستې غوښتنه وکړه او بالاخره يې د يوې کلکې مقابلې په نتيجه کې حبشيان له خپل وطن نه وشړل او په (۵۷۵م) کال يې د معديکرب بن سيف ذي يزن الحميري تر مشرۍ لاندې خپله آزادي اعلان کړه، او معديکرب يې پاچا وټاکل شو.

نوموړي يو شمير حبشيان د خپل خدمت او چوپړ لپاره له ځان سره وساتل تر څو يوه ورځ د همدې حبشي خدمتګارانو له خوا ووژل شو او دده په مرګ سره د ذي يزن د کورنۍ حکومت هم پای ته ورسيد.

ورپسې کسری په صنعاء کې فارسي والي مقرر کړ او يمن د فارس يو ولايت اعلان شو، دې سلسلې تر (۶۳۸م) کال پورې دوام درلود، خو په همدې کال فارسي والي باذان اسلام راوړ او پدې ترتيب سره په يمن باندې د فارس تسلط او واکمني ختمه شوه[1].

---

[1]. د زياتو معلوماتو لپاره مراجعه وکړئ تفهيم القرآن ۱۹۵/۴ تر ۱۹۸ او تاريخ ارض القران ج۱۳۳/۱ مخ ته د کتاب تر پايه. د کلونو د تعيين په هکله تاريخي روايات يو له بل سره أير توپير لري، حګنيګ ليکوالان وايي چيګ دا تګوليګ هسيګ پخوانۍ کيسيګ دي، نه نور څه.

د حيره پاچايي

له کومې ورځې نه چې لوی قوروش په (۵۵۷-۵۲۹ ق.م) کې فارسيان سره يو کړي وو له همغې ورځې نه په عراق او شا او خوا سيمو کې د فارسيانو حکومت چليده، دا وخت د دوی د زور او دبدبې وخت و هيڅا يې هم مقابله نشوای کولای تر څو په (۳۲۶ ق. م) کال کې اسکندر مقدوني د فارسيانو پاچا (لومړنی دارا) ته ماتې ورکړه، او پدې ډول سره دا دولت تجزيه شو، ملک الطوايفی وربانديې حاکمه شوه. دا لړۍ تر (۲۳۰م) پورې جاري وه، په همدې وخت کې قحطانيانو هجرت وکړ او د عراق ځنې کليوالې سيمې يې ونيولې، ورپسې عدنانيان راغلل او له دوی سره له کشمکش او جنجال وروسته يې د فرات جزيرې څه برخې قبضه کړې.

فارسيان د دوهم ځل لپاره له (۲۲۶م) کال نه را پديخوا د ساساني دولت د بنسټ اينبودونکي (اردشير) په دوره کې د قدرت خاوندان شول. نومورې فارسيان سره متحد کړل او په ګاونډيو عربانو يې قبضه ولګوله، په نتيجه کې د قضاعه قبيلې خلک مجبور شول چې شام ته لاړ شي، حيره او انبار هم د اردشير تر ولکې لاندې راغلل.

د ارد شير په دوره کې په حيره او د عراق او عربي جزيرې په کليوالو سيمو کې د ميشته قبيلو لکه مضر او ربيعه والي جذيمه الوضاح نوميده. ارد شير پوهيده چې په عربو باندې حکومت کول او د هغوی له حملو نه ځان ساتل تر هغه پورې ممکن ندي تر څو يې پر دوی داسې يو څوک نه وي ګمارلی چې له قومي او ملي قوت نه برخمن وي، په قوم کې ځای ولري او وکولی شي چې له روميانو سره د مقابلې په وخت د دوی مرسته لاسته راوړي، او هم د عراق عربان د روم تر قبضې لاندې شام کې اوسيدونکو عربانو په مقابل کې ودروي. همدا راز د الحيرې له والي سره به د فارسي لښکرو يو غونډ هم موجود و، تر څو د حکومت په خلاف د صحرا نشينو عربانو د پاڅون په ټکولو کې ورنه کار واخلي. جذيمه د (۲۶۸م) کال په شا او خوا کې مړ شويدی.

د جذيمه له مرګ نه وروسته د سابور بن اردشير په دوره کې عمرو بن عدي بن نصر اللخمي- د لخميانو د لومړني حاکم په توګه د حيرې والي وټاکل شو. لخميانو تر هغې پورې په حيره باندې حکومت کاوه تر څو قباذ بن فيروز د فارس واکدار وټاکل شو، پدې وخت کې مزدک هم را پيدا شو، نومورې د فساد، فحشاء او اباحيت لور ته بلنه پيل کړه، قباذ او نورو ډيرو د مزدک دا بلنه ومنله، وروسته قباذ د حيرې مشر المنذر بن ماء السماء ته ليک واستاوه او هغه يې هم دې نوي دعوت ته راوباله، خو هغه د

خپل غرور له کبله دا غوښتنه ونه منله، نو قباذ هغه عزل او په ځای يې د مزدکي مذهب يو پيرو حارث بن عمرو بن حجر الکندي د حيرې والي مقرر کړ.
له قباذ نه وروسته د فارس مشري د کسری نوشيروان په غاړه ولويده، نوموړي له مزدکي مذهب سره ډير کينه درلوده، مزدک او د هغه ډير پيروان يې ووژل، منذر يې بيرته د حيران والي وټاکه، حارث يې راوغوښت خو هغه دارکلب ته وتښتيد او بيا هملته مړ شو.
له منذر بن ماء السماء نه وروسته حکومت له همدوی سره و، تر څو د نعمان بن منذر دوره پيل شوه پدې وخت کې زيد بن عدي العبادي د نعمان په خلاف يوه توطئه جوړه کړه او د همدې توطئې په نتيجه کې کسری وربانديې په غوصه شو او هغه يې راوغوښت خو نعمان لومړی په پټه سره د آل شيبان مشر هاني بن مسعود ته ورغی، خپل مال او اولاد يې له هغه سره پريښودل، بيا دکسری په لور وخوځيده، کسری هغه بنديې کړ په بنديخانه کې مړ شو، او د ده پر ځای يې اياس بن قبيصه الطائي د حيرې والي وټاکه. او هغه ته يې امر وکړ چې له هاني بن مسعود نه د نعمان مال وغواړي، خو هاني دا ونه منله چې د نعمان مال ورکړي، نو کسری د هاني په خلاف د جګړې اعلان وکړ او خپلې لښکرې يې د اياس په مشرۍ د هغه په لور ور مرش کړې، پدې ترتيب سره د ذي قار په سيمه کې د دواړو خواوو تر منځ سخته جګړه ونښته چې په پای کې بنو شيبان بری وموند او فارسيانو ماتې وخوړه، او دا لومړی ځل ؤ چې عربو عجمانو ته ماتې ورکړه. دا پيښه د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) له ولادت نه لږه موده وروسته واقع شويده، رسول اکرم (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) په حيره باندې د اياس بن قبيصه د حکمرانۍ له پيل نه اته مياشتې وروسته زيږيدلی دی. په اياس پسې د حيرې ولايت يوه فارسي نژاده شخص ته وسپارل شو، خو په (۶۳۲م) کال کې د حيرې ولايت بيرته د آل لخم کورنۍ ته په لاس ورغی او منذر چې په معرور سره مشهور و والي وټاکل شو، خو د ده د ولايت لا اته مياشتې نه وې پوره شوی چې د خالد بن الوليد (رضي الله عنه) تر مشرۍ لاندې اسلامي لښکرې وربانديې وروختلې.[1]

د شام حکومت

[1]. محاضرات تاريخ الامم الاسلامية للخضري بك ۲۹/۱ تر ۳۲ پورې.

کله چې عربانو له خپل اصلي ټاټوبي نه کوچیدل پیل کړل، نو د قضاعه کورنۍ څنې پښې لکه بني سلیح بن حلوان چې بنو ضجعم بن سلیح یې له اولادې نه وو، د شام په پولو کې میشته شوې. رومیانو دا کورنۍ د ځان کړې او غوښتل یې په دوی سره له یوې خوا د صحرا او وچې د عربانو مخه ونیسي او له بل پلوه د فارس په مقابل کې ورنه ګټه واخلي. پدې ترتیب سره یې د هغوی لپاره بیل پاچا وټاکه، د دوی پاچایي د دوهمې میلادي پیړۍ له پیل نه تقریبا تر پایه پورې دوام درلود، تر ټولو مشهور پاچا یې زیاد بن الهبوله و. او د دوی د پاچایۍ لړۍ هغه وخت پای ته ورسیده کله چې د آل غسان کورنۍ ضجاعمه ته ماتې ورکړه، او پدې سره د رومیانو له خوا د شام پاچایي هم آل غسان ته وسپارله شوه، نوموړې کورنۍ د رومیانو د مزدورانو په صفت تر (۱۳) ه کال پورې د شام په عربانو حکومت وچلاوه، خو په نوموړي کال د حضرت عمر (رضي الله عنه) د خلافت په دوران کې د یرموک د غزا په نتیجه کې د دوی حکومت پای ته ورسید، او د دوی وروستی پاچا (جبله بن الایهم) اسلام راوړ او له مسلمانانو سره یو ځای شو[1].

د حجاز پاچایي

ترڅو چې اسماعیل (علیه السلام) ژوندی و د مکې مشري او د بیت الله شریف مسئولیت له همده سره و،[2] خو کله چې هغه د (۱۳۷) کلونو په عمر له دنیا نه رحلت وکړ،[3] نو دا مسئولیت یې زامنو نابت ورپسې قیدار او په بل روایت قیدار بیا نابت په غاړه واخیست. او له دوی نه وروسته د مکې مشري د دوی نیکه مضاض بن عمرو الجرهمي ته وسپارله شوه، خو د اسماعیل (علیه السلام) اولاده که څه هم مشري له نورو سره وه د ډیر قدر او عزت خاوندان وو ځکه د دوی پلار او نیکه کعبه شریفه جوړه کړې وه.[4]

د وخت په تیریدو سره د اسماعیل (علیه السلام) د اولادې نوم او نښان مخ په ورکیدو شو، جرهمیان هم د بخت نصر له دورې مخکې کمزوري شول، او په همدې وخت د مکې په سیاسي آسمان کې د عدنان د کورنۍ ستوری وځلید. په ذات عرق کې په عربانو باندې د بخت نصر د تیري په هکله را نقل شوی روایت هغه چې وایي پدې

(1). نفس المصدر ۳۴/۱ و ارض القرآن ۲/ ۸۰-۸۲

(2). قلب جزیرة العرب ص ۲۳۰-۲۳۷

(3). سفر التکوین ۲۵:۱۷

(4). قلب جزیرة العرب ۲۳۰- ۲۳۷ ابن هشام ۱۱۱/۱-۱۱۳ ابن هشام یوازیګ د نابت له مشرة نه یادونه کوی‌ده

پيښه کې د عربو مشر د جرهم له قبيلې څخه نه و، زمونږ د يادې شوې خبرې پخلاوی کوي.[1]

د عدنان کورنۍ د بخت نصر د دوهمې حملې (۵۸۷ ق .م) په وخت کې يمن ته وتښتيدلې، برمياه (عليه السلام) چې د اسرائيلو نبي و، معد له ځان سره شام ته بوتلا، او کله چې د بخت نصر فشارونه کم شول معد بيرته مکې ته راستون شو، خو هغه وخت په مکه کې له جرهميانو نه يوازې جرشم بن جلهمه پاتې وو،معد د هغه له لور سره واده وکړ او له هغې نه يې زوی (نزار) پيدا شو.[2]

نوره د جرهميانو وضعه هم مخ په خرابيدو شوه، څوک به چې مکې ته راتلل نو دوی به وروباندې ظلمونه کول دکعبې ټول مال ئې ځان ته خاص کړ[3]. دې کار عدنانيان په غوصه کړل،او کله چې د خزاعه قبيلې خلک په مرظهران نومې منطقه کې ميشته شول او ويې ليدل چې د جرهميانو او عدنانيانو وضعه ښه نده، نو له همدې وضعې نه په استفادې او د عدنان قبيلې دځينو کورنيو په مرسته يې د جرهميانو په خلاف جګړه پيل کړه، بالاخره يې د دوهمې ميلادي پيړۍ په نيمايي کې جرهميان له مکې نه وشړل او د مکې مشري دوی په غاړه واخيسته.

جرهميانو چې کله مکه پريښوده، نو ځنې شيان يې د زمزم په څاه (کوهي) کې واچول او خوله يې ورپټه کړه.ابن اسحاق وايي:عمرو بن الحارث بن مضاض الجرهمي[4] دکعبې شريفې دوې هوسۍ [4] او حجر اسود دواړه د زمزم په کوهي کې ښخ کړل او بيا له خپلو ملګرو سره د يمن په خوا وخوځيده.

د مکې پريښودل جرهميانو ته ډېر غم اوخفګان باعث وو پدې هکله عمرو داسې وايي :

كأن لم يكن بين الحجون الى الصفا أنيس و لم يســـمر بمـــكة سامر

---

[1]. قلب جزيرة العرب ص. ۲۳.

[2]. رحمة للعالمين۲/۴۸.

[3]. قلب جزيرة العرب ص ۲۳۱.

[4]. دا هغه مضاض الجرهمي نه دی کوم چې د اسماعيل (عليه السلام) په کيسه کې يې يادونه شوید.

[4]. مسعودي وايي: په تيره زمانه کې به فارسيانو کعبې ته پيسې او جواهرات اهداء کول. پدې لړ کې ساسان بن بابک دوې د سرو زرو هوسۍ جواهرات، توري او ډير نور سره زر اهداء کړي وو. عمرو بيا دا ټول شيان د زمزم په کوهي کې واچول او پکې ښخ يې کړل.مروج الذهب ۱/ ۲۰۵.

بلى نـــحن كـــنا أهلها فأبـــادنا صروف الليالي والجدود العواثر[1]

د شعر ترجمه داسې کيږي:

[ته به وايې چې دحجون او صفا ترمنځ هيڅوک نه وو (آشنا اودوست نشته) اونه دمکې د شپې له خوا جوړو شويو محفلوکې کوم کيسه ويونکی د شپې کيسې ويلې دي.مونږ د دې ځای اوسيدونکي وو، خو د وخت ناکردو اوخرابو قسمتونو اونيمه خوا نصيبونو تباه او برباد کړو.]

اسماعيل (عليه السلام) په شلمې قبل الميلاد پيړۍ کې تير شوی وۀ. نو پدې سره ويلی شو چې جرهم قبيله تقريبا يوويشت پيړۍ په مکه کې اوسيدلی،او د شلو پيړيو په شا اوخوا کې يې حکومت وربانديې کړی دی.پدوی پسې د مکې مشري د خزاعه کورنۍ ته رسيدلې، خو دری لانديني مسئوليتونه له مضر کورنۍ سره پاتې شوي وو:

۱ـ له عرفات نه مزدلفې ته د خلکو ليږدول او په (يوم النفير) (يعنی ذذي الحجې ديارلسمه ورځ) له منی نه د تللو اجازه ورکول.دا وظيفه د بنوالغوث بن مره چې د الياس بن مضر له کورنۍ څخه و په غاړه وه.دوی ته صوفه ويل کيدل،د(يوم النفير) په ورځ به تر هغه پورې بل هيچا هم جمرې نه ويشتلې ترڅو به چې د صوفه يوه کس جمرې ويشتل نه وو پيل کړي، اوکله به چې خلک له جمرې ويشتلو فارغ شول، نو د صوفه خلکو به د عقبې دواړه خواوې ونيولې او تر هغې به بل چاته دتګ اجازه نه وه ترڅو به چې دوی ټول نه ووتللي،او چې دوی به ټول لاړل نو بيا به يې نورو خلکو ته د تګ اجازه ورکړه، د صوفه له ختميدو وروسته دا ميراث د تميم قبيلې د بنوسعد بن زيد مناه کورنۍ په برخه ورسيد.

۲ـ د نحر (قربانۍ) يا لوی اختر په سهار له مزدلفې نه منی ته تلل، دا دنده د بني عدوان په غاړه وه .

۳ـ د الاشهرالحرام وروسته، مخکې کول چې دا د بني کنانه قبيلې د بني تميم بن عدي کورنۍ وظيفه وه.[2] هغه وخت هم دوی د الاشهرالحرام احترام درلود، پدې مياشتو کې به ئې جګړې نه کولې، خوکله به چې جګړه روانه وه نو بيا به يې داسې فيصله کوله چې دا مياشتی به وروسته کړو،يعنی اوس به جګړې ته ادامه ورکړو او بيا به راتلونکې مياشتې الاشهرالحرام وګرځوو.

په مکه باندې د خزاعه کورنۍ مشري دری سوه (۳۰۰) کاله دوام وموند[1]. د دوی په

---

[1]. ابن هشام ۱۱۴/۱-۱۱۵.

[2]. ابن هشام ۴۴/۱-۱۱۹-۱۲۰-۱۲۲.

۱. ياقوت/ د مکة لفظ

دوره کې عدنانیان په نجد، بحرین او د عراق شا او خوا کې خواره شول، د قریشو ځنې کورنۍ لکه حلول او حرم او د بني کنانه مختلفې پښې د مکې په څنډو کې پاتې شوې خو دوی د قصي بن کلاب تر وخته د مکې اوکعبې شریفې په کارونو کې هیڅ ونډه نه درلوده[۲].

د قُصي په هکله ویل کیږي چې دوی لا د مور په غیږ کې و چې پلار یې مړشو، موریې د بني عذره کورنۍ له (ربیعه بن حرام) نومي سړی سره واده وکړ او ورسره د هغه اصلي وطن یعنی د شام سرحدي سیمې ته لاړه، خو کله چې قصي ځوان شو بیرته مکې ته راستون شو، پدې وخت کې دمکې مشر د خزاعه کورنۍ حلیل بن حبشه و. قصي د هغه له لورحبي سره واده وکړ[۳]، خو کله چې حلیل مړ شو نو د خزاعه او قریشو ترمنځ جګړه ونښته، په پای کې دمکې اوکعبې شریفې ټول کارونه قصي پخپله غاړه واخیستل.

<u>د دې جګړې د اسبابو په هکله دری روایتونه رانقل شویدي:</u>

۱_ کله چې قُصي د مال او ډیرو سړیو خاوند شو، حلیل مړ شو نو ده ځان د مکې اوکعبې شریفې د مشرۍ لپاره تر خزاعه او بني بکر نه غوره وباله، او ویل به یې:

څرنګه چې قریش د اسماعیل (علیه السلام) د اولادې مشران دي نو باید دا مشري هم له دوی سره وي، پدې هکله یې له قریشو او بني کنانه سره خبرې اتري اومشورې وکړې هغوی د ده دا خبره ومنله او په یوه اتفاق یې خزاعه او بني بکر له مکې نه وایستل[۴].

۲_ بل دا- د خزاعه په ګومان _حلیل وصیت کړی و چې دمکې اوکعبې شریفې مشري به قصي ته سپارل کیږي.[۵]

۳_ حلیل دکعبې شریفې مشري خپلې لور (حبي) ته سپارلې وه او ابو غبشان خزاعي یې ورته وکیل نیولی و. او پدې سره دکعبې شریفې مشري د حبي په نمایندګۍ د ابو غبشان په غاړه وه، خوکله چې حلیل مړ شو نو قصي دا مشري له ابو غبشان نه په یوه ژي (مشک) شرابو واخیستله، خو خزاعه پدې قانع نه شول، او غوښتل یې قصي له کعبې شریفې نه منع کړي، نو قصي هم د دوی د مقابلې لپاره د قریشو اوبني کنانه

۲. محاضرات تاریخ الامم الاسلامیة للخضري بک ۱/۳۵. ابن هشام ۱/۱۱۷.

۳. ابن هشام ۱/۱۱۷-۱۱۸.

۴. ابن هشام ۱/۱۱۷-۱۱۸.

۵. ابن هشام ۱/۱۸۸.

خلک راټول کړل ترڅو خزاعه بیخي له مکې نه وشړي او هغوی هم ټول پدې خبره کې له قصي سره موافق شول[1].

په هر حال کله چې حلیل مړ شو صوفه خپل کارونه سرته رسول،یو وخت قصي له قریشو اوکنانه سره یوځای له عقبې سره د دوی مخې ته ودرید او ورته ویې ویل : د دې کار د سرته رسولو لپاره مونږ له تاسو نه غوره یو او په همدې سره ونښتل په پای کې قصي ورباندې بریالی شو، او پدې سره خزاعه او بنوبکر د قصي خوا پریښوده، قصي هم د هغوی په خلاف د جګړې تیاري ونیوله. سخته جګړه پیل شوه دواړو طرفونو ته زیات ځاني اومالي تاوانونه واوښتل بالاخره په سوله راضي شول او د بني بکر کورنۍ یوغړی (یعمر بن عوف) یې مینځګړی وټاکه او هغه داسې فیصله وکړه: د مکې او کعبې شریفې د مشرۍ لپاره قصي له خزاعه نه غوره او مناسب دی قصي که څوک وژلي د هغه ویني ورته بښل شویدي، خو خزاعه او بنوبکر به د وژل شویو کسانو دیت ورکوي، اوکعبه دې قصي ته پریښوولې شي. نوموړی دهمدې فیصلې له امله له همدې ورځې نه په شداخ ونومول شو[2].

پدې ترتیب سره قصي د پنځمې میلادي پیړۍ په نیمائي برخه یعنی (۴۴۰م) کال کې د مکې او کعبې شریفې مشري په غاړه واخیسته[3].او په همدې سره په مکه باندې د خزاعه مشرۍ پای وموند او د قریشو او قصي د مشرۍ دوره پیل شوه. قصي خپل قوم د مکې له شاوخوا نه راټول کړ، هرې قبیلې ته یې بیل بیل ځایونه وټاکل،او النساه، آل صفوان، عدوان او مره بن عوف ته یې خپلې خپلې دندې هم وروسپارلې، ځکه ده دا په ځان پور باله چې باید پوره یې ادا کړي[4].

د قصي بل مهم کار دا و چې دکعبې شریفې شمال ته یې دارالندوه (د مشورو کوټه) جوړه کړه، د دې کوټې دروازه جومات ته راختلې وه، قریش به دلته د خپلومهمو مسائلو د حل و فصل لپاره راټولیدل. هغوی دې کوټې ته په ډیره درنه سترګه کتل، ځکه د همدې کوټې له برکته د دوی په منځ کې یووالی راغلی و،او همدلته به د دوی لویې لویې پیښې په ښې طریقې سره حل کیدلې[1].

---

[1]. رحمة للعالمین ۵۵/۲.

[2]. ابن هشام ۱۲۳/۱-۱۲۴.

[3]. قلب جزیرة العرب ص ۲۳۲.

۴ . ابن هشام ۱۲۴/۱-۱۲۵.

[1]. ابن هشام ۱۲۵/۱. محاضرات تاریخ الامم الاسلامیة ۳۲/۱. اخبار الکرام ص ۱۵۲.

قصي پخپله دا تشريفاتي دندې په غاړه لرلې

۱_ د دارالندوه مشري- دلته به قريشو د خپلو مهمو مسايلو په هکله بحثونه کول، او همدلته به يې دخپلو لوڼو ودونه تر سره کول (د ودونو عقد او ټړون به همدلته ترسره کيده).

۲_ اللواء (بيرغ) - د جګړې جنډه به له ده پرته نه پورته کيدله .

۳_ الحجابه (ساتنه) - د کعبې شريفې دروازه به يوازې ده پرانستله،اوهمده به يې خدمت او سرپرستي کوله .

۴_ سقايه يعنې حاجيانو ته اوبه ورکول- دوی به د حاجيانو لپاره په خرما اوممیزو سره خوړې شوې اوبه برابرولې او د حج په وخت کې به يې حاجيانو ته ور څښلې[۲].

۵_ حاجيانو ته خوراک ورکول (رفاده الحاج)- دا هغه خوراک و چې دوی به حاجيانو ته د ميلمستيا په دود ورکاوه. قصي په قريشو باندې دا لازمه کړې وه چې د حج په موسم کې څه اندازه مال ده ته ورکړي تر څو هغه ورباندې بې وسه حاجيانو ته خوراک برابر کړي [۳] .

دا ټولې دندې د قصي په غاړه وې، نوموړی لا ژوندی و چې زوی يې عبدمناف د مقام او منزلت خاوند شو، خو عبدالدار چې له هغه نه مشر و پدې خوښ نه و، نو ځکه قصي ورته وويل:اې عبدالداره! زه به تا په قوم کې مطرح کوم که څه هم هغوی له تانه تکړه او عزتمن دي او له تانه يې ميدان ګټلی دی او که څه هم هغوی ستا ورور له تا نه غوره بولي، په همدې اساس يې عبدالدار ته د دارالندوه، حجابه،اللواء او السقايه او الرفاده مسئوليتونه وسپارل. د قصي خبره به هيڅا هم په ځمکه نه غورځوله، د هغه هر امر که په ژوند و او يا پس له مرګه داسې و لکه د دين حکم او امر،او همدا وجه وه چې د ده له مرګه وروسته هم د ده امر په ځای پاتې شو او زامنو يې بيله کوم مخالفته عمل ورباندې کاوه، خوکله چې عبدمناف هم مړ شو نو بيا د هغه زامنو د خپل تره (عبدالدار) له زامنو سره د دې دندو په سر اختلاف پيل کړ.

پدې ډول قريش په دوو برخو وويشل شول،او نژدې وه چې د دواړو ډلو ترمنځ جګړه ونښلي، خو بالاخره سوله وشوه او دا منصبونه يې سره وويشل. د السقايه او الرفاده مسئوليت د عبدمناف زامنو په غاړه واخيست، دارالندوه، اللواء او الحجابه له بني

---

[۲]. محاضرات تاريخ الامم الاسلامية ۳۲/۱.

[۳]. ابن هشام ۱۳۰/۱.

عبدالدار سره پاتې شول. بیا بنو عبدمناف هم پخپل منځ کې پچه واچوله (قرعه اندازي يې وکړه) او دا وظیفه د هاشم بن عبدمناف په برخه ورسیده.
کله چې هاشم مړ شو نو دا وظیفه يې ورور المطلب بن عبدمناف ته وسپارله شوه،او له هغه نه وروسته عبدالمطلب بن هاشم بن عبدمناف ددې منصب لپاره غوره کړای شو.
دا دنده (د السقایه او الرفاده مسئولیت) د عبدالمطلب له زامنو سره و، چې اسلام راغی او پدې وخت دا وظیفه د عباس بن عبدالمطلب (رضي الله عنه) په غاړه وه[1].
قریشو لدېنه علاوه نورمنصوبه او وظیفې هم درلودلی چې پخپل منځ کې يې سره ویشلې وې،او یوه دموکراتیک دولت ته ورته اداره يې جوړه کړې وه، او د اوسنۍ زمانې پارلماني تشکیلاتو ته ورته تشکیلات يې درلودل .

او هغه اداري او دندې عبارت دي له :

۱ـ الایسار- د ویش پخاطر د بوتانو په غشو باندې قرعه اندازي (پچه اچول) دا دنده د بني جمح په غاړه وه .
۲ـ تحجیرالاموال - بوتانوته وړاندې شویو او اهداء شویو نذرونو اوقربانیو تنظیمول، د شخړو، دښمنیو او داسې نورو مسایلو هوارول، دا دنده او مسئولیت له بني سهم سره و.
۳ـ شوری - چې مسئولیت يې د بني اسد په غاړه و.
۴ـ الاشناق - د دیتونو او جریمو تنظیمول، دا د بني تیم دنده وه .
۵ـ العقاب - د ملي بیرغ وړل او اوچتول، دا د بني امیه وظیفه وه.
۶ـ القبة – د لښکرو برابرول او د آسونو مشري، دا د بني مخزوم مسئولیت و.
۷ـ السفارة - دا دنده د بني عدي په غاړه وه[2].

دنورو عربانو حکومت

لکه مخکې مو چې وویل د عربو قحطاني او عدناني قبیلو د عربي جزیرې مختلفو

[1] . ابن هشام ۱۲۹/۱-۱۳۰-۱۳۱-۱۳۲-۱۳۷-۱۴۲-۱۷۸-۱۷۹.
[2] . تاریخ ارض القرآن ۱۰۴/۲-۱۰۵-۱۰۶.

برخو ته هجرت وکړ، او عربي خاوره د دوی ترمنځ وويشل شوه. بيا هغه قبيلې چې حيرې ته نژدې وې په حيره کې د عربي پاچايانو ترظاهري نفوذ او اغيزې لاندې وې،او هغه چې د شام له پولو سره پرتې وې هغوی د غساسنه پاچايانو تر حکم لاندې وې. خو حقيقت دا و چې هغوی عملاً د دې پاچايانو تابعيت نه درلود بلکه دا تش په نوم تابعيت و، مګر هغه قبيلې چې د جزيرې په مينځنيو برخو او ميرو کې اوسيدلې هغوی په پوره ډول آزادې اومستقلې وې. دې قبيلو بيل بيل رئيسان درلودل، هره قبيله لکه د يوه وړوکي دولت غوندې وه چې د سياسي تشکيل اوجوړښت اساس يې په قومي يووالي او د پردیو نه د وطن د دفاع په اړوند په مشترکه ګټو باندې ولاړ و. د هرې قبيلې مشر لکه پاچا داسې و، ټولو به په سوله اوجنګ کې ورنه اطاعت کاوه، نظر به يې هرچا قبلاوه، او خپلې غوښتنې به يې لکه د يوه ديکتاتور په شان پر خلکو تحميلولې او کله به که کوم مشر په غوسه کيده، نو بيا به ډيرې تورې له تيکيو وتلې وې او چا به د پوښتنې جرات هم نه درلود چې دا ولې؟

خو يوشې چې مشران به يې له عادي خلکو سره معاملې ته اړ ايستل هغه د مشرۍ او قدرت لاسته راوړلو پخاطر د تربرونو تر مينځ مسابقه او مقابله وه، هر يوه به زيار ايست چې په ميلمه پالنه، شجاعت، حلم او زغم کې له نورو نه وړاندې شي، تر څو د خلکو خصوصاً شاعرانو چې د قوم د ژبې حيثيت يې درلود په مينځ کې ځای پيدا کړي. رئيسانو خاص او فوق العاده حقوق درلودل، رئيس به د غنيمت په مال کې د المرباع (د غنيمت څلورمه برخه) او الصفی (هغه چې له ويش نه مخکې يې رئيس د ځان لپاره اخلي) النشيطه (هغه چې رئيس ته په لاره کې مخکې لدې چې د دښمن قوم عسکري مرکز ته ورسيږي په لاس ورځي) او الفضول يعنی هغه چې له ويش نه اضافي پاتې شي، يعنی هغه څه چې په جګړه مارو پوره نه ويشل کيږي لکه له ويش نه اضافه شوی آس، اوښ او نور....) په نامه برخې درلودې.

يو شاعر وايي:

لك المرباع فينا و الصفايا و حكمك و النشيطة و الفضول

دا څيزونه مخکې توضيح شويدي.

سيـاسي حـالـت

د عربانو د مشرانو په هکله مو خبرې وکړې، اوس بايد په مجموعي توګه د هغوی په

سياسي حالت باندې هم لږ شانته رښا واچوو. د هغو دريو سيمو کومې چې له پولو سره نژدې وې سياسي حالت ډير خراب اوګډوډ و، هلته خلک په دوو برخو بادار او غلام او يا حاکم او محکوم ويشل شوي وو، هره ګټه او وټه به د بادارانو خصوصاً پردیو لپاره وه او هر تاوان او جريمه به د غلامانو (محکومانو) په برخه وه، په بل عبارت په هغه ځای کې رعيت لکه يوزراعتي فارم داسې و چې ټول حاصلات به يې د حاکمانو او واکدارانو په مزو، چرچو، ظلمونو اوتيريو کې خرڅيدل، خو رعيت به ډول ډول ربړونه اوکړاوونه ګالل، که هر څو به وربانديې زور، زياتی کيده خو هغوی د شکوې او شکايت حق اوجرئت نه درلود. په ټولنه کې ظلم او استبداد حکومت کاوه، د هيڅا حقوق خوندي نه وو. دې برخوته ځيرمه پرتې قبيلې هم مذبذبې او بې ارادې وې کله به د خپلې هوی او هوس په اساس عراق ته اوکله به شام ته ورګډې شوې. د جزيرې په مينځ کې پرتې قبيلې هم يوله بل نه بيلې اوجدا وې، قومي، نژادي، او ديني تعصب وربانديې مسلط و، له دوی نه يوکس وايي :

و ما أنا إلا من غزية إن غوت غويت، وإن ترشد غزية أرشد

[زه هم د غزيه قبيلې يوغړی يم که هغه په غلطه لاره ځي زه هم په غلطه ورسره روان يم او که سمې لارې ته شي نو زه هم ورسره په سمه لار روان وم.]

هغوی داسې څوک نه درلودل چې د دوی له استقلال او آزادۍ نه تاييد او ملاتړ وکړي، او يا د مشکلاتو او سختيو په وخت مخ وروړوي اويا په بده ورځ د دوی په ښه راشي

خو دا وه چې هغه وخت خلکو دحجاز حکومت ته په درنه سترګه کتل، اوهغوی يې د ديني مرکز مشران ګڼل. د حجاز حکومت په حقيقت کې د ديني او دنيوي مشرۍ او زعامت يوګډ شکل و، او له حرم نه بهرعربو ته يې د ديني مشرتابه حيثيت درلود، خو په حرم کې د ننه او شاوخوا نژدې برخوکې يې د يوه داسې حکومت ښه درلوده چې کعبې شريفې ته د راتلونکو(زيارت کونکو) خلکو د امورو مشري او د ابراهيمي شريعت جاري کول او تطبيق يې په غاړه و. دې حکومت د ننني دور پارلمان ته ورته تشکيلات او اداري درلودې، خو په هيڅ صورت هم دا يو پياوړی او مضبوط حکومت نه و، او خپلې دندې يې په ښه توګه سرته نه شوای رسولی بلکه په خپلو کارونو کې ډير پاتې راغلی و، چې د حبشيانو د تيري په ورځ دا خبره ښه په ډاګه شوه .

دعربو دينونه اومذهبونه

زيات شمير عربو د اسماعيل (عليه السلام) بلنه منلې وه ،او د هغه د پلارحضرت ابراهيم (عليه السلام) دين ته يې غاړه ايښې وه، يوازې د الله تعالی عبادت يې کاوه ، خو د وخت په تيريدو سره ورو ورو له نيغې لارې بې لارې کيدل، خپل اصلي دين يې هير کړ، يوازې توحيد او د ابراهيمي دين ځنې شعائر يې ساتلي وو ترڅو د خزاعه قبيلې مشر عمرو بن لحي راپيداشو. نوموړی په ديانت، خيرات ورکولو او نيکۍ سره مشهور ؤ خلکو ډير احترام ورته درلود، او د ستر عالم په سترګه ورته کتل. يو وخت هغه شام ته سفر وکړ که ګوري چې هلته خلک د بتانو عبادت کوي، دا کار يې خوښ شو او داسې ګومان يې وکړ څرنګه چې دا د رسولانو او آسماني کتابونو د نازليدو وطن دی نو دا بت پرستي به هم حق وي، او د همدې ګومان په اساس يې له ځان سره يو بت چې ((هبل)) نومیده راوړ او دکعبې شريفې په منځ کې يې ودراوه، او نور د مکې خلک يې هم دې شرک او بت پرستۍ ته راوبلل، هغوی د ده دا بلنه ومنله، لږ موده وروسته د حجاز خلکو هم د شرک لاره خپله کړه او د کعبې له مشرانو سره په بت پرستۍ کې شريک شول.[1]

د هغوی (عربانو) تر ټولو پخوانی بت (منات) و، چې د سرې بحيرې په څنډه قديد ته نژدې د المشلل په سيمه کې پروت و[2]. ورپسې يې (لات) نومی بت په طائف کې ودراوه، او بيا يې په وادي النحله نومې سيمه کې د (العزی) په نامه بل بت نصب کړ. همدا دری د دوی تر ټولو ستر بتان وو، وروسته شرک او بت پرستي په ټول حجاز کې خوره شوه. وايي: چې عمرو بن لحي يو پيری ملګری کړی و، هغه ورته وويل: چې د نوح (عليه السلام) د قوم بتان (ود، سواع، يغوث، يعوق او نسر) په جده کې ښخ شويدی، نو عمرو ورغی او هغه يې راوايستل او تهامه نومې منطقې ته يې راوړل او بيا يې د حج په وخت کې په مختلفو قبيلو وويشل هغوی بيا له ځان يووړل.

لنډه دا چې بتان دومره ډير شول چې هر قبيلې بلکه هر کور بيل بيل بت درلود، مسجد حرام يې هم له بتانو ډک کړی و، او کله چې رسول اکرم (صلی الله عليه و اله و

---

(1). مختصر سيره الرسول (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) للشيخ محمد بن عبدالوهاب ص ۱۲

(2). صحيح البخاري ۲۲۲/۱.

صحبه و سلم) مکه فتحه کړه د کعبې شريفې په شا او خوا کې (۳۶۰) بتان موجود وو، رسول اکرم (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) هغه ټول دړې وړې کړل، او بيا يې امر وکړ چې دا ټوټې دې د باندې وايستل شي، او پدې ترتيب سره هغه ټول له مسجد نه د باندې وسوځيدل او تورې ايرې شول.[1]

دا خلک چې ځانونه يې د ابراهيم (علیه السلام) د دين پيروان بلل، پدې ترتيب سره د جاهليت په لومو کې راګير او په شرک او بت پرستۍ کې تر ستوني پورې ډوب شول.

هغوی د بتانو په عبادت کې ډول ډول رسمونه او رواجونه درلودل، چې زياتره يې د عمرو بن لحي له خوا رواج شوي وو، دوی داسې عقيده درلوده چې هغه څه چې عمرو بن لحي رواج کړی يو حسنه بدعت دی نه دا چې دا د ابراهيم (علیه السلام) په دين کې بدلون وي.

په جاهلي ټولنه کې د بت پرستۍ ځنې مراسم:

۱ ـ هغوی به د مشکلاتو او سختيو په وخت کې بتانو ته مخ کاوه، له بتانو نه به يې مرسته غوښتله او د هغوی په نامه به يې ناري وهلې، د خپلو حاجتونو د پوره کولو سوالونه به يې ورنه کول، او دا عقيده يې درلوده چې دا بتان الله تعالی ته د دوی شفاعت کوي، او د دوی ارتياوې پوره کولی شي.

۲ ـ له بتانو به يې طواف کاوه زاری او سجدې به يې ورته کولې.

۳ ـ بتانو ته د تقرب او نژديوالي پخاطر به يې قربانۍ کولې، د بتانو په نامه او لپاره به يې مالونه (څاروي) حلالول، الله تعالی دا دواړه ډوله قربانۍ او حلالول داسې يادوي: ((وَمَا ذُبِحَ عَلَى النُّصُبِ)) (المائدة–۳)

[ترجمه: او (حرام دي) هغه چې حلال کړی شوي وي (په نامه د کوم ځای يا شي).]

بل ځای فرمايي: ((وَلا تَأْكُلُوا مِمَّا لَمْ يُذْكَرْ اسْمُ اللَّهِ عَلَيْهِ)) (الأنعام–۱۲۱)

[ترجمه: او مه خورئ تاسې له هغې (مرداري) چې نه و ياد کړی شوی نوم د الله پر هغې باندې (عمداً).]

۴ ـ بتانو ته د تقرب پخاطر به يې له خپل خوراک او څښاک نه يوه اندازه د بتانو په نامه کوله.

همدا راز د هغوی په حاصلاتو او څارويو کې به هم د بتانو لپاره خاصه برخه وه، عجيبه خو لا دا وه چې هغوی عادت درلود چې لدې شيانو نه به يې يوه برخه د الله

---

[1]. مختصر سيرة الرسول لمحمد بن عبد الوهاب ص ۱۳ - ۵۴.

تعالی لپاره هم ټاکله، خو بيا د دوی په وړاندې او د دوی په عقيده داسې علتونه او اسباب موجود وو چې د هغې له امله به يې د الله تعالی لپاره ټاکل شوې برخه د بتانو په نامه ګرزوله، خو داسې به کله هم نه پيښيدل چې د بتانو برخه د الله تعالی لپاره وګرزوي، الله تعالی پدې هکله فرمايي: ((وَجَعَلُوا لِلَّه مِمَّا ذَرَأَ مِنْ الْحَرْث وَالأَنْعَامِ نَصِيباً فَقَالُوا هَذَا لِلَّه بِزَعْمِهِمْ وَهَذَا لِشُرَكَائِنَا فَمَا كَانَ لِشُرَكَائِهِمْ فَلا يَصِلُ إِلَى اللَّه وَمَا كَانَ لِلَّه فَهُوَ يَصِلُ إِلَى شُرَكَائِهِمْ سَاءَ مَا يَحْكُمُونَ)) (الأنعام- ١٣٦)

[ترجمه: او مقرر کړي دي دغو (مشرکانو) الله تعالی ته له هغه شي چې پيدا کړيدی الله تعالی هغه له کښته او چارپايانو يوه برخه، نو وايي دوی دا برخه د الله لپاره په زعم د دوی سره، او دا (بله برخه) د پاره د شريکانو زمونږ ده، نو هغه برخه چې وي د پاره شريکانو د دوی، پس (هغه) نه رسيږي الله ته، او هغه برخه چې وي د پاره د الله نو هغه رسيږي شريکانو د دوی ته (چې بتان دي ډير) بد دی هغه حکم (انصاف) چې کوي يې دوی.]

۵ ـ بتانو ته د هغوی د تقرب بله طريقه دا وه چې د بتانو په نامه به يې پخپلو مالونو او کښتونو کې نذرونه ايښودل، الله تعالی فرمايي: ((وَقَالُوا هَذِهِ أَنْعَامٌ وَحَرْثٌ حِجْرٌ لا يَطْعَمُهَا إِلاَّ مَنْ نَشَاءُ بِزَعْمِهِمْ وَأَنْعَامٌ حُرِّمَتْ ظُهُورُهَا وَأَنْعَامٌ لا يَذْكُرُونَ اسْمَ اللَّه عَلَيْهَا افْتِرَاءً عَلَيْه ...)) (الانعام – ١٣٨)

[ترجمه: او وايي دوی چې (دغه برخه د بتانو) که چارپايان دي او (که) کښت ممنوع (حرام) دی چې نه به خوري له دې مګر هغه څوک چې زمونږ خوښ وي په ګومان د دوی او ځينې چارپايان دي چې حرامې کړی شويدي شاګانې د دوی (له سوريدلو) او ځينې نور چار پايان دي چې نه يادوي دغه (مشرکان په وخت د ذبح کې) نوم د الله پر دوی بلکه نوم د بتانو پرې يادوي او نسبت کوي د دغو احکامو الله ته، په طريقه د دروغ ترلو په الله پسې.]

۶ ـ لدې ډول نذرونو نه د البحيره، السائبه، الوصيله، او الحامه په نامه ياد شوي نذرونه- ابن اسحاق وايي: البحيره د السائبه لور (بچي) ته وايي: السائبه هغې اوښې ته ويل کيده چې په مسلسله توګه به يې لس جونګياني وزيږولې، نو بيا به نه څوک وربانديې سپريدل، او نه به يې وړې اخيستل روا وو، شيدې يې له ميلمنو پرته بل چا نه خورلې، او که چيرته به يې يوولسمه جونګی هم راوړه، نو د هغې جونګی غوږ به

يې ځيراوه او له مور سره به يې همداسې آزاده خوشې کوله، نو بيا به پدې هم نه ځوک سپريدل، نه به يې وړی اخيستل کيدلې او شيدې به يې هم يوازې ميلمنو خوړلې او دې ډول اوښې ته البحيره ويل کيدله چې د سائبه لور به وه، او الوصيله هغې ميږې ته ويل کيدله چې په مسلسله توګه به يې په پنځو خيټو کې لس وری چې نر وری به بالکل نه و پکې راوړې، نو بيا به دوی ويل اوس دا ميږه وصيله شوه، او لدينه وروسته به دې ميږې که هر څه راوړل هغه به يوازې نارينوو خوړلی شوی او ښځو نه شوای کولی هغه وخوري، خو که به ورنه کوم وری مړ پيدا شو او يا به ورنه کوم يو مرداريده نو هغه بيا ښځو او نرو ټولو ته روا و. حام هغه وينده اوښ ته ويل کيده چې اوښو ته په ورخوشي کيدو سره به يې په مسلسله توګه لس جونګی رازيږولې وې او هيڅ نر جونګی به نه و پکې، نو بيا به د دې وينده شا محفوظه وه، نه به ځوک وربانديې سپريدل، نه به يې وړی اخيستل کيدلې، يوازې په اوښو کې به خوشی و، يوازې همدا کارئې ٔ چې اوښې به يې ورته نيولې او بس. الله تعالی د جاهليت دا طريقې ردوي او فرمايي: ((مَا جَعَلَ اللَّهُ مِنْ بَحِيرَةٍ وَلا سَائِبَةٍ وَلا وَصِيلَةٍ وَلا حَامٍ وَلَكِنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا يَفْتَرُونَ عَلَى اللَّهِ الْكَذِبَ وَأَكْثَرُهُمْ لا يَعْقِلُونَ)). (المائدة-١٠٣)

[ترجمه: نه دي روا کړی الله هيڅ بحيره او نه سائبه او نه وصيله او نه حام، او ليکن هغه کسان چې کافران شويدي تړي دوی پر الله دروغ (بهتان) او ډير له دوی ځنې نه پوهيږي (په حق او باطل).]

بل ځای فرمايي:

((وَقَالُوا مَا فِي بُطُونِ هَذِهِ الأَنْعَامِ خَالِصَةٌ لِذُكُورِنَا وَمُحَرَّمٌ عَلَى أَزْوَاجِنَا وَإِنْ يَكُنْ مَيْتَةً فَهُمْ فِيهِ شُرَكَاءُ)). (الأنعام:١٣٩)

[ترجمه: او وايي چې هغه شی چې په ګيډو د دې چارپايانو کې دي خالص دي لپاره د نارينوو زمونږ، او حرام کړی شويدي پر ښځو زمونږ، او که وي هغه مرداره نو دوی (نر او ښځې) پکې شريکان دي.]

د دې ډول څارويو (نذرونو) د توضيح په هکله نور روايتونه او تفسيرونه هم موجود دي[1]. سعيد بن المسيب وايي چې دا ډول څاروي يوازې د دوی د طاغوتيانو (باطلو معبودانو) لپاره وو[2].

په صحيح البخاري کې مرفوعاً روايت دی چې عمرو بن لحي لومړنی کس و چې اوښه

---

(1). ابن هشام ١/٨٩-٩٠.

(2). صحيح البخاري ١/٤٩٩

يې سائبه ونومولە (البته په تيرو شرطونو سره)[1].
عربانو به دا ټول کارونه د بتانو پخاطر تر سره کول، ځکه د دوی دا عقيده وه چې بتان به دوی له الله تعالی سره نژدې کوي او د دوی شفاعت به ورته کوي. قرآنکريم دي ته اشاره کوي او فرمايي:((مَا نَعْبُدُهُمْ إِلاَّ لِيُقَرِّبُونَا إِلَى اللَّهِ زُلْفَى)). (الزمر:۳)
[ترجمه: وايي :نه کوو عبادت ددوی مګر د پاره د دې چې نژدې کړي دوی مونږ طرف د الله ته نژدې کول...]
((وَيَعْبُدُونَ مِنْ دُونِ اللَّهِ مَا لا يَضُرُّهُمْ وَلا يَنْفَعُهُمْ وَيَقُولُونَ هَؤُلاءِ شُفَعَاؤُنَا عِنْدَ اللَّهِ)). (يونس:۱۸)
[ترجمه :اوعبادت کوي دغه (کفار) غير له الله (جل جلاله) د هغو بتانو چې نه شي رسولی هيڅ ضرر دوی ته (که يې عبادت ونکړي) اونه نفع رسولی شي دوی ته (که يې عبادت وکړي) اووايي دغه (کفار) چې دغه بتان شفاعت کوونکي زمونږ دي په نزد دالله.]
مشرکينو به ازلام (دپال اچولوغشي) هم استعمالول، ازلام د زلم جمع ده او زلم هغه غشي ته ويل کيږي چې بڼکه نه وي ورباندې لګيدلی. ددوی ازلام (غشي) دری ډوله وو:
يو ډول يې دا وو چې (نعم) او (لا) ورباندې ليکل شوی و، او کله به يې چې غوښتل سفر وکړي، يا نکاح وترې اويا دښته ورته بل کوم کار ترسره کړي، نو د کار له پيل نه مخکې به يې پدې غشي سره پال اچاوه که به (نعم) راووت، نو هغه مطلوب کار به يې کاوه اوکه (لا) به راووت نو بيا به يې هغه کار تر يوه کاله پريښوده، ترڅو بيا د بت په وړاندې پال واچوي. په بل ډول يې يوازې المياه (اوبه) او الديه (ديت) ليکل شوي و، او دريم ډول يې دا و چې (منکم) او (من غيرکم) او (ملصق) به ورباندې ليکل شوي و او دا به يې هغه وخت استعمالاوه چې د چا د نسب په هکله به څه شک او شبهه پيدا شوه نو نومورې کس به يې له سلو اوښانو سره د(هبل) مخې ته بووه، اوښان به يې (قداح) پال اچوونکي ته ورکول، هغه به ټول غشي سره ګډوډ کړل بيا به يې يو ورنه راوکيښ، نوکه به (منکم) راووت نو هغه سړی به بيا د دوی له عزتمندو څخه شميرل کيده، اوکه به (من غيرکم) راووت نو هغه به بيا د دوی حليف (ملګری) يعنی د دوی

[1]. نفس المصدر

په ټرون کې شامل و، او که ((ملصق)) به راووت، نو هغه به بيا د دوی په منځ کې پخپل حالت پاتې و او خپل منزلت به يې درلود خو هم نسب اوحليف به نه شميرل کيده[1].

دېته ورته يوه بل رواج قداح (د قمارغشي) او ميسر(قمار وهل) هم د مشرکينو په منځ کې عموميت درلود دا د قمار يو ډول و، چې د غشي په راوتلو سره به هغوی د قمار اوښ حلالاوه اود هغه غوښه به يې ورباندې ويشله[2].

هغوی د کاهنانو، نجوميانو اوعرافينو په خبرو هم ايمان اوعقيده درلوده،کاهن هغه چا ته ويل کيږي چې د راتلونکو پيښو او حالاتو په هکله خبرې کوي چې داسې به وشي، او دا به نه کيږي، دا او هغه به هسې او داسې شي.کاهن ادعا کوي چې په پټو شيانو خبر لري، او ځنې خو يې لا داسې وايي چې: زما پيريان ملګري دي، هغوی ټول معلومات راته راوړي، او ځنې نور يې وايي چې له پټو او غيبي شيانو نه زما خبرې زما د خپل علم او پوهې په اساس ولاړې دي، او نور يې وايي چې مونږ د پوښتونکي د خبرو يا کار او يا وضعې او حالت د مقدماتو او اسبابو په نظر کې نيولو په اساس د راتلونکو پيښو په هکله معلومات ورکوو او دې ډول کاهن ته عراف ويل کيږي، او دا داسې دی لکه څوک چې ووايي: زه کولی شم د غلا، د غلا شويوځيزونو او د غلا د ځای په هکله معلومات ورکړم. نجومي هغه ته ويل کيږي چې د راتلونکو پيښو او حالاتو په هکله د ستورو حرکت او وختونو ته د کتلو په اساس څه معلومات وړاندې کوي[3]. څوک که د نجوميانو په خبرو باور لري نو هغه په حقيقت کې په ستورو باندې ايمان لري، او په ستورو باندې د هغوی د ايمان يوشکل دا و چې هغوی په الانواء (ستورو راختلو) باندې داسې عقيده درلوده چې ويل به يې د فلاني ستوري د راختلو په وجه راباندې ووريدل[4].

په مشرکينوکې (طيره) يعنې بد شاګوم نيول هم رواج و. د دې اصلي حقيقت او شکل داسې و چې کله به کوم مشرک د کوم کار سرته رسولو نيت وکړ نو کومې هوسۍ او يا مرغه ته به ورغی او هغه به يې له خپله ځايه پورته کړه، وبه يې شاړه، نوکه هغه

---

[1] . محاضرات تاريخ الامم الاسلامية للخضري ۵۲/۱. ابن هشام ۱۵۲/۱-۵۳.

۲ . ددې طريقه داسې وه چې قمار وهونکو به يو اوښ حلال کړ، بيا يې په لسو يا آته ويشتو برخو وويشه، ورپسې به يېپه غشو سره پچه واچوله. دا غشي به داسې وو چې پر ځينو به هيڅ نښه نه وه، پې نښانه به وو او پر ځينو به د وړلو (برې) نښه وه. د چا په نامه به که د برې يا وړلو غشی راووت، نو هغه به کامياب و، خپله برخه به يې اخيستله او که د چا په نوم به بې نښانه غشی راووت، نو هغه بۀ قيمت ادا کاوه او بايلېې به يې وه.

۳ . مرقاة المفاتيح شرح مشکاة المصابيح ۲/۲-۳.

۴ . د صحيح مسلم شرح نووي باب کفر من قال مطرنا بالنوء، کتاب الايمان ۵۹/۱.

هوسی يامرغه به ښی خوا ته لاړه مطلوبه کار به يې تر سره کاوه، او که به کينې خوا ته لاړه نو بيا به يې له هغه کار نه ډډه کوله او دا به يې بدشاګوم باله. همدا راز هغوی ته به که په لاره کې مرغه يا کوم حيوان مخی ته ورغی نو هغه يې هم په بد شاګون نيوه. همدښته ورته د هغوی يو بل کار دا و چې د سويې د ښنګري هډوکي به يې په غاړو کې اچول يا ځورندول، او همدا راز هغوی ځنې ورځې، ميا شتې، ځاروي،کورونه او ښځې او داسې نور شيان په بد شاګون نيول. هغوی د بيماريو په ساري بودن يعنې يو له بل نه په لږيديدو هم عقيده درلوده او پدې يې هم باور درلود چې دوژل شوي شخص روح تر هغه وخته نا کراره وي تر څو يې انتقام نه وي اخيستل شوی، روح يې لکه د بوم په شان ګرزي، په دښتو او ډاګونو کې الوزي را الوزي، تنده او يا اوبه راکړئ، اوبه راکړئ چيغې وهي، خوکله يې چې انتقام واخيستل شي نو بيا آرام او ځای په ځای شي[1].

په ابراهيمي دين کې د قريشو بدعتونه

دا وو د هغه وخت د جاهليت د پيروانو ځنې عادتونه، خو لدې سره سره هغوی د ابراهيمي مقدس دين ځنې شعائر هم ساتلي وو، لکه د بيت الحرام احترام او درناوی ، طواف، حج، عمره، په عرفات او مزدلفه دريدل او په حج کې قرباني کول، خو پدې شيانو کې يې هم ځنې بدعتونه رواج کړي وو. لدې ډول بدعتونو نه ځنې دا وو:

قريشو به ويل: مونږ د ابراهيم (عليه السلام) اولاده، اهل حرم، د بيت الله مشران او د کعبې اوسيدونکي يوو، هيڅوک هم زمونږ په شان منزلت او حقوق نلري. همدا راز دوی ځانونه الحمس (ډيرغيرتي اوګرمجوش) بلل، او دا عقيده يې درلوده چې هغوی بايد د حرم شريف له حدودو نه د باندې ونه وزی، او د همدې عقيدې له امله وه چې په عرفات به نه دريدل، يعنې عرفات ته به نه تلل او نه به يې ور نه افاضه کوله، بلکه هملته مزدلفه کې به پاتې کيدل او له هماغه ځای نه (مزدلفې) نه به يې افاضه کوله (بيرته به راتلل)[2]. قرآنکريم د دې بدعت اصلاح کوي او فرمايي:

((ثُمَّ أَفِيضُوا مِنْ حَيْثُ أَفَاضَ النَّاسُ...)). (البقرة :۱۹۹)

[ترجمه : بيا راکوزيږئ (اې قريشو د طواف د پاره) له هغه ځايه (عرفات څخه) چې

---

۱. صحيح بخاري ۸۵۱/۲-۸۵۷، مع حواشيه للشيخ احمد علي السهارنفوري.

۲ . ابن هشام ۱۹۹/۱. صحيح البخاري ۲۲۲/۱.

راکوزيږي نور خلک (مزدلفې ته)]

دوی به دا هم ويل: چې د حمس (قريشو) لپاره نه ښايي د احرام په وخت کې کروت جوړ کړي او غوړي ويلې کړي (ځينې وايي کروت خوړل به يې نه ښه نه ګڼل). لکه چې دا هم ورته مناسبه نده د وړيو په کوټو (د سنيو په خيمو) کې ننوزي، بايد د څرمنې له خيمې پرته د بل شې ترسيوري لاندې و نه دريږي[1]. د دوی يو بل بدعت دا و چې ويل به يې اهل الحل (د حرم شريف نه باندې خلکو) ته دا نده روا چې په حرم کې د ننه هغه خوراک وخوري کوم چې دوی له ځان سره له حل نه حرم ته راوړی وي، خو پدې شرط چې د حج او يا عمرې لپاره راغلي وي[2]. دوی اهل الحل (له حرم نه د باندې اوسيدونکي) پدې مکلف کړي وو چې هغوی بايد پخپل لومړني طواف کې د الحمس (قريشو) جامې واغوندي، او که دا جامې يې پيدا نکړی شوای نو بيا به نارينه وو لوڅ لغړ طواف کاوه، ښځو به هم ټولې جامې ايستلې وې او يوازې مخصوص ځايونه به يې په يوه ټوټه سره پټ کړي وو او يا دا چې يو وړوکی خلاص کميس به ئې اغوستی و او د طواف په دوران کې به يې دا شعر وايه :

اليوم يبدو بعضه أوكله و مابدا منه فلا أحله

[نن ورځ د شرمګاه څه برخه او ياټول ښکاري، خو هغه چې ښکاري زه هغه ته د کتلو جواز نه ورکوم.]

الله تعالی دا خرافات باطل اعلانوي اوفرمايي: ((يَا بَنِي آدَمَ خُذُوا زِينَتَكُمْ عِنْدَ كُلِّ مَسْجِدٍ)).(الأعراف: ٣١)

[ترجمه :اې زامنو د آدمه ! واخلئ تاسې ښايست خپل په نزد (د وخت) د هرلمانځه].

خوکه کوم سړي او يا ښځې به ځان لدې قانون نه اوچت وباله او پخپلو (له حل نه راوړل شويو) جامو کې به يې طواف وکړ، نو له طواف نه وروسته به يې دا جامې ايسته اچولې او بيا به هيڅا هم نه استعمالولې[3]. د هغوی بل ډول بدعت دا و چې د احرام په دوران کې به خپلو کورونو ته د دروازو له لارې نه ننوتل بلکه دکورونو په شا کې به يې غټ غټ سوري جوړول اوله همغې لارې نه به کورته داخليدل او بيرته به له همغه لارې نه وتل، او دا ددوی په نظر يونيک عمل و، خو قرآنکريم لدې کار نه نهی کوي او فرمايي : ((وَلَيْسَ الْبِرُّ بِأَنْ تَأْتُوا الْبُيُوتَ مِنْ ظُهُورِهَا وَلَكِنَّ الْبِرَّ مَنْ اتَّقَى وَأْتُوا

---

[1] . ابن هشام ٢٠٢/١.

[2] . ابن هشام ٢٠٢/١.

[3] . ابن هشام ٢٠٢/١-٢٠٣. صحيح البخاري ٢٢٢/١.

الْبُيُوتَ مِنْ أَبْوَابِهَا وَاتَّقُوا اللَّهَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ)) (البقرة:۱۸۹)
[ترجمه :او نه ده نيکي (دا کار) چې راځئ تاسې کورو ته د شا له لوري او ليکن (خاون) دنيکۍ هغه څوک دی چې ويريږی (له الله (جل جلاله)) په ترک د مخالفت، او راځئ کورونو ته له طرفه د دروازو د هغوی، او ويريږئ له الله (جل جلاله) څخه د دې لپاره چې تاسې خلاص شئ (دالله تعالی له عذاب نه) او پخپل مراد ورسيږئ.]
د عربي جزيرې زياتره برخې پدې جاهليت، بت پرستۍ او خرافاتو کې راګير وې، يهوديت، نصرانيت، مجوسيت، او د ستورو نمانځنه هم لدې لارې نه عربو ته ننوتې ده.

په عربي جزيره کې د يهودانو لږ ترلږه دوې دورې د يادولو وړ دي:
لومړی: په فلسطين باندې د بابليانو او آشوريانو له قبضې وروسته د فشار او زور په نتيجه کې ديهودانو هجرت، بخت نصر پاچا په (۵۸۷ق .م) کې د يهودانو هيکل (معبد) او کورونه وران کړل، زيات شمير يهودان يې ونيول له ځان سره يې بابل ته بوتلل، بله برخه يې مجبورشول له فلسطين نه حجاز ته هجرت وکړي چې د حجاز په شمالي برخو کې ميشته شول[۱].
دوهمه: دا مرحله په (۷۰م) کال کې د رومانې تيطس (تايتس) ترمشرۍ لاندې په فلسطين باندې د روميانو له تسلط نه پيليږي، روميانو د هغوی (يهودانو) هيکل وران کړ، او د دوی د زيات فشار په وجه ځنې يهودي قبيلې حجاز ته لاړې او په يثرب، خيبر، او تيماء کې ځای په ځای شوې او هلته يې کلياو کورونه جوړکړل، نو ويلی شو چې يهودان له اسلام نه وړاندې او د اسلامي دين په لومړيو وختونو کې په سياسي ډګر کې يومطرح قوت او ځواک وو. کله چې اسلام راغی نو هغه وخت يهودي مشهورې قبيلې دا وې: خيبر، نضير، مصطلق، قريظه او قينقاع، خو سمهودي د وفاء الوفاء نومي کتاب په (۱۶۶) مخ کې ليکي چې د يهودي قبيلو شمير له شلو نه زيات و[۲].
يمن ته يهوديت د تبان اسعد ابو کرب په لاس داخل شويدی، نوموړی د جګړې لپاره يثرب ته تللی و او هملته يهودي شو، او کله چې بيرته راته نو له ځان سره يې دوه يهودي پوهان چې له بني قريظه قبيلې څخه وو يمن ته راوستل. پدې ترتيب سره په

---

۱. قلب جزيرة العرب ص ۲۵۱.
۲. قلب جزيرة العرب.

یمن کې هم یهودیت خور شو، او کله چې د اسعد زوی یوسف ذو نواس د یمن مشر وټاکل شو د نجران په مسیحیانو یې حمله وروړه، هغوی یې یهودیت ته راوبلل، خو چې هغوی یهودیت ته غاړه ټیټه نکړه نو یوسف ذو نواس د اورکندې وایستلې او هغوی یې پکې وسیځل. ویل کیږي چې پدې پیښه کې تقریباً له شلو نه ترڅلویښتو زرو پورې نارینه، ښځې، ماشومان او زاړه (بوډاګان) سیځل شویدي. دا پیښه د (۵۲۳م) کال د اکتوبر په میاشت کې واقع شویده[۱]. او قرآنکریم هم د البروج په سورت کې ورته اشاره کړیده.

خو نصراني دین عربي جزیرې ته د حبشې او رومیانو د تسلط او واکمنۍ له لارې ننوتی دی، حبشي حکومت په لومړي ځل په (۳۴۰م) کال کې یمن ونیو چې تر (۳۷۸م) کال پورې ورسره و[۲]. د مسیحي دین دعوت هم په همدې وخت کې پدې سیمه کې خور شویدی او دې وخت ته نژدې کلونو کې یو زاهد او دکرامت خاوند چې فیمیون نومیده نجران ته راغی د سیمې خلک یې د مسیحیت په لور وبلل، خلکو هم چې دده صدق او کرامت ولید نو بلنه یې ومنله اومسیحیان شول[۳].

او هغه وخت چې حبشیانو یمن ونیو او ابرهه هلته خپل حکومت ټینګ کړ نو مسیحي دین پدې خاوره کې زیات خور شو، ډیر پیروان یې پیداکړل، ان تر دې چې ابرهه په همغه ځای کې دده په خوله کعبه جوړه کړه غوښتل یې عربان هم باید لدې وروسته په یمن کې دده کعبې ته د حج لپاره ورشي.

او د دې پخاطر چې خلک دده کعبې ته راشي قصد یې وکړ بیت الله شریف ورانه کړي، خو الله تعالی د هغه دا توطئه شنډه کړه او هغه یې له دنیوي او اخروي شرم او رسوایۍ سره مخ کړ. همدا راز له روم سره خوا کې میشته قبیلو لکه غساسنه، تغلب اوطئ او د حیرې پاچایانو هم مسیحي دین ومانه.

مجوسیت په هغو عربانو کې رواج درلود کوم چې له فارس سره نژدې پراته وو لکه د عربو په عراق، بحرین، الاحساء، حجر او د عربي خلیج (خلیج فارس) په نژدې څنډوکې میشته خلک.

همدا راز یمن ته هغه وخت مجوسیت لاس اوږد کړ کله چې فارس وربانديې قبضه ولګوله. پاته شوه د صبائي مذهب خبره، هغه معلومات چې په عراق او نورو سیمو کې له ځمکې کیندنې نه لاسته راغلي وایي چې صبائیت د کلدانیانو دین و، د شام زیاتره

---

[۱] تفهیم القرآن للسید مودودي ۲۹۷/۲-۲۹۸. ابن هشام ۲۰/۱_۲۱_۲۲_۲۷_۳۱_۳۵_۳۲.

[۲] . تفهیم القرآن ۲۹۷/۲.

[۳] . ابن هشام ۳۱/۱تر ۳۴.

خلک او همداراز یمنیان ډیر پخوا د دې دین پیروان وو خو کله چې یهودیت او نصرانیت خور شو او زور یې ومونده، تقریباً د دې دین اثر کمزوری اوپیروان یې کم شول خو لاتر اوسه هم په عراق او د عربي خلیج په څنډو کې د ځینو خلکو په منځ کې چې له مجوسیانو سره ګډ شوي او یا د هغوی ګاونډیان وو د دې دیانت ځنې آثار، نښې او نښانې لیدلې کیږي[1].

دیني حالت

دا وو له اسلامي لمر څرک نه مخکې ځنې عربي ادیان او مذهبونه، چې ټول له خپلې اصلې لارې نه بې لارې، شکل او څیره یې بلکل بدله شوې وه.هغه مشرکان چې ځانونه ئې د ابراهیمي دین پیروان بلل د ابراهیم (علیه السلام) له دین نه بالکل په بله خواتللي وو، د دین اوامر، نواهي او ټول فضیلتونه یې هیر کړي وو، ټول تر ستوني پورې په ګناهونو کې ډوب وو، په مینځ کې یې لکه د بت پرستانو په شان خرافات، بې اساسه عادات او رواجونه خواره شوي وو، او همدې خرافاتو د هغوی د ژوند ټولې (سیاسي، ټولنیزې، دیني) برخې تر خپل تاثیر او اغیزې لاندې راوستې وې.

یهودیت هم په ریا کاری او استبداد بدل شوی و. د هغوی مشران لکه خدایان داسې ګرزیدلي وو، په خلکو به یې د خپلې خوښې حکمونه چلول. تر دې چې د هغوی د پټو خیالاتو او د شونډو د ښوریدو او خوځیدو حساب به یې هم ورسره کاوه.

د قدرت او پیسو په غم کې ډوب وو، هر څه یې یوازې د همدې پخاطر وو، دین او دیني احکام یې د پیسو او قدرت په مقابل کې هیڅ بلل، دا مادي هدف به یې چې پوره کیده نور نو د څه شې غم نه و ورسره. دا فکر به هم نه و ورسره چې الحاد او کفر خور شو، او د هغه دین احکام تر پښو لاندې کیږي د کوم په هکله چې الله تعالی امر کوي چې هر څوک باید د هغه احترام او پیروي وکړي.

له نصرانیت نه داسې یو دین جوړ شوی و چې پوهیدل وربانديې ګران وو، دې دین د انسان او الله تعالی تر مینځ یو عجیب غوندې ترکیب جوړ کړی و او پدې سره دا هم یو باطل او وثني (مشرکانه) دین ګرزیدلی و.

په همدې دین متدینو عربانو باندې یې هم اغیزه کمه وه، ځکه د دې دین لارښوونې

[1]. ارض القرآن ۱۹۳/۲ تر ۲۰۸.

او د دوی عادات او رواجونه ډيره سره ليري او مختلف وو او په څه چې دوی عادت شوي وو هغه يې د دين پخاطر نه شوای پريښودای.

همدا راز د عربو د نورو اديانو پيروان هم لکه مشرکين داسې وو، د هغوی زړونه، عقيدې عادات او رواجونه ډير سره ورته او نژدې وو .

د عربي جاهلي ټولنې څونمونې

د عربي جزيرې د اوسيدونکو د سياسي او ديني وضعې په هکله مو څه نا څه خبرې وکړې، اوس غواړو د دې خلکو د ژوند پر ټولنيزه او اقتصادي برخه هم لږ شانته رڼا واچوو:

ټولنيز حالت

په عربو کې د مختلفو طبقاتو او بيلا بيلو عاداتو او حالاتو درلودونکي خلک موجود وو، په اشرافي کورنيو کې د سړي اړيکې له خپل کور او خپلې ښځې سره ډيرې ښې او پر مخ تللې وې. ښځو يې پوره آزادي درلوده، خبرې او نظريات يې زيات منل کيدل، په ټولنه کې ډير د قدر او احترام په سترګه ورته کتل کيدل، ان تردې چې د ښځې پخاطر دا هم کيدای شوای توره له تيکيو ووزي او ډيرې وينې تويې شي او که چا به غوښتل په کرم (سخا) او شجاعت کوم چې د عربو په وړاندې تر ټولو لوړ او اوچت صفات شميرل کيدل د ځان ستاينه وکړي، نو هغه به هم زياتره ښځې ته په خطاب سره د ځان ستاينه او صفت کاوه. همدا راز د ښځې له وسه دا هم پوره وه چې مختلفې قبيلې د سولې له لارې سره را ټولې کړي، او دايې هم کولی شوای چې د هغوی په مينځ کې د جګړې اور بل کړي، خو لدې ټولو سره سره د کورنۍ مشري او صلاحيت له نارينه سره و. ښځې او سړي به د واده او نکاح له لارې يو له بل سره اړيکې ټينګولې، خو ښځې پخپل سر واده نه شوای کولی بلکه واده به يې د مشرانو تر نظر لاندې او د هغوی په خوښه ترسره کيده.

دا و د اشرافي کورنيو ټولنيز حالت، خو په نورو کورنيو کې ښځې او نارينه داسې سره ګډ شوي وو چې له فساد، فحشا، او فتنو پرته بل نوم نه شو ورباندې اينبودی. ابو داود له حضرت عايشې (رضي الله عنها) نه په روايت سره وايي: د جاهليت په دوران کې نکاح په څلور ډوله وه : يو ډول يې د اوسنۍ نکاح په شان وه، يوه سړي به د بل

کس لور یا خور او... ورنه غوښتله هغه به موافقه کوله او نکاح به یې ترڅ کیدله. بل ډول نکاح داسې وه چې کله به د کوم سړي ښځه له حیض نه پاکه شوه نو میړه به یې ورته ویل: لاړه شه له فلاني سړي سره یو ځای شه (زنا ورسره وکړه) او خپل میړه به یې بیا تر هغه نه ورسره یو ځای کیده تر څو به یې له هغه بل سړي نه حمل نه وڅرګند شوی او کله به یې چې حمل ښکاره او ثابت شو نو بیا به یې که زړه غوښتل ورسره یو ځای کیده به، دا نکاح د استبضاع په نامه یادیدله او دا صرف د اولاد پیدا کیدو پخاطر ترسره کیدله. دریم ډول داسې وه چې له لسو نه کم کسان به له یوې ښځې سره یو ځای شول، او کله به چې ښځه حامله شوه او بیا به یې اولاد پیدا شو نو څو ورځې وروسته به یې دا ټول کسان راوغوښتل، هغوی به راغلل هیڅا هم سر غړاوی نه شوای کولی بیا به دې ښځې ورته ویل: پوهیږئ چې څه مو وکړل، دادی زما اولاد پیدا شو، نو دا ستا زوی دی اې فلانیه! له همغو کسانو نه به یې د کوم یوه نوم واخیست، دا ماشوم به نور د همغه سړي زوی و. څلورم ډول نکاح داسې وه چې زیات شمیر خلک به له یوې فاحشې ښځې سره یو ځای کیدل، هغه داسې فاحشې وې چې د کورونو په دروازو به یې جنډې درولې وې ترڅو خلک پوه شې چې دا د فاحشې کوردی اوبې تشویشه ورشي خو کله به یې چې اولاد پیدا شو نو بیا به یې څیره پیژندونکی راووست او هغه به د خپلې تجربې په اساس دا ماشوم یوه کس ته منسوبوه نو همغه ماشوم به د همغه سړي زوی و، د اعتراض او انکار حق یې نه درلود، خو کله چې الله تعالی محمد (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) په نبوت مشرف کړ نو د نکاح دا ټول ډولونه یې باطل کړل، او نن ورځ یوازې اسلامي نکاح شته او بس.[1]

داسې هم پیښیدل چې خلکو به د تورې او نیزې په زور ښځې د ځان کولې، کله به چې څوک په جګړه کې بریالی شو نو د ماتې خوړلي دښمن ښځې به یې نیولې او د ځان لپاره به یې روا بللې، او د دې ښځو اولاد به د مرګ تر ورځې د شرم او خجالت ژوند تیراوه.

د جاهلیت پدې دوره کې هر چا حق درلود چې بې شمیره ښځې ولري، د ښځو لپاره څه حد او اندازه نه وه، په یوه وخت کې د دوو خویندو نکاح هم دوی روا کړې وه، زوی د پلار له طلاقې شوې او یا کونډې ښځې سره (چې میره یا میرنۍ مورکیږي) نکاح کولی شوای. (د نساء سورت ۲۲= ۲۳ ایت).هغه وخت د طلاق حق له نارینه سره

---

[1]. ابو داود، کتاب النکاح، باب وجوه النکاح التي کان یتناکح بها اهل الجاهلیة.

و، خو کومه ټاکلې شمیره او حد یې نه درلود[۲].

زنا خو دومره زیاته وه چې دهرې طبقې خلک وربانديې مبتلا وو، ډیرکم کسان به داسې وو چې لدې مرض نه یې ځان ساتلی وي، خو بیا هم آزادې او اصیلې ښځې د وینځو په نسبت ښې اوغوره وي. داسې ښکاري چې د جاهلیت زیاتو پیروانو زنا د ځان لپاره شرم اوعیب نه ګانه، ابو داود له عمرو بن شعیب عن ابیه عن جده نه روایت کوي وایي : یوسړی پاڅید او ویې ویل: یارسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم)! دا فلانی سړی زما زوی دی، د جاهلیت په وخت کې مې د هغه له مور سره زنا کړیده. رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) ورته وفرمایل: ((**لا دعوة في الاسلام، ذهب امر الجاهيلة الولد للفراش، وللعاهر الحَجَرُ**)) یعنې په اسلام کې دا ډول دعواګانې ځای نلري، د جاهلیت خبره پای ته رسیدلې ماشوم د هغه چا دی چې مور یې د هغه ښځه او یا وینځه وي، او د زنا کار لپاره تیږې (کانې) دي.

همدا راز د عبدالرحمن بن زمعه چې د زمعه د وینځې زوی و په سر چې د سعد بن ابي وقاص (رضي الله عنه) او عبد بن زمعه ترمنځ کوم اختلاف اوجنجال تیر شوی د هغه کیسه هم مشهوره ده[۱]

د جاهلیت پدې دوره کې د زوی او پلار اړیکې هم ډول ،ډول وې، ځینو به ویل :

انمـــــــــــااولادنا بيننا اكبادنا تمشي على الارض

[زمونږ اولادونه زمونږ په ځمکه ګرزیدونکي زړونه دي.]

خو داسې پلرونه هم وو چې خپلې لونې به یې د شرم او یا فقر له امله ژوندۍ ترخاورو لاندې کولې،او د بې وسۍ په وجه یې خپل اولادونه په قتل رسول (قرانکریم:الانعام: ۱۵۱. النحل:۵۸-۵۹.الاسراء: ۳۱. التکویر:۸). خو دا جرم ډیر عام ځکه نه و چې هغوی به تل په جګړو کې بند وو، او د دښمن د مقابلې لپاره یې زامنو ته زیاته اړتیا درلودله .

له ورونې، د تره له زامنو او نورو تربرونو سره به اړیکې ډیرې ټینګې اونژدې وې، هغوی په قومي تعصب کې نوم درلود، د قوم پخاطر به هم مړه وو او هم ژوندي، د ټولنیز نظام اساس او تهداب یې په قومیت، نژاد پرستۍ، او خپلوۍ سره ولاړ و.

---

۲ . ابو داؤود باب نسخ المراجعة بعد التطليقات الثلاثة. مفسرینو د (الطلاق مرتان) آیت په شان نزول کې همدا خبره کړیده.

۱ . ابو داؤود باب الولد للفراش.

عقيده يې داسې وه چې سړی بايد د قوميت په اساس په حق او باطل دواړو کې له خپلوانو سره ودريږي، خو د مقام او قدرت په سر به کله کله د يوه پلار د زامنو ترمنځ هم جګړې پيښيدلې لکه د اوس او خزرج، او يا عبس او ذبيان او يا بکر او تغلب خپل مينځ جګړې. لکه اشاره مو چې وکړه هرڅه د قوميت په اساس وو، نو له همدې کبله د مختلفو او بيلابيلو قبايلو ترمنځ هيڅ ډول اړيکې او همکاري نه وه، بلکه د هغوی ټول توان او قوت به يو د بل سره په مقابله اومسابقه کې خرڅيده، خو کله کله به دا دښمني د ديني، خرافاتي او يا نورو عاداتو په وجه کيدله، او داسې به هم پيښيدل چې د همکاری، تعاون، اطاعت او دوستی داسې ټرون وشي چې څو بيلا بيلې قبيلې او کورنۍ سره يوځای کړي. لدې نه علاوه د حرام مياشتې هم د دوی د ژوند او ژوندينو اړتياوو د پوره کولو لپاره ډيرې مهمې او ارزښناکې وې، دا مياشتې د دوی لپاره غټ رحمت او طلايي فرصت و. لنډه دا چې د هغوی ټولنيز نظام ډير کمزوری اوګډوډ و، خلکو د ځارويو په شان ژوند درلود، جهل، ناپوهي، خرافات او بې ديني هرلوري ته خوره وه، ښځه لکه د حيواناتو په شان خرڅيدله، ځنې وخت به له ښځې سره له حيوان نه هم بده رويه کيدله، د خلکو په منځ کې کوم قانون او نظام وجود نه درلود، او هغه تش په نامه حکومتونه که موجود هم وو خو د هغوی لومړنی او وروستنی کار او هدف د ملت له خزانو او پيسو نه د خپلو خيټو او جيبونو ډکول، او د ملت د وينې په قيمت له دښمنانو سره جګړې کول وو.

اقتصادي حالت

د عربو اقتصادي حالت او نظام د هغوی د ټولنيز نظام تر بشپړې اغيزې لاندې و، د دوی د ژوندنيو اړتياوو د پوره کولو تر ټولو ستره وسيله تجارت و، او دا خو ښکاره ده چې امن نه وي نو تجارت به څنګه ترسره کيږي، هغه وخت امن او امان بالکل وجود نه درلود، جګړې به يوازې د حرام په مياشتو کې بنديدلې او په همدې مياشتو کې به د عربو مشهور بازارونه لکه عکاظ، ذي المجاز، مجنه او نور پرانيستل کيدل.

صنعت خو ډير کمزوری و، يوازې په يمن، حيره، د شام په سرحدي برخو کې د ټوکر اوبدلو (په لاس سره) څرمنو رنګولو او آش ورکولو او داسې نورو صنعتونو رواج درلود، خو د جزيرې په منځنيو برخو کې کرهڼه او مالداري هم وه، د عربو ټولې ښځې په سنۍ او بدلو او جوړولو بوختې وې، خو څرنګه چې هر څه په جګړو کې په مصرف رسيدل نو ځکه خلک له لوږې، فقر، او نيستۍ سره لاس او ګريوان وو.

اخلاق

هيڅوک لدينه انکار نه شي کولی چې د جاهليت پيروان د ډيرو سپکو اخلاقو، خرابو عاداتو او رواجونو درلودونکي وو، خو لدينه هم انکار نه شي کيدلی چې لدې سره سره دوی ځنې داسې نيک او غوره اخلاق او عادات هم درلودل چې هر چاته د ويار او فخر وړ دي، د مثال په توګه :

۱ـ کرم (سخاوت): هغوی په کرم او سخاوت کې يو له بل سره سيالي کوله، د هغې دورې نيمايي شعرونه پدې هکله ويل شويدي چې يا يې پکې ځان پدې صفت ستايلی او يا يې د همدې صفت له کبله د بل چا ستاينه کړيده. کرم او سخاوت ډير عموميت درلود چا ته به چې په ډيره يخنۍ او لوږه (نيستۍ) کې هم ميلمه راغی او هغه (کوربه) به له يوې اوښې پرته چې ټول ژوند به يې ورباندې روان و بل څه نه درلودل خو بيا به يې هم د کرم او سخا په حکم خپله لوږه او سخته ورځ هيروله او خپله يوازينۍ اوښه به يې ميلمه ته حلالوله. د هغوی د کرم له آثارو نه يو هم دا و چې د انساني ژوند او انساني ويني د ساتنې پخاطر به يې ډير زيات ديتونه او جريمې منلې او دا به يې د ځان لپاره فخر او ويار وباله او د نورو سردارانو په مقابل کې به يې پدې افتخار کاوه.

د همدې کرم او سخا د حس قوت و چې هغوی به په شرابو څښلو ويار کاوه، دا ويار پدې خاطر نه و چې گويا شراب څښل پخپله يو ويار دی بلکه دا لدې امله و چې شراب څښل هم د کرم او سخا يوه طريقه ده او دا کار انسان ته د خرڅ او مصرف لاره ښيي، او له همدې امله ده چې هغوی د انګورو ونې ته کرم وايي، او د انګورو شرابو ته يې بنت الکرم (د انګورو لور) ويل، که د جاهلي دورې د اشعارو ديوانونو ته مراجعه وشي، نو هلته به پدې هکله د فخر او ويار بيل باب وموندل شي. عنتره بن شداد العبسي وايي:

ولقد شربت من المدامة بعدما	ركـــد الهواجربالمشوف المعلم
بزجابةصـــفراء ذات اســـرة	قرنت بازهر بالشمال مفـــدم
فـــاذا شربت فانني مستهلك	مالي، و عرضي وافـــر لم يكلم
واذاصحوت فما اقصرعن ندى	وكما علمت شمائلي وتكـــرمي

[کله چې د غرمې د ګرمۍ زور مات شو نو ماله يو زيږ، ليکې دار بلورين جام نه چې

له چپې خوا ته ايښودل شوي ځليدونکي (تابناک) او سرپټي خم (د شرابو لوښي) سره و، نښه شوي صاف او شفاف شراب وڅښل، او کله چې زه شراب څښم نو خپل مال خرڅوم، عزت او آبرو ته مې څه زيان نه رسيږي (آبرو مې نه لکه داره کيږي)، او کله چې را په حال او په خود کيږم نو بيا هم په سخاوت کې کوتاهي نه کوم، او زما اخلاق او کرم خو تا ته معلوم دي چې څه دي.]

همدا راز دوی قمار (جواری) ته هم کرم او سخا ويله ځکه کوم مال به يې چې لدې لارې نه ګاټه هغه به يې ټول، او يا هغه برخه چې د ګټونکو له برخو نه به زياته وه (نه به وربانديې ويشل کيدله) هغه به يې په مسکينانو او فقيرانو ويشله، او له همدې ځايه ده چې قرآنکريم د شرابو او قمار ګټې بالکل نه نفي کوي بلکه فرمايي: ((...وَإِثْمُهُمَا أَكْبَرُ مِنْ نَفْعِهِمَا...)) (البقرة: ۲۱۹) [ګناه يې له ګټې ډيره ده.]

۲ ـ وفا- د هغوی له ښو اخلاقو نه يو هم په عهد وفا وه، په قول او عهد به ټينګ ولاړ وو، حتی چې پدې لاره کې به د ځان، اولاد، او مال قربانی ته هم حاضر وو، د دې مطلب د وضاحت او بيان لپاره د هاني بن مسعود الشيباني، سموال بن عاديا او حاجب بن زراره کيسې کافي دي.

۳ ـ بل ښه خوی او خصلت چې د هغوی په مينځ کې رواج درلود هغه عزت النفس، ذلت او سپکاوي ته نه تسليميدل وو، د دوی غيرت او شجاعت ډير زيات و، ظلم او جبر يې نه مانه، کله به يې هم چې سپکه او د ذلت خبره واوريده نو فورا به يې توري ته لاس کړ او جګړه به پيل شوه. هغوی د خپل عزت په خاطر ځانونه هم قربانول.

۴ـ کلکه او پخه اراده هم د هغوی له غوره صفتونو څخه وه، کوم کارته به يې چې اراده وکړه نو بيا به يې هغه په هر قيمت چې و تر سره کاوه.

۵ـ حلم او برده باري او سنجيدګي هم د دوی لپاره د افتخار وړ صفتونه وو، خو دا چې د غيرت او ژر احساساتي کيدلو روحيه وربانديې غالبه وه نو ځکه حلم پکې کم و.

۶ـ د اوسنی زمانې له چلونو، فريبونو او مکرونو نه پاکه سادګي، رښتيا، امانتداري، او اخلاص هم د دوی له غوره اخلاقو څخه شميرل کيدل. وينو چې د عربي جزيرې د جغرافيايي موقعيت تر څنګ د دوی دا پورته ذکر شوي او داسې نور غوره صفتونه او اخلاق د دې سبب شول چې الله تعالی همدا عربان د رسالت د درانده پيټې د اوچتولو او د بشري نړۍ د لارښوونې او مشرتابه لپاره انتخاب کړل، ځکه دا اخلاق که څه هم ځنې يې له شر او ضرر نه خالي نه وو خو هغه پخپل ذات کې له اصلاح وروسته ډير د قدر وړ او ارزښتناک وو، او کله چې اسلام راغی او هغه يې سم او

اصلاح کړل نو خيريې ټولې دنيا ته ورسيد. په وفا پسې د دوی تر ټولو غوره صفت عزت النفس او پخه اراده وه، ځکه که عزت النفس، غيرت او پخه اراده نه وي، نو فساد او شر له مينځه نه شي تللی. له پورته ذکر شويو غوره اخلاقو او صفاتو علاوه هغوی نور هم ښه صفتونه درلودل خو مونږ دلته ورنه يادونه ونه کړه.

د رسول الله(ﷺ)نسب او کورنۍ

د نبي (ﷺ) نسب:

د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) د نسب سلسله په دريو برخو ويشلی شو: يوه برخه داسې ده چې اهل السير او نسب پوهان يې په صحت اتفاق لري او دا برخه تر عدنان پورې ده، او بله برخه داسې ده چې ځنې اهل السير يې صحيح بولي او ځنې نورو توقف پکې کړيدی او دا له عدنان نه تر ابراهيم (عليه السلام) پورې ده، دريمه برخه يې هغه ده چې بې له شکه دروغ او غير صحيح امور پکې موجود دي او دا له ابراهيم (عليه السلام) نه تر آدم (عليه السلام) پورې رسيږي. اوس راځئ دا دری واړه برخې په مفصله توګه تر نظر تيرې کړو.

لومړنۍ برخه: محمد (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) بن عبدالله بن عبدالمطلب- اصلي نوم يي شيبه دی- بن هاشم – اصلي نوم يې عمرو دی- بن عبدمناف_ اصلي نوم يې مغيره دی- بن قصي- اصلي نوم يې زيد دی – بن کلاب بن مره بن کعب بن لوئ بن غالب بن فهر_ چې لقب يې قريش واو د قريشو قبيله همده ته د انتساب له امله قريش بلل کيږي_ بن مالک بن النضر- چې اصلي نوم يې قيس دی – بن کنانه- بن خزيمه بن مدرکه – اصلي نوم يې عامر دی – بن الياس بن مضربن نزار بن معد بن عدنان[1].

دوهمه برخه: له عدنان نه پورته، يعنی عدنان بن اد بن هميسع بن سلامان بن عوص بن بوز بن قموال بن ابي بن عوام بن ناشد بن حزا بن بلداس بن يدلاف بن طابخ بن جاحم بن ناحش بن ماضي بن عيض بن عبقر بن عبيد بن الدعا بن حمدان بن سنبر بن يثربي بن يحزن بن يلحن بن ارعوي بن عيض بن ديشان بن عيصر بن افناد بن ايهام بن مقصر بن ناحث بن زارح بن سمي بن مزي بن عوضه بن عرام بن قيدار بن اسماعيل بن ابراهيم (عليهما السلام).[2]

---

[1] . ابن هشام ۱/ ۱_۲. تلقيح فهوم اهل الاثر ۵_۲. رحمة للعالمين ۲/ ۱۲_۱۳_۱۴_۵۲.

(2). محمد سليمان المنصور پوری د کلبي په روايت سره د نسب دا برخه جمع کړيده، همدا راز ابن سعد له أير دقيق تحقيق وروسته. رحمه للعالمين ۲/ ۱۴- ۱۵-۱۲-۱۷ وکګوره، د دی برخي په هکله تاريخي مصادر بوله بل سره أير توپير او اختلاف لري.

دريمه برخه : له ابراهيم (عليه السلام) نه پورته يعنی ابراهيم بن تارح ـ اصلي نوم يې آزر دی ـ بن ناحور بن ساروع يا ساروغ بن راعو بن فالخ بن عابر بن شالخ بن ارفخشد بن سام بن نوح (عليه السلام) بن لامک بن متوشلخ بن اخنوخ ـ ويل کيږي چې همدا ادريس (عليه السلام) دی ـ بن يرد بن مهلائيل بن قينان بن آنوشته بن شيث بن آدم ـ عليهما السلام[1].

نبوي کورنۍ

د رسول الله (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) کورنۍ دده جد هاشم ته د انتساب له امله په هاشمي کورنۍ مشهوره ده، نو بې ځايه به نه وي که د هاشم او له ده نه وروسته حالاتو باندې لږ رڼا واچوو:

۱- هاشم- لکه مخکې مو چې وويل هغه وخت چې بنو عبد مناف او بنو عبدالدار د سولې په نتيجه کې منصبونه سره وويشل نو د سقايې او رفادې مسئوليت د بني عبدمناف کورنۍ هاشم نومي سړي په غاړه واخيست.

هاشم يو مالدار او معزز سړی و او هغه لومړنی شخص و چې په مکه کې يې حاجيانو ته شوربا او ډوډۍ ورکړيده. اصلي نوم يې عمرو و، خو ځرنګه يې چې ډوډۍ په شوربا کې ميده وله، نو په هاشم مشهور شو، ځکه هاشم ميده کوونکي ته وايي. د قريشو دواړو سفرونه د ژمي سفر او اوړي سفر هم د لومړي ځل لپاره ده رواج کړيدي، دده په هکله يو شاعر وايي:

عمرو الذي هشم الثريد لقومه قـــوم بمكة مسنتين عجاف

سنت إليه الرحلتان كلاهـــما سفر الشتاء ورحلة الاصياف

[داعمرو و چې خپل قحطي ځپلي، کمزوري او ډنګر قوم ته يې په شوربا کې ماته شوې ډوډۍ ورکړه، او همدا عمرو و چې د ژمي او اوړي دواړو سفرونو تهداب يې ورته ايښی دی.]

دده د ژوند يوه پيښه داده چې وايي: هغه شام ته د تجارت لپاره روان شو، خوکله چې مدينې ته ورسيد هلته يې د بني عدي بن النجار کورنۍ له سلمی بنت عمرو سره واده

---

[1] . ابن هشام ۲/۱_۳. تلقيح فهوم الاثر ص ۲. خلاصة السير للطبري ص ۲. رحمة للعالمين ۱۸/۲.

وکړ، هملته څه موده ورسره پاتې شو. وروسته بیا شام ته وخوځید ،دغه وخت یې ښځه حامله شوې وه، هاشم په همدې سفرکې د فلسطین په غزه نومې سیمه کې وفات شو، او په (۴۹۷م) کال یې زوي عبدالمطلب پیداشو، اوڅرنګه چې د زوی په سرکې یې سپین ویښتان وو، نو مور یې (سلمی) شیبه نوم ورباندې کیښبود[۱]. او همدلته د پلار په کور(یثرب) کې یې د خپل زوی روزنه کوله او په مکه کې د هاشم له کورنۍ نه هیڅوک نه وو ورباندې خبر. هاشم څلور زامن او پنځه لونې درلودې چې نومونه یې دا دي: اسد، ابو صیفي، نضله او عبدالمطلب، او د لونې نومونه یې: شفاء، خالده، ضعیفه، رقیه، او جنه وو[۲].

۲ـ عبدالمطلب ـ په هاشم پسې سقایه او رفاده (حاجیانو ته اوبه ورکول او د هغوی میزباني کول او خواړه ورکول) یې د ورور مطلب بن عبدمناف په غاړه ولویده. مطلب هم یو شریف، پخپل قوم کې د عزت او اعتبار خاوند و، خلکو به یې خبرې منلې ، او د زیات سخاوت له امله به قریشو فیاض باله. شیبه (عبدالمطلب) چې کله په مدینه کې لس کلن شو، تره یې (مطلب) ورنه خبرشو، ورپسې ورغی چې مکې ته یې راولي کله یې چې ولید له سترګو یې اوښکې روانې شوې، په غیږ کې یې ټینګ ونیو او پخپله سپرلۍ یې ورسره سپورکړ چې مکې ته یې بوزي، خو عبدالمطلب ورته وویل زه ترهغې نه درسره ځم ترڅو مې چې مور راته اجازه نه وي کړی، نو مطلب یې مورته وویل چې وراره مې راسره ولیږه، خو مور یې دا خبره ونه منله. ده ورته وویل: اجازه ورکړه، هغه د خپل پلار وطن او د الله (جل جلاله) حرم ته ځي، پدې خبرې سره یې مور اجازه ورکړه، او پدې ترتیب مطلب هغه له ځان سره په اوښ سپورمکې ته راووست،کله چې خلکو ولید ویې ویل: دا (عبدالمطلب) دی، خو ده ورته وویل نه داسې نده، دا زما د ورور هاشم زوی دی. عبدالمطلب همدلته مکه کې د خپل تره (مطلب) تر روزنه لاندې لوی شو، ترڅو مطلب د یمن په ردمان نومې سیمه کې وفات شو، نو نومورې مسئولیت عبدالمطلب ته وسپارل شو. ده هم خپل قوم ته ټول هغه خدمتونه ورانديې کول کوم چې دده پلرونو به کول، بالاخره پخپل قوم کې د دومره شرف او عزت خاوند شو چې پلرونه او اجداد یې هم هغې درجې ته نه وو رسیدلي خلکو ورسره ډیره مینه لرله او ډیر درناوی یې ورته درلود[۳].

---

[۱]. ابن هشام ۱۳۸/۱. رحمة للعالمین ۲۴/۲۲,۲/۱.

[۲]. ابن هشام ۱۰۷/۱.

[۳]. ابن هشام ۱۳۷/۱_۱۳۸.

کله چې مطلب وفات شو، نوفل د عبدالمطلب په ځينو عبادتخانو يا څه جايداد قبضه ولګوله، يا دا چې ديني مشرتابه يې ورنه غصب کړه، عبدالمطلب د خپل تره په مقابل کې له قريشو نه مرسته وغوښته، خوقريشو ورته وويل: مونږ ستا او ستا د تره ترمنځ مداخله نه کوو. بيا يې خپلو ماماخيلو (بني النجار) ته يو څوشعرونه واستول چې د کومک غوښتنه يې پکې کوله، نو ماما يې (ابوسعد بن عدي) له اتياوو سپرو سره روان شو، د مکې په ابطح کې يې واړول. عبدالمطلب ورغی او ورته ويې ويل: راځئ کور ته. ماما يې وويل: نه، تر څومې چې نوفل نه وي ليدلی کورته به درسره لاړ نه شم، بيا نوفل ته ورغی، هغه په حطيم کې د قريشو له مشرانو سره يوځای ناست و، ابوسعد خپله توره له تيکي را وايسته او ورته ويې ويل: د دې کوټې د رب په نامه قسم يادوم که چيرته زما خوريي ته د هغه حق او يا مشري بيرته ورنکړې نو پدې توره به دې وهم. نوفل وويل: سيي ده ما هغه بيرته ورکړه، د قريشو مشران ورباندې شاهدان شول. بيا ابوسعد د عبدالمطلب کورته لاړ، دری ورځې ورسره ميلمه و، بيا يې عمره اداکړه او بيرته مدينې ته ستون شو.

پدې پيښه پسې مناف د بني هاشم په خلاف له بني عبدشمس بن عبدمناف سره ټرون وکړ، اوکله چې خزاعه وليدل چې بني النجار د عبدالمطلب ملاتړ وکړ نو ويې ويل : هغه (عبدالمطلب) لکه څرنګه چې ستاسې له اولادې نه دی همدا ډول زمونږ له اولادې څخه هم دی او په مونږ هم حق لري چې مرسته يې وکړو.او دا ځکه چې د عبدمناف مور له خزاعه کورنۍ څخه وه، نو همدا وه چې د خزاعه کورنۍ خلکو په دارالندوه کې د نوفل او بني عبدشمس په خلاف له بني هاشم سره ټرون وکړ، او همدا ټرون و چې بيا وروسته د مکې د فتحې سبب شو، تفصيلات به پخپل ځای کې راشي[1].

د بيت الله شريف په امورو کې عبدالمطلب له دوو مهمو پيښو[2]سره مخامخ شوی و چې يوه د زمزم کوهي کيندل او بله د فيل واقعه وه .

د زمزم کوهي کيندل

د دې پيښې لنډيز داسې دی: عبدالمطلب په خوب کې د زمزم کوهي په کيندلو مامور کيږي، ټاکلی ځای هم ورته ښودل کيږي، نو هغه هم شروع وکړه او کوهي يې را لوڅ کړ

---

[1] . مختصر سيرة الرسول (ص) للشيخ محمد بن عبد الوهاب ص ۴۱_۴۲.

[2] . ابن هشام ۱۴۲/۱ تر ۱۴۷ پورې.

او ټول هغه شیان یې پکې ومونډل کوم چې جرهمیانو د هجرت په وخت کې پکې ښخ کړي وو، هغه توري، زغرې، دواړه طلائي هوسۍ، ټول یې را وایستل، توري او هوسۍ ئې دکعبې شریفې په دروازه کې نصب کړې، او د حاجیانو لپاره یې د زمزم اوبه څښلو ته برابرې کړې.

کله چې د زمزم څاه را ښکاره شو، قریشو عبدالمطلب ته وویل: چې مونږ هم پدې کار کې درسره شریک کړه، ده ورسره ونه منله، او ورته ویې ویل: چې زه خاص پدې کار ټاکل شوی یم، خو هغوی مخالفت ورسره کاوه تر څو د بني سعد یوې کاهنې ته د محاکمې لپاره لاړل، خو دوی لا په لاره وو چې الله تعالی دا ور وښودله چې عبدالمطلب زمزم ته خاص شویدی. په همدې وخت کې عبدالمطلب نذر کیښود او ویې ویل: که چیرته الله تعالی لس زامن راکړل او ټول ځوانان شول نو یو به ورنه په کعبه کې ذبح کوم.

د فیل واقعه

د دې کیسې خلاصه داسې ده چې ابرهه الصباح الحبشي چې په یمن کې د نجاشي نماینده و، ولیدل چې عرب کعبې شریفې ته د حج لپاره ځي، نو ده په صنعاء کې یوه لویه کلیسا جوړه کړه او غوښتل یې عرب هم دکعبې په ځای د دې کلیسا حج وکړي. د ابرهه دا خبره د بني کنانه یوه سړي واوریده، نو د شپې په تیاره کې کلیساته ننووت او قبله یې په مرداري ورته ولړله. ابرهه چې له پیښې خبرشو، ډیر په غوسه شو، شپیته زره پیاوړی لښکر یې د مکې په لور روان کړ ترڅو کعبه شریفه ونړوي، ورسره (۹) یا (۱۳) فیلان هم وو، پخپله په یوه لوی فیل سپور و. وخوځیدل ترڅو مغمس نومې منطقې ته ورسیدل، هلته یې لښکرې برابرې کړې، فیلان یې آماده کړل اومکې ته د ننوتلو په تکل کې شول، خوکله چې د مزدلفې او منی مینځ کې د محسر سیمې ته ورسیدل، فیل یې چو شو، او د مکې په طرف ئې قدم نه اوچتاوه، بل هرطرف ته به یې چې روان کړ یوځل به په منډو شو، خو چې د کعبې په طرف به یې مخ شو په ځای به څملاست. دوی په همدې حالت کې وو چې الله تعالی یوسیل مرغان ورباندې وګمارل، او هغوی یې په پخو شویو ګټو وویشتل، او په دې سره الله تعالی هغوی لکه ځپل شوي او خوړل شوي بوس داسې وګرزول. دې مرغانو له ابابیل او قمري سره ورته والی درلود، اوږدې مښوکې، نري وزر او پیرې لکۍ یې درلودې، له هر مرغه سره د نخود د دانې په اندازه دری دری ګاټې وو چې یوه به یې په مښوکه او دوی نورې به یې په منکولو کې نیولې وې، په هر چا به چې دا ګاټې (وړوکې تیږه) ولګیده اندامونه

به یې پرې شول او مړ به شو، ټول پدې ګاټو ونه لګیدل خو هغوی له ډیرې ویرې په هره خوا منډې وهلې، یو بل یې تر پښو لاندې کاوه، که کتل به دې هرې خواته او په هره چینه به د دوی مړی پراته وو. ابرهه پخپله په یوه داسې مرض ګرفتار شو چې دګوتو سرونه یې ولویدل او ترڅو چې صنعاء ته رسیده نو یو بې ښکو چرګوړی ورنه جوړ شوی و او هملته یې سینه دوه پرکې شوه ، زړه یې تري راووت او مردار شو.

قریش د دې لښکرو له ویرې خوړونو، غارونو او د غرو سرونو ته تللي وو، او کله چې الله تعالی هغه لښکر دړې وړې کړ نو دوی بیرته ډاډه خپلو کورونو ته راوګرزیدل[1].

دا پیښه د زیاتره تاریخ پوهانو په نظر د رسول اکرم (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) تر مبارک میلاد پنځه پنځوس (۵۵) ورځې مخکې د محرم په میاشت کې واقع شوې ده، چې دا نیټه د (۵۷۱م) کال د فبروري میاشتې د وروستیو او یا د مارچ له لومړیو سره سمون خوري.

دا پیښه په حقیقت کې یوه مقدماتي او تمهیدي نښه وه چې الله د خپل رسول (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) او خپل کور (بیت الحرام) لپاره ښکاره کړه، ځکه وینو پداسې حال کې چې د بیت المقدس اوسیدونکي مسلمانان دي خو مشرکین او د الله تعالی دښمنان وربانديې مسلط کیږي لکه په (۵۷۸م) کال کې د بخت نصر حمله او (۷۰م) کال کې د رومیانو سیطره، خو کعبه شریفه سره لدې چې اوسیدونکي یې مشرکان وو نصرانیان چې هغه وخت مسلمانان وو تسلط نه شي وربانديې موندلی.

د دې پیښې خبر د وخت په ټوله متمدنه نړۍ کې خورشو، ځکه هغه وخت حبشې له رومیانو سره نژدې اړیکې درلودې، فارسیانو خو د دوی هر څه تر نظر لاندې لرل او په کمین کې ورته ناست وو، او دا یې کتل چې رومیان او ملګري یې څه کوي او له څه سره مخامخ کیږي، او همدا وجه وه چې پدې پیښه پسې فارسیان سملاسي یمن ته راغلل. هغه وخت د متمدنې نړۍ مشري له رومیانو او فارسیانو سره وه. دې واقعې دنیا حیرانه کړه، د هر چا توجه یې د بیت الله شریف مقام او درجې ته راواړوله، او دا یې ورته وښودله چې یوازې همدا خونه ده چې الله تعالی ورته قدر او شرف ورکړی دی، او یوازې همدا د تقدیس وړ ده، نو که د دې مقدس ځای کوم اوسیدونکی په نبوت مشرف کیږي، نو دا د همدې پیښې غوښتنه او مقتضی ده. او پدې سیمه کې د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) ظهور په حقیقت کې د الله تعالی هغه

---

[1]. ابن هشام ۱/ ۴۳ تر ۵۲، تفهیم القران ۴۲۲/۲/۲ تر ۴۲۹.

حکمت په ګوته کوي کوم چې پدې پيښه کې يې د همغه حکمت په اساس مشرکين پر نصرانيانو باندې پداسې طريقې سره برلاسي کړي وو چې د اسبابو له دايرې نه لوړه او اوچته وه.

عبدالمطلب لس زامن درلودل چې نومونه يې دا دي: حارث، زبير، ابو طالب، عبدالله، حمزه (رضي الله عنه)، ابولهب، غيداق، مقوم، صفار، عباس (رضي الله عنه). او دا هم ويل شوي چې يوولس زامن يې درلودل او ((قثم)) نوم يې ورسره زيات کړی دی. ځنی وايي: ديارلس زامن يې وو او هغوی د عبدالکعبه او حجل نومونه ور زيات کړيدي، او دا هم ويل کيږي چې عبدالعکبه همدا مقوم، او حجل همدا غيداق و او د قثم په نامه يې زوی نه درلود، خو لونې يې شپږ وې او نومونه يې دا دي: ام حکيم (البيضاء)، بره، عاتکه، صفيه، اروی او اميمه.[1]

۳- د رسول اکرم (ﷺ) محترم پلار عبد الله

د عبدالله مور فاطمه بنت عمرو بن عائذ بن عمران بن مخزوم بن يقظه بن مره وه. د عبدالمطلب په اولادونو کې عبدالله تر ټولو ښکلی، شريف، غوره او ټولو ته ګران، او په ذبيح سره مشهور و. ذبيح يې له دې امله باله کله چې د عبدالمطلب زامن پوره لس شول او ټول ځوانې ته ورسيدل، نور يې د ده ملاتړ او دفاع کولی شوی، نو له خپل هغه نذر نه چې اينبی يې و خبر کړل، زامنو يې خبره ورسره ومنله. عبدالمطلب د دوی ټولو نومونه د پال په غشو وليکل او بيايې د هبل مينجور ته ورکړل، مينجور غشي سره ګډ کړل او بيايې يو ورنه راويوست که ګوري د عبدالله نوم راوتلی دی، نو عبدالمطلب چاړه راوخيسته، خپل زوی (عبدالله) يې راونيو تر څو کعبې ته يې بوزي او هلته يې ذبح کړي، خو قريشو خصوصا د عبدالله ماما خيلو او ورور يې ابو طالب عبدالمطلب لدې کارنه منع کړ. عبدالمطلب ورته وويل: نو چاره څه ده؟ زه خپل نذر څنګه ادا کړم؟ دوی ورته وويل: له فلانۍ عرافې ښځې نه پدې هکله مشوره وغواړه. عبدالمطلب عرافې ته ورغی هغې ورته وويل چې د عبدالله او لسو اوښانو تر مينځ قرعه اندازي وکړه، که د عبدالله نوم راووت، نو لس نور اوښان ورباندې ورزيات کړه، پدې ترتيب سره لس، لس ور زياتوه تر څو خدای راضي شي او د اوښانو پچه وخيژي. پدې ترتيب سره هغه راغی، د عبدالله او لسو اوښانو تر مينځ يې پچه واچوله، د

---

[1]. تلقيح فهوم الاثر ص ۸-۹. رحمة للعالمين ۵۲/۲_۲۲.

عبدالله نوم راووت، نو عبدالمطلب لس نور ورزيات کړل، خو بيا هم د عبدالله نوم راووت، نو لس، لس يې ورزياتول تر څو سل اوښان پوره شول بيا د اوښانو پچه وختله، عبد المطلب دا سل اوښان د عبدالله په ځای حلال کړل او همداسې يې واچول هر چا چې وړل، وړل يې، نه يې انسان ترينه منع کاوه او نه حيوان. لدې پيښې نه مخکې په عربو او قريشو کې د ديت بيه لس اوښان وه خو لدينه وروسته سل اوښان شوه، اسلام هم همدا سل اوښان تاييد کړل. له رسول اکرم (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) نه په روايت کې راځي چې فرمايي: (انا ابن الذبيحين) [زه د دوو ذبيحانو يعنى اسماعيل (عليه السلام) او عبدالله زوى يم].[1]

عبدالمطلب خپل زوى عبدالله ته آمنه بنت وهب بن عبدمناف بن زهره بن كلاب په نكاح كړه. آمنه هغه وخت په قريشو كې د نسب او مقام له پلوه تر ټولو غوره ښځه وه، پلار يې د نسب او شرف له پلوه د بني زهره مشر و، د عبدالله او آمنې واده په مكه كې ترسره شو، خو له واده نه څه موده وروسته عبدالمطلب هغه مدينې ته واستاوه تر څو دوى ته خرماوې راوړي. عبدالله لاړ او هملته مدينه كې وفات شو، او ځنې وايي: چې عبدالله د تجارت لپاره شام ته تللى و، او بيرته د قريشو له يوه كاروان سره راتله چې مدينې ته راورسيدل عبدالله مريض او بيا هملته د ۲۵ كلو په عمر وفات شو، او د النابغه الجعدي په كوركې خاورو ته وسپارل شو. هغه وخت رسول اكرم (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) نه و زيږيدلى، كه څه هم ځنې روايتونه وايي چې عبدالله د رسول اكرم (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) له ميلاد نه دوې مياشتې وروسته وفات شوى دى.[2] خو زياتره مورخين لومړنى نظر تاييدوي او كله چې د عبدالله د مړينې خبر مكې ته راورسيد نو آمنې دده په مرثيه كې دا شعر ووايه:

عفاجانب البطحاء من ابن هاشم	و جاورلحدا خارجا في الغماغم
دعته المنايا دعوة فأجابها	و ما تركت في الناس مثل ابن هاشم
عشية راحوا يحملون سريره	تعاوره اصحابه في التزاحم
فإن تك غالته المنايا و ريبها	فقد كان معطاء كثير التراحم[3]

Comment: شپشپشپيښ

---

(1). ابن هشام ۱۵۱/۱ تر ۱۵۵. رحمة للعالمين ۸۹/۲ - ۹۰. مختصر سيرة الرسول (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) للشيخ عبدالله نجدي ص ۱۲-۲۲-۲۳.

(2). ابن هشام ۱۵۸/۱_156. فقه السيرة لمحمد الغزالي ص ۴۵. رحمة للعالمين ۹۱/۲.

۳. طبقات ابن سعد ۲۲/۱.

ترجمه:[د بطحا غيږ د هاشم له زوی نه خالي شوه، هغه د آوازونو او ژړاګانو (غوغا) په مينځ کې د لحد ملګری شو، مرګي وغوښت هغه هم دې بلنې ته لبيک ووايه، اوس مرګي د خلکو په مينځ کې د ابن هاشم د زوی په شان څوک نه دي پريښي، (څومره غمجن و) هغه ماښام چې خلکو د ده کټ په اوږو اخيستی ٔ، که څه هم مرګ او د مرګ حوادثو هغه ختم کړ (خو د هغه د کړو ياد به تل وي) هغه ډير پوه، رحيم او سخي سړی و.]

د عبدالله ټول ميراث پنځه اوښان، يوه رمه (يوشمير) ميږې او يوه حبشي وينځه وه چې نوم يې برکه او کنيه نوم يې ام ايمن و، او دا همغه ام ايمن ده چې رسول اکرم (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) به يې په غيږ کې ګرځاوه پالنه به يې کوله.[1]

---

[1]. مختصر سيره الرسول (ص) للشيخ النجدی ص ۱۲. تلقيح فهوم اهل الاثر ص ۴. صحيح مسلم ۹۲/۲.

نيکمرغه ميلاد
او
د سپيڅلي ژوند لومړني څلويښت کلونه

نيکمرغه ميلاد

سيدالمرسلين حضرت محمد (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) د بني هاشم په شعب (مينه) کې، د دوشنبي په سهار چې د فيل د پيښې د لمړنۍ کال د ربيع الاول نهمه نيټه وه دنيا ته سترګې وغړولی، دغه وخت د کسری نوشيروان د پاچايۍ څلويښت کاله تير شوي وو، د ستر عالم محمد سليمان المنصور فوری او فلکي محقق محمود باشا د تحقيق په اساس دا تاريخ د (۵۷۱م) کال د اپريل د مياشتی له شلمی او يا دوه ويشتمی نيټې سره سمون خوري.[۱]

ابن سعد روايت کوي چې د رسول الله (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) مور وايي: کله چې هغه (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) وزيږيده نو زما له جسم نه يو نور ووت چې د شام قصرونه يې روښانه کړل، احمد هم له عرباض بن ساريه نه دی ته ورته يو روايت نقل کړيدی.[۲]

ځنې روايتونه وايي چې د نيکمرغه ميلاد په وخت کې ځنې ارهاصات (د نبي له بعثت نه مخکې خارق العاده پيښې) واقع شوي وو، وايي د کسری د قصر څوارلس کنګرې راولويدلې. د مجوسو آتش کده چې نمانځنه به يې کيدله مړه اوسړه شوه، د ساوه بحيره وچه شوه او په شا او خوا کې يې موجودې کليسا ګانی راپريوتې، دا روايتونه بيهقي رانقل کړيدي، خو محمد الغزالي يې نه منی.[۳]

کله چې محمد (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) پيدا شو، نو مور يې عبدالمطلب ته څوک ورولېږل چې د لمسی زيری ورکړی، عبدالمطلب خوشاله راغی خپل لمسی

---

(1). محاضرات تاريخ الامم الاسلامية للخضري ۲۲/۱. رحمة للعالمين ۳۸/۱ - ۳۹. د ميلادي جنتريو د توپير او اختلاف له امله د اپريل د شلمې او دوه ويشتمې نيټې په ټاکلو کې اختلاف راغلی دی.

(2). مختصر سيرة الرسول (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) للشيخ النجدي ص ۱۲. ابن سعد ۲۳/۱.

(3). فقه السيرة لحمد الغزالی ص ۴۲ وګوره.

يې په غيږ کې واخيست او کعبې شريفې ته يې داخل کړ، د الله تعالی شکرونه يې ادا کول، دعايې کوله او نوم يې محمد (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) ورباندې کيښود. هغه وخت د محمد نوم په عربو کې شهرت او رواج نه درلود، او د عربو د عادت تر مخې يې په اوومه ورځ سنت کړ.[1]

لومړنۍ تی ورکونکی ښځه چې له مور (آمنې) نه وروسته يې رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) ته تی (شيدې) ورکړيدي د ابو لهب وينځه ثويبه ده، چې هغه وخت يې خپل زوی مسروح ته هم تی (شيدې) ورکاوه ، او لدينه مخکې يې حمزه (رضي الله عنه) او بيا وروسته يې ابو سلمه بن عبدالاسد مخزومي ته هم تی (شيدې) ورکړيدي .

له بني سعد سره

د ښار اوسيدونکو عربانو عادت درلود چې خپلو اولادونو ته به يې له صحرايي خلکو نه دايې (شيدې ورکوونکې ښځې) نيولې، تر څو هغوی له ښاري مرضونونه سالم پاتې شي، اندامونه يې پياوړي، اعصاب يې مضبوط وي، او په زانګو کې فصيحه عربي ژبه زده کړي، نو د همدې عادت په بنا عبدالمطلب هم د خپل لمسي لپاره دايه لټوله، بالاخره يې د بني سعد بن بکر کورنۍ يوه ښځه چې حليمه بنت ابي ذويب نوميده د هغه لپاره دايه ونيوله. د حليمې ميړه حارث بن عبدالعزی نوميده، کنيه نوم يې ابو کبشه و او له همدې قبيلی (بني سعد بن بکر) څخه و.

هلته د رسول اکرم (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) رضاعي وروڼه او خويندې دا وو: عبدالله بن الحارث، انيسه بنت الحارث، حذافه او يا جذامه بنت الحارث (لقب يې شيماء و، خو همدا لقب يې ته نامه نه زيات مشهور و (نوموړې به رسول اکرم (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) په غيږ کې ګرځاوه او کراراوه به يې) او ابوسفيان بن الحارث بن عبدالمطلب چې د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) د تره زوی هم کيږي او د حليمې له طرفه د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) رضاعي ورور دی.

د رسول کريم (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) تره حمزه (رضي الله عنه) هم له رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) نه مخکې د بني سعد بن بکر په قبيله

---

[1]. ابن هشام ۱۵۹/۱ - ۱۲۰، محاضرات تاريخ الامم الاسلامية للخضري ۲۲/۱. دا هم ويلی شوي چې رسول (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) سنت کړی شوی پيدا شويدی تلقيح فهوم الاثر ص ۴ وګوره، خو ابن القيم وايي پدې هکله ثابت حديث نشته، زاد العاد ۱۸/۱.

کې و، يوه ورځ د حمزه (رضي الله عنه) رضاعي مور هم رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) ته شيدې ورکړيدي نو پدې اساس حمزه (رضي الله عنه) له دوو خواوو نه د رسول اکرم (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) رضاعي ورور و، يو د ثويبې له خوا نه او بل د همدې سعديې ښځې له پلوه [1]. د رضاعت په دوران کي حليمې د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) داسې برکتونه ليدلي چې بالکل ورته حيرانه وه، راځئ پدې هکله يوه کيسه پخپله د حليمې له خولې نه واورو:

ابن اسحاق وايي: حليمې به ويل: زه له خپل ميړه او کوچني زوی چې شيدې مې ورکولی د بني سعد کورنۍ له يوې ډلې ښځو سره له کوره پدې نيت ووتلو چې د شيدو ورکولو لپاره ماشومان پيدا کړو. وايي: دغه کال ډير وچ و، مونږ ته هيڅ هم نه و را پاتې. وايي: پدې سفر کې زه پخپله سپينه خره سپره وم، زمونږ سره يوه زړه اوښه هم وه، چې هيڅ شيدې يې نکولې، ماشوم مو هم ډير وږی و، ټوله شپه مو د ده له لاسه خوب نه درلود ځکه له لوږې به يې ژړل، زما په تيو کې څه نه و او اوښې هم دومره شيدې نه کولې چې د ده بس شوې وی، خو دا طمعه او هيله مو درلوده چې باران به وشي او لاس به مو لږ آزاد شي.

لنډه دا چې زه په همدې خره سپره وم چې د ډيرې کمزورۍ له امله په ځای ودريده، دومره ورو، ورو تلو چې د کاروان ټول ملګري رانه په تنګ شول، په هر ترتيب چې وو مکې ته ورسيدو هلته مو ماشومان کتل. رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) زمونږ د کاروان ټولو ښځو ته وړاندې شو، خو کله به چې خبرې شوې چې دا يتيم دی، نو نه به يې اخيست، ځکه مونږ خو دا غوښتل چې د ماشوم پلار به راسره مرسته کوي، نو دا چې يتيم دی، مور او نيکه به يې څه راسره وکړي؟ نو له همدې امله هيڅوا هم هغه وانخيست. په پای کې ټولو ښځو ماشومان پيدا کړل، خو زه يوازينۍ ښځه وم چې ماشوم مې نه و مونډلی، او کله مو چې د ستنيدو اراده وکړه خپل ميړه ته مې وويل: زما ټولو ملګرو ماشومان واخيستل، دا د ځان لپاره شرم ګڼم چې زه همداسې تش لاس بيرته ستنه شم، قسم په خدای ورځم او همدا يتيم ماشوم له ځان سره اخلم. ميړه مې وويل: بده نده، کيدای شي الله تعالى هغه را ته د برکت سبب کړي. حليمه وايي: لاړم، هغه (محمد "صلى الله عليه وسلم") مې له ځان سره راوړ، او دا هم ځکه چې بل ماشوم را ته پيدا نشو. وايي: هغه مې له ځان سره راووست کله مې چې تي ته

---

[1]. زاد المعاد ۱۹/۱.

واچاوه، يو ځل مې په تيو کې شيدې را پيدا شوې، ويې رودلې او مور ې شو، بيا يې ورور هم دومره شيدې ورودلې تر څو ښه مور ې شو، بيا ويده شو، پداسې حال کې چې لدينه مخکې نه ده خوب درلود او نه مور ې ورنه ويده کيدای شوای. ميړه مې پاڅيد چې هغه زړه اوښه را ولوشي که ګوري چې غولانځه يې ډکه ده، را ويې لوشله دومره شيدې يې وکړې چې دواړه ښه ورباندې ماړه شوو، دا شپه مو ډيره په خير او آرامۍ سره تيره کړه. وايي: سهار مې ميړه راته وايي: پوه شه اې حليمې! قسم په خدای چې تا ډيره مبارکه روح اخيستې ده. حليمه وايي: ما ورته وويل: زه له الله تعالی نه همدا غواړم. وايي: بيا مو حرکت وکړ، زه پخپله خره سپره شوم هغه ماشوم مې هم راسره واخيست، قسم په خدای چې دا خره داسې ګړندۍ تله چې يوه خره هم نه شوی پسې رسيدلی تر دې چې ملګرو مې راته ويل: اې د ابي ذويب لورې، په مونږ لږ مهربانۍ وکړه، آيا دا هماغه خره ده چې له هغه بل طرف نه پرې راغلې؟ ما به ورته ويل: هو دا هماغه خره ده، نو دوی راته ويل: چې حتماً څه خاصه خبره شته ده. بالاخره خپل مېنې ته راورسيدو، او دغه وخت لدې ځای نه بل ځای زيات وچ او قحطۍ ځپلی نه و، خو کله مو چې دا مبارک ماشوم له ځان سره يووړ، له همغې ورځې نه به زمونږ ميږې مړې او غولانځې به يې له شيدو ډکې وې، لوشلې به مو او شيدې به مو خوړلې، دا پداسې حال کې چې نورو خلکو به خپلو شپنو ته ويل: تاسې هم ميږې په هغه ځای‌کې څروئ چېرته يې چې د بنت ابي ذويب شپون څروي، ځکه د هغوی ميږې به وږې او نرې بيرته راتللې، يو څاڅکی شيدې يې هم نه کولې، خو زما ميږې به مړې او له شيدو ډکې راتللې. په همدې ترتيب سره همداسې د خير او برکت را ته مخه وه تر څو د محمد (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) دوه کاله پوره شول، او له شيدو نه مې بيل کړ. دا مبارک به د نورو ماشومانو په نسبت ډير ژر، ژر لوئيده، په دوو کلونو کې هغه يو پياوړی او تکړه هلک شو. حليمه وايي: بيا مو هغه خپلې مور ته وروست، خو آرزو مو دا وه چې نور هم له مونږ سره پاتې شي، ځکه د هغه برکتونه مو ليدل. مورته مو يې وويل: زوی دې څه موده نور هم له مونږ سره پريږده، تر څو لوی شي، زه ويريږم چې دا په مکه کې ګډه شوې وبا زيان ور و نه رسوي. حليمه وايي: تر هغې هملته ورسره وو، تر څو يې مور پدې راضي شوه چې بيرته يې له مونږ سره واستوي.[1]

شق الصدر (سينې څيرلو) پيښه

---

[1]. ابن هشام ۱۲۲/۱ - ۱۲۳-۱۲۴.

پدې ډول سره رسول اکرم (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) تر هغې په بني سعد کې پاتې شو تر څو څلور کلن او یا پنځه کلن شو[1] او په همدې عمر کې د شق الصدر (سینې څیرولو) پیښه وشوه. امام مسلم له انس (رضي الله عنه) نه په روایت سره وایي: یوه ورځ رسول اکرم (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) له ماشومانو سره لوبې کولې چې جبرئیل (علیه السلام) ورته راغی، را ویې نیو، په ځمکه یې ځملاوه، سینه یې ورڅیرې کړه، زړه یې تري راویوست، یوه توته غوښه یې ورنه لیرې کړه او ویې ویل: دا ستا په وجود کې د شیطان برخه ده، بیایې د سرو زرو په یوه طشت کې د زمزم په اوبو ومینځه، بیایې بیرته سره یو ځای کړ او پخپل ځای کې یې ورکیښود. ماشومان په منډو منډو دده رضاعي مورته ورغلل او ورته ویې ویل: چې محمد (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) ووژل شو. د کور خلک یې پسې راووتل او محمد (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) یې پداسې حال کې مخې ته راغی چې مبارک رنګ یې الوتی و .[2]

د مور په له محبت نه ډکه غیږ کې

له دې پیښې نه وروسته حلیمه ورباندې وویریده او خپلې مورته یې ور تسلیم کړ، او بیا تر شپږ کلنۍ پورې له خپلې قدرمنې مور سره و.[3]

آمنې نیت وکړ چې د وفا په دود د خپل میړه د قبر زیارت وکړي، نو یې د یثرب په لور حرکت وکړ، او تقریبا دا پنځه سوه کیلو متره لار یې ووهله. پدې سفر کې یې یتیم زوی محمد (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم)، خادمه یې (ام ایمن) او سر پرست یې (عبدالمطلب) هم ورسره ملګري وو. آمنه هلته یوه میاشت پاتې شوه، خو چې د بیرته راتګ اراده کوي مریضه کیږي، او د لارې په اوږدو کې یې تکلیف زیاتیږي چې بالاخره د مکې او مدینې تر مینځ ابواء نومې سیمه کې وفات شوه.[4]

---

[1]. دا د زیاتره تاریخ پوهانو نظریه ده، خو د ابن اسحاق له روایت نه داسې معلومیږي چې دا پیښه په دری کلنۍ کې شویده، ابن هشام ۱۲۴/۱ - ۱۲۵ وګوره.

[2]. صحیح مسلم، باب الاسراء ۹۲/۱.

[3]. تلقیح فهوم الاثر ص ۷.

[4]. ابن هشام ۱۲۹/۱. تلقیح فهوم الاثر ص ۷ . محاضرات تاریخ الامم الاسلامیة للخضري ۲۳/۱. فقه السیرة للغزالي ص ۵۰

د مهربان نیکه ترسیوري لاندې

سپین ږیري عبدالمطلب خپل یتیم لمسی مکې ته راووست، زړه یې د لمسي له مینې او محبت نه ډک، ډیر ورباندې زهیر و، ځکه هغه له نوي داسې غم سره مخ شوی و چې پخواني غمونه یې ټول را تازه کول. او همدا وجه وه چې عبدالمطلب لدې لمسي سره دومره مهرباني او نرمي کوله چې له بل هیڅ یوه اولاد سره یې نه وه کړې. هغه یې نه پریښوده چې د بې کسۍ او تنهایۍ احساس وکړي، له خپلو زامنو نه یې هغه ته توجه ډیره وه. ابن هشام وایي: د کعبې تر سیوري لاندې به عبدالمطلب ته ځای برابریده، زامن به یې شاوخوا کیناستل ترڅو هغه به راغی، هیڅوک به هم ده ته د احترام او تقدیر له امله د ده په ځای نه کیناستل، خو رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) به چې لا تراوسه ځوان شوی هم نه و راته او د خپل بابا په ځای به کیناست، ترونو به یې منع کاوه، اجازه به یې نه ورکوله چې هلته کیني، خو عبدالمطلب به چې کله ولیدل نو ورته ویل به یې: زما زوی پریږدئ قسم په خدای (جل جلاله) چې د لوړ شان خاوند دی. کله به محمد(صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) له خپل بابا سره ناست و، بابا به یې ورته په سر او شا د مینې لاس راتیراوه، او په کړو وړو (نقل او حرکت) به یې ډیر خوشالیده[1].

خو کله چې د حضرت محمد(صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) د عمر آته کاله، دوې میاشتې او لس ورځې پوره شوې، مهربان بابا یې (عبدالمطلب) هم په مکه کې وفات شو. عبدالمطلب له خپل مرګ نه مخکې د خپل خواږه لمسي کفالت ابوطالب ته چې د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) د پلار (عبدالله) سکنی ورور کیده سپارلی و[2].

د شفیق تره په کفالت کې

ابو طالب د خپل وراره حقوق کامل او پوره ادا کړل، هغه یې له خپلو زامنو سره یوځای کړ، بلکه له هغوی نه یې زیات ځان ته رانژدې کړ، ډیر شفقت او محبت یې ورسره درلود. ترڅلویښتو کالو زیاته موده یې خوا ته ولاړ و، هیڅ ډول مرسته او همکاري یې نه ورنه سپمولە، د ده په سر به یې دوستي او دښمني کوله، د دې خبرې څه تفصیلات به په راتلونکو پاڼو کې راشي.

---

[1]. ابن هشام ۱۲۸/۱.

[2]. تلقیح فهوم الاثر ص ۷. ابن هشام ۱۲۹/۱.

د محمد(ﷺ) له رويه باران غوښتل کيږي

ابن عساکر له جلهمه بن عرفطه نه روايت کوي چې وايي:زه مکې ته راغلم، دغه وخت خلک له وچ کالۍ او قحطۍ سره لاس اوګريوان وو، قريشو ابوطالب ته وويل : وادي او سيمه وچکالۍ وهلې، خلک قحطۍ ځپلي، راځه د باران دعا وکړه، نو ابوطالب له يوه داسې هلک سره راووت چې مخ يې لکه د لمر په شان ځليده، تا به ويل همدا اوس له لمر نه توري وريځې ايسته شوې او رونړ، روښانه لمر ورنه راښکاره شويدی. د هلک شا و خوا نور هلکان هم وو، ابوطالب راونيو او مبارکه شا يې د کعبې شريفې له ديوال سره ولګوله، هلک يې ګوته نيولې وه، د باران دعا يې وکړه ، پدې وخت کې په آسمان کې د وريځې يوه ټوټه هم نه ليدل کيده، خو ورو، ورو له يوې او بلې خوا نه وريځې را پيدا شوې، سره ټينګې شوې او داسې باران وشو چې سيمه اوبو په سر واخيسته، ټول وطن خړوب او شاداب شو. ابوطالب همدې پيښې ته په اشارې سره د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) داسې ستاينه کوي:

وابيض يستسقى الغمام بوجهه ثمال اليتامى عصمة للأرامل[1]

[هغه سپين او ښکلی دی، د ده له رويه د باران سوال کيږي، هغه د يتيمانو د پناه ځای او دکونډو محافظ او ساتونکی دی.]

بحيرا راهب

کله چې رسول اکرم (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) دولس کلن، او په بل روايت د دولسو کلو دوو ميا شتو او لسو ورځو شو[2]، نو ابوطالب له ځان سره شام ته د تجارت لپاره يوړ. شام ته لاړل تر څو بصری نومې سيمې ته چې په شام کې د حوران د منطقې يو ښار و ورسيدل. دا ښار هغه وخت په عربي جزيره کې د رومي مستعمرو مرکز و، دلته يو راهب چې په بحيرا سره مشهور و هم اوسيده، اصلي نوم يې جرجيس و. کله چې کاروان ور ورسيد راهب ورته راووت ټول يې ميلمانه کړل مخکې لدينه به هغه د چا مخې ته نه راووت.

---

[1] . مختصر سيرة الرسول (ص) للشيخ عبد الله النجدي ص ۱۵_۱۲.

۲ . دا د ابن جوزي خبره ده تلقيح فهوم الاثر ص ۷.

رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) يې د نبنو او صفاتو له مخې وپيژانده، او پداسې حال کې چې د ده مبارک لاس يې نيولی و ويل يې : دا د ټول عالم سيد او پيشوا دی، الله تعالی به دا د عالميانو لپاره رحمت راليږي. ابوطالب پوښتنه ورنه وکړه، ته له کومه پدې موضوع خبر شوې؟ راهب ورته وويل:

کله چې تاسې لدې غونډې نه راښکاره شوئ، نو ټولې ونې اوتيږې په سجده شوې،.ونې اوکانې په انسانانو کې يوازي نبي ته سجده کوي. او همدا راز زه يې د نبوت د هغه مهر له مخې هم پيژنم کوم چې د ده د اوږې په لاندينې کريپدونکي باندې د منې په شکل اينبودل شويدی. مونږ پخپلو کتابونو کې هم د ده په هکله معلومات ليدلي او د ده صفات مو لوستلي دي. بيا يې له ابوطالب نه وغوښتل چې بيرته يې مکې ته بوزي، او شام ته لاړ نشي، ځکه کيدای شي هلته يهود څه زيان ور ورسوي، نو ابوطالب هم هغه له خپلو ځينو کسانو سره بيرته مکې ته واستاوه[1].

د فجار جګړه

د رسول اکرم (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) په پنځلس کلنۍ کې د فجار جګړه ونښته. پدې جګړه کې قريش اوکنانه يوې خواته او قيس عيلان بلې خواته وو. د قريشو اوکنانه مشري د حرب بن اميه په غاړه وه ځکه هغه له ټولو نه مشر او د زيات شرف خاوند و.

د ورځې په لومړي سر کې قيس په کنانه باندې برلاسې وه، خو د ورځې په نيمايې برخه کې دجنګ حالت بدل شو او بری د کنانه په برخه شو.

دې جګړې ته ځکه حرب الفجار وايي چې پدې سره د حرم شريف او د حرام د مياشتو حرمت تر پښو لاندې شوی و. رسول اکرم (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) هم پدې جګړه کې برخه درلوده، او خپلو ترونو ته به يې غشي برابرول[2].

حلف الفضول

---

[1] . مختصر سيرة الرسول (ص) ص ۱۲. ابن هشام ۱۸۰/۱تر ۱۸۳. په ترمذي او ځينو نورو کتابونو کې راغلي چې ابو طالب له خپل وراره محمد (ص) سره بلال (رض) بيرته مکې ته وليږه (تحفة الاحوذي)خو دا څرګنده غلطي ده ځکه کيدای شي بلال به هغه بالکل وجود نه درلود او که چيرته موجود هم و، نو نه له ابوبکر (رض) سره و او نه له ابو طالب سره، زاد المعاد ۱۷/۱.

۲ . ابن هشام ۱۸۴/۱_۱۸۵_۱۸۲_۱۸۷. قلب جزيرة العرب ص ۲۲.محاضرات تاريخ الامم الاسلامية ۲۳/۱.

له دې جګړې نه وروسته د ذي القعدې په میاشت کې چې د حرم له میاشتو څخه ده حلف الفضول ((د فضول ټرون)) ترسره شو. ددې کار اهتمام د قریشو ځینو کورنیو لکه بني هاشم، بنوالمطلب، اسد بن عبدالعزی، زهره بن کلاب او تیم بن مره کړی و.

ټول د عبدالله بن جدعان التیمي په کور کې چې مشر او د شرف خاوند و، سره راغوند شول او داسې عهد او ټرون یې وکړ چې : په مکه کې به له هر مظلوم سره ولاړ وي د هر مظلوم مرسته به کوي هغه د دې ځای اوسیدونکی وي اوکه دبل ځای، او تر هغه به د مظلوم خوا نه پریږدي ترڅو یې له ظالم نه ورته خپل حق نه وي اخیستي.

رسول اکرم (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) هم پدې ټرون کې حضور درلود، اوکله چې په رسالت مشرف شو نو فرمائل یې: ((**لقد شهدت في دار عبدالله بن جدعان حلفا ما أحب أن لي به حمر النعم، ولو ادعى به في الإسلام لأجبت**[1])).

[زه د عبدالله بن جدعان په کورکې په یوه داسې ټرون کې حاضر وم چې د هغه په بدل کې سره اوښان هم نه خوښوم، او که چېرته اوس د اسلام په دورکې هم ورته بلل شم نو لبیک به ورته ووایم.]

دغه ټرون او د تعصب په اساس جاهلي حمیت (غیرت) یو له بل سره تناقض او منافات لري. ددې ټرون د سبب او علت په هکله ویل کیږي چې د زبید قبیلې یوه سړي مکې ته څه سامان راوړی و، چې عاص بن وائل السهمي په بیه ورنه واخیست، خو بیا یې د هغه حق ادا نکړ، نوموړي سړي پدې هکله له ملګرو قبیلو لکه عبدالدار، مخزوم، جمح، سهم او عدي نه مرسته وغوښته، خو هیڅوا هم ورته توجه ونکړه او خبره یې وانه وریده، نو هغه د ابي قبیس غره سرته وخوت او په لوړ آواز سره یې داسې اشعار وویل چې خپل مظلومیت ته یې پکې اشاره کوله.

زبیر بن عبدالمطلب دې خواته متوجه شو، او ویې ویل دا سړی ولې داسې بې یاره او مددګار دی؟ یوې خوا بلې خواته لاړ اوپه پای کې مخکې یادې شوې قبیلې سره راټولې شوې، دا ټرون یې لاسلیک کړ، بیا عاص بن وائل ته ورغلل اود زبیدي حق یې ورنه واخیست [2].

د کړاوونو ژوند

[1]. ابن هشام ۱۱۳/۱_۱۳۵. مختصر سیرة الرسول (ص) ۳۰_۳۱.

۲. مختصر سیرة الرسول (ص) ص ۳۰_۳۱.

رسول اکرم (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) د ځوانۍ په لومړیو کې څه خاص کار او عمل نه درلود، خو متواتر روایتونه وایي چې میږی به یې څرولې[1]. د بني سعد میږی یې څرولې، او د څو قیراطو په بدل کې یې د مکې د خلکو رمه هم پوولې ده[2]. (یو قیراط (۰،۲۱۲۵ ګرامه سپین زر کیږي او پدې حساب یو مثقال له شل قیراطه سره برابر دی). خوکله چې پنځه ویشت کلن شو، نو د خدیجې (رضي الله عنها) مال یې د تجارت لپاره شام ته یووړ. ابن اسحاق وایي: خدیجه بنت خویلد (رضي الله عنها) د مال، شرف او عزت خاونده میرمن وه، خپل مال به یې د تجارت لپاره خلکو ته ورکاوه، او د مضاربت د اصولو په اساس به یې هغوی ته یوه برخه ټاکله، هغه وخت زیاترو قریشو د تجارت کار و بار کاوه، او کله چې خدیجه (رضي الله عنها) د رسول اکرم (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) د ریښتینولۍ،امانتداری، سپیڅلتیا، کرم او ښو اخلاقو نه خبره شوه، نو احوال یې ورولیږه چې د دې مال د تجارت لپاره شام ته یوسي او ده ته به له نورو خلکو نه زیاته برخه وټاکي، او خپل غلام میسره به هم ورسره واستوي. رسول اکرم (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) د خدیجی (رضي الله عنها) پیشنهاد ومانه، او له میسره سره یوځای د تجارت په خاطر شام ته وخوځید[3].

له خدیجې (رضي الله عنها) سره واده

کله چې رسول اکرم (صلی الله علیه وسلم) له شام نه راستون شو، او خدیجې (رضي الله عنها) ولیدل چې په مال کې یې د پخوا په نسبت ډیر زیات امانت او دیانتداري شوې او دومره برکت دی پکې چې مخکې یې هیڅکله هم دومره برکت نه و لیدلی. همدا راز میسره هم د رسول اکرم (صلی الله علیه وسلم) د ښو او اوچتو اخلاقو، قوي او پاخه فکر، ریښتني منطق او امانتداری خبرې د خدیجې (رضي الله عنها) غوږونو ته ورسولې، نو همدا وه چې هغې خپل هدف وموند. خدیجه داسې ښځه وه چې د عربو رئیسانو او مشرانو ور سره د واده هیلې درلودې، وړاندیزونه به یې کول، خو دې به نه منل، مګر کله چې د محمد (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) لدې اوچت شخصیت نه خبره شوه دومره ورنه متاثره شوه چې پخپله یې ورسره د واده اراده وکړه، د زړه دا

---

[1]. ابن هشام ۱۲۲/۱.

۲. فقه السیرة لمحمد الغزالي. صحیح البخاري، الاجارات، باب رعي الغنم علی قراریط ۳۰۱/۱.

۳. ابن هشام ۱۸۷/۱_۱۸۸.

خبره یې خپلې ملګرې نفیسه بنت منیه ته وکړه، هغه د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) حضور ته ورغله اوله خدیجې (رضي الله عنه) سره یې د واده خبره ورسره مطرح کړه. رسول اکرم (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) هم ومنله، له ترونو سره یې خبره وکړه، هغوی د خدیجې (رضي الله عنها) تره ته ورغلل اوپدې ترتیب سره یې د واده عقد او ټرون تر سره شو او ورپسې دواړو نکاح وکړه. د واده په مراسمو کې د بني هاشم خلک او د مضر قبیلې مشران حاضر وو. دا مبارک واده له شام نه د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) د راستنیدو له ورځې نه دوې میاشتې وروسته ترسره شو. رسول اکرم (صلی الله علیه وسلم) خدیجې (رضي الله عنها) ته په مهر کې شل اوښان ورکړل، خدیجه (رضي الله عنها) هغه وخت ځلوینښت کلنه وه او د خپل وخت ترټولو ښځو نه د شرف، عزت، مال او پوهې له مخې وړاندې او اوچته وه. دا د رسول اکرم (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) لومړنۍ بي بي وه او تر څو چې هغه نه وه وفات شوې رسول اکرم (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) بل واده ونکړ[1]. له ابراهیم پرته نور ټول اولادونه یې له خدیجې (رضي الله عنها) نه وو، لومړنی او مشر زوی یې قاسم نومیده او دده مبارک (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) کنیه نوم هم (ابوالقاسم) و، ورپسې زینب بیا رقیه، بیا ام کلثوم، بیا فاطمه او بیا عبدالله پیداشوي، د عبدالله لقب طیب او طاهر و. زامن یې ټول په وړوکوالي کې وفات شویدي، خو لونې یې اسلام راوړی او هجرت یې کړی دی، او له فاطمې (رضي الله عنهم اجمعین) پرته نورې دری واړه د خپل پلار (صلی الله علیه وسلم) په ژوند کې وفات شویدي، فاطمه (رضي الله عنه) د رسول اکرم (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) له رحلت نه شپږ میاشتې وروسته وفات شویده (رضي الله عنهم اجمعین)[2].

دکعبې ودانول او د حجر اسود د شخړې حل

رسول اکرم (صلی الله علیه وسلم) پنځه دیرش کلن و چې قریشو د کعبې شریفې بیا ودانول پیل کړل، او دا هم ځکه چې کعبې شریفې هغه وخت له انساني قد نه د لږ شانته لوړې ځلور دیوالې شکل درلود. د حضرت اسماعیل (علیه السلام) په زمانه

---

[1] . ابن هشام ۱۸۹/۱_۱۹۰. فقه السیرة لمحمد الغزالي ص ۵۹. تلقیح فهوم الاثر ص ۷.

۲ . ابن هشام ۱۹۰/۱_۱۹۱. فقه السیرة ص ۲۰. فتح الباري ۵۰۷/۷. که څه هم دا مصادر یو له بل سره ددې موضوع په هکله څه کم شانته اختلاف لري، خو مونږ ارجح قول را نقل کړیدی.

کې د کعبې اوچتوالی نه (۹) ګزه و، خو چت يې نه درلود، او له همدې نه په استفادې سره د کعبې شريفې په منځ کې ايښودل شوې خزانه غلو ووهله، د دې ترڅنګ ډيره زمانه وروسته د قريشو د کورنۍ يو سړی د ديوالونه يې چاودېدلي وو. او په همدې کال يعنې له بعثت نه پنځه کاله مخکې يو ډير لوی سيلاب راغی چې مخه يې د کعبې شريفې په خوا وه، کعبه يې ډيره کمزورې کړه او هر وخت ددې احتمال موجود و چې پر ځمکه راپريوزي، نو قريش مجبورشول ددې مبارکې خونې د مقام او منزلت د بقا پخاطر هغه بيا ودانه کړي.

ټولو پدې فيصله وکړه چې د کعبې شريفې په بيا ودانولو کې به يوازې حلالې پيسې لګوي، پدې کې به د رنډۍ اجرت (مهر)، د سود مال او په ظلم اخيستل شوې پيسې بالکل نه استعمالېږي. د بيا ودانولو لپاره ضروري وه چې پخوانی تعمير ونړول شي، خو هيڅا هم دا جرات نه شوای کولی چې کعبه ورانه کړي، ترڅو وليد بن مغيره المخزومي په ړنګولو پيل وکړ، خلکو وکتل چې څه زيان ور ونه رسيد، نو ټولو کار پيل کړ. هرې قبيلې ته خپله، خپله، خپله برخه ورکړه شوه، هرې قبيلې بيلې بيلې تيږې راوړې او کار پيل شو، باقوم نومې يو رومي معمار د کعبې شريفې معماري کوله، خوکله چې خبره د حجر اسود ايښودلو ته ورسيده د دوی ترمنځ اختلاف راولاړ شو چې دا شرف به د چا په برخه کيږي؟ دا جنجال څلور پنځه ورځې روان و، نژدې وه يوه سخته او خونړۍ جګړه ونښلي، خو ابو اميه بن مغيره مخزومي داسې فيصله وکړه هرڅوک چې لومړی د جومات (مسجد حرام) له دروازې نه را داخل شو هماغه به پدې هکله پريکړه کوي، ټولو دا خبره ومنله. د الله تعالی اراده داسې وه چې دا لومړی راتلونکی شخص به رسول (صلی الله علیه وسلم) وي، کله چې را ننووت ټولو وويل: بالکل سيي ده، دا امين دی، قبول مو دی، اوکله چې دوی ته راورسيد، له پيښې يې خبر کړ، نو ده مبارک يو څادر واخيست حجر اسود يې پکې کيښودله او بيايې د قبيلو مشرانو ته وويل چې هر يو د څادر يوه يوه څنډه ونيسي او حجراسود پورته کړي اوکله يې چې خپل ټاکلي ځای ته ورسوله، نو پخپل مبارک لاس يې را اوچته کړه او پخپل ځای يې کيښوده. دا يوه داسې معقوله پريکړه وه چې ټول خلک وروباندې خوښ شول.

پدې وخت کې له قريشو سره پاک مال اوپيسې کمې شوې، نو مجبورشول چې د شمال خوا ته له کعبې نه تقريباً شپږ ګزه اوږده ځمکه پريږدي، او همدې ټوټې ته حجر يا حطيم وايي. دا ځل قريشو د کعبې دروازه له ځمکې نه اوچته جوړه کړه تر څو بې له اجازې څوک وردا خل نه شي، او کله چې کعبه شريفه پنځلس ګزه لوړه شوه نو په شپږو ستنو سره يې چت وروباندې ودراوه. له تکميل نه وروسته د کعبې شريفې خونې مربع

شکل ځان ته ونیو چې لوړوالی یې تقریباً پنځلس متره دی. هغه دیوال چې حجر اسود پکې ده او هغه ته مقابل دیوال یعنی جنوبي او شمالي دیوالونه لس، لس متره اوږدوالی لري، حجر اسود د مطاف (طواف له ځای) نه یو نیم متر اوچته ایښودل شویده، دروازې واله دیوال او هغه ته مقابل دیوال دولس، دولس متره اوږده دي، دروازه له مځکې نه دوه متره اوچته ده. د کعبې شریفې تر دیوالونو چارګرد لاندې د کرسۍ په شکل یوه ضلعه را تاو شوې چې متوسط لوړوالی یې **۲۵** سانتي متره، او متوسط پلنی والی یې ۳۰ سانتي متره دی چې دا د شاذروان په نامه یادیږي، او په حقیقت کې دا هم د کعبې شریفې برخه ده خو قریشو دا هم د باندې پرې ایښې ده[۱].

له نبوت نه مخکې اجمالي سیرت

رسول اکرم (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) د ټولو هغو نیکو او غوره اخلاقو او عاداتو درلودونکی و کوم چې هغه وخت یې ځني شریف خلک په متفرقه توګه درلودونکي وو. هغه جناب د قوي او روښانه فکر، پیاوړي نظر او استعداد لوړ ځلی و د زیات ذکاوت، تیز او رڼا دماغ د سیي او درست هدف او وسیلې ټاکونکی و. د هغه جناب له اوږدې خاموشۍ نه ورته د غور، تفکر، او حق پلټنې ښه فرصت په لاس ورتله، د الله تعالی رسول (صلی الله علیه وسلم) پخپل تیز او پیاوړي ذهن او روښانه فطرت سره د ژوند ټولې پانې، د خلکو او ډلو ټول حال اواحوال لوستلي او څیړلي وو، او په کومو خرافاتو کې چې دا خلک راګیر وو له هغه نه یې ځان پاک او ډیر لیرې ساتلی و، له ټولو بې لاریو نه پاک او په عقل او بصیرت مبني او لوړ ژوند یې تیراوه. خلکو به چې هر د خیر کار کاوه نو هغه جناب به پکې له ټولو نه وړاندې و، او که به د خیر کار نه و نو تنهایي او ګوشه نشیني به یې غوره کوله. رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) کله هم شراب ندي څښلي، د بتانو په نامه حلال شویو مالونو غوښه یې نده خوړلې، او د بتانو په ویاړ جوړو شویو میلو او مجالسو کې یې بالکل برخه نده اخیستې. د ژوند له پیل نه یې لدې باطلو معبودانو او هرډول خرافاتو سره سخته کینه او کرکه وه، تردې چې د لات او عزی په نامه قسم یادول یې هم نه شوای تحمل کولی[۲].

---

[۱]. ابن هشام ۱۹۲/۱_۱۹۷. فقه السیرة ص ۲۲_۲۳. صحیح البخاري، باب فضل مکة و بنیانها ۲۱۵/۱.

۲. له بحیرا سره یې خبرو کې ددې خبري د اثبات دلیل موجود دی، ابن هشام ۱۲۸/۱.

پدې کې هيڅ شک او شبهه نشته چې هغه (صلى الله عليه وسلم) د تقدير په حفاظت او ساتنه کې و، ځکه هرکله به يې چې د دينوي لذتونو د حصول پخاطر نفساني جذبات راوپاريدل، او يا به يې زړه دېته تيار شو چې د کوم ناپسنديده او ناخوښ عادت او يا رواج تقليد او پيروي وکړي، نو سمدلاسه به الهي رحمت او عنايت مداخله کوله او دې ډول کارته به يې نه پريښود.د ابن اثير په روايت سره رسول اکرم (صلى الله عليه وسلم) فرمايي: ((**ما هممت بشئ مما كان أهل الجاهلية يعملون غير مرتين، كل ذلك يحول الله بيني و بينه ثم ما هممت به حتى أكرمني برسالته قلت ليلة للغلام الذي يرعى معي الغنم بأعلي مكة: لو أبصرت لي غنمي حتى أدخل مكة أو أسمر بها كما يسمر الشباب! فقال:افعل فخرجت حتى إذا كنت عند أول دار بمكة سمعت عزفا، فقلت: ما هذا ؟فقالوا: عرس فلان بفلانة، فجلست أسمع، فضرب الله على أذني فنمت، فما أيقظني إلا حرالشمس. فعدت إلى صاحبي فسألني، فأخبرته، ثم قلت ليلة أخرى مثل ذلك، و دخلت بمكة فأصابني مثل أول ليلة .. ثم ما هممت بسوء**[1])).

[له دوه مرتبو پرته ما د هغو کارونو چې د جاهلي دورې خلکو به کول تصور او تش خيال هم ندی کړی، خو دا دواړه مرتبې هم الله تعالی زما او هغه کار ترمنيځ حايل او خنډ پيداکړی يعنی هغه مې سرته ندي رسولي او پدې پسې مې بيا هيڅکله هم داسې اراده او تصور ندی‌کړی ترڅو الله تعالی په رسالت مشرف کړم. يوه شپه مې خپل ملګري ته چې د مکې په پاسنۍ برخه کې يې ميړې راسره پوولې، وويل: که ته مې ميړو ته ګوري، نو زه به مکې ته لاړ شم او هلته به لکه د نورو ځوانانو په شان د شپې د کيسو ويلو په مجلس کې ګډون وکړم. ملګري راته وويل : سيي ده لاړشه. زه وخوځيدم د مکې لومړني کورته چې ورسيدم د باجې (موسيقۍ) آواز مې ترغوږو شو، پوښتنه مې وکړه څه خبره ده؟ دوی راته وويل: چې د فلاني او فلانۍ واده دی. زه کيناستم او دا آواز اورم، يو ځل مې الله تعالی غوږونه بندکړل، خوب راباندې راغی اوهمدلته ويده شوم ترڅو د لمر ګرمۍ راويښ کړم او بيرته خپل ملګري ته ورغلم او د هغه د پوښتنې په ځواب کې مې ټوله کيسه ورته بيان کړه. يوځل مې بيا يوه بله شپه خپل ملګري ته همداسې وويل او مکې ته لاړم، نو دا ځل هم هماغه پيښه راسره

[1] . حاکم او ذهبي دا حديث صحيح بولي، خو ابن کثير په البداية والنهاية ۲۸۷/۲ کې همدا حديث ضعيف بللی دی.

وشوه، او لدينه وروسته مې کله هم د بد کار اراده نده کړې.
امام بخاري (رحمه الله) له جابر بن عبدالله (رضي الله عنه) نه روايت کوي وايي: کله چې کعبه شريفه جوړيدله، رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) او عباس (رضي الله عنه) لاړل تيږې يې راوړې، حضرت عباس(رضي الله عنه) رسول اکرم (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) ته وويل: خپل لنګ په اوږه کيږده دا دې اوږې له تيږو نه ساتي (نه به خوږيږي) خو پدې سره رسول اکرم (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) په ځمکه راپريوت، سترګې يې د آسمان په لور وختلې، او کله چې را په حال کې شو چېغې يې وهلې،(ازاري، ازاري) زما لنګ، زما لنګ، چې بيا يې د هغه جناب لنګ وروتاړه. په يوه بل روايت کې راځي چې لدېنه وروسته هيڅکله دده مبارک عورت ندی ليدلی شوی[1].
رسول اکرم (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) د غوره اخلاقو، پاک سيرت، اوچت کردار او سپيڅلي عمل خاوند و، له ټولو نه زيات غيرتي، له هر چا نه زيات د ښو او خوږو اخلاقو او نيکې معاملې درلودونکی و. نيک او عزيز ګاونډی، په حلم اوريښتينولۍ، نرمۍ او عفت کې له هر چا نه مخکې، د خير خاوند، نيک عمله، کريم، امين، با وفا او په عهد ټينګ ولاړ انسان و. هر څوک يې په عظمت او عزت قايل وو، هغه د ټولو نيکيو مجموعه او نمونه وه، خپل قوم ورته د امين لقب ورکړی و، او لکه چې حضرت خديجه (رضي الله عنها) دده مبارک په هکله فرمايي:
((يحمل الكل، ويكسب المعدوم، ويقرئ الضيف، ويعين علي نوائب الحق[2])). [هغه به د بې وزلانو مرسته کوله، د هغوی بار به يې اوچتاوه، د فقيرانو او تش لاسيو لپاره به يې بندوبست کاوه، د ميلمه قدر او درناوی به يې کاوه، او په پېښو، او حوادثو کې به يې د حق مرسته او پلوي کوله.]

[1] . صحيح البخاري باب بنيان الكعبة ۱/ ۵۴۰.
۲ . صحيح البخاري ۳/۱.

د نبوت او رسالت په سيورو کې

د حراء په غار کې

کله چې رسول اکرم (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) څلويښت کلنۍ ته نژدې شو، نو تفکر او تاملاتو يې دده او نور قوم ترمنځ فکري او ذهني واټن ډير سره ليرې کړئ و. همدا وه چې نوريې تنهايې ډيره خوښيدله، له ځان سره به يې څه سويق (يو ډول خواړه دي چې د غنمو او وربشو له ډيرو ميدو اوړو نه تيارېږي) او اوبه واخيستې او په جبل نورکې به يې د حراء غار ته تشريف يووړ. دغه ځای له مکې مکرمې نه تقريباً دوه ميله فاصله لري، دا يو برابر شانته غار دی چې اوږدوالی يې څلور ګزه اوعرض يې پاوکم دوه ګزه دی، دا غار په ځمکه کې د ننه ندی بلکه د دوو لويو تيږو له يوځای کيدو نه جوړ شوی يوکت دی .

رسول اکرم (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) به چې کله دې غار ته تشريف وړه، نو حضرت خديجه (رضي الله عنها) به هم ورسره تلله او ده ته نژدې چېرې به اوسيدله. محمد (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) به د رمضان مياشت په غار کې تيروله، څوک فقيران به که ورباندې پيښيدل نو څه خوراک به يې ورکاوه، ټول وخت به په عبادت بوخت و په کائناتو او د هغه قدرت په هکله به يې غور فکر کاوه چې دا ټول شيان يې پيداکړيدي. ده د خپل قوم عقيده او مسلک نه شوای منلی، د هغوی ټول باطل افکار او تصورات يې ردول، خو خپله يې هم له ځان سره کوم واضح او څرګند منهج او مسلک نه درلود، او نه يې داسې لاره پيژندله چې زړه يې ورباندې مطمئن او ډاډه شوی وی[1]. لدې تنهايۍ او ګوښه والي سره د رسول اکرم (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) مينه او محبت په حقيقت کې يو الهي تدبير و، تر څو هغه (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) د رسالت د درانده پيټي اوچتولو لپاره تيار او برابر کړي. ښکاره خبره ده هغه روح او شخصيت چې د انساني ژوند د بدلون او د انساني ژوند په واقعيتونو او حقايقو باندې د اغيزې لپاره انتخاب شوی وي، د داسې روح او شخصيت لپاره دا ضروري ده چې څه موده ګوښی او تنها وي، د ځمکې له کارونو، د

[1] . رحمة للعالمين ۴۷/۱. ابن هشام ۳۵/۱_۳۲. في ظلال القرآن ۱۲۲/۲۹.

ژوند له شور او هسکو، ټيټو، د خلکو له وړو وړو امورو او مسائلو نه ليرې چېرته ګوښه کې وي.
همدا و د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) لپاره د الله تعالی تدبير، غوښتل يې هغه د لوی امانت د اوچتولو، په ځمکه او نړۍ کې د يوه ستر انقلاب، او د تاريخ د مسير د بدلون لپاره آماده کړي، نو له بعثت نه دری کاله مخکې يې د تنهايۍ او ګوښوالي دا سلسله ورته پيل او برابره کړه، پوره يوه مياشت به رسول اکرم (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) په کائناتو کې فکر کاوه، او د کائناتو تر شا د هغه غيبي قوت او قدرت په هکله به يې فکر او تدبر کاوه چې دا ټول شيان يې پيدا کړيدي، تر څو د پوره تيارۍ سره د الله تعالی په اذن او ارادې سره لدې غيبي قدرت سره د تعامل نيټه او فرصت راورسيږي.[1]

جبريل (عليه السلام) وحي راوړي

کله چې د رسول اکرم (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) د ژوند څلويښت کاله پوره شول او همدا د ذهني او عقلي کمال عمر دی، ويل کيږي چې رسولان په همدې عمر کې په نبوت مشرف شوي، نو د ژوند له افق نه يې د نبوت آثار او نښانې رابنکاره او څرګندې شوې. دغه آثار او نښې خوبونه وو، رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) به چې هر خوب ليده هغه به لکه د سپيده داغ په شان را بنکاره او څرګنديده (خوبونه يې حقيقت وو). دې حالت شپږ مياشتې دوام وموند او څرنګه چې د نبوت ټوله دوره درويشت کاله وه نو دا موده د نبوت د دورې شپږ څلويښتمه برخه کيږي. د حراء په غار کې د رسول اکرم (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) د عزلت او ګوښه والي په دريم کال د رمضان په مياشت کې د ځمکې پر خلکو د الهي رحمت باران وشو، الله تعالی محمد (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) په نبوت مشرف کړ او د جبريل (عليه السلام) په واسطه يې د قرآنکريم څو آيتونه ورباندې نازل کړل.[2]
که پدې هکله موجود قرائن او دلايل لږ په غور او دقت سره تر نظر تير کړو نو ويلی شو

---

(1). في ظلال القران ۲۹/۱۲۲-۱۲۷

(2). ابن حجر وايي: بيهقي ويلي چې د خوب ليدو مرحله شپږ مياشتې وه، او پدې سره ويلی شو چې د خوب له لارې د نبوت پيل په خګلويشګت کلنی او د ربيع الاول په مياشت کی شوی دی، او په ويشګه د وحي راتلل د رمضان په مياشت کې شروع شويدي. فتح الباری ۱/۲۷.

چې دا د رمضان د مياشتې يوويشتمه او د دوشنبې شپه وه چې د (۶۱۰م) کال د اګست له لسمې نيټې سره سمون خوري. دغه وخت د رسول اکرم (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) عمر په قمري حساب پوره څلويښت کاله، شپږ مياشتې او دوولس ورځې او په شمسي حساب نهه ديرش کاله، درې مياشتې او دوولس ورځې و.[1]

---

[1]. د بعثت او د وحي د نزول د لومړنۍ مياشتيګ د تحديد په هکله مورخين پخپل مينځ کيګ اختلاف لري، زياتره دا نظر لري چيګ دا د ربيع الاول مياشت وه، نور وايي د رمضان مياشت وه، او حګينو نورو ويلي چيګ دا د رجب مياشت وه (مختصر سيرة الرسول (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) للشيخ النجدي ص ۷۵) خو زمونږ په رايه دوهم نظر (د رمضان مياشت) د تاييد وړ دی. حګکه الله تعالى فرمايي: ((شَهْرُ رَمَضَانَ الَّذِي أُنزِلَ فِيهِ الْقُرْآنُ)) (البقرة: ۱۸۵) ترجمه: مياشت د رمضان هغه مياشت ده چيګ نازل کړی شوی پديګ کيګ قرآن. او بل حګای فرمايي ((إِنَّا أَنزَلْنَاهُ فِي لَيْلَةِ الْقَدْرِ)). (القدر: ۱) بيشکه مونږ نازل کړيدی دغه (قرآن) په شپه د قدر کيګ. د قدر شپه خو د رمضان په مياشت کيګ ده، او د همديګ قدر شپيګ ته الله تعالى اشاره کوي فرمايي: ((إِنَّا أَنزَلْنَاهُ فِي لَيْلَةٍ مُبَارَكَةٍ إِنَّا كُنَّا مُنذِرِينَ)) (الدخان:۳)

بله دا چيګ رسول (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) به د رمضان مياشت د حراء په غار کيګ تيروله، او دا خو په أاکګه ده چيګ جبرئيل (عليه السلام) د لومړي حګل لپاره د حراء په غار کيګ ورته راغلی و.

هغه کسان چيګ وايي د وحي نزول د رمضان له مياشتيګ پيل شوی دوی بيا پديګ کيګ سره اختلاف لري چې دا کومه ورځ وه، ويل کيږي چيګ دا د رمضان اوومه، او حګنيګ نور وايي د رمضان اوولسمه او په بل روايت سره اتلسمه نيټګه وه [مختصر سيرة الرسول (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) ص ۷۵. رحمة للعالمين ۱/۴۹]. خو خضري پخپل کتاب کيګ پديګ تاکيد کوی چيګ دا د رمضان اوولسمه نيټګه وه (محاضرات تاريخ الامم الاسلاميه للخضری ۱/۲۹).

خو مونږ دا د رمضان يوويشتمه نيټګه بولو که خګه هم هيڅا دا ندي ويلي چيګ دا يوويشتمه نيټګه وه، خو خګرنګکه چيګ تګول او يا اکثر سيرت پوهان پديګ اتفاق لري چيګ رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) د دوشنبيګ په ورځ په نبوت مبعوث شويدی، ددیګ نظر تاييد هغه حديث هم کوی چيګ د حديث امامانو روايت کړيدی. له ابو قتاده (رضي الله عنه) نه روايت دی چيګ د دوشنبي د ورځيګ د روژيګ په هکله له رسول (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) نه پوښتنه وشوه، ده ورته وفرمايل: په همديګ ورځ زه پيدا شوی يم او په همديګ ورځيګ وحي راته راغليګ ده، او بل عبارت داسيګ دی: دا هغه ورځ ده چيګ زه پکيګ پيدا شوی يم، او دا هغه ورځ ده چې زه پکيګ په نبوت مشرف شوی يم او يا وحي راباندیګ را نازله شويده. (صحيح مسلم ۱: ۳۲۸. احمد ۵/۲۹۷ – ۲۹۹

په نوموړي کال کيګ د رمضان د مياشتيګ اوومه، خګوارلسمه، يوويشتمه او آته ويشتمه نيټګه د دوشنبيګ له ورځيګ سره سمون لري او صحيح روايتونه دا شګيي چيګ د قدر شپه د رمضان د دريميګ لسيزيګ په طاق شپو کيګ ده، او پديګ شپو کيګ له يويګ نيټګيګ نه بليګ نيګتګيګ ته انتقال مومي. او کله چيګ د الله تعالى دا قول ((إِنَّا أَنزَلْنَاهُ فِي لَيْلَةِ الْقَدْرِ)) او د ابو قتاده دا روايت چيګ وايي چيګ د رسول الله (صلى الله عليه وسلم) بعثت د دوشنبيګ په ورځ و، او همدا راز د علمي، تجربوي جنترة له مخيګ د نوموړي کال د رمضان د مياشتيګ د دوشنبيګ ورځيګ تر نظر تيريګ کړو او بيا دا تګول سره مقايسه کړو نو دا به راته

اوس راځئ حضرت عايشې (رضي الله عنها) ته غوږ شو چې د دې عظيمې پيښې کيسه راته واوروي، هغه پيښه چې د الهي نور يوه داسې شعله وه چې د کفر او جاهليت تيارې يې له مينځه يوړې د ژوند تګلاره يې او مسير يې بدل کړ، د تاريخ مخه يې بلې خوا ته وګرځوله، حضرت عايشې (رضي الله عنها) فرمايلي:

((أول ما بدئ به رسول (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) من الوحي الرويا في النوم، فكان لايرى رويا إلا جاءت مثل فلق الصبح، ثم حبب إليه الخلاء وكان يخلو بغار حراء فيتحنث فيه – و هوالتعبد– الليالي ذوات العدد قبل أن يترع إلى أهله، ويتزود لذلك، ثم يرجع إلى خد يجة فيتزود لمثلها حتى جاءه الحق و هو في غار حراء، فجاءه الملك فقال: اقرأ، فقلت: ما أنا بقارئ، قال: فأخذني فغطني حتى بلغ مني الجهد، ثم أرسلني فقال: اقرأ، فقلت: ما أنا بقارئ فأخذني فغطني الثالثة، ثم أرسلني فقال:((اقْرَأْ بِاسْمِ رَبِّكَ الَّذِي خَلَقَ (١) خَلَقَ الإِنسَانَ مِنْ عَلَقٍ (٢) اقْرَأْ وَرَبُّكَ الأَكْرَمُ (٣) الَّذِي عَلَّمَ بِالْقَلَمِ (٤) عَلَّمَ الإِنسَانَ مَا لَمْ يَعْلَمْ (٥))[1]

فرجع بها رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) يرجف فواده، فدخل علي خديجة بنت خويلد فقال: زملوني، زملوني فزملوه حتى ذهب عنه الروع، فقال لخديجة: مالي، و أخبرها الخبر، لقد خشيت على نفسي. فقالت خديجة: كلا، والله ما يخزيك الله أبدا، إنك لتصل الرحم، و تحمل الكل، و تكسب المعدوم و تقرئ الضيف، و تعين على نوائب الحق، فانطلقت به خديجة حتى أتت به ورقة بن نوفل بن اسد بن عبدالعزى بن عم خديجة.

وكان امرءا تنصر في الجاهلية، وكان يكتب الكتاب العبراني، عمي، فقالت له خديجة: يا ابن عم! اسمع من ابن اخيك، فقال له ورقة: يا ابن اخي ماذا ترى؟ فاخبره رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) خبر ما رأى، فقال له

په أاکګه شي چيګ د رسول اکرم (صلى الله عليه وسلم) بعثت د رمضان د يوويشتميګ نيټګيګ په شپه پيل شويدی.

[1]. دا آيتونه د الله تعالی تردې قول پورې (علم الانسان مالم يعلم) پورې را نازل شوي وو.

ورقة: هذا الناموس الذي نزله الله على موسى يا ليتني فيها جذعا، ليتني أكون حيا إذ يخرجك قومك، فقال رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم): أو مخرجي هم؟ قال: نعم، لم يأت رجل قط بمثل ما جئت به إلا عودي، و إن يدركني يومك انصرك نصرا موزرا، ثم لم ينشب ورقة أن توفي و فتر الوحي)).[1]

[يعني: پر رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) باندې د وحي پيل له نيکو او ريښتينو خوبونو نه شويدی، رسول اکرم (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) به چې هر خوب ليده لکه د سپيده داغ په شان به ښکاره او څرګنديده،(تحقق به يې موند) ورپسې رسول (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) ته تنهايي او ګوښه والی محبوب او ګران شو، نو د حراء په غار کې به يوازې او تنها په عبادت بوخت و، څو شپې به يې کورته تشريف نه وړ، ددې څو شپو توښه، خوراک او څښاک به يې له ځان سره وړه (کله به چې خلاص شول) نو بيا به حضرت خديجې (رضي الله عنها) ته راتله او تقريباً د همدومره نورو شپو آذوقه (توښه) به يې له ځان سره وړله، تر څو حق ورته راغی، دغه وخت حضرت رسول اکرم (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) د حراء په غار کې تشريف درلود چې فرښته ورته راغله، او ورته ويې ويل: چې ووايه، رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) وفرمايل: زه لوستونکی نه يم، فرمايي: چې دغه وخت نوموړې فرښتې ونيوم او په داسې زور سره يې په غيږ کې ورټينګ کړم چې بالکل بې سبکه شوم، بيا يې پريښودم، او راته ويې ويل: ووايه، ما ورته وويل: زه لوستونکی نه يم نو بيايې په همداسې زور سره راونيوم چې بالکل بې سبکه شوم، بيايې پريښودم او راته ويې ويل: ووايه، ما بيا ورته وويل: زه لوستونکی نه يم، نو د دريم ځل لپاره يې په همداسې زور سره راټينګ کړم چې بالکل بې سبکه شوم بيا يې پريښودم او دا آيتونه يې راته ولوستل ((**اقْرَأْ بِاسْمِ رَبِّكَ الَّذِي خَلَقَ (١) خَلَقَ الإِنسَانَ مِنْ عَلَقٍ (٢) اقْرَأْ وَرَبُّكَ الأَكْرَمُ (٣) الَّذِي عَلَّمَ بِالْقَلَمِ (٤) عَلَّمَ الإِنسَانَ مَا لَمْ يَعْلَمْ (٥)**)) (ولوله اې محمده! (قرآن) په برکت د نامه د رب خپل، هغه رب چې پيداکړی يې دي ټول مخلوقات، پيدا کړی يې دی انسان له ټوټو د ټرليو شويو وينو څخه، ولوله (اې محمده! قرآن) حال دا چې ستا رب لوی کريم دی (پرټولوکريمانو).

رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) لدې آيتونو سره کورته راستون شو،

---

[1]. صحيح البخاری ۱/ ۲-۳ باب کيف کان بدء الوحي. د الفاظو د لږ اختلاف سره دا روايت د بخاري شريف په کتاب التفسير او تعبير الرويا کې هم روايت شويدی.

زړه يې رپيده، حضرت خديجې (رضي الله عنها) ته ورغی او ورته ويې فرمايل: ما ونغاړئ، ما ونغاړئ، په څادر کې مې پټ کړئ، هغې هم په څادر کې پټ کړ، تر څو ويره او خوف يې له زړه نه ووتل. بيا رسول اکرم (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) ددې پيښې کيسه ورته بيانوله او ويې فرمايل: په ماڅه شوي؟ کيسه يې ورته وکړه او زياته يې کړه، زه پخپل ځان ويريدم. خديجې (رضي الله عنها) ورته وويل: نه داسې نده، قسم په الله چې خدای به تاکله هم رسوا او خوار نکړي، ته د خپلوی اړيکې ټينګې ساتې د صله رحمی خاوند يې، د بې وزلانو بار او پيټی اوچتوې، د نادراه او بې وسه خلکو لاس نيوی کوې، د ميلمنو قدر او عزت کوې، او د حق په مصيبتونو کې مرسته او کومک کوې يا تل د حق پلوي کوې. بيا خديجی (رضي الله عنها) د خپل تره زوی ورقه بن نوفل بن اسد بن عبدالعزی ته ورووست. ورقه د جاهليت په وخت کې عيسايي شوی و په عبراني ژبه يې ليکل کولی شوی، او په همدې ژبه به يې د خپل توان تر اندازې انجيل ليکه، خو دغه وخت ډير زوړ شوی و سترګو يې نه ليدل. حضرت خديجې (رضي الله عنه) ورته وويل: اې د تره زويه! د وراره کيسه دې واوره چې څه وايي. ورقه وويل: وراره! وايه څه دې ليدلي؟ رسول اکرم (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) د خپلو سترګو ليدلی حال ورته بيان کړ. بيا ورقه ورته وويل: دا همغه فرښته ده کومه چې الله تعالی موسی (عليه السلام) ته رالېږلې وه، کاشکې زه پياوړی او توانمند وای، اې کاش زه هغه وخت ژوندی وم کله چې تا خپل قوم شړي. رسول اکرم (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) وفرمايل: آيا دا خلک به ما شړي؟ ورقه وويل: هو، هر وخت چې چا ستا په شان پيام راوړی دی، نو له هغه سره حتما دښمني شويده، که زه ژوندی پاتې شوم نو پوره مرسته به دې وکړم. مګر څه وخت وروسته ورقه وفات شو او وحي هم په موقتي توګه بنده شوه.]

د طبري او ابن هشام له روايت نه دا څرګندېږي چې رسول الله (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) د وحي له ناڅاپي راتلو وروسته د حراء له غار نه وتلی و، خو بيا بيرته ورته را ګرزيدلی او خپل ټاکلی وخت يې هملته پوره کړی و او ورپسې يې مکې ته تشريف وړی و. د طبري روايت له غار نه د رسول اکرم (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) د وتلو سبب هم په ګوته کوي، هغه روايت داسې دی:

رسول اکرم (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) د وحي د راتلو يادونه کوي فرمايي: د الله تعالی په مخلوقاتو کې مې له شاعر او ليونې نه بل شی زيات بد نه ايشيدل (يعنی لدې دواړو سره مې له بل هر شي نه زياته کينه درلوده) ان تر دې چې هغوی ته مې

هسې کتل هم نه شوی تحمل کولی، (کله چې وحي راته راغله) نو له خپل ځان سره مې وویل: چې دا زه (خپل مبارک ځان ته یې اشاره ده) شاعر یا لیونی دی! نه ، زما په هکله به قریش کله هم داسې خبره و نشي کړی، زه د غره سرته خیژم او له هغه ځای نه ځان را خطا کوم، تر څو مړ شم او د تل لپاره په راحت شم! رسول اکرم (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) فرمایي: زه په همدې فکر ووتلم، خو کله چې د غره نیمایې ته ورسیدم له آسمان نه مې آواز واورید چې راته وایي: اې محمده! ته د الله رسول یې (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) زه جبریل (علیه السلام) یم. فرمایي: کله مې چې د آسمان په لوري وکتل که ګورم چې جبرئیل (علیه السلام) د یوه سړي په شکل او څیره کې د آسمان په افق کې پښې ایښې دي او وایي: اې محمده، ته د الله تعالی رسول یې، او زه جبریل یم. فرمایي: ودریدم او ورته کتل مې، او په همدې مشغول شوم او خپله اراده مې عملي نکړه، په ځای ولاړ وم هیڅ وروسته او مخکې نه تلم، د آسمان هرې خوا ته به مې چې وکتل نو هملته به مې جبرئیل (علیه السلام) په همغه شکل لیده، همدلته ځای په ځای ولاړ وم نه مخکې تلم او نه وروسته ترڅو خدیجې (رضي الله عنها) څوک راپسې را واستول، هغوی تر مکې رسیدلي وو اوبیرته خدیجې (رضي الله عنها) ته راستانه شوي وو، او زه هملته ولاړ وم، بیا جبرئیل (علیه السلام) رانه لاړ، او زه هم بیرته خپل اهل ته راستون شوم[1]. خدیجې (رضي الله عنها) ته ورغلم او د هغې له زنګانه سره پداسې حال کې چې تکیه مې ورباندې کړی وه کیناستم، راته ویې ویل : اې ابوالقاسمه: چېرته وې؟ قسم په خدای (جل جلاله) چې ما خلک درپسې ولیږل تر مکې لاړل او بیرته راستانه شول، نو ما د سترګو لیدلی حال ورته بیان کړ، دې راته وویل: د تره زویه! خوشاله اوسه، له ثبات نه کار واخله زما دې په همغه ذات قسم وي چې د خدیجې ځان د هغه په واک کې دی چې زما دا هیله ده چې ته به ددې امت نبي او رسول (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) وي[2]. بیا ورقه بن نوفل ته ورغله او هغه یې له پیښې خبرکړ، نو ورقه ورته وویل: قدوس، قدوس، قسم په هغه ذات چې د ورقه ژوند د هغه په واک کې دی چې ده ته همغه ناموس اکبر (فرښته) راغلې ده کومه به چې موسی (علیه السلام) ته راتله، دا ددې امت نبي دی، ورته ووایه ټینګ او ثابت اوسه. بیا خدیجه (رضي الله عنها) ورته راغله او د ورقه بن نوفل خبرې یې رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) ته وکړې. وروسته کله چې رسول اکرم د حراء په غار کې خپل مقرر وخت پوره کړ او مکې ته یې تشریف یووړ، نو

---

[1] . دا د طبري متن دی ۲۰۷/۲.

۲ . دا د ابن هشام متن دی ۲۳۷/۱_۲۳۸.

له ورقه سره يې وکتل او کله چې ورقه د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) خبرې واوريدې ورته ويې ويل: قسم په هغه ذات چې زما نفس د هغه په واک کې دی ته ددې امت نبي يې او تا ته هماغه ناموس اکبر (فرښته) راغلي دی کوم چې موسی (عليه السلام) ته راغلی و.

د وحي موقتي بنديدل

د وحي ددې موقتي بنديدو په هکله ابن سعد له ابن عباس (رضي الله عنهما) نه يو روايت رانقل کړيدی دا ښيي چې وحي صرف څو ورځې بنده شوې وه[1]. د مسئلې په ټولو اړخونو کې له غور او څيړنې وروسته همدا نظر له نورو نه سيي او قوي بلکه يقيني ښکاری. او دا چې ويل کيږي دغه موده دری او يا دوه نيم کاله وه، د دا ډول نظر په هکله دلته يوازې دومره ويلی شو چې دا له حقيقت نه ليرې او بې اساسه خبره ده. د وحي د بنديدو پدې ورځو کې رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) ډيرغمګين او پريشانه و، ويرې او حيرت اخيستی و. امام بخاري (رحمه الله) په کتاب التعبير کې يو روايت داسې رانقلوي :

((و فترالوحي فترة حتى حزن النبي (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) فيما بلغناحزنا عدا منه مرارا كي يتردى من رووس شواهق الجبال فكلما أوفى بذروة جبل لكي يلقي نفسه منه تبدى له جبريل فقال يا محمد! انك رسول الله حقا، فيسكن لذلك جأشه، و تقر نفسه، فيرجع، فإذا طالت عليه فترة الوحي غدا [2]لمثل ذلك، فإذا أوفى بذورة الجبل تبدى له جبريل فقال له مثل ذلك[3])). [د څه وخت لپاره وحي بنده شوه، رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) دومره خفه او غمګين شو چې څو ځله يې د غره لوړې څوکې ته په منډه، منډه تشريف وړی ترڅو له

---

[1] . ابن هشام ۱۳۸/۱ لنډيز. د بخاري شريف له سياق او بدې هکله د نورو روايتونو له تقابل او څيړنې وروسته ويلی شو چې مکې ته د رسول (ص) ستنيدل او له ورقه سره ملاقات د وحي له نزول وروسته به همغه ورځ تر سره شوی و. او له مکې له بيرته ستنيدو وروسته يې پاتې موده په غار حراء کې پوره کړې وه.

۲ . په عين (ع) سره دی چې له العدو نه اخيستل شوی او تيز تګ ته وايي او په ځينو نسخو کې په غين(غ) هم راغلی دی.

۳ . صحيح البخاري كتاب التعبير باب اول ما بدئ به رسول الله (ص) من الوحي الرويا الصالحة ۱۰۳۴/۲ .

هغه ځای نه ځان راوغورځوي، خو کله به چې د غره څوکې ته ورسيد ترڅو ځان راوغورځوي، نو جبريل (عليه السلام) به ورته را څرګند شو او ورته ويل به يې: اې محمده (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) ته په حقه د الله تعالى رسول (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) يې. پدې سره به د رسول (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) زړه ډاډه شو، پريشاني به يې ورکه شوه او بيرته به ستون شو، خو بيا به چې د وحي بنديدلو موده وربانديې اوږده شوه، نو بيا به په همدې اراده ووت او د غره څوکې ته به چې ورسيد، نو يوځل به بيا حضرت جبريل (عليه السلام) ورته راښکاريده او هماغه خبره به يې ورته تکراروله.]

جبريل (عليه السلام) بيا وحي راوړي

ابن حجر (رحمه الله) وايي چې: دا (د وحي څو ورځې بنديدل) ددې پخاطر وو چې له رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) نه هغه ويره ليرې شي کومه چې د وحي له نزول سره پيداشوې وه او تر څو د وحي بيا راتګ ته يې تنده زياته شي[1]. کله چې د ويرې اوحيرت پردې ځيرې شوې د حقيقت او واقعيت تهداب ټينګ شو، او رسول اکرم (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) په علم اليقين سره پوه شو چې هغه د لوی او متعال خدای (جل جلاله) له پلوه په نبوت مشرف شويدی، او هغه فرښته چې ورته راغلې وه د وحي را وړونکې فرښته ده چې ده ته له آسمان نه وحي راوړي، نو د وحي بيا راتګ ته يې شوق او انتظار د وحي د بيا راتګ په صورت کې د ثبات او ټينګار سبب شو. بالاخره جبريل (عليه السلام) بياورته راغی، امام بخاري (رحمه الله) له جابر بن عبدالله نه روايت کوي وايي: له رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) نه مې اوريدلي چې د وحي د بنديدو په هکله فرمايي :

((**فبينا أنا أمشي سمعت صوتا من السماء، فرفعت بصري قبل السماء، فإذا الملك الذي جاءني بحراء قاعد على كرسى بين السماء والارض، فجئثت منه حتى هويت إلى الأرض فجئت أهلي فقلت زملوني، زملوني، فزملوني، فأنزل الله تعالى:((يايهاالمدثر)) إلى قوله ((فاهجر)) ثم حمي الوحي وتتابع**)) [2].

[يعنې زه روان وم چې له آسمان نه مې يو ناڅاپي آواز واورېد، پورته آسمان ته مې

---

[1]. فتح الباري ۲۷/۱.

۲. صحيح البخاري كتاب التفسير باب والرجز فاهجر ۷۳۳/۲.

وکتل که ګورم چې هماغه فرښته چې د حراء په غارکې راته راغلې وه د آسمان او ځمکې ترمنځ پر چوکۍ ناسته ده، زه ورنه وویریدم او په ځمکه را پریوتم بیا خپل اهل (کور) ته راغلم، ورته ومې ویل : ما ونغاړئ، ما ونغاړئ (په څادر کې مې پټ کړئ) هغوی به څادر کې ونغښتلم، اوبیا الله تعالی (یاایها المدثر) – تر (والرجز فاهجر) پورې راباندې نازل کړ، پدې پسې د وحي سلسله ګرمه شوه او په مسلسله توګه به راتله .

د وحي ډولونه

مخکې لدینه چې د رسالت او نبوت د مبارک ژوند تفصیلاتو ته داخل شو، لازمه وینو چې د وحي ډولونه وپیژنو ځکه وحي د رسالت مصدر او منبع او د دعوت اصل او اساس ده. ابن القیم (رحمه الله) د وحي ډولونه داسې بیانوي:

لومړی: ریښتینی خوب: او له همدې ریښتیني خوب نه رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) ته د وحي پیل شویدی.

دوهم: فرښتې به پداسې حال کې د رسول (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) په زړه کې وحي وراچوله چې هغه (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) به فرښته نه لیدله، لکه رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) چې فرمایلي : ((**إن روح القدس نفث في روعي ّنه لن تموت نفس حتى تستكمل رزقها، فاتقوا الله واجملوا في الطلب، ولا يحملنكم استبطاء الرزق على أن تطلبوه بمعصية الله، فإن ما عندالله لا ينال إلا بطاعته**)).

[یعنې روح القدوس زما په زړه کې دا خبره پوکړه (وا یې چوله) هیڅ یونفس ترهغې نه مری ترڅو یې خپله روزي نه وي پوره کړی، نو له الله تعالی نه وویریږئ په غوره او نیکې طریقې سره طلب او لټه کوئ او د رزق او روزۍ تاخیر او کمی دې تاسې دښته ونه هڅوي چې خپله روزي د الله تعالی په معصیت او نافرمانۍ کې ولټوئ ځکه هغه څه چې له الله (جل جلاله) سره دي هغه له اطاعت او فرمانبرۍ پرته په بل څه نه شي تر لاسه کیدلی.]

دریم : فرښته به د سړي په شکل کې رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) ته راتلله، هغه ته به یې خطاب کاوه، او هرڅه به یې چې ورته وحي کول هغه به رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) ټول یادول، پدې صورت کې به کله کله اصحابو

(رضي الله عنهم) هم دا فرښته لیدله.

څلورم : رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) ته به وحي د ګړونګي د آواز په شان راتلله. د وحي دا صورت تر ټولو سخت اوګران و پدې صورت کې به فرښته د رسول اکرم له مبارک جسد سره یوځای کیده او وحي به یې ورته راوړله او دا دومره ګرانه وه چې د سختې یخنۍ په وخت کې به هم د رسول اکرم (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) له مبارکې ټنډې نه خولې بهیدلی،او که به پدې صورت کې په اوښ سپور و، نو اوښ به یې پر ځمکه ځملاست. یو ځل په همدې صورت کې وحي ورته راغله او دا وخت د محمد(صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) مبارک ورون د زید بن ثابت (رضي الله عنه) په ورانه ایښی و، نو په زید (رضي الله عنه) دومره زور راغی چې خیال یې کاوه ورون یې بوټ مات شو.

پنځم: رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) به فرښته په اصلي شکل او څیره کې لیدله، او په همدې حالت کې به فرښتې د الله تعالی په امر او ارادې سره وحي ورته کوله. رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) ته پدې صورت کې دوه ځله وحي راغلې ده چې الله (جل جلاله) د النجم په سورت کې ورنه یادونه کړیده .

شپږم: هغه ډول وحي چې الله (جل جلاله) پاس په آسمانونو کې د معراج په شپه د لمونځونو د فرضیت او نورو مسائلو په هکله رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) ته کړیده.

اووم: پرته لدې چې فرښته د وحي واسطه وي له رسول اکرم (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) سره د الله تعالی مستقیمې یعنی بلا واسطه خبرې، لکه څرنګه چې الله تعالی له موسی (علیه السلام) سره خبرې کړې. له الله تعالی سره د موسی (علیه السلام) بلا واسطه خبرې د قرآنکریم په نص سره ثابتې دي، او له محمد (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) سره د الله تعالی د مستقیمو خبرو دلیل د معراج او اسراء حدیث شریف دی.

ځینې پوهانو د وحي آتم ډول هم رانبوولی دی چې الله تعالی له خپل رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) سره پداسې حال کې مخامخ خبرې کړې چې هیڅ پرده او حجاب یې تر منځ نه و، خو ددې ډول وحي په هکله له سلفو نه رانیولې ترخلفو پورې اختلاف را روان دی او حقیقت دا دی چې دا آتم ډول ثابت ندی[1].

[1] . زاد المعاد ۱۸/۱. د لومړني او آتم ډول په بیان کې مو لنډیز کړیدی.

د الله تعالی لور ته د بلنې حکم

د قرآنکريم پدې آيتونو کې د اسې امر وشو: ((يَا أَيُّهَا الْمُدَّثِّرُ (١) قُمْ فَأَنذِرْ (٢) وَرَبَّكَ فَكَبِّرْ (٣) وَثِيَابَكَ فَطَهِّرْ (٤) وَالرُّجْزَ فَاهْجُرْ (٥) وَلا تَمْنُنْ تَسْتَكْثِرُ (٦) وَلِرَبِّكَ فَاصْبِرْ (٧).)) (المدثر: ١-٧)

[ترجمه : اې په جامه کې نغښتونکيه (له هيبته د وحي) پورته شه! (له ځايه د خوبه) نو وويروه (خلک له عذابه د الله که ايمان نه راوړي) او د خپل رب لويې بيان کړه او کالي خپل پاک وساته، او ګندګي او بتان ترک کړه، او مه کوه داسې احسان چې بدل يې ډير غواړې او د پاره د رب خپل صبرکوه (او هيله ورته ولره احکامو ته يې منتظر اوسه)]

پدې آيتونو کې د الله تعالی له لوري رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) ته داسې امرونه شويدي چې په ظاهرکې ډير ساده او عادي ښکاري، خو په حقيقت کې د ډيرو اوچتو او لويو اهدافو او د واقعيتونو په دنيا کې د ژورې اغيزې او لوی عمل درلودونکي دي:

١_ له انذار (ويرولو) نه هدف او غوښتنه دا ده چې ټول هغه کسان چې پدې دنيا کې له الهي اوامرو نه سرغړوي او د الله (جل جلاله) د رضا مخالفت کوي بايد له خپل وخيم او خطرناک انجام او عاقبت نه خبر او وويرول شي، ترڅو په زړه کې يې ويره او لړزه را ولاړه شي.

٢_ د رب العالمين د تکبير او په لويۍ سره د هغه د يادولو تقاضا او غوښتنه دا ده چې د ځمکې په مخ بايد بل هيڅا ته هم لويي او کبريا پاتې نه شي، بلکه د داسې کبرياء او لويۍ مانې بايد رانسکوړې کړی شي تر څو د ځمکې په مخ له الله (جل جلاله) پرته بل هيڅوک د لويۍ اوکبريا درلودونکی نه وي.

٣_ د جامو د پاکۍ او له هر ډول چټلۍ نه د ځان ساتلو هدف دا دی چې په ظاهري او باطني صفايۍ او پاکۍ، له هر ډول ګندګۍ او شائبو نه د نفس په تزکيه کې د کمال هغه لوړې پوړۍ ته وخيژي چې انسان ورته يوازې د الله تعالی په رحمت، حفظ، هدايت او نور سره رسيدی شي. هدف دا دی چې هغه د کمال دې درجې ته په رسيدو

سره د انساني ټولنې لپاره داسې قدوه او عظيمه نمونه وي چې سليم زړونه ور پورې نښلي، او له حق نه منحرف او کاږه زړونه يې له هيبت او عظمت نه په لړزه راځي، او بالاخره ټوله دنيا د موافقت او يا مخالفت په صورت کې د هغه په شاوخوا راوڅرخي.

۴ـ دا چې امر ورته کوي چې په نيکۍ او احسان سره د کثرت يا زيات بدل هيله او غوښتنه مه کوه، مطلب يې دا دی چې خپل عمل، کړه او هلې ځلې لويې او غټې ونه شميري، بلکه په مسلسله توګه په يوه عمل پسې د بل په لټه او کوښښ کې وي، زيات مشقت وګالي، عظيمې قربانۍ ورځندې کړي، خو بيا دا ټول هيرکړي او داسې وانګيري چې دا د الله تعالی په ورځندې هيڅ هم ندي يعنی د الله تعالی په ياد او د هغه په ورځندې د ځواب ورکولو له ويرې خپلې ټولې قربانۍ، مشقتونه او تکليفونه له ياده وباسي اوپه هيڅ يې وشميري.

۵ـ په وروستي آيت کې الله تعالی دښته اشاره کوي چې د دعوت او بلنې په لاره کې به هغه (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) د دښمنانو او معاندينو له خوا ډول ډول کړاوونه او تکليفونه ويني، مخالفت به ورسره کيږي، ملنډې به وربانديې وهل کيږي، ان تر دې چې دده او دده (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) د اصحابو (رضي الله عنهم) د قتل او وژلو کوښښونه به کيږي. نو الله تعالی ورته امر کوي چې ددې ټولو مشکلاتو په ورځندې له صبر او زغم نه کار واخلي او د فولادي غره په شان ثابت او ټينګ ودريږي، خو دا صبر او ثبات به ددې پخاطر نه وي چې کومه شخصي ګټه او نفسي غوښتنه يې پرې پوره شي بلکه دا ټول به يوازې او يوازې د الله تعالی د رضا پخاطر وي .

الله اکبر! دا حکمونه او اوامر په ظاهره څومره بسيط خو الفاظ يې څومره جذاب، اوچت او د ژور اثر درلودونکي دي، او همدا په ظاهر کې بسيط او آسانه اوامر د عمل او هدف په ډګر کې ډير عظيم، سخت او لوی دي. او د همدې اوامرو په نتيجه کې څومره عظيم الشان طوفان را اوچت شويدی چې د نړۍ ګوټ ګوټ ته رسيدلی، لوی انقلاب يې راوستی او نړۍ يې يو له بل سره وصل او يو ځای کړيده.

همدا مبارک آيتونه د تبليغ او دعوت مواد او اصول هم په ګوته کوي، د انذار مطلب او مقصد دا دی چې دا وښيي د انسان ځينې کارونه او اعمال داسې دي چې نتيجه او عاقبت يې ډير خطرناک او وخيم دی، او څرنګه چې هرچا ته دا معلومه ده چې انسان پدې دنيا کې د خپلو ټولو کړو نتيجه او جزا نه وينې، نو پدې صورت کې د انذار يوه تقاضا دا ده چې د انسان د ټولو اعمالو او کړو وړو د بدلې او جزا لپاره له دنيا نه علاوه يوه بله ورځ هم وجود ولري، او دا همغه ورځ ده چې د قيامت، د جزا، او دين د

ورځې په نامه يادیږي، او دا بيا ددې غوښتنه کوي چې بايد له دنيوي ژوند نه پرته بل ژوند هم وجود ولري.
او نور آيتونه له بندګانو نه دا غواړي چې بايد يوازې د توحيد لاره غوره کړي، ټول کارونه واحد خدای ﷻ ته وسپاري، د خدای تعالی د امر او رضا په مقابل کې خپلې هيلې، غوښتنې او د خلکو خوښي او رضا شا ته واچوي.

نو د دعوت مواد او اصول به دا وي:

الف: توحيد.
ب: د قيامت په ورځ ايمان.
ج: د نفس تزکيه، له هر ډول منکراتو، بديو او چټليو نه ځان ساتل، او د ټولو هغو امورو پريښودل چې د خطرناک عاقبت او وخيم انجام درلودونکي وي. همدا راز د هر ډول نيکۍ، خير، فضيلت او کمال خپلول او سرته رسول.
د: ټول کارونه الله تعالی ته سپارل.
هـ: ددې سلسلې آخرينۍ کړۍ د محمد (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) په رسالت باندې ټينګ او پوخ ايمان درلودل، او دا ټول د هغه تر قيادت لاندې او د هغه له لارښوونې سره سم سرته رسول دي.
بله دا چې دا مبارک آيتونه ددې عظيم کار او مسوليت د ادا لپاره رسول الله (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) ته امرکوي چې نور خوب، آرام، ګرمه بستره پريږدي د کړاو، مشقت، او جهاد لاره غوره کړی: ((يَا أَيُّهَا الْمُدَّثِّرُ (١) قُمْ فَأَنذِرْ (٢))) دا ددې معنی ورکوي لکه چې وويل شي: هغه څوک چې يوازې د ځان لپاره ژوند کوي،کيدای شي خوب او آرام ولري، خو ته اې محمده (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) دومره مسوليت په غاړه لرې چې بايد نور د خوب، آرام او ګرمې بسترې په فکر کې نه وې، ستا پيټی دومره دروند دی چې له هغه سره له کړاو او مشقت پرته بل څه نه شې ليدلۍ، پاڅه، ډيرعظيم مسوليت در په غاړه دی، دا تر ټولو ستر پيټی همدا ستا دی، پاڅه د جهاد او تکليفونو دا اغزنه لار ووهه، پاڅه! نور د خوب او آرام وخت نشته نور د بې خوابۍ، مسلسل کړاو دور شروع شويدی، پاڅه او ددې لوی او درانده بار د اوچتولو لپار ځان تيار او چمتوکړه. دا ډيره عظيمه او هيبتناکه کلمه او خبره ده چې رسول الله (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) له ګرمې بسترې او آرام ژوند نه

راپاڅوي او د تندو توپانونو، خونړيو جګړو، او عظيمو حادثو په سمندر کې يې ورلاهو کوي، د کور له آرام ژوند نه يې را باسي او د خلکو د ضميرونو او ژوندنيو حقايقو د مقابلې او کشمکش په ميدان کې يې دروي.

رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) هم ددې الهي حکم د اوريدو سره سم را پاڅيد او څه د پاسه شل کاله د جهاد او مقاومت په ډګر کې ولاړ و، خوب او آرام يې نه درلود. ددې عظيم مسوليت د ادا په لارکې يې ځان، اهل او اولاد ټول هيرکړي وو، په پوره ثبات او ميړانه سره يې د الله تعالى لورته بلنه کوله، او ددې دومره ستر او درانده بار او پيټي په اوچتولو او ورلو کې يې د ستومانۍ او کمزورۍ احساس ونکړ. رښتيا هم چې دا ډير درومد بار و ځکه دا د ټول بشريت، او د ټولې عقيدې مسؤليت و، دا د ژوند په ټولو اړخونو کې د جهاد او انقلاب لار وه. دا ټوله موده د الله تعالى رسول (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) د جهاد، جګړې او کړاو په ډګر کې و، داسې کله هم پيښه نه شوه، چې د يوه کار له امله دې بل کار ورنه پاتې شوی وي. له کومه وخته يې چې دا الهي حکم تر غوږو شويدی له همغې ورځې نه يې ټول ژوند د مسلسل جهاد او دوامدارې جګړې په ميدان کې تير کړيدی، جزاه الله عنا و عن البشرية كلها خير الجزاء[1].

په راتلونکو پاڼو کې به د رسول اکرم (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) ددې مسلسل او نه ستړيکيدونکي جهاد په هکله څه لنډې او مختصرې خبرې وکړو.

[1]. في ظلال القرآن ۱۲۸/۲۹ تر ۱۸۲ پورې.

د دعوت مرحلې (پړاوونه)

د محمد (ﷺ) د نبوت مبارک ژوند په دوو بيلابيلو دورو ويشلی شو:

ا_ مکي دور_ تقريبا ديارلس کاله.
۲_ مدني دور_ پوره لس کاله.

بيا هر دور مختلفې مرحلې لري چې هره مرحله د خاصو ځانګړتياوو او بيلوونکو خصائصو درلودونکې ده، که د دعوت او بلنې پر دې دواړو دورو لږ دقيق او ژور نظر واچوو، نو همدا خبره به راته ښه څرګنده او په ډاګه شي.

مکي دور په دريو مختلفو مرحلو ويشل کيدای شي:
۱_ د پټې بلنې مرحله چې موده يې درې کاله وه .

۲_ د مکي خلکو ته د بلنې د اعلان مرحله، د بعثت د څلورم کال له پيل نه د بعثت د لسم کال تر وروستۍ برخې پورې.

۳_ له مکي نه د باندې د دعوت د اعلان او خوريدو مرحله، د بعثت د لسم کال له وروستيو نه مدينې ته د رسول اکرم (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) تر هجرته .
د مدني دور د مراحلو تفصيل به پخپل ځای کې راشي.

لومړی مرحله

دعوت او تبليغ

دری کاله پټه او سري بلنه

دا خو هرچا ته په ډاګه ده چې مکه هغه وخت د عربو ديني مرکز و، د کعبې شريفې ساتونکي، د امورو مشران او د عربو په نزد د مقدسو بتانو ساتونکي هم همدلته مکه کې وو، نو ددې ځای اصلاح او ددې خلکو په نيغه لار روانول د نورو په نسبت ډيرګران او مشکل کار و. دلته د دعوت او اصلاح لپاره داسې پخې ارادې او ټينګ عزم ته ضرورت و چې د مصيبتونو او مشکلاتو طوفانونه يې له ځايه ونه شي خوځولی. او پداسې حالاتو کې د حکمت تقاضا او غوښتنه هم دا وه چې دعوت او بلنه بايد په لومړي سرکې په پټه او مخفي توګه ترسره شي، ترڅو د مکې اوسيدونکي په ناڅاپي او نابره توګه له يوه راپاروونکي حالت سره مخامخ نه شي .

د اسلام لومړني لارويان

طبيعي خبره وه چې رسول اکرم (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) بايد لومړی هغه کسان اسلام ته راوبولي چې له ده او آل بيت سره دوستي او نژدې اړيکې ولري. همداسې وشول رسول کريم (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) لومړی خپل دوستان اسلام ته راوبلل، او هغو کسانو ته يې د اسلام بلنه ورکړه چې د خير تمه يې ورنه کوله، پيژندل يې چې هغوی تل د حق او حقيقت خواته دريږي، او دده (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) په صدق، ريښتينولی او صلاح باندې پوخ باور لري.

لدې ډلې نه هغو کسانو د رسول اکرم (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) بلنه ومنله چې کله يې هم د رسول اکرم (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) د عظمت، صلاح، صدق، او صداقت په هکله شک نه و کړی. دا د الله تعالی غوره بندګان په اسلامي تاريخ کې د السابقون الاولون په نامه شهرت لري، ددې ډلې په سرکې د رسول اکرم (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) بي بي حضرت خديجه (رضي الله عنها)، د رسول کريم (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) آزاد شوی غلام زيد بن حارثه بن شرحبيل

الكلبي[1]، او د محمد مصطفى (عليه السلام) د تره زوی علي بن ابي طالب، چې هغه وخت لا ماشوم و او د رسول اكرم (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) تر كفالت لاندې و او د رسول كريم (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) تر ټولو نژدې ملګری حضرت ابوبكر صديق (رضي الله عنهم) وو، دوی هغه كسان دي چې د دعوت په لومړنيو ورځو كې په اسلام مشرف شويدی.

پدې پسې ابوبكر الصديق (رضي الله عنه) د اسلام لورته د بلنې لپاره متې راونغښتلې. ابوبكر (رضي الله عنه) پخپل قوم كې يو منل شوی او مخور سړی و، د خپلو نيكو اخلاقو، تدبر، پوهې او په تجارت كې د تجربې له برکته به همیش خلک ده ته ورتلل، ناسته ولاړه يې ورسره درلوده، نو له همدې فرصت او حيثيت نه په استفادې سره يې هغه كسان اسلام ته رابلل چې اعتماد او باور يې وربانديې درلود، او خپل راز يې ورته ويلی شوای، بالاخره د ابوبكر (رضي الله عنه) د دعوت او تبليغ په نتيجه كې عثمان بن عفان الاموي، زبير بن العوام الاسدي، عبدالرحمن بن عوف، سعد بن ابي وقاص (الزهريان)، طلحه بن عبيدالله التيمي (رضي الله عنهم اجمعين) په اسلام مشرف شول او پدې ترتيب سره دا آته كسان د اسلام لومړني لاروي او مخكښان دي.

همدا راز بلال بن رباح الحبشي (رضي الله عنه) هم د لومړنيو مسلمانان څخه دی، ورپسې د اسلامي امت امين ابو عبيده عامر بن الجراح[2] (د بني الحارث بن فهر له كورنۍ نه)، ابو سلمه بن عبدالاسد، ارقم بن ابي الارقم (المخزوميان)، عثمان بن مظعون او وروڼه يې قدامه او عبدالله، عبيده بن الحارث بن المطلب بن عبدمناف، سعيد بن زيد العدوي او ښځه يې فاطمه بنت الخطاب العدويه (د عمر بن الخطاب خور)، خباب بن الارت، عبدالله بن مسعود الهذلي او داسې نور (رضي الله عنهم) په اسلام مشرف شول. او همدوی السابقون الاولون دي چې د قريشو په مختلفو كورنيو پورې يې اړه درلوده. ابن هشام يې شميره څلويښت ښوولې او نومونه يې هم ذكر

---

[1]. زيد په جګګوه كي نيول شوي او غلام (اسير) شوي وُ، حضرت خديجه (رضي الله عنها) د هغه مالكه وه او بيا يې رسول اكرم (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) ته هبه كړ بو وخت د هغه پلار او تره راغلل تر خګو له حګان سره يې بوزي، خو هغه رسول اكرم (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) د خپل تره او پلار په مقابل كيګ غوره كړ. نو رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) هغه متبني (خپل نسبتی زوی) وباله او په زيد بن محمد (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) سره يې شهرت وموند تر خګو اسلام راغی او د عربو دغه عادت يې لغوه كړ.

[2]. پدې هكله صحيح البخاری مناقب ابي عبيده بن الجراح ۱/ ۵۳۰ وګورئ

کړيدي[۳]. خو پدې لست کې ځنې کسان داسې دي چې له السابقون الاولون نه يې شميرل پوره ثابت ندي او په هکله يې اختلاف وجود لري.

ابن اسحاق وايي: وروسته ډله ډله خلک (نارينه او ښځې) په اسلام مشرف شول تر دې چې په ټوله مکه کې د اسلام نوم خور شو او د خلکو په ژبو به يادېده.[۱]

خو لومړنيو ټولو په پټه اسلام راوړی و، رسول اکرم (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) به هم په مخفي توګه غونډې ورسره کولې او د دين ښوونه به يې ورته کوله، ځکه دغه وخت دعوت مخفي او وګړيز (فردي) و. وحي هم د المدثر سورت له لومړيو آيتونو وروسته په مسلسله توګه راتلله. دغه وخت به چې کوم آيتونه را نازليدل هغه به لنډ لنډ وو خاتمه به يې په ډيرو زړه راښکونکو الفاظو سره کيده. دا آيتونه به پر زړونو د ژورې اغيزې درلودونکي او د هغه وخت له سکون او رقت نه ډکې فضا عين مطابق وو. دې آيتونو د نفس تزکيې او پاکۍ ته بلنه ورکوله او په دنيوي چټليو باندې د ملوث کيدو او ککړيدو زيانونه يې په ګوته کول، له جنت او دوزخ نه به يې خبرې کولې او داسې به يې ترسيمول تا به ويل چې همدلته اوس حاضر موجود دي، مومنان به يې د وخت له بشري ټولنې نه اوچت او يوې بلې فضا اوچتول.

لمونځ

د لمانځه امر د اسلام په لومړيو کې رانازل شوی ، مقاتل بن سليمان وايي: د اسلام په لومړيو کې الله تعالی دوه رکعته سهار او دوه رکعته مابنام لمونځ فرض کړی و، الله تعالی فرمايي: ((وَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ بِالْعَشِيِّ وَالإِبْكَارِ)). (غافر- ۵۵)

ترجمه: (او تسبيح وايه سره له ثنا د رب خپل هم په آخره د ورځې کې او (هم) په اوله د ورځې کې...). ابن حجر وايي: له معراج نه مخکې هم رسول اکرم (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) او اصحابو (رضي الله عنهم) په قطعي توګه لمونځ کاوه، خو اختلاف پدې کې دی چې د پنځه وخته لمانځه له فرضيت نه مخکې هم کوم لمونځ فرض و او که نه؟ ويل کيږي چې هغه وخت يوازې له لمرختلو او لمر لويدلو نه مخکې لمونځ فرض و او بس. حارث بن اسامه د ابن لهيعه له لارې له زيد بن حارث نه موصول روايت کوي: په لومړيو کې چې رسول اکرم (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) ته وحي راغله، جبريل (علیه السلام) ورته راغی، د اوداسه طريقه يې وروښودله، او کله

---

[۳]. سيره ابن هشام ۲۴۵/۱ الی ۲۲۲.

[۱]. ابن هشام ۱. ۲۲۲.

چې له اوداسه فارغ شو نو يوه لپه اوبه يې واخيستی او په عورت (شرمګاه) يې وروشيندلې. ابن ماجه هم پدې مفهوم يو حديث رانقل کړيدی. له براء بن عازب اوله ابن عباس (رضي الله عنهم) نه هم دې ته ورته يو حديث روايت شويدی د ابن عباس (رضي الله عنهما) په حديث کې راځي: ((**وكان ذلك من أول الفريضة**))[1]. دا لمونځ له لومړنيو فرائضو څخه و.

ابن هشام وايي: کله به چې د لمانځه وخت شو نو رسول اکرم (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) او اصحاب (رضي الله عنهم) به درو او خوړونو ته تلل او هلته به يې له خپل قوم نه پټ لمونځ اداء کاوه. يو ځل ابو طالب وليدل چې رسول اکرم (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) او علي (رضي الله عنه) لمونځ کوي، نو پدې هکله يې پوښتنه ورنه وکړه، او چې په حقيقت پوه شو نو د ثبات او ټينګار امر يې ورته وکړ.[2]

قريش په اجمالي توګه له مسئلې نه خبريږي

د دعوت او بلنې په مختلفو پيښو او واقعاتو کې له غور او دقت نه وروسته دا په ډاګه کيږي چې دعوت که څه هم پدې مرحله کې پټ، مخفي او انفرادي شکل درلود، خو بيا هم قريش وربانديې خبر وو البته دا وه چې چندان باک يې نه وربانديې راوړ او دې خوا ته يې زياته توجه نه درلوده.

محمد الغزالي وايي: دا خبرونه د قريشو غوږونو ته رسيدلي وو، خو ځان يې نه خوځاوه، باک يې نه وربانديې راوړ، کيدای شي به دا ګومان به يې کاوه چې محمد (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) به هم د هغو ديني خلکو په شان وي کوم چې د الوهيت او الهي حقوقو په هکله خبرې کوي، لکه اميه بن ابي الصلت، قس بن ساعده، عمرو بن نفيل او داسې نور، خو کله چې د رسول اکرم (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) دعوت مخ په خوريدو شو، اغيزه يې زياته شوه، همدا وه چې هغوی هم ورنه وويريدل او د وخت په تيريدو سره يې رسول اکرم (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) او دده دعوت تر نظر او مراقبت لاندې ونيو.[3]

دری کاله تير شول خو اسلامي دعوت همداسې پټ او انفرادي (وګړيز) شکل درلود،

---

[1]. مختصر سيرة الرسول (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) للشيخ النجدي ص ۸۸.

(۲). ابن هشام ۱/ ۲۴۷.

[3]. فقه السيرة ص ۷۲.

پدې موده کې يو داسې مومن ټولګی جوړ شو چې غړي يې د وروری او تعاون په مزي يو له بل سره تړل شوي وو. د رسالت تبليغ جريان درلود، او اوچت منزل ته د رسالت او دعوت د رسولو هڅې جاري وې، په همداسې حالت کې د الله تعالی له لوري وحي راځي او رسول اکرم (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) ته امر کوي چې خپل قوم په ښکاره او علني توګه اسلام ته راوبولي، له باطل سره ډاګيزې مقابلې ته ملا وتړي او د دوی پر بتانو د حقيقت ګوزار وکړي او له مخ نه يې پردې پورته کړي تر څو خلک يې په حقيقت او محتوی پوه شي.

دوهمه مرحله

ښکاره دعوت او تبليغ

د دعوت د اعلانولو لومړی فرمان

پدې هکله تر ټولو لومړی د الله تعالی دا قول را نازل شوي ((وَأَنذِرْ عَشِيرَتَكَ الأَقْرَبِينَ)). (الشعراء: ٢١٤)

[ترجمه: او ويروه ته (له عذابه اې محمده! هغه) خپلوان د تا چې ډير نژدې دي (درته).]

دا آيت د الشعراء په سورت کې دی، ددې سورت په پيل کې د موسی (عليه السلام) کيسه راغلي ده او دا ښيي چې د موسی (عليه السلام) د نبوت پيل څنګه او څه ډول و، بيا هغه له خپل قوم (بني اسرائيلو) سره هجرت وکړ الله تعالی دوی ته له فرعون نه نجات ورکړ، فرعون او لښکرې يې غرقې شوې. په بل عبارت دغه کيسه د موسی (عليه السلام) د دعوت پر ټولو مرحلو رڼا اچوي. پداسې وخت کې د موسی (عليه السلام) د کيسې بيان چې رسول اکرم (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) په ښکاره او علني بلنه مامور کيږي، زما په نظر ددې پخاطر و چې رسول اکرم (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) او اصحاب يې (رضي الله عنهم) د دعوت له پيل نه د خپلې لارې له هر څه نه خبر وي، په وړاندی يې يوه داسې نمونه او يو داسې مثال موجود وي چې د هغه په رڼا کې دې ته آماده او تيار شي چې د ښکاره او علني دعوت په مرحله کې به له راز راز مشکلاتو سره مخامخ کيږي، د دروغو نسبت به ورته کيږي او ډول، ډول ظلمونه به وينې.

دا سورت د هغو قومونو له عاقبت او انجام نه هم يادونه کوي کوم چې د الله تعالی رسولان (عليهم السلام) يې تکذيب کړي او د هغوی له اطاعت نه يې سر غړولی دی لکه د نوح (عليه السلام) قوم، عاد، ثمود د ابراهيم او لوط (عليهما السلام) قومونه او اصحاب ايکه. د فرعون او ددې قومونو له عاقبت او انجام نه يادونه او خبرې ددې پخاطر دي چې د رسول اکرم (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) تکذيبونکي او د هغه له امر نه سر غړونکي پدې پوه شي چې که هغوی سمې لارې ته برابر نه شي او د حق پيروي ونکړي نو هغوی به هم له يوه خطرناک انجام سره مخ کيږي او الله تعالی به يې مواخذه کوي، او بل هدف يې دا و چې مومنان له خپل راتلونکي نه مطمئن او

پدې باوري شي چې پای او راتلونکی د دوی دی، بری د دوی او ناکامي د دښمنانو په برخه ده.

نژدې خپلوانو ته بلنه

ددې آیت له نازلیدو وروسته رسول اکرم (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) خپله کورنۍ (بني هاشم) راوبلل، هغوی بلنه ومنله راغلل، او د بني المطلب بن عبدمناف له کورنۍ نه هم څو کسان ورسره وو، ټول پنځه څلویښت کسان راټول شول.

ابو لهب وړاندې شو د خبرې سر یې ونیو او محمد (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) ته په خطاب سره یې وویل: ګوره! دا ستا ترونه او د ترونو زامن دي، خبرې وکړه خو ناپوهي پریږده، پدې ښه پوه شه چې ستا کورنۍ د ټولو عربو زور نلري، نو زه حق لرم چې و دې نیسم (لدې کارنه دې منع کړم).ستا لپاره همدا ستا کورنۍ کافي ده چې مخه دې ونیسي که چېرې ته پخپله خبره همداسې ټینګ پاتې شې، نو ستا د قوم لپاره ستا مخنیوی لدینه آسانه دی چې قریش ټول ستا په خلاف را پورته شي، او نور عرب یې هم مرسته وکړي، زه نه پوهیږم هغه وخت به بیا بل څوک داسې پیدا شي چې ستا په شان د خپل قوم د تباهۍ او بربادۍ دا ډول سبب وګرزي؟! رسول اکرم (صلی الله علیه وسلم) چوپ پاتې شو او پدې مجلس کې یې هیڅ خبرې ونکړې.

وروسته رسول اکرم (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) دوهم ځل بیا هغوی راوبلل، کله چې غونډ شول ویې فرمایل: ((**الحمد لله أحمده، و أستيعنه، و أومن به، و أتوكل عليه، و أشهد أن لا إله إلاالله وحده لا شريك له**)) **ثم قال**: ((**إن الرائد لا يكذب أهله و الله الذي لا إله إلا هو، إني رسول الله إليكم خاصة و إلى الناس عامة و الله لتموتن كما تنامون، و لتبعثن كما تستيقظون، و لتحاسبن بما تعملون، و إنها الجنة أو النار أبدا**)). يعنی: ټول حمد او ثنا الله تعالی لره ده، زه د هغه ثنا وایم، له هغه نه مرسته غواړم، په هغه ایمان لرم، او په هغه باندې بروسه او توکل کوم، او پدې شاهدي وایم چې له الله تعالی پرته بل هیڅوک هم د عبادت وړ ندي، هغه واحد دی هیڅ شریک نلري، بیا یې وویل: مشر او لارښود خپل اهل او د خپل کور خلکو ته دروغ نه وایي قسم په هغه خدای چې لده پرته بل اله (د عبادت وړ معبود) نشته، زه د الله تعالی له لوري ستاسې لپاره په خاصه توګه او د ټولو خلکو لپاره په عامه توګه رسول او استازی رالیږل شوی یم، قسم په الله (جل جلاله) داسې به مرئ لکه څرنګه چې

ويده کيږئ، او داسې به بيرته را ژوندي کيږئ لکه څرنګه چې له خوب نه را پاڅيږئ، او د خپل هر عمل حساب او کتاب به درسره کيږي، بيا به د تل لپاره يا جنت وي او يا دوزخ.

ور پسې ابو طالب داسې وويل: ستا سره زمونږ لپاره د ويار خبره ده، مونږ له هر چا نه زيات ستا نصيحت ته غوږ ږدو او منو يې، مونږ له هر چا نه زيات ستا خبره رښتيا ګڼو، دا دي ستا ترونه او تربرونه ټول حاضر دي، زه هم د دوی يو غړی يم، خو زه ستا د خوښۍ او هدف د تکميل په لار کې له دوی نه وړاندی يم، په پوره ډاډ او اطمينان سره مخ په وړاندې درومه، خپله دنده په ښه توګه ادا کړه، قسم په الله تل به دې خوا ته ولاړ وم او ملاتړ به دې کوم، خو طبيعت او نفس مې د دې اجازه نه راکوي چې د عبدالمطلب دين پريږدم.

دلته ابو لهب وويل: والله چې دا ډيره بده ده، مخکې لدينه چې نور خلک يې له دې کارنه منع کړي بايد تاسو يې لاس ونيسئ او له دې لارې نه يې را واړوئ. ابو طالب په ځواب کې ورته وويل: قسم په الله تر څو ژوندي يو دفاع به ور نه کوو[1].

د صفا پر غونډۍ

کله چې رسول اکرم (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) لدينه ډاډه شو چې نور به ابو طالب د دعوت په لاره کې له ده نه دفاع او ملاتړ کوي، نو يوه ورځ د صفا غونډۍ ته وخوت او په لوړ آواز يې وفرمايل: يا صباحاه.[2]! (اې سهاره)؟ ددې غږ په اوريدو سره د قريشو خلک راټول شول، او رسول کريم (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) توحيد، په رسالت او آخرت باندې ايمان ته راوبلل. بخاري شريف ددې کيسې يوه برخه له ابن عباس (رضي الله عنهما) نه روايت کوي وايي:

((لما نزلت ((و انذر عشيرتك الاقربين)) صعد النبي (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) علي الصفا فجعل ينادي يا بني فهر! يا بني عدي! لبطون قريش، حتى اجتمعوا، فجعل الرجل إذا لم يستطع أن يخرج أرسل رسولا لينظر ما هو؟ فجاء أبو

---

(1). ابن الاثير، فقه السيرة ص ۷۷- ۷۸.

(2). د عربو دا عادت وٚ چې د دښمن له حملې نه د خبريدو او اعلان په وخت کې به په کوم اوچت ځای دريدل او پدې الفاظو (يا صباحاه) سره به يې نارې وهلې.

لهب و قريش فقال: أرايتكم لو أخبرتكم أن خيلا بالوادي تريد أن تغير عليكم أكنتم مصدقي؟ قالوا: نعم، ما جربنا عليك إلا صدقا. قال: فإني نذير لكم بين يدي عذاب شديد. فقال أبولهب: تبا لك سائر اليوم، ألهذا جمعتنا؟ فنزلت ((تَبَّتْ يَدَا أَبِي لَهَبٍ وَتَبَّ))[1] . [يعنی كله چې د ((وَأَنذِرْ عَشِيرَتَكَ الأَقْرَبِينَ)) آيت را نازل شو رسول اكرم (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) د صفا غونډۍ ته وخوت او د قريشو كورنيو ته يې جدا جدا غږ وكړ، اې بني فهر، اې بني عدي! تر څو ټول قريش راغونډ شول، ابولهب هم راغی، نو رسول اكرم (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) وفرمايل: كه درته ووايم چې پدې دره يا خوږكي يوه ډله شهسواران دي غواړي حمله درباندې وكړي، نو آيا تاسې به زما دغه خبره ومنئ؟ دوی وويل: هو، مونږ له تا نه هميشه رښتيا اوريدلي دي. بيا يې ورته وفرمايل: زه تاسې ته له يوه سخت عذاب نه د خبر وركونكي په حيث راغلی يم. پدې وخت كې ابو لهب وويل: ټوله ورځ هلاک اوسې، همدا نن هلاک شې آيا د همدې لپاره دې راټول كړي وو؟ نو پدې پسې (تبت يدا ابي لهب و تب) (مات، هلاک دې شي دواړه لاسونه د ابي لهب او پخپله دې هم هلاک شي)) سورت رانازل شو.]

مسلم شريف له ابو هريره (رضي الله عنه) نه په روايت سره ددې كيسې بل اړخ رانقلوي وايي: كله چې د(وَأَنذِرْ عَشِيرَتَكَ الأَقْرَبِينَ) آيت را نازل شو، رسول اكرم (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) آواز وكړ، دا آواز عام هم و او خاص هم، ويې فرمايل:((**يا معشر قريش انقذوا انفسكم من النار،يا معشر بني كعب! انقذوا انفسكم من النار، يا فاطمةبنت محمد! انقذي نفسک من النار، فاني والله لا املک لكم من الله شيئا، الا ان لكم رحما سابلها ببلالها**)).

[اې قريشو! ځانونه له جهنم نه وساتئ، اې بني كعب! ځانونه له دوزخ نه وساتئ، اې د محمد (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) لورې فاطمې! (رضي الله عنها) ځان له اور نه وساته، ځكه قسم په خدای چې زه د الله تعالى له مواخذې او ګرفت نه ستاسې د خلاصون په لاره كې هيڅ واک او اختيار نلرم، خو دا ده چې ستاسې سره د نسب او قرابت اړيكې لرم، او كوښښ كوم چې حق يې ادا كړم ، ټينګې او برقرارې يې

[1]. صحيح البخاري ۲/ ۷۰۲- ۷۴۳ په صحيح مسلم كې هم دا روايت شته دی ۱۱۴/۱.

وساتم.[1]
دا بلنه پوره او بشپړ اعلان او تبليغ و، رسول اکرم (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) خپلو خپلوانو ته دا وښوده چې نور د اړيکو ټينګښت پدې رسالت باندې تر ايمان راوړلو پورې اړه لري او د الله تعالی له لوري ددې اعلان او انذار له نازليدو وروسته د عربو باطل قوميت او قومي تعصب له مينځه تللی دی.

د حق اعلان او د مشرکينو عکس العمل

ددې آواز انګازې د مکې په شا او خوا کې لا اوريدل کيدلې چې د الله تعالی يو بل امر رانازل شو او هغه داسې و:((فَاصْدَعْ بِمَا تُؤْمَرُ وَأَعْرِضْ عَنْ الْمُشْرِكِينَ)).(الحجر: ٩٤)
[ترجمه: نو ښکاره (او په جهر کړه اې محمده!) هغه چې ته مامور يې پرې او مخ واړوه له مشرکانو څخه (او مه کوه هيڅ التفات او پروا ددوی ويلو ته)).] نو رسول اکرم (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) هم پيل وکړ د شرک او خرافاتو له مخ نه پردې اوچتوي، ضررونه يې په ګوته کوي د بتانو اصلي ځيره خلکو ته ښيي او د مثالونو په رڼا کې ددې باطلو معبودانو کمزوري او ناتواني په ګوته کوي او دا اعلانوي هر څوک چې د بتانو عبادت کوي او يا بتان د ځان او الله تعالی تر مينځ وسيله ګرزوي هغوي ټول ګمراهان او بې لاری دي.
کله چې د مکې خلکو واوريدل چې رسول اکرم (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) په بتانو پسې خبرې کوي او په ډاګه سره وايي چې مشرکان او د بتانو عبادت کوونکي ټول ګمراهان او په باطله روان دي، نو دا د حق آواز لکه تندر داسې ورباندې ولګيد، اور ورباندې بل شو، ويرې واخيستل چې هسې نه دا عظيم انقلاب د هغوی ټول عادات او عنعنات ختم نکړي، نو همدا وه چې ددې بر حق انقلاب په وړاندې ودريدل او د دښمنۍ لاره يې ورسره ونيوه.
مشرکان ځکه ددې لوی بدلون او عظيم انقلاب په وړاندې ودريدل چې پدې پوهيدل چې له يوه الله تعالی نه پرته له بل هر چا نه د الوهيت نفي، او په رسالت او آخرت باندې ايمان دا معنی لري چې انسان بايد دې دين ته په کامله توګه مطيع او فرمانبردار وي او دې رسالت ته داسې تسليم شي چې بيا د ځان او مال سودا او خبره ورسره نه وي، هر څه يې الله تعالی ته سپارلي وي. څرګنده ده چې پدې صورت کې خو

---

[1]. صحيح مسلم ١/١١٤. صحيح بخاري ١/ ٣٨٥.

بیا د مشرکینو هغه باطله مشري او واکداري له مینځه تلله، او بیایې نه شوی کولی خلکو ته د دین په نامه بازي ورکړي، ویې غولوي او دا ممکنه نه وه چې نور یې پر مظلومانو باندې خپلو ظلمونو ته ادامه ورکړې وی. هو، هغوی د ایمان په رښتینې معنی پوه وو ځکه یې زړه نه شوی ورته ښه کولی. هغوی خپله ګمراهي او باطله مشري نه شوای پریښودلی نو ځکه یې د رسالت له قبلولو نه انکار کاوه، الله تعالی فرمایي: ((بَلْ يُرِيدُ الإِنسَانُ لِيَفْجُرَ أَمَامَهُ)) (القيامة:٥)

هغوی پدې ټولو ښه پوه وو، خو حیران وو، چې د محمد (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) په شان صادق، امین، کریم، عزیز او د داسې عظیم شخصیت درلودونکي چې په اوچتو اخلاقو او سپیڅلتیا کې یې په ډیرو پیړیو کې مثال ندې لیدل شوی، په وړاندې څه وکړي؟ او کومه لاره ورسره ونیسي؟ له سلا او مشورو، غور او فکر وروسته دې فیصلې ته ورسیدل چې د رسول اکرم(صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) تره ابوطالب ته ورشي او سوال ورنه وکړي چې خپل وراره لدې کارنه واړوي . زیار یې یوست چې خپله دا غوښتنه جدي اوکلکه وښیي، نو دا خبره یې سره غوټه کړه چې ابوطالب ته به داسې وایي: د بتانو د عبادت پریښودلو ته بلنه، او دا خبرې چې دا بتان باطل دي، هیڅ وس او توان نلري، دا ټول په حقیقت کې د دوی (مشرکانو) او د دوی د پلرونو سپکاوی او د دوی د دین توهین دی چې دوی یې نه شي زغملی .

ابوطالب ته د قریشو جرګه

ابن اسحاق وایي: د قریشو ځینې مشران ابوطالب ته ورغلل اوداسې یې ورته وویل: ابوطالبه! ستا وراره زمونږ خدایانو ته د بدو نسبت کوي، زمونږ دین باطل ګڼي، زمونږ پلرونه بې لارې اوګمراهان بولي، مونږ ته بې عقلان او احمقان وایي، نو یا یې لدې کار نه واړوه، او یا ته له مینځه لیرې شه چې مونږ ورسره پوه شوو او خپل حساب ورسره تصفیه کړو، پوهیږو ته هم زمونږ په شان اختلاف ورسره لرې، نو پریږده چې ورنه بې غمه دې کړو. ابوطالب په ډیره ښه او نرمه لهجه هغوی ته ځواب ورکړ او رخصت یې کړل. رسول اکرم (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) خپل دعوت جاري ساته او د الهي دین د قیام او حاکمیت لپاره یې نه ستړیدونکې هلې ځلې کولې.[1]

د حج په موسم کې د دعوت د مخنیوي پخاطر د قریشو مشورتي

[1] . ابن هشام ۲۲۵/۱.

غونډه

د ښکاره بلنې له پيل نه يوازې څو مياشتې تيرې شوې وې چې د حج وخت را نژدې شو قريش متوجه شول چې پدې وخت کې د مختلفو ځايونو خلک راځي، نو په کار ده چې داسې يو تدبير ونيول شي او داسې يوه خبره سره جوړه شي چې عربان وربانديې قانع کړی شو ترڅو د محمد(صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) خبره و نه مني او دعوت يې اغيزه وربانديې ونکړی شي. نو همدا وه چې ټول وليد بن مغيره ته ورغلل ترڅو پدې هکله مشوره ورسره وکړي. وليد ورته وويل: په کار ده پدې هکله يوه خبره جوړه کړو، داسې و نه شي چې يو به يو څه وايي او بل به بل څه، ځکه دا پخپله يو د بل د خبرې اثر کموي او ارزښت يې له منځه وړي. دوی ورته وويل: ته ووايه چې څه بايد ووايو؟ وليد وويل: نه، لومړی تاسې خپل نظرونه څرګند کړئ زه به يې اورم. دوی وويل: داسې به وايو چې محمد(صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم)کاهن دی. وليد وويل: نه والله که هغه کاهن وي، کاهنان خو مونږ ليدلي هغوی داسې نه وي، د محمد (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) خبرې د کاهنانو له خبرو سره نه په سجع اوقافيه او نه زمزمه په هيڅ شي کې هم ورته والی نلري. قريشو وويل: وايو به چې محمد(صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) شاعردی. وليد وويل: نه هغه شاعر هم ندی، مونږ په شعر پوهيږو، د شعر ټول ډولونه رجز، هجز، قريض، مقبوض، او مبسوط راته معلوم دي د محمد (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) اقوال او خبرې شعر ندی. بيا دوی وويل: نو وايو به چې محمد(صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) ساحر دی. وليد وويل: ساحر هم ندی، ساحران مو ليدلي. هغوی داسې نه وي. نو دوی ورته وويل:اوس ته ووايه څه ووايو؟ وليد وويل: قسم په خدای (جل جلاله) د محمد (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) خبرې ډيرې خوږې دي، ريښې يې ډيرې ټينګې، اصل يې مضبوط او څانګې يې ميوه داري دي، تاسې يې چې په هکله هرڅه ووايئ خلک يې مني،ستاسو په خبرو باور نه کوي، خو زما په نظر تر ټولو مناسبه دا ده چې وويل شي هغه جادوګر دی، داسې څه يې راوړي چې د هغه په واسطه د پلار او زوی، وروڼو، ميړه او ښځې، قوم او قبيلې ترمنځ بيلتون راولي، يو له بل سره يې اړيکې شلوي، بالاخره ټول په همدې خبره سره متفق شول او مجلس يې پای ته ورسيد[1].

Comment: ۱_ ابن هشام ۲۷۱/۱ :Comment

ځنې نور روايتونه وايي: کله چې وليد د قريشو ټولې خبرې او نظريې ردکړې نو دوی

---

[1]. ابن هشام ۲۷۱/۱.

ورته وويل: اوس ته خپل سيي او بې داغه نظر راته څرګند کړه، ووايه ستا رايه څه ده؟ ولید وويل: اجازه راکړئ چې پدې هکله څه سوچ او فکر وکړم، له ډير سوچ او فکر ورسته يې دوی ته خپل مخکې ذکرشوی نظر وړاندې کړ چې د ټولو سلا وربانديې راغله.[1] الله تعالی د ولید په هکله د مدثر په سورت کې (۱۶) آيتونه نازل کړيدي، او دا مبارک آيتونه د نومورې خبرې په هکله د ولید د فکر او سوچ کولو حالت ته هم اشاره کوي، فرمايي : ((إِنَّهُ فَكَّرَ وَقَدَّرَ (۱۸) فَقُتِلَ كَيْفَ قَدَّرَ (۱۹) ثُمَّ قُتِلَ كَيْفَ قَدَّرَ (۲۰) ثُمَّ نَظَرَ (۲۱) ثُمَّ عَبَسَ وَبَسَرَ (۲۲) ثُمَّ أَدْبَرَ وَاسْتَكْبَرَ (۲۳) فَقَالَ إِنْ هَذَا إِلاَّ سِحْرٌ يُؤْثَرُ (۲٤) إِنْ هَذَا إِلاَّ قَوْلُ الْبَشَرِ (۲۵))(المدثر:۱۸۰-۲۵).

[ترجمه: بيشکه هغه فکر وکړ (چې څرنګه طعن وکړم په قرآن) کې او اندازه يې وکړه په زړه خپل کې (کار د محمد (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم)) ووژلی شو (ملعون کړی شو) څرنګه يې اندازه کړه بيا دې ووژلی شي (ملعون دی کړی شي) څرنګه اندازه يې وکړه (په طعن د قرآن او محمد کې) بيا يې وکتل (محمد يا قرآن ته) بيايې مخ تريو کړ او تندی يې غوټه کړ (له کراهيته) بيايې شا واړوله (له محمده) او غاړه يې وغړوله (له اسلاميته) نو ويې ويل نه دی دا (قرآن) مګر خو سحر دی چې نقل کاوه شي (له نورو ساحرانو نه) نه دی دا (قرآن) مګر خو خبره د بشر (بني آدم) ده.]

د قريشو په همدې خبره سلا راغله، او کله چې د حج وخت راورسيد نو قريشو به د مکې ټولې لارې ونيولې هر څوک به چې راتلل د محمد (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) په هکله به يې هماغه مخکې جوړه شوې خبره ورته کوله، او کوښښ به يې کاوه د خلکو توجه له محمد (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) نه بلې خواته واړوي.[2]

ددې باطلې وظيفې په سرته رسولو کې ابو لهب تر ټولو مخکې و، رسول اکرم (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) به د حج په دوران کې حاجيان پخپلو ځايونو او مېنو لکه عکاظ، مجنه او ذي المجاز کې د الله تعالی لوري ته رابلل، هلته به يې تشريف وروړه او هغوی ته به يې د اسلام دعوت ورکاوه، ابو لهب به ورپسې و او خلکو ته به يې ويل: د محمد (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) خيره ونه منئ، دا يو دروغجن او له خپل دين نه اوښتی شخص دی.[3]

---

[1] . في ظلال القرآن ۱۸۸/۲۹.

[2]. ابن هشام ۲۷۱/۱.

[3]. روي فعله هذا الترمذی عن يزيد بن رومان و... عن طارق عبدالله المجاري، ورواه الامام احمد في مسنده.

ددې هلو ځلو نتيجه دا شوه چې عربو د رسول اکرم (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) د نبوت خبر له ځان سره خپلو ځايونو ته يوړ، او پدې ترتيب سره د رسول اکرم (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) نوم او د دعوت خبر په ټولو عربو کې خور شو.

له اسلامي دعوت سره د مقابلي بيلابيل شکلونه

کله چې قريشو وليدل محمد (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) په هيڅ ډول خپله لاره او بلنه نه پريږدي، نو يو ځل يې بيا سوچ وکړ او د اسلامي دعوت د له مينځه وړلو پخاطر يې لاندينۍ هلې ځلې او توطيې په کار واچولې:

۱ـ تکذيب، ملنډې، خنداګانې، استهزاء او مسخرې – قريشو غوښتل پدې ډول سره او لدې لارې نه د مسلمانانو روحيات کمزوري، ارادې يې ماتې او د ذلت او سپکاوي معامله ورسره وکړي. نو همدا وه چې په رسول اکرم (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) پورې يې ډول ډول تورونه او تهمتونه وترړل، د هغه جناب (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) په شان کې يې ډيره بې ادبي او ګستاخي کوله، کله به يې ليونی باله، قرآنکريم فرمايي:

((وَقَالُوا يَا أَيُّهَا الَّذِي نُزِّلَ عَلَيْهِ الذِّكْرُ إِنَّكَ لَمَجْنُونٌ)) (الحجر: ٦) [او ويلې (دغو کفارو محمدته) اې هغه سړيه چې نازل کړی شويدی پر هغه باندې ذکر(قرآن ، پند) (په زعم د منکرينو) بيشګه ته خوا مخواه ليونی يې.] کله به يې د سحر او دروغو نسبت ورته کاوه، الله تعالی فرمايي: ((وَعَجِبُوا أَنْ جَاءَهُمْ مُنْذِرٌ مِنْهُمْ وَقَالَ الْكَافِرُونَ هَذَا سَاحِرٌ كَذَّابٌ)) (ص: ٤) [او تعجب کوي (کفار) له دې نه چې راغلی دی دوی ته (نبي) ويروونکی له دوی نه او وايي دا کافران چې دغه (ويروونکی نبي) ساحر کوډګر دی، دروغجن.] د قريشو کفارو به رسول اکرم (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) ته په ډيره بده سترګه کتل، له حد نه زياته کينه او عداوت يې ورسره درلود ، تل به په دې هڅه کې وو چې په سترګو کې يې وخوري. الله تعالی داسې خبر راکوي:

((وَإِنْ يَكَادُ الَّذِينَ كَفَرُوا لَيُزْلِقُونَكَ بِأَبْصَارِهِمْ لَمَّا سَمِعُوا الذِّكْرَ وَيَقُولُونَ إِنَّهُ لَمَجْنُونٌ)) (القلم: ۵۱)

[او بيشکه نژدې وو هغه کسان چې کافران شويدي خوامخواه وبه ښويوي تا (وبه دې غورځوي پر ځمکه) پخپلو سترګو سره هر کله چې واوريده دوی قرآن (ستا له ژبې) او

وايي دوی (د کينې له مخې) بيشکه دغه (محمد) ليونی دی.]
رسول کريم (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) به چې کله له خپلو اصحابو (رضي الله عنهم) سره ناست و، قريشو به له استهزاء نه په ډکه لهجه سره ويل: وګورئ دا دده ملګري دي!! قرآنکريم فرمايي: ((...أَهَؤُلاءِ مَنَّ اللَّهُ عَلَيْهِمْ مِنْ بَيْنِنَا)) (الأنعام: ۵۳). [آيا هم دا (خواران) فضل کړيدی الله پردوی په منځ زمونږ کې (په هدايت سره).] الله تعالی ددې په ځواب کې فرمايي: ((أَلَيْسَ اللَّهُ بِأَعْلَمَ بِالشَّاكِرِينَ)) (الأنعام: ۵۳) [آيا نه دی الله ښه عالم په شکر کوونکو (په نعمت د اسلام بلکه دی، نو ځکه تفضلا احسان پرې کوي).]
قرآنکريم د مشرکينو دا کيفيت او حالت په ګوته کوي فرمايي: ((إِنَّ الَّذِينَ أَجْرَمُوا كَانُوا مِنْ الَّذِينَ آمَنُوا يَضْحَكُونَ (۲۹) وَإِذَا مَرُّوا بِهِمْ يَتَغَامَزُونَ (۳۰) وَإِذَا انقَلَبُوا إِلَى أَهْلِهِمْ انقَلَبُوا فَكِهِينَ (۳۱) وَإِذَا رَأَوْهُمْ قَالُوا إِنَّ هَؤُلاءِ لَضَالُّونَ (۳۲) وَمَا أُرْسِلُوا عَلَيْهِمْ حَافِظِينَ)).(المطففين: ۲۹- ۳۳). [بيشکه هغه کسان چې کافران شويدي، وو دوی په هغو کسانو باندې چې ايمان يې راوړی و خندل به يې، او مسخرې به يې پرې کولې) او کله چې تيريږي منکران پر مومنانو باندې هغوی ته پخپلو منځونو کې سره سترګکونه وهي (لپاره د استهزاء) او کله چې وګرځي خپلو کورونو ته (نو) ګرځي دوی خوشاله (خبرې جوړوونکي په سبب د تمسخر او استهزاء پر مومنانو باندې) کله چې وبه ليدل (کفارو) دغه (مومنان) نو ويل به يې پخپل منځ کې چې بيشکه دغه (مومنان) خامخواه بې لارې دي حال دا چې ندي ليږل شوي (کافران) پردغو (مومنانو) باندې ساتونکي ځارونکي.]
۲- شکوک: د رسول اکرم (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) د ذات، شخصيت او هداياتو په خلاف د بې اساسه شکوکو او شبهاتو راولاړول، او د هغه په خلاف دروغ او دومره زيات پروپاګند په کار اچول چې عوام خلک هيڅ ددې فرصت ونه مومي چې د رسول اکرم (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) د دعوت او رسالت په هکله غور، تفکر او تامل وکړي. مشرکانو چې د قرآنکريم په هکله څه عقيده درلوده الله تعالی هغه داسې بيانوي:
((وَقَالُوا أَسَاطِيرُ الأَوَّلِينَ اكْتَتَبَهَا فَهِيَ تُمْلَى عَلَيْهِ بُكْرَةً وَأَصِيلاً)) (الفرقان:۵). [او وايي (کفار) دا کيسې دي د ړومبنيو خلکو چې ليکلې دي هغه (محمد) پر ليکونکو پس هغه لوستل کيږي په ده سهار او مابنام.] ((إِنْ هَذَا إِلاَّ إِفْكٌ افْتَرَاهُ وَأَعَانَهُ عَلَيْهِ

قَوْمٌ آخَرُونَ)) (الفرقان: ٤)مشرکينو به دا هم ويل: ((إِنَّمَا يُعَلِّمُهُ بَشَرٌ)) (النحل: ١٠٣) [بيشکه همدا خبره ده چې ښوونه کوي ورته انسان.]

د رسول اکرم (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) په هکله به يې د اعتراض په توګه دا هم ويل: ((وَقَالُوا مَالِ هَذَا الرَّسُولِ يَأْكُلُ الطَّعَامَ وَيَمْشِي فِي الأَسْوَاقِ))(النحل:٧). [او وايي (کفار) چې څه دی دغه رسول ته چې خوري طعام او ګرځي په بازارونو کې (لکه نور خلک د پاره طلب د معاش).]

قرآنکريم ځای ځای د مشرکينو دې ډول پروپاګند ، ناروا تبليغاتو او له دښمنۍ نه ډک او بې اساسه انتقاداتو ته اشاره کړې او د هغې ځواب يې ويلی دی.

۳_ د پخوانيو کيسو په بيان سره د قرآنکريم مقابله، او په همدې کيسو سره له قرآنکريم نه د خلکو ليرې ساتل. ويل کيږي چې نضر بن حارث يو ځل قريشو ته وويل: اې قريشو! قسم په خدای چې تاسې له يوې داسې پيښې سره مخامخ شوي ياستئ چې تر اوسه پورې مو يې هيڅ بند او بست ندی کړی، محمد (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) يو داسې ځوان و، چې ستاسې په مينځ کې تر ټولو زيات منل شوی، رينښتونی او امين شخصيت و، تر څو په سرکې يې سپين ولګيدل، او دا نوی دين يې درته راوړ، نو بيا تاسې ساحر وباله، خو قسم په الله هغه ساحر ندی، ساحران خو مونږ ليدلي هغوی داسې نه وي، دا مو وويل چې هغه کاهن دی، قسم په خدای هغه کاهن هم ندی، ومو ويل چې شاعر دی قسم په الله، شاعر هم ندی، شعر او د شعر ډولونه خو مونږ پيژنو هغه داسې نه وي، دا مو وويل چې هغه ليونی دی، خو قسم په الله هغه ليونی هم ندی. اې قريشو، بيدار شئ، متوجه شئ تاسې له يوې ډيرې لويې پيښې سره مخ شوي ياستئ.

وروسته نضر بن حارث (حيره) ته لاړ او هلته يې د فارس د پاچايانو لکه رستم او اسفنديار کيسې او نکلونه زده کړل او بيرته راغی. او کله به چې رسول اکرم (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) په کوم مجلس کې وعظ او تبليغ کاوه خلک به يې له الهي عذاب نه ويرول، نضر به ورپسې ورته او ويل به يې: قسم په خدای، محمد (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) له ما نه ښې او غوره خبرې نه شي کولی او شروع به يې وکړه خلکو ته به يې د رستم او اسنفديار کيسې اورولې بيا به يې ويل: د محمد (صلی

الله علیه و اله و صحبه و سلم) خبرې زما له خبرو نه په څه غوره او ښې دي[1] ؟
له ابن عباس (رضي الله عنهما) نه په یوه روایت کې رانقل شوي چې نضر بن حارث یو شمیر ډمې په بیه اخیستې وې، کله به چې خبر شو چې فلاني سړي د رسول اکرم (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) خوا ته میلان پیدا کړیدی، نو یوه ډمه به یې ورپسې کړه، ډمې به نوموړي سړي ته خوراک او څښاک برابراوه، خدمت به یې کاوه او سندرې به یې ورته ویلې تر څو به یې له اسلام سره د نوموړي اړیکې وشلولې، الله تعالی پدې هکله فرمایي:((**وَمِنْ النَّاسِ مَنْ يَشْتَرِي لَهْوَ الْحَدِيثِ لِيُضِلَّ عَنْ سَبِيلِ اللَّهِ**))(لقمان:٦). [ځنې خلک داسې هم دي چې بیهوده او لهوه خبرې اخلي تر څو د الله له لارې نه خلک وربانديې بې لارې کړي.]

٤ توطئې: قریشو د سازش او توطیې لاره هم نیولې وه، غوښتل یې د یوې سودا بازۍ په نتیجه کې اسلام او جاهلیت سره ګډ کړي. پیشنهاد یې وکړ چې له څه نه به مونږ تیر شو او له یو څه نه دې محمد (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) تیر شي. قرآنکریم دېته اشاره کوي او فرمایي: ((**وَدُّوا لَوْ تُدْهِنُ فَيُدْهِنُونَ**)) (القلم:٩) [خوښوي دوی چې که ته نرمي کوې(له دوی سره) نو دوی به هم نرمي کوي (له تاسره).]
د ابن جریر او طبراني یو روایت دی چې وایي: مشرکینو رسول اکرم (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) ته وړاندیز وکړ چې یو کال ته زمونږ د خدایانو عبادت وکړه، او یو کال به مونږ ستا د خدای عبادت وکړو. خو د عبد بن حمید روایت وایي چې هغوی رسول (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) ته وویل: که ته زمونږ خدایان ومنې نو مونږ به ستا د رب عبادت وکړو.[2]
ابن اسحاق وایي: یو ځل رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) له بیت الله شریف نه طواف کاوه چې د قریشو مشران لکه الاسود بن المطلب بن اسد بن عبدالعزی، ولید بن مغیره او امیه بن خلف او عاص بن واثل السهمدي ورته راغلل او ورته ویې ویل: راځه ته زمونږ د خدایانو عبادت کوه، او مونږ به ستا د خدای عبادت کوو، پدې ډول به عبادت سره شریک کړو، که چېرته ستا معبود زمونږ له معبودانو نه غوره وي، نو مونږ به هم څه فایده کړې وي، او که زمونږ معبودان ستا له معبود نه غوره وي، نو بیا به تا هم څه ګټه کړې وي. د دوی دا پیشنهاد الله تعالی رد کړ او دا

---

[1]. ابن هشام ١/ ٢٢٩ – ٣٠٠- ٣٥٨. تفهیم القران ۴/ ۸، ۹. مختصر سیره الرسول (صلی الله علیه وسلم) للشیخ عبدالله النجدی ص ١١٧، ١١٨.
[2]. تفهیم القران ٢/ ٥٠١ - ٥٠٢

سورت يې را نازل کړ[1]:

((قُلْ يَا أَيُّهَا الْكَافِرُونَ (١) لا أَعْبُدُ مَا تَعْبُدُونَ (٢) وَلا أَنْتُمْ عَابِدُونَ مَا أَعْبُدُ (٣) وَلا أَنَا عَابِدٌ مَا عَبَدتُّمْ (٤) وَلا أَنْتُمْ عَابِدُونَ مَا أَعْبُدُ (٥) لَكُمْ دِينُكُمْ وَلِيَ دِينِ (٦)).

[ووايه (اې محمده! چې) اې کافرانو، نه کوم زه عبادت د هغه شي چې تاسې يې عبادت کوئ.....]

پدې ترتيب سره الله تعالی د دوی دا سازش هم له خاورو سره خاورې کړ، او په ډاګه سره يې اعلان وکړ چې د مشرکينو لاره له اسلام نه بيله او جدا ده. پدې هکله د روايتونو له اختلاف نه دا څرګنديږي چې کيدای شي مشرکينو څو ځله ددې سازش هڅې کړې وي.

پر مسلمانانو باندې ظلمونه

د نبوت د څلورم کال په لومړيو کې قريشو د اسلامي دعوت د مخنيوي پخاطر پورته يادې شوې لارې چارې يوه په بله پسې په کار واچولې، څو ميا‌شتې همداسې تيرې شوې، خوکله پوه شول چې نور دا هلې ځلې ناکامې دي، او نه شي کولی پدې سره د اسلامي دعوت مخه ونيسي، نو يو ځل بيا سره راغونډ شول او يوه پنځه ويشت کسيزه کوميټه يې جوړه کړه مشر يې ابو لهب و. د کوميټې غړو له ډير غور او بحث وروسته فيصله وکړه چې نور بايد د محمد (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم)، اسلام او اصحابو (رضي الله عنهم) په خلاف له زور، زياتي، وحشت او تيري نه کار واخيستل شي.[2]

هغوی دا فيصله وکړه او د فيصلې د پلي کولو لپاره يې متې راونغښتلې. مشرکينو په آسانۍ سره کولای شوي په اصحابو (رضي الله عنهم) خصوصاً په بې وسه کسانو هر ډول ظلم او زياتی وکړي، خو د رسول اکرم (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) په هکله هر چا دا جرات نه شوی کولی، ځکه هغه د داسې عظيم شخصيت درلودونکی و چې له دوستانو وړاندې دښمنانو ورته د قدر او احترام په سترګه کتل، او د هغه په وړاندې يوازې هغو کسانو بې ادبي او ګستاخي کولی شوی چې له عقل او حيا به بالکل خلاص وو. او ددې تر څنګ محمد (صلى الله عليه وسلم) د ابو طالب غوندې

---

[1]. ابن هشام ۳۲۲/۱.

[2]. رحمة للعالمين ۵۹/۱ - ۲۰.

مهم سړي له تائيد او ملاتړ نه هم برخمن و، هغه ابو طالب چې د مکې سردار او د خلکو په مينځ کې د قدر او منزلت خاوند و. چا دا جرات نه شوی کولی چې هغه کم وشميري، ټرون يې مات کړي او د کورنۍ پر غړو يې تجاوز وکړي. دې وضعې قريش څه انديښمن کړي وو، او جرات يې ورنه سلب کړی وو، خو کله چې د هغوی زعامت او د دين په نامه تر لاسه شوې مشري د نوي اسلامي دعوت تر تهديد لاندې راغله، نور نو لکه ليونيان را پورته شول او د رسول اکرم (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) په خلاف يې هم ظلمونه او تيري شروع کړل. پدې کار کې ابو لهب له هر چا نه وړاندې و، ومو کتل چې د بني هاشم په غونډه او د صفا په غونډۍ يې له رسول اکرم (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) سره څه وکړل.

ځنې روايتونه وايي چې د صفا په غونډۍ وروسته له هغې چې رسول اکرم (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) خپله بلنه واوروله، ابو لهب يوه تيږه واخيسته او غوښتل يې رسول اکرم (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) ورباندې وولي.[1] له بعثت نه مخکې د ابو لهب زامنو عتبه او عتيبه د رسول اکرم (صلی الله علیه وسلم) له لونې (رقيې او ام کلثوم رضي الله عنهما) سره ودونه کړي وو، خو له بعثت نه وروسته ابو لهب خپل زامن دې ته اړ ايستل چې د رسول اکرم (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) لونې ته طلاق ورکړي.[2]

هغه وخت د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) دوهم زوی عبدالله وفات شو، ابو لهب له ډيرې خوشالۍ نه منډې کړې او خپلو ملګرو ته يې زيری ورکاوه چې محمد (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) ابتر (ميراث) شو.[3]

لکه مخکې مو چې وويل ابو لهب به د حج په دوران او بازارونو کې په رسول کريم (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) پسې روان وو او خبرې به يې ورتکذيبولې. طارق بن عبدالله محاربي وايي: ابو لهب نه يوازې دا چې د رسول اکرم (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) خبرې به يې تکذيبولې بلکه هغه جناب به يې په تيږو هم ويشته او د بشريت د عظيم لارښود(صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) مبارکې پوندې به يې په وينو رنګولې. [1]

د ابو لهب ښځې ام جميل اروی بنت حرب بن اميه چې د ابوسفيان خور وه، هم له

---

[1]. دا روايت ترمذي را نقل کړيدی.

[2]. في ظلاق القران ۳۰/ ۲۸۲. تفهيم القران ۲/ ۵۲۲.

[3]. تفهيم القران ۲/ ۴۹۰.

[1]. جامع الترمذي.

رسول اکرم (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) سره د ابو لهب په شان عداوت او کینه درلوده، اغزي به يې راټولول او د شپې له مخې به يې د رسول اکرم (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) په دروازه او لارو کې ورته شیندل. نومورې ډیر خرابه ژبه درلوده، د الله تعالی د رسول (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) په شان کې يې ډیره ګستاخي او بې شرمي کوله، تورونه او تهمتونه به يې ورپسې ټړل، فتنې او فسادونه به يې جوړول، او همدا وجه ده چې قرآنکریم ورته حماله الحطب ویلي دي.

اروی چې کله واوریدل قرآنکریم ددې او د میړه يې (ابو لهب) غندنه کړیده، نو پداسې حال کې جومات (مسجد الحرام) ته راغله چې یو موټی تیږې هم ورسره وې، رسول اکرم (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) او ابوبکر (رضي الله عنه) د کعبې شریفې خوا ته ناست وو. کله چې ورنژدې شوه نو الله تعالی يې په سترګو پرده ور واچوله او رسول اکرم (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) يې نه لیده، ابوبکر (رضي الله عنه) ته يې وویل: ملګری دې چېرته دی؟ خبره شوې یم چې زما بدي يې بیان کړیده، قسم په خدای که مې ولید نو پدې تیږو به يې په ده خوله وولم! ګوره، زه یوه شاعره یم، بیایې داسې وویل:

مذمما عصینا – و أمره ابینا – و دینه قلینا[2]

مونږ د مذمم (په بدو یاد شوي) نافرماني کړې، د هغه مو نده منلې او د هغه دین مو د نفرت او حقارت له مخې پرېښی دی، دا خبره يې وکړه او ووتله.

وروسته ابوبکر (رضي الله عنه) وویل: یا رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) آیا هغې ته ونه لیدلې؟ رسول اکرم (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) وفرمایل: (**ما رأتنی، لقد أخذ الله ببصرها عني**). نه زه يې ونه لیدلم ځکه الله تعالی يې پر سترګو پرده واچوله[3]. ابوبکر بزار دا کیسه رانقلوي او وایي: کله چې اروی راغله ابوبکر (رضي الله عنه) ته يې وویل: ستا ملګري زمونږ هجوه (بدي) ویلې ده. ابوبکر (رضي الله عنه) ځواب ورکړ، نه، قسم په الله هغه شعر نه وایي. ام جمیل ورته وویل: ته مصدق يې خبره دې د منلو ده .

ابو لهب سره لدې چې د رسول اکرم (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) تره هم و او

---

(2). زیاتره مشرکینو به محمد (صلی الله علیه وسلم) د مذمم په نامه یادوه، د مذمم معنی د محمد د معنی بالکل مخالفه یعنی ضد ده.

(3). ابن هشام ۱/ ۳۳۵ - ۳۳۶.

ګاونډی هم، خو بیا یې هم دا ټول ظلمونه ترسره کول. د ابو لهب کور د رسول اکرم (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) له کور سره بالکل جوخت، څنګ په څنګ و، نوموړي به لکه د نورو مشرکینو په شان رسول اکرم (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) ته پخپل کورکې هم ضرر او اذیت رساوه. ابن اسحاق وایي: د رسول اکرم (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) د ګاونډیانو له جملې نه ابو لهب، حکم بن ابي العاص بن امیه، عقبه بن ابي معیط، عدي بن حمراء الثقفي، او ابن الاصداء الهذلي دومره شریر او خبیث وو چې رسول اکرم (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) یې حتی پخپل کورکې هم له شره په امن نه و. دې شریرانو به په کور کې هم اذیت ورساوه، او لدې جملې نه یوازې حکم بن ابي العاص چې د اموي خلیفه مروان پلار و په اسلام مشرف شوی نور ټول مشرک مړه شویدي! د هغوی د اذیت رسولو یوه طریقه دا وه چې کله به رسول اکرم (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) لمونځ کاوه نو کوم یوه به یې د میږې پریوان وربانديې وراچاوه، او یا به چې کله رسول (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) دیګ باندې کړی و، نو دوی به پریوان را واخیست او د دیګ پر سر به یې وراچاوه. بالاخره رسول اکرم (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) مجبور شو چې یوه پنایي جوړه کړي تر څو د لمانځه په وخت کې د دوی له شره په امن وي. او کله به چې نوموړو مشرکینو پریوان او یا کثافت وربانديې وروا‌چاوه، نو د الله تعالی رسول (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) به په یوه لرګي سره را پورته کړ، په دروازه کې به ودرید او فرمایل به یې: اې بني عبدمناف! دا څه ډول ګاونډیتوب دی؟ بیا به یې پریوان ایسته واچاوه.[1]

عقبه بن ابي معیط پدې خباثت کې نور هم وړاندې تللی وو. بخاري شریف له عبدالله بن مسعود (رضي الله عنه) نه روایت کوي چې: یو ځل رسول اکرم (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) د کعبې شریفې خوا ته لمونځ کاوه، ابو جهل او ډله یې ناست وو، کوم یوه یې وویل: څوک به د بني فلان د اوښ لری او کولمې راوړي او کله چې محمد (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) په سجده څملي دا شیان یې په شا وروا‌چوي؟ پدې وخت کې تر ټولو بدبخته او خبیث سړی (عقبه بن ابي معیط) پاڅید هغه شیان یې راوړل او کله چې رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) سر په سجده کیښود هغه شیان یې وربانديې وروا‌چول. ابن مسعود (رضي الله عنه) وایي: ما کتل خو هیڅ مې هم له لاسه نه و پوره، ویل مې کاشکې مرستندوی مې درلودی، ابو جهل او ډلې

---

[1]. ابن هشام ۴۱۲/۱

يې خندل او له ډيرې خوشالۍ او غرور نه يو پر بل ورکړيدل يوې خوا بلې خواته اوړيدل، رسول اکرم (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) همداسې سر په سجده پروت و تر څو فاطمه (رضي الله عنها) راغله او هغه شيان يې ورنه ايسته کړل. رسول اکرم (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) سر را اوچت کړ او درې ځله يې وفرمايل: ((**اللهم عليك بقريش**)) اې خدايه! له قريشو سره پوه شې، چاره يې وروکړې. په مشرکينو هم د رسول اکرم (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) دې دعا اثر وکړ او ډيره سخته وربانديې تمامه شوه ځکه هغوی داسې باور درلود چې دلته دعاګانې قبليږي. رسول اکرم (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) بيا وفرمايل: (**اللهم عليك بأبي جهل، وعليك بعتبة بن ربيعة، وشيبة بن ربيعة، والوليد بن عتبة، وأمية بن خلف، وعقبة بن أبي معيط**) اې خدايه! ته د ابو جهل، عتبه بن ربيعه، شيبه بن ربيعه، وليد بن عتبه، اميه بن خلف او عقبه بن ابي معيط چاره ور وکړې. ابن مسعود(رضي الله عنه) وايي اووم نوم يې هم ياد کړ خو زما په ياد ندی. ابن مسعود بيا وايي: قسم په خدای دا ټول کسان چې رسول اکرم (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) يې نومونه واخيستل د بدر په ورځ مې وليدل چې ټول مړه او مردار پراته او په کنده کې غورځيدلي وو[1].

اميه بن خلف به چې کله رسول اکرم (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) وليد نو استهزاء به يې ورپورې کوله، اشارې او سترګکونه به يې کول، نو د ده په هکله الله تعالى دا آيت را نازل کړ: ((وَيْلٌ لِكُلِّ هُمَزَةٍ لُمَزَةٍ) (الهمزة: ١)

ابن هشام وايي: ((همزه)) هغه سړي ته ويل کيږي چې په ښکاره سره بل سړی کنځي، په سترګکونو او اشارو سره ملنډې وربانديې وهي، او ((لمزه)) هغه ته وايي چې په پټه سره د خلکو بد وايي او اذيت ورسوي.[2]

د اميه ورور ابي بن خلف د عقبه بن ابي معيط ډير نژدې ملګری و، يو ځل عقبه د رسول اکرم (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) په حضور کې کيناست او څه خبرې يې ورنه واوريدې، خو کله چې ابي بن خلف وربانديې خبر شو، نو عقبه يې ډير بې زړه وباله، زيات يې تهديد کړ، او غوښتنه يې ورنه وکړه چې لاړ شي او رسول اکرم (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) ته ورتف کړي. هغه خبيث هم همداسې وکړل، او ده

---

[1]. صحيح البخاري، كتاب الوضوء ،باب اذا القي علي المصلي فذر او جيفة. ١/٣٧.

[2]. ابن هشام ١/ ٣٥٢ - ٣٥٧.

پخپله يعنې ابي بن خلف يو وروست شوی هډوکی راواخيست، ميده يې کړ او د رسول اکرم (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) په طرف يې ور پوکړ.[1]

اخنس بن شريق الثقفي به هم رسول اکرم (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) ته زيات تکليف او اذيت رساوه. قرآنکريم د نومورې نهه هغه ناوړه صفتونه کړيدي چې دده حقيقي بڼه لوڅوي او فرمايي: (وَلا تُطِعْ كُلَّ حَلاَّفٍ مَهِينٍ (١٠) هَمَّازٍ مَشَّاءٍ بِنَمِيمٍ (١١) مَنَّاعٍ لِلْخَيْرِ مُعْتَدٍ أَثِيمٍ (١٢) عُتُلٍّ بَعْدَ ذَلِكَ زَنِيمٍ)) (القلم: ١٠- ١٣) [نو ته خبره مه منه د هر ډير قسم خوړونکي سپک عجيب ويونکي، تلونکي په چغلۍ سره، منع کوونکي د خير، له حده تيريدونکي (په ظلم کې) ډير ګنهګار بدخوی، سخت ويونکي، وروسته له دې ټولو عيبو حرام زاده.]

ابو جهل به کله نا کله د رسول اکرم (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) په حضور کې حاضريده او قرآنکريم به يې ورنه اوريده، خو ايمان به يې نه راوړ، نه به يې اطاعت کاوه، او نه به يې په زړه کې خوف او ويره پيدا کيدله، بلکه رسول اکرم (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) ته به يې هر ډول زيان او تکليف رساوه، خلک به يې د خدای له دين څخه منع کول، او بيا به يې پخپل دې باطل او ناروا کار فخر او ويار هم کاوه. قرآنکريم دده (ابوجهل) په هکله فرمايي:

(فَلا صَدَّقَ وَلا صَلَّى) (القيامة: ٣١)[2] [بيا يې يقين ونکړ (په مومن باندې) او نه يې لمونځ وکړ.]

ابو جهل به تل ددې کوښښ کاوه چې رسول اکرم (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) له لمانځه نه منع کړي، يوه ورځ يې رسول اکرم (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) وليد چې له مقام ابراهيم (عليه السلام) سره لمونځ کوي نو ورته ويې ويل: اې محمده! (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) آيا ته مې لدې کاره نه يې منع کړی؟ لدې سره يې اخطارونه او تهديدونه هم شروع کړل. رسول اکرم (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) هم وربانديې په غوصه شو او کلک ځواب يې ورکړ، نو ده ورته وويل: اې محمده (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) په څه مې ويروې؟ پدې منطقه کې هيڅوک هم له ما نه زيات زور او ځواک نلري. پدې پسې الله تعالی دا آيت را نازل کړ: (فَلْيَدْعُ نَادِيَه) (العلق:١٧) [1] [پس را ودې بولي اهل د مجلس خپل.]

---

(1). ابن هشام ١/ ٣٢١ - ٣٢٢.

(2). في ظلال القران ٢٩ / ٢١٢.

(1). في ظلال القرآن ٣٠/٢٠٨.

په بل روايت کې راځي چې رسول اکرم (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) ابو جهل تر غاړه راونيو او خو ځاوه را خوځاوه يې او ورته فرمايل يې: ((أَوْلَى لَكَ فَأَوْلَى (٣٤) ثُمَّ أَوْلَى لَكَ فَأَوْلَى)) (القيامة:٣٤-٣٥) [وړ ده تا ته (اې کافر انسانه! هغه شی (چې بد يې بولې سختي د مرک) پس وړ ده (هغه شی چې بد يې بولې چې سختي د قبر ده) بياوړ ده تا لره هغه شی چې بد يې بولې (چې سختي د ورځې د قيامت ده) پس وړ ده (تا لره هغه شی چې بد يې بولې چې هميشه عذابيدل ستا په دوزخ کې).

دلته د خدای دښمن (ابوجهل) ورته وويل: اې محمده! (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) آيا ته ما ويروې؟ قسم په خدای چې ته او ستا رب زما هيڅ هم نه شي کولئ، زه ددې سيمې تر ټولو غوره او عزيز اوسيدونکی يم.[٢]

په هر ترتيب ابو جهل له خپل رذالت او خباثت نه لاس وانخيست، بلکه لا پسې بدبخت شو. مسلم شريف له ابو هريره (رضي الله عنه) نه روايت کوي وايي: ابو جهل يو ځل د قريشو سردارانو ته وويل: آيا محمد (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) ستاسې په وړاندې خپل مخ په خاورو کې ږدي؟ دوی ورته وويل: هو، نو ده وويل: په لات او عزی قسم يادوم که ما هغه پداسې حال (سجده) کې وليد، نو په غاړه به يې پل ورکيږدم او مخ به يې په خاورو ولړم. بيا وروسته کله چې ابو جهل وليد رسول اکرم (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) لمونځ ادا کوي هغه وروان شو او غوښتل يې چې پر مبارکه غاړه يې پل ورکيږدي، خو خلکو کتل چې بيرته په شا را روان دی او لاسونه يې داسې مخې ته نيولي چې ته به وايې له څه شي نه د ځان دفاع کوي، خلکو ورته وويل: ابو الحکمه! څه خبره ده؟ ده وويل: زما او محمد (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) تر منځ د اور يوه کنده ده، او هغه وزرې لرونکي! رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) فرمايي: (لو دنا مني لاختطفته الملائكة عضوًا عضوًا). [که چېرې ابو جهل ماته را نژدې شوی وای، نو ملائکو به ټوټه ټوټه کړی وای.][٣] دا هغه ظلمونه وو چې د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) په حق کې ترسره کيدل، هغه رسول (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) چې د ټولو په وړاندې عزيز او قدرمن و، او د ابو طالب چې د مکې ډير محترم او مخور شخصيت و تاييد او ملاتړ هم ورسره و، نو ويلی شو هغه ظلمونه چې مشرکانو په نورو اصحابو (رضي الله عنهم) خصوصا هغو

(2). في ظلال القرآن ٢٩ /٣١٢.

(٣). رواه مسلم.

بې وزله او بې کسه کسانو باندې راوستلي وٴ لدې نه څو چنده سخت او دردوونکي وو.
د هرې قبیلې مشرکانو به د خپلې قبیلې مسلمان غړي په ډول ډول عذابونو تعذیبول، او که څوک داسې مسلمان به پیدا شو چې دلته به یې خپل خپلوان نه درلودل بې کسه او بې وطنه به و، نو د قریشو سردارانو به داسې ظلمونه وربانديې کول چې وجدان یې له یاد نه شرمیږي.
ابو جهل به چې خبر شو فلانی سړی مسلمان شویدی، نو که هغه به د مقام او شرف خاوند و د تهدید او اخطار لاره به یې ورسره نیوله، او پدې به یې ویراوه که له اسلام نه وانه وړي نو د ځاني او مالي زیان انتظار دې باسي، او که به دا نوی مسلمان کمزوری او بې وسه و، نو بیا به یې تر متروکو لاندې نیوه او واهه به یې، او د وهلو ټکولو له لاری به یې د هغه د بې لارۍ او ارتداد کوښښ او هڅې کولې[1]. او همدا راز نور خلک به یې هم د هغه په خلاف را پاڅول.
د حضرت عثمان بن عفان (رضي الله عنه) تره به هغه د کجورو په پوزي کې نغښت او بیا به یې له لاندې نه دویه ور پسې لګوله دودونه (لوګي) به یې ورته جوړول.[2]
د مصعب بن عمیر (رضي الله عنه) مور چې کله د خپل زوی له اسلام راوړلو نه خبریږي، نو خپل هغه نازولی او په نعمتونو کې پټ زوی له کوره شړي او دومره لوږه او تنده وربانديې راولي چې هغه نرمه څرمن یې وچږي، درز، درز چوي، او بدن یې لکه د مار په شان پټوکي (پوستکي) اچوي.[3]
بلال بن رباح (رضي الله عنه) چې د امیه بن خلف الجمحي غلام و کله چې په اسلام مشرف شو، نو امیه بن خلف به یې په غاړه کې پړی وراچاوه او هلکانو ته به یې په لاس ورکړ چې د مکې په غرونو کې یې تاو راتاو کړي. پرې به یې غاړه ووهله، امیه به په ډیر شدت سره راکاږه او په لرګي به یې واهه، سره لمرته به یې کیناوه، سخته لوږه به یې وربانديې راوستله، او په ټکنده غرمه کې به یې په سرو شګو کې څملاوه او په سینه به یې لویه تیږه وراینښودله او ورته ویل به یې: قسم په الله چې همداسې به پروت وې تر څو یا ومرې اویا په محمد (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) باندې کافرشې او د لات او عزی عبادت وکړې خو بلال (رضي الله عنه) به په همدې سخت حالت کې ویل: احد، احد (الله یو دی، الله یو دی) تر څو یوه ورځ ابوبکر (رضي الله عنه) تیریده او بلال (رضي الله عنه) یې په همدې حالت کې ولید، نو یې هغه په یوه تور غلام، او

---

(1). ابن هشام ۱/ ۳۲۰.
(2). رحمة للعالمين ۱/ ۵۷.
(3). رحمة للعالمين ۱/ ۵۸. تلقيح فهوم اهل الاثر ص ۲۰.

په بل روایت د سپینو زرو په اوو یا پنځو اوقیو یعنې دوه سوه اتیا درهمه چې له یو کیلو نه زیات سپین زر کیږي او په بل روایت په دوه سوه درهمه چې (۷۳۵) ګرامه سپین زر کیږي، ورنه واخیست او آزاد یې کړ.[۱]

عمار بن یاسر (رضي الله عنهما) چې د بني مخزوم غلام و، ده، مور او پلار یې چې کله ایمان راوړ، نو مشرکانو خصوصاً ابو جهل به هغوی په ټکنده غرمه کې له کوره ایستل او په سرو شګو به یې تعذیبول. یوه ورځ رسول کریم (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) تیریده او دوی هملته په عذاب او ځور کې وو، نو د الله رسول (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) ورته وفرمایل: ((صبرا آل یاسر! فإن موعدکم الجنة)) اې د یاسر اولادې صبر کوئ، ستاسې ځای جنت دی. یاسر د همدې تعذیبونو په نتیجه کې مړ شو، سمیه (د عمار مور) هم د ابو جهل له خوا په فرج کې په نیزه ووهل شوه او په شهادت ورسیده، پدې ترتیب سره نوموړې د اسلام لومړنۍ شهیده شمیرل کیږي. په عمار یې تکلیفونه او عذابونه نور هم زیات کړل، کله به یې سره لمر ته دراوه، او کله به یې پر سینه سرې تیږې ورایښودلې او کله به یې په اوبو کې اچاوه او ورته ویل به یې تر هغې دې نه پریږدو تر څو محمد (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) ته بد ونه وایې، او د لات او عزی ستاینه او په غوره والي یې اعتراف ونکړې! عمار (رضي الله عنه) مجبور شو چې په خوله دا ورسره ومني، خو وروسته په ژړا د رسول کریم (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) حضور ته راغی او عذرونه یې ورته وړاندې کول، نو الله تعالی دا آیت شریف را نازل کړ.[۲]

((مَنْ كَفَرَ بِاللَّه مِنْ بَعْد إِيمَانه إِلاَّ مَنْ أُكْرِهَ وَقَلْبُهُ مُطْمَئِنٌّ بِالإِيمَان...)) (النحل: ۱۰۶)

[هر څوک چې کافر شو پر الله وروسته له ایمان راوړلو (نو پرې غضب دی د الله) مګر هغه څوک چې زور پرې وکړی شو (او مجبوراً یې د کفر کلمه وویله) حال دا چې زړه دده آرام نیوونکی دی په ایمان سره.]

ابو فکیهه چې نوم یې افلح و د بني عبدالدار غلام و، هغوی به یې پښه په رسۍ ترڅله او بیا به یې په ځمکه راکشاوه.[۱]

---

(1). رحمة للعالمین ۱/ ۵۷. تلقیح الفهوم ص ۲۱. ابن هشام ۱/ ۳۱۷ - ۳۱۸.

(2). ابن هشام ۱/۳۱۹ - ۳۲۰، فقه السیرة لمحمد الغزالي ص ۸۲، همدا راز عوفي هم له ابن عباس نه ددې یوه برخه روایت کړیده. د الشیخ عبدالله مختصر السیرةص (۵۳) ته مراجعه وکړه.

(1). رحمة للعالمین ۱/۵۷. من اعجاز التنزیل ص ۵۳.

خباب بن الارت چې د انمار بنت سباع الخزاعیه غلام و هم د مشرکینو له خوا په ډول ډول ربړونو ربړولی شویدی، د سر له ویښتانو به یې رانیوه او راکشاوه به یې، ورمیږ به یې ورتاواوه ډیر ځله به یې په سرو سکروټو ځملاوه او د پاسه به یې تیږې ورباندې اینبودلې چې راپورته نه شي. [۲]

زنیره، نهدیه او لور یې او ام عبیس هغه وینځې وې چې اسلام یې راوړی و، او د اسلام پخاطر یې د مشرکینو له خوا ډیر زیات تکلیفونه او ربړونه ګاللي دي. د بني عدي قبیلې د بني مومل کورنۍ یوې وینځې اسلام راوړ، نو عمر (رضي الله عنه) چې هغه وخت مشرک و همغه وینځه تر هغې ووهله چې ښه ستړی شو او ویې ویل: که ستړی شوی نه وای، نو وهله به مې پسې[۳]. بیا ابوبکر صدیق (رضي الله عنه) دغه وینځې واخیستلې او آزادې یې کړې، لکه څرنګه یې چې بلال او عامر بن فهیره اخستې او آزاد کړي وو.[۴]

مشرکینو به ځینې اصحاب (رضي الله عنهم) د اوښ او یا غوایه په څرمنه کې نغښتل او بیا به یې سره لمر ته اچول، ځینې نورو ته به یې د اوسپنې زغرې وراغوستې او پر سرو تیږو به یې څملول.[۵]

هغه کسان چې د الله تعالی په لار کې ربړیدلي او ځوریدلي ډیر دي، خو په لنډه توګه دا ویلی شو هر چا به چې ایمان راوړ که مشرکان به ورباندې خبر شول، نو په ارام به یې نه پریښود او ډیر عذابونه به یې ورباندې راوستل.

دارالارقم (د ارقم کور)

د مشرکینو ددې شکنجو او فشارونو په مقابل کې د حکمت تقاضا او غوښتنه دا وه چې رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) خپلو اصحابو (رضي الله عنهم) ته هدایت ورکړي خپل اسلام پټ وساتي. همدا راز له هغوی سره خپل لیده کاته هم په پټه تر سره کړي، ځکه هغه پدې پوهیده که چېرې په ښکاره توګه سره غونډ شي نو

---

[۲]. نفس المصدر ۵۷/۱. تلقیح فهوم اهل الاثر ص ۲۰.

[۳]. رحمة للعالمین ۵۷/۱، ابن هشام ۳۱۹/۱

[٤]. ابن هشام ۱/ ۳۱۸ - ۳۱۹.

[٥] رحمة للعالمین ۵۸/۱.

مشرکان به مخالفت کوي او پرې به نړدي چې د الله رسول (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) خپل اصحاب وروزي، د الله کتاب او حکم ورزده کړي.

او دا هم کیدای شوای چې دا ښکاره غونډې د دواړو ډلو تر منځ د تصادم او ټکر سبب شوی وای، لکه څرنګه چې د نبوت په څلورم کال همداسې یوه پیښه وشوه. پیښه داسې وه چې اصحاب (رضي الله عنهم) به په یوه خوړ کې سره راټولیدل او هلته به یې په پټه لمونځونه کول، یوه ورځ مشرکینو ولیدل نو بد رد یې ورته وویل او بالاخره یې ترمنځ جګړه ونښته، سعد بن ابي وقاص (رضي الله عنه) یو سړی وواهه او وینې یې پرې راماتې کړې او دا په اسلامي تاریخ کې لومړۍ پیښه وه چې وینې پکې تویې شوې.[1]

څرګنده ده که چېرې دغه ډول ټکرونه په پرله پسې او مکرر ډول پیښ شوي وای نو دا به حتماً د مسلمانانو د ورکې او تباهۍ سبب کیدل. نو د حکمت غوښتنه دا وه چې اصحاب (رضي الله عنهم) خپل اسلام، عبادت، دعوت او غونډې پټې وساتي.

خو رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) به پخپله عبادت په ډاګه تر سره کاوه، او خپل دعوت به یې هم په ښکاره توګه مشرکینو ته اعلانوه، کـه څه هم له اصحابو (رضي الله عنهم) سره به یې لیده کاته په پټه و، او دا هم د اسلام او مسلمانانو د مصلحت پخاطر.

او څرنګه چې د ارقم بن ارقم المخزومي کور د صفا پر غونډۍ او د مشرکینو له نظر نه ګوښه پروت و، نو رسول (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) همدغه ځای له مسلمانانو سره د غونډو لپاره مناسب وباله او د نبوت له پنځم کال نه یې همدا کور د خپل دعوت مرکز وټاکه.[2]

حبشې ته لومړنی هجرت

په مسلمانانو باندې د مشرکینو ظلمونه د نبوت د څلورم کال په منځنۍ او یا آخرینۍ برخه کې پیل شول، دغه ظلمونه په لومړي سر کې لږ خو ورځ په ورځ مخ په زیاتیدو وو تر څو چې د پنځم کال په نیمایي کې خپل اوج ته ورسیدل. مسلمانان دومره په تنګ شول چې نور یې په مکه کې ټیکان نه شوی کولی، او پدې فکر کې وو چې لدې عذاب

---

(1). ابن هشام ۱/ ۲۲۳. مختصر سیرة الرسول لمحمد بن عبدالوهاب ص ۲۰.

(2). نفس الصدر الاخیر ص ۲۱.

نه څه ډول ځانونه خلاص کړي. په همدې سختو شپو او ورځو کې د کهف سورت رانازل شو، دې سورت د مشرکینو هغه پوښتنې ځواب کړې چې له رسول (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) نه یې کړې وې، خو ددې تر څنګ یې دری داسې کیسې هم بیان کړې چې په هره یوه کې د مسلمانانو لپاره ښکاره هدایات او لارښوونې دي. د اصحاب الکهف کیسه دا په ګوته کوي چې کله مسلمانان د دین له پلوه له خطر سره مخ شي نو باید په الله باندې په توکل سره د کفر او ظلم له مرکز نه د امن ځای ته هجرت وکړي، الله تعالی فرمایي:

((وَإِذْ اعْتَزَلْتُمُوهُمْ وَمَا يَعْبُدُونَ إِلاَّ اللَّهَ فَأْوُوا إِلَى الْكَهْفِ يَنشُرْ لَكُمْ رَبُّكُمْ مِنْ رَحْمَتِهِ وَيُهَيِّئْ لَكُمْ مِنْ أَمْرِكُمْ مِرفَقاً)) (الکهف: ١٦) [او کله چې په تنګ شوئ تاسې له دغو مشرکانو او له هغو (بتانو) چې عبادت یې کوي دوی بې له الله نه، نو ځای ونیسئ هغه غارته (او دیره شئ پکې) خپور به کړي تاسې ته رب د تاسې له رحمته خپل او تیار به کړي تاسې ته له کار ستاسې اسباب د ګزران (او خوشالۍ).]

د حضرت خضر او موسی (علیه السلام) کیسه دا ښیي چې د حالاتو او واقعاتو نتیجه او پای تل داسې نه وي لکه څرنګه چې په ظاهره معلومیږي، بلکه ډیر ځله داسې کیږي چې د پیښو او حالاتو نتیجه د ظاهري شکل بالکل مخالفه او بر عکس وي، او دا دې ته اشاره کوي چې دا د مسلمانانو او مشرکینو ترمنځ پیل شوې جګړه به بالکل د اوسنۍ ظاهري بڼې په خلاف وي، پدې معنی چې همدا مشرکین او ظالمان به چې اوس یې د مسلمانانو په خلاف جګړه پیل کړې، که چېرې اسلام را نه وړي، حتماً به د همدې مظلومو مسلمانانو په وړاندې له ماتې او رسوایۍ سره مخ کیږي.

د ذوالقرنین کیسه دا ثابتوي چې ځمکه د الله تعالی ده هر چا ته چې وغواړي همغه ته یې په میراث ورکوي، او همدا راز دا په ګوته کوي چې بری او نیکبختي په ایمان کې ده، نه په کفر کې، او بله دا چې الله تعالی همیشه د خپلو مظلومو بندګانو د مرستې او د زمانې د یاجوج او ماجوج له شرنه د هغوی د نجات لپاره خپل ځنې بندګان رالیږي. دا کیسه دا هم ښیي چې د ځمکې د واکدارۍ تر ټولو مستحق خلک د الله تعالی صالح بندګان دي.

پدې پسې بیا د ((الزمر)) سورت را نازل شول، دا سورت د هجرت پلوته اشاره کوي او دا اعلانوي چې د الله تعالی ځمکه ډیره پراخه ده، قرآنکریم فرمایي: ((لِلَّذِينَ أَحْسَنُوا فِي هَذِهِ الدُّنْيَا حَسَنَةٌ وَأَرْضُ اللَّهِ وَاسِعَةٌ إِنَّمَا يُوَفَّى الصَّابِرُونَ أَجْرَهُمْ بِغَيْرِ حِسَابٍ)) (الزمر: ١٠). [شته هغوکسانو ته چې نیکي یې کړیده په دغه دنیا کې (په طاعت سره)

نيکي (په آخرت کې چې جنت او رضوان دی) او ځمکه د الله ارته ده، بيشکه همدا خبره ده پوره ورکولی شي صابرانو ته اجر (ثواب) د دوی بې حسابه (ډير زيات).]

رسول (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) خبر و چې د حبشې پاچا اصحمه (النجاشي) يو عادل سړی دی، او په پاچاهۍ کې يې ظلم او زياتی نشته، نو يې مسلمانانو ته امر وکړ چې حبشې ته هجرت وکړي.

پدې ترتيب سره د نبوت په پنځم کال د رجب په مياشت کې د اصحابو (رضي الله عنهم) لومړنۍ ډلې چې دوولس سړي او څلور ښځې پکې وې د عثمان بن عفان (رضي الله عنه) تر مشرۍ لاندې حبشې ته هجرت وکړ. له عثمان (رضي الله عنه) سره يې بي بي چې د رسول کريم (صلی الله عليه وسلم) لور وه او حضرت رقيه (رضي الله عنها) نومیدله هم ملګرې وه. رسول اکرم (صلی الله عليه وسلم) ددې دواړو په هکله فرمايلي:

((**إنهما أول بيت هاجر في سبيل الله بعد إبراهيم و لوط (عليهما السلام)**))[1].

يعنی: له ابراهيم او لوط (عليهما السلام) وروسته دوی دواړه (عثمان او رقيه رضي الله عنهما) لومړنۍ کورنۍ ده چې د الله په لاره کې هجرت کوي.

نومورې مهاجرين ددې پخاطر چې قريش ورباندې خبر نشي د شپې په تياره کې په پټه سره له مکې نه ووتل او د الشعيبه نومې بندرګاه په لور لاړل، هلته ورته خدای دوې تجارتی کښتۍ برابرې کړې او حبشې ته يې يووړل. قريش چې ورباندې خبر شول ورپسې ووتل، خو هغه وخت بندر ته ورسيدل چې هغوی مخکې په خير او سلامتۍ سره تللي وو. پدې ډول سره نومورې مسلمانان حبشې ته لاړل او هلته يې د امن ژوند پيل کړ.[2]

د همدې کال د رمضان په مياشت کې رسول الله (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) حرم ته لاړ، چېرته چې د قريشو يو زيات شمير مشران او لويان موجود وو، رسول الله (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) پاڅيد او په ناڅاپي توګه يې د (النجم) سورت تلاوت کړ، پداسې حال کې چې دې کفارو مخکې لدينه د الله تعالی کلام نه و اوريدلی، ځکه د هغوی اسلوب او لاره داسې وه چې قرآنکريم ته به يې غوږ نه نيوه، او يو بل ته به يې توصيه کوله چې د الله تعالی کلام وانه وري، قرآنکريم د دوی دې کارته اشاره کوي او فرمايي: ((**وَقَالَ الَّذِينَ كَفَرُوا لا تَسْمَعُوا لِهَذَا الْقُرْآنِ وَالْغَوْا فِيهِ**

---

[1]. مختصر سيرة الرسول للشيخ عبدالله النجدي ص ۹۲ – ۹۳. زاد المعاد ۱/ ۲۴. رحمة للعالمين ۱/ ۲۱.

(2). رحمة للعالمين ۲۱/۱. زاد المعاد ۲۴/۱.

لَعَلَّكُمْ تَغْلِبُونَ)) (فصلت: ٢٦) [او وايي هغه کسان چې کافران شويدي (په وخت د قرائت (د قرآن) چې مه اورئ دغه قرآن (چې محمد يې لولي) او شور ما شور واچوئ (په وخت د لوستلو د) ده کې ښايي چې تاسې غالب شئ (پرې اوله تبليغه يې ساکت کړئ).]

خو دلته چې رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) د قرآنکريم دا سورت ورته تلاوت کړ، او د الله تعالى هغه اوچت، ښکلى او عظيم کلام يې ور واوراوه چې انساني ذهن او ژبه يې له بيان نه عاجز دي، نو د مشرکينو حالت يو ځل بدل شو، پخواني وصيتونه يې هير کړل، ټولو په ډير دقت قرآن کريم اوريدو، يوازې همدې ته غوږ وو، نور هر څه ورنه هير شول، تر دې چې ددې سورت وروستي آيتونه يې ورته تلاوت کړل هغه چې لهجه يې دومره تنده او سخته ده چې زړونه ويلې کوي، او کله يې چې دا آيت ((**فَاسْجُدُوا لِلَّهِ وَاعْبُدُوا**)) (النجم: ٦٢) [پس سجده کوئ تاسې (خاص) الله ته او عبادت کوئ د هم دغه (الله (جل جلاله) نه د نورو)] تلاوت کړ او رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) سجده وکړه، نو يو ځل ټول په سجده پريوتل، ځکه د حق قوت د هغوى عناد، کبر او باطل له مينځه يووړ او ټول د خداى په وړاندې سر په سجده شول.[1] خو کله چې متوجه شول چې د الله تعالى کلام د هغوى حالت بدل کړى، او هغه څه يې پخپله وکړل چې د له مينځه وړلو پخاطر يې خپل ټول توان په کار اچولى و، او ددې تر څنګ هغو مشرکينو چې پدې مجلس کې حاضر نه وو دغه سجده کوونکي مشرکين ډير ورټل، پړه او ملامتي يې ورباندې اچوله، نو له همدې ځايه وه چې هغوى په رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) پورې دروغ وټړل او داسې افتراء يې جوړه کړه چې ګويا رسول اکرم (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) د هغوى د بتانو ستاينه وکړه او داسې يې وويل: ((**تلك الغرانيق العلى، و إن شفاعتهن لترتجى**)) [دا اوچت ديوان دي، چې د شفاعت هيله او اميد يې کيږى]. دوى دا دروغ او افتراء ددې پخاطر جوړ کړل تر څو خپله هغه سجده توجيه کړي چې له رسول (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) سره يو ځاى يې کړې وه او تر څو دا د هغې په هکله د عذر او دليل په توګه وړاندې کړي. او دا څه نوې او عجيبه خبره نه وه چې هغوى کړې وه

---

[1]. امام بخاري ددې سجدې کيسه په لنډه توګه له ابن مسعود او ابن عباس (رضي الله عنهم) نه روايت کړى. د معلوماتو لپاره د باب سجدة النجم او باب سجود المسلمين و المشركين ١/ ١٤٢ او باب ما لقي النبي (صلى الله عليه وسلم) و اصحابه من المشركين بمكة. ١/ ٥٤٣ وګوره.

بلکه هغوی به تل همداسې دروغ او افتراګانې جوړولې.[۱]
دغه خبر په نیمګړې توګه په حبشه کې مهاجرینو ته ورسید، د پیښې له واقعیت او حقیقت نه پوره خبر نه وو، داسې یې واوریدل چې ګویا قریشو اسلام راوړی، نو د همدې کال د شوال په میاشت کې بیرته مکې ته راستانه شول، خو کله چې مکې ته را ننوتل شول او د موضوع په حقیقت خبر شول نو ځنې یې بیرته حبشې ته ورګرځیدل، او نور یې یا په پټه توګه او یا د کوم چا په ضمانت او تړون مکې ته ننوتل.[۲]

حبشې ته دوهم هجرت

وروسته قریشو په همدوی (له حبشې نه بیرته راغلیو) او ټولو مسلمانانو باندې خپل ظلمونه څو چنده کړل. مشرکینو دا هم نه شوای زغملای چې مسلمانان دې د نجاشي په پاچاهۍ کې د امن ژوند ولري، دا ډیره سخته وربانديې تمامیدله. او چې پر مسلمانانو یې ظلمونه زیات شول نو رسول اکرم (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) لازمه ولیده چې یو ځل بیا خپلو اصحابو (رضي الله عنهم) ته حبشې ته د هجرت امر وکړي، خو دا دوهم هجرت مشکل و، ځکه قریش ورته بیدار او تیار وو کوښښ یې وکړ چې دا هجرت ناکام کړي، خو الله تعالی مسلمانانو ته لاره اواره کړه او د نجاشي وطن ته ورسیدل.
دا ځل مهاجرین دري اتیا (۸۳) سړي (که عمار هم ورسره وشمیرل شي، ځکه پدې هکله اختلاف دی چې آیا عمار هم ورسره واو که نه) اتلس (۱۸) یا (۱۹) نولس ښځې وې.[۳]
علامه محمد سلیمان منصور پوري لومړنۍ شمیره تاییدوي او په ټینګار سره وایي چې پدې هجرت کې د ښځو شمیره اتلس وه.[1]

په حبشه کې د مهاجرینو په خلاف د قریشو توطئه

---

[۱]. تفهیم القرآن ۵/ ۱۸۸. محدثین هم همدا توجیه تاییدوي.
[۲]. نفس الصدر (تفهیم القران) ۱۸۸/۵. زاد المعاد ۲۴/۱، ۲/ ۴۴. ابن هشام ۳۲۴/۱.
[۳]. زاد المعاد ۲۴/۱. رحمة للعالمین ۲۱/۱.
[1]. نفس المصدر الاخیر (رحمة للعالمین).

مشرکینو دا نشوای زغملای چې مسلمانان دې په امن ژوند وکړي، او هلته حبشه کې دې همداسې په امن پاتې شي، نو یې عمرو بن العاص او عبدالله بن ابي ربیعه چې دواړه ډیر پوه او ځیرک سړي وو حبشي ته واستول. د نجاشي او د هغه د درباریانو لپاره یې ډیرې قیمتي تحفې هم ورکړې. نومورو د نجاشي درباریانو ته هغه تحفې وړاندې کړې او ټول هغه دلایل یې وروښوول چې باید مسلمانان ورباندې وشړل شي. او کله چې درباریان پدې راضي شول چې نجاشي ته به د مسلمانانو د شړلو مشوره ورکوي، نو دوی دواړه نجاشي ته وروړاندې شول، تحفې یې ورکړې او ورته ویې ویل:

اې پاچا! ستا وطن ته داسې څو کم عقله ځوانان راغلي دي، چې د خپل قوم دین یې پریښی او ستا دین یې هم ندی منلی، د ځان لپاره یې یو نوی دین غوره کړی، دا داسې یو دین دی چې نه یې مونږ پیژنو او نه تاسې، نو اوس د هغوی پلرونو، ترونو، خپلوانو او د قوم مشرانو مونږ تا ته رالیږلي یو چې هغوی بیرته وروا ستوی (لدې ځای نه یې وباسې)، ځکه هغوی د دوی په احوال ښه خبر دي، د دوی عیبونه ښه ورته معلوم دي او پدې هکله یې ملامت کړي او رټلي هم دي.

درباریانو هم ورته وویل: زمونږ پاچا! دوی رښتیا وایي، هغوی (مهاجرین) دې دواړو ته وسپاره تر څو خپل وطن او قوم ته یې بوزي.

خو نجاشي وغوښتل چې د مسئلې په ټولو اړخونو ځان پوه کړي او له دواړو خواوو نه دلایل واوري. مسلمانان یې راوغوښتل، هغوی پدې اتفاق کړی و چې رښتیا به وایي نور که هر څه پیښیږي پیښ دې شي. او کله چې دربار ته راغلل، نجاشي ورته وویل: دا کوم دین دی چې په هغه سره مو خپل قوم پرې ایښی، زما او یا لدې موجوده ادیانو نه بل کوم دین مو هم ندی منلی؟

په ځواب کې جعفر بن ابي طالب (رضي الله عنه) د مسلمانانو په نمایندګۍ وویل: اې پاچا! مونږ د جاهلیت په تیارو کې ژوند کاوه، د بتانو عبادت به مو کاوه او مردارې به مو خوړلې، فساد او فحشاء عمومیت درلود د خپلوې اړیکې به مو شلولې، د ګاونډیتوب حقوق مو نه مراعاتول، د زور خاوندانو به د بې وزله خلکو وینې زیښنلی. مونږ په همداسې یوه حالت کې وو چې الله تعالی زمونږ له مینځ نه رسول راته راواستاوه، داسې رسول چې مونږ یې د توحید او د یوه خدای د عبادت په لور دعوت کړو، او دا یې راته وښوول چې د توحید لاره غوره کړو، د تیږو او بتانو عبادت چې مونږ او زمونږ پلرونو به کاوه پریږدو. نومورې (رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم)) مونږ ته دا امر کړی چې رښتیا به وایو، امانت به ساتو، د خپلوې اړیکې به ټینګې او مضبوطه وو، له ګاونډیانو سره به نیکي کوو، له وینې تویولو او محارمو نه

به ځان ساتو. له هر ډول فساد او فحشاء، دروغو، د يتيم له مال خوړلو، په پاک لمنو ښځو پسې له تور او تهمت ويلو نه يې په کلکه منع کړي يو. او دا امر يې راته کړی چې يوازې د يوه الله عبادت به کوو، له هغه سره به شريک نه نيسو. د لمانځه او روژې امر يې راته کړی، او داسې نور اسلامي امور يې ورته ياد کړل زياته يې کړه :

نو مونږ هم د هغه خبره ومنله او ايمان مو وربانديې راوړ، او هغه دين مو ومانه چې د الله تعالی له لوري نه يې راته راوړی دی. د يوه الله عبادت مو پيل کړ، هيڅ شريک نه ورسره نيسو، څه يې چې حرام کړي هغه حرام او څه يې چې روا بللي هغه روا شميرو. او همدا وجه وه چې زمونږ قوم پر مونږ ظلمونه پيل کړل، ډير يې وکړولو تر څو د الله تعالی له عبادت نه مو واړوي، او بيرته د بتانو عبادت پيل کړو او بيرته هماغه خباثت او جاهليت ته وګرځو. هغوی په مونږ هر ډول ظلمونه وکړل، مونږ يې نه پريښودو چې خپل ديني شعائر ادا کړو، مونږ يې له خپل دين نه منعې کولو، نو مجبور شو چې خپل وطن پريږدو او ستا وطن ته راشو، مونږ ته غوره کړئ يې، او ستا ګاونډيتوب مو اختيار کړئ، او دا هيله لرو چې ستا په پاچاهۍ کې په مونږ ظلم ونشي.

نجاشي ورته وويل له هغه څه نه چې رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) د الله تعالی له لوري راوړي، څه شی درسره شته؟

جعفر (رضي الله عنه) ورته وويل: هو. نجاشي ورته وويل: نو راته ويی لوله. جعفر (رضي الله عنه) د (کهيعص) د پيل څو آيتونه ورته تلاوت کړل. نجاشي دومره وژړل چې ږيره يې لمده شوه، اساقفه (ديني عالمانو) هم د قرآنکريم په اوريدو سره وژړل. بيا نجاشي ورته وويل: قسم په خدای چې دا او هغه څه چې حضرت عيسی (علیه السلام) راوړي دواړه له يوې منبعې نه سر چينه اخلي. بيا يې عمرو بن العاص او عبدالله بن ابي ربيعه ته په خطاب سره وويل: چې لاړ شئ قسم په خدای چې دوی به تاسې ته ونه سپارم. نو هغوی دواړه له نجاشي نه راووتل. بيا عمرو بن العاص خپل ملګري عبدالله بن ابي ربيعه ته وويل: سبا به زه ورسره ګورم، داسې کار به پرې وکړم چې دوی به هم حيران شي بيخې به يې وربانديې ورک کړم. عبدالله بن ربيعه ورته وويل: نه، داسې مه کوه، ځکه هغوی هم خپلوان لري، که څه هم له مونږ سره مخالف دي. خو عمرو بن العاص پخپل نظر ټينګار کاوه او د عبدالله خبره يې ونه منله.

په سبا يې نجاشي ته وويل: اې پاچا! آيا ته خبر يې چې دا خلک (مهاجرين) دعيسی (علیه السلام) په هکله څه وايي؟ نجاشي هغوی راوغوښتل چې پوښتنه ورنه وکړي چې د عيسی (علیه السلام) په هکله څه عقيده لري؟ هغوی لومړی وويريدل خو بيا يې

په ربښتيا ويلو اتفاق وکړ، او دربار ته ورغلل. نجاشي ورنه پوښتنه وکړه. جعفر (رضي الله عنه) ورته وويل: مونږ د عيسى (عليه السلام) په هکله هغه څه وايو چې زمونږ نبي (عليه السلام) راته راوړي دي، مونږ وايو چې عيسى (عليه السلام) د الله بنده، د الله رسول او د الله روح او هغه کلمه ده چې پاک لمنې او پيغلې مريمې ته يې القاء کړې وه.
ددې خبرې په اوريدو سره نجاشي له ځمکې نه يو ډکی را اوچت کړ او ويې ويل: قسم په خدای چې عيسى (عليه السلام) لدينه چې تاسې وويل ددې ډکي په اندازه هم اخوا ديخوا ندی. درباريان يې وپښېدل او وځمبيدل، نجاشي ورته وويل: که تاسې هر څو وپښېږئ خبره همداسې ده.
بيا يې مسلمانانو ته وويل: ځئ، تاسې زما په ملک کې په امن يې، که چا درته بد وويل، جريمه به شي، دری ځله يې دا خبره وکړه، زياته يې کړه، که څوک راته د سرو زرو غرونه هم راکړي له تاسو نه کوم يوه ته به تکليف او اذيت رسولو ته زړه ښه نکړم.
بيا يې خپلو کسانو ته امر وکړ چې ددې دواړو تحفې بيرته ورکړي، زه ورته څه اړه نلرم، قسم په خدای، الله تعالى چې کله ماته خپله پاچايي بيرته راکړې نو رشوت يې ندی رانه اخيستی، تر څو زه پدې لاره کې رشوت واخلم، همدارنګه الله تعالى زما په هکله د خلکو خبرې ندي منلې چې اوس زه د الله تعالى په هکله د خلکو خبرې ومنم.
ددې کيسی روايت کوونکې ام سلمه (رضي الله عنها) وايي: هغوی دواړه له خپلو تحفو سره په ډير شرم او خجالت سره راووتل، او مونږ هملته په همغه غوره ځای او له غوره ګاونډي سره پاتې شوو.[1]
دا د ابن اسحاق روايت دی نور وايي چې عمرو بن العاص نجاشي ته له بدر نه وروسته ورغلی و، ځنې نور وايي چې عمرو بن العاص دوه ځله حبشې ته ورغلی و.[2]
خو هغه روايتونه چې وايي عمرو بن العاص دوه ځله حبشې ته ورغلی و، دوی په دوهم ځل ورتګ کې تقريباً هماغه سوال او ځواب رانقلوي کوم چې په لومړي ځل کې د جعفر (رضي الله عنه) او نجاشي تر مينځه شوی او ابن اسحاق رانقل کړی دی. او بله دا چې د همدې سوال او ځواب موضوع او مطلب پدې دلالت کوي چې دا مناقشه د نجاشي په وړاندې په لومړنۍ مرافعه کې تر سره شوې وه.
د مشرکينو دا توطئه شنډه شوه، مکر او فريب يې ونه چليده، او پدې پوه شول چې د خپلو پولو نه اخوا د دوی مکرونه اغيزه نلري، نو په بل فکر کې شول، او بالاخره دې نتيجې ته ورسيدل چې ددې مشکل حل دا دی چې رسول اکرم (صلى الله عليه و اله و

---

[1]. ابن هشام (لنډيز) ۱/ ۳۸۴ تر ۳۳۸.
[2]. مختصر سيرة الرسول للشيخ عبدالله النجدي ص ۹۲ - ۹۸.

صحبه و سلم) له خپل دعوت نه واړوي او که نه اعدام يې کړي، خو پدې لاره کې ستر خندې ابو طالب و ځکه هغه د خپل وراره ترخوا ولاړ و او د مشرکينو له ظلمونو نه يې خوندي ساته، نو مشرکينو تصميم ونيو چې پدې هکله له ابو طالب سره مقابله وکړي.

قريش ابو طالب تهديدوي

د قريشو مشران او مخور خلک ابو طالب ته ورغلل او ورته ويې ويل: اې ابو طالبه! ته زمونږ يو شريف مشر يې، په ډير اهميت درته قايل يو، مونږ درنه غوښتي و چې خپل وراره لدې دعوت نه منع کړې خو تا هغه منع نکړ، نو مونږ نور دا نه شو زغملای چې زمونږ پلرونو ته دې بد رد وويل شي، زمونږ په عقلونو پورې دې ملندې ووهل شي، او زمونږ معبودان دې توهين او ورټل شي او خبرې دې ورپسې وشي، ستا خوښه وراره دې لدې کارنه اړوې او يا زمونږ سره مخامخ جګړه اعلانوې تر څو چې يو طرف تباه او مسئله هواره شي.

په ابو طالب باندې دا تهديد او اخطار سخت تمام شو، خپل وراره حضرت محمد (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) يې راوغوښت او ورته ويی ويل: وراره! ستا د قوم خلک راته راغلي وو، داسې خبرې يې راته وکړې، نو لږ زما او د خپل ژوند خيال وساته، او ما په داسې څه مه مجبوره وه چې له وسه مې اوچت وي. رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) ګومان وکړ لکه چې تره يې هم د ده مرسته پرېښوده نور کومک نه ورسره کوي، نو ويی فرمايل: ((**يا عم، و الله لو وضعوا الشمس في يميني و القمر في يساري على أن أترك هذا الامر – حتى يظهره الله أو أهلك فيه ما تركته**) اې تره! قسم په خدای که هغوی لمر راته په ښي لاس او سپوږمۍ راته په چپ لاس کې راکړي چې دا کار پرېږدم، خو زه به دا کار (دعوت) تر هغې پورې پرې نه ږدم چې يا يې الله تعالى بريالی کړي او يا يې زه په لاره کې ووژل شم. دا خبره يې وکړه له سترګو يې اوښکې روانې شوې او پاڅيد. ابو طالب غږ پسې وکړ، هغه مخ ورته راواړوه، نو ده ورته وويل: وراره! ورځه څه دې چې زړه وي هماغه وايه، قسم په الله چې له مرستې به دې لاس وانخلم او نه به دې چاته پرېږدم[1]. او بيايې دا شعر ووايه:

والله لن يصـــلوا إليك بجـــمعهم حتى أوســـد في التـــراب دفينا

---

[1]. ابن هشام ۱/ ۲۲۵ - ۲۲۲.

فاصدع بأمرك ما عليك غضاضة وابشر و قربذلك منك عيونا(۲)

[قسم په خدای که هغوی له خپلو دې ټولیو سره تر هغې تا ته در ورسیدی شي، تر څو زه په خاورو کې ښخ شوی نه یم. خپله خبره په ډاګه کوه په تا هیڅ اعتراض نشته، خوشاله اوسه او سترګې دې پدې سره روښانه.]

قریش د دوهم ځل لپاره د ابو طالب په وړاندې

کله چې قریشو ولیدل رسول اکرم (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) خپل دعوت په مخ بیایي، ابو طالب هم د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) مرسته نه پریږدي، او پدې لاره کې د قریشو دښمنۍ او مقابلې ته تیار دی. نو مشرکان سره راټول شول او عماره بن ولید بن مغیره یې ابو طالب ته ورووست او ورته ویې ویل: ابو طالبه! دا د قریشو تر ټولو غیرتي، پوه او ښکلی ځوان دی، ته دا واخله له عقل او قوت نه یې ګټه اخله، او د ځان لپاره یې زوی ونیسه په بدل کې یې خپل هغه وراره مونږ ته راکړه کوم چې ستا او ستا د پلرونو له دین نه اوړیدلی، په قوم کې یې بې اتفاقي اچولې، تر څو مړ یې کړو، سړی به دې په سړي وي نور څه غواړې؟

ابو طالب ورته وویل: دا ستاسې ډیره غلطه فیصله ده او دا څومره خرابه سودا ده چې له ماسره یې کوئ. تاسې خپل زوی ددې لپاره ماته راکوئ چې درته لوی او چاغ یې کړم او له مانه غواړئ خپل زوی درته وسپارم چې مړ یې کړئ، قسم په الله چې هیڅکله به هم داسې ونشي. پدې وخت کې مطعم بن عدي بن نوفل بن عبد مناف وویل: ابو طالبه! دې خلکو د انصاف خبره درته وکړه، هغوی له خپله طرف ډیرې هلې ځلې وکړې او څه چې نه خوښوي له هغه نه د خلاصون هڅې یې هم وکړې، خو ته نه غواړې چې د دوی پیشنهادونه ومنې! ابو طالب ورته وویل: قسم په خدای که دا انصاف وي، تاسو بالکل د انصاف خبره نده کړې، تا زما د ذلت پریکړه کړیده، او لدې قوم سره زما په خلاف دریدلی یې، نو هر څه چې کوې کوه یې.[1]

تاریخي مصادرو ددې دواړو لیدنو او یا په بل عبارت ابو طالب ته د قریشو ددې پیشنهادونو وخت او نیټه نده ښوولې، خو د قرائنو او شواهدو له لیدو او پلټلو وروسته دا په ډاګه کیږي چې دا دواړه پیښې د نبوت د شپږم کال په منځنۍ برخه کې

(2). مختصر سيرة الرسول للشيخ محمد بن عبدالوهاب النجدي ص ۲۸.

(1). ابن هشام ۱/ ۲۲۲ – ۲۲۷.

واقع شوې، او د دواړو لیدنو تر مینځ ډیره کمه موده وه.

د رسول اکرم (ﷺ) د مرګ توطئه

کله چې د مشرکینو دا چلونه ټول ناکام شول او لدې لارې نه یې څه تر لاسه نشوای کړی، نو یې بیرته هماغه د ظلم او زیاتي پخوانۍ لاره ونیوه، خپل ظلمونه او وحشتونه یې څو چنده کړل، او پدې لټه کې شول چې رسول اکرم (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) له کومې لارې په شهادت ورسوي. خو د دوی دا فریب او چل هم بیرته د دوی په زیان او د مسلمانانو په ګټه تمام شو، او د قریشو د همدې ظلمونو او همدې توطئې په نتیجه کې د مکې دوه قهرمانان حمزه بن عبدالمطلب او عمر بن الخطاب (رضي الله عنهما) په اسلام مشرف شول.

د قریشو لدې وحشتونو او ظلمونو نه دلته څو د مثال په توګه وړاندې کوو: یوه ورځ عتیبه بن ابي لهب رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) ته ورغی او ورته ویی ویل: زه په ((**وَالنَّجْمِ إِذَا هَوَى**)) کافر یم، او((**دَنَا فَتَدَلَّى**)) نه منم. ورپسې یې د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) کمیس ورځیرې کړ، په مخ یې ورتف کړل خو لاړې یې ورباندې ونه لګیدې. پدې وخت کې رسول اکرم (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) ښیره ورته وکړه او ویی فرمایل: (**اللهم سلط علیه کلبا من کلابك**) اې خدایه! له خپلو سپیو نه یو سپی ورباندې و ګماره. الله تعالی د خپل رسول (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) دا دعا قبوله کړه، څه وخت وروسته عتیبه بن ابي لهب د قریشو له یوې ډلې سره په سفر لاړ او کله یې چې د شام په (زرقا) نومې ځای کې واړول، په همدې شپه یو زمری راغی، عتیبه چې ولید نو ویی ویل: افسوس اې وروره! قسم په خدای چې دا زمری به ما خوري، لکه څرنګه چې محمد (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) ښیره راته کړیده، اوس هغه په مکه کې دی خو زه یې دلته (په شام کې) ووژلم. زمري ورباندې ور ټوپ کړ، له سر نه یې راونیو دانګې دانګې یې کړ.[1]

ویل کیږي چې یو ځل رسول اکرم (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) د الله په حضور کې سر په سجده ایښی و چې عقبه بن ابي معیط راغی او د الله د رسول پر مبارکه

---

[1]. تفهیم القران ۲/ ۵۲۲ ، الاستیعاب، الاصابة، دلائل النبوة، الروض الانف، مختصر سیرة الرسول للشیخ عبدالله النجدي ص ۱۳۵.

غاړه يې پښه ورکيښوده او دومره زور يې ورباندې وکړ چې نژدې وه د رسول کريم (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) مبارکې سترګې راووزي.[۲]

دا چې د قريشو طاغوتيانو غوښتل رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) په شهادت ورسوي، ددې خبرې د صحت او اثبات لپاره د ابن اسحاق هغه اوږد روايت کافي دی چې وايي:

ابو جهل وويل: اې قريشو، وينئ چې محمد (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) زمونږ دين عيبجن کوي، عيوب يې بيانوي، زمونږ پلرونو ته بد وايي، زمونږ په عقلونو پورې خاندي، زمونږ معبودان هم کنځي، نو زه له خدای سره عهد کوم چې يوه دومره لويه تيږه به اخلم چې پورته کولی يې شم او کله چې هغه (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) سجده وکړه نو په ده سره به يې وروولم چې ککره يې ميده ميده شي. تاسې بيا ما و ساتئ او دفاع رانه وکړئ، بيا دې د بنو عبد مناف لاس خلاص وي څه چې کړی شي ويې دې کړي. قريشو ورته وويل: قسم په خدای که دې هيڅا ته هم ورکړو، ته خپل کار وکړه، مونږ درسره يوو.

سبا سهار ابو جهل همداسې يوه تيږه واخيسته او د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) په انتظار کيناست. رسول اکرم (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) د خپل عادت سره سم راغی او په عبادت يې پيل وکړ، قريش هم ټول راغلي وو او پخپلو ځايونو ناست وو، کتل يې چې ابو جهل څه کوي. کله چې رسول اکرم (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) په سجده پريوت، ابو جهل هغه تيږه راپورته کړه او د رسول (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) په خوا ور روان شو، خو چې ور نژدې شو په ويره سره په شا راغی بڼه يې الوتې وه، دومره ويرې اخيستی و چې تيږه يې له لاسونو خطا شوه او پر ځمکه ولويده. د قريشو مشرکان ورپورته شول او ورته ويې ويل: څه درباندې وشول اې ابا الحکمه؟ ده ورته وويل: زه ور روان شوم تر څو لکه پرون مې چې تاسې ته ويلی و هغه تيږه يې په سر وروولم، خو کله چې ورلنډ شوم يو داسې اوښ مې مخې ته راغی چې ډير لوی سر او لوی لوی غاښونه او اوږده غاړه يې درلوده او ما پخپل ژوند کې داسې اوښ ندی ليدلی غوښتل يې ما وخوري.

ابن اسحاق وايي: اوريدلي مې دي چې رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) فرمايلي: ((ذلك جبريل (عليه السلام) لو دنا لأخذه)) هغه جبريل (عليه السلام) و

(2). مختصر سيرة الرسول لعبد الله النجدي ص ۱۳۳.

که نژدې شوی وای نو را نيولی به يی وای.[1]
ورپسې ابو جهل له رسول اکرم (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) سره هغه څه وکړل چې د حمزه بن عبدالمطلب (رضي الله عنه) د اسلام راوړلو سبب شول او په راتلونکير کې به ورنه يادونه وکړو.
د قريشو طاغوتيانو د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) د قتل توطئه په خپلو زړونو کې ښه پخه کړې وه. ابن اسحاق له عبدالله بن عمرو بن العاص نه روايت کوي چې وايي: قريش د کعبې تر خوا غونډ ناست وو، زه هم ورغلم او له دوی سره کيناستم. د رسول اکرم (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) په هکله يې خبرې پيل کړې او ويل يې مونږ لدې سړي سره له دومره صبر او حوصلې نه کار واخيست چې بل هيڅا ته مو هم دومره صبر ندی کړی. دوی همدا خبرې کولی چې رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) رابنکاره شوه، راغی حجر اسود يې مچې کړ د بيت الله طواف يې پيل کړ او کله چې د طواف په ضمن کې له قريشو نه تير شو، نو دوی ځنې بدې خبرې ورته وکړې، طعنې يې ورکړی. ما د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) په مبارک مخ کې ددې خبرو اثر وليد. دوهم ځل چې بيا ورنه تير شو بيايې همغسې بدې خبرې ورته وکړې، بيا مې هم ددې خبرو اثر دده په مبارک مخ کې وليد. دريم ځل چې بيا ورنه تير شو، بيا يې همداسې خبرې ورته وکړې، نو رسول (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) ودريد او ويې فرمايل: (**أتسمعون يا معشر قريش، أما والذي نفسي بيده، لقد جئتكم بالذبح**) [اې قريشو! واورئ، قسم په هغه ذات چې زما نفس د هغه په واک کې دی چې ما تاسې ته ستاسې د قتل او ذبحې حکم راوړی دی.] د رسول اکرم (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) دې ارشاد خلک تر خپل تاثير لاندې راوستل، او داسې چوپ او آرام کيناستل تا به ويل چې د هر يوه په سر مرغه ناست دی، تر دې چې د رسول (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) په مقابل کې تر ټولو شديد او سخت سړي به هم ډير نرم الفاظ او خوږې خبرې کولې او پدې سره به يې له رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) نه د رحمت سوالونه کول او ورته ويل به يې، اې ابو القاسمه بيرته لاړشه، قسم په خدای ته کله هم نادان نه وې!
په سبا باندې بيا پداسې حال کې چې هغوی د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) په هکله خبرې کولی هغه مبارک تشريف راوړ، چې هغوی وليد يو ځل ټول

---

[1]. ابن هشام ۱/ ۲۹۸ - ۲۹۹.

ورپاڅيدل او د الله تعالی رسول (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) يې راګير کړ. عبدالله بن عمرو بن العاص وايي: ما ولیدل چې یوه سړي رسول (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) تر چادر کلک رانیولی و، ابوبکر (رضي الله عنه) د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) خواته ولاړ دی او پداسې حال کې چې ژاړي وايي: آیا تاسو هغه څوک وژنئ چې وايي: الله زما رب دی؟ وروسته بیا قریشو رسول اکرم (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) پریښود، راوي وايي: تر کومه چې ما لیدلي دا په رسول اکرم (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) باندې د قریشو تر ټولو ستر ظلم و.[1]

امام بخاري له عروه بن الزبیر نه روایت کوي وايي: ابن عمرو بن العاص ته مې وویل چې پر رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) باندې د قریشو د تر ټولو ستر ظلم په هکله معلومات راکړه. هغه راته وویل: پداسې حال کې چې نبي اکرم (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) د کعبې سره خوا کې په عبادت بوخت و عقبه بن ابي معیط راغی او خپل چادر یې د رسول اکرم (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) په غاړه کې ورواچاوه او دومره یې تاوکړ چې نژدې و زندې شي، پدې وخت کې ابوبکر الصدیق (رضي الله عنه) راغی هغه یې ټینګ راونیو او له رسول (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) نه یې ایسته ټیل واهه او ویې ویل: آیا هغه څوک وژنې چې وايي الله مې رب دی؟[2]

او په هغه حدیث کې چې اسماء (رضي الله عنها) روایت کړی راځي: یو چا ابوبکر (رضي الله عنه) ته چیغه وکړه چې هله د ملګري کومک ته دې ورشه! نو ابوبکر (رضي الله عنه) په منډه ور ووت، دغه وخت چې له کوره ووت د سر ویښتان یې څلورکوڅې وو او ویل یې: آیا تاسې هغه څوک وژنئ چې وايي: الله مې رب دی؟ یعنی یوازې پدې ګناه یې وژنئ چې وايي الله زما رب دی؟ پدې وخت کې مشرکینو رسول اکرم (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) پریښود او په ابوبکر (رضي الله عنه) ورټول شول، او کله چې بیرته کورته راغی نو په سر یې یو ویښته هم نه و کوڅې یې ټولې ورباندې شکولې وې، او که کوم یو ویښته پاته و، نو هغه زمونږ له لاسونو سره تویې شو.[1]

حمزه (رضي الله عنه) د ایمان په لار

---

[1]. ابن هشام ۲۸۹/۱ - ۲۹۰

[2]. صحیح البخاري – باب ذکر مالقي النبي (صلی الله علیه وسلم) و اصحابه من المشرکین بمکة ۱/ ۵۴۴.

[1]. مختصر سیرة الرسول (ص) للشیخ النجدي ص ۱۱۳.

پداسې حال کې چې د مکې فضا د ظلم او طغيان تورو تيارو نيولې وه، د حمزه بن عبدالمطلب (رضي الله عنه) په ايمان راوړلو سره د مومنانو زړونو ته نويو هيلو او آرزوګانو لاره ومونده. حمزه (رضي الله عنه) د نبوت د شپږم کال په وروستيو په غالب ګمان د ذي الحجې په مياشت کې ايمان راوړی دی.

د حمزه (رضي الله عنه) د ايمان راوړلو کيسه داسې ده: يوه ورځ ابو جهل د صفا له غونډی سره رسول (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) ته اذيت ورساوه، بدې خبرې يې ورته وکړې، خو رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) چوپ و هيڅ يې هم نه ورته ويل: بيا ابو جهل پورته شو او رسول اکرم (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) يې په يوه تيږه وواهه، مبارک سر يې ورمات کړ او وينې تړې روانې شوې، بيا ابو جهل ورنه روان شو اود کعبې تر خوا له قريشو سره کيناست. د عبدالله بن جدعان يوې وينځې چې د صفا پر غونډی پخپل کورکې وه دا صحنه وليده، پدې وخت کې حمزه (رضي الله عنه) له ښکار نه راغی، لينډی يې په لاس کې وه. نوموړې وينځې د ابو جهل د دې ناروا کيسه ورته وکړه. حمزه (رضي الله عنه) چې د قريشو تر ټولو زړور او غيرتي ځوان و يو ځل په قهر او جوش راغی، روان شو تر څو ابو جهل ووينې او حمله وربانديې وکړې، مسجد ته ننووت د ابو جهل سرته ودريد، او ورته ويې ويل: (يا مصفراسته) ـځکه چې ابوجهل په مقعد کې په پيس مرض اخته وـ اې بې غيرته! ته زما هغه وراره ته کنځلې کوې چې زه يې په دين يم؟ بيا يې په لينډی يو کلک ګوزار وربانديې وکړ او سر يې ورمات کړ. پدې وخت کې د ابو جهل د کورنۍ (بني مخزوم) او د حمزه (رضي الله عنه) د کورنۍ (بنو هاشم) خلک سره راپورته شول، خو ابو جهل وويل: ابو عماره (حمزه) پريږدئ ما يې وراره ته ډيرې بدې خبرې کړيدي.[2]

د حمزه (رضي الله عنه) ايمان راوړل په لومړي سر کې د يوه ننګ او غيرت له امله وو پدې ننګ کې ګير راغلی و چې وراره ته يې چا په سپکه سترګه کتلې وو، اذيت يې ور رسولی و، خو وروسته يې الله تعالى سينه پراخه کړه، او په اسلام ټينګ ودريد[1]. او د حمزه (رضي الله عنه) ايمان هغه حمزه چې په غيرت او شجاعت کې يې ساری نه درلود د مسلمانانو لپاره د ډير عزت او قوت سبب شو.

---

[2]. مختصر سيرة الرسول (ص) للشيخ محمد بن عبدالوهاب ص ٢٢. رحمة للعالمين ١/ ٢٨. ابن هشام ١/ ٢٩١، ٢٩٢.

[1]. پدې باندې هغه روايت دلالت کوي کوم چې الشيخ عبدالله النجدي پخپل مختصر سيرة الرسول (صلى الله عليه وسلم) ص (١٠١) کې روايت کړيدی.

عمر (رضي الله عنه) د مومنانو په ليکو کې

په همدې وخت کې چې مکه د کفر او طغيان وريځو تياره کړې وه، د الله تعالی له پلوه مسلمانانو ته يو بل د امید څراغ بل شو يعنی عمر (رضي الله عنه) د مومنانو په ډله ورګډ شو. عمر (رضي الله عنه) د حمزه (رضي الله عنه) له اسلام منلو نه دری ورځې وروسته [۲] د نبوت د شپږم کال د ذي الحجې په مياشت کې په اسلام مشرف شو [۳].

رسول اکرم (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) له الله تعالی نه د هغه د اسلام سوال کړی و. ترمذي له ابن عمر (رضي الله عنه) او طبراني له ابن مسعود (رضي الله عنه) نه روايت کوي چې رسول الله (عليه السلام) فرمايلي: ((**اللهم أعز الإسلام بأحب الرجلين إليك: بعمر بن الخطاب أو بأبي جهل بن هشام**)). يعنې اې خدايه! ته اسلام ته په عمربن الخطاب او يا ابو جهل بن هشام هر يو چې تا ته ګران وي عزت او قوت ورکړې. الله تعالی ته عمر (رضي الله عنه) منظور و او همدی په اسلام مشرف شو [۴].

که ټولو هغو روايتونو ته کوم چې د عمر (رضي الله عنه) د اسلام راوړلو په هکله راغلي دي نظر واچوو، نو دا به راته په ډاګه شي چې اسلام د عمر (رضي الله عنه) زړه ته په تدريجي توګه لاره موندلې ده، خو مخکې لدينه چې ددې روايتونو لنډيز وړاندې کړو، لازمه وينم چې د عمر (رضي الله عنه) د احساساتو او عاطفې په هکله څه خبره وکړم:

عمر (رضي الله عنه) په شجاعت او غيرت مشهور و، حساس او تندخوی يې درلود، له لاسه يې مسلمانانو ډير کړاوونه ليدلي دي، خو په ذهن کې به يې تل کشمکش او مقابله وه، له يوې خوا يې د پلرونو او اجدادو عاداتو او تقاليدو ته زيات احترام درلود، له لهو او لعب او شرابو سره روږدی او عادت شوی و، خو له بلې خوا به دښته هم په تعجب کې و چې مسلمانان د خپلې عقيدې په لار کې دا دومره تکليفونه او ستونزې څه ډول ګالي؟! د مسلمانانو له غيرت او ثبات نه ډير متاثر شوی و، او کله کله به يې په زړه کې دا هم راګرزيدل چې کيدای شي اسلام له نورو نه پاک او اوچت وي. لکه غزالي چې وايي[(۱)]: دده په ذهن کې د همدغه متناقضو نظرياتو له امله وه کله

---

۲ . پدې هکله به يو روايت په راتلونکې کې راشي.

۳ . تاريخ عمر بن الخطاب لابن الجوزي ص ۱۱.

۴ . الترمذي، ابواب المناقب، مناقب ابي حفص عمر بن الخطاب ۲۰۹/۲.

(1). فقه السيرة لمحمد الغزالي ص ۹۲، ۹۳.

به چې احساساتي شو نو ډير ژر به بيرته نرم او آرام شو.

د عمر (رضي الله عنه) د اسلام په هکله د مختلفو روایاتو جمع او لنډیز

یوه شپه عمر (رضي الله عنه) له کور نه د باندې ویده کیدو په نیت راووت، حرم شریف ته لاړ او د کعبې شریفې تر پوښ لاندې ننوت، دا په داسې حال کې چې رسول (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) په لمانځه ولاړ دی او د (الحاقه) سورت لولي. عمر (رضي الله عنه) قرآنکریم ته غوږ ونیو، ډیر ورته په تعجب کې شو. عمر (رضي الله عنه) وایي: له ځان سره مې وویل: لکه قریش چې وایي محمد (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) شاعر دی، وایې په همدې وخت کې رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) دا آیت تلاوت کړ ((إِنَّهُ لَقَوْلُ رَسُولٍ كَرِيمٍ * وَمَا هُوَ بِقَوْلِ شَاعِرٍ قَلِيلاً مَا تُؤْمِنُونَ)) (الحاقة: ٤٠ –٤١) [بیشکه دا (قرآن) خبره د رسول مکرم عزتمن ده او نه ده دا خبره د کوم شاعر، بیخې لږ ایمان راوړئ تاسې (بلکه نه مومنان کیږئ).

وایي: بیا مې وویل: دا کاهن دی، نو هغه دا آیت تلاوت کړ: ((وَلا بِقَوْلِ كَاهِنٍ قَلِيلاً مَا تَذَكَّرُونَ (٤٢) تَنزِيلٌ مِنْ رَبِّ الْعَالَمِينَ (٤٣) د سورت تر پایه، [او نه ده دا خبره د کاهن (تیروتي لکه چې تاسو ګومان کوئ) لږ پند اخلئ تاسې (بلکه نه یې اخلئ).]

وایي: نو پدې وخت کې مې اسلام پر زړه اغیزه وکړه.[2]

دا د عمر (رضي الله عنه) پر زړه د اسلام لومړنۍ اغیزه وه، خو جاهلي عادات او د پټو سترګو تقلید دومره وربانديې زورور وو چې نه یې پریښود حق ته سلامي شي، هماغه د جاهلیت په لار روان و او د اسلام په خلاف یې خپلو هلو ځلو ته ادامه ورکوله.

له رسول اکرم (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) سره یې زیاته کینه او دښمني درلوده، یوه ورځ یې توره واخیسته او پدې نیت له کوره ووت چې رسول اکرم (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) به په شهادت رسوي. د لارې په اوږدو کې له نعیم بن

(2). تاریخ عمر بن الخطاب (رضي الله عنه) لابن الجوزي ص: ۲. دې ورته یو روایت ابن اسحاق له عطاء او مجاهد نه هم را نقل کړیدی. که څه هم د هغه پای لدې سره څه اختلاف لري. ابن هشام ۱/ ۳۴۲ تر ۳۴۸ ته مراجعه وکړه. او همدې ته ورته هغه روایت دی چې ابن الجوزی له جابر نه رانقل کړیدی خو د هغه آخرینۍ برخه هم لدې روایت سره اختلاف لري، تاریخ عمر بن الخطاب (رضي الله عنه) ص ۹ – ۱۰ وګورئ.

عبدالله النحام العدوي سره مخ شو[1]. څوک وايي د بني زهره قبيلې له کوم سړي [2] او په بل روايت د بني مخزوم قبيلې[3] له کوم کس سره مخامخ شو. هغه ورته وويل: اې عمره! چيرته روان يې؟ ده وويل: ځم چې محمد (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) ووژنم. هغه ورته وويل: بيا به له بني هاشم او بني زهره نه څنګه ځان خلاصوې؟ عمر (رضي الله عنه) په ځواب کې ورته وويل: داسې ښکاري لکه چې ته هم له خپل دين نه اوړيدلی يې؟ هغه ورته وويل: عمره! له يوې عجيبې پيښې نه دې خبر نکړم؟ هغه دا چې ستا خور او ستا د خور خاوند دواړه ستا له دين نه اوړيدلي دي. عمر (رضي الله عنه) بيرته راوګرځيد او خپلې خور او د هغې خاوند ته ورغی، د هغوی په کور کې خباب بن الارت (رضي الله عنه) و او يوه صحيفه (پاڼه) هم ورسره وه چې د (طه) سورت وربانديې ليکل شوی و، او دوی دواړو ته يې ورزده کاوه. خباب (رضي الله عنه) چې کله پوه شو عمر (رضي الله عنه) راغی نو ژر پټ شو، او د عمر خور فاطمې (رضي الله عنهما) هغه صحيفه هم پټه کړه، خو عمر (رضي الله عنه) د خباب (رضي الله عنه) غږ اوريدلی و چې دوی ته يې قرآنکريم تلاوت کاوه، کله چې کورته ور دننه شو ويی ويل: دا څه و چې ما واوريدل؟ هغوی ورته وويل: مونږ پخپل منځ کې خبرې کولې، نور څه خو نه وو. ده ورته وويل: دا څه و چې ما واوريدل؟ هغوی بيا ورته وويل: مونږ پخپل مينځ کې خبرې کولی، نور څه خو نه و. ده ورته وويل: لکه چې له خپل دين نه ګرزيدلي يئ؟ د خور خاوند يې ورته وويل: اې عمره! که حق ستا له دين نه پرته په بل څه کې وي، نو بيا؟ عمر (رضي الله عنه) وربانديې ورټوپ کړ او په ځمکه يې راچپه کړ، خور يې راغله او عمر (رضي الله عنهم) يې له خپل ميړه نه راپورته کړ، نو هغې ته يې هم داسې يوه څپيړه ورکړه چې پر مخ يې وينې را روانې شوې. ابن اسحاق وايي هغه يې هم ووهله او سر يې ورمات کړ. نوموړی (رضي الله عنها) پداسې حال کې چې غوسې اخيستې وه ورته وويل: اې عمره! پداسې حال کې چې حق ستا له دين نه پرته په بل څه کې دی، نو زه شاهدي وايم چې: له يوه الله پرته بل څوک د عبادت وړ نشته او شاهدي وايم چې محمد (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) د الله تعالى رسول دی (أشهد أن لا إله إلا الله و أشهد أن محمدا رسول الله).

نو کله چې عمر (رضي الله عنه) نا اميده شو، او دا چې د خور وينې يې وليدې، خفه او

---

(1). دا د ابن اسحاق روايت دی ابن هشام ۱/ ۳۴۴ وګورئ.

(2). دا انس بن مالك (رضي الله عنه) روايت کړی، تاريخ عمر بن الخطاب ص ۱۰ او مختصر سيرة الرسول للشيخ النجدي ص ۱۰۳ وګوره.

۳. دا د ابن عباس (رض) روايت دی، الصدر الاخير ص ۱۰۲.

په خپلو کړو پشېمانه شو، او ويی ويل: دا کتاب چې درسره و، راکړئ چې ويې لولم. خور يې ورته وويل: ته نجس او ناپاک يې او دا کتاب نا پاکان نه شي اخيستئ (نه يې شي لمس کولئ)، ولاړ شه، غسل وکړه. هغه هم پاڅيد او غسل يې وکړ، او بيا يې هغه صحيفه واخيستله او ((بسم الله الرحمن الرحيم)) يې تلاوت کړه ويې ويل: پاک او سپيڅلي نومونه، بيا يې (طه) تر ((إِنَّنِي أَنَا اللَّهُ لا إِلَهَ إِلاَّ أَنَا فَاعْبُدْنِي وَأَقِمْ الصَّلاةَ لِذِكْرِي (١٤). پورې تلاوت کړ.

[بيشکه زه چې يم هم دا زه الله يم، نشته لايق د عبادت بل هيڅوک مګر هم دا زه يم پس عبادت کوه زما او سم دروه (ادا کوه) لمونځ د پاره د ذکر (يادولو) زما.]

او ويې ويل: دا څومره ښکلی او اوچت کلام دی، ما ته محمد (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) راوښاياست. خباب (رضي الله عنه) چې کله د عمر (رضي الله عنه) دا خبرې واوريدې راووت او ويې ويل: زيری مې درباندې اې عمره! هيله ده چې د پنجشنبې په شپه د رسول اکرم (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) دعا ستا لپاره وي، هغه دعا چې فرمايلي يې وو ((اللهم أعز الإسلام بعمر بن الخطاب أو بأبي جهل بن هشام)) او رسول اکرم (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) اوس د صفا سره په دارالارقم کې تشريف لري.

نو عمر (رضي الله عنه) خپله توره له تيکي راوايستله او له کوره ووت تر څو دارالارقم ته ورسيد، دروازه يې وټکوله يو صحابي (رضي الله عنه) راپاڅيد او د دروازې له چولو يې وکتل چې عمر (رضي الله عنه) توره په لاس ولاړ دی، ژر يې رسول (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) ته خبر ورکړ. موجود خلک سره راټول شول، حمزه (رضي الله عنه) ورته وويل: څه خبره ده؟ دوی ورته وويل: عمر (رضي الله عنه) دی. ده وويل: دروازه ورته خلاصه کړئ، که چيرته په خير او ښه نيت راغلي وي، مرسته به يې وکړو، او که چيرې د شر پخاطر راغلي وي، نو پخپله توره به يې ووژنو. پدې وخت کې رسول اکرم (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) د ننه و وحي ورته کيدله، وروسته راووت او عمر (رضي الله عنه) يې په کوټه کې وموند، هغه يې له جامو او د توري له بند نه راونيو، په شدت سره يې راکش کړ او ورته ويې فرمايل: (أما أنت منتهيًا يا عمر حتى ينزل الله بك من الخزى والنكال ما نزل بالوليد بن المغيرة؟ الله م، هذا عمر بن الخطاب، اللهم أعز الإسلام بعمر بن الخطاب) [عمره! آيا ته تر هغې له خپلې لارې نه

نه ګرزي تر څو چې الله تعالى د وليد بن المغيره په شان سپکاوی او عذاب درباندې نازل کړي؟ دا عمر بن الخطاب دی، يا خدايه! ته اسلام ته په عمر بن الخطاب (رضي الله عنه) باندې عزت او قوت ورکړې.] همدا وه چې عمر (رضي الله عنه) وويل: ((أشهد أن لا إله إلا الله و أنك رسول الله)) او پدې ترتيب سره هغه هم په اسلام مشرف شو. کله چې عمر (رضي الله عنه) د شهادت کلمه وويله په دار الارقم کې په يوه آواز سره د تکبير چيغه او چته شوه چې ټولو خلکو واوريده.[1]

عمر (رضي الله عنه) د بې ساري غيرت او شجاعت درلودونکی و، او دده اسلام راوړل د مشرکينو لپاره د ذلت او سپکاوي او د مسلمانانو لپاره د عزت او قوت پيغام و.

ابن اسحاق په خپل سند سره له عمر (رضي الله عنه) نه روايت کوي وايي: کله مې چې اسلام راوړ نو فکر مې وکړ چې په مکه کې څوک له رسول اکرم (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) سره ډيره کينه او دښمني لري؟ ومې ويل: دا ابو جهل دی، نو کورته يې ورغلم دروازه مې وروټکوله، هغه راووت، او راته ويې ويل: په خير راغلې، خيريت دی، څنګه راغلی يې؟ ما ورته وويل: ددې لپاره راغلم چې پدې دې خبر کړم چې ما په الله او د الله په رسول (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) ايمان راوړ، او ټول هغه څه مې ومنل چې رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) راوړي دي. وايي: نو ابو جهل دروازه ورپسې بنده کړه او ويې ويل: خدای دې تا او هغه څه چې راوړي دې دي خراب او برباد کړي.[2]

ابن جوزي وايي چې عمر (رضي الله عنه) ويلي: کله به چې چا اسلام راوړ، نو خلکو به هغه نه پريښود، جګړې به يې ورسره کولې، هغوی به هغه او هغه به دوی وهل، خو کله چې زه په اسلام مشرف شوم، نو خپل ماما (عاصي بن هاشم) ته ورغلم او له پيښې مې خبر کړ هغه په خونه ننوت. وايي: بيا د قريشو يوه بل مشر لکه چې ابوجهل وي ته ورغلم ورته ومې ويل چې زه مسلمان شوم هغه هم پخپل کور رانه ننوت[1].

ابن هشام او همدا راز ابن جوزي په لنډه توګه دا روايت رانقل کړيدی: کله چې عمر (رضي الله عنه) ايمان راوړ نو جميل بن معمر الجمحي ته ورغی، نوموړي به د قريشو خبرونه يو بل ته وړل راوړل. معمر ته مې وويل چې زه په اسلام مشرف شوم، جميل بن معمر لاړ او په لوړ آواز چيغه کړه چې اې خلکو: عمر (رضي الله عنه) له دين نه

---

(1). تاريخ عمر بن الخطاب (رضي الله عنه) ص ۷- ۱۰ - ۱۱ مختصر سيرة الرسول (صلى الله عليه وسلم) للشيخ عبدالله ص ۱۰۲ - ۱۰۳ . ابن هشام ۱/ ۳۴۳ - ۳۴۲.

(2). ابن هشام ۱/ ۳۴۹ - ۳۵۰.

(1). تاريخ عمر بن الخطاب (رضي الله عنه) لابن الجوزي ص ۸.

اوړیدلی دی. عمر (رضي الله عنه) چې ورپسې و وویل: دروغ وایي، بلکه ما اسلام راوړی دی. یو ځل مشرکین ورباندې راټول شول او وهل ټکول شروع شول تر څو چې لمر ښه رابره شو، عمر (رضي الله عنه) ډیر ستړی شو نو کیناست هغوی یې په سر ور کیناستل، ده ورته ویل: کوئ څه چې کولئ شئ، قسم په خدای که مونږ دری سوه کسه وای، نو بیا به یا مونږ دا وطن پریښوده او یا تاسو.[۲]

لدینه وروسته مشرکینو د عمر (رضي الله عنه) په کور حمله وروړه او غوښتل یې هغه په شهادت ورسوي. بخاري شریف له عبدالله بن عمر (رضي الله عنهما) نه روایت کوي وایي: پداسې حال کې چې عمر (رضي الله عنه) په کور کې و او ویرې اخیستی و، چې عاص بن وائل السهمي (ابو عمرو) ورته راغی، ښکلې لیکه داره چپنه او وریښمین کمیس یې اغوستې وئ. نوموړی له بني سهم قبیلې څخه وئ، په جاهلیت کې زمونږ او هغوی تر مینځ ټرون هم وئ، ورته وې ویل:څه پیښه ده؟ ده ورته وویل: قوم دې غواړي ما ووژني ځکه ما اسلام راوړی. عاص ورته وې وویل: په تا هیڅوک هم لاس نه شي پورته کولی، کله یې چې دا خبره وکړه، مونږ ډاډه شوو. بیا عاص بیرته ووت، هلته ګوري چې خوږ خلکو په سر اخیستې، ورته وې ویل: چیرته ځئ؟ هغوی وویل: دا د خطاب زوی عمر (رضي الله عنه) له خپل دین نه اوړیدلی، هغه پسې ورځو. ده ورته وویل: هغه ته څوک څه نه شي ویلی، نو یو ځل خلک په شاشول. او د ابن اسحاق په روایت کې راځي چې داسې شول لکه دمه چې ورنه ختلې وي.

دا خو د مشرکینو دریځ او حال وئ، د مسلمانانو په هکله، مجاهد له ابن عباس (رضي الله عنهم) نه روایت کوي وایي: له عمر (رضي الله عنه) نه مې وپوښتل، تا ته ولې الفاروق ویل کیږي؟ ده ووېل: حمزه (رضي الله عنه) له مانه دری ورځې مخکې ایمان راوړی وئ، بیا یې د خپل اسلام راوړلو کیسه راته تیره کړه، او د کیسې په پای کې یې ووېل: کله مې چې اسلام ومانه نو ومې ویل: اې د الله رسوله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم)! آیا مونږ په حقه نه یو که مړه شو او یا ژوندي وو؟! هغه راته وفرمایل: (بلى، والذي نفسي بيده، إنكم على الحق وإن متم وإن حييتم). [هو، مونږ په حقه یو، قسم په هغه ذات چې زما ځان د هغه په واک کې دی چې تاسې په حقه یاست که مړ شئ او که ژوندي وئ.] عمر (رضي الله عنه) وایي نو ما ورته وویل: چې د اسې ده نو دا پټه څه معنی لري؟ قسم په هغه ذات چې ته یې په حق مبعوث کړی یې مونږ به خوا

---

[۲]. تاریخ عمر بن الخطاب (رضي الله عنه) ص ۸ . ابن هشام ۱/ ۳۴۸ - ۳۴۹.

مخوا د باندې وزو. پدې ترتیب سره مونږ په دوو صفونو (لیکو) کې له رسول اکرم (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) سره یو ځای د باندې راووتلو، په یوه صف کې حمزه ؤ او په بل کې زه (عمر رضي الله عنهما) وم، زمونږ له پښو سره لکه د اوړو د ګرد په شان ګرد هم اوچتیده تر څو مسجد حرام ته ننوتو. عمر (رضي الله عنه) وایي کله چې قریشو زه او حمزه (رضي الله عنهما) ولیدو نو پداسې غم غمجن شول چې کله یې هم دومره لوی غم نه و لیدلی، او په همدغه ورځ رسول اکرم (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) ما ته د الفاروق لقب راکړ.[1]

ابن مسعود (رضي الله عنه) وایي: مونږ تر هغې پورې له کعبې شریفې سره لمونځ نشو کولی تر څو عمر (رضي الله عنه) اسلام راوړ.[2]

صهیب بن سنان رومي (رضي الله عنه) وایي: کله چې عمر (رضي الله عنه) ایمان راوړ، نو اسلام ښکاره شو دعوت هم په څرګند ډول کیده، مونږ د کعبې تر څنګ حلقه ووهله، طواف مو وکړ، او هغه چا چې ظلمونه راباندې کړي وو له هغوی نه مو څه ناڅه انتقام واخیست او حساب مو ورسره وکړ.[3]

عبدالله بن مسعود (رضي الله عنه) وایي: له کومې ورځې نه چې عمر (رضي الله عنه) په اسلام مشرف شوی مونږ عزتمن او سر لوړی یوو.[4]

د قریشو استازی د رسول (ﷺ) په حضور کې

کله چې د مکې هغه دواړه قهرمانان حمزه بن عبدالمطلب او عمر بن الخطاب (رضي الله عنهما) په اسلام مشرف شول، نو د قریشو په زړونو کې ماتې ګډه شوه، د مکې له آسمان نه د ظلم توري وریځې مخ په شاکیدو شوې، مشرکان له خپلې مستۍ نه لږ په هوش راغلل، پوه شول چې نور ځورول او رنځول څه ګټه نلري، نو یې له رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) سره د سازش او سولې لاره ونیوه او ددې پخاطر چې د الله تعالی رسول یې له خپل دعوت نه منع کړی وي تشویقونکي وړاندیزونه یې ورته وړاندې کړل، خو هغوی لدینه بې خبر وو چې دا ټوله دنیا د هغه د دعوت په مقابل کې د ماشې د یوه وزر په اندازه هم ارزښت نلري، نو ځکه د دوی دا هیلې هم له

---

(1). تاریخ عمر بن الخطاب لابن الجوزي ص ۲- ۷

(2). مختصر سیرةالرسول (صلی الله علیه وسلم) للشیخ عبدالله النجدي ص ۱۰۳

(3). تاریخ عمر بن الخطاب (رضي الله عنه) لابن الجوزی ص ۱۳.

(4). صحیح البخاري، باب اسلام عمر بن الخطاب (رضي الله عنه) ۵۴۵/۱

خاورو سره خاورې شوې.
ابن اسحاق وايي: يزيد بن زياد له محمد بن كعب قرظي نه راته روايت كوي وايي: راته ويل شوي چې د قريشو مشر عتبه بن ربيعه يوه ورځ د قريشو په ډيره كې ناست و�ُ، او رسول (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) هلته په جومات كې يوازې تشريف درلود، عتبه وويل: اې قريشو، خوښه مو نده چې محمد (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) ته ورشم، خبرې ورسره وكړم، څه وړانديزونه ورته وكړم كيداى شي څه ومني، او چې مونږ يې شرط پوره كړو بيا به هغه هم له مونږ نه لاس واخلي. دا داسې وخت و�ُ چې حمزه (رضي الله عنه) هم ايمان راوړى و او دوى ليدل چې د رسول اكرم (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) د اصحابو شميره مخ په زياتيدو ده. قريشو ورته وويل: سيي ده ورشه اې ابو وليده او خبرې ورسره وكړه! عتبه پاڅيد او د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) په حضور كې كيناست او ورته ويې ويل: وراره، ته خو زمونږ په مينځ كې د اوچتې او قدرمنې كورنۍ، محترم او لوړ نسب خاوند يې، او تا خپل قوم ته يوه لويه مساله راوړې، او پدې سره دې هغوى بې اتفاقه كړې د هغوى دين او معبودان دې عيبجن او توهينوې، د هغوى د پلرونو دين او عادات دې پرېښې، نو اوس واوره، زه څو پيشنهادونه درته كوم، فكر پكې وكړه، كيداى شي كوم يو يې ومنې. راوي وايي: رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) ورته وويل: (**قل يا أبا الوليد أسمع**).وايه، ابو الوليده څه واې اورم؟ هغه وويل: وراره! كه غواړې او هدف دې دا وي پدې دعوت چې شروع كړى دې دى، مال او دارايي لاسته راوړې، نو مونږ به درته دومره مال او دارايي راټوله كړو چې له ټولو نه به زيات مالدار شې، او كه لدې لارې مشري غواړې، نو مونږ به دې خپل مشر وټاكو، او هيڅ فيصله به ستا له مشورې پرته نه كوو، او كه پاچايي غواړې نو پاچا به دې كړو، او كه چيرته دا څه چې درته راځي جن يا پيرى وي چې ته يې وينې او ځان نه شې ورنه خلاصولى، نو مونږ به دې پخپلو پيسو علاج او تداوي وكړو تر څو جوړ شې ځكه كله كله داسې پيښيږي چې جن پر انسان غلبه مومي او بيا د هغه د علاج ضرورت پيدا كيږي. عتبه چې خبرې پاى ته ورسولى، رسول اكرم (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) وفرمايل: (**أقد فرغت يا أبا الوليد؟**). [ابو الوليده، خبرې دې خلاصې شوې؟] هغه وويل: هو، ده ورته وفرمايل: (**فاسمع مني**).اوس ماته غوږ شه، هغه وويل: وايه غوږ مې دى، نو رسول اكرم

(صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) خبرې داسې پیل کړی:
((حم (١) تَنزِيلٌ مِنْ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ (٢) كِتَابٌ فُصِّلَتْ آيَاتُهُ قُرْآناً عَرَبِيّاً لِقَوْمٍ يَعْلَمُونَ(٣) بَشِيراً وَنَذِيراً فَأَعْرَضَ أَكْثَرُهُمْ فَهُمْ لا يَسْمَعُونَ (٤) وَقَالُوا قُلُوبُنَا فِي أَكِنَّةٍ مِمَّا تَدْعُونَا إِلَيْهِ...)) (فصلت : ١ـ٥) [(دغه قرآن) را لیږلی شوی دی (له هغه الله) نه چې خورا مهربان، ډیر رحم والا دی، داسې کتاب دی چې په تفصیل سره بیان شویدي آیتونه دده، پدې حال چې لوستلی شوی دی په عربي ژبه د پاره د هغه قوم چې پوهیږي. زیری ورکوونکی دی (دا کتاب مؤمنانو ته په جنت) او ویروونکی دی دا کتاب (کفارو لره له دوزخ نه)، پس مخ وګرځاوه زیاترو د دغو (کفارو) پس دوی نه اوري (حق په اوریدلو د قبول سره)، او وایي (دغه کفار محمد ته) زړونه مو په پردو کې دي له (فهم) د هغه څیزه چې بولې ته مورږ هغه ته (چې توحیدیا قرآن دی).]
رسول اکرم (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) قرآنکریم تلاوت کوي او عتبه چوپ ورته ناست دی، غوږ یې ورته ایښې دی، لاسونه یې شاته ایښي او تکیه یې وربانديې کړی ده، تر څو رسول (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) د سجدې آیت تلاوت کړ او سجده یې وکړه او بیا یې وویل: ابو الولیده وا دې وریدل، اوس پخپله فکر وکړه، ته پوه شه او کار دې! ابو الولید پاڅید او خپلو ملګرو ته ور روان شو. هلته هغوی سره ویل چې قسم په خدای د ابو الولید بڼه بدله شویده، کله چې هغه راغی او کیناست، دوی ورته وویل: څه کیسه ده؟ ده وویل، خبره خو دا ده، چې اوس ما داسې خبرې واوریدې چې قسم په خدای که مې په ټول عمر کې اوریدلې وي، قسم په خدای چې هغه نه شعر وئ، نه سحر وئ، نه جادو ګري او مداري ګري وه، اې قریشو زما خبره ومنئ او مسئولیت یې هم زما په غاړه، دا سړی یعنې محمد (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) پریږدئ، قسم په خدای چې دا خبرې مې چې ورنه واوریدې پدې دلالت کوي چې هغه د لوی خیر خاوند دی، او کومه لویه پیښه به رامنځته کوي، تاسې هغه پریږدئ که چیرې عربو له مینځه یوړ، نو تاسې به ورنه بې غمه شئ، او که چیرته هغه پر عربو بریالی شو، نو بیا خو د هغه پاچایي ستاسې پاچایي ده، د هغه عزت ستاسې عزت دی. دوی ورته وویل: لکه چې سحر یې دربانديې کړی اې ابو الولیده! ده ورته وویل: چې د هغه په هکله زما نظر همدا دی، د تاسې خپله خوښه څه مو چې زړه وي هماغه وکړئ.[1]

---

[1]. ابن هشام ١/ ٢٩٣ - ٢٩٤.

په بل روايت کې راځي چې عتبه همداسې غوږ ورته ايښې وُ تر څو رسول اکرم (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) دا آیت تلاوت کړ ((فَإِنْ أَعْرَضُوا فَقُلْ أَنذَرْتُكُمْ صَاعِقَةً مِثْلَ صَاعِقَةِ عَادٍ وَثَمُودَ))(فصلت:۱۳))

[پس که چیرې مخ وګرځاوه (دغه کفارو له حقه) پس ووایه (اې محمده! دوی ته) چې ویروم زه تاسې له سخت عذابه به مثل د سخت عذاب د عادیانو (لکه باد د صرصر) او ثمودیانو (لکه چیغه دجبریل) .]

عتبه یو ځل وار خطا شو پاڅید او خپل لاس یې د رسول اکرم (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) په مبارکه خوله ور کیښود او ورته ویل ې : د خدای پخاطر رحم راباندې وکړه! دا ځکه چې وویرید همسې نه الهي عذاب ې راګیر نکړي، بیا خپلو ملګرو ته ورغی او هغوی ته ې خپل نظر بیان کړ .(۲)

ابوطالب له بني هاشم او بني عبدالمطلب سره غونډه کوي

که څه هم وضعې او حالاتو بدلون موندلی وُ، خو ابو طالب ویریده چې همسې نه مشرکین بې واره حضرت محمد (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) ته څه زیان ورسوي. د هغه په ذهن کې هغه پخوانۍ پیښې ترسیمدلې او دا یې ښه په یاد وُ چې قریشو یو ځل د جګړې اخطار ورکړی وُ، دا یې هم له یاده نه و ایستلې چې قریشو عماره بن الولید ورته راوستلی وُ چې دا واخله او خپل وراره مونږ ته راکړه چې مړ یې کړو، دا به یې تل په سترګو کې ګرزیدل چې ابو جهل څنګه هغه لویه تیږه واخیستله چې دده خوږ وراره (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) ورباندې ووژني ، مبارک سر یې پرې میده کړي، او هغه چې عقبه بن ابي معیط د ده زړه ته ډیر نژدې او د الله تعالی مختار رسول (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) تر چا در نیولی وُ او نژدې وُ چې زندۍ یې کړي، عمر بن الخطاب (رضي الله عنه) توره را ایستلې وه چې هغه (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) په شهادت ورسوي، دا ټولې پیښې به د ابو طالب د دماغ په پرده تلې راتلې، ډیر ې ځوراوه او پدې فکر کې به وُ چې دا پیښې همسې عادي پیښې ندي، لدینه د لوی شر بوی راځي، مشرکین غواړي دده ټرون مات کړي او وراره (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) ې په شهادت ورسوي،

(2). تفسیر ابن اکثیر ۲/ ۱۵۹ - ۱۲۰- ۱۲۱.

که چيرې کوم مشرک په ناڅاپي توګه په محمد (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) حمله وکړي، نو بيا به حمزه او عمر (رضي الله عنهما) څه وکړي؟
ابو طالب پدې ښه متيقن وۀ، او واقعيت هم همداسې وۀ، مشرکينو پدې اتفاق کړی وۀ چې رسول اکرم (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) به په ښکاره توګه وژني، د دوی دې ګډ تصميم ته قرآنکريم داسې اشاره کوي: ((أَمْ أَبْرَمُوا أَمْراً فَإِنَّا مُبْرِمُونَ)) (الزخرف: ۷۹) [بلکه محکم کړيدی (کفارو په خلاف د انبياوو) يو کار، پس بيشکه مونږ هم محکم کوونکي يوو (د تدبير خپل).]
نو پداسې حالت کې ابو طالب څه بايد وکړي؟کله چې ده د خپل وراره په خلاف د قريشو دا دريز او پلان وليد، نو خپل خپلوان يعنې د بني هاشم او بني عبدالمطلب خلک يې را ټول کړل، او له هغوی نه يې دا وغوښتل چې دده د وراره (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) په دفاع او ملاتړ کې له ده سره ودريږي. هغوی ټول ورسره ودريدل، مسلمانانو د ايمان او کافرو د قومي تعصب په اساس خپل ملاتړ ورنه څرګند کړ، خو يوازې ابو لهب (د ابو طالب ورور) دا خبره ورسره ونه منله، او لاړ د قريشو په خوا کې ودريد.[1]

[1]. ابن هشام ۲۲۹/۱. مختصر سيرة الرسول (صلی الله علیه وسلم) للشيخ عبدالله بن محمد النجدي ص ۱۰۲.

عمومي پريکون

په څلورو هفتو يا لدې نه هم کمه موده کې مشرکين له څلورو لويو پيښو سره مخ شول: حمزه (رضي الله عنه) اسلام راوړ، ورپسې عمر (رضي الله عنه) په اسلام مشرف شو، بيا رسول اکرم (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) د مشرکينو سازشونه او پيشنهادونه رد کړل، پدې پسې بني المطلب او بني هاشم ټول له يوه سره مسلمان وو او که کافر پدې متفق شول چې له محمد (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) نه به دفاع او ملاتړ کوي. پدې پيښو پسې قريش هک پک او حيران ودريدل، او د هغوی حيرانتيا بې ځايه ځکه نه وه چې پدې ښه پوه شوي وو که چيرې محمد (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) په قتل ورسوي، نو په مکه کې به د وينو لښتي روان شي، او يا کيدای شي د هغوی د کاملې تباهۍ او بربادۍ سبب وګرزي، نو له همدې امله وه چې د قتل منصوبه يې پريښوده او ديوه بل داسې ظلم فيصله يې وکړه چې تر مخکې ياد شويو ټولو ظلمونو نه زيات او سخت و.

د ظلم او عدوان ټرون

مشرکين د محصب په وادي د بني کنانه په خيف کې سره راغونډ شول، او د بني هاشم او بني المطلب په خلاف يې يو ظالمانه ټرون وکړ، او داسې پريکړه يې وکړه چې: نور به څوک له دې دوو کورنيو (بني هاشم او بني مطلب) سره نه دوستي او خپلوي (واده او نکاح کوي، نه به ورسره بيع (اخيستل او پلورل) کيږي، نه به ورسره ناسته ولاړه کيږي، نه به څوک د دوی کورونو ته ورځي، يعنې حتى خبرې ورسره منع دي. لنډه دا چې له هغوی سره به تر هغې دا عمومي او بشپړ پريکون دوام لري تر څو يې محمد (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) مشرکينو ته نه وي سپارلی.

دوی ددې ټرون لپاره يوه صحيفه (ليک يا خط) وليکه. په دې صحيفه کې يې پدې خبره ټرون او اتفاق کړی وٴ ((د بني هاشم د سولې وړانديزونه به هيڅکله هم نه مني او نه به ورسره کوم ډول همدردي او مرسته کوي تر څو محمد (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) د قتل لپاره ورته تسليم کړي)). ابن القيم وايي: ويل کيږي دا خط

منصور بن عکرمه بن عامر بن هاشم ليکلی وٴ، او دا هم ويل شوي چې ددې صحيفې ليکونکی نضر بن الحارث وٴ، خو سيي خبره او روايت دا دی چې دا صحيفه بغيض بن عامر بن هاشم ليکلې وه چې رسول اکرم (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) ورته ښيره وکړه او لاس يې شل شو.[1]

تړون وشو، او دا صحيفه د کعبې شريفې په مينځ کې راوځړول شوه، او ددې په نتيجه کې له ابو لهب پرته د بني هاشم او بني المطلب ټول غړي مسلمان وو او که کافر، ټول يو ځای د ابو طالب په شعب (دره يا خوړ) کې محاصره شول. دا د نبوت د اووم کال د محرم د مياشتې د لومړنۍ شپې واقعه ده.

دری کلنه محاصره

محاصره او کلا بندي سخته شوه، په محاصره شويو مظلومانو باندې غله، د خوراک او څښاک ټول شيان بند شول ځکه مکې ته به چې څه خوراکي مواد او يا نور د اخيستلو او پيرودلو شيان راتلل، نو فوراً به مشرکينو اخيستل. پدې ترتيب سره د محاصره شويو کسانو وضعه ډيره خرابه شوه د خوراک لپاره يې څه نه درلودل او له ډيرې مجبورۍ به يې پانې او پوستکي خوړل. له لوږې نه به د ماشومانو او ښځو د ژړا آوازونه له دې درې نه د باندې هم اوريدل کيدل، په پټه به که لږ څه ور ورسيدل خو ښه به وو او که نه نوري ټولې لارې وربانديې بندې وې د خپلو اړتياوو د پوره کولو او ضروري شيانو د اخيستلو لپاره يوازې په حرمت لرونکو مياشتو (الاشهر الحرام) کې له شعب (خوړ) نه روانی شوای او بس. او پدې موده کې به يې له باندې نه راغليو کاروانونو نه مواد اخيستل، خو مشرکينو پدې کې هم داو وربانديې واهه او د موادو بيه به يې دومره زياتوله چې د دوی وس به نه ورته رسيده. حکيم بن حزام به کله کله په پټه سره خپلې ترور (عمې) خديجې (رضي الله عنها) ته په غالب ګومان سره غنم وروړل، يو ځل ابو جهل په مخه ورغی او قصد يې وکړ چې حکيم منع کړي، خو ابو بختري مداخله وکړه او حکيم يې پريښود چې غنم خپلې ترور (عمه) ته ورسوي.

ابو طالب په رسول اکرم (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) باندې ډير ويريده، او دده امنيت ته يې ډيره پاملرنه درلوده کله به چې خلک ويده کيدل، نو رسول اکرم (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) ته به يې وويل چې پخپل ځای دې ويده شه، دا د دې پخاطر و که چيرې څوک د رسول الله (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) د قتل

---

[1]. زاد المعاد ۲/ ۴۲

نيت لري او خ ا رنـه کـوي چې وګوري هغه چيرته ويده شو، خو کله به چې خلک ويده شول، نو بيا به يې خپل کوم زوی، يا ورور، يا د تره زوی ته وويل چې لاړ شه او د رسول اکرم (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) په ځای ويده شه، او رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) ته به يې ويل چې راشي او د هغه پر ځای ويده شي.

د حج په دوران کې به رسول اکرم (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) او نور مسلمانان له شعب نه د باندې وتل، خلکو ته به ورتلل او هغوی به يې اسلام ته رابلل او دا چې ابو لهب به څه کول هغه ته خو مو مخکې اشاره کړې ده.

تړون مات شو

پوره دری کاله تير شول، خو حالات همداسې وو، تر څو د بعثت په لسم کال د محرم په مياشت کې[1] صحيفه نقض او تړون مات شو. ددې تړون د ماتيدو سبب هم دا وۀ چې ځنې قريش له پيل نه پدې تړون نه وو خوښ، او همدې نا خوښو کسانو د تړون د ماتولو لپاره هلې ځلې کول تر څو مات شو.

د تړون ماتولو اصلې محرک د بني عامر بن لوئ کورنۍ غړی هشام بن عمرو وۀ، نوموړي به د شپې له خوا بني هاشم ته خواړه استول، يو ځل هشام د ابو طالب خوريې زهير بن ابي اميه المخزومي ته ورغی ـ د زهير مور عاتکه د عبدالمطلب لور وه – او و رتـه ويې ويل: اې زهيره! پداسې حال کې چې ته خورې او څښې، نو څنګه پدې راضې يې چې د ماما خيلو دې هسې حال وي؟ زهير وويل: افسوس، افسوس، زه په يو سر څه کولای شم؟ قسم په الله که يو بل کس راسره ملګری وای، نو ددې تړون د ماتولو لپاره به راپورته کـيـدم ! هشام ورته وويل: څه، يو بل کس هم درسره دی، ده ورته وويل: هغه به څوک وي؟ هشام ورته وويل: هغه زه يم. زهير وويل: اوس دريم کس راګوره.

پدې پسې هشام، مطعم بن عدي ته ورغی، هغه ته يې د بني عبد مناف له اولادې

---

[1]. ددې خبرې دليل دادی چې ابو طالب د صحيفې له نقض نه شپږ مياشتې وروسته وفات شويدی. او سيې روايت دا دی چې ابو طالب د رجب په مياشت کې وفات شويدی، او هغه کسان چې وايي ابو طالب د رمضان په مياشت کې وفات شوی، نو د دوی په نظر ابو طالب د صحيفې له نقض نه اَته مياشتې او څو ورځې وروسته وفات شوی.

(بني هاشم، بني المطلب) سره د ده د دوستۍ او نژدې نسبي اړيکو يادونه وکړه، ملامتي او پرې يې ورباندې واچوله چې ته ولې پدې ظالمانه ټرون او عهد کې د قريشو خوا ته ولاړ يې! مطعم ورته وويل: افسوس، نو زه څه وکړم؟ زه يو تن يم! هشام ورته وويل: دويم هم درسره دی، ده ورته وويل: هغه څوک دی؟ ده ورته وويل: هغه زه يم. نو مطعم ورته وويل:اوس دريم راګوره ، هشام وويل: دريم کس مې هم پيدا کړی، هغه ورته وويل څوک دی؟ ده ورته وويل: هغه زهير بن ابي اميه دی. مطعم وويل: اوس څلورم را ګوره. بيا هشام ابي البختري بن هشام ته ورغی، هغه ته يې هم داسې خبرې وکړې لکه مطعم ته يې چې کړې وې، نو ابو البختري ورته وويل: آيا داسې څوک به وي چې پدې هکله مرستې ته حاضر شي؟ هشام بن عمرو ورته وويل: هو، شته، هغه وويل: څوک دي؟ ده ورته وويل: زهير بن ابي اميه، مطعم بن عدي او زه هم درسره بيا هغه ورته وويل: اوس پنځم کس راګوره.

بيا زمعه بن اسود بن المطلب بن اسد ته ورغی، پدې هکله يې خبرې ورسره وکړې، او له بني عبد مناف سره دده د قرابت (خپلولۍ) او د هغوی د حقوقو يادونه يې ورته وکړه. زمعه ورته وويل: کوم څوک داسې شته چې ستا ددې نظر او پيشنهاد تاييد او ملاتړ وکړي؟ هشام بن عمرو ورته وويل هو، پدې هکله فلانی او فلانی او... ټول نومونه يې ورته واخيستل کلک ولاړ دي، بالاخره ټول له حجون سره راټول شول، او ددې صحيفې د نقض او ټرون د ماتولو عزم او پريکړه يې وکړه، زهير وويل: د کار پيل به له ما نه وي، يعنی لومړی به زه پدې هکله خبرې کوم.

سهار شو، خلک ټول خپلو خپلو مجلس ځايونو ته راغلل، زهير هم پداسې کې چې بښکلې جامې يې اغوستې وې راغی، له بيت الله شريف نه يې اوه ځله طواف وکړ، بيا يې خلکو ته مخ کړ او ورته ويې ويل: اې د مکې خلکو! مونږ دې خورو او څښو، خو بني هاشم دې له لورې نه مري، نه دي څه ورنه اخيستل کيږي او نه دې څه ورباندې پلورل کيږي؟ قسم په الله، زه به تر هغې کښيننم تر څو دا ظالمانه ټرون مات شوی نه وي او تر څو دا صحيفه نقض او څيرې شوې نه وي.

ابو جهل چې د مسجد حرام په کوم کنج کې ناست وُ وويل: دروغ دې وويل، قسم په الله، دا صحيفه به څيرې نه شي! پدې وخت کې زمعه بن اسود وويل: قسم په الله چې ته ډير دروغ وايې، پدې صحيفه د ليکلو په وخت کې هم مونږ راضي نه وو، ابو البختري هم غږ وکړ او ويې ويل: زمعه رښتيا وايي پدې صحيفه کې چې څه ليکل شوي مونږ نه ورباندې خوښ يوو او نه يې ملاتړ کوو.

مطعم بن عدي هم وويل: تاسې رښتيا وويل، او څوک چې بل څه وايي هغه دروغجن

دی، مونږ لدې صحيفې او له هغه څه نه چې پکې ليکل شوي خپل براءت اعلانوو. بيا هشام بن عمرو هم دې ته ورته څه خبرې وکړې.

ابوجهل وويل: ددې خبرې ترون د شپې شويدی، او پدې هکله مشوره چيرته بل ځای شويده. پدې وخت کې ابو طالب هم د مسجد حرام په کومه ګوښه کې ناست وٴ، د هغه د راتګ سبب هم دا وٴ چې الله تعالی خپل رسول (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) ته د صحيفې په هکله خبر ورکړی وٴ چې الله تعالی وربانديې وينه (پويه) مقرره کړې چې د الله له نامه پرته ټولې د ظلم، زياتي او دښمنۍ کلمې يې خوړلې دي. رسول (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) دا خبره خپل تره ته وکړه، نو ابو طالب هم قريشو ته راغی او ورته ويې ويل چې وراره مې داسې وايي که چيرې دروغ يې ويلي وٴ نو بيا تاسې پوهيږئ او هغه، او که چيرې پدې ادعا کې ريښتونی وٴ نو بيا لدې ظلم نه لاس واخلئ او زمونږ محاصره ختمه کړئ. هغوی ورته وويل: دا د انصاف خبره ده. او کله چې د ابوجهل او دې نورو تر مينځ دا خبرې تبادله شوې، نو مطعم پاڅيد چې هغه صحيفه څيرې کړي، صحيفه يې چې رواخستله ګوري چې د صحيفې ټول ټکي وينه خوړلي او يوازې (باسمک اللهم) او هر چيرته چې د الله نوم وٴ هغه پاتې دی، نور ټول خوړل شوي هيڅ هم نه وٴ پاتې.

نو صحيفه نقض شوه، ترون مات شو، او رسول اکرم (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) سره له ټولو محاصره شويو کسانو له شعب نه راووتل. مشرکينو د رسول اکرم (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) د نبوت يوه عظيمه نښانه او معجزه د سر په سترګو وليدله، خو لدې سره هم د هغوی رويه داسې وه لکه چې دا آيت ورته اشاره کوی:

((وَإِنْ يَرَوْا آيَةً يُعْرِضُوا وَيَقُولُوا سِحْرٌ مُسْتَمِرٌّ)) (القمر: ۲) [او که ووينې دغه (کفار د قريشو) کوم دليل (د قدرت) نو پر څنګ به شي دوی (مخ به واړوي) ترې او وايي به دوی (دغه) سحر کوډې دي قوي، چې له پخوا راهيسې رائي.]

هوکې، مشرکينو لدې نښانې او معجزې نه هم مخ واړاوه، اعراض يې وکړ، او پخپل کفر او ګمراهۍ کې لا پسې ورانديې لاړل.[1]

---

[1]. ددې عمومي پريکون تفصيلات مو لدې مراجعو نه اخيستی دي: صحيح البخاري، باب نزول النبي (صلی الله عليه وسلم) بمكة ۱/ ۲۱۲، او باب تقاسم المشركين على النبي (صلى الله عليه وسلم) ۱/ ۵۴۸. زاد المعاد ۴۲/۲. ابن هشام ۱/ ۳۵۰، ۳۵۱، ۳۷۴، ۳۷۵، ۳۷۲، ۳۷۷. رحمة للعالمين ۲۹/۱. ۷۰ مختصر سيرة الرسول (صلی الله عليه وسلم) للشيخ عبدالله النجدي ص ۱۰۲- ۱۰۷- ۱۰۸ - ۱۰۹- ۱۱۰. مختصر السيرة للشيخ محمد بن

ابو طالب ته د قريشو وروستۍ جرګه

رسول اکرم (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) د ابو طالب له خوږ (درې) نه په راوتو سره د دعوت او تبلیغ کارته د پخوا په شان ادامه ورکوله قریشو که څه هم په ظاهر کې دا محاصره او بایکاټ ختم کړی وۀ، خو په حقیقت کې یې پر مسلمانانو باندې خپل ظلمونه او فشاورنه همداسې جاري ساتل، او خلک یې د الله تعالی له دین نه منع کول. ابو طالب هم د پخوا په شان د خپل وراره تر شا ټینګ ولاړ و خو عمر یې له اتیا کلونو نه اوښتی وۀ، او ددې څو کلونو سختیو او دردوونکو پیښو خصوصاً دری کلنې محاصرې ډیر کمزوری او ملا ماتی کړی وۀ. له محاصرې نه د خلاصون لا څومیاشتې نه وې تیرې شوې چې ابو طالب ناروغ شو، بیماري یې زیاته شوه. دغه وخت مشرکینو وویل که ابو طالب مړ شي او بیا مونږ دده له وراره سره ظلم او زیاتی کوو، نو دا به زمونږ لپاره لویه بدنامي وي، د همدې بـدنـامۍ له ویرې نه هغوی یو ځل بیا د خبرو اترو لاره ونیوه، او نیت یې وکړ چې د ابو طالب په وړاندې له محمد (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) سره د خبرو له لارې معامله وکړي، او دا ځل د داسې شیانو په ورکړه هم راضي شول چې مخکې یې هغه نه ورکول، نو همدا وه چې ابو طالب ته یې خپله وروستۍ جرګه ور واستوله.

ابن اسحاق او نور وایي: کله چې ابو طالب بیمار شو، او قریش پوه شول چې حالت یې مخ په خرابیدو دی، نو پخپل منځ کې یې سره وویل: عمر او حمزه (رضي الله عنهما) په اسلام مشرف شول، د محمد (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) دین د قریشو په ټولو کورنیو کې خور شویدی، راځئ ابو طالب ته ورشو، تر څو هغه خپل وراره زمونږ په اړه د کومې خبرې پابند کړي او زمونږ نه هم په دې اړه عهد او وعده واخلي، قسم په خدای ویریږو چې خلک به بیا زمونږ له اداري او کنترول نه ووزي. په بل روایت کې داسې راځي: ویریږو چې که دا بوډا مړ شي او بیا پر محمد (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) کوم ظلم او زیاتی وشي نو بیا به عرب مونږ ته دا طعنه را کوي چې وګورئ دوی محمد (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) پرې ایښی وۀ او د هغه په مقابل کې یې د ظلم او زیاتي جرات نه درلود، خو کله یې چې تره وفات شو نو را

عبدالوهاب النجدي ص ۲۸ - ۲۹- ۷۰-۷۱- ۷۲-۷۳. د موضوع په هکله نوموړی مصادر څه کم شانته اختلاف سره لري، خو مونږ د قرائنو له څېړلو وروسته زمونږ په نظر له ټولو نه قوي نظریه اخیستې ده.

وي نيو او ظلمونه يې ورباندې شروع کړل! د قريشو دا وفد ابو طالب ته ورغی، د وفد (هيئت) غړي د قريشو اشراف او مخور خلک وو لکه عتبه بن ربيعه، شيبه بن ربيعه، ابو جهل بن هشام، اميه بن خلف، ابو سفيان بن حرب او د قريشو نور اشرافيان چې د ټولو شمير (۲۵) کسانو ته رسيده.

د هيئت غړو له ابو طالب سره خبرې اترې وکړې او داسې يې ورته وويل: ته چې زمونږ په مينځ کې کوم مقام او منزلت لرې هغه ښه درته معلوم دی، په کوم حال کې چې اوس قرار لرې هغه هم وينې، زمونږ ويره ده چې دا ستا آخري شپې ورځې دي، زمونږ او ستا د وراره تر مينځ چې کوم کشمکش روان دی په هغه هم ښه خبر ياست، نو لازمه ده چې ته هغه راوغواړې او زمونږ نه د هغه لپاره، او له هغه نه زمونږ لپاره قول او ټرون واخلې يعنې داسې چې هغه له مونږ نه لاس واخلي او مونږ له ده نه، مونږ دې پريږدي چې پخپل دين و اوسو، او هغه به پريږدو چې پخپل دين وي. ابو طالب خپل وراره حضرت محمد (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) راوغوښت، هغه راغی، ابو طالب ورته وويل: وراره! دا ستا د قوم مشران او مخور درته راغلي دي، غواړي چې د څه شيانو قول او وعده درنه واخلي او د څه شيانو قول او وعده دوی درکړي. بيا يې د هغوی وړاندیزونه ورته واورول او دا يې ورته وويل چې غواړي داسې ټرون سره وکړئ چې نور به يو پر بل غرض نه سره لرئ.

رسول اکرم (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) ددې خبرو په ځواب کې د هيئت غړو ته مخ ور واړاوه او داسې يې ورته وفرمايل: (**أرأيتم إن أعطيتكم كلمة تكلمتم بها، ملكتم بها العرب، ودانت لكم بها العجم**). [دا راته ووايئ که زه داسې کلمه او خبره درته وړاندې کړم چې د هغې په ويلو سره به تاسې د عربو پاچايان شئ، عجم به ټول درته سلامي شي، نو تاسې څه نظر لرئ؟] په ځينو روايتونو کې راځي چې رسول (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) ابو طالب ته وفرمايل: (**إني أريدهم على كلمة واحدة يقولونها تدين لهم بها العرب، وتؤدى إليهم بها العجم الجزية**) [زه له دوی نه د داسې يوې خبرې غوښتونکی يم چې که چيرې هغه ووايي نو عربان به ټول ورته تسليم شي او عجم به ورته جزيه ورکوي.] په بل روايت کې راځي چې خپل تره ته يې وفرمايل: (**أي عم، ألا أدعوهم إلى ما هو خير لهم؟**) [کاکا جانه! ته ولې هغوی داسې يوې کلمې ته نه رابولې چې هغه د دوی لپاره غوره او بهتره ده؟] ابو طالب ورته وويل: ته هغوی

څه شي ته رابولي؟ ده ورته وفرمايل: (**أدعوهم إلى أن يتكلموا بكلمة تدين لهم بها العرب، ويملكون بها العجم**) [زه غواړم هغوی داسې يوې کلمې ته راوبولم چې د هغې په ويلو سره به دوی د ټولو عربو مشري وکړي او په عجمو باندې به يې پاچايي قايمه شي.]

د ابن اسحاق يو روايت داسې دی: رسول اکرم (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) وفرمايل:(**كلمة واحدة تعطونها تملكون بها العرب، وتدين لكم بها العجم**). [تاسې زما يوازې يوه خبره ومنئ، هغه داسې خبره ده چې په ويلو سره به يې د عربو پاچايان او عجم به ټول درته سلامي شي.]

په هر حال کله چې رسول اکرم (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) دا خبره وکړه دوی ټول چوپ او حيران شول چې څنګه کيدای شي تر دې حده يوه ګټوره خبره رد کړي؟ بالاخره ابو جهل ورته وويل: دا کومه خبره ده؟ ستا په پلار قسم، ووايه داسې يوه خبره څه لس خبرې خو وکړه مونږ يې منلو ته تياريو. رسول اکرم (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) ورته وفرمايل: تاسې دا ووايئ چې: ((**لا إله إلا الله ، وتخلعون ما تعبدون من دونه**))[**له الله پرته بل حق معبود نشته، او پرته له يوه الله نه د بل هر څه عبادت پريږدئ**]. ددې خبرې په اوريدو سره دوی لاسونه سره ووهل او ويې ويل: اې محمد (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) ته غواړې چې ددې ټولو خدايانو په ځای يوازې يو خدای ونيسو؟ په ربښتيا چې ستا دا معامله ډيره عجيبه او غريبه ده، بيا يې يو بل ته سره وويل: قسم په الله چې دا سړی ستاسې هيڅ خبره هم نه مني، ځئ چې ځو، او د خپلو پلرونو په دين به ټينګ اوسو تر څو الله تعالى زمونږ او ده تر مينځ فيصله وکړي، پدې ترتيب سره هغوی هر يو پخپله لار لاړ.

او د همدې خلکو په باره کې د قرآنکريم دا آيتونه رانازل شول:

((**ص وَالْقُرْآنِ ذِي الذِّكْرِ (١) بَلْ الَّذِينَ كَفَرُوا فِي عِزَّةٍ وَشِقَاقٍ (٢) كَمْ أَهْلَكْنَا مِنْ قَبْلِهِمْ مِنْ قَرْنٍ فَنَادَوْا وَلَاتَ حِينَ مَنَاصٍ (٣) وَعَجِبُوا أَنْ جَاءَهُمْ مُنْذِرٌ مِنْهُمْ وَقَالَ الْكَافِرُونَ هَذَا سَاحِرٌ كَذَّابٌ (٤) أَجَعَلَ الآلِهَةَ إِلَهاً وَاحِداً إِنَّ هَذَا لَشَيْءٌ عُجَابٌ (٥) وَانطَلَقَ الْمَلأُ مِنْهُمْ أَنْ امْشُوا وَاصْبِرُوا عَلَى آلِهَتِكُمْ إِنَّ هَذَا لَشَيْءٌ يُرَادُ (٦) مَا سَمِعْنَا بِهَذَا فِي الْمِلَّةِ الآخِرَةِ إِنْ هَذَا إِلاَّ اخْتِلاقٌ (٧)** (ص: ١ ـ ٧))[1]

---

[1]. ابن هشام ٤١٧/١ - ٤١٨- ٤١٩ . تفهيم القران ٤/ ٣١٢ - ٣١٧ - ٣١٨. مختصر السيرة للشيخ عبدالله النجدي ص ٩١.

[ص، قسم دی په قرآن چې څښتن د پند، ذکر، بيان، شرف، شهرت، عظمت دی (داسې ندي چې کفار د معبودانو په نسبت وايي) بلکه هغه کسان چې کافران شويدي په کبر، سر کشۍ کې دي (له قبوله د حق) او په مخالفت کې دي (له مسلمانۍ سره)، (نه ګوري منکران چې) څومره ډير هلاک کړيدي مونږ پخوا له دې څخه له اهل د زمانې پس ناري به يې وهلې (عند نزول العذاب) حال دا چې نه به و هغه وخت د خلاصيدلو (او د تښتيدلو) او تعجب کوي (کفار) له دې نه چې راغلی دی دوی ته (نبي) ويروونکی له دوی نه او وايي دا کافران چې دغه (ويروونکی نبي) ساحر کوډګر دی دروغجن آيا ده ګرځولي دي دغه (۳۶۰) معبودان الله يو معبود؟ بيشکه دغه (ګرځول د ډيرو معبودانو يوه ته چې تاسې نور معبودان پريږدئ او د يو الله عبادت کوئ) خوامخواه يو څيز ډير عجيب دی (چې مثل نلري) او لاړل په تلوار سره مشران له دوی نه (له مجلسه چې سره ويونکي وو يو بل ته) چې ځئ (پاڅئ له دې ځايه) او صبروکړئ (او محکم اوسئ) پر(عبادت د) معبودانو خپلو، بيشکه دغه شی (توحيد) خوامخواه يوشی دی چې اراده يې کړې شوې ده (له مونږ څخه)، ندی اوريدلی مونږ دغه (توحيد، و حدانيت په دين وروستني (عيسوی کې) نه دی دغه (توحيد) مګر له خپله ځانه جوړ کړي شوي دروغ دي.]

د غم کال

د ابو طالب وفات

د ابو طالب ناروغي سخته شوه بالاخره د بعثت په لسم کال د رجب[1] په میاشت کې وفات شو. دغه وخت د اقتصادي محاصرې له ماتیدو نه یوازې شپږ میاشتې تیرې شوې وې.[2] په بل روایت سره ابو طالب د خدیجې (رضي الله عنها) له وفات نه درې ورځې مخکې د رمضان په میاشت کې وفات شویدی.

په صحیح البخاري کې له مسیب (رضي الله عنه) نه روایت شوی: کله چې د ابو طالب ځنکدن وۀ، ابو جهل ورسره ناست وۀ رسول اکرم (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) هم ورغی او ورته ویې وفرمایل: (**أي عم، قل: لا إله إلا الله ، كلمة أحاج لك بها عند الله**). [کاکا جانه! د (لا اله الا الله) کلمه ووایه، یوازې همدا یوه کلمه تر څو د الله تعالی په وړاندې یې ستا لپاره د حجت او دلیل په توګه وړاندی کړی شم.]

دلته ابوجهل او عبدالله بن ابي امیه ورته وویل: ابو طالبه! آیا د عبدالمطلب له دین نه ګرزې؟ دوی دواړو همداسې خبرې ورته کولې تر څو له خلکو سره د ابو طالب وروستۍ خبره دا شوه چې ویې ویل: د عبدالمطلب په ملت (دین) یم. نو بیا رسول اکرم (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) وفرمایل: (**لأستغفرن لك ما لم أنه عنـــه**) [تر هغې به له الله تعالی نه درته ببنښه غواړم تر څو لدینه منع کړی شوی نه وم.] پدې پسې دا آیت شریف را نازل شو[3]:((**مَا كَانَ لِلنَّبِيِّ وَالَّذِينَ آمَنُوا أَنْ يَسْتَغْفِرُوا لِلْمُشْرِكِينَ وَلَوْ كَانُوا أُوْلِي قُرْبَى مِنْ بَعْدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُمْ أَنَّهُمْ أَصْحَابُ الْجَحِيمِ**))

---

(1). تاریخ اسلام للشاه اکبر النجیب آبادي ۱۲۰/۱. تاریخي مصادر پدې هکله چې ابو طالب په کومه میاشت کې وفات شویدی، زیات اختلاف سره لري خو مونږ د رجب میاشت ځکه غوره کړې چې زیاتره مصادر پدې اتفاق لري چې ابو طالب له شعب نه له راوتلو نه شپږ میاشتې وروسته وفات شوی، اقتصادي محاصره درې کاله وه، اوپیل یې د بعثت د اووم کال د محرم له لومړۍ شپې نه وٲنو پد بحساب سره دده د مرګ نیټه د نبوت د لسم کال د رجب میاشت راځي.

(2). مختصر السیرة للشیخ عبدالله النجدي ص ۱۱۱.

۳- صحیح البخاري باب قصة ابي طالب ۵۴۸/۱

(التوبة: ۱۱۳) [نه دي لايق او (روا) نبي ته او (نه دي لايق او روا) هغو کسانو ته چې ايمان لرونکي دي دغه چې مغفرت وغواړي دوی د پاره د مشرکانو او اګر که وي دا (مشرکان) خاوندان د خپلولۍ وروسته له دې خبرې چې ښکاره شي دوی ته چې بيشکه دوی صاحبان دي د دوزخ (او په کفر مړه دي).]

او دا آيت هم را نازل شو: ((إِنَّكَ لا تَهْدِي مَنْ أَحْبَبْتَ...)). (القصص: ٥٦)[بيشکه ته (اې محمده) نشي ښوولی (لاره حقه) هغه چا ته چې خوښ وي ستا.]

دلته ددې ضرورت نه وينو چې ووايو ابو طالب څومره او څه ډول د رسول اکرم (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) حفاظت او ملاتړ کړی وۀ، ابو طالب د مکې د جاهلو او لويانو د حملو په وړاندې د اسلامي دعوت لپاره د يوې پخې او اوچتې کلا حيثيت درلود، خو هغه د خپلو پلرونو او مشرانو په ملت او دين مړ شو، نو ځکه يې پوره او کامله کاميابي او رستګاري په برخه نه شوه.

په بخاري شريف کې له عباس بن عبدالمطلب (رضي الله عنه) نه روايت دی وايي: حضرت عباس (رضي الله عنه) رسول اکرم (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) ته وفرمايل: ته خپل تره ته څه کولی شې؟ پداسې حال کې چې هغه به ستا ساتنه کوله او د تا په سر به يې له نورو سره شخړې او جګړې کولی او د تا پخاطر به په نورو غوصه کيده؟ رسول اکرم (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) ورته وفرمايل:

(هو في ضَحْضَاح من نار، ولو لا أنا لكان في الدرك الأسفل من النار).

[هغه د دوزخ په باندينۍ برخه يا څنډه کې دی، او که چيرته زه نه وی، نو هغه به د دوزخ په له تولو نه ژوره کنده کې وای.][1]

ابو سعيد الخدري (رضي الله عنه) وايي چې: يو ځل د رسول اکرم (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) په وړاندې دده د تره (ابو طالب) يادونه وشوه نو ده (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) وفرمايل:

(لعله تنفعه شفاعتي يوم القيامة، فيجعل في ضحضاح من النار تبلغ كعبيه).

[کيدای شي د قيامت په ورځ زما شفاعت ګټه ور ورسوي، او د دوزخ په باندينۍ برخه (څنډه)کې يې ځای شي چې اور به يې يوازې تر ښنګريو پورې ورسيږي.]

(1). صحيح البخاري باب قصه ابي طالب ۱/ ۵۴۸

خديجه (رضي الله عنها) د عقبی په لور

د ابو طالب له وفات نه دوی مـيـا شتی او يا يوازي دري ورځې وروسته د روايتونو د اختلاف په اساس د بعثت په لسم کال د رمضان په مياشت کی ام المؤ منين حضرت خديجه الکبری (رضي الله عنها) د (۶۵) کلنی په عمر کې له دې فاني دنيا نه سترګې پټې کړې او دغه وخت د رسول اکرم (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) د مبارک عمر پنځوسم کال وۀ.[۱]

حضرت خديجه (رضي الله عنها) د رسول اکرم (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) لپاره د الله تعالی له خوا لوی او ډير ګرانبها نعمت و، پنځه ويشت کاله يې يو ځای سره تير کړل. خديجه (رضي الله عنها) د غم او خفګان په وخت د رسول اکرم (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) لپاره خوشالي او ډاډ ګيرنه وه، په سختيو کې به يې خوا ته ولاړه وه، د رسالت د تبليغ په لاره کې به يې مرسته ورسره کوله، د جهاد کړاوونه او سختی به يې ورسره ګـا لـلی، په ځان او مال سره به يې له رسول (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) سره غمشريکي کوله. رسول اکرم (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) د ام المؤمنين خديجې (رضي الله عنها) په هکله فرمايي: (**آمنت بي حين کفر بي الناس و صدقتني حين کذبني الناس،و اشرکتنی في مالها حين حرمني الناس، ورزقني الله ولدها، و حرم ولد غيرها**)) [۲] [خديجې (رضي الله عنها) هغه وخت يې په ما ايمان راوړ چې خلک راباندې کافر وو، او هغه وخت يې زما تصديق وکړ چې خلکو تکذيبولم او هغه وخت يې زه پخپل مال کې شريک کړم چې خلکو زه محروم کړی وم او الله تعالی ما ته له هغې نه اولاد راکړ او له نورو نه يې اولاد رانکړ.]

بخاري شريف له ابو هريره (رضي الله عنه) نه روايت کوی وايي:(**اتی جبريل (عليه السلام) النبي (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) فقال:يا رسول الله هذه خديجة (رضي الله عنها) قد اتت، معها اناء فيه ادام او طعام او شراب فاذا هي اتتك فاقرا عليها السلام من ربها، و بشرها ببيت في الجنة من قصب لا خصب فيه ولانصب**)[۳]

---

[۱]. ابن جوزي او علامه منصور پوري وايي خديجه (رضي الله عنها) د رمضان په مياشت کې وفات شويده: تلقيح الفهوم ص ۷، رحمة للعالمين ۱۲۴/۲

[۲]. رواه الامام احمد في مسنده ۱۱۸/۲

[۳]. صحيح البخاری باب تزويج النبي (صلی الله عليه وسلم) خديجة و فضلها ۱/ ۵۳۹

يعنی جبريل (عليه السلام) د رسول اكرم (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) حضور ته تشريف راوړ او ورته وېې فرمايل: يا رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) دا ده خديجه (رضي الله عنها) تشريف راوړي او ورسره يو لوښی دی چې پکې څه کتغ (سالن) خواړه يا څه د څښلو شی (مشروب) دی او کله چې هغه تا ته راورسيده نو ته ددې د رب له طرفه ورته سلام ورسوه، او په جنت کې د زمردو او ياقوتو د داسې يوه کور زيری ورکړه چې هلته به نه غوږ او شور وي او نه ستوماني او درماندګي.

د غمونو لړی

دا دواړه ډيرې دردوونکې پېښې وې، چې په ډيره کمه موده کې يوه په بله پسې پېښې شوې، رسول اكرم (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) يې ډير ودرداوه او زړه يې ډير غمجن او خفه شو، او په همدې پسې د نورو غمونو ورته مخه شوه. د ابو طالب له وفات وروسته مشرکين وربانديې ور روږدي شول او جرات يې وموند ، رسول (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) ته يې په ښکاره اذيت رساوه او ظلمونه يې وربانديې کول. رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) دومره غمونو واخيست، او زړه يې دومره ودريده چې نور يې لدې خلکو اميد قطع شو او پدې هيله يې د طائف لاره ونيوه چې کيدای شي هلته يې څوک دعوت ومني، پناه ورکړي او د خپل قوم په مقابل کې مرسته ورسره وکړي، خو هلته هم چا د الله تعالى د رسول (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) دعوت ونه مانه، پناه يې ور نکړه ، هيڅ ډول مرسته يې ورسره ونکړه، او د هغه ځای خلکو د نيکۍ په ځای دومره بدي ورسره وکړه چې په مکه کې چا نه وه ورسره کړې.

څومره چې په رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) د مکې د مشرکينو ظلمونه زيات شول، هومره په اصحابو (رضي الله عنهم) هم ظلمونه او ربړونه ډير شول، تر دې چې د رسول اكرم (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) نژدې ملګری ابوبکر الصديق (رضي الله عنه) هم مجبور شو د حبشې په لور د هجرت لار ونيسي، له کوره ووت او تر برک الغماد پورې ورسيد ، خو هلته ابن الدغنه وليد بيرته يې پخپل جوار او پناه کې مکې ته راووست.[1]

---

[1]. شاه اكبر خان نجيب آبادي وايي چې دا واقعه په همدې کال شويده تاريخ اسلام ۱/ ۱۲۰ وګوره، دا اړده کيسه په ابن هشام ۱/ ۳۷۲، ۳۷۴ او صحيح البخاري ۱/ ۵۵۲، ۵۵۳ کې هم رانقل شويده.

ابن اسحاق وايي: د ابو طالب له وفات نه وروسته قريشو په رسول اکرم (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) باندې داسې ظلمونه وکړل چې د ابو طالب په ژوند کې يې تصور قدرې هم نه شوی کولی، ان تر دې چې د قريشو يوه ګمراه او جاهل يوه ورځ د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) پر مبارک سر خاورې ور واچولې، او د الله تعالی رسول (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) همداسې ګردجن او په خاورو لړلي سر کور ته تشريف يووړ، هلته يې يوه لور ورپاڅيده او د خپل ګرانقدر پلار (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) مبارک سر يې ومينځه، خاورې يې ورنه پاکولې او ژړل يې. رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) ورته وفرمايل:

(**لا تبکی یابنیة، فإن الله مانع أباك**). لوړې! ته ژاړه مه، الله تعالی ستا د پلار ساتنه او حفاظت کوي. پدې وخت کې رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) دا هم وفرمايل: (**ما نالت منی قریش شیئًا أکرهه حتی مات أبو طالب**).

[تر څو چې ابو طالب ژوندی و قریشو زما په هکله هسې کار نه شوای کولی چې زما نه خوښیده، یعنې اذیت يې نه شوای رارسولئ.] .[1]

او څرنګه چې پدې کال کې رسول اکرم (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) ته يو په بل پسې غمونه او دردونه پيښيدل نو دا کال يې د عام الحزن (د غم کال) په نامه ونوماوه، او په همدې نامه په تاريخ کې شهرت لري.

له حضرت سوده (رضي الله عنها) سره واده

په همدې کال يعنی د بعثت په لسم کال د شوال په مياشت کې رسول اکرم (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) له حضرت سوده (رضي الله عنه) سره واده وکړ. حضرت سوده (رضي الله عنها) په اسلام مشرفه شوې وه او په دوهم ځل هجرت کې يې حبشې ته هجرت کړی و.

لومړنی ميړه يې سکران بن عمرو نوميده هغه هم مسلمان وۀ او له دې سره يې يو ځای هجرت کړی وۀ خو هملته حبشه کې وفات شو، يا دا چې مکې ته راستون شو او وفات شو. او کله چې د سوده (رضي الله عنها) عدت پوره شو، نو رسول اکرم (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) خطبه (کوزده) ورسره وکړه او بيا يې نکاح کړه.

---

[1]. ابن هشام ۴۱۲/۱

او سوده (رضي الله عنها) لومړنۍ بي بي ده چې د خديجې (رضي الله عنها) له وفات نه وروسته رسول اکرم (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) نکاح ورسره کړې ده. وروسته په مدينه منوره کې سوده (رضي الله عنها) د رسول الله (صلى الله عليه وسلم) د خوشالۍ پخاطر خپل نوبت حضرت عائشې (رضي الله عنها) ته هبه کړی (ښښلی) وۀ[1].

[1]. رحمة للعالمين ۲/ ۱۱۵. تلقيح فهوم الاثر ص ۱۰.

د لومړنيو مسلمانانو
د
صبر او ثبات عوامل

دلته د ډير پياوړي عقل او غټ زړه خاوندان هم له حيرت نه ګوته په غاښ دريږي، او د لوی علم او پوهې خاوندان هم دا پوښتنه کوي چې هغه کوم عوامل او اسباب وو کوم چې د مسلمانانو د دومره عظيم صبر او ثبات سبب شويدي؟ هغوی د داسې ظلمونو په وړاندې چې تش په اوريدو يې ويښتان په غوني نيغ دريږي او له ياد نه يې زړونه په لړزه راځي، څنګه او څه ډول ټينګ ولاړ وو؟ او دا کوم زور ورسره وۀ چې داسې ظلمونه او کړاوونه يې ګاللی شوی؟ نو ددې پخاطر چې دا ډول پوښتنې ځواب شوې وي، لازمه وينو چې د لومړنيو مسلمانانو د صبر او ثبات ځنې عوامل تر نظر تير کړو:

۱. ددې ثبات او مقاومت لومړنی او اساسي عامل او سبب په واحد الله (جل جلاله) باندې ټينګ ايمان، او د هغه حقيقي پيژندنه او درست معرفت دی. ځکه يو ځل چې زړه د ايمان په نور منور شي، او د ايمان شمعه په زړه کې بله شي، نو بيا هغه له غرونو نه هم ټينګ وي او هم دروند، او د داسې ايمان خاوند د دنيا ټول مشکلات او کړاوونه که هر څومره ډير او خطرناک وي په هيڅ شميري، او هغه ټول د خپل ايمان په مقابل کې لکه د اوبو ځک او يا لکه د يوه طوفاني او نړوونکي سيلاب په مخ کې د شګو بند شميري. هغه د ايماني لذت او خپل اعتقادي راحت او طراوت په وړاندې هيڅ مشکل ته مشکل نه وايي، او د ايمان په لاره کې د هيڅ کړاو پروا هم نه ساتي: ((...فَأَمَّا الزَّبَدُ فَيَذْهَبُ جُفَاءً وَأَمَّا مَا يَنفَعُ النَّاسَ فَيَمْكُثُ فِي الأَرْضِ كَذَلِكَ يَضْرِبُ اللَّهُ الأَمْثَالَ)) (الرعد: ۱۷) [نو هر څه ځک او خيری نو لاړ به شي په دغه حال کې چې پريوتی وي له نظره (او بې نفعې به وي) او هر څه هغه څيز چې نفع رسوي خلکو ته، نو پاتې کيږي په ځمکه کې (د ګټې پخاطر).

دا اساسي علت او سبب نورې څانګې هم لري چې هر يوه يې د ثبات او صبر په لاره کې د بيل بيل اهميت د رلـو د ونـکې ده او هغه دا دي:

۲. داسې قيادت او مشرتابه چې په زړونو حکومت کوي، رسول الله (صلی الله عليه و

اله و صحبه و سلم) چې نه يوازې د اسلامي امت بلکه د ټول بشريت قائد او لارښود دی د داسې جسماني جمال، نفساني کمال، کريمانه او نيکو اخلاقو، عظيم کردار او ډيرو غوره عاداتو او خصائلو درلودونکی ؤ چې زړونه به پخپله ورته تسليميدل، او خلک به ورنه ځاريدل ځکه هغه کمالات او ښيګڼې چې خلک ځانونه ورنه قربانوي رسول اکرم (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) ته له هغو نه دومره برخه ورکړل شوې وه چې بل هيڅ بني بشر ته هم دومره لويه برخه نده ورکړل شوې. رسول اکرم (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) د شرف، عظمت، فضل او کمال تر ټولو لوړ او اوچت څلی ؤ، د هغه (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) په عفت، امانتداری، صدق، ريښتينولی، او نورو ټولو ښيګڼو باندې له دوستانو وړاندې دښمنانو هم اعتراف کاوه. هره خبره به چې د رسول اکرم (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) له مبارکې خولې وتله حتی ډير غټ دښمنان به هم د هغې په صدق باندې پوره متيقن وو ډيرې داسې پيښې او شواهد وجود لري چې زمونږ د مخکې تيرې شوې خبرې تصديق او تاييد کوي. يو ځل له قريشو نه دری کسان سره راټول شول، دوی هر يوه بيل، بيل او په پټه توګه قرآنکريم اوريدلی ؤ لومړی يو له بل نه خبر نه وو خو بالاخره يې راز فاش او يو په بل خبر شول، لدې دريو نه يو ابو جهل ؤ، کله چې دری واړه سره راټول شول نو يوه يې له ابو جهل نه وپوښتل چې ووايه د هغه څه په هکله چې له محمد (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) نه دې اوريدلي ستا نظر څه دی؟ ابو جهل په ځواب کې ورته وويل: ما څه اوريدلي؟ اصلي خبره دا ده چې په شرف او عظمت کې زمونږ او بنو عبدمناف تر مينځ مقابله او مسابقه وه، هغوی غريبانو ته خواړه ورکول مونږ هم ورکول، هغوی خلکو ته د سپرلی ښندبست کاوه مونږ هم ورته سپرلی برابرولې، هغوی خلکو ته مرستې ورکولې، مونږ هم ورسره کومکونه کول، يعنی څه به چې هغوی کول مونږ به هم همداسې کول تر څو دواړه سره بالکل برابر شوو، مونږ او هغوی لکه په يوه مسابقه کې دشرط دوه آسان داسې شولو چې هر يو دا کوښښ کوي له بل نه مخکې شي، خو اوس بنو عبدمناف وايي چې زمونږ په مينځ کې داسې نبي (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) دی چې له آسمانه وحي ورته راځي، نو اوس ووايئ مونږ به کله دې ته ورسيدی شو؟ قسم په خدای، مونږ به کله هم پدې سړي ايمان را نه وړو، او کله به يې هم تصديق ونکړو.[1]

---

[1]. ابن هشام ۳۱۲/۱.

همدا راز ابو جهل به دا هم ويل: اې محمده (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) مونږ تا دروغجن نه بولو، خو هغه څه تکذيبوو چې تا راوړي دي، نو الله تعالى دا آيت شريف را نازل کړ:((فَإِنَّهُمْ لا يُكَذِّبُونَكَ وَلَكِنَّ الظَّالِمِينَ بِآيَاتِ اللَّهِ يَجْحَدُونَ))[1] (الانعام: ۳۳). [نو بيشکه دوی نه کوي تکذيب ستا (په واقع کې) و ليکن دا ظالمان په ايتونو د الله انکار (مسخرې) کوي.]

دا کيسه خو مخکې تيره شوه چې يوه ورځ کفارو رسول اکرم (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) ته دری ځله طعنې ورکړې، او په دريم ځل رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) ورته وفرمايل: اې قريشو! ما تاسې ته قتل او ذبح راوړې ده، يعنى دا يو ډول تهديد ؤ چې هغوی ته يې ويل ما درته ستاسې د قتل خبر راوړی دی. دې خبرې په هغوی باندې دومره اغيزه وکړه چې په هغه مجلس کې له رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) سره له ټولو نه د زيات عداوت او دښمنۍ درلودونکي هم په ډيره نرمه لهجه او خوږو کلماتو د رسول اکرم (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) د رضا او خوښۍ حاصلولو کوښښ کاوه.

دا مو هم مخکې وويل چې يوه ورځ رسول اکرم (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) په لمانځه ولاړ ؤ کله يې چې سر په سجده کيښود کفارو د اوښ لری او کولمې وربانديې وارواچولې، خو کله چې رسول اکرم (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) له سجدې نه سر راپورته کړ، نو دوی ته يې ښيره وکړه، يو ځل د مشرکينو خنداګانې په خولو کې ور وچې شوې، غم او ويرې واخيستل او پدې باوري شول چې حتماً به هلاکيږی نور يې نجات نشته.

دا کيسه هم مخکې تيره شوې چې رسول اکرم (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) د ابو لهب زوی عتيبه ته ښيرې وکړې، عتيبه پدې پوره يقين درلود چې دا ښيرې به حتماً ورته لګيږي، او کله يې چې په شام کې زمری وليد نو ويې ويل: قسم په خدای چې محمد (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) زه پداسې حال کې ووژلم چې پخپله په مکه کې ناست دی.

همدا راز ابي بن خلف به تل رسول اکرم (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) ته د قتل اخطارونه ورکول، يو ځل رسول اکرم (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) دده په ځواب کې ورته وفرمايل: (**بل أنا أقتلك إن شاء الله**) [چې ته نه، بلکه زه به تا وژنم (ان شاء الله).] او کله چې د احد په غزا کې رسول اکرم (صلى الله عليه و اله و صحبه و

---

[1]. رواه الترمذي في تفسير سورة الانعام ۱۳۲/۲

سلم) د ابي بن خلف په غاړه د نیزې ګوزار وکړ، که څه هم هغه معمولي ټپي شوی وٴ، خو داسې یې ویل: محمد (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) ما ته په مکه کې دا ویلی وٴ چې زه به تا وژنم، قسم په خدای که هغه ما ته لاړې هم را تو کړي نو زما روح به له کالبد نه وزي (ددې پیښې تفصیل به په راتلونکو پاڼو کې راشي).[1]

همدارنګه یو ځل سعد بن معاذ په مکه کې امیه بن خلف ته وویل: ما له رسول اکرم (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) نه اوریدلي چې فرمایل یې: (**إنهم ــ أي المسلمين ــ قاتلوك**) چې ته (امیه) به د مسلمانانو په لاس وژل کیږې. ددې خبرې په اوریدو سره د امیه زړه ولوید ویرې واخیست او له ځان سره یې دا عهد وکړ چې له مکې نه به د باندې نه وځي، او د بدر د غزا په وخت کې چې د ابو جهل د ډیر اصرار په وجه مجبور شو له مکې نه ووځي، نو یو ډیر تند او تیز اوښ یې واخیست تر څو د خطر په وخت کې یې ژر له صحنې راوایستلی شي، پدې وخت کې چې امیه له مکې نه د مدینې په لور تګ ته تیار شو، نو بښځې یې ورته وویل: اې ابو صفوانه! تا د هغه یثربي ورور خبره هیره کړیده؟ ابو صفوان په ځواب کې ورته وویل: نه، نه مې ده هیره شوې، خو قسم په خدای چې له هغوی سره تر دې نژدې ځایه پورې ځمه.[2]

دا وٴ د رسول اکرم (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) د دښمنانو حال، خو د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) یاران او اصحاب (رضي الله عنهم) دومره د خپل عظیم لارښود په مینه کې ډوب وو چې مرګ او ژوند یې په همغه پورې تړلی وٴ هغه یې د سترګو تور او د زړه سر وٴ، زړونه یې داسې ورپورې ننبتي وو لکه اوسپنه په آهن ربا پورې.

فصورته هیولی کل جسم و مغناطیس افئدة الرجل

[یعنی د هغه صورت د هر جسم هیولی او وجود یې د خلکو د زړونو آهن ربا (مقناطیس) وه.] د همدې مینې، محبت، فدا کارۍ او ځان قربانولو نتیجه دا وه چې اصحابو کرامو (رضي الله عنهم) به خپل ځانونه مرګ ته ورکول خو دا یې نه شوی زغملی چې د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) نوک دې پټ شي او یا یې دې په ګوته کې اغزی لاړ شي.

یوه ورځ په مکه کې ابوبکر صدیق (رضي الله عنه) ډیر زیات ووهل شو، خلکو تر لغتو

---

(1). ابن هشام ۲/ ۸۴

(2). صحیح بخاري ۵۲۳/۲

لاندې اچولی و، عتبه بن ربيعه په دوو پيوند شويو څپليو واهه، په مخ يې ډير ګوزارونه ورکول بيايې په خيټه ور وخوت، دومره وټکول شو چې مخ او پزه يې سره يو شول، وروسته د بنو تيم خلکو په يوه تکه کې ونغښت او کور ته يې يووړ، چا هم دا ګومان نه کاوه چې ژوندی به پاتې شي، خو د ورځې په وروستۍ برخه کې په حال شو خبرې يې وکړې او داسې يې وويل: د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) څه حال دی؟ پدې خبره د قوم خلک وربانديې په غوسه شول، پرې او ملامتي يې وربانديې وويله، بيا پاڅيدل او دده مور ام الخير ته يې وويل: څه ورکړه چې ويې خوري او يا څه وروڅښه. او کله يې چې مور ورسره ګوښې پاتې شوه ډير اصرار يې وربانديې وکړ چې څه وخوري او يا څه وڅښي، خو ابوبکر صديق (رضي الله عنه) به همدا ويل چې د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) څه حال دی؟ نو مور يې ورته وويل: قسم په خدای زه د تا د ملګري په حال نه يم خبره. ابوبکر (رضي الله عنه) ورته وويل: لاړه شه او له ام جميل بنت الخطاب نه د هغه په هکله پوښتنه وکړه، موريې ووتله او ام جميل ته ورغله او ورته ويې ويل: زما زوی ابوبکر (رضي الله عنه) د محمد (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) په هکله له تا نه معلومات غواړي چې هغه څنګه دی؟ ام جميل (رضي الله عنها) ورته وويل: زه نه ابوبکر (رضي الله عنه) پيژنم او نه محمد بن عبدالله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم)، خو که ته غواړې چې زه ستا زوی ته درسره لاړه شم نو څه چې ځو، دواړه راووتلې او کور ته راغلې که ګوري چې د ابوبکر الصديق (رضي الله عنه) حال بل دی، د چا خبره له ډيرو وهلو څلور زره پروت دی. ام جميل ور لنډه شوه او چيغه يې کړه، قسم په خدای دا خلک چې ته يې دې حال ته راوستی يې فاسقان او کافران دي، له الله تعالى نه دا غواړم چې ستا غچ او انتقام ورنه واخلي. ابوبکر (رضي الله عنه) ورته وويل د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) څه حال دی؟ ام جميل ورته وويل: دلته خو ستا مور ده هغه خو زمونږ خبرې اوري! ده ورته وويل: له هغې نه مه ويريږه، نو ام جميل ورته وويل: رسول الله (ص جوړ او روغ دی، ده ورته وويل: اوس چيرته دی؟ دې ورته وويل: هغه اوس په دار الارقم کې تشريف لري بيا ابوبکر (رضي الله عنه) وويل: له خدای تعالى سره دا عهد کوم چې تر هغې به نه څه وخورم او نه به څه وڅښم تر څو د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) په خدمت کې حاضر شوی نه وم، مور او ام اجميل ورته وويل: اوس صبر وکړه، تر څو لږ آرامي شوه خلک کورونو ته لاړل، تګ راتګ بند شو بيا هغوی د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) د ملاقات پخاطر ووتل، ابوبکر (رضي الله عنه) پداسې حال کې چې په ام الخير او ام جميل باندې يې تکيه کوله د رسول اکرم

(صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) خدمت ته حاضر شو.[1]
له رسول اکرم (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) سره د اصحابو (رضي الله عنهم) د مينې اوله ده نه د ځان قربانولو نورې اهمې او نادرې پېښې په هم په راتلونکو پانو کې سره ولولو، خصوصا د احد د غزا پېښې او د خبيب (رضي الله عنه) او نورو اصحابو (رضي الله عنهم) تاريخي واقعې.
۳. د مسئوليت احساس – اصحابو (رضي الله عنهم) دا ښه درک کړې وه چې د بشريت په هکله د دوی په غاړه د مسئوليت څومره دروند پيټی پروت دی. هغوی د خپل انساني مسئوليت پوره احساس درلود، او پدې باوري وو چې ددې مسئوليت ادا کول حتمي او لازمي دي، او لدينه غاړه غړول او اوږه خالي کول، لدې اوسنيو کړاوونو او ظلمونو نه ډير خطرناک او ضررناک عواقب لري، او ددې عظيم مسئوليت له ادا نه سرغړول د دوی او ټول بشريت لپاره دومره بدبختي او زيانونه راوړي چې له هغو تکليفونو نه چې ددې دندې د ترسره کولو په لاره کې يې ګالي څو چنده زيات او دردونکي بلکه له هغې سره بالکل د مقايسې وړ ندي.
۴. په آخرت باندې ايمان – په آخرت باندې ايمان د دوی په زړونو کې د مسئوليت احساس نور هم پياوړی کاوه هغوی پدې ټينګه عقيده درلوده چې له مرګ نه وروسته به بيا راژوندي کيږي، الله تعالی به د ټولو وړو او لويو پټو او ښکاره عملونو حساب ورسره کوي، بيا به د تل لپاره يا جنت ته ځي او يا به د جهنم په سوزيدونکو لمبو کې وي. ژوند يې د خوف (ويرې) او رجاء (تمې او هيلې) تر مينځ و. يعنی د الله تعالی رحمت او مهربانۍ ته هيلمن وو او له عذاب نه يې ويريدل، د هغوی حالت داسې وٴ لکه دا مبارک آيت چې ورته اشاره کوي:
((وَالَّذِينَ يُؤْتُونَ مَا آتَوا وَقُلُوبُهُمْ وَجِلَةٌ أَنَّهُمْ إِلَى رَبِّهِمْ رَاجِعُونَ)) (المومنون: ٦٠) [او هغه کسان چې ورکوي هر هغه چې ورکوي (له زکاتونو او خيراتونو) حال دا چې زړونه د دوی ويريدونکي دي (له عدم قبوله ځکه چې) بيشکه دوی رب خپل ته ورتلونکي دي.] هغوی پدې پوخ باور درلود چې دا ټوله دنيا د آخرت په مقابل کې د مچ او ماشې د يوه وزر قدرې ارزښت هم نلري نو همدا ټينګه عقيده او درست معرفت وٴ چې د دنيا هر مشکل يې ورته آسانه کړی وٴ، هر ډول کړاو او درد يې زغملی شوی، له ټولو نه ستر ستر مشکلات او کړاوونه يې هم د هدف په لار کې خنډ او مانع نه شوی ګرزيدلی.

---

[1]. البداية و النهاية ۳/ ۳۰

۵. قرآنکريم _ مشکلاتو او کړاوونو پدې له ټولو نه سخت وخت کې د قرانکريم هغه سورتونه او اياتونه رانازليدل چې د اسلام د اساسي اصولو او مبادئو لپاره يې په زړه راښکونکي انداز او قاطعانه لهجه دلايل او براهين قائم کړيدي. دغه وخت اسلامي دعوت د همدې اصولو په محور چورليده، او دې آيتونو مسلمانانو ته هغه بنيادي او اساسي امور او مسايل په ګوته کول کوم چې الله تعالی د بشريت له ټولو نه اوچتې او سپيڅلې ټولنې (اسلامي ټولنې) جوړښت په همغو امورو پورې تړلی دی. همدا راز دې آيتونو مسلمانانو ته د زغم او صبر، ثبات او پايمردی درس هم ورکاوه، پدې هکله يې مثالونه ورته راوړل او پدې کې نغښتې حکمتونه يې ورته بيانول:

((أَمْ حَسِبْتُمْ أَنْ تَدْخُلُوا الْجَنَّةَ وَلَمَّا يَأْتِكُمْ مَثَلُ الَّذِينَ خَلَوْا مِنْ قَبْلِكُمْ مَسَّتْهُمُ الْبَأْسَاءُ وَالضَّرَّاءُ وَزُلْزِلُوا حَتَّى يَقُولَ الرَّسُولُ وَالَّذِينَ آمَنُوا مَعَهُ مَتَى نَصْرُ اللَّهِ أَلا إِنَّ نَصْرَ اللَّهِ قَرِيبٌ)). (البقرة: ٢١٤) [بلکه آيا ګومان کوئ تاسي (اې مؤمنانو) چې ننه به وځئ تاسې جنت ته حال دا چې راغلې به نه وي په تاسې باندې په مثل (دسختيو) د هغو کسانو چې تير شويدي پخوا له تاسې نه چې رسيدلې وه دوی ته سختي (لکه فقر او مرض) او ګرځول شوي وو دوی (په سختيو سره) تر هغه پورې چې ويل به (هم) رسول او (هم) هغو کسانو چې ايمان يې راوړی وٴ سره له ده چې کله به وي نصرت د الله؟ خبردار شئ! چې بيشکه نصرت د الله نژدې دی (مؤمنانو) ته.]

((الم (١) أَحَسِبَ النَّاسُ أَنْ يُتْرَكُوا أَنْ يَقُولُوا آمَنَّا وَهُمْ لا يُفْتَنُونَ (٢) وَلَقَدْ فَتَنَّا الَّذِينَ مِنْ قَبْلِهِمْ فَلَيَعْلَمَنَّ اللَّهُ الَّذِينَ صَدَقُوا وَلَيَعْلَمَنَّ الْكَاذِبِينَ)) (العنكبوت: ١-٣). [آيا ګومان کوي دا خلک ددې چې پرې به ښودی شي دوی (په هم دې قدر) چې ووايي دوی چې ايمان راوړی دی مونږ حال دا چې دوی به ونه ازمويل شي، او خوامخواه په تحقيق ازمويلي وٴ مونږ هغه کسان چې له دوی نه ړومبی وو پس هرومرو معلوم به کړي الله (په علم ظاهري سره هم) هغه کسان چې ريښتيني دي (په دعوی د ايمان کې) او خوامخوا معلوم به کړي الله (هغه) دروغجن (په علم ظاهري هم).]

ددې تر څنګ دغه وخت داسې آيتونه هم نازليدل چې کفارو او ټولو معاندينو او مخالفينو ته به يې غابن ماتوونکي ځوابونه ورکول، د هغوی ټولې حيلې به يې ورماتولې او هيڅ بهانه مانه به يې نه ورته پرېښوده. او په پوره څرګنده او صريحه توګه به يې دا ورته اعلانول چې که هغوی حق ته غاړه تيټه نکړي او همداسې ګمراه او بې لارې پاتې شي نو پای او عاقبت به يې ډير خراب او زيانمن وي، پدې هکله به يې د پخوانيو قومونو کيسې او نور داسې تاريخي شواهد ورته وړاندې کول چې دا به ورنه

معلومیده چې د مسلمانانو او کافرانو په هکله د الله تعالی سنت او فیصله څه ده، خو لدې تهدید او ویرې سره سره داسې آیتونه هم رانازلیدل چې له کرم او مهربانۍ نه به ډک وو، لهجه یې نرمه وه د افهام او تفهیم، و عظ او اراشاد خوا به یې نیولې وه تر څو ګمراهان له خپلې ګمراهۍ او ضلالت نه حق او هدایت ته واوړي.

قرانکریم په حقیقت کې مسلمانانو ته یوه بله دنیا او بیل جهان جوړکړی وۀ، لدې خاورینې دنیا نه یې اوچت کړي وو هلته یې د کائناتو مشاهد، د ربوبیت جمال او کمال، د الوهیت عظمت او رفعت، او د رحمت، رضا او مهربانۍ داسې صحنې ورښودلې چې په لیدو سره به یې هغوی دومره پیاوړي کیدل چې بیا به ورته د کړاوونو او مشکلاتو غرونه لکه د یوه طوفاني سیلاب په وړاندې د شګو بندونه داسې وو.

دې آیتونو به مسلمانانو ته د الله تعالی له طرفه د رحمت، رضا، او له همیشنیو نعمتونو نه ډک جنت زیري هم ورکول، او د دوی د ظالمو او کافرو دښمنانو هغه حالت به یې هم ورته تمثیل او ترسیماوه، چې د قیامت په ورځ به د الهي عدالت محکمې ته راوستل کیږي، محاسبه به ورسره کیږي او بالاخره به پرمخې په دوزخ کې اچول کیږي چې ځئ اوس د اور خوند وګورئ.

۶. د بري زیري ـ ددې ټولو تر څنګ مسلمانان له کله نه چې له کړاوونو سره مخ شول بلکه له هغې نه هم وړاندې پدې ښه پوهیدل چې اسلام قبلول او مسلمان کیدل یوازې دا معنی نلري چې تل به دردونه، ظلمونه او کړاونه ګالي، بلکه د اسلامي دعوت هدف دا دی چې د جاهلیت دا توري تیاري ختمې کړي، او دا د ظلم مانۍ را نسکوره او په ځای یې د عدل ځلی ودروي. همدا راز ددې دعوت دا غوښتنه ده چې د نړۍ په سیاسي ډګر کې له نورو نه مخکې شي هلته خپل نفوذ او حاکمیت قایم کړي تر څو اسلامي امت او ټول بشریت د بندګانو له عبادت نه آزاد او یوازې د یوه الله عبادت ته یې بوزي او الهي رضا یې په برخه شي.

قرآنکریم به مسلمانانو ته کله په صریحه لهجه او کله په کنایه سره دا ډول زیري ورکول، پدې سختو شپو او ورځو کې چې تر مسلمانانو لاندې ځمکه سور اور ګرځیدلې وه، له هرې خوا راګیر وو نژدې وو چې له غمه یې زړونه وچوي، په همدې غمجنو حالاتو کې به قرآنکریم د پخوانیو انبیاوو (علیهم السلام) او د دوی د مشرکو اقوامو حالات او واقعات بیانول، او دې آیتونو به د هغو حالاتو او واقعاتو کیسې کولې چې د مکې د مسلمانانو او کفارو له حالاتو سره به یې ډیر ورته والی او شباهت درلود. او پدې ترتیب سره به یې مسلمانانو ته د پخوانۍ زمانې د حق او باطل د

جګړې هغه نقشه په مخ کې اینبودله چې دوی به اوس د سر په سترګو لیدله، بیا به یې ددې جګړې نتیجه هم ورته اعلانوله او دا به یې ورته ښوولې چې الله تعالی کافران او ظالمان څه ډول هلاک او برباد کړي او د ځمکې حاکمیت یې خپلو نیکو بندګانو ته سپارلی وۀ. له دې ډول کیسو نه دا په ډاګه کیدله چې د مکې مشرکان به په ډیر نژدې وخت کې له شرمیدونکې ماتې سره مخ کیږي، مسلمانان به بری مومي او اسلامي دعوت به خپل منزل ته رسیږي.

له هغو آیتونو څخه چې د دعوت پدې مرحله کې نازل شوي او د مسلمانانو د بري او فتحې زیری ورکوي ځنې دا دي:

((وَلَقَدْ سَبَقَتْ كَلِمَتُنَا لِعِبَادِنَا الْمُرْسَلِينَ (١٧١) إِنَّهُمْ لَهُمُ الْمَنصُورُونَ (١٧٢) وَإِنَّ جُندَنَا لَهُمُ الْغَالِبُونَ (١٧٣) فَتَوَلَّ عَنْهُمْ حَتَّى حِينٍ (١٧٤) وَأَبْصِرْهُمْ فَسَوْفَ يُبْصِرُونَ (١٧٥) أَفَبِعَذَابِنَا يَسْتَعْجِلُونَ (١٧٦) فَإِذَا نَزَلَ بِسَاحَتِهِمْ فَسَاءَ صَبَاحُ الْمُنذَرِينَ)) (الصافات: ١٧١ –١٧٧) [په تحقیق پخوا لا صادر شوی دی حکم زمونږ د پاره د مرسلینو بندګانو زمونږ، چې بیشکه دوی له هم دوی سره مدد کړی شوی دی، او بیشکه لښکرې زمونږ خوامخواه هم دوی کامیاب دي (په کافرو) پس مخ وګرځوه ته (اې محمده) له دوی نه تر یوه وخته پورې، اوګوره ته دوی ته پس ژر ده چې وبه ویني دوی (عاقبت خپل)، آیا پس (په راتلو) د عذاب زمونږ تلوار کوي دوی، پس کله چې نازل شي (عذاب) په میدان (غولي) د دوی پس بد به وي سبا د ویرولیو شویو.]

((سَيُهْزَمُ الْجَمْعُ وَيُوَلُّونَ الدُّبُرَ)) (القمر: ٤٥) [ژر ده چې ماته به کړه شي جمع (د دوی) او وبه ګرزوي دوی شاوې خپلې (مسلمانانو ته له جنګه). ((جُندٌ مَا هُنَالِكَ مَهْزُومٌ مِنَ الأَحْزَابِ)) (ص: ١١) [دوی خو یو لښکر ګوتې دی په دغه ځای کې چې ماتې ورکړی شوې له هغو ډیرو لښکرو څخه دي.

د هغو اصحابو (رضي الله عنهم) په هکله چې حبشې ته یې هجرت کړی وۀ د الله تعالی دا قول را نازل شویدی:

((وَالَّذِينَ هَاجَرُوا فِي اللَّهِ مِنْ بَعْدِ مَا ظُلِمُوا لَنُبَوِّئَنَّهُمْ فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً وَلأَجْرُ الآخِرَةِ أَكْبَرُ لَوْ كَانُوا يَعْلَمُونَ)) (النحل: ٤١). [او هغه کسان چې هجرت یې کړی دی په (لیاره د) الله کې وروسته له هغه چې ظلم پرې وکړی شو، نو خوا مخواه ځای به ورکړومونږ دوی ته په دنیا کې ښه (ځای) او خوامخواه اجر (بدل) ثواب د آخرت ډیر لوی دی که وئ دغه (کفار) چې پوهیدئ (په ثواب د هجرت....)]

کفارو له رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) نه د یوسف (علیه السلام) د کیسې پوښتنه وکړه، نو په ځواب کې الله تعالی داسې ورته وفرمایل: ((لَقَدْ كَانَ فِي يُوسُفَ وَإِخْوَتِهِ آيَاتٌ لِلسَّائِلِينَ)) (یوسف:۷) [په تحقیق چې ؤ په (کیسې د) یوسف او وروڼو دده کې دلائل (د قدرت د الله او نبوت ستا) لپاره د پوښتونکو] یعنی دا چې د مکې مشرکین د یوسف (علیه السلام) د کیسې پوښتنه کوي نو دوی به هم لکه د یوسف (علیه السلام) د وروڼو په شان له ناکامۍ سره مخامخ کیږي، او آخر به دوی هم لکه د هغوی په شان د تسلیمۍ سر پر ځمکه ږدي.

بل ځای قرآنکریم له رسولانو نه یادونه کوي فرمایي: ((وَقَالَ الَّذِينَ كَفَرُوا لِرُسُلِهِمْ لَنُخْرِجَنَّكُمْ مِنْ أَرْضِنَا أَوْ لَتَعُودُنَّ فِي مِلَّتِنَا فَأَوْحَى إِلَيْهِمْ رَبُّهُمْ لَنُهْلِكَنَّ الظَّالِمِينَ (۱۳) وَلَنُسْكِنَنَّكُمُ الأَرْضَ مِنْ بَعْدِهِمْ ذَلِكَ لِمَنْ خَافَ مَقَامِي وَخَافَ وَعِيدِ)) (ابراهیم: ۱۳. ۱٤) [او وویل هغو کسانو چې کافران شوي وو رسولانو خپلو ته چې خوامخواه و به باسو مونږ تاسې هرو مرو له ځمکې خپلې یا به خوامخواه وګرځئ تاسې خوامخواه په دین زمونږ کې پس وحي وکړه دوی ته رب د دوی چې هرومرو هلاک به کړو مونږ ظالمان او خوامخواه به و اوسوو مونږ تاسې په ځمکه د دوی کې وروسته (د هلاکت) د دوی، دغه (اهلاک او اسکان حق دی) د پاره د هغه چا چې ویریږي له دریدلو په مخ زما کې او ویریږي له وعدې (د عذاب زما).]

هغه وخت چې د فارسیانو او رومیانو تر مینځ جګړه ګرمه وه د کفارو دا هیله وه چې فارسیان بری ومومي ځکه هغوی هم مشرکین وو، خو د مسلمانانو امید دا ؤ چې بری د رومیانو په برخه شي ځکه رومیانو هم په الله، رسولانو، وحي، کتاب او آخرت باندې ایمان درلود، خو دا ځل بری د فارسیانو په برخه شو، خو په همدې وخت کې الله تعالی مسلمانانو ته زیری ورکوي چې پدې څو لنډو کلونو کې به رومیان پر فارسیانو غلبه ومومي، او د دې زیري تر څنګ یې د مسلمانانو د فتحې او بري زیری هم ورکړ، الله تعالی فرمایي : ((...وَيَوْمَئِذٍ يَفْرَحُ الْمُؤْمِنُونَ (٤) بِنَصْرِ اللَّهِ...)) (الروم: ٤. ٥) [او په دغه ورځ (د غلبې د روم په فارس) خوشاله به شي مؤمنان په نصرت د الله (له کتابیانو سره په مجوسیانو).

رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) به پخپله هم وخت په وخت دا ډول زیري ورکول، د حج په وخت کې به یې چې په عکاظ، ذي المجاز، او مجنه کې خلک د الله

دين ته رابلل، نو نه يوازې دا چې مؤمنانو ته به يې د جنت زيري ورکول بلکه په ډاګه سره به يې دا هم فرمايل : اې خلکو (لا اله الا الله) ووايئ، تر څو بريالی شئ، او تر څو په همدې کلمې سره عربان لاندې کړئ او عجم هم تر خپلې قبضی لاندې راولئ، او که پدې لاره کې ومرئ نو په جنت کې به پاچايان وئ. د حديث شريف متن دا دی: ((**يا ايها الناس قولوا لا اله الا الله تفلحوا، تملكوا بها العرب، و تدين لكم بها العجم، فاذا متم كنتم ملوكا في الجنة**)).(۱)

مخکې مو دا هم ولوستل چې رسول الله (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) عتبه بن ربيعه ته چې غوښتل يې له رسول (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) سره د دينوي هيلو او غوښتنو په سر سودا او سازش وکړي څه ډول ځواب ورکړی وۀ، او عتبه د رسول (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) له خبرو نه څنګه پدې پوه شوی و او دا يې ويلي و چې بالاخره رسول (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) او دين به يې غلبه او برې مومي. رسول اکرم (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) ابو طالب ته د قريشو وروستي هيئت ته هم په صريحو ټکو کې فرمايلي وو چې زه له تاسې نه يوه خبره غواړم چې راسره ويی منئ او هغه داسې خبره ده چې په منلو سره به يې د عربو او عجمو ټولو پاچايي ستاسې وي.

خباب بن الارت (رضي الله عنه) وايي: ((**اتيت النبي (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) وهو متوسد برده، و هو في ظل الكعبة، و قد لقينا من المشركين شدة، فقلت: الا تدعوالله، فقعد و هو محمر وجهه، فقال لقد كان من قبلكم ليمشط بمشاط الحديد مادون عظامه من لحم و عصب ما يصرفه ذلك عن دينه وليتمن الله هذا الامر حتى يسير الراكب من صنعاء الى حضرموت ما يخاف الا الله – زاد بيان الراوي – و الذئب على غنمه** [۱] **وفي رواية ولكنكم تستعجلون**))[۲]

[ترجمه: يو ځل زه د رسول اکرم (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) په خدمت کې حاضر شوم، رسول اکرم (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) د کعبې شريفې سيوري ته په يوه چادر تکيه وهلې وه. دغه وخت مونږ د کفارو له لاسه ډير په عذاب وو، ما ورته وويل: اې رسول الله (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) !الله تعالی ته سوال او

---

(۱). رواه الترمذي

(۱). صحيح البخاري ۵۴۳/۱

(۲). صحيح البخاري ۵۱۰/۱.

دعا نه کوي؟ رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) ددې خبرې په اوريدو سره را کيناست مبارک مخ يې تک سور شو او ويې فرمايل: هغه خلک چې له تاسې نه مخکې تير شويدي، غوښې، رګونه او اعصاب به يې تر هډوکو پورې د اوسپنې په ږومنځو تورړل کيدل، خو پدې سختيو سره به هم هغوی له خپل دين نه اوړيدل، او بيا يې وفرمايل: الله تعالی به دا دين مکمل، غالب او بريالی کوي تر دې چې سپور به له صنعاء نه تر حضرموت پورې سفر کوي او له الله نه پرته به د بل څه ويره ورسره نه وي ـ راوي زياتوي ـ او ميږو ته به د ليوه خطره او ويره هم ور سره وي. په بل روايت کې دا هم راځي خو تاسې عجله او بيړه کوئ.

دا هم بايد وويل شي چې د فتحې دا زيري څه پټ او مخفي نه وو بلکه دا د مسلمانانو او کفارو ټولو غوږونو ته رسيدلي وو، وايي چې اسود بن المطلب او ملګرو به يې چې کله د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) اصحاب (رضي الله عنهم) وليدل، نو د استهزاء او ريشخند له مخې به يې ويل: دا دي د ځمکې پاچايان راغلل وګورئ دوی به په کسری او قيصر باندې بريالي کيږي!! بيا به يې شپيلي کول، چک چک او لاسونه به يې سره پرکول.[۳]

همدا د ځلانده مستقبل، او بالاخره په جنت کې د ابدي او دايمي ژوند زيري او اميدونه وو چې مسلمانانو ته يې د هغه لويو دردونو او سختو ظلمونو ګالل او زغمل آسانه کړي وو، او هغوی يې پدې باوري کړي وو چې دا تياري به حتماً روښانه کيږي، او دا د غم دور به خاتمه مومي نور به بيا خوشالي وي او سعادت.

ددې تر څنګ به رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) تل هغوی ته روحي غذا هم ورکوله، د هغوی زړونه او دماغونه به يې د ايمان په ورانګو روښانه کول، د قرآنکريم او حکمت (احاديثو) په واسطه به يې د هغوی نفساني تزکيه کوله، په ايمان او عقيده به يې روزل، د روحاني اوچتوالي، قلبي سپيڅلتيا، غوره او لوړو اخلاقو، له مادياتو او شهواتو نه د آزادۍ او يوازې له يوه خدای ﷻ سره د مينې او د يوه الله ﷻ د بندګۍ لور ته به يې بلل، په زړونو کې به يې د واقعيت او حقيقت شعلې را اوچتولې، له تيارو نه يې روښنايۍ ته را ايستل، د زغم، صبر او حوصلې درس به يې ورکاوه، نو ددې لارښوونو او هدايتو نتيجه دا شوه چې د هغوی په زړونو کې دين او ايمان کلک ځای ونيو، له مادياتو او شهواتو سره يې اړيکې وشليدلې، د الله تعالی

---

[۳]. فقه السيرة ص ۸۴.

(ج) د رضا د حصول په خاطر هر ډول قربانۍ ته آماده وو، د جنت په تمه او هيله اوسيدل، علمي تنده يې لا پسې زياته شوه، له نفس سره د محاسبې روح او احساس يې پياوړی شو، خپل اعصاب، احساسات او عواطف يې تر اداري او کنترول لاندې ساتل، د صبر، سکون، عزت او وقار په وسيله يې د هر مشکل مقابله کوله.

دريمه مرحله

اسلامي دعوت له مکي نه د باندې

رسول الله (ﷺ) په طايف کې

د نبوت په لسم کال د شوال په مياشت کې چې د ۶۱۹م کاله د مې مياشتې له وروستيو او د جون له لومړيو سره سمون خوري[1]، رسول اکرم (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) د طائف په لور روان شو.

طائف له مکې نه تقريباً شپيته ميله ليرې دی، رسول اکرم (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) دا ټوله مسافه تګ او راتګ په پښو ووهله. پدې سفر کې دده آزاد کړی شوی غلام زيد بن حارثه هم ورسره ملګری وٴ. رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) به چې هرې قبيلې ته ورسيد، د اسلام بلنه به يې ورکوله خو هيڅا يې هم دعوت ونه مانه. طائف ته له رسيدو وروسته د ثقيف له قبيلې نه دريو وروڼو ته چې دری واړه يې رئيسان يا مشران وو او نومونه يې عبدياليل، مسعود او حبيب او د پلار نوم يې عمرو بن عمير الثقفي وٴ، ورغی. د الله تعالی لورته يې راوبلل، د اسلام د تاييد او ملاتړ غوښتنه يې ورنه وکړه، نو له هغوی نه يوه ورته وويل: که الله تعالی ته رسول رالېږلی وې نو زه به د کعبې پردې (پوښ) څيرې کړم. بل ورته وويل: الله تعالی له تا نه پرته بل څوک ندي پيدا کړي چې ته يې رسول رالېږلی يې! دريم ورته وويل: قسم په خدای که زه له تاسره خبرې وکړم، ځکه که چيرې ته په رښتيا سره رسول وې، نو بيا ستا خبرې ردول او نه منل زيات خطر لري او که چيرې ريښتونی رسول نه وې او په الله پورې دروغ تړې، نو بيا ددې وړ نه يې چې خبرې درسره وکړم. لدې ځواب نه وروسته رسول الله ورنه پاڅيد يوازې دومره يې ورته وفرمايل: تاسې چې وکړل، هغه مو وکړل خو ګورئ دا خبره او راز به پټ ساتئ.

رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) لس ورځې په طائف کې پاتې شو، ددې ځای ټولو مشرانو او سردارانو ته ورغی او د اسلام بلنه يې ورکړه، خو هيڅا هم ونه منله او ټولو په پای کې ورته وويل: زمونږ له وطن نه ووزه. دې خلکو نه

[1]. دا د تاريخ اسلام د مولف نجيب آبادي خبره ده او زما په نظر همدا سيي ده تاريخ اسلام ۱۲۲/۱

يوازې دا چې د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) دعوت يې ونه مانه بلکه خپلو اوباشانو او بدماشانو ته يې امر وکړ چې رسول اکرم (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) ته اذيت ورسوي. همغه وه کله چې رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) د بيرته ستنيدو اراده وکړه هغه جاهل او ګمراه خلک وربانديې راټول شول ليکې ليکې ورپسې روان وو، نارې او سورې يې جوړې کړې وې، کنځلې به يې ورته کولې، له بدو ردو سره سره به يې په ډبرو هم ويشته. او له مبارکو پښو يې دومره وينې وبهيدلې چې دواړه څپلی (پايزار) يې په وينو لمدې شوې. زيد بن حارثه (رضي الله عنه) به لکه ډال داسې دفاع ورنه کوله ځان به يې ګوزار ته ورځندې کاوه تر څو رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) ورنه په امن پـــاتې شي. بالاخره د زيد (رضي الله عنه) سر هم مات شو. دا احمقان او جاهلان همداسې ورپسې وو تر څو له طائف نه دري ميله ليرې رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) پدې مجبور شو چې د ربيعه د زامنو عتبه او شيبه باغ ته پناه يوسي، او همدلته بيا هغه ظالمان احمقان ورنه وګرځيدل. رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) د انګورو تر سيوره لاندې يوه ديوال ته تکيه وکړه، او کله يې چې دمه جوړه شوه نو يې هغه دعا وکړه چې د مستضعفينو د دعا په نامه مشهوره ده. ددې دعا له هرې فقرې نه دا څرګنديږي چې د طائف د خلکو ددې ظلم، بدسلوکۍ او لدې انکار نه چې هيڅا هم اسلام ونه مانه د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) زړه څومره ځوريدلی او دردمند شوی و او لدې دعا نه دا معلوميږي چې هغه وخت رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) څومره خفه، غمجن او دردېلی ؤ هغه دعا داسې ده چې رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) وفرمايل:

((**اللهم إليك أشكو ضَعْف قُوَّتي، وقلة حيلتي، وهوإني على الناس، يا أرحم الراحمين، أنت رب المستضعفين، وأنت ربي، إلى من تَكِلُني؟ إلى بعيد يَتَجَهَّمُني؟ أم إلى عدو ملكته أمري؟ إن لم يكن بك عليّ غضب فلا أبالي، ولكن عافيتك هي أوسع لي، أعوذ بنور وجهك الذي أشرقت له الظلمات، وصلح عليه أمر الدنيا والآخرة من أن تنزل بي غضبك، أو يحل علي سَخَطُك، لك العُتْبَى حتى ترضى، ولا حول ولا قوة إلا بك**)). [اې خدايه، زه د خپلې کمزورۍ، بې بسۍ او د خلکو په وړاندې د خپلې بې قدرۍ شکايت تا ته کوم، اې له ټولو نه رحيم او مهربان خدايه! ته د بې وزلانو رب يې او ته زما رب يې، ته مې چا ته سپارې؟ پردي او بيګانه ته مې سپارې

چې ظلم او زياتی راسره وکړي؟ او يا مې کوم داسې دښمن ته سپارې چې زما معامله دې هغه ته سپارلې ده؟ که ته را ته په غضب او قهر نه وې نو زما هيڅ پروا هم نشته، خو ستا عافيت ما ته ډير وسيع او پراخه دی، زه ستا د وجه (مخ) په هغه نور پناه غواړم کوم چې تياري يې رڼا کړيدي او هغه چې دنيا او آخرت وربانديې جوړ شوی او برابر شويدی ستا له غضب نه پناه غواړم او پناه غواړم چې ستا د عتاب مورد ونګرځم، ستا رضا غواړم تر څو ته راضي شې او پرته له تا نه بل د زور او قوت خاوند وجود نلري.]

کله چې د ربيعه زامنو رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) وليد زړه يې پرې وسوو، خپل غلام يې چې عداس نوميده او نصراني ؤ راوغوښت او ورته وې ويل: دا يو وړی انګور واخله او هغه سړي ته يې وروړه. کله چې عداس انګور د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) په مخکې کيښودل، رسول اکرم (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) (بسم الله) وويله لاس يې وراوږد کړ او انګور يې وخوړل. عداس ورته وويل: ددې وطن خلک خو دا خبره يعنی (بسم الله) نه وايي! رسول اکرم (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) ورته وفرمايل: (**من أي البلاد أنت؟ وما دينك؟**) ته د کوم ځای يې او د کوم دين پيروي کوې؟ عداس وويل: زه په دين نصراني او د((نينوی)) اوسيدونکي يم. رسول اکرم (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) ورته وفرمايل: ((**من قرية الرجل الصالح يونس بن مَتَّى**)) ښه، ته د صالح سړي يونس بن متی (عليه السلام) کليوال يې! عداس ورته وويل: ته يونس بن متی (عليه السلام) له کومه پيژنې؟ رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) ورته وفرمايل: ((**ذاك أخي، كان نبيًا وأنا نبي**)).زما ورور ؤ هغه نبي ؤ او زه هم نبي يم. نو عداس يو ځل د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) په سر، لاسونو او پښو ورپريوت او مچې کول يې. هلته د ربيعه زوی خپل ورور ته وويل: غلام خو يې درته بې لارې کړ. عداس چې بيرته راغی دوی ورته وويل: دا څه کيسه وه اې عداسه؟ عداس ورته وويل: باداره! پدې ټوله دنيا کې لدې سړي نه غوره شخص وجود نلري ما ته يې داسې معلومات راکړل چې په هغې له نبي پرته بل څوک نه پوهيږي. دوی ورته وويل: عداسه! ګوره چې تا له خپل دين نه وانه ړوي، ستا دين د هغه له دينه غوره دی.

رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) له باغ نه راووت او پداسې حال کې د

مکې په لور روان شو چې زړه يې له حسرتونو او غمونو ډک وۀ، او کله چې قرن المنازل ته ورسيد نو الله تعالی جبريل (عليه السلام) ورته راوليږه له هغه سره د غرونو فرښته هم ملګري وه، هغوی ورته وويل: که غواړې نو امر راته وکړه چې د مکې په خلکو د اخشبين دواړه غرونه راچپه کړو.

بخاري شريف دا کيسه په مفصله توګه له عروه بن زبير نه روايت کړيده وايي عائشې (رضي الله عنها) راته ويلي چې:

((انها قالت للنبي (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم): هل اتى عليك يوم كان اشد عليك من يوم احد؟ قال: لقيت من قومك ما لقيت، وكان اشد ما لقيت منهم يوم العقبة، اذ عرضت نفسي على ابن عبد يا ليل بن عبد كلال، فلم يجبني الى ما اردت، فانطلقت و انا مهموم، على وجهي، فلم استفق الا و انا بقرن الثعالب، و هو المسمى بقرن المنازل، فرفعت راسي فاذا انا بسحابة قد اظلتني، فنظرت فاذا فيها جبريل، فناداني، فقال ان الله قد سمع قول قومك لك، ما ردوا عليك، و قد بعث الله اليك ملك الجبال لتامره بما شئت فيهم فناداني ملك الجبال، فسلم علي ثم قال: يا محمد، ذلك، فما شئت، ان شئت ان اطبق عليهم الاخشبين اي لفعلت، و الاخشبان: هما جبلا مكة، ابو قيس و الذي يقابله و هو قعيقعان. قال النبي (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم): بل ارجو ان يخرج الله (عزوجل) من اصلابهم من يعبد الله (عزوجل) وحده لا يشرك به شيئا).(۱)

[حضرت عائشه (رضي الله عنها) وايي: يو ځل ما له رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) نه پوښتنه وکړه چې آيا په تا باندې د احد له ورځې نه هم کومه سخته ورځ راغلې ده؟ رسول اکرم (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) وفرمايل: هو! ستا د قوم له لاسه مې چې څه ناکردې ليدلې هغه مې ليدلې خو له ټولو نه زيات او سخت مصيبت هغه وۀ چې د عقبې په ورځ ورسره مخ شوم هغه وخت چې د عبدياليل بن عبد کلال زوی ته ورغلم، دعوت مې ورکړ، خو هغه زما خبره او بلنه ونه منله نو زه پداسې حال کې چې غمونو او حسرتونو اخيستې وم بيرته را روان شوم، هيڅ په ځان نه وم خبر، تر څو قرن ثعالب ته چې قرن المنازل ورته ويل کيږي راورسيدم

---

(1) صحيح البخاری: كتاب بدء الخلق ۴۵۸/۱. مسلم: باب ما لقي النبي (صلى الله عليه وسلم) من اذى المشركين و المنافقين ۱۰۹/۲.

دلته متوجه شوم، پورته مې وکتل که ګورم يوه ټوټه وريځ مې په سر روانه ده او سيوره راباندې کوي په ځير مې ورته وکتل که ګورم چې جبريل (عليه السلام) پکې دی، آواز يې راته وکړ او راته ويې فرمايل: ستا قوم چې څه خبرې درته وکړې الله تعالی هغه واوريدې، نو اوس الله تعالی د غرونو فرښته درته راليږلې ده، ستا خوښه چې څه امر ورته کوې هغه به همداسې کوي، پدې پسې د غرونو فرښتې غږ راته وکړ سلام يې راباندې واچاوه او راته ويې ويل: اې محمده (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم)! ستا خوښه څه امر راته کوې؟ که امر راته کوې چې دا دواړه غرونه (ابو قيس او قعيقعان چې اخشبين ورته وايي) وربانده راچپه کړم، نو همداسې به وکړم، خو رسول الله (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) ورته وفرمايل: نه، زما هيله دا ده چې الله تعالی له هغوی نه داسې زوزاده (نسل) پيدا کړي چې يوازې د يوه الله تعالی عبادت به کوي او هيڅ شريک به نه ورسره نيسي.]

د رسول الله (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) لدې ځواب نه دده د شخصيت، عظمت، او دده د مبارکو اخلاقو رفعت او اوچتوالی ښه څرګنديږي، او ددې ځواب په اوريدو سره سليم عقل دا حکم کوي چې رښتيا هم رسول اکرم (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) د دومره عظيم شخصيت او لوړو اخلاقو درلودونکی وٴ چې انساني عقل يې له ادراک نه عاجز دی.

لنډه دا چې رسول الله (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) پدې الهي او غيبي نصرت او کومک چې الله تعالی له آسمانه ورته راليږلی وٴ، ډير ډاډه او مطمئن شو، غمونه او حسرتونه يې له زړه نه ووتل او په پوره ډاډ سره د مکې په خوا مخکې لاړ تر څو وادي نخله ته ورسيد، هلته څو ورځې پاتې شو. هغه وخت پدې ځای کې يوازې د السيل الکبير او الزيمه دوې سيمې د اوسيدو وړ وې ځکه هلته اوبه او شنه بوټې وو، خو مونږ له تاريخي مصادرو نه دا معلومه نه شوای کړی چې رسول اکرم (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) دلته په کومه يوه سيمه کې اوسيدلی وٴ.

په همدې موده او همدې ځای کې الله تعالی رسول (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) ته يوه ډله پيريان هم راوليږل، قرآنکريم دوه ځايه لدې پيريانو نه يادونه کوي او فرمايي: ((وَإِذْ صَرَفْنَا إِلَيْكَ نَفَراً مِنْ الْجِنِّ يَسْتَمِعُونَ الْقُرْآنَ فَلَمَّا حَضَرُوهُ قَالُوا أَنْصِتُوا فَلَمَّا قُضِيَ وَلَّوْا إِلَى قَوْمِهِمْ مُنْذِرِينَ (٢٩) قَالُوا يَا قَوْمَنَا إِنَّا سَمِعْنَا كِتَاباً أُنْزِلَ مِنْ بَعْدِ مُوسَى مُصَدِّقاً لِمَا بَيْنَ يَدَيْهِ يَهْدِي إِلَى الْحَقِّ وَإِلَى طَرِيقٍ مُسْتَقِيمٍ (٣٠) يَا

قَوْمَنَا أَجِيبُوا دَاعِيَ اللَّهِ وَآمِنُوا بِهِ يَغْفِرْ لَكُمْ مِنْ ذُنُوبِكُمْ وَيُجِرْكُمْ مِنْ عَذَابٍ أَلِيمٍ (٣١) (الاحقاف: ٢٩ – ٣١)

[او یاد کړه (هغه وخت اې محمده!) کله چې وګرزول مونږ تا ته یو ټولی له پیریانو څخه چې غوږ به یې ایښوده قرآن ته پس کله چې حاضر شول دوی (دې قرآن ته) وویل دوی پخپل منځ کې چې شئ تاسې اې پیریانو بیا کله چې تمام شو (د قرآن تلاوت) بیرته وګرځیدل قوم خپل ته ویروونکي (له عذابه که همغسې کافران پاتې شي) وویل دوی اې قومه زمونږ بیشکه مونږ واوریده داسې یو کتاب چې نازل کړی شویدی وروسته له موسی پداسې حال کې چې تصدیق کوونکی موافق دی له هغو (کتابونو) سره چې پخوا له دې نه وو. لیاره ښییي حق دین ته او لیارې سمې ته، اې قومه زمونږ! قبول کړئ تاسې قول د بلونکي د الله او ایمان راوړئ په ده باندې چې مغفرت درته وکړی (الله) تاسې ته ګناهونه ستاسې، او خلاص به کړي (الله) تاسې له عذاب دردناک څخه.]

بل ځای د جن په سورت کې داسې فرمایي:

((قُلْ أُوحِيَ إِلَيَّ أَنَّهُ اسْتَمَعَ نَفَرٌ مِنْ الْجِنِّ فَقَالُوا إِنَّا سَمِعْنَا قُرْآناً عَجَباً (١) يَهْدِي إِلَى الرُّشْدِ فَآمَنَّا بِهِ وَلَنْ نُشْرِكَ بِرَبِّنَا أَحَداً (٢))) (الجن: ١–٢)

[ووایه (اې محمده! دوی ته) وحي راغلې ماته چې بیشکه شان دا دی چې واوریده (قرائت زما) یوه ټولي له پیریانو نه، نو وویل (دوی نورو قومونو خپلو ته کله چې بیرته ورغلل چې) بیشکه مونږ واوریده یو قرآن عجیب (په فصاحت او بلاغت سره) چې هدایت کوي رشد (ایمان او حق) ته نو ایمان راوړو مونږ پر هغه (قرآن) او هر ګز به شریک نه کړو (پس له دې ورځې) له رب خپل سره بل هیڅوک.]

ددې آیتونو له سیاق او همداراز ددې پیښې په هکله له رانقل شویو روایتونو نه دا څرګندیږي چې رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) تر هغې پورې د پیریانو ددې ډلې په راتګ نه وٴ خبر تر څو الله تعالی د همدې آیتونو په ذریعه خبر ورکړ. رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) ته دا د پیریانو لومړی ځل راتګ و او له احادیثو نه دا په ډاګه کیږي چې پدې پسې د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) حضور ته د پیریانو تګ راتګ څو ځله تکرار شویدی.

د پیریانو دا راتګ او د هغوی اسلام منل په حقیقت کې یو بل غیبي کومک وٴ چې الله تعالی د خپل غیب مکنون له خزانې نه د هغو لښکرو په واسطه له رسول اکرم (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) سره وکړ کوم چې له الله تعالی (ج) نه پرته بل څوک وربانديې خبر ندي. او بل دا چې ددې پیښې په هکله را نازل شویو آیتونو د رسول الله

(صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) د دعوت د بري زیری هم ورکاوه او دا يې په ډاګه اعلانوله چې د ځمکې پر مخ هیڅ قوت هم ددې دعوت مخه نه شي نیولی او نه يې له خپل منزل نه په شا کولی شي لکه چې فرمايي:

((وَمَنْ لا يُجِبْ دَاعِيَ اللَّهِ فَلَيْسَ بِمُعْجِزٍ فِي الأَرْضِ وَلَيْسَ لَهُ مِنْ دُونِهِ أَوْلِيَاءُ أُوْلَئِكَ فِي ضَلالٍ مُبِينٍ)) (الاحقاف: ۳۲)

[او هغه څوک چې ونه مني (بلنه د) بلونکي پس نه به وي عاجز کوونکی (د الله، په تیښته سره) په ځمکه کې (بلکه هیڅیري) او نه به وي ده ته بې له هغه (الله) څخه دوستان مددګارانو دغه کسان په ګمراهۍ ښکاره کې دي.]

((وَأَنَّا ظَنَنَّا أَنْ لَنْ نُعجِزَ اللَّهَ فِي الأَرْضِ وَلَنْ نُعْجِزَهُ هَرَبًا)) (الجن: ۱۲) [او بیشکه مونږ یقین کاوه چې له سره به مونږ عاجز نه کړو الله په ځمکه کې (چې تري پټ او خلاص شو) او له سره به نه عاجز کوو دغه (الله) په تیښتې سره (که تري وتښتو).]

د الله تعالی پدې بشارتونو، او کومکونو سره د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) له زړه او دماغ نه غمونو او تشویشونو کوچ وکړ، هغه پداسې حال کې له طائف نه راوتلی وۀ چې په سینه کې يې د نورو غمونو ځای نه وۀ، ناهیلي او نا امیدي يې سترګو سترګو ته کیدله، خلکو نه یوازې چې خبره يې نه وه منلې بلکه له خپلې سیمې يې راشړلی وو، خو د لارې په اوږدو کې الله تعالی داسې زیري او غیبي کومکونه ورسره وکړل چې غمونه او دردونه يې ټول هیر شول، په ټینګ عزم سره د مکې په لور وخوځید، تر څو هلته له نوي عزم، او نوې روحيې سره خپل دعوت مخکې بوزي او خلکو ته د الله تعالی دین ورسوي.

پدې وخت کې زید بن حارثه (رضي الله عنه) ورته وايي: جنابه (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم)! ته څنګه بیا مکې ته ننوزې پداسې حال کې چې د مکې خلکو (قریشو) ددې ځای پریښودو ته اړ کړی يې؟ رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) ورته وفرمایل: (يا زيد، إن الله جاعل لما ترى فرجًا ومخرجًا، وإن الله ناصر دينه، ومظهر نبيه). [اې زیده(رضي الله عنه)! دا حالات چې ته ګورې، الله تعالی به خوامخوا مونږ ته پکې د نجات او خلاصون لاره پیدا کوي، الله تعالی حتماً د خپل دین مرسته کوي او خپل نبي (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) ته بری ور په برخه کوي.]

رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) وخوځيد تر څو د حراء لمنې ته ورسيد هلته معطل (تم) شو، او له هغه ځای نه يې د خزاعه کورنۍ يو کس اخنس بن شريق ته احوال واستاوه او له هغه نه يې د پناه غوښتنه وکړه، خو هغه معذرت و غوښت او ويې ويل چې زه پخپله د مکې د اوسيدونکو حليف يم (د ټرون او عهد خاوندیم) او حليف خو چا ته چې ملګرې قبيلې شړلی وي د پناه ورکولو حق او صلاحيت نلري. نو بيا رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) سهيل بن عمرو ته پيغام ورولیږه چې ده ته پناه ورکړي، خو سهيل په ځواب کې ورته وويل: چې بني عامر د بني کعب په مقابل کې چا ته پناه نه شي ورکولی. نو رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) مطعم بن عدي ته د پناه غوښتنې پيغام واستاوه، په ځواب کې مطعم ورته وويل: هو زه ستا پناه په غاړه اخلم، نور يې خپله وسله راواخيسته، زامن او د قوم خلک يې راوغوښتل ورته ويې ويل خپلې وسلې را واخلئ او د کعبې شريفې سره شا او خوا کې ودريږئ، ځکه ما محمد (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) ته پناه ورکړيده.

بيا يې محمد (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) ته پيغام واستاوه چې اوس راځه، مکې ته را دننه شه، نو رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) هم پداسې حال کې چې زيد بن حارثه (رضي الله عنه) هم ورسره وٴ مکې ته ننوت مسجد حرام ته يې تشريف يووړ پدې وخت کې مطعم بن عدي په خپله سپرلۍ ودريد او اعلان يې وکړ اې قريشو! ما محمد (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) ته پناه ورکړيده، نور به هيڅوک ورسره غرض نلري. هلته رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) حجر اسود ته ورغی، مچې يې کړه، دوه رکعته لمونځ يې وکړ بيا خپل کورته روان شو، مطعم او زامن او نور د قوم خلک يې همداسې مسلح تر شا و خوا روان وو تر څو رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) خپل کور ته تشريف يووړ.

ويل کيږي چې ابو جهل له مطعم بن عدي نه پوښتنه وکړه: چې تا محمد (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) ته پناه ورکړه او که د هغه دين دې ومانه او د هغه پيرو شوې؟ مطعم ورته وويل: ما پناه ورکړه، نو ابو جهل ورته وويل: چا ته چې تا پناه ورکړيده مونږ هم پناه ورکوو.[1]

رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) د مطعم بن عدي دا نيکي کله هم نده هيره کړی، هلته د بدر په ورځ چې مسلمانانو يو شمير مشرکان په اسارت نيولي وو،

---

[1]. د طائف د سفر تفصيلات مو له دې کتابونو نه اخيستي دي: ابن هشام ۴۱۹/۱- ۴۲۲ . زاد المعاد ۴۲/۲_۴۷. مختصر سيرة الرسول (ص) للشيخ عبد الله النجدي ۱۴۱_۱۴۳ .رحمة للعالمين ۷۲/۱ . تاريخ اسلام للنجيب آبادي ۱۲۳/۱.

او جبير بن مطعم د ځينو بنديانو (اسيرانو) د آزادولو پخاطر د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) حضور ته راغلی وٴ، رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) داسې فرمايلي وو:

((**لو كان المطعم بن عدى حيًا ثم كلمنى في هؤلاء النتنى لتركتهم له**))[1] [يعنى كه چيرې مطعم بن عدي ژوندى واى او ددې بوينو په هكله يې راته خبره كړې واى، نو ما به دده پخاطر دوى ټول آزاد كړي وو.]

[1]. صحيح البخاري ۲/۵۷۳

نورو خلکو او قبايلو ته د اسلام بلنه

د بعثت په لسم کال د ذي القعدې په مياشت کې چې د ۶۱۹م کال د جون د وروستيو او يا جولای له لومړيو سره سمون خوري، رسول الله (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) له طائف نه مکې ته راستون شو او دلته يې بيا خلک، او قبيلې د اسلام لور ته رابللې. او څرنګه چې د حج وخت راتلونکی وٴ نو خلک له هر ليرې او نژدې ځای نه د حج پخاطر سواره او پياده مکې ته راتلل، رسول الله (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) به لدې موقع نه په استفادې سره هرې قبيلې ته بيل بيل ورته د اسلام بلنه به يې ورکوله او د ملاتړ غوښتنه يې ورنه کوله او پدې سره يې د نبوت له څلورم کال نه پيل شوې لړۍ يو ځل بيا را ژوندۍ کړه.

هغه قبيلې چې اسلام ته رابللې شوې وې

امام زهري (رحمه الله) وايي: له هغه قبيلو نه چې رسول الله (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) هغوی ته تشريف وروړی او اسلام ته يې را دعوت کړې وې ځنې دا وې: بنو عامر بن صعصعه، محارب بن خصفه، فزاره، غسان، مره، حنيفه، سليم، عبس، بنونصر، بنوالبکاء، کلب، حارثه بن کعب، عذره، حضارمه، خو لدې ټولو نه يوه قبيله هم په اسلام مشرفه نه شوه.[1]

يادونه بايد وکړو دا قبيلې چې امام زهري يې نومونه ياد کړيدي ټولې په يوه کال يا د حج په يوه موسم کې اسلام ته ندې رابللې شوې بلکه دا د نبوت له څلورم کال نه تر هجرته مخکې وروستني حج پورې په لس کلنه موده کې اسلام ته رابللې شويدي.[2]

او دا نشو ويلای چې فلانۍ قبيله په فلاني کال اسلام ته رابلل شويده، که څه هم علامه منصور پوري د ځينو قبيلو نومونه اخستي او دا يې ويلي دي چې دا قبيلې د بعثت په لسم کال اسلام ته رادعوت شويدي. ابن اسحاق اسلام ته د ځينو قبايلو د

---

(1). ترمذي - مختصر السيرة للشيخ عبدالله ۱۴۹

(2). رحمة للعالمين ۷۴/۱ وګوره. تاريخ اسلام ۱/ ۱۳۵

رابللو کيفيت او د هغوی ځوابونه بيان کړيدي چې مونږ يې لنډيز په لاندې ډول وړاندې کوو:

۱- بنوکلب- رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) ددې قبيلې يوې پښې ته چې بنو عبدالله نومیده ورغی، د الله تعالی لور ته يې راوبلل، د ملاتړ غوښتنه يې ورنه وکړه او دا يې ورته وويل چې دی (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) له ځان سره بوزي، د خپلو خبرو په ترڅ کې يې دا هم ورته وفرمايل: ((**يا بني عبدالله ان الله قد احسن اسم ابيكم**)). [اې د عبدالله اولادې! الله تعالی ستاسې نيکه ته ډير غوره نوم ورکړی دی] خو نومورې قبيلې د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) دعوت و نه مانه.

۲- بنوحنيفه: رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) د هغوی ديرې ته ورغی د الله تعالی لور ته يې راوبلل، د اسلام غوښتنه يې ورنه وکړه، او له دوی سره يې د تګ خبره ورته وکړه، خو ددې قبيلې خلکو په ټولو عربو کې ډير خراب او ناوړه ځواب ورکړ.

۳- بني عامر بن صعصعه- رسول الله (صلی الله علیه و اله وصحبه وسلم) دې قبيلې ته هم ورغی، د الله تعالی دين ته يې راوبلل او له دوی سره د تګ هيله يې ورته څرګنده کړه. په ځواب کې له دوی نه يوه کس چې بحيره بن فراس نوميده داسې ورته وويل: قسم په خدای که زه دا ځوان له قريشو نه خپل کړم، نو ټول عرب به ورباندې وخورم يعنی ټول عرب به د ځان کړم، بيا يې رسول الله (صلی الله علیه و اله وصحبه وسلم) ته وويل: ښه دا راته ووايه که چيرته مونږ ستا په دې دين بيعت درسره وکړو، بيا الله تعالی پر دښمنانو غلبه او بری در په برخه کړي، نو هغه وخت به بيا د کارونو واګې (واکداري) مونږ ته راکوې او که څنګه؟ رسول الله (صلی الله علیه و اله وصحبه وسلم) ورته وفرمايل: د کارونو واک او اختيار له الله تعالی سره دی، هغه چاته يې ورکوي چې خوښه يې وي. بيا هغه سړي ورته وويل: ته دا غواړې چې مونږ له عربو نه ستا د دفاع په لار کې خپل سرونه قربان کړو، خو کله چې الله بری د رکړي، نو بيا دې واک او قدرت له بل چاسره وي، نو مونږ ستا دې دين ته اړتيا نلرو. پدې ترتيب سره دې قبيلې هم اسلام ونه مانه.

خو کله چې ددې قبيلې خلک له حج نه وروسته بيرته خپل وطن ته ستانه شول هلته يې خپل مشر ته چې د کمزورۍ او زړښت له وجې حج ته نه و راغلی دا کيسه واورولې

او ورته وېې ویل: د قریشو د بني عبدالمطلب کورنۍ یو ځوان چې د نبوت دعوی یې کوله مونږ ته راغی او دا یې رانه وغوښتل چې مونږ یې ملاتړ وکړو ورسره ودریږو او هغه خپلې سیمې ته راولو. بوډا چې دا خبرې واوریدې غبرګ لاسونه یې په سر کیښودل او ویې ویل: اې د عامر اولادې! آیا ستاسې دا خطا جبران کیدای شي؟ آیا دا له لاسه وتلی مرغه بیرته لاسته راتلی شي؟ قسم په هغه ذات چې د فلاني نفس د هغه په اختیار کې دی چې اسماعیلي کله هم په دروغو د نبوت دعوه نده کړی، یقیناً چې دا حق دی، هغه وخت ستاسې عقل چیرته وۀ؟[1]

د ایمان وړانګې له مکې نه د باندې

لکه څرنګه چې رسول الله (صلی الله علیه و اله وصحبه وسلم) قبیلې، پلاوي او هیئتونه اسلام ته رابلل، همدا راز یې ځینې افراد او ګډې هم د الله تعالی دین ته رادعوت کړل، چې د ځینو عکس العمل هم ښه وۀ، او لدې موسم نه څه موده وروسته یو شمیر افراد په اسلام مشرف هم شول. راځۀ ددې کسانو او پیښو په هکله لاندینۍ څرګندونې سره ولولو.

۱- **سوید بن صامت**: د یثرب اوسیدونکی، ډیر زیرک او ذکي شاعر وۀ، او د خپلې سنجیدګۍ، شاعرۍ شرف او نسب له امله په کامل سره مشهور وۀ. مکې ته د حج یا عمرې لپاره راغلی وۀ، رسول الله (صلی الله علیه و اله وصحبه وسلم) د اسلام بلنه ورکړه، نو ده ورته وویل: کیدای شي دا کوم څه چې له تاسره دي داسې وي لکه زما سره چې دي. رسول اکرم (صلی الله علیه و اله وصحبه وسلم) ورته وفرمایل: (**وما الذي معك؟**). له تاسره څه دي؟ سوید ورته وویل: **قال:حكمة لقمان**. له ماسره د لقمان حکمت (علم) دی. رسول الله(صلی الله علیه و اله وصحبه وسلم) ورته وفرمایل: **قال:(اعرضها عليَّ)**. ما ته یې وړاندې کړه، نو هغه له دې حکمت نه څه ورته تیر کړل. بیا رسول الله(صلی الله علیه و اله وصحبه وسلم) ورته وفرمایل:).**فقال له رسول الله صلى الله عليه وسلم: (إن هذا لكلام حسن، والذي معي أفضل من هذا؛ قرآن أنزله الله تعالى عليّ، هو هدى ونور)**. دا غوره کلام (خبرې) دي، خو هغه څه چې له ما سره

---

[1]. ابن هشام ۱/۴۲۴، ۴۲۵

دي لدینه غوره او افضل دي، هغه قرآنکریم دی چې الله تعالی پر ما را نازل کړی دی، هغه رښا ده او هدایت دی. بیایې یو څو آیتونه ورته تلاوت کړل او اسلام ته یې راوبالـه، نو سوید هم بلنه ومنله او په اسلام مشرف شو او ویې ویل: دا له ټولو نه غوره قول دی. نـومـوړی چې بیرته مدینې ته ستون شو هلته د بعاث په جګړه کې ووژل شو[1] سوید د نبوت د یوولسم کال په پیل کې په اسلام مشرف شوی و.[2]

۲- ایاس بن معـاذ- د یثرب اوسیدونکی ؤ، نوموړی نوی رسیدلی ځوان ؤ چې د اوس قبیلې له یوه هیئت (پلاوي) سره مکې ته راغلی ؤ. دا د نبوت د یوولسم کـال پیـل او د بعاث له جګړې نه مخکې پیښـه وه. نوموړی وفد پدې نیت مکې تـه راغلـی ؤ چې د خزرج په مقابل کې له قریشو سره حلف او تړون وکړي، هغه وخت د اوس او خزرج تر مینځ د دښمنۍ اور تود ؤ، د اوس قبیلې شمیره هم کمه وه.رسول الله(صلی الله علیـه و الـه وصـحبه وسـلم) چې لـه نومـوړي وفـد نـه خبـر شـو تشـریف یـې وړو او ورتـه ویـې فرمایـل: تاسې چې د کـوم مقصـد لپـاره دلتـه راغلـی یاست آیـا لـه هغـه نـه غـوره څیـز قبلوئ؟ دوی ورتـه وویـل: هغـه بـه څـه وي؟ رسـول الله (صـلی الله علیـه و الـه وصـحبه وسلم) ورته وفرمایل: زه د الله تعالی رسول یم، خلکو ته یې رالیږلی یم، زه انسانان دې ته رابولم چې یوازې د یوه الله عبادت وکړي، هیڅ شریک ورسره ونه نیسي، الله تعالی پر ما کتاب هم رانازل کړیدی، بیا یې د اسلام یادونـه ورتـه وکـړه، قرآنکریم یې ورتـه تلاوت کړ. نو ایاس بن معاذ وویل: اې قومه! قسم په الله تعالی دا له هغه څه چې تاسې ورپسې راغلی یئ ډیر غـوره دی، پدې وخت کې د وفد لـه غـړو نـه یـوه کـس چې ابـو الحیسـر انـس بـن رافـع نومیـده یـو مـوټی خـاورې راواخیسـتې او د ایـاس مـخ تـه یـې و ر و شیـنـد ل ې او ورته ویې ویل: زما په عمر قسم چې مونږ ددې لپـاره نـه یـو راغلـي، زمونږ د راتلو مقصـد بـل څـه دی. ایـاس چـوپ شـو او رسـول الله(صـلی الله علیـه و الـه وصحبه وسلم) هـم پاځیـد ، وفـد هـم وروسـته لـدې چې لـه قریشـو سـره پـه تړون او عهـد کولو کې ناکام شو بیرته مدینې ته ستون شو.

مدینې ته له رسیدو وروسته ایاس مړ شو، خو د ځنکندن په وخت کې یې (لا الـــه الا الله، الله اکبر، الحمدلله، سبحان الله) په ژبه جاري وو، نو بیشکه چې هغه مسـلمان مړ

---

[1]. ابن هشام ۴۲۵/۱- ۴۲۲-۴۲۷ رحمة للعالمین ۷۴/۱

[2]. تاریخ اسلام للنجیب آبادي ۱۲۵/۱.

شويدی.[۳]

۳- ابوذر الغفاري : د يثرب د شاو خوا سيمو اوسيدونکی وٴ. کله چې د سويد بن صامت او اياس بن معاذ پواسطه د رسول اکرم(صلى الله عليه و اله وصحبه وسلم) د بعثت خبر په مدينه کې خپور شو، نو ابوذر (رضي الله عنه) غوږ ته هم ورسيد او همدايې د اسلام راوړلو سبب شو.

امام بخاري له ابن عباس (رضي الله عنهما) نه روايت کوي وايي: **قال ابوذر: کنت رجلا من غفار، فبلغنا ان رجلا قد خرج بمكة يزعم انه نبي، فقلت: لاخي انطلق الى هذا الرجل و كلمه و ءتني بخبره، فانطلق، فلقيه ثم رجع، فقلت: ما عندك؟ فقال: و الله لقد رايت رجلا يامر بالخير و ينهي عن الشر، فقلت له: لم تشفني من الخبر، فاخذت جرابا و عصا، ثم اقبلت الى مكة، فجعلت لا اعرفه، و اكره ان اسال عنه، و اشرب من ماء زمزم و اكون في المسجد، قال: فمر بي علي فقال: كاَن الرجل غريب؟ قال: قلت: نعم. فقال: فانطلق الى المنزل، فانطلقت معه، لا يسالني عن شي و لا اساله و لا اخبره. فلما اصبحت غدوت الى المسجد لا اسال عنه و ليس احد يخبرني عنه بشئ. قال: فمر بي علي، فقال: اما زال للرجل يعرف منزله بعد؟ قال: قلت: لا. قال: فانطلق معي، قال: فقال: ما امرك؟ وما اقدمك هذه البلدة؟ قال: قلت له: ان كتمت علي اخبرتك، قال: فاني افعل. قال: قلت له: بلغنا انه قد خرج ههنا رجل يزعم انه نبي الله، فارسلت اخي يكلمه، فرجع و لم يشفني من الخبر، فاردت ان القاه. فقال له: اما انك قد رشدت، هذا وجهي اليه، ادخل حيث ادخل، فانى ان رايت احدا اخافه عليك قمت الى الحائط كانى اصلح نعلي و امض انت. فمضى، مضيت معه حتى دخل و دخلت معه علي النبي (صلى الله عليه و آله وصحبه وسلم) فقلت له: اعرض علي الاسلام، فعرضه، فاسلمت مكاني. فقال لي: يا اباذر، اكتم هذا الامر، وارجع الى بلدك، فاذا بلغك ظهورنا فاقبل، فقلت: والذي بعثك بالحق لاصرخن بها بين اظهرهم، فجئت الى المسجد و قريش فيه! فقلت: يا**

---

[۳]. ابن هشام ۴۲۷/۱- ۴۲۸. تاريخ اسلام للنجيب آبادي ۱۲۲/۱

معشر قريش. اني اشهد ان لا اله الا الله، و اشهد ان محمدا عبده و رسوله. فقالوا: قوموا الى هذا الصابئ. فقاموا، فضربت لاموت، فادركني العباس فاكب علـــي، ثم اقبل عليهم فقال: ويلكم تقتلون رجلا من غفار؟ و متجركم و ممركم على غفـــار فاقلعوا عني، فلما ان اصبحت الغد، رجعت فقلت مثل ماقلت بـــالامس، فقـــالوا: قوموا الى هذا الصابئ فصنع بي ما صنع بالامس، فادركني العباس، فاكب علي وقال مثل مقالته بالامس.))[1]

يعنی: ابوذر (رضي الله عنه) فرمايي: زه د بني غفار قبيلي يو کس وم، خبر شوم چې په مکه کې يو داسې څوک پيدا شوی چې ځان نبي بولي، ما خپل ورورته وويل: ته دې کس ته ورشه، خبرې ورسره وکړه او ما ته يې احوال راوړه، هغه لاړ، ملاقات يې ورسره وکړ او بيرته راغی، ما پوښتنه ورنه وکړه چې څه خبر دې راوړی؟ ده راته وويل: په الله قسم چې ما يو داسې شخصيت وليد چې په نيکۍ امر او له بدۍ نه نهي کوي. ما ورته وويل: پوره خبر دې ندې راوړی، زړه مې پرې ډاډه نه شو، نو بيا مې د توښې توبره او همسا راواخيسته او د مکې په لور روان شوم، (مکې ته ورسيدم) خو رسول الله(صلى الله عليه و اله وصحبه وسلم) مې نه پيژانده، او دا هم ښه نه راته ښکاريده چې له چا نه يې پوښتنه وکړم، د زمزم اوبه به مې څښلې او په مسجد حرام کې به وم، بالاخره علي (رضي الله عنه) راغی راته ويې ويل: بيګانه معلوميږې! ما ورته وويل: هو، ده راته وويل: نو راځه زما سره کورته لاړ شه، زه هم ورسره لاړم، خو نه هغه رانه د څه پوښتنه کوله او نه ما ورنه پوښتل او نه مې څه ورته ويل.کله چې سهار شو نو بيا مسجد حرام ته لاړم تر څو د رسول الله(صلى الله عليه و اله وصحبه وسلم) په هکله څه معلومات حاصل کړم خو هيڅوک هم نه وۀ چې د رسول الله(صلى الله عليه و اله وصحبه وسلم) په هکله يې معلومات راکړي واى، بيا علي (رضي الله عنه) راته راغی ويې ليدم، راته ويې ويل: دې سړي تر اوسه خپل ځای (کور) ندی پيژندلیۀ؟ ما ورته وويل: نه، ده راته وويل: ښه، نو راځه زما سره لاړ شه، بيا يې راته وويل دا راته ووايه ستا کار څه دی؟ او د څه پخاطر دې ښارته راغلی يې؟ ما ورته وويل: که ته زما راز ساتې نو درته وبه وايم: هغه راته وويل: سيي ده، (راز دې ساتم) نو ما ورته وويل: خبر شوی يم چې دلته يو داسې کس پيدا شويدی چې ځان د الله تعالى نبي (صلى الله عليه و اله

---

[1]. صحيح البخاري باب قصة زمزم ۱/ ۴۹۹ - ۵۰۰ و باب اسلام ابي ذر ۱/ ۵۴۴ - ۵۴۵.

وصحبه وسلم) بولي، ما خپل ورور دلته را استولی ؤ چې راشي خبرې ورسره وکړي، هغه بیرته ته راستون شو، خو څه اطميناني او تسلي بخش خبر يې نه ؤ راوړی، نو تصمیم مې ونیو چې زه باید پخپله لدې شخص سره وګورم. حضرت علي (کرم الله وجهه) راته وویل ته سیي ځای ته رارسیدلی یې، ګوره زه د همغه په طرف روان یم، په کومه چې زه تلم په همغه لار راپسې راځه او که د لارې په اوږدوکې له داسې چا سره مخامخ شوو چې ستا لپاره خطرناک ؤ، نو زه به د دیوال خوا ته پدې بهانه دریږم چې ګویا زه خپلې څپلې جوړوم، خو ته به تیریږې او خپله لار به وهې، بیا علي (کرم الله وجهه) روان شو، زه ورپسې وم تر څو همغه ننوت او زه هم ورپسې د رسول الله (صلی الله علیه و اله وصحبه وسلم) حضور ته ور ورسیدم او عرض مې ورته وکړ چې اسلام راته را وړاندې کړه! رسول اکرم(صلی الله علیه و اله وصحبه وسلم) اسلام راته بیان کړ، نو زه په همغه ځای مسلمان شوم، بیا رسول الله(صلی الله علیه و اله وصحبه وسلم) راته وویل: (**یا أبا ذر، اکتم هذا الأمر، وارجع إلی بلدك، فإذا بلغك ظهورنا فأقبل**).ابو ذره! دا خبره پته ساته او بیرته خپل وطن ته لاړ شه، او کله چې زمونږ د بري خبر در ورسید نو بیا راشه. ما ورته وویل: په هغه ذات قسم چې ته يې په حقه رالیږلی یې، زه به د دوی په مینځ کې دا په ډاګه اعلانوم. بیا مسجد حرام ته راغلم، قریش ناست وو، ما ورته وویل: اې قریشو! واورئ : (**اشهد ان لا اله الا الله و اشهد ان محمدا عبده و رسوله**)، زه شاهدي ورکوم چې له الله تعالی پرته بل د عبادت وړ څوک نشته، او زه شاهدي ورکوم چې محمد(صلی الله علیه و اله وصحبه وسلم) د الله تعالی بنده او رسول دی.

دوی وویل: دا بې دین راونیسئ، یو ځل خلک را پاڅیدل او په مرګ يې ووهلم، تر څو عباس (رضي الله عنه) راغی پر ما يې ځان را واچاوه بیا يې قریشو ته مخ ورواړه او ورته وې ویل: تباه شئ، تاسې د غفار قبیلې سره وژنئ؟ پداسې حال کې چې ستاسې تجارت او ستاسې لار په غفار قبیله باندې ده! نو پدې سره خلکو زه پریښودم او رانه لاړل. سبا سهار بیا هملته ورغلم او هماغه پرونۍ خبره مې بیا اعلان کړه، خلکو بیا وویل: دا بې دینه ونیسئ، او بیايې همغه پرونۍ معامله راسره وکړه (ډیر يې ووهلم) دا ځل بیا حضرت عباس (رضي الله عنه) ورنه خلاص کړم، پر مايې ځان راواچاوه او هماغه پرونۍ خبره يې ورته وکړه.

۴- طفیل بن عمرو الدَوسِی: دا یو شریف انسان، د عقل او پوهې خاوند، زیرک

شاعر او د خپل قوم مشر وٴ. دده قبیلې (دوس) د یمن پر ځینو برخو پوره حاکمیت او یا څه نا څه تسلط درلود. نوموړی د نبوت په یوولسم کال مکې ته راغی. د مکې خلکو یې ډیر توده هرکلی وکړ، ډیر قدر او عزت یې ورکړ، او دا یې ورته وویل: طفیله! تا زمونږ ښار ته تشریف راوړی، او دا شخص چې زمونږ په مینځ کې پیدا شوی زمونږ لپاره د ډیرو مشکلاتو سبب شویدی، زمونږ اتحاد ته یې صدمه رسولی، زمونږ یووالی یې ختم کړیدی، خبرې یې لکه د سحر او جادو په شان اثر او اغیزه لري، د پلار او زوی، وروڼو، میړه او ښځې تر مینځ بیلتون راولي، مونږ ویریږو دا مشکلات چې مونږ ورسره مخ یو، ته او ستا قوم هم ورسره لاس او ګریوان شي، نو ته به ورسره هیڅ خبرې نه کوې او له هغه نه هیڅ هم باید وا نه وري.

حضرت طفیل (رضي الله عنه) وایي: دې خلکو ماته همدا خبرې کولی تر دې چې ما کلکه اراده وکړه چې له رسول الله (صلی الله علیه و اله وصحبه وسلم) سره به نه خبرې کوم او نه به څه ورنه اورم، ان تر دې چې کله سهار مسجد حرام ته لاړم، نو په غوږونو کې مې مالوچ کیښودل چې هسې نه د رسول الله(صلی الله علیه و آله وصحبه وسلم) کومه خبره مې تر غوږو شي، رسول الله(صلی الله علیه و اله وصحبه وسلم) له کعبې سره لمونځ کاوه او زه خوا کې ورسره ودریدم او څرنګه چې د الله تعالی اراده داسې وه چې زه به د رسول اکرم (صلی الله علیه و اله وصحبه وسلم) څه خبرې اورم، نو همداسې وشول ما ورنه ډیره غوره خبره واوریدله، بیا مې په زړه کې وویل: مور دې راباندې بوره شي! زه یوه زیرک او پوه شاعر یم، ښه او بد پیژنم، نو بیا ولې ددې شخص خبرې نه اورم؟ که یې خبرې ښې او سیې وې وبه یې منم او که خرابې وې، نو نه به یې قبلوم، دا سوچ مې وکړ او همدلته پاتې شوم تر څو رسول الله (صلی الله علیه و اله وصحبه وسلم) کورته روان شو، نو زه هم ورپسې شوم او کله چې رسول الله(صلی الله علیه و اله وصحبه وسلم) کورته ننوت زه ورپسې وم او هلته مې د خپل راتګ، د خلکو د خبرو، په غوږونوکې د مالوچو اینبوولو او لدې سره سره د رسول الله (صلی الله علیه و اله وصحبه وسلم) د ځینو خبرو اوریدلو ټول تفصیلات ورته بیان کړل، بیا مې عرض ورته وکړ چې ته خپلې خبرې راته واوروه! رسول الله(صلی الله علیه و اله وصحبه وسلم) اسلام راته بیان کړ او قرآنکریم یې راته ولوست، الله شاهد دی چې ما کله هم لدې نه غوره قول او لدې نه د زیات عدل او انصاف خبرې نه وې اوریدلې، نو همدا وه چې هملته په اسلام مشرف شوم او د حق شهادت مې ادا کړ یعنی د شهادت کلمه مې وویله. بیا مې رسول الله(صلی الله علیه و اله وصحبه وسلم) ته عرض وکړ چې زما

قوم زما خبرې مني، زه بيرته ورځم او هغوی اسلام ته رابولم، نو ته الله تعالی ته سوال وکړه چې ماته څه نښانې راکړي! رسول الله(صلی الله علیه و اله وصحبه وسلم) ورته دعا وکړه. حضرت طفیل (رضي الله عنه) ته چې کومه نښه ورکړل شوې وه هغه دا وه چې کله هغه خپلې قبيلې ته ورلنډ شو، نو الله تعالی يې په مخ کې لکه ډيوه داسې رڼا پيدا کړه، ده پدې وخت کې دعا وکړه او ويې ويل: يا الله! د مخ په ځای دا رڼا په کوم بل ځای کې پيدا کړه، هسې نه چې خلک ووايي چې مُثله دی، نو دعايې قبوله شوه او دا رڼا يې همسا يا متروکې ته لاړه. بيا يې خپل پلار او خپله ښځه اسلام ته راوبلل او هغوی دواړه مسلمان شول، خو قوم يې ژر اسلام رانه وړو. طفيل (رضي الله عنه) خپل دعوت جاري وساته تر څو د خندق له غزا نه وروسته هغه پداسې حال کې هجرت وکړ چې د خپل قوم (۷۰) يا (۸۰) کورنۍ ورسره وې. حضرت طفيل (رضي الله عنه) د اسلام لپاره ډيره خدمتونه سرته رسولي دي او له ډيرو هلو ځلو وروسته د يمامه په جګړه کې په شهادت رسيدلی دی.

۵- ضِماد الازدي- نوموړی د يمن اوسيدونکې او د ازد شنوءه، قبيلې غړی وٴ، دم او چوپ يې وظيفه وه. مکې ته راغی هلته يې د سيمې له جاهلانو نه واوريدل چې محمد(صلی الله علیه و اله وصحبه وسلم) ليونی دی. ضماد وويل: زه دې سړي ته ورځم، کيدای شي الله تعالی يې زما په دم جوړ کړي. ورغی او له رسول الله(صلی الله علیه و اله وصحبه وسلم) سره يې ملاقات وکړ او ورته ويې ويل: اې محمده (ص)! زه د مرضونو او دې باد دم او چوپ کوم څنګه ته دم او چوپ ته ضرورت لرې؟ رسول الله(صلی الله علیه و اله وصحبه وسلم) په ځواب کې ورته وفرمايل:

(إن الحمد لله نحمده ونستعينه، من يهده الله فلا مضل له، ومن يضلله فلا هادی له، وأشهد أن لا إله إلا الله وحده لا شريك له، وأشهد أن محمدًا عبده ورسوله. أمـــا بعد). يعنی: ټول ثنا او صفت خاص د الله تعالی لپاره دی، مونږ د هغه حمد او ثنا وايو، او له همده نه مرسته غواړو چا ته چې الله تعالی هدايت وکړي، نو هيڅوک هم هغه نه شي بې لارې کولی، او الله تعالی چې څوک بې لارې کړي، نو هيڅوک هم هغه ته هدايت نه شي کولی، او زه شاهدي وايم چې له الله پرته هيڅ بل معبود نشته، هغه واحد دی هيڅ شريک نلري، او زه شاهدي وايم چې محمد (صلی الله علیه و اله وصحبه وسلم) د الله تعالی بنده او رسول دی. اما بعد.

ضماد ورته وويل: دا خبرې يو ځل بيا راته واوروه! رسول الله(صلی الله علیه و اله

وصحبه وسلم) دا خبرې دری ځله ورته تکرار کړې. بيا ضماد وويل: ما د کاهنانو، جادوګرانو او شاعرانو خبرې اوريدلې دي، خو کله مې هم ستا د خبرو په شان خبرې ندي اوريدلې، دا د سمندر تل ته رسيدلی خبرې دي، راوړه، لاس دې را اوږد کړه تر څو بيعت درسره وکړم. پدې ترتيب سره په اسلام مشرف شو او له رسول الله(صلی الله عليه و اله وصحبه وسلم) سره يې د اسلام بيعت وکړ.[1]

د مدينې منورې شپږ نيکبخته کسان

د نبوت په يوولسم کال د حج په موسم کې چې د (۶۲۰م) کال د جولای له مياشتې سره سمون خوري اسلامي بلنې داسې نيالګي ومومدل چې ډير ژر په داسې لويو ونو بدل شول چې په کلونو کلونو سترپو او ظلم ځپليو مسلمانانو يې تر يخې سيورې لاندې د امن او راحت ژوند پيل کړ.

د مکې مشرکينو د رسول اکرم(صلی الله عليه و اله وصحبه وسلم) د تکذيب او له اسلام نه د خلکو د منع کولو لپاره چې کومې لارې چارې او هلې ځلې په کار اچولې وې، رسول الله(صلی الله عليه و اله وصحبه وسلم) د هغوی د دې کوښښونو د ناکامولو پخاطر دا لاره نيولې وه او دا حکمت يې په کار اچولې وۀ چې د شپې په تياره کې به قبايلو ته د دعوت لپاره ورته، تر څو د مکې مشرکينو څه موانع ورته ايجاد نه کړای شي[2].

يوه شپه رسول الله(صلی الله عليه و اله وصحبه وسلم) د دعوت په منظور ووت ابوبکر او علي (رضي الله عنهما) هم ورسره ملګري وو د بنو ذهل او بنو شيبان بن ثعلبه هستوګنځي ته ورغلل او د اسلام په هکله يې خبرې ورته وکړې، هغوی که څه هم نيک او هيله من کوونکی ځواب ورکړ خو في الحاله يې اسلام قبول نکړ. پدې وخت کې د حضرت ابوبکر (رضي الله عنه) او بنو ذهل د يوه کس تر مينځ د نسب د شجرې په هکله ډير په زړه پورې سوال او ځواب هم وشو ځکه دوی دواړه نسب پوهان وو.[3]

بيا رسول الله(صلی الله عليه و اله وصحبه وسلم) په منی کې له عقبې نه تيريده چې د

---

(1). صحيح مسلم، مشکاة المصابيح باب علامات النبوة ۵۲۵/۲

(2). تاريخ اسلام للنجيب آبادي ۱۲۹/۱

(3). مختصر السيرة للشيخ عبدالله ص ۱۵۰ - ۱۵۲

خلکو خبرې يې تر غوږو شوې، نو د هغوی په طرف ور روان شو او ورغی دا له يثرب نه راغلي شپږ ځوانان وو، چې ټول د خزرج له قبيلې څخه وو او نومونه يې دا دي:

۱. اسعد بن زراره (له بني النجار قبيلې څخه)
۲. عوف بن الحارث بن رفاعه بن عفراء (له بني النجار قبيلې څخه)
۳. رافع بن مالک بن العجلان (له بني زريق قبيلې څخه)
۴. قطبه بن عامر بن حديده (له بني سلمه قبيلې څخه)
۵. عقبه بن عامر بن نابي (له بني حرام بن کعب قبيلې څخه)
۶. جابر بن عبدالله بن رئاب (له بني عبيد بن غنم قبيلې څخه)

د مدينې د خلکو يوه نيکبختي دا هم وه چې هغوی به د خپلو حليفانو يعنی د مدينې له يهودانو نه دا اوريدل چې ويل به يې پدې زمانه کې يو نبي مبعوث کيدونکې دی، ډير ژر به را ښکاره شي، مونږ به يې متابعت او پيروي وکړو او د هغه په ملګرتيا به تاسې لکه د عاد او ارم په شان ووژنو.[1]

کله چې رسول الله (صلی الله عليه و اله وصحبه وسلم) هغوی ته ور ورسيد پوښتنه يې ورنه وکړه چې تاسې څوک ياست؟ هغوی ورته وويل: مونږ د خزرج قبيلې غړي يوو. رسول الله(صلی الله عليه و اله وصحبه وسلم) ورته وفرمايل: د يهودانو حليفان؟ دوی وويل: هو. رسول الله(صلی الله عليه و اله وصحبه وسلم) ورته وفرمايل: نو تاسې کينئ چې څه خبرې درسره وکړم! هغوی کيناستل، رسول الله(صلی الله عليه و اله وصحبه وسلم) د اسلام حقيقت ورته بيان کړ، د الله تعالی لور ته يې راوبلل، او قرآنکريم يې ورته تلاوت کړ، هغوی پخپل مينځ کې سره وويل: داسې ښکاري چې دا همغه نبي(صلی الله عليه و اله وصحبه وسلم) وي کوم چې يهودان يې يادونه کوي او په همدې سره تاسې ويروي او اخطارونه درکوي، نو په کار ده چې يهود درنه مخکې نه شي. پدې پسې هغوی د رسول الله(صلی الله عليه و اله وصحبه وسلم) دعوت ومانه او په اسلام مشرف شول.

دا د يثرب پوه او زيرک خلک وو، هغوی خپل مينځي جګړو چې اورونه يې لا بل وو ډير ستړي کړي وو، نو له همدې امله دا هيله ورسره پيدا شوه چې کيدای شي د رسول الله(صلی الله عليه و اله وصحبه وسلم) دا دعوت جګړې او جنګونه پای ته ورسوي. رسول الله(صلی الله عليه و اله وصحبه وسلم) ته يې داسې وويل: مونږ خپل قوم پداسې حال کې پرېښی دی چې بل څوک به د دوی په شان په عداوت او بدبختۍ نه وي

---

[1]. زاد المعاد ۲/ ۵۰. ابن هشام ۱/ ۴۲۹ - ۵۴۱

اخته، هيله ده چې الله تعالی هغوی ستا په برکت سره يو کړي، مونږ ورځو او خلک ستا دعوت ته رابولو، او دا دين چې مونږ ومانه هغوی ته يې هم ور وړاندې کوو، که الله تعالی ستا په واسطه هغوی سره متحد کړل، نو بيا ستا په شان عزيز او معزز کس نشته. او کله چې دا خلک مدينې ته ستانه شول، له ځان سره يې د اسلام پيغام هم يوړ، او د همدوی په واسطه د مدينې په هر کور کې د رسول الله(صلی الله عليه و اله وصحبه وسلم) يادونه پيل شوه.[1]

له حضرت عائشې (رضي الله عنها) سره د رسول الله(ﷺ) نکاح

په همدې کال يعنی د نبوت د يوولسم کال په شوال مياشت کې رسول الله(صلی الله عليه و اله وصحبه وسلم) له حضرت عائشې (رضي الله عنها) سره نکاح وکړه. دغه وخت د عائشې (رضي الله عنها) عمر شپږ کاله وۀ، او واده يې په مدينه کې د هجرت په لومړي کال د شوال په مياشت کې تر سره شو چې هغه وخت عائشه (رضي الله عنها) نهه (۹) کلنه وه.[2]

---

[1]. ابن هشام ۱/ ۴۲۸ - ۴۲۹ - ۴۳۰

[2]. تلقيح فهوم اهل الاثر ص ۱۰، صحيح البخاري ۱/ ۵۵۱

اسراء او معراج

پداسې حال کې چې د رسول اکرم(صلی الله علیه و اله وصحبه وسلم) دعوت او تبلیغ د ظلم او ستم په مینځ کې د بري لار وهله، او د فتحې د افق په لیرو څنډو کې د برلاسۍ او غلبې د ستورو تته شانته رڼا تر سترګو کیدله، په همدې وخت کې د اسراء او معراج پیښه وشوه.

ددې پیښې د نیټې په هکله اهل سیر (تاریخ پوهان) مختلف نظرونه لري:

۱ـ ویل کیږی په کوم کال چې رسول الله(صلی الله علیه و اله وصحبه وسلم) په نبوت مشرف شو په هماغه کال د اسراء پیښه وشوه (دا د طبري قول دی).

۲ـ له بعثت نه پنځه کاله وروسته دا پیښه شوې ده (امام نووي او امام قرطبي دا قول راجح بولي).

۳ـ د نبوت د لسم کال د رجب میاشتې په اوه ویشتمه د اسراء او معراج واقعه پیښه شویده، (دا قول علامه منصور پوري غوره کړیدی).

۴ـ ویل کیږی چې دا پیښه د بعثت د دوولسم کال د رمضان په میاشت یعنی له هجرت نه شپاړس میاشتې مخکې واقع شویده.

۵ـ ویل شوي چې دا پیښه له هجرت نه یو کال او دوې میاشتې مخکې یعنی د نبوت د دیارلسم کال د محرم په میاشت کې واقع شوې ده.

۶ـ یو روایت دا هم دی چې دا پیښه له هجرت نه یو کال مخکې یعنی د نبوت د دیارلسم کال د ربیع الاول په میاشت کې واقع شوې ده.

لدې اقوالو نه دری لومړني قولونه ځکه سیي نه شمیرل کیږي چې خدیجه (رضي الله عنها) د نبوت د لسم کال د رمضان په میاشت کې وفات شویده، او دا څو ثابته ده چې نومورې د پنځ ګونو لمونځونو له فرضیت نه مخکې وفات شوې، او دا هم ثابته ده چې د پنځګونو لمونځونو ادا کول د اسراء په شپه فرض شویدي[1].

خو د دریو وروستیو روایتونو په هکله هم ما داسې څه ونه موندل چې له هغو نه

Comment:)

[1]. ددیګ اقوالو په هکله دا کتابونه وګورە. زاد المعاد ۴۹/۲. مختصر سیرة الرسول للشیخ عبدالله النجدي ص ۱۴۸ - ۱۴۹ رحمة للعالمین ۷۲/۱، تاریخ الاسلام للنجیب آبادي ۱۲۴/۱

کوم يو وربانديې غوره او راجح وبولم، يوازې دومره ويلی شم چې د اسراء سورت له سياق نه دا څرګنديږي چې اسراء او معراج ډير وروسته واقع شويدی.
حديث پوهانو ددې پيښې ټول تفصيلات رانقل کړيدي، مونږ ورنه په لاندې توګه لنډه غوندې يادونه کوو:
ابن القيم وايي: د صحيح روايت مطابق رسول الله(صلی الله عليه و اله وصحبه وسلم) جسماً پداسې حال کې چې په براق سپور او جبريل (عليه السلام) ورسره ملګری وۀ له مسجد الحرام نه بيت المقدس ته بوتلی شو، هلته کوز شو، براق يې د جومات د دروازې له يوې کړۍ سره وتاړه او نبيانو (عليهم السلام) ته يې لمونځ ورکړ. بيا په همدې شپه کې له بيت المقدس نه د دنيا تر آسمان پورې پورته يووړل شو، هلته جبريل (عليه السلام) د دروازې خلاصولو (ننوتلو) اجازه ورته وغوښتله، دروازه ورته بيرته شوه او هملته يې آدم (عليه السلام) وليد سلام يې وربانديې واچاوه، هغه هم د سلام ځواب ورکړ او ښه راغلاست يې ورته ووايه او د رسول الله (صلی الله عليه و اله وصحبه وسلم) په نبوت يې اقرار وکړ. او هملته الله تعالی خپل رسول(صلی الله عليه و اله وصحبه وسلم) ته د هغه (آدم "عليه السلام") ښی خوا نه د شهيدانو او په کې خوا ته يې د بدبختانو ارواوې وربښودلې.
ورپسې دوهم آسمان ته وخيژول شو، د ننوتلو اجازه ورته واخيستله شوه، رسول الله(صلی الله عليه و اله وصحبه وسلم) هلته يحيی بن زکريا او عيسی بن مريم (عليهم السلام) وکتل، سلام يې ورکړ هغوی دواړو د سلام ځواب او ښه راغلاست ورته وويل او دده په نبوت يې اقرار وکړ.
بيا دريم آسمان ته هسک کړی شو، هلته يې له يوسف (عليه السلام) سره ملاقات وشو سلام يې ورکړ، هغه د سلام ځواب او ښه راغلاست ورته وويل او دده په نبوت يې اقرار وکړ.
پدې پسې څلورم آسمان ته بوتلل شو، هلته له ادريس (عليه السلام) سره مخامخ شو، سلام يې وربانديې واچاوه، هغه د سلام ځواب ورکړ، مرحبا يې ورته وويل او دده په نبوت يې اقرار وکړ.
بيا پنځم آسمان ته وخيژول شو، هلته يې هارون بن عمران (عليه السلام) وليد، سلام يې ورکړ، هغه د سلام ځواب او ښه راغلاست ورته وويل او دده په نبوت يې اقرار وکړ.
بيا شپږم آسمان ته وخيژل شو، هلته يې له موسی بن عمران (عليه السلام) سره ملاقات وشو، سلام يې ورکړ، د هغه د سلام ځواب او هرکلی ورته ووايه او دده په

نبوت یې اقرار وکړ، خو کله چې محمد(صلی الله علیه و اله وصحبه وسلم) مخ په وړاندې روان شو، موسی (علیه السلام) وژړل، پوښتنه ورنه وشوه چې ولې ژاړې؟ ده په ځواب کې ورته وویل: لدې امله ژاړم چې له ما نه وروسته یو داسې ځوان په نبوت مشرف شویدی چې زما د امتیانو په نسبت به دده د امت زیات شمیر خلک جنت ته داخلیږي.

ورپسې محمد(صلی الله علیه و اله وصحبه وسلم) اووم آسمان ته هسک کړی شو، هلته یې له ابراهیم (علیه السلام) سره ملاقات وشو، سلام یې ورباندې واچاوه، هغه د سلام ځواب او ښه راغلاست ورته ووایه او دده په نبوت یې اقرار وکړ.

بیا سدره المنتهی ته وخیژول شو، ورپسې محمد(صلی الله علیه و اله وصحبه وسلم) ته بیت المعمور وښودل شوه، بیا د جبار خدای (جل جلاله) حضور ته یووړل شو، او رسول الله(صلی الله علیه و اله وصحبه وسلم) خپل رب (جل جلاله) ته دومره ورلنډ شو چې د دوو لیندیو د لرګي په اندازه او یا له دې نه هم کمه فاصله پاتې وه. همدلته الله تعالی خپل رسول(صلی الله علیه و اله وصحبه وسلم) ته هغه څه وحي کړل چې وحي یې کړل، او پنځوس لمونځونه یې ورباندې فرض کړل. بیا رسول الله(صلی الله علیه و اله وصحبه وسلم) بیرته راستون شو تر څو موسی (علیه السلام) ته ورسید، هغه وپوښته چې الله تعالی په څه مامور کړې؟ محمد(صلی الله علیه و اله وصحبه وسلم) په ځواب کې ورته وویل: الله تعالی د پنځوسو لمونځونو امر راته وکړ. موسی (علیه السلام) ورته وویل: ستا امت د پنځوسو لمونځونو توان نلري، بیرته خپل رب ته ورشه او د خپل امت لپاره د تخفیف سوال ورنه وکړه.

رسول الله(صلی الله علیه و اله وصحبه وسلم) جبریل (علیه السلام) ته پداسې انداز کې وکتل لکه چې مشوره ورنه غواړي. هغه ورته وویل: سیي ده که ستا خوښه وي، نو همدا وه چې جبریل (علیه السلام) بیا رسول الله(صلی الله علیه و اله وصحبه وسلم) د الله تعالی حضور ته حاضر کړ، او هغه پخپل ځای وٴ پـه ځینو طریقو (روایاتو) کې او دا د بخاري شریف لفظ دی- الله تعالی لس لمونځونه ورنه کم کړل، بیا محمد(صلی الله علیه و اله وصحبه وسلم) راکوز شو او موسی (علیه السلام) ته یې لدې نه خبر ورکړ. موسی (علیه السلام) ورته وویل:بیرته د خپل رب حضور ته ورشه او د نور تخفیف سوال ورنه وکړه. پدې ډول سره رسول الله(صلی الله علیه و اله وصحبه وسلم) د الله تعالی او موسی (علیه السلام) تر مینځ تر هغې پورې تله، راتله تر څو الله تعالی یوازې پنځه لمونځونه فرض پرینبودل. بیا هم موسی (علیه السلام) ورته وویل: بیرته خپل رب ته ورشه او د نور تخفیف (آسانۍ) سوال ورنه وکړه، خو محمد(صلی الله

علیه و اله وصحبه وسلم) ورته وویل: **[قد استحییت من ربي، ولکني أرضی وأسلم]**نور له الله تعالی نه شرم او حیا راځي، زه ورنه راضي او ورته تسلیم یم. او کله چې رسول الله(صلی الله علیه و اله وصحبه وسلم) لږ لیرې لاړ، نو آواز وشو چې ما خپله فریضه نافذه کړه او پخپلو بندګانو مې تخفیف او آساني وکړه.[1]

پدې پسې ابن القیم ددې خبرې په هکله اختلاف ذکر کړی چې آیا رسول الله(صلی الله علیه و اله وصحبه وسلم) الله تعالی لیدلی او که نه؟ بیا یې د ابن تیمیه تحقیق رانقل کړی چې د هغه لنډیز داسې دی: په سترګو سره د الله تعالی لیدل ثابت ندي شوي او نه هم کوم صحابې (رضي الله عنه) پدې قول قایل دی، او دا چې له ابن عباس (رضي الله عنهما) نه په یوه روایت مطلق لیدل او په بل روایت د زړه لیدل را نقل شویدي، نو دا لومړنی روایت (مطلق لیدل) د دوهم روایت (زړه لیدلو) منافي ندي.

ابن قیم بیا وایي: ((د الله تعالی دا قول چې فرمایي: ((**ثُمَّ دَنَا فَتَدَلَّى**)) (النجم: ۸) [بیا نژدې شو (جبریل، محمد ته) پس ښه نژدې شو] د اسراء په کیسه کې ذکر شوی نژدیوالی پدې آیت شریف کې له ذکر شوي نژدیوالي سره توپیر لري، ځکه د نجم سورت پدې پورته ذکر شوي آیت کې نژدیوالی د جبریل (علیه السلام) له نژدیوالي او تدلي څخه عبارت دی، لکه څرنګه چې حضرت عائشې او حضرت ابن مسعود (رضي الله عنهما) فرمایلي او همدا راز د جملې سیاق هم په همدې دلالت کوی، او هلته د اسراء په حدیث کې نقل شوی نژدیوالی په صریحه د الله تعالی له نژدیوالي او تدلي څخه عبارت دی، پدې هکله هیڅ اشکال نشته او د نجم په سورت کې دې ته اشاره نده شوې بلکه هلته داسې ویل شوي چې رسول الله(صلی الله علیه و اله وصحبه وسلم) هغه د دوهم ځل لپاره له سدره المنتهی سره ولید او دا جبریل (علیه السلام) وؤ چې رسول الله (صلی الله علیه و اله وصحبه وسلم) دوه ځله پخپل اصلي شکل کې لیدلی، یو ځل یې په ځمکه کې لیدلی او بل ځل یې هلته له سدره المنتهی سره لیدلی دی.[2] (الله تعالی له هر چانه ښه پوهیږی).

په همدې ځل د رسول الله(صلی الله علیه و اله وصحبه وسلم) د مبارکې سینې د

---

[1]. زاد المعاد ۲/ ۴۷ - ۴۸

[2]. زاد المعاد ۲/ ۴۷-۴۸ صحیح البخاري: ۱/ ۵۰، ۴۵۵، ۴۵۲، ۴۷۰، ۴۷۱، ۴۸۱، ۵۴۸، ۵۴۹، ۵۵۰، ۲/ ۲۸۴. صحیح مسلم: ۱/ ۹۱/ ۹۲/ ۹۳/ ۹۴/ ۹۵/ ۹۲.

څيرولو پيښه هم شوې ده، او په همدې سفر کې رسول الله(صلی الله علیه واله وصحبه وسلم) ډير شيان ليدلي دي.
رسول الله(صلی الله علیه و اله وصحبه وسلم) ته شيدې او شراب وړاندې شول هغه جناب(صلی الله علیه و اله وصحبه وسلم) شيدې غوره کړې، نو ورته وويل شول: د فطرت لاره درته ښودل شويده، يا دا چې فطرت دې غوره کړ، او په ياد ولره که چيرې دې شراب غوره کړي واى، نو امت به دې بې لارې شوى واى.
رسول الله(صلی الله علیه و اله وصحبه وسلم) په جنت کې څلور رودونه وليدل چې دوه يې ظاهري او دوه نور يې باطني وو، ظاهري يې د نيل او فرات رودونه وؤ او ددې معنى دا ده چې د رسول الله(صلی الله علیه و اله وصحبه وسلم) رسالت به د نيل او فرات په حاصلخيزه ځمکو کې خوريږي، او د هغه ځاى خلک به پشت په پشت د اسلام پيروان وي، او ددې معنى دا نده چې ګويا ددې دواړو رودونو اوبه له جنت نه راوزي.
رسول الله(صلی الله علیه و اله وصحبه وسلم) مالک د دوزخ خازن هم وليد، هغه نه خندل او نه يې په مخ کې د خوشالۍ او خوښۍ څه نښې نښانې ښکاريدې. همدا راز د الله تعالى رسول(صلی الله علیه و اله وصحبه وسلم) جنت او دوزخ هم وليدل. رسول الله(صلی الله علیه و اله وصحبه وسلم) هغه کسان هم وليدل چې په ظلم او ناحقه د يتيمانو مالونه خوري، هغوى د اوښانو په شان شوندې لرلې، د تيږو په شان د اور سکروټۍ به يې په خوله کول چې بيرته به يې د مقعد له لارې وتلې.
سود خواره يې هم وليدل چې دومره لويې، لويې خيټې يې وې چې له ځايه به نه شواى خوځيداى او کله به چې آل فرعون (د فرعون لښکرې يا پيروان) د دوزخ په لور بيول کيدل، نو پدې سود خورو به د پاسه تيريدل او تر پښو لاندې کول به يې.
رسول الله(صلی الله علیه و اله وصحبه وسلم) هلته زنا کاران هم وليدل چې مخې ته يې ښه پاکه، تازه او چاغه غوښه ايښې وه او خوا ته يې نوره خوسا، وچه او بد بويه غوښه وه، هغوى به دا پاکه او تازه غوښه پريښوولې او هغه مرداره او خوسا غوښه به يې خوړله.
هلته رسول الله(صلی الله علیه و اله وصحبه وسلم) هغه ښځې هم وليدلې چې په خپلو ميړونو پسې د بل چا اولاد ټړي (پدې معنى چې له بل چا سره زنا کوي او له زنا نه حمل اخلي، او بيا په بې خبرۍ کې دا اولاد د هغې د ميړه شميرل کيږي) رسول الله(صلی الله علیه و اله وصحبه وسلم) دا ډول ښځې وليدلې چې د آسمان او ځمکې تر مينځ په تيو (سينو) راځړوندې شوې وې.

همدا راز رسول الله(صلی الله علیه و اله وصحبه وسلم) په تګ راتګ کې د لارې په سر د مکې د خلکو یوه قافله هم ولیدله، او هغوی ته یې هغه اوښ هم وروښود کوم چې ورنه تښتیدلی او ورک شوی وۀ. رسول الله(صلی الله علیه و اله وصحبه وسلم) ددې کاروان له یوه سر پتې لوښي نه اوبه هم وڅښلې، د کاروان خلک ټول ویده وو، او د هغه لوښي سر یې همداسې پټ پرېښود، او همدغه خبره د اسراء د شپې په سهار د رسول الله (ص)، د صدق او ریښتینولی یو د لیل هم شو.[1]

ابن قیم وایي: کله چې سهار شو، نو رسول الله(صلی الله علیه و اله وصحبه وسلم) خپل قوم ته د هغه لویو، لویو نښو نښانو خبر ورکړ کومې چې الله تعالی ده ته ورښوولې وې. قوم یې دا خبرې ونه منلې، د رسول الله(صلی الله علیه و اله وصحبه وسلم) تکذیب یې وکړ، او دده په خلاف یې ظلمونه او جبرونه لا پسې زیات کړل، او له رسول الله(صلی الله علیه و اله وصحبه وسلم) نه یې وغوښتل چې دوی ته د بیت المقدس کیفیت بیان کړي، نو پدې وخت کې الله تعالی خپل رسول(صلی الله علیه و اله وصحبه وسلم) ته بیت المقدس را ښکاره کړ، د رسول الله(صلی الله علیه و اله وصحبه وسلم) سترګو ته ودرید ورته کتل یې او خپل قوم ته یې د هغه نښې او نښانې ویلې، هغوی ونه شوای کولای چې دده مبارک کومه خبره رد کړي. همدا راز رسول اکرم(صلی الله علیه و اله وصحبه وسلم) قریشو ته د دوی د هغه کاروان خبره هم وکړه کوم چې ده معراج ته د تګ او راتګ په وخت کې لیدلی وۀ، او دوی ته یې د نومورې کاروان د راتګ نیټه هم وښودله، او د هغه اوښ نښې یې هم ورته وویلې کوم چې د کاروان په سرکې روان وۀ. وروسته څرګنده شوه چې حقیقت همداسې وۀ لکه څرنګه چې رسول الله(صلی الله علیه و اله وصحبه وسلم) بیان کړی وۀ، خو لدې ټولو سره سره هغوی حق و نه مانه بلکه لا پسې بې لارې شول او د خپل کفر او انکار له امله یې هیڅ ډول حقیقت ته غاړه نه ایښوده.[2]

ویل کیږی چې ابوبکر (رضي الله عنه) ته په همدې وخت کې د صدیق لقب ورکړ شو، ځکه نومورې پداسې وخت کې ددې پیښې (اسراء او معراج) تصدیق وکړ چې نورو خلکو یې تکذیب کاوه.[1]

د اسراء او معراج د سفر د ګټو او علتونو د بیانولو په هکله تر ټولو نه لویه او تر ټولو

---

[1] مخکې یاد شوي مصادر. ابن هشام ۱/ ۳۹۷، ۴۰۲ ـ تر ـ ۴۰۲

[2] زاد المعاد ۱/ ۴۸. صحیح البخاري ۲/ ۲۸۴. صحیح مسلم ۱/ ۹۲. ابن هشام ۱/ ۴۰۲. ۴۰۳

[1] ابن هشام ۱/ ۳۹۹

نه لنډه خبره د الله تعالی دا قول دی چې فرمايي: ((لِنُرِيَهُ مِنْ آيَاتِنَا)) (الاسراء : ۱) [چې (هلته وښيو مونږ دغه (محمد) ته ځينې له دلايلو (د قدرت) خپل.] د انبياؤ (عليهم السلام) په هکله د الله تعالی سنت همدادی، فرمايي: ((وَكَذَلِكَ نُرِي إِبْرَاهِيمَ مَلَكُوتَ السَّمَوَاتِ وَالأَرْضِ وَلِيَكُونَ مِنْ الْمُوقِنِينَ)) (الانعام: ۷۵) [او (لکه مو وښوده ابراهيم ته دده د قوم د ګمراه ۍ قبحه) هم دا رنګه ښيو مونږ ابراهيم ته عجائبات د آسمانونو او د ځمکې (دپاره ددې چې دليل ونيسي په وحدانيت زما) او له پاره ددې چې شي له يقين کوونکو (عياناً هم لکه چې وُ بياناً).]

بل ځای حضرت موسی (عليه السلام) ته خطاب کوي او فرمايي: ((لِنُرِيَكَ مِنْ آيَاتِنَا الْكُبْرَى)) (طه: ۲۳). [دپاره ددې چې وښيو تاته ځينې له هغو معجزاتو چې ډيرې لوي دي.

الله تعالی ددې نښو نښانو د ښوولو هدف او مقصد ته اشاره کوي فرمايي: ((وَلِيَكُونَ مِنْ الْمُوقِنِينَ)) [تر څو له يقين کوونکو څخه شي.] او کله چې د انبياء (عليهم السلام) علومو ته د داسې مشاهداتو ليدنه او کتنه هم ورزياته شي، نو ورته د عين اليقين هغه درجه حاصليږي چې اندازه کول يې ممکن ندي، په فارسی کې يو متل دی وايي ((شنيدن کی بود مانند ديدن)). او همدا وجه ده چې انبياوو (عليهم السلام) د الله تعالی په لار کې داسې مشکلات او کړاوونه ګاللي چې د بل چا له وسه نه وو پوره، او د همدې عين اليقين په برکت د دنيا ټولو قوتونو د دوی په وړاندې د ماشې د يوه وزرقدرې ارزښت هم نه درلود، او له همدې امله وه چې هغوی د هيڅ کړاو او عذاب پروا نه ساتله.

دا چې د معراج ددې عظيم سفر تر شا نور کوم حکمتونه او اسرار پراته دي د هغې د بيانولو اصلي ځای د شريعت د اسرارو کتابونه دي، خو څه داسې حقايق هم شته چې له دې مبارک سفر نه سرچينه اخلي او د نبوي سيرت د ګلشن په لور امتداد مومي، نو دې ډول حقايقو ته داسې اشاره کوو:

ګورو چې الله تعالی د اسراء سورت يوازې په يوه آيت کې د اسراء کيسه ياد کړيده او بيا يې د يهودانو جرائم بيان کړي او د هغوی له جنايتو يې پرده اوچته کړيده، ورپسې يې هغوی ديته متوجه کړيدي چې دا قرآن تر ټولو نه نيغې او سمې لارې ته هدايت او لارښوونه کوي. کيدای شي چې د قرآنکريم تلاوت کوونکي ددې آيتونو په تلاوت سره داسې وانګيري چې د دواړو خبرو او مسئلو تر مينځ څه ارتباط او

تړاو نشته، خو حقیقت داسې ندی، بلکه الله تعالی پدې اسلوب سره دې ته اشاره کوي چې دا سفر (اسراء) د بیت المقدس په خوا او له همغه ځای نه ترسره شویدی، او دا هم ځکه چې یهودان به نور د انساني امت له قیادت او مشرتابه نه لیرې کیږي، ځکه دوی داسې جرائم او جنایتونه کړیدي چې نور ددې وړ ندي چې د بشریت رهبري وکړي شي، نو الله تعالی اوس دا منصب خپل رسول(صلی الله علیه و اله وصحبه وسلم) ته سپاري، او د ابراهیمي دعوت دواړه مرکزونه (مکه – بیت المقدس) دده تر امر لاندې راولي، اوس همغه وخت رارسیدلی دی چې معنوي مشرتابه او قیادت له یوه امت نه بل امت ته وسپارل شي. په بل عبارت اوس ددې وخت دی چې دا معنوي قیادت له همغه امت نه واخستل شي کوم چې تاریخ یې ټول له غدر، خیانت، ظلم او بدکاریو نه ډک دی، او داسې یوه امت ته وسپارل شي چې نیکي او صلاح یې شعار، او رسول(صلی الله علیه و اله وصحبه وسلم) یې له ټولو نه نیغې لارې ته د لارښوونکي قرآن په وحي مشرف دی.

خو خبره دا ده چې دا قیادت به څه ډول انتقال مومي، پداسې حال کې چې ددې امت رسول(صلی الله علیه و اله وصحبه وسلم) د خلکو د ظلم له لاسه د مکې په غرونو کې لالهانده ګرزي؟ دا سوال له یوه بل حقیقت نه پرده اوچتوي او همغه دادی چې د اسلامي دعوت دا پړاو نور سرته رسیدلی، اوس به بل نوی پړاو پیلیږي او له همدې امله ده چې قرآنکریم په صریحه او شدیده لهجه مشرکین تهدیدوي لکه چې فرمایي:

((وَإِذَا أَرَدْنَا أَنْ نُهْلِكَ قَرْيَةً أَمَرْنَا مُتْرَفِيهَا فَفَسَقُوا فِيهَا فَحَقَّ عَلَيْهَا الْقَوْلُ فَدَمَّرْنَاهَا تَدْمِيراً)) (الاسراء: ۱۷) [او کله چې اراده وفرمایو مونږ ددې چې هلاک کړو کوم کلی (ښار) نو امر وکړو مونږ غټانو (او متمولانو) د هغه (ښار) ته (په طاعت د الله سره) نو فسق وکړي دوی په هغه کې نو حق (او ثابت) شي پر (ذمه د اوسیدونکو) هغه خبره (د عذاب) نو هلاکوو مونږ دوی په هلاکولو سختو سره له ګډولو کلیو او ښارونو د دوی).]

((وَكَمْ أَهْلَكْنَا مِنْ الْقُرُونِ مِنْ بَعْدِ نُوحٍ وَكَفَى بِرَبِّكَ بِذُنُوبِ عِبَادِهِ خَبِيراً بَصِيراً)) (الاسراء: ۱۷)

[او ډیر هلاک کړیدي مونږ له (اهل د) قرنونو پس له نوح (لکه عادیان او ثمودیان) او کافي دی رب ستا په ګناهونو د بندګانو خپلو ښه خبردار ښه لیدونکی(عالم په پټو او

ښکاره وئ.]

او ددې وعيد لرونکو آيتونو تر څنګ داسې آيتونه هم راغلي چې مسلمانانو ته د هغه تمدن اصول او قواعد ور په ګوته کوي په کوم سره چې د دوی اسلامي ټولنه ودانيږي، داسې ښيي لکه چې دوی په کوم ځای کې ميشته شوي، ټول کارونه د دوی په لاس کې دي او يو له بل سره د يووالي پداسې مزي ترڼ شويدي چې ټولنه د همغې په محور را څرخي، نو پدې آيتونو کې دې ته اشاره ده او يا دا په ګوته کوي چې رسول الله(صلی الله علیه و اله وصحبه وسلم) به ډير ژر داسې يوه پناه ګاه او مينه ومومي چې هلته به يې دين استقرار پيدا کړي، او همدا نوی مينه به يې په ټوله دنيا کې د دعوت د خوريدو مرکز وي. دا و د اسراء او معراج د مبارک سفر له پټو حکمتونو او اسرارو نه هغه حکمت او راز چې زمونږ له بحث او موضوع سره يې پيوند درلود او له همدې کبله مو دلته ورنه يادونه وکړه.

پدې ترتيب سره دې حکمت او دې ته ورته نورو حکمتونو ته له نظر کولو وروسته ويلی شو چې اسراء او معراج يا له بيعت عقبه اولی نه مخکې او يا د دواړو بيعتونو تر مينځ واقع شويدی. (والله اعلم)

د عَقَبه لومړنی بيعت

مخکې مو وويل چې د نبوت د يوولسم کال د حج په موسم کې د يثرب له خلکو نه شپږو کسانو ايمان راوړ، او له رسول الله(صلى الله عليه و اله وصحبه وسلم) سره يې ژمنه وکړه چې د رسول الله(صلى الله عليه و اله وصحبه وسلم) رسالت به خپل قوم ته رسوي. ددې نتيجه دا شوه چې په راتلونکې کال يعنی د نبوت د دوولسم کال د حج په موسم کې چې د ۶۲۱م کال د جولای له مياشتې سره سمون خوري دوولس کسان د رسول الله(صلى الله عليه و اله وصحبه وسلم) حضور ته راغلل، له دې جملې نه پنځه کسان هماغه وو کوم چې تير کال حاضر شوي وو، او جابر بن عبدالله بن رئاب د هغوی شپږم وٴ چې پدې کال نه وٴ راغلی، او ددې دوولسو کسانو د پاتې اوو کسانو نومونه دا دي:

۱. معاذ بن الحارث بن عفراء له بني النجار کورنۍ نه (خزرج)
۲. ذکوان بن عبدالقيس له بني زريق کورنۍ نه (خزرج)
۳. عباده بن الصامت له بني غنم کورنۍ نه (خزرج)
۴. يزيد بن ثعلبه د بني غنم له ملګرو (حليفانو) نه (خزرج)
۵. عباس بن عباده بن نضله له بني سالم کورنۍ نه (خزرج)
۶. ابو الهيثم بن التيهان له بني عبدالاشهل کورنۍ نه (اوس)
۷. عويم بن ساعده له بني عمرو بن عوف کورنۍ نه (اوس)

لدې کسانو نه يوازې دوه وروستي له اوس قبيلې څخه وو، نور ټول د خزرج قبيلې غړي وو.[1]

دې کسانو په منی کې له عقبې سره خوا کې له رسول اکرم(صلى الله عليه و اله وصحبه وسلم) سره ملاقات وکړ، او له رسول الله(صلى الله عليه و اله وصحبه وسلم) سره يې د داسې خبرو بيعت وکړ، چې بيا وروسته يعنی د مکې د فتحې په وخت کې له ښځو نه د همغه خبرو بيعت واخيستل شو، او دې بيعت ته بيعه النساء (د ښځو بيعت) ځکه وايي چې د بيعت بندونه (مادې) لکه د ښځو د بيعت د بندونو او مادو په شان وې.

---

[1]. رحمة للعالمين ۸۵/۱. ابن هشام ۱/ ۴۳۱_ ۴۳۲_۴۳۳.

امام بخاري له عباده بن صامت نه روايت کوی وايي: رسول الله(صلی الله عليه و اله وصحبه وسلم) وفرمايل: **[تعالوا بايعوني على ألا تشركوا بالله شيئًا، ولا تسرقوا، ولا تزنوا، ولا تقتلوا أولادكم، ولا تأتوا ببهتان تفترونه بين أيديكم وأرجلكم، ولا تعصوني في معروف، فمن وفي منكم فأجره على الله ، ومن أصاب من ذلك شيئًا فعوقب به في الدنيا، فهو له كفارة، ومن أصاب من ذلك شيئًا فستره الله ، فأمره إلى الله ؛ إن شاء عاقبه، وإن شاء عفا عنه]**. **قال: فبايعته ــ وفي نسخة: فبايعناه ــ على ذلك.**

[راشئ له ماسره پدې بيعت وکړئ چې : له الله تعالی سره به هيڅ شريک نه نيسئ، غلا به نه کوئ، زنا به نه کوئ، خپل اولادونه به نه وژنئ، بهتان به نه کوئ، په ښو کارونو کې به زما نافرماني نه کوئ، چا چې پدې خبرو پوره عمل وکړ نو اجر يې په خدای دی، او که څوک لدې امورو نه د کوم يوه مرتکب شو يعنی پدې هکله يې په کوم څه کې زما له امر نه سرغړونه وکړه او بيا يې په دنيا کې د همغه عمل جزا وليده، نو همدا دده لپاره کفاره ده، او که چا پدې امورو کې کوم يو تر سره کړ يعنی له دې کارونونه د يوه کار مرتکب شو، بيا الله تعالی د هغه پرده وکړه، نو دده معامله له الله تعالی سره ده که د جزا اراده يې وکړه نو جزا به ورکړي، او که يې د عفوې اراده وکړه، نو عفوه به ورته وکړي. عباده بن صامت وايي نو پدې شيانو مې بيعت ورسره وکړ، او په بل نسخه کې د جمعې په صيغه راغلي يعنې: نو په همدې شيانو مو بيعت ورسره وکړ.[1]]

د اسلام سفير په مدينه کې

کله چې بيعت سرته ورسيد او د حج موسم هم تير شو، نو رسول اکرم(صلی الله عليه و اله وصحبه وسلم) له هغو خلکو سره مدينې ته خپل لومړنی سفير واستاوه، تر څو مسلمانانوته د اسلام احکام او هدايات ور زده کړي او د مشرکينو په مينځ کې د اسلام تبليغ وکړي. رسول اکرم(صلی الله عليه و اله وصحبه وسلم) ددې دندې لپاره د سابقين اولين له جملې نه يو ځوان انتخاب کړ چې نوم يې مصعب بن عمير عبدري (رضي الله عنه) وۀ.

---

[1]. صحيح البخاري، باب علامة الايمان، حب الانصار ۱ /۷، باب و فود الانصار ۱/ ۵۵۰، ۵۵۱ دلته را نقل شوی لفظ له همدې باب نه دی. باب قوله تعالى: ﴿اذا جاءك المؤمنات﴾ ۷۲۷/۲ باب الحدود، كفارة ۱۰۰۳/۲

لويه کاميابي

کله چې مصعب بن عمير يثرب ته ورسيد نو د اسعد بن زراره (رضي الله عنهما) په کورکې يې واړول، دوی دواړو په ډيره مينه او جوش او خروش سره د اسلام تبليغ کاوه، مصعب بن عمير (رضي الله عنه) د مقرئ په نامه مشهور شو.(مقرئ يعنی ويونکی هغه وخت به يې استاذ او معلم ته مقرئ ويل).

د دعوت او تبليغ په ډګر کې د مصعب (رضي الله عنه) له سترو کاميابيو څخه يوه دا ده چې يو ځل اسعد بن زراره (رضي الله عنه) هغه د بني عبدالاشهل او بني ظفر ځای ته ور ووست، هلته د بني ظفر د يوه باغ په د ننه کې له مرق نومي څاه سره کيناستل. څه شمير مسلمانان ورته راټول شول، هغه وخت د بني عبدالاشهل دواړه سرداران سعد بن معاذ او اسيد بن حضير مشرکان وو او لا تر اوسه په اسلام نه وو مشرف شوي. دوی دواړه چې کله لدينه خبر شول، نو سعد د بني عبدالاشهل بل سردار اسيد ته وويل: لاړ شه او دغه دواړه (مصعب او اسعد (رضي الله عنهما) ښه تهديد کړه او زمونږ ځای ته له راتلو نه يې منع کړه ځکه دوی دواړه راغلي تر څو زمونږ کمزوري کسان بې لارې او خراب کړي، او که چيرې اسعد بن زراره (رضي الله عنه) زما د خاله (ترور) زوی نه وای نو دا کار ما پخپله کاوه.

پدې سره اسيد خپله نيزه واخيسته او د دوی په لور ور روان شو، او کله چې د اسعد (رضي الله عنه) سترې ورباندې ولګيدلې نو مصعب (رضي الله عنه) ته يې وويل: دا دی د خپل قوم سردار را روان دی، دده په هکله له الله تعالی سره رينبتينولي غوره کړه. مصعب (رضي الله عنه) ورته وويل: که کيناست نو خبرې به ورسره وکړم. اسيد راغی، دوی ته ودريد او سختې سختې خبرې يې ورته وکړې ورته ويې ويل: تاسې د څه پخاطر دلته راغلي يئ؟ راغلي يئ تر څو زمونږ کمزوري کسان احمقان جوړ کړئ؟ که خپل ژوند درته ګران وي، نو له مونږ ته ليرې شئ! مصعب (رضي الله عنه) ورته وويل: بده به نه وي که لږ څه کينې او زما خبرې واورې، که دې کومه خبره خوښه شوه، نو قبوله به يې کړې او که دې خوښه نه شوه، نو مه يې منه. حضرت اسيد ورته وويل: د انصاف خبره دې وکړه، خپله نيزه يې ودروله او کيناست. مصعب (رضي الله عنه) د اسلام خبره ورته وکړه او قرآنکريم يې ورته ولوست، هغه وايي: قسم په خدای مخکې لدينه چې حضرت اسيد خبرې وکړې مونږ يې په مخ کې د اسلام رڼا وليدله، بيا يې وويل: دا څومره ښکلی او خوږ کلام دی؟ دا راته ووايئ چې که څوک پدې دين کې شاملېدل وغواړي، نو څه به کوي؟

هغوی ورته وويل: لومړی غسل وکړه، پاکې جامې واغونده، بيا د حق او شهادت کلمه

ووايه، او دوه رکعته لمونځ ادا کړه. حضرت اسيد پاڅيد غسل يې وکړ، جامې يې پاکې کړې، د شهادت کلمه يې وويله او دوه رکعته لمونځ يې وکړ، پدې پسې يې دا خبره وکړه: ما پسې يو بل شخص هم دی، که چيرې هغه ستاسې متابعت غوره کړ، نو د هغه قوم به ټول په تاسې پسې روان شي او له دوی نه به هيڅوک هم ستاسې مخالفت ونکړي، زه اوس هغه تاسې ته رالیږم. سعد بن معاذ ته اشاره ده.

بيا حضرت اسيد (رضي الله عنه) خپله نيزه واخيستله او سعد بن معاذ ته ورغی، هغه له خپل قوم سره په ديره کې ناست وٴ، سعد چې کله هغه وليد نو وې ويل: قسم په خدای دا چې په کوم مخ تللی وٴ په هغه بيرته ندی راغلی. حضرت اسيد (رضي الله عنه) راورسيد، نو سعد بن معاذ وپوښته چې څه دې وکړل؟

ده ورته وويل: ما له هغو دواړو سره خبرې وکړې، خو قسم په خدای چې څه مشکل مې پکې ونه ليد، ما هغوی منع کړل، او دوی راته وويل څه چې ستا خوښه وي هغه به کوو. او بله دا چې زه خبر شوم بنې حارثه راوتلي تر څو اسعد بن زراره ووژني، او دا پدې خاطر چې هغوی پدې خبر دي اسعد ستا د ترور زوی دی او غواړي پدې ډول له تا سره خپل ترون مات کړي. سعد بن معاذ چې دا خبرې واوريدلې، قهر او غوسې په سر واخيست فوراً راپاڅيد، خپله نيزه يې راواخيستله او د هغوی دواړو په خوا ورغی، خو کله يې چې هغوی ډاډه وليدل پوه شو چې پدې خبره سره اسيد غوښتل چې هغه (سعد) د دوی خبرې واوري، او کله چې ښه ورلنډ شو ورته ودريد او دوی دواړو ته يې ډيرې سپورې ستوغې و ا و ر و ل ې بيايې اسعد بن زراره (رضي الله عنه) ته وويل: اې ابو امامه! قسم په الله که زما او ستا تر مينځ خپلوي نه وای، نو بيا به تا له مانه دا طمعه او اميد نه وٴ کړی، ته راځې او زمونږ په کلي او کور کې داسې کارونه کوې چې زمونږ نه خوښيږي؟

لدينه مخکې حضرت سعد، حضرت مصعب (رضي الله عنهما) ته ويلي وٴ: دا دی داسې سردار درته را روان دی چې تر شا ې ټول قوم ولاړ دی که چيرې ده ستا پيروي غوره کړه ټول قوم به يې ستا پيروان ګرزي. همدلته وه چې مصعب (رضي الله عنه) ورته وويل: مهرباني وکړه لږ کينه او زما څو خبرې واوره، که د کومه خبره خوښه شوه قبوله به يې کړې، او که د خوښه نه وه نو مه يې منه! سعد بن معاذ په ځواب کې ورته وويل: د انصاف خبره دې وکړه، بيا يې خپله نيزه ودروله او کيناست. حضرت مصعب (رضي الله عنه) اسلام ورته بيان کړ او د قرآنکريم تلاوت يې ورته وکړ. وايي: قسم په خدای مخکې لدينه چې څه ووايي مونږ يې په مخ کې د اسلام رښا وليدله، بيا يې راته وويل: کله چې اسلام منئ نو څه کوئ؟ دوی دواړو ورته وويل: ته لومړی غسل وکړه، خپلې جامې پاکې کړه، بيا د حق او شهادت کلمه ووايه او ورپسې دوه رکعته

لمونځ ادا کړه. حضرت سعد بن معاذ (رضي الله عنه) هم پاڅید او دا ټول کارونه یې تر سره کړل. بیایې خپله نیزه واخیستله او د خپل قوم په لور ور روان شو، هغوی چې ولید یو بل ته یې وویل: قسم په خدای په کوم مخ چې تللی ؤ په هغه بیرته ندی راغلی، او چې مجلس ته را ورسید نو ویې ویل: اې بني عبدالاشهل! ستاسې په مینځ کې زما مقام او معامله څنګه ده؟ دوی ورته وویل: ته زمونږ سردار یې، او له مونږ ټولو نه د پاخه نظر خاوند، او له مونږ ټولو نه برکتي او زمونږ نماینده او سرپرست یې. نو ده ورته وویل: ښه واوریځ، ستاسې ټولو (نارینه او ښځو) سره تر هغې زما خبرې حرامې دي تر څو مو په الله تعالی او د هغه په رسول(صلی الله علیه و اله وصحبه وسلم) ایمان نه وي راوړی. د سعد بن معاذ (رضي الله عنه) ددې خبرې اثر دا ؤ چې تر مابنامه پورې دده ټول قوم نر او ښځې په اسلام مشرف شول، یوازې یوه کس چې (اصیرم) نومیده اسلام رانه وړ هغه هم بیا وروسته د احد په جګړه کې مسلمان شو د الله په لار کې یې جګړه وکړه او پداسې حال کې په شهادت ورسید چې الله تعالی ته یې یوه سجده هم نه وه کړې. رسول اکرم(صلی الله علیه و اله وصحبه وسلم) دده په هکله فرمایلي: ((عمل قلیلا و اجر کثیرا)) یعنی نوموړی عمل کم کړی، خو اجر یې زیات تر لاسه کړ. حضرت مصعب (رضي الله عنه) تر هغې پورې د اسعد بن زراره (رضي الله عنه) په کور کې ؤ او د اسلام تبلیغ یې کاوه تر څو په انصارو کې داسې کورنۍ پاتې نه شوه چې څو کسان (نر او ښځې) نه وي پکې مسلمان شوي، یوازې د بني امیه بن زید او خطمه او وایل کورنۍ داسې وې چې څوک نه وو ورنه مسلمان شوي، او دا هم ځکه چې مشهور شاعر قیس بن اسلت د دوی له أولې نه ؤ او دوی به دده خبره په کلکه سره منله، او همدې شاعر دوی د خندق تر غزا (پنځم هجري کال) پورې له اسلام نه بیل او لیرې ساتلي وو. حضرت مصعب بن عمیر (رضي الله عنه) د بعثت د دیارلسم کال د د حج له موسم نه مخکې مکې مکرمې ته ستون شو او هلته یې خپل عظیم لارښود حضرت محمد(صلی الله علیه و اله وصحبه وسلم) ته د فتحې زیري وارول، او هغه یې د یثرب د خلکو له حال احوال، د دوی له جنګي او دفاعي صلاحیتونو او نورو ښو ښو استعدادونو نه خبر کړ.[1]

---

[1]. ابن هشام ۴۳۵/۱، ۲۳۲، ۴۳۷، ۴۳۸، ۹۰/۲ زاد المعاد ۵۱/۲

د عَقَبه دوهم بيعت

د نبوت د ديارلسم کال د حج په موسم يعنی د (۶۲۲م) کال د جون په مياشت کې د مدينې منورې له اوسيدونکو نه له اوياوو نه زيات مسلمانان د خپل قوم له مشرکانو سره يو ځای د حج ادا کولو پخاطر مکې ته ورسيدل. دا مسلمانان لا په مدينه او يا د مکې په لاره وو چې دا خبره يې سره يادې کړه ترکومه به رسول الله(صلی الله عليه و اله وصحبه وسلم) د مکې په غرونو کې لا لهانده او له غمونو او مشکلاتو سره لاس او ګريوان پاتې وي؟

دوی مکې ته له رسيدو نه وروسته په پټه له رسول الله(صلی الله عليه و اله وصحبه وسلم) سره تماس ونيو او پدې سره سلا شول چې د ذي الحجې په دولسمه شپه به په منی او د جمره عقبه خوا کې سره غونډ يږي.

اوس راځئ کعب بن مالک الانصاري (رضي الله عنه) ته غوږ شو چې ددې تاريخي غونډې په هکله کومې چې د کفر او اسلام د جګړې مخه يې بدله کړه څه وايي:

((حج ته لاړو، او له رسول الله(صلی الله عليه و اله وصحبه وسلم) سره مو د تشريق منځني ورځ وعده وټاکله، بالاخره ټاکل شوې شپه را ورسيده، مونږ دا خبره د خپل قوم له مشرکينو نه پټه ساتله، خو يوازې له عبدالله بن عمرو بن حرام سره مو پدې هکله څه خبرې وکړې، نومورې زمونږ له مشرانو او شريفو خلکو نه شميرل کيده. مونږ ورته وويل: ابو جابره! ته زمونږ له مشرانو او شريفانو نه يې، مونږ نه غواړو چې د دوزخ په اور کې وسوځې، بيا مو اسلام ته راوباله، او له رسول الله(صلی الله عليه و اله وصحبه وسلم) سره له کړې وعدې نه مو خبر کړ، کعب وايي: نو هغه هم په اسلام مشرف شو او د عقبې په بيعت کې يې ګډون وکړ او د خپل قوم نقيب (استازی) وټاکل شو)).

کعب وايي: ((د نومورې شپې په سر کې له خپل قوم سره يو ځای پخپله مېنه کې ويده شوو، خو د شپې د دريمې برخې له تيريدو نه وروسته راپاڅيدو او په پټه سره د ټاکل شوي ځای په خوا وخوځيدو تر څو د عقبې خوا کې سره غونډ شوو. زمونږ شميره دري اويا سړي او دوه ښځې چې يوه يې د بني مازن بن النجار نسيبه د کعب لور (ام عماره) او بله يې د بني سلمه قبيلې اسماء د عمرو لور (ام منيع) وه)).

هملته ټول سره راټول شوو، او د رسول الله(صلى الله عليه و اله وصحبه وسلم) د راتلو انتظار مو يوست، تر څو تشريف يې راوړ، له ده سره يې تره عباس (رضي الله عنه) هم ؤ، نوموړی هغه وخت لا مسلمان شوی نه ؤ خو دا يې غوښتل چې د خپل وراره پدې معامله کې برخه ولري او ټينګ عهد ورته واخلي، او ددې غونډې لومړنی خبرې کوونکی هم عباس (رضي الله عنه) ؤ.[1]

د خبرو پيل او د عباس (رضي الله عنه) له پلوه د مسئلې په اهميت رڼا اچول

کله چې د مجلس غړي پوره شول، نو د ديني او عسکري تړون په اړوند خبرې پيل شوې، له ټولو نه مخکې عباس (رضي الله عنه) په پوره صراحت سره د مسئلې د ارزښت او د دوی د مسئوليت د دروندوالي په هکله خبرې وکړې او و يې ويل:

((اې خزرجيانو! -د هغه وخت عربو ټول انصارو يعنی اوس او خزرج دواړو ته خزرجيان ويل – تاسې زمونږ په مينځ کې د محمد(صلى الله عليه و اله وصحبه وسلم) مقام او منزل وينئ، مونږ هغه د خپل قوم له مونږ سره په عقيده کې شريکوخلکو نه په امن ساتلی، هغه پخپل قوم کې د عزت خاوند دی، او دلته پخپل وطن کې زمونږ له ملاتړ او حمايې نه برخمن دی، خو هغه غواړي تاسې ته درشي، ستاسې لوري ته ميلان لري، نو اوس که چيرې تاسې له ده سره په کړې وعده وفا کوئ، او له مخالفينو نه يې ساتئ، نو سيي ده، تاسې پوه شئ او مسئوليت مو، خو که ستاسې خيال دا وي چې له دې ځای نه له وتو وروسته يې ملاتړ پريږدئ، نو سر له اوس نه يې پريږدئ، ځکه پخپل وطن کې د عزت خاوند او زمونږ له ملاتړ نه برخمن دی)).

کعب وايي: مونږ په ځواب کې ورته وويل: مونږ ستا خبرې واوريدې، نو اوس ته خبرې وکړه يا رسول الله (صلى الله عليه و اله وصحبه وسلم)! او د خپل ځان او رب لپاره پخپله خوښه عهد او تړون واخله [2]. د انصارو له دې ځواب نه دا ښه په ډاګه کيږي چې هغوی د دې عظيم مسئوليت په ادا کولو کې خومره مخلص او ټينګ ولاړ وو، او پدې لاره کې يې د هر راز مشکلاتو زغمولو ته په پوره ايمانداری سره اوږه ورکوله. پدې پسې رسول الله(صلى الله عليه و اله وصحبه وسلم) خپلې خبرې وکړې، او بيعت

---

[1]. ابن هشام ۱/ ۴۴۰ - ۴۴۱

[2]. ابن هشام ۱/ ۴۴۱ - ۴۴۲

ورسره وشو.

د بيعت بندونه

امام مالک پدې هکله د جابر روايت په مفصله توګه رانقل کړيدی. جابر وايي: مونږ رسول الله(صلى الله عليه و اله وصحبه وسلم) ته وويل: په څه شي بيعت درسره وکړو؟ ويې فرمايل: پدې بيعت راسره وکړئ چې: **[على السمع والطاعة في النشاط والكسل. وعلى النفقة في العسر واليسر. وعلى الأمر بالمعروف والنهي عن المنكر. وعلى أن تقوموا في الله ، لا تأخذكم في الله لومة لائم.وعلى أن تنصروني إذا قدمت إليكم، وتمنعوني مما تمنعون منه أنفسكم وأزواجكم وأبناءكم، ولكم الجنة]**.

۱ـ په هر حالت، سستۍ او چالاکي (کمزورۍ او پياوړتيا) کې به زما خبرې اورئ او منئ به يې يعنې اطاعت به مې کوئ.

۲ـ په فقر اوشتمنۍ دواړو يا نيستۍ اوهستۍ کې به مال خرڅوئ او مصرفوئ.

۳ـ په نيکۍ به امر او له بدۍ نه به نهي کوئ.

۴ـ د خدای د دين په خاطر راپورته شئ، او پدې لاره کې د هيڅا پروا ونه ساتئ.

۵ـ کله چې زه درغلم نو ملاتړ به مې کوئ، او د خپلو ځانونو، ښځو او اولادونو په شان به زما دفاع هم کوئ، او ددې ټولو په بدله کې زه د جنت وعده درکوم.[۱]

د کعب په هغه روايت کې چې ابن اسحاق راوړی دی يوازې وروستی بند ذکر شويدی او هغه داسې دی چې: کعب وايي: نو بيا رسول الله(صلى الله عليه و اله وصحبه وسلم) خبرې وکړې، د قرآنکريم له تلاوت، د الله لور ته له بلنې او اسلام ته له ترغيب او هڅونې وروسته يې وفرمايل: **[أبايعكم على أن تمنعوني مما تمنعون منه نسائكم وأبناءكم]**.پدې بيعت درنه اخلم چې زما داسې دفاع او ملاتړ وکړئ لکه څرنګه چې دخپلو ښځو او اولادونو دفاع کوئ. نو براء بن معرور په خپل لاس دده مبارک لاس ونيو او ويې ويل: قسم په هغه ذات چې ته يې په حقه نبي را استولی يې چې د خپلو اولادونو په شان به دفاع درنه کوو، له مونږ نه بيعت واخله اې د الله رسوله ! مونږ د جنګ بچيان يو، وسله زمونږ سينګار ده، دا مونږ ته له پلرونو نه په ميراث را پاتې ده.

---

[۱]. امام احمد دا په حسن اسناد را نقل کؤيدی، حاکم او ابن حبان دا روايت صحيح بللی دی، د عبدالله النجدي مختصر سيره الرسول نومی کتاب ۱۰۵ مخ هم وکګوره، ابن اسحاق هم له عباده بن الصامت نه دې ته ورته روايت راوؤی خو په هغه کيګ دا ماده زياته ده چيګ وايي: د حکومت پخاطر به له حاکمانو سره مخالفت نه کوو. ابن هشام ۱/ ۴۵۴

راوي وايي: ابو الهيثم بن التيهان د براء خبرې ور پرې کړې او و يې ويل: اې رسول الله (ص)! زمونږ او يهودو تر منځ اوس ښې اړيکې دي، خو زمونږ هغه غوڅوو، هسې نه چې اوس مونږ دا اړيکې هم غوڅې کړو، بيا ته له فتحې او بري نه وروسته مونږ په ډاګ پريږدې او بيرته خپل قوم ته راشي؟ رسول الله(صلى الله عليه و اله وصحبه وسلم) تبسم وکړ او ويې فرمايل: **[بل الدَّمُ الدَّمُ، والهَدْمُ الْهَدْمُ، أنا منكم وأنتم مني، أحارب من حاربتم، وأسالم من سالمتم]**. نه، داسې نده ستاسې وينه زما وينه، او ستاسې تباهي زما تباهي ده، زه د ستاسې او تاسې زما يئ، له چا سره چې تاسې جګړه کوئ زه هم ورسره جنګيږم، او له چاسره چې سوله کوئ نو زه هم ورسره سوله کوم.[1]

د بيعت په هکله نور ټينګار

وروسته له دې چې د بيعت د شرطونو په هکله خبرې وشوې او خلکو يې د ټرون اراده وکړه. د لومړۍ ډلې مسلمانانو له جملې نه دوه هغه کسان چې د نبوت په (۱۱) او (۱۲) کال يې اسلام راوړی ؤ يو په بل پسې پاڅيدل تر څو خپل قوم ددې بيعت له اهميت او خطر نه يو ځل بيا خبر کړي، چې هغوی له بيعت کولو نه مخکې ښه پوه شي، او په پټو سترګو او ناپوهۍ کې دا مسئوليت په غاړه وانخلي او تر څو دا معلومه کړي چې قوم يې پدې لاره کې څومره قربانۍ ورکولو ته تيار دی.

ابن اسحاق وايي: کله چې خلکو د بيعت کولو اراده وکړه عباس بن عباده بن نضله وويل: اې خلکو آيا تاسې پوهيږئ چې لدې سړي سره د څه بيعت کوئ؟ دوی وويل: هو. ده ورته وويل: تاسې ددې بيعت ورسره کوئ چې له ټولو خلکو سور پوټوکو او تور پوټوکو سره به جنګيږئ نو که ستاسې دا خيال وي چې د خپلو مالونو له مکملې تباهۍ او د مشرانو له وژلو نه وروسته د هغه ملاتړ پريږدئ، نو همدا اوس يې پريږدئ، ځکه هغه وخت دده له ملاتړ نه لاس اخيستل د دنيا او آخرت تباهي او رسوايي ده، او که دا اراده لرئ چې د مالونو له تباهۍ او سردارانو له مرګ سره سره به له ده سره پخپل ټرون وفا کوئ، نو بيا يې له ځان سره واخلئ، ټينګ يې کړئ ځکه دا د دنيا او آخرت خير او ګټه ده.

---

[1]. ابن هشام ۴۴۲/۱

دوی وویل: پدې لاره کې مونږ د مالونو د تباهۍ مشرانو او رهبرانو د مرګ ژوبلې خطر په ځان منو، یا رسول الله (ص)! دا راته ووایه که مونږ پدې وفا وکړو، نو ددې په بدله کې به زمونږ لپاره څه وي؟ ده وفرمایل: ددې په بدله کې د تاسې لپاره جنت دی. دوی وویل: لاس دې را اوږد کړه، ده(صلی الله علیه و اله وصحبه وسلم) خپل مبارک لاس ور اوږد کړ او دوی بیعت ورسره وکړ.[1]

او د جابر په روایت کې راځي (ویې ویل): پاڅیدو تر څو بیعت ورسره وکړو کله یې چې اسعد بن زراره لاس ونیو، نوموړی تر ټولو کشر وٴ او ویې ویل: لږ تم شئ اې د یثرب خلکو، مونږ دده حضور ته د حاضرۍ پخاطر دا اوږد سفر لدې یقین او باور سره کړی چې بیشکه هغه د الله رسول دی، نن ورځ دده وتل له ټولو عربو سره د مقاطعې او دښمنۍ معنی لري، دا ستاسې د سردارانو د مرګ او تورو چلولو غوښتنه کوي که تاسې دې قربانۍ ته تیار وئ، نو درسره وایې خلئ، خدای به اجر درکوي، او که چیرې تاسې پخپلو ځانونو ویریږئ نو بیا یې پریږدئ او دا به د الله په وړاندې ستاسې څه نا څه مقبول عذر وي.[2]

د بیعت ټرون

د بیعت په شرطونو او بندونو له موافقې او له یاد شوي تاکید وروسته د بیعت سلسله په مصافحې (لاس ورکولو) سره پیل شوه. جابر د اسعد بن زراره د خبرو له روایت نه وروسته وایي: نو هغوی وویل: اې اسعده! لاس دې لیرې کړه، قسم په خدای چې مونږ دا بیعت حتماً کوو او بیا یې نه ماتوو[3]. پدې سره اسعد پوه شو چې قوم یې پدې لاره کې څومره قربانۍ ورکولو ته تیاردی، دی له دې پلوه ډاډه او مطمئن شو، نوموړی د بیعت کوونکو دیني رئیس وٴ ځکه د مصعب بن عمیر ملګری داعي وٴ او له ټولو نه لومړی همده بیعت وکړ. ابن اسحاق وایي: بنو النجار دا ګومان کوي چې ابو امامه اسعد بن زراره لومړنی کس وٴ چې له رسول الله(صلی الله علیه و اله وصحبه وسلم) سره یې د بیعت لاس ورکړ.[4]

ورپسې عام بیعت پیل شو، جابر وایي: مونږ یو یو ورپاڅیدو او بیعت به مو کاوه، په

---

(1). ابن هشام ۴۴۲/۱

(2). د امام احمد له خوا د جابر په روایت نقل شوی حدیث

(3). پخوانی مصدر

(4). ابن اسحاق وایي: بنو عبدالاشهل وایي: چیګ لومؤنی بیعت کونکی ابو الهیثم بن التیهان دی او کعب بن مالك وایي: لومؤنی کس چی بیعت یی وکړ براء بن معرور و٬ (ابن هشام ۱/ ۴۴۷) خو زه وایم: شاید دوی به د بیعت کوونکو او رسول الله (ص) تر مینځ تیری شوی خبریګ بیعت کګنګي، خو سییګ دا ده چیګ لومؤنی بیعت کوونکی اسعد بن زراره دی. و الله اعلم.

مقابل کې به يې د جنت وعده راکوله.[1]
خو د هغو دوو ښځو چې هلته موجودې وې بيعت يوازې زباني ؤ ځکه رسول الله(صلی الله علیه و اله وصحبه وسلم) له پردې ښځې سره کله هم لاس ندی ورکړی.[2]

د دوولسو مشرانو (استازيو) ټاکل

د بيعت له تکميل نه وروسته رسول الله(صلی الله علیه و اله وصحبه وسلم) د دوولسو کسانو د انتخاب غوښتنه وکړه، دا کسان به د خپل قوم مشري او د بيعت د بندونو د تطبيق او تنفيذ مسئوليت په غاړه لري. دوی ته يې وفرمايل: تاسې له خپل مينځ نه دوولس کسه وټاکئ چې دوی به د خپل قوم استازي او د هغوی له طرفه مسئول وي، نو فوراً دا دوولس کسه وټاکل شول، چې نه (۹) يې د خزرج او (۳) د اوس قبيلې څخه وو.

د خزرج نقيبان (استازي):
۱ـ اسعد بن زراره بن عدس.
۲ـ سعد بن الربيع بن عمرو.
۳ـ عبدالله بن رواحه بن ثعلبه.
۴ـ رافع بن مالک بن العجلان.
۵ـ البراء بن معرور بن صخر.
۶ـ عبدالله بن عمرو بن حرام.
۷ـ عباده بن الصامت بن قيس.
۸ـ سعد بن عباده بن دليم.
۹ـ المنذر بن عمرو بن خنيس.

د اوس قبيلې نماينده ګان:
۱ـ اسيد بن حضير بن سماک.
۲ـ سعد بن خيثمه بن الحارث.

---

[1]. مسند امام حمد.
[2]. صحيح مسلم باب کيفية بيعة النساء ۱۳۱/۲ مخ وګوره.

۳_ رفاعه بن عبدالمندز بن زبير.[۳]

دا هم ويل کيږي چې دا وس دريم نماينده ابو الهيثم بن التيهان ؤ. کله چې دا دوولس کسه وټاکل شول، نو رسول الله(صلى الله عليه و اله وصحبه وسلم) له دوی نه د رئيسانو او مسئولينو په حيثيت يو بل ټون هم واخيست، او داسې يې ورته وفرمايل: **[أنتم على قومكم بما فيهم كفلاء، ككفالة الحواريين لعيسى ابن مريم، وأنا كفيل على قومي]** تاسې د خپل قوم داسې استازي او کفيلان يئ لکه څرنګه چې حواريون د عيسى (عليه السلام) کفيلان وو، او زه د خپل امت يعنی مسلمانانو کفيل يم. دوی وويل: هو، سيي ده.[۱]

شيطان د ټون راز افشا کوي

ټون او بيعت ترسره شو، خلک د خوريدو په حالت کې وو، په همدې وخت کې يوه شيطان د ټون او بيعت راز افشا کړ، خو څرنګه چې غونډه تقريباً پای ته رسيدلې وه او دا ممکنه نه وه چې د قريشو مشران په پټه سره خبر کړي تر څو بيعت ته حاضر شوي کسان په نابيره توګه راګير کړي، نو دا شيطان په يوه هسک ځای ودريد او په ډير لوړ آواز يې چيغه کړه، اې خلکو! اې ددې کورونو اوسيدونکو! محمد(صلى الله عليه و اله وصحبه وسلم) او ورسره بې دينان – له خپل دين نه اوړيدلي – کسان وګورئ، چې ستاسې سره د جګړې پخاطر راټول شويدي.

رسول الله(صلى الله عليه و اله وصحبه وسلم) وفرمايل: **[هذا أزَبُّ العقبة، أما والله يا عدو الله لأتفرغن لك. ثم أمرهم أن ينفضوا إلى رحالهم]**. ((دا ددې عقبې شيطان دی، اې د الله دښمنه! واوره، زه اوس درته وزګاريږم)) بيا يې حاضرو کسانو ته امر وکړ چې خپلو مېنو ته لاړ شي.[۲]

له قريشو سره د مقابلې لپاره د انصارو تياري

د شيطان ددې آواز په اوريدو سره عباس بن عباده بن نضله وويل: ((قسم په هغه ذات

---

[۳]. زبير په ب سره ، که خګه هم حګينو په ن يعنی زنير ذکر کؤيدی، او يو شمير مور خينو د رفاعه په حګای د ابوالهيثم بن تيهان نوم راوؤی دی.

[۱]. زاد ابن هشام ۴۴۳/۱ –۴۴۴- ۴۴۲

[۲] زاد المعاد ۵۱/۲

چې ته یې په حقه رسول رالیږلی یې، که ته وغواړې نو مونږ به سبا د منی پر اوسیدونکو د تورو حمله وکړو)).

رسول الله(صلی الله علیه و اله وصحبه وسلم) ورته وفرمایل: **[لم نؤمر بذلك، ولكن ارجعوا إلى رحالكم]** تر اوسه ددې اجازه نه ده راکړل شوې، خپلو مېنو ته ستانه شئ. بیا دوی هم ستانه او هملته خپلو ځایونو کې ویده شول.(۱)

قریش د یثرب مشرانو ته خپل احتجاج رسوي

دې آواز د قریشو غم او غصه راوپاروله، ځکه دوی ښه پوهیدل چې پردوی او د دوی پر مالونو به د داسې یوه بیعت اغیزه او اثر څه وي، نو کله چې سهار شو د قریشو له مشرانو نه یوه لویه ډله خلک د یثربیانو مینې ته ورغلل تر څو هغوی ددې بیعت په هکله له خپل عکس العمل او احتجاج نه خبر کړي، او داسې یې ورته وویل: ((خزرجیانو! مونږ خبر شوي یو چې تاسې راغلي یئ تر څو زمونږ ملګری لدې ځای نه وباسئ او له مونږ سره د جګړې بیعت مو هم ورسره کړیدی، خو قسم په خدای چې مونږ د ټولو عربې قبیلو په نسبت ستاسې سره جګړه بده ګڼو)).(۲)

خو څرنګه چې دخزرج مشرکان لدې مسئلې څخه نه وو خبر، ځکه دا بیعت د شپې په تیاره کې په ډیره پټه ترسره شوی وۀ، یو ځل راپورته شول، قسمونه یې خوړل چې هیڅ داسې پیښه په مینځ کې نشته او مونږ لدې نه هیڅ خبر نه لرو. بالاخره د قریشو وفد عبدالله بن ابې بن سلول ته ورغی، هغه هم ورته وویل: چې دا خبره دروغ ده، داسې څه ندي تر سره شوي، او دا هم امکان نلري چې زما قوم دې له مانه پټ داسې کار وکړي، که هلته مدینه کې هم وم، زما قوم زما له مشورې پرته داسې کار نه کوي. مسلمانانو هم یو بل ته وکتل، او چې ناست وو پدې هکله یې هیڅ هم ونه ویل: قریشو هم د مشرکانو خبره ومنله، او بې فایدې ستانه شول.

د بیعت د خبر په هکله د قریشو باور او د یثربیانو تعقیبول

د قریشو مشران د دوی له مېنی نه پداسې حالت کې ستانه شول، چې د بیعت د خبر

---

(۱). ابن هشام ۱/۴۸۸

(۲). ابن هشام ۱/ ۴۴۸

په دروغوالي څه نا څه يقيني شوي وو، خو سر بيره پر دې پدې لټه کې وو چې سيي معلومات لاسته راوړي او پدې هکله يې خپله پلټنه جاري وساتله. بالاخره پدې باوري شول چې د بيعت خبر سيي دی، خو دا داسې وخت وٴ چې حاجيان ټول د خپلو وطنونو په لور خوځيدلي وو.په هر ترتيب د قريشو سپاره په يثربيانو پسې ووتل، مخکې لاړل تر څو سعد بن عباده او منذر بن عمرو يې وليدل، تعقيب يې کړل منذر ورنه وتښتيد، خو سعد يې ونيو، لاسونه يې له ورميږه سره دده د کجاوې په رسۍ وترل، تر وهلو او ټکولو لاندې يې ونيو وينښتان يې کشول او په کښولو کښولو يې مکې ته ورساوه. هلته مطعم بن عدي او حارث بن حرب بن اميه وليد او د دوی له بنده يې آزاد کړ، ځکه سعد به په مدينه کې د دوی له قافلو نه ملاتړ کاوه. انصار چې پوه شول سعد ورنه پاتې شويدی، نو پدې سره سلا شول چې بيرته ورپسې ورشي، خو دوی لا خوځيدلي نه وو چې هغه ورته راورسيد، او ټول يو ځای مدينې ته ورسيدل.[1]

دا و د عقبې دويم بيعت چې د لوی بيعت په نامه يادېږي، دا بيعت پداسې حالت کې ترسره شو چې د مسلمانانو زړونه يو له بل سره له مينې او محبت نه ډک وو، او پدې لاره کې په پوره همت او ميړانه سره هر راز قربانۍ ورکولو ته چمتو وو. د مدينې مسلمان په مکه کې پخپل مسلمان ورور باندې شفقت کوي، زړه وربانديې سيځي، غم شريکي ورسره کوي، د هغه چا په وړاندې چې د مکې پر مسلمان ظلم کوي خپل قهر او غوسه څرګندوي، لنډه دا چې د خپل ديني ورور سره په هر څه کې ځان ګډ او شريک بولي. دا مينه او محبت هسې هم نه و چې د وخت په تيريدو سره له مينځه لاړ شي، ځکه ددې مينې سبب او مصدر پر الله، رسولانو او کتابونو باندې ايمان وٴ، داسې ايمان چې هيڅ ظالم او جابر يې د مينځه وړلو توان او قدرت نلري. دا داسې ايمان وٴ چې د عمل او عقيدې په ډګر کې به يې داسې کارنامې ترسره کولې چې د عادي بشر له وسه ندي پوره او پدې ايمان سره د هغه وخت مسلمانانو داسې کارونه او قهرمانۍ ترسره کړې چې نه يې اوس مثال شته، نه پخوا او نه به يې هم په راتلونکې کې مثال وليدل شي.

---

[1]. زاد المعاد ۵۱/۲. ابن هشام ۴۴۸/۱-۴۴۹_ ۴۵۰.

د هجرت پيل

وروسته له هغې چې د عقبې دويم بيعت ترسره شو، او اسلام وتوانيد له کفر او جهالت نه ډکې بيديا کې د ځان لپاره مېنه ومومي او د فتحې په درشل پيښه کيږدي. -په رښتيا چې دا د دعوت له پيل نه د اسلام لويه سوبه او لاسته راوړنه وه ـ رسول الله (صلى الله عليه و اله وصحبه وسلم) مسلمانانو ته د هجرت کولو اجازه ورکړه.

دغه وخت د هجرت معنی د ځان د احتمالي نجات او خلاصون پخاطر د ټولو ګټو او مصلحتونو تر پښو لاندې کول، او هر راز مالي قرباني په ځان منل وۀ. هر هجرت کوونکی به پدې ښه پوهيده چې سر يې هم په باوري توګه په امن ندی، کيدای شي د لارې په سر او يا پای کې ووژل شي، راتلونکې يې هم مجهول او نامعلوم دی، خدای خبر چې سبا به له څه ډول مشکلاتو او کړاوونو سره مخ کيږي.

مسلمانانو د هجرت سفر پيل کړ، دا ټول تکليفونه يې په ځان ومنل، مشرکينو هم د خطر په درک کولو سره زيار ايسته د دوی د هجرت مخه ونيسي، راځئ پدې اړه لاندې خبرې واورو:

۱. لومړنی مهاجر ابو سلمه وۀ- ابن اسحاق وايي: نوموړي د عقبې له دويم بيعت نه يو کال وړاندې هجرت کړی وۀ – کله چې ده د هجرت اراده وکړه، نو خپله ښځه او زوی هم يې له ځان سره روان کړل، خو خسرګنۍ يې ورته وويل: د خپل ځان په هکله څه نه شو درته ويلی، خو دا ستا ښځه چې زمونږ خپله ده، څنګه يې درسره پريږدو چې ليرې وطن ته يې بوزې؟ همدا وه چې ښځه يې ورنه ستنه کړه. پدې وخت کې د ابو سلمه کورنۍ په غوسه شوه او وې ويل: مونږ هم خپل ماشوم نه پريږدو چې له مور سره يې ستاسې سره وي. د دواړو قبيلو خلکو ماشوم ونيو يو له بل نه يې را کاږه تر څو د ماشوم لاس ووت او بيا د ابو سلمه کورنۍ واخيست، او ابو سلمه يوازې د هجرت لاره ونيوه لاړ. ښځه به يې هر سهار له کوره وته او ابطح نومې ځای ته به تلله او ترمانښامه به يې هلته ژړل، پوره يو کال يې همداسې بده ورځه وه. بالاخره يې د خپلوانو له جملې نه ديوه تن زړه وربانديې وسوځيده او نورو ته يې ووېل: دا مسکينه پريږدئ، له زوی او ميړه نه مو جدا کړيده! نو دوی ورته ووېل: که غواړې خپل ميړه ته

ورشي، تلی شي، لاړه شه، همغه وه چې دې خپل زوی د میړه له پلرګنۍ نه بیرته راواخیست، او د مدینې په لور وخوځیده. هو، دې اوږد سفر ته یې چې تقریباً پنځه سوه کیلو متره اوږد و په یوازې صورت ملا وترلې. لاړه پسې لاړه تر څو تنعیم ته ورسیده هلته عثمان بن طلحه بن ابي طلحه ولیده، د حال احوال له پوښتنې وروسته ورسره روان شو تر څو قباء ته ورسیدل هلته یې ورته وویل: میړه دې دلته دی، ورشه ، او دی پخپله بیرته مکې ته روان شو.[1]

۲- هغه وخت چې صهیب د هجرت نیت وکړ، د قریشو کفارو ورته وویل: ته چې کله دلته راغلې یو حقیر او ناداره سړی وې، همدلته د مال او شتمنۍ خاوند شوې، اوس غواړې دلته ګټلی مال له ځان سره یوسې، دا کله هم نه شي کیدلی. صهیب په ځواب کې ورته وویل: که زه خپل مال تاسې ته درکړم، نو بیا مې پریږدئ چې ولاړ شم؟ دوی وویل: هو. ده ورته وویل: ځه زما مال ستاسې شو. دا خبره رسول الله(صلی الله علیه و اله وصحبه وسلم) ته ورسیده نو ویې فرمایل: صهیب ګټه کړی، صهیب ګټه کړی.[2]

۳- عمر بن الخطاب، عیاش بن ابي ربیعه او هشام بن العاصي بن وائل یو ځای سره وټاکه چې سهار به هملته سره غونډیږي بیا به مدینې ته هجرت کوي، خو سهار عمر او عیاش راغلل او هشام ورنه وګرزول شو. او کله چې دوی دواړه قباء ته ورسیدل ابوجهل او ورور یې حارث راغلل او عیاش ته یې وویل: مور دې قسم خورلئ چې تر هغې به نه سر مورږمنځوی او نه به سیوري ته کیني تر څو یې ته نه وې لیدلی، نو د عیاش زړه پرې وسوځید ورته خفه شو.- د دوی دری واړو مور یوه وه - پدې وخت کې عمر (رضي الله عنه) ورته وویل: عیاشه! دوی غواړي تا له خپل دین نه واړوي، متوجه اوسه، مور دې که له سپږو نه په عذاب شي حتماً به خپل سر ږومنځ کړي، او که ګرمي یې پسې واخلي خوامخوا به سیوري ته ځي. خو عیاش تصمیم ونیو چې له دوی سره بیرته مکې ته لاړ شي، تر څو د خپلې مور قسم ریښتونی کړي، نو عمر ورته وویل: اوس چې دا اراده لرې، نو دا زما اوښه درسره بوزه، دا ډیره ښه ارامه او چټکه اوښه ده، مه ورنه کوزیږه که چیرې دې د خلکو له طرف نه څه شکمن حرکت ولید فوراً را تښته. بیا دری واړه روان شول، په لاره کې ابو جهل ورته وویل: قسم په خدای چې دا زما اوښه سرکشه ده، څه کیږي که زه هم ستا سره سپور شم؟ عیاش وویل: سیي ده، اوښې یې ودرولې بیا یې چو کړې، په همدې وخت کې دواړو (ابوجهل او حارث)

---

(1). ابن هشام ۱/ ۴۲۸ – ۴۲۹ - ۴۷۰

(2). ابن هشام ۱/ ۴۷۷

ناڅاپي حمله وربانديې وکړه راوپې نيو، تينګ يې وتاړه، او مکې ته يې يووړ، هلته يې خلکو ته وويل: تاسې هم له خپلو بې عقلانو سره داسې چلن وکړي لکه څرنګه چې مونږ له خپل دې جاهل سره وکړ.[1]

دا ډول ؤ له هجرت کوونکو سره د مشرکينو چلن، خو سربيره پردې هم مسلمانان يو په بل پسې له مکې نه ووتل او د عقبې له دويم بيعت نه يوازې دوی مياشتې او څو ورځې تيرې شوې وې چې په مکه کې له رسول الله (صلى الله عليه واله وصحبه وسلم)، ابوبکر، علي او له هغو مسلمانانو نه پرته چې مشرکينو په زور نيولي وو، بل مسلمان نه ؤ پاتې شوی. ابوبکر او علي (رضي الله عنهما) د رسول الله(صلى الله عليه و اله وصحبه وسلم) په امر دلته پاته شوي وو، رسول(صلى الله عليه و اله وصحبه وسلم) او ابوبکر (رضي الله عنه) د سفر تياري نيولې وه، خو پدې انتظار ؤ چې کله به ورته د وتو امر کيږي.[2]

امام بخاري له حضرت عايشي (رضي الله عنها) نه روايت کوی فرمايي: رسول الله(صلى الله عليه و اله وصحبه وسلم) مسلمانانو ته وويل: **[أني أريت دار هجرتكم، ذات نخل بين لابَتَيْن]** ما ته ستاسې د هجرت ځای رابنودل شويدی، د لارې د دوو غرونو تر مينځ يوه نخلستاني علاقه ده. پدې پسې مسلمانانو مدينې ته هجرت وکړ، د حبشې مهاجرين هم ټول مدينې ته راغلل، ابوبکر (رضي الله عنه) هم مدينې ته د سفر تياري ونيوله، خو رسول الله(صلى الله عليه و اله وصحبه وسلم) ورته وفرمايل: **[على رِسْلِك، فأني أرجو أن يؤذن لي]**. لږ څه صبر وکړه، هيله ده ما ته هم د هجرت اجازه راکړل شي. نو ابوبکر (رضي الله عنه) ورته وويل: زما پلار له تا قربان، آيا ته ددې اميد لرې؟ رسول الله(صلى الله عليه و اله وصحبه وسلم) وفرمايل: **[نعم]** هو زه اميد لرم. نو ابوبکر (رضي الله عنه) هم پاتې شو تر څو له رسول الله(صلى الله عليه و اله وصحبه وسلم) سره ملګری شي. ده دوې اوښې هم برابرې کړې وې او پوره څلور مياشتې يې د سمر ونې پانې ورکړې او ښې يې وساتلې.[3]

---

(1). هشام او عياش همداسې د کفارو په قيد کې وو تر څو رسول الله (ص) هجرت وکړ، يوه ورځ يې وفرمايل: څوك به هشام او عياش راخلاص کړي؟ د وليد زوی وليد وويل: زه يې درته راخلاصوم يا رسول الله (ص)! همدا وه چې وليد په پټه مکې ته لاړ، هلته يې يوه ښځه وليده چې دوی ته خواړه وروړي په دې سره يې د دوی د اوسيدو ځای معلوم کړ او دا بو بې چته کور و، مابنام په ديوال وروا وښت ، دواړه يې را خلاص کړل او له ځان سره يې مدينې ته بوتلل ابن هشام ۱/۴۷۴- ۴۷۲.عمر له ۲۰ نورو کسانو سره يو ځای مدينې ته تللی و/ بخاري ۱/ ۵۵۸

(2). زاد المعاد ۲/ ۵۲

(3). صحيح بخاري باب هجرة النبي (صلى الله عليه وسلم) و اصحابه ۱/ ۵۵۳

د دارالندوه يا د قريشو د پارلمان غونډه

کله چې قريشو وليدل د رسول الله(صلی الله عليه و اله وصحبه وسلم) اصحاب مهاجر شول، اولادونه او څه اندازه مالونه يې د مدينې اوس او خزرج ته يووړل، نو يو ځل يې په زړونو کې بې ساري غم او غويه را وپاريده. اور وربانديې بل شو، خپل ديني او اقتصادي وجود يې په خطر کې وليد، ځکه دوی محمد(صلی الله عليه و اله وصحبه وسلم) ښه پيژانده او پوهيدل چې هغه څومره عظيم او موثر لارښود دی. پدې هم پوه وو چې اصحاب (رضي الله عنهم) څومره د صبر، استقامت خاوندان او قرباني ته تيار کسان دي، د اوس او خزرج قوت او زور يې هم ليده او پدې هم پوره باوري وو چې ددې دواړو قبيلو مشران او د عقل خاوندان ددې توان او استعداد لري چې خپل مينځي دښمنۍ ختمې کړي او يو بل ته د وروری او همکاری لاس ورکړي.

د مدينې استراتيژيک موقعيت يې هم له سترګو پټ نه وۀ، او پدې خبر وو چې دا علاقه د هغه تجارتي لارې لپاره د څومره اهميت درلودونکې ده کومه چې د سرې بحيرې په غاړه له يمن نه تر شام پورې غزيدلې ده. د مکې خلکو به هر کال شام ته د (۲۵۰) زرو طلايي دينارونو په بيه تجارت درلود د طائف او نورو ځايونو د اوسيدونکو تجارت لدينه جدا وۀ، او ښکار ده چې ددې لارې امن او آرامي د دوی د تجارت لپاره ډيره ضروري وه. خو دا هم بايد ووايو چې قريشو په مدينه کې د اسلامي دعوت له ځای په ځای کيدو او د دوی په مقابل کې د هغه ځای د خلکو له راپاريدو نه هم غټ خطر احساساوه، دا ټول خطرونه يو ځای د قريشو سترګو ته ودريدل، نو پدې لټه کې شول چې د رسول الله(صلی الله عليه و اله وصحبه وسلم) په لاس را پيدا شوی خطر بالکل او په پوره توګه له مينځه يوسي.

د عقبې له دويم بيعت نه تقريباً دوې نيمې مياشتې وروسته د پنجشنبې په سهار د نبوت د څوارلسم کال د صفر مياشتې په (۲۶) مه چې د (۶۲۲)م کال د سپتمبر مياشتې له (۱۲) مې سره سمون خوري[1] د قريشو پارلمان (دارالندوه) پخپل تاريخ

---

[1]. دا نيټګه مو د هغه تحقيقاتو له خګيوٹنی وروسته غوره کړه کوم چيګ علامه محمد سليمان منصور پوري په رحمه للعالمين نومیګ کتاب کيګ ليکلي دي ۱/ ۹۵ -۹۷_ ۱۰۲، ۲/ ۴۷۱.

کې له ټولو نه خطرناکه غونډه پرانيستله[1]، پدې غونډه کې د قريشو د ټولو قبيلو استازو برخه واخيسته، تر څو د اسلامي دعوت د ستر لارښود د له مينځه وړو او اسلامي ډيوې د وژلو لپاره لارې چارې ولټوي او پدې هکله پريکنده فيصله وکړي.
پدې غونډه کې د قريشو له استازو نه لاندنيو مشهورو کسانو برخه اخيستې وه:
۱ـ ابو جهل بن هشام د بني مخزوم له قبيلې نه.
۲ـ جبير بن مطعم، طعيمه بن عدي، او حارث بن عامر د بني نوفل بن عبد مناف نه.
۳ـ د ربيعه زامن شيبه او عتبه، او ابو سفيان بن حرب له بني عبد شمس بن عبد مناف قبيلې نه.
۴ـ نضر بن حارث له بني عبدالدار قبيلې نه، دا همغه سړی دی کوم چې پر رسول الله(صلى الله عليه و اله وصحبه وسلم) يې د اوښې پريوان وراچولې وۀ.
۵ـ ابو بختري بن هشام، زمعه بن اسود او حکيم بن حزام له بني اسد بن العزی قبيلې نه.
۶ـ د حجاج زامن نبيه او منبه له بني سهم قبيلې نه.
۷ـ اميه بن خلف له بني جمح قبيلې نه.
ټول د وعدې سره سم راغلل، که ګوري چې شيطان د يوه مخور مشر په شکل کې په دروازه کې ولاړ دی، قيمتي چپنه يې اغوستې، دوی ورته وويل: دا مشر څوک دی؟ ده ورته وويل: زه د نجد قبيلې يو مشر يم ستاسې د غونډې خبر مې واورید ، راغلم تر څو ستاسې خبرې واورم، او کيدای شي پدې هکله ښه مشوره درکړم. دوی ورته وويل: ډير ښه، راځه، او پدې ترتيب هغه هم په غونډه کې شريک شو.

له مناقشې وروسته د رسول الله(ﷺ) د وژلو پريکړه

د پارلمان غړي ټول حاضر شول، خبرې او مناقشې پيل شوې، هر چا خپله طرحه وړاندې کوله، ابو اسود وويل: راځئ محمد(صلى الله عليه و اله وصحبه وسلم) له خپل وطن نه وشړو، هر چيرته چې ځي لاړ دې شي، زمونږ څه کار ورسره نشته، خو دده په اخراج به زمونږ مشکل حل شي او اړيکې به مو بيرته سره ښيګڼې او وحدت به مو

[1]. ابن اسحاق روايت کوی چيګ جبريل (عليه السلام) رسول الله (صلى الله عليه وسلم) ته ددې غونډې په هکله خبر ورکړ او د هجرت اجازه يې ورکړه. او پدې هکله بل دليل د عايشې (رضي الله عنها) روايت دی چې ورسته به يې سره ولولو.

قائم شي.

خو نجدي سپین ږیري وویل: نه دا سیي نظر ندی، تاسې نه ګورئ چې محمد (صلی الله علیه و اله وصحبه وسلم) څومره بلیغ او منطقي شخصیت دی، د هغه زړه وړونکې او خوږې خبرې نه وینئ، او دا نه ګورئ چې هغه د نورو زړونه څه ډول ځانته راکاږي، نو ددې ویره موجوده ده چې هغه یوی بلې عربي قبیلې ته لاړ شي، او هغوی د ځان پیروان وګرزوي، بیا به پر تاسې حمله وکړي او دلته پخل وطن کې به مو تس او نس کړي او بیا به خپله رایه درباندې تحمیل کړي، بهتره دا ده چې پدې هکله نور فکر وکړئ او بل پلان جوړ کړئ.

ابو البختري وویل: هغه د اوسپنې په پنجرو کې بند کړئ، تر څو د پخوانیو شاعرانو زهیر او نابغه په څیر مړ شي. د نجد مشر بیا وویل: نه دا هم چندان سیي نظریه نده، ځکه که تاسې هغه بند هم کړئ، هغه به خپل ارشادات خپلو اصحابو ته رسوي، کیدای شي هغوی حمله وکړي او له قید نه یې آزاد کړي، بیا به یې پیروان ډیر شي او پر تاسې به برلاسي ومومي، نو یوه بله لاره وګورئ.

پارلمان دا دواړه پیشنهادونه رد کړل، خو دا ځل د مشرکانو مشر او د مکې غټ مجرم ابو جهل داسې ظالمانه وړاندیز وکړ چې ټولو ورسره موافقه وکړه. او هغه داسې وځ چې ابو جهل وویل: زه دده په هکله داسې نظر لرم چې تاسې یو به یې هم نلرئ، دوی ورته وویل: وایه ستا څه نظر دی؟ ده وویل: چې مونږ باید له هرې قبیلې نه یو یو غښتلی، تکړه او د ښه نسب خاوند ځوان غوره کړو، دوی ټولو ته توري ورکړو او دده (صلی الله علیه و اله وصحبه وسلم) د مرګ لپاره یې وروا ستوو، ټول به یو ځای وربانديې ګوزار وکړي او په قتل به یې ورسوي، نو مونږ به ورنه بیغمه شو، که داسې وکړو خون به یې په ټولو قبیلو وویشل شي او عبدمناف به هم ددې وس ونلري چې له ټولو قبیلو سره جګړه وکړي، نو مجبور به شي دیت اخیستل ومني او مونږ به یې دیت ورکړو. نجدي مشر وویل: ددې سړي خبره او نظریه د منلو وړ ده، زما نظر هم دا دی[1]. نو د پارلمان ټولو غړو دا نظریه او وړاندیز ومانه، او تصمیم یې ونیو چې دا طرحه به ژر او فوراً عملي کوي، او په همدې سره غونډه پای ته ورسیده.

---

[1]. ابن هشام ۱/ ۴۸۰، ۴۸۱، ۴۸۲

د رسول الله(ﷺ) هجرت

کله چې قريشو د رسول الله(صلی الله علیه و اله وصحبه وسلم) د وژلو ظالمانه فيصله وکړه، نو جبريل (عليه السلام) وحي راوړه، رسول (عليه السلام) يې د قريشو لدې توطئې نه خبر کړ، او دا يې ورته وويل چې الله تعالی د هجرت اجازه درکړيده، د هجرت کولو وخت يې ورته وټاکه او داسې يې ورته وويل: نن پخپل ځای مه ويده کيږه.[1]

نو رسول الله(صلی الله علیه و اله وصحبه وسلم) په همدې غرمه کې د ابوبکر (رضي الله عنه) کورته ورغی تر څو د هجرت په هکله پلان جوړ کړي. عائشه (رضي الله عنها) وايي: ټکنده غرمه وه مونږ د ابوبکر (رضي الله عنه) په کور کې ناست وو، چې يو کس آواز وکړ، دا دی رسول الله(صلی الله علیه و اله وصحبه وسلم) راغی سر يې پټ کړيدی. دا داسې وخت وۀ چې عادتاً به هغه(صلی الله علیه و اله وصحبه وسلم) پدې وخت کې زمونږ کره ته راته. ابوبکر وويل: زما مور او پلار دې ورنه قربان شي، قسم په خدای چې د کوم مهم کار لپاره راغلی دی.

عائشه (رضي الله عنها) وايي: رسول الله(صلی الله علیه و اله وصحبه وسلم) راغی او له اجازې وروسته کور ته را ننوت، ابوبکر ته يې وويل: **[أخرج مَنْ عندك]**. دا حاضرين وباسه. ابوبکر (رضي الله عنه) ورته وويل: زما پلار له تا قربان يا رسول الله (صلی الله علیه وسلم)! دا خو ټول ستا اهل دی. ده وفرمايل: **[فأني قد أذن لي في الخروج]**. ما ته د هجرت اجازه شويده، نو ابوبکر ورته وويل: اې رسول الله(صلی الله علیه و اله وصحبه وسلم) پلار مې درنه قربان، آيا ما درسره ملګری کوې، زما لپاره به د ملګرتيا شرف وي؟ رسول(صلی الله علیه و اله وصحبه وسلم) وفرمايل: هو.[2]

د هجرت له پلان جوړولو وروسته رسول الله(صلی الله علیه و اله وصحبه وسلم) بيرته خپل کورته لاړ، او د شپې انتظار يې يوست.

---

(1). ابن هشام ۴۸۲/۱، زاد المعاد ۵۲/۲

(2). صحيح بخاري، باب هجرةالنبي (ص) و اصحابه ۱/ ۵۵۳

د رسول الله (ﷺ) د کور محاصره

د قريشو مجرمانو مشرانو ټوله ورځ پدې تيره کړه چې د مکې پارلمان (دارالندوه) پريکړه به څنګه عملي کوي، او له تياری وروسته يې ددې کار د عملي کولو لپاره يوولس مشران وټاکل چې نومونه يې دا دي:

۱- ابو جهل بن هشام. ۲- حکم بن ابې العاص.۳- عقبه بن ابې معيط.۴- نضر بن حارث.۵- اميه بن خلف.۶- زمعه بن اسود.۷- طعيمه بن عدي. ۸- ابو لهب. ۹- ابې بن خلف. ۱۰- نبيه بن حجاج. ۱۱- منبه بن حجاج.[۱]

ابن اسحاق وايي: کله چې د شپې تياره خوره شوه، هغوی ټول د رسول الله(صلی الله علیه و اله وصحبه وسلم) تر کور راتاو شول او ددې انتظار يې يوست چې هغه ويده شي او دوی حمله ورباندې وکړي.[۲]

مشرکانو پوره باور درلود چې د دوی دا توطئه به حتما کامياب‌ېږي، تر دې حده چې ابو جهل د کبر او غرور په حالت کې خپلو ملګرو ته مخ کوي او وايي: محمد(صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) وايي که تاسې دده پيروی وکړئ نو د عربو او عجمو پاچايان به شئ، او بيا به له مرګ نه وروسته بيا راژوندي شئ، او هلته به د اردن د باغونو په شان باغونه درکړل شي، او که داسې مو ونه کړل- دده دين مو ونه ما نه – نو بيا به دده له لاسه ستاسې په مينځ کې قتل و قتال وشي، او چې بيا را ژوندي کړی شي، نو بيا به په اور کې سوځئ[۳]!!

د توطئې د پلي کولو وخت نيمه شپه ټاکل شوی و، هغوی ټول بيدار او ويښ ولاړ وو، د ټاکل شوي وخت انتظار يې يوست، خو الله تعالی تر ټولو لوی او غالب ذات دی، د ځمکې او آسمان پاچايې له ده سره ده څه يې چې اراده وي همغه کوي، هغه پناه ورکوونکي دی، چا ته چې پناه ورکړي هيڅوک هغه ته ضرر نه شي رسولی، او که وغواړي څوک را ګير کړي، نو بيا د هغه خلاصون نشته. پدې ترتيب سره غالب الله تعالی خپل رسول وساته، د قرآنکريم لاندينی آيت چې لدې پيښې وروسته را نازل شوی دا موقف داسې تشريح کوي:

((وَ إِذْ يَمْكُرُ بِكَ الَّذِينَ كَفَرُوا لِيُثْبِتُوكَ أَوْ يَقْتُلُوكَ أَوْ يُخْرِجُوكَ وَيَمْكُرُونَ وَيَمْكُرُ اللَّهُ

---

[۱]. زاد المعاد ۵۲/۲

[۲]. ابن هشام ۴۸۲/۱

[۳]. ابن هشام ۴۸۳/۱

وَاللَّهُ خَيْرُ الْمَاكِرِينَ)). (الانفال: ۳۰)

[او ياد کړه (اې محمده) هغه وخت چې مکر فريب به کاوه له تا سره کافرانو لپاره د دې چې بندي کړي تا يا ووژني تا، يا وباسي تا (له مکې نه) او پټ فريب کوي دوی (له تا سره) او جزا د قريب ورکوي الله (دوی ته) او الله بهتر د جزا ورکوونکو د مکر دی.]

رسول الله (ﷺ) خپل کور پريږدي

سره لدې چې قريشو د خپل وحشيانه پلان د تطبيق لپاره پوره تياري نيولې وه، خو بيا هم له فـا حشې ناکامۍ سره مخ شول. په همدې سخت او مشکل وخت کې رسول الله(صلى الله عليه و اله وصحبه وسلم) د ابو طالب زوی علي (رضي الله عنه) ته وويل: ته نن شپه زما په بستره کې ويده شه، او دا زما شين حضرمي چادر دربانديې واچوه[1] ويده شه تا ته به د هغوی له لاسه هيڅ ضرر در و نه رسيږي. رسول الله(صلى الله عليه و اله وصحبه وسلم) به په همدې چادر کې ويده کيده.[2]

بيا رسول الله(صلى الله عليه و اله وصحبه وسلم) ووت، د دوی له مينځه تير شو، او يو موټی شګلنه خاوره يې واخيسته او د دوی پر سرونو يې وروشنله، الله تعالى د هغوی سترګې وربانديې ړندې کړې او ويې نه ليده او ده مبارک دا آيت تلات کاوه: ((وَجَعَلْنَا مِنْ بَيْنِ أَيْدِيهِمْ سَدّاً وَمِنْ خَلْفِهِمْ سَدّاً فَأَغْشَيْنَاهُمْ فَهُمْ لا يُبْصِرُونَ)) (يـــس: ۹). [او گرځولی مو دی په مخ د دوی کې سد (ديوال) او له وروسته د دوی ديوال، پس پټې کړې مو دي (سترګې د دوی) پس دوی هيڅ نه وينې.]

رسول الله(صلى الله عليه و اله وصحبه وسلم) د ټولو مشرکانو پر سرونو خاوره واچوله، او سيخ د ابوبکر (رضي الله عنه) کورته ورغی، له هغه ځای نه دواړه د شپې له مخې د يوې کړکۍ له لارې ووتل د يمن په طرف روان شول ترڅو غار ثور ته ورسيدل[3]. هلته محاصره کوونکي د ټاکل شوي وخت د رارسيدو انتظار باسي، خو د وخت له رارسيدو لږ شيبه مخکې پخپله نامرادۍ او ناکامۍ پوه شول. يو سړی ورته راغی او

---

(1). په حضرموت (جنوبيګ يمن) کيګ جوړ شوی خګادر په حضرمي چادر شهرت لري.

(2). ابن هشام ۴۸۲/۱ - ۴۸۳

(3). ابن هشام ۴۸۳/۱- زاد المعاد ۵۲/۲

ورته وي ويل: د څه انتظار باسئ؟ دوی ورته وويل: د محمد(صلی الله علیه و اله وصحبه وسلم) انتظار باسو. ده ورته وويل: نامراده شوئ، ناکام شوئ، هغه خو در نه تللی، او ستاسې پر سرونو يې خاورې در اچولې، هغه پخپله لار تللی. دوی وويل: قسم په خدای مونږ خو ندی ليدلی، سرونو ته يې لاس کړ او خاورې يې ورنه پاکې کړې.

خو د دروازې له چاک نه يې د ننه وکتل، که ګوري چې علي (رضي الله عنه) ويده دی، دوی وويل: قسم په خدای هغه دی محمد(صلی الله علیه و اله وصحبه وسلم) تر اوسه لا ويده دی. هغوی تر سهاره منتظر وو تر څو سهار شو او علي (رضي الله عنه) له ځايه پاڅيد، دوی هغه را ونيو او د محمد(صلی الله علیه و اله وصحبه وسلم) په هکله يې معلومات ورنه وغوښتل. ده ورته وويل: زه د هغه په هکله هيڅ معلومات نلرم.[1]

له کور نه تر غاره

رسول (صلی الله علیه وسلم) د نبوت د څوارلسم کال د صفر مياشتې په (۲۷) مه شپه چې د (۶۲۲م) کال د سپتمبر مياشتې له ۱۲/ ۱۳[2] سره سمون خوري له خپل کور نه ووت، د ابوبکر (رضي الله عنه) کورته ورغی، او له هغه ځای نه دواړه د کور له وروستۍ کړکۍ نه لدې ويرې نه چې ورباندې سهار نه شي په ډيره چټکۍ ووتل.

رسول الله(صلی الله علیه و اله وصحبه وسلم) پدې پوهيده چې مشرکين به يې په لټه پسې را وزي او لومړنۍ لار چې دوی به يې نيسي هغه دشمال خوا ته د مدينې لويه لاره ده، نو ده پخپل حکمت سره ددې مقابله يعنی د جنوب لاره ونيوله، دا لاره يمن ته تللې وه، تقريباً پنځه ميله مخکې لاړل تر څو د ثور غره ته ورسيدل. دا ډير لوړ، سخت او د لويو لويو تيږو درلودونکې غر دی.

د رسول الله(صلی الله علیه و اله وصحبه وسلم) دواړه پښې لوڅې وې بلکه دا هم ويل کيږي چې رسول الله(صلی الله علیه و اله وصحبه وسلم) د پښو په سرو (ګوتو) تله تر

---

[1]. ابن هشام – زاد المعاد

[2]. رحمة للعالمين ۹۵/۱. که د دې کلونوپيل له محرم مياشتی نه فرض کؤو نو دا مياشت (صفر) د نبوت د خگوارلسم کال مياشت راځي او که د کلونو پيل د بعثت له مياشتی نه فرض کؤو نو بيا دا د نبوت ديارلسم کال مياشت راځي.

او د سيرت زيات ليکونکيګ کله لومؤنی او کله هم دوهمه فرضيه سييګ کګنګي او همدا وجه ده چيګ د حوادثو په ترتيب کيګ خګه غلطی هم ورنه وشي، نو مونږ دديګ شيانو په پام کيګ نيولو سره دا غوره کګنګو چيګ د کلونو پيل د محرم له مياشتيګ وي.

څو د پلونو اثر یې پاتې نه شي او پدې سره یې پښې زخمې شوې. په هر حال ابوبکر (رضي الله عنه) د غره له لمنې نه د غره په څوکه کې تر واقع غار پورې چې په تاریخ کې د ثور غار په نامه یادیږي رسول(صلی الله علیه و اله وصحبه وسلم) په بیړه، بیړه په خپله شا یوړ.[1]

په غار کې

کله چې غار ته ورسیدل ابوبکر (رضي الله عنه) وویل: یا رسول الله (صلی الله علیه وسلم)! ته به تر هغې پورې غار ته نه ننوزې تر څو زه پکې ننوتلی نه وم او کتلی مې نه وي، ځکه کله هلته څه مضر شی وي، نو لومړی به زه ورسره مخامخ شم. ابوبکر (رضي الله عنه) غار ته ننوت او جارو یې کړ، ټول سوري یې د خپل لنګ په ټوټو پټ کړل، یوازې دوه سوري (سوړې) پاتې شول چې هغه یې هم پخپلو پښو بند کړل پښې یې پکې کیښودلې بیا یې رسول الله(صلی الله علیه و اله وصحبه وسلم) ته وویل: مهرباني وکړه غار ته را ننوزه. رسول الله(صلی الله علیه و اله وصحبه وسلم) غار ته تشریف یوړ او هلته یې د ابوبکر (رضي الله عنه) په غیږ کې سر کیښود او ویده شو. ابوبکر (رضي الله عنه) له یوه سوري نه په پښه څه شي وچیچه، او ددې له ویرې چې رسول الله(صلی الله علیه و اله وصحبه وسلم) راویښ نه شي هیڅ ونه خوځید، خو اوښکې یې د رسول الله(صلی الله علیه و اله وصحبه وسلم) پر مبارک مخ را تویې شوې هغه را ویښ شو او ورته ویې فرمایل:څه خبره ده ابوبکره؟ ده ورته وویل: څه شي وچیچلم زما مور او پلار له تا قربان شه! نو رسول الله(صلی الله علیه و اله وصحبه وسلم) په هغه ځای خپلې مبارکې لاړې (زیړې) واچولې او پدې سره د ابوبکر (رضي الله عنه) درد ورک او آرام شو.[2]

دوی دواړه دري شپې یعنی د جمعې، هفتې او یکشنبې شپې په غار کې پټ وو[3].

د ابوبکر زوی عبدالله (رضي الله عنهما) به د شپې له دوی سره ویده کیده. عائشه (رضي الله عنها) وایي: عبدالله (رضي الله عنه) تنکی، پوه او زیرک ځوان ؤ سهار د

---

(1). رحمة للعالمین ۹۵/۱. مختصر سیرة الرسول للشیخ عبدالله النجدي ص ۱۲۷

(2). دا روایت رزین له عمر (رضي الله عنه) نه هم روایت کړی خو په هغه کیګ دا هم شته چیګ ددیګ زهرو اثر د ابوبکر (رضي الله عنه) د مرګ په وخت کیګ بیرته را شګګاره شو او همدا زهر بیګ د مرګګ سبب شول، مشکاة المصابیح باب مناقب ابیګ بکر ۵۵۲/۲

(3). فتح الباري ۳۳۲/۷

وخته به له دوی نه راووت، او داسې وخت به مکې ته رارسيده چې ګومان به کيده شپه يې همدلته تيره کړيده.

او قريشو به چې د رسول الله(صلی الله عليه و اله وصحبه وسلم) په خلاف کومې خبرې کولې، ټولې به يې اوريدلې ځان به يې ورباندې پوهاوه او بيا به د شپې په تياره کې دوی ته ورتله او دا خبرې به يې ورسولې. د ابوبکر (رضي الله عنه) غلام (عامر بن فهيره) به رمه پوولە، او کله به چې شپه پخه شوه، نو رمه به يې د غار خولې ته راوستله، او د غار دواړو ملګرو به شيدې څښلې او ارام به ويده کيدل، او عامر به بيا سهار وختي رمه بيرته بيولە. هغه دا درې واړه شپې همداسې کول[1] او د سهار له خوا به يې رمه په هغه لاره بيولە په کومه به چې عبدالله بن ابوبکر (رضي الله عنهما) تللی وُ تر څو د هغه پلونه رنګ کړي اثر او نښه يې پاتې نه شي.[2]

د قريشو منډې تړې

هلته د توطئې د تطبيق د شپې په سهار قريش له خپلې ناکامۍ او د رسول(صلی الله عليه و اله وصحبه وسلم) له نجات نه باوري شول نژدې وو چې ليونيان شي، لاره ورنه ورک شوه، لومړی خو يې علي (رضي الله عنه) راونيوه ښه يې وواهه، کعبې ته يې يووړ او هلته يې بندي کړ تر څو د رسول الله(صلی الله عليه و اله وصحبه وسلم) په هکله معلومات ورنه واخلي.[3] او کله يې چې له علي (رضي الله عنه) نه څه بود (تر لاسه) نکړل، نو د ابوبکر (رضي الله عنه) کور ته ورغلل دروازه يې ور وټکوله د ابوبکر لور اسماء (رضي الله عنها) راووته، دوی ورته وويل: پلار دې چيرته دی؟ دې ځواب ورکړ، والله که خبره وم چې پلار مې چيرته دی. پدې ځواب سره خبيث ابوجهل داسې کلکه څپيړه ورکړه چې د غوږ لښتی يې ايسته ولويده.[4]

قريشو د يوې عاجلې او فوق العاده غونډې په نتيجه کې فيصله وکړه چې بايد د رسول الله(صلی الله عليه و اله وصحبه وسلم) او ملګري د نيولو لپاره يې ټول وسايل او امکانات په کار واچول شي، نو فوراً يې له مکې نه د باندې وتلې ټولې لارې تر کلکې وسله والې څارنې لاندې ونيولې، او اعلان يې وکړ هر چا که هغوی دواړه مړه يا

---

[1]. صحيح البخاري ۱/۵۵۳ . ۵۵۴

[2] ابن هشام ۱/۴۸۲

[3]. رحمة للعالمين ۱/۹۲

[4]. ابن هشام ۱/ ۴۸۷

ژوندي دوی ته راوستل، نو دوی به د هريوه په بدل کې سل اوښان جائزه ورکړي.[1]
ددې لويې جائزې له اعلان نه وروسته ټولو خپلې هڅې ګړندی کړې، پلي او سپاره او پل پيژوندونکي يوې خوا بلې خوا ته خواره شول، غرونه، دښتې، خوړونه او درې يې پلټلې، خو ټول نامراده وو او هيڅ يې په لاس نه ورتلل.
ځنې پلټونکي ان د غار خولې ته ورغلل، خو الله پخپل کار کې غالب او برلاسی دی.
امام بخاري له انس او هغه له ابوبکر (رضي الله عنه) نه روايت کوي وايي: زه له نبي(صلى الله عليه و اله وصحبه وسلم) سره په غار کې وم، کله مې چې سر راپورته کړ که ګورم چې د خلکو پښې راته ښکاريږي، نو رسول الله(صلى الله عليه و اله وصحبه وسلم) ته مې وويل: که د هغوی کوم يو هسې لاندې وګوري نو مونږ به ويني.
ده وفرمايل: **[اسكت يا أبا بكر، اثنان، الله ثالثهما]**، وفي لفظ: **[ما ظنك يا أبا بكر باثنين الله ثالثهما]**. چې يا ابوبکره! مونږ دوه يو دريم مو الله دی، او په بل لفظ کې راځي: ابوبکره! د هغو دوو کسانو په هکله څه ګومان کوې چې دريم يې الله دی.[3]
دا يوه معجزه وه چې الله تعالى خپل رسول پرې مشرف کړ، پلټونکي بيرته نا مراده ورنه وګرځيدل پداسې حال کې چې دده(صلى الله عليه و اله وصحبه وسلم) او هغوی تر مينځ يوازې څو قدمه فاصله وه او بس.

د مدينې په لار

کله چې د لټې او پلټنې هلې ځلې غلی شوې، او قريش له دريو ورځو مسلسلو خو بې نتيجې منډو، ترړو نه وروسته څه نا څه آرام شول. نو رسول الله(صلى الله عليه و اله وصحبه وسلم) او ملګري يې له غار نه د وتو تياري ونيوله.
دوی له مخکې نه له عبدالله بن اريقط الليثي سره چې په صحرايي لارو پيژندنه کې يې خاص مهارت درلود د پيسو په مقابل کې مدينې ته د رسولو خبره کړې وه.

---

[1]. صحيح البخاري ۱/۵۵۴

(3). صحيح البخاري ۱/۵۱۲ – ۵۵۸. د ابوبکر (رض) ويره د خپل ځان پخاطر نه وه، بلکه د ويرې سبب بيګ دا و ځکه چې په يوه روايت کيګ راځي ده چيګ کله هغوی وليدل نو د رسول الله (ص) په هکله أير غمجن شو او ويی ويل: که زه ووژل شم نو يو سؤي يم پروا ميګ نشته، خو که ته ووژل شی يا رسول الله !نو تګول امت هلاك شو، پديګ وخت کيګ رسول الله (ص) ورته وويل:مه خفه کياه الله زمونږ سره دی، مختصر سيرة الرسول (صلى الله عليه وسلم) ۱۲۸.

نومړی هغه وخت لا مشرک وٴ، خو دوی ته د اعتماد وړ وٴ خپلې اوښې يې ورته سپارلې وې او دا وعده يې ورسره کړې وه چې دري ورځې وروسته به د غار خولې ته راځي. همدا وه چې عبدالله بن اريقط د دوشنبې په شپه د هجرت د لومړي کال د ربيع الاول په لومړۍ نيټه چې د (۶۲۲م) کال د سپتمبر له (۱۶) مې سره سمون خوري اوښې د غار خولې ته راوستې. ابوبکر (رضي الله عنه) رسول الله(صلى الله عليه و اله وصحبه وسلم) ته وويل: پلار مې له تا قربان شه يا رسول الله! له دې دوو اوښو نه يوه د تا، او هغه بهتره اوښه يې ور وړاندې کړه. رسول الله(صلى الله عليه و اله وصحبه وسلم) ورته وويل سيي ده خو په بيه.

پدې وخت کې اسماء بنت ابې بکر (رضي الله عنهما) ورته د لارې توښه راوړه، خو ددې د تړلو لپاره يې څه نه وٴ ورسره راوړي، او کله چې دوی د سفر اراده وکړه اسماء (رضي الله عنها) څه پيدا نکړل چې هغه توښه پکې وتړي، نو فوراً يې د خپلې ملا کمربند دوه ځايه کړ، په يوه ټوټه يې خوراک وتاړه او بله يې تر ملا کړه او په دې سره ذات النطاقين وبلله شوه.[1]

بيا رسول الله(صلى الله عليه و اله وصحبه وسلم) او ابوبکر (رضي الله عنه) روان شول، عامر بن فهيره هم ورسره وٴ او لارې پيژندونکي عبدالله بن اريقط د بحر د غاړې (ساحل) لاره غوره کړه او همداسې مخکې لاړل.کله چې له غار نه ووتل لومړی د جنوب پلو ته د يمن په لور لاړل، بيا د بحر د غاړې په خوا د غرب (لويديز) لورې ته راوګرځيدل او مخکې لاړل تر څو داسې لارې ته ورسيدل چې عام خلک به نه وربانديې تلل، بيا د شمال لورې ته وګرځيدل او د سرې بحيرې غاړې ته نژدې په داسې لار روان شول چې له کوم يوه سړي پرته بل هيڅوک هم نه وربانديې تلل.

ابن اسحاق د هغو ځايونو نومونه ذکر کړيدي له کومو نه چې رسول الله(صلى الله عليه و اله وصحبه وسلم) په دې سفر کې تير شويدی. هغه وايي: لارې پيژندونکي لومړی هغوی د مکې په لاندينۍ برخه کې بوتلل، بيا د ساحل په لاره روان شول او د عسفان په لاندينۍ برخه کې يې لاره غوڅه کړه، بيا د امج په لاندينۍ برخه کې روان وو او کله چې له قديد نه تير شول،نو بيا يې لاره غوڅه کړه، همداسې مخکې د خرار په لاره لاړل بيا په ثنيه المره او ورپسې په لقفا او بيا د لقف له بيابان نه تير شول، ورپسې يې د مجاح بيابان (دښته) ونيوه، بيا د مجاح له ګرزندي (مور) نه پورې وتل او د ذي الغضوين ګرزندی يې ونيو په ذي کشر ورننوتل او داسې په جداجد بيا په اجرد،

---

[1]. صحيح بخاري ۵۵۳/۱ – ۵۵۵. ابن هشام ۴۸۲/۱

ذاسلم او د اعداء له لارې د تعهن په دښته او مخکې په عبابيد او داسې په فاجه بالاخره په عرج راکوز شول، بيا د رکوبه په ښی خوا کې له ثنيه العائر نه تير شول، او د رئم په وادی کې راکوز شول او مخکې د قبا[1] په لور لاړل.

اوس راځئ د لارې په دوران کې واقع شوې ځنې پيښې تر نظر تيرې کړو:

۱- بخاري روايت کوي چې ابوبکر الصديق (رضي الله عنه) وايي: کله چې د شپې (له غاره ووتلو) نو دا ټوله شپه او سبا ورځ تر غرمې مو مزل وکړ، دغه وخت لاره بالکل خالي وه هيڅ لاروی هم نه ليدل کيده، که ګورو چې يوه لويه پرښه ده او په سيوره يې تر اوسه لا لمر نه ؤ راغلی، مونږ همدلته واړول. ما پخپل لاس رسول الله(صلی الله عليه و اله وصحبه وسلم) ته ځای برابر کړ، او يو پوستين مې ورباندې اوار کړ او ورته ومې ويل: دلته ويده شه يا رسول الله (ص)! زه به د شا او خوا څارنه او مراقبت کوم. رسول الله(صلی الله عليه و اله وصحبه وسلم) ويده شو او ما څارنه کوله، پدې وخت کې مې يو شپون وليد چې رمه يې د پـــرښې په خوا را روانه کړيده، غواړي زمونږ په شان دلته واړوي، ما ورته وويل: ته د چا يې؟ هغه د مکې يا د مدينې د کوم سړي نوم واخيست. ورته ومې ويل: ميږې دې شيدې لري؟ ده وويل: هو. ورته و مې ويل : آيا لـوشې يې؟ و يې ويل: هو، يوه ميږه يې راونيوه تر څو ويې لوشي. ما ورته وويل: دا تی يې له خاورو، وينټتانو او نورو شيانو نه پاک کړه، بيا يې په يوه لوښي کې شيدې راولـوشلې. له ما سره يوه چرمې بدنی وه چې رسول الله(صلی الله عليه و اله وصحبه وسلم) به اوبه ورنه څښلې او اودس به يې ورباندې کاوه. بيا رسول الله(صلی الله عليه و اله وصحبه وسلم) ته راغلم، خو مناسبه مې ونه ليده چې راوښې يې کړم، هملته ورته ولاړم تر څو راويښ شو، نو فورا مې په شيدو لړ اوبه وارواچولې تر څو لاندينی برخه يې يخه شوه او ورته ومې ويل: مهرباني وکړه شيدې وڅښه يا رسول الله (صلی الله عليه وسلم)! رسول الله(صلی الله عليه و اله وصحبه وسلم) دومره شيدې وڅښلې چې زه ډير پرې خوښ شوم، بيا يې وفرمايل: د حرکت وخت ندی؟ ما ځواب ورکړ: هو د تګ وخت دی، بيا روان شوو.[2]

۲- پدې سفر کې د ابوبکر (رضي الله عنه) عادت دا ؤ چې په رسول الله(صلی الله عليه و اله وصحبه وسلم) پسې به وروسته په اوښه سپور ؤ. او څرنګه چې له عمره

---

(1). ابن هشام ۱/۴۹۱ - ۴۹۲

(2). صحيح بګخاري ۱/۵۱۰

پوخ ښکاريده نو د خلکو توجه به هم همده ته وه، او د رسول الله(صلی الله علیه و اله وصحبه وسلم) په څيره کې د ځوانۍ نښې ډيرې وې، نو د خلکو زياته توجه به نه وه ورته. او همدا وجه وه چې کله به له چاسره مخامخ شول نو لومړی به يې له ابوبکر (رضي الله عنه) نه پوښتنه کوله چې دا سړی څوک دی؟ ابوبکر (رضي الله عنه) به يې په ځواب کې ويل: دا زما لارښود دی، اوريدونکي به داسې ګومان کاوه چې دا لار ښيي په کومه چې روان دي، خو دده مراد به هغه د خير او دين لاره وه.[1]

۳- سراقه بن مالک چې د هغوی په لټه پسې وتلی وۀ وايي: زه د خپل قوم بني مدلج له خلکو سره ناست وم چې له دوی نه يو سړی راغی راته ودريده او ويې ويل: اې سراقه! ما همدا اوس له ساحل سره څو کسان وليدل، فکر کوم چې هغه محمد(صلی الله علیه و اله وصحبه وسلم) او ملګري يې دي. سراقه وايي: زه پوه شوم چې دا کسان همدوی دي، خو ده ته مې وويل: دا هغوی نه شي کيدلای، او دا تا چې څوک ليدلي هغه فلانی او فلانی دي چې زمونږ له مخې تير شول، بيا څه وخت همدلته مجلس کې پاتې شوم، وروسته پاڅيدم او کور ته لاړم. خپلې وينځې ته مې امر وکړ، چې آس وباسي او هلته د غونډۍ شا کې راته انتظار وکاږي. ما خپله نيزه راواخيسته او د کور له وروستنۍ دروازی نه پداسې حال کې ووتلم چې د نيزې څوکه مې په ځمکه لګوله او پورتنۍ خوا مې يې هم کښته نيولې وه، آس ته ورغلم ورباندې سپور شوم او پوه شوم چې هغه مې د معمول په شان په منډو منډو مخکې وړي ان تر دې چې دوی ته ورلنډ شوم، دلته مې آس بودري وکړه او زه ورنه راپريوتم، بيا راپورته شوم توبرې ته مې لاس کړ او د فال غشي مې ورنه راوايستل، فال مې ورباندې واچوه چې آيا دوی ته زيان ور ورسوم او که نه؟ نو هغه غشي راووت چې زما خوښ نه وۀ، خو ددې غشي پروا مې ونکړه، په آس سپور شوم او په چټکۍ سره يې دوی ته دومره ورلنډ کړم چې د رسول الله(صلی الله علیه و اله وصحبه وسلم) د قرائت آواز مې واورېد. هغه خپل قرائت کاوه هيڅ بل طرف ته يې التفات نه کاوه، خو ابوبکر (رضي الله عنه) ډير يوې خوا بدلې خواته کتل، پدې وخت کې زما د آس پښې ان ترګونډو په ځمکه کې خښې شوې زه هم ورنه ولويدم، بيا مې آس وواهه او هغه په ډير مشکل سره خپلې پښې راوايستلې کله چې نيغ ودرېد، نو د پښو له نښانو نه يې د دود په شان ګرد پورته شو، دلته مې بيا په غشو فال واچوه، بيا هغه غشی راووت چې زما نه وۀ خوښ، نو د امان غږ مې ورباندې وکړ.

---

[1]. صحيح بخاري له انس (رضي الله عنه نه ۱/ ۵۵۲

هغوی راته ودریدل، ما په آس پښه وروارولـه او ورغلـم او هغـه وخت چې زه لـه دوی نه منع کړی شوی وم، نو دا خبره مې په زړه کې پخه شوې وه چې رسول الله(صلی الله علیه و اله وصحبه وسلم) به غالب او امر به یې برلاسی کیږي، ورته ومې وویـل: ستا قوم ستا په سر جایزه ټاکلې ده، او لدینه مې هم خبر کړ چې خلـک دده پـه هکلـه څـه نیـت او اراده لـري، او خپـل زاد او توښـه مـې ور وړانـدې کـړه، خـو هغـوی څـه ورنـه وانخستـل نـه یې تکلیـف راکـړ او نـه یې د څه سوال رانـه وکـړ، یـوازې دومـره یـې راتـه وویـل: چې حال پټ ساته. ما ورته وویـل: د امن خط راتـه ولیکـه، نـو عـامر بـن فهیـره تـه یـې د خـط لیکلـو امـر وکـړ، هغـه د پوسـتکي پـه یـوه ټوټـه خـط ولیکـه، بیـا رسـول الله(صلی الله علیه و اله وصحبه وسلم) مخ په وړاندې لاړ.(۱)

پدې هکله له ابوبکر (رضي الله عنه) نه هم یـو روایـت را نقـل شـویدی هغـه وایـي: مونـږ روان شوو، او خلک زمونږ په لټه کې وو، خو لـه سـراقه پرتـه هیچـا هـم و نـه مونـدو، او کله چې د سراقه آس را لنډ شو ما وویـل: یا رسول الله! دا دی دا پلټونکی راورسـیده ده وفرمایـل: (**لا تحزن ان الله معنا**)(۲)

سراقه بیرته مکې ته ستون شو او خلـک لا پـه تـپ او تـلاش کـې وو، ده ورتـه وویـل: مـا مکمل او پوره احوال درته راوړی، نور دلته ستاسې هلې ځلې بې ګټې دي، پـدې خـوا کې چې څه لازم ؤ هغه وشول. (او پدې سره یې خلک راستانه کړل، نوموړی د ورځې په پیل کې د هغوی په لټه پسې وتلی ؤ،خو د همدې ورځې په پای کې د هغوی نګهبـان او ساتونکی ګرزیدلی ؤ.(۳).

۴- پدې سفر کې یې د خزاعیـه کورنـۍ د ام معبـد نـومې ښځې پـه دوو خیمـو هـم ګـذر وشو. نوموړې مشهوره او تکړه ښځه وه، زیـاتره بـه څرخ پـه لاس د خیمې پـه خولـه کـې ناسته وه، او چې څوک به ورتلل نو د خوراک او څښاک بند وبست به یې ورته کاوه. رسول الله(صلی الله علیـه و الـه وصحبه وسلم) او ملګري یـې د څه شـي غوښتنـه ورنـه وکړه، دې ورته وویـل: قسم په خدای که مو څه درلودلی نو ستاسې پـه میزبانـۍ کـې بـه مو کوتاهي نه وای کړې، زمونږ میړې هم ډیرې لیرې دي. دغه کال هم ډیر وچ ؤ.

---

(1). نفس المصدر ۵۵۴/۱. د بني مدلج مبنه رابغ ته نژدې وه، سراقه هغه وخت ورپسې ووت چې دوی له قدید نه بر ختلي وو. په غالب ګومان سره سراقه د دوی د سفر په دریمه ورځ ورپسې وتلی و.

(2). صحیح البخاري ۵۱۲/۱

(3). زاد المعاد ۵۳/۲

رسول الله(صلى الله عليه و اله وصحبه وسلم) وکتل او د خيمې په کنج يې يوه ميږه وليده، نو يې وفرمايل: **[ما هذه الشاة يا أم معبد؟]**دا څه ډول ميږه ده؟ اې ام معبد! دې وويل: دا د ډيرې کمزورۍ له امله له رمې پاتې شويده. هغه (صلى الله عليه و اله وصحبه وسلم) وفرمايل: **[هل بها من لبن؟]**شيدې کوي؟ دې وويل: دا له پښو لويدلې او شيدې؟! ده ورته وفرمايل: **[أتأذنين لی أن أحلبها؟]** اجازه راکوې چې ويې لوشم؟ دې وويل: مور او پلار مې له تا قربان، که لازم وينې نو ويې لوشه!

نو رسول الله(صلى الله عليه و اله وصحبه وسلم) پخپل مبارک لاس د هغې غولانځه مسحه کړه، بسم الله يې وکړه او دعا يې ولوسټله، يو ځل يې غولانځه ډکه شوه، او پښې يې سره ليرې کړې، نو رسول الله(صلى الله عليه و اله وصحبه وسلم) د ام معبد هغه لوی لوښی وغوښت کوم چې د يوه ټولګي لپاره بس وۀ، ميږه يې پکې ولوشله تر څو په مورګو يې ځګ ودريد ، بيا يې ام معبد ته شيدې وروڅښلې تر څو ښه مړه شوه، بيايې خپل ملګري ماړه کړل په پای کې يې پخپله وڅښلې، او ورپسې يې ميږه بيا ولوشله تر څو لوښی ښه ډک شو او له دې سره يې پريښود او دوی وخوځيدل.

لږ ساعت وروسته ابو معيد له خپلو کمزوريو، سستو او ډنګرو وزو سره راورسيد ، او کله يې چې شيدې وليدلې، حيران شو، خپلې ښځې ته يې وويل: دا شيدې له کومه شوې؟ رمه خو ليرې ده، او په کور کې هم شيدې ورکوونکې ميږه نشته. دې ورته وويل: قسم په خدای همدا اوس يو ډير مبارک سړی رانه رخصت شو، چې دا او داسې خبرې يې وې، او حال يې داسې او داسې وۀ. ده وويل: هو فکر کوم دا هغه څوک دی چې قريش يې لټوي، نو اې ام معبد راته معرفي يې کړه او نښې يې راته ووايه! دې هم پخپله بليغه ژبه د هغه عظيم صفات داسې ورته بيان کړل که ته به وايې همدا اوس يې په مخ کې ولاړ دی، د کتاب په پای کې به دا بيان رانقلوو. ابو معيد وويل: قسم په خدای چې دا د قريشو هماغه ملګری دی د کوم په هکله چې دوی مختلفې خبرې کوي، زه د هغه د ملګرتيا اراده لرم، او د امکان په صورت کې به حتماً دا کار سرته رسوم.

له بلې خوا هلته مکه کې يو داسې آواز پورته شو چې ټول خلک يې اوري، خو ويونکی يې نه ښکاري دا آواز داسې وۀ:

جزى الله رب العرش خير جزائه	رفقين حـــلا خيمـــتي ام معبد
هـــما نـــزلا بالبر و ارتحـــلا به	و افلـــح من امسى رفيق محمد

فيـــا لقصـــي ما زوى الله عنكم به من فعال لا يجازى و سؤدد
ليهـــن بني كعـــب مـــكان فتاتهم و مقعـــدها للمـــؤمنين بمرصد
سلـــوا اختـــكم عن شاتها و انائها فانكم ان تســـالوا الشاة تشهد

[ترجمه: د عرش مالک الله دې دوو هغو ملګريو ته بهترينه جزا او بدله ورکړي کوم چې د ام معبد خيمې ته راغلي وو، دوی دواړه هلته په خير او نيکۍ راغلي وو او بيرته په خير او نيکۍ سره ولاړل، او بريالي دي هغه څوک چې د محمد(صلى الله عليه و اله وصحبه وسلم) ملګرتيا کوي، اې قصي! الله تعالى له هغه سره څومره بې مثاله کارنامې او سرداری له تاسې نه يووړه (او يا: مبارکې دې وي تا قصي ته چې الله (جل جلاله) د محمد(صلى الله عليه و اله وصحبه وسلم) په واسطه له تاسې نه يې ساري سرداري وانه خستله). بنو کعب ته دې د دوی د سياه سرې کور او د مؤمنانو د نګهداشت ځای مبارک وی، تاسې له خپلې خور نه ددې د ميړې او لوبنې په هکله پوښتنه وکړئ، که تاسې له هغه ميړې نه هم وپوښتئ نو هغه به هم شاهدي ووايي.]

اسماء (رضي الله عنها) وايي: مونږ نه و خبر چې رسول الله(صلى الله عليه و اله وصحبه وسلم) کومې خوا ته تللی، تر څو د مکې له لاندينۍ برخی نه يو جن (پيری) راغی او دا پورتنی ابيات يې وويل، خلک ورپسې ورغلل او ورپسې ورتلل آواز يې اوريده خو هغه يې ليده نه، تر څو هغه د مکې له پورتنۍ برخې نه ووت. اسماء (رضي الله عنها) وايي: کله مو چې دا خبرې واوريدلې نو پوه شوو چې رسول الله(صلى الله عليه و اله وصحبه وسلم) د مدينې لوری ته تللی دی.(1)

۵- رسول الله(صلى الله عليه و اله وصحبه وسلم) د لارې په اوږدو کې له بريده بن حصيب اسلمي سره هم مخامخ شوی وٴ. نوموړی د خپل قوم مشر وٴ او د قريشو له طرفه د اعلان شوې لويې جايزې ګټلو په طمعه د رسول الله(صلى الله عليه و اله وصحبه وسلم) او ابوبکر (رضي الله عنه) په لټه پسې وتلی وٴ، خو کله چې له رسول الله(صلى الله عليه و اله وصحبه وسلم) سره مخ شو او د هغه مبارکې خبرې يې واوريدې، نو په همغه ځای د خپل قوم له اويا کسانو سره يو ځای په اسلام مشرف شو، بيايې خپله پګړۍ را خلاصه کړه او د بيرغ په څير يې د نيزې په څوکه کې تينګه کړه، پدې سره يې دا اعلانول غوښتل چې دا دی د امن او سلامتيا پاچا را روان دی تر څو دا دنيا په

(1). زاد المعاد ۵۳/۲ - ۵۴

عدل او انصاف سره ودانه کړي.[۲]

وعن عبد الله بن بريدة أن النبي صلى الله عليه وسلم كان يتفاءل ولا يتطير، فركب بريدة في سبعين راكبًا من أهل بيته من بني سهم، فلقي النبي صلى الله عليه وسلم، فقال له: [ممن أنت؟] قال: من أسلم، فقال: لأبي بكر: سلمنا، ثم قال: [مِنْ بني مَنْ؟] قال: من بني سهم. قال: [خرج سهمك].

له عبد الله بن بريده نه روايت دی چې رسول (صلی الله علیه وسلم) به بد شګونی نه کوله هر څه یې په نیک فال نیول، د خپل قوم بني سهم له اویا سپرو کسانو سره ووت، کله چې له رسول (صلی الله علیه وسلم) سره مخ شو، پوښتنه یې تری وکړه: له کوم قوم نه یې؟ ده وویل: له اسلم نه. رسول (صلی الله علیه وسلم) وفرمایل: په امن شوو. بیا یې وفرمایل: له کومې کورنۍ نه. ده وویل: له بني سهم نه. رسول (صلی الله علیه وسلم) وفرمایل: برخه دې ووته.

۶- د هجرت په لاره زبیر (رضي الله عنه) هم د رسول الله(صلی الله علیه و اله وصحبه وسلم) په ملاقات مشرف شو، زبیر (رضي الله عنه) چې له یوې ألې مسلمانو تاجرانو سره له شام نه راګرزیدلی وۀ، رسول الله(صلی الله علیه و اله وصحبه وسلم) او ابوبکر (رضي الله عنه) ته یو یو جوړ سپینې جامې هدیه کړې.[۱]

قبا ته د رسول الله(ﷺ) تشریف راوړل

د دوشنبې په ورځ د نبوت د څوارلسم او د هجرت لومړني کال د ربیع الاول په اتمه چې د (۶۲۲م) کال د سپتمبر له (۲۳) مې سره سمون خوري رسول الله(صلی الله علیه و اله وصحبه وسلم) قبا ته ورسید.[۲]

عروه بن الزبیر وایي: په مدینه کې مسلمانانو له مکې نه د رسول الله(صلی الله علیه و اله وصحبه وسلم) د روانیدو خبر اوریدلی وۀ، نو هر سهار وختي به د حره (ډاګ) په خوا

---

(2). رحمة للعالمين ۱۰۱/۱

[۱]. دا له عروة بن الزبير نه د امام بخاري روايت دی ۵۵۴/۱

[۲]. رحمی. للعالمين ۱۰۲/۱. پدې ورځ د رسول الله (ص) عمر پوره ۵۳ کاله وۀ او که د نبوت پیل دعام الفیل د (۴۱) کال د ربیع الاول له ۹ نه ومنو، نو پدې ورځ د نبوت پوره دیارلس کاله تیر شوي وۀ او که د هغوکسانو رایه ومنو چې وایي رسول الله (ص) د عام الفیل په (۴۱) کال د رمضان په میاشت کې په نبوت مشرف شوی وۀ، نو پدې ورځ (قباء ته رسیدو په ورځ) د نبوت (۱۲) کاله پنځه میاشتې (۱۸) یا (۲۲) ورځې تیرې شوې وې.

راوتل او هلته به يې تر ټکنده غرمې پورې د رسول الله(صلى الله عليه و اله وصحبه وسلم) انتظار يوست. يوه ورځ هغوی له ډير انتظار وروسته بيرته کورونو ته ستانه شول، پدې وخت کې يو يهودی د کوم شي د کتلو لپاره خپل برج ته ختلی وۀ که ګوري چې رسول الله(صلى الله عليه و اله وصحبه وسلم) او ملګري يې په سپينو جاموکې چې د سپوږمۍ په شان رڼا کوي را روان دي، نو يو ځل يې له خولې نه په لوړ آواز داسې الفاظ ووتل: اې عربو! دا دی ستاسې هغه پلار چې تاسې يې په انتظار کې وئ! ددې آواز په اوريدو سره مسلمانان ټول راپورته شول خپلې وسلې يې و اخيستې او د خپل رهبر استقبال ته ور روان شول.[1]

ابن قيم وايي: په همدې وخت کې په بني عمرو بن عوف (د قبا اوسيدونکي وو) کې هم د تکبير آوازونه اوچت شول. مسلمانانو له ډيرې خوشالۍ نه په لوړ آواز تکبيرونه ويل او دده مبارک استقبال ته ور روان وو، تر څو حضور ته ورسيدل او د نبوت په تحيه (سلام) سره يې دده استقبال وکړ او لکه د بوراګانو په شان له خپل لارښود نه راتاو وو، او رسول الله(صلى الله عليه و اله وصحبه وسلم) د وقار او عظمت د لوی غر په شان د دوی په مينځ کې تشريف درلود او د الله تعالى له خوا نه دا آيت ورباندې نازل شو[2]:

((...فَإِنَّ اللَّهَ هُوَ مَوْلاهُ وَجِبْرِيلُ وَصَالِحُ الْمُؤْمِنِينَ وَالْمَلائِكَةُ بَعْدَ ذَلِكَ ظَهِيرٌ)) (التحريم-٤) [نو بيشکه الله همغه مدد ګار دی د هغه (نبي) او جبريل او صالح د مومنانو (يې هم مدد ګاران دي) او ملائکې (يې هم) وروسته له دغه (مددګاری نه) مددګارانې دي.]

عروه بن الزبير وايي: له خلکو سره له ليدو کتو وروسته رسول الله(صلى الله عليه و اله وصحبه وسلم) له خلکو سره يو ځای بنې طرف ته لاړ او د بني عمرو بن عوف په مېنه کې يې واړول. دا د ربيع الاول مياشت او د دوشنبې ورځ وه.

دلته ابوبکر (رضي الله عنه) د خلکو د هرکلي لپاره ودريد او رسول الله(صلى الله عليه و اله وصحبه وسلم) چوپ ناست وۀ او هغه انصار (رضي الله عنهم) چې رسول الله(صلى الله عليه و اله وصحبه وسلم) يې مخکې نه وۀ ليدلی هغوی به د سلام او بنه راغلاست پخاطر مستقيما ابوبکر (رضي الله عنه) ته ورتلل، تر څو په رسول الله(صلى الله عليه و اله وصحبه وسلم) لمر راغی، نو ابوبکر (رضي الله عنه) خپل څادر

---

[1]. صحيح البخاري ۵۵۵/۱

[2]. زاد المعاد ۵۴/۲

و اخيست او په رسول (صلی الله علیه وسلم) يې سيوره جوړه کړه، پس لدينه خلکو رسول الله(صلی الله علیه و اله وصحبه وسلم) وپيژانده.[1]

مدينه د استقبال او هرکلي پخاطر ټوله شور او زوږ اخيستې وه، او داسې يوه ورځ وه چې د مدينې په تاريخ يې ساری نه موندل کيږي. پدې ورځ يهودانو هم د نبي حبقوق (علیه السلام) د هغه زيري رينبتينوالی په سترګو ليده چې ويل به يې: الله د جنوب تيمان له لوري او هغه چې قدوس دی د فاران د غرونو له خوا راغلی.[2]

رسول الله(صلی الله علیه و اله وصحبه وسلم) په قبا کې د کلثوم بن هدم او په بل روايت د سعد بن خيثمه په کور کې واړول، خو لومړنی قول راجح دی.

علي (رضي الله عنه) دري ورځې نور په مکه کې پاتې شو، تر څو يې له رسول الله (صلی الله علیه و اله وصحبه وسلم) سره د خلکو ايښودل شوي امانتونه يې ټول خپلو خاوندانو ته تسليم کړل. بيا يې په پليو پښو د هجرت لار ونيوه، له مکې مکرمې نه د مدينې منورې په لور وخوځيد تر څو په قبا کې رسول الله(صلی الله علیه و اله وصحبه وسلم) او ابوبکر (رضي الله عنه) سره د کلثوم بن الهدم په کور کې يو ځای شو.[3]

رسول الله (صلی الله علیه و اله وصحبه وسلم) په قبا کې څلور ورځې (دوشنبه، سه شنبه، چارشنبه، پنجشنبه)[4] تيرې کړې او دلته يې د قباء جومات جوړ کړ او لمونځ يې پکې ادا کړ. دا دده له نبوت نه وروسته لومړنی جومات دی چې تهداب يې په تقوی سره ايښودل شويدی، تر څو په پنځمه يعنی د جمعې په ورځ د الله تعالی د امر مطابق په خپله سپرلی چې ابوبکر يې ردیف (ملګری) وٴ سپور شو، خپلو ماما خپلو (بني نجار) ته يې اطلاع ورکړه، هغوی له تورو سره ورته راغلل او بيا د مدينې په لور ورسره روان شول. او کله چې بني سالم بن عوف ته ورسيدل، نو د جمعې د لمانځه وخت شو، رسول الله(صلی الله علیه و اله وصحبه وسلم) د بطن وادي په هغه ځای کې د

---

(1). صحيح البخاري ۵۵۵/۱

(2). صحيفې حبقوق بابيل (۳: ۳)

(3). زاد المعاد ۵۴/۲. ابن هشام ۴۹۳/۱. رحمت للعالمين ۱۰۲/۱

(4). دا د ابن اسحاق روايت دی. ابن هشام ۴۹۴/۱وګوره، علامه منصور پوري هم همداروايت غوره ګڼلی دی . رحمی للعالمين ۱۰۲/۱ وګوره، په بخاري کې راځي چې رسول الله (ص) په قبا کې (۲۴) ورځې تم شوی وٴ (۱-۶۱) په بل روايت له لسو ورځو نه څو شپې زياته موده (۵۵۵/۱) او په دريم روايت (۱۴) ورځې پاتې شوی وٴ، اين قيم دا (۱۴) ورځې غوره ګڼی او پخپله وايي چې رسول الله (ص) په دوشنبه قباته رسيدلی او د جمعی په ورځ ورنه روان شويدی. (زاد المعاد ۵۴/۲-۵۵) او ښکاره ده چې د دوشنبې او جمعی تر مينځ له لسو ورځو زياتی نه وی بيله دې چې د وتو او رسيدو دوی ورځې ورسره حساب کړو او پدې سره هم له (۱۲) ورځو نه شی زياتيدای البته په دوو هفتو کې.

جمعې لمونځ ادا کړ چيرته چې اوس يو جومات ورباندې جوړ شويدی، او ددې لمونځ کوونکو شميره سلو تنو ته رسيده[1].

رسول الله(ﷺ) په مدينه کې

د جمعې له لمانځه وروسته رسول الله(صلى الله عليه و اله وصحبه وسلم) مدينې ته تشريف يوړ، او له همدې ورځې نه د يثرب نوم مدينه الرسول شو، او اوس د اختصار په توګه مدينه ورته ويل کيږي. دا يوه تاريخي او بې ساري ورځ وه، د مدينې ټولې لارې او کوڅې د تکبير، تحميد او تقديس نارو په سر اخيستې وې.

او د انصارو لونو له ډيرې خوشالۍ نه دا ابيات ويل:

طلع البـــدر علينا	من ثنيات الوداع
وجب الشكر علينا	مـــا دعا لله داع
ايهـــا المبعوث فينا	جئت بالامر المطاع

[ترجمه: د جنوبي لوري له غرو (ثنيات وداع) نه په مونږ باندې د څوارلسمې سپوږمۍ راوختله. په مونږ تر هغې د الله شکر واجب دی، تر څو بلونکی د خدای لورته بلنه کوي. اې مونږ ته راليږلی شويه! دا ستا د حکم اطاعت فرض دی.][2]

انصار (رضي الله عنهم) که څه هم د زياتې سرمايې خاوندان نه وو، خو هر يوه يې دا هيله او آرزو درلوده چې رسول الله(صلى الله عليه و اله وصحبه وسلم) يې ميلمه شي، او دده په کورکې واړوي، نو په هر يوه کور به چې تيريده د کور مالک به يې د اوښې واګې نيولې او ورته ويل به يې: تشريف راوړئ دلته زيات تعداد ډير ساز او سامان،

---

[1]. صحيح البخاري ۵۵/۱_۵۶۰. زاد المعاد ۵۵/۲. ابن هشام ۴۹۴/۱. رحمۍ للعالمين ۱۰۲/۱.

[2]. ابن قيم ليکي چې دا اشعار له تبوک نه د رسول الله (ص) د راستنيدو په وخت کې ويل شويدی او وايي څوک چې ګمان کوي دا اشعار مدينې ته د رسول الله (ص) د داخليدو په وخت کې ويل شوي هسې بې اساسه خبره کوي (زاد المعاد ۱۰/۱/۳ خو ابن قيم پدې هکله څه قوي دليل ندی وړاندې کړی. او دده په خلاف منصور پوري دا خبره ثابته او راجحه بولي چې وايي دا اشعار مدينې ته د داخليدو په وخت کې ويل شويدي او له ده سره د خپلې خبرې د اثبات لپاره کافي او معقول دلايل هم موجود دي چې ردول يې ممکن ندي . رحمۍ للعالمين ۱۰۶/۱ وګوره.

وسله او حفاظت ستاسې په خدمت کې دي. رسول الله(صلى الله عليه و اله وصحبه وسلم) به ورته فرمايل: **[خلوا سبيلها فإنها مأمورة]**اوښه پريږدئ دا ماموره شويده! او ښه روانه وه تر څو د مسجد نبوي ځای ته ورسيده او هلته چو شوه، خو رسول الله(صلى الله عليه و اله وصحبه وسلم) ورنه کوز نه شو، اوښه پاڅيده لږ وړاندې لاړه، بيايې يوې خوا بلې خواته وکتل بيرته راوګرځيده او پخپل لومړني ځای چو شوه. رسول الله(صلى الله عليه و اله وصحبه وسلم) ورنه کوز شو. دا د رسول الله(صلى الله عليه و اله وصحبه وسلم) د ماما خيلو بني النجار ځای وۀ، او دا د الله له لوري اوښې ته توفيق وۀ ځکه ده غوښتل چې د خپلو ماما خيلو د عزت او احترام پخاطر له دوی سره واړوي، پدې وخت کې خلکو رسول الله(صلى الله عليه و اله وصحبه وسلم) ته له دوی سره د تلو پيشنهادونه کول، خو ابو ايوب الانصاري (رضي الله عنه) وار ړومبی کړ او د رسول الله(صلى الله عليه و اله وصحبه وسلم) بار او کجاوه يې خپل کورته يووړه، نو رسول الله(صلى الله عليه و اله وصحبه وسلم) وفرمايل: **[المرء مع رحله]**. مسافر له خپل بار او کجاوې سره وي. او اسعد بن زراره راغی او د اوښې پړی يې ونيوه او له ځان سره يې بوتلله او له همده سره وه.[1]

امام بخاري له انس نه روايت کوي وايي: رسول الله(صلى الله عليه و اله وصحبه وسلم) وفرمايل: **[أي بيوت أهلنا أقرب؟]** . زمونږ د خلکو نه دکوم يوه سړي کور ډير نژدې دی؟ ابو ايوب ورته وويل: **فقال أبو أيوب: أنا يا رسول الله ، هذه داری، وهذا بأبي،** زما کور ډير نژدې دی يا رسول الله ! دا مې کور او دا يې دروازه ده. نو رسول الله (صلى الله عليه و اله وصحبه وسلم) ورته وفرمايل: **قال: [فانطلق فهيئ لنا مقيلًا]** درځه، او زمونږ لپاره د قيلولی (د غرمې په وخت د خوب) ځای برابر کړه. هغه عرض وکړ: **قال: قوما على بركة الله** تاسې دواړه مهرباني وکړئ د الله په برکت سره[2].

څو ورځې وروسته د رسول (صلى الله عليه و اله وصحبه وسلم) بي بي ام المؤمنين سوده او دواړه لونې يې فاطمه او ام کلثوم، او اسامه بن زيد او ام ايمن له عبدالله بن ابوبکر چې عائشه او د ابوبکر نوره کورنۍ يې را ايستلی وه را ورسيدل (رضي الله

---

[1]. رحمة للعالمين ۱۰۲/۱ زاد المعاد ۵۵/۲

[2]. صحيح البخاري ۵۵۲/۱

عنهم اجمعين) خو حضرت زينب (رضي الله عنها) هملته په مکه کې له ابو العاص سره پاتې شوه ځکه هغه اجازه نه ورکوله، تر څو له بدر وروسته را مهاجره شوه.[۳]
عائشه (رضي الله عنها) وايي: کله چې رسول الله(صلى الله عليه و اله وصحبه وسلم) مدينې ته ورسيد، هلته ابوبکر او بلال (رضي الله عنه) سختې تبې ونيولـه، زه ورغلم او ورته ومې ويل: پلار جانه څنګه يې؟ او بلالـه تـه څنګـه يې؟ دا وايي چې ابوبکر (رضي الله عنه) به د تبې په وخت کې داشعر وايه:

كل امرئ مصبح في اهله و الموت ادنى من شراك نعله

هر چا ته پخپل کور کې سهار په خير (صبح بخير) ويل کيږي، پداسې حال کې چې مرګی يې د څپلۍ لـه تسمې نـه هـم ورلنډ دی. او وايي کله بـه چې د بـلال حالت لږ غوندې ښه شو نو پخپل ښکلي آواز سره به يې داسې ويل:

الا ليت شعري هل ابيتن بواد و حولي اذخر و جليل

وهل اردن يوما مياه مجنة وهل يبدون لي شامة و طفيل

[کاشکي خبر واى چې کومه شپه په وادي (مکه) کې تيرولى شم او شا او خوا مې اذخر او جليل بوټي واى او آيا کومه ورځ بـه مې د مجنى په چينـه ګذر شي، او آيا د شامې او طفيـل غرونـه بـه بيـا ووينم.] عائشـه (رضـي الله عنهـا) وايـي: زه بيـا رسـول الله(صلى الله عليه و اله وصحبه وسلم) ته ورغلم او لدې حال نـه مې خبر کړ. نـو رسـول (صـلى الله عليـه وسلم) د اسې وفرمايـل: **[اللهم العن شيبة بن ربيعة، وعتبة بن ربيعـة، وأمية بن خلف، كما أخرجونا من أرضنا إلى أرض الوباء]**.
خدايـه! پـه شيبـه بـن ربـيعـه او عتبـه بـن ربـيعـه، او اميـه بـن خلـف لـعنـت وکړې، هغوى مونږ لـه خپل وطن نـه د رنځونـو ځمکې تـه راوشړلـو. ثم قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: **[اللهم حبب إلينا المدينة كحبنا مكة أو أشد، وصححها، وبارك في صاعها ومدها، وانقل حماهـا فاجعلـها بالجُحْفَة]**. يا الله ته زمونږ په زړونـو کې د مکې د محبت په شان او يـا لـه هغې نـه هـم زيات د مدينې محبت واچوې، اې خدايـه! تـه د مـدينې فضـا او هـوا صـحيح او صـحت ورکوونکې وګرزوې، او ددې ځای د غلـه جاتو په پيمـانو کې برکت واچـوې، او ددې

---

[۳]. زاد المعاد ۵۵/۲

Comment:

ځای تبه له دې ځایه اوچته کړې او په جحفه کې يې و ګرځوې [1].
الله تعالی د رسول الله (صلی الله علیه و اله وصحبه وسلم) دعا قبوله کړه د مدينې حالات يې بدل کړل. دلته د دعوت مکي دور پای ته ورسید ، او د رسول الله(صلی الله علیه و اله وصحبه وسلم) د ژوند د لومړۍ برخې حالات او واقعات مو هم همدلته تر نظر تیر کړل.

---

۱. صحيح البخاري ۱/۵۸۸ - ۵۸۹

د مدينې ژوند

مدني دور په دريو مختلفو مرحلو ويشلای شو:

۱- لومړۍ مرحله چې مختلف مشکلات او فتنې پکې راولاړې شوې وې، له يوې خوا کورنۍ خنډونه بې شميره وو، له بلې خوا دښمنانو له بهر نه د مدينې د ختمولو کوښښونه کول. دا مرحله د حديبيې په سوله يعنی د شپږم هجري کال د ذي القعدې په مياشت کې پای مومي.

۲- له شرک او بت پرستانو سره د اوربند، او اسلام ته د پاچايانو د راباللو مرحله، چې د مکې په فتحه يعنی د اتم هجري کال د رمضان په مياشت کې پای ته رسيږي.

۳- د الله په دين کې د ډلو ډلو خلکو داخليدلو، او مدينې ته د بيلابيلو اقوامو او قبايلو د راتګ مرحله، او دا د رسول الله(صلی الله علیه و اله وصحبه وسلم) د ژوند تر پايه يعنی د يوولسم هجري کال تر ربيع الاول پورې ادامه مومي.

لومړنۍ مرحله

د هجرت په وخت کې د مدينې حالات

هجرت يوازې له شر، فتنې او ملنډو نه د نجات په معنی نه وۀ، بلکه ددې تر څنګ هجرت په نوي او آرام وطن کې د يوې نوې ټولنې د جوړيدو ګډ کوښښ او پيغام هم وۀ. او همدا وجه وه چې په هر مسلمان باندې دا فرض شول چې د خپل توان په اندازه ددې نوي وطن په جوړيدو کې برخه واخلي، او ددې وطن په ترقۍ، آرامۍ او دفاع کې خپل ټول زور او توان په کار واچوي.

بيشکه چې رسول الله(صلى الله عليه و اله وصحبه وسلم) ددې نوې ټولنې يوازينی امام، مشر، او لارښود و، او د ټولو امورو او کارونو واګې په بشپړه توګه د همده په لاس کې وې.

رسول الله(صلى الله عليه و اله وصحبه وسلم) په مدينه کې له دريو مختلفو او بيلا بيلو داسې قومونو سره مخامخ وۀ چې حالاتو يې يو له بل سره ډير توپير درلود، مسائل او مشکلات يې هم سره بيل او ګوښې وو، دا دری قومونه عبارت وو له:

۱ـ نيک، مکرم او غوره اصحاب (رضي الله عنهم).

۲ـ د مدينې هغه اصلي اوسيدونکي چې لا تر اوسه يې له شرک نه نجات نه وۀ موندلی.

۳ـ يهود.

الف: د اصحابو (رضي الله عنهم) له هغه مسايلو نه چې رسول الله(صلى الله عليه و اله وصحبه وسلم) ورسره مخ وۀ، يوه هم دا مسئله وه چې دلته د مدينې حالات د مکې له حالاتو نه بالکل جدا او بيل وو، ځکه هغوی په مکه کې که څه هم د يوې کلمې او يوه هدف درلودونکي وو، خو په بيلابيلو کورونو کې ويشل شوي، رټل شوي، غم ځپلي او مظلومان وو، د هيڅ شي واک او اختيار يې نه درلود، ټول کارونه د دوی د دښمنانو په لاس کې وو، هغوی هلته ددې وس او توان نه درلود چې د ځانګړيو موادو او اصولو درلودونکې داسې يوه نوې اسلامي ټولنه جوړه کړي چې له همغو اصولو پر ته په نړۍ کې هيڅ يوه انساني ټولنه په پښو نه شي دريدای، او همدا علت دی چې مکي سورتونه يوازې اسلامي اصول او مبادئ په ګوته کوي، داسې

امرونه نه کوي چې هر څوک په ګوښې توګه عمل وربانديې کولی شي، او ورسره د نيکو اخلاقو، خير او نيکۍ لورته بلنه او له رذائلو او بد اخلاقيو نه منع کوي.
خو په مدينه کې وضعه بدله وه، دلته له لومړنۍ ورځې نه مسلمانان د خپل واک او اختيار خاوندان وو، هيڅا وربانديې تسلط او واکمني نه درلوده. نو اوس ددې وخت وۀ چې هغوی نور بايد د ترقۍ، آبادۍ، اقتصاد، سياست، حکومت، سولې، جنګ، او نورو ژوندينو امورو په هکله فکر وکړي، او نور دا په کار وه چې دوی ته حلال، حرام، عبادت ، اخلاق او نور مسايل په مفصله توګه بيان او توضيح کړای شي.
اوس ددې وخت رارسيدلی وۀ چې هغوی يوه بيله ټولنه جوړه کړي، داسې اسلامي ټولنه چې په هر څه کې له جاهلي ټولنې نه مختلفه، او د بشري نړۍ له هرې بلې ټولنې نه اوچته او ځانګړې وي.او د هغه اسلامي دعوت ممثله او نماينده ټولنه وي د کوم په لار کې چې مسلمانانو پوره لس کاله ډول ډول کړاونه او تکليفونه ګاللي وو.
او دا خو څرګنده ده چې ددې ډول يوی ټولنې جوړول د ورځې، ميا شتې او کال خبره نده، بلکه دا اوږد وخت په کار لري تر څو تشريع او قانون جوړول له تربيې، تعليم او عملي تمرين سره خوا په خوا په تدريجي توګه د تکامل پړاو ووهي. الله تعالی پخپله ددې تشريع کفيل وۀ، او د رسول الله(صلی الله عليه و اله وصحبه وسلم) وظيفه ددې قانون تنفيذ او تطبيق او دې لور ته لارښوونه او په همدې قانون سره سم د مسلمانانو روزنه وه: ((هُوَ الَّذِي بَعَثَ فِي الأُمِّيِّينَ رَسُولاً مِنْهُمْ يَتْلُو عَلَيْهِمْ آيَاتِهِ وَيُزَكِّيهِمْ وَيُعَلِّمُهُمْ الْكِتَابَ وَالْحِكْمَةَ)) (الجمعة: ۲) [دغه (الله) هغه ذات دی چې پورته کړی (ليږلی يې دی) په ايمانو ناپوهانو کې يو رسول (محمد (صلی الله عليه وسلم) له دوی څخه چې لولي پر دوی باندې آيتونه ددې (قرآن) او پاکوي دوی (له شرکه له نورو رذيله (اخلاقو) او بنيي دوی ته کتاب (قرآن) او احکام (د قرآن)...]
د اصحابو (رضي الله عنهم) زړونه پخپل رهبر او قانون پورې تړلي وو، د هغه احکام به يې په ډيره خوشالۍ سره پلي کول ((وَإِذَا تُلِيَتْ عَلَيْهِمْ آيَاتُهُ زَادَتْهُمْ إِيمَانًا)) (الانفال: ۲) [او کله چې ولوستی شي پر دوی باندې آيتونه (کلام) د الله نو زياتوي (پياوړی کوي) دغه (آيتونه) دوی لره ايمان.]
او څرنګه چې دا مسائل زمونږ د بحث موضوع نده، نو ځکه يوازې هغو امورو ته اشاره کووچې يادول يې ضروري بولو.

په هر حال دا د مسلمانانو له هغو لويو مسايلو نه يوه مساله ده چې رسول الله(صلی الله علیه و اله وصحبه وسلم) ورسره مخ وٴ، او په حقيقت کې دا په پراخه پيمانه سره د محمدي رسالت او اسلامي دعوت هدف او مقصد هم وٴ. خو دا مساله عاجله نه بلکه مستقله او دايمي مساله وه، هلته داسې نور مسايل هم وو چې عاجل او فوري حل او اقدام ته يې اړه درلوده.

په مدينه کې د مسلمانانو ټولګی له دوه ډوله خلکو نه جوړ شوی وٴ:

يوه ډله انصار وو چې د خپلې ځمکې وطن او مال خاوندان وو، او پدې هکله د دوی فکر او غم د هغه چا د فکر او غم په اندازه وٴ چې له خپل عيال او اولاد سره يو ځای د امن په کور کې شپې او ورځې تيروي، خو دومره وه چې د دوی تر مينځ ډيره زړه او کلکه دښمني موجوده وه. بله ډله هغه مهاجرين وو چې هيڅ يې هم نه درلودل ټول يې له لاسه وتلي وو، يوازې ځانونه يې مدينې ته رارسولي وو او بس، دلته يې نه ځای و نه ځايګی، نه د کار او کسب درک وٴ، او نه يې دومره څه درلودل چې خپل ژوند ورباندې روان کړي. ددې مهاجرينو تعداد هم ډير وٴ، او ورځ په ورځ پسې ډيريده، ځکه دا اعلان شوی و چې هر مسلمان بايد مکه پريږدي او مدينې ته هجرت وکړي. او دا هم په ډاګه ده چې د مدينې اقتصادي بنسټ هم دومره پياوړی نه وٴ چې دا ډول مشکلات وزغملی شي، نو همدا وه چې يو ځل يې اقتصادي حالت مخ په خرابيدو شو، او په همدې سختو شرايطو کې اسلام دښمنه ځواکونو له بهر نه له مدينې سره د اقتصادي پريکون (بنديز) او ديته ورته لار او پاليسي غوره کړه او پدې سره د وارداتو اندازه کمه او مشکلات نور پسې زيات او حالات کړکيچن شول.

ب: دوهم قوم يعنی د مدينې اصلي اوسيدونکې مشرکان – دوی پر مسلمانانو څه واک او حاکميت نه درلود، ځنې يې داسې وو چې له شکوکو سره مخ وو او د پلرني دين پرېښودو ته يې زړه نه شوی ښه کولی، خو له مسلمانانو او اسلام سره يې کينه او دښمني هم نه درلوده، بالاخره لږ وخت وروسته په اسلام مشرف شول.

په مشرکينو کې ځنې داسې هم وو چې زړونه يې له رسول الله(صلی الله علیه و اله وصحبه وسلم) او مسلمانانو سره له بغض او دښمنۍ نه ډک وو، خو په عين وخت کې يې ددې جرات او همت هم نه درلود چې مخامخ مقابله ورسره وکړي، او دې حالاتو ديته مجبور کړي وو چې له مسلمانانو سره د مينې او خلوص ښکارونه وکړي، ددې ډلې مشرکانو مشر عبدالله بن ابي وٴ. اوس او خزرج چې د هيچا په مشرۍ نه وو راضي شوی د بعاث له جنګ نه وروسته يې پدې اتفاق کړی وٴ چې نوموړی به خپل مشر ټاکي. او عملاً يې دده د پاچايی لپاره تياري پيل کړې وه، قيمتي مرۍ او غمي

یې راټول کړي وو تر څو تاج ورته جوړ کړي او په تخت یې کینوي، خو یو ځل رسول الله(صلی الله علیه و اله وصحبه وسلم) مدینې ته تشریف راوړ او ټول قوم د هغه په خوا ورمات شو، نو له عبدالله بن ابي سره دا عقیده پیدا شوه چې رسول الله(صلی الله علیه و اله وصحبه وسلم) دده تخت او پاچایي په لغته ووهله. او له همدې امله یې سخته کینه ورسره درلوده، خو کله چې پوه شو نور شرک دده په ګټه ندی او حالات داسې دي چې د شرک په واسطه یې ډیرې دنیوي ګټې له لاسه وزي، مجبور شو چې د بدر له غزا نه وروسته په خوله اسلام راوړي، خو زړه یې هماغسې له کفر او شرک نه ډک وۀ. او هر کله به یې چې لاس بر شو نو د رسول الله(صلی الله علیه و اله وصحبه وسلم) او مسلمانانو په خلاف به یې له هیڅ ډول فریب او غدر نه ډډه نه کوله. له ده سره هغه کسان هم ملګري ووکوم چې دده په ناجوړه شوې پاچایۍ کې لوی لوی منصبونه ورته په نظر کې نیول شوي وو. هغوی به دده د شیطاني پلانونو او توطئو په پلي کولو کې مرسته ورسره کوله، او کله کله به یې له ځینو واقعاتو او پیښو او حتی له ځینو کمزورو او کم عقلو مسلمانانو نه هم د خپلو شومو اهدافو د تحقق په لاره کې ګټه اوچتوله.

ج: دریم قوم (یهودان): هغه چې د آشوریانو او رومیانو له ظلم نه حجاز ته راغلي وو. دوی اصلا عبرانیان وو، خو دلته په حجاز کې له میشته کیدو وروسته یې ژبه، عادات، د افرادو او قبایلو نومونه عربي شوي وو له عربانو سره یې د خپلوی اړیکې هم ټینګې کړې وې، خو له دې ټولو سره سره یې خپل ملی هویت ساتلی وۀ او په پوره توګه په عربي ټولنه کې نه وو منحل شوي، بلکه پخپل یهودي ملیت (اسرائیلیت) یې فخر او ویاړ کاوه. عربان یې ډیر زیات تحقیر او سپکول ان تر دې چې هغوی ته به یې امیین یعنی چارپایان، مرتجعین او رذیلان ویل، د عربو مالونه یې د ځان لپاره مباح بلل، او کله به یې چې لاس پرې بر شو نو خوړل به یې ((**قَالُوا لَيْسَ عَلَيْنَا فِي الْأُمِّيِّينَ سَبِيلٌ**)) (آل عمران: ۷۵). [وویل (کتابیانو) نشته پر مونږ باندې په (حق) ددې امیانو کې هیڅ ګناه (چې مالونه یې وخورو).]

هغوی د خپل دین په نشر او ترویج کې ډیر فعال نه وو، او د دوی ټول دین په دم، چپ ، فال، سحر او جادو کې خلاصه کیده. او یوازې په همدې سره یې ځانونه د پوهې، روحانیت، قیادت او صلاحیت خاوندان ګڼل. هغوی په کسب او کار، مال ګټلو او لاسته راوړلو کې خاص مهارت درلود، د غلې دانې، خرما، شرابو او ټوکر تجارت له

همدوی سره وۀ. ټوکر، غلې دانې او شراب به یې راوړل او په مقابل کې به یې خرما صادروله، او د تجارت تر څنګ یې نور کسبونه هم کول، له عربانو نه به یې څو چنده ګټه اخیستله پدې یې هم اکتفا نه کوله بلکه د سود بازار یې هم ښه تود کړی وۀ. د عربانو مشایخو او مشرانو ته به یې قرضونه ورکول، هغوی به دا پیسې بې مطلبه او بې ځایه په مداحانو، شاعرانو او ځان ښوونه او ستاینه کې خرڅولې. یهودانو به لومړی ددې قرضونو په بدل کې د دوی ځمکې، باغونه او پټې ګرو کړل، خو څو کاله وروسته به یې د ملکیت قبضه وربانديې ولګوله. دوی په فتنو، فساد، توطئو او دسیسو کې له هر چانه مخکې وو، په دې مکر او چالاکۍ سره به یې شا او خوا پرتې عربي قبیلې یو بل کې سره اچولې، او تر مینځ به یې د اوږدو جګړو اور بلاوه او په ډیره مرموزه توګه به یې ددې اور لمبې غوړې ساتلې. عربان به سره جنګیدل او دوی به ورته د خیر په غونډۍ ناست وو، خو که به د کوم طرف پیسې کمې شوې، نو دوی به په سود باندې ډیر قرض ورکاوه تر څو د پیسو د کمي له امله جګړه بنده نه شي. یهودانو به پدې سره دوه ګټې کولې یعنی په یوه غشي به یې دوه مرغۍ ویشتلې یو به یې خپل یهودي موجودیت، شخصیت او هویت ژوندی ساته او له بل پلوه به یې د سود بازار ښه ګرم ساته، ډیرې پیسې او سرمایې به یې ګټلې.

<u>په مدینه کې د یهودانو دری مشهورې قبیلې اوسیدلې:</u>

۱. بنو قینقاع، دې قبیلې له خزرج سره ټړون درلود او کورونه یې په مدینه کې د ننه وو.

۲. بنو نضیر.

۳. بنو قریظه. دوی دواړو له اوس سره ټړون درلود، او د مدینې په شا او خوا برخو کې اوسیدل.

همدې قبیلو به له ډیر پخوا نه د اوس او خزرج تر مینځ د جګړو اور بلاوه، د بعاث په جګړه کې خو پخپله دوی هم هره یوه له خپل حلیف سره په جنګ کې شریکه وه.

طبیعي وه چې یهودو به له اسلام او مسلمانانو سره کینه او عداوت کاوه، له هغوی نه د خیر طمعه بې ځایه وه ځکه رسول الله(صلی الله علیه و اله وصحبه وسلم) له دوی څخه نه و تر څو د دوی نژادي او توکمي عصبیت ته چې په ذهن او زړه یې حاکم وۀ سکون او اطمینان حاصل شي. او بله دا چې اسلامي دعوت د سولې او یووالي داسې یو پیغام او آواز و چې مات زړونه یې سره پیوندول، د کینې او دښمنۍ اورونه یې مړه کول، په ټولو کارونو کې د امانت او امانتداری غوښتونکی وۀ، او په هر

څه کې يې يوازې د پاک او حلال څيز د خوړلو اجازه ورکوله او ددې لازمي معنی دا وه چې نور به په مدينه کې ميشتې عربي قبيلې سره يوکيږي او پدې سره به د يهودانو له خبيثو پنجو نه آزادي مومي، چې په نتيجه کې به د يهودانو تجارت زيانمن کيږي او د سود له هغو ګټو به بې برخې کيږي چې د دوی دکار و بار او شتمنيو اساس وربانديې ولاړ وۀ.

او دا هم کيدای شوای چې دا عربي قبيلې متوجه شي او هغو مالونو ته يې فکر شي کوم چې يهودانو په سود کې ورنه اخيستي وو، او له يهودانو نه په سود کې د تللو ځمکو، باغونو او پټيو د بيرته اخيستلو هڅې وکړي.

يهودانو دا ټول حساب کړی و، او له کومې ورځې نه چې په شول اسلام په مدينه کې ميشته کيدل غواړي نو دا ټول شيان يې د ذهن پر پرده تير را تير شول، او له همدې امله يې مدينې ته د رسول الله(صلی الله علیه و اله وصحبه وسلم) له تشريف آوری سره سم له اسلام او رسول الله(صلی الله علیه و اله وصحبه وسلم) سره دښمني پيل کړه، خو دا دښمني يې څه موده پټه وه چې وروسته يې ښکاره او په ډاګه کړه.

ددې موضوع ښه تصوير او تفسير د ابن اسحاق هغه روايت کولی شي کوم چې له حضرت صفيه (رضي الله عنها) نه يې رانقل کړيدی، ابن اسحاق وايي:

له صفيه بنت حيي بن اخطب نه روايت دی چې وايي: زه مې په پلار او تره (ابو ياسر) له ټولو اولادونو نه زياته ګرانه وم، او هر کله به چې د دوی له بل کوم يوه اولاد سره زه ورسره مخامخ شوم، نو حتماً به يې زه اخيستلم.

وايي: خو کله چې رسول الله(صلی الله علیه و اله وصحبه وسلم) مدينې ته را روان و او په قبا کې يې له بني عمرو بن عوف سره واړول، پلار مې (حيي بن اخطب) او تره مې (ابو يا سر بن اخطب) سهار وختي ورغلل، او ان له لمر لويدو سره بيرته راستانه شول، وايي: داسې سست پست، له پښو لويدلي، کشال کشال را روان وو. وايي: زه د خپل عادت سره سم ورپه منډو شوم، خو قسم په خدای هغوی دومره غم اخيستي وو چې يوه يې هم زما خوا ته التفات او توجه ونکړه.

وايي: وا مې وريدل چې تره مې (ابو ياسر) پلار ته وايي: ايا ته يې ښه سيي پيژنې؟ ده وويل: بالکل ښه يې پيژنم. تره مې بيا ورته وويل: نو ته د هغه په هکله څه نظر لرې؟ پلار مې ورته وويل: دښمني، قسم په خدای تر مرګه به ورسره دښمني کوم.[1]

---

[1]. ابن هشام ۱/ ۵۱۸- ۵۱۹

ددې خبرې تاييد د بخاري هغه روايت هم کوي کوم چې د عبدالله بن سلام (رضي الله عنه) د اسلام راوړلو په هکله يې را نقل کړيدی.

نوموړی د يهودانو لوی او عظيم عالم و، کله چې خبر شو رسول الله(صلی الله عليه و اله وصحبه وسلم) مدينې ته د بني النجار مېنی ته تشريف راوړی، نو په بيړه سره د هغه(صلی الله عليه و اله وصحبه وسلم) حضور ته ورغی، او داسې پوښتنې يې ورنه وکړې چې ځواب يې يوازې نبي ويلی شي. او څنګه يې چې د رسول الله(صلی الله عليه و اله وصحبه وسلم) ځوابونه واوريدل نو فوراً په هماغه ځای په اسلام مشرف شو. بيا يې رسول الله(صلی الله عليه و اله وصحبه وسلم) ته وويل: يهودان خبرې جوړونکي او بهتان کوونکي خلک دي که هغوی مخکې لدينه چې ته ورنه زما په هکله پوښتنه وکړې پدې خبر شي چې زه په اسلام مشرف شوی يم، نو بهتانونه به راپسې وترې. همدا وه چې رسول الله(صلی الله عليه و اله وصحبه وسلم) يهودان راوغوښتل، هغوی راغلل، عبدالله بن سلام په کور کې د ننه ناست و، رسول الله(صلی الله عليه و اله وصحبه وسلم) ورته وويل: عبدالله بن سلام څنګه سړی دی؟ او ستاسې په مينځ کې د کوم مقام خاوند دی؟

دوی وويل: هغه د لوی عالم زوی او له مونږ ټولو نه د زيات علم څښتن دی او له مونږ ټولو نه غوره او د ډير غوره سړي زوی دی. په بل روايت کې راځي چې وايي: هغه زمونږ مشر او زمونږ د مشر زوی دی، او په بل لفظ – هغه له مونږ ټولو نه بهتر او د بهترين سړي زوی دی، او په بل لفظ هغه زمونږ افضل او د افضل سړي زوی دی. رسول الله(صلی الله عليه و اله وصحبه وسلم) ورته وويل: ښه، نو اوس دا راته وواياست که هغه اسلام راوړ نو بيا؟ يهودانو دوه، دری ځله وويل: الله دې هغه لدينه وساتي! همدلته عبدالله بن سلام راووت او ويې ويل: ((**اشهد ان لا الــه الا الله و اشــهد ان محمدا رسول الله**)) نو دوی يو ځل خپلې ژبې بدلې کړې او ويې ويل: دا زمونږ په مينځ کې تر ټولو زيات شرير او د شرير زوی دی او داسې نورې خبرې يې ورپسې وکړې. ده (عبدالله) په ځواب کې ورته وويل: يهودانو! له خدای نه وويريږئ، قسم په هغه ذات چې له ده پرته بل د عبادت مستحق نشته تاسې پدې ښه پوهيږئ چې دا د الله رسول دی، او په حقه راغلی دی. دوی ورته وويل دروغ دې وويل.[1]

دا وه په مدينه کې د رسول الله(صلی الله عليه و اله وصحبه وسلم) د ژوند په لومړنۍ ورځ له يهودانو سره لومړنۍ تجربه.

---

(1). صحيح البخاري ۱/۴۵۹- ۵۵۲-۵۲۱

دا وو د مدينې داخلي حالات، او له مدينې نه د باندې د اسلام تر ټولو ستر او سخت دښمن قريش وو. قريشو پوره لس کاله د مسلمانانو په خلاف له هر ډول، ظلم، زياتي، تهديد او جبر نه کار اخيستی و، د مظلومو مسلمانانو د ځورولو او ځپلو پخاطر يې د وړې کولو او اقتصادي بنديزونه سياست خپل کړی ؤ او د مصيبتونو او کړاوونو تر څنګ يې د هغوی په خلاف ستړی کوونکی عصبي، نفسياتي او تبليغاتي جنګ هم پيل کړی و. او کله چې مسلمانانو مدينې ته هجرت پيل کړ، نو دوی به يې ځمکې او مالونه مصادره کول، او هغوی به يې له خپلو ښځو او اولادونو نه بيلول، او که به يې په چا لاس ورسيده، نو ښه به يې تعذيباوه. دا خو لا څه هغوی د دعوت د لارښود(صلى الله عليه و اله وصحبه وسلم) د مرګ او وژلو اراده او فيصله وکړه، او ددې توطئې د عملي کولو لپاره يې ډيرې منډې تړې هم وکړې. او له دې نه اخوا هغه وخت چې مسلمانان مدينې ته ورسيدل او د دوی له ظلمونو نه يې نجات وموند ، او له دوی نه (۵۰۰) کيلو متره ليرې لاړل، نو دوی (قريش) دلته هم په آرام کيناستل. او څرنګه چې دوی د حرم اوسيدونکي او د بيت الله ګاونډيان وو، نو د عربو په مينځ کې يې په ديني او دنيوي لحاظ اوچت او د قدر وړ مقام درلود ، نو دلته يې له خپل همدې اثر او رسوخ نه په استفادې سره يو سياسي رول لوبول وغوښتل، پاڅيدل او د عربې جزيرې نور مشرکان يې د مدينې د اوسيدونکو په خلاف راوپارول او مدينه يې له اقتصادي بحران سره لاس او ګريوان کړه. نژدې وه تر بشپړې اقتصادي محاصرې لاندې راشي، واردات يې ډير کم شول، دا هم پداسې حال کې چې د مهاجرينو شمير ورځ په ورځ مخ په زياتيدو و. حقيقت دا دی چې د مکې د مشرکينو او مسلمانانو تر منځ د اسلام په نوی مېنه (مدينه) کې د جنګ حالات او اسباب برابر شوي وو، او دا به ډيره بې عقلي او بې انصافي وي چې ددې جګړو او دښمنيو پړه پر مسلمانانو ور واچول شي.[۲]

مسلمانانو حق درلود چې د خپلو مصادره شويو مالونو په بدل کې د قريشو مالونه مصادره کړي او حق يې درلود چې د دوی د ظلم ځواب ورکړي. او د دوی د ژوند د قافلې په وړاندې داسې خنډونه را پيدا کړي لکه چې دوی د مسلمانانو د ژوند په مخه کې پيدا کړيدي. او حق يې درلود د خپل ځان او هويت دفاع وکړي او د دوی ټولې هغه توطئې شنډې کړي چې هدف يې د اسلام ختمول و.

(2). دا وروستی خبره د محمد الغزالي خبره ده، فقه السيرة ص ۱۲۲

د ا وو هغه مشکلات او مسائل چې رسول الله(صلی الله علیه و اله وصحبه وسلم) مدينې ته د رسول، رهبر، امام او لارښوونکي په صفت له رسيدو نه وروسته ورسره لاس او ګريوان و.

رسول الله(صلی الله علیه و اله وصحبه وسلم) په مدينه کې د رسول او رهبر په څير معامله کوله، له هر چا او هر قوم سره يې د هغه د مقام او اهليت سره برابر عمل کاوه، څوک چې د رحم او کرم وړ وو د هغوی په سر يې د رحمت او شفقت لاس راکاړه، او که د چا چاره او علاج به يوازې شدت او سختي وه، نو د هغه دوا او علاج به يې په سختۍ سره کاوه، خو دا بايد له ياده ونه باسو چې د رحمت او شفقت پله يې ډيره درنده وه. او د همدې حکيمانه قيادت په برکت په څو لنډو کلونو کې ټول کارونه د اسلام او مسلمانانو لاس ته ورغلل، لوستونکي ته به راتلونکو پاڼو کې پدې هکله پوره معلومات وړاندې کړو.

د نوي ټولنې جوړول

مخکې مو وويل چې رسول الله(صلی الله علیه و اله وصحبه وسلم) د جمعې په ورځ د هجرت د لومړي کال د ربیع الاول په (۱۲) مه چې د (۶۲۲م) کال د سپتمبر له (۲۷) مې سره سمون خوري په مدینه کې د بني النجار مـــیڼ ته تشریف یووړ، د ابو ایوب د کور مخې ته یې واړول او ویې فرمایل: همدلته زمونږ منزل دی (ان شاء الله) بیا د ابو ایوب کور ته منتقل شو.

د نبوي مسجد ودانول

لدینه وروسته د رسول الله(صلی الله علیه و اله وصحبه وسلم) لومړنی کار د نبوي مسجد جوړول وۀ. د مسجد لپاره یې هغه ځای وټاکه په کوم کې یې چې اوښه چو شوې وه، دغه ځمکه د دوو یتیمانو وه، چې په بیه یې ورنه واخیستله. رسول الله(صلی الله علیه و اله وصحبه وسلم) پخپله د مسجد په جوړولو کې فعاله ونډه درلوده، خښتې او تیږې به یې رانقلولې او داسې به یې فرمایل:

اللهم لا عیش الا عیش الاخرة فاغفر للانصار و المهاجرة

[اې خدایه زندګي او ژوند خو یوازې د آخرت ژوند دی، نو ته انصارو او مهاجرینو ته بخشش وکړه.]

او دا شعر به یې هم زمزمه کاوه:

هذا الحمال لاحمال خیبر هذا ابر ربنا و اطهر

[دا بار د خیبر بار ندی دا زمونږ د رب پاک او سپیڅلی بار دی]

د رسول الله(صلی الله علیه و اله وصحبه وسلم) کار به د اصحابو (رضي الله عنهم) نشاط او فعالیت نور هم زیاتوه، او یوه صحابي به د کار په وخت کې داسې ویل:

لئن قعدنا والنبي يعمل لذاك منا العمل المضلل

[که چيرته مونږ کينو او نبي(صلى الله عليه و اله وصحبه وسلم) کار کوي، نو دا به زمونږ د ګمراه ۍ او بې لارۍ کار وي.]

پدې ځای کې د مشرکينو يو شمير قبرونه، خرابه، د غرقد او خرما څه ونې هم وې، رسول الله(صلى الله عليه و اله وصحبه وسلم) امر وکړ چې قبرونه را لوڅ او پاک شي، دا خرابه هوار کړی شي، وني يې ووهل او لرګي يې د قبلې لور ته واچول شي (هغه وخت قبله بيت المقدس وٴ).

د دروازې دواړه پايې (څنګدرۍ) يې له تيږو جوړې کړې، ديوالونه يې د خښتو او ختړو وو، چت يې د خرما په تنو ، ښاخونو او پانو پټ کړ، په غولي کې يې ريګ او شګې اواړې کړې، ټول جومات ته يې دری دروازې ورکړې وې. د قبلې د ديواله او د مخامخ ديوال اوږده سل ګزه، او د څنګ دواړو نورو ديوالونو اندازه يې هم تقريبا همدومره وه، تهداب يې نژدې دری ګزه راته.

د جومات له خوا سره يې د ختړو او تيږو څو خونې هم جوړې کړې، چتونه يې د خرما په تنو او شاخونو پټ کړل، دا د امهات المؤمنين (رض) خونې وې. او کله چې تکميلې شوې، نو رسول الله(صلى الله عليه و اله وصحبه وسلم) د ابو ايوب (رضي الله عنه) له کورنه ور منتقل شو.[1]

دغه جومات يوازې د لمانځه ځای نه وٴ، بلکه د يوه داسې پوهنتون حيثيت يې درلود چې مسلمانانو به پکې خپل دين زده کاوه، او داسې يو غونډ ځای وٴ چې پخپل زړه کې به يې په ډيره مينه او محبت سره هغه کسان سره راغونډول چې کلونه کلونه د جاهليت او عداوت لمبو سيځلي وو.

او همدا جومات د داسې يوه عمومي مرکز په شان وٴ چې د مسلمانانو ټول کارونه له همدې ځايه اداره کيدل، د هر څه قوماندې له همدې ځايه وه او په ننني ژبه دا يو داسې پارلمان وٴ چې ټول مشورتي او تنفيذي (اجرايوي) مجلسونه به همدلته ترسره کيدل. او ددې تر څنګ دا جومات د هغو فقيرانو مهاجرينو کور هم وٴ کوم چې نه يې کور درلود ، نه مال او نه خپل او خپلوان.

د هجرت په لومړيو کې د آذان حکم هم وشو. آذان دا آسماني آواز چې هره ورځ پنځه ځلې د ځمکې او آسمان تر مينځ انګازې کوي، او ټول عالم په لړزه راولي.

پدې هکله د عبدالله بن زيد بن عبد ربه د خوب کيسه مشهوره ده، چې تفصيلات

---

[1]. صحيح البخاري ۱/ ۷۱-۵۵۵- ۵۲۰. زاد المعاد ۵۲/۲

يې پدې کتابونو جامع الترمذي، سنن ابي داود، مسند احمد او صحيح ابن خزيمه کې روايت شوي او کولی شو هملته يې ولولو.[1]

د مسلمانانو تر مينځ ورورګلوي

لکه څرنګه چې رسول الله(صلی الله علیه و اله وصحبه وسلم) د نبوي جومات په جوړولو سره د غونډيدو او يو کيدو يو عظيم مرکز مينځ ته راوړ همدا ډول يې د انصارو او مهاجرينو په ورورۍ سره په انساني تاريخ کې يوه بل نه هيريدونکې او بې ساري کارنامه تر سره کړه. ابن قيم وايي: بيا رسول الله(صلی الله علیه و اله وصحبه وسلم) د انس بن مالک په کور کې (۹۰) کسه چې نيم يې انصار او نيم نور يې مهاجرين وو سره وروڼه کړل، ددې ورورګلوۍ اصل او اساس دا و چې دا وروڼه به يو له بل سره همدردي او غمشريکي کوي، او د نسبي خپلوۍ په ځای به دوی يو د بل ميراث وړي. دا حکم د بدر غزا تر وخته باقی پاتې و،تر څو د الله تعالی دا حکم رانازل شو: ((وَأُوْلُوا الأَرْحَامِ بَعْضُهُمْ أَوْلَى بِبَعْضٍ)) (۸-۷۵). [او خاوندان د خپلوۍ ځينې د دوی غوره دي (د ميراث په وړلو سره) په ځينو نورو...]

دې آيت د ديني وروڼو تر مينځ د ميراث وړلو حکم لغوه کړ، خو د ورورۍ عقد او پيمان همداسې باقي پاتې دی. ويل کيږي چې رسول الله(صلی الله علیه و اله وصحبه وسلم) دويم ځل د مهاجرينو تر مينځ ورورګلوي ټينګه کړې وه، خو دا خبره کمزورې غوندې بريښي، ځکه مهاجرين چې يو له بل سره يې ديني، وطني، نژادي او نسبې وروري او خپلوي درلوده د ورورۍ دې ډول عقد او تړون ته اړ نه وو، په داسې حال کې چې د انصارو او مهاجرينو خبره او معامله بيا دغه ډول نه وه[2].

لکه چې محمد غزالي وايي ددې ورورۍ معنی دا وه چې جاهلي تعصب او عصبيت له مينځه يوسي، ننګ، حميت او غيرت که وي، نو بايد يوازې د اسلام پخاطر وي او بس، د رنګ، نسل، وطن او نسب په بناء د برترۍ او امتياز دور نور ختم دی، ځکه د بلندۍ او پستۍ يوازينی معيار انسانيت، مروت او تقوی ده نه بل څه.

رسول الله(صلی الله علیه و اله وصحبه وسلم) دا وروري يوازې تر ژبې او کلماتو پورې محدوده نه وه ساتلې، بلکه دې تړون ته يې د عمل داسې جامه وراغوستې وه چې له

(1). بلوغ المرام د ابن حجر عسقلاني ليکنه ص ۱۵ وګورئه.
(2). زاد المعاد ۵۲/۲

امله یې دا ژمنه تر ویـنې او مال پورې تړلې وه. دا ټرون د ژبې او الفاظو له دایرې نه وتلی د قربانۍ، همدردۍ، او غمشریـکۍ په ډګر کې داسې پلی شوی و، چې دې نوې ټولنې ته یې تر ټولو لوړ مثالونه وړاندې کول او دا وروروللي له نسبي وروروللۍ نه زیاته په مینه او خلوص ولاړه وه.[1]

بخاري روایت کوي، کله چې مهاجرین مدینې ته راغلل، رسول الله(صلی الله علیه و اله وصحبه وسلم) عبدالرحمن بن عوف له سعد بن الربیع سره د وروري په مزي وتاړه. سعد خپل ورور عبدالرحمن ته وویل: زه په انصارو کې د ډیر مال او دارایۍ خاوند یم، ته زما مال دوې برخې کړه، (نیم یې ستا) همدا راز زه دوې ښځې لرم، وګوره کومه یوه دې چې خوښه وي ما ته ووایه، زه هغه طلاقوم، او چې عدت یې پوره شو، نو ته یې په نکاح کړه. ده (عبدالرحمن) ورته وویل: خدای دې ستا په مال او اولاد کې برکت واچوي، ما ته بازار راوښیه. هغوی د بنو قینقاع بازار وروښود، هغه بازار ته لاړ او کله چې بیرته راوګرځید، نو یوه اندازه غوړي او کـــروت یې هم له ځان سره راوړل. په همدې ترتیب هغه هره ورځ بازار ته تلو او ګټه یې کوله څه وخت وروسته داسې ورځ راغله، چې د څه زیړوالي اثر وربانـدې ښکاریـده. رسـول الله(صلی الله علیه و اله وصحبه وسلم) ورته وویل: دا څه دي؟ ده ورته وویل: واده مې کړی. رسول الله(صلی الله علیه و اله وصحبه وسلم) وفرمایل: څومره مهر دې ورکړ؟ ده وویل: تقریباً پاو باندې یوه توله سره زر (تقریبا **۱۵** ګرامه)[2].

له ابو هریره (رضي الله عنه) نه روایت دی وایي: انصارو رسول الله(صلی الله علیه و اله وصحبه وسلم) ته وویل: ته زمونږ د خرما باغونه زمونږ او زمونږ د وروڼو (مهاجرینو) تر منځ وویشه! ده وفرمایل: نه. نو دوی وویل: نو تاسې (مهاجرین) زمونږ سره کار وکړئ او مونږ به تاسې په میوو کې را سره شریک کړو، دوی (مهاجرینو) وویل: دا بالکل سیي او مقبوله ده.[3]

لدینه دا ښه په ډاګه کیږي چې انصارو د خپلو مهاجرینو وروڼو د عزت او احترام، همکارۍ او همدردۍ پخاطر له څومره زیات اخلاص، قربانۍ، مینې او محبت نه کار اخیسته. او لدینـه دا هـم څرګنـدیږي چـې مهـاجرینو د دوی د عـزت او همکـارۍ، احسـان او کـرم څـومره قـدر او پـاس درلـود، او د دوی لـه همکـارۍ او اخـلاص نـه یـې یوازې دومره ګټه اخیستله چې خپـل مـات او ګوډ ژوند یـې وربانـدې روانـولی شـوای.

---

[1]. فقه السیرة ص ۱۴۰ - ۱۴۱

[2]. صحیح البخاري، باب اخاء النبي (ص) بین المهاجرین و الانصار ۵۵۳/۱

[3]. صحیح البخاري – باب اذا قال: اکفني مئونة النخل ۳۱۲-۱

بيشکه چې دا وروروڼي لويه وه او دا يو عظيم حکمت، پوخ، عاقلانه سياست، او د مسلمانانو د زيات شمير ياد شويو مشکلاتو لپاره کافي او شامل حل و.

د اسلامي يووالي تړون

لکه څرنګه چې رسول الله(صلی الله علیه و اله وصحبه وسلم) مؤمنان د وروړ ې په ټينګ مزي سره وتړل، همدا ډول يې يو بل داسې عهد او تړون هم ترسره کړ چې د هغه پواسطه يې د جاهليت ټول کشمکشونه، ناروا قومي او قبيلوي عصبيتونه له هر ډول جاهلانه رسم او رواج سره يو ځای له مينځه يو وړل. دا دی لاندې ددې تاريخي تړون مادې په لنډه توګه وړاندې کوو:

دا د محمد رسول الله(صلی الله علیه و اله وصحبه وسلم) له خوا ليک دی د قريشي ، يثربي او نورو هغو مؤمنانو او مسلمانانو ترمنځ چې د دوی پيروي وکړي، ورسره يو ځای شي او يو ځای جهاد ورسره وکړي:

۱ـ دوی ټول له دوی نه پرته ټولو انسانانو نه جدا يو امت دی.

۲ـ قريشي مهاجرين به د خپلو پخوانيو روایاتو مطابق يو بل ته ديت او د مؤمنانو په مينځ کې به په نيکۍ او انصاف سره د خپلو بنديانو فديه ورکوي. د انصارو ټولې قبيلې به هم د پخوا په شان يو بل ته ديت ورکوي، او د دوی هره ډله او طايفه به د مؤمنانو په مينځ کې په نيکۍ او انصاف سره د خپلو بنديانو فديه ورکوي.

۳ـ مؤمنان به د فديې او ديت په معامله کې خپل بې وسه او بې کسه له خپلې نيکې ورکړې او سخا نه بې بـرخ ې کوي.

۴ـ ټول ريښتينې مؤمنان به يو موټی د هر هغه چا مقابلې ته دريږي چې پر دوی ظلم کوي، يا غواړي د مؤمنانو تر مينځ ظلم، ګناه، تيری او فساد خور کړي.

۵ـ دوی (مؤمنان) به ټول يو لاس د دا ډول کس په خلاف وي، که څه هم هغه د دوی د کوم يوه زوی وي.

۶ـ هيڅ مؤمن به د کافر په بدل کې بل مؤمن نه وژني.

۷ـ او نه به د مؤمن په مقابل کې د کوم کافر ملاتړ کوي.

۸ـ د الله ذمه (عهد) يوه ده، تر ټولو بې وسه مسلمان هر چا ته چې وغواړي پناه ورکولی شي د يوه معمولي انسان له خوا ورکړل شوې ذمه (ژمنه) پر ټولو مسلمانانو لازمه او واجب ده.

۹_ هغه یهودان چې زمونږ پیروي غوره کړي، نو د هغوی مدد او کومک به کیږي، نه به ظلم ورباندې کیږي، او نه به د دوی په خلاف د چا ملاتړ کیږي.
۱۰_ د ټولو مسلمانانو سوله یوه ده، هیڅ مسلمان له بل مسلمان پرته د خدای په لار کې په جنګ او جګړه کې سوله او جوړه نه کوي، بلکه ټول به یو ځای د عدل او برابرۍ په بناء کوم عهد او تړون سرته رسوي. (د مسلمانانو سوله به د ټولو په موافقه وي، فردي سوله نشي کولی).
۱۱_ مسلمانان په هغه خون (وینه) کې یو له بل سره برابر دي، کومه چې څوک یې د خدای په لار کې توی‌وي.
۱۲_ هیڅ مشرک به قریشو ته د ځان یا مال پناه نه ورکوي، او نه به د هغوی د ساتنې پخاطر د مسلمان په وړاندې دریږي.
۱۳_ که هر چا کوم مومن بې موجبه وواژه، او قتل په شاهدۍ او دلیل سره وربانديې ثابت شو، نو هغه (قاتل) به قصاص کیږي، خو که د مقتول ولي راضي شو بیا به نه وژل کیږي.
۱۴_ دا ټول مؤمنان به د هغه په خلاف راپورته کیږي، او پرته لدې چې د هغه په خلاف ودریږي په بل څه یې نه مسئولیت ادا کیږي او نه بل څه ورته روا دي.
۱۵_ هیڅ یوه مسلمان ته ندي روا چې د کوم مشکلات را پیدا کوونکي یا بدعتي مرسته وکړي، او یا پناه ورکړي، او که څوک یې مرسته کوي یا پناه ورکوي، نو پر هغه به د قیامت په ورځ د الله تعالی لعنت او غضب وي، او د هغه به هیڅ هم نه قبلیږي یعنی نه به یې فرض قبلیږي او نه نفل.
۱۶_ تاسې که په هر کار کې له اختلاف سره مخ شوئ، نو هغه باید یوازې الله او محمد(صلی الله علیه و اله وصحبه وسلم) ته راجع کړئ.[1]

---

[1]. ابن هشام ۱/۵۰۲-۵۰۳

پر ټولنه د معنوياتو اغيزه

په دومره عظيم حکمت او زيرکۍ سره رسول الله(صلی الله علیه و اله وصحبه وسلم) ددې نوې ټولنې تهداب کيښود ، خو د ټولنې دا ظاهري بڼه د هغو معنوياتو اثر او تصوير وۀ چې د رسول الله(صلی الله علیه و اله وصحبه وسلم) د صحبت او ملګرتيا په برکت ددې عظيمو پرګنو په برخه شوی وۀ. رسول الله(صلی الله علیه و اله وصحبه وسلم) به هميشه د هغوی د ښوونې او روزنې، تزکيې او نيکو اخلاقو باندې د آراسته کولو زيار يوست، او هغوی به يې په مينه، وروړۍ، عزت، شرف، عبادت او اطاعت سره روزل.

يوه صحابي له رسول الله(صلی الله علیه و اله وصحبه وسلم) نه وپوښتل: کوم ډول اسلام ډير غوره دی؟ (يعنی په اسلام کې کوم يو عمل ډير بهتر دی؟)

رسول (صلی الله علیه و اله و صحبه وسلم) ورته وفرمايل: **[تطعم الطعام، وتقرئ السلام على من عرفت ومن لم تعرف]**.[1]. خلکو ته خواړه ورکوه، په ټولو پيژندګلو او نا پيژندګلو سلام اچوه .

عبدالله بن سلام وايي: **لما قدم النبي صلى الله عليه وسلم المدينة جئت، فلما تبينت وجهه، عرفت أن وجهه ليس بوجه كذاب، فكان أول ما قال: [يا أيها الناس، أفشوا السلام، وأطعموا الطعام، وصلوا الأرحام، وصلوا بالليل والناس نيام، تدخلوا الجنة بسلام]**. رسول الله(صلی الله علیه و اله وصحبه وسلم) چې مدينې ته تشريف راوړ، زه ورغلم، او کله مې چې د مبارک مخ وليد ، نو پوه شوم چې دا د کوم دروغجن مخ نه شي کيدای. او د رسول (صلی الله علیه و اله وصحبه وسلم) لومړنۍ خبره دا وه چې ويې فرمايل: اې خلکو سلام خور کړئ، خواړه ورکړئ، صله رحمې کوئ (د خپلوۍ اړيکې ټينګې ساتئ) د شپې هغه وخت لمونځ کوئ چې خلک ويده وي، نو په سلام او سلامتۍ سره به جنت ته داخليږئ.[2]

---

[1]. صحيح بخاري ۱/ ۲-۹

[2]. رواه الترمذي، ابن ماجة، الدارمي. مشكاة المصابيح ۲۸/۱

رسول الله(صلى الله عليه و اله وصحبه وسلم) فرمايي: **[لا يدخل الجنة من لا يأمن جاره بوائقه]**. هغه څوک به جنت ته داخل نه شي چې ګاونډيان يې له شر او زيان نه په امن نه وي.[۳]

همدا راز فرمايي: **المسلم من سلم المسلمون من لسانه ويده]**. کامل مسلمان هغه دی چې نور مسلمانان يې د ژبې او لاس له شر نه په امن وي.[۴]

بل ځای فرمايي: **[لا يؤمن أحدكم حتى يحب لأخيه ما يحب لنفســه]**. له تاسې نه هيڅوک ترهغې کامل مؤمن نه شي کيدای تر څو يې د خپل ورور لپاره هغه څه نه وي خوښ کړي کوم چې د خپل ځان لپاره يې خوښوي.[۱]

او فرمايي: **[المؤمنون كرجل واحد، إن اشتكى عينه اشتكى كله، وإن اشتكى رأسه اشتكى كله]**. ټول مؤمنان د يوه سړي په شان دي، که سترګه يې په درد شي، نو ټول جسد يې په درد راځي، او که يې سر وخوږيږي، نو ټول بدن يې دردمند کيږي.[۲]

او فرمايي:**[المؤمن للمؤمن كالبنيان يشد بعضه بعضاً]** مؤمن بل مؤمن ته د عمارت او تعمير حيثيت لري چې پخپل مينځ کې يو بل سره مضبوط او پياوړی کوي.[۳]

او فرمايي: **[لا تباغضوا، ولا تحاسدون، ولا تدابروا، وكونوا عباد الله إخوانــاً، ولا يحل لمسلم أن يهجر أخاه فوق ثلاثة أيام]**. يو له بل سره بغض، کينه او حسد مه کوئ، يو بل ته شامه اړوئ (يو له بل نه نفرت مه کوئ) د الله بندګان او يو د بل وروڼه اوسئ، هيڅ مسلمان ته نده روا چې له خپل مسلمان ورور نه له دريو ورځو نه زيات مرور و اوسي.[۴]

فرمايي: **[المسلم أخو المسلم لا يظلمه ولا يسلمه، ومن كان في حاجة أخيه كان الله في حاجته، ومن فرج عن مسلم كربة فرج الله عنه كربة من كربات يوم القيامــة، ومن ستر مسلماً ستره الله يوم القيامة]** مسلمان د مسلمان ورور دی، نه پر هغه ظلم

---

[۳]. مسلم، مشكاة المصابيح ۱/ ۴۲۲

[٤]. صحيح بخاري ۲/۱

(1). بخاري ۲/۱

(2). مسلم، مشكاة ۴۲۲/۲

(3). متفق عليه، مشكاة۴۲۲/۲

(4). صحيح بخاري ۸۹۲/۲

کوي او نه به يې دښمن ته سپاري، څوک چې د خپل ورور د حاجت او ضرورت پوره کولو زيار باسي، الله تعالی به د هغه ضرورتونه رفع کوي، او هغه څوک چې د کوم مسلمان غم او درد دوا کړي، الله تعالی به له هغه نه د قيامت د ورځې له غمونو او دردونونه کوم غم ليرې کړي، او څوک چې د مسلمان پرده کوي الله تعالی به قيامت په ورځ د هغه پرده کوي.(۵)

فرمايي: **[ارحموا من في الأرض يرحمكم من في السماء]**. د ځمکې پر اوسيدونکو رحم وکړئ تر څو هغه ذات رحم درباندې وکړي چې په آسمان کې دی.(۶)

فرمايي: **[ليس المؤمن بالذي يشبع وجاره جائع إلى جانبه]**. هغه څوک کامل مؤمن ندی چې پخپله مور او په خوا کې ګاونډی يې وږی وي.(۱)

فرمايي: **[سِباب المؤمن فسوق، وقتاله كفر]**. د مسلمان کنځل فسق او جګړه ورسره کفر ده.(۲)

په همدې ترتيب سره رسول (صلی الله عليه وسلم) له لارې نه د ضرري څيزونو ليرې کول صدقه بولي، او دا د ايمان له ښاخونو نه يو ښاخ شميري.(۳)

اصحاب يې خيرات او صدقې ورکولو ته هڅول، او د صدقې دومره فضائل يې ورته بيانول چې زړونه به پخپله ورماتيدل. فرمايل به يې: **[الصدقة تطفئ الخطايا كما يطفئ الماء النار]**. صدقه ګناهونه داسې له مينځه وړي لکه اوبه چې اور وژني.(۴)

همدا راز فرمايي: **[أيما مسلم كسا مسلماً ثوباً على عُرى كساه الله من خُضر الجنة، وأيما مسلم أطعم مسلماً على جوع أطعمه الله من ثمار الجنة، وأيما مسلم سقى مسلماً على ظمأ سقاه الله من الرحيم المختوم]** کوم مسلمان چې بل لوڅ مسلمان په جامو پټ کړي، الله تعالی به هغه ته د جنت شنې جامې ورواغوندي. او کوم مسلمان چې بل مسلمان ته د لوږې په حال کې خواړه ورکړي الله تعالی به هغه ته د جنت ميوه وروخوري. او کوم مسلمان چې بل تږي مسلمان ته اوبه ورکړي، الله به هغه ته د جنت

(5). متفق عليه – مشکاة ۴۲۲/۲

(6). سنن ابيګ داوٗد ۳۳۵/۲. الترمذی ۱۴/۲

(۱). البيهقي، مشکاه: ۴۲۴/۲

(۲). بخاري ۸۹۳/۲

(۳). پدې هکله حديث په بخاري او مسلم کې روايت شويدی. مشکاة ۱۲/۱-۱۲۵

(۴). احمد، ترمذي، ابن ماجة، مشکاة ۱۴/۱

مهر شوي پاک شراب وروڅښي.[۵]

فرمايي: [اتقوا الناء ولو بشق تمرة، فإن لم تجد فبكلمة طيبة]له اور نه ځان وساتئ، که څه هم د خرما د يوې ټوټې په صدقه کولو سره وي، او که دا هم نلرئ، نو په نيـــکۍ خبرې سره.[۶]

او ددې تر څنګ يې له سوال نه د ځان ساتلو کلک امر هم کاوه، د صبر اوقناعت فضائل يې بيانول، او سوال کول يې د سوال کوونکي لپاره د مخ داغ، درز او زخم باله،[۱]خو لدينه هغه فقير او محتاج مستثنی دی چې له سوال نه پرته بله هيڅ چاره ونلري.

رسول الله(صلی الله عليه و اله وصحبه وسلم) به د عبادتونو فضائل، اجر او ثواب هم بيانوه. او مسلمانان به يې پر ده (صلی الله عليه وسلم) باندې له آسمان نه را نـــازل شوې وحي سره ټينګ ترل. وحي به يې دوی ته لوستله، او هغوی به پخپله هم لوستله، او تکرارولە تر څو پدې کار سره له پوهې او تدبر نه علاوه د هغوی په زړونو کې د دعوت د حقوقو او رسالت د مسئوليتونو احساس ښه پوخ او ژوندی شي. پدې ترتيب سره رسول الله(صلی الله عليه و اله وصحبه وسلم) د اصحابو معنويات او روحيات اوچت کړل، د هغوی استعدادونو ته يې نيکه وده ورکړه، هغوی يې د فضل او کمال هغې درجې ته وخيژول چې په انساني تاريخ کې يې له انبياوو (ع) پرته مثال نه ليدل کيږي.

عبدالله بن مسعود (رضي الله عنه) وايي: څوک که په چا پسې اقتداء کوي يا کومه لاره غوره کول غواړي، نو ورته ښ ايـــي، د مخکې تللیو خلکو په لار پل کيږدي، ځکه د ژوندیو په هکله د فـتنې احتمالات شته، خو هغه مخکيني خلک د رسول الله(صلی الله عليه و اله وصحبه وسلم) اصحاب وو، هغوی ددې امت غوره او افضله ډله وه. له ټولـو نه د نيکو او صافو سپيڅلو زړونو، زيات او ژور علم او د ډير کم تکلف خاوندان وو. الله تعالی هغوی د خپل نبي (ع) د صحبت، او خپل دين د قيام او حاکميت لپاره غوره کړي وو، نو د هغوی فضل او مقام و پيژنئ، متابعت او پيروي يې وکړئ، او د امکان تر اندازې د هغوی اخلاق او سيرت خپل کړئ، ځکه هغوی د هدايت په نيغـه لار برابر خلک وو.[۲]

---

[۵]. ابو داود، الترمذي، مشكاة

[۶]. بخاري ۱۹۰/۱، ۲/ ۸۹۰

[۱]. ابو داوٗد، ترمذي، نسائي، ابن ماجة، دارمي، مشكوة ۱۲۳/۱ وګورە

[۲]. د رزين روايت - مشكوة ۳۲/۱

بله دا چې زمونږ عظیم رسول او لارښود(صلی الله علیه و اله وصحبه وسلم) پخپله د دومره اوچتو معنوي او ظاهري صفاتو، مجد، عظمت، فضل او نیکو اخلاقو، غوره کردار او بې ساري عمل درلودونکی وٴ چې زړونه به ورپوري ونښتل، ځانونه او نفسونه به ورنه قربانیدل. او کله به یې چې له مبارکې خولې نه کوم امر صادریده، نو اصحابو (رضي الله عنهم) به فورا هغه ته د عمل جامه وراغوستله او که به یې د کومې نیکۍ او هدایت خبره کوله نو هغوی به فوراً خپل ځانونه په هغې سره سینګارول.

پدې ډول کوښښونو او هلو ځلو سره رسول الله(صلی الله علیه و اله وصحبه وسلم) پدې وتوانید چې په مدینه کې یوه نوې ټولنه جوړه کړي. داسې ټولنه چې په ټول تاریخ کې له ټولو نه اوچته او د زیات شرف درلودونکې ټولنه وه. او ددې ټولنې مشکلاتو ته یې داسې یو حکیمانه حل راویوست چې له اوږدو زمانو په تورو تیارو کې ستړي انسانیت پکې د اطمینان او آرامۍ ساه وکښله.

ددې نوې ټولنې عناصرو او اجزاوو پدې ډول لوړو ارشاداتو او معنویاتو سره د تکامل داسې پړاو وواهه، چې نور د زمانې هر ډول مقابلې ته تیار وٴ، په پوره ځوانمردۍ یې د حالاتو مقابله کوله. بالاخره یې د زمانې مخه او د تاریخ تګلاره بدله او په نیغه برابر کړه.

له یهودانو سره معاهده

کله چې رسول الله(صلی الله علیه و اله وصحبه وسلم) مدینې ته له هجرت نه وروسته د نظام، سیاست او عقیدې د یووالي په واسطه د نوې اسلامي ټولنې تهدابونه ټینګ کړل، نو یې خپله توجه له نامسلمانو قوتونو سره د اړیکو ټینګولو خواته واړوله. د رسول الله(صلی الله علیه و اله وصحبه وسلم) هیله او هدف دا وٴ چې ټول انسانان د امن، نیکبختۍ، خیر او آرامۍ تر سیوري لاندې ژوند وکړي. او دا یې غوښتل چې مدینه او شا و خوا سیمې تر یوې اداري لاندې سره راټولې کړي، د زغم، عفوې او ګذشت داسې قوانین یې جوړ کړل چې د هغه وخت له تعصب او افراط نه ډکې دنیا کې یې تصور غوندې هم نه شوای کیدای.

د مدینې تر ټولو نژدې ګاونډیان یهودان وو، هغوی که څه هم په زړه کې له مسلمانانو سره دښمني درلوده خو په خوله یې لا تر اوسه ددې دښمنۍ اظهار نه وٴ کړی. نو رسول الله(صلی الله علیه و اله وصحبه وسلم) له هغوی سره داسې یو تړون لاسلیک کړ چې د

هغه په رښا کې يهودانو ته د دين او مال پوره آزادي ورکړل شوې وه، او له دوی سره د دښمنۍ، مال او جائيداد ضبطولو او اخراج يا شړلو له سياست نه بالکل ډډه شوې وه. دا ټرون د مسلمانانو د خپل مينځي ټرون – کوم چې مخکې تير شو – په ضمن کې ترسره شوې و، دا دی ددې ټرون ځنې مهم ټکي:

د معاهدې مادې

۱- د بني عوف يهودان له مسلمانانو سره يو دي، يهودان به پخپل او مسلمانان به په خپل دين عمل کوي. دا د دوی او د دوی د پيروانو او غلامانو حق دی. له بني عوف نه علاوه د نورو يهودانو هم همدا حقوق دي.

۲- مسلمانان او يهودان هره ډله بيله بيله د خپلو مصارفو او لګښتونو مسئوليت او ضمانت په غاړه لري.

۳- هر څوک چې ددې ټرون د کوم طرف په خلاف جګړه اعلان کړي، د ټرون ټول اطراف به د هغه په خلاف دريږي.

۴- ددې معاهدې د ټرون کوونکو اړيکې به د خير خواهۍ، نصيحت او ګټې رسولو پر بنا ولاړې وي نه د ګناه پر اساس.

۵- هيڅوک هم د خپل حليف د جرم په وجه مجرم نه شميرل کيږي.

۶- له مظلوم سره به مرسته او مدد کيږي.

۷- تر څو چې جګړه روانه وي تر هغې پورې به يهودان له مسلمانانو سره د جنګ په خرڅ او مصرف کې پوره ونډه اخلي.

۸- د معاهدې په ټولو اړخونو باندې په مدينه کې فتنه او فساد راولاړول او وينه تويول حرام دي.

۹- که د معاهدې د اړخونو تر مينځ کومه داسې منازعه او اختلاف را پيدا شي چې د خطر او فساد احساس ورنه کيږي، نو د هغه فيصله به الله او محمد رسول الله(صلى الله عليه و اله وصحبه وسلم) کوي.

۱۰- قريشو او د دوی همکارانو ته به پناه نه ورکول کيږي.

۱۱- هر څوک که په مدينه حمله وکړي، نو د معاهدې ټول اطراف به د هغوی په خلاف يو ځای جګړه کوي او هر څوک به د خپل طرف دفاع او ساتنه کوي.

۱۲- دا ټرون د ظالم او مجرم لپاره پناه او د نجات سبب نه شي کيدلی[1].

---

[1]. ابن هشام ۱/۵۰۳، ۵۰۴

پدې ترڅون سره مدينه او شا و خوا سيمې د يوه فدرالي حکومت تر اداري لاندې راڅوی شوې. ددې حکومت مرکز مدينه او رئيس يې رسول الله(صلی الله عليه و اله وصحبه وسلم) وۀ چې واک او خبره د مسلمانانو پکې چليده، او پدې سره مدينه واقعاً د مسلمانانو او اسلام مرکز وګرزيد.

په ټوله سيمه کې د امن او آرام ی د ټينګښت پخاطر له نورو قبايلو سره هم د حالاتو او واقعاتو مطابق معاهدې وشوې چې په راتلونکو پاڼو کې به ورنه يادونه وکړو.

وسله واله مبارزه

له هجرت نه وروسته د مسلمانانو په خلاف د قريشو فتنې او له عبدالله بن ابي سره يې تماسونه

مخکې مو ولوستل چې د مکې کفارو پر مسلمانانو څه ډول ظلم او زياتی کاوه، او د هجرت په وخت کې يې څه ډول وحشيانه معامله ورسره کوله، نو د دا ډول ظلمونو او تيريو له امله کفار ددې مستحق وو چې مالونه يې ضبط او د جنګ لاره ورسره ونيولە شي. هغوی په سد نه راتلل، ظلم او وحشت يې نه پريښوده، بلکه د مسلمانانو په خلاف يې غوسه او کينه هغه وخت نوره هم پسې زياته شوه کله چې مسلمانانو د دوی له ظلم نه نجات وموند او په مدينه کې د امن د کور خاوندان شول. همغه وه چې عبدالله بن ابي بن سلول ته يې چې هغه وخت لا مشرک ؤ ليک واستاوه. نوموړی له هجرت نه وړاندې د انصارو رئيس ؤ که رسول الله(صلى الله عليه و اله وصحبه وسلم) هجرت نه وی کړی او انصارو وربانديې ايمان نه وی راوړی، نو عبدالله بن ابي به يې خپل پاچا ټاکلی وای. قريشونوموړي او مشرکانو ملګروته يې ډير تونډ ليک وليکه چې پکې راغلي وو:

تاسې زمونږ ملګري ته پناه ورکړې، قسم په خدای چې يا به ورسره جنګيږئ او يا به يې له وطن نه شړئ، او که نه نو مونږ ټول درځو تر څو ستاسو ټول جنګيالي ووژنو، او د ښځو عزت او حرمت موتر پښو لاندې کړو.[1] د ليک له رسيدو سره سم عبدالله بن ابي د خپلو مشرکينو وروښو د امر د تنفيذ او پلي کولو پخاطر متې راونغښتلې. دده زړه له مخکې نه رسول الله(صلى الله عليه و اله وصحبه وسلم) ته ډک ؤ ځکه ګومان يې کاوه چې رسول الله(صلى الله عليه و اله وصحبه وسلم) يې پاچايي ورخرابه کړه. عبدالرحمن بن کعب وايي: کله چې عبدالله بن ابي او ورسره مشرکو ملګرو ته يې د قريشو دا خبر ورسيد، نو له رسول الله(صلى الله عليه و اله وصحبه وسلم) سره د جګړې لپاره راټول شول، خو کله چې رسول الله(صلى الله عليه و اله وصحبه وسلم) له

---

[1]. ابو داوٗد باب خبر النضير

موضوع نه خبر شو، ورغی او ويې فرمايل: (**لقد بلغ وعيد قريش منكم المبالغ، ما كانت تكيدكم بأكثر ما تريدون أن تكيدوا به أنفسكم، تريدون أن تقاتلوا أبناءكم وإخوانكم**).د قريشو اخطار او تهديد پر تاسې ډيره ژوره اغيزه کړيده، خو تاسې پخپله خپل ځانونه دومره زيانمن کوئ چې قريش درته دومره لوی زيان او ضرر نه شي رسولی، آيا تاسې غواړئ له خپلو زامنو او وروڼو سره جګړه وکړئ؟! مشرکينو چې د رسول الله(صلى الله عليه و اله وصحبه وسلم) دا خبرې واوريدې، نو بيرته سره خواره شول.[1]

پدې سره عبدالله بن ابي د جنګ اراده پريښوده، ځکه ويې ليدل چې ملګري يې وترييدل او يا دا چې په خبره پوه شول او سد يې سر ته راغی. خو دا ښکاره وه چې نومورې له قريشو سره سر خوځاوه، او کله به يې چې مناسب فرصت ومونډ، نو د مسلمانانو او مشرکانو تر منځ به يې د شر او فتنې اور بلاوه. له ده سره د يهودو همکاري هم وه، خو رسول الله(صلى الله عليه و اله وصحبه وسلم) به تل د دوی د شر او فتنې په اور د خپل حکمت يخې اوبه اچولې او فساد به يې سر اوچتولو ته نه پريښوده.[2]

د مسلمانانو په مخ د مسجد حرام د دروازې ترڅو اعلان

څه وخت وروسته سعد بن معاذ (رضي الله عنه) د عمرې ادا کولو پخاطر مکې ته لاړ. هلته د اميه بن خلف ميلمه شو او اميه ته يې وويل: داسې مناسب او د فرصت وخت راته ګوره چې طواف وکړم. هغه غرمې ته نژدې وخت کې حرم شريف ته بوته، هلته ابو جهل ورسره مخامخ شو او اميه ته يې وويل: ابو صفوانه ! دا څوک دی ؟ اميه ورته وويل: دا سعد دی. ابو جهل ورته وويل: ته ګوره دلته مکه کې په امن او آرام ىسره طواف کوې، خو هلته مدينه کې مو زمونږ بې دينانو ته پناه ورکړيده او دا مو هم پتيلې ده چې د دوی مرسته او مدد به کوئ، قسم په خدای که ته له ابو صفوان سره نه وای، نو بيرته به ژوندی نه وای رانه تللی! سعد په لوړ آواز ځواب ورکړ ورته ويې ويل: قسم په خدای که ته ما لدينه (طواف) منع کړې، زه به دې له هغه څه نه منع کړم

---

[1]. نفس المصدر

[2]. صحيح البخاري۲/ ۲۵۵، ۲۵۲، ۹۱۲، ۹۲۴ وګوره.

چې تا ته له دينه ډير سخت او دروند دی، يعنی له مدينې نه تيره شوې ستاسې (تجارتي) لار به ستاسې په مخ بنده کړم.[1]

مهاجرينو ته د قريشو ګوابښ

بيا قريشو مسلمانانو ته داسې اخطار او تهديد وليږه: ګورئ پدې غره نه شئ چې مدينې ته رانه ولاړئ، مونږ در پسې درځو، او هملته مو تس، نس کوو.[2] دا هسې لفظي تهديد او اخطار نه وۀ. رسول الله(صلى الله عليه و اله وصحبه وسلم) د قريشو له فتنو او فاسدو ارادو نه ښه خبر وۀ، نو ځکه به يې ټوله شپه په رښو سترګو تيروله او يا به د اصحابو (رضي الله عنهم) تر پيرې لاندې ويده کيده. مسلم له عائشې (رضي الله عنها) نه روايت کوي وايي: رسول الله(صلى الله عليه و اله وصحبه وسلم) مدينې ته له راتګ نه وروسته يوه شپه همداسې ويښ ناست وۀ، او ويې فرمايل: (**ليت رجلاً صالحاً من أصحابي يحرسني الليلة**)، **قالت: فبينما نحن كذلك سمعنا خشخشة سلاح، فقال:** (**من هذا ؟**) **قال: سعد بن أبي وقاص، فقال له رسول الله صلى الله عليه وسلم:** (**ما جاء بك؟**) **فقال: وقع في نفسي خوف على رسول الله صلى الله عليه وسلم، فجئت أحرسه، فدعا له رسول الله صلى الله عليه وسلم، ثم نام.** کاشکې له اصحابو نه مې يوه صالح سړي نن شپه پيره راباندې کړې واى. عائشه وايي: مونږ په همدې حالت کې وو چې د وسلې کړپ کړوپ مو واورید ، رسول الله(صلى الله عليه و اله وصحبه وسلم) وفرمايل: څوک دي؟ هغه وويل: سعد بن ابي وقاص يم، نو رسول الله(صلى الله عليه و اله وصحبه وسلم) ورته وويل: ولې راغلی يې؟ ده وويل: هسې په زړه کې مې د رسول الله(صلى الله عليه و اله وصحبه وسلم) په هکله ويره را پيدا شوه، نو راغلم چې پيره ورباندې وکړم. بيا رسول الله(صلى الله عليه و اله وصحبه وسلم) دعا ورته وکړه او ويده شو.[3]

دا پيره او بيداري د کومې يوې دوو شپو خبره نه وه، بلکه د رسول الله(صلى الله عليه و اله وصحبه وسلم) همدا حال وۀ. له عائشې نه روايت دی فرمايي: په رسول الله(صلى الله عليه و اله وصحبه وسلم) باندې به د شپې پيره کيدله تر څو دا آيت را نازل شو:

---

(1) صحيح بخاري كتاب المغازي ۵۲۳/۲

(2).رحمة للعالمين ۱۱۲/۱

(3).مسلم باب فضل سعد بن ابي وقاص ۲۸۰/۲ . البخاري ۴۰۴/۱

((وَاللَّهُ يَعْصِمُكَ مِنْ النَّاسِ)) (المائدة:٦٧) [الله تعالی تا له خلکو نه ساتي.]
نو رسول الله(صلی الله علیه و اله وصحبه وسلم) خپل مبارک سر له قبې نه را ویوست او ویې فرمایل: (**يا أيها الناس، انصرفوا عني فقد عصمني الله عز وجل**). اې خلکو! ورځۍ لاړ شئ الله تعالی زما حفاظت کوي.[1]
داسې هم نه وه چې دا خطر یوازې رسول الله(صلی الله علیه و اله وصحبه وسلم) ته متوجه وۀ، بلکه ټول مسلمانان تر ویرې او خطر لاندې وو. ابي بن کعب روایت کوي وایي: کله چې رسول الله(صلی الله علیه و اله وصحبه وسلم) او اصحاب یې مدینې ته راغلل، انصارو پناه ورکړه، ټول عرب د دوی په خلاف سره یو موټی شول، نو مسلمانان به د شپې او ورځې له مخې بې وسلې نه ګرزیدل.

مسلمانانو ته د جنګ اجازه

پدې حساسو او خطرناکو حالاتو کې چې د مسلمانانو وجود تر خطر لاندې وۀ، او داسې ښکاریده چې قریش په سد نه راځي، او په هیڅ قیمت هم خپل کبر او ظلم نه پریږدي. په همدې وخت کې الله تعالی مسلمانانو ته د جنګ اجازه ورکوي، خو دا جنګ وربانديې فرض کوي نه بلکه ورته فرمایي: ((**أُذِنَ لِلَّذِينَ يُقَاتَلُونَ بِأَنَّهُمْ ظُلِمُوا وَإِنَّ اللَّهَ عَلَى نَصْرِهِمْ لَقَدِيرٌ**)) (الحج: ٣٩). [حکم ورکړی شویدی (د قتال) هغو کسانو ته چې قتال ورسره کاوه شي (د کفارو له خوا) پدې سبب چې بیشکه په دوی ظلم شویدی، او بیشکه چې الله په مرسته د دوی ښه قادر دی.]
دا آیت له هغو آیاتونو سره رانازل شو چې مسلمانان یې پدې پوهول چې ددې اجازی هدف جنګ د جنګ پخاطر نه بلکه ددې اصلي هدف دا دی چې باطل له مینځه یووړل شي او د الله احکام او شعائر په ځای شي. الله فرمایې: ((**الَّذِينَ إِنْ مَكَّنَّاهُمْ فِي الأَرْضِ أَقَامُوا الصَّلاةَ وَآتَوْا الزَّكَاةَ وَأَمَرُوا بِالْمَعْرُوفِ وَنَهَوْا عَنْ الْمُنْكَرِ وَلِلَّهِ عَاقِبَةُ الأُمُورِ**)). (الحج: ٤١) [دغه مهاجر مظلومان، هغه کسان دي چې که چیرې قدرت ورکړو مونږ دوی ته په ځمکه کې (په ډېمن باندې دغلبې په اعتبار) نو قائموي دوی (سم ادا کوي له سره له ټولو حقوقو) لمونځ او ورکوي به زکات، او امر (حکم) به کوي

[1]. جامع الترمذي ابواب التفسير ٢/ ١٣٠

(خلکو ته) په معروف (نيک شرعي کار) سره او منع کوي به (خلک) له بد کار څخه او د کارونو پايله له الله سره ده.]

سيي خبره دا ده چې د جنګ دا اجازه له هجرت نه وروسته په مدينه کې نازله شويده، خو دا مو و نه شوای کړی چې د نزول معين او دقيق تاريخ يې وټاکو.

د جنګ اجازه خو وشوه، خو پداسې حالاتو کې چې د قريشو زور او زياتۍ ښه په جوش کې وٴ د حکمت تقاضا دا وه چې مسلمانان د مکې او شام تر مينځ د قريشو تجارتي لارې تر خپلې ولکې لاندې راولي. رسول الله(صلى الله عليه و اله وصحبه وسلم) ددې هدف د تحقق لپاره دوې لارې غوره کړې:

١- د مکې او شام تر مينځ د لارې په سر او يا ددې لارې او مدينې تر مينځ پرتو قبيلو سره د همکارۍ او يا يو پر بل د عدم تجاوز او نه تيري تړونونه ترسره کول. مخکې مو له يهودو سره د رسول الله(صلى الله عليه و اله وصحبه وسلم) له معاهدې نه يادونه وکړه. له وسلې والې مبارزې نه مخکې همدې ته ورته يو تړون له جهينه قبيلې سره هم شوی وٴ. ددې قبيلې مېنى له مدينې نه د دريو مزلونو يا تقريبا ۴۰- ۵۰ ميله په مسافه کې پرتې وي. همدا راز رسول الله(صلى الله عليه و اله وصحبه وسلم) له نورو قبايلو سره هم د خپلو عسکري عملياتو په وخت کې تړونونه لاسليک کړيدي چې په راتلونکې کې به ورنه يادونه وکړو.

٢- دی لارې نه د ګزمې او ګشتي ګروپونو استول. ددې تفصيل به په راتلونکو پاڼو کې راشي:

له بدر نه مخکې سريې او غزا ګانې[1]

د جنګ د اجازې له نزول نه وروسته مسلمانانو د پورته يادو شوو دواړو پلانونو د تطبيق پخاطر عملاً په عسکري تحرکاتو لاس پورې کړ.

شا و خوا ته به يې د کشف او ګزمې ګروپونه استول تر څو له يوې خوا د مدينې تر څنګ له پرتو برخو نه مکې ته غزيدلې لارې ځانته معلومې کړي، او له بلې خوا دلته له پرتو قبايلو سره د همکارۍ تړونونه لاسليک کړي او د مدينې مشرکينو، يهودانو او نورو اعرابو (کوچيانو) ته دا وښيي، چې نور مسلمانان د پخوا په شان کمزوري ندي

---

[1]. مؤرخين هغې پوځي اقدام ته چې پخپله رسول الله (صلى الله عليه وسلم) پکې وتلی دی، جګړه يې کړې ده که نه غزوه وايي، او په کومو عملياتو کې يې چې پخپله ګډون ندی کړی کوم بل قوماندان يې استولی وي هغې ته سر يه وايي.

بلکه اوس د قوي ځواک او زيات قدرت خاوندان ګرزيدلي.
ددې عسکري تحرکاتو بل هدف دا هم ؤ چې قريش وويروي، سد يې سر ته راولي ترڅو د کبر او غرور له نيلي نه راکوز شي، او د خپل اقتصاد او مهمو ژوندينو لارو په هکله د خطر احساس وکړي او د سولې لاره غوره کړي، له مسلمانانو سره د جنګ اراده پريږدي، د الله په لاره کې نور خنډونه را پيدا نکړي، په مکه کې د مسلمانانو له تعذيب او ځورولو نه لاس واخلي او مسلمانان پريږدي په پوره آزادۍ سره په عربي جزيره کې د الله پيغام خپور کړي.

راځئ اوس په لنډه توګه لدې سرايا وو نه يادونه وکړو:

۱- د سيف البحر سريه: د هجرت د لومړي کال د رمضان په مياشت کې چې د (۶۲۳م) کال د مارچ له مياشتې سره سمون خوري، رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) د مهاجرينو يو ديرش کسيز ګروپ چې مشري يې د حمزه (رضي الله عنه) په غاړه وه، پدې وګومارله چې د قريشو د هغې دری سوه کسيزې قافلې مخه ونيسي کومه چې ابو جهل هم پکې ؤ او له شام نه را روانه وه. مسلمانان چې کله د عيص[1] له خوا د سيف البحر منطقې ته ورسيدل او هملته له مشرکينو سره مخامخ شول. دواړو طرفونو د جنګ تياري ونيوله، خو مجدي بن عمرو الجهني چې له دواړو لوريو يعنې مسلمانانو او مشرکينو سره يې ټرون درلود راغی، منځګړيتوب يې وکړ او هغوی يې له جنګ نه واړول.
د حمزه (رضي الله عنه) بيرغ لومړنی بيرغ ؤ چې رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) پورته کړ يا يې وتاړه، رنګ يې سپين او وړونکی يې ابو مرثد کناز بن حصين الغنوي(رضي الله عنه) ؤ.

۲- د رابغ سريه: د هجرت د لومړي کال د شوال په مياشت کې چې د ۶۲۳م کال د اپريل له مياشتې سره سمون خوري، رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) د عبيده بن الحارث بن المطلب (رضي الله عنه) په مشرۍ د مهاجرينو يو شپيته کسيزه ګروپ تيار کړ او ويې لېږه. دا ګروپ د ابو سفيان په مشرۍ د قريشو له دوه سوه کسيز کاروان سره د رابغ په سيمه کې مخامخ شو، په يو بل يې غشي و ورول، خو لاس په

[1]. عيص: دع په زبر سره د ينبع او مروه چې له سرې بحيری سره واقع دی په مينځ کې د يوې سيمې نوم دی.

لاس جګړه ونه شوه. پدې سريه کې د مشرکينو له لښکر نه دوه کسه مقداد بن عمرو البهراني او عتبه بن غزوان المازني له مسلمانانو سره يو ځای شول. دوی دواړه له مخکې نه په اسلام مشرف شوي وو او له مشرکينو سره پدې خاطر راوتلي وو، تر څو ځانونه مسلمانانو ته ور رسولی شي. د عبيده بيرغ سپين او وړونکی يې مسطح بن اثاثه بن المطلب بن عبد مناف وٴ.

۳- د خرار سريه [۱]: د لومړي هجري کال د ذي القعدې په مياشت کې چې د ۶۲۳م کال د مې له مياشتې سره سمون خوري رسول الله (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) د سعد بن ابي وقاص تر مشرۍ لاندې د سپرو يوه شل کسيز ګروپ ته امر وکړ چې د قريشو د کاروان مخې ته ورشي، خو دا يې ورته وويل چې د خرار له سيمې نه به اخوا نه تيريږي. دوی پياده حرکت وکړ، د شپې يې مزل کاوه او د ورځې به چيرته غلي کيدل تر څو د پنځمې ورځ په سهار خرار ته ورسيدل. او هلته خبر شول چې کاروان پرون لدې سيمې نه تير شويدی.د سعد (رضي الله عنه) بيرغ سپين او علمبردار يې مقداد بن عمرو وٴ.

۴- د ابواء يا ودان غزا:[۲] د دويم هجري کال د صفر په مياشت کې چې د۶۲۳م کال د اګست له مياشتې سره سمون خوري، رسول الله (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) پخپله له او يا کسو مهاجرينو سره ووت. سعد بن عباده يې په مدينه کې خليفه وټاکه. رسول الله (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) غوښتل د قريشو د کاروان مخه ونيسي، مخکې تر ودان پورې ورسيد ، خو له کوم خطر سره مخامخ نه شو. پدې غزا کې يې د بني ضمره له رئيس عمرو بن مخشي الضمري سره د تعاون ټرون وکړ ددې ټرون متن دا دی: (**هذا كتاب من محمد رسول الله لبني ضمره، فإنهم آمنون على أموالهم وأنفسهم، وإن لهم النصر على من رامهم إلا أن يحاربوا دين الله ن ما بل بحر صوفة وأن النبي إذا دعاهم لنصره أجابوه**).

[دا بني ضمره ته د رسول الله (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) ليک دی، د دوی

---

[۱]. خرار – دخ په زور او د را په تشديد له جعفی سره نژدې د يوه ځای نوم دی

[۲]. ودان – د واو په زور او د دال په تشديد سره ويل کيږي دا د مکې او مدينې ترمنځ د يوې سيمې نوم دی، ددې ځای او رابغ ترمنځ (۲۹) ميله مسافه ده . او ابواء د ودان تر خوا يوه بله منطقه ده .

سرونه او مالونه په امن دي که چا ورباندې حمله وکړه، نو مرسته به يې کيږي، خو که هغوی د الله د دين په خلاف جګړه وکړي نو بيا ورسره کومک او مرسته نشته.] (دا معاهده) تر هغه وخته د اعتبار وړ ده تر څو د سمندر اوبه وجود لري. يعنی د هميشه لپاره معتبره ګڼلی شي. او هر کله چې رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) له دوی نه مرسته وغواړي، نو دوی به يې مرستې ته ور دانګي[1]. دا د رسول (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) لومړنی غزا وه، ده مبارک (۱۵) ورځې له مدينې نه د باندې تيرې کړې، بيرغ يې سپين او وړونکی يې حمزه بن عبدالمطلب (رضي الله عنه) وۀ.

۵- د بواط غزا: د دويم هجري کال د ربيع الاول په مياشت کې چې د ۶۲۳م کال د سپتمبر له مياشتې سره سمون خوري رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) له دوه سوه اصحابو (رضي الله عنهم) سره د قريشو د کاروان مخې ته ورغی. پدې کاروان کې اميه بن خلف الجمحي، او د قريشو سل نور کسان او دوه زره پنځه سوه اوښان وۀ. رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) مخکې لاړ تر څو د رضوی له طرفه بواط ته ورسيد، خو له څه واقعې سره مخامخ نه شو. رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) په دې غزا کې سعد بن معاذ (رضي الله عنه) په مدينه کې خپل خليفه ټاکلی وۀ. ددې غزا بيرغ سپين او وړونکی يې سعد بن ابي وقاص (رضي الله عنه) وۀ. (بواط او رضوی د جهينه د غرونو د لړۍ دوه فرعي غرونه دي چې له مکې نه د شام د لارې پر غاړه پراته دي او له مدينې نه ۴۸ ميله مسافه لري.)

۶- د سفوان غزا: د دويم هجري کال د ربيع الاول په مياشت کې چې د ۶۲۳م کال له سپتمبر سره سمون خوري، د جابر الفهري زوی کرز له يو شمير مشرکانو سره د مدينې په څړ ځايونو يا ورشو حمله وکړه او څه شمير څاروي يې بوتلل. رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) له اويا کسه اصحابو (رضي الله عنه) سره ورپسې ووت او د بدر له طرفه د سفوان سيمې ته ورسيد. خو کرز يې له لاسه وتلی وۀ او بيرته بې جګړې راستون شو. دا غزا د بدر د لومړنۍ غزا په نامه يادېږي.دا ځل يې زيد بن حارثه (رضي الله عنه) په مدينه کې خليفه وټاکه، بيرغ يې سپين او وړونکی يې علي

[1]. المواهب اللدنية ۱/۷۵ و شرحه للزرقاني.

بن ابي طالب (رضي الله عنه) وٴ.

۷- د ذي العشيرة[5] غزا: د هجرت د دويم کال د جمادي الاولی او جمادي الاخر په مياشت کې چې د ۶۲۳م کال له نومبر او ديسمبر سره سمون خوري، رسول الله (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) له (۱۵۰) يا (۲۰۰) کسو مهاجرينو سره ووت. هيڅوک يې‌له ځان سره په زور نه وٴ بوولي، ټول په خپله رضا او خوښه روان شول. له دوی سره يوازې ديرش اوښان وٴ چې په نوبت به ورباندې سپريدل. هدف يې د هغې کاروان نيول وٴ چې له مکې نه شام ته روان وٴ. داسې خبر راغلی وٴ د قريشو په خاص او قيمتي مالونو بار کاروان له مکې نه روان شويدی، نو رسول الله (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) مخکې لاړ تر څو د ذي العشيرې سيمې ته ورسيد، هلته خبر شو چې کاروان څو ورځې مخکې تير شويدی. او دا همغه کاروان دی چې له شام نه د بيرته ستنيدو په وخت کې يې رسول الله (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) بيا مخې ته ورغلی وٴ کاروان نجات وموند خو د بدر لويه غزا پيښه شوه.

د ابن اسحاق په خوله دا ځل رسول الله (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) د جمادي الاولی په وروستيو کې وتلی او د جمادي الاخر په لومړيو ورځو کې بيرته راستون شوی وٴ.کيداې شي همدا د مورخينو تر مينځ د دې غزا د نيټې په هکله د اختلاف سبب وي.پدې غزا کې رسول الله (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) له بني مدلج او د دوی له حليفانو سره د عدم تجاوز تړون هم لاس ليک کړ.ابو سلمه بن عبدالاسد المخزومي يې په مدينه کې خپل خليفه پرې ايښی وٴ، بيرغ سپين او وړونکی يې حمزه بن عبدالمطلب (رضي الله عنه) وٴ.

۸- د نخله سريه: د دوهم هجري کال د رجب په مياشت کې چې د ۶۲۴م کال د جنوري له مياشتې سره سمون خوري رسول الله (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) د عبدالله بن جحش اسدي تر مشرۍ لاندې د مهاجرينو يو دوولس کسيز ګروپ د نخلې سيمې ته واستاوه. له دوی سره شپږ اوښان وو چې په نوبت به ورباندې سپريدل.

رسول الله (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) د ګروپ قوماندان ته يو خط ليکلی وٴ او امر يې ورته کړی وٴ چې ليک به له دوو ورځو مزل نه وروسته ګوري. عبدالله دوه

---

[5]. ذي العشيرة په تصغير سره، ځينو يې نوم العشيراء او العسيرة هم بللی دی چې د ينبع خواته د يوی سيمې نوم دی.

ورځې مزل وکړ بیایې لیک ولوست چې داسې پکې لیکل شوي وۀ: (**إذا نظرت في كتابي هذا فامض حتى تنزل نخلة بين مكة والطائف، فترصد بها عير قريش وتعلم لنا من أخبارهم**). [کله دې چې زما دا لیک ولوست، نو مخکې لاړ شه د مکې او طائف تر مینځ پرتې نخلې سیمې کې واړوه، هلته د کاروان لاره څاره او مونږ ته خبر راکوه].

خط یې چې ولوست ویې ویل: امر په سترګو قبول دی، خپل ملګري یې خبر کړل، خو دا یې ورته وویل: چې زه تاسې نه مجبوروم، څوک که شهادت غواړي نو راسره ځي دي او که د چا مرګ نه وي خوښ، نو بیرته دی وګرځي، زه به ځم. ملګري یې ورسره موافق شول، ټول وخوځیدل، د لارې په اوږدو کې سعد بن ابي وقاص او ملګري یې عتبه بن غزوان خپل اوښ ورک کړ چې په لټه کې یې له ګروپ نه پاتې شول.

عبدالله بن جحش مخکې لاړ او نخلې ته ورسید، چې ګوري د قریشو یو کاروان چې ممیز، څرمـنې او نور تجارتي سامان یې نقلاوه لدې ځای نه تیریږي. له کاروان سره عمرو بن الحضرمي، د عبدالله بن المغیره دوه زامن، عثمان او نوفل او د بني مغیره مولی (غلام) حکم بن کیسان یې ملګري وو. مسلمانانو په خپل مینځ کې سلا او مشوره وکړه چې څه باید وکړو نن د رجب وروستۍ شپه ده، که اوس ورسره جنګیږو، نو د شهر حرام بې حرمتي کیږي او که یې نن پریږدو، نو بیا د حرم حدودو ته داخلیږي! بالاخره فیصله پدې وشوه چې همدا نن مقابله ورسره وکړي او له دوی نه کوم یوه عمرو بن الحضرمي وویشت او مړ یې کړ، عثمان او حکم یې اسیران کړل، نوفل ورنه وتښتید. بیایې کاروان له اسیرانو سره یو ځای مدینې ته راوست، لدې مال نه یې خمس بیل کړ دا په اسلام کې لومړنی خمس او لومړنی مړی او لومړني اسیران وو.

رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) د دوی دا کار وغانده، او ورته ویې فرمایل: (**ما أمرتكم بقتال في الشهر الحرام**) [ما خو په شهر حرام کې د قتال امر او اجازه نه وه درکړې.] د کاروان او اسیرانو په هکله یې خپله فیصله محفوظه وساتله، او فعلاً یې هر ډول تصرف پکې متوقف کړ.

پدې پیښې سره مشرکینو ته فرصت په لاس ورغی چې د مسلمانانو په خلاف خپل زهرجن تبلیغات لا پسې زیات کړي. هغوی دا پروپاګند شروع کړ چې مسلمانان د شهر حرام احترام نه ساتي، او د الله تعالی له خوا حرام شوي شیان حلال ګرزوي. پدې هکله یې ډیر څه ویل، تر څو د قرآن کریم آیتونه نازل شول او دا مسئله یې حل کړه، په ډاګه یې کړه چې د مسلمانانو ددې کار په انډول د مشرکینو جرم او ګناه ډیره لویه ده...

((يَسْأَلُونَكَ عَنْ الشَّهْرِ الْحَرَامِ قِتَالٍ فِيهِ قُلْ قِتَالٌ فِيهِ كَبِيرٌ وَصَدٌّ عَنْ سَبِيلِ اللَّهِ وَكُفْرٌ بِهِ وَالْمَسْجِدِ الْحَرَامِ وَإِخْرَاجُ أَهْلِهِ مِنْهُ أَكْبَرُ عِنْدَ اللَّهِ وَالْفِتْنَةُ أَكْبَرُ مِنْ الْقَتْلِ...)) (البقرة: ۲۱۷). [پوښتنه کوي خلک له تا نه (اې محمده) له میاشتې حرامې څخه له جنګ کولو پدې کې (چې روا دی که ناروا؟) ووایه (اې محمده) دغه (سائلینو ته) چې جنګ کول پدې (اشهر الحرام) کې (عمدا) لویه ګناه ده، او منع کول له لارې (دین) د الله څخه او کافر کیدل په الله او (منع کول له) مسجد حرام او ایستل د اهل د مسجد حرام له ده څخه (ګناه) ډیره لویه ده په نزد د الله (له قتاله په اشهر الحرام کې) او فتنه (له دین څخه د خلکو ایستل) ډیر لویه (ګناه) ده له جنګ څخه.]

قرآنکریم پدې سره دا په ډاګه کړه چې د مسلمانو جنګیالیو د سیرت او اخلاقو په هکله چې مشرکینو دا نارې سورې په کار اچولې دي ټولې بې ځایه او بې بنیاده دي، ځکه قریشو له اسلام سره په دښمنۍ او پر مسلمانانو باندې په ظلم زیاتي سره ټول حرمتونه تر پښو لاندې کړیدي. آیا قریشو له هجرت نه وروسته د مسلمانانو د مالونو د ضبط او غصب، او د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) د قتل او وژلو فیصله په همدې حرم (مکه) کې نه وه کړې؟ اوس څه وشول چې د دوی له خوا تر پښو لاندې شوی حرمت بیرته را پیدا شو او څه وشول چې اوس ددې شیانو د حرمت ماتول د شرم او عیب خبره وګرزیده؟ بې شکه د مشرکانو له خوا د ناروا او بې بنیاده پرو پاګند د دوی د بې شرمۍ او بې حیایۍ یوه نمونه ده. لدینه وروسته رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) دواړه اسیران خوشې کړل، او د وژل شوي کس خپلوانو ته یې د هغه دیت ورکړ.[1]

دا وې له بدر نه مخکې پیښې شوې غزا ګانې او سریې، پدې ټولو کې تر هغې د مالونو لوټ او د خلکو وژلو ته خبره نه وه رسیدلې، تر څو پورې چې مشرکینو د کرز بن جابر فهري تر مشرۍ لاندې د مسلمانانو څاروي نه وو لوټ کړي. بناءً ددې شروع هم د مشرکینو له خوا شوې ده، دا خو پریږده چې لدینه مخکې یې څه کړي وۀ. د عبدالله بن جحش له سریې نه وروسته د مشرکینو په زړه کې ریښتینې ویرې ځای ونیو، لوی خطر یې سترګو ته ودرید، او د څه ویره یې چې درلوده همغه وشول. او پدې

---

[1]. ددې غزاګانو او سریاوو تفصیلات مو لدې کتابونو اخیستې دي: زاد المعاد ۸۳/۲. ۸۴. ۸۵ ابن هشام / ۵۶۱ تر ۶۰۵، رحمة للعالمین ۱۱۵/۱، ۱۱۶، ۲۱۵/۲، ۲۱۶، ۴۶۹، ۴۷۰. دا مراجع د غزواتو او سریاوو د ترتیب او ګډون کوونکو د شمیرې په هکله اختلاف لري خو مونږ د ابن قیم او علامه منصور پوري په تحقیق تکیه کړیده.

باوري شول چې د مدينې قيادت ويښ، او با حکمته قيادت دی، د دوی ټول تجارتي حرکات يې تر کلکې څارنې لاندې نيولي. اوس مسلمانان ددې توان لري چې ان دری سوه ميله مخکې لاړ شي، او بيا هلته مشرکان ووژني يا يې اسيران کړي او مالونه يې له ځان سره يوسي او پخپله روغ رمټ مدينې ته ستانه شي. مشرکين پدې پوه شول چې نور شام ته د دوی تجارت تر دايمي خطر لاندې دی، خو لدې ټولو سره سره هغوی خپله د کبر او حماقت لاره نه پريښوده، او په ځاې ددې چې د بنې ضمره او جهينه په شان د سولې او اخلاص لاره ونيسي، کينه او دښمني يې نوره هم په ځوښ راغله. مشران يې د خپلو تهديدونو او اخطارونو د پلي کولو لپاره ميدان ته راوړاندې شول، او اراده يې وکړه چې د مسلمانانو پر وطن حمله وکړي او هملته خپل وطن کې يې تصفيه کړي. د مسلمانانو وينو ته د دوی همدا تنده وه چې هغوی يې د بدر تر ميدانه را ورسول.

د عبدالله بن جحش له سريې وروسته يعنې د دويم هجري کال د شعبان په مياشت کې په مسلمانانو باندې جنګ او قتال فرض شو، او پدې هکله دا څرګند آيتونه را نازل شول: ((وَقَاتِلُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ الَّذِينَ يُقَاتِلُونَكُمْ وَلا تَعْتَدُوا إِنَّ اللَّهَ لا يُحِبُّ الْمُعْتَدِينَ (١٩٠) وَاقْتُلُوهُمْ حَيْثُ ثَقِفْتُمُوهُمْ وَأَخْرِجُوهُمْ مِنْ حَيْثُ أَخْرَجُوكُمْ وَالْفِتْنَةُ أَشَدُّ مِنْ الْقَتْلِ وَلا تُقَاتِلُوهُمْ عِنْدَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ حَتَّى يُقَاتِلُوكُمْ فِيهِ فَإِنْ قَاتَلُوكُمْ فَاقْتُلُوهُمْ كَذَلِكَ جَزَاءُ الْكَافِرِينَ (١٩١) فَإِنْ انتَهَوْا فَإِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَحِيمٌ (١٩٢) وَقَاتِلُوهُمْ حَتَّى لا تَكُونَ فِتْنَةٌ وَيَكُونَ الدِّينُ لِلَّهِ فَإِنْ انتَهَوْا فَلا عُدْوَانَ إِلاَّ عَلَى الظَّالِمِينَ)). (البقرة: ١٩٠ – ١٩٣)

ترجمه: [او جنګ کوئ (اې مؤمنانو) په لاره دالله کې له هغو کسانو سره چې جنګ کوي له تاسې سره، او مه کوئ زيادت (پر هيچا باندې) بيشکه چې الله نه خوښوي تيريدونکي له حده. او وژنئ دوی په هر ځاې کې چې مومئ دوی او وباسئ دوی له هغه ځايه چې ايستلي وئ دوی تاسې او فتنه (شرک او له دين ځنې اړول) ډير سخت دي له وژلو څخه. او جنګ مه کوئ له دوی سره په نزد د مسجد الحرام کې تر هغه پورې چې وجنګيږي دوی له تاسې سره په دغه (حرم) کې پس که جنګ وکړي دوی له تاسې سره نو وژنئ دوی هم داسې. (لکه تيري شوې جزا) جزا ده د کافرانو. پس که منع راوړي (له شرکه نو الله به يې وبښي) نو بيشکه الله ډير بښونکی پوره رحم لرونکی دی.

او جنګ کوئ تاسې له دوی سره تر هغه پورې چې پاتې نشي فتنه (شرک او فساد) او شي دین (حکم) خاص الله لره، پس که چیرې وګرځیدل (دوی له شرکه نو تاسې تجاوز مه کوئ پر دوی باندې) نو نشته هیڅ تیرې مګر (خو شته جزا د ظلم) پر ظالمانو باندې.]

پدې پسې لږ وخت وروسته الله تعالی بل ډول آیتونه نازل کړل چې په هغې کې یې د جنګ طریقه ښوولې او مسلمانان یې د جنګ لور ته هڅول او پدې هکله یې څه احکام ورته بیانول هغه مبارک آیتونه دا دي: ((فَإِذا لَقِيتُمْ الَّذِينَ كَفَرُوا فَضَرْبَ الرِّقَابِ حَتَّى إِذَا أَثْخَنتُمُوهُمْ فَشُدُّوا الْوَثَاقَ فَإِمَّا مَنّاً بَعْدُ وَإِمَّا فِدَاءً حَتَّى تَضَعَ الْحَرْبُ أَوْزَارَهَا ذَلِكَ وَلَوْ يَشَاءُ اللَّهُ لانتَصَرَ مِنْهُمْ وَلَكِنْ لِيَبْلُوَ بَعْضَكُمْ بِبَعْضٍ وَالَّذِينَ قُتِلُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ فَلَنْ يُضِلَّ أَعْمَالَهُمْ * سَيَهْدِيهِمْ وَيُصْلِحُ بَالَهُمْ * وَيُدْخِلُهُمْ الْجَنَّةَ عَرَّفَهَا لَهُمْ * يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِنْ تَنصُرُوا اللَّهَ يَنصُرْكُمْ وَيُثَبِّتْ أَقْدَامَكُمْ)).(۱) (محمد: ٤ – ۷)

ترجمه: [نو کله چې مخامخ شوئ (په جنګ کې) له (هغو کسانو) سره چې کافران شویدي نو ووهئ وهل د ورمیږونو (د هغو) تر هغه پورې چې ښه ډیر مو ووژل دوی او پرې غالب شوئ نو (وترئ دوی) بیا سخت محکم کړی ترڼل (د دوی چې ورڅخه خلاص نشي) پس بیا احسان ورسره وکړئ احسان کول وروسته (له بندي کولو او ترڼلو نه یې) او یا تاسې فدیه کړئ دوی فدیه کول (په عوض کې یې مال واخلي یا مسلمانان بندیان را خلاص کړئ) (جنګ) ورسره کوئ) تر هغه پورې چې کیږدي (جنګیالیان د) جنګ وسلې خپلې دغه (حکم الله په دوی کې) دی او که اراده فرمایلی وی الله (د بدل اخیستلو) نوخوا مخواه به بدل اخیستی وٴ الله له دوی څخه (بې له جنګه) او لیکن (امر یې درته وکړ په جهاد له دوی سره) لپاره ددې چې ازموینه وکړي الله د ځینو ستاسو په ځینو نورو (په جنګ کې) او هغه کسان چې وژلی شویدي په لیار د الله کې پس له سره به ضایع نکړي (الله) عملونه د دوی ژر به سمه لیاره وښییي دوی ته (الله په دنیا او آخرت کې) او ښه به کړي حال د دوی (په دارینو کې) او داخل به کړي (الله) دوی په جنت کې چې معلوم کړیدی (الله) دغه (جنت) دوی ته. اې هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی (یعنی اې مؤمنانو) که مددګاري وکړئ تاسی (له دین (الله او رسول) د الله سره نو مدد به وکړي (الله) تاسې سره (په غلبه پر (دښمن) او ثابت به کړي قدمونه ستاسې (په

---

(1). استاذ سید ابو الاعلی مودودي له مـدلـلې څېړنې وروسته وایي چې د محمد سورت د بدر له غزا وروسته نازل شویدی.تفهیم القرآن ۱۱/۵-۱۲ ته مراجعه وکړه.

ځای د جنګ کې).]

پدې پسې الله تعالی د هغې خلکو مذمت وکړ او ویې غندل کوم چې د جنګ د حکم په اوریدو سره ویرې اخیستي وو، او له ډیر خوف نه یې زړونه رپیدل. الله تعالی فرمایې: ((وَيَقُولُ الَّذِينَ آمَنُوا لَوْلا نُزِّلَتْ سُورَةٌ فَإِذَا أُنزِلَتْ سُورَةٌ مُحْكَمَةٌ وَذُكِرَ فِيهَا الْقِتَالُ رَأَيْتَ الَّذِينَ فِي قُلُوبِهِمْ مَرَضٌ يَنظُرُونَ إِلَيْكَ نَظَرَ الْمَغْشِيِّ عَلَيْهِ مِنْ الْمَوْتِ فَأَوْلَى لَهُمْ)).(محمد: ۲۰) [نو پس کله چې نازل کړ شي یو سورت محکم او یاد کړی شي په هغه کې جنګ نو وینې به ته هغه کسان چې وي په زړونو د دوی کې ناروغي (د نفاق) ګوري تا ته لکه کتنه د هغه چا چې بیخودي راغلې وي پر هغه باندې له ویرې د مرګ نه، هلاکت دې وي دوی لره.]

حقیقت دادې چې د جنګ فرضیت، او جنګ ته د تیارۍ امر او دې لور ته هڅونه د هغه وخت د حالاتو او شرایطو له غوښتنې سره بالکل مطابقه او برابره خبره وه. که له حالاتو خبر او زیرک کوم قوماندان هم وای، نو هغه به هم خپل لښکر ته ددې فوق العاده او عاجلو حوادثو او حالاتو د مقابلې لپاره خپل پوځ ته د نمبر اول احضاراتو او آماده باش حکم صادراوه، نو په هر څه عالم او له هر څه لوړ خدای به ولې له حالاتو سره برابر حکم نه کاوه. دا واقعیت دی چې حالاتو د حق او باطل تر مینځ د یوې سرنوشت ټاکونکې او فیصله کونکې جګړې غوښتنه کوله. خصوصاً د عبدالله بن جحش له سریې وروسته کومه چې د مشرکینو په غیرت او حمیت لوی او ملاماتونکی ګذار وُ او کومه چې ټول مشرکان یې په سرو سکروټو کینولي وو.

د جنګ د آیتونو له سیاق او سباق نه دا څرګندیده چې نور د داسې خونړیو جګړو وخت را لنډ شویدی چې بری او برلاسي به پکې د مؤمنانو وي. ګوره الله تعالی مسلمانانو ته څه ډول حکم کوي چې مشرکان له هغه ځایه وباسئ له کوم نه یې چې تاسې ایستلې یې، بیا هغوی ته د فاتح لښکر په حیث څه ډول د اسیرانو د ټرلو، نیولو او د دښمنانو تر مکملې خاتمې پورې د جګړې کولو بنووونه کوي. دا ټول دې لوري ته اشاره وه چې وروستی بری د مسلمانانو دی. خو دا خبره یې همداسې د اشارو تر پردو لاندې پټه وساتله، تر څو هر مسلمان د الله په لار کې د خپلې جذبې عملي ښکارونه هم وکړی شي.

په همدې ورځو یعنې د دوهم هجري کال د شعبان په میاشت کې چې د ۶۲۴م میلادي کال د فبروري له میاشتې سره سمون خوري الله تعالی د بیت المقدس په ځای کعبه

شریفه د مسلمانانو قبله اعلان کړه. ددې فایده دا شوه چې هغه کمزوري او منافق یهودان چې یوازې د شر او فتنې را ولاړولو پخاطر مسلمان شوي وو، بیرته خپل حالت ته وګرزیدل، له مسلمانانو نه بیل شول او پدې سره د مسلمانانو لیکې له ډیرو غدارانو او فساد کارانونه پاکې شوې.

د قبلې بدلولو دیته هم اشاره کوله چې اوس یوه نوې داسې مرحله شروع کیدونکی ده چې پر قبله باندې د مسلمانانو تر تسلط او حاکمیت نه مخکې پاې نه مومي. ځکه دا د ډیر حیرت او تعجب خبره ده چې د کوم قوم قبله دې د هغوی د دښمنانو ترولکې لاندې وي، او که فرضاً د هغوی تر قبضې لاندې وي، نو باید حتماً د هغوی له سلطې نه آزاده کړی شي.

لدې اوامرو او اشاراتو وروسته د مسلمانانو حرکت او نشاط زیات شو، د خدای په لار کې یې د جهاد جذبې په مستۍ راغلې او له دښمن سره د پریکندې جګړې لپاره لیوال شول.

د بدر لويه غزا
د اسلام لومړنۍ پريکنده جګړه

د غزا سبب: د عشيرې په غزا کې مو وويل چې د قريشو يو کاروان چې له مکې نه شام ته روان وۀ د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) له لاسه ووت، خو کله چې همدا کاروان له شام نه بيرته راستنيده، نو رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) طلحه بن عبيدالله او سعيد بن زيد د کاروان د خبر راوړلو پخاطر د شمال لوري ته واستول. دوی تر حوراء پورې لاړل او هملته پاتې شول تر څو د ابو سفيان کاروان ورباندې تير شو، دوی په منډه ځانونه مدينې ته ورسول او رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) يې له احوال نه خبر کړ.

پدې کاروان کې د قريشو ډير مالونه وو يعنې زر اوښان چې د پنځوس زره طلايي دينارونو (دوه سوه دوه شپيته نيم کيلو سره زر) په اندازه سامان ورباندې بار وۀ، او يوازې څلويښت ساتونکي ورسره وو.

دا د مدينې د خلکو لپاره طلايي موقع وه، خو د مکې د مشرکينو لپاره لدې دومره ډير مال نه محروميدل ملاماتونکې نظامي، سياسي او اقتصادي ضربه وه. همدا وجه وه چې رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) مسلمانانو ته وفرمايل:(**هذه عير قريش فيها أموالهم، فاخرجوا إليها لعل الله ينفلكموها**). [دا د قريشو په مال او سامان بار کاروان دی، مخې ته يې ورشئ کيدای شي الله تعالى هغه تاسې ته د غنيمت په ډول درکړي.]

رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) د کاروان مخې ته ورتلل په هيڅا لازمي نکړل، ټول يې خپلې خوښې ته پريښودل، ځکه پدې وخت کې دا ګومان نه کيده چې د قافلې په ځای به د بدر په ميدان کې له مشرکينو سره يوه پريکنده جګړه صورت مومي. له همدې امله ډير اصحاب (رضي الله عنهم) په مدينه کې پاتې شول ځکه هغوی فکر کاوه چې د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) دا عمليات به له پخوانيو عملياتو سره څه توپير ونلري. او په همدې سبب له جګړې نه پاتې شويو کسانو باندې څه عتاب او ملامتيا هم نه شته.

د اسلامي لښکر شمیره او په ګروپونو ویشل

رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) د روانیدو لپاره تیار شو، (۳۱۳ یا ۳۱۴ یا ۳۱۷) کسان ورسره وو، له دې جملې نه ۸۲ یا ۸۳ یا ۸۶ مهاجرین، نور انصار چې (۶۱) له اوس او (۱۷۰) له خزرج قبیلې څخه وو. دې لښکر د جګړې څه انتظام نه وُ کړی او نه یې پوره تیاري نیولې وه، په ټول لښکر کې یوازې دوه آسان چې یو یې د زبیر بن عوام او بل یې د مقداد بن اسود کندي وُ. او د پاتې کسانو د هرو دوو یا دریو په سر یو اوښ رسیده ځکه ټول ایله اویا اوښان ورسره وو. رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) او علي او مرثد بن ابي مرثد غنوي درې واړه په یوه اوښ په نوبت سره سپریدل.

رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) لومړی د مدینې د اداري او لمانځه ادا کولو لپاره ابن ام مکتوم خپل خلیفه وټاکه، خو کله چې روحاء ته ورسید، نو ابو لبابه بن عبد المنذر یې په مدینه کې د خلیفه په حیث ور ولیږه.

د لښکر عمومي بیرغ سپین او علمبردار یې مصعب بن عمیر قرشي عبدري وُ. لښکر یې په دوو برخو یا غونډونو وویشه:

۱- د مهاجرینو غونډ چې بیرغ یې له علي (رضي الله عنه) سره وُ.

۲- د انصارو غونډ او علمبردار یې سعد بن معاذ (رضي الله عنه) وُ.

د میمنې (ښي اړخ) قوماندانی یې زبیر بن عوام، او د میسرې قوماندانی یې مقداد بن عمرو او د ساقې مشري یې قیس بن ابي صعصعه ته سپارلې وه، او د لښکر عمومي قوماندانه رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) د لښکر د عمومي قوماندان په توګه پخپل لاس کې اخیستې وه.

د بدر په لور د لښکر روانیدل

رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) له دې غیر مجهز لښکر سره روان شو، له مدینې نه ووت او مکې ته غزیدلې عمومي لاره یې ونیوه مخکې د روحاء تر کوهي پورې ورسید. او کله چې له هغه ځای نه وخوځید نو د مکې لاره یې خپلې چپې خوا ته پریښوده او ښی خواته وګرزید، نازیې ته ورسید، د بدر په لور د نازیې له یوې برخې تیر شو او د صفراء د تنګي او نازیې تر مینځ پرته رحقان نومې وادي یې ووهله بیا له تنګي تیر، او د صفراء په خوا مخکې لاړ، له هغه ځای نه یې د جهینه قبیلې دوه

کسه بسيس بن عمرو او عدي بن ابي الزغبا جهيني د کاروان په هکله د معلوماتو راټولولو پخاطر د بدر لور ته واستول.

په مکه کې د خطر اعلان

له بل پلوه د کاروان مشر ابو سفيان په ډير احتياط سره د حالاتو څارنه کوله، ځکه هغه پوهيده چې د مکې لاره له ډيرو خطرونو سره مخامخ ده، هر وخت يې په اوضاع ځان پوهاوو او له نورو کاروانونو نه يې د لارې په هکله معلومات اخيستل. بالاخره پدې خبر شو چې رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) خپل اصحاب پر قافلې باندې د حملې لپاره تيار کړيدي، نو فورا يې ضمضم بن عمرو غفاري ته پيسې ورکړې او مکې ته يې واستاوه تر څو قريشو د کاروان د نجات او مرستې لپاره راوبولي. ضمضم په ډيره بيړه ځان مکې ته ورساوه، او هلته يې د عربو د عاداتو سره سم د اوښ پزه او خپل کميس څيرې کړ، کجاوه يې چپه کړه او پاس پر اوښ ودريد او په لوړ آواز يې ناري کړې اې قريشو! قافله.... قافله..... محمد (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) او اصحاب يې له ابو سفيان سره ستاسې پر مالونو حمله کوي، فکر نه کوم چې په لاس به درشي، کومک... کومک.....

د مکې خلک د جنګ تياري نيسي

ددې اواز په اوريدو سره د مکې ټول مشرکين په حرکت راغلل، او ويې ويل: آيا محمد (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) او اصحاب يې فکر کوي چې دا هم د ابن حضرمي کاروان دی؟ قسم په خدای چې ژر به پوه شي چې زمونږ معامله بل ډول ده ټول پدې سلا شول چې يا به هر څوک پخپله ځي او يا به خپل عوض ليږي، خو زياترو جنګ ته تلل غوښتل خصوصا مشرانو او رئيسانو. پدې سره له ابو لهب پرته نور ټول مشران جنګ ته تيار شول ابو لهب د ځان په عوض خپل پوره وړی واستاوه. قريشو شاو خوا عربي قبيلې هم له ځان سره ملګرې کړې او له بني عدي پرته چې يو کس يې هم جنګ ته ونه ووت نورې ټولې قريشي قبيلې جګړې ته روانې شوې.

د مکي لښکر شميره

د روانيدو په وخت کې ددې لښکر شميره يو زر او دری سوه (۱۳۰۰) جنګيالو ته رسيده چې ورسره سل آسان (۶۰۰) زغرې او بې شميره اوښان چې دقيقه شميره يې نده معلومه. عمومي قومندان يې ابو جهل ؤ او د قريشو (۹) مشرانو د لښکر لوژستيکي امور، تمويل او رسد په غاړه اخيستی ؤ، دوی به هره ورځ (۹) او کله (۱۰) اوښان حلالول.

د بني بکر قبيلو لانجه

کله چې لښکر د تلو تياري ونيوله، نو قريشو ته يو ځل له بني بکر سره خپله دښمني او لانجه ورپه ياد شوه، او وويريدل چې هسې نه هغوی د شا له خوا وربانديې حمله وکړي چې پدې سره به دوی له دوو خواو نه راګير شي! نژدې ؤ چې دا تشويش يې له مخکې تګ نه پښېمانه کړي، په همدې وخت کې شيطان د بني کنانه د مشر سراقه بن مالک بن جعشم المدلجي په شکل کې ورته راغی او ورته ويې ويل: زه ستاسې ملګری يم او ضمانت درکوم چې کنانه به د شا له خوا ستاسې په حق کې داسې څه نه کوي چې تاسې يې نه خوښوئ.

د مکي لښکر روانيدل

لدې اطمينان او ډاډ ګيرنې وروسته د مشرکينو لښکر په ډير کبر او غرور سره له مکې نه روان شو. قرآنکريم د دوی حالت ته اشاره کوي فرمايي:((**بَطَراً وَرِئَاءَ النَّاسِ وَيَصُدُّونَ عَنْ سَبِيلِ اللَّه**)) (الانفال: ٤٧).ترجمه :[په ډير کبر، خيال او خلکو ته ځان ښودنې په حالت (روان دي) او د خدای له لارې نه منع کوي]

او لکه چې رسول الله (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) فرمايي له خپل زور او وسلې سره پداسې حال کې چې له الله تعالی او رسول الله (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) سره يې د دښمنۍ بيرغ اوچت کړی ؤ د مدينې په لور وخوځيدل ((**وَغَدَوْا عَلَى حَرْدٍ قَادِرِينَ**)) (القلم: ۲۵) [ترجمه: سهار مهال پداسې حال کې دخپل کښت د ريبلو لپاره ووتل (چې فقيرانو ته د نه ورکولو نيت يې درلود) او ځانونه يې توانمند شمېرل.]

د ټولو زړونه له کينې، غوسې او غضب نه په جوش راغلې وو تر څو له رسول الله (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) او اصحابو نه ددې انتقام او پور واخلي چې

هغوی څنګه او په کوم جرات سره د دوی په کاروان کې سترګې خښې کړيدي؟
لنډه دا چې په ډيره بيړه د شمال په لور د بدر خوا ته لاړل، د عسفان له وادي، قديد او جحفی نه تير شول او هلته يې د ابو سفيان له طرفه داسې خبر تر لاسه کړ چې ورته وايي: تاسې د خپلو مالونو، کاروان، او افرادو د ساتلو پخاطر راوتلي يئ، الله تعالی هغه ټول وساتل، نجات يې ورکړ، نو بيرته ستانه شئ.

کاروان نجات وموند

هلته ابو سفيان په ډير احتياط او تدبير سره په عمومي لار روان وٴ، د څارنې او کشف عمليات يې څو چنده کړي وو، خو کله چې بدر ته را لنډ شول خپله د قافلې تر مخ شو وړاندې لاړ او مجدي بن عمرو يې وليد د مدينې د لښکر په هکله يې معلومات ورنه وغوښتل. هغه ورته وويل: ما خو څه نا آشنا څوک ندي ليدلي، يوازې دوه سواره وو دلته راغلل له هغه غونډۍ سره يې اوښان چو کړل، ژي يې له اوبو ډک کړل او بيرته لاړل. ابو سفيان فورا دې ځای ته ورغی او د اوښانو پچې يې راواخيستې، ماتې يې کړې که ګوري چې د خرما مندکې (زړې) دي پکې، نو ويې ويل: قسم په خدای چې دا د مدينې وانښه دي. بيا په بيړه خپل کاروان ته ورغی عمومي لاره يې چې په بدر ورغلې وه چپې خوا ته پريښوده، او په لويديځ کې د ساحل په لور روان شو، او پدې سره يې قافله د مدينې له لښکر نه خلاصه کړه او د مکې مشرانو ته يې هغه پيغام ورواستوه چې هغوی ته په جحفه کې ورسيد.

مکي لښکر د بيرته ستنيدو له ارادې وروسته سوړه کوي

د ابو سفيان د پيغام له رسيدو نه وروسته د مکې لښکر د بيرته ستنيدو تکل وکړ، خو ابو جهل په ډير کبر او غرور سره وويل: نه والله که تر هغه ستانه شو تر څو بدر ته نه وو تللي او هلته مو دري شپې نه وي تيري کړي. هلته به څو اوښان حلالوو، خلکو ته به ډوډۍ ورکوو، د شرابو څښلو ګرم محفلونه به د ډمانو په آوازونو او سندرو لا پسې ګرموو، تر څو عربان زمونږ د راتګ دبدبې او غونډيدو خبر واوري، او د تل لپاره زمونږ رعب وربانډې کيني.
خو اخنس بن شريق د ابو جهل لدې خبرې سره سره د بيرته ستنيدو خبره وکړه، مګر چا وا نه وريده. بالاخره يوازې هغه د بني زهره له تقريبا دری سوه کسانو سره بيرته ستون

شو. ابن شریق د بنو زهره حلیف او پدې وخت کې د دوی قوماندان وٴ. د بدر په غزا کې د بنو زهره قبیلې یوه فرد هم ګډون ونکړ، د اخنس پدې نظریه او عمل د بنو زهره خلک له حده زیات خوشاله وو، او همیشه یې ده ته خاص احترام او اطاعت درلود.

د بنو هاشم خلکو هم د بیرته ستنیدو اراده وکړه، خو ابو جهل په ډیره سخته او توند لهجه ورته وویل:تاسې به له مونږ څخه نه جدا کیږئ، او تر هغه به راسره وئ تر څو مونږ ټول نه وو ستانه شوي. د بنو زهره له جدا کیدو وروسته د مکې لښکر پاتې تقریبا زر کسان د بدر په لور روان شول مخکې لاړل، او د هغه غونډۍ شا ته یې وارول چې د بدر په وادي کې د ننه له جنوبي خولې (العدوه القصوی) سره پرته ده.

د اسلامي لښکر لپاره د حالاتو حساسیت او نزاکت

رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) لا د لارې په اوږدو کې د ذفران له سیمې سره وٴ چې استخباراتو ورته د کاروان او مکې د لښکر خبرونه راوړل. ده مبارک ته پدې خبرونو کې له غور او څیړنې وروسته دا ثابته شوه چې بې له جګړې بله چاره نشته او اوس داسې یوه جراتمندانه، غیرتي او مدبرانه اقدام ته ضرورت دی چې د شرک د لښکر دا غرور ورمات کړي. واقعیت دا دی که چیرې قریش همداسې پرېښودل شوي وای چې پدې سیمه کې د غرور او فساد نیلې وزغلوي، نو پدې سره به په عسکري ډګر کې د هغوی لاس نور هم مضبوط او په سیاسي میدان کې به یې نفوذ او اثر زیات شوی وای. او ددې په مقابل کې به د مسلمانانو شان او عظمت زیانمن کیده، بلکه اسلامي حرکت به د یوه بې روحه کالبد حیثیت غوره کاوه او د اسلام دښمنانو ته به نوره دا آسانه وه چې پر مسلمانانو باندې د حملې او تیري جرات وکړي.

بله مهمه خبره دا چې مسلمانانو ته ددې ضمانت چا ورکاوه چې د مکې لښکر به د مدینې په لور وړاندې نه ځي، او هملته به پردوی حمله او تیری نه کوي؟! هیڅا هم دا ضمانت نه شوی ورکولی، که پدې حساس وخت کې مسلمانانو ابتکار له لاسه ورکړی وی، نو د خلکو په مینځ کې به د دوی هیبت او عظمت ډیر زیانمن شوی وای.

د شورۍ غونډه

پدې خطرناک، او ناڅاپه رامخ ته شوي وخت کې رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) د مشورتي شورۍ غونډه دایره کړه. ده پخپله په حالاتو رڼا واچوله، او له اصحابو سره یې پدې هکله نظریات تبادله کړل. ځنې خلک داسې هم وو چې په حالاتو

له خبريدو وروسته ويرې واخيستل، زړونه يې په رپيدو راغلل او دا همغه کسان دي چې الله تعالی يې په هکله فرمايي:

((كَمَا أَخْرَجَكَ رَبُّكَ مِنْ بَيْتِكَ بِالْحَقِّ وَإِنَّ فَرِيقاً مِنْ الْمُؤْمِنِينَ لَكَارِهُونَ (٥) يُجَادِلُونَكَ فِي الْحَقِّ بَعْدَ مَا تَبَيَّنَ كَأَنَّمَا يُسَاقُونَ إِلَى الْمَوْتِ وَهُمْ يَنظُرُونَ)).

(الانفال: ٥-٦)

ترجمه: [همداسې لکه چې ستا رب ته له خپل کور نه له حق سره راويستې، او يوې ډلې مسلمانانو ته دا کار سخت ښکاريده، او د همدې حق (جګړې) په هکله يې له معلوماتو وروسته په همدې حق کې له تا سره مناقشه کوله او داسې ښکاريدل لکه چې په رڼو سترګومرګ نه بوول کيږي.]

خو د لښکر د قوماندانانو موقف بل ډول وۀ، ابوبکر (رضي الله عنه) پاڅيد او ډيرې ښې خبرې يې وکړې، ورپسې عمر (رضي الله عنه) پاڅيد دې ته ورته نيکې خبرې يې وکړې. بيا مقداد بن عمرو (رضي الله عنه) وويل: يا رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم)! مونږ درسره يو همغه وکړه چې الله يې امر کړی، قسم په خدای مونږ به کله هم د بنو اسرائيلو په شان درته و نه وايو چې ته او ستا رب جنګ ته لاړ شئ، او مونږ به دلته ناست وو، بلکه مونږ داسې درته وايو: ته او ستارب جنګ ته لاړ شئ، مونږ هم په جګړه کې درسره يو، قسم په خدای که امر راته وکړې چې تر برک الغماد پورې درسره لاړ شو، نو تر همغه ځايه به له تاسره اوږه په اوږه جګړې ته ادامه ورکوو.رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) مننه ورنه وکړه او دعا يې ورته وفرمايله.

دا دری واړه مشران مهاجرين وو، او څرنګه چې پدې لښکر کې د مهاجرينو تعداد لږ و، نو رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) غوښتل د انصارو رايه هم معلومه کړي، ځکه له يوې خوا په جګړه کې د هغوی رول اساسي وۀ، او له بلې خوا د عقبې د معاهدې په اساس هغوی پدې نه وو مجبور چې له مدينې نه د باندې جګړې ته داخل شي، نو همدا وجه وه چې رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) د هغوی دری واړو د خبرو له اوريدو نه وروسته وفرمايل: اې خلکو ستاسې رايه څه ده؟ مقصد يې انصار وو. د انصارو مشر او علمبردار سعد بن معاذ (رضي الله عنه) د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) په مطلب پوه شو او ويې فرمايل: لکه چې د تا اشاره زمونږ خوا ته ده يا رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم)! ده

وفرمايل: هو. سعد (رضي الله عنه) وويل: مونږ ايمان درباندې راوړی، او ستا تصديق مو کړی، او ددې شاهدي مو ورکړې څه چې تا راوړي هغه ټول حق دي، او پدې مو د اطاعت او پيروی عهد او پيمان درسره کړئ، يا رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم)! څه چې غواړې همغه وکړه، قسم په هغه خدای چې ته يې په حق راليږلی يې، که وغواړې پدې بحر کې ځانونه واچوو، نو مونږ به ټول له تاسره يو ځای ځانونه په بحر کې ور لاهو کړو، ددې پروا نلرو چې سبا مو له دښمن سره مخامخ کړې، مونږ په جګړو کې د ډير صبر او د مقابلې په وخت کې د ځوانمردۍ او پايمردۍ خاوندان يو، کيدای شي الله تعالى زمونږ هغه جوهردروښيي چې د تا مبارکې سترګې پرې يخې او رڼې شي، نو د خدای په برکت سره حرکت وکړه.

په يوه بل روايت کې راځي چې سعد بن معاذ (رضي الله عنه) رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) ته وويل: فکر کوم چې ته لدينه ويريږې چې انصار به يوازې پخپل وطن کې ځانونه ستا په دفاع ملزم ګڼي! زه د انصارو خبره کوم او د هغوی ځواب وايم، لاړ شه چيرته دې چې زړه وي، پوره واک لرې چې له خپلې خوښې سره سم د هر چا سره اړيکې ټينګې کړې، او که غواړې چې له چا سره اړيکې وشلوې، نو ويې شلوه. زمونږ له مالونو نه د خپلې خوښې په اندازه واخله، او څه چې دې زړه وي همغه راکړه او مونږ ته هغه مال چې ته يې رانه اخلې د هغه په نسبت ډير غوره دي چې راته پرې يې ږدې. او په څه چې ته امر کوې هغه مونږ ته منظوره ده. والله که تر برک الغماد پورې لاړ شې، مونږ به هم درسره روان وو او که وغواړې پدې بحر کې به له تاسره يو ځای ځانونه لاهو کړو.

رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) د سعد (رضي الله عنه) له خبرو نه ډير ډاډه او راضي شو، بيا يې وفرمايل: (**سيروا وأبشروا، فإن الله تعالى قد وعدني إحدى الطائفتين، والله لكأني الآن أنظر إلى مصارع القوم**). [حرکت وکړئ، او زيری واورئ، الله تعالى له ماسره له دې دوو شيانو (کاروان يا لښکر) نه د يوه وعده کړې ده قسم په خدای دا دی لکه چې زه همدا اوس ددې خلکو (مشرکينو) د وژلو ځايونه وينم.]

اسلامي لښکر مخ په وړاندې درومي

بيا رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) له ذفران نه وخوځيد، د اصافر غرونه يې ووهل او (الديه) نومې باندې ته کوز شو ورپسې يې حنان نومې غونډۍ ښې خوا ته پرېښوده مخکې لاړ او له بدر سره نژدې يې واړول.

د رسول الله (ﷺ) له خوا د کشف او څارنې عمليات

په همدې ځای کې رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) له خپل ملګري ابوبکر (رضي الله عنه) سره یو ځای د کشف او څارنې لپاره ووت، د قریشو د لښکرو په شاو خوا سیمو کې یې یو عربي سپین ږیری ولید. رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) ورته وفرمایل: د قریشو او محمد (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) په هکله څه معلومات لري؟- د راز پټ ساتلو پخاطر یې د دواړو لښکرو پوښتنه ورنه وکړه – هغه بوډا ورته وویل: لومړی دا راته ووایئ چې تاسې څوک یئ؟ رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) ورته وویل: (إذا أخبرتنا أخبرناك). لومړی ته خبر راته ووایه، بیا به مونږ ځانونه در معرفي کړو. بوډا وویل: سمه ده دا پدې. رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) وفرمایل: هو. بوډا وویل: خبر شوی یم چې محمد (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) او اصحاب یې په فلانۍ ورځ راخوځیدلي دي، که دا خبر رښتیا وي، نو نن به محمد (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) په فلانۍ سیمه کې وي. همغه ځای یې ښوولی وٴ په کوم کې چې د مدینې لښکر پروت وٴ- او د مکې د لښکر په هکله خبر راکړل شوی چې هغوی په فلانۍ ورځ حرکت کړی، که خبر ورکوونکی ریښتونی وي نو هغوی به نن په فلاني ځای کې وي- او همغه ځای یې ښوولی وٴ کوم ته چې قریش را رسیدلي وو. او کله یې چې خبره خلاصه کړه، نو دوی ته یې وویل: تاسې څوک یئ (تاسې له چا نه یئ؟) رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) ورته وفرمایل: مونږ له ماء (اوبو) څخه یو. دا یې وویل او روان شو. بوډا له ځان سره وایي: د کومو اوبو؟ آیا د عراق له اوبو؟

د مکي لښکر په هکله د مهمو معلوماتو لاسته راوړل

د همدې ورځې په مانښام رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) د مهاجرینو دری سرداران علي بن ابي طالب، زبیر بن عوام او سعد بن ابي وقاص (رضي الله عنهم) له یو شمیر نورو اصحابو (رضي الله عنهم) سره پدې مکلف کړل چې لاړ شي او د دښمن په هکله تازه معلومات راوړي. هغوی د بدر اوبو ته ورغلل هلته د مکي

لښکر دوه کسه وو چې لښکر ته يې اوبه وړي. د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) عسکرو هغوی دواړه ونيول او له ځان سره يې راوستل، رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) دغه وخت لمونځ ادا کاوه، نو اصحابو (رضي الله عنهم) ورنه تحقيقات شروع کړل. بنديانو ورته ويل: مونږ د قريشو سقاوان يو اوبو پسې راغلي وو. اصحابو (رضي الله عنهم) دا نه منل او ګومان يې کاوه چې دا به د ابو سفيان د کاروان خلک وي، ځکه هغوی لا تر اوسه په کاروان باندې د قبضې هيله او طمعه درلودله. په دواړو يې د وهلو شروع وکړه تر هغه يې ووهل تر څو دې ته اړ شول چې ووايي مونږ د ابوسفيان کسان يوو، نو بيايې پرېښودل. کله چې رسول (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) لمونځ خلاص کړ، اصحابو ته يې په تهديد آميزه لهجه وفرمايل: (**إذا صدقاكم ضربتموهما، وإذا كذباكم تركتموهما، صدقا والله، إنهما لقريش**). [کله يې چې رښتيا درته ويل نو وهل مو، خو کله يې چې دروغ درته ووېل، نو پرې مو نښوول، دوی رښتيا وايي دا دواړه د قريشو کسان دي.]

بيا يې هغو دواړو ځوانان ته مخ وروړاوه او ورته ويې فرمايل: (**أخبرإني عن قريش**) د قريشو په هکله معلومات راکړئ! دوی ورته وويل: هغوی ددې وادي په وروستۍ خوله کې پرتې غونډۍ شاته دي. رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) ورته وفرمايل: (**كم القوم؟**) شمير يې څومره دی؟ دوی وويل: ډير زيات دی. ده وفرمايل: (**ما عدتهم؟**) څومره؟ دوی وويل: په دقيق شمير يې نه پوهيږو. ده وفرمايل: (**كم ينحرون كل يوم؟**) د ورځې څو اوښان حلالوي؟ دوی وويل: يوه ورځ نهه او يوه ورځ لس. نو رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) وفرمايل: (**القوم فيما بين التسعمائة إلى الألف**) د دوی تعداد د (۹۰۰) او (۱۰۰۰) تر مينځ اټکل کيدای شي.

بيايې بنديانو ته وفرمايل: (**فمن فيهم من أشراف قريش؟**) له دوی سره کوم مشران راغلي دي؟ دوی وويل: له دوی سره د ربيعه زامن عتبه او شيبه، ابو البختري بن هشام، حکيم بن حزام، نوفل بن خويلد، حارث بن عامر، طعيمه بن عدي، نضر بن حارث، زمعه بن اسود، ابو جهل بن هشام، اميه بن خلف او نور....

بيا رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) خپلو اصحابو (رضي الله عنهم) ته مخ کړ او ويې فرمايل: (**هذه مكة قد ألقت إليكم أفلاذ كبدها**). مکې د خپل زړه کتري (د جګر ټوټې) درته رالېږلې دي.

د رحمت باران

الله تعالی په همدې شپه ښه باران وکړ. همدا باران د مشرکينو لپاره عذاب او وبال ؤ هغوی يې له وړاندې تګ نه منع کړل، او د مسلمانانو لپاره رحمت ؤ د هغوی زړونه او بدنونه يې ورباندې پاک کړل ځمکه يې ورته برابره کړه، تر پښو لاندې يې ريګ کلک شو، حالات برابر او زړونه مضبوط شول.

اسلامي لښکر د مهمو عسکري مرکزونو په لور وړاندې ځي

رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) خپل لښکر ته د وړاندې تګ قوماندہ ورکړه، تر څو له مشرکينو نه مخکې د بدر اوبو ته ورسيږي او هغوی ته اجازه ورنکړي چې پر اوبو ولکه ولګوي.

لښکر مخکې لاړ او لماسختن يې د بدر له ټولو نه نژدې چينې سره واړول. په دې وخت کې حباب بن منذر لکه د نظامي امورو د متخصص په حيث رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) ته وويل: آيـا الله تعالی پدې ځای کې د اړولو امر درته کړيدی؟ او مونږ همدلته تم کيدو باندې مامور يو د مخکې او وروسته تګ اجازه نلرو؟ او که نه تا خپله د جنګي حکمت او تدبير په اساس دا ځای غوره کړيدی؟

رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) وفرمايل: (**بل هو الرأي والحرب والمكيدة**). دا زما نظر او يو جنګي تاکتيک دی. نو ده ورته وويل: يا رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم)! دا مناسب ځای ندی، لښکر ته امر وکړه چې قريشو ته تر ټولو نه لنډې چينې باندې واړوي، هلته به بيا مونږ نورې ټولې چينې پټوو او پخپله چينه به حوض جوړوو او له قريشو سره به په جګړه لاس پورې کوو، نو هغه وخت به له مونږ سره اوبه وي او دوی به له اوبو نه محروم وي.

رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) وفرمايل: (**لقد أشرت بالرأي**). تا ډيره ښه مشوره راکړه.

ورپسې يې لښکر ته د وړاندې تګ امر وکړ، او په نيمايي شپه کې يې دښمن ته له ټولو نه نژدې چينه باندې واړول، هلته يې د اوبو ډنډونه جوړ کړل، او نورې ټولې چينې يې پټې کړې.

د قیادت مرکز

وروسته له هغه چې مسلمانان ځای په ځای شول، سعد بن معاذ (رضي الله عنه) رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) ته وړاندیز وکړ چې باید د خاصو او عاجلو حالاتو سره د مقابلې او احتمالي ماتې د جبران لپاره د قیادت لپاره یو خاص مرکز جوړ شي. خپل وړاندیز یې داسې وړاندې کړ: یا رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم)! خوښه دې نده چې ستاسې لپاره یوه ځپره جوړه کړو ته به پکې تشریف لرې، او ستاسې سورلي به هم هملته تیاره درته ولاړه وي، مونږ به له دښمن سره د جګړې ډګر ته ننوزو که چیرته الله عزت راکړ او پر دښمن یې بر لاسي کړو، نو دا به هغه څه وي چې مونږ یې غواړو، او که داسې ونه شول نو بیا به ته پخپله سپرلۍ سپور او له مونږ نه پاتې شوو کسانو سره به یو ځای شي. یا نبي الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم)! زمونږ له قوم نه هغه کسان وروسته پاتې دي چې مونږ له تاسره له هغوی نه ډیره مینه نلرو، که چیرې هغوی خبر وای چې ته به له دښمن سره مخامخ کیږې، نو چیرې به هم نه وای پاتې شوې، الله تعالی به د هغوی په واسطه د تا ساتنه کوي، هغوی به ستا خیر غواړي او په جهاد کې به ستا ملګري وي.

رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) د سعد (رضي الله عنه) ستاینه وکړه او د خیر دعا یې ورته وفرمایله.مسلمانانو خپل عظیم قائد (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) ته د جګړې د میدان شمال ختیځي خوا ته د غونډۍ په سر په یوه حاکمه نقطه کې ځپره جوړه کړه.او د سعد بن معاذ (رضي الله عنه) تر مشرۍ لاندې د انصارو ځوانانو یو ګروپ پدې موظف شو چې د قیادت د مرکز یعنې د لښکر د عمومي قوماندانۍ ساتنه او حفاظت وکړي.

د لښکر ترتیب او د شپې سبا کول

بیا رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) لښکر ترتیب او تنظیم کړ[1]. د جګړې په میدان کې وګرزید او پخپل مبارک لاس سره به یې اشاره کوله. چې دا سبا د فلاني د وژل کیدو ځای دی (ان شاء الله)[2] او دا د فلاني. ورپسې رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) هلته د یوې ونې سره لمونځ کاوه، مسلمانانو ټولو په ډاډ او

---

(1). جامع الترمذي ابواب الجهاد، باب ما جاء في الصف والتعبئة ۲۰۱/۱.
(2). مسلم له انس نه روایت کړی، مشکاة المصابیح ۵٤۳/۲ وګوره.

راحت سره شپه سبا کړه، زړونه يې له سکون او هيلو نه مالا مال وو او ددې طمعه يې درلوده چې سبا د خپل رب رحمت او کرم د سر په سترګو وويني ((إِذْ يُغَشِّيكُمُ النُّعَاسَ أَمَنَةً مِنْهُ وَيُنَزِّلُ عَلَيْكُمْ مِنَ السَّمَاءِ مَاءً لِيُطَهِّرَكُمْ بِهِ وَيُذْهِبَ عَنكُمْ رِجْزَ الشَّيْطَانِ وَلِيَرْبِطَ عَلَى قُلُوبِكُمْ وَيُثَبِّتَ بِهِ الأَقْدَامَ)) (الانفال-١١). [ياد کړه هغه وخت چې د الله له لوري د امن پخاطر خوب دربانديې راغی، او له آسمان نه يې اوبه دربانديې نازلې کړې تر څو تاسې وربانديې پاک کړي او د شيطان پليتي درنه ليرې کړي، او زړونه مو سره وترې او قدمونه وربانديې استوار او ثابت وګرزوي.]

دا شپه د جمعې مبارکې شپه وه چې د دوهم هجري کال د رمضان مياشتې له اوولسمې سره سمون خوري او رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) د همدې مياشتې په ٨ يا ١٢ له مدينې نه راخوځيدلی وٴ.

د جنګ په ميدان کې د مکي لښکر اختلاف

قريشو هلته العدوه القصوي (ليرې خوا)کې شپه سبا کړه، او سهار ټول له غونډې نه راکوز او د بدر په لور روان شول، يو څو کسان يې د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) د حوض په خوا راغلل، چې اوبه وڅښي. رسول (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) وفرمايل: پرې يې ږدئ. وروسته له حکيم بن حزام پرته نور ټول چې لدې حوض نه يې اوبه څښلی وي په همدې جګړه کې مړه شول، حکيم وروسته په اسلام مشرف شو، او کله به يې چې کلک قسم کاوه، نو ويل به يې: قسم په هغه ذات چې ماته يې د بدر په ورځ نجات راکړی.

کله چې قريش ډاډه شول، نو عمير بن وهب الجمحي ته يې وظيفه ورکړه چې لاړ شي او د مدينې د لښکر په قوت او اندازه ځان پوه کړي. عمير په خپل آس سپور او د اسلامي لښکر له قرار ګاه نه راتاو شو، بيا قريشو ته ورغی ويې ويل: دوی څه کم يا څه زيات دری سوه کسان دي، خو اجازه راکړئ وګورم چې هغوی خو کوم کمين او يا نور کومک نلري؟ آس يې د وادي په مينځ کې تر ډيره وزغلوه خو هيڅ يې هم ونه ليدل، بيرته راغی او ورته ويې ويل: ماڅه ونه ليدل، خو اې قريشو! داسې بلاوې مې وليدلې چې د مرګ پيغام يې درلود، د مدينې اوښانو خالص مرګ راوړی دی، دا داسې خلک دي چې له تورو پرته هيڅ ملجا د تيښتې ځای او پناه ګاه نلري، د قوت راز يې هم په تورو کې دی، زه قسم خورم چې له هغوی نه هيڅوک تر هغې نه مري تر

څو يې له تاسې نه څوک نه وي وژلي، نو که چيرې هغوی ستاسې د سرکسان ووژني، نو بيا به د ژوند خوند او ارزښت څه وي؟ درته وايم چې ښه فکر وکړئ.

دلته د ابوجهل په خلاف يو بل مخالفت راولاړ شو، چې غوښتل يې د ابو جهل د نظر بر عکس بې له جګړې بيرته مکې ته ستانه شي. حکيم بن حزام پدې هکله د خلکو په مينځ کې فعاليت شروع کړ، عتبه بن ربيعه ته ورغی او ورته ويې ويل: ابو الوليده! ته د قريشو مشر او سردار يې ټول ستا خبرې اوري، نو ته ولې يو داسې نيک کار نکوې چې تر قيامته د نوم ښه پرې يادېږي؟! ده وويل: حکيمه دا به کوم کار وي؟ ده ورته وويل: هغه دا چې دا خلک بيرته ستانه کړې، او په سريه نخله کې د وژل شوي عمرو بن الحضرمي چې ستا حليف ؤ معامله ته پخپله غاړه واخلې! عتبه وويل: سيي ده، دا خبره زما قبوله ده، ته زما له خوا ددې ضامن يې، هغه زما حليف ؤ زه يې د ديت او ټول ضايع شوي مال ضامن او ذمه وار يم. بيا عتبه ورته وويل: لاړ شه حکيمه بن حنظليه ته ورشه - حنظليه د ابو جهل مور وه - ځکه زه د خلکو په معاملاتو کې له ده پرته له بل چا نه د مخالفت او مشاجرې تشويش نلرم. بيا عتبه بن ربيعه پاڅيد او خلکو ته په خطاب سره يې ووېل: اې قريشو! تاسې له محمد (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) او اصحابو سره يې له جګړې نه څه نه شئ ګټلئ او نه پدې سره کومه خاصه کارنامه تر سره کولای شئ که چيرې تاسې هغه ووژنئ هم، نو داسې مخونه به ووينئ چې ليدل يې نه خوښوئ، ځکه هر چا به يا د تره زوی، يا د ماما زوی او يا بل خپلوان وژلی وي، نو بيرته ستانه شئ او محمد (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) له نورو عربو سره پرېږدئ، وګورئ که عربانو هغه وواژه، نو ستاسې هيله به پوره شوې وي، او که داسې ونه شول نو بيا به هم تاسې پداسې حالت کې ورسره مخامخ کيږئ چې له ده سره به مو هغه څه نه وي کړي چې کړل مو يې غوښتل.

حکيم بن حزام ابوجهل ته ورغی، هغه خپله زغره برابروله او ورته ويې ويل: ابو الحکمه! عتبه دا پيغام درته را استولی دی. ابو جهل ددې خبرې په اوريدو سره وغوړمبيد او ويې ويل: د محمد او اصحابو په ليدو سره د عتبه سينه پرسيدلې ده، يعنې ويرې اخيستې دی، دا نه منو، قسم په خدای تر هغې به ستانه نه شو تر څو الله زمونږ او محمد (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) تر مينځ فيصله نه وي کړې. عتبه دا خبره ځکه کړې چې فکر کوي محمد (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) او اصحاب يې اوښ خوړونکي دي. او بله دا چې زوی يې حذيفه چې مخکې مسلمان او مهاجر شوی ؤ هم له دوی سره دی. او له همدې کبله تاسې له هغوی نه ويروي. کله چې عتبه د ابو جهل په خبرو خبر شو نو ويې ويل: ابو جهل ويرې اخيستئ، دا په کوناټي

خوشبويي وهونکی به پوه شي چې د چا سينه له ويرې نه پرسيدلې ده، ډارن زه يم او که هغه؟ ابو جهل لدې ويرې چې هسې نه دا مخالفت زور و نه نيسي، په حرکت راغی او ژر يې په سريه نخله کې د وژل شوي عمرو ورور عامر بن الحضرمي ته احوال وليږه چې وګوره ستا حليف (عتبه) غواړي خلک بيرته ستانه کړي، تا خو خپل انتقام پخپلو سترګو ليدلی، پاڅه او خلک له خپل مظلوميت او د ورور د مرګ له انتقام نه خبر کړه. پدې پسې عامر پاڅيد خپل کوناتی يې لوڅ کړ او چيغه يې کړه، واعمراه! و اعمراه! خلک يو ځل را سره شول، معامله سخته او د جنګ اراده پخه شوه، د عتبه د عقل مندۍ خبره هيره شوه، او پدې ترتيب سره جوش پر هوش يعنې جذبه پر عقل بر لاسې شوه او دا مخالفت هم ختم شو.

دواړه لښکرې يو بل ته مخامخ

کله چې مشرکين را ښکاره شول، او دواړه لښکر يو بل ته مخامخ ودريدل، رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) وفرمايل: (**اللهم هذه قريش قد أقبلت بخُيَلائها وفَخْرها تُحَادُّك وتكذب رسولك، اللهم فنصرك الذي وعدتني، اللهم أحْنِهُم [الغداة]**). يا الله! دا قريش چې په ډير کبر او غرور سره دلته پداسې حالت کې راغلي چې ستا سره دښمني کوي او ستا رسول تکذيبوي، يا الله! ستا مدد... هغه چې تايې وعده راسره کړيده، يا الله! ته نن د دوی ملا ورماته کړې! رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) چې کله عتبه بن ربيعه وليد چې په يوه سره اوښ سپور دی، نو ويې فرمايل: (**إن يكن في أحد من القوم خير فعند صاحب الجمل الأحمر، إن يطيعوه يَرْشُدُوا**).که چيرې پدې خلکو کې له چا سره خير وي، نو هغه د سره اوښ له خاوند سره دی، که خلک دده خبره ومني، نو په نيغه لار به تللي وي. بيا رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) د مسلمانانو ليکې برابرول پيل کړل، په همدې وخت کې يوه عجيبه پيښه وشوه، هغه داسې چې له رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) سره يو غشی وځې چې خلک به يې پرې برابرول، همدا غشی يې د سواد بن غزيه چې له صف نه لږ وتلی وځ په خيټه ور چوخ کړ او ورته ويې فرمايل: (**استو يا سواد**) سواده! برابر شه. سواد وويل: يا رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) زه خو

دې خوږ کړم، بدله غواړم! رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) خپله مبارکه خيټه ورته لوڅه کړه او ويې فرمايل: (**استقد**) بدله دې واخله. سواد يو ځل ورنه تاو شو او مبارکه خيټه يې ورته مچي کړه. رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) ورته وفرمايل:(**ما حملك على هذا يا سواد؟**).ولې دې داسې وکړل؟ سواد عرض وکړ يا رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم)! حالات خو وينې چې څه ډول دي، ما وغوښتل چې له تاسره مې آخري معامله دا وي چې زما پوستکی ستا له مبارک جلد سره ولګيږي. بيا رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) ورته د خير دعا وفرمايله. کله يې چې صفونه برابر کړل نو ورته ويې فرمايل: تر هغې به جنګ نه شروع کوئ تر څو زما آخرينۍ قوماندە نه وي صادره شوې، بيايې د جنګ په هکله خصوصي لارښوونه ورته وکړه او ويې فرمايل: (**إذا أكثبوكم ــ يعنى اقتربوا منكم ــ فارموهم، واستبقوا نبلكم، ولا تسلوا السيوف حتى يغشوكم**).کله چې د قريشو ټولي درته را لنډ شول، نو د غشو باران ورباندې وکړئ، د غشو ساتلو خيال کوئ يعنې هسې بې فايدې غشي مه ولګوئ.[1] او تر هغه پورې تورې مه وهئ تر څو دوی درنه را تاو شوي نه وي[2] بيايې له ابوبکر سره ځپړې ته تشريف يووړ، او سعد بن معاذ د ساتنې له ګروپ سره د ځپړې په خوله کې ولاړ و.

د مشرکينو له مينځه ابو جهل پدې ورځ د فتحې دعا وکړه او ويې ويل: اې خدايه! زمونږ نه هغه ډله ماته او ټوټې ټوټې کړه چې د خپلوۍ د مزي شلوونکې وي، او هغه څوک مات کړې چې مورږ ته يې داسې څه راوړي چې مونږ يې نه پيژنو. اې خدايه! هر څوک چې تاته ډيره ګران او نژدې وي هغه نن بريالی کړه. الله تعالى دې ته په اشاره سره فرمايي:

((**إِنْ تَسْتَفْتِحُوا فَقَدْ جَاءَكُمْ الْفَتْحُ وَإِنْ تَنتَهُوا فَهُوَ خَيْرٌ لَكُمْ وَإِنْ تَعُودُوا نَعُدْ وَلَنْ تُغْنِيَ عَنكُمْ فِئَتُكُمْ شَيْئاً وَلَوْ كَثُرَتْ وَأَنَّ اللَّهَ مَعَ الْمُؤْمِنِينَ**)). (**الانفال:١٩**) [کـه تـاسو د فـتـحې او فـيـصلې غوښتـنـه کـوئ، نـو فـيـصلـه خـو در وشـوه ، اوس که منع شئ نو همدا ستاسې لپاره ډيره ښه ده او که بيا وګرځئ او هماغه حماقت تکرار کړئ نو مونږ به هماغه سزا تکرار کړو او ستاسې ډله که هر څومره زياته هم وي ستاسې په درد به هيڅ ونه شي خوږ لای، الله د مؤمنانو ملګري

(1). صحيح البخاري ٥٦٨/٢

(2). سنن ابي داود باب في سل السيوف عند اللقاء ١٣/٢

دی.]

د صفر ګړۍ او د جګړې لومړۍ قرباني

ددې جګړې لومړنۍ قرباني اسود بن عبدالاسد المخزومي وۀ. دا ډير شرير او بد اخلاق انسان وۀ پدې وخت کې د لښکر له مينځ نه راووت او ويې ويل: په خدای مې دې قسم وي چې يا به د دوی له حوض نه اوبه څښم، يا به يې ړنګوم او يا به همدلته مرم. مقابلې ته يې حمزه (رضي الله عنه) راووت او له حوض سره خوا کې يې د توري داسې ګوزار پرې وکړ چې پښه يې په پنډۍ کې بوټه ور پرې کړه او د شا په تخته ولويد، خو هغه پداسې حال کې چې له پښې نه يې وينو داري وهلې په خپوړو خپوړو حوض ته ځان ورساوه او غوښتل يې حوض ړنګ او خپل قسم پوره کړي، خو حمزه (رضي الله عنه) بل ګوزار ورباندې وکړ او همله حوض کې د ننه په وينو کې خولم شو.

مقابله

دا لومړنی فتل وۀ چې د جګړې اور ورباندې بل شو، پدې پسې د قريشو د سردارانو د يوې کورنۍ درې غړي د ربيعه زامن عتبه او شيبه، او وليد بن عتبه ميدان ته را وړاندې شول او د مقابلی چيلنج يې ورکړ. په ځواب کې د انصارو دری ځوانان د حارث او عفراء زامن عوف او معوذ، او عبدالله بن رواحه ميدان ته ور ووتل. مشرکانو ورته وويل: تاسې څوک يئ؟ دوی ځواب ورکړ، مونږ انصار يو. هغوی وويل: تاسې قدرمن سيالان يئ، مونږ له تاسې سره غرض نلرو، مونږ خپل تربرونه غواړو. بيايې غږ اوچت کړ اې محمد (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم)! مونږ ته له خپل قوم نه زمونږ سيالان رامخکې کړه! رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) امر وکړ او ويې فرمايل: عبيده بن حارث، حمزه اوعلي (رضي الله عنه) راووزئ. هغوی را مخکې شول او کله چې مشرکينو ته ورنژدې شول، ورته ويې ويل: تاسې څوک يې؟ دوی ځانونه وروپيژندل.

مشرکينو وويل: تاسې قدرمن سيالان يئ. مقابله پيل شوه. عبيده چې له ټولو نه مشر

ؤ د عتبه بن ربيعه او حمزه د شيبه او علي د وليد مقابلې ته ودريد.[1] حمزه او علي (رضي الله عنه) په دير لږ وخت کې خپل حريفان د مرګ په خوله ورکړل، خو د عبيده او مقابل لوري تر مينځ د تورو ګوزارونه تبادله شول او دواړه سخت ټپيان شول، پدې وخت کې حمزه او علي (رضي الله عنهما) په عتبه ورتاو شول او ويې واژه. عبيده يې له ځان سره يووړ. د هغه پښه غوڅه شوې وه او له خبرو لويدلې ؤ، بالاخره د جنګ په ځلورمه يا پنځمه ورځ کله چې مسلمانان د مدينې په لور روان وو د صفرا په سيمه کې وفات شو. علي (رضي الله عنه) به قسم يا داوه او ويل به يې چې دا لاندينی آيت د دوی په حق کې نازل شويدی ((هَذَانِ خَصْمَانِ اخْتَصَمُوا فِي رَبِّهِمْ)) (الحج :١٩) [دا دواړه مخالفان دي چې د الله په خاطر يې مخالفت سره کړی.]

عمومي يرغل

ددې مقابلې پای د مشرکينو لپاره د يوې لويې غميزې پيلامه وه، هغوی په يو ځل د درې تکړه او پياوړي مشران له لاسه ورکړل. ټول يو ځل له قهراو غوسې نه په جوش راغلل او په مسلمانانو يې ور ودانګل. مسلمانان پداسې حال کې چې له خپل رب نه يې په پوره عجز او زاريو د مرستې او نصرت سوالونه کول، پخپلو ځايونو ټينګ ولاړ وو، ژبې يې د احد احد په ويلو لمدې وې، کلکه دفاع يې کوله او مشرکينو ته يې ډير زيانونه ور واړول.

رسول الله (ﷺ) خپل رب ته د سوال لاس اوږدوي

له کله نه چې رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) صفونه برابر کړل او څپړې ته راغی له همغه وخت نه يې خپل پروردګار ته د سوال لاسونه پورته کړې وو او د کړې وعدې د پوره کيدو غوښتنه يې ورنه کوله، داسې يې فرمايل: (**اللهم أنجز لي ما وعدتني، اللهم إني أنشدك عهدك ووعدك**) ((اې خدايه! له ماسره خپله وعده پوره کړه، خدايه! زه له تانه ستا د عهد او وعدې سوال کوم)). کله چې جګړه ښه ګرمه شوه رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) دا دعا فرمايله: (**اللهم إن تهلك هذه**

---

[1]. دا د ابن اسحاق خبره ده. د احمد او ابو داود په روايت کې راځي چې عبيده د وليد، علي د شيبة او حمزة د عتبة مقابلې ته ودريد. مشكاة المصابيح ٢/٣٤٥.

العصابة اليوم لا تعبد، اللهم إن شئت لم تعبد بعد اليوم أبدًا). ((اې پروردګاره! که نن دا ډله هلاکه شوه، نو بيا به ستا عبادت ونشي، خدايه! که ستا اراده وي نو له ننه وروسته به هيڅکله هم ستا عبادت ونشي)). ده مبارک دومره خشوع او خضوع کوله چې ان چادر يې له مبارکو اوږو نه ولويد ، ابوبکر (رضي الله عنه) هغه بيرته ورسم کړ او ورته ويې ويل: بس کړه يا رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم)! تا له خپل رب نه په ډير اصرار سوال وکړ. الله تعالى هم خپلوملائکو ته وحي وفرمايله :((**أَنِّي مَعَكُمْ فَثَبِّتُوا الَّذِينَ آمَنُوا سَأُلْقِي فِي قُلُوبِ الَّذِينَ كَفَرُوا الرُّعْبَ**)) (الانفال:١٢) [زه له تاسې سره يم مؤمنانو ته ثبات ورکړئ او زه به د مشرکينو په زړونوکې ويره اچوم.] او خپل رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) ته يې داسې وفرمايل:((**أَنِّي مُمِدُّكُمْ بِأَلْفٍ مِنْ الْمَلَائِكَةِ مُرْدِفِينَ**)) .(الانفال:٩) [ترجمه: زه مو په زرو فرښتو سره چې يو په بل پسې وي مرسته کوم.]

د ملائکو نزول (راکوزيدل)

رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) يوه لحظه پرمخې پريوت، ژر يې خپل سر را پورته کړ او ويې فرمايل: (**أبشر يا أبا بكر، هذا جبريل على ثَنَاياه النَّقْعُ**) [**أي الغبار**] **وفي رواية ابن إسحاق: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: (أبشر يا أبا بكر، أتاك نصر الله، هذا جبريل آخذ بعنان فرسه يقوده، وعلى ثناياه النقع**). زيرى مې درباندې ابوبکره! دا دى جبريل له مخې سره يې ګرد او غبار را ولاړ شويدى.

د محمد بن اسحاق په روايت کې راغلي: رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) وفرمايل: ابوبکره! خوشاله اوسه، د الله تعالى کومک درته راورسيد، دا دى جبريل (ع) پداسې حال کې چې د آس قيزه يې نيولې او له مخې سره يې ګرد او دوړې اوچتې شوې را روان دى. بيا رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) له ځېرې نه پداسې حال کې راووت چې زغره يې اغوستې او دا خبرې يې په خوله وي: ((**سَيُهْزَمُ الْجَمْعُ وَيُوَلُّونَ الدُّبُرَ**)) (القمر: ٤٥)) ترجمه :[ژر به د دښمن ټولې ماتې وخوري او په تېښته بدۀ شي].

په ډير جوش او هيبت سره روان و، يو موټى شګې يې واخيستې د قريشو خوا ته يې

مخ واړاوه او ويې فرمايل: ((**شاهت الوجوه**)) (ورک دې دا مخونه شي) او شګې يې ددوی په طرف وروشيندلې، دا شګې د ټولو مشرکينو په سترګو، سړمو، او خولو کې ولګيدې. الله تعالی پدې هکله فرمايي: ((**وَمَا رَمَيْتَ إِذْ رَمَيْتَ وَلَكِنَّ اللَّهَ رَمَى**)) (**الانفال:۱۷**) [حقيقت دادی چې تا و نه ويشتې بلکه الله وويشتلې.]

ځوابي برید

په همدې وخت کې رسول الله (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) خپل لښکر ته د ځوابي يرغل قومانده ورکړه او ورته ويې فرمايل: (**شدوا**) يعنی پرې ور ودانګئ. بيا يې جنګ ته وهڅول ويې فرمايل: (**والذي نفس محمد بيده، لا يقاتلهم اليوم رجل فيقتل صابرًا محتسبًا مقبلًا غير مدبر، إلا أدخله الله الجنة**).په هغه ذات مې دې قسم وي چې د محمد (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) نفس دده په واک دی، هر څوک چې نن له دښمنانو سره جګړه کوي، بيا پداسې حال کې ووژل شي چې د جګړې په ميدان کې دښمن ته مخامخ د ثواب په نيت ټينګ او صابر ولاړ او له ميدان نه تښتيدلي نه وي، الله تعالی به يې جنت ته داخلوي. د خپل لښکر حماسې راپاروي او ورته فرمايي: (**قوموا إلى جنة عرضها السموات والأرض**).پاڅئ د هغه جنت په لور پاڅئ چې د ځمکې او آسمانونو په اندازه پراخه دی. پدې وخت کې عُمَيْر بن الحُمَام وويل: بَخْ بَخْ. (واه، واه څومره ښه). رسول الله (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) ورته وويل: (**ما يحملك على قولك: بخ بخ؟**) ولې دې بخ، بخ وويل؟ ده ورته وويل: يا رسول الله (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم)! دا مې يوازې پدې هيله او اميد وويل چې زه هم دې جنت ته له داخليدونکو نه شم. رسول الله (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) وفرمايل: (**فإنك من أهلها**). ته جنتي يې. ورپسې هغه له خپلې توبرې نه ځوداني خرماوې را وايستلې او خوړلې يې، بيا يې وويل: که زه دومره ژوندی پاتې شم چې دا خرماوې وخورم، نو دا به هم ډير اوږد ژوند وي، نو ژر يې پاتې خرماوې وغورځولې او په مشکرينو ورګډ شو، تر هغې وجنګيد تر څو شهيد شو.[1] همدا راز د مشهورې ښځې عفرا زوی عوف بن حارث له رسول الله (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) نه پوښتنه وکړه: يا رسول الله (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم)! الله تعالی د

[1]. مسلم ۱۳۹/۲. مشكاة المصابيح ۳۳۱/۲

بنده په کوم کار دومره خوښيږي چې وخاندي؟ ده ورته وفرمايل: (**غَمْسُه يده في العَدُوّ حاسرًا**).الله تعالی پدې سره ډير خوښيږي چې بنده بې له زغرې او ډال نه خپل لاس په دښمن کې ور د ننه کړي، يعنی په دښمنانو وردانګي. نو عوف خپله زغره وايسته او توره په لاس د دښمن په ليکو ورګډ شو تر هغې وجنګيد تر څو د شهيدانو له کاروان سره يوځای شو.

کله چې رسول الله (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) د ځوابي حملې قومانده ورکړه هغه وخت د دښمن څو حملې تيرې شوې وې، د هغوی جوش او خروش مخ په سړيدو و، نو دا يو داسې با حکمته تاکتيک و چې د مسلمانانو د موقف په ټينګولو کې يې ژوره اغيزه درلوده، ځکه هغوی ته پداسې وخت کې د حملې او يرغل امر ورکړ شوی و چې د دوی د جهاد روحيه ځوانه او په پوره زور کې وه. همدا وه چې پر مشرکينو يې داسې سخته او پريکنده حمله وکړه چې ليکی يې ورماتې او ډيرې ککری يې پر ځمکه راوغورځولې. د اسلام د سپاهيانو جوش او خروش هغه وخت لا پسې ډير شو کله چې دوی خپل عظيم رهبر پداسې حال کې وليد چې زغره يې په تن ده په ډير کلک عزم او لوړ همت را روان دی او فرمايي: ((**سَيُهْزَمُ الْجَمْعُ وَيُوَلُّونَ الدُّبُرَ**)) [دا لښکر به ماتې خوري او شا به را اړوي، تښتي به.]

مسلمانانو ډيره سخته جګړه وکړه، ملائکو يې هم مرسته کوله. ابن سعد له عکرمه نه په يوه روايت کې وايي: پدې ورځ به مورږ کتل چې د سړي سر پرې کيږي خو دا نه معلوميږي چې چا وواهه او د بل سړي به لاس پرې کيده او دا به نه معلوميده چې چا وواهه. ابن عباس وايي: يوه مسلمان د جنګ په ميدان کې يو کافر تعقيباوه او ورپسې و، پدې وخت کې ناڅاپه پر مشرک باندې د دري (متروکې) د ګوزار آواز واوريدل شو او د يوه سواره غږ پورته شو چې ويل يې:((**اقدم حيزوم**)) حيزومه! وړاندې ځه، مسلمان هغه مشرک وليد چې په شا راولويد، ورته راوګرزيد که ګوري چې پزه يې زخمي او مخ يې داسې څيرې شويدی لکه چې په متروکه وهل شوی وي، دا ټول زخمونه يې نوي او تازه وو، دا انصاري مسلمان راغی او رسول الله (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) ته يې ټوله کيسه بيان کړه، نو ده ورته وفرمايل: (**صدقت، ذلك من مدد السماء الثالثة**). ته ريښتيا وايې دا د دريم آسمان کومک او مدد وٴ.[1]

---

[1]. مسلم ۹۳/۲ او نور.

ابو داود مازني وایي: زه په یوه مشرک پسې وم چې ویې وهم، خو مخکې لدینه چې زما توره وروړسیږي د هغه سر راپریوت، نو زه پوه شوم چې بل چا ووژه. یوه انصاري حضرت عباس (رضي الله عنه) اسیر کړی او له ځان سره یې راووست. عباس (رضي الله عنه) وویل والله که زه دې سړي اسیر کړی وم، زه یوه داسې سړي اسیر کړم چې په سر یې ویښتان نه وو، ښکلی او رونړ مخ او په یوه تور و سپین آس سپور وٴ، زه اوس هغه دلته نه وینم. انصاري وویل: یا رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم)! دا ما اسیر کړیدی. ده ورته وفرمایل: (**اسکت فقد أیدك الله بملك کریم**). چپ شه، الله تعالی د کریمې ملکې په واسطه ستا مرسته کړیده.

ابلیس د جنګ له ډګر نه پښې سپکوي

ابلیس چې د سراقه بن مالک بن جعشم مدلجي په شکل کې له قریشو سره راغلی وٴ، تر هغې پورې له دوی سره حاضر وٴ تر څو یې ملائکی ولیدلې چې پر مشرکینو باندې حملې کوي، نو پدې وخت کې یې شا واړوله او د تیښتې لاره یې ونیوه. دلته حارث بن هشام هغه راونیو ځکه ګومان یې کاوه چې سراقه دی، خو ابلیس ټټر کې داسې ګوزار ورکړ چې ایسته یې ورغوځاوه او په تیښته له میدان نه ووت. مشرکینو ورته وویل: سراقه چیرته ځې تا خو ویلي وٴ چې زه به تر پایه درسره ولاړ اوملګری وم؟ ده ورته وویل: زه هغه څه وینم چې تاسې یې نه وینئ، زه له خدایه ویریږم، الله تعالی شدید عذاب ورکوونکی دی، بیا همداسې تښتیده تر څو ځان یې په بحر کې لاهو کړ.

بشپړه ماتې

د مشرکینو په مینځ کې ماتې ګډه شوه، ټول ویرې او پریشانۍ ونیول. د مسلمانانو د ملاماتوونکو ګوزارونو په وړاندې یې قوت او مقاومت ختم شو، جګړه د ختمیدو حالت ته نژدې کیده. مشرکینو د جګړې له ډګر نه د تیښتې کوښښونه کول، مسلمانان ور پسې وو څوک به یې ورنه وژل او نور به یې ژوندي رانیول، پدې ترتیب سره د کفر او شرک لښکر له پریکنده او کاملې ماتې سره مخ شو.

د ابو جهل مقاومت

ابو جهل چې کله پخپل لښکر کې د ماتې نښې او آثار ولیدل، نو هڅه یې کوله چې

ددې عظيم طوفان مخې ته بند واچوي، خپلو عسکرو ته يې په ډير کبر او غرور سره آواز وکړ: ګورئ د سراقه ماتې او تيښته ستاسې د ماتې سبب نه شي، هغه له مخکې نه له محمد (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) سره سازش کړی وۀ. او ګورئ د عتبه، شيبه او وليد په وژل کيدو خپل همت له لاسه ورنکړئ، هغوی بيڅايه بيړه وکړه، په لات او عزی مې دې قسم وي چې تر هغې به بيرته ستانه نه شو تر څو مو هغوی په رسيو نه وي ترلي، تاسې د هغوی د وژلو کوښښ مه کوئ، بلکه هغوی ژوندي رانيسئ تر څو د خپلو کړو مزه وروڅکو.

خو ډير ژر ده ته د خپل کبر او بې ځايه غرور حقيقت څرګند شو، د لښکر ليکې يې د مسلمانانو د حملو په وړاندې دړې وړې، تيت او پرک شوې.د ابو جهل شا و خوا يو ګروپ پاتې وۀ چې تر ده يې د تورو او نيزو کلا راتاو کړې وه، خو د مسلمانانو د ايمان او تورې زور د شرک دا کلا هم ونړوله او ستر طاغوت په آس سپور د مسلمانانو مخې ته راښکاره شو، دا هغه وخت وۀ چې مرګی هم ورته رارسيدلی وۀ او ددې انتظار يې يوست چې دوه انصار ځوانان دده سر پرې کړي او مرګی يې وينې وڅښي.

د ابو جهل وژل کيدل

عبدالرحمن بن عوف وايي: زه د بدر په ورځ په صف کې د ننه وم، که ګورم چې ښی او چپې خوا ته مې دوه تنکي ځوانان دي، زه د دوی په ليدو حيران شوم. په همدې وخت کې له دوی نه کوم يوه پټ راته وويل: تره! ابو جهل راوښيه. ما ورته وويل: وراره! په ابوجهل څه کوې؟ ده وويل زه خبر شوی يم چې هغه د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) په حق کې نا مناسبه ژبه استعمالوي، او خپلو خبرو ته يې ادامه ورکړه ويې ويل: قسم په هغه ذات چې زما نفس د هغه په لاس کې دی، که زه ابو جهل ووينم نو تر هغې به يې پرې نه ږدم تر څو چې له مونږ دواړو نه هغه يو مړ شوی نه وي کوم ته چې مرګ مخکې ليکل شوی دی. عبدالرحمن زياتوي: زه د ځوان دې خبرو ته ډير تعجب شوم، بيا وايي: دلته يې هغه دوهم ځوان هم په پټه همدا ډول خبرې راته وکړې، لږ درنګ وروسته مې ابوجهل وليد چې د خلکو په مينځ کې کارته پورته کيږي. نو دوی دواړو ته مې وويل: نه وينئ؟ هغه دی هغه څوک چې تاسې يې پوښتنه کوئ.

عبدالرحمن وايي: دوی دواړو ورمنډه کړه او د تورو ګوزارونه يې پرې وکړل او ويې واژه. بيا دواړه د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) حضورته ورغلل، ده

مبارک پوښتنه ورنه وکړه چې: (**أيكما قتله؟**) له تاسې دواړو نه کوم يوه وواژه؟ دوی هر يوه ويل ما وواژه. رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) ورته وفرمايل: (**هل مسحتما سيفيكما؟**)آيا تاسې خپلې توري پاکې کړيدي؟ دوی وويل: نه. رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) يې توري وکتلې او ويې فرمايل: (**كلاكما قتله**). تاسو دواړو وژلی دی، خو د ابو جهل مال او سامان يې معاذ بن عمرو بن جموح ته ورکړ. دا دواړه تنکي ځوانان وروڼه د يوه نوم معاذ بن عمرو بن جموح او د بل نوم يې مُعَوِّذ بن عفراء وٴ[1].

ابن اسحاق وايي: معاذ بن عمرو بن جموح ويل: ما له مشرکينو نه واوريدل چې وايي: ابو الحکم ته ځوک نه شي ورسيدی، ځکه هغه دغه وخت د خپلو سپاهيانو د تورو او نيزو پداسې يوه دايره کې د ننه وٴ چې مشرکينو له هغې ونې سره تشبيه کاوه چې رسيدل ورته ممکن نه وي. وايي: ما چې دا واوريدل: نو خپل هدف مې په نښه کړ، ځان مې ورته برابر کړ او کله چې موقع په لاس راغله، نو حمله مې ورباندې وکړه او داسې ګوزار مې ورکړ چې پښه يې په پنډۍ کې بوټه ماته شوه او ايسته پريوته، پښه يې داسې والوته لکه چې کوم زړی د زړيو ماتوونکي د سوتې له ګوزار نه والوزي. معاذ وايي: پدې وخت کې يې زوی عکرمه ګوزار راباندې وکړ او زما لاس يې بوټ پرې کړ، لاس مې تش په پوستکي ځوړند وٴ، خو ځرنګه چې زه په جنګ بوخت وم ډير فکر مې ورته نه وٴ ټوله ورځ مې جګړه وکړه او لاس مې همداسې راپسې ځړيده، خو کله يې چې درد زيات شو، نو پښه مې ورباندې کيښوده، کش مې کړ او ايسته مې واچاوه[2]، بيا معوذ ورغی او په ابوجهل يې چې دغه وخت ما زخمي کړی وٴ يو داسې ګوزار وکړ چې هملته پريوت، خو نفس لا پکې چليده، او معوذ تر هغې وجنګيده تر څو شهيد شو. او کله چې جګړه پای ته ورسيده نو رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) وفرمايل: (**من ينظر ما صنع أبو جهل؟**).ځوک به وګوري چې ابوجهل څه کړيدي؟ خلک ورپسې لاړل،ګوري يې، دا دی چې عبدالله بن مسعود ورباندې ور برابر شو او هغه آخرينۍ سلګۍ وهي، عبدالله بن مسعود يې په غاړه پښه ورکيښوده، تر ږيره يې راونيو چې سر يې ورپرې کړي او ورته ويې ويل: د خدای دښمنه! خدای

---

(1). صحيح بخاري ۴۴۴/۱، ۵۶۸/۲. مشكاة المصابيح ۴۵۲/۲. د ابو جهل مال يې ځکه يوه ته ورکړ چې هماغه بل په همدې غزا کې شهيد وی وٴ. خو د ابو جهل توره يې عبدالله بن مسعود ته ورکړه ځکه هغه د ابو جهل سر غوڅ کړی وٴ. سنن ابو داود ۳۷۳/۲.

(2). همدا معاذ د عثمان (رضي الله عنه) تر وخته ژوندی وٴ.

څنګه سپک کړي؟ ده ورته وويل: څه يې سپک کړم؟ آيا له هغه چا غوره څوک شته چې ستاسې په لاس وژل شوی وي؟ يعنې دا څه سپکاوی ندی چې څوک د خپل قوم له لاسه ووژل شي. بيا يې وويل: کاشکي د بزګر په ځای بل چا وژلی وای؟ زياته يې کړه: وايه چې نن بری د چا دی؟ عبدالله بن مسعود ورته وويل: بری د الله او د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) دی. بيا يې ابن مسعود ته چې دده پر غاړه يې پښه ايښی وه وويل: شپونکيه! نن ډير لوړ او خطرناک ځای ته پورته شوی يې. (عبدالله بن مسعود (رضي الله عنه) به په مکه کې رمه پوولە).لدې خبرو نه وروسته عبدالله بن مسعود (رضي الله عنه) د ابوجهل سر پرې کړ او د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) حضور ته يې ورځاندې کړ، او عرض يې ورته وکړ: يا رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم)! دا دی د الله د دښمن ابوجهل سر. رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) دری ځله داسې وفرمايل: **الله الذي لا اله الا هو**)) بيايې وويل: (**الله أكبر، الحمد لله الذي صدق وعده، ونصر عبده، وهزم الأحزاب وحده، انطلق أرنيه**). الله اکبر، ثنا او صفت دی هغه خدای لره چې خپله وعده يې ريښتونې کړه، د خپل بنده مرسته يې وکړه، او يوازې (الله) ټولو مشرکينو ته ماتې ورکړه. بيا يې ابن مسعود ته وويل: راځه راو يې ښيه. هغه وايي: بيا لاړو او د هغه جسد مې ور ورښود ، هلته يې وفرمايل:(**هذا فرعون هذه الأمة**).دا د دې امت فرعون وۀ.

پدې جګړه کې د ايماني عظمت څو نښانې

مخکې مو د عمير بن حمام او عوف بن حارث دوی مثالي کارنامې تر نظر تيرې کړې. پدې غزا کې نورې هم ډيرې داسې پېښې شويدي چې د عقيدې قوت او د مبدا عظمت له ورايه پکې ښکاري. پدې جګړه کې زوی د پلار، ورور د ورور په ضد سنګر نيولی وۀ د عقيدې او اصولو د اختلاف له وجې يو بل ته تورې له تکيو راووتې، او فيصله د تورې وه. او په همدې جګړه کې مظلومان د ظالمانو مخې ته ودريدل او خپل زړونه يې ښه ورباندې يخ کړل.

۱- ابن اسحاق له ابن عباس (رضي الله عنهما) نه روايت کړی چې رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) اصحابو ته وفرمايل: (**إني قد عرفت أن رجالًا من بني هاشم وغيرهم قد أخرجوا كرهًا، لا حاجة لهم بقتالنا، فمن لقي أحدًا من بني هاشم**

فلا يقتله، ومن لقى أبا البَخْتَرِيّ بن هشام فلا يقتله، ومن لقى العباس بن عبد المطلب فلا يقتله، فإنه إنما أخرج مستكرهًا)، فقال أبو حذيفة بن عتبة: أنقتل آباءنا وأبناءنا وإخواننا وعشيرتنا ونترك العباس، والله لئن لقيته لألحمنه ــ أو لألجمنه ــ بالسيف، فبلغت رسول الله صلى الله عليه وسلم، فقال لعمر بن الخطاب: (يا أبا حفص، أيضرب وجه عم رسول الله صلى الله عليه وسلم بالسيف)، فقال عمر: يا رسول الله، دعني فلأضرب عنقه بالسيف، فوالله لقد نافق. زه پوه يم چې بني هاشم او څه نور خلک دلته په راتلو باندې مجبور شويدي، هغوی زمونږ سره جګړې ته اړتيا نلري، نو که هر چا ته د بني هاشم کوم کس په لاس ورغی نه يې دې وژني، او که چا ته ابو البختري بن هشام په مخه ورغی هغه دې هم نه وژني، او که چا ته عباس بن عبدالمطلب په مخه ورغی هغه دې نه وژني، ځکه هغه په زور او جبر راوستل شويدی. نو ابو حذيفه بن عتبه وويل: مونږ به خپل پلرونه، زامن، وروڼه او نور خپلوان وژنو او عباس به پريږدو، قسم په خدای که هغه زما مخې ته راغی نو په توره به يې ووژنم او يا به يې سوری کړم. دا خبره رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) ته ورسيده هغه مبارک (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) عمر (رضي الله عنه) ته وفرمايل: ابو حفصه! آيا د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) د تره مخ په توره وهي؟ عمر (رضي الله عنه) ورته وويل: اجازه راکړه چې سر يې په توره غوڅ کړم، والله چې هغه منافق شويدی. وروسته ابو حذيفه (ض) وويل: زه له هغې خبرې نه آرام او مطمئن نه يم کومه مې چې هغه ورځ (د بدر په ورځ) کړې وه، او لا تر اوسه ورنه په ويره او خوف کې يم، خو يوازې دومره ويلی شم چې کيدای شي شهادت زما د هغې خبرې کفاره شي. وروسته نوموړی د يمامه په جګړه کې په شهادت ورسيد.

۲- د ابو البختري له وژلو نه پدې خاطر منع شوې وه، چې نوموړی له هغو کسانو څخه ؤ چې په مکه کې يې رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) ته زيان او ضرر نه رساوه، نه يې په لاس ضرر ورساوه، او نه يې په ژبه. او دا هماغه کس دی چې د بنو هاشم او بنو مطلب په خلاف ليکل شوې ظالمانه معاهدې په ماتولو کې يې مهم رول لوبولی دی. خو ابو البختري په همدې جګړه کې ووژل شو، او دا داسې چې په جګړه کې مجذر بن زياد البلوي وربانديې برابر شو له ابو بختري سره دده يو ملګری هم و، دواړو يو ځای جګړه کوله، مجذر ورته وويل: ابو البختري! رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) مونږ ستا له وژلو نه منع کړي يوو، ده وويل: او زما د

ملګري له وژلو هم؟ مجذر ورته وویل: نه د ملګري خلاصون دې نشته. ده وویل: نو چې داسې ده اوس به مونږ داوړه یو ځای مرو، بیایې جګړه پیل کړه، نو مجذر مجبور شو چې ویې وژني.

۳- عبدالرحمن بن عوف او امیه بن خلف په مکه کې د جاهلیت د دوران کلک ملګري وو. د بدر په ورځ عبدالرحمن د خپل ملګري امیه چې د خپل زوی علي لاس یې نیولی او ولاړ دی، خواته تیر شو، له عبدالرحمن سره د غنیمت څو زغرې وې چې له ځان سره یې وړلې، امیه چې هغه ولید، نو ورته یې ویل: آیا ما ته د څه حاجت نشته؟ زه درته لدې زغرو نه غوره او بهتر یم، ما کله هم داسې بده ورځ نده لیدلې، آیا تاسې شیدو ته ضرورت نلرئ؟ یعنې که زه چا اسیر ونیولم، نو په فدیه کې به ښې شیدې ورکوونکې اوښانې ورکړم- عبدالرحمن زغرې ورغوځولې، اودوی داوړه یې اسیران او له ځان سره یې روان کړل. عبدالرحمن وایي: پداسې حال کې چې زه د امیه او د هغه د زوی تر منځ روان وم، را ته ویې ویل: عبدالرحمانه! دا چې په سینه کې یې د فیل مرغ ښکه ټومبلې ده څوک دی؟ ما ورته وویل: هغه حمزه بن عبدالمطلب دی. ده وویل: همدغه په مونږ باندې ناتار جوړ کړی وئ، او همدغه مونږ تباه کړو. عبدالرحمن زیاتوي: ما دوې داوړه بوول چې د بلال سترګې پرې ولګیدې، امیه خو همغه کس وئ چې پر بلال یې په مکه کې ډیر ظلمونه کړي وئ، دلته بلال وویل: د کفر مشر امیه بن خلف! اوس به یا زه ژوندی وم یا هغه! ما ورته وویل: بلاله! دا زما اسیر دی. ده وویل: نن به یا زه مرم او یا دی. ما وویل. د تورې زویه زما خبره نه اوري. ده وویل: یا به زه ژوندی پاته کیږم او یا دی، بیایې په لوړ آواز چیغه کړه: یا انصار الله! دا د کفر سر لښکر امیه بن خلف، نن به یا زه مرم او یا دی. عبدالرحمن وایي: یو ځل خلک راباندې راټول شول مونږ یې محاصره کړو، زه له امیه نه دفاع کوم، خو یو چا توره را تیره کړه او د امیه زوی یې په ده پښه وواهه هغه په ځمکه پریوت پدې وخت کې امیه داسې یوه چیغه وکړه چې پخپل ژوند کې مې داسې هولناکه چیغه نه وه اوریدلې. عبدالرحمن وایي: ما امیه ته وویل: اوس د ځان چاره پخپله کوه، لکه چې د نجات لاره دې نه وي زه اوس هیڅ هم نه شم کولی، همدا وه چې خلکو تورې ترې تیرې کړې او د دواړو کار یې تمام کړ. عبدالرحمن به وروسته ویل: الله دې په بلال رحم وکړي، زما زغرې هم لاړې، او په بندي یې هم وځورلم. په زاد المعاد کې راځي چې عبدالرحمن بن عوف، امیه ته وویل: څمله، هغه څملاست، او عبدالرحمن پاس ځان ورباندې وارواچاوه، نورو خلکو هغه له لاندې نه تر هغې په تورو وواهه تر څو مړ شو، پدې وخت کې د عبدالرحمن پښه هم څه

زخمي شوي وه.[1]

۴- په همدې ورځ عمر بن الخطاب (رضي الله عنه) خپل ماما عاص بن هشام بن مغيره وواژه.

۵- ابوبکر (رضي الله عنه) خپل زوی عبدالرحمن ته چې هغه وخت لا مشرک وٴ غږ وکړ، اې خبيثه زما مال او دارايي چيرې ده؟ عبدالرحمن ورته وويل:

لم ببق غير شكة و يعبوب و صارم يقتل ضلال الشيب

[له وسلې، تيز رفتار آس او له هغې توري پرته بل هيڅ هم ندي پاته، کومه چې زړه ګمراهي د مرګ کندې ته اچوي.]

۶- کله چې مسلمانانو د مشرکينو نيول او بندول پيل کړل، رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) په ځپره کې تشريف درلود او سعد بن معاذ (رضي الله عنه) توره په لاس پيره وربانديې کوله. رسول (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) د خلکو د کړو له امله د سعد په مخ کې د ناخوښۍ آثار وکتل، ورته ويې فرمايل: سعده! لکه چې د مسلمانانو دا کار دې خوښ نه شو؟ څه خفه غوندې ښکارې؟ ده عرض وکړ: هو، يا رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم)، له مشرکينو سره دا لومړنۍ جګړه او لومړنۍ موقه وه چې الله تعالى مونږ ته په لاس راکړې، زه دې دوی له ژوندي پاته کيدو نه د دوی په وژل کيدو او تباهۍ ډير خوښ يم.

۷- په همدې ورځ د عکاشه بن محصن الاسدي توره ماته شوه، او کله چې د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) حضور ته راغی نو هغه ورته يو لرګی ورکړ او ورته ويې فرمايل: (**قاتل بهذا يا عكاشة**). عکاشه! ځه پدې سره جنګيږه. عکاشه دا لرګی واخيست او ويې غورځاوه که ګوري په يوه اوږده، مضبوطه او تکه سپينه توره بدل شويدی. او په همدې توري سره تر هغې پورې وجنګيد تر څو الله تعالى مسلمانانو ته بری ورپه برخه کړ. دغه توره په العون مشهوره وه، عکاشه به هرې جګړې ته له همدې توري سره تله. تر څو د ردت په جګړه کې پداسې حال کې شهيد شو چې همدا توره يې په لاس کې وه.

۸- د جګړې له ختميدو وروسته مصعب بن عمير العبدري خپل ورور ابي عزيز بن عمير وليد، نوموړی د مسلمانانو په خلاف له جګړې نه وروسته اسير شوی وٴ، يوه انصاري يې لاسونه ورترې، مصعب هغه انصاري ته وويل: ددې سړي په واسطه خپل لاسونه مضبوط کړه، دده مور مالداره ده، کيدای شي په بدل کې يې ښه فديه درکړي.

---

(1). زاد المعاد ۸۹/۲

ابو عزيز خپل ورور مصعب ته وويل: زما په باب دې همدا وصيت او سفارش دی؟ مصعب په ځواب کې ورته وويل: ستا په ځای دا انصاري زما ورور دی.

۹- کله چې امر وشو د مشرکينو جسدونه دې په کنده کې واچول شي، او عتبه بن ربيعه د کندې په لور کشول کيده، رسول الله (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) د عتبه د زوی ابو حذيفه مخ ته وکتل، ويې ليده چې غمګين او خفه ښکاري، ښه يې اوښتې ده، رسول الله (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) ورته وفرمايل: (**يا أبا حذيفة، لعلك قد دخلك من شأن أبيك شيء؟**) ابو حذيفه! لکه چې د پلار په هکله دې په زړه کې څه ګرزي؟ ده وويل: نه، يا رسول الله (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم)! والله که مې په زړه کې د پلار او د هغه د مرګ په هکله څه غم او تشويش وي، خو خبره داده چې زما پلار يو پوه، دور انديشه، حليم او د فضل خاوند ؤ او زما هيله دا وه چې ددې پوهې او نورو ښو خصلتونو په برکت به په اسلام مشرف شي، خو اوس مې چې دده دا حال وليد، او زما د هيلې په خلاف کافر له دنيا تير شو، نو ږښتيا هم چې غمجن شوم. رسول الله (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) حذيفه ته د خير دعا وفرمايله او نيکې او خوږې خبرې يې ورته وکړې.

د دواړو ډلو مړي

جګړه د مشرکينو په پوره او کاملې ناکامۍ او د مسلمانانو په پريکنده بري سره پای ته ورسيده. پدې غزا کې له مسلمانانو نه (۱۴) کسه چې (۶) مهاجر او (۸) يې انصار وو په شهادت ورسيدل.خو مشرکينو ته ډير زيان ور وارښتی ؤ، اويا تنه ورڅخه وژل شوي، اويا نور يې ژوندي نيول شوي وو، د مړيو او اسيرانو زياتره برخه يې مشران او مخور خلک وو.

کله چې د جګړې اور مړ شو، رسول الله (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) تشريف راوړ، د مشرکينو مړيو ته ودريد او ويې فرمايل: (**بئس العشيرة كنتم لنبيكم؛ كذبتموني وصدقني الناس، وخذلتموني ونصرني الناس، وأخرجتموني وآواني الناس**). تاسې زما له ټولو نه بد او خراب خپلوان وئ، تاسو زه تکذيب کړم پداسې حال کې چې نورو خلکو زه ږينبتينی وبللم، تاسو يوازې پرينبودم او نورو خلکو زما مرسته وکړه، تاسو له خپل کور نه وايستلم، خو نورو خلکو ځای او پناه راکړه. بيا يې امر وکړ

چې د بدر په يوه کنده کې دې واچول شي.
له ابو طلحه نه روايت دی چې د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) په امر د بدر په ورځ د قريشو (۲۴) مشران او سرداران د بدر په يوه مرداره او خبيثه کنده کې واچول شول. د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) دا عادت ؤ چې کله به په کوم قوم بريالی او برلاسی شو يعنې جګړه به يې ورنه وګټله، نو دری ورځې به هملته د جګړې په ميدان کې پاتې کيده.
د بدر د غزا چې دريمه ورځ شوه نو د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) د امر سره سم سواري تياره شوه زين او کجاوه پرې کينبودله شوه، رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) همداسې پياده روان شو، اصحاب (رضي الله عنهم) وروسته ورپسې روان وو مخکې لاړ او د هغې کندې په څنډه ودريد، چې د کفارو مړي پکې اچول شوي وو (مړيو) ته يې د هر يوه نوم او د پلار نوم اخيسته فرمايل يې:
(يا فلان بن فلان، يا فلان بن فلان، أيسركم أنكم أطعتم الله ورسوله؟ فإنا قد وجدنا ما وعدنا ربنا حقًا، فهل وجدتم ما وعد ربكم حقًا؟) فقال عمر: يا رسول الله، ما تكلم من أجساد لا أرواح لها؟ قال النبي صلى الله عليه وسلم: (والذي نفس محمد بيده، ما أنتم بأسمع لما أقول منهم) وفي رواية: (ما أنتم بأسمع منهم، ولكن لا يجيبون). [آيا پدې خوشاليدئ چې د الله او د هغه د رسول اطاعت مو کړی وئ؟ ځکه زمونږ رب له مونږ سره کړې وعده پوره کړه او د څه يې چې وعده راسره کړې وه هغه مو تر لاسه کړل، آيا تاسې هغه څه په حق سره وليدل کوم چې ستاسې رب يې وعده درسره کړې وه؟ دلته عمر (رضي الله عنه) ورته وويل: يا رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم)! آيا ته له بى روحه جسدونو سره خبرې کوې؟ رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) وفرمايل: قسم په هغه ذات چې د محمد (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) نفس يې په لاس کې دی، تاسې زما خبرې له دوی نه ښې نه اورئ. او په بل روايت کې راځي چې تاسې له هغوی نه ښه اوريدونکي نه يئ، خو دا خلک ځواب نه شي ورکولی].[1]

د مشرکينو د ماتې خبر مکې ته رسيږي

[1]. متفق عليه، مشكاة المصابيح ۲/۳٤٥.

د بدر له میدان نه مشرکین هرې خوا ته وتښتیدل، هر څوک د ځان په غم کې وٴ، په کومه یې چې مخه وه په همغه وتښتید ، په خوړونو او درو کې تیت پرک شول، د ټولو وروستی منزل مکه وه، خو له شرم او خجالت نه لاره ورنه ورکه وه چې څه ډول مکې ته داخل شي.

ابن اسحاق وایي: لومړی کس چې مکې ته یې د قریشو د ماتې خبر راوړ حیسمان بن عبدالله خزاعي وٴ. هغه چې ورغی خلکو ورته وویل: څه خبر دې راوړئ؟ ده وویل: د عتبه، شیبه، ابو الحکم، امیه بن خلف او نورو سردارانو د مرګ خبر مې راوړی. ده چې د قریشو د سردارانو نومونه اخیستل صفوان بن امیه چې په حجر (حطیم) کې ناست وٴ، وویل: قسم په خدای که دا په هوش کې وي، تاسې زما په هکله پوښتنه ورنه وکړئ! دوې ورته وویل: په صفوان بن امیه څه وشول؟ ده وویل: هغه خو دا دی په حطیم کې ناست دی، قسم په خدای چې ما یې پلار او ورور ولیدل چې ووژل شول.

د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) مولی (آزاد شوی غلام) ابو رافع وایي: زه د عباس (رضي الله عنه) غلام وم، اسلام زمونږ کورنۍ ته داخل شوی وٴ، ما، عباس او میرمني یې (ام الفضل) ټولو اسلام راوړی و، خو عباس (رضي الله عنه) خپل دین پټ ساته. ابو لهب بدر ته نه وٴ تللی او کله یې چې د ماتې خبر واورید، نو الله تعالی ډیر خوار او ذلیل کړ، خو مونږ د قوت او عزت احساس وکړ. زه یو کمزوری سړی وم، د زمزم په حجره کې به مې غشي جوړول، قسم په خدای چې زه ناست وم او غشي مې جوړول، ام الفضل هم دلته ناسته وه، مونږ ددې خبر په اوریدو سره ډیر خوشاله وو، چې یو ځل ابو لهب راغی پښې یې ورپسې څښیدلې، د حجرې په یوه څنډه کې کیناست شا یې زما شا ته وه، هغه لا همدلته ناست وٴ چې غږ وشو: ابو سفیان بن حارث بن عبدالمطلب راغی، ابو لهب ورته وویل: دلته راشه، تا به حتماً خبر راوړی وي. ابو رافع وایي، ابو سفیان راغی او له ابو لهب سره کیناست نور خلک ټول ورته ولاړ دي، ابو لهب ورته وویل: وراره! وایه د خلکو څه حال وٴ؟ ده ورته وویل: څه حال وٴ، خبره دا ده چې مونږ له داسې یوه قوم سره مخامخ شوي وو، چې په مقابل کې یې زمونږ زور وتلی وٴ، مونږ خپل ځانونه دوی ته حواله کړي وو، خوښه د دوی وه چې څنګه مو وژني او څنګه مو بندیانوي، خو قسم په خدای زه لدې ټولو سره سره خپل خلک نه ملامتوم، ځکه مونږ له داسې سپینو خلکو سره مخامخ شوي وو، چې د ځمکې او آسمان تر منځ په تورو و سپینو آسونو سپاره وو، والله چې هغوی نه څه پریښودل او نه یې څوک مخې ته ټینګیدی شوی

. ابو رافع وايي: ما د خيمې څنډه پورته کړه او ومې ويل: والله، چې دا ملائکې دي، زياتوي: ابو لهب لاس پورته کړ او په ده مخ يې يوه کلکه څپيړه راکړه، زه هم ورپاځيدم او ورسره په جګړه شوم، خو څرنګه چې زه کمزوری وم، نو پورته يې کړم او پر ځمکه يې راوويشتم او د پاسه راباندې کيناست او وهلم يې، پدې وخت کې ام الفضل پاځيده او د خيمې يوه ستنې يې راواخيسته او ابولهب ته يې په ده سر داسې يوکلک ګوزار ورکړ چې سر يې ډير زيات مات شو، بيايې ورته وويل: دا چې مالک يې نشته، نو کمزوری دې وليد! پدې ګوزار پسې ابو لهب ذليل او سپک پاځيد، قسم په خدای چې لدينه وروسته يوازې اوه ورځې نور ژوندی وۀ، الله تعالی په عدسه مبتلا کړ، (عدسه يو قسم دانه يا يو قسم طاعون دی چې عرب يې په بدفال نيسي) او له همدې عدسې نه مړ شو. له مرګ نه وروسته دری ورځې همداسې پروت وۀ، زامنو يې لاس نه ورووړ، نه يې څوک خوا ته ورنژدې کيدل او نه يې چا د ښخولو فکر کاوه، خو کله يې چې زامن د خلکو له شرم او عار نه وويريدل او فکر يې وکړ که يې همداسې پريږدي، نو خلک به خبرې ورپسې وکړي، مجبور شول چې يوه کنده ورته وکيندي، بيايې له ليرې نه په يوه لرګي سره پدې کنده کې وروغاوه، او له ليرې نه يې تيږې ورباندې وروغورځولې او پټ يې کړ.

پدې ترتيب سره د بدر په ميدان کې د مشرکينو د رسوا ماتې خبر مکې ته ورسيد، دې خبر د مکې په اوسيدونکو ډير بد اثر وکړ، ان تر دې چې هغوی په مړيو باندې ژړا منع اعلان کړه، دا پدې خاطر چې د مدينې خلک د دوی په ژړا نور پسې خوشاله نه شي.

يوه په زړه پورې واقعه دا هم ده چې پدې غزا کې د اسود بن مطلب دری زامن وژل شوي وو. نوموړی په سترګو ړوند وۀ او زړه يې غوښتل چې د زامنو په مرګ ښه په چيغو چيغو وژاړي، يوه شپه يې د يوې ښځې د ژړا آواز واورېد، فورا يې خپل غلام واستاوه او ورته ويې ويل: وګوره چې په مړيو د ژړلو اجازه ورکړل شويده او که څنګه؟ آيا قريش پخپلو مړيو ژاړي؟ چې زه پخپل زوی ابو حکيمه وژاړم، زما سينه خو له ډيره غمه په چاوديدو ده.

غلام يې لاړ او کله چې بيرته راغی ورته ويې ويل: دا د هغې ښځې د ژړا آواز دی چې پخپل ورک شوي اوښ پسې ژاړي. دلته اسود له کنترول نه ووت او په خوله يې دا شعرونه جاري شول:

اتبكي ان يضـــــل لها بعير	و يمنعها من النوم الســـهود
فلا تبـــكى على بكر و لكن	على بدر تقاصرت الجدود

علی بـــدر سراة بني هصيص	و مخزوم و رهط ابي الوليد
وبكي ان بكيـــت علی عقيل	و بكي حارثا اسد الاسود
و بكيهم، ولا تســـمي جميعا	ومـــا لابي حكيمة من نديد
الا قد ســـاد بعـــدهم رجال	ولولا يوم بـــدر لم يسودوا

[آيا دا پدې ژاړي چې اوښ يې ورک شويدي؟ او پر هغه باندې بې خوابۍ يې خوب ورک کړيدی. په اوښ مه ژاړه، بلکه په بدر وژاړه چيرته چې قسمتونه ايرې شويدي،هو په بدر وژاړه چيرته چې بني هصيص، بني مخزوم او ابوالوليد د قبيلې سرداران دي، که ژاړې نو په عقبل وژاړه په هغه حارث وژاړه چې د زمريانو زمری وۀ نو په هغو خلکو وژاړه او د ټولو نومونه مه اخله، او د ابو حکيمه خو هيڅ مثل او سيال نه وۀ، وګوره، له هغوی نه وروسته داسې خلک سرداران شول، که د بدر ورځ نه وای، نو کله به هم نه وو سرداران شوي.]

په مدينه کې د فـتحې زيری

کله چې د مسلمانانو فتحه او بری په برخه شو، نو رسول الله (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) د مدينې اوسيدونکو ته د عاجل زيري لپاره دوه کسان عبدالله بن رواحه د مدينې د پاسنۍ برخې اوسيدونکو ته او زيد بن حارثه د مدينې د لاندينۍ برخې اوسيدونکو ته د زيري لپاره واستول.

هلته مدينه کې يهودانو او منافقانو پخپلو دروغو خبرونو او پروپاګند سره بده ورځ جوړه کړې وه ان تر دې چې د رسول الله (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) د مرګ خبر يې هم خپور کړی وۀ. او کله چې يوه منافق زيد بن حارثه د رسول الله (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) په اوښه (قصواء) باندې سپور وليد، نو ويې ويل: محمد (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) وژل شوی دی، او دا يې اوښه ده، مونږ خو يې پيژنو، دا هم زيد بن حارثه دی چې راتښتيدلی دی او له ډيرې ويرې يې هيڅ هم تر خوله نه خيژي. په هر حال دواړه زيري ورونکي مدينې ورسيدل، مسلمانان ورنه تاو شول، او خبرو ته يې غوږ شول، بالاخره پدې باوري شول چې د مسلمانانو فتحه او بری په برخه شويدی.

په مدينه کې هرې خوا ته خوښې او خوشالي خوره شوه، د تکبير او لا اله الا الله ناري

اوچتې شوې، مدينه ټوله له خوښۍ نه په حرکت راغله. مسلمان مشران يې د بدر لارې ته ورغلل تر څو خپل عظيم رهبر رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) ته ددې لويې فتحې مبارکي ووايي. اسامه بن زيد وايي: مونږ ته د فتحې خبر هغه وخت راورسيد چې مونږ په مدينه کې د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) په لور رقيه (رضي الله عنها) باندې چې د عثمان (رضي الله عنه) په نکاح کې وه خاورې اړولې وې. رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) زه هم د رقيې (رضي الله عنها) د خدمت لپاره له عثمان (رضي الله عنه) سره په مدينه کې پرې ايښی وم.

د غنيمت مسئله

رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) له جګړې نه وروسته دری ورځې نور هم د بدر په ميدان کې پاتې شو، او لدې ځای نه لا نه وځ خوځيدلی چې د غنيمت د مالونو په سر د مسلمانانو تر مينځ اختلاف پيدا شو. او کله چې دا مخالفت او اختلاف زيات شو، نو رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) امر وکړ چې ټول کسان دې د غنيمت مالونه ده ته وسپاري. سپاهيانو د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) امر عملي کړ او ټول شيان يې ورته تسليم کړل، وروسته وحي راغله او دا مشکل يې حل کړ.

له عباده بن صامت (رضي الله عنه) نه روايت دې وايي: له رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) سره له مدينې نه ووتلو، تر څو بدر ته ورسيدو له خلکو (مشرکانو) سره جګړه وشوه، الله تعالى دښمنانو ته ماتې ورکړه ، له مونږ يوه ډله خلک داسې وو چې کافران يې پسې اخستي وو او وژل به يې، خو بله ډله داسې وه چې په غنيمتونو پسې شوي وو راټولول او جمع کول به يې، يوه بله ډله خلک په رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) راټول شوي وو ويريدل چې هسې نه دښمن په فريب او چل سره څه ضرر ورورسوي، نو هغوی د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) ساتنه کوله، خو کله چې شپه شوه خلک سره راغونډ شول، هغو کسانو چې د غنيمت مالونه يې راوړي وو وويل: مونږ دا مالونه راټول کړيدي، د هيڅ چا برخه نشته پکې، او هغو کسانو چې په دښمنانو پسې تللي وو ويل: پدې مالونو کې ستاسې برخه زمونږ له برخې نه ډيره نده، ځکه دا مونږ وو چې دښمنان مو مات کړل او لدې مالونو نه مو ليرې وساتل. او هغو کسانو چې د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) ساتنه يې کړې وه ويل: مونږ خو لدې ويرې نه چې دښمنان په پټه او چل

سره رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) ته زيان و نه رسوي د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) په ساتنه او دفاع مشغول وو. پدې ترتيب سره دا مشکل را پيدا شو تر څو وحي را نازله شوه او پدې هکله يې داسې فيصله وکړه: ((يَسْأَلُونَكَ عَنْ الأَنْفَالِ قُلْ الأَنْفَالُ لِلَّهِ وَالرَّسُولِ فَاتَّقُوا اللَّهَ وَأَصْلِحُوا ذَاتَ بَيْنِكُمْ وَأَطِيعُوا اللَّهَ وَرَسُولَهُ إِنْ كُنتُمْ مُؤْمِنِينَ)) (الانفال:١)

[ترجمه: پوښتنه کوي دوی له تانه (اې محمده (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) له (حکمه) د غنائمو څخه ووايه دوی ته چې دا اموال د غنيمتونو خاص الله لره دي او رسول (د الله) لره دي (چې تقسيم يې کړي سم له شرعي اصولو سره) پس وويريږئ تاسې له الله نه او اصلاح وکړئ تاسې د هغه حال چې په مينځ ستاسې کې دی (يعنې په خپلو مينځونو کې سره دوستي وکړئ او نزاع پريږدئ) او حکم ومنئ تاسې د الله او (حکم ومنئ تاسې) د رسول د الله که يئ تاسې مؤمنان (په حقه سره).] او لدينه وروسته رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) د غنيمت مال د مسلمانانو تر مينځ وويشه.[1]

اسلامي لښکر د مدينې په لار

رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) په بدر کې له دری ورځې اقامت نه وروسته د مدينې په لور وخوځيد. مشرکان بنديان او د غنيمت مالونه هم ورسره وُ او ددې نگرانی يې عبدالله بن کعب (رضي الله عنه) ته سپارلی وه. کله چې د صفراء درې له تنګي نه ووت، ددې تنګي او نازيه سيمې تر مينځ پرتې يوې غونډۍ باندې يې واړول او د غنيمت له مال نه يې خمس (پنځمه برخه) جدا کړه او نور پاته يې په مساويانه ډول پر مسلمانانو باندې وويشه.

رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) د صفراء په دره کې د نضر بن حارث د وژلو حکم صادر کړ. نوموړی د بدر په ورځ د مشرکينو علمبردار و د هغوی بيرغ يې اوچت کړی وُ او د قريشو له هغو لويو مجرمينو او اسلام دښمنه عناصرو څخه شميرل کيده چې رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) ته يې زيان او تکليف رساوه. همغه وه چې علي (رضي الله عنه) يې د رسول الله (صلی الله علیه و اله و

[1]. احمد ٥/٣٢٣-٣٢٤. الحاكم ٢/ ٣٢٦

صحبه و سلم) په امر سر وواهه.
لدينه وروسته کله چې رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) عرق الظبیه ته ورسید هلته يې د عقبه بن ابي معيط د وژلو فرمان صادر کړ. دا هغه کس ؤ چې رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) ته يې ډير تکليفونه رسولي ؤ، او مونږ مخکې څه دا ډول پيښو ته اشاره هم کړيده. دا هماغه رذيل ؤ کوم چې د لمانځه په وخت کې يې پر رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) باندې د اوښ پريوان ور اچولی ؤ، او دا هماغه شيطان ؤ چې پخپل چادر سره يې د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) د زندې کولو کوښښ کړی ؤ او که ابوبکر (رضي الله عنه) نه وای راغلی، نو نژدې وه چې رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) مړ کړي. کله چې رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) د هغه (عقبه) د وژلو امر وکړ، نو ده ورته وويل: يا محمد (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم)! زما د ماشومانو لپاره به څوک وي؟ رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) وفرمايل: اور.[1] ويل کيږي چې دده سر عاصم بن ثابت انصاري او په بل روايت علي بن ابي طالب (رضي الله عنه) وواهه.
د جنګی تاکتيک او استراتيژۍ له مخې ددې دوو رذيلانو وژل ځکه ضروري ؤ، چې دا دواړه نه يوازې جنګي اسيران بلکه په ننني ژبه جنګي مجرمان هم وو.

د مبارکۍ وفدونه (پلاوي)

کله چې رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) روحاء ته ورسيد د مسلمانانو هغه مشران يې استقبال او مبارکۍ ته حاضر شول چې له مدينې نه د همدې غرض پخاطر راوتلي وو. پدې وخت کې سلمه بن سلامه مبارکي ويونکو مسلمانانو ته وويل: تاسې مونږ ته د څه مبارکي راکوئ؟ قسم په خدای مونږ د اوښانو په شان له زړو بوډاګانو ګنجيانو سره مخ شوي وو. پدې خبرې سره رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) تبسم وکړ او ويې فرمايل: وراره! هغوی د قوم مشران وو.
اسيد بن حضير عرض وکړ: يا رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم)! حمد او ثنا دې وي هغه خدای لره چې ته يې برلاسی او بريالی کړی او ستا سترګې يې رڼې او يخې کړې، يا رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم)! قسم په خدای زه له بدر نه پدې ګومان نه يم پاتې شوې چې ته به له دښمن سره جګړه کوې، زما خيال خو دا وو

---

[1]. دا حديث په صحاح کتابونو کې روايت شويدی سنن ابو داود د هغه له شرحې عون المعبود سره وګوره ۱۲/۳

چې يوازې د کاروان خبره ده، که زه خبر وای چې له دښمن سره مقابله ده، نو کله به هم نه وای درنه پاتې شوی. رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) وفرمایل: ته رښتیا وایې. وروسته رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) پداسې حال کې مدینې منورې ته سر لوړی، کامیاب او منصور ننوت چې پر دښمنانو یې په مدینه کې د ننه وو که د باندې ویره او هیبت لویدلی و. ددې عظیمې فتحې په نتیجه کې د مدینې ډیر خلک په اسلام مشرف شول، عبدالله بن ابي بن سلول او ملګري یې هم په همدې وخت په ظاهري توګه د مسلمانانو لیکو ته داخل شول.

مدینې ته د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) له تشریف راوړلو نه یوه ورځ وروسته بندیان هم راورسیدل. هغوی یې پخپلو اصحابو (رضي الله عنهم) وویشل، امر یې ورته وکړ چې له بندیانو سره ښه او نیکه معامله وکړي. اصحابو (رضي الله عنهم) د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) د امر د تعمیل پخاطر له بندیانو سره دومره نیکي کوله چې پخپله به یې خرما خوړلې، خو بندیانو ته به یې ډوډۍ ورکوله (هغه وخت په مدینه کې خرماوې له ټولو نه ارزانه او بې ارزښته وې، خو ډوډۍ ډیره قیمته او مهمه بلل کیدله).

د بندیانو مسئله

کله چې رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) مدینې ته ورسید، نو د بندیانو په هکله یې له اصحابو (رضي الله عنهم) سره مشوره وکړه چې څه ورسره وشي؟ ابو بکر (رضي الله عنه) وویل: یا رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم)! دوی (بندیان) زمونږ وروڼه، د تره زامن او خپلوان (تربرونه) دي، زما رایه خو دا ده چې فدیه ورنه واخلې، ځکه دا به له یوې خوا د مشرکینو په مقابل کې زمونږ لپاره مالي او اقتصادي تقویه او کومک وي، او له بلې خوا کیدای شي الله تعالی دوی ته هم د نیکۍ هدایت وکړي او زمونږ مرستندویان شي.

رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) وفرمایل: ته څه وایې یا ابن خطابه! عمر(رضي الله عنه) وایي ما وویل: زه د ابوبکر (رضي الله عنه) نظریه نه تاییدوم، بلکه زه دا وایم چې ما ته فلانی – نومورې د عمر (رضي الله عنه) خپلوان ؤ، په لاس راکړئ چې سر یې ووهم، او علي (رضي الله عنه) ته عقیل بن ابي طالب وسپارئ چې سر یې غوڅ کړي، او فلانی چې د حمزه (رضي الله عنه) ورور ؤ حمزه (رضي الله عنه) ته

ورکړئ چې مرۍ يې ورپرې کړي، تر څو الله تعالی ووينې چې زمونږ په زړونو کې د کفارو او مشرکينو لپاره رحم او مهرباني ځای نلري، دوی (اسيران) خو د مشرکانو، سرداران او مشران دي.

عمر (رضي الله عنه) وايي رسول الله (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) د ابوبکر (رضي الله عنه) رايه غوره کړه او زما نظر يې و نه ما نه، فيصله يې وکړه چې له بنديانو نه فديه واخلي. عمر (رضي الله عنه) وايي سبا سهار رسول الله (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) او ابوبکر ته ورغلم، که ګورم دواړه ژاړي، ما ورته وويل: يا رسول الله (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) ولې؟ ته او ملګری دې په څه ژاړي؟ پوه مې کړه که د ژړا وجه راته ښکاره شوه، زه به هم درسره وژاړم، او که د ژړا وجه نه وه، نو ستاسې حضراتو په ژړا به وژاړم. رسول الله (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) وفرمايل: (**أبكى للذي عرض على أصحابك من أخذهم الفداء، فقد عرض عليّ عذابهم أدنى من هذه الشجرة**) په هغه څه ژاړم چې د فديې قبلولو له امله ستا ملګرو ته پيښ شويدي، ما ته د دوی عذاب له دې ونې نه – يوې نژدې ونې ته يې اشاره وکړه[1] هم لنډ رابنوودل شويدی. الله تعالی دا آيتونه رانازل کړيدي: ((**مَا كَانَ لِنَبِيٍّ أَنْ يَكُونَ لَهُ أَسْرَى حَتَّى يُثْخِنَ فِي الأَرْضِ تُرِيدُونَ عَرَضَ الدُّنْيَا وَاللَّهُ يُرِيدُ الآخِرَةَ وَاللَّهُ عَزِيزٌ حَكِيمٌ (٦٧) لَوْلا كِتَابٌ مِنْ اللَّهِ سَبَقَ لَمَسَّكُمْ فِيمَا أَخَذْتُمْ عَذَابٌ عَظِيمٌ**)) (**الانفال: ٦٧– ٦٨**)

[نه ښايي نبي لره دا چې وي ده لره بنديان (چې ترې فديه واخلي) تر هغه وخته چې قوي شي په ځمکه کې (د مشرکينو د ډير قتل او جرحې په سبب) آماده کوئ تاسې (اې مؤمنانو) اسباب د دنيا (په اخيستلو د فديې سره) او الله اراده لري (تاسې لره ثواب) د آخرت (د مشرکينو د قتل په سبب) او الله ښه غالب قوي دی (په انفاذ د احکامو، ښه حکمت والا دی چې هر کار په تدبير او مصلحت سره کوي. او که نه وی ازلي حکم له جانبه د الله چې وړومبی ليکل شويدی (په لوح محفوظ کې) نو خوامخاه رسيدلی به وۀ تاسې ته په عوض د) هغې (فديې) کې چې اخيستی ده تاسې عذاب ډير لوی.]

او هغه کتاب (نوشته) چې د الله له لوري يې سبقت کړی وۀ دا وۀ چې ((**فَإِمَّا مَنّاً بَعْدُ وَإِمَّا فِدَاءً**)) (**محمد: ٤**) [يعنې چې يا احسان وربانديې وکړئ او يا يې د فديې په بدل کې خوشي کړئ.]

---

[1]. تاريخ عمر بن الخطاب لابن الجوزي ص ٢٦.

دا آيت د بنديانو په مقابل کې د فديې اخيستلو اجازه ورکوي، او همدا وجه وه چې اصحاب (رضي الله عنهم) د فديې قبلولو په وجه په عذاب نه شول، بلکه يوازې عتاب او سر زنش وربانديې رانازل شو هغه هم پدې خاطر چې دوی مشرکين له ښو ځپلو او ډير وژلو نه مخکې اسيران کړل. او بله دا چې هغوی له داسې خلکو نه فديه واخيستله چې نه يوازې جنګي بنديان وو بلکه جنګي لوی لوی مجرمان هم وو، داسې جنګي مجرمان چې د جنګ ننني قانون يې هم بې له محاکمې نه خوشي کوي او څرګنده ده چې په دا ډول مجرمينو به يا د اعدام حکم کيږي او يا به په دايمي بند محکوميږي.

په هر حال د ابوبکر (رضي الله عنه) د مشوری سره سم له بنديانو نه فديه واخيستله شوه، د فديې اندازه څلور زره او دری زره درهمه او يو زر درهمه ټاکل شوې وه. او څرنګه چې د مکې خلک په ليک لوست پوهيدل او د مدينې خلک لدې نعمت نه محروم وو، نو دا فيصله هم وشوه هغه بنديان چې د فديې ادا کولو وس نلري هغوی دې د مدينې لسو هلکانو ته ليک لوست ور زده کړي او هر کله چې دې هلکانو ليک لوست ښه زده کړ، نو همدا ددې بندي فديه شوه.

رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) په ځينو بنديانو ځانګړی احسان او منت هم کيښود، هغوی يې بيله فديې آزاد کړل. له دې جملې نه مطلب بن حنطب، صيفي بن ابي رفاعه، او ابو عزه الجمحي وو دا وروستی بيا د احد په غزا کې اسير او ووژل شو (د پيښې تفصيل وروسته راځي).

همدا راز رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) پخپل زوم ابي العاص هم احسان وکړ، خوشی يې کړ، خو دا شرط يې وربانديې کيښود چې د زينب (رضي الله عنها) مخه به نه نيسي يعنی اجازه به ورکوي چې هجرت وکړي. ددې وجه دا وه چې زينب (رضي الله عنها) د خپل ميړه ابي العاص د خوشي کيدو او فديې ادا کولو پخاطر څه اندازه مال را استولی وۀ، پدې شيانو کې يو اميل هم وۀ، دغه اميل په اصل کې د خديجی (رضي الله عنها) وۀ، چې خپلې لور زينب (رضي الله عنها) ته يې د ابو العاص کور ته د رخصتيدو په وخت ورکړی وۀ. رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) چې دا آميل وليد زړه يې ډير نرم شو، اصحابو (رضي الله عنهم) نه يې د ابو العاص د خوشي کيدو خبره وکړه. اصحابو (رضي الله عنهم) قبوله کړه، خو رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) په ابو العاص دا شرط کيښود چې زينب (رضي الله عنها) ته به اجازه ورکوي چې مدينې ته راشي. ابو العاص په خپل شرط وفا وکړه او زينب (رضي الله عنها) مدينې ته مهاجره شوه. رسول الله (صلى الله عليه و اله و

صحبه و سلم) زيد بن حارثه او يو انصاري ته وظيفه ورکړه امر يې ورته وفرمايه : (**کونا ببطن يَأجَج حتی تمر بکما زينب فتصحباها**). چې لاړ شي او د ياجج په دره کې تر هغې انتظار وباسي تر څو زينب دربانديې راشي او بيايې له ځان سره راولئ. هغوی لاړل او د رسول الله (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) لور يې راوستله، ددې د هجرت کيسه ډير اوږده او له حده نه زياته دردونکې ده.

د بنديانو په ډله کې مشهور او تيز زبانه خطيب سهيل بن عمرو هم وۀ. عمر (رضي الله عنه) رسول الله (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) ته عرض وکړ چې دده د مخې دواړه غاښونه ورمات کړه، بيا به يې ژبه بنده بنده غوندی کيږي، او هيڅرته به هم ستا په خلاف مغرضانه خطبې نه شي ويلی، خو رسول الله (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) د عمر (رضي الله عنه) دا وړانديز رد کړ، ځکه دا د مثلې په حکم کې راځي او پدې ډول عمل سره د قيامت په ورځ د الله د ګرفت ويره هم ده.

سعد بن نعمان (رضي الله عنه) د عمرې ادا کولو لپاره مکې ته لاړ، هلته ابو سفيان بندي کړ د ابو سفيان زوی عمرو هم د بنديانو په ډله کې وۀ، نو هغه يې خپل پلار ابو سفيان ته ورولېږه چې هغه يې په بدل کې سعد بن نعمان را خوشی کړ.

ددې غزا په هکله د قرآنکريم تبصره

ددې غزا په هکله د انفال سورت نازل شو، او که چيرې دا تعبير درست وبلل شي، نو ويلی شو چې دا سورت په حقيقت کې پدې غزا باندې يوه الهي تبصره وه، خو دا داسې تبصره ده چې له هغو تبصرو سره ډير توپير لري کومې چې پاچايان او د لښکر قوماندانان يې له فتحې وروسته خلکو ته اوروي.

الله تعالی په پيل کې د مسلمانانو نظر د هغو تقصيراتو او اخلاقي کمزورويو په لور راوګرزاوه، کومې چې لا تر اوسه له دوی سره موجودې وې، او ځينی خو يې په همدې وخت کې له دوی نه پيښې شوې وې دا هم پدې خاطر چې مسلمانان ځانونه لدې نقايصو نه پاک کړي، د کمال او عظمت لوړ مقام ته پورته شي.

پدې پسې يې له مسلمانانو سره د الله تعالی له نصرت او غيبي کومک نه يادونه وکړه، ددې هدف دا وۀ چې مسلمانان په خپل قوت او شجاعت غره نه شي، کبر او غرور يې زړونو ته لار پيدا نکړي. هغوی بايد تل په الله توکل ولري، د الله او رسول الله (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) په وړاندې تسليم او فرمانبردار و اوسي.ورپسې يې هغو لوړو او غوره اهدافو ته اشاره وفرمايله د کومو لپاره چې رسول الله (صلی الله

علیه و اله و صحبه و سلم) دې خونړۍ جګړې ته ننوتی وٴ، او هغه صفات او اخلاق یې په ګوته کړل د کومو په وجه چې دوی ته فتحه او بری ور په برخه شوی وٴ او یا چې د هغې پذریعه جنګونه ګټل کیدای شي. بیا یې مشرکینو، منافقینو، یهودو او جنګي بندیانو ته خطاب فرمایلی، ډیر فصیح او بلیغ نصیحت یې ورته کړی تر څو هغوی د حق په واړندې تسلیم شي او په حقیقت اعتراف وکړي. وروسته یې مسلمانان مخاطب ګرزولي او د غنیمت په هکله یې اساسي او څرګند اصول او قوانین ورته بیان کړیدي.

پدې پسې یې د جنګ او سولې هغه قوانین او اصول توضیح او تشریع کړي کوم چې پدې وخت کې اسلامي دعوت ورته اړتیا درلوده. دا ددې لپاره چې د مسلمانانو جنګ باید د جاهلیت له جنګ نه بیل او اوچت وي، او مسلمانان باید په اخلاقي، عملي او ټولو نورو اړخونو کې له نورو نه مخکې او وړاندې وي. او دنیا باید پدې پوه شي چې اسلام خالي نظریه نده، بلکه اسلام خپل پیروان په ټولو هغه اصولو او مقرراتو به عملي توګه سینګاروي د کومو چې دغه دین غوښتونکی دی او نور خلک ورته رابولي.

بیا یې د اسلامي حکومت د قانون او دستور د ځینو موادو یادونه کړیده. او له هغه نه دا په ډاګه کیږي چې د اسلامي حکومت په حدودو کې د ننه او له پولو نه د باندې اوسیدونکو مسلمانانو تر مینځ څه توپیر وجود لري.

ځنې نورې پیښې

د دوهم هجري کال د رمضان په میاشت کې د رمضان روژه، او د فطر صدقه فرض شوه. د زکات د مختلفو نصابونو تفصیل او بیان هم راغی، د فطر صدقې او زکات د نصاب په فرضیت او بیان سره د هغو فقیرانو او بې وسه مهاجرینو ډیر مشکلات او ستونزې حل شوې کومو چې د سفر او کار توان او قدرت نه درلود.

له ټولو نه د خوشحالۍ خبره او ډیر نیک تصادف دا وٴ چې مسلمانان لومړنی عید چې د دوهم هجري کال د شوال په لومړۍ ورځ وٴ هغه وخت ولمانځه چې د بدر په میدان کې یې لویه فتحه او کامیابی هم تر لاسه کړې وه. څومره بختور وٴ دغه عید چې الله مسلمانانو ته د بري او عزت له تاج ور په سر کولو نه وروسته راوستې وٴ، څومره زړه رابنکونکی وه د هغه لمانځه صحنه چې مسلمانان له خپلو کورونو نه پداسې حال کې ورته راوتلي وو چې په ژبو یې د توحید، تکبیر او تحمید کلمې جاري وې. هو

مسلمانان پداسې حال کې د لومړني عيد لمونځ په هغه ميدان کې ادا کوي چې د تکبير ناړې يې آسمان ته اوچتې شوې، زړونه يې د الله له مينې ډک وو، او په ژبو يې د الله د نعمتونو او مهربانيو له امله شکراني او شکرونه ايستل، د عجز سرونه يې ورته ټيټول او سترګې يې د خپل رب د لا زيات رحمت او رضا په لور کړې وې. الله تعالی خپلو دې نعمتونو ته اشاره کوي فرمايي: ((**وَاذْكُرُوا إِذْ أَنْتُمْ قَلِيلٌ مُسْتَضْعَفُونَ فِي الأَرْضِ تَخَافُونَ أَنْ يَتَخَطَّفَكُمْ النَّاسُ فَآوَاكُمْ وَأَيَّدَكُمْ بِنَصْرِهِ وَرَزَقَكُمْ مِنْ الطَّيِّبَاتِ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ**)). (الانفال: ٢٦) [او ياد کړئ تاسې هغه وخت چې تاسې لږ ضعيفان (مغلوبان کړی شوي وئ په ځمکه کې، ويريدئ تاسې له دې نه چې وبه تښتوي په تيزی سره تاسې خلق ((يعنی مغلوب به کړي تاسې قريش يا فارس ياروم)) نو ځای درکړ ((الله)) تاسې ته او قوت يې درکړ تاسې ته په کومک (مدد) سره او روزي يې درکړه تاسې ته له طبياتو (پاکو شيانو لکه غنائم)) لپاره ددې چې تاسې شکر وباسئ.]

د بدر او احد تر مينځ پوځي عمليات

بدر د مسلمانانو او مشرکانو تر مينځ لومړنی پريکنده وسله واله نښته وه. پدې غزوه کې فتح او بری د مسلمانانو په برخه شو. ددې جګړې له نتائجو نه دوې ډلې خلک ډير غمجن او نا آرامه وو، لومړنی ډله هغه مشرکين وو چې په جګړه کې مستقيماً زيانمن شوي وو د مال او سر ډير تاوان وراوښتی و. او دوهمه ډله يهودان وو ځکه دوی د مسلمانانو عزت او کاميابي خپل ديني او اقتصادي موجوديت ته لوی خطر او ملاماتونکې ګوزار باله، نو د دوی ټولو په زړونو اور بل شوی ؤ او له ډير غم او غوسې نه په ځان نه پوهيدل ((لَتَجِدَنَّ أَشَدَّ النَّاسِ عَدَاوَةً لِلَّذِينَ آمَنُوا الْيَهُودَ وَالَّذِينَ أَشْرَكُوا)) (المائدة:۸۲) [له مسلمانانو سره تر ټولو زياته دښمني د يهودانو او مشرکانو ده.]

په مدينه کې داسې کسان هم وو چې په ښکاره خو يې له مجبوريت نه او د خپل وقار ساتلو پخاطر اسلام راوړی ؤ، خو په پټه او واقعيت کې له مشرکينو او يهودانو سره ملګري وو. دا د عبدالله بن ابي بن سلول ډله وه، دې دريمې ډلې هم له مسلمانانو سره لکه د دوو نورو ډلو په شان زياته کينه او عداوت درلود.

ځلورمه ډله خلک هم وو، هغوی د مدينې شاو خوا ميشته بدويان او کوچيان وو، دوی ته کفر او اسلام اهميت نه درلود، ژوند يې په غلا او چور روان ؤ، د مسلمانانو لدې فتحی او بري نه ډير په تشويش کې شول، ځکه فکر يې کاوه که چيرې په مدينه کې يو پياوړی حکومت قايم شي، نو بيا خو به حتماً له چور او چپاول نه د دوی لاسونه ورلنډوي پداسې حال کې چې د دوی د روزی ګټلو طريقه او لاره همدا ده، نو د دوی زړونه هم د مسلمانانو له دښمنی او عداوت نه ډک شول.

پدې ترتيب سره مسلمانان له ټولو خواو نه له خطرونو او تهديدونو سره مخ شول، خو مخکی يادوشويو ډلو له مسلمانانو سره د معاملې بيلې بيلې لارې ونيوې. هرې ډلې هغه طريقه غوره کړه چې د خپلو اهدافو د تحقق لپاره يې مناسبه بلله. د مدينې او شاو خوا برخو هغو خلکو چې په ښکاره يې ځانونه اسلام ته منسوبول د مسلمانانو په

خلاف د فتنو، دسيسو، توطئو او نورو مشکلاتو راولاړولو لاره خپله کړې وه.
د يهودانو يوه ډله داسې وه چې له مسلمانانو سره يې د ښکاره او علني دښمنۍ لاره نيولې وه. هلته د مکې مشرکينو د انتقام او غچ اخيستلو لپاره متې رانغښتلې او د حملې تياري يې نيوله، او لکه چې مکې مسلمانانو ته د حال په ژبه داسې پيغام ورليږلی وۀ:

و لابد من يوم اغر محجل يطول استماعي بعده للنوادب

[داسې يوه ورځ او ځلانده ورځ ډيره ضروري ده چې له هغې نه وروسته تره ډيره وخته په مړو د ژړيدونکو ژړا واورم.]
وروسته همداسې وشول، يو کال وروسته د مکې مشرکينو د مدينې په پولو کې د احد په نامه مشهوره جګړه توده کړه کوم چې د مسلمانانو په هيبت او منزلت يې ډير منفي اثر واچاوه. خو مسلمانان ددې ټولو خطرونو مقابلې ته ودريدل او ددې خطرونو په خنثی کولو کې يې داسې رول ولوباوه چې د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) په قيادت، عظمت، وينښتابه، د خطرونو په پوره پيژندنه او ادراک د خطرونو د له مينځه وړلو پخاطر په حکيمانه تدبير او تخطيط دلا لت کوي، چې په راتلونکو پاڼو کې به ورته لنډه غوندې اشاره هم وکړو.

د کدر په سيمه کې د بني سليم غزا

د بدر له غزا نه وروسته د مدينې استخباراتو رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) ته لومړی دا خبر راوړ چې د غطفان قبيلې يوه څانګه (بني سليم) په مدينه باندې د حملې تياري نيسي، نو رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) له دوو سوو کسانو سره په ناڅاپه توګه د دوی مقابلې ته ور روان شو، او د کدر [1] تر سيمې مخکی ورغی. بنو سليم په ځان کې د مقابلې توان ونه ليد، وتښتيدل او پنځه سوه اوښان يې دلته په ځای پريښودل، چې مسلمانانو راونيو او وروسته رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) له خمس اخيستلو نه وروسته پر لښکر باندې وويشل، هر چا ته دوه دوه اوښان ورسيدل، پدې وخت کې يې ده (يسار) په نامه يو غلام هم ونيو، چې بيا يې آزاد کړ.
رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) دلته له دريو ورځو تم کيدو نه وروسته

---

[1]. کدر داسې يو مرغه دی چې په رنګ کې يې څه خړوالی دی، او کدر د مکې او شام په تجارتي لاره د نجد په سيمه کې د بنو سليم يو اوبه خور هم وۀ.

بيرته مدينې ته ستون شو. دا غزا له بدر نه له راستنيدو نه اوه ورځې وروسته يعنې د دوهم هجري کال د شوال په مياشت کې پيښه شوې وه. رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) پدې غزا کې سباع بن عرفطه او په بل روايت ابن ام مکتوم[1] په مدينه کې خپل خليفه ټاکلی وۀ.

۲- د رسول الله (ﷺ) د قتل توطئه

د بدر په غزا کې د ماتې له امله مشرکين ټول په لړزه راغلي وو، اور پرې بل وۀ او مکه له رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) سره له دښمنۍ او کينې نه د جوش کټوې په شان خوټکيده. بالاخره دوه قهرمانان يا غښتلي ځوانان فيصله کوي او تصميم نيسي چې د دوی په ګومان د دوی د اختلاف او بدبختۍ، ذلت او سپکاوي اصلي عامل يعنی رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) له مينځه يوسي. له بدر نه کمه موده وروسته عمير بن وهب جمحي له صفوان بن اميه سره په حطيم کې ناست وۀ، عمير خو د مکې هغه شيطان وۀ چې رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) او اصحابو ته يې ډير تکليف رساوه، او زوی يې وهب په بدر کې اسير شوی وۀ. دلته يې په بدر کې د وژل شويو مشرکينو (اصحاب قليب) کيسه وکړه، نو صفوان ورته وويل: لدينه وروسته په ژوند کې خير او مزه نشته. عمير ورته وويل: رښتيا دې وويل، قسم په خدای که دا قرض راباندې نه وای چې وجه يې هم نه ورته لرم، او دا اولاد مې نه وای چې له مرګ نه وروسته وربانديې ويريږم، نو همدا اوس به په اوښ ورسپريدم او محمد (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) به مې واژه، زما بهانه هم جوړه ده زوی مې ور سره بندي دی.

صفوان دا فرصت غنيمت وګانړه ورته ويې ويل: قرض دې په ما، زه يې ادا کوم، ستا اولاد به هم زما له اولاد سره يو ځای وي، يعنی لکه زما د خپل اولاد په شان به وي، او تر څو چې ژوندي دي کفالت او سرپرستي به يې کوم. او داسې به پيښه نه شي چې زه څه ولرم او دوی ته يې ورنه کړم. عمير ورته وويل: سيي ده خو دا راز پټ ساته. صفوان وويل: بې غمه اوسه. بيا عمير لاړ توره يې تيره او زهرجنه کړه او مدينې ته روان شو. کله چې هلته ورسيد او د مسجد له دروازې سره يې خپله اوښه چو کوله پدې وخت کې

---

[1]. زاد المعاد ۲/ ۹۰ ابن هشام ۲/ ۴۳- ۴۴ مختصر سيره الرسول ص ۲۳۶

عمر (رضي الله عنه) چې له مسلمانانو سره يې د بدر په غزا کې د الله تعالی له کرم او نصرت نه خبرې کولې، متوجه شو او سترګې يې په عمير ولګيدې، ويې ويل: دا سپی، دا د الله دښمن، د څه شر او فتنې لپاره راغلی دی؟! فورا رسول الله (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) ته ورغی او ورته ويې ويل: يا رسول الله (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم)! د خدای دښمن عمير توره په لاس راغلی دی. رسول (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) وفرمايل: **قال: (فأدخله علي)**. رايې ولئ. عمر (رضي الله عنه) راغی او عمير يې له غاړې سره دده د توري له پړې نه ونيو، څو کسه انصارو ته يې وويل: لاړ شئ له رسول الله (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) سره کينئ، ددې خبيث (عمير) خواته متوجه اوسئ ځکه دا باوري او مطمئن سړی ندی. بيا يې عمير د رسول الله (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) حضور ته وړاندې کړ. کله چې رسول الله (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) وليد ، نو ويې فرمايل: **ال: (أرسله يا عمر، ادن يا عمير)**. عمره! دا پريږده او عميره! ته را لنډ شه. هغه ورغی او ورته ويې ويل: سهار په خير! رسول الله (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) وفرمايل: **(قد أكرمنا الله بتحية خير من تحيتك يا عمير، بالسلام تحية أهل الجنة)**. عميره! الله تعالی ستاسې له تحيې نه غوره تحيه چې د اهل جنت تحيه ده راکړې او هغه (سلام) دی. بيايې ورته وويل:**(ما جاء بك يا عمير ؟)**. عميره ولې راغلی يې؟ ده وويل: له تاسې سره دې بندي راوستې يم، نيکي ورسره وکړئ! رسول الله (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) وفرمايل:**(فما بال السيف في عنقك؟)**. نو دا توره دې ولی په غاړه کې اچولې ده؟ عمير وويل: خدای دې دا توري په بلا ووهي، ددې تورو مونږ ته څه ګټه راورسيده؟ رسول الله (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) ورته وويل: **(اصدقني، ما الذي جئت له ؟)**. ربښتيا وايه د څه لپاره راغلی يې؟ ده وويل: زه صرف د همدې غرض لپاره راغلی يم. رسول الله (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) ورته وفرمايل: **قال: (بل قعدتَ أنت وصفوان بن أمية في الحِجْر، فذكرتما أصحاب القليب من قريش، ثم قلت: لولا دين علي وعيال عندي لخرجت حتى أقتل محمداً، فتحمل صفوان بدينك وعيالك على أن تقتلني، والله حائل بينك وبين ذلك)**.نه داسې نده، ته او صفوان چې په حطيم کې سره ناست وئ، د قريشو د قليب (کندې) خاوندان (هغه چې په بدر کې

ووژل شول) مو ياد کړل، بيا تا وويل: که زما د قرضداری او اولاد غم نه وای، نو د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) د مرګ لپاره به ورغلی وم، بيا صفوان ستا قرض او اولاد پخپله غاړه واخيستل، تر څو ته ما ووژنې، خو الله تعالی ستا دا شوم هدف نه ترسره کوي. ددې په اوريدو سره عمير وويل: زه شاهدي وايم چې ته د الله رسول يې، يا رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم)! کله به چې تا د وحي او آسمان خبر راوړ، نو مونږ به نه مانه، خو دا خبره چې له ما او صفوان نه پرته بل هيچا هم نده اوريدلې، قسم په خدای چې ته الله تعالی ورباندې خبر کړی يې، ثنا او صفت دی هغه خدای لره چې د اسلام په لور يې زما لارښوونه وکړه، او دې ځای ته يې راوستم. ورپسې يې د شهادت کلمه وويله، نو رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) اصحابو ته وفرمايل: **وسلم: (فقهوا أخاكم في دينه، وأقرئوه القرآن، وأطلقوا له أسيره)**. خپل ورور ته دين ورزده کړئ، قرآن ورته ولولئ او بندي يې ورته آزاد کړئ. هلته په مکه کې به صفوان خلکو ته ويل: صبر وکړئ ډير ژر به د داسې پېښې زيری واورئ چې د بدر غم به مو ورباندې هير شي. او تل به يې له خلکو نه د عمير په هکله پوښتنې کولې، بالاخره يوه سواره لدينه خبر کړ چې عمير مسلمان شويدی، نو صفوان قسم ياد کړ چې نور به نه ورسره خبرې وکړي او نه به ورته څه ګټه ورسوي. عمير بيا مکې ته راستون شو او هملته ديره شو، خلک يې اسلام ته رابلل او د همده په لاس ډير کسان په اسلام مشرف شول.[1]

۳-د بني قينقاع غزا

په تيرو پاڼو کې مو له يهودانو سره د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) د معاهدې يادونه وکړه. رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) پخپل ټول وس سره ددې معاهدې د تطبيق کوښښ کاوه د عملي کولو هيله يې درلوده. او د تطبيق په ميدان کې له يوه مسلمان نه هم داسې کوم کار ندی صادر شوی چې د نومورې معاهدې له کوم بند او مادې سره دې تناقض ولري، خو يهودانو چې تاريخ يې ټول له غدر، خيانت، بی وفايۍ، جفا او عهد شکنۍ نه ډک دی، دا ځل هم وفا ونه شوی کړی، ډير ژر خپل پخواني حالت ته واوښتل د مسلمانانو په مينځ کې يې د توطئو،

---

[1] ابن هشام ۱/ ۶۶۱- ۶۶۲- ۶۶۳

فتنو، پريشانيو او سازشونو راولاړولو لپاره هڅې پيل کړي. راځئ د يهودانو ددې ډول مکاريو او توطئو يو مثال هم تر نظر تير کړو:

د يهودانو د مکر او فريب يوه نمونه

ابن اسحاق وايي:يو ځل يهودي شاس بن قيس چې ډير بوډا، غټ کافر او د مسلمانانو له ټولو نه لوی دښمن ؤ د اصحابو (رضي الله عنهم) په يوه مجلس تيريده، که ګوري چې هلته د اوس او خزرج خلک ګډ سره ناست دي يو له بل سره خبرې اترې کوي. يهودي چې دا حالت وليد چې اسلام هغه د جاهليت په دوران کې سره دښمنې قبيلې څه ډول سره يو کړيدي، د مينې او محبت په مزي يې سره تړلې دي، نو په زړه کې يې د عداوت او حسد د اور لمبی بلې شوې، ويې ويل: دلته د بنو قيله سرداران سره يو شوی دي، قسم په خدای د دوی له اتحاد او يووالي نه وروسته دلته زمونږ ټيکان او ګذران ډير ګران دی، دا فکر يې وکړ او هغه يهودي ځوان ته يې چې ور سره ملګری ؤ وويل: د دوی مجلس ته ورشه ورسره کينه د بعاث د جګړې او له هغه نه مخکې حالاتو يادونه وکړه او هغه اشعار ورته ووايه کوم چې دواړو طرفونو (اوس – خزرج) پدې هکله ويلي وو. هغه ځوان لاړ او همداسې يې وکړل، نو اوس او خزرج خبرې او مناقشې پيل کړې، يو په بل يې د فخر او ويار څرګندونه کوله، سره مخالف شول تر څو له دوی نه دوه کسان راپورته شول، يو د بل په خلاف يې خبرې وکړې، بالاخره يوه بل ته وويل: که غواړي، نو همدا اوس به بيا د همغې خپل منځي جګړې اور بيا راتازه کړو! دواړه قبيلې په غوسه شوې او سره ويې ويل: سيي ده نو راځئ د حره ميدان ته چې سره معلومه يې کړو! ناړې يې وکړې وسله راوړئ ، ټول راووتل او نژدې وه چې د جګړې اور بل شي.

دا خبر رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) ته ورسيد ، هغه مبارک له يو شمير مهاجرينو سره يو ځای تشريف راوړ او ويې فرمايل: (**يا معشر المسلمين، الله الله، أبدعوي الجاهلية وأنا بين أظهركم بعد أن هداكم الله للإسلام، وأكرمكم به، وقطع به عنكم أمر الجاهلية، واستنقذكم به من الكفر وألف بين قلوبكم**).اې مسلمانانو! الله در په ياد کړئ، خدای ته وګورئ، بيا د جاهليت ناره او دعوه، هغه هم پداسی حال کې چې زه ستاسې په مينځ کې يم او وروسته له هغې چې الله تعالى په اسلام مشرف کړئ، له جاهليت نه يې را بيل او له کفر نه يې نجات درکړ، او په زړونو کې يې درته يو د بل مينه او الفت واچاوه؟

همدا وه چې دوی (اوس او خزرج) پوه شول چې دا يو شيطاني حرکت، وسواس او د دښمنانو چل او فريب وٴ، ژر په حقيقت پوه شول، له سترګو يې اوښکې روانې شوې، يو بل يې په غيږ کې ونيوه او بيا له رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) سره په پوره اخلاص او اطاعت او داسې حال کې روان شول چې الله تعالى ورته د اسلام د دښمن شاس بن قيس له مکر او فريب نه نجات ورپه برخه کړی و.[1].

دا د مسلمانانو په مينځ کې د يهودانو د توطئو او فتنو يوه وړه نمونه وه او د هغې سلسلې يوه کړۍ وه کومه چې يهودانو د اسلامي دعوت د مخنيوي لپاره په کار اچولې وه. هغوی ددې شوم هدف او مقصد لپاره مختلفې لارې او ډيرې منصوبې جوړې کړې وې، بې اساسه او دروغجن تبليغات به يې کول، سهار به يې ايمان راوړ او مابنام به بيرته کفر ته اوړيدل دا ددې پخاطر چې له کمزورو مسلمانانو سره د اسلام په هکله شکوک او شبهې را پيدا شي.

او پر هغو مسلمانانو به يې اقتصادي فشار راوړ، ژوند به يې وربانديې تنګاوه له کومو سره به يې چې مالي معامله درلوده. که قرض به يې وربانديې وٴ ، نو سهار، مابنام به يې دروازې ته ولاړ او د قرض د ادا غوښتنه به يې ورنه کوله او که د مسلمان قرض به پر دوی و، نو نه به يې ورکاوه، په ظلم او زياتي سره به يې ورنه خواړه او ورته ويل به يې: ستا قرض خو هغه وخت راباندی وٴ چې ته پخپل پلرني دين وې، اوس چې تاسو خپل دين پرې ايښی، نو زمونږ او ستاسې څه معامله نشته.[2]

دا بايد په ياد ولرو چې يهودانو دا ډول کارونه او فتنې له بدر نه مخکې شروع کړې وې، دا سره لدې چې له رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) سره يې معاهده هم درلوده.

د يهودانو ددې ناوړه اعمالو په وړاندې رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) او اصحابو له صبر او زغم نه کار اخيست، او دا طمعه يې درلوده چې کيدای شي هغوی د هدايت او حقيقت لاره غوره کړي. او بله دا چې رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) غوښتل په سيمه کې امن او آرامي حاکمه وي.

---

[1]. ابن هشام ۵۵۵/۱ - ۵۵۶

[2]. مفسرينو د ال عمران او نورو سورتونو په تفسير کې د يهودو له دې ډول اعمالو نه يادونه کړيده.

د بني قينقاع له خوا د ټرون ماتول

کله چې يهودو وليدل الله تعالی د بدر په ميدان کې د مسلمانانو بې کچه مرسته وکړه، عزت او شوکت يې ور په برخه کړاو د هر چا ليرې دی که نژدې پر زړه د اسلام او مسلمانانو د هيبت او عظمت اثر پريوت، نو د دوی په زړونو کې د دښمنۍ او حسد اور په لمبو شو، نور يې خپل عداوت پټ نه شوای کړی په ښکاره يې د بغاوت بيرغ اوچت کړ او د مخامخ مقابلې ميدان ته راووتل.

په يهودانو کې له ټولو نه لوی کينه ناک او ډير شرير انسان کعب بن اشرف ؤ چې وروسته به ورنه خبرې وکړو، او له ټولو نه زياته شريره ډله او طايفه د بني قينقاع قبيله وه. دا قبيله په مدينه کې د ننه اوسيدله، کلی يې په همدې نامه يادیده. زياتره خلک يې يا زرګران وو يا آهنګران او يا لوښي جوړونکي کلالان، او د همدې کسب و کار له برکته له هر يوه سره د جنګ ساز و سامان هم ؤ. دوی اوه سوه جنګيالان درلودل په غيرت کې هم له نورو يهودانو نه وړاندې وو، او همدوی له ټولو نه ړومبی عهد او ټرون مات کړ.

وروسته له هغې چې الله تعالی مسلمانان په بدر کې بريالي او برلاسي کړل، نو ددې يهودانو طغيان او سرکشي زياته شوه د مسلمانانو په خلاف يې خپل شرارتونه او خباثتونه زيات کړل. له هيڅ ډول ګډوډۍ نه يې لاس نه نيوه، هر مسلمان به چې د دوی بازار ته ورتله ملنډې او مسخرې به يې ورپورې کولی او تکليف به يې ورساوه، ان تردې چې ددې خبيثانو له شر نه مسلمانې ښځې هم په امن نه وې. او کله چې د دوی سرکشي او شرارتونه له حده نه زيات شول، رسول الله (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) راټول کړل، وعظ او نصيحت يې ورته وکړ، د حق او هدايت لور ته يې راوبلل، د ظلم او بغاوت له بد انجام نه يې وويرول، خو هغوی له خپل شر او تکبر نه لاس وانه خيست او خپله بد معاشي يې جاري وساتله. ابو داود او نور له ابن عباس (رضي الله عنهما) نه روايت کوي چې وايي: کله چې د بدر په ورځ رسول الله (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) قريشو ته ماتې ورکړه، او بيا مدينې ته راغی، يهودان يې د بني قينقاع په بازار کې راټول کړل او ورته ويې ويل: (**يا معشر يهود، أسلموا قبل أن يصيبكم مثل ما أصاب قريشاً**). يهودانو! مخکې لدينه چې د قريشو له سرنوشت سره مخامخ شئ اسلام راوړئ. دوی ورته وويل: اې محمده (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم)! ګوره دا دې په غوره کې نکړې او په دې غره نشي چې يو څو له جګړو سره نا اشنا قريشان دې ووژل، ته که له مونږ سره د جګړې ډګر ته ووزې، نو پوه به شې

چې مونږ څوک يوو، او باور به دې راشي چې مخکې زمونږ په شان خلکو سره نه يې مخ شوی. نو پدې هکله الله تعالی دا آيتونه رانازل کړل:

((قُلْ لِلَّذِينَ كَفَرُوا سَتُغْلَبُونَ وَتُحْشَرُونَ إِلَى جَهَنَّمَ وَبِئْسَ الْمِهَادُ (١٢) قَدْ كَانَ لَكُمْ آيَةٌ فِي فِئَتَيْنِ الْتَقَتَا فِئَةٌ تُقَاتِلُ فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَأُخْرَى كَافِرَةٌ يَرَوْنَهُمْ مِثْلَيْهِمْ رَأْيَ الْعَيْنِ وَاللَّهُ يُؤَيِّدُ بِنَصْرِهِ مَنْ يَشَاءُ إِنَّ فِي ذَلِكَ لَعِبْرَةً لأُوْلِي الأَبْصَارِ)) [1].

(آل عمران: ١٢، ١٣)

[ووايه (اې محمده!) هغو کسانو ته چې کافران شويدي ژر به مغلوب کړی شئ تاسې په وژلو يا شړلو سره په دنيا کې او جمع به کړی شئ ((شړلی به شئ په عقبی کې)) طرف د دوزخ ته، او بد ځای د هستوګنی دی ((دغه دوزخ)) په تحقيق سره دی تاسې ته لوی عبرت (نمونه اې ناظرينو!)) په هغو دوو فرقو کې چې سره مخامخ شولی (په ((بدر)) کې له پاره د جنګ) يوه فرقه چې جنګ يې کاوه په لاره د الله کې او بله فرقه وه چې کافره وه، ليدل به دوی هغوی لره دوه چنده د هغوی په ليدلو د سترګو سره او الله قوت ورکوي په نصرت مرسته خپله سره هرچا ته چې اراده وکړي (د نصرت) بيشکه په دې ((لا زيات او کم ليدلو)) کې خامخاه عبرت (پند) دی له پاره د خاوندانو د بصيرت.]

څرګنده ده چې د بنو قينقاع ددې ځواب معنی په حقيقت کې د جنګ اعلان وٴ، خو رسول الله (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) او مسلمانانو له صبر او زغم نه کار واخيست، او د فرصت انتظار يې کاوه.

پدې سره د بنې قينقاع يهودان نور هم سپين سترګي شول، او په ډيره لږ موده کې يې په مدينه کې داسې يوه فتنه راولاړه کړه چې لومړی يې همدوی وخوړل او پخپلو لاسونو يې ځانونه د مرګ او ورکې خولې ته ورټيل وهل.

ابن هشام له ابي عون نه روايت کوي وايي: يوې عربي ښځې څه سامان د خرڅلاو لپاره د بنې قينقاع بازار ته راوړ او د يوه زرګر له دکان سره کيناستله. يهودانو د فتنې پخاطر غوښتل مخ يې لوخ کړي، خو نومورې خپل مخ نه لوڅاوه، نو همدا وه چې زرګر پاڅيد او په پټه سره يې ددې ښځې د کاليو (کميس) وروستۍ برخه په شا پورې وروټرله، دا نه وه پرې خبره، او کله چې پاڅيده نو بې پردې شوه. د يهودانو له

[1]. سنن ابي داود مع شرحه عون المعبود ٣/ ١١٥، ابن هشام ٥٥٢/١.

خنداګانو نه خولې وازې شوې. بنځې چيغه وکړه، يوه مسلمان چې دا چيغه واوريدله فورا راغی او هغه يهودی زرګر يې وواژه. ورپسې يهودان راټول شول او دا مسلمان يې وواژه، بيا د مسلمان خپلوانو نورو مسلمانانو ته د يهودانو په مقابل کې د فرياد چيغه وکړه، او نتيجه دا شوه چې د مسلمانانو او بني قينقاع يهودانو تر مينځ شر او جګړه جوړه شوه.[1]

محاصره بيا تسليميدل او له وطن نه شړل

نور نو د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) د صبر او زغم کاسه په ډکيدو شوه. ابو لبابه بن عبدالمنذر يې د مدينې خليفه وټاکه، د لښکر بيرغ يې حمزه بن عبدالمطلب ته ورکړ او د بني قينقاع په لور وخوځيد.د دوهم هجري کال د شوال له نيمايي نه يې چې د هفتې ورځ وه د هغوی محاصره پيل کړه. دا محاصره ترذي القعدې پورې يعنی پوره پنځلس ورځې اوږده شوه. بالاخره الله تعالى د يهودانو په زړونو کې ويره او ترهه واچوله ټول تسليم شول، ځانونه، مالونه او اولادونه يې د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) امر او فيصلې ته وړاندې کړل. رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) فوراً د يهودانو د تړلو امر صادر کړ او پدې ترتيب سره ټول وتړل شول.

پدې وخت کې د منافقانو مشر عبدالله بن ابي بن سلول را وړاندې شو او په ډير اصرار سره يې له رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) نه د هغوی د عفوې او خوشې کولو غوښتنه وکړه او ورته ويې ويل: اې محمده(صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم)! زما له حليفانو سره نيکي وکړه! ځکه بنو قينقاع له خزرج قبيلې سره د دوستۍ ټرون درلود. رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) ځواب ورنکړ، هغه (منافق عبدالله) خپله غوښتنه بيا تکرار کړه، خو رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) مخ ورنه واړاوه، منافق پدې هم نه شو بلکه را وړاندې شو او خپل لاسونه يې د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) په ګريوان کې وروواچول. رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) ډير په غوسه شو او ويې فرمايل: پرې مې ږده، خوار شې، پرې مې ږده! خو منافق په پوره سپين سترګۍ خپله غوښتنه تکراروله او ويل يې: تر هغې دې نه پريږدم تر څو زما دوستان معاف نکړې، دا درې سوه زغره لرونکي او څلور سوه بې زغرو ځوانان چې زه يې له سړو او تودو نه ساتلی يم

---

[1]، ابن هشام ۴۷/۲ - ۴۸

په یوه ورځ وژنې؟ قسم په خدای چې زه د زمانې له ګردشونو نه ویره لرم.
په پای کې رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) له نوموړي منافق سره چې د اسلام ښکارولو نه یې تقریباً یوه میاشت تیره شوې وه د نرمۍ او ښېښې معامله وکړه او دده په مخ یې ټول یهودانو وښنبل، خو دایې ورته وویل: چې په مدینه او شاو خوا سیمو کې د اوسیدو اجازه نلري. پدې ډول سره هغوی له مدینې نه ووتل او د شام په اذرعات نومي ځای کې یې واړول، چې یو زیات شمیر یې څه موده وروسته په هلاکت ورسیدل.
رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) د هغوی مالونه او جایدادونه ضبط کړل، او له هغې جملې نه یې دری لیندۍ، دری زغرې، دری تورې او دری نیزې د ځان لپاره خوښې کړې، نور غنیمتونه یې چې د محمد بن مسلمه په واسطه راټول شوي وو د خمس (پنځمې) له بیلولو نه وروسته په حساب برابر وویشل.

۴- د سویق غزا

پداسې حال کې چې صفوان بن امیه، یهودان او منافقان د اسلام په خلاف په توطئو او هلو ځلو بوخت وو، ابو سفیان د یوه داسې تحرک او عمل په لټه کې وۀ چې خطر او تکلیف یې کم، خو اثر او نوم یې ډیر وي، تر څو له یوې خوا د خپل قوم حیثیت او منزلت بیا را ژوندی کړي او له بل پلوه د دوی د زور او توان ښکارندوی شي. قسم یې خوړلی وۀ نذر یې اینبې وۀ چې تر هغې به له جنابته ځان نه مینځي تر څو یې پر محمد (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) حمله نه وي کړی. همدا وه چې په خپل قسم د وفا په اساس له دوو سوو سپرو سره روان شو او د قناه نومې سیمې په برنې خوا کې پراته نیب نومي غره په لمن کې یې چې له مدینې نه تقریباً دولس میله لیرې پروت و واړول، خو څرنګه چې پر مدینه باندې د ښکاره او مخامخ حملې توان او جرات یې نه درلود، نو د یوه غلچکي او تروریستي پلان د عملي کولو په لټه کې شو. د شپې په تیاره کې مدینې ته ننوت، د یهودانو د مشر حیي بن اخطب کور ته ورغی، خو هغه له ویرې نه دروازه ورته خلاصه نکړه، نو د بني نضیر قبیلې د یوه بل مشر او خزانه دار سلام بن مشکم دروازه یې وروټکوله، هغه کور ته د ننه کړ، ښه مهماني یې ورکړه، شراب یې ورباندې وڅښل او د خلکو پټ ښکاره حالات یې ورته بیان کړل. بیا ابو سفیان د شپې په وروستۍ برخه کې خپلو ملګرو ته ورغی او له هغه ځای نه یې یوه ډله

راوليږله، هغوی د مدينې عريض نومې سيمې ته ننوتل او هلته يې د خرما ځنې ونې غوڅې کړې ځنې نورو ته يې اور ورته کړ، او يو انصاري يې چې له خپل حليف (ملګري) سره يې په فصل (پټيو) کې کار کاوه وواژه او وروسته بيرته د مکې په لور وتښتيدل.

کله چې رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) له پيښې خبر شو، نو په چټکۍ سره ورپسې ووت، خو ابو سفيان او ملګري يې ډير ګړندي تښتيدلي وو. او پدې خاطر چې ځانونه خلاص او بار سپک کړي د خپلې توښې او خوراک زياته برخه د سويق (د غنمو يا اوربشو ډير ميده اوړو) توبرې يې په لاره غورځولی وې. رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) يې په لټه پسې ان تر قرقره الکدر پورې وړاندې لاړ، خو هغوی په تيښته بريالي شوي وو. مسلمانانو د هغوی د اوړو توبرې راټولی کړې او بيرته مدينې ته راستانه شول. او د سويق (ميده اوړو) د همدې توبرو له امله دا غزا د سويق د غزا په نامه ونومول شوه، چې د بدر له غزا نه دوې مياشتې وروسته يعنې د دوهم هجري کال د ذي الحجې په مياشت کې پيښه شويده.

او دا ځل هم رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) د مدينې لپاره ابو لبابه (رضي الله عنه) خپل خليفه ټاکلی وۀ.[1]

۵- د ذي امر غزا

دا غزا چې د دريم هجري کال د محرم په مياشت کې واقع شويده له احد نه څلۀ او له بدر نه وروسته د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) تر مشرۍ لاندې له ټولو نه لويه عسکري حمله وه.

ددې غزا سبب څه داسې وۀ: رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) خبر تر لاسه کړ چې د بنو ثعلبه او محارب زيات شمير کسان پر مدينه باندې د حملې لپاره تياري نيسي. رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) ددې خبر له اوريدو سره سم څلور نيم سوه سواره او پياده له ځان سره کړل، عثمان بن عفان (رضي الله عنه) يې په مدينه کې د خليفه په توګه پرېښود او پخپله د دښمن په لور وخوځيد.

د لارې په اوږدو کې اصحابو (رضي الله عنهم) د بني ثعلبه قبيلې جبار نومی شخص ونيو او د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) حضور ته يې راووست.

---

[1]. زاد المعاد ۲/ ۹۰ – ۹۱. ابن هشام ۲/ ۴۴ - ۴۵

رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) د اسلام بلنه ورکړه او هغه په اسلام مشرف شو. بیا رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) هغه د بلال (رضي الله عنه) په لاس ورکړ تر څو د دښمن تر سیمې پورې مسلمانانو ته لار وښیي.

هلته دښمنانو د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) د راتګ د خبر له اوریدو سره سم خپل ځایونه پریښودل او شاو خوا غرونو ته وتښتیدل. رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) مخکې لاړ او تر ذي امر نومې چینې (اوبه خوړ) پورې چې دښمنانو د غونډیدو لپاره ټاکلی وۀ ورسید او هلته یې واړول. او ددې پخاطر چې د غلیم په زړه کې نوره ویره هم واچوي، د خپل زور او توان اندازه وروښیي، پوره یوه میاشت یعنې د دریم هجري کال صفر ټوله میاشت یې هملته تیره کړه او وروسته بیا مدینې ته ستون شو.[1]

۶- د کعب بن اشرف ترور

کعب بن اشرف هغه یهودي وۀ چې له هر چا نه یې له اسلام او مسلمانانو سره زیاته دښمني او کینه درلوده او رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) ته په زیان او آزار رسولو کې تر ټولو وړاندې و. د نوموړي مور له بني نضیر او پخپله د طیي قبیلې له بني نبهان کورنۍ څخه وۀ، ډیر مالدار او د آرام ژوند خاوند وۀ، د عربو په مینځ کې یې په شاعرۍ سربیره په حسن او ښکلا کې هم شهرت درلود، کلا یې د بنو نضیر د آبادۍ تر شا د مدینې د جنوبي برخې په ختیځ کې پرته وه.

کله یې چې د بدر په غزا کې د مسلمانانو د بري او قریشي سردارانو د ماتې او سردارانو دمړینې خبر واورید، نو ویې ویل: آیا دا خبره ریښتیا ده، هغه د عربانو مشران او د خلکو پاچایان ووژل شول؟! که دا ریښتیا وي چې محمد (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) هغوی مات کړي او وژلي دي نو بیا خو مرګ له ژوند نه غوره دی.

او کله چې له پیښې نه ښه باوري شو، نو ژبه یې راویستله، په رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) او مسلمانانو پسې یې بد رد ویل او د مشرکینو ستاینه یې کوله او هغوی یې غچ او انتقام اخیستلو ته هڅول. پدې یې هم زړه یخ نه شو، سپور شو مکې ته لاړ او هلته د ابي وداعه السهمي د زوی مطلب میلمه شو. د قریشو په

---

[1]. ابن هشام ۴۶/۲ .زاد المعاد ۹۱/۲ .ویل کیږي چې دعثور یا غورث محاربي په همدې غزا کې د رسول الله (ص) ترور هڅه کړې وه، خو صحیح قول دا دی چې هغه توطئه پدې غزا کې نه وه .صحیح البخاري : ۹۳/۲ .

مړيو يې ډير وژړل او په غم کې يې اوږده شعرونه وويل. زيار يې ايست چې د مشرکينو په زړونو کې د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) د دښمنۍ اور نور هم تازه کړي. په همدې وخت کې ابو سفيان او نورو مشرکانو ورنه وپوښتل چې زمونږ دين دې خوښ دې او که د محمد (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) دين؟ او له زمونږ نه کوم يو طرف په حق بولې؟ ده په ځواب کې ورته وويل: تاسې له محمده (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) نه غوره او حق په جانب ياست! همدا وه چې الله تعالى دا آيتونه را نازل کړل: ((أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِينَ أُوتُوا نَصِيباً مِنْ الْكِتَابِ يُؤْمِنُونَ بِالْجِبْتِ وَالطَّاغُوتِ وَيَقُولُونَ لِلَّذِينَ كَفَرُوا هَؤُلاءِ أَهْدَى مِنْ الَّذِينَ آمَنُوا سَبِيلاً)) (النساء: ٥١)

[ترجمه: ايا ندې کتلې تا هغو کسانو ته چې ورکړی شويده دوی ته برخه له کتاب څخه ايمان راوړی دوی په بت او په شيطان او وايي دوی په حق د هغو کسانو کې چې کافران شويدي، دا (مشرکين) ښه لاره موندونکي دي له هغو کسانو څخه چې مؤمنان دي له جهته د لوري.]

کعب بن اشرف دا ټول په مکه کې ترسره کړل بيا مدينې ته ستون شو، او هلته يې خپله اوږده ژبه په مسلمانانو پسې راوايسته ان تردې چې د اصحابو (رضي الله عنهم) په پاک لمنو پسې يې قصيدې او غزلې و ويلې او هغوی يې له حده زيات په تنګ کړل.

په همدې حالاتو کې رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) وفرمايل: (**من لكعب بن الأشرف ؟ فإنه آذى الله ورسوله**). د کعب بن اشرف له شر نه به مو څوک خلاص کړي؟ او لدې غم نه به مو څوک آرام کړي؟ ځکه نوموړي الله تعالى او د الله رسول (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) ته آزار او اذيت رسولی دی! په ځواب کې محمد بن مسلمه، عباد بن بشر، د کعب رضاعي ورور ابو نائله چې نوم يې سلکان بن سلامه وۀ، حارث بن اوس، او ابو عبس بن حبر دې کار ته خپله آمادګي څرګنده کړه، او همدې ټولګي د محمد بن مسلمه تر مشرۍ لاندې د کعب د ترور لپاره کار پيل کړ.

نور روايات وايي: کله چې رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) وويل: (**من لكعب بن الأشرف ؟ فإنه قد آذى الله ورسوله**) **قام محمد بن مسلمة فقال: أنا يا رسول الله، أتحب أن أقتله ؟ قال: (نعم). قال: فائذن لي أن أقول شيئاً. قال: (قل).** څوک به مو د کعب له شر نه وژغوري؟ ځکه ده الله او د هغه رسول (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) ته اذيت رسولی دی؟ نو محمد بن مسلمه پاڅيد او ويې

ويل: دا کار به زه کوم يا رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم)! او زياته يې کړه: غواړې چې ويې وژنم؟ ده (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) وفرمايل: هو. محمد بن مسلمه ورته وويل: د پلان د تطبيق پخاطر د څو خبرو اجازه راکړه! رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) ورته وفرمايل: څه هر څه چې واېې ورسره ويې وايه.

بيا محمد بن مسلمه د کعب بن اشرف کور ته ورغی او ورته ويې ويل: دا سړی (اشاره يې د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) خوا ته وه، له مونږ نه صدقه غواړي او که ږښتيا درته ووايم مونږ يې ډير ستومانه او په جنجال اخته کړي يوو. کعب ورته وايي: دا به مو نور هم تر ستونيه کړي. محمد بن مسلمه په ځواب کې ورته وايي: اوس څه وکړو، اوس خو دا شويدي او د هغه پيروي مو مـنـلـې ده مناسبه به نه وي چې لاره ورنه بيله کړو، اوس به ورسره يوو او ګورو به چې د کار نتيجه يې څه خيژي، اوس راغلی يو تر څو يو او يا دوه وسقه غله پور راکړي، (يو وسق ۶۰ صاعه يا تقريباً ۱۵۰ کيلو ګرامه کـېږي).

کعب ورته وويل: سيي ده خو څه شی راته ګرو کړئ! ابن مسلمه ورته وويل: څه غواړې؟ هغه ورته وويل: ښځې راته ګرو کړئ. محمد بن مسلمه په ځواب کې ورته وايي: پداسې حال کې چې ته په عربو کې له ټولو نه ښايسته ځواني لرې، ښځې به څنګه درسره ګرو کړای شو؟! کعب ورته وايي: نو بيا مو بچيان راسره ګرو کړئ! ابن مسلمه وايي: بچيان به څنګه درته ګرو کړو، سبا به خلک پيغور ورکوي چې دا په يوه، دوو وسقه غله ګرو شوي وو دا خو ستر عيب او ننګ دی، څه مونږ به خپله وسله درته ګرو کړو. کعب پدې سلا شو دواړو نيټه سره وټاکله چې محمد بن مسلمه به وسله ورته راوړي.

ابو نائله هم د محمد بن مسلمه په شان پلان جوړ کړی ؤ. کعب ته ورغی څه وخت يې له يو ځای بل ځای نه شعرونه سره واورول، بيايې ورته وويل: ياره! زه خو د يوې ډيرې مهمې خبرې او ضرورت په خاطر درته راغلی يم او پدې شرط يې درته وايم چې پټ يې وساتې! کعب ورسره ومنله او ډاډ يې ورکړ چې وايه راز دې نه افشا کوم.

ابو نائله ورته وويل: ددې سړي (اشاره يې رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) ته ده) راتګ خو زمونږ لپاره غم او مصيبت شو، ټول عربان مو دښمنان شول، ټولو په يوه خوله او يوه لاس زمونږ په خلاف کاره وايي وکړه، لارې راباندې وتړل شوې، دومره سختي راباندې راغله چې ځان او اولاد مو په خطر کې دی، بربادي ده او

تباهی. دا ډول خبرې وشوې او په پای کې یې دا هم ورته وویل: زما یو څو نور ملګري هم دي او بالکل زما په شان رایه او نظریه لري، غواړم هغوی هم درته راولم تر څو څه شی ورباندې خرڅ او په مونږ خپل احسان وکړي. پدې ترتیب محمد بن مسلمه او ابو نائله وکولای شوای کعب پخپل دام کې راګیر کړي، اوس که هغوی له وسلې او ملګرو سره ورځي، نو کعب به یې بد نه ګڼي.

بالاخره د دریم هجري کال د ربیع الاول په څوارلسمه شپه دا ټولګی د رسول (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) خدمت ته حاضر شو، او د سپوږمۍ په سپینه رڼا کې رسول مبارک (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) پخپله تر بقیع غرقد پورې ورسره لاړ او پدې مبارک قول سره یې رخصت کړل: (**انطلقوا علی اسم الله، اللهم أعنهم**).د الله په نامه حرکت وکړئ، اې خدایه ته د دوی مرستندوی شې. بیا خپل کورته راستون شو او هلته یې په لمانځه او دعا شروع وکړه تر څو الله هغوی پخپل هدف کې بریالي کړي.

نومورې مجاهدین د کعب کلا ته ورغلل، ابو نائله غږ پرې وکړ چې راووزه! کعب راپورته شو چې د باندې راووزي، ښځې چې نوی یې واده ورسره کړی و ورته وویل: پدې وخت کې چیرته وزې، دا آواز ما ته خطرناک ښکاره شو؟! کعب ورته وایي: مه ویریږه دا زما ورور محمد بن مسلمه او بل مې رضاعي ورور ابو نائله دی، بله دا چې مرد که د توري ګوزار ته هم وغوښتل شي ورځي او پښه په شا نه ږدي، دا خبره یې وکړه او د باندې پداسې حال کې راووت چې فضا یې په خوشبویې اخیستې وه.

هلته ابو نائله خپلو ملګرو ته ویلي وۀ، کله چې کعب راشي، نو زه به یې د سر بویولو په بهانه ویښتان رانیسم او کله مې چې پدې بهانه ټینګ راونیو، نو تاسې به ورباندې ګوزارونه وکړئ. کعب راغی څه وخت یې خبرې اترې سره وکړې، ابو نائله ورته وویل: خوښه مو نده عجوز نومی دری (خوې) ته لاړ شو، د شپې دا پاته برخه به هلته تیره کړو. ده وویل: سیي ده، نو روان شول. د لارې په اوږدو کې ابو نائله وایي: په ژوند کې مې دا ډول اعلی او بهترینه خوشبویي نده لیدلې! کعب ته دې خبرې ډیر خوند ورکړ او ویې ویل: زه د عربو له ټولو نه زیاته خوشبویه ښځه لرم. ابو نائله ورته وویل: اجازه دې ده سر دې یو ځل بوی کړم. کعب اجازه ورکړه، نو ده یې لاس په ویښتانو کې ننه ایست پخپله یې بوی کړ او ملګرو ته یې هم وربوی کړ.

لږ ساعت وروسته یې بیا دده په اجازه همدا کار تکرار کړ، تر څو کعب ښه ډاډه شو او دوی لږ نور هم مخکې لاړل، نو بیا یې اجازه ورنه غوښتله، کعب اجازه ورکړه، نو لاس یې په ویښتانو کې وربند کړ، ټینګ یې راونیو او خپلو ملګرو ته یې وویل: وهئ دا د خدای دښمن! هغوی د تورو څو ګوزارونه پرې وکړل، خو توري سره تیرې بیرې شوې او

يو يې هم کاري واقع نه شو. پدې وخت کې محمد بن مسلمه خپل کلنګ ته لاس کړ او له نامه نه لاندې يې داسې کلک ګوزار وربانده وکړ چې شا ته ورنه وخوت او د خدای دښمن داسې يوه چيغه وکړه چې هر چا واوريدله او همدلته ځای په ځای شو.

د مسلمانانو لدې ټولې نه يو تن حارث بن اوس د خپلو ملګرو د تورو په ځوکو زخمي شوی وٴ او وينې تر ې روانې وې. نور ملګري يې روان شول او کله چې د عريض ډاګ ته ورسيدل پام يې شو چې حارث خو ورسره نشته، څه وخت ورته ودريدل چې هغه هم ورپسې راورسيد، نو دوی هغه اوچت کړ او روان شول او کله چې بقيع غرقد ته ورسيدل په لوړ آواز يې د تکبير ناره اوچته کړه.

رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) د دوی دا ناره واوريدله او پوه شو چې هغه د خدای دښمن يې وژلی دی، نو پخپله يې هم تکبير ووايه، او کله چې دوی ورته راورسيدل ورته ويې فرمايل: (**أفلحت الوجوه**). بريالی اوسئ.

دوی په ځواب کې ورته وويل: او ته هم بريالی اوسې يا رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم)! او د کعب سر يې مبارک حضور ته وړاندې کړ، ده د خدای شکر اني په ځای کړې، د حارث په زخم (ټپ) يې خپلې مبارکې لاړې پورې کړې هغه فوراً جوړ او روغ شو بيايې هيڅ درد و نه ليد.[1]

د کعب ترور او وژلو د يهودانو په زړونو کې ويره او ډار واچولو. ټول پدې پوه شول چې رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) د امن دښمنان، عهد ماتونکي او فتنه اچونکي نه پريږدي چې په مدينه کې فساد خور کړي، لومړې ورته نصيحت کوي او که نصيحت اغيزه ونکړي، نو بيا يې په اوسپنيز سوک برابروي.

يهودان دومره وويريدل چې د خپل دې سرکش مشر په وژلو نه يوازې چپ او آرام کيناستل بلکه زيار يې ويوست ځانونه په عهد او تړون پابند وښيي. پدې ډول سره رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) تر يوه وخته پورې د مدينې له داخلي مشکلاتو او ستونزو نه بې غمه شو او د ډيرو هغو خطراتو مخه ونيول شوه چې په مدينه کې يې د پيښدو امکانات ډير زيات وو.

اوس رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) فرصت درلود چې له بهرنيو مشکلاتو او خطرونو سره مقابله وکړي.

---

[1].. ابن هشام ۱/ ۵۱ – ۵۷ بخاري ۱/ ۳۴۱ – ۴۲۵. سنن ابي داود ۲/ ۴۲ – ۴۳. زاد المعاد ۲/ ۹۱

۷- د بحران غزا

دا يو لوی عسکري تحرک يا ګزمه وه هغه داسې چې د دريم هجري کال د ربيع الاخر په مياشت کې رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) د دری سوو کسانو په مشرۍ بحران نومې سيمې ته وتلی وۀ. دا سيمه د حجاز په فرع نومي ځای کې يو معدنياتي مقام دی. رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) د همدې کال ربيع الاخر او جمادي الاولی مياشتې همدلته تيرې کړې او بيا مخکې لدينه چې جګړه وشي مدينې ته ستون شو.[1]

۸- د زيد بن حارثه (رضي الله عنه) سريه

دا له احد نه مخکې د مسلمانانو وروستی نظامي تحرک وۀ چې د دريم هجري کال په جمادي الاخره کې واقع شويدی او تفصيل يې داسې دی:

قريش د بدر له غزا وروسته ډير پريشانه او بد حاله وو، د اوړي په رارسيدو چې شام ته د دوی د کډې او کوچ وخت وۀ نور هم پريشانه شول. ددې کال د تجارتي قافلې مشر صفوان بن اميه قريشو ته وويل: محمد (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) او اصحابو يې زمونږ تجارتي لاره بنده کړيده، نه پوهيږو څه ورسره وکړو، ساحل خو د همدوی تر کنترول لاندې دی، دوی هملته وجود لري، او ددې منطقې (سرې بحيرې د ساحل) اوسيدونکو هم سوله او ټرون ورسره کړيدی، نه پوهيږو په کومه لار لاړ شو؟ که دلته په مکه کې پاتې کيږو نو څه چې لرو هغه به وخورو، بيا به څه کړو؟ زمونږ ژوند خو په اوړي کې شام او ژمي کې حبشۀ ته تجارت باندې ولاړ دی.قريشو په دې هکله مشورې کولی اسود بن عبدالمطلب وويل: صفوانه! د ساحل لاره پريږده، بلکه له نجد نه تيريدونکې د عراق اوږده او سخته لاره ونيسه. دغه لار چې د مدينې په ختيځ کې تيره شوې وه قريشو ته نه وه معلومه، نو اسود پيشنهاد وکړ چې د بني بکر بن وائل قبيلې فرات بن حيان د لاروي په حيث ورسره بوزي.

د قريشو دا تجارتي کاروان د صفوان په مشرۍ په همدې نوې لاره روان شو، خو راز يې پټ پاته نه شو او خبره مدينې ته داسې ورسيده، چې مسلمان شوی سليط بن

---

[1]. ابن هشام ۲/ ۵۰ زاد المعاد ۹۱/۲ .ددې غزا د سبب په هکله ځنې وايي چې رسول الله (ص) ته خبر راغی چې بني سليم پر مدينه باندې د حملې لپاره ډير قوتونه راټول کړيدي، او نور مصادر لکه ابن هشام وايي چې رسول الله (ص) د قريشو په لټه پسې ووت، ابن القيم همدا قول غوره کړيدی او دا سيي هم ښکاري ځکه د بني سليم مېنه په نجد کې له فرع نومي ځای نه ډيره لیرې پرته وه.

نعمان د شرابو څښلو په يوه مجلس کې (دغه وخت شراب لانه ؤ حرام شوي) له نعيم بن مسعود اشجعي سره يو ځای شو، کله چې نعيم مست او خمار شو نو د تجارتي کاروان او نوې لارې ټوله کيسه يې وکړه. سليط په ډيره چټکۍ سره د مدينې لاره ونيوه تر څو رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) له قضيې خبر کړي. رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) د خبر له اوريدو سره سم د زيد بن حارثه الكلبي په مشرۍ يوه سل (۱۰۰) کسيزه ډله تياره کړه او د کاروان مخې ته يې ورولېږله. زيد وخوځيد او د نجد په سيمه کې له قرده نومې چينې (اوبه خور) سره يې په کاروان ناڅاپي حمله وکړه، ټول مالونه يې ونيول، صفوان او ملګرو يې پښې سپکې کړې او د تيښتې لاره يې ونيوه. مسلمانانو د قافلې لاروی او په بل روايت دوه نور کسان هم ژوندي ونيول، او تقريباً د سلو زرو په قيمت غنيمتونه يې چې لوښي او سپين زر پکې وو له ځان سره راوړل. رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) خمس ورنه بيل کړ او نور يې د سريه (ګروپ) په غړو وويشل، او هغه لاروی فرات بن حيان په اسلام مشرف شو.[1]

له بدر وروسته د قريشو لپاره دا يو بل لوی غم او مصيبت ؤ حالت يې ډير خراب شو له هرې خوا ورباندې غم او خفګان راغی. اوس يې په وړاندې يوازې دوې لارې پاته وې لومړې دا چې نور د کبر او غرور له نيلي نه را کوز شي او له مسلمانانو سره د سولې او مصالحت لاره غوره کړي، بله دا وه چې د داسې يوې جګړې اور بل کړي چې د مسلمانانو قوت او زور ويلې کړي، د هستۍ له صحنې يې وباسي، ترڅو د دوی (قريشو) له لاسه تللی مجد او دبدبه بيرته راژوندۍ کړي. د قريشو سرکشانو همدا دوهمه لاره غوره وبلله، د انتقام او غچ ناره يې پورته کړه او له مسلمانانو سره د پريکنده جګړې تياري يې پيل کړه. دا او لدينه مخکې پيښې د احد غزا لپاره تمهيد او سبب شوې.

---

[1]. ابن هشام ۵۰/۲ فقه السيره ص ۱۹۰ رحمه للعلمين ۲۱۹/۲

د احد غزا
د انتقامي جګړې لپاره د قريشو تياري

د بدر په ډګر کې د قريشو ماتې او هملته د دوی د مخورو مشرانو مړينې د مکې د مشرکينو په زړونو کې اور بل کړی وۀ، د هر يوه په سر د انتقام او غچ اخيستلو لـډې سرې وې، خو ددې پخاطر چې غم له مسلمانانو نه پټ وساتي، نو په ښکاره يې پخپلو مړو ژړا ګانې بندې کړې وې او د خپلو بنديانو فديه يې هم ځنډوله.

ټول پدې سره سلا شوي وو چې په مسلمانانو به خپل زړونه يخوي او د يوې خونړۍ جګړې اور به ورباندې بلوي.د همداسې يوې عامې جګړې لپاره يې تيارياني پيل کړې وې، داسې يوی جګړې ته خو د دوی هر يو تړی وۀ، خو عکرمه بن ابو جهل، صفوان بن اميه، ابو سفيان بن حرب او عبدالله بن ابي ربيعه غوندې سرداران پدې کار کې له ټولو نه مخکې وو.

جګړې ته د تيارۍ په سلسله کې د قريشو د مشرانو لومړنی دا کار وۀ چې هغه تجارتي کاروان يې پخپل لاس کې ونيو کوم چې د بدر د غزا سبب شوی وۀ هغه چې د ابو سفيان په مشرۍ له شام نه سلامت راستون شوی وۀ. په دغه کاروان کې زر اوښان او د پنځوس زره دينارونو په بيه نور مالونه وۀ د مالونو خاوندانو ته يې وويل: تاسو ته معلومه ده چې محمد (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) څومره زيان درواړاوه، سرداران يې در ووژل، نوددې مالونو په ذريعه دده په خلاف جګړه کې زمونږ مرسته وکړئ، کيدای شي انتقام ورنه واخلو! هغوی هم ورسره ومنله او دا ټول مالونه د جنګ لپاره تخصيص شول. الله تعالى پدې اړه دا آيت را نازل کړ: ((**إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا يُنْفِقُونَ أَمْوَالَهُمْ لِيَصُدُّوا عَنْ سَبِيلِ اللَّهِ فَسَيُنفِقُونَهَا ثُمَّ تَكُونُ عَلَيْهِمْ حَسْرَةً ثُمَّ يُغْلَبُونَ**)). (الانفال: ٣٦)

[بيشکه هغه کسان چې کافران شويدي نفقه کوي (لګوي) دوی مالونه خپل، د پاره ددې چې منع کړي دوی (خلک) له لارې د الله څخه نو ژر به نور هم ولګوي دغه مالونه بيا به شي (دغه انفاق) پر دوی حسرت (پښيماني چې مال يې ځي او مطلب يې نه پرې

حاصليږي) بيا به په آخر کې مغلوب شي.]
په دوهم قدم کې يې احابيش، کنانه او د تهامه خلک خپلې خوشګۍ ته پرېښودل چې د مسلمانانو په خلاف جګړه کې په ځومره اندازه برخه اخلي، خو هغوی ټول يې په مختلفو طريقو سره دې لور ته هڅول، ان تردې پورې چې صفوان بن اميه د عربو هغه شاعر باټ (غره) کړ کوم چې د بدر په غزا کې اسير شوی وۀ او رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) ېې فديې پدې شرط آزاد کړی وۀ چې بيا به د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) په خلاف کوم اقدام نه کوي. صفوان هغه ته هوا ورکړه تر څو عربي قبيلې د مسلمانانو په خلاف را پورته کړي، او ددې کار په بدل کې يې وعده ورکړه که له جګړې نه ژوندی راغلې نو دومره څه به درکړم چې ما لا مال به شې او که مړ شوې نو د لونې کفالت او سرپرستي دې زما په غاړه. نو دې شاعر (ابو عزه) له رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) سره خپل شرط مات کړ او شروع يې وکړه عربان يې په شعرونو سره د اسلام مقابلې ته رابلل او په زړونو کې يې د انتقام او دښمنۍ اورونه را تازه کول. مشرکانو د همدې کار لپاره يو بل شاعر چې نوم يې مسافع بن عبد مناف جمحي وۀ هم ګمارلی وۀ.
ابو سفيان هغه وخت د مسلمانانو په خلاف نور هم زيات سوريدلی او پاريدلی وۀ کله چې د سويق له جګړې نه نامراده راوګرزيد او نه يوازې دا چې خپل هدف يې تر لاسه نکړ بلکه خپل ډير امکانات يې هم له لاسه ورکړل. ددې تر څنګ د زيد بن حارثه ناڅاپي حملې او په همدې سريه کې قريشو ته زيات ځاني او مالي ور اوښتي تاوان خبره نوره سخته کړه، له ډيره غمه د مشرکينو زړونه په چاوديدو شول. همدا وه چې په ډيره بيړه او بې صبرۍ يې د فيصله کن (پريکنده) جنګ تياري ونيوله.

د قريشو د لښکر شميره او مشرتابه

د يوه کال په تيريدو سره د قريشو او د دوی د ملګرو او احابيشو پوره دری زره کسان جګړې ته تيار شوي وو.مشرانو ېې دا مناسبه وبلله چې د جنګياليو د تشويق او د جنګ په ډګر کې له ناموس نه د ساتنې د حماسو راپارولو پخاطر يو شمير ښځې هم له ځان سره بوزي، نو پدې حساب سره پنځلس ښځې ورسره روانې شوې.
لدې لښکر سره دری زره اوښان، دوه سوه جنګي آسونه[1] چې ټوله لار څوک وربانديې

[1]. زاد المعاد ۹۲/۲. په فتح الباري کې د آسونو شميره سل ښودل شويده ۷/ ۳۴۶

سپاره نه شول او اوه سوه زغرې وې. د جګړې عمومي قومانده د ابو سفيان په لاس کې وه، د سپرو مشر خالد بن وليد معاون يې عکرمه بن ابو جهل او بيرغ له بنو عبدالدار سره وۀ.

د مکې لښکر وخوځيد

د مکې لښکر پداسې حال کې د مدينې په لور وخوځيد چې په زړونو کې يې د انتقام او دښمنۍ اور لمبې وهلې، او د يوې شديدې خونړۍ جګړې نه يې خبرې کولې.

د رسول (ﷺ) استخبارات د دښمن د تحرکاتو خبر راوړي

د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) تره عباس (رضي الله عنه) د قريشو ټول نظامي تحرکات او تيارۍ په ډير غور سره تر نظر تيرولې او کله چې د دوی لښکر د مدينې په لور وخوځيد، نو په ډير بيړه سره يې پدې هکله رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) ته خبر واستاوه. د عباس (رضي الله عنه) ډاګې (ليک ورڼکي) له مکې نه تر مدينې پورې تقريباً پنځه سوه کيلو متره اوږده فاصله په دريو ورځو کې ووهله او ځان يې رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) ته چې هغه وخت د قبا په جومات کې وۀ ورساوه، د عباس (رضي الله عنه) ليک يې ورکړ، چې ابي بن کعب ورته ولوست. رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) امر وکړ چې دا خبره پټه وساتي او پخپله په بيړه مدينې ته ستون شو تر څو پدې هکله د انصارو او مهاجرينو له مشرانو سره مشوره وکړي.

د فوق العاده او اضطراري حالاتو لپاره د مسلمانانو تياري

مدينه د فوق العاده او اضطراري حالت په اساس د پوره تيارسۍ په حال کې شوه، ته به وايې نمبر اول احضارات نيول شوي، مسلمانانو ان د لمانځه په وخت کې هم وسله له ځانه نه ليرې کوله.

د انصارو يوې ډلې او له هغې جملې نه سعد بن معاذ، اسيد بن حضير او سعد بن عباده به ټولــه شپه وسله په لاس د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) په دروازه په پيره ولاړ وو. نور ګروپونه مدينې ته د راتلونکو لارو او بندرونو ساتلو لپاره په پيره ګمارل شوي وو تر څو دښمن په ناڅاپي توګه حمله ونکړي. همدا راز د

هغو لارو د ځارلو لپاره هم ګزمې ټاکل شوې وې کومې چې د دښمن د راتګ او حملې احتمال ورنه موجود وؤ.

د مکې لښکر د مدينې په پولو کې

د مکې لښکر په لويديځه عمومي لار د مدينې خواته روان وؤ، او کله چې د ابواء سيمې ته ورسيد، نو د ابو سفيان ښځې هند بنت عتبه پيشنهاد وکړ چې د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) د قدرمنې مور قبر را لوڅ کړي، خو د لښکر مشرانو ددې کار له بدو عواقبو نه د ځان ساتلو پخاطر دا خبره و نه منله. لښکرې وړاندې د مدينې پولو ته ډيرې را نژدې شوې کله چې له عقيق نومې درې نه تيرې شوې نو لږ ښی خوا ته کړې شوې او همداسې مخکې لاړې تر څو د احد غره ته نژدې د مدينې د شمالي درې په څنډه کې پرتې قناه نومې سيمې د ښوره زارې په مينځ کې پراته عينين نومي ځای کې يې واړول، دغه وخت د جمعې ورځ د دريم هجري کال د شوال شپږمه نيټه وه.

په مدينه کې دفاعي مشورتي غونډه

د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) استخباراتو د مکي لښکرو د تحرکاتو خبرونه وخت په وخت مدينې ته راوړل اخرينې خبر يې دا وؤ چې مشرکينو د احد تر خوا واړول. پدې وخت کې رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) نظامي مشورتي شورى دايره کړه تر څو لازمې دفاعي فيصلې وکړي. په غونډه کې رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) خپل خوب هم بيان کړ او داسې يې وفرمايل: (**إني قد رأيت والله خيراً، رأيت بقراً يذبح، ورأيت في ذُبَاب سيفي ثُلْماً، ورأيت أني أدخلت يدي في درع حصينة**).قسم په خداى چې ما ډير ښه خوب ليدلى دى، خوب مې ليده چې يو غويى حلال شي، د تورې د تيغ په څوکه کې مې درز وي او لاس په يوه کلکه زغره کې ورکړم. بيا يې غويى د څو کسه اصحابو (رضي الله عنهم) او د تورې درز يې د خپلې کورنۍ د کوم غړي په شهادت، او زغره يې په مدينه تعبير کړه، او حاضرينو ته يې وويل: زما رايه خو داده چې همدلته مدينه کې پاتې شو او سنګرونه ونيسو، که مشرکان پخپل ځای کې پاتې شي نو هيڅ ګټه به ونکړي او دا به

ورته له ټولو خراب ځای ثابت شي، او که فرضاً مدينې ته را ننوزي نو مسلمانان به ورسره په ټولو لارو، کوڅو کې مقابله وکړي او ښځې به يې د بامونو له سرونو نه ولي. او همدا په حقيقت کې تر ټولو معقوله او ګټوره رايه وه.

د منافقانو رئيس عبدالله بن ابي بن سلول چې د خزرج قبيلې د مشرانو په ډله کې غونډې ته راغلی وٴ د رسول (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) له رايې سره موافقه وکړه او همدا رايه يې غوره وبلله. کيدای شي د نوموړي موافقه پدې خاطر وي چې پداسې يوه طريقه ځان له جنګ نه وساتي چې څوک وربانديې پوه نه شي، او داسې به نه وه چې ګويا ده د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) نظريه د جنګي تاکتيک او استراتيژۍ له پلوه غوره بللی وي. په هر حال الله تعالی غوښتل د منافقينو له مخې نه چادر پورته کړي تر څو کفر او نفاق يې ټولو ته څرګند او بربنډ شي.

ځينو قدرمنو خصوصاً هغو اصحابو (رضي الله عنهم) چې د بدر له فيض او شرفه بې برخې پـاتې شوي وو دا غوښتل چې مسلمانان بايد له مدينې نه د باندې د دښمن مقابله وکړي. له هغوی نه ځينو په ډير اصرار سره رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) ته داسې عرض کاوه: مونږ خو داسې ورځ له خدايه په سوال غوښتله دادی اوس يې دلته لنډه راوستې ده، ورځو به او د مدينې نه د باندې به له دښمن سره جنګيږو تر څو ونه وايي چې مونږ مخه ورنه واړوله. ددې په ځوښ راغليو اصحابو (رضي الله عنهم) په سر کې د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) تره حمزه (رضي الله عنه) وٴ. ده ته د خپل ايمان قوت او د بدر په غزا کې د خپلې تورې د خرپ او شرنګ اندازه لګيدلې وه، رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) ته يې وويل: قسم په هغه ذات چې کتاب يې دربانديې نازل کړيدی، چې زه به تر هغې پورې څه ونه خورم تر څو مې له مدينې ته د باندې له دښمنانو سره وسله واله مقابله نه وي کړی.[1] نو رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) د اکثريت په وړاندې له خپلې رايې نه تير شو، او فيصله پدې شوه چې له مدينې نه د باندې به د دښمن مقابله کوي.

د اسلامي لښکر ګروپ بندي او د جګړې ډګر ته روانيدل

رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) د جمعې لمونځ ادا کړ، خلکو ته يې د وعظ او نصيحت په ضمن کې د زيات زيار او کوښښ امر وکړ او ورته ويې فرمايل چې

---

[1]. السيرة الحلبية ٢/ ١٤

بری یوازې په صبر او حوصله تر لاسه کیدای شي. بیایې له دښمن سره د مقابلې لپاره د تیارۍ حکم صادر کړ. خلک د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) د ارشاداتو په اوریدو سره خوشاله او مطمئن شول. په همدې ورځ یې د لمازدیګر لمونځ هم په مدینه کې وکړ. خلک راټول شوي وو، او د عوالي نومې سیمې اوسیدونکي هم راغلي وو، په لمانځه پسې رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) له خپلو یارانو ابوبکر او عمر (رضي الله عنهما) سره یو ځای کور ته ننوت هغوی پګړۍ ور په سر کړه جامې یې وارغوستې، ځان یې ښه مسلح کړ، دوې زغرې یې واچولې او توره په لاس راووت.

کله چې رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) کور ته ننوت، نو سعد بن معاذ او اسید بن حضیر خلکو ته وویل: تاسې رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) له مدینې نه وتلو باندې مجبور کړ، خبره بیرته ده ته وسپارئ! دوی هم پخپل اصرار پښېمانه شول، او کله چې رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) راووت دوی ورته وویل: یا رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم)! مونږ ته لازمه نه وه چې ستاسې د رایې مخالفت وکړو، اوس خوښه ستا، که غواړې په مدینه کې د ننه سنګرونه ونیسو نو زمونږ خوښه او رضا ده. په ځواب کې رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) وفرمایل: (**ما ينبغي لنبي إذا لبس لأْمَتَه ــ وهي الدرع ــ أن يضعها حتى يحكم الله بينه وبين عدوه**). دا د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) له شان سره نه ښایي چې یو ځل وسله را واخلي یا زغره واغوندي او بیا مخکې لدینه چې الله تعالی دده او دښمن تر مینځ فیصله وکړي بیرته کښینې.[1]

بیا رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) لښکر په دریو ټولیو وویشه:

۱ـ د مهاجرینو ټولی او بیرغ یې مصعب بن عمیر عبدري ته ورکړ.

۲ـ د انصارو د اوس قبیلې ټولی او بیرغ یې اسید بن حضیر ته ورکړ.

۳ـ د انصارو د خزرج قبیلې ټولی او بیرغ یې حباب بن المنذر ته ورکړ.

د ټول لښکر شمیره زر کسان و چې سل یې زغره لرونکي او پنځوس یې سواره وو، که

---

[1]. رواه احمد، نسائي، حاكم، ابن اسحق.

څه هم ځنې روايات وايي چې پدې غزا کې له مسلمانانو سره آسونه نه وو[2]. په مدينه کې پاتې کيدونکو لپاره يې عبدالله بن ام مکتوم د لمانځه امام وټاکه، او د جګړې د ډګر په لور د خوځيدو اجازه يې وکړه. پدې ترتيب سره اسلامي لښکر پداسې حال کې د شمال په لور وخوځيد چې دواړه سعدان (سعد بن معاذ او سعد بن عباده) وسله په لاس او زغره په ځان د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) تر مخ مخ روان وو.

کله چې اسلامي لښکر له ثنيه الوداع نه تير شو د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) سترګې په يوه وسله بند ټولي ولګيدې چې له نور لښکر نه جدا روان دی، پوښتنه يې وکړه چې دا څوک دي؟ په ځواب کې ورته وويل شول دا د خزرج دوستان يهودان دي[1]، غواړي د مشرکينو خلاف جګړه کې برخه واخلي. رسول (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) وپوښتل آيا دوی مسلمان شويدي؟ په ځواب کې ورته وويل شول: نه اسلام خو يې ندی راوړی، نو رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) د هغوی د بيرته ستنيدو امر وکړ او خوښه يې نه شوه چې د مشرکينو په خلاف جګړه کې له کفارو نه مرسته وغواړي.

د لښکر معاينه

شيخان نومي ځای ته په رسيدو سره رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) د خپل لښکر معاينه پيل کړه، او هغه کسان يې له لښکر نه بيل کړل کوم چې عمر يې کم او د جګړې توان يې نه درلود.

پدې ډله کې عبدالله بن عمر، اسامه بن زيد، اسيد بن ظهير، زيد بن ثابت، زيد بن ارقم، عرابه بن اوس، عمرو بن حزم، ابو سعيد الخدري، زيد بن حارثه الانصاري، او سعد بن حبه (رضي الله عنهم) شامل وو. که څه هم د براء بن عازب نوم هم پدې ډله کې اخستل کيږي، خو د بخاري هغه روايت چې له براء نه يې نقل لږی پدې دلالت کوي چې نومورې په دې غزا کې برخه اخيستې وه.

د کشرانو او کم عمره ځوانانو له جملې نه يې يوازې رافع بن خديج او سمره بن جندب

---

(2). د پنځوسو آسونوخبره ابن القيم په الهدى ۹۲/۲ کې نقل کړيده، خو ابن حجر وايي چې دا خبره بالکل غلطه ده. او موسى بن عقبه په تائيد سره وايي چې په احد کې له مسلمانانو سره يو آس هم نه وۀ، واقدي وايي چې په احد کې يو آس د رسول الله (ص) او بل د ابو برده وۀ (فتح الباری ۷/ ۳۵۰)

(1). دا د ابن سعد روايت دی، او وايي چې دا يهودان د بني قينقاع له قبيلې څخه وو (طبقات ۳۴/۲) پداسې حال کې چې دا قبيله مخکې له مدينې نه شړل شوې وه.

ته اجازه ورکړه چې په جګړه کې برخه واخلي، او دا هم ځکه چې رافع يو ډير ماهر غشي ويشتونکی وٴ، نو په همدې سبب په جګړه کې د اشتراک اجازه ورکړه شوه، پدې وخت کې سمره وويل: ماته هم اجازه را کړه ځکه زه خو له رافع نه زيات قوي او پياوړی يم او هغه راڅملولی شم! رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) ورته وفرمايل: راځئ په غيږو ورشئ چې کوم يو ډير پياوړی دی. په مقابله کې سمره بريالی شو او رافع يې راچپه کړ، په دې ترتيب ده ته هم په جنګ کې د اشتراک اجازه ورکړل شوه.

د مدينې او احد تر مينځ يوه شپه

په همدې ځای کې ورباندې شپه شوه د مابنام ورپسې د ماسختن لمونځونه يې ادا کړل او بيا همدلته ويده شو. پنځوس کسان يې د محمد بن مسلمه تر مشرۍ لاندې د پيرې لپاره وټاکل، ددې ګروپ اتل کعب بن اشرف و او ذکوان بن عبد قيس په خاصه توګه په رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) باندې پيره کوله.

د عبدالله بن ابي بغاوت

رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) له سپيده داغ نه لږ څه د مخه حرکت وکړ، د سهار لمونځ يې په شوط نومي ځای کې ادا کړ او دغه وخت دښمن ته دومره ور لنډ شوی وٴ چې يو بل يې ښه ليدل. په همدې حساسو شيبو کې د منافقانو مشر له خپلو دری سوه ملګريو سره بغاوت وکړ، دا خبره يې بهانه ونيوله چې رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) زما رايه ونه منله، نو اوس ولې او د څه لپاره ځانونه ووژنو؟

دوی ټول بيرته له لارې وګرزيدل. ځرګنده ده چې د دوی د بغاوت او بيرته ګرزيدو سبب همغه نه وٴ کوم چې دوی عنواناوه، که ربښتيا دوی په همدې خفه شوي وای، نو بيا تر دې ځايه ولې راتلل؟! اصلاً د دوی هدف دا وٴ چې دلته د دښمن سره نژدې مسلمانانو کې هله ګوله راولاړه کړي، په لښکر کې ماتې ګډه کړي تر څو دښمنان نور ورباندې را تيز او زړور شي او په دې ترتيب سره به د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) او مخلصو اصحابو (رضي الله عنهم) د له مينځ وړلو امکانات ډير زيات

شي او که دا وشول نو ميدان به بيادې منافق ته خالي وي چې بيا به يې راج چليږي.
نژدې وه چې منافقان پخپل دې شوم هدف کې بريالي شي. له اوس نه بني حارثه او له خزرج نه د بنو سلمه پښې سستی شوې، د په شاتګ په هڅه کې شول، خو د ميدان پرېښودو په وخت کې الله تعالی د هغوی زړونه را تکيه کړل او په الهي مدد سره ددې جوګه شول چې د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) خوا ته په ميړانه ودرېږي. الله تعالی دې حالت ته اشاره کوي او فرمايي:

((إِذْ هَمَّتْ طَائِفَتَانِ مِنْكُمْ أَنْ تَفْشَلا وَاللَّهُ وَلِيُّهُمَا وَعَلَى اللَّهِ فَلْيَتَوَكَّلْ الْمُؤْمِنُونَ)) (آل عمران: ۱۲۲)

[ترجمه: کله چې قصد وکړ دوو طائفو له تاسې نه ددې خبرې چې بې زړه شي دوی (له جنګه) حال دا چې الله ولي (مددګار) د دوی وٴ او خاص پر الله دې نو توکل وکړي مؤمنان.]

د جابر پلار عبدالله بن حرام (رضي الله عنهما) ډيره هڅه وکړه منافقان خپلې دندې ته متوجه کړي. ورپسې ورغی، بيرته راتګ ته يې هڅول او ورته ويل يې: راشئ، بيرته راوګرزئ د خدای په لاره کې وجنګيږئ او يا دفاع وکړئ!

منافقانو په ځواب کې ورته ويل: که مونږ پدې باوري وای چې تاسې جنګيږئ، نو مونږ به بيرته نه ګرزيدو.

پدې سره عبدالله بن حرام (رضي الله عنه) ورنه راستون شو او داسې يې ويل: خدای مو له مونږ نه ورک کړه اې د خدای دښمنانو! خدای به خپل رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) تاسې ته نه اړ باسي.

قرآنکريم دې منافقينو ته په اشاره کولو سره فرمايي:

((وَلِيَعْلَمَ الَّذِينَ نَافَقُوا وَقِيلَ لَهُمْ تَعَالَوْا قَاتِلُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ أَوْ ادْفَعُوا قَالُوا لَوْ نَعْلَمُ قِتَالاً لاتَّبَعْنَاكُمْ هُمْ لِلْكُفْرِ يَوْمَئِذٍ أَقْرَبُ مِنْهُمْ لِلإِيمَانِ يَقُولُونَ بِأَفْوَاهِهِمْ مَا لَيْسَ فِي قُلُوبِهِمْ وَاللَّهُ أَعْلَمُ بِمَا يَكْتُمُونَ)) (آل عمران- ۱٦۷)

[ترجمه: او (بل) له پاره ددې وٴ چې معلوم (ښکاره) کړي (الله) هغه کسان چې نفاق يې کړی وٴ او وويلی شو دغو (بيرته تلونکو منافقانو) ته چې راځئ (احد ته) غزا وکړئ (له مشرکينو سره) په لاره د الله کې يا مدافعه وکړئ ! (د دښمن له نفسونو او مالونو او کورونو خپلو!) نو وويل دې (منافقانو) که مونږ پوهيدئ په جنګ، نو هرومرو (خامخا) به مونږ متابعت کړی وٴ ستاسې. دوی کفر ته په دغې ورځې کې (چې دغه خبره يې کوله) ډير نژدې وو، له دوی نه په نسبت د ايمان، وايي دوی (منافقان) په خولو خپلو

سره هغه (خبره) چې نشته (پرې تصديق) په زړونو د دوی کې، او الله ښه پوه دی په هغه څه (هم) چې پټوي يې دوی (په زړونو خپلو کې له حسد او کفره).]

اسلامي لښکر د احد په لور

د عبدالله بن ابي له ماتې او په شاتګ وروسته رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) پاتې لښکر چې اوه سوه تنه وۀ د احد په لور روان کړ، خو څرنګه چې د دښمن سپايان په څو ځايونو کې احد ته غزيدلې لاره کې پراته وو، نو رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) وفرمايل: داسې څوک به وي چې مونږ په يوه لنډه خو داسې لاره بوزي چې پر دوی (مشرکانو) ورنه شو؟ په ځواب کې ابو خيثمه وويل: زه تيار يم يا رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم)! بيا يې د مشرکينو د لښکرو لويديځې خوا ته د بني حارثه په بيديا او کښتونو کې غزيدلې لنډه لار ونيوله. او کله چې اسلامي لښکر د يوه منافق (مربع بن قيظي) چې په سترګو هم ړوند وۀ په باغ تيريده، هغه منافق راپاڅيد، مسلمانانوته يې خاورې ورشيندلې او ويل يې: که ته د خدای رسول (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) وې، نو باغ ته د ننوتلو اجازه نه درکوم! ځينې کسان ورتاو شول چې ويې وژني، خو رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) ورته وفرمايل:

(**لا تقتلوه، فهذا الأعْمَى أعمى القلب أعمى البصر**). مه يې وژنئ، دا په سترګو او زړه دواړو ړوند دی.

رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) همداسې مخکې لاړ تر څو د دری خوا ته د احد غره په يوه خوړ کې داسې ځای په ځای شو چې مخ يې د مدينې او شا يې د احد د پوښتو خوا ته وه. او پدې ترتيب سره د دښمنانو لښکر د مدينې او اسلامي لښکر تر مينځ واقع شوی وۀ.

دفاعي پلان

په همدې ځای کې رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) خپل لښکر د جګړې لپاره تيار او په منظمو ليکو برابر کړ. د عبدالله بن جبير بن نعمان انصاري اوسي بدري په مشرۍ يې پنځوسو ماهرو غشو ويشتونکو ته وظيفه ورکړه چې د قناه د درې په جنوبي څنډه کې د پراته غره په غاښې کې سنګر ونيسي. دغه غر چې وروسته د

جبل الرماه په نوم ياد شو د اسلامي لښکر جنوب لويديځ لور ته د قوماندانۍ له مرکز نه (۱۵۰) متره ليرې پروت وۀ.

ددې پنځوس کسيز ګروپ قوماندان ته د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) لارښوونې په هغه کنډو کې د دوی د توظيفولو هدف او غرض ښه په ګوته کوي، ورته فرمايي: (**انضح الخيل عنا بالنبل، لا يأتونا من خلفنا، إن كانت لنا أو علينا فاثبت مكانك، لا نؤتين من قبلك**). په خپلو غشو سره د دښمن آسونه له مونږ نه منع کړه، مه پريږده چې د شا له خوا راباندې راشي،که هر څه وۀ مونږ بريالي شوو او يا دوی، خپل ځای مه پريږده، ګوره چې ستاسې له پلوه دښمن راباندې رانشي.[1]

بيا يې غشي ويشتونکو ته د اسې امر وکړ: (**احموا ظهورنا، فإن رأيتمونا نقتل فلا تنصرونا، وإن رأيتمونا قد غنمنا فلا تشركونا**). تاسې به خپله خوا ټينګه ساتئ، خپل سنګر به نه پريږدئ، که مونږ ټول وژل کيدلو هم تاسې به مو مرستې ته نه راځئ، او که مو وليدل چې مونږ غنيمتونه راټولوو بيا به هم د غنيمت لپاره نه راځئ[2].

د بخاري په روايت کې راځي چې رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) ورته وفرمايل: (**إن رأيتمونا تخطفنا الطير فلا تبرحوا مكانكم هذا حتى أرسل إليكم، وإن رأيتمونا هزمنا القوم ووطأناهم فلا تبرحوا حتى أرسل إليكم**).که مو وليدل چې مرغان زمونږ غوښې وړي بيا به هم خپل ځای نه خوشی کوئ، او تر هغې به نه راځئ تر څو ما نه وئ راغوښتي، او که مو وليدل دښمن ته مو ماتې ورکړه، دړې وړې مو کړې بيا به هم تاسې له خپل سنګر نه تر هغې نه پورته کيږئ تر څو پورې ما احوال نه وي درليږلئ.[3]

هغه يوازينۍ لار چې دښمن کولی شوای د شا له خوا ورباندې را تاو شي او مسلمانان محاصره کړي د همدغه کنډو لاره وه چې رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) پکې دا پنځوس کسيز ګروپ وټاکه او داسې کسانې، څرګندې عسکري لارښوونې يې ورته وکړې چې هغوی بايد هملته په سنګر کې وي تر څو دا لار د دښمن په مخ همداسې بنده پاته وي.

نور لښکر يې داسې برابر کړ: منذر بن عمرو يې په ميمنه، زبير بن عوام چې مقداد بن اسود يې معاونت کاوه په ميسره وټاکه. ددې تر څنګ زبير بن عوام دا دنده هم لرله

---

(1). ابن هشام ۲/۶۵-۶۶

(2). دا له ابن عباس نه د احمد، طبراني او حاکم روايت دی، فتح الباري ۷/ ۳۵۰ وګوره.

(3). صحيح البخاري کتاب الجهاد ۱/ ۴۲۶.

چې د مشرکانو د سپرو چې خالد بن ولید یې مشري کوله مخه هم ونیسي، او د لښکر په لومړۍ لیکه کې یې داسې کسان ځای په ځای کړل چې په غیرت او میړانه کې یو په زر شمیرل کیده.

د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) جنګي پلان او برنامه دومره دقیقه او بشپړه وه چې د بل هیڅ یوه مشر او عسکري قوماندان له وسه نه ده پوره داسې یو پلان او برنامه طرحه کړي. او دا پخپله د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) د قیادت په عظمت او عسکري امورو په ښه پوهه دلالت کوي. سره لدې چې د جګړې میدان ته له دښمن نه وروسته راغی، خو د لښکر لپاره یې تر ټولو غوره او مهم ځای اشغال کړ او هغه داسې چې وروستنۍ او ښې خوا ته یې غر واقع وٴ، چپه او وروستۍ خوا یې په غشو ویشتونکو حمایه او وساتله، او په عمومي توګه دا ځای لوړ او هسک وٴ، چې د احتمالي ماتې په وخت کې ښه حمایه کیدی شوای او مسلمانانو د تیښتې په ځای دلته ځان ټینګولی او له اسارت نه ژغورلی شوای، او که دښمن د دوی د سنګرونو د نیولو کوښښ کړی وای، نو په ډیرو تلفاتو به یې هم دا کار نه وی ترسره کړی. ددې بر عکس دښمن یې داسې یوه ځاې ته ایسار کړی وٴ، چې که بریالی شوی هم وی، نو د فتحې ګټې لکه غنیمتونه، اسیران او نور یې نه شوی تر لاسه کولای، او که مسلمانان وربانديې برلاسي کیدی نو بیا یې د خلاصون او تیښتې لار نه وه. همدا راز رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) د خپل لښکر د شمیر کمښت په لومړۍ لیکه کې د هغو مشهورو میړنو په ځای کولوسره جبیره کړ.

پدې ترتیب سره رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) خپل لښکر د دریم هجري کال د شوال په اوومه د هفتې په ورځ د دښمن مقابلې ته تیار او برابر کړ.

رسول (ﷺ) د سپاهیانو په زړونو کې د غیرت روح پوکي

رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) امر وکړ چې تر هغې به جګړه نه پیل کوي تر څو ده ورته امر نه وي کړی. او پداسې حال کې چې دوې زغرې یې اغوستې وي سپاهیانو ته یې د جګړې په ډګر کې د خیر او ثبات لارښوونه کوله او د دوی په زړونو کې یې د همت او میړانې روح پوکوله. یوه ډیره تیره توره یې راوایستله او اصحابو ته یې وفرمایل: (**من یأخذ هذا السیف بحقه؟**). دا توره څوک پدې شرط اخلي چې حق

يې ادا کړي؟ څو کسان لکه علي بن ابي طالب، زبير بن العوام او عمر بن الخطاب ورپاڅيدل چې توره ورنه واخلي، پدې ضمن کې أبو دُجَانة سِمَاك بن خَرَشَة ورپاڅيد او ويې ويل: يا رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) ددې توري حق څه دی؟ ده ورته وفرمايل: (**أن تضرب به وجوه العدو حتى ينحني**). ددې توری حق دادې چې پر دښمنانو تر هغې پورې ګزارونه پرې وکړې تر څو ښه کږه وږه شي. ابودجانه عرض وکړ قبوله مې ده، زه به يې همدا حق په ځای کړم. بيا رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) توره همده ته ورکړه.

ابو دجانه ډير زړور سړی وۀ د جګړې په وخت کې به په ډير غرور او خيال روان وۀ، يوه سره پګړۍ يې درلوده کله به يې چې وترڅله نو خلک به پوه شول چې اوس به تر مرګه جنګيږي او کله يې چې له رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) نه توره واخيستله نو هغه پګړۍ يې وترڅله او د لښکر په مينځ کې په خيال او غرور روان شو.

پدې وخت کې رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) وفرمايل: (**إنها لمشية يبغضها الله إلا في مثل هذا الموطن**).دا هغه رفتار دی چې الله تعالى يې له دا ډول حالت نه (له دښمن سره د مقابلې له وخت نه) پرته بالکل نه خوښوي.

د مکي لښکر تنظيم

مشرکانو خپل لښکر د ليکو په حساب برابر کړ، عمومي قومانده له ابو سفيان صخر بن حرب سره وه چې د لښکر په قلب (زړه) کې يې ځای نيولې وۀ، په ميمنه يې خالد بن وليد او ميسره يې عکرمه بن ابي جهل ټاکلی وۀ پداسې حال کې چې د پلیو (پياده) قواوو مشر صفوان بن اميه او د غشو ويشتونکو مشر عبدالله بن ابي ربيعه وۀ.

بيرغ د بني عبدالدار له يوې ډلې سره وۀ، او دا منصب دوی ته ان د قصي بن کلاب له وخت نه په ميراث پاتې و، هيچا دا حق نه درلود پدې هکله جنجال ورسره وکړي، خو د جګړې عمومي قوماندان (ابو سفيان) د بدر په غزا کې د قريشو بده ورځ او د بيرغ وړونکي (نضر بن حارث) اسارت ور په يادوي او ددې پخاطر چې بني عبدالدار په غيرت راولي ورته وايي: تاسې د بدر په ورځ هم د بيرغ وړونکی وئ او و مو وليدل چې په څه حال ګرفتار شولو! جنګيالي خلک هميشه د بيرغ له پلوه ضربه وينې، يعنې کله يې چې بيرغ پريوزي، دوی هم تباه کيږي، نو اوس به يا بيرغ ښه په ميړانه اوچت ساتئ، او که دا نه شئ کولئ نو مونږ ته يې راکړئ چې د ساتنې ضمانت يې درکړو.

ابو سفيان پدې خبره سره خپل هدف تر لاسه کړ، بنو عبدالدار دده په خبرو راوپاريدل

او په ډیره غوسه یې ورته وویل: بیرغ تا ته درکړو؟! سبا به ګورې چې مونږ څه کوو او ربنتیا چې هغوی د جګړې په ډګر کې تر هغې وجنګیدل تر څو ټول ختم او تباه شول.

د قریشو سیاسي چلبازي

د جګړې له پیل نه مخکې قریشو هڅه وکړه پخپلې چلبازۍ سره د مسلمانانو تر مینځ درز او نفاق پیدا کړي. ابو سفیان انصارو ته داسې احوال ورولیږه چې: مونږ او زمونږ د تره زوی محمد (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) سره پریږدئ، تاسې غرض مه لرئ مونږ له تاسې سره د جګړې ضرورت نه وینو. خو انصارو پخپل فولادین ایمان سره د دوی دا توطئه له خاورو سره خاورې کړه او ابو سفیان ته یې داسې څه ور واورول چې ښه پرې خفه شو.

د جګړې اور په بلیدو وۀ، دواړه لښکرې یو بل ته ورلنډې شوې، په دې وخت کې قریشو د مسلمانانو په منځ کې د نفاق اچولو یوه بله ناکامه هڅه وکړه.

او هغه داسې چې د جاهلیت په زمانه کې د اوس قبیلې یو خائن او مزدور مشر چې نوم یې عبد عمرو بن صیفي وۀ او په ابو عامر راهب سره یې شهرت درلود او رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) فاسق نوم وربانديې ایښی وۀ را میدان ته شو. نوموړي له اسلام او رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) سره ښکاره دښمني درلوده او کله چې اسلام راغی، نو هغه ونه شوای زغملی، له مدینې نه ووت، قریش یې د رسول (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) مقابلې ته راټولول او تشویقول او دا خبره یې ورته کوله چې که زما قوم ما وویني، نو اطاعت به مې وکړي او زما خوا ته به ودریږي. نومورې فاسق لومړنی کس وۀ چې د احد په غزا کې یې له احابیشو او د مکې د خلکو له غلامانو سره د مسلمانانو مقابلې ته راودانګل. د احد په میدان کې را وړاندې شو خپل قوم ته یې ځان داسې وروښود، اې د اوس خلکو! زه ابو عامر یم! دوی په ځواب کې ورته وویل: خدای دې مه ښادوه، نامراد اوسې اې فاسقه! ده چې دا واوریدل ویې ویل: له ما نه وروسته زما قوم په شر او بدۍ اخته شویدی. او کله چې جګړه ونښتله نو له خپل قوم سره سخت جنګیده او مسلمانان یې په تیرو ویشتل.

پدې ترتیب سره د قریشو دوهمه توطئه هم خنثی شوه. دا سیاسي چل ول او ناکامې

توطئې پدې دلالت کوي چې د هغوی په زړونوکې د مسلمانانو ویره او هیبت پروت وۀ، او د سپایانو د شمیر او وسلو ډیروالي یې هم زړونه نه وو ډاډه کړي.

د قریشو ښځې د جنګیالانو حوصلې لوړوي

د قریشو ښځو هم په جګړه کې خپل رول ولوباوه، دغه ډله ښځې چې د ابو سفیان ښځې هند بنت عتبه یې مشري کوله د لښکر په مینځ کې ګرزیدې، ډولکي او دایرې یې وهلې، خلک یې په غیرت راوستل جنګ ته یې هیڅول، د قهرمانانو حماسې یې راپارولې، د نیزه بازانو، تورزنو، او غشو ویشونکو احساسات یې په جوش راوستل، کله به یې بیرغ وړونکو ته داسې ویل:

ویها بني عبدالدار ویها حماة الادبار

ضربا بکل بتار

اې د عبدالدار زامنو! اې د لښکر د وروستیو لیکو ساتونکو! پخپلو تیرو تورو ښه میږني ګوزارونه وکړئ. کله به یې د خپل قوم حماسې داسې راپارولې:

ان تقبـــلوا نعانق و نفرش النمارق

او تدبروا نفارق فراق غیر وامـــق

که دښمن ته ورمخکې شوی نو غیږ په غیږ به شو او قالینچې به درته وغوړوو، او که مو شا کړه ورته نو بیا مو درسره جدایې ده نه په خلا کیدونکې جدایي.

د جګړې لومړنۍ لمبې

دواړه لښکري نورې هم یو بل ته ورلنډې شوې، د جګړې نغارې وډنګیدې.د مشرکانو بیرغ وړونکی طلحه بن ابي طلحه العبدري لومړنی کس وۀ چې د جنګ اور ته یې پلته ورته کړه. دا یو ډیر زړور او غیرتي انسان وۀ مسلمانانو ورته د لښکر ګډ (پسه) وایه پداسې حال کې چې په اوښ سپور وۀ را مخکې شو او د مقابلې ټټر یې وواهه، هیڅا یې هم مقابلې ته زړه نه شو ښه کولی، خو زبیر بن العوام (رضي الله عنه) د زمري په

شان ورپاڅيد ورټوپ يې کړ په اوښ ور سپور شو او سمدستي يې په ځمکه رانسکور کړ او سر يې په توره ورنه بيل کړ.
رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) چې دا ميړنۍ مقابله وليدله، د تکبير چيغه يې پورته کړه مسلمانانو هم ورسره تکبير ووايه او د زبير (رضي الله عنه) ستاينه يې وکړه ويې فرمايل: ((ان لكل نبي حواريا، وحواري الزبير)) هر نبي يو خاص دوست او ملګری لري، زما دوست او ملګری زبير دی . (السيرة الحلبية ۱۸/۲)

د بيرغ شاو خوا سختې جګړې او د علمبردارانو له مينځه وړل

پدې ترتيب سره د جګړې اور هرې خوا ته خور شو، خو ډير زور يې د مشرکينو د بيرغ شاو خوا ؤ چې د دوی علمبردار او د بني عبدالدار مشر طلحه بن ابي طلحه ووژل شو. ورور يې عثمان را وړاندی شو بيرغ يې اوچت کړ او دا شعر يې ووايه:

ان على اهل اللواء حقا ان تخضب الصعدة او تندقا

د علمبردارانو وظيفه داده چې نيزې يې ښې په وينو سرې شي او يا هم بوټې ماتې شي. په همدې وخت کې حمزه (رضي الله عنه) پرې ورټوپ کړ او په مټ يې داسې ګوزار ورباندې وکړ چې لاس يې ورنه بيل او ان تر نامه پورې ځيرې شو، سړې يې رانښکاره شول، ولويد. بيرغ ابو سعد بن ابي طلحه پورته کړ، چې سعد بن ابي وقاص په ستوني کې په غشي وويشت ژبه يې تر خوله راووتله او ځای په ځای ستنې شو. او بل روايت داسې دی چې ابو سعد ميدان ته رامخکې شو، مسلمانانو ته يې د مقابلې بلنه ورکړه علي (رضي الله عنه) ورمخکې شو تورې يې سره تيرې بيرې کړې ترڅو علي (رضي الله عنه) پخپل مرګوني ګوزار سره پر مځکه رانسکور کړ. نو وراره يې مسافع بن طلحه بن ابي طلحه توغ پورته کړ، خو هغه هم د عاصم بن ثابت بن ابي الاقلح په غشي ووژل شو. بيايې ورور کلاب بن طلحه بيرغ ته لاس کړ جګړه يې پيل کړه تر څو زبير بن عوام ورمخې ته شو او ويې واژه. بيا بيرغ د دوی دواړو ورور جلاس بن طلحه واخيست، خو طلحه بن عبيدالله ده ته هم ډير وخت ورنکړ او په يوه ګوزار يې نسکور کړ، او په بل روايت سره دا هم د عصام بن ثابت په غشي سره ووژل شو.
دا شپږ واړه د ابو طلحه عبدالله بن عثمان بن عبدالدار له کورنۍ څخه وو چې ټول د

مشرکینو د توغ او بیرغ نه د دفاع په میدان کې ووژل شول. بیا د همدې کورنۍ (بنو عبدالدار) ارطاه بن شرحبیل توغ پورته کړ تر څو هغه هم دعلي (رضي الله عنه) او یا حمزه (رضي الله عنه) په ګوزار سره ستۍ شو. بیا شریح بن قارظ بیرغ اوچت کړ هغه هم د یوه منافق چې قزمان نومیده او د تعصب په اساس جنګ ته راغلی ؤ په لاس ووژل شو. بیا ابو زید عمرو ابن عبد مناف العبدري د شرک بیرغ په لاس کې واخیست هغه هم د قزمان په لاس مړ شو.

په ده پسې د شرحبیل بن هاشم العبدري زوی بیرغ پورته کړ، خو هغه هم د همدې قزمان په ګوزار ووژل شو. پدې ترتیب سره د بنو عبدالدار پوره لس علمبرداران په همدې ډګر کې ستۍ شول، نور له دوی نه څوک نه ؤ پاتې چې بیرغ اوچت وساتي، همدا وه چې د دوی یو حبشي غلام (مریې) چې صواب نومیده بیرغ پورته کړ او له خپلو بادارانو نه په زیاته میړانه تر هغې وجنګید تر څو دواړه لاسونه یې غوڅ شول، خو بیا یې هم زیار ایست چې پخپله غاړه او سینه سره بیرغ اوچت وساتي او په همدې حالت کې یې دا خبره په خوله وه چې اې خدایه اوس خو به مې عذر درته مقبول وي او په هلاکت ورسید.

د صواب له وژل کیدو وروسته بیرغ په ځمکه راپریووت او بیا چا و نه شوای کولای د کفر دا نسکور بیرغ اوچت کړي.

د جګړې نورې صحنې

پداسې حال کې چې د جګړې زیات زور د مشرکینو د بیرغ شاو خواته و، د احد ډګر په نورو برخو کې هم جګړې روانې وې. مسلمانان د ایمان په وسله سنبال او د اسلام په مینه مست د یوه داسې سیل په شان چې ډیر کلک بندونه هم نشي ورته ټینګیدی د کفر په لښکر ورګډ شول او هر یوه یې د احد غزا شعار اَمِت، اَمِت (یعنې مړ کړه، مړ کړه) زمزمه کاوه.

ابو دجانه چې تر سر یې سره پټۍ تاوکړې وه او د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) توره یې پدې نیت په لاس کې نیولې وه چې حق یې ادا کړي را وړاندې شو وجنګید د مشرکینو په لیکو کې ورننوت هر مشرک یې چې مخې نه راغی ځای په ځای یې وواژه، د کفر لښکر یې تار په تار کړ. زبیر (رضي الله عنه) وایي هغه وخت چې رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) توره ابو دجانه ته ورکړه او ما ته یې رانکړه، ما پخپل زړه کې وویل: زه یې د عمه (صفیې) زوی او د قریشو مهم غړی وم ورغلم توره مې تري وغوښتله، خو هغه ابو دجانه ته ورکړه، ګورم به چې ابو دجانه څه

کوي؟ څاره مې، که ګورم چې سر یې په سره پتې وتاړه، پدې وخت کې انصارو وویل ابو دجانه د مرګ پتې راوایستله، راوړاندې شو او دا شعر یې زمزمه کړ:

انا الــذي عاهــدني خليلي و نحن بالسفح لدى النخيل
ان لا اقوم الدهر في الكيول اضرب بسيف الله و الرسول

زه هغه چې خلیل (دوست) مې د غره په لمن او د خرماوو له باغ سره عهد راسره کړی چې همیشه به د لښکر په مخ کې وم او هیڅکله به د لښکر شا ته نه جنګیږم، او د خدای او رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) په توره به پر دښمنانو ګوزارونه کوم.

ابو دجانه همداسې مخکې روان وٴ هر مشرک به یې چې مخې ته راته نو سمدلاسه به یې رانسکوراوه. زبیر (رضي الله عنه) وایي: د مشرکینو په ډله کې یو کس داسې وٴ چې زخمیان به یې لټول او وژل به یې، ما پدې وخت کې خدای ته سوال وکړ چې ابو دجانه پدې کافر ور برابر کړي. همدا وه چې دوی دواړه سره مخامخ شول یو پر بل یې ګوزارونه وکړل خو سره تیر او بیر شول، دې مشرک بل ګوزار وربانديې وکړ خو ابو دجانه پخپل ډال سره ځان ورنه وساته توره یې په ډال کې بنده شو، په ځواب کې ابودجانه داسې ګوزار وربانديې وکړ چې کافر ځای په ځای شو.[1]

ابو دجانه مخ په وړاندې روان وٴ د کفر لیکې یې ځیرولې ترڅو د مشرکینو د ښځو قومندانې ته ور ورسید، لــومړی یې نه پیژندله چې دا ښځه ده، پدې هکله (ابو دجانه) وایي: یو څوک مې ولید چې په خلکو ډیر کلک کلک ګوزارونه کوي، زه ور مخې ته شوم خو کله مې چې توره وربانديې پورته کړه چې ګوزار پرې وکړم چیغه یې وکړه پوه شوم چې ښځه ده، لاس مې ونیو او زړه مې ونه منله چې د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) په توره ښځه ووژنم، دا ښځه هند بنت عتبه وه. زبیر (رضي الله عنه) وایي ما لیدل چې ابو دجانه پر هندې توره پورته کړه، خو بیا یې لاس ورنه ونیو په دغه وخت کې ما وویل: بیشکه چې الله او رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) له بل هر چا نه ښه پوهیږي.[2]

---

(1). ابن هشام ٢/٦٨-٦٩ .
(2). ابن هشام ٢/ ٦٩ .

حمزه (رضي الله عنه) هم د سوريدلي زمري په شان جنګيده، په ډيره ميړانه او بې باکۍ سره يې د شرک د لښکر زړه ته ځان ورساوه او د کافرانو هغه ډير زړور جنګيالان يې هم داسې په مخکې لويدل لکه د توپان په مخکې چې پاڼې توئيږي. حمزه (رضي الله عنه) نه يوازې د مشرکينو څو تنه علمبرداران له پښو وغورځول بلکه د دوی نور ډير ميړني يې هم رانسکور کړل، خو په پای کې پداسې حال کې چې په ډيره ميړانه يې د کافرانو مقابله کوله، په يوه غلچکي، او د يوه نامرد په مکارانه ګوزار سره په شهادت ورسيد.

د اسدالله حمزه (رضي الله عنه) شهادت

د حمزه (رضي الله عنه) قاتل وحشي بن حرب پدې هکله وايي: زه د جبير بن مطعم غلام (مريې) وم. په بدر کې دده تره طعيمه بن عدي هم وژل شوی و، او کله چې قريش د احد په لور روان شول، نو بادار مې راته وويل: که زما د تره په بدل کې دې د محمد (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) تره حمزه (رضي الله عنه) وواژه نو ته آزاد يې. وحشي زياتوي:

زه په همدې طمعه له خلکو سره روان شوم، زه يو حبشي ماهر نيزه ويشتونکی وم، نښه به مې ډيره کمه خطا کيده. کله چې دواړه خواوې سره ونښتلې زه د حمزه په لټه کې شوم که ګورم چې د خاکستري (خړ) اوښ په شان د خلکو ليکې ماتوي هيڅوک يې مخې ته نه شي دريدی، په خدای قسم چې زما سترګې په همده کې خښې وې، ځان مې ورته برابراوه، او پدې خاطر چې را لنډ شي د ونې يا کومې تيږې شا ته به پټيدم. پدې وخت کې سباع بن عبدالعزی له ما نه مخکې ور وړاندې شو او کله چې د حمزه (رضي الله عنه) سترګې پرې ولګيدې نو ورته ويې ويل: را وړاندې شه د سنت کونکې مور زويه! پرې را تاو شو او په يو ګوزار يې سر ورنه بوټ قلم کړ. دلته ما خپله نيزه برابره کړه او نښه نښه مې ورباندې ونيوله او پرې ورخوشې مې کړه، په خپله يې داسې وربرابره شوه چې له شا نه يې ووتله، هڅه يې وکړه چې زما خوا ته راشي خو و نه توانيد، په همدې حالت مې پريښود تر څو مړ شو. وروسته ورغلم او نيزه مې ورنه وايستله، بيرته لښکر ته راغلم او آرام کيناستم، ځکه له بل چا سره مې کار نه و، حمزه (رضي الله عنه) مې پدې خاطر وواژه چې آزاد شم، او کله چې مکې ته ورسيدو

نو آزاد شوم.[1]

په جګړه کې د مسلمانانو برلاسي

سره لدې چې د حمزه (رضي الله عنه) شهادت د مسلمانانو لپاره نه جبران کيدونکې خساره وه، خو بيا هم د جګړې په ميدان کې بر لاسي د همدوی وه. ابوبکر، عمر، علي، زبير، مصعب بن عمير، طلحه بن عبيدالله، عبدالله بن جحش، سعد بن معاذ، سعد بن عباده، سعد بن الربيع، انس ابن النضر او نور (رضي الله عنهم اجمعين) داسې په ميړانه جنګيدل چې مشرکان يې تار او مار کړل. د مشرکانو مورال دومره لويدلی وٴ چې نور د ټينګيدو نه وو.

د ښځې له غيرې نه د تورو تر ميدانه

ددې ورځې له قهرمانو سرتيرو نه يو هم حنظله غسيل وٴ. دا د هغه ابو عامر راهب زوی وٴ چې په فاسق مشهور شوی وٴ او څو صفحې مخکې يې يادونه شويده.
حنظله نوی واده کړی وٴ، او پداسې حال کې يې د جنګ آواز واورید چې له خپلې ښځې سره پروت وٴ سمدستي يې د ښځې غيرې پريښوده او د جګړې ډګر ته روان شو. هلته چې له مشرکينو سره مخامخ شو، ناتار يې ورباندې جوړ کړ په لښکر ورننوت او ابو سفيان ته يې ځان ورساوه، نژدې وه چې ابو سفيان را نسکور کړي، خو شداد بن اسود وار ورباندې ړومبی کړ او حنظله يې په شهادت ورساوه.

په جګړه کې د غشو ويشتونکو رول او ونډه

د هغو غشو ويشتونکو ډلې چې رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) د الرماه غره په کنډو کې ځای په ځای کړې وه، په جګړه کې ډير مهم رول درلود او حالات يې د مسلمانانو په ګټه ساتلي وو. د مشرکينو سپرو د خالد بن الوليد په

---

[1]. ابن هشام ۲/ ۶۹ – ۷۲ صحيح بخاري ۲/ ۵۸۳. همدا وحشي بيا د طائف له غزا وروسته مسلمان شو او په همدې نيزه سره يې مسيلمه الکذاب وواژه، او د روم په خلاف مشهوره جګړه (برموک) کې يې هم برخه درلوده.

مشرۍ چې ابو عامر الفاسق يې مرسته کوله دري ځله هڅې وکړي چې د اسلامي لښکر چپ وزر مات کړي تر څو د مسلمانانو شا لوري ته لار ومومي او ناتار ورباندې ګډ کړي، خو غشو ويشتونکو د غشو باران پرې جوړ کړ او دری واړه حملې يې ورناکامې کړې.[1]

مشرکان ماتې خوري

خونړۍ جګړه روانه وه، کم شمير اسلامي لښکر حالات تر خپل کنترول لاندې راوستې وُو. په مشرکينو کې له هرې خوا ماتې ګډه شوه، داسې وارخطا وو لکه چې دری زره کسيزه لښکر يې له ديرش زره مسلمانانو سره مخ وي. مسلمانان د شمير او وسلې له کمښت سره سره په پوره ميړانه او پايمردۍ جنګيدل.

قريشو ډير زور وواهه چې د مسلمانانو مخه ونيسي حمله يې دفع کړي خو هيڅ يې هم ونه شوی کړای بې وسي شول، ارادې يې ماتې او پښې يې سستی شوې، زړونه يې ولويدل او په يوه کې يې هم دومره متره نه وه چې د صواب له لاس نه لويدلی بيرغ راپورته کړي. همدا وه چې د تيښتې لار يې ونيوله، ترپ يې له خرپ نه غوره وګانړه. هغه د غچ انتقام، عزت او دبدبې، دا او هغه ټولې باتې، لاپې يې هيرې شوې له جګړې نه په منډه شول. ابن اسحاق وايي: الله تعالی مسلمانانو ته بری ور په برخه کړ، مشرکين يې د تورې په څوکه له ډګر نه وايستل، حتمي ماتې يې ورباندې ګډه کړه. عبدالله د خپل پلار زبير (رضي الله عنهما) له خولې وايي: قسم په خدای چې ما هنده او نورې ښځې ليدلې چې جامې يې له پندۍو نه ورپورته کړې او د تيښتې په حالت کې وې، هيڅ څوک هم نه وو ورسره چې له اسارت او نيولو نه يې وژغوري.[1]

بخاري له براء بن عازب نه روايت کوي وايي: کله چې له مشرکينو سره مخامخ شوو، مات مو کړل او وتښتيدل، ليدل مې چې ښځې يې په ډيره بيړه تښتي او خپلې جامې يې دومره وربرۍ وهلې چې پايزيبونه يې ښه ښکاريدل.[2] مسلمانان ورپسې وو، مشرکين يې په تورو وهل او ورنه پاتې غنيمتونه يې راټولول.

---

[1]. فتح الباري ۷/ ۳۴۶

[1]. ابن هشام ۷۷/۲

[2]. بخاري ۲/ ۵۷۹

د غشو ويشتونکو ستره غلطي

پداسې حال کې چې اسلامي لښکر د بدر په شان د يوه بل عظيم او بی نظير بري او فتحې په درشل ولاړ وو، د هغه پنځوس کسيزې غشي ويشتونکې ډلې اکثريت يوه داسې غلطي کوي چې وضع او حالات پوره بدلوي مسلمانانو ته ډير تاوان اړوي، او د بدر په ډګر کې ګټل شوی هيبت او منزلت يې زيانمنوي. او تردې نه لويه دا چې نژدې وه همدا غلطي د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) د شهادت سبب شي.

لکه مخکې مو چې يادونه کړيده رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) دې غشو ويشتونکو ته په ډيرو کلکو الفاظو امر کړی وۀ چې خپل سنګر به نه پريږدي، د فتحې او ناکامۍ په دواړو حالاتو کې به پخپل ځای ټينګ پاته کيږي.

خو لدې جدي امر سره سره کله چې دوی وليدل مسلمانان د غنيمت مالونه راټولوي يو ځل يې په زړونو کې د دنيا مينه راښکاره شوه، يو بل ته يې وويل: غنيمت دی، غنيمت، راځئ مسلمانان بريالي شول نور د څه انتظار کوئ؟

خو قوماندان يې (عبدالله بن جبير) د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) اوامر ور په يادوي او ورته وايي: د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) اوامر مو هير کړل؟ خو زيات شمير يې دې يادونې ته غوږ نه ايښود او ويل يې نور مونږ ورځو تر څو خپله برخه غنيمت په لاس راوړو.[1] همدا وه چې څلويښت کسان غشي ويشتونکي له کنډو نه کوز شول او په نور لښکر ورګډ شول تر څو غنيمتونه را ټول کړي. اوس د مسلمانانو شا خالي وه يوازې عبدالله بن جبير له خپلو نهو ملګرو سره په ټينګ عزم پخپل ځای وو، او دا يې اراده وه چې تر هغې پورې به همدلته وي تر څو پورې ټول مړه شوي نه وي او يا رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) راغوښتي نه وي.

خالد بن الوليد د اسلامي لښکر د محاصرې په تکل

خالد بن وليد لدې طلايي موقع نه پوره ګټه پورته کړه، په ډيره چټکۍ سره په مسلمانانو را تاو شو عبدالله بن جبير او ملګري يې له مينځه يووړل او په نورو

---

[1]. بخاري ۴۲۶/۱

مسلمانانو يې د شا له خوا برید وکړ. آسونه يې داسې وشيشنيدل چې مشرکان پوه شول حالات بدل شويدي، نو هغوی هم په مسلمانانو مخ راوړاوه د علقمه الحارثيه لور عمره په ډيره چټکۍ د بيرغ خوا ته ورغله، له خاورو نه يې را پورته کړ. يو ځل مشرکين ورنه تاو شول، يو بل ته يې ناري کړې، راغونډ شول، او پدې ترتيب سره مسلمانان له شا او مخې نه د مشرکينو تر محاصرې لاندې راغلل.

د محاصرې په وخت کې د رسول الله (ﷺ) ميړنی دريځ

پدې وخت کې رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) له يوه نهه کسيز[1] ګروپ سره د لښکر په وروستۍ برخه کې وٴ[2]، جګړه يې ځارله او کتل يې چې مسلمانانو مشرکين په مخه کړي دي، خو يو ناڅاپه د خالد سپرو برید پرې وکړ، نو اوس يې يوازې دوې لارې په مخه کې وې لومړۍ دا چې په بيړه له خپل ګروپ سره کوم محفوظ ځای ته ځان وباسي او لښکر خپل قسمت او تقدير ته پرېږدي، دويمه لار دا وه چې ژوند په خطر کې واچوي همدې ځای ته خپل اصحاب راوبولي يوه قوي جبهه ورنه جوړه کړي تر څو محاصره ماته او لښکر د احد غره ته وباسي.

همدلته يو ځل بيا د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) بې مثله ميړانه او عظمت څرګندېږي، خپلو اصحابو، ته چيغه کوي: (إلي عباد الله). اې د خدای بندګانو! زما خوا ته راشئ! دا پداسې وخت کې چې ښه پوهيده چې دا ناري به له مسلمانانو مخکې مشرکين اوري، خو ددې پروا يې ونکړه ځان يې خطر ته ورکړ، خپل اصحاب يې راوبلل، او د همدی غږ په اوريدو سره مخکې لدينه چې مسلمانان راورسيږي مشرکين متوجه شول او رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) ته يې ځانونه ورسول.

د مسلمانانو ماتې

کله چې مسلمانان د دښمن تر محاصرې لاندې راغلل، نو يو شمير دومره وارخطا او بې واره شول چې له ځان نه پرته هر څه ورنه هير شول، د جګړې ميدان يې پرېښود د تيښتې لاره يې ونيوه. ځنې مدينې ته ورسيدل نور يې د غره څوکې ته وختل، يو شمير نور بيرته شاته راوګرځيدل او له مشرکانو سره داسې ګډ شول چې کافر له مسلمان

---

[1]. صحيح مسلم ۱۰۷/۲ .: رسول الله (ص) د احد په ورځ له (۷) انصارو او (۲) قريشو سره ګوښې پاتې شوی و..

[2]. پدې د الله تعالى دا قول دلالت کوي ((الرسول يدعوكم في اخراكم)) (ال عمران/ ۱۵۳)

څخه نه پيژندل کيده تردې حده چې مسلمانانو يو بل سره ووژل. بخاري له عايشې (رضي الله عنها) نه روايت کوي وايي: د احد په ورځ لومړی مشرکانو ماتې وخوړه، په همدې وخت کې شيطان چيغه وکړه اې د خدای بندګانو شا ته متوجه اوسئ يعنې له ديخوا نه ځانونه وساتئ، همدا وه چې د ړومبنۍ ليکې کسان را وګرځيدل او له وروستۍ ليکې سره په جګړه شول. حذيفه کتل چې پلار يې د مسلمانانو تر حملو لاندې دی چيغه يې وکړه اې د الله بندګانو دا زما پلار دی! دا زما پلار دی! خو چا وا نه وريدل او هغه مسکين يې وواژه. حذيفه وويل: خدای دې تاسې و ببښي.[1]

عروه وايي: په خدای قسم چې په حذيفه کې تر مرګ ورځې خير موجود ؤ. ددې ډلې په مينځ کې يو ډول هرج و مرج را پيدا شو، خلک يې بې نظمه شول، له ډيرو نه لاره ورکه شوه نه پوهيدل په کومه خوا ولاړ شي. په همدې وخت کې يو چا په لوړ آواز غږ وکړ چې محمد (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) په قتل ورسيد. همدا وه چې هغه پاتې نور هم له خوده ووتل، مورال يې مات شو، زړونه يې ولويدل، ډيرو له بې وسۍ او سستۍ نه وسله وغورځوله جنګ يې بند کړ د ځينو په زړونو کې دا وګرزيدل چې لاړ شي له عبدالله بن ابي سره يو ځای شي تر څو هغه ورته له ابو سفيان نه امان واخلي.

انس بن النضر راغی او دا کسان يې وليدل ورته ويې ويل د څه انتظار کوئ؟ دوی ورته وويل: رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) په شهادت رسيدلی، (حيران يو څه وکړو)! ده ورته وويل: نو اوس ژوندون څه کوئ، پورته شئ او په هغه څه ځانونه ووژنئ په کوم چې رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) ځان په شهادت ورساوه. او زياته يې کړه: اې خدايه! زه ددې مسلمانانو له کړو نه عذر او ببښنه غواړم، او د مشرکانو له کړو نه برائت اعلانوم. بيا مخکې لاړ تر څو د سعد بن معاذ سترګې پرې ولګيدی غږ يې پرې وکړ چيرته يا ابو عمره؟ انس ورته وويل: آه دا د جنت بوی چې د احد له خوا راځي، بيا همداسې وړاندې لاړ او تر هغې وجنګيد تر څو په شهادت ورسيد. او دومره ګوزارونه يې خوړلي وو چې د جګړې په پای کې نه پيژندل کيده، خو خور يې د ګوتو له بندونو نه وپيژانده، په بدن يې له اتياوو نه زيات د

---

[1]. بخاري ۱/ ۵۳۹ – ۲/ ۵۸۱ او نور روايتونه وايي چې رسول الله (ص) وغوښتل حذيفه ته دده پلار ديت ورکړي خو حذيفه په ځواب کې ورته وويل: دا ديت دې زما له خوا د مسلمانانو لپاره صدقه شي، نو رسول الله (ص) نور هم ورنه راضي شو، سيره الرسول للشيخ النجدي ص ۲۴۶.

نيزې، توري، او غشي ټپونه وو.[۲]

همدا راز ثابت بن دحداح هم خپل قوم ته غږ وکړ چې اې انصارو! که چيرې محمد (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) وژل شوی وي، نو خدای خو حي (ژوندي) دی او نه مري، پورته شئ په دين وجنګيږئ، الله مو حامي او ناصر دی. همدا وه چې يوه ډله انصار ور پورته شول او په ګډه يې د خالد بن وليد په ګروپ حمله وروړه او تر هغې ورسره و جنګيدل تر څو خالد بن وليد هغه په نيزه سره په شهادت ورساوه او نور ملګري يې هم ټول ورسره شهيدان شول.[۱]

له مهاجرينو نه يو کس وليدل چې يو انصاري پخپلو وينو کې لت و پت پروت دی، مهاجر ورته وويل: فلانيه! خبر يې چې محمد (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) په قتل رسيدلی دی؟ انصاري ځواب ورکړ او ويې ويل: که محمد (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) وژل شوی وي، نو خپل مسوولیت يې ادا کړ، اوس تاسې پخپل دين ننګ وکړئ او وجنګيږئ.[۲]

همدا بې مثاله ميړانه او ډاډ ګيرنه ددې سبب شوه چې يو ځل بيا د مسلمانانو زړونه پورته شي په خود راشي، عقل يې بيرته سر ته ورشي. نور يې له منافقينو سره د يو ځای کيدو فکرونه پريښوول خپلې وسلې يې بيرته راپورته کړې او په مشرکينو يې ورودانګل. پدې وخت کې پدې هم پوه شول چې د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) د مرګ خبر دروغ دی، پدې نور هم تقويه او زړه ور شول، په مشرکينو ورولويدل، ډير سخت وجنګيدل او په پای کې پدې بريالي شول چې له محاصرې نه ووزي او د قيادت مرکز ته ځان ورسوي.

د مسلمانانو دريمه ډله داسې وه چې يوازې د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) په غم کې وه او په هيڅ شي کې يې فکر نه کاوه، ان د محاصرې له پيل نه يې ځانونه خپل لارښود (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) ته ورسول. ددې ډلې په سر کې ابوبکر، عمر، علي او نور (رضي الله عنهم) وو، دوی د جګړې په لومړۍ کرښه کې وو، خو کله چې پوه شول د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) ژوند په خطر کې دی نو سمدستي ورنه راتاو شول او له رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) نه د دفاع په خط کې ودريدل.

---

(2). زاد المعاد ۲/ ۹۳ – ۹۶ . بخاري ۲/ ۵۷۹

(۱). السيرة الحلبية ۲/۲۲

(۲). زاد المعاد ۲/ ۹٦

د رسول الله (ﷺ) په شاو خوا کې سخته جګړه

پداسې حال کې چې تر اسلامي لښکر د محاصرې کړې راتاویده او مسلمانان د مشرکینو د حملو تر مینځ داسې واقع شوي وو لکه د ژرندې د دوو پلو تر مینځ، د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) شا و خوا ته سخته جګړه روانه وه. او لکه مخکې مو چې وویل د محاصرې په پیل کې له رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) سره یوازې (۹) کسان موجود وو، خو کله یې چې مسلمانانو ته غږ وکړ او ویې فرمایل: (**هلموا إلي، أنا رسول الله**). زما خوا ته راشئ، زه رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) یم!

مشرکانو دا غږ واورید رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) یې وپیژانده ورباندې را تاو شول (ځکه د دوی تر مینځ ډیره کمه فاصله وه) حمله یې ورباندې وکړه او مخکې لدینه چې نور مسلمانان راورسیږي مشرکینو خپل ټول زور په کار واچاوه تر څو رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) ته ځان ورسوي. همدلته له رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) سره موجود نهه کسان په ډیره میړانه او غیرت دفاع کوي او د مشرکینو په وړاندې دومره کلک مقاومت کوي چې د مینې، سربندنې او میړانې په میدان کې یې مثال نه لیدل کیږي.

مسلم له انس بن مالک (رضي الله عنه) نه روایت کوي چې له رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) سره د احد په ورځ یوازې اوه کسان انصار او دوه قریش پاتې وو. کله چې جګړې ډیره سخته شوه او مشرکین را لنډ شول، نو رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) وفرمایل: (**من یردهم عنا وله الجنة ؟ أو هو رفیقي في الجنة ؟**). څوک به د دوی (مشرکینو) مخه ونیسي که دا کار چا وکړ د هغه لپاره جنت دی؟ او یا هغه به په جنت کې زما ملګری وي؟ د همدې خبرې په اوریدو سره یو انصاري را مخکې شو او تر هغې وجنګید تر څو په شهادت ورسید. جګړه لا پسې تودیده او مشرکین د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) خوا ته را لنډیدل، یو، یو انصاري (رضي الله عنهم) په شهادت رسیده تر څو اوه واړه شهیدان شول پدې وخت کې رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) هغو دوو قریشیانو

ته وفرمايل: (**ما أنصفنا أصحابنا**). مونږ له خپلو يارانو سره انصاف و نه شوای کړی.[1] د هغو اوو انصارو (رضي الله عنهم) آخرينی کس عماره بن يزيد بن السکن ؤ چې دومره وجنګيد تر څو ټول زخمي زخمي شو او په ځمکه راپريوت .[2]

د رسول الله (ﷺ) په ژوند کې تر ټولو سخته ګړۍ

د ابن السکن له لويدو نه وروسته له رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) سره يوازې دوه تنه قريشيان پاتې وو. په بخاري او مسلم کې له ابو عثمان نه روايت دی وايي: د جګړې پدې ورځو کې يوه ورځ له رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) سره يوازې طلحه بن عبيدالله او سعد بن ابي وقاص (رضي الله عنه) پاتې وو [1]. دا د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) د ژوند تر ټولو سخته ګړۍ وه، او همدا د مشرکينو لپاره يو طلايي چانس هم ؤ. هغوی ټول زور په کار واچاوه تر څو لدې فرصت نه ګټه اوچته کړي ټولو د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) په لوري حمله راوړه او کوښښ يې کاوه هغه مبارک له مينځه يوسي. عتبه بن ابي وقاص تيږه پورته کړه او رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) يې د مبارک مخ په يوه طرف وويشت او لاندينی ښی رباعي غاښ يې مات شو او لاندينۍ مبارکه شونډه يې هم زخمی شوه. عبدالله بن شهاب زهري ورمخکې شو او رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) يې په مبارکه ټنډه زخمي کړ. په همدې وخت کې يو بل بدبخت عبدالله بن قمئه چې په آس سپور راغی د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) په مبارکه اوږه يې د توري دومره سخت ګوزار وکړ چې رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) پوره يوه مياشت شکايت ورنه درلود، خو بيا هم د توري په ګوزار دده مبارک غبرګې زغرې پرې نه شوې، هغه بدبخت دشمن ورپسې بل د توري همدومره کلک ګوزار وکړ او د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) په مبارک مخ سترګې ته نژدی برابر شو او د زغره والې خولۍ دوې کړۍ يې د غومبوري په هډوکي کې ننوتې، هغه بدبخت له ګوزار سره دا هم وويل: دا درواخله زه د قمئه زوی يم. په ځواب کې رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) پداسې

---

[1]. صحيح مسلم، باب غزوه احد ۲/ ۱۰۷

[2]. له لږ څنډ وروسته د مسلمانانو يوه ډله د رسول الله (ص) خواته راورسيده، مشرکين يې له عماره (رضي الله عنه) نه په څټ کړل او عماره يې د رسول الله (ص) خواته راوړو، رسول الله (ص) هغه ته خپلې مبارکی پښې تکيه کړې او پداسې حال کې په شهادت ورسيد چې مخ يې د رسول الله (ص) په مبارکه پښه ايښی ؤ (ابن هشام ۲/ ۸۱)

[1]. صحيح البخاري ۱/۲، ۵۲۷/ ۵۸۱.

حال کې چې وينې يې له مبارک مخ نه پاکولې ورته وفرمايل: الله تعالی دې ټوټې ټوټې کړه.[۲]

په بخاري کې روايت دی چې پدې غزا کې د رسول الله (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) رباعي غاښ په شهادت ورسيد ، مبارک سر يې زخمي شو، وينې ورنه روانې وې او ده مبارک (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) فرمايل: (**كيف يفلح قوم شجوا وجه نبيهم، وكسروا رباعيته، وهو يدعوهم إلى الله**). هغه قوم به څنګه کامياب شي چې د خپل نبي (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) مخ يې زخمي کړ او رباعي غاښ يې ورمات کړ، پداسې حال کې چې نبي (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) هغوی د الله لوري ته رابولي، نو الله تعالی دا آيت را نازل کړ: ((**لَيْسَ لَكَ مِنْ الأَمْرِ شَيْءٌ أَوْ يَتُوبَ عَلَيْهِمْ أَوْ يُعَذِّبَهُمْ فَإِنَّهُمْ ظَالِمُونَ**)) (آل عمران: ۱۲۸) . [ترجمه: نشته تا لره له امره هيڅ شی (بلکه الله اختيار لري (د هر شي) يا به رجوع وکړي (الله په قبلولو د توبې سره) په دوی باندې يا به عذابوي (الله) دوی پس بيشکه دوی ظالمان دي.]

طبراني روايت کوي چې رسول الله (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) پدې ورځ وفرمايل: (**اشتد غضب الله على قوم دموا وجه رسوله**). په هغه قوم دې الله (جل جلاله) لوې عذاب نازل کړي کوم چې د خپل رسول (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) مخ يې زخمي کړ، بيا څه وخت چې پاتې شو ورپسې يې وفرمايل: (**اللهم اغفر لقومي فانهم لا يعلمون**). [۱] اې خدايه زما قوم ته ببنه وکړه ځکه دوی نه پوهيږي.

همدا راز په صحيح مسلم کې روايت دی چې رسول الله (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) فرمايل: (**رب اغفر لقومي فانهم لا يعلمون**)[۲] اې خدايه زما قوم ته مغفرت وکړه ځکه دوی ته پوهيږي. د قاضي عياض په الشفاء نومي کتاب کې راځي چې رسول الله (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) وفرمايل: (**اللهم اهد قومي فانهم لا**

---

[۲]. الله تعالی د رسول الله (ص) دا دعا قبوله کړه ابن عائذ روايت کوي چې وروسته لدې چې ابن قمئه له جنګ نه کور ته راستون شو، د خپلې رمی ليدو ته ورغی او هغه يې د غره په څوکه کې پيدا کړه او پکې ګډ شو په همدې وخت کې يوه ښکرور وزګورۍ حمله ورباندې وکړه او په ښکرو يې وواهه او د غره نه يې د لاندې ورغورځاوه او ټوټې ټوټې شو (فتح الباری: **۷/ ۳۷۳**). د طبراني روايت وايي چې الله تعالی يو غرڅه ورباندې مسلط کړ او تر هغې يې په ښکرو واهه تر څو ټوټې ټوټې شو (فتح الباری: **۷ / ۳۶۶** .

[۱]. فتح الباري ۷/ ۳۷۳

[۲]. صحيح مسلم باب غزوة احد ۸۱/۱

يعلمون)[3]. خدايه! زما قوم ته هدايت وکړې ځکه دوی نه پوهيږي.
پدې کې هيڅ شک نشته چې مشرکينو کلکه اراده کړې وه رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) په شهادت ورسوي، خو هغه دوه قريشيان سعد بن ابي وقاص او طلحه بن عبيد الله په دومره ميړانه، همت او غيرت وجنګيدل چې د مشرکينو دا شوم هدف يې له خاورو سره خاورې کړ. هغوی دواړه د عربو مشهور غشي ويشتونکي وو او پداسې ميړانه يې مقابله کوله چې په غشو سره يې حمله کوونکي مشرکين له رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) نه په شاتګ ته اړ ايستل. سعد بن ابي وقاص (رضي الله عنه) ته خو رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) خپله د غشو توبره خلاصه کړه او ورته ويې فرمايل: (**ارم فداك أبي وأمي**). وله زما مور او پلار له تا قربان! له همدې قول نه د سعد (رضي الله عنه) د مقام، اهليت او صلاحيت اندازه ښه څرګنديږي ځکه رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) بل هيچا ته هم داسې ندې ويلي چې زما مور او پلار دواړه له تا قربان.[1]
د طلحه بن عبيدالله (رضي الله عنه) په هکله نسائي له جابر نه، پر رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) د مشرکينو ددې حملې او ورسره د څو انصارو د موجوديت په يادونې سره روايت کوي وايي: مشرکين رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) ته را ورسيدل، نو ده وفرمايل:(**من للقوم ؟**) څوک به د دوی مقابله وکړي؟ طلحه وويل: زه. جابر زياتوي: انصار ور وړاندې شول او لکه مخکې مو چې د مسلم شريف په روايت کې وليدل يو په بل پسې په شهادت ورسيدل کله چې انصار ټول شهيدان شول، نو طلحه ور مخکې شو. جابر وايي: بيا طلحه د يوولسو کسانو په شان جنګيده په همدې وخت کې په لاس ولګيد ،ګوتې يې پرې شوی او له خولې نه يې د حس يا آه آواز ووت. رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) ورته وفرمايل: (**لو قلت: بسم الله، لرفعتك الملائكة والناس ينظرون**).که د بسم الله ويلې وای نو خلکو به درته کتل او ته به ملائکو اوچتولې. راوي وايي: بيا الله تعالى مشرکين په شا کړل[2] حاکم په اکليل کې روايت کوي وايي چې طلحه (رضي الله عنه) د احد په ورځ (**۳۹**) يا پنځه ديرش ټپه خوړلي وو او د شهادت او لمنځې ګوتې يې شلې شوې وې.[3]
بخاري له قيس بن ابي حازم نه روايت کوي وايي: ما وليدل چې د طلحه (رضي الله

---

۳. كتاب الشفاء بتعريف حقوق المصطفى ۱/۸۱.
(۱). صحيح البخاري ۱/ ٤٠٧ - ۲/ ٥٨٠ - ٥٨١
(۲). فتح الباري ۷/ ۳٦۱. سنن النسائي ۲/ ٥۲ - ٥۳
(۳). نفس المصدر الاول ۷/ ۳٦۱

عنه) لاس شل شوی وٴ، او په همدې لاس سره يې د احد په ورځ له رسول الله (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) نه دفاع کړې وه.[۴]

ترمذي روايت کوي چې پدې ورځ رسول الله (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) د طلحه په هکله فرمايلي: (**من أحب أن ينظر إلى شهيد يمشي على وجه الأرض فلينظر إلى طلحة بن عبيد الله**). که څوک غواړي چې داسې شهيد ته وګوري چې ژوندی د ځمکې پر مخ ګرزي نو طلحه بن عبيدالله ته دې وګوري.[۱]

ابو داود الطيالسي له عائشې (رضي الله عنها) نه روايت کوي چې وايي: ابوبکر (رضي الله عنه) به چې کله د احد ورځ يادوله نو فرمايل به يې چې دا ورځ ټوله د طلحه ورځ ده.[۲]

همدارنګه ابوبکر دده په هکله ويلي:

يا طلحة بن عبيدالله قد وجبت لك الجنان و بوات المها العينا[۳]

[اې د عبيدالله زويه طلحه تا ته جنت واجب شو او له حورو سره دې کور جوړ کړ.]

په همدې سخته ګړۍ کې الله تعالی له غيبه خپل نصر را نازل کړ. په بخاري او مسلم کې له سعد نه روايت دی وايي: د احد په ورځ مې رسول الله (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) وليد چې دوه داسې کسان ورنه دفاع کوي چې سپين کالي يې اغوستي او ډير په ميړانه جنګيږي، ما هغه کسان نه مخکې ليدلي وو او نه مې وروسته وليدل. او په بل روايت کې راځي چې هغه دوه کسان جبريل او ميکائيل(عليهما السلام) وو.[۴]

د رسول (ﷺ) شاو خوا ته د اصحابو (رضي الله عنهم) راټوليدل

دا ټولې پيښې په ډيره چټکۍ او ناڅاپي توګه د سترګو په رپ کې ترسره شوې او که نه د رسول الله (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) غوره جنګيالي اصحاب (رضي الله عنهم) چې د جګړې په لومړۍ کرښه کې وو د جګړې د حالت له بدليدلو او د رسول الله

---

[۴]. صحيح البخاري ۱/۵۲۷، ۲/۵۸۱.
[۱]. مشکاه المصابيح ۲/ ۵۶۶. ابن هشام ۲/۸۶
[۲]. فتح الباري ۷/ ۳۶۱
[۳]. مختصر تاريخ دمشق ۷/ ۸۲ (من هامش شرح شذور الذهب ص ۱۱۴)
[۴]. صحيح البخاری ۲/ ۵۸۰

(صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) د آواز له اوریدو سره سم د خپل رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) په لور په ډیر بیړه راو ګرزیدل تر څو رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) له څه نا ګواره پیښې سره مخ نه شي. خو دوی پداسې حال کې راورسیدل چې رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) زخمي شوی وۀ شپږ تنه انصار په شهادت رسیدلي او اووم په ځمکه زخمي پروت وۀ، سعد او طلحه په ډیره میړانه دفاع ورنه کوله او په جګړه بوخت وو، نو ټول له رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) نه تاو شول خپل ځانونه او وسلې یې دده مبارک نه د دفاع پخاطر لکه دیوال داسې ورنه تاو کړې، د دښمن ګوزارونو ته یې ځانونه ډال کړل، حملې یې په شا وتمبولې. ابوبکر د غار ملګری یې لومړي شخص وۀ چې رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) ته یې ځان راورساوه.

ابن حبان له عائشه (رضي الله عنها) نه روایت کوي چې وایي: ابو بکر (رضي الله عنه) وویل: د احد په ورځ خلک ټول له رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) نه لیرې شوي وو، زه لومړنی کس وم چې رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) ته بیرته راوګرزیدم، هلته مې ولیدل چې یو شخص دفاع ورنه کوي په جګړه بوخت دی، په زړه کې مې وویل چې دا به طلحه وي، مور او پلار مې ورنه قربان، په همدې وخت کې ابو عبیده بن الجراح را پسې راورسید هغه لکه د مرغه په شان تیز را روان وۀ، دواړو ځانونه رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) ته ورسول که ګورو چې طلحه یې په مخکې لویدلې، رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) راته وفرمایل: (**دونکم أخاکم، فقد أوجب**). د خپل ورور غم وخورئ ده ځانته جنت واجب کړ. د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) مبارک مخ هم زخمي شوی وۀ د اوسپنیزې خولې دوې کړۍ یې په غومبوري کې خښې شوې وې. ابوبکر (رضي الله عنه) وایي ما وغوښتل چې دا کړۍ یې له مبارک غومبوري نه راوباسم، خو ابو عبیده (رضي الله عنه) راته وویل: د خدای په روی ما پریږده چې دا کړۍ زه ورنه راوباسم! او پدې ترتیب هغه یوه کړۍ په خوله ټینګه ونیوله او ورو ورو یې را ایستله تر څو رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) په تکلیف نه شي، بالاخره یې یوه راوایستله خو پدې کوشش کې د ابو عبیده له ثنایا غاښونو نه یو غاښ هم ووت. ابوبکر وایي: بیا زه ورغلم چې هغه بله زه راوباسم، ابو عبیده بیا راته وویل: د خدای په روی ما پریږده چې راویې باسم، نو دوهمه یې هم په خوله راونیوله او ورو ورو یې راوایستله خو دا ځل یې بل غاښ هم ووت. بیا رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) وفرمایل: د خپل ورور غم وخورئ ده ته جنت واجب شو یا یې جنت ځانته واجب کړ.

ابوبکر وايي: بيا مو طلحه ته مخه کړه او درملنه مو يې پيل کړ له ديارلسو نه يې زيات زخمونه خوړلي وۀ[1].

دا پدې ورځ په جګړه کې د طلحه د غيرت او شجاعت، همت او استعداد يو بل دليل دی.

په همدې سخته شيبه کې د رسول الله (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) تر شاو خوا يو شمير قهرمان اصحاب راغوند شول، په دې ډله کې ابودجانه، مصعب بن عمير، علي بن ابي طالب، سهل بن حنيف، مالک بن سنان (د ابو سعيد الخدري پلار)، ام عماره نسيبه بنت کعب المازنيه، قتاده بن النعمان، عمر بن الخطاب، حاطب بن ابي بلتعه او ابو طلحه (رضي الله عنهم) شامل وو.

د مشرکينو حملې تندې شوې

دلته د مشرکينو شمير لحظه په لحظه زياتيده او حملې يې تندې دې. په مسلمانانو فشار دومره زيات شو چې رسول الله (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) له هغو کندو نه په يوه کنده کې ولويد کومې چې ابو عامر الفاسق د همدې شرارت لپاره کيندلې وې، په مبارکه ګونډه کې يې وبريښندل علي (رضي الله عنه) لاس ورکړ او طلحه بن عبيدالله په غيږ کې راونيو تر څو راپورته شو او ودريد. نافع بن جبير وايي: له مهاجرينو نه يوه کس به ويل: د احد په ورځ مې ليدل چې غشي له هر لوري را وريدل، رسول الله (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) په مينځ کې ؤ خو ټول به ورنه چپيدل (يعنې اصحابو به ورنه دفع کول) او په همدې ورځ مې عبدالله بن شهاب الزهري وليد چې ويل يې: محمد (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) راوښايست، اوس به يا زه ژوندی پاتې کيږم او يا هغه (صلی الله عليه وسلم)! دا پداسې حال کې چې رسول الله (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) يې بالکل خوا ته ؤ او هيڅوک هم نه ؤ ورسره، خو هغه ورنه تير شو، صفوان ورباندې په قهر شو (چې ولې ورنه تير شوې) هغه په ځواب کې ورته وويل: قسم په خدای که مې ليدلی وي، قسم په خدای لکه چې هغه (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) له مونږ نه ساتل شويدی. په دې پسې مونږ څلور کسانو عهد وکړ او د عبدالله په مرګ پسې ورمخکې شوو خو ونه توانيدو چې ويې

---

[1]. زاد المعاد ۲/ ۹۵

وژنو.[۲]

بې مثاله قربانۍ او اتلولۍ

په دې ورځ مسلمانانو د قربانۍ او فدا کارۍ، ميړانې، اتلولۍ او سربازۍ په ډګر کې داسې قهرمانۍ او کارنامې وکړې چې په تاريخ کې يې مثال نه ليدل کيږي. ابو طلحه (رضي الله عنه) ځان د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) مخې ته لکه سپر داسې نيولی وٴ په خپله سينه يې د دښمن غشي ور نه دفع کول. انس (رضي الله عنه) وايي: د احد په ورځ خلک د ماتې په حال کې له رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) نه بيل شول، خو ابو طلحه په داسې حال کې چې يو ډال ورسره وٴ د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) مخې ته ولاړ وٴ، هغه ډير ماهر غشي ويشتونکی وٴ په ډير زور سره يې غشي ويشتل، په دې ورځ يې دوې يا دري ليندۍ ماتې کړې. دلته له مسلمانانو نه يو سړی چې د غشو توبره ورسره وه تيريده رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) ورته وفرمايل: (**انثرها لأبي طلحة**).غشي دې ابو طلحه ته واچوه. رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) به چې کله سر پورته کړ چې خلک ووينې ابو طلحه به ورته ويل: مور او پلار مې درنه قربان سر مه اوچتوه هسې نه د دښمن کوم غشی درباندې برابر نه شي، زما غاړه ستا له غاړې قربان.[۱]

همدا راز انس (رضي الله عنه) روايت کوي چې ابو طلحه او رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) دواړو په يوه ډال له ځان نه دفاع کوله. ابو طلحه ډير ښه غشي ويشتل او کله به يې چې غشی وويشته نو رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) به سر اوچت کړ او کتل به يې چې غشی يې چيرته ولګيده.[۲]

ابو دجانه د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) مخې ته ودريد خپله شا يې رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) ته ډال کړه، غشي به راتلل او وربانديې لګيدل به، خو دی به له ځايه نه خوځيده.

حاطب بن ابي بلتعه په عتبه بن ابي وقاص هغه چې د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) مبارک غاښ يې شهيد کړی وٴ پسې شو، تعقيب يې کړ او د توري داسې

(2). زاد المعاد ۲/ ۹۷
(1). صحيح البخاری ۲/ ۵۸۱
(2). نفس المصدر ۱/ ۴۰۶

ګوزار يې ورباندې وکړ چې سر يې بوټ ورباندې قلم کړ، آس او توره يې ورنه را واخيستل. سعد بن ابي وقاص ډير کوښښ وکړ چې خپل ورور عتبه ووژني، خو حاطب ورنه مخکې شو او د هغه کار يې ورجوړ کړ.

سهل بن حنيف يو ميړينی غشي ويشتونکی وٴ، له رسول الله (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) سره يې د مرګ بيعت وکړ او په ډيره ميړانه يې د مشرکينو په وړاندې مقابله کوله.

رسول الله (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) پخپله هم غشي ويشتل. قتاده بن النعمان روايت کوي چې رسول الله (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) له خپلې لينديۍ نه دومره غشي وويشتل چې دا يوه څنډه يې بالکل نرۍ او يا ماته شوې وه، بيا همدا لينديۍ قتاده ورنه واخيستله او له همده سره وه. په همدې ورځ د قتاده سترګه ولګيده پوچه راووتله په مخ يې ځړيدله، رسول الله (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) پخپل مبارک لاس بيرته ور په ځای کړه جوړه روغه شوه ان تر دې چې همدا سترګه يې له بلې سترګې نه هم ګلالۍ وه او هم د تيز نظر درلودونکی.

عبدالرحمن بن عوف ډير په ميړانه جنګيده په خوله ولګيد او د مخې غاښ يې مات شو، له شلو نه زيات ټپونه يې وخوړل په پښه هم کلک ولګيد او له همدې نه بيا ګوډ شو. د ابو سعيد الخدري پلار مالک بن سنان د رسول الله (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) د مبارک مخ له زخم نه وينې په خوله زبېښلې او تر هغې يې څټلې تر څو پاکې شوې. رسول الله (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) ورته وفرمايل: (**مُجَّه**).تو يې کړه. ده وويل قسم په خدای که يې تو کړم. بيا يې جګړې ته مخه کړه رسول الله (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) وفرمايل: (**من أراد أن ينظر إلى رجل من أهل الجنة فلينظر إلى هذا**).څوک غواړي جنتي ته وګوري، نو ده ته دې وګوري. او هغه تر هغې پورې وجنګيد تر څو په شهادت ورسيد.

ام عماره هم په ډير لوړ همت جنګيده، د مسلمانانو له يوه ګروپ سره ابن قمئه ته ور مخکې شوه، ابن قمئه ورباندې د توري ګوزار وکړ او اوږه يې ډيره ژوره ور زخمي کړه، دې هم پر ابن قمئه باندې څو مسلسل ګوزارونه وکړل، خو هغه دوی زغرې اغوستې وې، ژوندی پاتې شو، ام عماره همداسې په ميړانه جنګيده تر څو دولس ټپونه يې وخوړل.

مصعب بن عمير په ډيره ميړانه سربازي کوله له رسول الله (صلی الله عليه و اله و

صحبه و سلم) نه يې د ابن قمئه او نورو مشرکينو حملې په شا کولې او ځان يې د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) په مخکې ډال جوړ کړی وۀ، له ده سره د اسلامي لښکر بيرغ هم وۀ. مشرکينو حمله ورباندې وکړه او ښی لاس يې ور پرې کړ، ده فورا بيرغ په چپ لاس کې ونيو او د مشرکينو مقابلې ته لکه غر داسې ولاړ وۀ، بالاخره يې چپ لاس هم پرې شو، خو بيا يې هم نه غوښتل بيرغ په ځمکه پريوزي ځان يې ورباندې وروغاوه په سينې او غاړې سره يې اوچت ساته تر څو په شهادت ورسيد. دده قاتل هم ابن قمئه وۀ او داسې ګمان کاوه چې دا رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) دی، ځکه مصعب (رضي الله عنه) رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) ته ډير ورته وۀ او کله يې چې مصعب (رضي الله عنه) په شهادت ورساوه، نو ابن قمئه مشرکينو ته مخ کړ او چيغه يې وکړه چې محمد (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) په قتل ورسيد.[1]

د رسول الله (ﷺ)د شهادت خبر او پر جګړه يې اغيزې

د ابن قمئه لدې چيغې سره د مشرکينو او مسلمانانو په مينځ کې د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) د شهادت خبر خور شو. د ا ډيـرې حسـاسې شـيـبې وې له رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) نه بيل او د مشرکينو له خوا محاصره شوي اصحاب (رضي الله عنهم) ډير وارخطا شول، ارادې يې کمزورې شوې، ګډوډي او بی نظمي پکې ګډه شوه، غمجن او پريشانه شول، خو پدې چيغې سره دا هم وشول چې د مشرکينو حملې څه نا څه کـم شوې، فشار يې څه کم غوندې شو، ځکه دوی دا وپتيېله چې نور خپل هدف ته ورسيدل، يو شمير مشرکينو خو جګړه پريښوده او د شهيدانو په مثله کولو لګيا شول.

رسول الله (ﷺ) جګړې ته ادامه ورکوي او حالات کنترولوي

کله چې مصعب (رضي الله عنه) په شهادت ورسيد رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) بيرغ علي (رضي الله عنه) ته وسپاره. علي (رضي الله عنه) او نور موجود اصحاب (رضي الله عنهم) ډير په ميړانه جنګيدل، دفاع يې کوله او په دښمن يې

---

[1]. ابن هشام ۲/ ۷۳- ۸۴. زاد المعاد ۲/ ۱۹۷

مرګوني ګوزارونه کول.
په همدې وخت کې رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) وتوانید محاصره ماته کړي او خپل محاصره شوي لښکر ته لار وباسي. کله چې رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) د خپل لښکر خوا ته ورغی لومړی د کعب بن مالک سترګې پرې ولګیدې ویې پیژانده او په لوړ آواز یې چیغه کړه: اې مسلمانانو! زیری مې درباندې، دا دی رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم). رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) اشاره ورته وکړه چې چوپ شه. او دا هم پدې خاطر تر څو مشرکانو ته ددې مبارک د موجودیت او ځای معلومات ونه شي، خو د کعب دا چیغه د مسلمانانو غوږونو ته ورسیده ټول ورته راتاو شول او تقریباً دیرش کسان یې شاو خواته راټول شول.
کله چې یو شمیر اصحاب راټول شول، نو رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) په ډیره منظمه توګه د غره د درې خوا ته په شاتګ پیل کړ. او څرنګه چې لدې شاتګ نه هدف د محاصرې ماتول وؤ، نو مشرکینو په ټول زور سره خپلې حملې جاري ساتلې او زیار یې یوست چې د مسلمانانو د شاتګ مخه ونیسي خو رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) د مشرکینو حمله کوونکو په مینځ کې خپله لاره وایستله او مشرکین د اسلام د زمریانو په وړاندې بې بسه شول.
پدې وخت کې د مشرکینو یو سپور عثمان بن عبدالله بن مغیره د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) په خوا را مخکې شو او ویل یې: یا به زه ژوندی پاتې کیږم او یا هغه (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم)! رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) یې د مقابلې لپاره مخې ته ودرید، خو د مقابلې نوبت را نغی ځکه د هغه مشرک آس په یوه کنده کې ولوید او فوراً حارث بن الصمه ورته راورسید او په پښه یې د توري ګوزار پرې کړ ځای په ځای یې کیناوه او بیا یې هملته ستی کړ وسله یې ورنه را واخیستله او ځان یې بیرته رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) ته ورساوه. پدې وخت کې د مشرکینو له لښکر نه یو بل سپور عبدالله بن جابر په حارث بن الصمه حمله وروړه په مټ یې په توره وواهه او کلک زخمي شو چې بیا مسلمانانو پورته کړ او یو یې ووړ. پدې وخت کې ابو دجانه هغه چې سره پتی یې په سر ټرلې او له مرګ سره لوبیده راغی او د توری په یوه وار سره یې د مشرک عبدالله بن جابر سر قلم کړ.
د خونړی جګړې پدې سختو شیبو کې په مسلمانانو د خوب غوټې هم راتللې او

لکه څرنګه چې قرآنکريم فرمايي دا خوب د الله له طرفه مسلمانانو ته امن او اطمينان وٴ. ابو طلحه وايي: زه د احد په ورځ له هغه کسانو نه يو وم چې خوب وربانډې راته او داسې به خوب رابانډې غالب شو چې څو ځله مې توره له لاس نه پريوته، بيرته به مې واخيسته، بيا به ولويده او وابه مې خيسته.[1]

په همدې قربانۍ او سربازۍ سره د مسلمانانو دا ګروپ په منظمه توګه د غره درې ته ورسيد او د نور لښکر لپاره يې د امن ځای ته لاره پرانيستله. پاته لښکر هم ورسره يو ځای شو او د خالد عسکري تدبير د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) د عسکري تدبير په وړاندې ماتې وخوړه.

د ابي بن خلف وژل

ابن اسحاق وايي: کله چې رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) د غره دې درې ته تشريف يوړ، ابي بن خلف راغی او ويل يې: محمد (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) چيرته دی؟ اوس به يا زه ژوندی پاتې کيږم او يا هغه! اصحابو وويل: يا رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم)، اجازه راکوې کوم يو حمله وربانډې وکړو؟

رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) وفرمايل: پرې ايږدئ، کله چې رانژدې شو رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) له حارث بن الصمه نه يوه وړه نيزه واخيسته. کله يې چې نيزه واخيستله، نو په ډير زور سره راپورته شو او خلک داسې يوې بلې خوا ته ولويدل لکه چې اوښ ځان وخوځوي او د شا ويښتان يې ورنه باد شي. بيا رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) د هغه مخې ته ورغی د زغرې او خوز (اوسپنيزې خولۍ) تر مينځ د ورميږ يوه برخه يې په نظر ورغله او په همدې ځای يې د نيزې داسې وار وربانډې وکړ چې څو ځله له آس نه را وښوئيد. او کله چې نوموړی بيرته د قريشومشرکينو ته ورغی په غاړه يې لږ غوندې زخم و، وينه يې بنده شوې وه خو ويل يې: په خدای قسم چې محمد (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) ووژلم! مشرکينو ورته وويل: زړه دې اچولی، ته خو څه زيات نه يې تپي شوې! ده ورته وويل:محمد (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) ماته په مکه کې ويلي وٴ چې زه دې

---

[1]. صحيح البخاري ۲/ ۵۸۲

وژنم،[۲] قسم په خدای که هغه را تو کړي نو هم وژني مې.
او همداسې وشوه نوموړی د خدای دښمن مکې ته د بيرته تلو په وخت په سرف نومي ځای کې مړ شو.[۱]

او له عروة نه د ابو الاسود په روايت کې راځي: نوموړی (ابي) به لکه غوې داسې بغيده او ويل به يې: قسم په هغه ذات چې زما نفس يې په لاس کې دی که دا تکليف (رنځ) چې په ما دی د ذي الجاز په ټولو اوسيدونکو لګيدلی وای، نو ټول به مړه شوي وو[۲].

طلحه (رضي الله عنه) رسول الله (ﷺ) راپورته کوي

غره ته د شاتګ په دوران کې د رسول الله (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) مخې ته يوه لويه پرښه راغله، اراده يې وکړه چې ورباندې وخيژي، خو و نه توانيد ځکه دغه وخت يې وزن هم څه زيات وؤ، زغرې يې هم دوې اغوستې وې او سخت زخمي شوی هم وؤ، نو طلحه بن عبيد الله (رضي الله عنه) ورته ټيټ شو لاندې ورته کيناست او رسول الله (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) په پرښه ورهسک شو او ويې فرمايل: (أوْجَبَ طلحةُ) [۳] طلحه جنت واجب کړ.

د مشرکانو و ر و ستی حمله

کله چې رسول الله (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) د غره په دره کې د قيادت او مشرتابه په مرکز کې ځای په ځای شو مشرکانو پخپلې وروستۍ حملې لاس پورې کړ تر څو مسلمانانو ته نور زيان هم وروړوي. ابن اسحاق وايي: هغه وخت چې رسول الله (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) په دره کې وؤ د قريشو يو ګروپ د ابو سفيان او خالد بن وليد په مشرۍ غره ته راوخوت، رسول الله (صلی الله عليه و اله و صحبه و

(2). دا کيسه داسې ده همدغه ابي به چې په مکه کې له رسول الله (ص) مخامخ شو نو ورته ويل به يې: اې محمده (ص) ما عود نومی يو آس ساتلې او هره ورځ (۷،۵۰) کيلو ګرامه دانه (جوار) ورکوم او په همدې آس به سپور وم او تابه وژنم، رسول الله (ص) به ورته فرمايل: بلکه زه به تا وژنم (ان شاء الله).

[۱]. ابن هشام ۲/ ۸۳ . زاد المعاد ۲/۹۷.

۲. مختصر سيرة الرسول (ص) للشيخ عبدالله النجدي ص ۲۵۰.

[۳]. ابن هشام ۲/ ۸۶.

سلم) دعا وکړه او ویې فرمایل: یا خدایه! دوی له مونږ نه مه هسکوې، نه ښایي دوی له مونږ نه اوچت وي. په همدې سره عمر (رضي الله عنه) او یو ټولی مهاجرین مقابلې ته ورغلل او هغوی یې له غره نه کوز کړل.[۴]

په مغازي اموي کې روایت دی چې: مشرکان غره ته وختل، رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) سعد ته وویل: ارادې یې ور خاورې کړه. یعنې کوز یې کړه مخه یې ونیسه! سعد وویل: په یوه ځان یې څنګه مخه ونیسم او څنګه یې حوصلې ورټیټی کړم؟ رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) خپله خبره دری ځله تکرار کړه، نو سعد له خپلې توبرې نه یو غشی راواخیست یو سړی یې پرې وویشت او ویې واژه. سعد وایي: بیا مې همغه غشي راواخیست ښه مې پیژانده بل کس مې ورباندې وویشت هغه مې هم ستی کړ، دریم ځل مې بیا همغه غشی راواخیست ښه مې پیژانده او دریم کس مې ورباندې وواژه، نور مشرکان ټول له غره نه کوز شول، نو ما له ځان سره وویل: چې دا مبارک غشی دی، همغه مې پخپله توبره کې واچاوه.

سعد (رضي الله عنه) همدا غشی د مرګ تر ورځې له ځان سره ساته او له ده وروسته یې له زامنو سره وۀ.[۱]

د شهیدانو مثله کول

د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) په خلاف دا د مشرکینو وروستی حمله وه. د هغوی ګمان دا وۀ چې رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) په شهادت رسیدلی، نو خپل مرکز ته ورغونډ شول او مکې ته د تګ تیاري یې پیل کړه. ځني مشرکین او ورسره مشرکې ښځې د شهیدانو په مثله کولو بوخت شول، د هغوی غوږونه، پزې، او تناسلي غړي یې ورنه پرې کول، خپتې یې څیرلې. هند بنت عتبه د حمزه (رضي الله عنه) سینه څیره کړه ینه یې را پرې کړه او په خوله یې کړه، خو تیره یې نه شوی کړی بیرته یې تو کړه، او مشرکینو ښځو لدې پرې شویو غوږونو او پزو نه آمیلونه او پازیبونه جوړ کړل.[۲]

قهرمان مسلمانان تر پایه د جګړې تیاري لري

---

[۴]. نفس المصدر.

[۱]. زاد المعاد ۲/ ۹۵

[۲]. ابن هشام ۲/ ۹۰

د جګړې په وروستيو شيبو کې دوې داسې پيښې وشوې چې د مسلمانانو همت او قهرماني په ګوته کوي او دا ښيي چې هغوی د خدای په لار کې هر ډول قربانۍ ته آماده وو:

۱- کعب بن مالک (رضي الله عنه) وايي: زه له هغو مسلمانانو نه يو وم کوم چې د غره له درې نه راووتلو، کله مې چې وليدل مشرکين لګيا دي مسلمان شهيدان مثله کوي، نو ودريدم او بيا روان شوم که ګورم چې يو مشرک چې زغره يې اغوستې په مسلمانانو شهيدانو تيريږي او وايي: دوی خو لکه د ذبح شويو پسونو په شان تږوتي تږوتي ډيرې پراته دي!! او يو مسلمان چې زغره يې په ځان کې ده دده لاره ځاري انتظار يې کوي، زه ورپسې ورغلم او بيا مې دواړو مسلمان او کافر ته په ځير وکتل چې کوم يې قوي او کوم يې کمزوری دی او دا مې وپتيېله چې دا کافر د وسلې او ساز و سامان له پلوه ورنه مخکی دی، خو همداسې ورته ګورم تر څو دواړه سره ونښتل، مسلمان داسې يو ګوزار ورباندې وکړ چې دوه شقه يې کړ له سر نه تر پښو پورې دوې ټوټې شو او بيا همدې قهرمان مسلمان خپل مخ لوڅ کړ او راته ويې ويل: څنګه ګوزار و اې کعبه؟ زه ابو دجانه (رضي الله عنه) يم.[1]

۲- د جګړې په پای کې يو شمير مسلمانې ښځې د جنګ ميدان ته راغلې. انس (رضي الله عنه) وايي ما عائشه بنت ابی بکر او ام سليم (رضي الله عنهم) وليدلې چې بډې يې وهلې او د پښو پازيبونه يې ښکاري، پخپلو اوږو د اوبو مشکونه راوړي او د خلکو په خولو کې يې ورخالي کوي، بيا ځي او بيرته يې را ډکوي، راوړي يې او د خلکو په خولو کې يې ورخالي کوي[2]. عمر (رضي الله عنه) وايي: ام سليط (رضي الله عنها) به د احد په ورځ زمونږ لپاره ډک ډک مشکونه راوړل[3].

او لدې مسلمانو ښځو نه يوه هم ام ايمن وه کله يې چې ځنې ماتې خوړلي مسلمانان وليدل چې د مدينې په لور روان دي، مخونو ته يې خاورې وروشيندلې او ځينو ته به يې ويل: واخله دا د سنيو څرخ واخله او توره دې ماته راکړه! بيا ام ايمن په ډيره بيړه د جګړې ميدان ته لاړه او زخميانو ته يې اوبه ورکولې چې حبان بن ابي العرقه په غشي وويشتله ولويده او بې پردې شوه، د خدای دښمن ورته په خندا شو. رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) ته دا ډيره سخته ښکاره شوه سعد بن ابي وقاص ته يې

---

(۱). البداية والنهاية ٤/١٧.
۲. صحيح البخاري ١/٤٠٣، ٢/٥٨١.
۳. نفس المصدر ١/٤٠١.

يو داسې غشی ورکړ چې نوک يې هم نه وۀ او ورته ويې فرمايل: (ارم به). وله! سعد غشی ورخوشی کړ او د حبان په غاړه ولګيد، د شا په تخته ولويد او بې ستره شو، نو رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) داسې وخندل چې ان نواجذ (ز ا م ې) غاښ يې ښکاره شول او ويې فرمايل: (استقاد لها سعد، أجاب الله دعوته). سعد د ام ايمن انتقام او پور واخيست، الله تعالى يې دې سوال قبول کړي.[1]

په دره کې له ځای په ځای کيدو وروسته

کله چې رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) په دره کې د ننه پخپل مرکز کې ځای په ځای شو، نو علي بن ابي طالب (رضي الله عنه) لاړ او خپل ډال يې له مهراس نه ډک کړ (ځنې وايي مهراس په احد کې د يوې چينې نوم دی او ځنې نور وايي مهراس داسې يوې پرښې ته وايي چې مينځ يې ژور وي او ډيرې اوبه پکې غونډيږي) په هر حال هغه خپل ډال له اوبو نه را ډک کړ او رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) ته يې راوړ تر څو اوبه ورنه وڅښي. رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) چې اوبه وليدې يو ډول بوی يې درلود، نو ويې نه ځښلې خو خپل مبارک مخ يې ورباندې ومينځلو، پاکې وينې يې ورنه پاکې کړې او يوه اندازه يې په مبارک سر واچولې او فرمايل يې: (اشتد غضب الله على من دَمَّى وجه نبيه).

د الله تعالى لوی عذاب دې پر هغه چا وي چې د الله د رسول (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) مخ يې وينې کړ.[2]

سهل (رضي الله عنه) وايي: قسم په خدای چې زه هغه کسان ښه پيژنم چې د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) زخمونه يې ومينځل په سر يې اوبه ور واچولې او دا ښه راته معلومه ده چې په څه شي دده مبارک تداوي وشوه؟ د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) لور فـاطمې (رضي الله عنها) يې سر مينځه او علي (رضي الله عنه) له ډال نه اوبه ورباندې اچولې، کله چې فاطمې (رضي الله عنها) وليدل چې په اوبو سره وينه نه دريږي همداسې روانه ده، نو د پوزې (بوريا) يوه ټوټه يې وسيځله او په زخم يې ور واچوله او په همدې سره يې وينه ودريده.[3]

محمد بن مسلمه (رضي الله عنه) ډيری پاکې او خوږې اوبه راوړې، رسول الله (صلى

---

(١). السيرة الحلبية ٢/ ٢٢
(٢). ابن هشام ٢/ ٨٥
(٣). صحيح البخاري ٢/ ٥٨٤

الله عليه و اله و صحبه و سلم) وڅېل‌ي او د خير دعا يې ورته وکړه[۴].
رسول الله (صلی الله عليه وسلم) د زخمونو له امله د ماسپښين لمونځ په ناستي وکړ او مسلمانانو هم په ناسته لمونځ ورپسې ادا کړ.[۱]

د ابو سفيان پسخند او له عمر (رضي الله عنه) سره خبرې

وروسته لدې چې مشرکينو د بيرته تګ تياري مکمله کړه ابو سفيان غره ته پورته شو او چيغه يې کړه: آيا محمد (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) ستاسې په مينځ کې شته؟ مسلمانانو ځواب ورنکړ. بيا يې چيغه کړه: ابن ابي قحافه شته؟ مسلمانانو ځواب ورنکړ. بيايې چيغه کړه: عمر بن الخطاب شته؟ مسلمانانو بيا هم ځواب ورنکړ، ځکه رسول الله (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) هغوی له ځواب ورکولو نه منع کړي وو. ابو سفيان له دوی دريو پرته د بل چا پوښتنه ونکړه، ځکه هغه پوهيده چې د اسلام قيام په همدې دريو پورې تړلی دی. پدې پسې ابو سفيان وويل: ځه له دې دريو نه خو خلاص شوو. دلته عمر (رضي الله عنه) صبر ونه شوای کړی او په ځواب کې يې ورته وويل: اې د الله دښمنه دا دری واړه چې تا ياد کړل ژوندي دي، او الله هغه څه پرې ايښي دي چې ستا د خفګان او رسوايۍ سبب به کيږي! ابو سفيان وويل: ستاسې مړي مثله شوي، خو ما ددې نه امر کړی او نه مې دا کار غندلی او بد ګڼلی دی. او زياته يې کړه: (اعلى هبل) يعنى هبل لوړ دی. پدې وخت کې رسول الله (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) وفرمايل:(**ألا تجيبونه؟**). ځواب يې نه ورکوئ؟ اصحابو (رضي الله عنهم) وويل: څه ورته ووايو؟ ده وفرمايل: (**قولوا: الله أعلى وأجل**). ووايئ: الله تعالى له ټولو نه لوړ او لوی دی.ابو سفيان بيا وويل: مونږ عزى لرو او تاسې يې نلرئ.رسول الله (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) وفرمايل: (**ألا تجيبونه؟**). آيا ځواب يې نه ورکوئ؟ اصحابو (رضي الله عنهم) عرض وکړ څه ورته ووايو؟ ده وفرمايل: (**قولوا:الله مولانا، ولا مولى لكم**). ووايئ: الله زمونږ مولى دی او تاسې مولى نلرئ.
ابو سفيان وويل: څومره ښه کار وشو، نن ورځ د بدر د ورځې بدله ده، په جنګ کې خو

(٤). السيره الحلبيه ٢/ ٣٠
(١). ابن هشام ٢/ ٨٧

کله مـاتي او کله بری حتمی دی. عمر (رضي الله عنه) په ځواب کې ورته وايي: نه، برابر ندي، زمونږ مړي په جنت کې دي او ستاسې مړي په دوزخ کې.
پدې پسې ابو سفيان زياته کړه: اې عمره (رضي الله عنه)! راشه ما ته لنډ راشه. رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) ورته وفرمايل: (**ائته فانظر ما شأنه؟**). ورشه وګوره چې څه وايي؟ عمر (رضي الله عنه) ورغی. ابوسفيان ورته وويل: د خدای په روی راته ووايه چې محمد (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) مو وژلی دی که نه؟ عمر (رضي الله عنه) ورته وويل: نه، والله نه، هغه همدا اوس ستا خبرې اوري. ابو سفيان ورته وويل: ته زما په نزد له ابن قَمِئَة نه ډير رښتينی او غوره يې.[1]

د بدر په ميدان کې د يوې بلې مقابلې وعده

ابن اسحاق وايي: کله چې ابو سفيان او لښکر بيرته تلل نو داسې يې وويل: په راتلونکي کال کې مو د بدر په ميدان کې د يوې بلې مقابلې وعده ده درسره. رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) يوه صحابي ته وويل: (**قل: نعم، هو بيننا وبينك موعد**).ورته ووايه سيي ده، دا به زمونږ او ستاسې تر مينځ وعده وي.[2]

د مشرکانو د دريځ او پلان په هکله تحقيق

بيا رسول الله (صلى الله عليه و اله و سلم) علي (رضي الله عنه) ته امر ورکړ چې: (**اخرج في آثار القوم فانظر ماذا يصنعون؟ وما يريدون؟ فإن كانوا قد جَنَبُوا الخيل، وامْتَطُوا الإبل، فإنهم يريدون مكة، وإن كانوا قد ركبوا الخيل وساقوا الإبل فإنهم يريدون المدينة. والذي نفسي بيده، لئن أرادوها لأسيرن إليهم فيها، ثم لأناجزنهم**). لاړ شه وګوره مشرکين څه کوي؟ څه اراده لري؟ [وګوره که دې وليدل په اوښانو سپاره دي او آسان يې همداسې ورسره روان کړيدي، نو پوه شه چې د مکې لورته روان دي او که په آسانو سپاره وو او اوښان يې همداسې ورسره روان کړي وو، نو بيا پوه شه چې دوی د مدينې په لور روان دي، قسم په هغه ذات چې زما مرګ او ژوند دده په واک کې دی که د مدينې اراده يې وکړه ورپسې ورځم به او دړې وړې کوم به يې.] علي

(1). ابن هشام ۲/ ۹۳ – ۹۴ ، زاد المعاد ۲/ ۹۴ صحيح البخاري ۲/ ۵۷۹
(2). ابن هشام ۲/ ۹۴

(رضي الله عنه) وايي: زه ورپسې ورغلم تر څو په حالاتو ځان خبر کړم هلته مې وليدل چې په اوښانو سپاره او آسان يې همداسې ورسره د مکې په لور روان کړي وو.[۳]

د شهيدانو او زخميانو کتل

د مشرکينو له ستنيدو وروسته مسلمانانو ته ددې فرصت په لاس ورغی چې د خپلو شهيدانو او زخميانو خبر واخلي. زيد بن ثابت (رضي الله عنه) وايي: د احد په ورځ رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) وليږلم تر څو سعد بن الربيع (رضي الله عنه) ولټوم او امر يې راته وکړ: (**إن رأيته فأقرئه مني السلام، وقل له: يقول لك رسول الله صلى الله عليه وسلم: كيف تجدك؟**).که د سعد وليد، نو سلام مې ورته وايه او پس له سلام دا ورته ووايه چې رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) درته وايي چې څنګه يې؟ زيد (رضي الله عنه) زياتوي زه لاړم او د شهيدانو په مينځ کې ګرزيدم تر څو سعد ته ورسيدم که ګورم چې هغه خپل آخريني نفسونه باسي، د ځنکدن په حال کې دی، د تورو، غشو او نيزو اويا ګوزارونه يې خوړلي. ورته مې ويل: سعده! رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) سلام درباندې وايي او پوښتنه دې کوي چې څنګه يې؟ ده راته وويل: په رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) دې سلامونه وي او زما له خوا نه ورته عرض کړه چې يا رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم)! د جنت خوشبويي مو تر سږمو کيږي، او زما قوم انصارو ته ووايه: که د تاسې يو کس هم ژوندی وي او دښمن پدې وتوانيږي چې رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) ته ځان ورسوي، نو د خدای په وړاندی به عذر ونلرئ! په همدې وخت کې يې روح له مبارک بدن نه ووته او له فاني دنيا نه يې سترګی پټې کړې.[۱]

خلکو د زخميانو په مينځ کې اصيرم (عمرو بن ثابت) هم وموند لدينه مخکې به يې چې هغه ته د اسلام بلنه ورکوله ده به نه منله او اسلام به يې نه قبلاوه. له همدې امله خلک حيران شول چې اصيرم دلته څه کوي او څنګه راغلی؟ هغه خو په اسلام نه وځ مشرف شوی، پوښتنه يې ورنه وکړه: څنګه او ولې دلته راغلی يې؟ له خپل قوم نه د دفاع پخاطر راغلی يې او که له اسلام سره د مينې په اساس؟ ده په ځواب کې ورته

(3). ابن هشام ۲/ ۹۴ به فتح الباري کې روايت دی چې سعد بن ابي وقاص (رضي الله عنه) د قريشو د احوال معلومولو په خاطر ورپسې ورغلی وۀ ۷/ ۳۴۷.
(1). زاد المعاد ۲/ ۹۶

وويل: زه له اسلام سره د مينې پخاطر دلته راغلی يم، ما په الله او رسول الله (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) ايمان راوړی او له رسول الله (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) نه د دفاع پخاطر دومره وجنګيدم چې حالت مې تاسې ګورئ، په همدې خبره يې سترګې پټې شوې. هغوی دا خبره بيا رسول الله (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) ته ورسوله، رسول الله (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) وفرمايل: (**هو من أهل الجنة**).هغه جنتي دی. ابو هريره (رضي الله عنه) وايي: دا پداسې حال کې چې يو لمونځ يې هم نه وٴ کړی.[1]

د زخميانو په ډله کې قُزْمَان هم وٴ چې د زمري په شان جنګيدلی وٴ اوه يا اته تنه مشرکان يې وژلي وو، خو اوس د زخمونو له وجې پروت وٴ مسلمانانو را اوچت کړ او د بني ظفر محلې ته يې يووړ او زيري يې ورکول خو ده ورته وويل: قسم په خدای چې زه صرف د خپل قوم د ناموس پخاطر جنګيدلی يم او که دا نه وای نو هيڅ جګړه به مې نه وی کړې! او کله يې چې د زخمونو دردونه زيات شول نو ځان يې پخپله حلال کړ او خودکشي يې وکړه.

کله به يې چې د رسول الله (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) په حضور کې يادونه وشوه، نو فرمايل به يې: (**إنه من أهل النار**).؛ هغه دوزخي دی.[2]

او دا د هر هغه چا جزا او سزا ده چې د قوم او يا بل کوم دنيوي غرض په خاطر جنګيږي او وژل کيږي. هر څوک چې د الله له رضا نه پرته بل هدف ولري که څه هم د مسلمانانو په لښکر کې ومري او ان که د رسول الله (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) په لښکر او د اصحابو په مينځ کې هم وي جزا يې همغه ده چې د قزمان وه.

ددې په خلاف د شهيدانو په مينځ کې د بني ثعلبه د يهودانو يو کس هم وٴ، کله چې د جګړې خبرې کيدلې هغه خپل قوم ته ويلي وٴ: اې يهودانو! قسم په خدای چې تاسې ښه پوهيږئ چې د محمد (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) مرسته او مدد په تاسې فرض دی. دوی ورته وويل: نن خو د هفتې ورځ ده. ده ورته وويل: د تاسې لپاره کومه هفته نشته، بيايې خپله توره او وسله واخيسته او ويې ويل: که زه مړ شوم، نو مال مې ټول د محمد (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) دی، هر څنګه يې چې زړه وي هغسې دې وکړي. بيا د جګړې ډګر ته ننوت او تر هغې پورې وجنګيد تر څو ووژل شو،

---

[1]. نفس المصدر ۲/ ۹۴. ابن هشام ۲/ ۹۰

[2]. نفس المصدر الاول ۲/ ۹۷ – ۹۸ ابن هشام ۲/ ۸۸

نو رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) وفرمايل: (**مُخَيرِيق خير يهود**).مخيريق غوره يهودی و.[۳]

د شهيدانو را غونډول او د فن کول

رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) پخپله د شهيدانو ليدلو ته ورغی او ويې فرمايل: (**أنا شهيد على هؤلاء، إنه ما من جريح يُجْرَح في الله إلا والله يبعثه يوم القيامة، يَدْمَي جُرْحُه، اللون لون الدم، والريح ريح المِسْك**).زه د دوی شاهد يم. حقيقت دا دی هر څوک چې د خدای په لار کې زخمي کيږي، الله تعالى يې د قيامت په ورځ پداسې حال کې بيرته را ژوندی کوي چې له زخم نه به يې وينې روانې وي رنګ به يې د وينو وي، خو بوی به يې د مشکو بوی وی.][۱]

ځينو اصحابو (رضي الله عنهم) خپل شهيدان مدينې ته وړي وو. رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) امر وکړ چې هغوی بيرته راوړي او د شهادت په ځای کې دې دفن شي، غسل دې نه ورکوي او له خپلو جامو سره دې خاورو ته وسپارل شي، خو ا وسپنې او پوستي شيان دې ورنه ليرې کړی شي. دا شهيدان به دوه دوه او يا دری دری په يوه قبر کې دفن کيدل او دوه دوه شهيدان به يې په يوه جامه کې سره پټول او فرمايل به يې: (**أيهم أكثر أَخْذًا للقرآن؟**).کوم يو يې ډير په قرآن پوه وٴ؟ خلکو به چې هر يوه ته اشاره وکړه همغه به يې په لحد کې له هغه بل نه مخکې کړ او فرمايل به يې: (**أنا شهيد على هؤلاء يوم القيامة**).د قيامت په ورځ به زه د دوی شاهد وم. عبدالله بن عمرو بن حرام او عمرو بن الجموح (رضي الله عنهما) چې دواړه سره دوستان وو په يوه قبر کې دفن شول.[۲]

پدې وخت کې د حنظله (رضي الله عنه) مبارک جسد نه و مسلمانان ورپسې وګرزيدل که ګوري چې يو ځای په ځمکه ايښودل شوی او اوبه ورنه څاڅي. رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) خپلو اصحابو (رضي الله عنهم) ته وفرمايل چې دا دي ملائکې ده (حنظله) ته غسل ورکوي. او بيا يې وفرمايل: (**سلوا أهله ما شأنه؟**). دده

---

[۳]. ابن هشام ۲/ ۸۸ - ۸۹

(1). نفس المصدر ۲/ ۹۸

(2) . زاد المعاد ۲/ ۹۸ صحيح البخاري ۲/ ۵۸۴

له کورنۍ نه پوښتنه وکړئ چې څه خبره ده؟هغوی يې له ښځې نه پوښتنه وکړه. هغې کيسه ورته وکړه، او له همدې ځايه حنظله په غسيل الملائکه مشهور شو.[۳]

رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) چې کله د خپل تره او رضاعي ورووره حمزه (رضي الله عنه) حال وليد بې حده زيات خفه شو، تروريۍ يې صفيه (رضي الله عنها) هم راغله چې خپل شهيد ورور حمزه (رضي الله عنه) وګوري، خو رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم يې زوی زبير (رضي الله عنه) ته وويل چې مور دې بيرته بوزه تر څو خپل ورور حمزه (رضي الله عنه) پدې حالت و نه ګوري! خو صفيه (رضي الله عنها) ويل آخر ولې څه وجه ده چې ما د خپل ورور ليدو ته نه پريږدئ؟ زه خبره شوې يم چې ورور مې مثله شويدی، خو څرنګه چې دا د الله تعالى په لار کې دی، نو مونږ ورباندې راضي يوو، زه دا ثواب شميرم او ان شاء الله صبر به کوم. بيا راغله او حمزه (رضي الله عنه) يې وليد، دعا يې ورته وکړه، انا لله وانا اليه راجعون يې وويل او له الله تعالى نه يې د مغفرت سوال وکړ. بيا رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) امر وکړ چې حمزه (رضي الله عنه) له خپل خوريې او رضاعي ورور عبدالله بن جحش (رضي الله عنه) سره په يوه قبر کې دفن کړي.

ابن مسعود (رضي الله عنه) وايي: رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) چې په حمزه (رضي الله عنه) څومره وژړل مونږ کله هم دده مبارک دومره ژړا نده ليدلې، د حمزه جنازه يې د قبلې لور ته کيښوده بيا ورته ودريد په ژړا شو او دومره يې وژړل چې د ژړا آواز يې لوړ او په سلګو شو.[۱]

د شهيدانو منظر ډير در دوونکی او غمونکی وٴ، زړونه يې چاودول. خباب (رضي الله عنه) وايي د حمزه (رضي الله عنه) کفن نه وٴ، يو تور ليکدار چادر وٴ چې سر به يې پرې پټ شو نو پښې به يې لوڅی شوې او چې پښې به يې ورباندې پټی شوې نو سر به يې لوڅ شو، بالاخره يې سر پرې پټ شو او په پښو يې د اذخر وانښه ورواچول شول.[۲]

عبدالرحمن بن عوف (رضي الله عنه) وايي: مصعب بن عمير (رضي الله عنه) شهيد شو، هغه له ما نه غوره وٴ او پداسې يوه چادر کې په کفن شو چې سر به يې پرې پټ شو پښې به يې لوڅی وې او چې پښې به يې پټی شوې نو سر به يې لوڅيده. همدې ته ورته يو روايت له خباب بن ارت (رضي الله عنه) نه هم روايت شويدی چې پکې راځي: رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) راته وفرمايل: سر يې پدې چادر پټ

_3). زاد المعاد ۲/ ۹۴

(۱). رواه ابن شاذان، مختصر سيره الرسول (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) للشيخ عبدالله النجدي ص ۲۵۵

(۲). رواه احمد، مشكاه المصابيح ۱۴۰/۱

کړئ او په پښو کې اذخر واچوئ.[۳]

رسول الله (ﷺ) د خپل رب ثنا وايي او سوالونه ورنه کوي

امام احمد روايت کوي چې د احد په ورځ وروسته له دې چې مشرکان بيرته ستانه شول، رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) وفرمايل:(**استووا حتى أثني على ربي عز وجل**)، **فصاروا خلفه صفوفاً، فقال: (اللهم لك الحمد كله، اللهم لا قابض لما بسطت، ولا باسط لما قبضت، ولا هادي لمن أضللت، ولا مضل لمن هديت، ولا معطي لما منعت، ولا مانع لما أعطيت، ولا مقرب لما باعدت، ولا مبعد لما قربت. اللهم ابسط علينا من بركاتك ورحمتك وفضلك ورزقك).**

(اللهم إني أسألك النعيم المقيم، الذي لا يُحول ولا يزول. اللهم إني أسألك العون يوم العيلة، والأمن يوم الخوف. اللهم إني عائذ بك من شر ما أعطيتنا وشر ما منعتنا. اللهم حبب إلينا الإيمان وزينه في قلوبنا، وكره إلينا الكفر والفسوق والعصيان، واجعلنا من الراشدين. اللهم توفنا مسلمين، وأحينا مسلمين، وألحقنا بالصالحين، غير خزايا ولا مفتونين. اللهم قاتل الكفرة الذين يكذبون رسلك، ويصدون عن سبيلك، واجعل عليهم رجزك وعذابك. اللهم قاتل الكفرة الذين أوتوا الكتاب، إله الحق).

تيار شئ چې زه مې د خپل رب حمد او ثنا ووايم. اصحاب (رضي الله عنهم) ټول ورپسې صفونه صفونه ودريدل، نو رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) وفرمايل:

اې خدايه! ټول حمد او ثنا ستا لپاره ده، اې خدايه! څه شی چې تا پراخه کړي هغه هيڅوک نه شي تنګولی او څه چې تا تنګ کړي هغه هيڅوک نه شي پراخولی، او څوک چې تا ګمراه او بې لارې کړي وي هغه ته هيڅوک هدايت نه شي کولی، او چا ته چې تا هدايت کړيدی هغه څوک نه شي ګمراه کولی، او څه چې تا بند کړي هغه هيڅوک نه شي ورکولی، او څه چې تا ورکړي هغه هيڅوک نه شي بندولی، او څه چې تا ليرې

[۳]. صحيح البخاري ۲/ ۵۷۹ - ۵۸۴

کړي هغه څوک لنډولی نه شي او څه دې چې لنډ کړي هغه څوک لیرې کولی نه شي، اې خدایه! پر مونږ خپل رحمتونه برکتونه، فضل او رزق را نازل کړه.
اې خدایه! زه درنه د دایمي نعمت سوال کوم، هغه نعمت چې نه وروسته کیږي او نه له مینځه ځي، اې خدایه! زه د بې وسۍ په ورځ د کومک او د ویرې په ورځ د امن او امان سوال کوم، اې خدایه! زه د هغه څه د شر نه چې را کړي دې دي او د هغه چې نه دې دي را کړي له شر نه په تا باندې پناه غواړم. اې خدایه! له ایمان سره مو مینه پیدا کړه او زمونږ په زړونو کې یې ښایسته کړې، له کفر، فسق او نافرمانۍ نه مو وساته، او مونږ د راشدینو (هدایت کړی شویو) له ډلې نه وګرزوه، اې خدایه! مسلمان مو له دنیا تیر کړه او له ایمان سره مو راژوندي کړه، او له رسوایۍ او فتنو څخه مو په امن کړه د صالحینو (نیکانو) په ډله ورګډ کړه، اې خدایه! هغه کافران ووژنې چې ستا د رسولانو تکذیب کوي او ستا له لارې نه خلک منع کوي، خدایه! دوی پخپل عذاب اخته کړې، اې خدایه! هغه کافران هم ووژنې چې کتاب ورکړ شویدی. یا اله الحق.[1]

مدینې ته ستنیدل، د مینې او فداکارۍ څو نمونې

وروسته له دې چې رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) د شهیدانو له تدفین، د الله تعالی له حمد او ثنا، دعا او زاریو نه فارغ شو نو د مدینې په لور یې مخه کړه. د لارې په اوږدو کې مؤمنو صحابیاتو (رضي الله عنهن) د مینې سر ښندنې او فدا کارۍ داسې مثالونه وړاندې کړل لکه څرنګه چې مؤمنو اصحابو (رضي الله عنهم) د جګړې په میدان کې وړاندې کړي وو.
په لار کې حمنه بنت جحش (رضي الله عنها) د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) مخې ته ورغله، رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) یې د ورور عبدالله بن جحش په شهادت خبره کړه او غمرازي یې ورسره وکړه، دې انا لله و انا الیه راجعون وویل، خپل ورور ته یې له الله تعالی نه د مغفرت سوال وکړ. بیا یې د ماما حمزه بن عبدالمطلب (رضي الله عنه) د شهادت خبر ورکړ او غمشریکی یې ورسره وکړه. دې انا لله و انا الیه راجعون وویل او د مغفرت دعا یې ورته وکړه. بیا یې دخاوند مصعب بن عمیر (رضي الله عنه) د شهادت خبر ورکړ پدې سره حمنه یو ځل په چیغو شوه په ټرمو ټرمو یې وژړل. رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم)

(1). رواه البخاري في الادب المفرد، امام احمد في مسنده ۳/ ۴۲۴.

وفرمايل: (**إن زوج المرأة منها لبمَكان**).ميړه د ښځې په وړاندې خاص مقام لري.[2]
همدا راز له رسول الله (صلى اللّٰه عليه و اله و صحبه و سلم) سره د بني دينار د يوی داسې ښځې ملاقات وشو چې ميړه، ورور او پلار يې په احد کې شهيدان شوي وو. اصحابو (رضي الله عنهم) د هغوی د شهادت خبر ورکړ او د غمشريکۍ څرګندونه يې ورسره وکړه. نوموړې مؤمنې وويل: د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) څه حال دی؟ دوی ورته وويل: **هغه په خير او سلامت دی يا ام فلان، الحمدلله همغسې په خير دی لکه ته يې چې غواړې! دې وويل: ما ته يې راوښيئ چې ورته وګورم! هغوی** په اشاره سره رسول (صلى الله عليه وسلم) وروښود ،دې ولید او ويې ويل: (**كل مصيبة بعدك جلل** – له تا نه پرته بل هر غم او مصيبت کم دی) [1] (ستا له غمه پرته بل غم، غم ندی).
همدا راز د سعد بن معاذ (رضي الله عنه) مور په منډو منډو د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) مخې ته راغله، سعد بن معاذ (رضي الله عنه) چې د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) د آس قيزه يې نيولې وه عرض وکړ يا رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) هغه زما مور ده! رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) وفرمايل: په خير راغله او ورته ودريد ، چې را نژدې شوه د زوی عمرو بن معاذ (رضي الله عنه) په شهادت يې غمشريکي ورسره وکړه. دې وويل: دا چې ته مې روغ وليدې، نور غم راباندې سپک شو. رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) د احد د شهيدانو خپلوانو ته دعا وکړه او ويې فرمايل: (**يا أم سعد، أبشري وبشري أهلهم أن قتلاهم ترافقوا في الجنة جميعاً، وقد شفعوا في أهلهم جميعاً**).

[اې د سعد موري! خوشاله اوسه او د نورو شهيدانو خپلوانو ته هم د خوشالۍ زيری ورکړه او ورته ووايه چې ټول شهيدان يو ځای په جنت کې دي او د ټولو خپلوانو په هکله يې شفاعت کړيدی.] دې عرض وکړ يا رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) مونږ راضي يو، څوک به لدې وروسته وروباندې ژاړي؟ بيا يې عرض وکړ يا رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) د شهيدانو پسمانده ګانو ته دعا وکړه! رسول

(2). ابن هشام ۲/ ۹۸
(1). نفس المصدر ۲/ ۹۹

الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) وفرمايل: (**اللهم أذهب حزن قلوبهم، واجبر مصيبتهم، وأحسن الخَلفَ على من خُلِّفُوا**).اې خدايه د دوی له زړونو نه غم وباسه، د مصيبتونو بدله يې ورکړه، او د دوی سبب ساز شې.[۲]

رسول الله (ﷺ) په مدينه کې

رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) د دريم هجري کال د شوال په اوومه د شنبې په مابنام مدينې ته ورسيد، کله يې چې کورته تشريف يووړ خپله توره يې فاطمی (رضي الله عنها) ته ورکړه او ورته ويې فرمايل: (**اغسلي عن هذا دمه يا بنية، فوالله لقد صدقني اليوم**). [لوړې دا وينې ورنه ومينځه، قسم په خدای چې دا توره ډيره راسره ريښتونې او سيي وه.]

علي (رضي الله عنه) هم خپله توره ورکړه او ورته ويې ويل دا هم ومينځه په خدای قسم چې ډيره ريښتونې وه راسره. نو رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) وفرمايل: (**لئن كنت صدقت القتال، لقد صدق معك سهل بن حُنَيف وأبو دُجَانة**). که ته په سيي او ريښتونې توګه جنګيدلی يې، نو سهل بن حنيف او ابو دجانه هم ريښتني جنګيدلي دي.[۱]

د دواړو ډلو مړي

زياتره روايات پدې اتفاق لري چې د مسلمانانو د شهيدانو شمير اويا تنه وۀ چې زياتره يې له انصارو څخه وو. د انصارو پنځه شپيته (**۶۵**) تنه په شهادت رسيدلي وو، يو څلويښت يې د خزرج قبيلې او څلور ويشت نور له اوس قبيلې څخه وو. يو يهودی هم مړ شوی وۀ او له مهاجرينو نه يوازې څلور کسان په شهادت رسيدلي وو.

د مشرکانو د مړيو په هکله ابن اسحاق وايي چې: له دوی نه دوه ويشت کسان وژل شوي وو، خو که ددې غزا په هکله د مغازي د ليکونکو او اهل السير هغو روايتونو ته چې د جګړې په مختلفو مراحلو کې د مشرکينو د مړيو په هکله روايت شوي دقيق نظر وکړو نو دا به راته په ډاګه شي چې له مشرکينو نه دوه ويشت

(2). السيرة الحلبية ۲/ ٤٧
(۱). ابن هشام ۲/ ۱۰۰

نـه ، بـلـكـه اوه ديرش کسه وژل شوي وو[۲]. (والله اعلم)

په مدينه کې فوق العاده حالت

مسلمانانو د يـكشـنبې شپه د دريم هجري کال (د شوال مياشتې اتمه) په مدينه کې پداسې حال کې تيره کړه چې حالات فوق العاده (اِضطراري) وو، ټول تيارسی وو. که څه هم ډير ستومانه وو، خو د مدينې ټولې لارې او دروازې يې څارلې، پخپل رهبر حضرت محمد (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) يې خاصه پيره کوله ځکه له هرې خوا يې ويره درلوده او په زړونو کې يې شکونه او شبهې راولاړيدې.

د حمراء الاسد غزا

رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) دغه شپه ټوله د جګړې او له جګړې نه د راپيدا شويو حالاتو په هکله په فکر او سوچ کې سبا کړه لدې نه يې تشويش درلود هسې نه مشرکين دا فکر وکړي چې د جګړې په ميدان کې له برلاسی سره سره مو څه خاصه ګټه ونکړه، پښېمانه نه شي او له لارې نه بيرته د مدينې په لور حمله رانه وړي، نو ددې تشويش د دفع کولو پخاطر يې تصميم ونيو چې د مکې لښکر تعقيب کړي ورپسې ووځي.

اهل مغازي (سيرت ليکونکي) وايي: رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) د احد د غزا په سبا يعنې د دريم هجري کال د شوال په اتمه د يکشنبی په ورځ اعلان وکړ چې:(**لا يخرج معنا إلا من شهد القتال**). د دښمن مقابلې ته ورځو، تيار اوسئ، او يوازې هغه کسان به راسره ځي چې د احد په غزا کې يې برخه اخيستې ده. عبدالله بن ابي ورته وويل: زه هم درسره ځم. ده ورته وفرمايل: نه، ته مه ځه. مسلمانان که څه هم ټپيان وو او زړونه يې له غمونو او ويرې ډک وو، خو د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) د امر تطبيق ته تيار شول، ويې ويل: د سر په سترګو آماده يوو. جابر بن عبدالله (رضي الله عنه) عرض وکړ يا رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و

---

[۲]. ابـن هشام ۲/ ۱۲۲ تـر ۱۲۹. فـتح الـبـاري ۷/ ۳۵۱. غزوة احد محمد احمد بـاشميل ص ۲۷۸ تـر ۲۸۰

سلم) زما دا هيله ده چې په هره جګړه کې درسره وم خو څرنګه چې پدې غزا کې پلار پدې مکلف کړی وم چې د خپلو خويندو سر پرستي او کفالت وکړم، نو کور کې پاته شوی وم، خو اوس د تلو اجازه غواړم! رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) اجازه ورکړه، نو ورسره روان شو. رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) له خپل لښکر سره روان شو او له مدينې نه اته ميله ليرې په حمراء الاسد نومي ځای کې مستقر شو، په همدې ځای کې معبد بن ابي معبد الخزاعي د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) ملاقات ته راغی اسلام يې راوړ. او ځنې وايي چې په اسلام نه ؤ مشرف شوی، خو له رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) سره يې خوا خوږې درلوده ځکه د بني خزاعه او بني هاشم تر مينځ د تعاون ټرون شوی ؤ راغی او عرض يې وکړ: يا محمده (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم)! تا ته او ستا اصحابو (رضي الله عنهم) ته چې کوم تکليف رسيدلی مونږ ډير پرې خفه يو، ډيره سخته راباندې تمامه شوې، زمونږ دا هيله ده چې الله تعالى دې عافيت په برخه لره. بيا رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) امر ورته وکړ چې لاړ شه او د ابو سفيان حوصله شکني وکړه، روحيات يې ور کمزوري کړه. رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) چې د مشرکينو د بيرته را تاويدو او پر مدينې د حملې کوم تشويش درلود هغه ړښتيا ؤ. کله چې مشرکين له مدينې نه ۲۶ ميله ليرې روحاء نومي ځای کې دمه شول يو په بل يې پړه اچوله يو بل ته يې ويل: هيڅ مو ونکړل، د مسلمانانو شان او شوکت مو ورمات کړ نور مو همداسې پرېښودل د هغوی مشران مو پرېښودل چې بيا به خلک درته راغونډوي او مشکلات به درته راولاړوي، راځئ بيرته ورتاو شو او له ريښو نه يې راوباسو.

داسې ښکاري چې دا يوه عادي او سطحي رايه وه او هغو کسانو وړاندې کړې وه چې د دواړو ډلو د قوت او روحياتو سيي اندازه يې نه وه لګولې. او همدا وجه وه چې يو مسوول مشر صفوان بن اميه مخالفت کوي او وايي: اې خلکو! دا کار مه کوئ، زه ويريږم که دا ځل ورتاو شئ نو هغه مسلمانان به هم ستاسې خلاف را ټول شي کوم چې د احد غزا ته نه وو راغلي، ځئ مکې ته ځئ، بری ستاسی دی، او که بيرته وروګرځيدئ نو هسې نه چې حالات ستاسې په خلاف بدل شي او د ماتې سيلۍ درباندې راتاو شي! خو د صفوان رايه ونه منل شوه ځکه زياترو بيرته مدينې ته ستنيدل غوښتل او فيصله وشوه چې د مدينې په لور به حمله وروړي خو مخکې لدينه چې ابو سفيان خپل لښکر د مدينې په لور مرش کړي، معبد بن ابي معبد را ورسيد ابو سفيان لدې نه خبر ندی چې هغه په اسلام مشرف شوی، پوښتنه يې ورنه وکړه

معبده وايه څه خبر دې راوړی؟ معبد د ابو سفيان په خلاف د عصبي او تبليغاتي جنګ له اسلوب نه کار واخيست او ورته ويې ويل: خبر خو دا دی چې محمد (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) له يو زيات شمير لښکر سره په تاسې پسې راوتلی دی، دومره کسان ورسره دي چې ما کله هم دومره زيات لښکر ندی ليدلې، ټول له ډيرې غصې درته شنه دي، هغه کسان هم ورسره راوتلي کوم چې د احد په ورځ نه وو موجود ، او څه يې چې له لاسه ورکړي سخت وربانديې پښېمانه دي، تاسې ته يې زړونه دومره ډک دي چې ما يې مثال ندی ليدلی! ابو سفيان ورته وويل: خوار شې، دا څه وايي؟ معبد وويل: والله چې زما ګمان خو دا دی چې مخکې لدينه چې ته حرکت وکړئ د آسانو ټنډې به ووينئ او د دوی د لښکر لومړنی ګروپ به لدې غونډې نه راښکاره شي. ابو سفيان وويل: قسم په خدای مونږ خو وربانديې د بيا حملې فيصله کړې تر څو ريښې يې له بيخه وباسو! معبد ورته وايي: دا کار مه کوه، زه نصيحت درته کوم، زه دې خير غواړم.

په همدې سره د مکي لښکر روحيات کمزورې شول، حوصلې يې ماتې شوې، ويرې او ډار واخيستل خير يې پدې کې وليد چې د مکې په لور شاتګ ته ادامه و رکړي، خو ابو سفيان ددې پخاطر چې له اسلامي لښکر سره د بل ټکر مخه ونيسي او پرې نه ږدي چې نور هم د دوی لښکر تعقيب کړی د مسلمانانو په خلاف يې يوه تبليغاتي حمله وکړه او هغه داسې چې د عبدالقيس يو کاروان مدينې ته روان وٴ او لدې ځايه تيريده ابو سفيان ورته وويل اې خلکو زما يو پيغام محمد (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) ته رسوئ؟ او زه وعده در کوم کله چې مکې ته راغلئ نو ددې کار په بدل کې به د عکاظ په بازار کې دومره ممیز درکړم چې ستاسې اوښان يې وړی شي. دوی ورته وويل: هو، رسوو يې. ابو سفيان وويل: محمد (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) ته ووايئ چې مونږ دده او د اصحابو (رضي الله عنهم) په خلاف د بيا حملې فيصله کړی او اراده لرو چې دا ځل يې ريښې له بيخه راوباسو.

دا کاروان حمراء الاسد ته ورسيد چيرته چې رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) له خپل لښکر سره اړولي وو، د ابو سفيان خبره يې ورته وکړه او زياته يې کړه: مشرکين درته راټول شوي، ورنه وويريږئ، خو د دوی دې خبرې د مسلمانانو په زړونو کې د غيرت څپې راوپارولې، ايما يې نور هم پياوړی شو ((الَّذِينَ قَالَ لَهُمْ النَّاسُ إِنَّ النَّاسَ قَدْ جَمَعُوا لَكُمْ فَاخْشَوْهُمْ فَزَادَهُمْ إِيمَاناً وَقَالُوا حَسْبُنَا اللَّهُ وَنِعْمَ الْوَكِيلُ

الْوَكِيلُ (١٧٣) فَانْقَلَبُوا بِنِعْمَةٍ مِنْ اللَّهِ وَفَضْلٍ لَمْ يَمْسَسْهُمْ سُوءٌ وَاتَّبَعُوا رِضْوَانَ اللَّهِ وَاللَّهُ ذُو فَضْلٍ عَظِيمٍ (١٧٤) (آل عمران: ١٧٣-١٧٤).

[هغه (مومنان) چې خلکو ورته وويل خلک درته راټول شويدي ورنه وويريږئ، (پدې سره د دوی ايمان لاپسې پياوړی شواو **وويل دوی بس دی مونږ ته الله او څومره ښه وکيل** (کار جوړونکی) دی الله. نو بيرته راوګرځيدل (دا مؤمنان) په **نعمت** سره له (جانبه د) الله او (په) **فضل** (احسان او رحمت سره له الله نه) چې ونه رسيده دوی ته هيڅ بدي (نه زخم نه قتل نه هزيمت) او تابعان شول دوی د رضامندۍ د الله او الله څښتن (مالک) د **فضل** (احسان رحمت) ډير لوی دی.]

رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) دلته حمراء الاسد ته د يکشنبې په ورځ راغلی ؤ دوشنبه، سه شنبه او چار شنبه د شوال ۹ – ۱۰- ۱۱ يې همدلته تيره کړه او بيا د مديني په لور ستون شو. مديني ته له ستنيدو نه مخکې رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) ته ابو عزه الجمحي په ګوتو ورغی او دا هغه کافر ؤ چې د بدر په غزا کې اسير شوی ؤ، خو رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) د ډير فقر او زياتو لونو درلودلو (د هغوی د کفالت) پخاطر پدې شرط خوشی کړی ؤ چې بيا به د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) په خلاف څه نه وايي او پخپل شعر سره به خلک د رسول (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) په خلاف نه تشويقوي. خو هغه خپل عهد مات کړ، غدر او خيانت يې وکړ خلک يې پخپل شعر سره د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) مقابلې ته هڅول او د مقابلې لپاره يې د احد ميدان ته راغی. کله چې رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) ونيو، نو عرض يې وکړ: اې محمده (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم)! ما وښنه پر ما احسان وکړه، او د لونو پخاطر مې پريږده، هغوی بل څوک نلري، وعده درکوم چې بيا به داسې ونکړم! رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) ورته وفرمايل: (**لا تمسح عارضيك بمكة بعدها وتقول: خدعت محمداً مرتين، لا يلدغ المؤمن من جحر مرتين**).اوس به داسې و نه شي چې بيرته مکې ته لاړ شې پخپل مخ به لاس راکاږې او وايي به: دوه ځله مې محمد (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) ته بازي ورکړه، مؤمن له يوه غار نه دو ځله نه چيچل کيږي. بيا يې زبير (رضي الله عنه) او يا عاصم بن ثابت (رضي الله عنه) ته امر وکړ چې وې وژني، نو هغه يې سر ورنه قلم کړ.

همدا راز د مکې له جاسوسانو په يوه جاسوس هم د اعدام حکم تطبيق شو. دا جاسوس

معاويه بن المغيره بن ابي العاص ؤ چې د عبدالملک بن مروان د مور له پلوه بابا کيده. کله چې مشرکين له احد نه ستانه شول نوموړی (معاويه) د خپل تره زوی عثمان بن عفان (رضي الله عنه) ته راغی، عثمان (رضي الله عنه) دده لپاره له رسول الله (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) نه امن وغوښت، او هغه (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) پدې شرط امن ورکړ چې له دريو ورځو نه به زيات نه پاتې کيږي او که پاتې شو، نو وژل کيږی به. او کله چې اسلامي لښکر له مدينې نه ووت نو ده د قريشو لپاره جاسوسي پيل کړه او له دريو ورځو نه زيات پاتې شو، خو کله چې اسلام لښکر بيرته راستون شو، معاويه هڅه وکړه وتښتي. رسول الله (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) زيد بن حارثه او عمار بن ياسر (رضي الله عنهما) ورپسې واستول هغوی تعقيب کړ او ويې واژه.[1]

حقيقت دا دی چې حمراء الاسد بيله او مستقله غزا نده بلکه دا د احد غزا تکمله او يوه صحنه ده.

د احد په غزا کې بری او ماتې

دا وه د احد غزا سره له ټولو تفصيلاتو او مختلفو مراحلو. محققينو ددې غزا د پای په هکله زيات بحثونه کړيدي چې آيا دا د مسلمانانو ماتې وه او که نه؟ خو پدې کې شک نشته چې د جګړې په دوهم پړاو کې مشرکان له عسکري پلوه برلاسي وو او د جنګ په ډګر دوی مسلط وو، مسلمانانو ته د سر زيات تاوان وروښتی ؤ، بيشکه يوه ډله مسلمانان له ماتې سره مخ شوي وو، جګړه د مشرکينو په ګټه روانه وه، خوځنې داسې دلايل شته چې د هغې په اساس د مشرکينو دې برلاسی ته فتح او کاميابي نه شو ويلی.

يو دا چې د مکې لښکر ونه شوای کړی د مسلمانانو مرکز ونيسي، او د مدينې د لښکر زيات شمير کسانو خپل مقاومت ته دوام ورکړ، د تيښتې لاره يې ونه نيوه که څه هم ګډوډي او ويره پرې ګډه شوې وه، خو په پوره ميړانه يې د جګړې په ډګر کې مقابله کوله او بالاخره له خپل قيادت نه شاوخوا راټول شول، او دومره هم نه وو کمزوري شوي چې مشرکين يې تعقيب کړي او ويې ځغلوي. د مسلمانانو له لښکر نه

---

[1]. د احد غزا او حمراء الاسد تفصيلات مو له ابن هشام ۲/ ۶۰ – ۱۲۹ – زاد المعاد ۲/ ۹۱ – ۱۰۸ فتح الباري ۷/ ۳۴۵ – ۳۷۷. صحيح البخاري مختصر سيره الرسول (ص) ۲۴۲ – ۲۵۷. او نورو ياد شويو مصادرو نه اخيستي دي.

يو کس هم د مشرکينو په لاس اسير نه شو، همدا راز مشرکينو ته د مسلمانانو له مالونو نه هم هيڅ شی په لاس ورنه غلل. او بل دا چې که څه هم مسلمانان هملته خپل مرکز کې موجود وو، خو مشرکينو د جګړې دريم پړاو ته زړه ښه نه کړ، او نه داسې وشول چې مشرکين لکه د هغه وخت د فاتحانو په شان د جګړې په ميدان کې يوه، دوې يا دری ورځې پاتې شي او خپله فتحه ونمانځي، بلکه هغوی په ډيره بيړه په شا شول او له مسلمانانو نه مخکې يې د جګړې ميدان پريښود. او دا جرات يې هم ونه شوای کړی چې مدينې ته وورننوزي او د اوسيدونکو اولادونه يې اسيران او مالونه يې لوټ کړي دا سره لدې چې مدينه ډيره ورته لنډه هم وه او هم له سر تيرو نه خالي وه.

نو پدې اساس ويلی شو چې قريشو د جګړې په ميدان کې يوازې دا وکړای شوی چې مسلمانانو ته د سر زيات تاوان ور واړوي، خو پدې کې پاتې راغلل چې له محاصرې نه وروسته مسلمانان بالکل وځپي ټول له مينځه يوسي. ډير ځله فاتحان همداسې تاوانونه ګالي لکه دلته چې مسلمانانو وګالل، خو په هيڅصورت سيي نده چې د قريشو دا عمل فتحه، بری او نصر وبولو. بلکه د ابو سفيان په بيړه په شاتګ دا په ګوته کوي چې هغه لدينه ويره درلوده که چيرې د جګړې دريم پړاو شروع شي نو لښکر به يې له ماتې او تباهۍ سره مخ کيږي. نو ځکه يې بيړه وکړه او بيرته ستون شو او دا خبره هغه وخت لا زياته پخيږي کله چې د حمراء الاسد د غزا په هکله د ابو سفيان رايه تر نظر تيره کړو.

نو اوس ويلی شو چې دا جګړه يوه داسې جګړه وه چې فاتح يې نه درلود، دواړو طرفونو هر يو پخپله اندازه په يوه برخه کې بری تر لاسه کړ او په بل طرف کې له ماتې سره مخ شو. او هر يوه يې پداسې حال کې له جګړې نه لاس واخيست چې نه له ميدانه وتښتيد او نه يې خپل مرکز دښمن ته پريښود چې قبضه ورباندې وکړي، همدې مطلب ته قرآنکريم داسې اشاره فرمايي:

((وَلا تَهِنُوا فِي ابْتِغَاءِ الْقَوْمِ إِنْ تَكُونُوا تَأْلَمُونَ فَإِنَّهُمْ يَأْلَمُونَ كَمَا تَأْلَمُونَ وَتَرْجُونَ مِنْ اللَّهِ مَا لا يَرْجُونَ وَكَانَ اللَّهُ عَلِيماً حَكِيماً)) (النساء: ١٠٤)

[او سستي (بې همتي اې! مؤمنانو) مه کوئ په طلب (تعقيب او جنګ) د قوم د کفارو کې، که يئ تاسې چې دردمن کيږئ، نو بيشکه دوی (هم) دردمن کيږي همغسې چې تاسې دردمن کيږي! او هيله (اميد) لرئ تاسې له (جانبه د) الله د هغه (ثواب) چې نه لري دوی (کفار) اميد (يې) او الله عليم او حکيم دی.]

دلته قرآنکريم دواړه ډلې په درد کې سره تشبيه کړيدي، ورته يې بللی او ددې

مطلب دا دی چې د دواړو حالت او موقف يو و او دواړه پداسې حال کې له جګړې نه په شا شول چې يو يې هم فاتح او غالب نه وۀ.

قرآنکريم ددې غزا په هکله فرمايي:

بيا د قرانکريم آيتونه رانازل شول او ددې غزا په مهمو مراحلو يې رڼا واچوله، يوه يوه يې وڅيړله، تبصرې يې ورباندې وکړې. او هغه اسباب يې په ګوته کړل کوم چې ددې زيات تاوان سبب شوي وو، او پداسې حساسو او خطرناکو حالاتو کې يې د مسلمانانوڅخې کمزورۍ په ګوته کړې، د خپل مسوولیت د ادا په هکله يې د دوی غفلت او کوتاهي څرګنده کړه او د هغو لوړو اهدافو د تحقق په لار کې يې د دوی سستي په ګوته کړه د کوم لپاره چې دا وسط امت جوړ شويدی.

همدا راز قرآنکريم د منافقينو د دريځ او موقف په هکله هم خبرې وکړې، له هغوی نه يې پردې اوچتې کړې ټولو ته يې وروپيژندل، له الله او رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) سره يې د دوی دښمني څرګنده کړه، او ددې تر څنګ يې د ځينو کمزوريو مسلمانانو په زړونو کې موجود هغه شکوک او شبهات هم ليرې کړل چې منافقانو او يهودانو ورته پيدا کړي وو.

او هغه اهداف او حکمتونه يې په ګوته کړل کوم چې لدې غزا نه په لاس راځي. د احد د غزا په هکله د آل عمران سورت شپيته (۶۰) آيتونه نازل شول چې پيل يې د جګړې د لومړني پړاو په هکله دی او فرمايي: ((وَإِذْ غَدَوْتَ مِنْ أَهْلِكَ تُبَوِّئُ الْمُؤْمِنِينَ مَقَاعِدَ لِلْقِتَالِ وَاللَّهُ سَمِيعٌ عَلِيمٌ)) (آل عمران: ۱۲۱)

[او (ياد کړه اې محمده (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم)! چې راووتې ته په اول د ورځې کې له کوره خپله چې تيارول دې مؤمنانو ته (په احد کې) ځايونه له پاره د جنګ او الله اورېدونکی عليم دی.]

او په پای کې د جګړې نتايجو اوحکمتونو ته اشاره کوي فرمايي: ((مَا كَانَ اللَّهُ لِيَذَرَ الْمُؤْمِنِينَ عَلَى مَا أَنْتُمْ عَلَيْهِ حَتَّى يَمِيزَ الْخَبِيثَ مِنْ الطَّيِّبِ وَمَا كَانَ اللَّهُ لِيُطْلِعَكُمْ عَلَى الْغَيْبِ وَلَكِنَّ اللَّهَ يَجْتَبِي مِنْ رُسُلِهِ مَنْ يَشَاءُ فَآمِنُوا بِاللَّهِ وَرُسُلِهِ وَإِنْ تُؤْمِنُوا وَتَتَّقُوا فَلَكُمْ أَجْرٌ عَظِيمٌ)) (آل عمران: ۱۷۹)

[نه دی الله چې پريږدي مؤمنان په هغه حال (د اختلاط) چې يئ تاسې (اې خلکو!) پر هغه تر څو چې جلا کړي (الله) ناپاکه له پاکه ځينی او نه دی الله چې خبر کاندي تاسې په غيب باندې (چې د منافقانو تميز دی له مخلصانو څخه)، لکن الله غوره کوي له رسولانو خپلو څخه چې اراده وفرمايي (د غوره کولو يې)، نو ايمان ولرئ تاسې اې مؤمنانو! پر الله او پر رسولانو د الله، او په ايمان قايم پاتې اوسئ! او پرهيز ګاري وکړئ (له بدو کارونو) پس دی تاسې ته اجر ډير لوی.]

ددې غزا ګټې او حکمتونه

ابن قيم پدې هکله مفصل بحث کړيدی.[1] ابن حجر وايي: علماء وايي: د احد په غزا او مسلمانانو ته اوښتې تاوان کې ډيرې ګټې او الهي لوی حکمتونه وو چې ځنې يې عبارت دي له: مسلمانانو ته د معصيت او نافرمانۍ د جزا او نتيجې ښوول، هغوی د منهياتو د ارتکاب په ضرر پوهول. او هغه هم هلته چې غشو ويشتونکو خپل هغه سنګر پريښود چې رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) يې د نه پريښودلو امر ورته کړی وؤ خو کله چې دوی د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) له امر نه سر غړونه کوي او هغه څه کوي چې ورنه منع شويدي، نو جزا يې هم دا ده چې ټولو وليده.

ددې غزا بل حکمت دا دی چې د رسولانو د اسې وي چې وخت نا وخت له مختلفو ابتلا آتو او ازميښتونو سره مخامخ کيږي، خو پای ښيا د همدوی وي. او که دا ازميښتونه نه وای او دوی تل فاتح او غالب وای، نو د مسلمانانو په مينځ کې به داسې کسانو هم ځای نيولی وای چې اصلاً به يې ايمان نه درلود. او که دا امتحان نه وای نو ريښتوني به له دروغجنو نه څنګه بيليدل او څرنګه به پيژندل کيدل؟ او که هميشه ناکام او مات وای، نو بيا خو د نبوت اهداف او مقاصد نه ترسره کيدل. نو د الهي حکمت تقاضا هم همدا وه چې کله ماتې او کله بری وي تر څو دروغجن له ريښتوني نه بيل شي، ځکه تر دې وخته منافقان پټ وو چا نه پيژندل خو کله چې دا پيښه وشوه نو منافقانو له خپلو مخونو نه پردې پورته کړې، په ژبه او عمل سره يې د خپل نفاق اعلان وکړ. او مسلمانان پوه شول چې په کور کې د ننه هم دښمنان لري نور د لستونې دې مارانو ته متوجه شول او لازم اقدامات يې وکړل.

بل حکمت يې دا دی چې په ځنې ځايونو کې د بري او فتحی ځنډيدل د انساني نفس

---

[1]. زاد المعاد ۲/ ۹۹ – ۱۰۸

غرور وژني د کبر ملا ماتوي او په انسان کې خاکساري او تواضع پيدا کوي. او کله چې مسلمانان له دې امتحان سره مخامخ شول نو د صبر لمن يې ونيوه خو منافقانو چيغې ګډې کړې او په واويلا شول.

بل حکمت يې دا دی چې الله تعالی خپلو مؤمنو بندګانو ته د خپل کرامت په کور (جنت) کې داسې درجې او مقامات تيار کړيدي چې په عمل سره هلته رسيدل ممکن ندي، نو پدې خاطر هغوی له داسې ازميښتونو او مصيبتونو سره مخ کوي تر څو همغه اوچتې درجې يې په برخه شي. او بل دا چې شهادت د اولياؤ له ټولو نه لوړه درجه ده، نو الله تعالی دا مرتبه د دوی په برخه کړه. او همدا راز الله تعالی غوښتل خپل دښمنان په هلاکت ورسوي، نو د دوی د هلاکت اسباب لکه کفر، سرکشي، طغيان او مسلمانانو ته ضرر رسول يې هم ورته برابر کړل او په همدې سره يې د مسلمانانو ګناوې وښښلی اوکافران يې هلاک او برباد کړل.[1]

---

[1]. فتح الباري ۷/ ۳۴۷

له احد نه وروسته نظامي عمليات

د احد غميزې د مسلمانانو لپاره منفي اغيزې درلودې. د هغوی شهرت ته يې زيان ورساوه، زور يې مات شو، د خلکو په زړونو کې يې هيبت او شوکت کم شو، له ډيرو داخلي او بهرنيو مشکلاتو سره لاس او ګريوان شول. مدينه منوره له هر لوري تر تهديد او خطر لاندې راغله، يهودانو، منافقانو او اعرابو (بدويانو – صحرايانو) خپله دښمني په ډاګه کړه. هرې يوې ډلې زيار يوست مسلمانانو ته زيان ورسوي او ختم يې کړي، بالکل يې له مينځه يوسي او له جړو يې وباسي.

ددې غزا لا دوی ميا شتې نه وې پوره شوې چې بنو اسد پر مدينه باندې د حملې تياري ونيوله. او د څلورم هجري کال د صفر په مياشت کې عضل او قاره قبيلو د مسلمانانو په خلاف توطئه جوړه کړه، لس کسه اصحاب (رضي الله عنهم) يې په شهادت ورسول. او په همدې مياشت کې د بنو عامر قبيلې پداسې يوې توطئې لاس پورې کړ چې پوره اويا کسه اصحاب (رضي الله عنهم) پکې شهيدان شول او دا پيښه د بئر معونه په نامه شهرت لري. د يهودانو بنو نضير قبيلې هم خپله دښمني په ډاګه کړه او دڅلورم هجري کال د ربيع الاول په مياشت کې يې يوه لويه توطئه جوړه کړه، د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) د په شهادت رسولو کوښښ يې وکړ. بنو غطفان هم جرات وکړ او د څلورم هجري کال په جمادي الاولى کې يې پر مدينه منوره د حملې پلان جوړکړ.

څرنګه چې د احد په غزا کې مسلمانانو ته تاوان اوښتی او زور يې ختلی و،ٔ نو له همدې امله تر يوه وخته له خطراتو او تهديدونو سره مخ وو، خو رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) پخپل حکمت او تدبر سره د پيښو مخه بدله کړه د مسلمانانو شان شوکت، هيبت او عظمت يې بيرته را ژوندی کړ.او پدې لار کې يې لومړنی ګام د حمراء الاسد په لور حرکت او د مشرکينو ځغلول وٴو پدې مدبرانه عمل سره يې د خپل لښکر شهرت او عظمت ژوندی وساته، شان او هيبت يې اعاده او خوندي کړ، يهودان او منافقان يې وويرول. ورپسې يې پداسې عملياتو لاس پورې کړ چې نه يوازې د مسلمانانو تير عظمت يې را ژوندی کړ بلکه د هغوی شان و شوکت يې نور هم پسې اوچت کړ، په راتلونکو صفحاتوکې به ددې عملياتو تفصيلات سره ولولو.

١- د ابـي سلـمـه سريـه

د احد له غزا نه وروسته تر ټولو لومړی بنو اسد بن خزيمه د مسلمانانو په خلاف راپورته شول. د مدينې منورې استخباراتو خبر تر لاسه کړ چې د خويلد زامن طلحه او سلمه له خپل قوم او نورو پيروانو سره راپورته شوي او بني اسد بن خزيمه د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) په خلاف جګړې ته رابولي.

رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) فوراً يو ګروپ چې شميره يې يو سل او پنځوس انصار او مهاجرين جنګيالان وو د مقابلې لپاره وړواستاوه. ابو سلمه يې ددې ګروپ امير وټاکه .بيرغ يې ورته وتاړه. او مخکې لدينه چې بنو اسد بن خزيمه په اقدام لاس پورې کړي ابو سلمه (رضي الله عنه) ورباندې حمله وکړه، کفـار دومره وارخطا شول چې تيت او پرک شول، يوې خوا بـلې خوا ته وتښتيدل. مسلمانانو ته ډير اوښان او پسونه په لاس ورغلل او سالمين غانمين، جوړ، روغ او له غنيمتونو سره يو ځای مدينې ته ستانه شول او خبره جګړې ته ونه رسيده.

دا سريه د څلورم هجري کال د محرم په لومړۍ نيټه واقع شوې، او له بيرته راستنيدو وروسته د ابو سلمه (رضي الله عنه) هغه زخم چې په احد کې خوړلې ؤ وبليد په بد واوښت او لږه موده وروسته وفات شو.[1]

٢- د عبدالله بن انيس (رضي الله عنه) سريه

د څلورم هجري کال د محرم په پنځمه د مدينې استخباراتو خبر تر لاسه کړ چې خالد بن سفيان الهذلي له مسلمانانو سره د جګړې پخاطر تياري نيسي خلک راټولوي. رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) عبدالله بن انيس (رضي الله عنه) ته امر وکړ چې لاړ شي او هغه له مينځه يوسي.

عبدالله بن انيس (رضي الله عنه) اتلس ورځې له مدينې نه غائب ؤ او د هفتې په ورځ چې د محرم مياشتې اوه ورځې پاتې وې بيرته مدينې ته پداسې حال کې راستون شو چې د خالد سر يې له ځان سره راوړی ؤ او د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) په مخکې يې کيښود.

رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) په دی وخت کې ده ته يوه لکړه ورکړه او ورته ويې فرمايل: (**هذه آية بيني وبينك يوم القيامة**).دا به د قيامت په ورځ زما او

---

[1]. زاد المعاد ١٠٨/٢

ستا تر مينځ نښه وي. او کله چې د عبدالله بن انيس (رضي الله عنه) ځنکدن شو وصيت يې وکړ چې هغه لکړه يې په کفن کې ورسره کيښودله شي.[1]

۳- د رجيع حادثه

د همدې څلورم هجري کال د صفر په مياشت کې د عضل او قاره قبيلو څو کسان رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) ته راغلل او عرض يې وکړ چې د دوی ځنې کسان په اسلام مشرف شوي کـه څوک ورسره واستوي تر څو د دين ښوونه ورته وکړي او قرآنکريم ورزده کړي! نو رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) د ابن اسحاق په روايت شپږ کسان او د بخاري په روايت لس کسان ورسره واستول او د ابن اسحاق د يوه روايت په اساس يې مرثد بن ابي مرثد الغنوي مشر ورته وټاکه. او د بخاري او ابن اسحاق د بل روايت له مخې ددې ډلې مشر عاصم بن ثابت د عاصم بن عمر بن الخطاب (رضي الله عنه) نيکه وٴ. اصحاب (رضي الله عنهم) ورسره روان شول او کله چې د رابغ او جدي تر مينځ د هذيل قبيلې رجيع نومې چينې ته ورسيدل، د عضل او قاره قبيلو نومورو کسانو د هذيل قبيلې بنو لحيان څانګه وربانديې را وپاروله، تقريباً سل کسه غشي ويشتونکی ورپسې راووتل د هغوی پل يې پسې واخيست او بالاخره ور ورسيدل محاصره يې کړل. نومورې اصحاب (رضي الله عنهم) يوې غونډۍ ته ختلي وو، مشرکينو ورته وويل: زمونږ له پلوه د تاسې لپاره عهد او پيمان دی که راکوز شوئ، نو نه مو وژنو! عاصم (رضي الله عنه) له راکوزيدو نه انکار وکړ او له خپلو ملګريو سره يې د مشرکينو په خلاف جګړه پيل کړه اوه کسان يې د مشرکينو په غشو په شهادت ورسيدل او يوازې درې تنه حضرت خبيب، زيد بن دثنه او يو بل صحابي (رضي الله عنهم) ژوندي پاتې شول. مشرکينو يو ځل بيا د ټرون او عهد يادونه ورته وکړه، نو دوی دری واړه ورته راکوز شول، خو کفارو خپل عهدمات کړ غدر يې وکړ او دری واړه يې د خپلو ليندیو په تارونو وټرل.

پدې وخت کې هغه دريم صحابي (رضي الله عنه) وويل: دا د دوی لومړنی غدر دی، نو له دوی سره له تګ نه يې انکار وکړ، هغوی کش کړ او کوښښ يې وکړ له ځان سره يې بوزي، خو ورسره لاړ نه شو نو بيا يې په شهادت ورساوه. خبيب او زيد (رضي الله عنهما) يې له ځان سره بوتلل او په مکه کې يې خرڅ کړل. دوی دواړو د بدر په غزا کې د مشرکينو مشران وژلي وو. خبيب (رضي الله عنه) څه وخت په مکه کې بندي پاتې شو

---

[1]. نفس المصدر ۲/ ۱۰۹ ابن هشام ۲/ ۶۱۹- ۶۲۰

بالاخره يې مشرکينو د وژلو فيصله وکړه او له حرم نه يې تنعيم ته بوتله. او کله يې چې په دار خيژاوه نو خبيب (رضي الله عنه) ورته وويل: لږ مې پريږدئ چې دوه رکعته لمونځ وکړم. مشرکينو پرينبوده، دوه رکعته لمونځ يې وکړ او کله يې چې سلام وګرزاوه ويې ويل: که تاسو دا نه ويلئ چې له مرګ نه ډاريږي، نو لمونځ به مې اوږداوه، بيا يې دعا وکړه او ويې ويل اې خدايه! ته دوی يو يو له منځه يـوسې، يو، يو يې کړې بيا ټول هلاک کړې، يوه ته هم نجات و رنـکړې. او ورپسې يې دا شعرونه وويل:

لقد اجمع الاحزاب حولي و البوا قبائلهم واستجمعوا كل مجمع

خلک ډلې ډلې رانه تاو دي او خپلې قبيلې يې راباندې را ټولې کړيدي او ټولې ډلې يې راجمع کړيدي.

و قد قربوا ابناء هم و نساء هم و قربت من جذع طويل ممنع

خپل اولادونه او ښځې يې هم راوستلې دي او زه د خرما يوې اوږدې او مضبوطې تنې ته نژدی کړی شوی يم.

الى الله اشكو غربتي بعد كربتي و ما جمع الاحزاب لي عند مضجعي

د خپلې بې کسۍ بې وطنۍ او غم، او د خپـلې قتل ګاه شا و خوا ته ددې ډلو د راغونډيدو نه الله ته فرياد کوم.

فذا العرش صبرني على مايراد بي فقد بضعوا لحمي و قد بوْس مطعمي

اې د عرش مالکه! دښمن چې زما په خلاف کومه اراده لري په هغه باندې صبر راکړه، دوی خو زه بوټۍ بوټۍ کړی يم او خوراک مې يې خراب کړيدی.

و قد خيروني الكفر و الموت دونه فقد ذرفت عيناي من غير مدمع

هغوی د کفر او مرګ تر منځ اختيار را کړئ خو مرګ له کفر نه ډير راته آسانه دی، سترګې مې له اوښکو پرته ډکې ډکې کيږي.

ولست ابالي حين اقتل مسلما على اي شق كان في الله مضجعي

دا چې مسلمان ومرم نو پروا مې نشته چې د الله په لار کې په کومه ډډه ووژل شوم.

وذلك في ذات الاله و ان يشاء يبارك على اوصال شلو ممزع

دا د الله لپاره دي او که د هغه اراده وشوه نو په بوټی بوټی او ټوټه ټوټه اندامونو کې به هم برکت واچوي.

پدې مهال ابو سفيان ورته وويل: آيا پدې خوښيږي چې محمد (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) دلته له مونږ سره وي مونږ يې غاړه ووهو او ته پخپل کور کې وې؟ خبيب (رضي الله عنه) وويل: نه قسم په خدای پدې هم نه يم خوښ چې زه دې پخپل کور کې وم او محمد (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) دې هلته وي چيرته چې تشريف لري او يو اغيزی دې تکليف ور ورسوي. بيا مشرکانو په دار و خيژاوه او چاته يې وظيفه ورکړه چې په جسد يې همدلته پيره وکړي. خو عمرو بن اميه الضمري (رضي الله عنه) د شپې له خوا په يوه چل د هغه مبارک جسد لدې ځای نه اوچت کړ او خاورو ته يې وسپاره.

خبيب (رضي الله عنه) د عقبه بن الحارث په لاس شهيد کړی شو ځکه د بدر په غزا کې خبيب (رضي الله عنه) د نوموړي پلار حارث وژلی وٴ.

په صحيح بخاري کې روايت دی چې خبيب (رضي الله عنه) لومړنی شخص دی چې دمرګ په وخت کې يې د دوه رکعته لمانځه طريقه پرېښې ده. او کله چې خبيب (رضي الله عنه) له مشرکينو سره اسير وٴ نو پداسې حال کې ليدل شوی چې د انګورو وړی يې په لاس او انګور ورنه خوري او دا پداسې وخت او موسم کې چې په مکه کې حتی خرما هم نه موندل کيده انګور خو لا پريږده.

او زيد بن الدثنه (رضي الله عنه) صفوان بن اميه واخيست او د خپل پلار په بدل کې يې په شهادت ورساوه.

همدا راز قريشو څه کسان واستول تر څو د عاصم (رضي الله عنه) د بدن کومه داسې ټوټه راوړي چې دوی يې ورباندې وپيژني چې همدا هغه عاصم دی کوم چې د بدر په ورځ يې د مشرکانو يو لوی او مهم مشر په هلاکت رسولی وٴ. خو الله تعالی د هغه په جسد يو سيل غومبسۍ مقرر کړې او مشرکين يې پرې نه ښودل جسد ته ېۍلاس وروړي. حضرت عاصم (رضي الله عنه) له الله تعالی سره دا عهد کړی وٴ چې نه به کوم مشرک هغه ته لاس وروړي او نه به دی پخپله مشرک ته لاس ورنژدې کوي. او کله چې دا خبر عمر (رضي الله عنه) ته ورسيده نو ويل به يې: الله تعالی خپل مؤمن بنده پس له

مرګه همداسې ساتي لکه څنګه يې چې په ژوندون ساتنه کوي.[1]

۴- د بئر معونة غميزه

په همدې مياشت کې د الرجيع له غميزې نه وروسته يوه بله لويه او ډيره دردناکه غميزه وشوه چې د بئرمعونه په غميزې سره شهرت لري.

ددې پيښې لنډه کيسه څه داسې ده: ابو براء عامر بن مالک چې په نيزه باز سره مشهور وٴ په مدينه منوره کې د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) خدمت ته راغی. رسول الله (ص اسلام ته راوباله، خو نوموړی نه په اسلام مشرف شو او نه يې بالکل رد کړ، عرض يې وکړ يا رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم)! که څو تنه اصحاب (رضي الله عنهم) د اهل نجد د دعوت لپاره واستوې کيدای شي هغوی دعوت ومنې او ستا دين قبول کړي. رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) وفرمايل: (**إني أخاف عليهم أهل نجد**).زه پخپلو اصحابو (رضي الله عنهم) ويريږم هسې نه د نجد خلک څه زيان ور ورسوي. ابو براء وويل: زه يې ملاتړ کوم، زه پناه ورکوم، نو رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) د ابن اسحاق په روايت (۴۰) او د بخاري په روايت (۷۰) کسان د بني ساعده قبيلې د منذر بن عمرو په مشرۍ چې په المعتق ليموت (مرګ ته آزاد کړی شوي) باندې يې شهرت درلود واستول.

نوموړي اصحاب (رضي الله عنهم) له غوره، مخورو او له ټولو نه په قرآنکريم پوهو کسانو څخه وو. دوی (رضي الله عنهم) چې ورسره روان شول، نو د ورځې به يې خس او لرګي راټولول خرڅول به يې او اصحاب صفه ته به يې غله وربانديې اخيسته، قرآنکريم به يې تلاوت او تدريس کاوه او د شپې به يې د الله تعالى عبادت کاوه. پدې ترتيب سره د بئر معونه منطقې ته ورسيدل، معونه د يوه کوهي نوم وٴ چې د بني عامر او حره بني سليم (د بني سليم د ډاګ) تر مينځ پرتې ځمکه کې واقع وٴ. دوی همدلته واړول بيا يې دام سليم ورور حرام بن ملحان ته د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) ليک ورکړ چې د خدای دښمن عامر بن الطفيل ته يې ورسوي. هغه چې کله خط ورور،کافر عامر خط ته هيڅ ونه کتل ويې نه لوست او يوه کس ته يې اشاره

---

[1]. ابن هشام ۲/ ۱۶۹ – ۱۷۹ زاد المعاد ۲/ ۱۰۹ صحيح البخاري ۲/ ۵۶۸- ۵۷۰، ۵۸۵

وکړه هغه د شا له خوا د نیزې وار پرې وکړ نیزه تري ووته، وینې ورنه روانې شوې حرام چیغه کړه الله اکبر، د کعبې په رب قسم چې بریالی شوم.
ورپسې سمدلاسه د الله تعالی دښمن (عامر) په نورو اصحابو (رضي الله عنهم) باندې د حملې پخاطر خپله قبیله راوپاروله، خو هغوی د ابو براء د پناه ورکولو د احترام پخاطر د عامر خبره ونه منله. د خدای دښمن بني سلیم ته ورغی او د پاتې اصحابو (رضي الله عنهم) په خلاف یې د حملې غوښتنه ورنه وکړه. د بني سلیم دریو کورنیو عصیه، رعل او ذکوان دا غوښتنه ومنله راغلل او د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) اصحاب (رضي الله عنهم) یې محاصره کړل. جګړه ونښته اصحاب (رضي الله عنهم) تر هغې پورې وجنګیدل تر څو ټول په شهادت ورسیدل یوازې کعب بن زید بن النجار ژوندی پاتې وۀ چې زخمي د شهیدانو په مینځ کې پروت وۀ او بیا د خندق په غزا کې په شهادت ورسید.
هلته عمرو بن امیه الضمري او منذر بن عقبه بن عامر اوښان پوول ویې لیدل چې د پیښې په ځای مرغان ګرزي، راغلل او ویې لیدل چې جګړه روانه ده. منذر (رضي الله عنه) په جګړه ورګډ شو او له خپلو ملګرو (رضي الله عنهم) سره یو ځای په شهادت ورسید، خو عمرو بن امیه الضمری (رضي الله عنه) د مشرکینو په لاس اسیر شو خو کله یې چې ورته وویل زه له مضر قبیلې نه یم، نو عامر یې د ټنډې څه ویښتان پرې کړل او د خپلې مور له طرفه یې چې د یوه غلام آزادول ورباندې نذر وۀ، آزاد کړ. بیا عمرو بن امیه الضمري (رضي الله عنه) د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) حضور ته راغی او دا درد ونـكې یعنې د اویا غوره کسانو د شهادت خبر یې ورته واوراوه. د غې غمیزې د احد غم را تازه کاوه، خو په دومره فرق سره چې په احد کې مخامخ جګړه وه مسلمانان د جګړې په ډګر کې شهیدان شوي وو او دلته په غدر او خیانت سره په شهادت رسیدلي وو.
کله چې عمرو بن امیه الضمري (رضي الله عنه) مدینې ته روان وۀ او د قناه وادي په سر کې قرقره نومي ځای ته ورسید تر یوې ونې لاندې یې دمه وکړه. دلته د بني کلاب قبیلې دوه کسان هم راغلل او تر همدې ونې لاندې ویده شول. عمرو (رضي الله عنه) په دې نیت چې د خپلو ملګرو انتقام واخلي دواړه په خوب ویده ووژل، خو حقیقت دا وۀ چې لدې دواړو سره د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) پیمان او عهد موجود وۀ چې عمرو (رضي الله عنه) نه وۀ پرې خبر. کله چې د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) حضور ته ورسید کیسه یې ورته وکړه، رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) وفرمایل: (**لقد قتلت قتیلین لأدِیَنَّهما**).تا دوه داسې کسان وژلي

چې زه به يې حتماً ديت ورکوم، او شروع يې وکړه د دوی دواړو ديت يې له مسلمانانو او د دوی له حليفانو يهودانو نه راټولاوه.[1] او همدا پيښه بيا د بني نضير د غزا سبب شوه.

رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) پدې غمجنه پيښه او د رجيع په غميزه ډير زيات غمجن شو، دواړه په څو ورځو کې پيښې شوې[2].

په رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) د خپلو اصحابو (رضي الله عنهم) غم او درد دومره غالب شو چې په خائنو او غدارو خلکو پسې يې ښيرې شروع کړې[3].

بخاري روايت کوي چې انس (رضي الله عنه) وايي: رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) په هغو کسانو پسې چې دده اصحاب (رضي الله عنهم) يې په بئر معونه کې په شهادت رسولي وو، پوره ديرش ورځې ښيرې کولې، د سهار په لمانځه کې به يې ورته بد دعايي کوله. رعل، ذکوان ، عصيه او لحيان ته به يې ښيرې کولې فرمايل به يې:

(عُصَية عَصَتْ الله ورسوله)، فأنزل الله تعالى على نبيه قرآناً قرأناه حتى نسخ بعد: (بلغوا عنا قومنا أنا لقينا ربنا فرضي عنا ورضينا عنه) فترك رسول الله صلى الله عليه وسلم قُنُوتَه .

[عصيه د الله او رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) له امر نه عصيان او سرکشي وکړه، تر څو الله تعالى پدې هکله په رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) داسې آيتونه رانازل کړل چې مونږ لوستل او وروسته منسوخ شول او دا آيتونه داسې وو: "زمونږ له خوا زمونږ قوم ته خبر ورکړئ چې مونږ له خپل رب سر ملاقي شوو هغه له مونږ نه او مونږ له ده نه راضي يوو" لدې نه وروسته رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) دا قنوت پريښود].[4]

---

(1). ابن هشام ۲/ ۱۸۳- ۱۸۸ زاد المعاد ۲/ ۱۰۹- ۱۱۹، صحيح البخاري ۲/ ۵۶۴ - ۵۸۶

(2). واقدی وايي چې د دوادو پيښو خبر رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) ته په يوه شپه کې ورسيد.

۳. ابن سعد له انس نه روايت کړی وايي: رسول (ص) مې نه دی ليدلی چې د بئر معونة اصحابو له غم نه په بل چا زيات غمجن شوی وي، مختصر سيرة الرسول للشيخ عبد الله النجدي ص ۲۶۰ وګوره.

(4). بخاري ۲/ ۵۸۶ - ۵۸۸

۵- د بني نضير غزا

مخکې مو وويل چې د يهودانو په زړونو کې له اسلام او مسلمانانو سره د دښمنۍ اور لمبې وهلې، خو څرنګه چې هغوی د ميدان ميړونه نه وو، نو تل يې له غدر، چل، فريب او دسيسو نه کار اخيست. کينې او دښمنۍ يې زړونه سيځل، ډول ډول فتنې او توطيې يې په کار اچولې. او د مخامخ جګړې په ځای يې مسلمانانو ته د چل او فريب له لارې تکليفونه رسول. او سره لدې چې له مسلمانانو سره يې پيمان او عهد هم درلود خو بيا يې هم د دوی په لار کې راز راز مشکلات راولاړول. لکن د بني قينقاع له غزا او د کعب بن اشرف له ترور نه وروسته غلي شول، وويريدل، او څه نا څه آرام شول.

د احد له غزا نه وروسته يو ځل بيا زړور شول، وخوځيدل، دښمنۍ او کينې يې راپورته شوې. د مسلمانانو په خلاف يې له منافقانو او د مکې له مشرکانو سره پټې اړيکې جوړې کړې او د اسلام په ضد يې خپله دښمني يو ځل بيا را څرګنده کړه.[1]

رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) د دوی دا کړه ليدل، خو بيايې هم له صبر او زغم نه کار اخيست. مګر د رجيع او بئر معونه له پيښو نه وروسته يهودان نور هم سپين سترګي شول او ان د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) د قتل توطئه يې جوړه کړه. د دې تفصيل داسې دی: رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) له څو تنو اصحابو (رضي الله عنهم) سره د بني نضير مېنې ته ورغی تر څو هغوی د کلاب قبيلې د هغو دوو کسانو په ديت کې له معاهدې سره سم مرسته وکړي کوم چې عمرو بن اميه الضمري وژلي وو. يهودانو رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) ته وويل: سيي ده يا ابا القاسم (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم)! دلته تشريف کيږده تر څو ستا غوښتنه پوره کړو. رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) د يوه ديوال خوا ته د دوی د وعدې په انتظار ناست وۀ، ابوبکر، عمر، علي او نور اصحاب (رضي الله عنهم) هم ورسره موجود وو.

يهودان سره ګوښه شول، شيطان تير ايستل او د هغې بدبختۍ خوا ته يې وبلل چې ورته ليکل شوې وه د رسول (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) د قتل توطئه يې جوړه کړه، يو بل ته يې وويل څوک به دا د ژرندې پل اوچت کړي چې د رسول الله

---

[1]. ابو داود باب خبر النضير ۳/ ۱۱۶ – ۱۱۷. عون المعبود شرح سنن ابي داود.

(صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) په سر يې ور واچوي او له مينځه يې يوسي؟ خدای وهلي او بدبخت عمرو بن جحاش وويل دا کار زه کوم. پدې وخت کې سلام بن مشکم ورته وويل: ګورئ دا کار مه کوئ قسم په خدای چې رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) ته ددې توطئې خبر ورکول کيږي، او دا خو د هغه ټرون مخالفت هم دی کوم چې مونږ ورسره امضاء کړيدی. خو نورو يهودانو دې خبرې ته غوږ ونه نيو او د خپلې توطئې عملي کول يې پيل کړل.

په همدې شيبو کې رب العالمين جبريل امين (عليه السلام) ته امر وکړ چې ورشه او محمد (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) د يهودانو له توطئی نه خبر کړه. رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) فوراً له خپل ځايه پاڅيد او د مدينې په لور روان شو. اصحاب (رضي الله عنهم) ورپسې ورغلل او عرض يې وکړ، تا تشريف راوړ مونږ پوه نه شوو! ده (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) د يهودانو له توطئی نه خبر کړل.

رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) مدينې ته له رسيدو سره سم محمد بن مسلمه (رضي الله عنه) ته امر وکړ چې بني نضير ته ورشه او ورته ووايه:(**اخرجوا من المدينة ولا تساكنوني بها، وقد أجلتكم عشراً، فمن وجدت بعد ذلك بها ضربت عنقه**). له مدينې نه ووزئ، نور دلته د اوسيدو حق نلرئ، لس ورځې مهلت درکوم، لدې نه اخوا که هر څوک په ګوتو راغلل سر يې قلموم. يهودان مجبور شول د وتو تياري يې پيل کړه خو د منافقانو مشر عبدالله بن ابي خبر ورکړ چې مه وزئ، همدلته پاتې شئ مقاومت وکړئ، زه دوه زره کسان درليږم چې له تاسې سره يو ځای ستاسی په کلا ګانو کې، تر مرګه درنه دفاع وکړي. قرآنکريم دې مطلب ته اشاره کوي فرمايي:

((لَئِنْ أُخْرِجْتُمْ لَنَخْرُجَنَّ مَعَكُمْ وَلا نُطِيعُ فِيكُمْ أَحَداً أَبَداً وَإِنْ قُوتِلْتُمْ لَنَنْصُرَنَّكُمْ)) (الحشر: ١١)

[که خامخا وايستل شئ تاسې (له مدينې څخه) نو خامخا وبه وځو مونږ مونږ هرو مرو له تاسې سره او نه به منو مونږ (په ضرر د تاسې کې) د هيچا هيڅکله او که چيرې جنګ شروع کړ شي له تاسې سره نو خامخا مدد به وکړو مونږ هرو مرو له تاسې سره.]

منافق دا هم ورته وويل: لدې نه علاوه ستاسې حليفان غطفان اوقريظه به هم ستاسې مرسته کوي. په همدې سره يهودانو زړه پيدا کړ، د مقاومت او مقابلې نيت يې وکړ. مشر يې حيي بن اخطب د منافقانو د مشر خبره ومنله او رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) ته يې داسې ځواب وليږه: مونږ له خپل وطنه نه وځو څه چې کوې

لاس دې آزاد!

ښکاره خبره ده چې دا حالت د مسلمانانو لپاره زيات خطرناک ؤ، پداسې حساسو شيبو کې له دښمن سره مقابله آسانه نه وه. هلته ټول مشرکين عرب د دوی په خلاف را پاڅيدلي وو د دوی له هيئتونو او پلاويو سره يې لوی ظلم او غدر کړی و، برسيره پر دې د بنو نضير يهودان خپله هم د زور او ځواک خاوندان وو تسليميدل يې ممکن نه بريښيدل، نو له هغوی سره جګړه ډير خطرناکه او له بدو عواقبو نه خالي نه وه. خو د رجيع او بئر معونه غميزې مسلمانان ډير حساس کړي وو د غدارانو په خلاف يې په زړونو کې د انتقام او غچ لمبی بلې وې، نو ځکه يې فيصله وکړه چې له دې غدارانو سره به چې د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) د قتل توطئه يې جوړه کړې وه، مقابله او جګړه کوي نتيجې يې که هر څه وي.

کله چې رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) ته د يهودانو د مشر حيي بن اخطب ځواب ورسيد، الله اکبر يې وويل اصحابو (رضي الله عنهم) هم د تکبير ناره وکړه او د مقابلې لپاره راپورته شول. عبد الله بن ام مکتوم يې په مدينه کې خپل قائم مقام وټاکه او خپله د بنو نضير په لور روان شو. علي (رضي الله عنه) بيرغ ورړه او پدې ترتيب سره يې يهودان پخپلو کورونو کې محاصره کړل، هغوی خپلو کلا ګانو ته ننوتل او له هغه ځای نه يې مسلمانان په تيرو او غشو ويشتل. د خرما ونې او نور باغونه هم د دوی په ګټه وو او جنګي استفاده يې ورنه کوله، نو رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) د ونو او باغونو د پرې کولو او سيځلو امر صادر کړ، حسان (رضي الله عنه) دا مطلب داسې بيانوي:

و هان على سراة بني لوْئ حريق بالبويرة مستطير

د بني لويي د سردارانو لپاره دا آسانه خبره وه چې په بويره کې د اور لمبې ګډې شي.

بويره د بنو نضير د خرما د باغونو نوم ؤ، الله تعالى پدې هکله فرمايي:

((**مَا قَطَعْتُمْ مِنْ لِينَةٍ أَوْ تَرَكْتُمُوهَا قَائِمَةً عَلَى أُصُولِهَا فَبِإِذْنِ اللَّهِ**)) (الحشر: ٥)

[هغه چې پرې کوئ تاسې له تنو د ونو د (کم اصلو) خرماوو څخه يا يې پريږدئ هغه ولاړې په بيخونو خپلو باندې نو دغه (ټول) په اذن (حکم) د الله سره دی.]

په هر حال کله چې بنو نضير محاصره شول نو بنو قريظه يې مرستې ته رانغلل، عبدالله بن ابي او بنو غطفان هم نامردي ورسره ورکړه د هيڅا خير ور ونه رسيد، هيڅوک يې دفاع ته راپورته نه شول. او همدا وجه ده چې الله تعالى د دوی دا کيسه لدې حالت سره تشبيه کړيده او فرمايي: ((**كَمَثَلِ الشَّيْطَانِ إِذْ قَالَ لِلإِنسَانِ اكْفُرْ فَلَمَّا كَفَرَ قَالَ إِنِّي**

بَرِيءٌ مِنْكَ)). (الحشر: ١٦)
[(مثال د منافقانو په مخالفت د وعدې کې) لکه مثل (کيسه) د شيطان داسې ده کله چې وايي انسان ته چې کافر شه نو کله چې (انسان) کافر شي وايي (شيطان) زه بيزار جلا (جدا) يم له تا څخه.]
محاصره يوازې شپږ شپې او په بل روايت (١٥) ورځې اوږده شوه، الله تعالی د يهودانو په زړونو کې ويره واچوله، حوصلې يې تنګې او ارادې يې ماتې شوې د سلامي کيدو او وسلې کيښودو فيصله يې وکړه. رسول الله (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) ته يې احوال وليږه: مونږ له مدينې څخه وځو. رسول الله (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) د دوی دا غوښتنه ومنله او موافقه يې وکړه چې دوی کولې شي له خپلو اولادونو سره له مدينې نه په امن ووزي او کولی شي له وسلې پرته نور دومره سامان او کالي چې په اوښانو يې وړئ شي له ځان سره يوسي.
يهودان تسليم شول وسلې يې کيښودې او پدې شرايطو سره له مدينې نه وتل او خپل کورونه يې پخپله ړنګول. ورونه، کړکۍ حتی څنګ دری ، دستک او تيرونه يې هم له ځان سره وړل، ماشومان او ښځې ټول يې له ځان سره بوتلل د شپږ سوه اوښانو يوه قافله ورنه جوړه شوه او له مدينې نه په کډه شول.ځنې مشران يې لکه حيي بن اخطب او سلام بن ابي الحقيق خيبر ته لاړل، ځنې نور شام ته کډه شول يوازې دوو کسانو ورنه ايمان راوړ او هغه يامين بن عمرو او ابو سعد بن وهب ؤ چې په اسلام سره يې خپل مالونه هم وساتل. رسول الله (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) د بني نضير وسله را ټوله کړه، مځکی، کورونه او جايدادونه يې قبضه کړل، په وسله کې پنځوس زغرې، پنځوس اوسپنيزې خولۍ او درې سوه څلويښت توري شاملې وې.
د بنو نضير ځمکې، مالونه او باغونه ټول خاص د رسول الله (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) حق ؤ او صلاحيت يې درلود چې هر ډول تصرف پکې وکړي ځانته يې پريږدي او يا يې په نورو ويشي.
رسول الله (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) لدې مالونو نه خمس (پنځه حصه) بيله نکړه ځکه دا غنيمت نه ؤ بلکه في ؤ ځکه مسلمانانو د توري په زور نه ؤ نيولی بلکه بيله جګړې د دوی لاس ته ورغلی ؤ، نو رسول الله (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) دا مالونه او ځمکې په لومړنيو مهاجرينو ووېشلې او د انصارو له ډلې نه يې يوازې ابو دجانه او سهل بن حنيف ته چې فقيران وو برخه پکې ورکړه. او يوه ټوټه

ځمکه يې د ځان لپاره وساتله چې د خپل مبارک کور کلنی خرڅ به يې تر پوره کاوه او که نور څه به ورنه پاتې شول هغه به يې د جهاد په لار کې مصرفول وسله او يا آسونه به يې ورباندې تيارول.

د بنو نضير غزا د څلورم هجري کال د ربيع الاول په مياشت (۶۲۵ م اګست) کې واقع شويده. الله تعالی د حشر مبارک سورت ټول د همدې غزا په هکله را نازل کړيدی او په همدې سورت سره يې د يهودانو شړل، بيان کړي. له منافقانو نه يې پردې اوچتې کړی، هغوی يې افشا کړي، د في احکام يې ښوولي، د انصارو او مهاجرينو ستاينه يې کړی. او د جنګي اهدافو پخاطر يې د ونو او باغونو پرې کول او سيځل جائز بللي او مسلمانانو ته يې د تقوی او آخرت ته د تيارۍ امر کړی، او په پای کې يې خپله ثنا بيان کړی، حمد او صفت يې ويلی او خپل مبارک نومونه او صفات يې ياد کړيدي. ابن عباس (رضي الله عنهما) به د حشر سورت ته د بنو نضير سورت هم وايه.[1]

۶- د نجد غزا

د بنو نضير په غزا کې له قربانۍ او سخت کړاو نه پرته د مسلمانانو په دې لوی بري سره په مدينه کې د اسلام حکم نور هم مضبوط شو. واکمني يې نوره هم کلکه شوه. منافقان وويريدل، ذليل شول د ښکاره دښمنۍ توان ورنه لاړ. رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) ته ددې فرصت په لاس ورغی چې د هغو اعرابو (بدويانو) د تصفيې لپاره اقدام وکړي کوم چې له احد نه وروسته يې مسلمانانو ته تکليفونه رسول، د اسلام داعيان يې په ډيره نامردۍ او ظالمانه طريقې سره په شهادت رسولي وو او داسې زړه ور شوي وو چې ان پر مدينه باندې يې د حملې سوچونه کول[2]. مخکې لدينه چې رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) ددې غدارانو او عهد ماتونکو د تاديب او غوږ تاوولو لپاره کوم عملي اقدام وکړي د مدينې استخباراتو خبر ورکړ چې د بنو غطفان قبيلې دوې کورنۍ بني محارب او بنو ثعلبه د جګړې لپاره تياري نيسي. نو رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) فيصله وکړه چې د نجد بدويانو او اعرابو ته د عبرت درس ورکړي، روان شو او د نجد په صحراګانو کې تر ليرې ليرې پورې لاړ تر څو ددې سخت زړو، عهد ماتوونکو بدويانو په مينځ کې ويره واچوي او داسې يې وډار کړي چې بيا د تير په شان د عهد ماتولو، غدر او خيانت

---

(1). ابن هشام ۲/ ۱۹۰- ۱۹۲. زاد المعاد ۲/ ۷۱ – ۱۱۰. صحيح البخاري ۲. ۵۷۴. ۵۷۵.

۲. دا د محمد الغزالي خبرې دي فقه السيرة ص ۲۱٤.

کولو جرات شانته هم ونکړي.
د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) ددې ناڅاپي حملې د خبر په اوریدو سره هغه اعراب چې د قتل او غارت، غلا او لوټمار لپاره یې تیاری نیولې ټول وتښتیدل او د غرو په څوکو کې پټ شول. پدې ترتیب سره رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) دا غداران او لوټماران وویرول او خپله بیرته په امن او سلامتی سره مدینې ته راستون شو.
اهل السیر (سیرت لیکونکو) په دې سلسله کې د ذات الرقاع په نامه یوه غزا یاد کړیده چې د څلورم هجري کال د ربیع الثاني او یا جمادي الاولی په میاشت کې په نجد کې شویده. پدې کې هیڅ شک نشته چې په دې وخت کې دې دا غزا شوې وي، ځکه د مدینې د شرائطو تقاضا هم دا وه چې باید په دی وخت کې اعرابو ته درس ورکړی شوی وای ځکه د ابو سفیان سره د وعدې په اساس د بدر د راتلونکې غزا وخت رارسیدونکی ؤ.
او مخکې لدینه چې د اعرابو (بدویانو) غوږونه تاو شي زور یې مات شي او وویرول شي د مشرکانو مقابلې ته وتل او مدینه همداسې خوشي پریښودل د کامیابۍ جنګي استراتیژۍ خلاف وه او لازمه وه چې لومړی باید ددې لوټمارانو لاس ورلنډ شي او بیا د ابو سفیان د لښکر مقابلې ته ووزي. خو د دوی (سیرت لیکونکو) دا خبره سیي نده چې د څلورم هجري کال په ربیع الثاني او یا جمادي الاولی کې پیښه شوې غزا د ذات الرقاع غزا ده، ځکه د ذات الرقاع په غزا کې ابو هریره او ابو موسی اشعري (رضي الله عنهما) هم برخه درلودله او ابو هریره (رضي الله عنه) خو د خیبر غزا نه څو ورځې مخکې ایمان راوړی همدا راز ابو موسی اشعري (رضي الله عنه) په یمن کې په اسلام مشرف شو، بیا په کښتۍ کې سپور شو چې ډیټه یې د حبشې په ساحل کې ودریده او بیا له حبشې نه هغه وخت راغی کله چې رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) په خیبر کې تشریف درلود. نو پدې اساس د ذات الرقاع غزا له خیبر نه وروسته پیښه شویده.
او پدې هکله بل دلیل دا دی چې د ذات الرقاع غزا په وخت رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) د خوف (ویرې) لمونځ ادا کړیدی او د خوف لمونځ د لومړي ځل لپاره د عسفان د غزا په وخت روا شویدی او دا ثابته ده چې د عسفان غزا له خندق غزا نه وروسته وه او د خندق غزا خود پنځم هجري کال په وروستیو کې پیښه شویده، نو پدې اساس د ذات الرقاع غزا په څلورم هجري کال کې نه ده واقع شوي.

۷- د بدر دوهمه غزا

وروسته لدې چې مسلمانانو د بدویانو (کوچیانو) لوټمارانو غرور مات کړ، غوږونه یې ورتاو کړل او د دوی له شرنه یې ځانونه ډاډه کړل، نو له خپل لوی دښمن (قریشو) سره یې د مقابلې تیاري شروع کړه ځکه کال مخ په پوره کیدو ؤ او د احد په میدان کې له مشرکینو سره د شوې وعدې ورځې رارسیدونکې وې. او دا د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) او اصحابو (رضي الله عنهم) حق ؤ چې د ابو سفیان د لښکر مخې ته ورووزي او د داسې یوې جګړې میدان ته ودانګي چې ګټه به یې د هغه چا وي چې د بقاء وړ او له مقابل لوري نه د اهلیت او هدایت له پلوه وړاندې وي.

په همدې اساس د ځلورم هجري کال د شعبان چې د (۶۲۶م) کال له جنوري سره سمون خوري، رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) له (۱۵۰۰) کسانو سره چې لس آسان هم ورسره وو د جنګ په لور روان شو. (علم) بیرغ یې علي (رضي الله عنه) ته ورکړ، عبدالله بن رواحه یې په مدینه کې خپل قائم مقام وټاکه، او مخکې لاړ تر څو بدر ته ورسید هملته یې واړول او د مشرکانو د راتګ انتظار یې پوست. ابو سفیان زړه نا زړه له دوو زرو کسانو او پنځوسو آسونو سره له مکې نه را روان شو او له مکې نه یو براو لیرې مرالظهران وادي ته ورسید او له مجنه چینې سره یې واړول.

ابو سفیان ان په مکه کې سوچونو اخیستی ؤ له مسلمانانو سره د مقابلې انجام ته اندیښمن ؤ، زړه یې درزیده، ویرې اخیستی ؤ، خو مر الظهران ته له رسیدو وروسته نور هم وډار شو، اراده یې کمزورې شوه، زړه یې ولوید، د په شا تګ بهانې یې جوړې کړې خپلو ملګرو ته یې وویل: اې قریشو! جنګ هغه وخت ښه دی چې آبادي او پریماني وي مالونه مو هم ماړه وي او تاسو ته هم شیدې در رسیږي، دا کال خو وچ کال دی هیڅ هم نشته، نو زه خو بیرته ګرځم راځئ تاسې هم په شا تاو شئ.

داسې ښکاري لکه چې د نور لښکر په زړونو کې هم ویره موجوده وه ځکه ددې رایې په اوریدو سره ټول وګرځیدل هیچا هم مخالفت ونکړ او چا هم له مسلمانانو سره د مقابلې په خبره تاکید ونکړ.

مسلمانان اته ورځې د بدر په میدان کې وو د دښمن د راتګ انتظار یې پوست، خپل تجارتي مالونه یې په ښه ګټه یو په دوه خرڅ کړل او بیا مدینې ته پداسې حال کې روان شول چې یو ځل یې بیا برلاسي په برخه شوې، حالات یې تر کنترول لاندې راوستي او هیبت یې د خلکو په زړونو کې بیا ځای نیولی او په اوضاع مسلط شوي دي. دا غزا د

بدر موعد ، دوهم بدر، بدر الاخره، او بدر الصغری په نومونو شهرت لري.[1]

۸- د دومة الجندل غزا

رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) له بدر نه تشریف راوړ هرې خوا ته امن او آرامي وه، د اسلامي دولت په ټولو برخو کې پوره ډاډ او اطمینان حاکم وۀ. همدا وه چې د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) توجه د عربو د لیرې لیرې پولو خواته واوښته، اراده یې وکړه هلته هم باید د مسلمانانو غلبه وي، تر څو دوستان او دښمنان ټول د دوی په وجود اعتراف وکړي. له بدر صغری نه وروسته شپږ میاشتې په مدینه کې پاتې شو، پدې وخت کې خبر راغی چې د دومه الجندل شا و خوا ته پرتې قبیلې لارې شو کوي او خلک لوټي، زیات شمیر کسان یې راټول کړي او پر مدینه د حملې تیاري نیسي. نو رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) په مدینه کې سباع بن عرفطه الغفاري خپل قائم مقام وټاکه او پخپله له زرو کسانو سره، د پنځم هجري کال د ربیع الاول په ۲۵ د دومه الجندل په لور وخوځید د بني عذره قبیلې مذکور نامی یو کس یې لاروي ونیو او روان شو.

پدې غزا کې به رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) د شپې مزل کاوه او د ورځې به یې پدې خاطر دمه کوله چې دښمن اغفال او ناڅاپي حمله ورباندې وکړي. کله چې ورنژدې شو نو معلومه شوه چې د لارې شوکونکي لدې څایه تللي، نو د هغوی په رمو او شپنو یې حمله وکړه، ځنې یې ورنه ونیول او نور وتښتیدل. د دومه الجندل اوسیدونکي ټول یوې خوا بلې خوا ته وتښتیدل او کله چې مسلمانان ورغلل نو هیڅوک هم په ګوته ورنه غلل. رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) څو ورځې دلته پاتې شو جنګي ګروپونه یې یوې خوا بلې خوا ته واستول خو بیا هم څوک په لاس ورنه غلل، بالاخره بیرته مدینې ته ستون شو. په دې غزا کې یې له عیینه بن حصن سره سوله او مصالحه هم وکړه. دومه الجندل د – دال په پیښ – د شام په پولو کې یوه سیمه ده چې له دمشق نه د پنځو شپو مزل او له مدینې نه د ۱۵ شپو په اندازه لیرې پرته ده.

پدې چټکو او ناڅاپي حملو او دې حکیمانه او مدبرانه پلان او سیاست سره رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) وتوانید هرې خوا ته امن او آرامي خوره کړي،

---

[1]. ابن هشام ۲/ ۲۰۹ – ۲۱۰ زاد المعاد ۱۱۲/۲

حالات په قابو کې وساتي. او د زمانې مخه د مسلمانانو په ګټه بدله کړي، داخلي او خارجي مشکلات چې له هرې خوا ورنه را تاو وو يو په بل پسې له مينځه يوسي، د منافقانو کړې خولې ورسمې کړي، غږ يې غلی کړي. همدا راز يې د يهودانو يوې کورنۍ (بنو نضير) نه د هغوی د کړو سزا ورکړه له مدينې نه يې وشړله او نورې يې داسې پاتې شوې چې د ټرون او عهد پابندې وې د ګاونډيتوب حقوق يې مراعاتول. همدا راز بدويان، کوچيان او اعراب هم ډير وډار شول ارادې يې کمزورې شوې، غرور يې مات شو، قريشو په مسلمانانو د حملې فکرونه له زړه نه وايستل، او مسلمانانو ته دا فرصت په لاس ورغی چې خلک د الله تعالی دين ته راوبولي او د اسلام رڼا تورو زړونو ته ورسوي.

د احزاب غزا

له يو کال نه اوږدو جګړو او نظامي عملياتو نه وروسته امن او آرامي شوه، په عربي جزيره کې امنيت قائم شو، خو يهودان چې د غدر، خيانت، توطئو او سازشونو په نتيجه کې ډير رسوا، سپک او ذليل شوي وو لا اوس هم له مستۍ نه نه وو لويدلي عقل يې سرته نه وۀ راغلی له غدر او خيانت څخه نه وو اوښتي. خيبر ته له شړلو وروسته د مسلمانانو او مشرکانو تر مينځ د روانې جګړې نتيجې ته منتظر وو، خو کله چې حالات د مسلمانانو په ګټه وڅرخيدل او د وخت په تيريدو سره د اسلامي حکومت دائره نوره هم پراخه شوه په منطقه کې د اسلام حاکميت لاپسې ټينګ شو، نو د يهودانو په زړونو اور بل شو او د مسلمانانو په خلاف يې نوې توطئې جوړې کړې او د داسې يوه سازش پلان يې جوړ کړ چې د مسلمانانو وجود بالکل له مينځه يوسي. او لدې امله چې له مسلمانانو سره يې د مخامخ مقابلې توان او جرات نه درلود، نو د نفاق او توطئې لار يې خپله کړه.

د بنو نضير قبيلې شل مشران يهودان د مکې قريشو ته ورغلل د رسول الله (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) په خلاف يې يوې لويې حملې ته راوبلل له خپل طرف نه يې د پوره مرستې وعده ورکړه. قريشو دا خبره ومنله جګړې ته تيار شول او څرنګه چې دوی د احد له غزا نه وروسته له مسلمانانو سره د بدر په ميدان کې د بلې مقابلې وعده کړې وه او بيا يې ددې وعدې مخالفت کړی وۀ، د مسلمانانو مقابلې ته نه وو راوتلي نو دغه فرصت يې د ځان په ګټه وباله او غوښتل يې پدې جګړې سره له لاسه تللی حيثيت بيرته را ژوندی کړي او خپله وعده پوره کړي.

د يهودانو همدغه هيئت بيا بنو غطفان ته ورغی هغوی يې هم د قريشو په شان د رسول الله (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) په خلاف جګړې ته راوبلل دوی هم دا پيشنهاد ومانه، جنګ ته تيار شول. بيا همدغه يهودان نورو عربي قبيلو ته ورغلل او پدې جګړه کې د برخه اخيستو بلنه يې ورکړه چې ډيرو جنګ ته خپله آمادګي څرګنده کړه. پدې ترتيب سره يهودي مشران پدې وتوانيدل چې د کفر لښکرې د رسول الله (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) او مسلمانانو په خلاف راغونډې او د اسلام په

خلاف يې يوې لوې حملې ته تيارې کړي.
پدې پسې له جوړ شوي پلان سره سم د جنوب له خوا قريش، کنانه او په تهامه کې له اوسيدونکو قبيلو نه د دوی نور ملګري او حليفان چې ټول څلور زره کسان وو د ابو سفيان په مشرۍ د مدينې په لور روان شول او مر الظهران ته له رسيدو وروسته بنو سليم هم ورسره ملګري شول. او د شرق له لوري د غطفان قبيلې لکه بنو فزاره د عيينه بن حصن په مشرۍ او بنومره د حارث بن عوف په مشرۍ او بنو اشجع د مسعر بن رخيله په مشرۍ او ورسره د بنو اسد او نورې قبيلې هم د مدينې په لور وخوځيدې.
د کفر دا لښکرې له پلان سره سم په ټاکلي وخت د مدينې په لوري وخوځيدې او په څو ورځو کې د مدينې په شا و خوا کې له لس زره کسانو نه جوړ شوی لوی لښکر راغونډ شو چې دا شميره په مدينه کې د ټولو اوسيدونکو ځوانانو، بوډاګانو، ماشومانو او ښځو له شميرې نه زياته وه. که چيرې دا لښکرې د ناخبرۍ په حالت او نابيره توګه د مدينې پولو ته رسيدلی وای نو بې شکه چې د مسلمانانو لپاره به يوه نه جبران کيدونکې خساره وه او دا هم ممکنه وه چې د مسلمانانو ريښې يې له بيخه ايستلې وی او د هستۍ له ميدان نه يې نابود کړي وای، خو د مدينې قيادت ويښ او د پيښو مقابلې ته تيار او له پيښو نه با خبر قيادت ؤ حالا ت به يې کتل او د وضعې مطابق اقدام به يې کاوه.
د احزابو لښکرې لا خوځيدلی نه وې چې د مدينې استخباراتو خپل قيادت ته پدې اړه مکمل راپور ورکړ. د همدې خبر له رسيدو سره سم رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) لوړه مشورتي غونډه راوغوښتله، او له مدينې نه د دفاع په مساله غور پيل شو. د قيادت او شورى د نورو غړو تر مينځ له خبرو او مناقشاتو وروسته د رايو په اتفاق سره د قدرمن صحابي حضرت سلمان الفارسي (رضي الله عنه) وړاندیز ومنل شو، او په همغه فيصله وشوه. سلمان (رضي الله عنه) عرض وکړ يا رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم)! مونږ به چې کله په فارس کې محاصره کيدلو، نو شا و خوا به مو خندقونه ايستل، راځئ دلته هم له مدينې چارپيره خندق (کنده) وباسو. دا ډير عاقلانه وړاندیز ؤ، عربان مخکې لدينه له دې ډول دفاعي سيستم نه خبر هم نه وو.
رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) د شورى فيصله فورا د عمل په ډګر کې پـلې کړه، هرو لسو کسانو ته يې وظيفه ورکړه چې څلويښت ګزه کنده (خندق) وباسي. اصحابو (رضي الله عنهم) په ډيره مينه او رغبت سره د خندق په کيندلو پيل وکړ. رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) به نه يوازې تشويقول بلکه په

عملي توګه يې هم د دوی مرسته کوله، او پخپل مبارک لاس به يې خندق کيندلو.
بخاري (رح) له سهل بن سعد (رضي الله عنه) نه روايت کوي چې وايي: مونږ د خندق کيندلو په وخت کې له رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) سره وو، مونږ کار کولو او خاورې به مو په خپلو اوږو سره ورلې، په همدې وخت کې رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) فرمايل:

اللهم لا عيش الا عيش الاخرة فاغفر للمهاجرين و الانصار [1]

[اې خدايه! ژوند خو يوازې د آخرت ژوند دی، نو مهاجرينو او انصارو ته مغفرت وفرمايې.]

انس (رضي الله عنه) روايت کوي: رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) پداسې حال کې خندق ته تشريف راوړ چې مهاجرينو او انصارو په ساړه سهار کې خندق کيندلو، هغوی مزدوران نه درلودل چې دا کار يې ورته کړی وای. رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) چې د دوی ستړيا او لوږه وليدله نو ويې فرمايل:

اللهم ان العيش عيش الاخرة فاغفر للانصار و المهاجرة

[لويه خدايه! ژوند خو يوازې د آخرت ژوند دی، نو ته انصارو او مهاجرينو ته ببښنه وکړه.]

اصحابو (رضي الله عنهم) د خپل محبوب رهبر په ځواب کې عرض وکړ او ويې ويل:

نحن الذين بايعوا محمدا على الجهاد ما بقينا ابدا [2]

[مونږ هغه کسان يوو چې د ژوند تر پايه مو له محمد (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) سره د جهاد ژمنه او بيعت کړيدی.]

همدا راز بخاري له براء بن عازب نه په روايت سره وايي: ما رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) وليد چې د خندق خاورې يې ورلې او دومره په دوړو کې پټ وٴ چې د مبارکې خېټې پوستکی يې نه ښکاريده، او په مبارک بدن يې ډير ويښتان وو. ما ورنه اوريدل چې په همدې وخت کې چې خاورې يې وڅلې د عبدالله بن رواحه

(1). صحيح بخاري د خندق غزا باب ۲/ ۵۸۸
(2). صحيح بخاري ۲/ ۵۸۸

(رضي الله عنه) دغه کلمات يې زمزمه کول:

اللهم لو لا انت ما اهتدينا ولا تصدقنا و لا صلينا

فانزلن ســـــکينة علينا و ثبت الاقدام ان لاقينا

ان الاولی رغـــبوا علينا و ان ارادوا فتنة ابينا

[اې الله! که ته نه وای نو مونږ به د هدايت لاره نه وای موندلی، نه به مو خيرات ورکړی وی او نه به مو لمونځ ادا کړی وای، نو اوس پر مونږ سکينت (استقامت) رانازل کړه، او که مقابله پيښه شوه نو پښې مو ټينګې کړه (ثبات مو په برخه کړه) هغوی زمونږ په خلاف خلک راپارولي دي او که لويه فتنه يې وغوښتله نو مونږ به يې کله هم و نه منو.]

حضرت براء (رضي الله عنه) وايي چې رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) به ددې شعر وروستي لفظونه اوږدول. او په بل روايت کې ددې شعر وروستی فرد داسې راغلی دی:

ان الاولی قد بغوا علينا و ان ارادوا فتنة ابينا[1]

[هغوی زمونږ په خلاف ظالمانه بغاوت کړی او که هغوی وغواړي مونږ په فتنه کې واچوي نو کله به يې هم ورسره قبوله نکړو.]

مسلمانانو له يوې خوا په پوره مينه او ولوله خندق کيندلو، خو له بلې خوا داسې لوږه ورباندې راغلې وه چې زړونه يې چول. انس (رضي الله عنه) وايي چې خندق ايستونکو ته به دوه لپې اوربشې راوړل شوې او په بوينو زړو غوړيو کې به ورته پخې شوې، بيا به د خوړلو لپاره ور وړاندې شوې، هغوی به دومره لوږې اخيستې وو چې همدا بد بوی لرونکي خواړه به يې چې له ستونې تيريدل يې هم ګران وو، خوړل.[2]

ابو طلحه (رضي الله عنه) وايي: مونږ له خپلې لوږې نه رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) ته شکايت وکړ، او ور ومو ښودل چې مونږ هر يوه پخپله خيټه يوه يوه تيږه ترڅې ده، نو رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) راوښودله چې پخپله مبارکه خيټه پورې يې دوې تيږې ترڅې دي.[3]

په همدې وخت يعنې د خندق کيندلو په جريان کې د نبوت ډيرې نښانې ليدل شوې. جابر بن عبدالله (رضي الله عنه) وليدل چې رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و

---

[1]. صحيح البخاري ۲/ ۵۸۹

[2]. بخاري ۲/ ۵۸۸

[3]. ترمذي - مشکاه المصابيح ۲/ ۴۴۸

سلم) ډير وړی شويدی، نو يوه بيزه (وزه) يې حلاله کړه او ميرمنې يې يوه صاع يا پيمانه (دوه نيم کيلو) اوړه کړې، بيا يې په پټه سره رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) ته وويل چې له يو څو محدودو اصحابو (رضي الله عنهم) سره دده کورته تشريف وروړي. رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) ددې خبرو په اوريدو سره پاڅيد او د خندق ټول کار کوونکي يې چې زر کسه وو له ځان سره ملګري کړل، ټول لاړل او د جابر (رضي الله عنه) ډوډۍ يې وخوړه، ټول ماړه شول، د غوښې ديګ همداسې ډک پاتې وۀ، اوړه همداسې پخپل حالت وو هيڅ شی هم نه وو کم شوي.(۱)

د نعمان بن بشير (رضي الله عنه) خور خندق ته راغله او يوه لپه خرما ورسره وه، غوښتل يې خپل پلار، او ماما ته يې ورکړي. کله چې رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) ته ورسيده، رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) ورته وفرمايل خرما دلته راوړه! خرما يې ورنه واخيستله او په چادر يې واچوله، بيا يې د خندق کار کوونکي راوبلل، ټول راغلل او دا خرماوې يې خوړلې، خرماوې همداسې زياتيدلې، ټول ماړه شول، خو خرماوې دومره زياتې پاتې وې چې د څادر له څنډو نه وتلې.(۲)

په همدې ورځو کې له دې دوو پيښو نه يوه بله لويه پيښه هم واقع شويده. بخاري له جابر (رضي الله عنه) نه روايت کوي وايي: مونږ په خندق کيندلو بوخت وو چې يوه سخته کلکه پرښه مخې ته راغله، اصحاب (رضي الله عنهم) د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) حضور ته ورغلل او ورته ويې ويل: په خندق کې سخته کلکه پرښه را پيدا شويده! رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) وفرمايل: پريږدئ زه پخپله ورکوزيږم، بيا پداسې حال کې پاڅيد چې په خيټه يې تيږه تړلې وه، او دا داسې وخت وۀ چې مونږ دری ورځې په څه شي څک هم نه وۀ وهلی، رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) کلنګ واخيست او په پرښه يې وار وکړ، په همدې ګوزار سره هغه سخته پرښه لکه ريګ داسې داني داني شوه.(۳)

حضرت براء (رضي الله عنه) وايي: د خندق ايستلو په دوران کې يوه داسې پرښه مخې ته راغله چې کلنګونو هيڅ اثر نه پرې کاوه، ورغلو او رسول الله (صلى الله عليه و اله و

---

(۱). صحيح البخاري ۲/ ۵۸۸ - ۵۸۹

(۲). ابن هشام ۲/ ۲۱۸

(۳). صحيح بخاري ۲/ ۵۸۸

صحبه و سلم) ته مو شکايت وکړ. رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) راغی کلنګ يې واخيست او ويې فرمايل: بسم الله او ګوزار يې وکړ، بيايې وفرمايل: (**الله أكبر، أعطيت مفاتيح الشام، والله إني لأنظر قصورها الحمر الساعة**). الله اکبر د شام د فتحې کليانی راکړې شوې، دا دی زه همدا اوس د هغه ځای سرې مانۍ وينم. بيا يې دوهم ګوزار وکړ، پرښه يې ماته کړه او ويې فرمايل: (**الله أكبر، أعطيت فارس، والله إني لأبصر قصر المدائن الأبيض الآن**). الله اکبر د فارس واک هم راکړل شو، قسم په خدای چې اوس د مدائن سپين قصر وينم. بيايې په بسم الله سره دريم ګوزار ورباندې وکړ او پرښه ټوله ميده شوه، ويې فرمايل: (**الله أكبر، أعطيت مفاتيح اليمن، والله إني لأبصر أبواب صنعاء من مكاني**).الله اکبر د يمن د فتحې کلياني راکړل شوې، قسم په خدای چې له همدې ځای نه د صنعاء دروازې ګورم.[1]

ابن اسحاق همدې ته ورته روايت له سلمان الفارسي (رضي الله عنه) نه رانقل کړيدی.[2]

د مدينې موقعيت څه داسې و چې له شمالي لوري پرته نورو ټولو خواوو ته يې د خرماوو باغونه، غرونه او ريګستاني پوښتې وې. رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) د يوه عسکري متخصص په حيث پدې ښه پوهيده چې د مشرکينو دا لوی لښکر پر مدينه باندې يوازې له شمالي لوري نه حمله کولی شي، او له همدې خوا نه ورباندې راتلی شي، په همدې اساس يې خندق د مدينې په شمالي خوا کې وکينده. مسلمانانو خندق کيندلو ته ادامه ورکړه، ټوله ورځ به يې کار کاوه مابنام به کورونو ته ستنيدل او مخکې لدينه چې د مشرکينو لوی او بې شميره لښکر مدينې ته را ننوځي دوی د خندق کار بشپړ کړی وۀ.[3]

د قريشو څلور زره کسيز لښکر د مدينې پولو ته راورسيد، د رومه سيمې زعابه او جرف په مينځ کې يې په مجتمع الاسيال (د سيلابي اوبو د يو ځای کيدو په محل)کې واړول. د غطفان، نجد او ملګرو يې شپږ زره پوځيان هم راغلل د احد په شرقي خوا کې يې په ذنب نقمي سيمه کې خيمې ودرولې. ((**وَلَمَّا رَأَى الْمُؤْمِنُونَ الأَحْزَابَ قَالُوا هَذَا مَا وَعَدَنَا اللَّهُ وَرَسُولُهُ وَصَدَقَ اللَّهُ وَرَسُولُهُ وَمَا زَادَهُمْ إِلاَّ إِيمَاناً وَتَسْلِيماً**)) (**الاحزاب:۲۲**) [او کله چې ولـيـدلې مؤمنانو لښکرې (د مشرکينو) نو وويل

---

[1]، سنن النسائی ۲/ ۵۶، احمد فی مسنده لفظ د نسائی ندی، په هغه کې راغلی: وعن رجل من الصحابه.

[2]. ابن هشام ۲/ ۲۱۹

[3] ابن هشام ۲/ ۳۳۰ - ۳۳۱

(مؤمنانو) دا هغه دی چې وعده کړې ده له مونږ سره الله او رسول د دغه (الله د نصرت) او ربنتیا ویلي و الله او رسول (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) ددغه (الله په وعده کې) او زیات نکړ دغو (لښکرو) د مشرکینو) مؤمنانو ته مګر ایمان او تسلیم (احکامو د الله ته).]

خو د منافقانو او کمزوري ایمان د خاوندانو حالت بیا بل څه ؤ، هغوی ددې لښکرو په لیدو سره ویرې واخیستل، الله تعالی د دوی حالت ته اشاره کوي فرمایي:

((وَإِذْ يَقُولُ الْمُنَافِقُونَ وَالَّذِينَ فِي قُلُوبِهِمْ مَرَضٌ مَا وَعَدَنَا اللَّهُ وَرَسُولُهُ إِلاَّ غُرُوراً)) (الاحزاب: ۲۲)

[او (یاد کړه هغه وخت) کله چې وویل: (ابن ابي، ابن قشر او نورو) منافقانو او (وویل) هغو کسانو چې په زړونو د دوی کې مرض (د نفاق) و چې نه ده وعده کړې له مونږ سره الله او رسول ددغه (الله په فتح د شام، یمن، پارس) مګر په غرور، تیر ایستلو سره.]

له مشرکینو سره د مقابلې پخاطر رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) له دری زره اصحابو (رضي الله عنهم) سره له مدینې نه راغی، شا یې د سلع غره ته وګرزوله او هملته یې سنګر ونیو خندق د دوی او مشرکینو تر منځ واقع ؤ شعار او شفر یې ((حم – لا ینصرون)) و.

ابن ام مکتوم یې په مدینه کې خلیفه وټاکه، ښځې او ماشومان یې د مدینې په کلاګانو او برجونو کې سره ټول کړل. کله چې مشرکینو پر مسلمانانو او مدینې باندې د یرغل تکل وکړ، ویې لیدل چې ډیر ژور او سورور خندق یې مخې ته دی، بله چاره یې ونه لیده د مسلمانانو د محاصرې په فکر کې شول. دا پداسې حال کې چې له مکې نه د روانیدو په وخت کې ورسره د محاصرې فکر او پلان نه ؤ. دوی دې ډول یوه اقدام ته تیاري نه درلوده، بلکه د دوی پخپله خبره دا خندق داسې یو چل او تاکتیک ؤ چې عربانو نه پیژانده او نه پرې پوهیدل، اصلاً یې د خندق فکر ذهن ته راغلی هم نه ؤ.

مشرکان به په ډیره غوسه د خندق په غاړه تاویدل، او هلته به یې د کمزورۍ او ضعف د نقطو پلټنه کوله، تر څو له همغې نه په استفادې سره اخوا تیر شي. مسلمانانو حالات څارل مشرکین یې تر کلکې څارنې لاندې نیولي وو، هغوی به یې په غشو ویشتل تر څو له خندق نه د تیریدو جرات ونکړي، نه به یې پرینبودل خندق ته ورلنډ شي، ځانونه پکې واچوي او یا یې په خاورو سره د ډکولو هڅه وکړي او ځانته لاره پکې جوړه کړي.

د قريشو ځينو جنګياليو دا نه شوای زغملی چې د محاصرې نتيجې او پايلې ته انتظار وباسي، او بې فايد د خندق په څنډو ولاړ وي، دا د دوی لپاره د زغم نه وه. همدا وه چې يوه ډله چې عمرو بن عبد ود، عکرمه بن ابي جهل، ضرار بن الخطاب او نور پکې وو راووتل، د خندق يوه تنګه نقطه يې انتخاب کړه او ورداخل شول، آسونه يې له خندق نه تير شول د خندق او سلع غره تر مينځ پدې ساحه کې يې وځغلول. حضرت علي (رضي الله عنه) له يو شمير مسلمانانو سره د دوی مقابلې ته را ووت او همغه ځای يې ورته ونيو له کوم نه چې دوی راتير شوي وو.

پدې وخت کې عمرو غږ وکړ چې څوک مقابلې ته تيار دي؟ حضرت علي (رضي الله عنه) ور وړاندې شو او داسې يوه خبره يې ورته وکړه چې عمرو له ډيرې غوسې نه له آس نه ورکوز شو، د آس پښې يې پرې کړې او پر مخ يې هم ګوزارونه ورباندې وکړل. عمرو د قريشو له ډيرو مشهورو غيرتي جنګياليو څخه شميرل کيده، دواړه سره مخامخ شول، يو پر بل يې د ګوزارونو هڅې کولې. بالاخره علي (رضي الله عنه) وتوانيد چې خپل دښمن (عمرو) له پښو وغورځوي او په هلاکت يې ورسوي، نورو مشرکينو د تيښتې لاره ونيوله او داسې ويرې اخيستې وو چې له عکرمه نه خپله نيزه هم پاتې شوې وه او له ميدان نه يې منډې وهلې.

څو ځله داسې هم شوي چې مشرکينو له خندق نه د تيريدلو سخت کوششونه کړيدي، ډيرې هڅې به يې کولې چې ځانته پکې لاره وموميږي، لکن مسلمانانو په ډيره ميړانه مقابله کوله په غشو به يې ويشتل او کلکه دفاع به يې کوله. د مسلمانانو د همت او شجاعت له برکته د مشرکينو ټولې هڅې ناکامې او شنډې شوې. مسلمانان په داسې کلکه او مسلسله مقابله بوخت وو چې له رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) او اصحابو (رضي الله عنهم) نه څو لمونځونه هم قضا شول. په بخاري او مسلم کې له جابر (رضي الله عنه) نه روايت دی وايي: د خندق د غزا په ورځ عمر (رضي الله عنه) راغی او مشرکينو ته يې بد رد ويل، بيا يې وويل: يا رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) ! نن مې په ډير مشکل سره د لمازديګر لمونځ د لمر پريوتو په وخت کې ادا کړ. رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) ورته وفرمايل: قسم په الله چې ما لا تر اوسه هم لمونځ ندی ادا کړی.

جابر (رضي الله عنه) زياتوي: بيا مونږ له رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) سره بطحان ته کوز شوو، هلته يې اودس وکړ مونږ هم اودسونه وکړل، بيا يې د لمازديګر لمونځ پداسې وخت کې راکړ چې لمر لويدلی وٴ، ورپسې يې د ماښام لمونځ

ادا کړ[1].

رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) د لمانځه د قضا کیدو له امله دومره خفه شو چې د مشرکینو لپاره یې بَنیرې وکړې. بخاري له علي (رضي الله عنه) نه روایت کوي وایي: رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) د خندق په ورځ وفرمایل:(**ملأ الله علیهم بیوتهم وقبورهم ناراً، کما شغلونا عن الصلاة الوسطي حتی غابت الشمس**).الله تعالی دې د مشرکینو کورونه او قبرونه له اور نه ډک کړي، هغه چې مونږ یې داسې مصروف وساتلو چې د لمازدیګر لمونځ مو دومره ناوخته شو چې له لمر پریوتو نه وروسته مو ادا کړ.[2]

په مسند امام احمد او امام شافعي کې روایت دی چې مشرکانو داسې سختې حملې کولې او مسلمانان یې دومره مصروف ساتلي وو چې د ماسپښین، لمازدیګر، مابنام او لماسختن ټول لمونځونه ورنه قضا شول، بیا وروسته یې ټول یو ځای ادا کړل. امام نووي وایي: ددې روایتونو تر مینځ جمع داسې کیدی شي چې خندق غزا خو څو ورځې وه، کیدای شي یوه ورځ یو لمونځ ورنه قضا شوی وي، او په بله ورځ ټول قضا شوي وي.[3]

لدینه دا خبره ثابتیږي چې مشرکینو څو ورځې مسلسل هڅه کوله له خندق نه تیر شي، او مسلمانان هم په مسلسله توګه په کلکه دفاع او مقابله بوخت وو. او څرنګه چې خندق د دواړو لوریو تر مینځ حایل و، نو مخامخ جګړه او خونړې نښته نده شوې، بلکه دواړو لوریو یو پر بل غشي ویشتل او له لیرې نه مقابله روانه وه. د غشو ویشتلو په نتیجه کې له دواړو لښکرو نه څو کسه ووژل شول، پدې جمله کې شپږ مسلمانان شهیدان شول او لس مشرکین په هلاکت ورسیدل. پداسې حال کې چې یوازې یو او یا دوه کسان په توره وژل شوي دي.

همدا راز پدې دوران کې سعد بن معاذ (رضي الله عنه) هم په غشي ولګید او د مټ لوی رګ یې پرې شو. نوموړی د قریشو د یوه تن چې حبان بن العرقه نومیده په غشي ولګید. پدې وخت کې سعد (رضي الله عنه) دعا وکړه خدایه! ته ښه عالم یې، چې زه له ټولو نه زیات له هغو کسانو سره جګړه خوښوم کوم چې ستا د رسول (صلی الله علیه

---

(1). صحیح بخاري ۲/ ۵۹۰

(2). همدا مصدر

(3). مختصر سیره الرسول (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) للشیخ عبدالله النجدي ص ۲۸۷ شرح مسلم للنووي / ۲۲۷

و اله و صحبه و سلم) تکذیب یې کړی او هغه یې له خپل کور نه په هجرت کولو مجبور کړی، اې الله! داسې ښکاري لکه چې زمونږ او دوی تر مینځ جګړه وروستي پراو ته رسیدلی وي، که چیرې له قریشو سره زمونږ د جګړې څه وخت پاته وي، نو خدایه، ما ورته ژوندی پریږده، تر څو زه ستا په لاره کې جهاد ورسره وکړم، او که له دوی سره جګړه دې پای ته رسولې وي، نو بیا دا زخم وشړوه او مرګ مې له همدې ټپ نه وګرزوه،(1). د دعا په پای کې یې وویل:اې خدایه! تر هغې پورې مې مه وژنه تر څو مې په بنو قریظه زړه نه وي یخ شوی.(2)

پداسې حال کې چې مسلمانان د جګړې په ډګر کې له دا ډول ستونزو سره لاس او ګریوان وو، د فریب او غدر لښکر لکه د زهرجنو مارانو په شان اوړیدل را اوړیدل، او زیار یې یوست چې مسلمانانو ته زیان ورسوي.

د بنو نضیر مشر او لوی مجرم روان شو، د بني قریظه م ې ن ې ته ورغی، هلته یې له کعب بن اسد قرظي سره چې د بني قریظه مشر ؤ ولیدل. بني قریظه له رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) سره دا عهد کړی ؤ چې که جنګ پیښیږي نو دوی به د مسلمانانو څنګ ته دریږي او مرسته به یې کوي. حیي ورغی د کعب دروازه یې وټکوله، کعب دروازه نه ورته پرانیستله، خو هغه اصرار کاوه تر څو چې دروازه یې ورته خلاصه کړله. حیي ورته وویل: ما تا ته همیشنی عزت او بې شمیره لښکرې راوستې دي، قریش، د هغوی مشران او مخور ټول مې درته راوستلي دي، هغوی اوس د رومه په مجمع الاسیال کې دي، ما غطفان او د هغوی مشران او رهبران ټول درته راوستلي دي، هغوی د احد په خوا په ذنب نقمي کې اړولي دي، دوې ټولو له مونږ سره دا عهد کړیدی چې تر هغې به په شا نه ځي تر څو یې محمد (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) او اصحاب (رضي الله عنهم) له مینځه نه وي وړي.

کعب ورته وویل: قسم په خدای چې تا عزت نه، بلکه ذلت راته راوړی، او داسې یو لښکر دې راوستلئ چې هغه وریځې ته ورته دی چې هیڅ اوبه نه وي پکې پاتې. هغه وریځ چې رعد او برق یې وي خو د باران درک یې نه وي، اې حیي! ستا په حال افسوس، ما پریږده، ما له محمد (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) نه له ربښتیا او وفاء نه پرته بل څه ندي لیدلي.

خو حیي همداسې لګیا وو په یوه او بله لار یې د کعب د قانع کولو کوښښ کاوه، تر څو دا عهد یې ورکړ ورته ویې ویل: د خدای په نامه دا عهد درسره کوم که چیرې

(1). صحیح بخاري ۳/ ۵۹۱
(2)ابن هشام ۲/ ۳۳۷

قريش او غطفان پدې ونه توانيدل چې محمد (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) له مينځه يوسي، او بيرته مکې ته ستانه شول، نو پدې صورت کې به زه ستا سره يو ځای ستاسې په کلا کې پاتې کيږم، او څه چې پر تا راځي هغه دې په ما هم راشي، پدې سره کعب بن اسد له رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) سره خپل ټرون مات کړ، او له مسلمانانو نه يې د دوستۍ پيمان بيرته واخيست، او د هغوی په خلاف د مشرکينو په خوا کې ودريدل.[1]

همدا وه چې د بني قريظه يهودو عملاً د مسلمانانو په خلاف جنګي عمليات پيل کړل. ابن اسحاق وايي: صفيه بنت عبدالمطلب (رضي الله عنها) د حسان بن ثابت (رضي الله عنه) په فارع نومي کلا کې وه، هلته له حسان سره د مدينې ماشومان او ښځې هم وې. صفيه (رضي الله عنها) وايي: يو يهودی زمونږ کوڅې ته راغی، تر کلا شاو خوا تاويده، دا هغه وخت وٴ چې بنو قريظه له رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) سره خپل ټرون مات کړی وٴ او د مسلمانانو په خلاف جګړې ته داخل شوي وو. له مونږ سره هيڅوک هم نه وو چې دفاع رانه وکړي، رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) او مسلمانان له دښمنانو سره په مقابله بوخت وو، که مونږ ته څه مشکل پيدا کيدلې، هغوی مو مرستې ته نه شوای راتللی. صفيه (رضي الله عنها) زياتوي: حسان ته مې وويل: حسانه! دا يهودی خو وينې چې له کلا نه د باندې ګرزي، قسم په خدای زه فکر کوم چې غواړي زمونږ خبر نورو يهودانو ته يوسي، رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) او اصحاب (رضي الله عنهم) خو هلته مشغول دي، ته ورشه او دا يهودی ووژنه. حسان وويل: ته خو ښه پوهيږې، چې زه ددې کار لپاره تيار او مناسب نه يم. صفيه (رضي الله عنها) وايي: همدا وه چې ما خپله ملا وټړله او يو کوتک مې راسره واخيست، ورکوزه شوم پر هغه کوتک يا ستنه چې راسره وه يو سخت ګوزار مې پرې وکړ او يهودی مې وواژه، بيرته کلاته راغلم. حسان ته مې وويل: اوس ورشه او له هغه نه يې وسله را واخله، ځکه ما لاس ورنه ووړ. حسان (رضي الله عنه) راته وويل: زه دده وسلې او سامان ته هيڅ ارتيا نلرم.[2]

---

[1]. ابن هشام ۲/ ۲۲۰ - ۲۲۱

[2]. ابن هشام ۲۲۸/۲ . لدې حديث نه داسې معلوميږي چې حسان (رضي الله عنه) بې زړه او ډارن و، خو يو شمير علماوو ددې ځواب ويلی او دا حديث يې منکر بللی ځکه سند يې منقطع دی، او که حديث صحيح وي، نو د حسان هجوه ورنه څرګنديږي، پدې صورت کې ځواب دا دی چې کيدای شي هغه ورځ به حسان ناروغ و. زه دا تر ټولو غوره تاويل بولم.

پدې ډول سره د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) عمه حضرت صفيې (رضي الله عنها) داسې يوه عظيمه کارنامه تر سره کړه چې د مسلمانانو د ميرمنو او اولادونو د ساتنې سبب شوه، يهودانو داسې ګمان وکړ چې ګويا يو شمير مسلمانان لدې کلاګانو او برجونو نه ساتنه کوي. پداسې حال کې چې اصلاً دا ټول خالي وو، هيڅوک هم دلته موجود نه وو. همدا يو جراتمندانه اقدام ددې سبب شو چې يهودانو بيا دې ډول اقدام ته زړه ښه نه شواى کړى. خو په عملي توګه يې له مشرکانو سره مرسته کولــه کومکي مواد يې ور استول، او له همدې کومکي موادو نه مسلمانانو يو ځل شل اوښان ونيول.

کله چې دا خبر رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) او مسلمانانو ته ورسيد، نو د خبر د تحقيق او د بني قريظه د دريځ معلومولو پخاطر يې سعد بن معاذ، سعد بن عباده، عبدالله بن رواحه، او خوات بن جبير (رضي الله عنهم) هغوى ته واستول او ورته يې فرمايل: (**انطلقوا حتى تنظروا أحق ما بلغنا عن هؤلاء القوم أم لا ؟ فإن كان حقاً فالحنوا لي لحناً أعرفه، ولا تَفُتُّوا في أعضاد الناس، وإن كانوا على الوفاء فاجهروا به للناس**). لاړ شئ او وګورئ چې دا خبر رښتيا دى او که نه؟ که فرضاً خبره رښتيا وه يعنې هغوى له مونږ سره خپل ټرون مات کړى او له قريشو سره يې ټرون کړى وٴ نو خبره پــه رمــوز کښې وکړئ، داسې څه راته ووايئ چې يوازې زه پرې پوه شم، خبره ټولو خلکو ته مه اعلانوئ، او که فرضا هغوى تر اوسه پورې له مونږ سره وفادار پاتې شوي وو، عهد يې نــه و مــات کړئ، نو بيا يې ټولو خلکو ته اعلان کړئ. پلاوى چې ورلنډ شو نو له يهودو نه يې دومره بده معامله وليده چې ګمان يې هم نه کيده. فوراً يې د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) په شان کې ګستاخي وکړه د هغه پلاوي ته يې بد رد وويل. په ډيره بې شرمۍ سره يې ورته وويل: رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) څوک دى؟ زمونږ او محمد (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) تر مينځ هيڅ ټرون نشته. ځئ بيرته لاړ شئ. هيئت همداسې ورنه روان شو او کله چې د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) حضور ته ورسيدل، نو په شفر کې يې ورته وويل: (عضل و قاره) يعنې بنو قريظه هم داسې غدر کړيدى لکه څرنګه چې د عضل او قاره خلکو له اصحاب الرجيع سره کړى وٴ.

که څه هم کوشش وشو چې خبره پټه وساتل شي، خو اصحاب (رضي الله عنهم) په حقيقت پوه شول او د لوى خطر احساس يې وکړ. دا د مسلمانانو لپاره تر ټولو سخته

شيبه وه، د دوی او بنو قريظه تر مينځ هيڅ حايل نه وٴ، هغوی هر وخت کولی شوای پر مسلمانانو د شا له خوا نه برید وکړي. دا هم په داسې وخت کې چې مخې ته يې د مشرکينو داسې يو لوی لښکر پروت وٴ چې يوه لحظه يې هم له سترګو نه شوای پناه کولی. د مسلمانانو پر ماشومانو او ميرمنو د يهودو د برید د مخنيوي لپاره څوک نه وو، ټول مسلمانان ډير غمجن وو، د دوی دغه حالت قرانکريم داسې تر سيموي او فرمايي: ((وَإِذْ زَاغَتْ الأَبْصَارُ وَبَلَغَتْ الْقُلُوبُ الْحَنَاجِرَ وَتَظُنُّونَ بِاللَّهِ الظُّنُونَا (١٠) هُنَالِكَ ابْتُلِيَ الْمُؤْمِنُونَ وَزُلْزِلُوا زِلْزَالاً شَدِيداً)) (الاحزاب: ١٠- ١١)

[او کله چې کړې خړې شوې سترګې (له ډيرې ويرې) او ورسيدل زړونه بيخونو د مريو ته (له ډيره خوفه) او ګمانونه وکړل تاسو پر الله راز راز ګمانونه، پدې وخت کې وازمويل شول مؤمنان (له منافقانو څخه) او وخوځول شول په خوځولو سختو سره (له ډيرې ويرې).]

دلته يو ځل بيا د ځينو منافقينو نفاق څرګند شو او ويې ويل: محمد (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) مونږ ته د کسرې او قيصر د خزانو وعده راکوي، خو نن مونږ حتى نه شو کولی د قضاء حاجت لپاره د باندې ووزو! ځينې منافقين خو راغلل او دروغ بهانې يې جوړې کړې چې زمونږ په کورونو کې څوک نشته، يا رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) مونږ ته اجازه راکړه چې خپلو کورونو ته لاړ شو! زمونږ کورونه له مدينې نه د باندې واقع دي، تر زيات خطر لاندې دي! په بنو سلمه کې هم بالکل ماتې ګډه شوه، د همدوی په هکله الله تعالى دا آيتونه نازل کړل: ((وَإِذْ يَقُولُ الْمُنَافِقُونَ وَالَّذِينَ فِي قُلُوبِهِمْ مَرَضٌ مَا وَعَدَنَا اللَّهُ وَرَسُولُهُ إِلاَّ غُرُوراً (١٢) وَإِذْ قَالَتْ طَائِفَةٌ مِنْهُمْ يَا أَهْلَ يَثْرِبَ لا مُقَامَ لَكُمْ فَارْجِعُوا وَيَسْتَأْذِنُ فَرِيقٌ مِنْهُمْ النَّبِيَّ يَقُولُونَ إِنَّ بُيُوتَنَا عَوْرَةٌ وَمَا هِيَ بِعَوْرَةٍ إِنْ يُرِيدُونَ إِلاَّ فِرَاراً)) (الاحزاب : ١٢- ١٣)

[او (ياد کړه هغه وخت) کله چې وويل (ابن ابي، ابن قيشر او نورو) منافقانو او (وويل) هغو کسانو چې په زړونو د دوی کې مرض (د نفاق) و چې نه ده وعده کړې له مونږ سره الله او رسول ددغه (الله په فتح د شام، يمن، پارس) مګر په غرور، تير ايستلو سره. او کله چې وويل يوې طايفې له دغو (منافقانو) چې اې اهل د يثربه (مدينې) نشته ځای (د هستوګنې) تاسې ته پس بيرته وګرځئ او اذن (د بيرته تللو) غواړي يو فريق ډله له دوی له نبي نه وايي (بنو حارثه او بنو سلمه) چې بيشکه کورونه زمونږ تش پراته دي

(له سړيو) حال دا چې ندي تش پراته کورونه د دوی نه لري اراده دوی (په دغه تګ سره) مګر د تيښتې (له جنګه).]

رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) ته چې د بنو قريظه د غدر خبر راغی، نو خپل مبارک سر او مخ يې په چادر کې پټ کړ وغزيد، څه ځنډ يې وکړ. اصحابو (رضي الله عنهم) چې دا حالت وليد نور هم پريشانه شول. په همدې وخت کې د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) په زړه کې د هيلې او اميد نوې څپه راغله، را پاڅيد د الله اکبر ناره يې وکړه، ويې وفرمايل: (**الله أكبر، أبشروا يا معشر المسلمين بفتح الله ونصره**).مسلمانانو! د الله تعالی له لوري د بري او فتحې مبارکي درکوم. بيا يې پيل وکړ له حالاتو سره د مقابلې په فکر کې شو، په عملي اقداماتو يې لاس پورې کړ، يوه جامعه طرحه يې جوړه کړه. د همدې طرحې په اساس به يې يوه ډله وسله وال کسان مدينې ته وليږل تر څو په ماشومانو او کورونو برید ونه شي. د وخت غوښتنه دا وه چې بايد يو داسې اقدام وشي چې د مشرکانو لېکې درې وړې کړي. د همدې غرض پخاطر رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) اراده وکړه د غطفان قبيلې له مشرانو عيينه بن حصن او حارث بن عوف سره مصالحه وکړي. هغوی ته يې وړاندیز وکړ چې که دوی بيرته ستانه شي او خپل قوم له ځان سره بوزي، نو په بدل کې به ورته د مدينې د ميوې دريمه برخه ورکړل شي. دوی ته دا وړاندیز وشو چې تاسو لاړ شئ، قريش يوازې پرېږدئ تر څو مونږ حساب ورسره وکړو. پدې وړاندیز څه خبرې وشوې، رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) له سعدينو (سعد بن معاذ او سعد بن عباده (رضي الله عنهما)) سره مشوره وکړه. هغوی دواړو ورته وويل: يا رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم)! که چيرې الله تعالی دا امر درته کړی وي، نو په سترګو مو منلی، او که دا ستا له خوا زمونږ د نجات لپاره يوه هڅه وي، نو بيا عرض دا دی چې د جاهليت او بت پرستۍ په زمانه کې هم هغوی په زور سره زمونږ ميوې ندي خوړلې، هغه وخت يې د مدينې يوازې هغه ميوې خوړلې دي چې يا يې اخيستې او يا چا په ميلمستيا کې ورکړې دي، اوس چې الله په اسلام مشرف کړو، هدايت يې راته وکړ، او د ستاسو په وجود سره يې عزت راوبښلو، نو بيا ولې دا ميوې ورکړو؟ قسم په الله چې له توري پرته به هيڅ ورنکړو. رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) هم د دوی رايه غوره وبلله او ورته ويې فرمايل: (**إنما هو شيء أصنعه لكم لما رأيت العرب قد رمتكم عن قوس واحدة**).دا زما طرحه وه ما ددې پخاطر وړاندې کړې وه چې له خطر نه مو وژغورم ځکه ما ليدل چې عرب ټول ستاسې په

خلاف دريدلي دي. بيا الله تعالى د خپل رحمت له مخې داسې کار برابر کړ چې د دښمنانو د ماتې، رسوايۍ او بيلتون سبب شو، غرور يې مات او مستي يې له مينځه لاړه. او دا کار داسې وشو چې د غطفان قبيلې يو شخص چې نعيم بن مسعود بن عامر الاشجعی (رضي الله عنه) نوميده رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) ته راغی عرض يې وکړ: يا رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم)! زه مسلمان شوی يم، خو قوم مې راباندې خبر ندی، امر راته کوه څه وکړم؟ رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) ورته وفرمايل:((**انما انت رجل واحد،فخذل عنا ما استطعت فان الحرب خدعة**)). ته يو کس يې، دښمن چې په هرې طريقې سره له مونږ نه دفع کولی شي، هغه وکړه، ځکه جګړه چل دی. نعيم فوراً بني قريظه ته ورغی، له دوی سره يې له پخوا نه ښې اړيکې درلودې، ورغی او ورته ويې ويل: تاسو خو پدې پوهيږئ چې زه له تاسو سره څومره مينه لرم، زمونږ او ستاسې اړيکې ډيرې نژدې دي. دوی ورته وويل: پدې کې خو شک نشته. ده ورته وويل: ګورئ قريش خو ستاسې په شان ندي، دا وطن ستاسې دی، ستاسې مالونه ، ښځې، اولادونه او ټول شيان همدلته دي، دا خو امکان نلري چې دا ټول پريږدئ او بل ځای ته کوچ وکړئ ، قريش او غطفان چې له رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) سره د جګړې په نيت راغلي، دا دی تاسې له هغوی سره مرسته کوئ، د هغوی اولادونه، مالونه او ښځې ټول پخپل وطن کې دي که فرصت ورته برابر شو بريالي شول نو ښه، او که نه نو ولاړ به شي، تاسې به محمد (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) ته يوازې پريږدي! دوی ورته وويل: نو څه کول په کار دي يا نعيم! ده ورته وويل: تر هغې پورې په جګړه کې مرسته مه ورسره کوئ تر څو مو ورنه څه کسان ګرو نه وي اخيستې. دوی دده رايه خو ښه کړه او ويې ويل: ښه مشوره دې راکړه.

بيا نعيم سيخ قريشو ته ورغی او ورته ويې ويل: پدې خو پوه ياستئ چې زه ستاسې سره ډيره مينه او همدردي لرم. دوی وويل: بيشکه ته زمونږ دوست يې، ده وويل: د بني قريظه يهود له رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) سره پخپل عهد او ټرون ماتولو پښيمانه شوي، هغوی له رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) سره بيا رابطه ټينګه کړې، او دا وعده يې ورسره کړيده چې دوی به له تاسې نه ځينې کسان ګرو اخلي او بيا به يې محمد (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) ته سپاري، او پدې سره به له هغه سره خپله دوستي ټينګوي، که فرضاً يهودو له تاسو نه د څه

کسانو د ګرو کولو غوښتنه وکړه، نو مه یې منئ او ګروګان مه ورکوئ. بیا له دوی نه لاړ او غطفان ته ورغی، هغوی ته یې هم همداسې خبره وکړه. کله چې د پنځم هجري کال د شوال میاشتې د هفتې ورځ را ورسیدله، قریشو بني قریظه ته احوال ولیږه، چې مونږ خو دلته مسافر یوو، پخپل وطن کې نه یوو، اوښان او آسونه مو مري، راځئ زمونږ مرسته وکړئ تر څو په محمد (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) برید وکړو. یهودو ځواب ورواستاوه چې نن خو د هفتې ورځ ده، تاسې خو خبر یئ چې پدې ورځ زمونږ د شریعت له حکم نه سرغړوونکو ته کومه سزا ورکړل شوې ده، په هر حال مونږ تر هغې پورې ستاسې په ګټه په جګړه کې برخه نه اخلو تر څو پورې مو مونږ ته څو کسان د یرغمال په توګه نه وي را کړي. د قریشو قاصد چې دا خبر راوړ، قریشو او غطفان یو بل ته وویل چې قسم په الله نعیم رښتیا ویلي وو. فوراً یې یهودو ته خبر ولیږه چې قسم په خدای که یو کس هم یرغمال درکړو، راځئ چې په ګډه پر محمد (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) حمله وکړو. قریظه ددې خبر په اوریدو سره وویل: نعیم رښتیا راته ویلي او په همدې طریقې سره د یهودو او مشرکینو تر مینځ بې اتفاقي او نفاق را مینځته شو، ارادې یې سستې او حوصلې یې ټیټې شوې. مسلمانانو خپل رب ته زاري او سوالونه کول او ویل به یې: (**اللهم استر عوراتنا وآمن روعاتنا**).اې الله! ته زمونږ پرده وکړې، له خطراتو نه مو په امن وساتې. رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) د مشرکینو په حق کې بنیري کولې، او له الله (جل جلاله) نه یې د هغوی د ماتې سوالونه کول فرمایل یې:(**اللهم منزل الکتاب، سریع الحساب، اهزم الأحزاب، اللهم اهزمهم وزلزلهم**).اې د قرآنکریم نازلونکیه ربه! اې په چټکۍ سره حساب کونکیه! ته د مشرکینو دا ټولی مات کړې، خدایه دوی ته شکست او ماتې ورکړې او ویې لړزوې.[1]

الله تعالی د خپل رسول (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) او مسلمانانو سوالونه قبول کړل، وروسته له هغې چې د مشرکینو، یهودو او مشرکینو تر مینځ نفاق او درز پیدا شو، الله تعالی داسې باد ورباندې مسلط کړ چې خیمې یې ورته پورته کړې، دیګونه یې ورته چپه کړل، د خیمو تناوونه یې له بیخه راوایستل، هیڅ شی یې په امن نه وو. همدا راز الله تعالی د ملایکو لښکر هم وروا‌ستاوه، مشرکین یې ولړزول او په زړونو کې یې ویره او رعب ور واچاوه. رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم)

---

[1]. صحیح البخاري، کتاب الجهاد ۱/ ۴۱۱. کتاب المغازي ۲/ ۵۹۰

په همدې سخته سړه شپه کې حذيفه بن اليمان د مشرکينو ميځ ته وروانستاوه تر څو د هغوی په هکله معلومات راوړي. حذيفه (رضي الله عنه) ورغی او ويې ليدل چې د مشرکينو هر څه په بل مخ چپه دي ټولو د بيرته تلو تياري پيل کړې. همدا احوال يې د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) حضور ته وړاندې کړ. او چې سهار شو، رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) وليدل چې الله (جل جلاله) يې دښمنانو ته ماتې ورکړې، او پداسې حال کې بيرته تللي چې د الله تعالى له قهر او غضب نه پرته يې هيڅ هم لاسته ندي راوړي. او په همدې سره الله تعالى خپله وعده ريښتونې کړه، خپل لښکر (مسلمانانو) ته يې عزت ورکړ، د خپل بنده (محمد (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم)) مرسته يې وکړه، او ټولو مشرکينو ته يې ماتې ورکړه، په پاې کې رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) بريالی مدينې ته ستون شو.

د خندق غزا په صحيح روايت سره د هجرت په پنځم کال د شوال په مياشت کې وه. مشرکينو تقريباً يوه مياشت رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) او اصحاب (رضي الله عنهم) محاصره کړي وو. له رواياتو داسې ښکاري چې د محاصرې پيل د شوال په مياشت او په ذي القعدې کې پاې ته رسيدلی ؤ. ابن سعد وايي چې رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) له خندق نه د چارشنبې په ورځ چې د ذي القعدې يوازې اوه ورځې پاتې وې مدينې ته ستون شو.

د خندق غزا د تلفاتو جګړه نه وه، بلکه دا د اعصابو جنګ ؤ، که څه هم پدې غزا کې سختې نښتې ندي شوې، خو بيا هم د اسلامي تاريخ له پريکنده جګړو څخه شميرل کيږي. پدې جګړه کې مشرکينو ماتې وخوړه، حوصلې يې پريوتې. ددې غزا په ترڅ کې دا په اثبات ورسيدله چې د عربو هيڅ ځواک هم ددې توان نلري چې په مدينه کې مخ په وده وړوکی قوت له مينځه يوسي. ځکه ټولو وليده چې عربان ټول په پوره شور او ځواک سره راغلي وو، خو هيڅ يې هم ونه شوای کړی، همدا وجه وه کله چې احزاب د الله تعالى په امر له مدينې نه ستانه شول، رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) وفرمايل: اوس به مونږ ورباندې حملې کوو، نور به دوی راباندې حملې نه کوي، مونږ به ورپسې ورځو.[1]

---

[1]. صحيح بخاري ۲/ ۵۹۰

د بني قريظه غزا

په هماغه ورځ چې رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) بیرته مدینې ته تشریف راوړ، ماسپښین جبریل (علیه السلام) پداسې حال کې ورته راغی چې رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) د ام سلمه (رضي الله عنها) په کور کې غسل کاوه، ورته ویې ویل: ایا تا خپله وسله اېښې ده؟ ملایکو خو تر اوسه وسلې ندي اېښې او زه همدا اوس د دوی (مشرکانو) له تعقیب نه راوګرځیدم، لاړ شه له خپلو اصحابو (رضي الله عنهم) سره د بني قریظه په لور لاړشه، زه له تا نه مخکې ور روان یم، کلا ګانې یې ورباندې لړزوم، په زړونو کې یې ویره اچوم . ورپسې جبریل (علیه السلام) له ملایکو سره روان شو.

رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) امر وکړ چې ټولو ته دا اعلان وشي: څوک چې امر قبلونکی وي باید د لمازدیګر لمونځ بني قریظه ته ورسوي. عبدالله بن ام مکتوم یې د مدینې والي وټاکه، بیرغ یې علي (رضي الله عنه) ته ورکړ، او د بني قریظه په لور یې واستاوه. علي (رضي الله عنه) لاړ او کله چې د بني قریظه کلا ګانو ته ورلنډ شو د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) په هکله یې له یهودو نه نا مناسبې خبرېګ واوریدلې.

رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) د انصارو او مهاجرینو (رضي الله عنهم) له یوه ټولي سره روان شو، مخکې لاړ او د بني قریظه له (انا) نومې ځاه سره تم شو. مسلمانانو ټولو د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) د امر تعمیل وکړ، فوراً روان شول، دوی په لاره کې وو چې د لمازدیګر د لمانځه وخت را ورسید ، ځینو وویل: امر راته شوی چې لمونځ باید په بني قریظه کې وکړو، له همدې ډلې نه ځینو د لمازدیګر لمونځ ان له ماسختن نه وروسته ادا کړ، نورو اصحابو (رضي الله عنهم) وویل چې د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) هدف دا ؤ چې په بیړه لاړ شو نه دا چې لمونځ له هغه ځای پرته بل ځای ادا نکړو، نو هغوی همدلته د لارې په اوږدو کې لمونځ وکړ. وروسته رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) یوې ډلې ته هم عتاب ونکړ او ملامتي یې ورباندې ونه ویله (ځکه دواړو د خپل اجتهاد پیروي کړې وه). پدې ډول مسلمانان أالې أالې د بني قریظه په لور لاړل، ټول له رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) سره یو ځای شول. د ټولو شمیره

دری زره وه، ورسره ديرش آسانونه هم وو. لاړل د بني قريظه له کلا ګانو نه راتاو شول او محاصره يې کړل، کله چې د محاصرې کړې تنګه شوه، کعب بن اسد چې د بني قريظه رئيس وٴ، خپل قوم ته دری وړاندیزونه وړاندې کړل او ورته ويې ويل:

اې زما قومه! يا اسلام راوړئ او د محمد (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) دين ومنئ تر څو مالونه، ويـنځې، اولادونه او ښځې ټول مو په امن شي، او زياته يې کړه: قسم په الله چې ښه درته څرګنده او ثابته شويده چې محمد (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) د الله تعالی رسول (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) دی، او تاسې پخپل کتاب کې دده ذکر ليدلی دی.

دوهم وړاندیز دا دی، که ايمان نه راوړئ نو لومړی خپل اولادونه او ښځې ټول ووژنئ، بيا د رسول الله (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) مقابلې ته ووزئ او تر هغې ورسره وجنګيږئ تر څو يا وربانديې برلاسي شئ، او يا ټول له مينځه لاړ شئ.

او دريم دا چې د هفتې په ورځ ټول پر رسول الله (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) او اصحابو (رضي الله عنهم) يې حمله وکړی، دا ځکه چې د هفتې په ورځ به هغوی دا فکر کوي چې يهود خو نن برید نه کوي، پدې ورځ جګړه نه راسره کوي، اغفال به شي.

بنو قريظه د خپل مشر يوه خبره هم ونه منله، دری واړه يې رد کړې، نو کعب بن اسد په ډير قهر او غوسه ورته وويل: په تاسې کې د فيصلې او پريکنده خبرې سړی نشته، کله مو هم د عقل مندی کار ندی کړئ.

وروسته له هغې چې بنې قريظه د سعد دری واړه وړاندیزونه ونه منل، نو مجبور وو چې د رسول الله (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) امر ته يې غاړه ايښې وئ، خو دا يې غوره وګڼله چې لومړی بايد له هغو مسلمانانو نه چې د دوی ملګري دي پدې هکله پوښتنه وکړي، تر څو پوه شي که د رسول الله (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) امر ته غاړی کيږدي نو څه به ورسره کيږي؟ هماغه وه چې رسول الله (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) ته يې خبر وليږه چې ابو لبابه راته راوليږه تر څو مشوره ورسره وکړو! ابو لبابه له دوی سره تړون درلود، کورنۍ او مالونه يې د دوی په سيمه کې وو. کله چې ابو لبابه ورغی، ټول ورته راپاڅيدل، ښځو او ماشومانو ژړل، ددې حالت په ليدو سره د ابو لبابه زړه پرې وسوځيد. ټولو يهودانو ورته وويل: ابو لبابه! آيا دا مشوره را کوې چې رسول الله (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) ته تسليم شو؟ ده ورته وويل: هو: خو لاس يې په غاړه راکش کړ، مطلب يې دا وٴ که تسليم شي نو مرۍ به مو پرې شي، حلال به کړی شئ. په همدې حالت کې متوجه او پوه شو چې پدې عمل

سره د الله (جل جلاله) او رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) په حق کې د خیانت مرتکب شویدی، فورا روان شو، رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) ته هم ورنغی، سیخ نبوي جومات ته لاړ، ځان يې په يوې ستنې پورې وتاړه، او قسم يې ياد کړ تر څو چې رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) پخپل لاس نه وي خلاص کړئ، ځان به خوشی نکړي، همداسې به تړلی وي. او بله يې دا ژمنه وکړه چې بیا به تر ابده د بني قریظه سیمې ته نه ورځي. کله چې رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) خبر شو، نو ويې فرمایل: (**أما إنه لو جاءني لاستغفرت له، أما إذ قد فعل ما فعل فما أنا بالذي أطلقه من مكانه حتى يتوب الله عليه**).که ابو لبابه ماته راغلی وای، نو مغفرت به مې ورته غوښتی وای، خو اوس يې چې ځان تړلئ، نو تر هغې پورې يې نه خلاصوم تر څو يې چې الله تعالی توبه نه وي قبوله کړې. د ابو لبابه له دغه مشورې سره سره بني قریظه د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) امر ته تسلیم او سلامي شول. یهودو د اوږدې محاصرې تاب او توان هم درلود ځکه ښه ډیر خوراکي مواد، اوبه هر څه ورسره وو، کلا ګانې يې ښه مضبوطې وې، په مقابل کې مسلمانان په خالی میدان کې وو، له لوږې او یخنۍ سره مخ وو، ستړیا خو يې دومره وه چې اندازه يې ګرانه ده. خو دا جګړه هم د اعصابو جګړه وه، الله تعالی د یهودو په زړونو کې ویره واچوله، حوصلې يې ټيټې شوې. په همدې وخت کې علي (رضي الله عنه) او زبیر (رضي الله عنه) ورمخکې شول، علي (رضي الله عنه) چیغه وکړه: اې د ایمان لښکره! قسم په خدای چې یا به د حمزه (رضي الله عنه) په شان شهید شم او یا به دا کلا فتحه کړم. د همدې آواز له اوریدو سره یهود د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) په وړاندې سلامي شول.

رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) امر وکړ چې نارینه یهودان دې بندیان شي، د همدې امر په اساس د محمد بن مسلمه انصاري (رضي الله عنه) تر مراقبت لاندې د هغوی په لاسونو کې زولنې واچول شوې، ښځې او ماشومان بیل ځای ته یووړل شول. د اوس قبیلې خلک رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) ته ورغلل عرض يې وکړ یا رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم)! تا زمونږ د وروڼو خزرج له حلیفانو (بني قینقاع) سره هسې ښه معامله وکړه، دا بني قریظه زمونږ حلیفان او دوستان دي له دوی سره هم ښه وکړه. رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) ورته وویل:(**ألا ترضون أن يحكم فيهم رجل منكم؟**) **قالوا: بلي. قال:** (**فذاك إلى سعد بن معاذ**). آیا تاسې پدې خوښ یاستئ چې ستاسې یو شخص د دوی

په هکله فيصله وکړي؟ دوې وويل: هو. رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) وفرمايل: دا فيصله دې سعد بن معاذ (رضي الله عنه) وکړي. دوی وويل: بالکل سيي ده. ټول پرې راضي يو.

رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) مدينې ته خبر وليږه چې سعد بن معاذ (رضي الله عنه) دې را حاضر شي. نوموړی د احزاب په غزاکې ټپي شوی او د مټ رګ يې پرې شوی ؤ، او له همدې امله په مدينه کې پاتې ؤ. کله چې د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) خبر وروسيد، نو په خره باندې سپور شو او پداسې حال کې د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) په لور روان شو چې د قوم خلک يې يوې او بلې خوا ته روان وو ورته ويل يې: سعده! له خپلو حليفانو سره ښه وکړه، رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) ته ددې لپاره حکم ګرزولی يې چې د دوی په هکله نرمه او غوره فيصله وکړي! سعد (رضي الله عنه) د دوی خبرې اوريدلې، څه يې نه ويل، خو کله چې دوی ډير اصرار وکړ نو ده ورته وويل: اوس هغه وخت رارسيدلی دی چې سعد د الله (جل جلاله) پخاطر د هيچا پروا ونه ساتي. خلکو چې دا خبره واوريده يو شميږ له همدې ځايه ورنه وګرځيدل، يو له بل سره يې غمشريکي وکړه او خفګان يې څرګند کړ.

کله چې سعد (رضي الله عنه) د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) حضور ته ورلنډ شو، اصحابو ته يې امر وکړ چې: (**قوموا إلى سيدكم**). خپل مشر ته پاڅيږئ! خلک پاڅيدل او سعد (رضي الله عنه) يې له خره نه راکوز کړ او ورته ويې ويل: سعده! بني قريظه ستا حکم او فيصلې ته تسليم شوي. ده وويل: آيا زما فيصله پر دوی نافذه ده؟ دوی ورته وويل: هو. ده وويل: آيا مسلمانان به هم زما حکم مني؟ دوی ورته وويل: ولې نه. بيايې ويل: ايا زما فيصله هغه چاته هم د منلو وړ ده چې دلته تشريف لري؟ او د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) خوا ته يې د تکريم او تعظيم په دود اشاره وکړه. رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) وفرمايل: (**نعم، وعلي**). هو. زه هم ستا فيصله منم. سعد وويل: نو زما فيصله دا ده چې نارينه يې بايد ووژل شي، اولادونه او ښځې زوزاده يې دې اسيران کړی شي او مالونه يې دې وويشل شي. رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) ددې فيصلې په اوريدو سره وفرمايل: (**لقد حكمت فيهم بحكم الله من فوق سبع سموات**). تا د دوی په هکله هغه فيصله وکړه کومه چې الله تعالى له اوو آسمانو پاس کړې وه.

د بني قريظه په هکله د سعد (رضي الله عنه) حکم ډير عادلانه او په انصاف ولاړ و، ځکه دوی نه يوازې له مسلمانانو سره غدر او خيانت کړی ؤ بلکه د مسلمانانو د له مينځه وړلو لپاره يې ۱۵۰۰ توري، دوه زره نيزې، ۳۰۰ زغرې او ۵۰۰ ډالونه هم تيارکړي وو او دا ټول شيان له فتحې وروسته مسلمانانو غنيمت کړل.

د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) په امر سره د بني قريظه ټول افراد د بني النجار قبيلې د بنت الحارث نومې ښځې په کور کې بنديان شول هلته د مدينې په بازار کې ورته کندې وايستل شوې، وروسته دوی ډلې، ډلې ورته راوستل کيدل او هملته به يې سرونه پرې کيدل. په همدې حالت کې يوه يهودي خپل مشر کعب بن اسد ته وويل: څه فکر کوې له مونږ سره به څه معامله کيږي؟ ده ورته وويل: تاسې هيڅرته هم له عقل نه کار نه اخلئ،نه ګورئ چې بلونکي نه دريږي؟ او څوک چې ځي بيرته نه راستنيږي، قسم په خدای چې زمونږ سرنوشت (برخليک) مرګ دی. پدې ترتيب سره د بني قريظه د شپږو يا اوه سوه کسانو سرونه قلم شول.

ددې فيصلې په تنفيذ سره د غدر او خيانت جرړې له بيخه وتلې، او هغه خاينان پخپله سزا ورسيدل کوم چې ټرون يې مات کړی و، او په ډير سخت وخت کې يې د مسلمانانو د تباهۍ په نيت له مشرکينو سره لاس يو کړی و، او پدې عمل او کړو سره د هغو جنګي مجرمينو په ډله ورګډ شوي وو کوم چې د محاکمې او اعدام وړ دي.

دلته له دوی سره د بني نضير قبيلې لوی شيطان او د احزاب جګړې لوی مجرم حيي بن اخطب هم ووژل شو نومورې د ام المؤمنين صفيه (رضي الله عنها) پلار ؤ. هغه وخت چې قريش او غطفان د جګړې له ډګر نه په شا شول، نو حيي راغی او له بني قريظه سره يو ځای پاتی شو، خپله هغه وعده يې پوره کړه چې د جګړې په دوران کې يې له کعب بن اسد سره کړې وه. ده هغه وخت کعب ديته اړ ايستلی ؤ چې له رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) سره خپل ټرون مات کړي او له مشرکينو سره يو ځای د هغه په خلاف په جګړه کې برخه واخلي او په مقابل کې يې دا ورته ويلي و چې زه به تر آخره درسره وم. همداسې يې وکړل له بني قريظه سره يو ځای اسير شو، او کله چې د وژلو لپاره راوستل شو، چپنه يې په غاړه وه خو سوری سوری کړی يې وه تر څو څوک ورنه ګټه وانخلي، راوستل شو لاسونه يې له غاړې سره ټرل شوي وو. رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) ته يې وويل: ستا سره په دښمنۍ پښيمانه نه يم، خو بری او غلبه د خدای په لاس کې ده، بيا يې زياته کړه: اې خلکو! همدا به د الله امر ؤ، همدا به ليکل شوي او همدا مو تقدير و، الله تعالی بني اسرائيلو ته وژل مقرر کړي ؤ، ورپسې کيناست او همدلته يې سر پرې شو.

پدې پیښه کې له یهودو نه یوازې یوه ښځه ووژل شوه، هغه هم پدې دلیل چې نومورې پر خلاد بن سوید (رضي الله عنه) باندې د میچنۍ تیږه ورغورځولې وه او هغه یې وژلی وٴ، نو ددې په بدل کې دغه ښځه هم ووژل شوه. رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) امر کړی وٴ چې یوازې هغه کسان دې ووژل شي چې ږیرې یې راغلې وي او د چا چې ږیره نه وي راغلی، نه دې وژل کیږي. پدې ډله کې عطیه القرظي هم وٴ چې هغه وخت یې ږیره نه وه راغلې، نو ژوندی پاتې شو اسلام یې ومانه او د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) د صحبت شرف یې وګاټه.

ثابت بن قیس (رضي الله عنه) له رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) نه سوال وکړ چې زبیر بن باطا، مال او کورنۍ یې ده ته وروښنې! رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) هغه وروښنل. زبیر له ثابت (رضي الله عنه) سره نیکي کړې وه، او د همدې نیکۍ په بدل کې یې هغه ته وویل: رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) ته ما ته راوښلې، ستا مال او اولاد یې راوبانبه، اوس دا ټول بیرته ستا. زبیر چې د خپل قوم له مرګ نه خبر شو، نو ثابت (رضي الله عنه) ته یې وویل: زه د خپلې نیکۍ په نامه له تا نه ددې سوال کوم چې ما هم له خپلو دوستانو سره یو ځای کړه، یعنې ما هم ووژنه، نو بیایې دده سر هم پرې کړ او په نورو یهودانو پسې یې ورولیږه. ثابت د زبیر زوی عبدالرحمن ژوندی وساته، عبدالرحمن په اسلام مشرف شو او د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) صحبت یې وګاټه.

همدا راز ام المنذر سلمی بنت قیس النجاریه له رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) نه هیله وکړه چې رفاعه بن سموال القرظي ورته وروښنې! رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) یې غوښتنه ومنله، او هغه یې وروبانبه. رفاعه ژوندی پاتې شو ایمان یې راوړ او د اصحابو (رضي الله عنهم) په ډله کې شامل شو.

د تسلیمۍ په شپه هم یو شمیر یهودانو ایمان راوړ، او په همدې اساس د هغوی ژوند او مال په امن پاتې شول. په همدې شپه عمرو چې له خپل قوم بني قریظه سره په غدر او خیانت کې شریک نه و، له خپل کور نه د باندې راووت، د نبوي لښکر د پاسدارانو مشر محمد بن مسلمه (رضي الله عنه) ولید، خو څه یې ورته ونه ویل، لاره یې ورکړه، او معلومه نه شوه چې هغه به چیرته تللی وي.

رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) د بني قریظه له مالونو نه خمس بیل کړ او نور مالونه یې په مسلمانانو باندې وویشل، سواره ته یې درې برخې، دوې برخې یې د آس او یوه د سواره، او د پیاده (پلي) لپاره یې یوه برخه وټاکله. ویـنځې

يې د سعد بن زيد الانصاري تر سرپرستۍ لاندې نجد ته واستولې، هلته يې وسله او آسونه وربانديې راونيول. رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) د وينځو له ډلې نه ريحانه بنت عمرو بن خناقه د خپل ځان لپاره خوښه کړه، او د ژوند تر پايه ورسره وه، دا د ابن اسحاق روايت دی.[1] خو کلبي وايي چې رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) هغه (ريحانه) آزاده کړه او په شپږم هجري کال يې په نکاح سره واخيستله، چې له حجه الوداع نه له راستنيدو وروسته وفات شوه او په بقيع کې خاورو ته ورسپارل شوه.[2]

وروسته له هغې چې د بني قريظه مساله ختمه شوه، الله تعالى د خپل صالح بنده سعد بن معاذ (رضي الله عنه) هغه سوال قبول کړ چې مخکې يې يادونه شويده. رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) د سعد (رضي الله عنه) لپاره په جومات کې خيمه درولې وه تر څو هملته يې عيادت وکولی شي. د بني قريظه له فتحې وروسته د سعد (رضي الله عنه) ټپ خلاص شو او په بد واوښت. عائشه (رضي الله عنها) وايي: د سعد (رضي الله عنه) له ټپ نه وينې روانې شوې، په جومات کې د بنو غفار څو خيمې هم وې ټولو د سعد (رضي الله عنه) وينې وليدلې ځکه ډيرې زياتې بهيدلې وې، د وينو په ليدو سره هغوی چيغه کړه اې د خيمو خلکو! دا څه دي چې ستاسې له لوري زمونږ خوا ته را روان دي؟ ټولو وکتل چې د سعد (رضي الله عنه) له زخم نه وينې را روانې دي او په پاې کې له همدې کبله وفات شو.[3]

په بخاري او مسلم کې له جابر (رضي الله عنه) نه روايت دی چې رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) فرمايلي: (**اهتز عرش الرحمن لموت سعد بن معاذ**). د سعد بن معاذ (رضي الله عنه) په مرګ د الله تعالى عرش ولړزيد[4].

همدا راز ترمذي له انس (رضي الله عنه) نه په روايت سره وايي: **قال: لما حملت جنازة سعد بن معاذ قال المنافقون: ما أخف جنازته، فقال رسول الله صلى الله عليه وسلم: (إن الملائكة كانت تحمله)**.کله چې د سعد بن معاذ (رضي الله عنه) جنازه پورته شوه، منافقانو وويل: دا څومره سپکه جنازه وه. رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) ورته وفرمايل: دا ځکه چې ملائکو وړله يعنې د هغه (سعد بن معاذ (رضي الله

(1). ابن هشام ۲/ ۲۴۵
(2). تلقيح فهوم اهل الاثر ص ۱۲
(3).صحيح البخاري ۲/ ۵۹۱
(4). صحيح البخاري ۱/ ۵۳۶. صحيح مسلم ۲/ ۲۹۴ جامع الترمذي ۲/ ۲۲۵

عنه) جنازه ملائکو ورله.[1]
د بني قريظه د محاصرې په دوران کې له مسلمانانو نه يو تن (خلاد بن سويد) په شهادت ورسيد، يوې يهودۍ ښځې د ميچنې تيږه ورباندې وروغورځوله او مړ شو. همدا راز پدې ترڅ کې د عکاشه ورور ابو سنان بن محصن هم مړ شو.
ابو لبابه هملته مسجد کې شپږ ورځې تړلی وۀ د لمانځه په وخت کې به يې ښځه ورته راتلله خلاصاوه به يې او له لمانځه نه وروسته به بيرته په ستنې پورې تړل کيده، تر څو يوه ورځ سهار وختي يې الله تعالی توبه قبوله کړه او رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) ته يې چې د ام سلمه (رضي الله عنها) په کور کې وۀ خبر ورکړل شو. ابو لبابه (رضي الله عنه) وايي ام سلمه (رضي الله عنها) د خپلې حجرې په دروازه کې ودريده او راته ويې ويل: ابو لبابه! مبارک شه، الله تعالی دې توبه قبوله کړه! ددې خبرې په اوريدو سره په جومات کې ناست اصحاب (رضي الله عنهم) را پاڅيدل تر څو خلاص يې کړي، خو ابو لبابه وويل: نه، تر څو چې رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) پخپله تشريف نه وي راوړۀ او زه يې نه وم خلاص کړۀ بل څوک به مې نه خلاصوي. او کله چې رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) د سهار لمانځه ته تشريف راوړ په ابو لبابه تيريده ورغی او خوشی يې کړ.
دا غزا (بني قريظه) د هجرت د پنځم کال د ذي القعدې په مياشت کې شوې وه، او د بني قريظه کلا بندی ۲۵ ورځې دوام کړی وۀ.[2]
الله تعالی د احزاب او بني قريظه غزا ګانو په اړه د احزاب سورت څو آيتونه نازل کړيدي. او په هغې کې يې د مؤمنانو او منافقانو د حال او احوال په هکله څرګندونې کړې، د مشرکينو ماتې ته يې اشاره فرمايـلې، او د اهل کتابو د غدر او خيانت نتايج او پايلې يې په ګوته کړيدي.

---

[1]. جامع الترمذي ۲۲۵/۲
[2]. ابن هشام ۲/ ۲۳۷. ۲۳۸. صحيح البخاري ۲/ ۵۹۰، ۵۹۱. زاد المعاد ۲/ ۷۲- ۷۴ مختصر سيرۀ الرسول للشيخ النجدي ص ۲۸۷ تر ۲۹۰.

له بني قريظه غزا نه وروسته پوځي عمليات

۱- د سلام بن ابي الحقيق وژل

سلام بن ابي الحقيق چې کنيه نوم يې ابو رافع وٴ، هغه لوی يهودي مجرم وٴ چې د مسلمانانو په خلاف يې د مشرکينو ډيرې لښکرې راوپارولې او زياته اندازه مال او پيسې يې ورکړې، بې حسابه مرستې يې ورسره وکړې.[1]

دې مجرم به رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) ته هم زيات اذيت او ضرر رساوه، کله چې مسلمانانو د بني قريظه مشکل حل کړ، خزرج قبيلې له رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) نه د ابو رافع د وژلو اجازه وغوښتله، ځکه لدينه مخکې اوس قبيلې کعب بن اشرف وژلی وٴ. اوس خزرج غوښتل چې دوی هم هغوی ته ورته يو وياړ وګټي. رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) د دوی غوښتنه ومنله او اجازه يې ورکړه چې ابو رافع ووژني، خو پدې امر يې تاکيد وکړ چې بايد ښځې او ماشومان ونه وژل شي او هغوی ته خطر متوجه نه شي. خزرج ددې وظيفې د انجام لپاره پنځه کسيز ګروپ جوړ کړ، د ګروپ ټول غړي له بنو سلمه کورنۍ څخه وو او مشر يې عبدالله بن عتيک نوميده. دغه ګروپ د خيبر په لور روان شو، چيرته چې د ابو رافع کلا وه، مابنام ورورسيدل، خلک ټول خپلو کورونو ته راغلي وو. عبدالله بن عتيک خپلو ملګرو ته وويل تاسې ټول همدلته کينئ، زه ځم او له دروازه وان سره خبرې کوم، غواړم د هغه زړه په لاس راوړم، کيدای شي له همدې لارې نه کلا ته ورد ننه شم. لاړ او دروازې ته لنډ يو ځای داسې کيناست چې خپل چادر يې په سر واچاوه او داسې يې ښودله چې ګويا د قضاء حاجت لپاره ناست دی. خلک ننوتل، دروازه وان غړ پرې وکړ اې د خدای بنده! که غواړې چې ننوزې،نو زر داخل شه زه دروازه بندوم.

عبدالله بن عتيک کيسه کوي وايي: په همدې خبرې سره لاړم ، کلا ته د ننه شوم، او د ننه پټ شوم کله چې خلک ټول داخل شول، دروازه وتړل شوه، پيره دار کلياني ټولې له

---

[1]. فتح الباري ۷/ ۳۴۳.

دروازې سره خوا کې په څنګ دری وځړولې. زیاتوي وروسته زه ورغلم او دا کلیانې مې راواخستلې، راتلونکي دروازه مې خلاصه کړه، ابو رافع په بالاخانه کې ؤ هملته یې مجلس ښه ګرم ؤ ما ځاره، کله چې د مجلس او کیسو خلک ورنه لاړل، زه وروختلم، هره دروازه به مې چې پرانیستله، نو بیرته به مې له ننه خوا نه ترڅله، او له ځان سره مې ویل که چیرې خلک دربانديې خبر شي نو مخکې لدینه چې هغوی ما ته راورسیږي زه به ابو رافع ووژنم. ابو رافع ته ورورسیدم، کوټه یې تیاره وه او له خپلې کورنۍ سره ؤ نه پوهیدم چې ځای یې چیرته دی؟ غږ مې وکړ ابو رافع! ده وویل: څوک یې؟ په غږ پسې لاړم او پداسې حال کې مې د توري ګوزار پرې وکړ چې ویرې اخیستی وم، پدې ګوزار هیڅ هم ونه شول هغه چیغې کړې. زه یې له کور نه راووتلم او لږ انتظار مې وکړ، بیا بیرته ورغلم، ورته ومې ویل: دا څه غږ دی اې ابو رافع! ده وویل: مور دې بوره شه، همدا اوس یوه سړي د توري ګوزار راباندې وکړ. ابو رافع زیاتوي: همدلته مې یو قوي ګوزار پرې وکړ، سخت ټپي شو، خو مړ نه شو، بیا مې د توري څوکه د هغه په خیټه کیښوده او زور مې ورکړ تر څو له شا یې ووتله او پوه شوم چې مړ شو، نور د باندې راووتلم دروازې مې یو په بل پسې خلاصولې، په یوه زینه کې راکوزیدم فکر مې کاوه چې پښه مې ځمکې ته رسیدلې خو داسې نه وه د لاندې ولویدم، سپوږمۍ ښه رڼا کوله، پښه مې ماته شوه خپل پټکی (پګړی) مې را خلاص کړ او پښه مې وربانده وترڅله، روان شوم او له دروازې سره کیناستم. له ځان سره مې فیصله وکړه چې تر هغې پورې به نه ځم تر څو یې له مرګ نه ښه مطمئن شوی نه وم، چرګ غږ چرګانو آذانونه وکړل، او د کلا په چار دیوالۍ هم غږ وشو د حجاز د تاجر د مرګ خبر اعلانوم. دا مې چې واوریدل راغلم او خپلو ملګرو ته مې وویل: چې ځئ، الله تعالی ابو رافع وواژه. راغلو او د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) حضورته حاضر شوو، خبر مې ورته تیر کړ. ده راته وفرمایل: پښه دې وغزوه، پښه مې اوږده کړه هغه (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) خپل مبارک لاس وربانده راتیر کړ او داسې جوړه شوه لکه چې بالکل ماته شوې نه وي.[1]

دا د بخاري شریف روایت دی. ابن اسحاق وایي چې د هغه ګروپ ټول غړي کلا ته ورد ننه شوي وو او ټولو په ګډه ابو رافع وژلی و، او هغه څوک چې توره یې د ابو رافع په خیټه کې د ننه کړې وه د توري وار یې پرې کړی و د هغه نوم عبدالله بن انیس

---

[1]. صحیح البخاري ۲/ ۵۷۷

(رضي الله عنه) ؤ. په دې روايت کې دا هم راځي کله چې دوی هغه وواژه، او د شپې د عبدالله بن عتيک پنبه ماته شوه، ملګرو يې هغه پورته کړ او ټول له کلا سره خوا کې د يهودو په يوه چينه کې پټ شول، يهودانو اورونه بل کړل، يوې خوا بلې خوا يې پلټنې پيل کړې، بالاخره مايوس او نامراده د خپل مشر سر ته ورغلل، په همدې وخت کې د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) اصحاب (رضي الله عنهم) روان شول او مدينې ته لاړل.[1]

دغه سريه د پنځم هجري کال د ذي القعدې او يا ذي الحجې په مياشت کې وه.[2]

پدې وخت کې چې رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) د مشرکينو،کفارو او يهودو، او نورو جنګي مجرمينو له مشکل نه فارغ شو، د هغوی حساب يې تصفيه کړ، نو د نورو مشرکو قبايلو او اعرابو (کوچيانو) په خلاف يې د يو لړ تاديبي بريدونو امر ورکړ، ځکه دا هغه کفار وو چې بې له زوره يې له خپلو شرارتونو او اذيتونو لاس نه اخيست، امنيت يې خراباوه، نو د دوی د شر او بې امنۍ له مينځه وړل يو ضرورت ؤ چې بايد تر سره شوی وای.

۲- د محمد بن مسلمه (رضي الله عنه) سريه

له احزاب او قريظه غزا نه وروسته لومړنۍ سريه د محمد بن مسلمه (رضي الله عنه) ده. پدې سريه کې (۳۰) سواره وو، دغه ډله اصحاب (رضي الله عنهم) د نجد د بکرات سيمې د ضريه ځنډې قرطاء ته لاړل، د ضريه او مدينې تر مينځ د اوو ورځو لار وه. دوی د شپږم هجري کال د محرم مياشتې په شلمه د بنې بکر بن کلاب مېنې ته ور روان شول، کله يې چې حمله وربانديې وکړه، خلک يې ټول وښتيتدل، مسلمانانو يې ټول څاروي (ميږې او پسونه) ونيول، او ورپسې پداسې حال کې چې د محرم د مياشتې يوه ورځ پاتې وه بيرته مدينې ته ورسيدل.

له مشرکينو سره ثمامه بن اثال الحنفي د بني حنيفه قبيلې مشر هم ؤ، نوموړی په پټه سره د مسيلمه الکذاب په امر د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) د ترور لپاره وتلی ؤ،[3] چې مسلمانانو ونيو رايې ووست جومات ته يې بوته او هلته يې په يوه ستنې پورې وتاړه. رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) تشريف وروړ او ويې فرمايل: ثمامه څه دي درسره؟ ده وويل: له ما سره خير دی يا محمد

---

(۱). ابن هشام ۲/ ۲۷۴ - ۲۷۵

(۲). رحمه للعالمين ۲۲۳/۲ – ابن هشام ۲۳۷/۲ – ۲۳۸ صحيح البخاري ۵۹۰/۲ – ۵۹۱ زاد المعاد ۹۱

(۳). السيره الحلبيه ۲/ ۲۹۷

(صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم)! که مې ووژنې نو یو وینه لرونکی به دې وژلی وي او که احسان راباندې وکړې، نو په یوه قدر دان او احسان منونکي به دې احسان کړی وي، او که چیرته مال او پیسې غواړې، نو څومره چې غواړې همدومره به درکړم!
رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) هیڅ ورته ونه ویل همداسې ورنه لاړ، بیا ورته راغی او هماغه خبره یې ورته تکرار کړه. د ثمامه ځواب هم هماغه وٴ. دریم ځل یې بیا تشریف راوړ او د همغې خبرې له تکرار نه وروسته یې وفرمایل: ثمامه خوشی کړئ، اصحابو (رضي الله عنهم) خوشی کړ. هغه لاړ او له جومات سره نژدې د خرما یوه باغ ته ورغی، غسل یې وکړ او بیرته راغی په اسلام مشرف شو او ویې ویل:
یا محمد (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم)! قسم په الله د ځمکې پر مخ مې له تا نه زیاته دښمني له بل چا سره نه درلوده، خو اوس له ټولو نه زیاته مینه درسره لرم، قسم په خدای له ټولو نه مې ستا له دین نه ډیر نفرت درلود، خو اوس له ټولو ادیانو نه ستا دین راته ګران دی، ستا اصحابو هغه وخت ونیولم چې ما د عمرې نیت کړی وٴ، رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) زیری ورکړ او ورته ویې فرمایل: لاړ شه عمره وکړه.
ثمامه چې کله مکې ته ورسید نو قریشو ورته وویل: بې دینه او ګمراه شوې یا ثمامه! ده وویل: نه قسم په الله زه نه یم بې لارې شوی، بلکه زه د محمد (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) په دین مشرف شوم، اې قریشو دا هم واورئ چې لدینه وروسته به تر هغې پورې له یمامه نه یوه دانه غنم هم درته رانشي تر څو یې رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) اجازه نه وي کړی. یمامه هغه وخت د مکې لپاره د ځمکې او پتې حیثیت درلود. ثمامه عمره ادا کړه او خپل کورته ستون شو.
مکې ته یې غله استول بند کړل، قریش ډیر په تکلیف شول، او مجبور شول رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) ته خط ولیکي او د خپلې خپلوۍ په روی یې ورنه وغوښتل چې ثمامه ته امر وکړي غله او غنم مکې ته خوشي کړي. رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) د دوی غوښتنه ومنله او ثمامه ته یې ولیکل چې مکې ته خوراکي مواد لیږل بیرته پیل کړي.[1]

۳- د بني لحیان غزا

[1]. زاد المعاد ۲/ ۱۱۹ز مختصر سیره الرسول للشیخ النجدي ص ۲۹۲- ۲۹۴

بنو لحيان هغه قبيله ده چې د رجيع په سيمه کې يې د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) له اصحابو (رضي الله عنهم) سره غدر او خيانت کړی وٴ، لس تنه يې په شهادت رسولي وو، او دوه نور يې د مکې په مشرکينو پلورلي وو. د بنو لحيان مېنه د مکې له پولو سره او په حجاز کې د ننه وه. هغه وخت د مسلمانانو او قريشو او نورو اعرابو تر مينځ سخت کشمکش روان و، نو پداسې وخت کې رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) مناسبه نه ګڼله چې د لوی دښمن سره خوا کې په کوم جنګي اقدام لاس پورې کړي، خو کله چې د احزاب په غزا کې مشرکينو ماتې وخوړه، ارادې يې کمزورې او حوصلې يې تر ډيره حده پريوتې، نو رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) اراده وکړه چې له بني لحيان نه د رجيع په پيښه کې د شهيد شويو اصحابو (رضي الله عنهم) غچ واخلي.

همدا وه چې د شپږم هجري کال د ربيع الاول او يا جمادي الاولى په مياشت کې په بنو لحيان د حملې په نيت ووت، عبدالله بن ام مکتوم يې په مدينه کې خليفه وټاکه، خلکو ته يې داسې وښوله چې ګويا د شام په لور روان دی. مخکې لاړ د امج او عسفان تر مينځ د غران نومې وادۍ مينځ ته ورسيد. دا هغه ځای وٴ چيرته چې درسول (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) اصحاب (رضي الله عنهم) په شهادت رسيدلي وو، د هغوی لپاره يې دعا وکړه. بنو لحيان چې د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) د راتګ خبر واورید ، ټول وتښتيدل، د غرونو سرونو ته لاړل. رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) دوې ورځې همدلته پاتې شو، خو يو کس هم په لاس ورنغی، يوې خوا بلې خوا ته يې جنګي ګروپونه وليږل خو بنو لحيان ترې تښتيدلي وو. وروسته د عسفان په لور ورغی لس سواره يې کراع الغميم ته وليږل تر څو قريش هم دده په راتګ خبر شي، بالاخره له ۱۴ شپو وروسته بيرته مدينې ته ستون شو.

د سرایاوو او جنګي ګروپونو استول

لدینه وروسته رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) مختلفې سریې او جنګي ګروپونه واستول، چې ددې پیښو لنډیز دا دی:

۱- د عکاشه بن محصن (رضي الله عنه) **سریه:** دا د ۶ هجري کال د ربیع الاول یا ربیع الاخر په میاشت کې وه. عکاشه د ۴۰ کسیز ګروپ په مشرۍ د غمر سیمې ته روان شو. الغمر د بني اسد قبیلې یوه چینه وه مخکې لدینه چې عکاشه وروسیږي د هغه ځای مشرکین وتښتیدل، مسلمانان ورغلل، دوه سوه اوښان یې ونیول او مدینې ته یې راوستل.

۲- د محمد بن مسلمه (رضي الله عنه) **سریه:** دا هم د شپږم هجري کال د ربیع الاول یا ربیع الاخر په میاشت کې وه. محمد بن مسلمه (رضي الله عنه) له لسو کسانو سره د بني ثعلبه په سیمه کې د ذي القصه په لور روان شو، هلته د دښمن سلو کسانو کمین ورته نیولی وٶ، کله چې مسلمانان ویده شول هغوی حمله ورباندې وکړه او له محمد بن مسلمه (رضي الله عنه) نه پرته ټول یې شهیدان کړ، یوازې محمد په ټپي حالت کې ورنه خلاص شو.

۳- د ابو عبیده بن الجراح (رضي الله عنه) **سریه:** دا هم د ۶ هجري کال د ربیع الاخر په میاشت کې د ذي القصه په لور وه. رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) د محمد بن مسلمه (رضي الله عنه) د ملګرو له شهادت نه وروسته ابو عبیده (رضي الله عنه) ته وظیفه ورکړه چې د بني ثعلبه مقابلې ته لاړ شي. هغه له ۴۰ کسانو سره د اصحابو (رضي الله عنهم) د شهادت ځای ته ورغی، د شپې یې پیاده سفر وکړ او سهار وختي یې پر بني ثعلبه برید وکړ، خو هغوی بیا هم ورنه وتښتیدل، یوازې یو کس په لاس ورغی هغه هم اسلام راوړ. مسلمانانو یو شمیر څاروي او پسونه په غنیمت ونیول.

۴- د زید بن حارثه (رضي الله عنه) **سریه:** د ۶ هجري کال د ربیع الاخر په میاشت

کې وه. دا د مرالظهران په سيمه کې د بني سليم په يوه چينه کې چې جموم نوميده پيښه شويده. زيد (رضي الله عنه) لاړ او هلته يې د مزينه قبيلې يوه ښځه چې حليمه نوميده ونيوله، دې ښځې د بني سليم يوه محله وروښوده چيرته چې مسلمانانو ډير پسونه، څاروي او بنديان ونيول. کله چې زيد (رضي الله عنه) بيرته راستون شو او غنيمتونه يې له ځان سره راوړل، رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) نوموړې ښځې ته ددې خپل ځان او ميړه دواړه وروښنل يعنې دواړه يې آزاد کړل.

۵- عيص ته د زيد بن حارثه (رضي الله عنه) **سريه:** دا د ۶ هجري کال په جمادي الاولى کې وه. زيد له ۱۷۰ سوارو سره د عيص په لور وخوځيد، هلته يې د قريشو هغه قافله په لاس کې پريوته چې مشر يې د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) زوم ابو العاص وٴ. ابو العاص پخپله نجات وموند، لاړ، سيده مدينې ته راغى او له زينب (رضي الله عنها) نه يې پناه وغوښتله، او ورته ويې ويل چې له خپل مهربان پلار (حضرت محمد (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم)) نه سوال وکړي چې ددې قافلې مالونه بيرته ده ته ورکړي. زينب (رضي الله عنها) همداسې وکړل، له خپل پلار (صلى الله عليه وسلم) نه يې همدا سوال وکړ! رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) خلکو ته وويل، که مو خوښه وي نو دا مالونه بيرته ورکړئ! اصحابو (رضي الله عنهم) ټولو په خپله خوښه هر څه بيرته ورکړل. ابو العاص له خپلو مالونو سره مکې ته ستون شو، ټول شيان يې خپلو خاوندانو ته وسپارل بيا يې ايمان راوړ او مدينې ته يې هجرت وکړ، او رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) خپله لور زينب (رضي الله عنها) چې تقريباً درې نيم کال مخکې يې هجرت کړى وٴ بيرته په هماغه لومړنى نکاح سره ابو العاص ته ورکړه او دا خبره په صحيح حديث سره ثابته ده[1]. او په اولنى نکاح يې ځکه بيرته ورکړه چې هغه وخت له مشرکينو سره د مسلمانو ښځو د نکاح د تحريم آيت شريف نه و نازل شوى. او هغه حديث او روايت صحيح ندى چې وايي رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) زينب په نوې نکاح سره ابو العاص ته ورکړه او يا يې شپږ کاله وروسته ورکړه. دا د معنى او سند دواړو له لارې سيي ندى.[2]

تعجب دى هغو کسانو ته چې پدې ضعيف حديث استناد کوي او وايي: ابو العاص د

---

[1]. سنن ابي داود مع شرحه عون المعبود باب الى متى ترد عليه المراة اذا اسلم بعدها.

[2]. تحفه الاحوذي ۱۹۵/۲ – ۱۹۶ ته مراجعه وکړئ.

مکې له فتحې نه مخکې د اتم هجري کال په وروستيو کې ايمان راوړی، بيا د همدې خبرې مخالفه خبره کوي او وايي: زينب (رضي الله عنها) د اتم هجري کال په لومړيو کې وفات شويده. پدې هکله مو پر بلوغ المرام باندې پخپل تعليق کې مفصلې خبرې کړې، موسې بن عقبه عقيده لري چې دغه پيښه د ابي بصير او ملګرو له خوا يې په اووم هجري کال کې پيښه شويده، خو دا خبره نه له صحيح او نه هم له ضعيف حديث سره تطابق لري.

۶- د زيد (رضي الله عنه) **سريه:** دا هم د ۶ هجري کال په جمادي الاخره مياشت کې وه. زيد (رضي الله عنه) له ۱۵ کسانو سره د بني ثعلبه په لور ووت، طرف يا طرق نومې سيمې ته ورغی، اعراب ورنه وتښتيدل او فکر يې کاوه چې رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) پخپله پر دوی باندې د برید په نيت راوتلی دی. زيد او ملګرو يې له مشرکينو نه شل اوښان په غنيمت ونيول، اوڅلور ورځې له مدينې نه غايب ؤ.

۷- بيا هم وادي القری ته د زيد (رضي الله عنه) **سريه:** زيد د ۶ هجري کال د رجب په مياشت کې له ۱۲ کسانو سره د قری په وادي کې د دښمن د تحرکاتو د معلومولو پخاطر ووت. هلته د قری اوسيدونکو حمله وربانديې وکړه، ۹ کسان يې ورنه شهيدان کړل او د زيد په شمول دری نور ژوندي پاتې شول.[1]

۸- د خبط سريه: دا د آتم هجري کال په رجب مياشت کې وه، خو د پيښې له بهير نه داسې ښکاري چې دا بايد له صلح حديبيه نه مخکې واقع شوې وي. جابر (رضي الله عنه) وايي: رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) مونږ دری کسانو ته چې مشر مو ابو عبيده بن الجراح ؤ امر وکړ چې لاړ شو او د قريشو د کاروان څارنه وکړو، په لاره کې سخت وږې شوو له ډيرې لوږې مو خبط (يو ډول بوټی دی) وخوړل، او له همدې وجې دغه لښکر ته د خبط لښکر نوم ورکړل شو.

وروسته يوه سړي دری اوښان راته حلال کړل، بيايې دری نور راته حلال کړل، دريم ځل يې بيا درې اوښان راته حلال کړل، بيا ابو عبيده (رضي الله عنه) هغه لدې کار نه منع

(1). رحمه للعالمين ۲/ ۲۲۶.زاد المعاد ۱۲۰/۲ – ۱۲۲. حواشي تلقيح فهوم اهل الاثر ص ۲۸،۲۹.

کړ. پدې وخت کې له بحر نه يو ماهي چې عنبر ورته ويل کيده راته را واچول شو او هغه مو پوره نيمه مياشت خواړه، غوړي مو يې هم استعمالول، تر څو بيرته په پښو ودريدو او خپل اولني حالته ورسيدو. ابو عبيده ددې ماهي د پوښتيو يو هډوکی واخيست، بيا يې په لښکر کې تر ټولو دنګ سړي ته وويل چې په تر ټولو لوړ اوښ باندې سپور شي، بيا همدا دواړه تر دې هډوکي لاندې تير شول. مطلب دا چې د ماهي د پوښتی هډوکی ډير اوږد وٴ. جابر (رضي الله عنه) زياتوي مونږ ددې ماهي له غوښې نه يوه اندازه د توښې په دود راسره واخيستله او کله چې مدينې ته ورسيدو، رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) ته مو دا کيسه تيره کړه، هغه وفرمايل: (**هو رزق أخرجه الله لكم، فهل معكم من لحمة شيء تطعمونا؟**).دا د الله تعالى له لوري د ستاسې رزق او روزي وه، ايا له هغې غوښې نه څه اندازه درسره شته چې مونږ ته يې را کړئ؟ نو مونږ رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) ته له هغې غوښې نه يوه اندازه ورولیږله.[1]

مونږ مخکې وويل چې د کيسې سياق پدې دلالت کوي چې دا سريه بايد له صلح حديبيه نه مخکې واقع شوې وي، ځکه چې له حديبيې نه وروسته خو مسلمانان د قريشو د کاروانو مخې ته نه ورتلل، او پر هغوی يې حمله نه کوله.

---

[1]. صحيح البخاري ۲/ ۶۲۵. صحيح مسلم ۲/ ۱۴۵ - ۱۴۶

د بني المصطلق او يا مريسيع غزا
۶ هجري کال، د شعبان مياشت

دغه غزا که څه هم له عسکري پلوه دومره لويه او مهمه غزا نده، خو پدې دوران کې داسې پيښې شوې دي چې په اسلامي ټولنه کې يې داسې اړ دوړ او جنجالونه راولاړ کړل چې په ترخ کې يې د منافقانو له مخ نه پردې پورته شوې، او داسې تعزيراتي قوانين رانازل شول چې اسلامي ټولنې ته يې د عظمت، سپيڅلتيا، کرامت او پاک نفسۍ نوی رنګ ورکړ. مونږ به لومړی د غزا په هکله خبرې وکړو، ورپسې به له نورو بيښنو نه وغږيږو.

د صحيح روايت په اساس سره ويلی شو چې دغه غزا د شپږم هجري کال د شعبان په مياشت کې وه.[1] ددې غزا سبب هم دا وۀ: رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) ته خبر راغی چې د بني مصطلق رئيس حارث بن ابي ضرار له خپل قوم او نورو

---

[1]. دليل يې دا دی چې د افک په حديث شريف کې دا ثابته ده چې دغه پيښه د حجاب د حکم له نازليدو نه وروسته وه د حجاب آيت خو د زينب (رضي الله عنها) په هکله نازل شوی وۀ، او زينب (رضي الله عنها) خو دغه وخت يعني د حجاب د حکم د نزول په وخت کې د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) په نکاح کې وه ځکه له زينب (رضي الله عنها) سره د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) واده د پنځم هجري کال په ذي القعده او يا ذي الحجه کې شوی و، او دغه غزا خو د شعبان په مياشت کې وه نو دا به د ۶ هجري کال شعبان وي نه د پنځم کال او د افک له پيښې وروسته رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) د عايشې په هکله پوښتنه تري وکړې وه چې دې ورته وويل: زه خپلې سترګې او غوږونه ساتم، حضرت عايشه (رضي الله عنها) فرمايي: چې زينب (رضي الله عنها) يوازينۍ بی بی وه چې له ما سره يې سيالي کوله.

بناء دا د شپږم کال د شعبان مياشت شوه. او دا روايت چې وايي سعد بن معاذ او سعد بن عباده (رضي الله عنهما) د افک د اصحابو په هکله يو له بل سره مناقشه او منازعه وکړه، يعني دا چې دا غزا بايد د سعد بن معاذ (رضي الله عنه) له وفات نه مخکې پيښه شوې وی، معلومه ده چې سعد بن معاذ (رضي الله عنه) د ۵ هجري کال په اخرو کې له بني قريظه غزا نه وروسته وفات شويدی، نو پدې اساس د بني مصطلق غزا هم بايد په پنځم هجري کال کې شوی وي، ددې اشکال صحيح ځواب دا دی چې ددې روايت راوي سهوه شوی او سهوا يې له سعد بن عباده (رضي الله عنه) سره د سعد بن معاذ (رضي الله عنه) نوم راوړی دی، ابن اسحاق له زهري له عبيدالله بن عبدالله بن عتبه او هغه له عائشه (رضي الله عنها) نه روايت کړی او په هغه روايت کې د سعد بن معاذ (رضي الله عنه) نوم نشته بلکه هلته دا سيد بن حضير نوم راغلی دی ابو محمد بن حزم وايي چې همدا خبره صحيح ده. (زاد المعاد ۱۱۵/۲) پدې هکله د محمد الغزالي خبره هم د حيرانتيا وړ ده هغه ابن قيم ته دا خبره منسوبوي چې گويا هغه هم وايي دغه غزا په پنځم هجري کال کې شويده (فقه السيره ص ۲۲۳). حال دا چې په الهدي (۱۱۵/۲) کښې چې هغه څه ويلي هغه بالکل ددې خبرې مخالف دی.

عربانو سره له رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) سره د جګړې لپاره راوتلی دی. رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) ددې خبر په اوریدو سره بریده بن حصیب اسلمي ته امر وکړ چې لاړ شي او د خبر تحقیق وکړي. هغه لاړ او له حارث بن ابي ضرار سره یې خبرې وکړې، او بیا یې رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) ته خبر راوړ.

رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) چې د خبر له صحت نه ډاډه شو، نو اصحابو (رضي الله عنهم) ته یې د تلو قوماندې ورکړه او په بیړه سره روان شو. دغه وخت د شعبان د میاشتې دوې ورځې پاتې وې، له رسول (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) سره دا ځل یو شمیر هغه منافقین هم روان شول چې په مخکینو غزا ګانو کې یې برخه نه وه اخیستې.

دا ځل یې زید بن حارثه (رضي الله عنه) او په بل روایت ابوذر (رضي الله عنه) او په دریم روایت سره نمیله بن عبدالله لیثي (رضي الله عنه) په مدینه کې خلیفه وټاکه. حارث بن ابي ضرار هم یوه جاسوس ته وظیفه ورکړې وه چې د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) د لښکر څارنه وکړي، مسلمانانو هغه جاسوس ونیو او ویې واژه.

کله چې حارث ته د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) د راتګ او د خپل جاسوس د ژولو خبر ورسید ډیر وویرید، ملګري یې هم وارخطا شول، یو شمیر عربان ورنه لاړل. رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) د بحر ساحل ته نژدې د قدید خوا ته د دوی یوې چینې ته چې مریسیع نومیده ورسید. هغوی هم د جنګ تیاري ونیوله. رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) خپل اصحاب (رضي الله عنهم) په لیکو برابر کړل، بیرغ له ابوبکر (رضي الله عنه) سره وٴ، د انصارو جنډه یې سعد بن عباده (رضي الله عنه) ته ورکړې وه. دواړه لښکرې سره مخامخ شولې، څه وخت یې یو بل په غشو سره وویشتل، بیا رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) د برید امر ورکړ، ټولو اصحابو (رضي الله عنهم) په یوه حرکت حمله وکړه، دښمن ته یې ماتې ورکړه او بریالي شول. یو شمیر مشرکین ووژل شول، ښځې او اولادونه یې د مسلمانانو په اسارت کې ولویدل، ډیر پسونه او څاروي یې هم په غنیمت ونیول له مسلمانانو نه یوازې یو کس شهید شو، هغه هم سهوا د یوه انصاري له لاسه مړ شو، هغه و نه پیژانده د دښمن ګمان یې ورباندې وکړ او ویې واژه.

دا د اهل مغازي او اهل السیر رایه ده. ابن قیم وایي چې دا ګمان او وهم دی، ځکه حقیقت دا دی چې پدې غزا کې جګړه نده پیښه شوې، مسلمانانو پر دوی حمله وکړه،

ښځې اولادونه او مالونه يې ورنه ونيول. په بخاري کې راځي چې رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) بني مصطلق غافلګير کړل يعنې ناڅاپي برید يې ورباندې وکړ.[1]

په اسارت نيول شويو ښځو کې جويريه بنت حارث هم وه، لومړی هغه د ثابت بن قيس په برخه ورسيده، هغه ورسره مکاتبه وکړه يعنې د يوه اندازه مال په بدل کې يې د آزادۍ وعده وکړه، دواړه پدې راضي شول چې جويريه په څه پيسې ورکوي او هغه به يې آزادوي. رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) همدغه ټاکلی مبلغ ابن قيس ته ورکړ او جويريه يې پخپله نکاح کړه. جويريه (رضي الله عنها) د قوم د رئيس حارث لور وه، او کله چې دې د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) د نکاح شرف تر لاسه کړ نو اصحابو (رضي الله عنهم) ټولو خپل غلامان او وينځې آزادې کړې، ځکه دوی ويل چې دا قوم خو اوس د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) خسرګنۍ ده، نو بايد قدر يې وشي. همدا وه چې د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) د خپلوۍ د احترام په دود کې يې هغوی ټول آزاد کړل، هغوی هم له آزادۍ نه وروسته ټولو چې سل کورنۍ وو ايمان راوړ او په اسلام مشرف شول.[2]

پدې غزا کې د ټولو پيښو اصلي او اساسي عامل د منافقينو رئيس عبدالله بن ابي وٴ، نو مخکې لدينه چې ددې پيښو په اړه څه ووايو، غوره ګڼو لومړی د منافقينو د رول او په اسلامي ټولنه کې د دوی د منفي کړو وړو په هکله هم څه خبرې وکړو.

له بني مصطلق غزا نه مخکې د منافقينو رول او دريځ

څو ځله مو دا خبره کړيده چې عبدالله بن ابي له اسلام او مسلمانانو په ځانګړې توګه له رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) سره سخته کينه او دښمني لرله ځکه اوس او خزرج دده په مشرۍ سلا شوي وو، لګيا وو ده ته يې تاج جوړاوه، مرۍ او غمي يې ورته برابرول. په همدې حال کې هلته د اسلام لمر راوخوت، اوس او خزرج يې دده له پاچايۍ نه بلې خوا ته وارول، او له همدې ځايه عبدالله بن ابي دا فکر کاوه چې دده پاچايي رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) ورانه او خاوري کړه.

له رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) سره د عبدالله بن ابي دښمني د

(1). صحيح بخاري ۱/ ۳۴۵. فتح الباري ۷/ ۴۳۱

(2). زاد المعاد ۱۱۲/۲، ۱۱۳، ابن هشام ۲/ ۲۸۹_۲۹۰.

هجريت له پيل نه څرګنده وه، يوه ورځ رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) په خره سپور د سعد بن عباده (رضي الله عنه) پوښتنې ته ور روان و او په هغه مجلس ورغی چې عبدالله بن ابي هم پکې وُ کله چې رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) ور ورسيد د منافقينو رئيس خپله پزه پټه کړه او ويې ويل دلته دوړې مه راته کوئ! بيا چې رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) د قرآنکريم آيتونه تلاوت کړل ده ورته وويل: په کور کې دې کينه، زمونږ مجلس مه را خرابوه.[1]

دا د هغه وخت خبره ده چې عبدالله بن ابي لا په اسلام سره تظاهر نه وُ کړی، او کله يې چې له بدر نه وروسته په اسلام تظاهر هم وکړ خپله دښمني يې پري نښودله، له الله (جل جلاله) او رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) سره يې خپلې دښمنۍ ته ادامه ورکړه، تل يې هڅه کوله چې د مسلمانانو تر مينځ نفاق واچوي.

د اسلام د ذلت کوشش يې کاوه، له مشرکينو سره يې مرستې کولې، د بني قينقاع په پيښه کې يې چې کوم رول ادا کړی هغه خو مو مخکې ذکر کړی. همدا راز د احد په غزا کې يې مسلمانانو ته لوی غم، شر او مصيبت راولاړ کړ، د هغوی په مينځ کې يې ګډوډي، نفاق او خلاف واچاوه.

دغه منافق د مسلمانانو په حق کې له بې حده مکر و فريب نه کار اخيست، وروسته له هغه چې په اسلام سره يې تظاهر وکړ، هره جمعه به چې رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) د خطبې ويلو لپاره کيناسته نو هغه به پاڅيد او خلکو ته به يې ويل: اې خلکو! دا دی رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) ستاسې په وړاندې تشريف لري، الله تعالی پده سره تاسو ته عزت او منزلت در په برخه کړ، نو تاسې دده (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) مرسته وکړئ. خبرې يې واورئ او اطاعت يې وکړئ، بيا به کيناست، ورپسې به رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) پاڅيد او خطبه به يې وويله.

د منافقينو دغه رئيس دومره سپين سترګی و چې سره لدې چې د احد په غزا کې يې هغه غدر او خيانت وکړ، خو له غزا وروسته د لومړی جمعې په ورځ پاڅيد او غوښتل يې هماغه څه ووايي کوم چې هره جمعه به يې له خطبې نه مخکې ويل، خو دا ځل مسلمانانو له جامو راوښيو او ورته ويې ويل: د خدای دښمنه! کينه، ته ددې وړ نه يې چې دا خبرې وکړې، تا چې څه وکړل هغه ټولو وليدل. پدې خبرو سره هغه خفه شو او له جومات نه روان شو، د خلکو له غاړو نه يې قدمونه اوچتول او په وتو وتو کې يې ويل:

---

[1]. ابن هشام ۱/ ۵۸۴ - ۵۸۷ بخاري ۲/ ۹۲۴ ، مسلم ۱۰۹/۲

زه خو ددې جناب د ملاتړ لپاره پورته شوی وم، خو داسې ښکاري لکه چې ما کومه د جرم خبره کړې وي! له دروازې سره یو انصاري مخې ته ورته راغی او ورته ویې ویل: هلاک شې، بیرته وګرزه، رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) به درته د مغفرت دعا وکړي. ده وویل: زه نه غواړم چې هغه راته د مغفرت دعا وکړي.[1]

همدا راز عبدالله بن ابي له بنو نضیر سره مسلسله رابطه درلوده، له دوی سره په ګډه یې د مسلمانانو په خلاف توطیې جوړولې، ان تر دې چې ورته ویلي یې وو چې: که چیرې تاسې د مسلمانانو خلاف جګړې ته راووتئ نو مونږ به هم درسره وو، او که ستاسې په خلاف جګړه وشوه نو مونږ به ستاسې مرسته کوو.

همدا راز د احزاب په غزا کې ددې منافق او ملګرو کار یې دا وۀ چې د مسلمانانوپه مینځ کې ویره، پریشاني او ګډوډي را پیدا کړي، الله تعالی همدې مطلب ته د احزاب په سورت کې داسې اشاره فرمایي: ((**وَإِذْ يَقُولُ الْمُنَافِقُونَ وَالَّذِينَ فِي قُلُوبِهِمْ مَرَضٌ مَا وَعَدَنَا اللَّهُ وَرَسُولُهُ إِلاَّ غُرُوراً**)) (الاحزاب: ۱۲).تر دې ایته ﭽې فرمایي: ((**يَحْسَبُونَ الأَحْزَابَ لَمْ يَذْهَبُوا وَإِنْ يَأْتِ الأَحْزَابُ يَوَدُّوا لَوْ أَنَّهُمْ بَادُونَ فِي الأَعْرَابِ يَسْأَلُونَ عَنْ أَنْبَائِكُمْ وَلَوْ كَانُوا فِيكُمْ مَا قَاتَلُوا إِلاَّ قَلِيلاً**)) (الاحزاب: ۲۰)

[او (یاد کړه هغه وخت) کله چې وویل (ابن ابي، ابن قیشر او نورو) منافقانو او (وویل) هغو کسانو چې په زړونو د دوی کې مرض (د نفاق) و چې نه ده وعده کړې له مونږ سره الله او رسول ددغه (الله په فتح د شام، یمن، فارس) مګر په غرور او تیرایستو سره.]

[هغوی (له ویرې) داسې ګمان کوي چې د کفر لښکرې ندي تللې که چیرته بیا راشي لښکر د (مشرکینو جنګ ته) نو دوست ګڼي (منافقان) دا چې کاشکې دوی اوسیدونکي وی په (لیرو کلیو د) اعرابو کې (له ښاره) چې پوښتنې به یې کولې (له لیرې) له (احوالو) خبرو ستاسې او که چیرې وی (دغه منافقان) په تاسې کې نو جنګ به یې نه وو کړی دوی مګر لږ (د پاره د ریاء).]

پداسې حال کې چې د یهودو، منافقینو او مشرکینو په شمول ټول دښمنان پدې ښه پوهیدل چې د اسلام د بري او غلبې راز مادي تفوق، د وسلو، عسکرو او وسایلو ډیرښت ندی بلکه ددې بري راز هغه اخلاق او معنوي پیاوړتیا ده چې مسلمانان پرې سینګار شویدي. او دا هم ټولو ته په ډاګه وه چې ددې عظمت او کرامت منبع هغه

---

[1]. ابن هشام ۲/ ۱۰۵

رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) دې چې په نیکۍ، معنوي او اخلاقي لوړتیا او سپیڅلتیا کې تر ټولو لوړ مثال او قدوه دی. همدا راز ټول پدې ښه متیقن شوي وو او د پنځه کلنو جګړو په دوران کې ټولو ته ثابته شوې وه چې د وسلې په زور سره پر اسلام او مسلمانانو باندې غلبه ناممکنه ده. همدا وه چې دوی د اسلام او مسلمانانو په خلاف د ساړه یا تبلیغاتي جنګ فیصله کړې وه، دوی هڅه کوله د عاداتو، اخلاقو او کړو وړو له مخې د مسلمانانو په خلاف تشویشونه راولاړ کړي، پدې تبلیغاتي جګړه کې د مشرکینو لومړنی هدف پخپله رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) وۀ.

ځرنګه چې منافقین په مدینه کې د ننه اسلامي ټولنه کې اوسیدل او دا ورته آسانه وه چې د مسلمانانو احساسات راوپاروي، او له هغوی سره له تماس نه په استفادې سره د دوی په زړونو کې کار وکړي، نو د اسلام په خلاف په تبلیغاتي جنګ کې زیات مهم رول د همدې منافقانو او د دوی د رئیس عبدالله بن ابي و.

د دوی دغه توطئه او پلان له احزاب غزا نه وروسته په ډاګه شو، کله چې حضرت رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) له زینب بنت جحش (رضي الله عنها) سره چې زید طلاقه کړې وه نکاح وکړه. منافقینو همدا پیښه د حربې یا تبلیغاتي وسیلې په شکل استعمال کړه. ځکه د عربانو عادت او رواج دا وۀ چې هغوی به خپل فرزندي اولاد هم لکه خپل اصلي اولاد داسې باله، او د دا ډول زوی طلاقه شوې ښځه به یې د هغه چا لپاره ناروا بلله کوم چې دغه کس به یې خپل زوی نیولی و.

کله چې رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) له زینب (رضي الله عنها) سره واده وکړ، نو منافقینو ګمان وکړ لکه چې اوس دوی ته د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) په خلاف د پروپاګند او تهمت ښه دلایل په لاس ورغلي دي او پدې هکله یې دوه ټکي د ځان په ګټه بلل:

لومړې دا چې دا د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) پنځم واده وۀ، او قرآنکریم خو له څلورو نه د زیاتو ودونو د جواز حکم نلري، نو رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) په کوم دلیل دا پنځم واده وکړ؟

دوهم دا چې زینب (رضي الله عنها) خو د زید (رضي الله عنه) ښځه وه او زید خو هغه څوک وۀ چې رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) خپل زوی نیولی وۀ، او د خپل زوی (فرزندي) له ښځې سره خو نکاح د عربو په نزد یوه لویه ګناه وه. منافقینو پدې هکله ډیر تبلیغات وکړل له ځانه یې ډیرې کیسې او دروغ جوړ کړل. ددې دروغو په ترڅ کې به یې ویل چې محمد (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) یو ځل زینب

(رضي الله عنها) په ناڅاپي توګه ولیده خوښه يې شوه، د هغې حسن يې زړه يوړ، ډيره مينه يې ورسره پيدا شوه او کله چې دده زوی زيد (رضي الله عنه) پدې پوه شو، نو زينب يې دده لپاره خوښې کړه. دغه پروپاګند دومره عام او پداسې طريقې سره خور شو چې تر نن ورځې پورې يې د تفسير او احاديثو په کتابو کې آثار تر سترګوکيږي. خرګنده ده چې دې تبليغاتو به حتماً په کمزوريو زړونو اثر او اغيزه هم درلوده، همدا وه چې د الله تعالی له لوري د قرآنکريم شفا ورکوونکي آيتونه نازل شول، او په غوڅه توګه يې د منافقينو د دروغو او پوچو تبليغاتو بطلان اعلان کړ. الله تعالی د احزاب سورت په لومړي آيت کې فرمايي:

((يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ اتَّقِ اللَّهَ وَلا تُطِعْ الْكَافِرِينَ وَالْمُنَافِقِينَ إِنَّ اللَّهَ كَانَ عَلِيماً حَكِيماً)). (الاحزاب: ١)

[اې نبي (محمد (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم)! وويريږه (تل) له الله څخه او مه منه (حکم) د کافرانو او (نه) د منافقانو، بيشکه چې الله دی ښه عالم پر هر شي ښه حکمت والا.]

دا له بني مصطلق غزا نه مخکې د منافقينو د توطئو او منفي دريزونو يو څو وړې نمونې وي. رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) په پوره صبر او حوصلې سره ددې حالاتو مقابله کوله. د منافقينو دا ټول حالات يې ښه ليدل خو بيايې هم له دوی سره له مهربانۍ او نرمۍ نه ډک معامله کوله. همدا راز نورو مسلمانانو هم دا کوشش کاوه چې د منافقينو له شر نه ځان وساتي، او د هغوی په وړاندې يې له ډيرې حوصلې نه کار اخيست ځکه ليدل يې چې د منافقينو فتنه يوه نده، هغوی هره ورځ نوې نوې فتنې راولاړوي نو بايد له زغم او صبر نه کار واخستل شي.

الله تعالی دې مطلب ته اشاره کوي فرمايي:

((أَوَلا يَرَوْنَ أَنَّهُمْ يُفْتَنُونَ فِي كُلِّ عَامٍ مَرَّةً أَوْ مَرَّتَيْنِ ثُمَّ لا يَتُوبُونَ وَلا هُمْ يَذَّكَّرُونَ)) (التوبة: ١٢٦)

[آيا (فکر نه کوي) او نه ګوري دوی چې بيشکه دوی مبتلا کولی شي (په ډول ډول) قسم قسم مصائبو په هر يوه کال کې يو کرت يا دوه کرته بيا له سره هغوی نه کوي توبه (له نفاقه) او نه دوی پند اخلي (په دې ابتلاء).]

په بني مصطلق غزا کې د منافقينو رول

د بنې مصطلق په غزا کې له رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) سره د منافقينو ګډون د الله تعالی ددې قول عملي مصداق دی چې فرمايي: ((لَوْ خَرَجُوا فِيكُمْ مَا زَادُوكُمْ إِلاَّ خَبَالاً وَلأَوْضَعُوا خِلالَكُمْ يَبْغُونَكُمْ الْفِتْنَةَ)) (التوبة: ٤٧)

[نو که وتلي وی دغه (منافقان) په (لښکر د) تاسې کې نو نه به و زيات کړی دوی تاسې ته (هيڅ شی) مګر شر، خرابي، فساد او چغلي اوخامخاه چابکي به کړې وه دوی په منځ ستاسې کې (په چغلۍ او نورو بديو کې) حال دا چې غوښتله به دوی تاسې ته فتنه (ستاسې په منځ کې د دښمنۍ په اچولو او له کافرانو څخه ستاسې په ويرولو کې).]

د نفاق لښکرو همدلته له خپل شر او شيطنت نه بنه ګټه پورته کړه. او دوه داسې فرصتونه په لاس ورغلل چې له املې يې پدې وتوانيدل د مسلمانانو په ليکو کې درز او تشويش پيدا کړي. او د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) په خلاف دومره لوی تهمت جوړ کړي چې ځواب يې پخپله الله تعالی ووايه. ددې دواړو پيښو تفصيل دا ډول دی:

١- له مدينې نه د ذليل سړي شړلو خبره:

د منافقينو دا قول چې ويل به يې: ((لَئِنْ رَجَعْنَا إِلَى الْمَدِينَةِ لَيُخْرِجَنَّ الأَعَزُّ مِنْهَا الأَذَلَّ)) . (المنافقون: ٨)

[که چيرې بيرته وګرځو مونږ طرف د مدينې ته نو خامخا به وباسي ډير عزتمن (کافر خلک له دغه مدينې نه) ډير خوار کمزور خلک.]

رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) له غزا نه وروسته له مريسيع چينې سره تشريف درلود او هملته يې اړولي و، خلک لاړل تر څو له چينې نه او به راوړي، د عمر بن الخطاب (رضي الله عنه) يو غلام يا مزدور ؤ چې جهجاه الغفاري نوميده، دده او سنان بن وبر جهني تر مينځ د اوبو په سر جنجال او جنګ پيښ شو. جهني چيغه وکړه اې انصارو او جهجاه مهاجرينو ته غږ کړ. په همدې وخت کې رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) وفرمايل: (أبدعوي الجاهلية وأنا بين أظهركم؟ دعوها فإنها مُنْتِنَة). پداسې حال کې چې زه ستاسې په مينځ کې وجود لرم تاسې د جاهليت ناري

وهئ؟ دا د جاهليت ناري پريږدئ، دا ډيري بدبويه ناري دي! عبدالله بن ابي بن سلول ته چې دا خبره ورسيده ډير په غوسه شو، له ده سره يې د قوم يوه ډله خلک هم وو. زيد بن ارقم چې دغه وخت کشر ځوان وٴ هم پدې ځای کې موجود و، عبدالله بن ابي وويل: آيا دوی همداسې وکړل، دوی زمونږ سيمې ته راغلل اوس ځانونه له مونږ سره په تله کې اچوي او مقابله راسره کوي! قسم په خدای پر مونږ او دوی دا متل صدق کوي چې وايي: سپی دې چې چاغ کړ، نو خوري به دې! قسم په الله چې مدينې ته له رسيدو وروسته به د هغه ځای عزيز او سرلوړي خلک دغه ذليل او خوار خلک له مدينې نه باسي. بيا يې خپلو ملګرو ته مخ کړ او ورته ويې ويل: دا ټول ستاسې له خپله لاسه، تاسې پخپل وطن کې ځای ورکړ، خپل مالونه مو ورسره وويشل، که تاسې دوی ته څه نه وای ورکړي نو چيرته بلې سيمې ته به تللي وای.

زيد بن ارقم (رضي الله عنه) دا خبر خپل تره ته ورساوه، تره يې لاړ او رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) يې چې عمر (رضي الله عنه) هم ورسره وٴ له واقعې خبر کړ. عمر (رضي الله عنه) وويل: عباد بن بشر (رضي الله عنه) ته امر وکړه چې دا منافق (عبدالله بن ابي) ووژني. رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) وفرمايل:(**فكيف يا عمر إذا تحدث الناس أن محمداً يقتل أصحابه؟ لا ولكن أَذِّنْ بالرحيل**). اې عمره! که داسې وکړم نو بيا به خلک وايي چې محمد (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) خپل اصحاب وژني، نه داسې نه کوم، خلکو ته د تللو امر وکړه. دا داسې ساعت او وخت وٴ چې عادتاً به رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم)، پکې کوچ نه کاوه. په هر حال حکم وشو، خلک روان شول، اسيد بن حضير (رضي الله عنه) له رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) سره مخامخ شو له سلام نه وروسته يې عرض وکړ چې په نا مناسب وخت کې دې د تګ او کوچ امر وکړ. رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) په ځواب کې ورته وويل:(**أو ما بلغك ما قال صاحبكم؟**). ته نه يې خبر چې ستاسې آشنا (عبدالله بن ابي) څه ويلي دي؟ ده وويل: نه زه نه يم خبر، څه يې ويلي دي؟ رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) وفرمايل:(**زعم أنه إن رجع إلى المدينة ليخرجن الأعز منها الأذل**). هغه دا ګمان او خيال کړی چې مدينې ته له رسيدو نه وروسته به د عزت خاوندان پاڅيږي او هغه ذليل او خوار کسان به له مدينې نه شړي! اسيد (رضي الله عنه) عرض وکړ، که وغواړې نو

ته به هغه له مدينې نه شړې، قسم په الله چې ته عزيز او هغه ذليل دی. او زياته يې کړه: يا رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم)! له هغه (عبدالله بن ابي) سره ډيره نرمي وکړه، ته الله مونږ ته پداسې حال کې راوستې چې د هغه قوم دده لپاره مړی او غمي برابرول تر څو تاج ورته جوړ کړي او پاچا يې وټاکي، هغه اوس دا ګمان کوي چې پاچايې يې تا ور نه اخيستې ده!

رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) دغه ورځ ان تر لماسختن پورې او ورپسې ټوله شپه مسلسل سفر وکړ، سهار هم روان و تر څو لمر ښه ګرم شو خلک يې په تکليف کړل، نو يو ځای يې وارول. خلک ټول ډير ستړي شوي وو څنګه چې ځمکې ته ورسيدل فوراً ټول ويده شول. رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) دا کار او دا دومره اوږد مزل ددې پخاطر وکړ تر څو د خلکو توجه بلې خواته واړوي، او له خبرو نه يې په بل څه مصروف کړي.

د منافقانو مشر (ابن ابي) چې کله خبر شو چې زيد بن ارقم دده خبره رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) ته رسولې ده، نو فوراً د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) خدمت ته حاضر شو، قسم يې ياد کړ چې ما دا ډول خبرې ندي کړې، او نه مې ديخوا ته اشاره کړيده. موجودو انصارو هم وويل يا رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) کيدای شي هغه هلک زيد (رضي الله عنه) په خبره نه وي پوه شوی. رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) دده خبره ومنله. زيد (رضي الله عنه) وايي: قسم په خدای پدې سره زه دومره خفه شوم چې په ټول ژوند کې دومره نه وم خفه شوی، لاړم په کور کې کيناستم. تر څو الله تعالى دا ايتونه رانازل کړل.

((إِذَا جَاءَكَ الْمُنَافِقُونَ)) تر دې پورې چې فرمايي: (هُمُ الَّذِينَ يَقُولُونَ لا تُنْفِقُوا عَلَى مَنْ عِنْدَ رَسُولِ اللَّهِ حَتَّى يَنْفَضُّوا)) (المنافقون:٧) [دوی (منافقان) هغه کسان دي چې وايي د رسول الله په ملګرو مصرف مه کوئ (مرسته مه ورسره کوئ) تر څو تيت او ورنه جدا شي] ((لَيُخْرِجَنَّ الأَعَزُّ مِنْهَا الأَذَلَّ)) (المنافقون:٨) [د عزت خاوندان به ذليل او خوار کسان له مدينې نه وباسي]

زيد وايي: رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) څوک راپسې راولېږل ورغلم او همدا آيتونه يې راته ولوستل او ويې فرمايل: زيده! (إن الله قد صدقك). الله تعالى

ريښتونی کړي.[1]

د منافق عبدالله بن ابي زوی چې هغه هم عبد الله نومیده، یو صالح او غوره صحابي ؤ له خپل پلار نه يې برائت اعلان کړ، لاړ او د مدينې په دروازه کې د خپل پلار مخې ته ودرید، توره يې په لاس کې وه او کله يې چې پلار راغی غږ يې ورته وکړ ودریږه! قسم په الله تر هغې پورې به لدې ځای نه مخکې لاړ نه شې تر څو رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) اجازه نه وي درته کړي، رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) عزيز او ته ذليل يې. کله چې رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) تشريف راوړ د تلو اجازه يې ورکړه، نو هغه هم پرېښود چې مدينې ته داخل شي. عبدالله بن عبدالله بن ابي (رضي الله عنه) دا هم ويلي و، يا رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم)! که غواړې پلارمې ووژنې نو امر راته وکړه قسم په الله چې سر به يې درته حاضر کړم.[1]

۲- د افک پېښه

د افک (تور) پېښه په همدې غزا کې واقع شويده، ددې پېښې لنډيز داسې دی: پدې غزا کې رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) له خپلو بيبيانو (رضي الله عنهن) نه د يچې په اساس حضرت عائشه (رضي الله عنها) له ځان سره بوولې وه. له غزا نه د بيرته ستنيدو په دوران کې يو ځای تم شول، حضرت عائشه (رضي الله عنها) د حاجت رفع کولو پخاطر ووتله، هلته هغه امیل ورنه ورک شو کوم چې له خپلې خور نه يې په عاريت اخيستې ؤ، بيرته ورپسې ورغله او په هغه ځای کې يې لټاوه چيرته چې ورنه ورک شوی ؤ. په همدې وخت کې د تللو امر وشو، هغه کسان چې ددې کجاوه يې بارولې راغلل، فکر يې کاوه چې عائشه (رضي الله عنها) پکې شته، کجاوه يې پورته کړه، په اوښ يې بار کړه، پوه نه شول چې په کجاوه کې عائشه (رضي الله عنها) نشته.

عائشې (رضي الله عنها) خپل امیل ومونډ او بيرته خپل ځای ته راغله، خو هلته هيڅوک هم نه وو پاتې شوي ټول تللي وو، هملته ځای په ځای کيناستله. فکر يې وکړ چې دوی به بيرته ورپسې راوګرزي.

---

[1]. صحيح بخاري ۱/ ۴۹۹. ۲/۷۲۷-۷۲۹ ابن هشام ۲/ ۲۹۰ - ۲۹۲

[1]. ابن هشام . مختصر سيره الرسول ص ۲۷۷ .

الله تعالی د واک خاوند دی، څه يې چې اراده وي همغه کيږي. عائشه (رضي الله عنها) همدلته خوب يووړه ويده شوه. يو وخت د صفوان بن معطل په دې آواز سره راويښه شوه چې ويې ويل: ((انا لله و انا اليه راجعون)) دا خو د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) بي بي ده؟ صفوان له لښکر نه وروسته پاتې شوی وٴ، ځکه هغه ډير خوب درلود او کله يې چې عائشه (رضي الله عنها) وليده، ويې پيژندله ځکه د حجاب له حکم نه مخکې يې ليدلی وه، (انا لله . . . . .) يې وويل اوښه يې چو کړه پدې وخت کې عائشه (رضي الله عنها) راويښه شوه، نو صفوان خپله اوښه ورلنډه کړه او عائشه (رضي الله عنها) ورباندې سپره شوه. صفوان يوه کلمه خبره هم ورسره ونکړه، او له (انا لله و انا اليه راجعون) نه پرته يې بل حرف هم ورنه وانه وريده. صفوان د اوښې تر مخ روان شو مخکې لاړ او لښکر ته چې د غرمې په وخت کې يې لنګر اچولی و ورسيد. خلکو چې دا حالت وليد هر يوه له خپل شان او حال سره برابر يو څه وويل. خو د خدای دښمن د منافقانو رئيس عبدالله بن ابي د خپلې دښمنۍ، کينې او خبث د اظهارولو لپاره ښه فرصت وموند، د افک (تور يا تهمت) کيسه يې جوړه کړه. پيل يې وکړ همدا يې خورول په يوه او بله لاره يې زيار يوست دا تهمت د هر چا غوږونو ته ورسوي. ډله يې ټوله ورنه راټوله وه، همدا خبرې يې سره زمزمه کولې. او کله چې مدينې ته ولاړل افک (تهمت) جوړونکو کيسه اوږده کړه. رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) چې او ساکت و هيڅ يې نه ويل. خو کله چې پدې هکله وحي وځنډيده، نو رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) د عائشه (رضي الله عنها) د سرنوشت په هکله له خپلو اصحابو (رضي الله عنهم) سره مشوره وکړه، علي (رضي الله عنه) اشارتاً داسې مشوره ورکړه چې عائشه (رضي الله عنها) پريږدي يعنې طلاق ورکړي، د اسامه (رضي الله عنه) او نورو مشوره دا وه چې پدې هکله د دښمنانو خبرو ته اهميت ورنکړي او عائشه (رضي الله عنها) له ځان سره وساتي. بيا رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) منبر ته پورته شو او له عبدالله بن ابي او دده له اذيتونو نه يې شکايت وکړ. په همدې وخت کې د اوس مشر اسيد بن حضير خپله تياري څرګنده کړه او ويې ويل که اجازه وي زه دا منافق وژنم. سعد بن عباده (رضي الله عنه) چې د خزرج قبيلې سردار وٴ په احساساتو راغی د خپل قوم پلوي يې وکړه، په همدې سره دده او اسيد (رضي الله عنه) تر مينځ خبرې هسکې تيتې شوې، په نتيجه کې دواړه قبيلې پخپل منځ کې سره ببرې شوې، رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) په ډير مشکل سره هغوی آرام کړل او پخپله هم چپ شو.

عائشه (رضي الله عنها) مدينې ته له ستنيدو وروسته پوره يوه مياشت رنځوره وه، د

افک (تهمت) له کيسې نه خبره نه وه، خو د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) هغه مهرباني يې نه ليدله کومه چې پخوا به يې د بيماری او مرض په وخت کې وربانديې درلوده. کله چې جوړه شوه يوه شپه له ام مسطح سره د قضاء حاجت لپاره بيرون ته ووتله. د ام مسطح پښه په ټکري کې بنده شوه ولويده او په همدې وخت کې يې خپل زوی ته بښيره وکړه. عائشې (رضي الله عنها) پدې بښيرو سره هغې ته وويل دا کار دې سيي ندی! ام مسطح په ځواب کې عائشې (رضي الله عنها) له پېښې نه خبره کړه ورته وويل: چې زما زوی هم پدې تهمت کې شريک دی چې په تا پسې ويل شويدی. کيسه يې ورته وکړه. عائشه (رضي الله عنها) کورته راغله او له رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) نه يې اجازه وغوښتله چې د خپل پلار کورته لاړه شي تر څو له پيښې نه پوره ځان خبر کړي.

رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) اجازه ورکړه او هغه د خپل مور و پلار کره لاړه هلته يې د کيسې په تفصيلاتو ځان خبر کړ او کله چې په خبر پوه شوه نو ډير زيات يې وژړل، دوې شپې او يوه ورځ يې مسلسل ژړل. خوب يې ورک شو، اوښکې يې همداسې روانې وې، نژدې وه چې له ډيرې ژړا نه يې زړه وچوي. په همدې وخت کې رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) تشريف راوړ، د شهادت کلمه يې ولوستله او ويې فرمايل: (**أما بعد يا عائشة، فإنه قد بلغني عنك كذا وكذا، فإن كنت بريئة فسيبرئك الله، وإن كنت ألممت بذنب فاستغفري الله وتوبي إليه، فإن العبد إذا اعترف بذنبه، ثم تاب إلى الله تاب الله عليه**). اې عائشې (رضي الله عنها)! ستا په هکله دا او هغه خبرې راته شويدي، که چيرې ته بې ګناه او پاکه وي، نو الله (ج) به ستا برائت او پاکي اعلانوي، او که خدای نا خواسته ګناه درنه شوې وي نو توبه وباسه، ځکه بنده چې پخپله ګناه اعتراف وکړي او توبه وباسي، الله تعالی يې توبه قبلوي.

همدلته د عائشې (رضي الله عنها) اوښکې وچې شوې، خپل مور و پلار ته يې مخ واړاوه چې رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) ته ځواب ووايي. خو هغوی حيران وو چې څه ووايي؟ نو عائشې (رضي الله عنها) پخپله وويل: قسم په الله دی چې تاسې زما په هکله دا خبرې اوريدلې دي او ستاسې زړه هم منلې ده، هغه مو رښتيا بللې که زه درته ووايم چې زه بري او پاکه يم، الله تعالی خبر دی چې زه بري يم. تاسې زما دا خبره نه منئ او که زه په هغه څه اقرار وکړم چې الله تعالی پرې عالم دی چې زه

ورنه بري يم، نو تاسې به يې ومنئ، زه دلته د ځان او تاسې لپاره د يوسف (عليه السلام) د پلار دا قول وايم چې فرمايي: ((فَصَبْرٌ جَمِيلٌ وَاللَّهُ الْمُسْتَعَانُ عَلَى مَا تَصِفُونَ)) (يوسف: ۱۸). [نو کار زما صبر جميل دی (چې پکې هيڅ شکايت ونکړم خلکو ته) او (له هم دغه) الله څخه مدد غوښتلی شي په (تحمل د) هغې (خبرې) کې چې تاسې يې بيانوئ (له هلاکه د يوسف).]

دا خبره يې وکړه بلې خوا ته لاړه او څملاسته، په همدغه وخت کې همدلته پر رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) د الله تعالى له لوري وحې رانازله شوه. کله چې د وحي کيفيت ختم شو، رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) په خندا شو او لومړنی کلمه يې دا وه: (يا عائشة، أما الله فقد برأك). [يا عائشه (رضي الله عنها)! قسم په الله چې الله تعالى ستا برائت اعلان کړ.]

مور يې ورته وويل: پاڅه د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) خدمت ته ورشه، شکر يې په ځای کړه. عائشې (رضي الله عنها) پداسې حال کې چې له خپل برائت او د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) له محبت او اعتماد نه به بې حده خوشاله شوې او مطمئنه وه په ناز سره وويل: زه رسول (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) ته نه ورځم، زه يوازې د الله تعالى حمد او شکرانه وايم.

الله تعالى د افک د حادثې په هکله لس آيتونه نازل کړي چې په پيل کې يې فرمايي: ((إِنَّ الَّذِينَ جَاءُوا بِالإِفْكِ عُصْبَةٌ مِنْكُمْ)) (النور: ۱۱تر ۲۰) [بيشکه هغه کسان چې راوړي يې دې غټ دروغ (په شان د عائشې (رضي الله عنها) کې) يو ټولی دی له تاسې (مسلمانانو نه).]

پدې تهمت او جرم کې له شريکو کسانو نه مسطح بن اثاثه، حسان بن ثابت او حمنه بنت جحش (رضي الله عنهم) اتيا اتيا درې (متروکې) ووهل شول، خو ددې جرم لوی مجرم او د منافقينو رئيس عبدالله بن ابي ته جزا ورنکړل شوه، حد وربانديې جاري نه شو. دا هم ځکه چې حد خو د مجرمينو لپاره يو ډول تخفيف دی، دغه منافق خو د تخفيف مستحق ندی، الله تعالى هغه ته په آخرت کې د سخت عذاب وعيد کړيدی. او يا کيدای شي چې د هغه مصلحت پخاطر حد نه وي وربانديې جاري شوی د کوم پخاطر چې هغه وژل شوی نه وئ.[1]

پدې ترتيب سره له يوې مياشتې پريشانۍ وروسته له مدينې نه د شک، پريشانۍ او

---

[1]. صحيح بخاري ۱/ ۶۹۶/۲-۶۹۸ .. زاد المعاد ۲/ ۱۱۳- ۱۱۵. ابن هشام ۲/ ۲۹۷- ۳۰۷

تشويشونو وريځې والوتلې. د منافقانو رئيس داسې وشرميد چې نور يې هسک نه شوی کتلی. ابن اسحاق وايي: لدې پېښې نه وروسته عبدالله بن ابي دومره سپک او رسوا شو چې که کومه خبره او پېښه به يې جوړه هم کړه، نو تر ټولو لومړی به يې خپل قوم خبره ردوله، ورباندې په غوسه کيدل به، او راټه به يې.

رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) عمر (رضي الله عنه) ته وفرمايل: **(كيف ترى يا عمر؟ أما والله لوقتلته يوم قلت لي: اقتله، لأرعدت له آنف، ولو أمرتها اليوم بقتله لقتلته)**. {څه فکر کوې يا عمره! که هغه ورځ دې وژلی وئ، په کومه ورځ دې چې ماته وويل چې اجازه را کړه ويې وژنم، نو که هغه وخت دې وژلی وئ ډير همدردان او ملاتړي به يې پيدا کړي وو، خو که نن يې همغوی ته د وژلو حکم وشي، نو و به يې وژني.}

عمر (رضي الله عنه) عرض وکړ: زه پوه شوم چې د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) امر او معامله زما له کار او معاملې نه ډيره برکتي او غوره ده.[1]

---

[1]. ابن هشام ۲/ ۲۹۳

له مريسيع غزا وروسته پوځي عمليات

۱- د عبدالرحمن بن عوف سريه:

د شپږم هجري کال د شعبان په مياشت کې رسول الله (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) عبدالرحمن بن عوف (رضي الله عنه) په دومه الجندل کې ميشته بني کلب ته واستاوه، له خوځيدو نه مخکې رسول الله (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) ور ته وويل: راځه دلته زما مخ ته کينه. هغه راغی د رسول الله (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) مخې ته کيناست، رسول الله (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) پخپل مبارک لاس لنګۍ ور وتړله، او د جګړې په هکله يې په زړه پورې لارښوونې وکړې، ورته ويې فرمايل: (**إن أطاعوك فتزوج ابنة ملكهم**).که هغوی ستا امر ومانه، نو د پاچا د لور سره يې واده وکړه. عبدالرحمن بن عوف (رضي الله عنه) لاړ او دری ورځې يې هغه قوم اسلام ته راباله، تر څو هغوی په اسلام مشرف شول، بيا عبدالرحمن بن عوف د قبيلې د سردار يا پاچا (اصبغ) له لور (تماضر) سره واده وکړ. او همدا تماضر په ام ابي سلمه سره شهرت لري.

۲- د علي بن ابي طالب سريه: په ۶ هجري کال د شعبان په مياشت کې وه، هدف يې په فدک کې ميشته د بني سعد بن بکر قبيله وه. رسول الله (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) ته خبر راغی چې دلته څه کسان له يهودانو سره د مرستې لپاره راټول شويدي، نو فوراً يې علي (رضي الله عنه) د دوه سوه کسيز لښکر په مشرۍ هغه سيمې ته واستاوه. علي (رضي الله عنه) به د شپې سفر کاوه او د ورځې له مخې به يې چيرته کمين نيوه، يوه ورځ يې د مشرکينو يو جاسوس ونيو هغه اقرار وکړ چې د بني سعد قبيلې له خوا يې د خيبر يهودانو ته دا خبر رسولی و که يهودان دوی ته د خيبر خرماوې ورکړي، نو دوی به ورسره مرسته وکړي. همدې جاسوس د بني سعد د غونډيدو ځای هم په ګوته کړ. علي (رضي الله عنه) پر هماغه ځای يرغل وکړ، پنځه سوه اوښان، او دوه زره پسونه يې په غنيمت ونيول. بنو سعد له خپلو ښځو، اولادونو او له خپل مشر وبر بن عليم سره يو ځای وتښتيدل.

۳- د ابوبکر الصدیق (رضي الله عنه) په بل روایت د زید بن حارثه (رضي الله عنه) سریه: د ۶ هجري کال د رمضان په میاشت کې د وادي القری په سیمه کې پیښه شوې وه. فزاره قبیلې د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) د ترور نیت کړی وۀ، نو رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) یې د مقابلې لپاره ابوبکر الصدیق (رضي الله عنه) ورولیږه. سلمه بن اکوع وایي: زه هم ورسره وم او کله مو چې د سهار لمونځ ادا کړ، امر راته وشو، برید مو پرې وکړ، د هغوی د اوبو چینې ته ورسیدو یو شمیر مو ورنه ووژل. ما له دوی نه یوه ډله ولیده چې ښځې او ماشومان هم پکې وو، ووېریدم هسې نه له مانه مخکې غره ته ورسیږي، ورپسې ورغلم د دوی او غره تر مینځ مې د غشي وار وکړ کله چې دوی غشی ولید، ودریدل، پدې ډله کې ام قرفه نومې یوه ښځه هم وه چې یو زوړ پوستین یې اغوستی وۀ له دې سره یې لور چې د زیاتې ښکلا درلودونکې وه هم ملګرې وه، ما ټول ونیول او د ابوبکر (رضي الله عنه) حضور ته مې راوستل. هغه همد ا ښکلې نجلۍ ما ته حواله کړه، ما د هغې جامې هم نه وې پرانیستې چې رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) رانه وغوښتله، مکې ته یې ولیږله او په بدل کې یې د مسلمانانو ډیر اسیران ورباندې را خوشي کړل.[1]
ام قرفه یوه شیطان صفته ښځه وه، د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) د په شهادت رسولو لپاره یې ډیرې توطئې جوړولې، او د همدې هدف لپاره یې د خپلې کورنۍ ډیرش کسه تیار کړي هم وو، او بالاخره هغه پخپله سزا ورسیده اوپوره ډیرش کسان یې ووژل شول.

۴- د کرز بن جابر الفهري سریه: دا هماغه صحابي دی چې له بدر نه وړاندې یې د سفوان په غزا کې د مدینې په پنډ غالي حمله کړې وه، وروسته په اسلام مشرف شو او د مکې د فتحې په غزا کې په شهادت ورسید.
کیسه داسې وه چې د عکل او عرینه یوې ډلې (چې رنځوران وو) په ظاهره اسلام راوړ، په مدینه کې میشته شول، خو ددې ځای هوا د دوی لپاره مناسبه نه وه. رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) هغوی له یوه څړ ځای او هلته له ځارویو نه د دفاع پخاطر واستول، امر یې ورته وکړ چې ددې ځارویو (اوښانو) ساتنه به کوئ او د هغې شیدې او متیازې به څښئ. کله چې دغه خلک له ناروغۍ نه جوړ شول، نو د

---

[1]. صحیح مسلم ۸۹/۲ ویل کیږي دغه سریه په اووم هجري کال وه.

رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) شپون يې وواژه، اوښان يې له ځان سره وتښتول او بيرته مرتد او کافر شول. بناء رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) د ۶ هجري کال په شوال مياشت کې کرز بن جابر (رضي الله عنه) له يوه ګروپ سره په هغوی پسې ورولېږه. رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) پدې وخت کې دا دعا هم وکړه: (**اللّهم أعم عليهم الطريق، واجعلها عليهم أضيق من مَسَك**).اې خدايه! ته په عرنيينو لاره بنده کړې، لاره يې له وښې نه هم زياته ورته تنګه کړې. الله تعالی همدا دعا قبوله کړه، له هغوی نه لاره ورکه شوه او ټول د مسلمانانو په اسارت کې ولويدل. بيا د خپل جرم (قتل او شوکو) په بدل کې حد ورباندې جاري شو، لاسونه او پښې يې پرې شوې، سترګې يې ورنه وايستلې شوې، او بيا هملته يو ځای وغورځول شول او ټول مړه شول[1]. دا کيسه په صحيح بخاري کې له انس (رضي الله عنه) نه هم روايت شويده[2].

سيرت ليکونکي پدې سريه پسې له سلمه بن ابي سلمه سره د عمرو بن اميه الضمري د سريې ذکر هم کوي. دا هم د ۶ هجري کال په شوال کې وه. کيسه يې داسې ده چې نوموړی د ابوسفيان د ترور لپاره مکې ته لاړ ځکه ابو سفيان لدې نه مخکې د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) د ترور لپاره يو کوچی مدينې ته رالېږلې وۀ، خو دا يو هم پخپل هدف کې بريالی نه شو. داسې روايت هم شته چې عمرو د لارې په اوږدو کې دری کسان وژلي وو، او بل روايت وايي چې عمرو په همدې سفر کې د شهيد خبيب (رضي الله عنه) جسد هم له ځان سره اخيستې وۀ. مشهوره خو دا ده چې خبيب له رجيع حادثې نه څو ورځې يا مياشتې وروسته شهيد شوی دي. د رجيع پيښه په څلورم هجري کال د صفر په مياشت کې وه، نه پوهيږم تاريخ ليکونکي سهوه شويدي او که همدا دواړه پيښې په يوه سفر او څلورم هجري کال کې شويدي! علامه منصور پوري دا نه مني چې پدې سريه کې دې جګړه او مقابله شوې وي. والله اعلم.

دا له احزاب او بني قريظه غزا ګانو نه وروسته پيښې شوې سريې دي چې په يوه کې يې هم سخته جګړه نده شوې، نو پدې اساس ويلی شو چې دا ټول يو ډول اکتشافي ګزمې او عمليات وو چې هدف يې د هغو اعرابو ويرول او آرامول وو چې لا تر اوسه يې سد سرته نه وۀ ورغلی. که پيښو ته ژوره کتنه وشي نو داسې ښکاري چې له احزاب غزا نه وروسته د پيښو مسير بدل شوی او دښمنان د ماتې په لور روان وو، حوصلې يې ټيټې شوې، د اسلامي حکومت او ځواک له ماتولو نه بالکل مايوسه او نا اميده

---

[1]. زاد المعاد ۱۲۲/۲

[2]. صحيح البخاري ۶۰۲/۲.

شوي وو. دا حقيقت هغه وخت ښه څرګند شو کله چې د حديبيې سوله وشوه، او پدې سولې سره مشرکينو د اسلام په ځواک او عظمت اعتراف وکړ، او اسلام يې د يوه ځواک په توګه په عربي جزيره کې ومانه.

د حديبيې صلح

شپږم هجري کال د ذي القعدې مياشت

د حديبيې عمرې سبب:

وروسته له هغې چې په عربي جزيره کې حالات تر ډيره حده د مسلمانانو په ګټه شول، د اسلامي بلنې د بري رڼا ورو ورو را ښکاره کيدله، او په مسجد حرام چې پوره شپږ کاله د مشرکانو له خوا د مسلمانانو په مخ تړل شوی و، اوس د مسلمانان د عبادت په حق د اعتراف مقدمه پيل کيدونکې وه.

رسول رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) په مدينه منوره کې خوب وليد چې دی او اصحاب (رضي الله عنهم) يې مسجد حرام ته داخل شوي د کعبې شريفې کليانې يې اخيستې او ټولو طواف او عمره ادا کړې، وروسته ځينو د سر ويښتان کم او نورو بالکل پاک خريلي دي. رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) خپل دا خوب اصحابو (رضي الله عنهم) ته ووايه، هغوی ډير خوشاله شول، ګمان يې وکړ چې دوې به همدا کال مکې ته داخليږي. رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) دا هم ورته وويل چې زه به عمره ادا کوم، نو همدا وه چې اصحابو (رضي الله عنهم) د سفر تياري ونيوله.

مسلمانانو ته د سفر امر

رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) د مدينې او شا و خوا سيمو اوسيدونکو ته اعلان وکړ چې له ده مبارک سره د سفر لپاره تيار شي. ډيرو اعرابو (کوچيانو) سستي کوله، رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) پخپله خپلې مينځل شوې جامې واغوستلې، عبدالله بن ام مکتوم او په بل روايت نميله ليثي يې د مدينې خليفه وټاکه، او په خپله قصواء نومې اوښه سپور شو.

د ۶ هجري کال د ذي القعدې په لومړۍ نيټه د دوشنبې په ورځ يې له مدينې نه حرکت وکړ، ام المؤمنين ام سلمه (رضي الله عنها) هم ورسره ملګرې وه. د لښکر شمېره يې ۱۴۰۰ او په بل روايت ۱۵۰۰ کسانو ته رسيده. پدې سفر کې له رسول الله (صلى الله

علیه و اله و صحبه و سلم) او لښکر سره یې له تورو پرته چې هغه هم په تکیو کې وې نوره هیڅ ډول وسله نه وه.

مسلمانان د مکې په لور خوځیږي

رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) او ورسره اصحاب (رضي الله عنهم) د مکې په لور روان شول. کله چې ذي الحلیفه سیمې ته ورسیدل، رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) خپلې هدی (د قربانۍ څارویو، میږو او پسونو) ته قلادې ور واچولې، اوښې یې په بوکام کې څیرې او په ننبه کړې. د عمرې لپاره یې احرام وتاړه تر څو خلک پدې پوه شي چې د جنګ اراده نلري. یو کس ته یې وظیفه ورکړه چې لاړ شي او د قریشو حال احوال ورته راوړي، او کله چې عسفان ته نژدې کیده همدا څاری ورته راغی، عرض یې وکړ چې کعب بن لوئ خپل حلیف قبائل (احابیش) راغونډ کړي او ستا سره د مقابلې نیت لري، نور خلک یې هم د جګړې لپاره راټول کړیدي، تصمیم یې نیولی تاسو ته اجازه درنکړي مکې ته داخل شئ! پدې وخت کې رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) له خپلو اصحابو (رضي الله عنهم) سره مشوره وکړه او ویې فرمایل: (**أترون نميل إلى ذراري هؤلاء الذين أعانوهم فنصيبهم؟ فإن قعدوا قعدوا موتورين محزونين، وإن نجوا يكن عنق قطعها الله، أم تريدون أن نؤم هذا البيت فمن صدنا عنه قاتلناه؟**). تاسې پدې کې څه نظر لرئ چې لاړ شو او د هغو خلکو په کورونو حمله وکړه کوم چې له قریشو سره د مرستې لپاره وتلي دي؟ او د هغوی پر هر څه قبضه وکړو، وروسته که هغوی غلي کیني، نو دا به داسې وخت وي چې د جنګ خوند به یې څکلی وي، لوی غم به وربانډې راغلی وي، او که راځي نو دا به هم پداسې حالت کې وي چې الله به یې ورمیږونه ورمات کړي وي، او که نه دا غواړئ چې د بیت الله شریف په لور مخ په وړاندې لاړ شو، که څوک مو مخې ته ودریدل جګړه به ورسره کوو؟ په ځواب کې ابوبکر (رضي الله عنه) ورته وویل: الله او رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) له ټولو نه ښه پوهیږي، مونږ خو د عمرې په نیت راغلي یوو. له هیڅا سره د جګړې نیت نلرو، خو که څوک زمونږ او بیت الله تر مینځ حایل واقع کیږي یعنې مونږ ته د عمرې اجازه نه راکوي، نو له هغوی سره به حتماً جنګیږو. پدې پسې رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) امر وکړ

چي: (فروحوا). ځئ، روان شئ، همدا وه چې ټول د مکې په لور وخوځیدل.

قریش هڅه کوي مسلمانان له بیت الله شریف نه منع کړي

قریشو چې د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) د راتګ خبر واورید، غونډه یې وکړه او ټول پدې سره متفق شول چې په هیڅصورت کې به رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) ته مکې ته د داخلیدو اجازه نه ورکوي. پداسې حال کې چې رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) له احابیشو نه په څنګ کې تیر شوی وٴ، د بني کعب یوه سړي خبر ورته راوړ چې قریش ذي طوی ته راغلي او د کراع الغمیم په سیمه کې د خالد بن ولید په مشرۍ دوه سوه سواره ځاې په ځای شویدي. کراع الغمیم د مکې په عمومي لاره واقع یوه سیمه وه، خالد د مسلمانانو د منع کولو هڅه کوله او خپل لښکر یې پداسې ځای کې اچولی و چې دواړو لښکرو (مسلمانانو او مشرکینو) یو بل سره لیدل. مسلمانان چې د ماسپښین په لمانځه وو، چې خالد ولیدل ورته پام یې شو چې رکوع او سجده کوي، نو له ځان سره یې وویل دوی خو پدې وخت کې ښه مصروف وو، مونږ ته یې پام نه وو که حمله مو ورباندې کړې وای، نو ښه تاوان به مو ور اړولې وای، بیا یې فیصله وکړه چې د مازدیګر د لمانځه په وخت کې ناڅاپي حمله ورباندې وکړي. نو په همدې وخت کې الله تعالی د ویرې د لمانځه (صلاه خوف) حکم نازل کړ او د خالد پلان شنډ شو.

د لارې بدلول او له خونړۍ جګړې نه ډډه کول

رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) د کراع الغمیم لاره پرېښوده او د درو په مینځ کې یې یوه بله سخته لاره ونیوله، ښۍ خوا ته له حمش نه تیره شوې لاره کومه چې ثنیه المرار ته وتله، باندې روان وو. او له ثنیه المرار نه ښکته خوا د مکې لاندینۍ برخه کې یې د حدیبیې له سیمې نه تیره شوې لاره ونیوله، هغه عمومي لاره یې خوشې کړه کومه چې په تنعیم باندې حرم شریف ته وتله. هغه لار یې چې خواته پرېښوده. او کله چې خالد د اسلامي لښکر د پښو ګرد ولید او پوه شو چې پردوی باندې ورغلی لاره یې بدله کړیده، نو فوراً یې قریشو ته خبر ولیږه.

رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) همداسې مخکې روان و تر څو ثنیه المرار ته ورسید هملته یې اوښه چو شوه. خلک په هـ، هـ سره کوشش کاوه اوښه پاڅیږي خو نه پاڅیدله، نو دوی سره وویل چې قصواء ودریده، نوره د تګ نده! رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) په ځواب کې وفرمایل: (**ما خلأت القصواء، وما**

ذاك لها بخلق، ولكن حبسها حابس الفيل). قصواء نده دریدلې او نه یې دا عادت دی، خو دلته هغه چا ایساره کړه کوم چې د ابرهه فیل یې ایسار کړی وۀ. بیا یې زیاته کړه: (**والذي نفسي بيده لا يسألوني خطة يعظمون فيها حرمات الله إلا أعطيتهم إياها**). قسم په هغه ذات چې زما نفس یې په واک کې دی چې د قریشو ټول هغه وړاندیزونه به منم کوم چې د الله تعالی د حرماتو احترام او درناوی وي پکې. بیا یې اوښه په زور سره اوچته کړه، روانه شوه لاره یې بدله کړه او هلته د حدیبیه په سر کې یې له هغې چینې سره واړول چې لږ کمې اوبه یې لرلې. خلکو لږ لږ اوبه ورنه اخیستلې او په لږ ساعت کې هغه اوبه هم وچې شوې، لاړل او رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) ته یې له تندې نه شکایت وکړ. رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) له خپلې توبرې نه یو غشی راویوست، اصحابو (رضي الله عنهم) ته یې امر وکړ چې دا غشی په هغه چینه کې کیږدي. هغوی چې کله غشی په چینه کې واچاوه، فوراً اوبه ورنه را په خوټیدو شوې، ټولو وچنبلې او ماړه شول.

بدیل د رسول الله (ﷺ) او قریشو تر مینځګړیتوب کوي

وروسته له هغه چې رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) مطمئن او ډاډه شو د خزاعه قبیلې بدیل بن ورقاء له څو کسانو سره ورته راغی. د تهامه په اوسیدونکو کې خزاعه قبیله یوازینۍ قبیله وه چې د مسلمانانو او رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) خیر یې غوښت او له دوی سره یې همدردي درلوده. بدیل عرض وکړ چې کعب بن لوئ د حدیبیې له زیاتو اوبو سره خوا کې اړولي دي، ښځې او اولادونه یې هم ورسره دي، له ستا سره د جګړې او له بیت الله شریف نه د منع کولو اراده یې کړیده. په ځواب کې رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) وفرمایل: (**إنا لم نجئ لقتال أحد، ولكنا جئنا معتمرين، وإن قريشاً قد نهكتهم الحرب وأضرت بهم، فإن شاءوا ماددتهم، ويخلوا بيني وبين الناس، وإن شاءوا أن يدخلوا فيما دخل فيه الناس فعلوا، وإلا فقد جَمُّوا ، وإن هم أبوا إلا القتال فوالذي نفسي بيده لأقاتلنهم على أمري هذا حتى تنفرد سالفتي، أو لينفذن الله أمره**).مونږ د عمرې په نیت راغلي یوو، له هیڅا سره د جګړې اراده نلرو، قریش خو جګړو تباه کړي له جګړو نه زیات

زيانمن شويدي، که غواړي نو تر يوه وخته دې زما او نورو خلکو تر مينځ غرض نلري، څه وخت به ورکړم، مونږ او نور دې سره پريږدي، وروسته که خلک زما امر ته تسليم شول، نو دوی هم همدا کار کولی شي او زما اطاعت غوره کولی شي. او که بيا يې نه غوښتل ما ته تسليم شي، نو تر هغې پورې به يې يو څه دمه کړې وي، لږ په حال به راغلي وي، خو که دوی يوازې په جګړه اصرار کوي، نو قسم په الله چې د خپل دين په لار کې به تر هغې پورې ورسره جنګيږم تر څو مې سر نه وي پرې شوی او يا د الله تعالی امر نه وي نافذ شوی.

بديل وويل: زه به ستا خبره قريشو ته ورسوم. روان شو قريشو ته ورغی او ورته ويې ويل: اې قريشو زه د محمد (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) له طرفه درته راغلی يم، هغه څه خبره راته کړيده که خوښه مو وي درته و به يې کړم؟ ځينو کم عقلانو وويل: نه، مونږ د هغه خبرو ته اړتيا نلرو، خو هوښيارانو يې وويل: وايه هغه څه يې درته ويلي دي؟ بديل د محمد (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) خبره ورته وکړه، نو قريشو مکرز بن حفص ور واستاوه.

رسول الله (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) چې کله مکرز وليد نو ويې وفرمايل دغه يو غدار او خائن سړی دی. په هر حال مکرز راغی، رسول الله (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) همغه خبره ورته وکړه کومه يې چې بديل ته کړې وه، او مکرز بيرته قريشو ته ورغی.

د قريشو سفيران

هلته د کنانه قبيلې حليس بن علقمه نومي سړي وويل: اجازه راکړئ چې زه هم محمد (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) ته ورشم. هغوی ورته وويل: ورشه، کله چې رسول الله (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) ته ورلنډ شو، رسول الله (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) وفرمايل: (**هذا فلان، وهو من قوم يعظمون البدن، فابعثوهـــا**).دا د فلانۍ قبيلې غړی دی، د دوی خلک له حج نه وروسته قربانۍ ته د ځانګړيو شويو څارويو (بدن) قدر او درناوی کوي. بيا يې اصحابو (رضي الله عنهم) ته امر وکړ چې د قربانۍ خپل څاروي ددې سړي مخې ته واستوي تر څو هغه يې وګوري. اصحابو (رضي الله عنهم) همداسې وکړل او له هغه نه يې پداسې حال کې استقبال وکړ چې تولو تلبيه ويله.

حليس چې دا حالت وليد نو ويې ويل: سبحان الله! دا خلک خو بايد له بيت الله شريف

نه منع نه کړای شي. بیرته خپل قوم ته ورغی او ورته ویې ویل: چې ما د قربانۍ لپاره تیار شوي څاروي ولیدل، لازمه نده چې دا خلک (مسلمانان) له مکې نه منع کړای شي.

دلته دده او قریشو تر مینځ داسې خبرې وشوی چې حلیس یې وپاراوه، عروه بن مسعود ثقفي وویل: دې سړي د عقلمندۍ خبره وکړه، اجازه راکړئ زه هم یو ځل محمد (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) ته ورشم. قریشو اجازه ورکړه، هغه لاړ او له رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) سره یې خبرې پیل کړې.

رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) همغه خبرې ته نژدې یوه خبره ورته وکړه کومه یې چې بدیل ته کړې وه. پدې وخت کې عروه ورته وویل: یا محمده! (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) که چیرې ته خپل وځپې او ټول له مینځه یوسې نو څه به تر لاسه کړې؟ او راته ووایه چې آیا تا تر اوسه داسې اوریدلي دي چې په عربو کې دې له تا پرته بل چا خپل ټول قوم له مینځه وړی وي؟ او که حالت بدل وي جګړه ستا په ګټه نه وي، نو زه دلته داسې اوباش کسان او مخونه وینم چې بیا به تا پریږدي او درنه تښتي به. ددې خبرې په اوریدو سره ابوبکر (رضي الله عنه) ورته وویل: د لات عورت وخوړې! فکر کوې مونږ به له خپل رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) څخه تښتو؟ عروه وویل: دا څوک دی؟ ځواب ورکړ شو چې دا ابوبکر (رضي الله عنه) دی. عروه وویل: که چیرې دې هغه احسان نه وی راباندې کوم چې ما یې لا تر اوسه بدله نه درکړې، نو حتما به م ې ددې خبرې ځواب درکاوه. په هر حال عروه له رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) سره خپلو خبرو ته ادامه ورکړه، هر ځل به یې چې خبره کوله، نو د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) مبارکه ږیره به یې رانیوله.

مغیره بن شعبه مغیره چې د عروه وراره وٴ.د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) خدمت ته حاضر و لاړ وٴ په لاس کې یې توره او په سر یې خول وٴ. کله به چې عروه د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) مبارکې ږیرې ته لاس اوږد کړ، نو مغیره به د توري په لاستي د هغه لاس وواهه او ورته ویل به یې: لاس دې د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) له ږیرې نه لیرې کړه. عروه سر پورته کړ او ویې ویل: دا څوک دی؟ دوې ورته وویل: دا مغیره دی. ده وویل: دا څه حالت دی؟ دا څه خیانت دی؟ اې غداره! آیا دا زه تر اوسه پورې ستا د غدر له لاسه منډې نه وهم؟ ستا پخاطر هلې ځلې نه کوم؟ آیا ستا د جرم له امله مې دیت نه و ورکړی؟ مغیره د

جاهلیت په دوران کې له څو کسانو سره ملګری شوی وٴ، بیا یې هغوی وژلي او مالونه یې ورنه اخیستي وو، له هغې نه وروسته راغلی او په اسلام مشرف شوی وٴ. رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) ورته فرمایلي و: (**أما الإسلام فأقبلُ، وأما المـــال فلست منـــه فـــي شـــيء**). اسلام دې منم، خو له مال سره دې څه کار نلرم، دا مسئولیت نه منم.

عروه کتل او له رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) سره یې د اصحابو (رضي الله عنهم) اړیکې او معامله څارله، بیا قریشو ته ستون شو او ورته ویې ویل: اې زما قومه! قسم په خدای چې زه د ډیرو پاچایانو دربار ته ورغلی یم، قیصر، کسری، نجاشي او نور مې لیدلي، قسم په خدای چې هیڅ یو هم د خپلو افرادو په وړاندې د دومره قدر درلودونکی ندی لکه محمد (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) یې چې د خپل قوم په وړاندې لري، د هغه اصحاب (رضي الله عنهم) له ده سره دومره مینه لري چې یو رعیت یې هم له خپل پاچا سره نه لري. اصحاب (رضي الله عنهم) له محمد (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) سره تر دې حده مینه لري چې هغه که پزه هم سغ کړي، نو د پزې اوبه یې هم ځمکې ته نه پریږدي یو کس یې اخلي پخپل مخ او بدن یې موښي، کله چې امر وکړي ټول یې تعمیل ته ولاړیږي، کله چې اودس کوي نو د اوداسه په اوبو یې سره جنګ وي هر یو هڅه کوي هغه واخلي، او کله چې هغه خبرې کوي ټول چپ شي، د ډیر احترام له وجې پورته هم نه ورته ګوري، هغه (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) ډیر معقول وړاندیز کړیدی ویې منئ.

هغه ذات چې د دوی لاسونه یې له تاسې نه لنډ کړل

کله چې د قریشو مستو، احساساتي او جنګ ته تړو ځوانانو ولیدل چې مشران یې سوله غواړي، نو د داسې یوه پلان جوړولو په فکر کې شول چې د سولې هڅې ورباندې شنډې کړي. فیصله یې وکړه چې د شپې له خوا د مسلمانانو پر مرکز برید وکړي، او داسې څه ترسره کړي چې د جګړې سبب شي. دا پلان یې جوړ او د عمل په ډګر کې یې پلی کړ ۷۰ یا ۸۰ ځوانان د تنعیم له غره نه د شپې روان شول غوښتل یې د مسلمانانو مرکز ته لار پیدا کړي، خو هلته د مسلمانانو د امنیتي چارو قوماندان محمد بن مسلمه (رضي الله عنه) ټول اسیران کړل. وروسته رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) عفوه ورته وکړه او د سولې پخاطر یې ټول پریښودل. پدې اړه دا آیت شریف نازل شو:

((وَهُوَ الَّذِي كَفَّ أَيْدِيَهُمْ عَنْكُمْ وَأَيْدِيَكُمْ عَنْهُمْ بِبَطْنِ مَكَّةَ مِنْ بَعْدِ أَنْ أَظْفَرَكُمْ عَلَيْهِمْ)).(الفتح- ٢٤)

[او دغه الله هغه (ذات دی) چې بند يې کړل لاسونه د هغو (مشرکينو) له تاسې څخه او لاسونه ستاسې له هغوی څخه په منځ د مکې کې پس له هغې څخه چې غالب يې کړئ تاسې په هغوی باندې.]

عثمان بن عفان (رضي الله عنه) قريشو ته د مسلمانانو د سفير په توګه

پدې وخت کې رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) فيصله وکړه چې د خپل دريځ او له سفر نه د هدف د توضيح او څرګندولو پخاطر قريشو ته يو استازی واستوي. لومړی يې عمر (رضي الله عنه) ته وويل چې ته لاړ شه او قريشو ته زمونږ دريځ او هدف بيان کړه. عمر (رضي الله عنه) خپل عذر داسې وړاندې کړ: يا رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم)! په مکه کې د بني کعب له کورنۍ نه داسې څوک نشته چې که ما ته څه زيان او ضرر راورسيږي، هغه مې ملاتړ وکړي، غوره دا ده چې عثمان (رضي الله عنه) واستول شي، ځکه دده قوم هملته مکه کې دی، هغه به ستا خبره په سيي توګه ورسوي. رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) په عثمان (رضي الله عنه) پسې احوال وليږه، هغه راغی او قريشو ته يې د خپل استازي په توګه واستاوه او ورته ويې فرمايل: قريشو ته ووايه چې مونږ د جګړې په نيت نه يوو راغلي، مونږ عمره ادا کول غواړو. هغوی ته د اسلام بلنه هم ورکړه، او بيا لاړ شه په مکه کې ميشته مسلمانانو (ښځو او نارينه) ټولو ته د فتحې او بري زيری ورکړه، او ورته ووايه چې الله تعالى به حتماً خپل دين ته غلبه ورکوي، او داسې وخت راتلونکی دی چې اسلام به غالب وي او مسلمانان به هغه وخت خپل دين نه پټوي.

عثمان (رضي الله عنه) روان شو او په بلدح نومې سيمه کې له قريشو سره مخامخ شو، قريشو ورته وويل: چيرته ځې؟ ده په ځواب کې ورته وويل: زه رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) ددې خبرې لپاره راليږلی يم، او د هغه خبره يې ورته وکړه. قريشو وويل: مونږ ستا خبرې واوريدلې، ځه لاړ شه خپله وظيفه اجرا کړه. ابان بن سعيد بن العاص ورپاځيد ، هر کلی يې ورته ووايه. خپل آس يې زين کړ، عثمان (رضي الله عنه) يې له ځان سره سپور کړ او پخپله پناه کې يې مکې ته يووړ. هلته يې د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) پيغام د قريشو مشرانو ته ورساوه.

قریشو ورته وویل: لاړ شه د بیت الله شریف طواف وکړه. عثمان (رضي الله عنه) دا وړاندیز ونه مانه او ویې ویل: تر څو چې رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) طواف نه وي کړی زه طواف نه کوم.

د عثمان (رضي الله عنه) د شهادت خبر او د رضوان بیعت

قریشو عثمان (رضي الله عنه) له ځان سره ایسار کړ، کیدای شي دوی به د حالاتو په اړه پخپلو کې سلا او مشوره کوله او د فیصلې کوشش به یې کاوه، بیا به یې همدا فیصله د عثمان (رضي الله عنه) په لاس رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) ته لیږله. عثمان (رضي الله عنه) پدې ترتیب سره وځنډید، د مسلمانانو په مینځ کې دا شایعه خوره شوه چې هغه شهید کړی شویدی. کله چې رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) ته دا خبره ورسیده، نو ویې فرمایل: (**لا نبرح حتی نناجز القوم**).اوس به تر هغې پورې نه ځو تر څو مو له قریشو سره جګړه نه وي کړې. بیا یې اصحاب (رضي الله عنهم) د بیعت لپاره راټول کړل.

ټول راغلل او پدې خبره یې بیعت ورسره کاوه چې له جګړې نه به تیښته نه کوي. یوې ډلې د مرګ بیعت هم ورسره وکړه. لومړنی صحابي (رضي الله عنه) چې له رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) سره یې بیعت وکړ ابو سنان اسدي وٴ. سلمه بن اکوع (رضي الله عنه) درې ځله په مرګ بیعت ورسره وکړ، یو ځل د بیعت په شروع کې بیا په مینځ کې او دریم ځل په آخر کې. بیا رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) خپل لاس په بل لاس کې ونیو او ویې فرمایل: (**هذه عن عثمان**). دا د عثمان (رضي الله عنه) لپاره. او کله چې بیعت پای ته ورسید، عثمان (رضي الله عنه) هم راورسید او له رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) سره یې بیعت وکړ. ټولو اصحابو (رضي الله عنهم) بیعت وکړ، یوازې یو منافق چې جد بن قیس نومیده بیعت ته حاضر نه شو.

رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) دغه بیعت تر یوې ونې لاندې واخیست. عمر (رضي الله عنه) یې مبارک لاس نیولی وٴ او معقل بن یسار د ونې شاخونه ورنه پورته نیولي وو. همدا د رضوان بیعت دی، او د همدې رضوان بیعت په هکله دا آیت شریف نازل شویدی:

((**لَقَدْ رَضِيَ اللَّهُ عَنْ الْمُؤْمِنِينَ إِذْ يُبَايِعُونَكَ تَحْتَ الشَّجَرَةِ**)) (الفتح: ١٨)

خامخا راضي او خوښ شوی دی الله تعالی له مؤمنانو نه هغه وخت چې بيعت يې کاوه له تا سره د لاندې د ونې.]

د سولې ټرون

قريشو د وضعې حساسيت درک کړ، فوراً يې سهيل بن عمرو د سولې لپاره د رسول الله (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) حضور ته وليږه، خو دا يې ورته په ډاګه کړه چې رسول الله (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) او اصحاب (رضي الله عنهم) به سږ کال بيرته مدينې ته ستنيږي. ځکه مونږ نه غواړو چې نور عرب داسې څه خبرې وکړي چې ګويا محمد (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) په زور مکې ته داخل شو. سهيل د رسول الله (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) حضورته ورسيد او کله يې چې سترګې مبارکې پرې ولګيدلې نو ويې فرمايل: (**قد سهل لكم أمركم**).کار مو آسانه شو، دوی (قريشو) چې دا شخص راليږلئ، نو حتماً سوله غواړي. سهيل راغی، اوږدې خبرې يې وکړې، تر څو دواړه په سوله راضي شول، او پدې ټکو يې ټرون سره لاسليک کړ:

۱- رسول الله (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) به سږ کال بيرته ستنيږي او مکې ته به نه داخليږي. په راتلونکي کال کې به مسلمانان راځي او دری ورځې به په مکه کې پاتې کيږي، له دوی سره به يوازی يوه توره يعنې د هغه وخت د عادي سواره وسله وي، تورې به هم په تيکيو کې د ننه وي. او دوی ته به هيڅ ډول ضرر او اذيت نه رسول کيږي.

۲- د دواړو لوريو تر مينځ به لس کال اور بند وي، پدې موده کې به خلک په امن وي، او يو پر بل به د تعرض هڅه نه کيږي.

۳- هر څوک کولی شي پخپله خوښه له محمد (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) سره او يا هم له قريشو سره د دوستۍ ټرون وکړي. هر هغه قبيله چې له محمد (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) او يا قريشو سره يې عهد وکړ، نو دا د همغه طرف يوه برخه شميرل کيږي، او پر هغې باندې برید او تعرض د عهد لرونکي په خلاف تعرض بلل کيږي. ددې مطلب دا چې قبايل آزاد دي چې له چا سره د دوستۍ ټرون کوي، کولی يې شي. او که فرضا يوې قبيلې له رسول الله (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) سره د دوستۍ ټرون وکړ، بيا قريشو پر همدې قبيله باندې حمله وکړه نو دا حمله

په حقيقت پر مسلمانانو حمله بلل کيږي. او همداسې د قريشو په هکله هم همدا خبره نافذه ده.

۴- که څوک له قريشو نه د خپل ولي له اجازې پرته راوتښتيدل او محمد (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) ته راغلل، نو هغه به يې بيرته قريشو ته سپاري او که له محمد (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) نه څوک قريشو ته وروتښتيدل، نو قريش به يې بيرته محمد (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) ته نه سپاري.

کله چې د تړون په موادو اتفاق وشو، رسول الله (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) علي (رضي الله عنه) راوغوښت، امر يې ورته وکړ چې د تړون متن وليکي او ورته ويې فرمايل وليکه: ((**بسم الله الرحمن الرحيم**)) پدې وخت کې سهيل وويل: الرحمن خو مونږ نه پيژنو؟ داسې وليکه: **باسمك اللهم**. رسول الله (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) علي (رضي الله عنه) ته امر وکړ چې همداسې وليکي. بيايې ورته وويل: وليکه چې: (**هذا ما صالح عليه محمد رسول الله**). دا هغه څه دي چې محمد رسول الله (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) سوله او مصالحه وربانديې کړې ده. سهيل بيا وويل: که مونږ پدې باور او ايمان درلودلئ چې ته رسول الله (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) يې، نو بيا به مو نه له بيت الله شريف څخه منع کړی وای، او نه به مو جګړې درسره کولی، نو داسې وليکه چې محمد بن عبدالله (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم). رسول الله (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) وفرمايل: (**إني رسول الله وإن كذبتموني**). زه د الله (جل جلاله) رسول (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) يم که څه هم تاسې مې نه منئ، علي (رضي الله عنه) ته يې امر وکړ چې همداسې وليکي (محمد بن عبدالله) او د رسول الله (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) لفظ حذف کړي. علي (رضي الله عنه) وويل زه خو دا نه شم حذفولی او زړه مې دا نه منې چې د رسول الله (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) لفظ حذف کړم. بيا محمد (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) پخپل لاس سره هغه لفظ حذف کړ. او پدې ترتيب سره د تړون متن وليکل شو.

د تړون له لاسليک نه وروسته خزاعه قبيله د رسول الله (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) خوا ته ودريده او تړون يې ورسره وکړ. خزاعه له مخکې نه ان د عبدالمطلب له زمانې نه د بني هاشم حليفه وه او له هغوی سره يې تړون درلود. له رسول الله (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) سره دا تړون د هماغه پخواني تړون تجديد او تاکيد وٴ. او د بنوبکر قبيلې له قريشو سره تړون وکړ.

د ابو جندل بيرته سپارل

پداسې حال کې چې د ټرون ليکل لا پای ته نه وو رسيدلي، د سهيل زوی ابو جندل چې زولنې يې راکشولې راورسيد. له مکې نه راتښتيدلی وؤ، راغی او ځان يې مسلمانانو ته راورساوه. پدې وخت کې سهيل وويل: دا به لومړنی کس وي چې په اړه به يې معامله درسره کوم، ته به دغه شخص بيرته راته سپارې! رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) وفرمايل: (**إنا لم نقض الكتاب بعد**). مونږ خو تر اوسه ليکل ندي تکميل کړي. سهيل وويل: قسم په خدای که دا نه منې، نو هيڅ د سولې معامله نه درسره کوم. رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) ورته وفرمايل: (**فأجزه لي**). نو دا زما پخاطر پريږده. ده ورته وويل: نه تا ته يې هم نه درکوم. رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) وفرمايل: (**بلى فافعل**).پريږده، دا زما لپاره پريږده، ما ته يې راکړه. سهيل وايي، نه، تا ته يې هم نه درکوم. سهيل پاڅيد ابو جندل يې په مخ وواهه، له جاغې نه يې راونيو کش يې کړ تر څو مشرکينو ته يې وسپاري. ابو جندل په چيغو، چيغو سره ويل: اې مسلمانانو! آيا بيرته ددې پخاطر مشرکينو ته سپارل کيږم چې هغوی مې دين ته زيان ورسوي؟ له فتنې او امتحان سره مې مخ کړي؟ رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) ورته وفرمايل: (**يا أبا جندل، اصبر واحتسب، فإن الله جاعل لك ولمن معك من المستضعفين فرجاً ومخرجا، إنا قد عقدنا بيننا وبين القوم صلحاً، وأعطيناهم على ذلك، وأعطونا عهد الله فلا نغدر بهم**). ابا جندله!، صبرکوه، له خدايه اجر غواړه، الله تعالى به تا او ستا په شان نورو بې وسه کسانو ته لاره برابروي، مخه به مو آزاده وي، مونږ له دوی (قريشو) سره ټرون کړی، همدا مو ورسره منلي، هغوی د الله په نامه وعده او عهد راسره کړې، خيانت نه شو ورسره کولی.

عمر (رضي الله عنه) پاڅيد د ابو جندل خوا ته ورغی، خوا خوا کې ورسره روان وؤ او ورته ويل يې: صبر کوه اې ابو جندله! دوی خو مشرکين دي، د مشرک وينې خو لکه د سپي داسې دي، همدا ورته وايي او د خپلې توري لاستی هم ورنژدې کوي. عمر (رضي الله عنه) وايي: هيله مې دا وه چې ابو جندل به زما توره واخلي او خپل پلار به ورباندې ووهي، خو هغه د خپل پلار په هکله له بخل نه کار واخيست يعنې ويې نه غوښتل ويې

وژني. همدا وه چې د سولې تړون نافذ شو.

له عمري نه د خلاصون لپاره قرباني او د ويښتانو خرڅول

وروسته له هغې چې رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) د تړون له ليکلو فارغ شو ويې فرمايل: (**قوموا فانحروا**). پاڅئ، او قرباني وکړئ (د قربانۍ څاروي مو ذبح کړئ)! خو اصحاب (رضي الله عنهم) يو هم نه پاڅيد. رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) خپله خبره دری ځله تکرار کړه، خو ټول پخپلو ځايونو ناست وو. رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) چې دا عکس العمل وليد، روان شو او ام سلمه (رضي الله عنها) ته ورغی، دا کيسه يې ورته وکړه. هغې ورته وويل: يا رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم)! که ته همدا غواړې چې هغوی لاړ شي او قرباني وکړي، نو لاړشه، له هيڅا سره خبرې مه کوه خپله قرباني پخپله وکړه او خپل نايي راوغواړه او مبارک سر دې کل کړه. رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) ددې خبرې په اوريدو سره پاڅيد، هيڅا ته يې هم څه نه ويل. خپل د قربانۍ څاروي يې حلال کړ، نايي يې راوغوښت او خپل مبارک سر يې کل کړ. اصحابو (رضي الله عنهم) چې رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) وليد، ټول پاڅيدل خپل څاروي يې حلال کړل، ورپسې يې يو د بل سرونه سره کل کړل، او داسې ازدحام جوړ شو او په دومره بيړه يې خپل سرونه کلول چې نژدې وه يو بل سره ووژني (يعنې يو د بل سرونه او غاړې په چړو پرې کړي). اصحابو (رضي الله عنهم) په هرو اوو کسانو سره يوه اوښه حلاله کړه، همدا راز غوا هم په اوو کسانو يوه وه. رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) پخپله هغه اوښه حلاله کړه چې يو وخت له ابوجهل سره وه، او په پزه کې يې د سپينو زرو يوه حلقه هم وه، لدې کار نه يې هدف دا وۀ چې مشرکين ورباندې وځوروي. بيا رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) د هغو کسانو لپاره چې سرونه يې پوره کل کړي وو دری ځله دعا وکړه او د هغه چا لپاره چې ويښتان يې لنډ کړي وو يوځل د عا وفرمايله. په همدې سفر کې الله تعالى د کعب بن عجره په هکله هغه آيت شريف را نازل کړ چې حکم يې دا دی: که چا عذر درلود او د احرام په دوران کې يې سر کل کړ، نو کولی شي فديه يې ورکړي، فديه يې يا صدقه ده او يا روژه او يا هم قرباني (د څاروي حلالول).

مهاجري ميرمنې بيرته نه سپارل کيږي

پدې پسې يو شمير مهاجري ميرمنې راغلی، ورپسې يې خپلوان او مشران راغلل،

مسلمانانو ته یې وویل چې د شوي ټرون په اساس دا مسلماني مؤمنې مهاجرینې بیرته دوی تـه وسـپاري. رسـول الله (صـلی الله علیـه و الـه و صـحبه و سـلم) د مشـرکینو دا غوښتنه رد کړه ځکه په ټرون کې داسې لیکل شوي وو: ((هغه نارینه چې زمونږ له خوا تا ته درځي که څه هم هغه ستا په دین وي بیرته به یې راته سپاري[1])) دلتـه پدې مـاده کې د ښځې ذکر نشته او پدې حکم کې ندي شاملې. په همدې رابطه الله تعالی دا آیت نازل کړ: ((يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا جَاءَكُمْ الْمُؤْمِنَاتُ مُهَاجِرَاتٍ فَـامْتَحِنُوهُنَّ)) تـــر دې قـول پـورې چې فـرمـايـي: ((بِعِصَمِ الْكَوَافِرِ)) (الممتحنة: ۱۰)

[اې مؤمنـانو کلـه چې راشـي تاسـې تـه مؤمنـانې (ښځې) هجـرت کـوونکې نـو واېۍ ازمویئ تاسې هغوی، الله ته ښه معلوم دی ایمان د دوی، نو که وپیژنئ تاسې دوې (په قسـم سـره) مؤمنـانې نـو بیرتـه مـه لیږئ هغـوی طـرف د مشـرکینو تـه، نـه دي دغـه (مؤمنانې ښځې) حلالې هغو (کفارو سړیو) لره او نه دي هغه (کـافران) حلال (دې ښځـو مؤمنانو) لره. او ورکړئ تاسې (هغوی کافرانو) (ته چې خاونـدان د هغـو ښځـو دي) هغـه څه چې لګولي یـې دي لـه (مهره) او نشـته هـیڅ ګنـاه پـر تاسـې باندې چې نکـاح وټړئ تاسې لـه دې ښځـو سره پـه شـرط ددې کلـه چې ورکړئ تاسې هغـه ښځـو تـه مهرونـه د دوی، او منګولې مه نښلوئ په عصمتونو د ښځو کافرانو (په نکاح یې مه اخلئ).]

رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) به دا ډول مؤمني میـرمنې د الله تعـالی پدې ارشاد سره ازمـویلي چې فرمـایې: ((يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ إِذَا جَاءَكَ الْمُؤْمِنَاتُ يُبَايِعْنَـكَ عَلَى أَنْ لا يُشْرِكْنَ بِاللَّهِ شَيْئاً)) الاية:(الممتحنة:۱۲) [اې نبي کلـه چې راشـي تـا تـه مؤمنانې ښځې چې بیعت کوي له تـا سره پـردې شرط چې نـه بـه شریکوي دوی لـه الله سره هیڅ شی . . . . .]

چا به چې په همدې شرایطو اعتـراف او اقـرار وکړ، رسول الله (صلی الله علیـه و الـه و صحبه و سلم) به ورته وفرمایل: څه همدا دې بیعت دی، په همدې ټکو مې بیعـت درنـه واخیست. او بیا بـه یـې دا ډول میـرمنې مشـرکینو تـه نـه سپارلې. او د همـدې حکم پـه اساس مسلمانانو خپلې کافرې ښځې طلاقې کړې. په همدې ورځ عمر (رضي الله عنـه) خپلې دوې ښځې چې د شرک له زمـانې ورسره وې طلاقـې کړې، بیـا وروسـته لـه یـوې سره معاویه واده وکړه او بله یې صفوان بن امیه نکاح کړه.

---

[1]. صحیح بخاري ۱/ ۳۸۰

د دې ټرون پایلې

که د حدیبیې د سولې د ټرون په هکله ژور فکر وشي، نتائجو او لاسته راوړنو ته یې په ځیر وکتل شي، نو دا به په ډاګه شي چې ربښتیا هم دغه ټرون د مسلمانانو لپاره لویه فتحه وه. لدینه وړاندې قریشو د مسلمانانو په وجود اعتراف نه درلود، همیشه یې د دوی د کاملې تباهۍ او له مینځه وړلو هڅه کوله او د هغې ورځې راتلو ته منتظر وو چې مسلمانان پکې بالکل ختم شوي وي. له اسلامي دعوت سره یې د سختې مقابلې لاره نیولې وه، اجازه یې نه ورکوله د اسلامي بلنې غږ د عربانو غوږونو ته ورسیږي. او نه یې غوښتل اسلامي دعوت په عربي جزیره کې د ديني او دنیوي مشرتابه په حیث تبارز وکړي.

له مسلمانانو سره د سولې د ټرون لاسلیکول په حقیقت کې د مسلمانانو په وجود او ځواک اعتراف دی. او دې ټرون ته غاړه ایښودل یعنې دا چې قریش نور لدې اسلامي ځواک سره د مقابلې توان نلري. او د ټرون دریمه ماده پدې دلالت کوي چې قریشو نور له خپل دنیوي او ديني مشرتابه نه لاس مینځلی دی. هغوی نور پدې فکر کې ندي، له دوی سره یوازې د خپل ژوند فکر دی، نور عربان او نورې قبیلې که ټولې هم اسلام راوړي، د دوی ورسره کار نشته، دوی لدینه وروسته پدې مسایلو کې مداخله نه کوي، دوی یوازې د ځان خیر غواړي او بس، نو آیا دا د قریشو لپاره ځرګنده ماتې نده؟ او آیا همدا د مسلمانانو لپاره لویه فتحه نده؟ د مسلمانانو او مشرکینو تر مینځ چې څومره خونړۍ جګړې شوې وې له هغو نه د مسلمانانو هدف دا نه و چې د خلکو مالونه واخلي او سرونه یې قلم کړي، او یا په زور خلک په اسلام راوړلو مجبور کړي، بلکه لدې جګړو نه د مسلمانانو هدف دا و چې د خلکو لپاره ددین او عقیدې په هکله پوره آزادي وي. ددې جنګونو هدف د انسان مکمله آزادي وه، او هدف یې دا و چې هر څوک پخپله خوښه خپله لاره وټاکي او د ځان لپاره خپل دین پخپله غوره کړي.

الله تعالی فرمایي:

((**فَمَنْ شَاءَ فَلْيُؤْمِنْ وَمَنْ شَاءَ فَلْيَكْفُرْ**)). (**الكهف:۲۹**). ترجمه: [د چا چې زړه وي ایمان دې راوړي او د چا چې خوښه وي کافر دې شي.]

ددې سولې او ټرون پواسطه همدغه هدف لاسته راغی، او همدا هیله پداسې شکل سره سرته ورسیده چې کیدای شوای د ډیرو جګړو له لارې هم نه وای ترسره شوې. خلکو ته پوره آزادي ورکړل شوه چې خپل دین پخپله غوره کړي، او د همدې آزادۍ له برکته مسلمانانو ته ډیرې ګټې ورسیدې. اسلامي دعوت ډیر بریالیتوبونه تر لاسه کړل، له

دې ټون نه مخکې د مسلمانانو شمیره دري زره تنو ته رسیده خو دوه کاله وروسته د مکې د فتحې په کال همدا شمیره لس زرو ته پورته شوه.

دوهمه ماده د لویې فتحې دوهمه برخه ده، د جګړې پیل د مسلمانانو له خوا و نه شو بلکه لومړی قریشو د جنګ اور بل کړ، الله تعالی فرمایي: ((وَهُمْ بَدَءُوكُمْ أَوَّلَ مَرَّةٍ)).(التوبة:١٣)[لومړی هغوی جګړه پیل کړه.]

د مسلمانانو له جنګي تحرکاتو او ګزمو نه هدف دا و چې قریش لږ له کبر او غرور نه راکوز کړي، او له هغوی سره د عدالت او تساوي په بناء معامله وکړي، دواړه خواوې پخپل حال آزادې پریښودل شي. د لسو کلو لپاره ډزبندي او اوربند یعنې د قریشو د کبر ماتول، د هغوی له غرور سره ټکر او مقابله کول. او د اور بند بله معنې دا وه هغه چا چې لومړی جنګ پیل کړی اوس دې مرحلې ته رارسیدلي چې نور د جګړې توان نلري، هغوی اوس کمزوري شوي مجبور دي اوربند ته غاړه کیږدي، او که بې وسي او کمزوري نه وای نو ولې پخپل لاس پیل شوی جنګ ودروي؟ د ټرون لومړنۍ مادې پر مسجد حرام د قریشو واکمنې پای ته ورسوله، دا د دوی یوه بله ناکامي وه، ځکه هغوی خو مسلمانان له مسجد حرام نه منع کول غوښتل، خو پدې مادې سره له یوه کال پرته نور هغوی ددې حق نلري چې مسلمانان د مسجد حرام له زیارت نه منع کړي، کیدای شي د هغوی زړونه په همدې یوه کال منع کولو سره تسکین شوي وي.

پدې ټرون قریشو مسلمانانو ته دا دری پورته یاد شوي امتیازات ورکړل، په مقابل کې یې له مسلمانانو څخه یوازې یو امتیاز لاسته راوړ، کوم چې په څلورمه ماده کې ذکر شویدی. (**وعلى أنه لا يأتيك منا رجل، وإن كان على دينك إلا رددته علينا**). دا هم ډیر مهم امتیاز ځکه ندی چې د مسلمانانو لپاره یې هیڅ ډول زیان نه درلود، ځرګنده ده چې مؤمن له الله او رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) څخه تیښته نه کوي، هغه د اسلام ښار او د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) مدینه نه پریږدي، او تر څو یې چې دین نه وي بدل کړی، مرتد شوی نه وي تر هغې پورې له رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) نه تیښتې ته زړه نه ښه کوي. او که چیرې کوم مسلمان له خپل دین نه اوړي، نو بیا خو مسلمانان ورته هیڅ ضرورت نلري، او له اسلامي ټولنې نه یې تیښته له بقا نه غوره ده. همدې مطلب ته رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) اشاره کړې او فرمایلي یې دي: (**إنه من**

ذهب منا إليهم فأبعده الله[1]). څوک چې له مونږ نه لاړل په حقیقت کې الله تعالی هغوی له مونږ نه لیرې کړل. خو هغه کسان چې په مکه کې اسلام راوړي، که څه هم ددې مادې په اساس مدینې ته د هجرت اجازه نلري، خو د الله تعالی ځمکه پراخه ده، کولی شي بل کوم ځای ته هجرت وکړي، لکه چې له مدینې نه مخکې مسلمانانو حبشې ته هجرت کړی و.

رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) همدې مسئلې ته په اشاري سره فرمایي: (**ومن جاءنا منهم سيجعل الله له فرجاً ومخرجاً**[2]). (څوک چې له دوی نه مونږ ته راتلل غواړي، الله تعالی ورته لاره برابروي او مخه یې خلاصوي.))

دا تحفظات او شرط که څه هم په ظاهر کې د قریشو په ویاړ او عزت دلالت کوي، خو په حقیقت کې داهم د دوی د معنوي ماتې، ویرې او پریشانۍ لوی دلیل دی. د دوی زړونه دې ویرې اخیستي وو چې هسې نه جاهلي او په شرک ولاړه ټولنه یې نوره ختمه نه شي. او لکه چې پوهیدلي به وو چې دوي او ټولنه یې د نیستۍ او فنا کیدو په څنډه ولاړ دي، او له حتمي سقوط نه د ژغورنې پخاطر یې همدا ډول ضمانتونو ته پناه وړله. او دا چې رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) دا اجازه ورکوي چې قریش به هغه کسان بیرته نه ورته سپاري کوم چې له مدینې نه مکې ته تښتي، دا پدې دلالت کوي چې رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) د خپلې ټولنې په قوت او عظمت پوره باوري دی، د سقوط او له مینځه تللو ویره یې ورسره نشته.

د مسلمانانو خفګان او له رسول (ﷺ) سره د عمر (رضي الله عنه) مناقشه

ددې سولې حقیقت دا ؤ چې مخکې بیان شو. خو هلته دوه داسې ټکي هم وو چې د مسلمانانو د غم او خفګان سبب شول. لومړی دا چې رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) په مدینه کې ورته ویلي و چې ځو به او د بیت الله شریف طواف به کوو. پداسې حال کې چې دا خبر یې ورکړی ؤ نو اوس ولې له طواف نه مخکې او بیله دې چې عمره ادا کړي بیرته مدینې ته ستنیږي؟ دوهمه خبره دا وه چې رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) خو په حق دی، د الله رسول (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) دی. الله تعالی خو د خپل دین د غلبې وعده هم کړیده، نو رسول الله (صلی الله

---

(1). صحيح مسلم باب صلح الحديبية ۲/ ۱۰۵

(2). صحيح مسلم.

عليه و اله و صحبه و سلم) ولې د قريشو فشار قبلوي؟ او ولې په داسې څه راضي کيږي چې دده د عزت له مقام سره مناسب ندي؟

په همدې دوو خبرو مسلمانان خفه وو، تشويشونه او شبهات ورسره پيدا شوي وو. ډير ځوريدل تر دې حده چې د سولې د ټړون د موادو او نتايجو په هکله ورسره زياتې پوښتنې پيدا شوې. کيداې شي چې عمر (رضي الله عنه) له ټولو نه زيات خفه شوی وي، صبر يې ونه شو راغی، رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) ته يې عرض وکړ يا رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم)! آيا مونږ په حق او هغوی په باطل ندي؟ رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) وفرمايل: (**بلـــى**). هو، مونږ په حقه او هغوی په ناروا دي. عمر (رضي الله عنه) وويل: آيا زمونږ مړي به په جنت کې او د دوی مړي به په دوزخ کې نه وي؟ رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) وفرمايل: (**بلى**). هو زمونږ د مړيو ځای جنت او د دوی د مړيو ځای دوزخ دی. عمر (رضي الله عنه) وويل: نو ولې دا ذلت ورسره منو، او ولې بيرته ګرځو؟ تر اوسه خو الله تعالى زمونږ ترمينځ د ماتې او بري فيصله نده کړې، نو ولې بيرته ستنيږو؟ رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) ورته وفرمايل: (**يـــا ابـــن الخطاب، إني رسول الله ولست أعصيه، وهو ناصري ولن يضيعني أبداً**).اې د خطاب زويه! زه د الله تعالى رسول (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) يم، هيڅ نافرماني نه کوم، الله زما مددګار دی، هغه مې بې اسرې نه پريږدي. عمر (رضي الله عنه) ورته وايي: آيا تا نه و راته ويلي چې ځو او د بيت الله طواف کوو؟ رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) فرمايي: هو ما دا خبره کړې وه. (**فأخبرتك أنا نأتيه العـــام؟**) خو آيا دا مې درته ويلي وو چې همدا سږ کال به طواف کوو؟ عمر (رضي الله عنه) وايي: نه، دا کال خو دې نه و ياد کړی. رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) فرمايي: (**فإنك آتيه ومطوف به**).نو چې داسې ده زما خبره سيي ده، ته به حتماً بيت الله ته ځې او طواف به يې کوې. پدې خبره عمر (رضي الله عنه) پاڅيد، همداسې د غوسې په حالت کې ابوبکر (رضي الله عنه) ته ورغی، او هغه ته يې هغه خبرې وکړې کومې يې چې رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) ته کړې وې. او د ابوبکر (رضي الله عنه) ځوابونه هم لکه د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) د ځوابونو په شان وو. يوازې دا خبره يې ورته زياته کړې وه چې عمره! تر مرګه د رسول

الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) خبره ټینګه نیسه، قسم په خدای چې هغه په حق دی. وروسته دا آیتونه را نازل شول: ((إِنَّا فَتَحْنَا لَكَ فَتْحاً مُبِيناً)) (الفتح:۱) [مونږ تاته څرګند بری در په برخه کړ.] رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) عمر (رضي الله عنه) را وغوښت او همدا مبارک آیتونه یې ورته تلاوت کړل، کله یې چې دا واوریدل نو ویې ویل: آیا همدا فتحه ده؟ یا رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم)! رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) ورته وفرمایل: هو همدا فتحه ده. پدې خبرې سره یې زړه خوشاله شو، طبیعت یې وغوړید او لاړ.

وروسته عمر (رضي الله عنه) له رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) سره پدې مناقشه سخت پښیمانه و. عمر (رضي الله عنه) وایي: د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) په مقابل کې د همدې تفریط او سختې مناقشې پخاطر مې ډیر کارونه وکړل، ددې سهوې د جبیره کولو پخاطر تر اوسه پورې روژه نیسم، نفلونه کوم، صدقه ورکوم، او غلامان آزادوم، د همدې غلطۍ د کفارې پخاطر مې ډیرې نیکۍ کړې، هیله لرم چې اوس به خدای خیر راکړي.[1]

د بیوزلانو د کشالې پای

وروسته لدینه چې رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) مدینې ته ورسید، او هلته ځای په ځای شو، له مکې نه یو مسلمان له مشرکینو نه خوشی شو، د هغوی له بند او شکنجو نه یې نجات وموند او مدینې ته راغی. ددغه صحابي نوم ابو بصیر وٴ، نوموړی د قریشو له حلیفې قبیلې ثقیف څخه وٴ. هغوی دده په لټه پسې دوه کسان مدینې ته واستول، او هلته یې رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) ته وویل چې ترون باید مات نه شي. رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) ابو بصیر همدې دوو کسانو ته وسپاره.

هغوی روان شول او کله چې ذو الحلیفه ته ورسیدل، دمه یې جوړوله، کیناستل خرماوې یې خوړلې، ابو بصیر له دوی نه یوه ته وویل: اې فلانیه څه ښه توره لرې! هغه توره پورته کړه او ویې ویل، هو ډیره ښه توره مې ده، دا مې ډیر ځایه په کار راغلی. ابو بصیر ورته وویل ته یې راکړه چې ویې ګورم! هغه توره ورکړه، ابو بصیر توره

---

[1]. ددې غزا او سولې د زیات تفصیل لپاره فتح الباري۷/۴۳۹تر۴۵۸، صحیح بخاري ۱/۳۷۸تر۲، ۳۸۱/۷۱۷، ۶۰۰، ۵۹۸، صحیح مسلم۲/۱۰۴_۱۰۶، ابن هشام ۲/۳۰۸تر۳۲۲ زاد المعاد ۲/۱۲۲تر۱۲۷، مختصر سیرة الرسول ۲۰۷تر ۳۰۵،تاریخ عمر بن الخطاب ۳۹_۴۰وګوره.

واخسته او په يوه کلک ګوزار سره يې هغه مړ کړ، دوهم کس وتښتيد مدينې ته يې ځان ورساوه، په منډه مسجد ته داخل شو. کله چې رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) وليد ويې فرمايل: (**لقد رأى هذا ذعراً**). دا سړي ويريدلی دی. او چې د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) حضور ته ورسيد ويې ويل: زما ملګری يې وواژه، ما هم وژني. په همدې وخت کې ابو بصير هم راغی عرض يې وکړ يا رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم)! الله تعالى خو ستا غاړه خلاصه کړه، تا خپله وعده پوره کړه، زه دې ورته وسپارلم، اوس الله تعالى زه ورنه وژغورلم. رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) وفرمايل: (**ويل أمه، مِسْعَر حَرْبٍ لو كان له أحد**). مور يې بوره شه، که دې سړي څوک درلودی، نو د جنګ اورونه به يې بل کړی واى. ابو بصير چې دا خبره واوريدله پوه شو چې بيرته مشرکينو ته سپارل کيږي، همدا وه چې د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) له حضور نه لاړ او له مدينې نه هم ووت، ځان يې د بحر ساحلي برخې ته ورساوه.

هلته ابو جندل هم له قريشو نه په تيښته بريالی کيږي، او ابو بصير ته ځان رارسوي. په همدې ترتيب سره د مکې مسلمانان يو په بل پسې له قريشو نه راتښتي او ابو بصير ته راځي، چې پدې ترتيب له دوی نه يو ښه ګروپ جوړ شو او هر کله به چې خبر شول د قريشو کاروان شام ته روان دی، ورتلل به حمله به يې ورباندې کوله، خلک به يې وژل او مالونه به يې ورنه اخيستل.

بالاخره قريش مجبور شول چې له رسول (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) نه د مرستې او مهربانۍ سوال وکړي، او پدې راضي شول چې رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) ته ووايي د خدای لپاره هغه کسان چې تا ته راځي، مونږ ته يې مه سپاره له ځان سره يې وساته. هغوی ته پناه ورکړه. پدې ترتيب سره قريشو پخپله دا ومنله چې هغه مسلمانان چې مدينې ته لاړل هغوی نور په امن دي، له همدې موافقې نه وروسته رسول (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) ابو بصير او ملګرو (رضي الله عنهم) ته يې احوال وليږه چې مدينې ته راشي، هغوی هم راغلل او په مدينه کې ميشته شول.[1]

---

[1] مخکيني مصدرونه.

د قريشو د اتلانو اسلام

د اووم هجري کال په لومړيو کې په همدې تړون پسې عمرو بن العاص، خالد بن وليد، عثمان بن طلحه (رضي الله عنهم) په اسلام مشرف شول. هغوی چې کله د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) حضور ته راغلل، رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) وفرمايل: (**إن مكــة قد ألقت إلينا أفلاذ كبــدها**).مکې مونږ ته د خپل زړه کتري رالیږلې دي[1].

که څه هم ددې دريو قهرمانانو د اسلام راوړلو د تاريخ په هکله څه اختلاف شته، خو ثابته دا ده چې دوی په اووم هجري کال کې مسلمان شويدي.

---

[1]. د اسماء الرجال عام کتابونه وايي چې دې اتلانو په آتم هجري کال ايمان راوړی دی، خو د نجاشي په وړاندې د عمرو بن العاص د اسلام کيسه مشهوره ده. خالد او عثمان بن طلحه هغه وخت اسلام راوړې چې عمرو بن العاص له نجاشي نه بيرته راستون شو. او د مدينې په لور روان و چې دوی دواړه ورسره يو ځای شول، او پدې ترتيب سره درې واړه يو ځای د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) حضور ته حاضر شول او اسلام يې راوړ او دا پدې دلالت کوي چې دوی د اووم هجري کال په لومړيو کې مسلمان شويدي.

دوهمه مرحله

نوی بدلون

د حديبيې تړون په اسلامي تاريخ کې د نوي بدلون پيلامه وه. قريش د اسلام او مسلمانانو تر ټولو سخت دښمنان وو د جګړې له ډګر نه ددې لوی دښمن په شا تګ سره د مسلمانانو د مخالف مثلث (قريش، غطفان، يهود) يو مهم وزر مات شو. او ځرنګه چې قريش د بت پرستانو او مشرکانو مشران او نمايندګان وو، د دوی پدې شا تګ سره د ټولو مشرکانو احساسات مړاوي او روحيات يې کمزوري شول، حوصلې يې پريوتی. ګورو چې لدينه وروسته د بنو غطفان قبيلې د اسلام په مقابل کې هيڅ د توجه وړ اقدام ندی کړی، او که څه يې کړي هم دي، هغه يې د يهودانو د تحريک او لمسونې په سبب کړيدي.

يهودانو له مدينې نه له شړلو وروسته خيبر خپل مرکز وټاکه، همدلته يې د اسلام په خلاف توطئې کولې. خيبر د يهودي مکر او فتنې په اډه بدل شوی وٴ، يهودانو نه يوازې پخپله د مسلمانانو په خلاف توطئې کولې بلکه نور عربان يې هم د هغوی په خلاف هڅول. زيار يې يوست مسلمانان له مينځه يوسي او زيان ور واړوي. همدا وجه وه چې له حديبيې نه وروسته د رسول الله (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) لومړنی کار د يهودي مرکز او د فساد دا اډه له مينځه وړل و. د حديبيې له تړون نه وروسته مسلمانانو دا فرصت وموند چې خلکو ته د اسلام دعوت ورسوي، دعوتي پروګرام يې لا پسې ګړندی او پياوړي شو، او پدې مرحله کې د دوی دعوتي پروګرام د پوځي پروګرام په نسبت مخکې و. په همدې اساس دغه مرحله په دوو برخو ويشلی شو:

۱- د دعوت او بلنې پروګرام يا مشرانو او پاچايانو ته ليکونه استول.

۲- پوځي تحرکات.

مخکې لدينه چې پدې مرحله کې له پوځي تحرکاتو او عملياتو نه خبرې وکړو، غواړو مشرانو او پاچايانو ته د ليکونو استولو په اړه معلومات وړاندې کړو، ځکه دعوت او بلنه د اوليت حق لري. او همدا دعوت او بلنه هغه هدف دی چې مسلمانانو يې په لار کې ډيرې ستونزې ليدلی او راز راز کړاوونه يې ګاللي دي.

مشرانو او پاچايانو ته ليکونه

وروسته له هغې چې رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) د هجرت په شپږم کال کې له حديبيې نه راستون شو، مختلفو مشرانو او پاچايانو ته يې ليکونه واستول، او هغوی يې اسلام ته راوبلل.
کله چې رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) اراده وکړه پاچايانو ته ليکونه واستوي ورته وويل شول چې د پاچايانو عادت دا دی چې بې مهره ليکونه نه مني.
همدا وه چې رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) د ځان لپاره د سپينو زرو يو مهر جوړ کړ او پرې وليکل شول ((محمد رسول الله)) دغه مبارکه کلمه په دريو کرښو کې ليکل شوې وه، له لاندې خوا نه لومړنۍ کرښه ((محمد))، دوهمه ((رسول)) او دريمه ((الله)) وه.[1]
رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) له اصحابو (رضي الله عنهم) نه يو څو هوښيار او با تجربه اصحاب (رضي الله عنهم) انتخاب کړل، پاچايانو او مشرانو ته يې واستول. علامه منصور پوري وايي چې رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) خپل استازي خيبر ته له تللو نه څو ورځې مخکې د (۷) هجري کال د محرم په لومړۍ ورځ ليږلي دي.[2]
راځئ اوس ځينې دا ليکونه وګورو او د پايلو په هکله يې خبرې وکړو.

۱- د حبشې پاچا نجاشي ته ليک

ددغه نجاشي نوم اصحمه بن ابجر وٴ رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) د شپږم هجري کال په وروستيو او يا د اووم هجري کال په محرم مياشت کې د عمرو بن

(1). صحيح بخاري ۲/ ۸۷۲ - ۸۷۳
(2). رحمه للعالمين ۱۷۱/۱

اميه الضمري په لاس ليک ورواستاوه. طبري ددې ليک متن رانقل کړيدی، خو که دقت وشي نو دا په ډاګه کيږي چې دا هماغه ليک ندی کوم چې رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) له حديبيې نه وروسته ورته ليکلی دی. کيدای شي دا د هغه ليک متن وي کوم چې رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) به له مکې نه د جعفر (رضي الله عنه) په لاس حبشې ته د هجرت په وخت استولی وي، ددې ليک په وروستۍ برخه کې حبشې ته د مهاجرينو ذکر داسې راغلی دی: (**وقد بعثت إليكم ابن عمي جعفراً ومعه نفر من المسلمين، فإذا جاءك فأقرهم ودع التجبر**).

[تا ته مې خپل د تره زوی جعفر در واستاوه، له ده سره يو شمير نور مسلمانان هم ملګري دي، کله چې دوی در ورسيدل نو درناوی يې وکړه او زياتی مه ورسره کوه].

بيهقي له ابن اسحاق نه د هغه ليک متن رانقل کړيدی کوم چې رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) نجاشي ته استولی وٴ او د هغه متن دادی: (**بسم الله الرحمن الرحيم. هذا كتاب من محمد رسول الله إلى النجاشي، الأصحم عظيم الحبشة، سلام على من اتبع الهدي، وآمن بالله ورسوله، وشهد أن لا إله إلاالله وحده لا شريك له، لم يتخذ صاحبه ولا ولداً، وأن محمدًا عبده ورسوله، وأدعوك بدعاية الإسلام، فـإني أنا رسوله فأسلم تسلم، {يَا أَهْلَ الْكِتَابِ تَعَالَوْاْ إِلَى كَلَمَةٍ سَوَاء بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمْ أَلاَّ نَعْبُدَ إِلاَّ اللّهَ وَلاَ نُشْرِكَ بِهِ شَيْئًا وَلاَ يَتَّخِذَ بَعْضُنَا بَعْضاً أَرْبَابًا مِّن دُونِ اللّهِ فَـإِن تَوَلَّـوْاْ فَقُولُواْ اشْهَدُواْ بِأَنَّا مُسْلِمُونَ} فإن أبيت فعليك إثم النصارى من قومك**).((بسم الله الرحمن الرحيم، دا ليک د محمد (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) له خوا د حبشې مشر نجاشي اصحمه ته دی. په هغه چا دې سلام وي چې د هدايت لاره يې نيولې، په الله او رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) يې ايمان راوړی، شاهدي وايم چې له الله پرته بل د عبادت مستحق نشته، الله واحد دی، شريک نلري، ښځه او اولاد نلري، محمد (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) د الله بنده او رسول دی، زه تا ته بلنه در کوم چې اسلام ومنې، زه د الله رسول يم، ايمان راوړه او ځان خوندي وساته، [اې د کتاب خاوندانو! راځئ هغه خبره ومنئ چې زمونږ او تاسې تر مينځ شريکه ده، راځئ دا ومنو چې له يوه الله تعالی پرته د بل چا عبادت نه کوو، له هغه سره به شريک نه نيسو، يو بل په خدايی نه نيسو، که دا خبره يې ونه منله، نو ورته ووايئ چې مونږ مسلمانان يو] که تا دا بلنه قبوله نکړه نو د خپل قوم د ټولو

نصرانيانو ګناه ستا پر غاړه ده.))
لوی او مشهور څيړونکي دکتور حميد الله پدې وروستيو کې د همدې ليک اصلي متن لاسته راوړی دی، دغه متن هغه ته ورته دی کوم چې ابن قيم رانقل کړيدی. دوکتور حميدالله د ليک د متن په توضيح، تحقيق او برابرولو کې زيات کوشش کړيدی، له نويو وسايلو نه يې ګټه اخيستې ده، او د ليک متن دا دی:

(بسم الله الرحمن الرحيم. من محمد رسول الله إلى النجاشي عظيم الحبشة، سلام على من اتبع الهدى، أما بعد: فإني أحمد إليك الله الذي لا إله إلا هو الملك القدوس السلام المؤمن المهيمن، وأشهد أن عيسي بن مريم روح الله وكلمته ألقاها إلى مريم البتول الطيبة الحصينة، فحملت بعيسى من روحه ونفخه، كما خلق آدم بيده، وإني أدعو إلى الله وحده لا شريك له، والموالاة على طاعته، وأن تتبعني، وتؤمن بالذي جاءني، فإني رسول الله صلى الله عليه وسلم، وإني أدعوك وجنودك إلى الله عز وجل، وقد بلغت ونصحت، فاقبل نصيحتى، والسلام على من اتبع الهدى).

[د محمد رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) له خوا د حبشې مشر نجاشي ته! په هغه چا دې سلام وي چې د هدايت لاره يې نيولې ده. زه د هغه الله ثنا وايم چې له هغه پرته بل الله نشته، هغه الملک، القدوس، السلام، المؤمن، المهمين دی او شاهدي وايم چې عيسى بن مريم د الله تعالى روح او هغه کلمه ده چې سپيڅلې، پاک لمنې او بتول (پيغلې) مريم ته يې القاء کړې يا اچولې ده. د همدې روح او القاء له امله (عيسې (عليه السلام) د مريم په نس شو او الله تعالى هغه داسې پيدا کړ لکه څرنګه يې چې آدم پخپل لاس سره پيدا کړيدی. زه د هغه يوه الله تعالى لوري ته بلنه کوم چې هيڅ شريک نلري. زه بلنه درکوم چې د الله تعالى په اطاعت سره دوستي وکړو. زه بلنه درکوم چې زما اطاعت او پيروي وکړئ، او په هغه الله ايمان راوړئ چې زه يې غوره کړی يم. زه د الله رسول (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) يم. زه تا او ستا لښکرې ټول د الله لور ته رابولم ما خپله خبره درته وکړه، نصيحت مې

در ورساوه، زما نصيحت قبول کړه. په هغه چا دې سلام وي چې په حق روان دی.][1]

دوکتور حميدالله وايي چې دا د هغه ليک متن دی چې رسول الله (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) له حديبيې نه وروسته نجاشي ته استولی دی. پدې کې هيڅ شک نشته چې دا متن بالکل سيي دی، خو دا ثابته نده چې دا دې حتماً د همغه ليک متن وي چې له حديبيې نه وروسته ليکل شويدی. بيهقي چې له ابن اسحاق نه کوم متن رانقل کړيدی له هغه ليکونو سره ورته والی لري کوم چې رسول الله (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) له حديبيې نه وروسته پاچايانو او مشرانو ته استولي دي. پدې ليک کې دا آيت شريف ليکل شوی: ((يَا أَهْلَ الْكِتَابِ تَعَالَوْا إِلَى كَلِمَةٍ))الايـــة. د رسول الله (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) عادت همدا وۀ چې پدې ليکونو کې يې همدا آيت شريف ليکه. په همدې ليک کې د اصحمه نوم هم ليکل شويدی، خو هغه متن چې دوکتور حميدالله راوړی دی فکر کوم چې دا د هغه ليک متن وي کوم چې رسول الله (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) د اصحمه له مرګ نه وروسته د هغه قايم مقام ته ليکلی وۀ همدا وجه ده چې پدې متن کې د اصحمه نوم هم ندی راغلی.
د ليکونو د ترتيب په هکله هم څه دليل نلرم، يوازې د ليکونو له محتوی نه دا راته ښکاره شويده چې کيدای شي په همدې ترتيب سره استول شوي وي. د تعجب خبره خو دا ده چې دکتور حميدالله د هغه ليک په هکله چې بيهقي رانقل کړيدی وايي چې دا د هغه ليک متن دی کوم چې رسول الله (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) د اصحمه له مرګ نه وروسته د هغه خليفه ته استولی دی، پداسې حال کې چې پدې متن کې د اصحمه نوم ليکل شويدی.[1] و الله اعلم
کله چې عمرو بن اميه الضمري (رضي الله عنه) نجاشي ته د رسول الله (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) ليک وسپاره، نجاشي ليک واخيست په سترګو يې وموښه، له خپل تخت نه راکوز شو، د جعفر بن ابي طالب په لاس يې ايمان راوړ او په اسلام مشرف شو، او په ځواب کې يې رسول الله (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) ته دا ليک وليکه: **بسم الله الرحمن الرحيم**، د نجاشي اصحمه له خوا د محمد رسول الله (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) حضور ته! **سلام عليك يا نبي الله من الله و رحمة**

---

(۱) . رسول اکرم (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) کې سياسي زندګي ص ۱۰۸_۱۰۹_۱۲۲_۱۲۳_۱۲۴_۱۲۵.
په زاد المعاد کښې د والسلام على من اتبع الهدى په څای اسلم انت جمله راغلی ده ۳/۶۰.
[1]. رسول اکرم کې سياسي زندګي ص ۱۰۸ تر ۱۱٤ او ۱۲۱ تر ۱۳۱.

الله و برکاته، و الله الذي لا الله الا هو، اما بعد: اې د الله رسوله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم)! ستا لیک راورسید، تاسو د عیسی (علیه السلام) یادونه کړې وه، د ځمکې او آسمان په رب مې دې قسم وي چې عیسی (علیه السلام) له هغه څه سره چې تا ورنه یادونه کړې د یوه ویښته په اندازه هم توپیر نلري. څه دې چې مونږ ته رالیږلي وو په هغه پوه شوو، ستا د تره د زوی او ستا د نورو اصحابو (رضي الله عنهم) قدر او عزت مو وکړ. زه شاهدي وایم چې ته په رښتیا سره د الله تعالی رسول یې، ما له تا سره بیعت وکړ، ستا د تره له زوی سره مې بیعت وکړ. او دده په لاس مې د الله تعالی دین ومانه او په اسلام مشرف شوم.[1]

رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) له نجاشي نه دا غوښتنه کړې وه چې جعفر او په حبشه کې میشته نور مهاجرین ده ته ورواستوي، نجاشي د همدې غوښتنې په اساس ټول مهاجرین په دوو کښتیو کې له عمرو بن امیه الضمري سره ورولیږل.

رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) په خیبر کې تشریف درلود چې دا مهاجرین ور ورسیدل.[2] همدغه نجاشي په نهم هجري کال کې له تبوک غزا نه وروسته وفات شو. رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) یې د وفات په ورځ خپله خواشیني څرګنده کړه او په غیابت کې یې د جنازې لمونځ ادا کړ.

د اصحمه له وفات نه وروسته بل څوک دده په ځای وټاکل شو، رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) هغه ته هم لیک ولیږه او د اسلام بلنه یې ورکړه، خو دا ثابته نده چې دې نجاشي یا پاچا ایمان راوړی وۀ او که نه.[3]

۲- د مصر پاچا مقوقس ته لیک

رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) د مصر او اسکندریې پاچا چې د منصور پوري په قول یې نوم جریج بن متی او د داکتر حمید الله په قول یې نوم مقوقس وۀ لیک واستاوه. ددغه مبارک لیک متن په لاندې ډول دی:

(بسم الله الرحمن الرحيم من محمد عبد الله ورسوله إلى المقوقس عظيم القبط، سلام

(1). زاد المعاد ۳/ ۶۱
(2). ابن هشام ۲/ ۳۵۹
(3). مسلم ۲/ ۹۹

على من اتبع الهدى، أما بعد، فإني أدعوك بدعاية الإسلام، أسلم تسلم، وأسلم يؤتك الله أجرك مرتين، فإن توليت فإن عليك إثم أهل القبط، {يَا أَهْلَ الْكِتَابِ تَعَالَوْاْ إِلَى كَلَمَةٍ سَوَاء بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمْ أَلاَّ نَعْبُدَ إِلاَّ اللّهَ وَلاَ نُشْرِكَ بِهِ شَيْئًا وَلاَ يَتَّخِذَ بَعْضُنَا بَعْضاً أَرْبَابًا مِّن دُونِ اللّهِ فَإِن تَوَلَّوْاْ فَقُولُواْ اشْهَدُواْ بِأَنَّا مُسْلِمُونَ}.

د الله د بنده او رسول محمد (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) له خوا د قبطياتو (مصر) مشر مقوقس ته. په هغه چا دې سلام وي چې د هدايت په لار روان دی. اما بعد: زه دې اسلام ته رابولم. اسلام راوړه تر څو په امن وې، ايمان راوړه الله تعالى به دوه اجرونه درکړي، که دې زما بلنه ونه منله نو د قبطيانو ګناه به هم ستا پر غاړه وي، [ووايه اې محمده! چې اې اهل کتابو راځئ تاسې په طرف د يوې کلمې (خبرې) چې برابره ده په منځ زمونږ او ستاسې کې (او هغه دا ده) چې عبادت به نه کوو مګر يوازې د الله او شريک به نه نيسو په الله پورې هيڅ شی او نه به نيسې ځينې زمونږ ځينې نور خدايان غير له الله (جل جلاله) (لکه چې تاسې کتابيان احبار او رهبان نيسئ) نو که وګرځيدل دوی (له توحيده) او اسلامي احکامو ته يې شا واړوله پس ووايئ تاسې (اې مؤمنانو کتابيانو ته چې) شاهدان يئ تاسې پدې چې په تحقيق مونږ مسلمانان يوو (او تاسې نه يئ).] [1]

رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) دغه ليک حاطب بن ابي بلتعه ته ورکړ، هغه چې کله مقوقس ته ورغی ورته ويې ويل: له تانه مخکې دلته مصرکې يوه سړي د خدايی دعوه کړې وه او ځانته يې لوی رب وايه. خو الله تعالى هغه ته په دنيا او اخرت کې سخته سزا ورکړه، انتقام يې ورنه واخيست. ته له نورو نه پند واخله، هسې نه چې نور بيا له تا نه پند واخلي.

په ځواب کې مقوقس ورته وويل چې مونږ دين لرو او يوازې هغه وخت به يې بدلوو چې لدينه غوره دين ومومو. حاطب ورته وويل: مونږ تا د هغه دين قبلولو ته رابولو کوم چې الله تعالى غوره کړيدی، او د نورو ټولو اديانو په ځای يې خپلو بندګانو ته انتخاب کړيدی، د الله رسول (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) ټول خلک اسلام ته رابللي، ډير کلک مخالفت يې له قريشو نه ليدلی، او تر ټولو نه زياته دښمني يهودانو

---

[1] . دا د زادالمعاد عبارت دی ٦١/٣، خو دکتور حميدالله چې کوم عبارت ذکر کړی هغه د هغه ليک متن دی چې پدی وروستيو کې تر لاسه شوی او ځنې کلمې يې لدي متن سره توپير لري، په هغه متن کې ليکل شوي: "فاسلم تسلم يؤتک الله" همدا راز په هغه کې د "اثم القبط" لفظ د اثم اهل القبط په عوض راغلی، رسول اکرم کې سياسي زندګي ص ١٣٧،١٣٦.

ورسره کړیده، له دوی ټولو نه نصرانیان ورته لنډ دي، قسم په خدای چې موسی (علیه السلام) د عیسی (علیه السلام) په هکله داسې زیری ورکړی دی لکه څرنګه چې عیسې (علیه السلام) د محمد (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) په هکله ورکړی دی، مونږ تا د قرآنکریم لور ته رابولو لکه څرنګه چې تاسې د تورات خاوندان د انجیل لوري ته رابولئ، هر نبي (علیه السلام) چې له هر قوم سره ژوند کوي هغه یې امت وي، د خلکو مسؤولیت دا دی چې په همدې نبي (علیه السلام) ایمان راوړي، تاسې هم د همدې نبي (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) په زمانه کې ژوند کوئ، د مسیح (علیه السلام) له دین نه دې هم نه منع کوو، بلکه په همغه دین د عمل او منلو امر درته کوو.

مقوقس وویل: ما ددې رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) په هکله فکر وکړ، دې نتیجې ته ورسیدم چې په کم ارزښته څیز امر نه کوي، له ښه او ګټور کار نه نهي هم نه کوي، ګمراه او شاعر هم ندی، کاهن او دروغجن هم ندی، د هغه د نبوت نښانې مې هم لیدلې هغه د پټو شیانو ښودنه کوي، او د پټو او ځانګړیو خبرو په هکله هم معلومات ورکوي، خو پدې هکله نور فکر هم کوم.

بیا مقوقس د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) لیک واخیست او په صندوق کې یې چې د فیل له غاښ نه جوړ شوی و کیښود، مهر یې پرې ولګاوه او یوې خادمې ته یې ورکړ. ورپسې یې یو کاتب چې عربي یې زده وه راوغوښت او رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) ته یې داسې ولیکل:

بسم الله الرحمن الرحیم. د مصر د مشر مقوقس له خوا محمد بن عبدالله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) ته! سلام علیک اما بعد ستا لیک مې ولوست، په مطلب یې پوه شوم. پوه شوم چې کومې خوا ته مې بولې. پدې هم خبر وم چې یو نبي (علیه السلام) پاتې دی، ما ګمان کاوه چې دغه نبي (علیه السلام) به په شام کې ظهور کوي، ما ستا د قاصد درناوی وکړ، او تا ته مې دوې خادمانې درولیږلې. دا دواړه زمونږ په وړاندې د ډیر قدر درلودونکې دي، تا ته مې یوه جوړه جامې هم درواستولې، همدا راز یوه قاطره (قچره) مې هم درته اهداء کړه، و السلام علیک. یوازې همدا یې ولیکل، خو ایمان یې را نه وړ، او دغه دوې خادمانې یوه ماریه نومیده او بله سیرین، او د قاطرې نوم دلدل وئ. او همدا قاطره د معاویه (رضي الله عنه) د خلافت تر

زماني ژوندی وه.[1]
رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) ماریه خپل ځان سره وساتله او له همدې نه يې ابراهيم نومی زوی پيدا شو، او سيرين يې حسان بن ثابت (رضي الله عنه) ته ورکړه.

۳- د فارس پاچا کسری ته ليک

رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) د فارس پاچا کسری ته داسې ليک واستاوه: (**بسم الله الرحمن الرحيم. من محمد رسول الله إلى كسرى عظيم فارس، سلام على من اتبع الهدى، وآمن بالله ورسوله، وشهد أن لا إله إلا الله وحده لا شريك له، وأن محمداً عبده و رسوله، وأدعوك بدعاية الله، فإني أنا رسول الله إلى الناس كافة، لينذر من كان حياً ويحق القول على الكافرين، فأسلم تسلم، فإن أبيت فإن إثم المجوس عليك**). بسم الله الرحمن الرحيم، د محمد رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) له خوا د فارس مشر کسری ته په هغه چا دې سلام وي چې د هدايت په لار روان، په الله او رسول يې ايمان راوړی وي، او دا شاهدي وايي چې له يوه الله پرته بل (د عبادت وړ) نشته. الله شريک نلري، او محمد (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) د الله بنده او رسول دی. زه تا د الله لوري ته رابولم، زه د ټولو خلکو لپاره رسول رالیږل شوي يم، تر څو ژوندي کسان له بد انجام نه وويرول شي، او په کفارو حقه خبره دليل وګرځي. اسلام راوړه تر څو په امن شې، که دې اسلام رانه وړ نو د فارسيانو ګناه به هم پر تا وي.
رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) ددې ليک د وړلو دنده عبدالله بن حذافه السهمي ته وسپارله. سهمي لاړ او دغه ليک يې د بحرين مشر ته وسپاره، معلومه نده چې د بحرين مشر د بل چا په لاس دا ليک وليږه او که خپله عبدالله سهمي يووړ. په هر حال کله چې ليک کسری ته ورسيد او ورته ولوستل شو، نو هغه ليک څيرې کړ او په ډير کبر سره يې وويل: زما د رعيت يو عادي او حقير شخص خپل نوم زما له نامه نه مخکې ليکي!! کله چې دغه خبره رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) ته ورسيده نو ويې فرمايل: (**مزق الله ملكه**). الله تعالى د هغه پاچايي خرابه کړه. او همداسې وشول لکه څرنګه چې رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) فرمايلي و. د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) له ليک نه

---

[1]. زاد المعاد ۳/ ۶۱

وروسته کسری د يمن والي باذان ته وليکل: دغه شخص ته چې په حجاز کې دی دوه چالاک سړي وليږه تر څو ما ته يې راولي. باذان هم دوه کسان غوره کړل او له يوه ليک سره يې د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) حضورته وليږل، په ليک کې يې دا ورته ليکلي و چې لدې کسانو سره کسری ته ورشه. دا کسان چې کله مدينې ته ورسيدل او له رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) سره يې ملاقات وکړ، يوه يې ويل: باذان پاچا د کسری شاهنشاه په امر مونږ تا ته راليږي يوو چې تا له ځان سره کسری ته بوزو، پدې ترڅ کې يې څه ګوابنې هم وکړ. رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) ورته وفرمايل: چې سبا بيا له ما سره وګورئ.

په همدې وخت کې د کسرې په کور کې د ننه کودتا شوې وه. دا وروسته له هغه چې لښکرو يې د قيصر د سپايانو په وړاندې رسوا ماتې خوړلې وه، د کسری زوی شيرويه پاڅيدلی وٴ، خپل پلار يې وژلی وٴ او پخپله يې پاچايي اعلان کړې وه. دا کودتا د اووم هجري کال د سه شنبې په شپه د جمادي الاولى په لسمه شوې وه[1].

رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) د وحي له لارې پدې پيښه خبر شو، سهار يې چې تشريف راوړ، د باذان عسکرو ته يې کيسه وکړه، هغوی ورته وويل: ته پوهيږې چې څه وايي؟ مونږ خو لدينه په وړه خبره باندې درته په غصه يوو، آيا ستا دا خبرې هم وليکو او پاچا ته يې وليږو؟ ده ورته وفرمايل: (**نعم أخبراه ذلك عني، وقولا له: إن ديني وسلطاني سيبلغ ما بلغ كسرى ! وينتهي إلى منتهي الخف والحافر، وقولا له: إن أسلمت أعطيتك ما تحت يدك، وملكتك على قومك من الأبناء**).

هو، ويې ليکئ او پرې خبر يې کړئ، او دا هم ورته ورسوئ چې زما دين او واکمني به تر هغه ځايه پورې رسيږي چيرته چې اوس د کسری واکمني ده، او زما واکمني به تر هغه ځايه رسيږي چيرته چې ستاسې د آس او اوښه پښه هلته نه شي رسيدلی، دا هم ورته ورسوي چې: که اسلام دې راوړ نو ستا واکمني به تا ته وسپارم، او د خپل قوم مشر به دې غوره کړم.

دا دواړه کسان روان شول او خبر يې باذان ته يووړ. په همدې وخت کې لږ شيبه وروسته باذان ته دا خبر هم راورسيد چې شيرويه خپل پلار کسری وژلی دی، په همدې ليک

---

[1]. فتح الباري ۸/ ۱۲۷

کې شيرويه باذان ته ليکلي وۀ: د هغه کس د هڅونې هڅه مه کوه کوم چې په هکله يې زما پلار درته ليکلي و اوس تر دوهم امر پورې انتظار باسه. همدا کار ددې سبب شو چې باذان او په يمن کې ميشته ټول فارسيان په اسلام مشرف شي.[۲]

۴- د روم پاچا (قيصر) ته ليک

امام بخاري د يوه اوږده حديث د را نقلولو په ترڅ کې د رسول الله (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) د هغه ليک متن راوړی دی کوم چې د روم پاچا هرقل ته يې ليږلی وۀ، ددغه ليک متن څه داسې دی:

(**بسم الله الرحمن الرحيم. من محمد عبد الله ورسوله إلى هرقل عظيم الروم، سلام على من اتبع الهدي، أسلم تسلم، أسلم يؤتك الله أجرك مرتين، فإن توليت فإن عليك إثم الأريسيين { يَا أَهْلَ الْكِتَابِ تَعَالَوْاْ إِلَى كَلَمَةٍ سَوَاء بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمْ أَلاَّ نَعْبُدَ إِلاَّ اللّهَ وَلاَ نُشْرِكَ بِهِ شَيْئًا وَلاَ يَتَّخِذَ بَعْضُنَا بَعْضاً أَرْبَابًا مِّن دُونِ اللّهِ فَإِن تَوَلَّوْاْ فَقُولُواْ اشْهَدُواْ بِأَنَّا مُسْلِمُونَ**}) [آل عمران: ٦٤][۱].

[د محمد بن عبدالله چې د الله تعالی رسول (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) او بنده دی له خوا د روم واکمن هر قل ته. په هغه چا دې سلام وي چې د هدايت په لاره روان وي، اسلام راوړه تر څو په امن ﴿ې، په اسلام مشرف شه، الله تعالی به دوه اجرونه درکړي، که د اسلام رانه ووړ نو د ټولو اريسيونو (پيروانو) ګناه به ستا په غاړه وي (د ايت ترجمه مخکې شويده).]

رسول الله (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) دغه ليک د دحيه بن خليفه الکلبي په لاس وليږه او امر يې ورته وکړ چې ليک د بصری مشر ته وسپاري تر څو هغه يې قيصر ته ورسوي. بخاري له ابن عباس (رضي الله عنهما) نه په روايت سره وايي چې ابو سفيان بن حرب وايي: هر قل د قريشو له يو شمير مشرانو سره وغوښتلم، مونږ شام ته د تجارت لپاره تللي وو. دا هغه وخت وۀ چې له رسول الله (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) سره د حديبيې ټرون لاسليک شوی وۀ. ابو سفيان وايي: مونږ هرقل ته ورغللو هغه په ايلياء (بيت المقدس) کې وۀ[۲] خپل دربار ته يې وبللو. ورسره د روم

---

(2). محاضرات تاريخ الامم – ۱/ ۱۴۷. فتح الباري ۸/ ۱۲۷، ۱۲۸

۱. صحيح البخاري ۱/ ۵۰٤.

(۲). دغه وخت قيصر له حمص نه بيت المقدس ته راغلی و، تر څو د الله تعالی د هغه احسان شکرانه ادا کړي چې پر دوی يې کړی و او فارسيانو ته يې ماتې ورکړې وه (صحيح مسلم : ۲/ ۹۹). فارسيانو خپل مشر خسرو پرويز وژلی وۀ او له رومیانو سره يې سوله کړې وه او دايې منلې وه چې د روم اشغال شوې ځمکې به بيرته رومیانو ته سپاري، او هغه صليب يې هم ورسپارلی و

مشران هم ناست وو ترجمان یې راوباله او راته ویې ویل له تاسې نه کوم یو له دې شخص سره چې د نبوت دعوه یې کړیده نسبي نژدیوالی لري؟ کوم یو یې ډیر نژدې خپل دی؟ ابو سفیان وایي: ما ورته وویل: زه ډیر ورلنډ یم. هرقل وویل: دا سړی او ملګري یې زما خوا ته رالنډ کړئ، ملګري یې دده شاته کینوئ، بیا یې خپل ترجمان ته وویل: زه لدې سړي نه د نبوت د مدعي یعنې محمد (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) په هکله پوښتنې کوم، زما ملګرو ته یې وویل که دې سړي دروغ راته وویل، نو تاسې یې راته په ګوته کړئ. ابو سفیان وایي که له خپلو ملګرو څخه نه وی شرمیدلی چې بیا به وایي دروغجن دی، نو په محمد (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) پسې به مې دروغ ویلي وای.

ابو سفیان زیاتوي، د هرقل لومړنی سوال دا وٴ چې د محمد (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) د نسب په هکله څه وایې؟ ما ورته وویل: هغه د ډیر لوړ او شریف نسب خاوند دی. بیا یې وویل: له ده نه مخکې له تاسو نه چا دا ډول خبره او دعوه کړیده؟ ورته ومې ویل: نه. راته ویې ویل: له پلرونو نه یې کوم یو د واک او قدرت خاوند وٴ؟ ومې ویل: نه. پوښتنه یې وکړه چې اوس یې پیروان کمزوري خلک دي او که د مال او واک خاوندان؟ ورته ومې ویل: کمزوري خلک یې ملګري دي. ویې ویل: د پیروانو شمیره یې زیاتیږي که کمیږي؟ ما ورته وویل: شمیره خو یې مخ په زیاتیدو ده. سوال یې وکړ چې له پیروانو نه یې څوک له خپل دین نه د کرکې له امله بیرته له خپل دین نه ګرزي (مرتد کیږي) ؟ ومې ویل: نه. راته ویې ویل: د نبوت له دعوی نه مخکې مو له هغه نه دروغ اوریدلي؟ ومې ویل: نه. ویې ویل: ایا غدر او خیانت کوي؟ ومې ویل: نه، خو اوس مو ورسره یو تړون کړیدی وګورو چې څه کوي؟ ابو سفیان وایي لدې خبرې پرته ما ته بل هیڅ داسې مجال په لاس رانغی چې د محمد (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) په هکله له ځانه څه ووایم. بیایې راته وویل: ایا تاسو جګړه ورسره کړیده؟ ومې ویل: هو. ویې ویل: د جګړو نتیجې یې څه ډول وي؟ ورته ومې ویل: جنګ زمونږ او ده تر منځ داسې وٴ چې کله به مونږ او کله به هغه برلاسی و. پوښتنه یې وکړه چې په کومو څیزونو امر درته کوي؟ ورته ومې ویل: راته وایي: د یوه الله عبادت وکړئ، هیڅ شریک مه ورسره نیسئ، د خپلو پلرونو خبرې پریږدئ، همدا راز د لمانځه، رښتیا، خپلوی، دوستۍ او پاکۍ امر راته کوي.

چې نصرانیان ګومان کوي چې عیسې (ع) وربانديې اعدام شوی و، قیصر په ۶۲۹م (۷ه) کال بیت المقدس ته راغی چې صلیب پخپل ځای کیږدي او ددې بري شکر په ځای کړي.

بيايې خپل ترجمان ته وويل: دې قريشي ته ووايه چې د نسب په هکله مې پوښتنه درنه وکړه تا وويل هغه د شريف نسب درلودونکی دی، رسولان همداسې وي هغوی د نسب له پلوه هم له نورو نه لوړ وي. پوښتنه مې درنه وکړه چې له ده نه مخکې يې د قوم کوم فرد دا ډول دعوه کړيده ؟ تا راته وويل: نه، که داسې وای چې لدينه وړاندې کوم شخص داسې دعوه کړې وای، نو ما به ويل چې کيدی شي ده به د هغه په پيروی سره دا ډول دعوه کړې وي. درته ومې ويل چې له پلرونو نه يې کوم يو واکمن او پاچا وٴ؟ تا وويل: نه ، که فرضاً له پلرونو نه يې کوم يو پاچا او مشر تير شوی وای، نو ما به ويل چې د خپل پلار پاچايي غواړي. دا مې درته وويل چې له نبوت نه مخکې مو دروغ ورنه اوريدلي؟ تا وويل نه، نو زه په يقين سره دا ويلی شم داسې نه شي کيدای چې څوک دې انسانانو ته دروغ نه وايي خو په الله پسې دې دروغو ته زړه ښه کړي. بله مې دا خبره درته وکړه چې پيروان يې کمزوري خلک دي او که د مال او مقام خاوندان؟ تا راته وويل: چې کمزوري خلک يې پيروان دي، حقيقت هم همداسې دی چې د رسولانو (عليهم السلام) پيروان کمزوري خلک وي. دده د پيروانو د شمير په هکله مې پوښتنه درنه وکړه، تا راته وويل چې د پيروانو شميره يې مخ په زياتيدو ده، د ايمان خاوندان همداسې وي. درته ومې ويل چې څوک چې يو ځل مسلمان شي آيا بيا بيرته له خپل دين نه د کرکې له املـه لـه دين نـه ګرزي؟ تا وويل: نه. همداسې ده ايمان چې يو ځل په زړه کې ځای ونيسي بيا په زور هم نه شي ورنه ايستل کيدلی. پوښتنه مې درنه وکړه چې آيا هغه غدر او خيانت کوي؟ تا وويل: نه غدر نه کوي، رسولان (عليهم السلام) همداسې وي غدر او خيانت نه کوي. ددې پوښتنه مې وکړه چې په څه امر درته کوي؟ تا راته وويل: هغه امر راته کوي چې د يوه الله عبادت وکړو، شريک ورسره ونه نيسو، او د بتانو له عبادت نه مو منع کوي، د لمانځه، زښتيا ويلو او پاکې امر راته کوي. که دا ستا خبرې زښتيا وي نو همدا پيغمبر (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) به ان دا زما تر پښو لاندې ځای هم نيسي، زه خبر وم چې هغه به په همدې وخت کې مبعوثيږي، خو پدې نه پوهيدم چې هغه به له تاسې څخه وي، که زه پدې پوهيدلی چې ده ته ورسيدی شم نو د ليدلو تکليف به مې يې ګاللی وای. او که زه دده په حضور کې وای، نو دواړه پښې به مې يې ور مينځلی وای. بيا يې د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) کتاب(ليک) راوغوښت او ويې ولوست. کله چې د ليک له لوستلو نه فارغ شو، ګڼه ګوڼه جوړه شوه خلکو شورکاوه، نو مونږ ته د وتلو امر وشو. ابو سفيان وايي کله چې مونږ ته د بيرون وتلو امر وشو، ما خپلو ملګرو ته وويل: د ابو کبشه (محمد (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) د زوی کار جوړ شو،

له ده نه خو د روميانو (ژيړ پوټکو) پاچا هم ويريږي. لدې نه وروسته زما پوخ يقين ؤ چې د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) دين به حتماً بريالی کيږي، په همدې فکر کې وم تر څو په اسلام مشرف شوم.(1)

په قيصر باندې د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) د ليک دا اثر خو ابو سفيان وليد. پر هغه باندې ددې خط بل اثر دا ؤ چې قيصر د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) قاصد دحيه کلبي ته جامې او تحفې ورکړې، خو کله چې دحيه بيرته مدينې ته روان ؤ په حسمی نومې سيمه کې د جذام قبيلې څو کسانو ډاکه ورباندې واچوله او ټول شيان يې ورنه يووړل، مدينې ته له رسيدو وروسته د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) خدمت ته حاضر شو د خپل سفر راپور يې ورکړ. ورپسې رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) زيد بن حارثه (رضي الله عنه) حسمی ته واستاوه، چې ورسره پنځه سوه وسله وال نور هم وو، لاړ او په حسمی کې يې چې د وادي قری شا ته پرته وه په جذام قبيله برید وکړ، ډير کسان يې ورنه ووژل، سل ښځې او ماشومان يې اسيران کړل، زر اوښان او پنځه زره پسونه يې هم په غنيمت ونيول. د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) او جذام قبيلې تر منځ اور بند هم شوی ؤ لدې پيښې نه وروسته د جذام يوه مشر زيد بن رافعه راغی او رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) ته يې احتجاج وکړ. نومورې په اسلام مشرف شوی ؤ، له دحيه سره يې مرسته هم کړې وه، په همدې اساس رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) دده احتجاج قبول کړ او امر يې وکړ چې اولادونه، ښځې او مالونه يې بيرته ورکړل شي.

زياتره سيرت ليکونکي دا سريه له حديبيې نه مخکې ذکر کوي، پداسې حال کې چې دا سيي نده ځکه قيصر ته د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) ليک له حديبيې نه وروسته استول شوی ؤ. ابن قيم هم وايي دغه سريه له حديبيې نه وروسته واقع شويده.(2)

۵- منذر بن ساوی ته ليک

رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) د بحرين والي يا پاچا منذر بن ساوی

(1). صحيح بخاري ۴/۱. صحيح مسلم ۲/ ۹۸ - ۹۹

(2). زاد المعاد ۲/ ۱۲۲. حاشية تلقيح فهوم الاثر ص ۲۹.

ته ليک وليکه، او د علاء بن الحضرمي په لاس يې ورولېږه. منذر يې اسلام ته را دعوت کړ. په ځواب کې منذر ورته وليکل: اما بعد، يا رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم)! ستاسې ليک مې ولوست، خپل قوم ته مې واوراوه، ځينې داسې وو چې اسلام يې خوښ کړ، او ځينو نورو اسلام و نه مانه، زما په ملک کې يهود او مجوس هم اوسيږي، پدې هکله لارښوونه راته وکړه. د همدې په ځواب کې رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) ورته وليکل: (**بسم الله الرحمن الرحيم. من محمد رسول الله إلى المنذر بن ساوي، سلام عليك، فإني أحمد إليك الله الذي لا إله إلا هو، وأشهد أن محمداً عبده ورسوله، أما بعد، فإني أذكرك الله عز وجل، فإنه من ينصح فإنما ينصح لنفسه، وإنه من يطيع رسلي ويتبع أمرهم فقد أطاعني، ومن نصح لهم فقد نصح لي، وإن رسلي قد أثنوا عليك خيراً، وإني قد شفعتك في قومك، فاترك للمسلمين ما أسلموا عليه، وعفوت عن أهل الذنوب، فاقبل منهم، وإنك مهما تصلح فلم نعزلك عن عملك. ومن أقام على يهودية أو مجوسية فعليه الجزية**).

[**بسم الله الرحمن الرحيم، له محمد رسول الله** (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) نه منذر بن ساوى ته! سلام عليک. زه د هغه الله حمد او ثنا وايم چې له هغه پرته بل د عبادت وړ څوک نشته، شاهدي وايم چې محمد د الله بنده او رسول دى. اما بعد زه الله تعالى دريادوم، څوک چې نيکي کوي، خير غواړي هغه يې په خپله ګټه دى، څوک چې زما د قاصدانو اطاعت وکړي، امر يې ومني هغوى په حقيقت کې زما اطاعت کړيدى، چا که زما له رسولانو سره نيکي وکړه دا نيکي يې له ما سره ده. زما قاصدانو ستا صفت وکړ، ما ستا د قوم په رابطه ستا شفاعت قبول کړ، مسلمانان په خپل حال پريږده کنهګارانو ته مې عفوه وکړه، عفوه يې قبوله کړه، او تر څو پورې چې ته په صلاح او خير وې له چوکۍ څخه دې نه عزل کوو، که څوک په يهوديت او مجوسيت باندې قايم پاتې کيږي پر هغه جزيه ده، جزيه ورنه اخله.[1]]

۶- د يمامه پاچا هوذه بن علي ته ليک

رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) د يمامه مشر هوذه بن علي ته پدې

---

[1]. زاد المعاد ۳/ ٦١. دکتور حميد الله چې کوم عبارت راوړى په هغه کښې د [لا اله الا هو] په ځاى [لا اله غيره] ليکل شوي.

متن يو ليک وليږه: (**بسم الله الرحمن الرحيم. من محمد رسول الله إلى هــوذة بــن علي، سلام على من اتبع الهدى، واعلم أن ديني سيظهر إلى منتهى الخف والحــافر، فأسلم تسلم، وأجعل لك ما تحت يديك**).

[**بسم الله الرحمن الرحيم**، د الله د رسول محمد (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) له خوا هوذه بن علي ته! سلام دې په هغه چا وي چې د هدايت په لار روان وي، پوه شه چې زما دين به پر ټولو هغو سيمو برلاسی کيږي چيرته چې پياده او سپور رسيدلی شي، اسلام راوړه تر څو په امن شې، که په اسلام مشرف شوې چوکی به دې درسره پاتې وي.

دا ليک سليط بن عمرو العامري يوورې.]

کله چې سليط هوذه ته ورغی، هغه هرکلی ورته ووايه، عزت يې ورکړ، او رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) ته يې داسې وليکل: ربښتيا هم چې تاسې ډير غوره شي ته بلنه کوئ، همدا راز زما د پاچايۍ رعب هم په عربانو پروت دی. ما پخپل امرکې درسره شريک کړه تر څو پيروي دې وکړم. سليط ته يې جايزه او په هجرکې جوړې شوې جامې هم ورکړې.

سليط ټولې تحفې د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) حضور ته وړاندې کړې، او د خپل سفر راپور يې هم ورکړ.

رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) د هوذه خط ولوست او ويې ويل: (**لو سألني قطعة من الأرض ما فعلت، باد، وباد ما في يديــه**). که يوه ټوټه ځمکه رانه وغواړي هم وربه يې نکړم، هغه هم تباه شو او څه چې ورسره دي هغه هم تباه شول.

او کله چې رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) د مکې له فتحې نه راستون شو جبريل (عليه السلام) خبر ورکړ چې هوذه مړ شو. پدې وخت کې رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) وفرمايل:

(**أما إن اليمامة سيخرج بها كذاب يتنبي، يقتل بعدي**).په يمامه کې به داسې کذاب پيدا کيږي چې د نبوت دعوه به وکړي، خو له ما نه وروسته به ووژل شي.

چا سوال وکړ چې قاتل به يې څوک وي يا رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم)؟ ده وفرمايل: (**أنت وأصــحابك**).ته او ستا ملګري به يې وژني. وروسته بيا

همداسې وشول.[1]

۷- د دمشق مشر حارث بن ابي شمر غساني ته ليک

رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) داسې ليک ورته ليکلی و: (**بسم الله الرحمن الرحيم. من محمد رسول الله إلى الحارث بن أبي شمر، سلام على من اتبع الهدى، وآمن بالله وصدق، وإني أدعوك إلى أن تؤمن بالله وحده لا شريك له، يبقي لك ملكك**).

[**بسم الله الرحمن الرحيم**، د الله درسول محمد (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) له خوا حارث بن ابي شمر ته. په هغه چا دې سلام وي چې په حقه لار روان وي، په حق يې ايمان راوړې وي، ريښتونی وي. زه بلنه درکوم چې په يوه الله ايمان راوړې، شريک ورسره ونه نيسې که داسې وکړې نو پاچايې به دې درسره وي.]

دا ليک يې د شجاع بن وهب چې له بني اسد قبيلې څخه ؤ په لاس وليږه. کله چې د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) خط ور ورسيد نو ويې ويل: څوک به زما نه پاچايي اخلي؟ زه ورپسې ورځم. پدې توګه مسلمان نه شو.[1]

۸- د عمان پاچا ته ليک

رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) د عمان پاچا جيفر بن جلندي او ورور ته يې چې عبد نوميده داسې ليک وليکه: (**بسم الله الرحمن الرحيم. من محمد رسول الله إلى جيفر وعبد ابني الجلندي، سلام على من اتبع الهدي، أما بعد:**

فإني أدعوكما بدعاية الإسلام، أسلما تسلما، فإني رسول الله صلى الله عليه وسلم إلى الناس كافة، لأنذر من كان حياً ويحق القول على الكافرين، فإنكما إن أقررتما بالإسلام وليتكما، وإن أبيتما [أن تقرا بالإسلام] فإن ملككما زائل، وخيلي تحل

---

[1]. زاد المعاد ۳/ ۶۳

[1]. زاد المعاد ۳/ ۶۳. محاضرات تاريخ الامم الاسلامية: ۱۴۶/۱

بساحتكما، وتظهر نبوتي على ملككما).

بسم الله الرحمن الرحيم، د الله تعالى د رسول محمد (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) له خوا د جلندي زامنو جيفر او عبد ته! په هدايت او نيغه لار برابرو باندې دې سلام وي. اما بعد زه مو اسلام ته رابولم، اسلام راوړئ تر څو دواړه په امن شئ. زه د الله تعالى له لوري ټولو انسانانو ته رسول راليږل شوی يم. زه خلک د کفر او بدۍ له عواقبو نه ويروم، حق ورته بيانوم تر څو په کفارو باندې دليل قايم شي. که تاسې اسلام ومانه، هملته به مو پخپله چوکۍ پريږدم، او که اسلام و نه منۍ نو پاچايي مو ختميدونکې ده، ستاسې په پاچايۍ به زما د آسونو برید او يلغار جوړ شي، زما نبوت به حتماً ستاسې پر پاچايۍ غلبه مومي.

رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) دغه ليک د عمرو بن العاص (رضي الله عنه) په لاس وليږه. عمرو وايي: روان شوم تر څو عمان ته ورسيدم، لومړی عبد ته ورغلم، هغه يې له ورور نه زيات هوښيار او نرم سړی وٴ ورته ومې ويل چې زه رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) تاسې ته راليږلي يم. ده راته وويل: ورور مې د عمر او مقام له پلوه له ما نه مخکې دی، راځه زه به دې هغه ته ورولم تر څو ستا ليک ولولي. او بيايې زياته کړه: ته څه غواړې؟ ما ورته وويل: زه د يوه الله لور ته بلنه درکوم. له الله نه پرته د نورو ټولو عبادت پريږده، پدې سره شاهدي ووايه چې محمد د الله بنده او رسول (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) دی. عبد وويل: اې عمرو! ته د خپل قوم د سردار زوی يې، دا راته ووايه چې ستا پلار پدې هکله څه کړي؟ د هغه عقيده څه وه؟ هغه زمونږ لپاره نمونه دی.

ما ورته وويل: پلار مې پداسې حال کې مړ شو چې په محمد (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) يې ايمان نه درلود. زما هيله دا وه چې هغه په اسلام مشرف شي، او د محمد (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) تصديق وکړي. زه هم لکه پلار مې مشرک وم تر څو الله تعالى د اسلام لارښوونه راته وکړه. عبد راته وويل: څومره وخت کيږي چې د محمد (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) پيروي دې غوره کړيده؟ ځواب مې ورکړ، لږ وخت کيږي چې په اسلام مشرف شوی يم.

راته ويې ويل چيرته مسلمان شوې؟ ما ورته وويل: په حبشه کې د نجاشي په وړاندې. او دا مې هم ورته وويل چې نجاشي پخپله هم په اسلام مشرف شويدی. عبد راته وويل نو رعيت يې څه ورسره وکړل؟ ما ورته وويل: هغوی يې امر ومانه او پيروي يې کوي.

ویې ویل: آیا دیني او مذهبي مشرانو یې هم پیروي وکړه؟ ما ورته وویل: هو. عبد راته وویل: اې عمرو! پوه شه چې دروغ سړی ډیر ژر رسوا کوي. ما ورته وویل:زه خو دورغ نه وایم، زمونږ دین د دروغ ویلو اجازه نه ورکوي. بیا یې وویل: فکر کوم چې هرقل به د نجاشي په اسلام نه وي خبر؟ ما ورته وویل: نه، هرقل پدې ښه خبر دی چې نجاشي اسلام راوړیدی. ده راته وویل: ته پدې خبر څنګه خبر شوی؟ ما وویل: نجاشي به هرقل ته خراج ورکاوه، خو کله چې په اسلام مشرف شو، نو ویې ویل قسم په خدای که لدینه وروسته یو درهم هم ورکړم. او کله چې هرقل پدې کیسه خبر شو، نو ورور یې چې نیاق نومیده ورته وویل: آیا خپل هغه غلام همداسې پریږدي چې خراج ورنکړي؟ او دا اجازه ورکوي چې د بل چا دین ومني؟ هرقل ورته وویل: دا یو شخص دی چې د ځان لپاره یې یو دین غوره کړیدی، نو زه څه ورسره کولی شم؟ په خدای قسم که د پاچایۍ غم نه وای راسره نو ما به هم لکه نجاشي دا دین مانه.

عبد وویل: اې عمرو! دا ته څه وایې؟ ما ورته وویل: قسم په خدای چې زه رښتیا وایم . هغه راته وویل: ښه، اوس دا راته ووایه چې محمد (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) په څه شیانو امر او له کومو شیانو څخه نهي کوي؟ په ځواب کې مې ورته وویل: هغه امر کوي چې مونږ د الله تعالی اطاعت وکړو، او نافرماني یې ونکړو. هغه د صله رحمۍ امر کوي، او له هر ډول ظلم، زنا ، شرابو، بت پرستۍ نه نهي کوي. عبد وویل: دا څومره ښه او غوره خبره ده، څومره غوره شیانو ته بلنه کوي. که زما ورور زما خبره ومني نو مونږ به ټول سواره درسره روان شو او د محمد (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) حضورته به حاضر شو، ایمان به وربانديې راوړو، او تصدیق به یې کړو، خو ورور مې په پاچایۍ ډیر ویریږي، د واک ډیر حریص دی، هغه خپلواک نه شي پریښودئ، هغه ته ګرانه ده چې د بل چا پیروي وکړي.

ما ورته وویل: که هغه اسلام راوړي، نو رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) به یې بیرته د خپل قوم مشر وټاکي. د هغه دنده به بیا دا وي چې له بډایانو نه صدقې واخلي او په غریبانو یې وویشي. عبد وویل: دا هم څومره نیک عمل دی، بیایې وویل: صدقه څه ته وایي؟ شروع مې وکړه هغه ته مې صدقه او زکات تشریح کړ، د هر شي د زکات اندازه مې ورته بیان کړه او په اوښانو مې ورته خلاصه کړه. راته ویې ویل: یا عمرو! هغه حیوانات چې د باندې څري ونې او بوټې خوري او اوبه څښي آیا پدې ډول څارویو کې هم صدقه شته؟ په ځواب کې مې وویل: هو. هغه وویل: فکر نکوم چې زما قوم به د وطن لدې لیرې والي او شمیرې له زیاتوالي سره دې خبرې ته غاړه کیږدي. عمرو وایي څو ورځې هملته ورته انتظار وم. عبد به زما خبرې خپل ورور

ته رسولې. تر څو یوه ورځ یې زه وغوښتلم. ورد ننه شوم پیره دارانو له متو نه ونیولم، ده ورته وویل: خوشۍ یې کړئ. خوشی یې کړم، ما غوښتل چې کینم. پیره دارانو د کیناستلو اجازه رانکړه پاچا ته مې وکتل. هغه راته وویل: وایه څه ویل غواړې؟ ما د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) مهر شوی لیک ور وړاندې کړ، مهر یې مات کړ، لیک یې پرانیست او تر پایه یې ولوست. بیایې خپل ورور ته ورکړ، هغه هم ولوست. خو ما لیدل چې ورور یې له ده نه نرم دی، بیا یې راته وویل: وایه د قریشو دریځ څه دی؟ ما ورته وویل: هغوی د محمد (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) پیروي غوره کړیده. ځینې له زړه نه او له دین سره د مینې په بناء په اسلام مشرف شویدي، او ځینې نور بیا په زور سره مغلوب شوي. پاچا راته وویل: نور څوک له محمد (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) سره دي؟

ما وویل: خلکو دا دین خوښ کړیدی، هغوی د الله تعالی په فضل سره دا درک کړیده چې دوی په ګمراه ی کې وو او اوس حق ته راغلي دي. فکر کوم دلته له تا نه پرته نور څوک ګمراه ندي پاتې. که ته هم نن اسلام رانه وړې او پیروي یې ونکړې، نو لښکرې درپسې راځی له ریښو نه به دې باسي هر څه به دې ختمیږي، نو اسلام راوړه تر څو په امن ښی، که اسلام راوړې نو محمد (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) به دې بیرته د خپل قوم مشر وټاکي، هیڅوک پلي او سواره به نه درته راځي. هغه راته وویل: یوه ورځ مهلت راکړه. ته سبا بیا راشه.

زه لاړم او ورور ته یې ورغلم. هغه راته وویل: یا عمرو! هیله من یم چې ایمان راوړې او د واکمنۍ حرص پریږدي. سهار ورغلم، خو اجازه یې را نکړه چې ورسره وګورم. ورور ته یې ورغلم ورته ومې ویل چې ما ته خو له پاچا سره د لیدو اجازه رانکړل شوه. هغه وروستلم. پاچا راته وویل ستا په خبرو کې مې فکر وکړ، که زه اوس پاچایي داسې چا ته پریږدم چې شهسواران یې لا تر اوسه دلته ندي رارسیدلي، نو دا زما لپاره مناسبه نه ده او عربان به مې ډیر کمزوری وشمیري، او که د هغه سواره دلته راورسیدل نو له داسې یوه مقاومت سره به مخ شي چې مخکې به یې لیدلی هم نه وي.

په ځواب کې مې ورته وویل: ستا خوښه، زه نو سبا بیرته روانیږم. کله چې هغه زما له ستنیدو نه ډاډه شو، نو خپل ورور یې ګوښه کړ او ورته ویې ویل: دغه پیغمبر (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) چې په کومو خلک غالب او بریالی شوی، مونږ د هغوی په نسبت په هیڅ حساب یوو، ده چې هر چا ته پیغام استولی، ټولو یې دعوت منلی.

په همدې اساس یې بل سهار زه ورغوښتلم، او هملته پاچا او ورور یې دواړو اسلام

راوړ او د رسول (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) تصدیق یې اعلان کړ. دواړه په اسلام مشرف شول، او ما ته یې اجازه راکړه چې له خلکو نه صدقې راټولې کړم او په غریبانو یې وویشم او د خلکو تر مینځ فیصلې وکړم. که چا به مخالفت راسره وکړ هغوی دواړو به مې عملي مرسته کوله.[1]

ددې پیښې له سیاق نه داسې ښکاري چې دغه لیک د نورو په نسبت وروسته استول شوی، او ګمان کیږي چې د مکې له فتحې نه وروسته لیکل او استول شوی وي.

رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) پدې لیکونو سره خپل دعوت د هغه وخت زیاترو پاچایانو ته ورساوه. په ځواب کې ځینې پاچایان په اسلام مشرف شول او یو شمیر همداسې کافر پاتې شول. خو دومره خبره ده چې د هغو کفارو توجه هم همدې خوا ته را واوښتله. او د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) له مبارک نامه او اسلام سره څه نا څه آشنا شول.

---

[1]. زاد المعاد ۳/ ۶۲-۶۳

له حديبيه صلحې نه وروسته پوځي تحرکات

د غابه يا ذي قرد غزا

د بني فزاره قبيلې يوې ډلې د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) په خلاف د يوه اقدام په نتيجه کې د مسلمانانو په يو شمير څارويو ډاکه واچوله، غلا يې کړل. همدې ډاکوانو ته د سزا ورکولو پخاطر دا غزا پيښه شوې وه. له حديبيې نه وروسته د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) لومړنۍ غزا همدا وه، که څه هم ځينې روايتونه وايي چې لومړنۍ غزا يې خيبر وه. امام بخاري ددې باب په مقدمه کې وايي چې د غابه غزا له خيبر نه دری ورځې مخکې واقع شويده. مسلم هم همدا خبره له سلمه بن اکوع نه په روايت سره نقل کړيده. د سيرت ليکونکو زياترو دا ويلي چې دغه غزا له حديبيه سولې نه مخکې وه، خو د بخاري روايت د تاريخ ليکونو له قول نه زيات صحيح دی.[1]

ددې غزا قهرمان سلمه بن اکوع دی. سيرت ليکونکي روايتونه ټول له ده نه نقلوي او وايي چې: رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) خپلې شيدې ورکونکې اوښانې له خپل شپانه او غلام رباح سره څو ځای ته ليږلې وې، سلمه وايي زه هم ورسره وم او د طلحه آس مې له ځان سره بوولی و، سهار ناڅاپه عبدالرحمن فزاري پر اوښانو حمله وکړه، ټول يې وتښتول، شپون يې په قتل ورساوه. ما رباح ته وويل چې لاړ شه، دا آس طلحه ته ورسوه، او رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) له پيښې خبر کړه. زه په يوه هسک ځای ودريدم مخ مې د مدينې په لور کړ او دری ځلې مې په لوړ آواز چيغه وکړه يا صباحاه!! بيا په غلو پسې روان شوم، په غشو مې ويشتل

---

[1]. صحيح البخاري باب غزوه ذات قرد ۲/ ۶۰۳ . صحيح مسلم باب غزوه ذي قرد ۲/۱۱۳تر ۱۱۵. فتح الباري ۷/ ۴۶۰ تر ۴۶۳، زاد المعاد ۲/ ۱۲۰

او دا شعر مې زمزمه کاوه:

انـــا ابـــن الاکـــوع والیـــوم یـــوم الرضـــع

زه د اکوع زوی یم، نن ورځ د شیدو رودلو ورځ ده. یعنې نن به معلوم شي چې چا د خپلې مور شیدې رودلي دي.

ابن اکوع وایي ما په مسلسله توګه کفار په غشو ویشتل، که له هغوی نه به یو راپسې راغی نو زه به د ونې بیخ ته ورته کیناستلم او له همغه ځای نه به مې وویشت او ټپې به شو، تر څو هغوی د غرونو په منځ کې تنګې درې ته ننوتل. زه غره ته وختلم او د غره له سر نه مې تیرې پرې راغورځول همداسې په هغوی پسې وم، تر څو د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) ټول اوښان مې شاته پاتې شول. هغوی دا ټول را ته خوشې کړل او لاړل. که څه هم هغوی د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) ټول اوښان راته خوشې کړل، خو بیا هم زه ورپسې وم په غشو مې ویشتل، چې مجبور شول دیرش چادر او دیرش نیزې ورغورځوي، دا د دې پخاطر چې بار یې سپک شي. دوی به چې هر څه پریښودل ما به د نښانې په توګه تیرې وربانديې اچولې تر څو رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) او اصحاب (رضي الله عنهم) ورته متوجه شي او ویې پیژني. زه ورپسې وم هغوی د یوې غونډۍ په یوه تنګه لاره کې د غرمې ډوډۍ ته کیناستل، زه له دوی نه پاس وختلم او ورته ګورم له دوی نه څلور کسان ماته راوختل. ما ورته وویل: آیا ما پیژنئ چې زه څوک یم؟ دوی دومره را لنډ شوي وو چې زما غږ یې نښه اوریده، ما ورته وویل زه سلمه بن اکوع یم، زه چې په چا پسې روان شوم هغه به حتماً رانیسم، او که څوک ما پسې شي او زما د نیولو هڅه وکړي نو کله به مې هم ونه نیسي، هغوی چې زما خبرې واوریدلې څلور واړه بیرته ستانه شول.

زه پخپل ځای ناست وم، په همدې وخت کې مې د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) پوځیان ولیدل چې د ونو په مینځ کې راروان دي، مخکې یې اخرم روان وئ، ورپسې ابو قتاده، ورپسې مقداد بن اسود وئ. حضرت اخرم له عبدالرحمن سره مخامخ شو، سره ونښتل د عبدالرحمن آس زخمي شو، خو عبدالرحمن وتوانید اخرم په شهادت ورسوي ، بیا یې آس ورنه واخیست وربانديې سپور شو، خو قتاده ورپسې راورسید او عبدالرحمن یې همدلته وواژه، نو مشرکین په تیښته شول. زه هم ورپسې په منډه شوم، لمانښام ته نژدې هغوی ډیر وړې وو غوښتل یې لږ اوبه وڅښي خو ما اجازه ورنکړه چې له چینې نه اوبه وڅښي، یو څاڅکی یې هم ترخولې نکړ. رسول الله

(صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) او لښکر يې لماسختن راپسې راورسيد ما عرض وکړ يا رسول الله ! دا خلک تږي دي، که له ماسره سل کسان وليږې ،نو زه به د دوی ټول آسونه ورنه واخلم، او دوی به هم ټول لاس تړلي درته راولم. رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) وفرمايل: : (**يا بن الأكوع. ملكت فأسجح**). اې د اکوع زويه! برلاسی شوې يې، نو لږ نرمي وکړه. بيايې وفرمايل: (**إنهم ليقرون الآن في غطفان**). چې اوس دوی ته په بنو غطفان کې ميلمستيا کيږي يعنې دوی به اوس د هغوی ميلمانه وي.

بيا رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) وفرمايل: (**خير فرساننا اليوم أبو قتادة، وخير رجالتنا سلمة**). نن ورځ زمونږ تر ټولو غوره شهسوار ابو قتاده دی، او له ټولو نه غوره پلی مو سلمه دی. سلمه وايي چې بيا رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) دوې برخې راته راکړې يوه برخه د پلي او بله د سواره، او بيا يې زه پخپله عضباء نومې اوښه ورسره سپوره کړم او مدينې ته راستانه شوو. پدې غزا کې رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) ابن ام مکتوم خليفه ټاکلی وۀ، او د غزا بيرغ يې مقداد بن عمرو ته ورکړی وۀ.[1]

---

[1]. زاد المعاد ۲/ ۱۲۰. او دوه وروستي مصدرونه.

د خيبر غزا

د ۷ کال د محرم مياشت

خيبر لوی ښار وٴ، ښه فصلونه او مضبوط برجونه يې درلودل، د مدينې منورې شمال ته ۶۰ يا ۸۰ ميله ليرې پروت وٴ، اوس د يوه کلي حيثيت لري، هوا يې هم ډيره ښه نده.

د خيبر غزا سبب

د حديبيې له سولې نه وروسته رسول الله (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) د مخالف مثلث له لوی قوت (قريشو) نه بې غمه شو، د هغوی له اړخه يې زړه جمع شو، نو نيت يې وکړ چې ددې مثلث له دوو نورو اضلاعو يا برخو سره حساب تصفيه کړي. او دايې ضروري وګڼله چې په سيمه کې د امن او امنيت ټينګولو پخاطر د يهودو او نجد د نورو قبايلو خطر هم له مينځه يووړل شي، ترڅو مسلمانانو له جګړې نه فارغ او د الهي دين دعوت ته وزګار شي.

ځرنګه چې خيبر د مسلمانانو په خلاف د ټولو توطئو، او سازشونو داسې مرکز وٴ چې د رسول الله (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) په ضد ټول جنګونه او فعاليتونه له همدې ځايه تنظيميدل نو مسلمانانو ته په کار وه چې لومړی همدا شيطاني ځاله ورانه کړي.

د يادونې وړ ده چې د خيبر يهودانو د احزاب په غزا کې د مسلمانانو په خلاف ټولې عربي قبيلې راوپارلې، بني قريظه يې ديته اړ کړل چې له رسول الله (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) سره غدر او خيانت وکړي. هغوی پدې هم بسنه ونکړه بلکه په مدينه کې د ننه يې هم له منافقينو سره اړيکې ټينګې کړې، له غطفان او په صحرا کې ميشته کوچيانو سره يې تماسونه ونيول، پخپله يې هم د جګړې تياري نيوله، په همدې اساس مسلمانان له سختو مشکلاتو سره مخ وو. يهودانو د رسول الله (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) د ترور توطئه جوړه کړه، رسول الله (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) مجبور شو ددې شرارتونو د مخنيوي پخاطر پوځي تحرکات ولري، او د يهودي لښکر ځينې شيطان مشران لکه سلام بن ابي حقيق، او اسير بن رزام له مينځه يوسي.

خو خبره پدې هم پای ته نه رسيدله، د يهودانو خطر لوی ؤ، او ددې خطر له مينځه وړلو يوه لوی او جدي اقدام ته ضرورت درلود. مسلمانانو تر هغې پورې ددې فرصت نه درلود چې له يهودانو سره مقابله وکړي تر څو پورې يې چې له لوې دښمن (قريشو) سره د سولې تړون نه ؤ کړی، او کله چې مسلمانان د قريشو له شر نه بې غمه شول نو د يهودانو مقابلې ته يې وخت وموند.

د خيبر په لور

ابن اسحاق وايي: رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) له حديبيې نه راستون شو، ذي الحجه او د محرم مياشتې څو ورځې يې همدلته مدينه کې تيرې کړې، او بيا په همدې محرم مياشت کې د خيبر په لور روان شو. مفسرين وايي چې خيبر هغه وعده وه چې الله تعالى پدې آيت کې له رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) سره کړې وه:

((وَعَدَكُمْ اللَّهُ مَغَانِمَ كَثِيرَةً تَأْخُذُونَهَا فَعَجَّلَ لَكُمْ هَذِهِ)) (الفتح: ٢٠)

[الله تعالى له تاسو سره د ډيرو غنائمو او ولجو وعده کړيده چې وا به يې خلئ تاسې، نو الله تعالى ژر درکړل دا غنائم.]

اسلامي لښکر

منافقان او د کمزوري ايمان خاوندان د حديبيې په غزا کې له رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) سره نه وو تللي، سستي يې کړې وه، الله تعالى د دوی په هکله خپل رسول (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) ته داسې امر وفرمايه:

((سَيَقُولُ الْمُخَلَّفُونَ إِذَا انطَلَقْتُمْ إِلَى مَغَانِمَ لِتَأْخُذُوهَا ذَرُونَا نَتَّبِعْكُمْ يُرِيدُونَ أَنْ يُبَدِّلُوا كَلامَ اللَّهِ قُلْ لَنْ تَتَّبِعُونَا كَذَلِكُمْ قَالَ اللَّهُ مِنْ قَبْلُ فَسَيَقُولُونَ بَلْ تَحْسُدُونَنَا بَلْ كَانُوا لا يَفْقَهُونَ إِلاَّ قَلِيلاً)) (١٥:٤٨)

[ژر به ووايي (تاته وروسته پاتې کيدونکي (خلک) کله چې روان شئ تاسې غنيمتونو (د خيبر ته) د پاره ددې) چې واخلئ تاسې هغه غنائم، پرې ږدئ مونږ چې په تاسې پسې درشو اراده لري دوی چې بدل کړي حکم د الله. ووايه اې محمده! چې له سره به متابعت ونکړئ تاسې زمونږ، همداسې فرمايلي وو الله پخوا بيا به ووايي چې کينه

کوئ ستاسې له مونږ سره بلکه دوی نه پوهيدل مګر لږ.]
همدا وه کله چې رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) د خيبر په لور روانيده، نو اعلان يې وکړ چې يوازې هغه کسان به ورسره ځي چې په جهاد کې برخه اخيستل غواړي. پدې ترتيب سره له رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) سره يوازې تر ونې لاندې بيعت کوونکي چې شميره يې ۱۴۰۰ تنه وو روان شول.
په مدينه کې يې سباع بن عرفطه غفاري خليفه وټاکه. ابن اسحاق وايي چې نميله بن عبدالله ليثي يې خليفه ټاکلی وۀ، خو محققين وايي چې لومړنی روايت قوي دی.[1]
په همدې وخت کې ابوهريره (رضي الله عنه) پدې اړې حال کې مدينې ته هجرت وکړ چې په اسلام مشرف شوی وۀ، د سهار په لمانځه کې يې په سباع بن عرفطه پسې اقتدا وکړه. او کله چې له لمانځه نه فارغ شو سباع ته ورغی، هغه څه توښه ورکړه او روان شو په رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) پسې ور ورسيد.
رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) يې په هکله له مسلمانانو سره خبره وکړه او هغوی پخپلو غنيمتونو کې هغه (ابو هريره) او ملګري يې ورسره شريک کړل.

له يهودانو سره د منافقانو تماس

منافقانو د يهودانو په ګټه کار کاوه، د منافقانو رئيس عبدالله بن ابي بن سلول د خيبر يهودانو ته احوال ولیږه چې متوجه اوسئ محمد (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) ستاسې په لور در روان شويدی، متوجه اوسئ، خپل تدابير ونيسئ، ګورئ همت له لاسه ورنکړئ، ورنه ونه ويريږئ، تاسې د شمير او وسايلو له پلوه له هغه نه پياوړي ياست، د محمد (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) قوم ډير لږ دی، هغوی تش لاسي هم دي، وسلې نلري.
يهودانو ته چې د ابن ابي خبر ورسيد کنانه بن ابي حقيق او هوذه بن قيس يې غطفان قبيلې ته واستول او د کمک غوښتنه يې ورنه وکړه.
بنې غطفان قبيله د يهودانو ملګري وه او د مسلمانانو په خلاف يې له دوی سره مرسته کوله. پدې غوښتنې سره يهودانو دا وړاندیز هم وکړ که دوی پر مسلمانانو بريالي شول نو د خيبر د ميوو نيمه برخه به بنو غطفان ته ورکوي.

---

[1]. فتح الباري ۷/ ۴۶۵. زاد المعاد ۲/ ۱۳۳.

د خيبر لار

رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) خيبر ته د رسيدو پخاطر لومړی د عصر نومي غره په لور لاړ، بيا له صهباء نومې سيمې نه تير شو، ورپسې رجيع ته ورسيد هغه چې له غطفان نه يې د يوې شپې، ورځې مزل درلود. د غطفان قبيلې خلکو تياري نيولې وه او د خيبر په لور وخوځيدل تر څو د يهودانو مرسته وکړي، دوی لا خيبر ته نه وو رسيدلي چې له شا نه يې شور او ځوږ تر غوږو شو، ګمان يې وکړ لکه چې مسلمانانو يې پر اولادونو او مالونو حمله کړې، همدا وه چې بيرته ستانه شول، او د خيبر يهودان يې يوازې پريښودل. رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) هغه دوه لارښوونکي راوغوښتل کوم چې مسلمانانو ته يې لاره ښوولې، له دوی نه د يوه نوم حسيل وٴ. رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) ورته وفرمايل چې داسې لار راوښيئ چې خيبر ته د شمال يعنې شام له لوري ورتاو شو، تر څو شام ته د يهودانو د تينبتې لاره بند کړو، او همدا راز د دوی او غطفان تر مينځ لاره هم غوڅه شي.

له لارښوونکو نه يوه وويل: يا رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) دا لار زه درته ښيم! روان شو تر څو يوې ځلور لارې ته ورسيد هلته يې عرض وکړ يا رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم)! له دې ټولو لارو نه خپل مقصد ته رسيدلی شو، اوس ستا خوښه په کومه لاړ شو؟ رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) امر ورته وکړ چې د هرې يوې لارې نوم ورته واخلي. هغه وويل: دا لار حزن نوميږي. رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) وفرمايل: دا دې وي، پدې نه ځو. هغه بيا وويل ددې بلې لارې نوم شاش دی. د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) دا هم خوښه نه شوه. هغه وويل دريمه لار د حاطب په نامه يادېږي. رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) هغه هم خوښه نکړه. پدې وخت کې حسيل وويل: چې اوس يوازې يوه لاره پاتې ده: عمر (رضي الله عنه) وويل: د هغې نوم څه دی؟ هغه وويل: نوم يې مرحب دی. رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) په همدې مرحب نومې لار باندې تګ خوښ کړ.

د لاړې په اوږدو کې واقع شوې ځنې پيښې

۱- سلمه بن اکوع (رضي الله عنه) وايي: له رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) سره د خيبر په لور روان وو، د شپې مو مزل کاوه چې يوه کس عامر ته وويل: څه خو راته واوروه، عامر شاعر وٴ، راکوز شو پيل يې وکړ داسې بدلې يې بللې:

اللهم لولا انت ما اهتدينا	**و لا تصـــدقنا ولا صلينا**
فاغفر فداء لـــك ما اتقينا	**و ثبت الاقدام ان لاقينا**
والــقين ســـــكينة علينا	**انا اذا صيح بنـــــا ابينا**

و بالصـــياح عـــولوا علينا

[اې الله! که ته نه وای نو مونږ به هدايت نه وای موندلی، نه به مو صدقه ورکړی وای او نه به مو لمونځ ادا کړی وای، خدايه! مونږ له تا قربان، ښښنه راته وکړې، چې تقوی غوره کړو او که له دښمن سره مخامخ شوو ثبات را په برخه کړې او سکون راباندې نازل کړې مونږ ته چې آواز وشي نو مونږ ځواب نه وايو، غرور کوو، او د چيغو په ډګر کې خلک باور راباندې لري.]

رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) د آواز په اوريدو سره وويل : (**من هذا السائق**). دا آواز ويونکی څوک دی؟ ورته وويل شول چې دا عامر بن اکوع دی. رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) وفرمايل: (**يرحمه الله**).[الله تعالی دې رحم پرې وکړي.]

له اصحابو (رضي الله عنهم) نه يوه کس وويل: ستاسو دعا د هغه په حق کې لازمه شوه، اوس د هغه شهادت واجب شو، تاسو ولې مونږ د هغه له وجود نه لا زيات نه برخمن کولو؟! يعنې کاشکې د عمر د اوږدوالي دعا مو ورته کړې وای[6].

اصحاب (رضي الله عنهم) پدې پوهيدل چې رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) د جنګ په وخت کې چاته په ځانګړې توګه دعا وکړي نو هغه حتماً په شهادت رسيدونکی دی.[(۲)]

د خيبر په غزا کې هم همداسې وشول او حضرت عامر (رضي الله عنه) شهيد شو. همدا وجه وه چې اصحابو (رضي الله عنهم) رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم)

---

[6]. صحيح بخاري باب غزوه خيبر ۲/۶۰۳. صحيح مسلم باب غزوه دي قرد و غيرها ۲/ ۱۱۵.

[(2)]. صحيح مسلم.

ته عرض وکړ چې ولې يې هغه ته د اوږده عمر دعا ونکړه تر څو دوی له ده نه نور هم مستفيد شوی وای.

۲- رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) له خيبر سره نژدې د صهباء په وادي کې د لمازديګر لمونځ ادا کړ. بيا يې توښې راوغوښتلې، ټولو خپلې خپلې توښې راوړې چې ټول ميده شوي غنم وو، امر يې وکړ چې ټول دلته واچوي، واچول شول. رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) او اصحابو (رضي الله عنهم) ورنه وخوړل. بيا د مابنام لمانځه ته پورته شو، مبارکه خوله يې ومينځله، اصحابو (رضي الله عنهم) هم خپلې خولې ومينځلې او په زاړه اوداسه يې لمونځ ادا کړ، ورپسې يې د ماخستن لمونځ هم وکړ.[1]

اسلامي لښکر د خيبر په لمنو کې

هغه شپه چې په سهار يې جګړه پيل شوه مسلمانانو خيبر ته نژدې تيره کړه، يهودان نه وو ورباندې خبر. د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) عادت وٴ چې کوم قوم ته به د شپې ورسيد، نو تر سهاره به نه ورنژدې کيده، حمله به يې نه ورباندې کوله، دا شپه يې هم همداسې وکړل. سهار وختي پاڅيد د سهار لمونځ يې په تياره کې ادا کړ مسلمانان روان شول د خيبر په لور يې مخه کړه، هلته يهودان د ناخبرۍ په حالت کې له بيلچو، ټسکورو او تبرونو سره د خپلو ځمکو او پټيو په لور روان وو، کله يې چې اسلامي لښکر وليد ويې ويل: قسم په خدای چې محمد (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) راغلی، منډې يې کړل بيرته خپل ښارته ننوتل. په همدې وخت کې رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) وفرمايل: (**الله أكبر، خربت خيبر، الله أكبر، خربت خيبر، إنا إذا نزلنا بساحة قوم فساء صباح المنـــذرين**). الله اکبر، خيبر وران شو، الله اکبر خيبر وران شو، مونږ چې د کوم قوم ساحې ته ورشو نو ګوابنل شويو خلکو سهار خراب وي.[2]

رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) د خپل لښکر لپاره يو ځای غوره کړ. حباب بن منذر (رضي الله عنه) ورته راغی عرض يې وکړ: يا رسول الله (صلی الله علیه

---

[1]. مغازي الواقدي غزوه خيبر ص ۱۱۲..

[2]. صحيح بخاري باب غزوه خيبر۲/ ۶۰۳- ۶۰۴.

و اله و صحبه و سلم) دا ځای دې د الله په امر غوره کړیدی، او که تا خپله د جنګي تاکتیک په توګه انتخاب کړیدی؟ رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) وفرمایل: دا زما شخصي نظر دی. منذر ورته وویل: دغه ځای له نطاه برجونو سره ډیر نژدې دی د یهودانو ټول جنګیالي په همدې برج کې دي، هغوی زمونږ په احوال خبر دي، مونږ ګوري، پداسې حال کې چې مونږ نه دوی وینو او نه یې په هکله پوره معلومات لرو. د هغوی غشي مونږ ته رارسیږي، خو زمونږ غشي دوی ته نه رسیږي، دلته مونږ د هغوی له شبخون نه هم په امن نه یو. بله دا چې دا ځای د خرما د ونو په منځ کې واقع دی، ژور هم دی، ځمکه یې هم خرابه ده، غوره به وي چې بل مناسب ځای وټاکې. رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) وفرمایل: سیي خبره دې وکړه، ورپسې یې د لښکر لپاره بل ځای غوره کړ.

کله چې رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) خیبر ته نژدی شو ویې فرمایل: (قفوا). **فوقف الجيش، فقال: (اللهم رب السموات السبع وما أظللن، ورب الأرضين السبع وما أقللن، ورب الشياطين وما أضللن، ورب الرياح وما أذرين، فإنا نسألك خير هذه القرية، وخير أهلها، وخير ما فيها، ونعوذ بك من شر هذه القرية، وشر أهلها، وشر ما فيها، أقدموا، بسم الله).** ودریږئ، ټول لښکر ودرید، رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) وفرمایل: اې د اوو آسمانونو او تر آسمانو لاندې د ټولو مخلوقاتو لویه ربه! اې د اوو ځمکو او پکې د ټولو موجوداتو ربه! اې د شیطانانو او د دوی له خوا د ګمراه شویو ربه! مونږ له تا نه ددې کلي خیر غواړو، ددې کلي د اوسیدونکو او ټولو له شر نه تا ته پناه در وړو. بیا یې وفرمایل: روان شئ، مخ په وړاندې د خدای په نامه سره.[1]

د جنګ تیاري او د خیبر برجونه

پر خیبر له حملې نه مخکې شپه رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) وفرمایل: (**لأعطين الراية غدًا رجلاً يحب الله ورسوله ويحبه الله ورسوله، [يفتح الله على يديه]) فلما أصبح الناس غدوا على رسول الله صلى الله عليه وسلم، كلهم يرجو أن يعطاها، فقال: (أين علي بن أبي طالب؟) فقالوا: يا رسول الله، هو يشتكي**

---

[1]. ابن هشام ۲/ ۳۲۹.

عينيه، قال: (فأرسلوا إليه)، فأتي به فبصق رسول الله صلى الله عليه وسلم في عينيه، ودعا له، فبرئ، كأن لم يكن به وجع، فأعطاه الراية، فقال: يا رسول الله، أقاتلهم حتى يكونوا مثلنا، قال: (انفذ على رسلك، حتى تنزل بساحتهم، ثم ادعهم إلى الإسلام، وأخبرهم بما يجب عليهم من حق الله فيه، فوالله، لأن يهدي الله بك رجلا واحدًا خير لك من أن يكون لك حمر النعم).

سهار به بيرغ داسې شخص ته ورکوم چې له الله تعالی او رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) سره محبت لري، الله او رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) هم ورسره مينه لري. کله چې سهار شو، اصحاب (رضي الله عنهم) ټول د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) حضور ته ورتلل هر يوه دا تمه لرله چې بيرغ به ده ته ورکړل شي. پدې وخت کې رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) وفرمايل: علي (رضي الله عنه) چيرته دی؟ اصحابو (رضي الله عنهم) ورته وويل: هغه خو د سترګو تکليف لري.[1] ويې فرمايل: را وياړئ. څوک لاړل او علي (رضي الله عنه) يې راووست. رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) يې سترګې پخپلو مبارکو لاړو ورلمدې کړې، دعا يې ورته وکړه او سترګې يې داسې جوړې شوې لکه چې هيڅ مرض نه وو پکې، بيايې بيرغ ورکړ. علي (رضي الله عنه) عرض وکړ يا رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم)! تر هغې پورې به ورسره جنګيږم تر څو هغوی زمونږ په شان مسلمانان شي. رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) ورته وفرمايل: په اطمينان سره لاړ شه تر څو د دوی ساحې ته ورسيږې، هلته هغوی ته د اسلام بلنه ورکړه، د الله تعالی حقوق ورته بيان کړه، قسم په خدای که الله تعالی ستا په لاس يوه سړي ته هدايت وکړي، نو دا له سرو اوښانو نه درته غوره دی.[2]

خيبر په دوو برخو ويشل شوی و

<u>په لومړنۍ برخه کې يې دا پنځه برجونه وو:</u>

---

[1]. د همدې رنځ له کبله علي (رضي الله عنه) په سر کې له لښکر نه پاتې شوی و، خو وروسته ورپسې راغلی ؤ.

[2]. صحيح بخاري ۲/ ۵۰۵-۶۰۶. ځينې روايات وايي چې علي (رضي الله عنه) ته بيرغ د برجونو د فتحې لپاره د څو هڅو له ناکامۍ نه وروسته ورکړل شو، خو د محققينو رايه هغه ده کومه چې مونږ ذکر کړيده.

۱- د ناعم برج. ۲- د صعب بن معاذ برج. ۳- د قلعه زبير برج. ۴- د ابي برج. ۵- د نزار برج.
لومړي دری برجونه په نطاه نومې سيمه او دوه نور په شق نومې سيمه کې پراته وو.
د خيبر په دوهمه برخه کې چې په کتيبه سره يې شهرت درلود دری برجونه پراته وو چې نومونه يې دا دي:
۱- د قموص برج دا د بني نضير د مشر ابي حقيق برج ؤ. ۲- د وطيح برج. ۳ – د سلالم برج. په خيبر کې لدې آتو برجونو نه علاوه نور برجونه او کلا ګانې هم وې، خو هغه نورې ددې آتو په شان لويې او مضبوطې نه وې.
د جګړې زيات شدت د خيبر په لومړنۍ برخه کې ؤ، دوهمه برخه که څه هم جنګيالان پکې ډير وو خو ټول بيله جګړې تسليم شول.

د جګړې پيل او د ناعم برج فتح کيدل

مسلمانانو لومړی پر ناعم برج حمله وکړه، همدلته د يهودو لومړنۍ دفاعي کرښه هم وه. دې برج که له يوې خوا زيات استراتيژيک اهميت درلود له بل پلوه د يهودانو مشهور قهرمان مرحب هغه چې په زړو شمار ؤ هم همدلته اوسيده.
علي (رضي الله عنه) مسلمانان د همدې برج په لوري مرش کړل، هلته يې يهودانو ته د اسلام بلنه ورکړه خو هغوی اسلام و نه مانه، د خپل مشر مرحب تر مشرۍ لاندې د مسلمانانو مقابلې ته راووتل. مرحب را وړاندې شو او مسلمانانو ته يې د مقابلې چيلنج ورکړ. سلمه بن اکوع وايي: په خيبر کې د هغوی مشر مرحب د جګړې ميدان ته راوړاندې شو، توره يې په لاس کې وه او دا شعر يې وايه:

قد علمت خيبر اني مرحب شاكي السلاح بطل مجرب
اذا الحروب اقبلت تلهب

[د خيبر خلک پدې پوه دي چې زه مرحب يم، مسلح يم، د جنګ او جګړې په دوران کې تجربه کار اتل يم.
سلمه وايي دده مقابلې ته زما تره (عامر) ورووت او ويې ويل:

قد علمت خيبر اني عامر شاكي السلاح بطل مغامر

[خيبر وال پدې خبر دي چې زه عامر يم، بيباکه، وسله په لاس اتل يم.]
دواړو يو پر بل د ګوزار هڅه وکړه، د مرحب توره زما د تره عامر په ډال ولګيده، عامر هڅه وکړه چې له لاندې نه په مرحب ګوزار وکړي، خو توره يې لنډه وه، که څه هم غوښتل يې د يهودي په پندې ګوزار وکړي خو توره يې پخپله ګونډه برابره شوه، سخت زخمي شو، او بيا له همدې ټپ نه وفات شو. رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) دده په هکله فرمايلي: (**إن له لأجرين ــ وجمع بين إصبعيه ــ إنه لجَاهِدٌ مُجَاهد، قَلَّ عربي مَشَي بها مِثْلَه**). دده (عامر) لپاره دوه اجرونه دي او پخپلو دوو مبارکو ګوتو يې اشاره وکړه، ده داسې جهاد وکړ چې په عربو کې به دده په شان مجاهد کم ومومندل شي[1].
داسې ښکاري چې مرحب به بيا د مقابلې غږ کړی وي، او هماغه خپل شعر به يې وايه او په ميدان کې به تاويده. همدا وه چې دا ځل يې د مقابلې لپاره علي (رضي الله عنه) ووت، او دا شعر يې ووايه:

انا الذي سمتني امي حيدره كليث غابات كريه المنظره

اوفيهم بالصاع كيل السندره

[زه هغه څوک يم چې مور مې حيدر (زمری) نوم راباندې ايښی دی، زه لکه د ځنګل د پاچا (زمري) په شان هيبتناک يم. زه د ټولو د نيزو پوره حساب ورکوم.]
علي (رضي الله عنه) دا شعر زمزمه کړ او په مرحب يې داسې ګوزار وکړ چې ځای په ځای يې نسکور کړ، ورپسې د همده په لاس خيبر فتح شو.[2]
کله چې علي (رضي الله عنه) د يهودانو برجونو ته ورلنډ شو، يوه يهودي له برج نه راوکتل او ويې ويل: ته څوک يې؟ ده ځواب ورکړ چې زه علي بن ابي طالب (کرم الله وجهه) يم. يهودي وويل: قسم په هغه کتاب چې پر موسی (عليه السلام) نازل شويدی چې تاسې برلاسي شوئ. بيا د مرحب ورور ياسر راووت او ويې ويل: څوک راسره مقابله کوي؟ له مسلمانانو نه زبير (رضي الله عنه) مقابلې ته ور وړاندې شو، مور يې صفيه (رضي الله عنها) وويل: يا رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم)! هسې نه چې زوی مې مړ نه شي؟ رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم)

---

[1]. مسلم باب غزوه خيبر ۱۲۲/۲،باب غزوه دي قرد ۱۱۵/۲ . صحيح البخاري باب غزوه خيبر ۲/ ۶۰۳
[2]. د مرحب د قاتل، د قتل د نېټې او د دغه برج د فتحې په اړه د مصادرو تر منځ لوی اختلاف وجود لري.

وفرمايل: (**بل ابنك يقتله**).نه، بلکه ستا زوی به هغه وژني. همغه وه چې زبير (رضي الله عنه) پدې وتوانيد چې يهودی (ياسر) ووژني.

د ناعم برج په شاو خوا کې سختې جګړې وشوې، يو شمير وتلي يهودان پکې مړه شول، د نورو يهودانو روحيات کمزوري شول، د مسلمانانو د مقابلې توان يې له لاسه ورکړ. ځينې مصادر وايي چې دا جګړه څو ورځې روانه وه، مسلمانان له سخت مقاومت سره مخ وو، په پای کې يهودان بې وسه شول، د مقابلې توان يې بايلود، او له همدې برج نه صعب نومي برج ته واوښتل، او مسلمانانو د ناعم برج فتحه کړ.

د صعب بن معاذ د برج فتحه کول

په ناعم نومي برج پسې دوهم مهم برج د صعب په نامه يادېده. پر دې برج د برېد قوماندې د حباب بن منذر انصاري په غاړه وه، مسلمانانو برج دري ورځې کلا بند کړ، په دريمه ورځ رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) ددې برج د فتحې لپاره خاصه دعا وکړه.

ابن اسحاق روايت کوي چې د اسلم قبيلې بني سهم کورنۍ مسلمانان د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) حضور ته راغلل عرض يې وکړ: مونږ ستړي شوي يوو، هيڅ مو په لاس کې نشته. رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) وفرمايل: (**اللهم إنك قد عرفت حالهم، وأن ليست بهم قوة، وأن ليس بيدي شيء أعطيهم إياه، فافتح عليهم أعظم حصونها عنهم غَنَاء، وأكثرها طعامًا ووَدَكًا**).خدايه ته د دوی په حال خبر يې، دوی وس نلري، زه هم څه نلرم چې وريې کړم، خدايه! ته د دوی په لاس تر ټولو لوی برج فتحه کړې تر څو څه شی يې لاسته ورشي، هغه برج د دوی په لاس فتح کړې چې ډيره غله او ډير غوړي وي پکې. کله چې سهار شو، الله تعالى د دوی په لاس د صعب بن معاذ برج فتحه کړ. او پدې برج کې له ټولو برجو نه زيات خواړه او وازدې يعنې غوړي وو.[1]

کله چې رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) اصحاب (رضي الله عنهم) پر برج باندې د حملې لپاره استول، نو د بني اسلم قبيلې کسان له نورو نه مخکې وو. د برج مخې ته مقابله او جګړه وشوه، په پای کې په همدې ورځ له لمر لويدو نه مخکې برج فتحه شو. مسلمانانو پدې لوی برج کې د هغه زمانې يو شمير توپونه او ټانکونه

---

[1]. ابن هشام ۲/ ۳۳۲

هم په غنيمت ونيول.
د ابن اسحاق په روايت پدې ورځو کې مسلمانان له سختې لوړې سره مخ شوي وو، او له ډيرې لوړې يې خره ذبح کړي وو او د همدې خرو غوښې يې په ديګونو کې بار کړې وي. رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) چې له مسئلې خبر شو د اهلي خره د غوښې له خوړولو نه يې نهي وکړه، او دادیګونه واړول شول.

د زبير د کلا فتح

د ناعم او صعب برجونو له فتح کولو وروسته يهودان ټول د زبير کلا ته لاړل. دغه يوه ډيره مضبوط کلا وه، موقعيت يې هم داسې و چې آسونه او پياده ځواکونه نه شواى وربانديې ورختلى. همدا وجه وه چې رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) محاصره کړه، محاصره درى ورځې اوږده شوه. يو يهودي راغى او رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) ته يې عرض وکړ چې يا ابا القاسم! که ته يوه مياشت هم محاصرې ته ادامه ورکړې يهودانو ته څه مشکل نشته ځکه چې له دوى سره خواړه شته د اوبو مشکل يې هم نشته، د شپې له خوا د خپل ضرورت وړ اوبه اخلي او بيرته پخپله کلا کې ځاى نيسي، خو که تا اوبه وربانديې بنديې کړې، نو دوى به مجبور شي چې بيرون ته راووزي. همدا وه چې رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) اوبه وربانديې بنديې کړې، دوى راووتل او سخته جګړه يې وکړه. يو شمير مسلمانان شهيدان شول، لس کسه يهودان هم ولګيدل، بالاخره رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) بريالى شو او دا کلا يې هم فتحه کړه.

د اُبي د کلا فتحه

کله چې د زبير کلا هم د مسلمانانو په لاس فتحه شوه، يهودان د ابي کلا ته لاړل او هلته يې سنګر ونيو. رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) دا کلا هم محاصره کړه، د محاصرې په دوران کې دوه يهودي اتلان يو په بل پسې راووتل او د مقابلې ټټر يې وواهه. مقابله وشوه دواړه د مسلمانانو په لاس ووژل شول. لدې دوو يهودى جنګيالیو نه يو د مشهور مسلمان اتل د سرې لنګى خاوند ابو دجانه سماک بن خرشه انصاري په لاس ووژل شو. کله چې ابو دجانه دغه يهودى وواژه نو د کلا په لور يې مخه کړه، مسلمانان هم ورپسې ورغلل ګرمه جګړه ونښته، مسلمانان کلا ته ورد ننه شول، يهودان په تيښته بريالي شول او ځانونه يې د نزار برج ته ورسول.

د نزار برج فتحه

د خیبر پدې برخه کې نزار تر ټولو زیات مضبوط برج وۀ، یهودانو باور درلود چې مسلمانان به په هیڅصورت کې هم دغه برج ونه شي نیولی، دوی پدې برج دومره زړه تړلی و چې خپل اولادونه او ښځې یې هم همدلته ورسره ساتلي وو.

مسلمانانو هم دغه برج کلک کلا بند کړ، په یهودو یې سخت فشار راووست، خو څرنګه چې برج د غره په څوکه کې پروت وۀ، ورننوتل ګران وو. یهودانو هم دا جرائت نه درلود چې له برج نه د باندې راووزي، خو د برج له درز نه یې د غشو او ډبرو په ویشتلو سره سخت مقاومت وکړ. کله چې د نزار برج محاصره اوږده شوه، مسلمانان ونه توانیدل برج ونیسي. رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) امر وکړ چې د هغه وخت توپونه ورته نصب شي، داسې ښکاري چې مسلمانانو به هم د توپ څه ډزې کړې وي او په همدې ګولیو سره یې د برج په دیوالونو کې درزونه پیدا کړل، او له همدې لارې نه د ننه ور داخل شول. په برج کې د ننه سخته جګړه ونښته چې په نتیجه کې یې یهودانو ماتې وخوړه، ډیر تلفات یې ورکړل پدې هم ونه توانیدل چې د پخوا په شان بل برج ته پناه یوسي، بلکه څوک چې په تیښته بریالي شول هغوی خپل اولادونه او ښځې مسلمانانو ته پریښودلی. او پدې ترتیب او ددې برج په فتحې سره د خیبر د لومړۍ برخې (نطاه او شق) ټول برجونه فتحه شول، که څه هم پدې برخه کې یو شمیر نور واړه برجونه هم وو، خو د نزار برج له سقوط نه وروسته یهودانو پخپله هغه واړه برجونه خوشي کړل او ټول د خیبر دوهمې برخې ته منتقل شول.

د خیبر د دوهمې برخې فتحه

د نطاه او شق له فتحې نه وروسته، رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) د بني نضیر قبیلې د نورو برجونو چې په کتیبه کې پراته او وطیح، قموص او سلالم نومیدل، په لور توجه وکړه، چیرته چې ټول یهودان راټول شوي وو.

سیرت لیکونکي پدې برجونو کې د جګړې د پیښیدو په هکله اختلاف لري. د ابن اسحاق له روایت نه داسې ښکاري چې د قموص برج د فتح کیدو په وخت کې جګړه شوې وي، او دا برج په جګړې سره فتحه شوی نه د خبرو له لارې[1].

واقدی وایي چې: د خیبر دغه برخه د خبرو له لارې فتحه شوې، خو دا هم کیدای شي

---

[1]. ابن هشام ۲/ ۳۳۱- ۳۳۶- ۳۳۷

چې د قموص برج په شاو خوا کې لومړی جګړه شوې وې او بيا د خبرو له لارې تسليم شوې وې. او پاتې دوه نور برجونه بيله جګړې تسليم شويدي. په هر حال رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) دې برخې (کتيبې) ته له راتګ نه وروسته يهودان کلا بند کړل، چې پوره ۱۴ ورځې محاصره وو. په پای کې رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) اراده وکړه چې دا برجونه هم په توپونو وولي، خو کله چې يهودان پوه شول چې نور وژل کيږي نو د سولې او خبرو وړاندیز يې وکړ.

خبرې او مذاکرات

ابن ابي حقيق د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) حضور ته ځوک واستول او ورته ويې ويل: آيا خوښه دې ده چې خبرې سره وکړو؟ رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) دا وړاندیز ومانه، هغه راغی خبرې پيل شوې، او پدې سره جوړ شول چې په برجونو کې موجود يهودي جنګيالان به ټول په امن وي، د يهودانو اولادونه به د دوی وي، اسيران کيږي به نه، خو هغوی به ټول له خيبر نه وزي، خپلې ځمکې، مالونه، سره او سپين به ټول رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) ته سپاري، خپل آسونه، وسلې، نيزې او نور ټول به پريږدي، يوازې هغه څه به ورسره وړی شي چې په غاړه يې وي لکه جامې. خو د ابو داود په يوه روايت کې راځي چې رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) دا ورسره ومنله چې يهودان به له خيبر نه د وتلو په وخت د دومره مال د وړلو اجازه لري چې اوښ يې وړی شي.[1] په همدې اتفاق وشو او رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) ورته وويل: (**وبرئت منكم ذمة الله وذمة رسوله إن كتمتموني شيئا**)[2].

که څه مو پټ کړل، نو الله ته به يې ځواب ورکوئ. د الله او رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) ذمه درنه خلاصه ده. پدې ترتيب سره ټرون وشو او خيبر د مسلمانانو په لاس فتحه شو. او برجونه ورته وسپارل شول.

د ابي حقيق د دوو زامنو وژل کيدل

سره لدې چې دا ټرون وشو، خو د حقيق زامنو ډير مالونه پټ کړل، هغه ژي يې هم پټ

[1] . سنن ابي داؤد، باب ما جاء في حكم خيبر ۷٦/۲.
[2] . زاد المعاد ۱۳٦/۲.

کړل چې د حيي بن اخطب ېې شميره دارايي او ګانې وې پکې کوم ې چې د بني نضير د شړلو په وخت يې له ځان سره خيبر ته راوړې وې.

ابن اسحاق روايت کوي: کنانه بن ابي حقيق (الربيع) چې د بني نضير خزانې وې ورسره، د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) حضور ته راوستل شو، پوښتنه يې ورنه وکړه چې د بنو نضير خزانې چيرته دي؟ ده سره لدې چې د خزانې ساتونکی ؤ انکار وکړ، پدې وخت کې يو بل يهودی راغی او رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) ته يې وويل چې ما به هر سهار کنانه ليده چې د غ ې مخروبې ځمکې ته به راته. رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) کنانه ته وويل: (**أرأيت إن وجدناه عندك أأقتلك؟**)ګوره که چيرته دغه خزانه له تاسره پيدا شوه نو آيا بيا دې ووژنو؟ کنانه وويل: هو، که له ما سره وموندل شوه نو ومې وژنئ. رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) امر وکړ چې دغه خرابه وکيندل شي. له کيندلو وروسته څه اندازه مالونه لاسته راغلل، بيا له کنانه نه پوښتنه وشوه چې نور مالونه چيرته دي؟ هغه بيا هم انکار وکړ، همدا وه چې زبير (رضي الله عنه) ته وظيفه ورکړل شوه چې کنانه تعذيب کړي تر څو د خزانې ځای په ګوته کړي.

زبير (رضي الله عنه) په چقماق باندې په سينه سينه کې واهه تر څو مرګ حال شو، وروسته رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) محمد بن مسلمه (رضي الله عنه) ته وسپاره، او هغه يې د خپل ورور محمود په بدل کې سر پرې کړ. (محمود د مسلمه زوی چې د محمد ورور ؤ د ناعم برج تر څنګ ناست ؤ چې يهودانو د ميچنې تيږه وربانديې غورځولې او په شهادت يې رسولی ؤ.)

ابن قيم وايي چې: رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) د ابي حقيق د دواړو زامنو د وژلو امرکړی ؤ، او په دوی باندې د کنانه د تره زوی شاهدي وي ل ې وه. رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) د حيي بن اخطب لور صفيه هم په اسارت ونيوله، صفيه پدغه وخت کې د کنانه بن ابي حقيق په نکاح کې وه.

د غنيمتونو ويش

رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) فيصله وکړه چې يهودان له خيبر نه وشړي، خو هغوی ورته راغلل عرض يې وکړ چې مونږ ددې ځمکې په هکله له تاسې نه زيات معلومات او تجربه لرو، مونږ همدلته پريږدئ دا ځمکې به درته کاله کوو. له رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) او اصحابو (رضي الله عنهم) سره نه

دومره وخت او فرصت و او نه هم دومره کسان وو ورسره چې دلته په ځمکه کار وکړي، همدا وه چې رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) فيصله وکړه چې يهودان به پدې ځمکو کار کوي په بدل کې به يې د ټولو حاصلاتو او ميوو نيمه برخه دوی ته ورکول کيږي. او دا فيصله به تر هغې پورې عملي وي تر څو پورې چې د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) خوښه وي. يهودان همدلته پاتې شول او عبدالله بن رواحه (رضي الله عنه) به د حاصلاتو په اړه د تخمين په اساس فيصله کوله يعنې تخميني اندازه به يې معلوموله. همدا راز رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) د خيبر ځمکې په ۳۶ برخو وويشلې، بيا هره برخه په سلو برخو مشتمله وه پدې حساب سره ټولې درې زره شپږ سوه برخې وې. د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) او مسلمانانو حصه نيمه يعنی ۱۸۰۰ برخې وې، شخصاً د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) يوه برخه وه او هغه هم لکه د بل هر مسلمان د برخې په اندازه، او پاتې نيمه بله برخه چې (۱۸۰۰) نورې برخې کيدلې هغه يې د خاصو حالاتو، ځان او مسلمانانو د مشکلاتو يا ټولنيزو ستونزو لپاره وساتله. او دا نيمه برخه ځمکه يې لدې امله په ۱۸۰۰ برخو وويشله چې دا په حقيقت کې د الله له طرفه د حديبيې د ټولو غازيانو حاضر وو که غائب لپاره يو نعمت، روزي او بدله وه. د حديبيې غازيان ۱۴۰۰کسان وو، دوه سوه آسونه هم ورسره وو، د هر آس لپاره دوې برخې وې، پدې حساب ټولې برخې يو زر اته سوه شوې چې د سواره لپاره دری او د پلي لپاره يوازې يوه برخه وه.[۱]

د خيبر غنيمتونه بې حسابه وو، بخاري له ابن عمر (رضي الله عنهما) نه روايت کوي چې وايي: د خيبر تر فتحې پورې مونږ په نس نه وو ماړه شوي، همدا راز عائشه (رضي الله عنها) وايي: کله چې خيبر فتحه شو نو مونږ وويل اوس به په خرماوو ماړه شو.[۲]

او کله چې رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) له خيبر نه بيرته مدينې ته تشريف راوړ، نو ټولو مهاجرينو هغه باغونه بيرته خپلو انصارو وروڼو ته ورکړل چې دوی ته يې د مرستې په دود ورکړي وو، ځکه اوس خو مهاجرين هم په خيبر کې د مال، باغ اوخرما خاوندان شوي وو.[۳]

---

(1). زاد المعاد ۲/ ۱۳۷ – ۱۳۸.

(2). صحيح بخاري ۲/ ۶۰۹.

(3). زاد المعاد ۲/ ۱۳۷، صحيح مسلم ۲/ ۹۶.

د جعفر بن ابي طالب او اشعريانو(رضي الله عنهم) راتګ

د خيبر د غزا په دوران کې د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) د تره زوی جعفر بن ابي طالب (رضي الله عنه) او ملګري يې له ابو موسی اشعري او ملګرو سره يې راورسيدل. ابو موسی (رضي الله عنه) وايي: مونږ په يمن کې د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) د وتلو خبر واورېد، همدا وه چې زه او دوه ورونه مې له څو پنځوس کسانو سره يو ځای د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) په لور د هجرت سفر پيل کړ، په کښتۍ کې سپاره شوو، خو کښتۍ د حبشې په لور يووړو، هلته مو له جعفر او ملګرو سره يې ملاقات وشو، هغوی راته وويل: رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) مونږ دلته راليږلي يوو او همدلته يې د پاتې کيدو امر راته کړيدی، تاسی هم راسره پاتې شئ، نو ورسره پاتې شوو. تر څو وروسته روان شوو او پداسې وخت کې د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) حضور ته ورسيدو چې خيبر يې فتحه کړی و، مونږ چې ور ورسيدو نو مونږ ته يې هم په غنيمت کې برخه راکړه. غايبانو ته يې(هغه چې په غزا کې نه وو ورسره) د خيبر له غنيمتونو نه څه ورنکړل، يوازې مونږ د جعفر ملګرو ته يې برخه راکړه او بس [1].

کله چې جعفر (رضي الله عنه) د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) حضور ته ورسيد هرکلی يې ورته ووايه، ښکل يې کړ او ويې فرمايل: (**والله ما أدري بأيهما أفرح؟ بفتح خيبر أم بقدوم جعفر**). والله که پوهيږم په کومه خوشالۍ خوښي وکړم، د خيبر په فتحه او که د جعفر په راتګ[2]؟

جعفر (رضي الله عنه) او ملګري يې وروسته له هغې راغلي وو چې رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) نجاشي ته عمرو بن اميه الضمري ليږلئ او د مسلمانانو د بيرته ليږلو خبره يې ورته کړې وه، نو نجاشي هغوی په دوو کښتيو کې وروستول. د جعفر (رضي الله عنه) ملګري ۱۶ نارينه وو، ښځې او اولادونه يې هم ورسره وو. او نور مسلمانان مخکې له حبشی نه مدينې ته راغلي وو.[3]

---

(1). صحيح بخاري ۱/ ۴۴۳. فتح الباري ۴۸۴/۷تر ۴۸۷.

(2). زاد المعاد ۲/ ۱۳۹ .

(3). محاضرات تاريخ الامم الاسلاميه للخضري ۱۲۸/۱ .

له صفيه (رضي الله عنها) سره د رسول الله (ﷺ) واده

مخکې مو وويل چې د صفيه (رضي الله عنها) میړه کنانه بن ابي حقيق د غدر په سزا کې ووژل شو، نو صفيه (رضي الله عنها) په اسارت ونيول شوه. کله چې اسيراني ښځې ټولې راغونډې شوې، دحيه بن خليفه کلبي راغی او له رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) نه يې د يوی وينځې سوال وکړ. رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) ورته وفرمايل: لاړ شه او له اسيرو ښځو نه يوه واخله. دحيه لاړ او په صفيه بنت حيي يې لاس کيښود، پدې وخت کې يو صحابي د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) حضور ته راغی او ورته ويې ويل: يا رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم)! تا دحيه ته د بنو نضير او بنو قريظه قبيلې سرداره يعنی صفيه ورکړه! دغه ميرمن خويوازې ستاسې له شان سره ښايي! رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) وفرمايل: احوال ورکړئ چې هغه راولي. دحيه سره له صفيې راغی. رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) ورته وکتل او ويې ويل: ددې په بدل کې بله اسيره واخله. رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) صفيه (رضي الله عنها) اسلام ته راوبلله، هغې اسلام ومانه، په اسلام مشرف شوه، نو رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) آزاده کړه او په نکاح يې کړه، او مهر يې همدا آزادي وه. د مدينې په لار چې د سد صهباء سيمې ته ورسيدل صفيه (رضي الله عنها) له حيض نه پاکه شوه، نو ام سليم ورته جوړه کړه، د شپې يې د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) حضور ته واستوله، او پدې ترتيب سره دا واده تر سره شو. سهار يې د خرما، ميده شويو اوړو او غوړيو نه تياره شوې شوروا وليمه ورکړه، دری ورځې يې د لارې په اوږدو کې د واده د شپو په توګه ورسره تيرې کړې.[1]

رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) د صفيه (رضي الله عنها) په مخ کې شين والی وليد ورته ويې ويل چې دا څه دي؟ دې وويل: يا رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم)! ما ستا له راتګ نه مخکې خوب وليد چې سپوږمۍ له خپل ځای نه بيځايه شوه او زما په غيږ کې راولويده. پدې وخت کې م ې ستا په هکله هيڅ معلومات نه درلودل، دغه کيسه او خوب مې خپل میړه ته ووايه، هغه په مخ ووهلم او راته ويې ويل لکه چې د هغه پاچا هيله لرې چې په مدينه کې دی.[2]

---

[1]. صحيح بخاري ١/ ٢، ٥٤/٦٠٤_٦٠٦، زاد المعاد ٢/ ١٣٧.

[2]. ابن هشام ٢/ ٢٣٦، زاد المعاد.

په زهرو ککړ پسه

د خيبر له فتحې نه وروسته پداسې حال کې چې رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) د فاتح لارښود په حيث دلته ځای په ځای شوی وٴ د سلام بن مشکم ښځې زينب بنت حارث يو کباب شوی پسه ورته راوړ. نوموړې پوښتنه کړې وه چې د پسه کوم غړی د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) ډير خوښيږي، ورته ويلی شوي وٴ چې لاس يا څنګۍ پښې. نو په همدې پښه کې يې ډير زهر ورته واچول بيا يې ټول پسه په زهروککړکړ، بيا يې رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) ته راوړ او مخې ته يې ورته کيښود. رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) همدا پښه چې ډير زهر پکې وٴ راونيوله، غوښه يې ورنه بيله کړه ويې ژوولـه خو تيره يې نه شوه، بيرته يې تپ کړه. ويې فرمايل: (**إن هذا العظم ليخبرني أنه مسموم**).دا هډوکی راته وايي چې زهر پکې شويدي. بيا يې هغه ښځه راوغوښتله ،ورته وويې ويل : (**ما حملك على ذلك؟**) ولې دې دا کار کړئ؟ ښځې اعتراف وکړه وې ويل: **ما ويل كه محمد** (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) پاچا وي، نو پدې سره به ورنه بې غمه شو، او که رسول وي، نو حتماً به خبر ورکړل شي او دا غوښه به ونه خوري. وروسته رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) عفوه ورته وکړه. د غوښې خوړلو په وخت کې له رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) سره بشر بن البراء بن معرور هم وٴ هغه يوه اندازه غوښه وخوړله چې له امله يې مړ شو.

دې ښځې ته د عفوې په اړه مختلف روايتونه رانقل شويدي، ځينې وايي عفوه ورته وشوه او نور وايي چې ووژل شوه، خو اتفاق بيا پدې شويدی چې لومړی رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) عفوه ورته وکړه، خو کله چې بشر مړ شو، نو دغه ښځه يې ورباندې قصاص کړه.[1]

د خيبر په غزا کې د شهيدانو او مشرکينو د مړيو شميره

په خيبر غزا کې ۱۶ مسلمانان په شهادت ورسيدل، څلور قريشان، يو له اشجع قبيلې، يو له اسلم قبيلې يو د خيبر له خلکو او نور انصار (رضي الله عنهم) وو.

بل روايت وايي چې ددې غزا د شهيدانو شميره ۱۸ تنه وه. منصور پوري دغه شمير

---

[1]. زاد المعاد ۲/ ۱۳۹ . فتح الباري: ۷/ ۴۹۷. اصله کيسه په بخاري ۱/۴۴۹، ۲/۸۶۰، ۶۲۰ او ابن هشام ۲/۳۳۷_۳۳۸ کې ذکر شويده.

۱۹ تنه ښوودلی او وايي : سيرت ليکونکو د خيبر شهيدانو شميره پنځلس ښودلې ده، خو ما له ډيرې څيړنې وروسته ۲۳ نومونه موندلي، چې يو نوم رنيف بن حبيب يوازې په طبري کې، بل رنيف بن وائله يوازې په واقدي کې راغلی دی، يو (بشر بن براء) په زهرو لړلي پسه له امله مړ شو، يو بل کس (بشر بن عبدالمنذر) داسې دی چې ځنې وايي په خيبر کې شهيد شوی او نور وايي چې په بدر کې په شهادت رسيدلی دی، خو صحيح روايت دا دی چې په بدر کې شهيد شويدی.[۱] له يهودانو نه پدې غزا کې ۹۳ کسه وژل شويدي.

فدک

خيبر ته له رسيدو نه وروسته رسول الله (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) محيصه بن مسعود (رضي الله عنه) د فدک يهودانو ته واستاوه، تر څو هغوی اسلام ته راوبولي، خو هغوی خبره اوړده کړه.

خو کله چې خيبر فتح شو، نو الله تعالی يې په زړونو کې رعب واچاوه، رسول الله (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) ته يې د سولې وړانديز وکړ او ويې ويل چې: د خيبر د يهودانو په شان دوی هم د فدک په نيمايي حاصلاتو سره سولې ته تيار دي. رسول الله (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) د دوی وړانديز ومانه، د فدک سيمه ټوله خاص د رسول الله (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) لپاره وه. ځکه دلته مسلمانانو هيڅ ډول جنګ او جدل نه و کړی.[۲]

وادي القِری

کله چې رسول الله (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) د خيبر له فتحې نه فارغ شو، نو د وادي القری په لور يې مخه کړه، هلته يو شمير يهودان چې څه عربان هم ورسره وو اوسيدل.

دې سيمې ته له رسيدو سره سم د يهودانو له لوري پر مسلمانانو د غشو باران وشو، د رسول الله (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) يو غلام (مدعم) هم ووژل شو. خلکو وويل: جنت يې دې مبارک وي. رسول الله (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم)

---

[۱]. رحمه للعالمين ۲/ ۲۶۸ تر ۲۷۰.

[۲]. ابن هشام ۲/ ۳۳۷ – ۳۵۳ .

وفرمايل: (كلا، والذي نفسي بيده، إن الشَّمْلَة التي أخذها يوم خيبر من المغانم، لم تصبها المقاسم، لتشتعل عليه نارًا)، فلما سمع بذلك الناس جاء رجل إلى النبي صلى الله عليه وسلم بشِرَاك أو شراكين، فقال النبي صلى الله عليه وسلم: (شراك من نار أو شراكان من نار). نه داسې نده، قسم په هغه ذات چې زما ژوند يې په واک کې دی، هغه شمله (يو ډول پراخه جامه ده) به چې له ويش نه مخکې يې د خيبر له ولجو نه اخيستې وه په ده باندې اور بلوي. اصحابو (رضي الله عنهم) چې دا خبره واوريدله، نو هر يو لاړ چا يوه او چا به دوې تسمې رانيولې وې راوړلې به يې. رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) فرمايل: د اور يوه تسمه د اور دوې تسمې.[1]

بيا رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) خپل لښکر د مقابلې لپاره تيار کړ، په ليکو يې برابر کړل، عمومي بيرغ يې سعد بن عباده ته ورکړ. يو جنډه يې حباب بن منذر، بله يې سهل بن حنيف، دريمه يې عباد بن بشر ته ورکړه. ورپسې يې يهودانو ته د اسلام بلنه ورکړه خو هغوی اسلام ونه مانه، يو کس يې مقابلې ته راووت، مخې ته زبير بن عوام ورغی او هغه يې رانسکور کړ. ورپسې بل راوړاندې شو هغه يې هم وواژه. ورپسې دريم د مقابلې ميدان ته راغی، د مسلمانانو له اړخه علي (رضي الله عنه) ورمخې ته شو او هغه يې ځای په ځای کړ. پدې ترتيب سره مقابله روانه وه تر څو له يهودانو نه ۱۱ تنه ووژل شول. هر کله به چې يو ورنه وژل کيده نور به اسلام ته رابلل کيدل. پدې ورځ به د لمانځه په وخت کې رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) لمونځ په جماعت ادا کړ، بيا به يې يهودانو ته د اسلام بلنه ورکوله، هغوی به اسلام نه مانه، پدې ترتيب سره تر لماسختن پورې جګړه روانه وه، ورپسې سهار شو، لمر د نيزې په اندازه هسک شوی وٴ چې يهودان په زور سره تسليم شول مالونه يې ټول ولجه شول. مسلمانانو ته ډير مالونه او سامانونه په لاس ورغلل، رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) همدلته د قری په وادي (سيمه) کې ځلور ورځې پاتې شو، غنيمتونه يې په اصحابو وويشل، خو ونې، ځمکې او باغونه يې لکه د خيبر د ځمکو په شان له يهودانو سره پريښودل.[2]

---

[1]. صحيح بخاري ۲/ ۶۰۸

[2].زاد المعاد ۲/ ۱۴۶ . ۱۴۷

تيماء

د تيماء يهودان چې د خيبر، فدک او وادي قری له فتحې نه خبر شول، فورا يې رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) ته د سولې وړاندیز وکړ. رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) هم د دوی وړاندیز ومانه سوله يې ورسره وکړه، او خپل مالونه يې همدوی ته پريښودل[1].

او داسې ټرون يې ورسره وليکه: دا د بني عاديا لپاره د محمد رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) ټرون دی، دوی به محفوظ او خوندي وي، جزيه به ورکوي، دښمني به نه ورسره کيږي او نه به له خپلې خاورې نه شړل کيږي، دا ټرون به هميشنی وي. ټرون ليک د خالد بن سعيد په لاس وليکل شو[2].

د مدينې په لور

پدې پسې رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) د مدينې په لور روان شو. د سفر په جريان کې خلک يوې درې ته ورسيدل په لوړ آواز يې الله الکبر، الله اکبر، لا اله الا الله، ويل، رسول (صلى الله عليه وسلم) ورته وفرمايل: (**أربعوا على أنفسكم، إنكم لا تدعون أصَمَّ ولا غائبا، إنكم تدعون سميعا قريبا**).

[له ځان سره لږ نرمي وکړئ، تاسو خو کوم کاڼه يا غائب ته دعا نه کوئ، بلکه تاسو هغه ذات ته فرياد کوئ چې اوريدونکی او نژدې دی.]

يوه شپه يې مزل وکړ، د شپې په وروستۍ برخه کې يې د لارې په اوږدو کې واړول، ويده شو، خو له ويده کيدو نه مخکې يې بلال ته وويل: بيدار اوسه، چې د سهار لمانځه ته مو راويښ کړې.

بلال (رضي الله عنه) خپل پيټۍ ته ډډه وهلې او خوب وړی و. او کله چې لمر ښه توده شو، راويښ شول. لومړی او تر ټولو د مخه رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) راويښ شو. بيا لدې وادي (درې) نه ووت، لږ مخکې لاړ، او هلته يې د سهار لمونځ په جماعت سره ادا کړ. په بل روايت کې راغلي چې دغه کيسه په بل سفر کې

---

[1]. زاد المعاد ۲/ ۱۴۷.

[2]. ابن سعد ۲۷۹/۱.

پيښه شوې وه.[۳]
د خيبر غزا له حوادثو نه دا څرګندېږي چې رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) د ۷ هـ کال د صفر په وروستۍ برخه او يا ربيع الاول په مياشت کې مدينې ته ستون شويدی.

د ابان بن سعيد سريه

رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) د يوه ماهر قوماندان په حيث پدې ښه پوهيده چې له حرامو مياشتو نه اخوا د مدينې خوشي او خالي پرېښودل په ځای عمل ندی، ځکه د مدينې شا و خوا پراته اعراب د مناسب فرصت انتظار باسي، او پدې تمه دي چې په غلچکي برید سره مسلمانانو ته زيان واړوي مالونه يې لوټ او غلا کړي.
همدا وجه وه چې رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) د ابان بن سعيد په مشرۍ يوه سريه نجد ته وليږله تر څو اعراب وويروي. ددې سريې سره همزمان خپله رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) د خيبر په لور روان شو. ابان بن سعيد د خپلې دندې له سرته رسولو نه وروسته بيرته راستون، او په خيبر کې له رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) سره پداسې وخت کې يو ځای شو چې خيبر فتحه شوی و. موثق روايت دا دی چې دغه سريه د ۷ هـ کال د صفر په مياشت کې وه، ددې سريې کيسه بخاري هم رانقل کړيده.[۱]
ابن حجر وايي: زه ددې سريې په هکله معلومات نلرم.[۲]

---

[۳]. ابن هشام ۲/ ۳۴۰. زاد المعاد ۱۴۷/۲.
(1). صحيح البخاري ۲/ ۶۰۸ -۶۰۹.
(2). فتح الباري ۷/ ۴۹۱.

په اووم هجري کال کې

د ذات الرقاع غزا

وروسته له هغې چې رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) پدې وتوانید د کفر د مثلث دوې (ضلعې) برخې درې وړې کړې، نو د دریمې برخې ماتولو ته یې پام شو. دغه دریمه ډله د نجد په دښتو او میرو کې پراته سخت زړې اعراب او کوچیان وو چې وخت نا وخت به یې شوکې او ډاکې اچولی. څرنګه چې دا کوچیان په کوم ښار یا کلي کې نه اوسیدل، د کلاګانو او برجونو خاوندان نه وو چې کلا بند، او له مینځه یووړل شي بلکه په پراخو سیمو کې تیت او پرک پراته وو، نو بری ورباندې ګران وئ. د دوی مشکل د مکې او خیبر له خلکو نه ډیر لوی وئ، د دې ډول شر او فساد په وړاندې یوازې تادیبي عملیات کیدلی شوای او بس.

پرکوچیانو باندې د فشار اچولو، او د مدینې په شاو خوا کې د برید لپاره راټولو شویو اعرابو د ماتولو په نیت رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) دیو لړ تادیبي پوځي عملیاتو پیل وکړ، غزا ته لاړ، او دغه غزا په تاریخ کې د ذات الرقاع په نوم شهرت لري.

زیاتره سیرت لیکونکي عقیده لري چې دغه غزا په څلورم هجري کال کې پیښه شویده، خو د ابو موسی اشعري او ابو هریره (رضي الله عنهما) ګډون پکې دا څرګندوي چې باید دا غزا د خیبر له فتحې نه وروسته شوې وي، همدا وجه ده چې سیي روایت دا ښیي چې دغه غزا د ۷ هـ کال په ربیع الاول کې شویده.

ددې غزا کیسه داسې ده: رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) ته خبر راغی چې د غطفان قبیلې د انمار یا بني ثعلبه او بني محارب کورنۍ پر مدینه د برید لپاره راټولې شویدي، نو د دوی د مقابلې لپاره د ۴۰۰ یا ۷۰۰ کسه غازیانو په ملګرتیا له مدینې نه ووت.

ابوذر (رضي الله عنه) او په بل روایت یې عثمان بن عفان (رضي الله عنه) په مدینه کې خپل خلیفه وټاکه، مخکې لاړ، او له مدینې نه د دوو ورځو په مزل لیرې نخل نومې

سيمې ته ورسيد ، هلته د غطفان قبيلې له يو شمير کسانو سره مخ شو خو جګړه ونه شوه، مګر رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) په همدې ورځ د خوف لمونځ ادا کړ.

امام بخاري له ابو موسى اشعري (رضي الله عنه) نه روايت کوي وايي: مونږ له رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) سره په يوه غزا کې روان وو، مونږ ۶ کسان وو چې په نوبت سره به په يوه اوښ سپريدو. پښې مو تناکې او زخمي شوې، وپرسيدې، زما پښې هم زخمي شوې نوکان مې ولويدل، نو مونږ به خپلې پښې په توتو کې پټولې، او له همدې وجې نه دې غزا ته ذات الرقاع يعنى د توتو او پيوندونو جګړه ويل کيږي.[1]

بخاري بل روايت له جابر (رضي الله عنه) نه رانقل کړى وايي: په ذات الرقاع غزا کې له رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) سره ملګري وو، هر چيرته به چې ښه سيوره لرونکې ونه راغله هغه به مو رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) ته پرينبوده. يو ځل رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) تر ونې لاندې تشريف کيښود ، نور اصحاب (رضي الله عنهم) په اغزي لرونکو ونو کې سره تيت شول هر چا ځانته سيوره لټوله، رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) خپله توره په ونه کې راوځړوله. جابر (رضي الله عنه) وايي: مونږ ټول ويده شو، په همدې وخت کې يو مشرک راغى، د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) توره يې واخيسته په رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) يې غږ وکړ چې اوس رانه ويريږې که نه؟ رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) وفرمايل: (لا) نه. هغه ورته وويل: نو څوک به دې رانه خلاص کړي؟ رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) وويل: (الله). الله به مې ساتي.

جابر زياتوي: رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) مونږ ته آواز وکړ، ورغلو که وينو چې يو اعرابي ورسره ناست دى. رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) راته وفرمايل: (**إن هذا اخترط سيفي وأنا نائم، فاستيقظت وهو في يده صَلْتًا. فقال لي: من يمنعك مني؟ قلت: الله، فها هو ذا جالس**). زه ويده وم او دې سړي مې توره اخيستې وه، زه پداسې حال کې راويښ شوم چې توره يې په لاس کې راته نيولې وه، راته ويې ويل: څوک به دې رانه ژغوري؟ ما ورته وويل: الله تعالى. دا دى تاسې

---

[1]. صحيح البخاري ۲/ ۵۹۲. مسلم ۲/ ۱۱۸

يې وينئ چې اوس له ما سره ناست دی. رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) هغه اعرابي ته هيڅ هم ونه ويل، معاف يې کړ.

په بل روايت کې راځي چې: لمونځ ادا شو، رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) يوې ډلې اصحابو (رضي الله عنهم) ته دوه رکعته لمونځ ورکړ، بيا دا ډله لاړه، نور پاتې اصحاب (رضي الله عنهم) راغلل او دوه رکعته پاتې لمونځ يې ورپسې ادا کړ، او پدې ترتيب رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) پخپله څلور رکعته لمونځ ادا کړ، خو اصحابو دوه دوه رکعته لمونځ ورپسې وکړ.[1]

د اعرابي کيسه ابو عوانه هم راوړيده په هغې کې راځي چې: توره د اعرابي له لاسه پريوته. او رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) واخيسته ورته ويې فرمايل: (**من يمنعك مني؟**) څوک به دې رانه ژغوري؟ اعرابي ورته وويل: تر ټولو غوره نيونکی اوسه، رحم راباندې وکړه! رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) ورته وفرمايل: (**تشهد أن لا إله إلا الله وأني رسول الله؟**) د شهادت کلمه ووايه. اعرابي وويل: عهد درسره کوم چې په خلاف به دې جګړه ونکړم، او نه به له هغه قوم سره ملګرتيا وکړم چې ستا په خلاف جنګيږي. راوي وايي: نو رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) عفوه ورته وکړه او پرې يې ښود، هغه لاړ خپل قوم ته ورغی او ورته ويې ويل: زه تاسې ته له ټولو انسانانو نه د غوره شخصيت له لوري راغلی يم.[2]

بخاري وايې چې مسدد له ابو عوانه هغه له ابي بشر نه روايت کوي چې: ددغه اعرابي نوم غورث بن حارث و[3]. ابن حجر وايي: د واقدي د روايت په اساس د دغه اعرابي نوم دعثور و او اسلام يې هم راوړی و، خو داسې ښکاري لکه چې دا دواړه دوې بيلې بيلې کيسې وي چې په دوو غزاګانو کې واقع شويدي.[4]

له دې غزا نه د بيرته ستنيدو په وخت کې د مشرکانو يوه ښځه د مسلمانانو په اسارت کې راغله، ددې ښځې ميړه قسم وکړ چې تر هغې پورې به بيرته نه ګرزي تر څو يې د محمد (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) له اصحابو (رضي الله عنهم) نه د کوم چا وينه نه وي تويې کړې، په همدې اساس د شپې له مخې راغی، رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) دوو کسانو ته د پيرې امر کړی و، دا دواړه چې يو يې عباد

(1). صحيح بخاري ۱/ ۴۰۷ - ۴۰۸، ۲/ ۵۹۳

(2). مختصر سيره الرسول. ۲/ ۲۶۴ . فتح الباري ۴۱۶/۷.

(3). صحيح بخاري ۲/ ۵۹۳.

(4). فتح الباري ۷/ ۴۲۸.

بن بشر او بل يې عمار بن ياسر ؤ د پيرې په دوران کې هغه وخت د نوموړي مشرک تر برید لاندې راغلل چې عباد لمونځ کاوه په لمانځه ولاړ ؤ، مشرک په غشي وويشت. هغه غشی له بدن نه ويوست خو لمونځ يې پرې نه ښود بيا يې په دريو نورو غشو وويشت، خو بيا يې هم لمونځ پرې نه ښود ، کله يې چې پای ته ورساوه سلام يې وګرزاوه خپل ملګری يې راوينبی کړ، هغه چې دده دا حالت وليد ورته ويې ويل: سبحان الله، ولې دې زه نه راوينبولم؟ عباد ورته وويل: ما داسې سورت تلاوت کاوه، چې زړه مې ونه منله تلاوت نيمګړی پريږدم.[1]

ددې غزا له برکته د سخت زړو عربانو په زړونو کې ويره وليده، او لدينه وروسته د غطفان قبيلې دغه کورنيو د سر پورته کولو جرات ونکړ، ورور ورو يې ځواک اوبه کيده تر څو ټولې سلامي شوې او افراد يې ټول په اسلام مشر شول. ځينو خو يې بيا د مکې په فتحه کې برخه درلوده د حنين په غزا کې شريک وو، او د غنيمت له مالونو نه يې خپله برخه تر لاسه کړه. د مکې له فتحې نه وروسته رسول الله (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) ځينو کورنيو ته زکات راټولونکي واستول، دوی ورته زکاتونه ورکړل، پدې ډول سره د کفر مثلث مات شو، او په ټوله سيمه کې امن او آرامي حاکمه شوه، نور مسلمانانو دا توان درلود چې يو ځای بل ځای له پيښيدونکو وړو مشکلاتو سره په ډيره اسانۍ مقابله وکړی شي. ويلی شو چې ددې غزا په نتيجه کې د لويو لويو ښارونو او سيمو فتحه کيدلو ته لاره اواره شوه.

د همدې کال نور عسکري عمليات

له غزا نه وروسته رسول الله (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) د اووم هجري کال تر شوال مياشتې پورې په مدينه کې پاتې شو پدې مدت کې يې دا عسکري عمليات تر سره کړيدي:

۱-د غالب بن عبدالله ليثي سريه: د ۷ هجري کال د صفر يا ربيع الاول په مياشت کې رسول الله (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) غالب په قديد سيمه کې د بني ملوح مقابلې ته وليږه. ځکه دې قوم د بشير بن سويد ملګري په شهادت رسولي وو. نو دغه ډله اصحاب يې له هغوی نه د انتقام پخاطر ور واستول. هغوی ورغلل د

---

[1]. زاد المعاد ۱۱۲/۲. د تفصيلاتو لپاره ابن هشام ۲۰۳/۲ – ۲۰۹ ، زاد المعاد ۲/ ۱۱۰ او فتح الباري ۷/ ۴۱۷ تر ۴۲۸ وګوره.

شپې له مخې یې بریدونو وروسته یې ورنه ووژل او څاروي یې ورنه راوستل. پدې وخت کې د دښمن زیات شمیر لښکر ورپسې راغی، او پداسې حال کې چې مسلمانانو ته ډیر ورلنډ شوی ؤ باران وشو او لوی سیل راغی د دواړو لښکرو تر مینځ حایل واقع شو، او مسلمانان وتوانیدل په بریالیتوب سره شاتګ وکړي.

۲- د ۷ هـ کال په جمادي الثانیه کې د حسمی سریه: ددې پیښې تفصیلات مخکې پاچایانو ته د لیکونو په فصل کې تیر شویدي.

۳- د ۷ هـ کال د شعبان په میاشت کې تربه ته د عمر بن خطاب (رضي الله عنه) سریه: پدې سریه کې له عمر (رضي الله عنه) سره ۳۰ مجاهدین وو، د شپې به یې مزل کاوه او د ورځې له خوا به پټیدل، خو بیا هم د هوازن قبیلې خلک وروبانده خبر شول او د دوی له رسیدو نه مخکې وتښتیدل، کله چې عمر (رضي الله عنه) ورغی هیڅوک هم په ګوتو ورنه غلل.

۴- د ۷ هـ کال د شعبان په میاشت کې د بشیر بن سعد انصاري سریه: ده ته وظیفه ورکړل شوه چې د فدک سره خوا کې بني مره باندې حمله وکړي. له ده سره هم (۳۰) کسان وو، ورغی له بریده نه وروسته یې یو شمیر څاروي او پسونه او نور ورنه ولجه کړل بیرته را روان شول، خو د دښمن له خوا تعقیب او تر بریده لاندې ونیول شول، جګړه وشوه تر څو د بشیر او ملګرو یې ټول غشي تمام شول، او پدې ترتیب سره له بشیر نه پرته ټول اصحاب (رضي الله عنهم) په شهادت ورسیدل، بشیر پخپله په ټپي حالت کې فدک ته ځان ویوست او هلته ترهغې پورې له یهودانو سره پاتې شو تر څو زخمونه یې جوړ شول بیا مدینې ته ستون شو.

۵- د ۷ هـ کال په رمضان میاشت کې د غالب بن عبدالله لیثي سریه: دا سریه د بني عوال، او په میفعه کې د بني عبد بن ثعلبه په خلاف وه. یو بل روایت وایي چې دا د جهینه قبیلې د حرقات کورنۍ په خلاف وه. پدې سریه کې له اسامه بن زید (رضي الله عنهما) سره یو سل دیرش مجاهدین وو، د دښمن له افرادو نه یې څوکسان ووژل او یو شمیر څاروي یې ورنه په غنیمت ونیول. په همدې سریه کې اسامه (رضي الله عنه)

يو تن چې نوم يې نهيک بن مرداس ؤ وروسته له هغې وواژه چې په خوله يې لا اله الا الله کلمه وويله. رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) اسامه ته وويل: (**أقتلته بعد ما قال: لا إله إلا الله؟**) آيا د لا اله الا الله ويلو وروسته دې وواژه؟! اسامه وويل: کلمه يې د ځان ژغورلو په خاطر وويله! رسول (صلى الله عليه وسلم) ورته وفرمايل:(**فهلا شققت عن قلبه فتعلم أصادق هو أم كاذب؟**).آيا تا يې سينه چاک کړې وه چې رښتيا او دروغ يې درته څرګند شوي وي.

۶- د عبدالله بن رواحه سريه: نوموړی له ۳۰ کسانو سره د ۷ هـ کال د شوال په مياشت کې د خيبر په لور واستول شو. سبب يې دا ؤ چې اسير او يا بشير بن رزام د غطفان قبيلې خلک د مسلمانانو په خلاف راټولول، مسلمانانو اسير له ديرشو کسانو سره راويوست او دا تمه يې ورکړه چې رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) به د خيبر ولايت ده ته ورکوي، هماغه وه چې هغه له ۳۰ ملګرو سره راووت او ورسره روان شو، خو کله چې د قرقره نيار سيمې ته ورسيدل د دواړو ډلو تر مينځ سوء تفاهم را مينځته شو او په نتيجه کې اسير سره له ټولو ملګرو يې ووژل شو.

۷ - د بشير بن سعد انصاري سريه: د ۷ هـ کال په شوال مياشت کې په يمن او جبار کې د ميشته اعرابو په خلاف چې د غطفان قبيلې سيمه وه ۳۰۰ مسلمانان واستول شول. ددې لښکر وظيفه دا وه چې له هغې ډلې سره مقابله وکړي کومه چې د مدينې پر څنډو يې د حملې لپاره تياري نيوله. مسلمانانو به د شپې مزل کاوه د ورځې به يې کمين نيوه، کله چې مشرکين د بشير له راتګ نه خبر شول وتښتيدل، مسلمانانو ډيرې ولجې ونيولې، دوه کسان يې هم ورنه اسيران کړل، مدينې ته يې راوستل، او هلته دواړو اسلام راوړ.

۸- د ابي حدرد اسلمي سريه: ابن قيم وايي چې دا په اووم هجري کال له عمره القضاء نه مخکې کې وه. لنډيز يې داسې دی چې د جشم بن معاويه قبيلې يو سړی له ډير شمير لښکرو سره غابه ته راغی او غوښتل يې قيس قبيله د مسلمانانو په خلاف راوپاروي. همدا وه چې رسول (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) يې مقابلې ته ابو حدرد واستاوه، له ده سره دوه کسان وو. ابو حدرد له ډيرې حکيمانه استراتيژۍ نه کار واخيست، دښمن ته کلکه ماتې ورکړه، ډير اوښان او پسونه يې ورنه ولجه کړل.[1]

---

[1]. زاد المعاد ۲/ ۱۴۹ – ۱۵۰ (تفصيل لپاره رحمه للعالمين، زاد المعاد، تلقيح فهوم الاثر او مختصر سيره الرسول وګوره.

د قضاء عمره

حاکم وايي: دا خبره په تواتر سره ثابته ده چې کله د ذي القعدې میاشت رابره شوه رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) خپلو اصحابو (رضي الله عنهم) ته امر وکړ چې د قضاء شوې عمرې د ادا لپاره ځانونه تیار کړي، چا چې په حدیبیه کې برخه درلوده هغه ټول به ځي. همدا وه چې ټول روان شول، په حدیبیې کې له ګډون کوونکو سربیره څه نور اصحاب هم د عمرې په نیت ووتل، د ټولو شمیره په ښځو او ماشومانو سربیره دوه زره کسان وو.(۱)

رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) په مدینه کې عویف ابا رهم غفاري خلیفه وټاکه. شپیته ځاروي یې ورسره روان کړل او ناجیه بن جندب اسلمی یې پدې وګماره چې ددې اوښانو پالنه او ساتنه وکړي. رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) له ذي الحلیفه نه احرام وتاړه، تلبیه یې ویله، مسلمانانو هم دده مبارک پیروي کوله، تلبیه ویونکي ورپسې روان وو. رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) د جګړې لپاره تیاري نیولې وه، وسله یې ورسره اخیستې وه، ځکه د قریشو له خیانت نه یې ویره درلوده، خو کله چې یاجج نوم ې سیمې ته ورسید ټول وسلې لکه ډالونه،نیزې، غشي یې همدلته کیښودل، د اوس بن خولي انصاري تر مشرۍ لاندې یوه دوه سوه کسیزه ډله یې د وسلو په ساتنه مکلفه کړه او خپله له نورو مسلمانانو سره چې یوازې توري ورسره وې هغه هم په تیکیو کې مخ په وړاندې لاړ.(۲)

رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) مکې ته د داخلیدو په وخت کې په خپله قصواء نومې اوښه سپور وۀ، مسلمانان توري په لاس د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) شاو خوا ته روان وو، ټولو تلبیه ویله او مکې ته داخل شول.

مکې ته د مسلمانانو د داخلیدو په وخت کې مشرکان د کعبې شریفې شمال ته پراته قعیقعان نومي غره ته لاړل او له هغه ځای نه یې مسلمانانو ته کتل، یو بل ته یې

(1). فتح الباري ۷/ ۷۰۰.

(2). نفس المصدر، زاد المعاد ۱۵۱/۲.

ويل چې: اوس به داسې کسان راځي چې د يثرب تبو يې زور ايستلی دی. همدا وجه وه چې رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) له مخکې نه خپلو اصحابو (رضي الله عنهم) ته امر کړی وٴ چې د طواف په لومړيو دريو دورو کې به اوږې اچوي، د قوت مظاهره دې وکړي او په چستۍ او چالاکۍ سره دې طواف ادا کړي. ددې امر حکمت دا وٴ تر څو مشرکان وګوري چې مسلمانان د دوی د تصور خلاف زور او قوت لري[1]. همدا راز رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) امر کړی وٴ چې د احرام په دوران کې ټول ښۍ اوږی لوڅې پرېږدي او د څادر دواړه خواوې په چپې اوږې واچوي. رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) مکې ته له هغه کنډو نه داخل شو چې لار يې حجون ته رسيده. مشرکان په ليکو ولاړ وو او رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) ته يې کتل، چې تلبيه يې ويله راغی پخپلې نيزې سره يې حجر اسود لمس کړه، طواف يې وکړ، مسلمانانو هم طواف کاوه، عبدالله بن رواحه (رضي الله عنه) پداسې حال کې د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) مخې مخې ته روان وٴ چې توره يې په لاس کې وه او لاندينې اشعار يې زمزمه کول:

خـــلوا بني المشرکين عن سبيله	خـــلوا فکل الخير في رسوله
قـــد انزل الرحمن في تـــنزيله	في صحف تتلى على رسوله
يـــا رب اني مـــوْمن بقيـــله	اني رايت الـــحق في قبـــوله
بان خير القتـــل في سبيـــله	اليـــوم نضربکم على تنزيله
ضربا يزيل الـــهام عن مقيله	و يذهل الخليل عن خليله [2]

[اې د مشرکينو زوزاته! دده لاره پرېږدئ، لاره يې پرېږدئ چې ټول خير د الله په رسول (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) کې دی. رحمن رب پخپل کتاب کې نازل کړی، پداسې صحيفو کې چې دده پر رسول (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) يې تلاوت کيږي. اې ربه! زه د هغه په قول ايمان لرم، او ددې خبرې منل حق بولم، چې بهترين مرګ هغه دی چې د الله په لار کې وي. نن به مونږ په تاسو د هغه کتاب مطابق ګوزارونه کوو، داسې ګوزار چې ککرۍ پرې کوي او داسې ګوزار چې دوست له دوست نه غافل او بې خبر ګرزوي.]

---

[1] صحيح البخاري ١/ ٢١٨- ٢/ ٦١١، ٦١٠ . صحيح مسلم ١/ ٤١٢

[2]. د اشعارو ترتيب مونږ پدې ترتيب برابر کړيدی، خو په کتابونو کې په مختلف ډول راوړل شويدی..

د انس (رضي الله عنه) په روايت کې راځي چې عمر (رضي الله عنه) وويل: اې ابن رواحه! د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) په وړاندې او په حرم شريف کې شعر وايې؟ رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) ورته وفرمايل: (**خَلِّ عنه يا عمر، فلهو أسرع فيهم من نضح النبل**).پريږده اې عمره! پر مشرکينو ددې شعر اغيزه تر غشو هم زياته ده.[1]

د طواف په دريو لومړيو دورو کې رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) او مسلمانانو په قوت او چالاکۍ سره اوږې اچولې، کله چې مشرکينو پدې حالت کې وليدل نو يو بل ته يې وويل: زمونږ خو ګمان و چې دا خلک به تبې وهلي او کمزوري شوي به وي، ګورئ دوی له هر چا نه پياوړي او چالاک دي!![2]

په طواف پسې يې د صفا او مروه تر منځ سعي وکړه، بيا يې هغه ځای ته وکتل چيرته چې د ذبحې اوښان درول شوي وو، ويې فرمايل: (**هذا المنحر، وكل فجاج مكة منحر**). دا د نحر (قربانۍ) ځای دی، د مکې هره کنده د نحر ځای دی. په همدې ترتيب سره يې له مروه سره خوا کې قرباني وکړه او هملته يې سر وخراوه. مسلمانانو هم د خپل رهبر پوره متابعت او پيروي کوله. بيايې يوه ډله خلک ياجج ته وليږل تر څو هلته د وسلې ساتنه وکړي، او په هغه ځای کې توظيف شوي خلک مکې ته راشي او خپل د عمرې مناسک ادا کړي.

رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) دري ورځې په مکه کې پاتې شو، په ځلورمه ورځ سهار مشرکين ورته راغلل، او اصحابو (رضي الله عنهم) ته يې وويل: خپل رهبر ته وواياست چې وخت مو پوره شوی. همدا وه چې رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) له مکې نه وخوځيد او لاړ په سرف نومې سيمه کې يې واړول.

هغه وخت چې رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) له مکې نه روان شو د حمزه (رضي الله عنه) لور ورپسې را روانه شوه چيغې يې پسې و هلې اې زما کاکا! اې کاکا! علي (رضي الله عنه) په غيږ کې راونيوله. بيا د علي، جعفر او زيد (رضي الله عنهم) تر مينځ وربانديې دعوه شوه، هر يوه غوښتل چې له ځان سره يې بوزي او کفالت يې په غاړه واخلي، خو رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) داسې فيصله او

---

(1). الترمذي، ابواب الاستئذان والادب، باب ما جاء في انشاد الشعر ۱۰۷/۲.

(2). مسلم ۱/ ۴۱۲.

امر يې وکړ چې دا نجلۍ به له جعفر (رضي الله عنه) سره وي ځکه چې نجلۍ خاله د جعفر (رضي الله عنه) ښځه وه.
په همدې سفر کې رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) له ميمونه بنت حارث عامريه (رضي الله عنها) سره واده وکړ. رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) مکې ته له داخليدو نه مخکې جعفر بن ابي طالب (رضي الله عنه) حضرت ميمونه (رضي الله عنها) ته ورليږلې وۀ، هغې خپل صلاحيت او اختيار عباس (رضي الله عنه) ته سپارلی وۀ، ځکه خور يې ام الفضل (رضي الله عنها) د حضرت عباس (رضي الله عنه) ښځه وه. عباس (رضي الله عنه) فيصله وکړه چې ميمونه (رضي الله عنها) رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) ته نکاح کړي. او کله چې له مکې نه روان شو نو ابو رافع ته يې وظيفه ورکړه چې ميمونه (رضي الله عنها) ورته راولي، همدا وه چې نکاح وشوه او په سرف سيمه کې مبارک واده تر سره شو[1].
دغې عمرې ته ځکه د قضاء عمره وايي چې دا د حديبيې د عمرې قضاء و او يا دا چې دا عمره د حديبيې د سولې د ټرون او مصالحې چې په عربي کې ورته قضا او مقاضاه ويل کيږي، مطابق ترسره شوه، زياترو همدا دوهمه وجه تاييد کړيده[2] ددې عمرې څلور نومونه دي: قضاء، قضيه، قصاص او صلح[3].

لدې عمرې نه وروسته څو نورې سريې

۱- د ابن ابي عوجاء سريه: د ۷ هـ کال په ذي الحجه مياشت کې رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) ابن ابي عوجاء د ۵۰ کسانو په مشرۍ بني سليم ته وليږه، تر څو هغوی اسلام ته راوبولي. هغوی په ځواب کې ورته وويل: مونږ اسلام ته ضرورت نلرو، په نتيجه کې سخته جګړه وشوه، ابو عوجاء ټپي شو، او له دښمن نه دوه کسان په اسارت ونيول شول.

۲- د غالب بن عبدالله سريه: د ۷ هجري کال په صفر مياشت کې غالب بن عبدالله د ۲۰۰ کسانو په مشرۍ د فدک هغې سيمې ته واستول شو چيرته چې د بشير

---

[1]. زاد المعاد ۲/ ۱۵۲ .
[2]. زاد المعاد – ۱/ ۱۷۲ فتح الباری ۷/ ۵۰۰ .
[3]. فتح الباري ۷/۵۰۰.

بن سعد ملګري په شهادت رسيدلي وو. دوی د دښمن څه افراد ووژل او يو شمير حيوانات يې ورنه ولجه کړل.

۳- د ذات اطلح سريه: د آتم هجري په ربيع الاول مياشت کې بنو قضاعه پر مسلمانانو د برید لپاره زيات شمير کسان راغونډ کړي وو. رسول الله (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) د کعب بن عمير انصاري په مشری (۱۵) کسان ورواستول. هغوی له دښمن سره له مخامخ کيدو وروسته لومړی د اسلام بلنه ورکړه، خو هغوی د دوی دعوت ونه مانه، جګړه پيل شوه په نتيجه کې ټول مسلمانان په شهادت ورسيدل، يوازې يو کس د شهيدانو له مينځ نه ژوندی راووت او يا را وايستل شو او بس.[۱]

۴- د ذات عرق سريه: د ۸ هـ کال په ربيع الاول مياشت کې د بنو هوازن په خلاف وه. بني هوازن به وخت نا وخت د مسلمانانو له دښمنانو سره مرستې کولې، همدا وه چې رسول الله (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) شجاع بن وهب اسدي له ۲۵ کسانو سره د دوی مقابلې ته واستاوه، هغوی لاړل او له دښمنانو نه يې زيات څاروي ولجه کړل او سالم بيرته راستانه شول.[۲]

---

(1). رحمه للعالمين ۲۳۱/۲

(2). رحمه للعالمين، تلقيح فهوم اهل الاثر لابن الجوزي ص ۳۳

د موٴته جګړه

د موٴته جګړه تر ټولو سخته او خونړۍ جګړه ده چې مسلمانانو د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) په ژوند کې کړیده. همدا جګړه د نصرانیانو د سیمو او هیوادونو د فتحې او نیولو پیلامه وه. داجګړه د ۸ هـ کال په جمادي الاولی چې د ۶۲۹ کال د سپتمبر یا اګست میاشتې سره سمون خوري واقع شویده.

موٴته چې د میم په پیښ او همزه په سکون ویل کیږي د شام په لاندینۍ برخه بلقاء کې پرته یوه سیمه ده چې له بیت المقدس نه ډیره فاصله نلري تقریبا دوه منزله ورته لیرې ده.

د جګړې سبب

ددې جګړې سبب دا دی چې رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) د حارث بن عمیر ازدي په لاس د بصری واکمن ته لیک واستاوه. د لارې په اوږدو کې د قیصر له لوري د شام د بلقاء حاکم شرحبیل بن عمرو غساني لاره ورته ونیوه، هغه یې ونیو او بیا یې په شهادت ورساوه.

د سفیرانو وژل نه یوازې ډیر لوی جرم بلکه د جنګ د اعلان په معنی وٴ. رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) پدې سره ډیر په غوسه شو فوراً یې درې زره کسیز لښکر تیار کړ.[1] چې له احزاب غزا نه پرته په هیڅ یوه غزا کې همدومره زیات شمیر غازیانو برخه نه ده اخیستې.

د لښکر مشران او د رسول الله (ﷺ) لارښوونې

رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) ددې لښکر مشري زید بن حارثه (رضي الله عنه) ته وسپارله، او ویې فرمایل : (**إن قتل زید فجعفر، وإن قتل جعفر فعبد الله**

---

[1] .زاد المعاد ۲. ۱۵۵ فتح الباري ۷ / ۵۱۱ .

بن رواحة). که زيد شهيد شو، نو په ځای به يې **جعفر** (رضي الله عنه) قوماندان وي، که هغه هم شهيد شو، نو عبدالله بن رواحه به دغه دنده په غاړه اخلي[1]. دوی ته يې سپينه جنډه ورکړه چې زيد بن حارثه ته يې وسپارله.[2]

رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) لښکر او مشرانو ته يې هدايت وکړ چې لومړی به د حارث بن عمير د شهادت ځای ته ورشي، له همغه ځای نه به خلک اسلام ته راوبولي، که اسلام يې راوړ نو ښه او که نه نو د الله په توکل سره به بريد وربانديې وکړي. رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) ورته وفرمايل: (**اغزوا بسم الله، في سبيل الله، مَنْ كفر بالله، لا تغدروا، ولا تغلوا، ولا تقتلوا وليداً ولا امرأة، ولا كبيراً فانياً، ولا منعزلاً بصومعة، ولا تقطعوا نخلاً ولا شجرة، ولا تهدموا بناء**). د الله په نامه سره د الله په لار کې د کفارو په خلاف وجنګيږئ، غدر او خيانت مه کوئ، عهد مه ماتوئ، واړه، ښځې، زاړه او په عبادت بوخت راهبان مه وژنئ، ونې او بوټي مه پرې کوئ، کلي او کورونه مه ورانوئ.[3]

له لښکر سره په مخه ښه او د عبدالله بن رواحه (رضي الله عنه) ژړا

لښکر تيار شو، خلک راټول شول، د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) له خوا ټاکل شويو قوماندانانو سره يې په مخه ښه وکړه. پدې وخت کې عبدالله بن رواحه (رضي الله عنه) خپلې اوښكې کنترول نه شوای کړی، په ژړا شو. سوال ورنه وشو ولې ژاړې؟ عبدالله وويل: قسم په خدای په دنيا پسې نه ژاړم، له تاسې نه د جدايۍ په سبب هم ژړا نه کوم. د ژړا سبب مې دا دی چې ما له رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) نه د قرآنکريم تلاوت اوريدلی چې په يوه آيت کې يې د دوزخ ياد راغلی او داسې فرمايي: ((**وَإِنْ مِنْكُمْ إِلاَّ وَارِدُهَا كَانَ عَلَى رَبِّكَ حَتْماً مَقْضِيّاً**)) (مريم: ۷۱) [د تاسې هر يو به دوزخ ته داخليږي، دا د الله حکم او فيصله ده.] نه پوهيږم چې يو ځل دې اورته داخل شم بيا به څنګه ور نه وزم؟ مسلمانانو ورته وويل: الله تعالى مو مل شه. الله مو ساتندوی شه، الله مو بيرته سالم او غانم راوله. په ځواب

---

[1]. صحيح البخاري باب غزوه موته من ارض الشام ۲/ ۶۱۱ .

[2]. مختصر سيره الرسول للشيخ عبد الله النجدي ص ۳۲۷ .

[3]. نفس المصدر، رحمه للعالمين ۲/ ۲۷۱ .

کې عبدالله بن رواحه (رضي الله عنه) دا شعر ووايه.

لكنني اســـال الرحمن مغفرة وضربة ذات قرغ تقذف الزبدا

او طعنة بيدي حران مجهزة بحربة تنفذ الاحشاء و الكبدا

حتى يقال اذا مروا على جدثي ارشده الله من غاز و قد رشدا

[خو زه له رحمن رب نه د مغفرت سوال کوم، ورنه غواړم چې هډوکي ماتونکی او ماغزه شيندونکی ګوزار مې په برخه کړي، يا د داسې نيزه باز د لاس ګوزار غواړم چې ينه او کولۍ مې پرې کړي، تر څو چې کله مې خلک په قبر تيريږي نو وايي دا د هغه غازي قبر دی چې الله هدايت ورته کړی او په نيغه لاره برابر وۍ.

پدې پسې لښکر روان شو، رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) پخپله تر وداع نـــومۍ غونډۍ پورې ورسره ملګرې وۍ هلته ودريد او په مخه ښه يې ورته وويله.[1]

اسلامي لښکر او ترينګلي حالات

د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) د اصحابو (رضي الله عنهم) دا لښکر روان شو، د شمال په لور تر معان پورې مخکې لاړ، دغه سيمه له شمالي حجاز سره خوا کې پرته ده. هلته استخباراتو خبر ورته راوړ چې هرقل د بلقاء په مآب نومې منطقه کې له يو لک لښکر سره ځای په ځای شويدی، او يو لک نور کسان د نورو قبايلو لکه لخم، جذام، بلقين، بهراء او يلي هم ورسره يو ځای شويدی.

په معان کې مشورتي غونډه

مسلمانانو له دومره لوی لښکر سره د مقابلې لپاره تياري نه درلوده، هغوی ته دا حالت ناڅاپي او نابېره پېښ شوی وۍ حيران وو چې دا درې زره کسيز لښکر به څه ډول پر دوه لکه لښکر باندې حمله کوي؟ دوه ورځې په معان کې پاتې شول، مشورې يې کولې، يو ځل يې وويل: رائځ رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) ته ليک وليږو د دښمن د لښکر په هکله خبر ورکړو، هغه به يا نور کسان راوليږي، او يا به بل څه هدايت راکړي چې مونږ به يې عملي کړو.

---

[1]. ابن هشام ۳۷۳/۲ ، ۳۷۴ . زادالمعاد ۱۵۶/۲. مختصر سيره الرسول للشيخ النجدي ص ۳۲۷ .

عبدالله بن رواحه (رضي الله عنه) ددې نظریې مخالفت وکړ، خلک یې وهڅول ویې ویل: اې ملګرو! تاسې چې له څه نه ویره لرئ هغه هماغه شهادت دی چې په لټه کې یې تردې ځایه راغلي یاست، جګړه خو د افرادو په ډیرښت او قوت نده، مونږ خو له دښمنانو سره په ځواک او ډیرښت نه جنګیږو بلکه مونږ په هغه دین ورسره جنګیږو چې الله تعالی عزت پرې راکړئ، توکل په خدای وکړئ، ملاوې وتړئ، یا به بریالي شئ او یا به مو شهادت په برخه شي! په پای کې ټولو همدا د عبدالله (رضي الله عنه) رایه ومنله او د مقابلې فیصله یې وکړه.

اسلامي لښکر پر دښمن ناتار جوړوي

اسلامي لښکر دوې ورځې په معان کې پاتې شو، وروسته د دښمن په لور وخوځید، او د بلقاء سیمې په مشارف نومي کلي کې د هرقل له سپایانو سره مخ شو. دښمن مخکې راغی، مسلمانان د موټه خوا ته کاږه شول او هلته یې سنګر ونیو، د جګړې تیاري یې ونیوله، د میمنې (ښي اړخ) مشري یې قطبه بن قتاده عذري او د کینې خوا قوماندې یې عباده بن مالک انصاري ته ورکړه.

د جګړې پیل او اتلو مجاهدینو شهادت

په موټه کې دواړې لښکرې سره مخامخ شوې، سخت جنګ ونښت، دری زره مسلمانانو د دوه لکو جګړه مارانو مقابله کوله. عجیبه صحنه او سخته جګړه وه، خو د ایمان قوت تاریخونه جوړوي جنډه د زید بن حارثه (رضي الله عنه) په لاس کې وه، په ډیره میړانه جنګیده، تر هغې پورې یې پر دښمن حملې کولې تر څو د دښمن په نیزو سره سوری سوری شو او د شهادت جام یې په سر واړاوه.

پدې پسې جعفر بن ابي طالب (رضي الله عنه) جنډه پورته کړه، په بې ساري توګه جنګیده، کله چې جګړه ډیره تنده شوه، ستړی شو، نو له خپل سره تور بخون آس نه کوز شو د هغه پښې یې ووهلې جګړې ته یې ادامه ورکړه تر څو ښی لاس یې پرې شو، جنډه یې په چپ لاس کې ونیوه، همداسې جنګیده تر څو چپ لاس یې هم پرې شو، بیا یې جنډه په دواړو مټو په غیږ کې ونیوه او همداسې اوچته یې نیولې وه تر څو په شهادت ورسید. په یوه روایت کې راځي چې یوه رومي داسې ګوزار پرې وکړ چې په نیمایي سره دوې ټوټې شو. الله تعالی دده د دواړو لاسونو په بدل کې په جنت کې دوه

وزرونه ورکړل، چيرته يې چې زړه وې هلته پرې الوزي او همدا وجه ده چې په جعفر طيار يا جعفر ذي جناحين سره شهرت لري. امام بخاري له نافع نه روايت کوي چې ابن عمر (رضي الله عنهما) ورته ويلي چې د جعفر (رضي الله عنه) له شهادت نه وروسته زه دده جسد ته ودريدم، پنځوس د نيزو، تورو او غشو ټپونه يې خوړلي وؤ، يو ټپ يې هم په شا نه وؤ لګيدلی ټول يې په مخ او سينه خوړلي وو.[1]

په بل روايت کې راځي چې ابن عمر (رضي الله عنهما) وايي: زه پدې غزا کې حاضر وم، د جعفر (رضي الله عنه) په لټون کې وو چې د شهيدانو په مينځ کې مو وموند ،ومو ليدل چې له نوي (۹۰) نه زيات د توري، نيزې او غشو ګوزارونه يې خوړلي دي.[2]

او له نافع نه د العمري په روايت کې دا هم شته چې دا ټول ټپونه يې په سينه وو.[3]

کله چې جعفر بن ابي طالب (رضي الله عنه) لدې بې ساري او اتلانه جګړې نه وروسته په شهادت ورسيد ، نو جنډه عبدالله بن رواحه (رضي الله عنه) پورته کړه، پخپل آس سپور وؤ، د دښمن په لور ورغی. د حملې تياري يې کوله پدې وخت کې څه متردد غوندې شو، آس يې لږ کوږ هم شو، خو فوراً يې دا شعر ووايه:

اقســـمت يـــا نفس لتنزلنه	کـــارهة او لتـــطاوعنه
ان اجلب الناس وشدوا الرنه	مالي اراك تکرهين الجنه

[اې نفسه! قسم دی چې حتماً به مقابلې ته وردانګې، په خفګان وي که په خوشالۍ دا به کيږې، که خلکو جنګ پيل کړی او نيزې يې نيولې دي نو زه ولې تا له جنت نه په تيښته کې وينم؟]

بيايې د مقابلې ميدان ته وردانګل، پدې وخت کې يې د تره زويږو له غوښې ډک هډوکی ورته راوړ، ورته ويې ويل دا واخله او ځان څه ناڅه وربانديې تقويه کړه، دا څو ورځې خو ډير کړيدلی يې! ورنه وايي خيست يو کپ يې ورنه وکړ نور يې ايسته واچاوه، توره يې واخيستله په جګړه يې پيل وکړ او د ژوند تر وروستۍ لحظې پورې په پوره ميړانه وجنګيد ترڅو په شهادت ورسيد.

---

(1). بخاري ۲ / ۶۱۱

(2). بخاري ۲/ ۶۱۱

(3). فتح الباري ۵۱۲/۷ . لدې احاديثو نه په ظاهر دا معلوميږي چې دواړه يې د ټپونو په هکله اختلاف لر، خو دا داسې جمع کيدلی شي چې د ټپونو زياتوالی يې د غشو د لګيدو له امله ياد شويدی.

اسلامي جنډه د سيف الله په لاس کې

پدې وخت کې د بني عجلان قبيلې يو کس چې ثابت بن ارقم نومیده رامخې ته شو، جنډه يې پورته کړه، غږ يې وکړ، اې مسلمانانو! يو کس خپل مشر وټاکئ. دوی ورته وويل: همدا ته مو مشر. ده وويل نه، زه دا کار نه کوم، بالاخره ټول په خالد بن وليد (رضي الله عنه) باندې راضي او سلا شول. خالد (رضي الله عنه) جنډه پورته کړه سخته جګړه يې وکړه. بخاري ورنه روايت کوي چې وايي: د موټه په ورځ زما په لاس کې نهه (۹) توري ماتې شوې، په پاې کې يوازې يوه يماني وړه غوندې توره راسره پاتې شوه. په بل لفظ کې راځي چې وايي: د موته په ورځ مې نهه (۹) توري په لاس کې کړې شوې يوازې زما يمني توري تاب راوړ او راسره پاتې شوه.[۱]

د موټه په ورځ مخکې لدينه چې څه خبر راشي رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) ته د وحي په واسطه خبر ورکړ شو او هغه داسې وفرمايل: (**أخذ الراية زيد فأصيب، ثم أخذ جعفر فأصيب، ثم أخذ ابن رواحة فأصيب ــ وعيناه تذرفان ــ حتى أخذ الراية سيف من سيوف الله، حتى فتح الله عليهم**).د جګړې په ميدان کې زيد په شهادت ورسيد، بيا جنډه جعفر پورته کړه هغه هم شهيد شو، بيا عبدالله بن رواحه جنډه پورته کړه هغه هم په شهادت ورسيد. رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) دا خبرې کولې او له مبارکو سترګو نه يې اوښکې روانې وې، زياته يې کړه بيا جنډه سيف الله پورته کړه او د همده په لاس د مسلمانانو بری په برخه شو.[۲]

د جګړې پای

که څه هم مسلمانانو بې ساري مقاومت کاوه، او په بې ساري ميړانه جنګيدل، خو بيا هم دا تصور کمزوری ښکاريده چې بری به هم د دوی په برخه وي، ځکه د دښمن په مقابله کې د دوی شمير ډير کم او وسايل يې هم لږ وو، خو خالد بن وليد (رضي الله عنه) خپل مهارت او حکمت په کار واچاوه او مسلمانانو ته يې نجات ورکړ.

---

(1). صحيح بخاري باب غزوه موته من ارض الشام۲/ ۶۱۱

(2). صحيح بخاري ۲/ ۶۱۱ -۳. نفس المصدر ۶۱۱/۲ .

ددې جګړې د پایلې په اړه مختلف روایتونه راغلي دي، له صحیح روایتو نه دا څرګندیږي چې خالد (رضي الله عنه) ټوله ورځ د دښمن مقابله وکړه، خو دا یې ضروري ګڼله چې باید له یوې کامیابې استراتیژۍ نه ګټه واخیستله شي تر څو مسلمانان نجات وموميي او مشرکین داسې وویرول شي چې د مسلمانانو د تعقیب جرات ونه شي کړی، ځکه هغه پوهیده که چیرې مسلمانان د عقب نشینۍ په وخت کې د دوی تر ګوزار لاندې راشي نو بیا به یې ژغورل ممکن نه وي. همدا وه چې د جګړې په دوهمه ورځ یې جنګي استراتیژي بدله کړه، د لښکر ترتیب یې بدل کړ، له سره یې ځایونه ورته وټاکل، مقدمه یې د ساقې په ځای ودروله او میمنه یې د میسرې په ځای او میسره د میمنې په ځای توظیف کړه، کله چې د دښمن له لښکرو سره مخامخ شول نو دکفارو ټولیو هر یوه له خپل مخ سره نوي کسان ولیدل، فکر وکړ لکه چیګ مدد او کومک ورته راغلی دی، یو ځل یې په زړونو کې ویره پیدا شوه، دښمنان د ویرې او تشویش په حالت کې وو چې خالد (رضي الله عنه) د ورو ورو عقب نشینۍ یا په شاتګ امر وکړ. دوی داسې په شاتګ کاوه چې د لښکر په تنظیم کې هیڅ بدلون نه لیدل کیده رومیان هم نه ورپسې راتلل ځکه هغوی دا ګمان کاوه لکه چې مسلمانان چل ورسره کوي غواړي رومیان د صحرا په لوري بوزي او هلته یې حساب تصفیه کړي.

پدې ترتیب سره دښمن په شا شو، او د مسلمانانو په تعقیب پسې یې هیڅ هڅه ونکړه، او مسلمانان پدې وتوانیدل چې روغ رمټ مدینې ته ستانه شي.[1]

د دواړو خواوو مړي

پدې جګړه کې ۱۲ مسلمانان په شهادت ورسیدل، د کفارو د مړیو شمیره پوره نده معلومه خو داسې ښکاري چې له هغوی نه به زیات کسان وژل شوي وي.

د جګړې اغیزې

که څه هم مسلمانانو لدې جګړې نه مطلوب هدف تر لاسه نه شوای کړای او خپل کسات یې وا نه شوی اخیستلی، خو بیا یې هم د دوی لپاره ګټوري اغیزې درلودې. پدې سره ټول عرب ویرې او ډار ونیول، د مسلمانانو رعب پرې ولویدل، هغه وخت رومیان زبر ځواک وو او عربانو ګمان کاوه چې لدوی سره ټکر یعنې بربادي او خودکشي، نو پدې جګړې سره دا ګمان هم غلط ثابت شو.

---

[1]. فتح الباري ۷/ ۵۱۳. زاد المعاد ۲/ ۱۵۶.

له دوه لکه عسکرو سره د دری زره مسلمانو سپايانو مقابله داسې يوه بې ساري مقابله وه چې د تاريخ له عجايبو نه شميرل کيږي. دې جګړې دا ثابته کړه چې مسلمانان هسې ندي لکه څرنګه چې عربانو او رومیانو تصور کاوه، له دوی سره د الله تعالی مرستې دي. همدا وجه وه چې ددې جګړې نه وروسته ډيرې سر کشې قبيلې اسلام ته سلامي شوې، بنو سليم، اشجع، غطفان، فزاره او ذبيان قبيلې په اسلام مشرفې شوې.

همدغه جګړه له بلې خوا له رومیانو سره د لويو خونړيو جګړو پيلامه وه، او په پای کې د همدې جګړې له برکته د رومیانو ډير ښارونه فتح شول.

د ذات السلاسل سريه

کله چې رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) د شام په غاړو کې د پرتو عربي قبايلو په اهدافو او دريځ پوه شو او ويې ليدل چې دغه قبيلې په جګړه کې د مسلمانانو په خلاف د رومیانو خواته ودريدلې، نو دا ضروري ورته ښکاره شوه چې د رومیانو او دې عربانو تر مينځ بيلتون راوستل شي تر څو په راتلونکې کې د مسلمانانو په خلاف دومره لوی ائتلاف جوړ نه شي.

رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) ددې کار د عملي کولو لپاره عمرو بن العاص غوره کړ، ځکه د ده انا يعنې د پلار مور له "بلي" قبيلې څخه وه. د ۸ هـ کال په جمادي الاخره کې يې دوی ته واستاوه تر څو همکاري يې ترلاسه کړي. په يوه روايت کې خو لا دا راځي چې دوی ته خبر را ورسيد چې د قضاعه قبيلې خلک راټول شوي او د مدينې په لور راتلل غواړي، نو رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) عمرو ته وظيفه ورکړه چې هغوی ته ورشي او خبرې ورسره وکړي. کيدای شي همدا دواړه سببونه سره يو ځای شوي وي.

رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) عمرو بن العاص (رضي الله عنه) ته سپينه جنډه ورکړه، يوه بله يې توره هم ورسره ورکړه، دری سوه مخور مهاجرين او انصار يې ددې تر قوماندی لاندې ورکړل. له دوی سره ديرش آسونه هم وو. امر يې ورته وکړ چې له بلي، عذره او بلقين قبيلو نه مرسته وغواړي. عمرو (رضي الله عنه) روان شو د شپې به يې مزل کاوه او د ورځې له مخې به يې چيرته کمين نيوه، او کله چې هغوی ته ورلنډ شو نو خبر شو چې د دښمن شميره ډيره زياته ده. رسول الله (صلی

الله علیه و اله و صحبه و سلم) ته یې د رافع بن مکیث جهیني په لاس احوال ولیږه، او د نورې مرستې غوښتنه یې ورنه وکړه. رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) په ځواب کې ابو عبیده بن الجراح (رضي الله عنه) له دوو سوو کسانو سره د هغه مرستې ته ورولیږه، جنډه یې ورکړه. پدې ډله کې مشهور اصحاب لکه ابوبکر او عمر هم شامل وو، دوی ته یې امر وکړ چې لاړ شي او له عمرو سره یو ځای شي. دواړه به یو موټی وي، اختلاف به نه کوي. کله چې دوی هلته ورسیدل ابو عبیده اراده وکړه چې په لمانځه کې د خلکو امامت وکړي، خو عمرو (رضي الله عنه) ورته وویل: چې امیر زه یم، ته خو مې مرستې ته راغلی یې. همدا وه چې ابو عبیده (رضي الله عنه) هم دده خبر ومنله، اطاعت یې ورنه وکړ، او عمرو به په لمانځه کې د خلکو امامت کاوه. اسلامي لښکر د قضاعه تر سیمې پورې مخکې لاړ، د هغوی د سیمې لیرې لیرې ځایونو ته ورغلل، هلته له یو شمیر کسانو سره مخ شول، برید یې ورباندې وکړ خو د دښمن ټول افراد وتښتیدل او تیت و پرک شول. وروسته عمرو بن العاص عوف بن مالک اشجعي له خپل اړخه رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) ته له مکمل احوال سره ولیږه، او هغه یې پخپل برې او په ټولو تفصیلاتو آګاه کړ.

ذات السلاسل د لومړني سین په پیښې یا زور سره لوستل کیږي، دا د یوې سیمې نوم دی چې د قرى وادي شا ته او له مدینې نه د لسو ورځو مزل په اندازه لیرې پرته ده. ابن اسحاق وایي چې مسلمانانو د جذام په سیمه کې له سلسل نومې چینې سره واړول او له همدې کبله دې جګړې ته ذات السلاسل وایي.[1]

د ابو قتاده سریه

دا د ۸ هـ کال د شعبان په میاشت کې وه، سبب یې دا وُ چې بني غطفان په خضره نومې سیمه کې چې په نجد کې پرته او په محارب قبیلې پورې مربوطه وه را ټول شوي وو، رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) د هغوی مقابلې ته اباقتاده (رضي الله عنه) له (۱۵) کسانو سره واستاوه. دوې لاړل له دښمن نه یې یو شمیر کسان ووژل، څه یې ورنه اسیران کړل، ولجې یې لاسته راوړې. او له پنځلسو ورځو سفر نه وروسته بیرته ستانه شول.[2]

---

[1]. ابن هشام ۲/ ۶۲۳ تر ۲۲۶ – زاد المعاد ۲/ ۱۵۷

[2]. رحمه للعالمین ۲/ ۲۴۴. تلقیح فهوم اهل الاثر ص ۳۳.

د مکې فتحه

ابن قیم وایي: د مکې فتحه هغه لویه سوبه ده چې الله تعالی د خپل دین، رسول (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) او مؤمنو بندګانو د عزت او له کفارو او مشرکانو نه د خپلې خونې او وطن د آزادۍ سبب وګرزوله. دا هغه سوبه ده چې د آسمان اوسیدونکي پرې خوښ شول، د عزت د څڼې څوکه يې پاس له آسمان سره ولګیده ، له برکته يې ډلې ډلې، خلک په اسلام مشرف شول، او د ځمکې مخ يې په نور روښانه او سوکاله کړ.[1]

د غزا سبب

مخکې مو وویل چې د حدیبې د سولې یوه ماده دا وه چې عربي قبایل اجازه لري، کولې شي پخپله خوښه له محمد (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) او یا قریشو سره ترون او ائتلاف وکړي، له ترون نه وروسته همدا قبیله د همغه اړخ یوه برخه بلل کیږي، او تیری وربانديې د سولې له ترون نه مخالفت او پر همغه بله ډله تیری شمیرل کیږي.د همدې مادې په اساس خزاعه له محمد (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) او بنوبکر له قریشو سره ترون او ائتلاف لاسلیک کړ، او پدې ترتیب دا دواړه قبیلې یوه د بلې له تیري او جګړې نه په امن شوه. د دوی تر منځ زړه دښمني وه چې د اسلام له برکته يې تر مینځ اوربند وشو. پدې وخت کې بنوبکر یو ځل بیا د کسات په فکر کې شول. د ۸ هـ کال د شعبان په میاشت کې نوفل بن معاویه د یلي د بنوبکر له یو شمیر کسانو سره د شپې له مخې پر خزاعه باندې شبخون وکړ، له "وتیر" نومې چینې سره يې د هغوی یو شمیر کسان ورووژل، او پدې ترتیب د جګړې اوربل شو. د جګړې په جریان کې قریشو له بنوبکر سره مرسته وکړه، وسلې يې ورکړې، د شپې يې څه جنګیالان هم ور واستول په نتیجه کې بنو خزاعه مجبور شول حرم ته پناه یوسي.

هلته د بنوبکر خلکو نوفل ته وویل: دا دی مونږ حرم ته داخل شوو، د خدای روی ومنه، د خپل رب حرمت وساته ووایړه! خو نوفل ډیره غټه او د کفر خبره وکړه ویې

---

[1]. زاد المعاد ۲/ ۱۶۰

ويل: اې بنوبکرا! نن اله "خدای" نشته، خپل وار او کسات واخلئ، قسم چې تاسې په حرم کې د ننه غلا کوئ، نو خپل انتقام ولې نه پکې اخلئ؟
خزاعه چې مکې ته پناه يووړه هلته يې د بديل بن ورقاء خزاعي او خپل مولی (ملګري) رافع کورته مخه کړه، هلته ننوتل. عمرو بن سالم خزاعي په منډه رسول الله (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) ته ورغی، مدينې ته له رسيدو وروسته د رسول الله (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) په حضور کې ودريد، هغه (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) له اصحابو (رضي الله عنهم) سره په جومات کې تشريف درلود، عمرو دا شعرونه ورته وويل:

يـــا رب اني ناشـــد محمدا حلفنا و حـــلف ابيه الاتلدا
قدكنتم ولدا و كـــنا والدا ثـــمة اسلمنا ولم نـــترع يدا
فانصر هداك الله نصرا ايدا وادع عبـــادالله يـــاتوا مددا
فيـــهم رسول الله قد تجردا ابيض مثل البدر يسمو صعدا
ان سيم خسفا وجهه تر بدا في فيلق كالبحريجري مزبـــدا
ان قريشـــا اخلفوك الموعدا و نقضـــوا ميثاقـــك الموكدا
و جعلوا لي في كداء رصدا و زعموا ان لست ادعو احدا
و هم اذل، و اقـــل عددا هم بيـــتونا بالـــوتير هـــجدا
و قتلـــونا ركعـــا و ســـجدا

[اې ربه! زه محمد (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) ته دده عهد او دده د پلار پخوانی عهد وريادوم، تاسې اولادونه وئ او مونږ پلرونه وو (دا ځکـــه د قصي بنځه چې د عيد مناف مور وه او حبی نومیدله له بنو خزاعه قبيلې څخه وه نو بنو خزاعه د بني مطلب ماماخيل کيدل). بيا مونږ ستاسې اطاعت وکړ او هيڅ سرغړونه مو نده کړی، الله دې تاسې ته هدايت وکړي، کلک مدد مو وکړئ، خلک هم مدد او مرستې ته راوغواړه هغوی مرستې ته راځي د دوی په مينځ کې وسله په لاس د سپورمۍ په شان سپين او ګلالی رسول (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) دی چې د کمال په لور

اوچتیږي. که پر هغوی ظلم وشي په سپکه ورته وکتل شي نو د مخ يې رنګ يې بدل شي، او د خروشان سمندر په شان د لښکر په منځ کې تشریف راوړي، په رښتیا سره چې قریشو ستاسې د عهد مخالفت کړیدی، او کلک ټرون يې مات کړیدی هغوی ما ته په کداء کې کنده او کمین نیولی و، او ګمان يې کاوه چې زه به څوک خبر نه شم کړای پداسې حال کې چې هغوی ډیر کم، ذلیل او خوار دي. هغوی "وتیر" کې پر مونږ حمله وکړه او مونږ يې د رکوع او سجدې په حالت کې ووژلو.]

رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) په ځواب کې ورته وفرمایل: (**نصرت يا عمرو بن سالم**). اې عمرو بن سالم! ستا سره مرسته وشوه. پدې پسې په آسمان کې یوه ټوکره وریځ راښکاره شوه، رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) وفرمایل: (**إن هذه السحابة لتستهل بنصر بني كعب**). دې وریځې د بنو کعب د بري زیری راوړی. بیا بدیل بن ورقاء خزاعی د خپلې قبیلې له څو کسانو سره ووت، روان شو او ځان يې رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) ته ورساوه، له حالاتو يې خبر کړ، دا يې ورته وویل چې له دوی نه څو کسان مړه شوي او قریشو پدې جګړه کې د بنو بکر مرسته کړې، دا احوال يې رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) ته ورساوه او بیرته مکې ته ستون شو.

ابوسفیان د ټرون د تجدید هڅه کوي

قریشو چې څه وکړل هغه له ټرون نه خرګنده خلاف ورزي، لوی غدر او خیانت وٶ، ددې خیانت لپاره يې هیڅ دلیل او بهانه نه درلوده. همدا وه چې هغوي هم ډیر ژر پخپل غدر پوه شول. د وضعې نزاکت يې درک کړ، مشورتي شوری يې راوبلله. غونډې فیصله وکړه چې ابو سفیان مدینې ته لاړ شي او هلته له رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) سره ټرون نوی او تجدید کړي.

رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) له مخکې نه خپلو اصحابو (رضي الله عنهم) ته ویلي وو چې قریش به له خپل غدر او خیانت نه وروسته څه ډول اقدام کوي؟ هغه (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) فرمایلي وو: (**كأنكم بأبي سفيان قد جاءكم ليشد العَقْدَ، ويزيد في المدة**). کیدای شي ابو سفیان د ټرون د نوي کیدو او مودې د تمدید لپاره درته راشي. ابو سفیان د قریشو د فیصلې مطابق روان شو، په عسفان سیمه کې له بدیل بن ورقاء سره مخ شو چې له مدینې نه مکې ته روان وٶ. ګمان يې وکړ

لکه چې رسول (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) ته ورغلی، نو ورته ویې ویل: بدیله! له کوم ځای نه ر ا غلې ؟ هغه ورته وویل: له خزاعه سره پدې دره او دې ساحل کې وګرزیدم. ابو سفیان ورته وویل: د محمد (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) حضورته نه وې ورغلې؟ ده ورته وویل: نه. بدیل چې مکې ته لاړ ابو سفیان وویل: که مدینې ته تللی وي نو اوښې ته به یې (نوی) یعنې د خرما د دانو کنجاړه ورکړې وي، لاړ او د بدیل د ا وښې ځای یې وکوت، پچه یې راوخیستله او ماته یې کړه ویې لیدل چې د خرماوو د دانو اثار پکې شته، دا یې چې ولیده نو ویې ویل قسم په خدای چې بدیل د محمد (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) حضور ته ورغلی دی.

په هر حال ابوسفیان مدینې ته ورسید، د خپلې لور ام حبیبه (رضي الله عنها) کورته ورغی، هلته یې اراده وکړه چې د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) په فرش کینې، خو ام حبیبه (رضي الله عنها) هغه فرش ورنه ټول کړ. ده ورته وویل: لورې! دا فرش دې زما لپاره مناسب و نه باله، او که دې زه ددې وړ ونه بللم چې ورباندې کینم؟ دې وفرمایل: دا د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) فرش دی، ته مشرک یې او ددې وړ نه یې چې ورباندې کېنې. ده ورته وویل: قسم په خدای چې له ما نه وروسته په شر او بدۍ اخته شوې یې. بیا ابوسفیان ووت او د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) حضور ته ورغی، خبرې یې ورته وکړې، خو رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) هیڅ ځواب ورنکړ. ورپسې ابوبکر (رضي الله عنه) ته ورغی هغه ته یې وویل چې رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) ته یې شفاعت وکړي. ابوبکر (رضي الله عنه) د نه ځواب ورکړ. بیا عمر (رضي الله عنه) ته ورغی، او همدا غوښتنه یې ورنه وکړه. هغه ورته وویل: زه به رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) ته ستاسې شفاعت کوم؟ قسم په خدای که له وړو لرګیو پرته بل هیڅ ونلرم هم له تاسې سره به جهاد کوم. بیا د علي (رضي الله عنه) کره ورغی، هلته فاطمه (رضي الله عنها) هم وه، حسن (رضي الله عنه) وړوکی ؤ او د دوی په غیږ کې لوبیده. ابو سفیان وویل: یا علي (رضي الله عنه)! ته له نورو نه د نسب او خپلوۍ له پلوه ډیر را نژدې یې، زه د یوه ضرورت پخاطر راغلی یم، نه غواړم تش لاس او نامراده بیرته ستون شم، هیله ده رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) ته زما شفاعت وکړې! ده ورته وویل: افسوس ستا په حال اې ابو سفیانه! رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) اوس داسې فیصله کړیده، چې مونږ نه شو کولی پدې رابطه خبرې ورسره وکړو. ابو سفیان د فـــا طم ې (رضي الله عنها) لوري ته وکتل او

ورته ويې ويل: کيدای شي چې خپل زوی حسن ته امر وکړې چې هغه د خلکو په مينځ کې مونږ ته د پناه راکولو غږ وکړي، هغه به پدې سره تر پايه د عربانو سردار وي؟ فاطمي (رضي الله عنها) وويل: زما زوی اوس پدې موقف کې ندی چې چا ته پناه ورکړي، هغه به څوک وي چې د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) په حضور کې چا ته پناه ورکړای شي ؟! يعنې هيڅوک د هغه د ارادې خلاف چا ته پناه نه ورکوي.

ددې خبرو په اوريدو سره د ابو سفيان په سترګو تياره شوه، علي (رضي الله عنه) ته يې په ډيره مايوسۍ، ناهيلۍ او خفګان کې وويل: فکر کوم چې حالات ډير رابانديې تنګ شول، مشکل زيات شو، اوس مشوره راکړه څه وکړم؟علي (رضي الله عنه) ورته وويل: زما په فکر خو هيڅ چاره نه ده درته پاتې، خو څرنګه چې ته د بني کنانه مشر يې، نو لاړ شه د خلکو په مينځ کې پناه وغواړه، او بيا لاړ شه خپل کور ته ستون شه. ابو سفيان وويل: دا به مې څه په درد وخوري؟ علي (رضي الله عنه) وويل: فکر نه کوم چې ګټه درته ولري، خو بله چاره نشته. همدا وه چې ابو سفيان جومات ته لاړ، هلته ودريد ويې ويل: اې خلکو! ما تاسې ته پناه راوړې ده، دا خبره يې وکړه لاړ او پخپل اوښ سپور شو. هلته چې قريشو ته ورسيد هغوی ورته وويل: څه دې راوړي؟ ده وويل: لاړم له محمد (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) سره مې خبرې وکړې، خو هغه هيڅ ځواب را نکړ، بيا ابوبکر ته ورغلم له هغه نه مې هم خير و نه ليد. بيا عمر ته ورغلم د هغه موقف خو ډير تند وٴ، بيا علي (رضي الله عنه) ته ورغلم هغه مې له ټولو نه نرم وموند، بيا يې څه مشوره راکړه هغه مې عملي کړه، خو نه پوهيږم چې څه ګټه به ولري او که نه؟ دوی ورته وويل: د څه مشوره يې درکړه؟ ده وويل: راته ويې ويل چې د خلکو په وړاندې پناه غوښتنه اعلان کړم، ما همداسې وکړل. دوی وويل: آيا محمد (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) ستا پناه قبوله کړه؟ ده وويل: نه. دوی ورته وويل: علي (رضي الله عنه) خو ملنډې درباندې وهلې دي. ده وويل نه: بله هيڅ چاره نه وه، همدا يوازينۍ لاره او چاره وه.

د جګړې تياري

د طبراني د روايت په اساس مخکې لدينه چې رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) ته د قريشو له خوا د ټرون د ماتيدو خبر راشي، رسول (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) عائشې (رضي الله عنها) ته امر کړی وٴ چې د سفر تياري ونيسي او

سامان یې ورته برابر کړي، هیڅوک هم نه وو خبر. ابوبکر (رضي الله عنه) یوه ورځ د عائشه (رضي الله عنها) کورته ورغی ورته ویې ویل دا څه سامان دی تیار کړی زما لورې! دې ورته وویل: و الله که خبره یم. ابوبکر وویل: " دا وخت خو له رومیانو سره د جګړې هم ندی، نه پوهیږم رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) کومې خوا ته ځي؟ عائشې وویل: زه هم نه یم خبره. له همدې نه دریې ورځې وروسته سهار عمرو بن سالم خزاعي له ۴۰ سپرو کسانو سره راورسید، او هغه مخکې تیر شوي اشعار یې وویل. همدلته خلک پوه شول چې قریشو عهدمات کړیدی، په عمرو پسې بدیل بیا ابو سفیان راغی، نو اصحاب پوه شول، رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) د تیارۍ امر ورته وکړ، او پدې یې خبر کډل چې د مکې په لور روانیږي. رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) دا دعا هم وکړه: (**اللّهم خذ العیون والأخبار عن قریش حتی نبغتها في بلادها**). اې ربه! ته د قریشو سترګې پټې کړې، جاسوسان یې غافل کړې تر هغې پورې خبر مه ورکوې تر څو مونږ ناڅاپي برید ورباندې وکړو. ددې لپاره چې خبر یې پټ ساتلی وي رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) د ۸ هـ کال د روژې په لومړۍنیټه د ابو قتاده بن ربعي په مشرۍ یو آته کسیز ګروپ د اضم درې ته واستاوه. دغه سیمه له مدینې نه ۳۶ میله لیرې د ذي خشب او ذي مروه تر مینځ پرته وه. دا ددې لپاره تر څو خلک داسې ګمان وکړي چې رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) دې خوا ته حرکت کوي. دا ګروپ لاړ تر ټاکل شوي نقطې پورې ورسید او همله مکې ته د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) له تګ نه خبر شول، او مکې ته ورپسې ورغلل. دا ګروپ له عامر بن اضبط سره مخامخ شو، هغه د مسلمانۍ سلام ورباندې واچاوه، خو محلم بن جثامه چې له پخوا نه یې څه ستونزه ورسره درلوده هغه وواژه اوښ او سامان یې ورنه واخیستل، همغه وه چې الله تعالی دا آیت را نازل کړ: (**ولا تقولوا لمن القی الیکم السلام لست مومنا**)) **الایه**. [مه وایئ هغه چاته چې سلام یې درباندې واچاوه چې مومن نه یې] بیا یې محلم د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) حضورته وړاندې کړ چې مغفرت ورته وغواړي، خو کله چې د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) په وړاندې ودرید، رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) وفرمایل: خدایه! محلم مه بښنې! بښنه مه ورته کوې! دا دعا یې دریځله تکرار کړه. محلم ورنه روان شو او اوښکې یې په څادر یا کمیس پاکولې. ابن اسحاق وایي: د محلم قوم ګمان کوي

چې وروسته رسول (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) مغفرت ورته وغوښت. (زاد المعاد ۲/ ۱۵۰ ابن هشام ۲/ ۶۲۶ تر ۶۲۸).

□ پدې وخت کې حاطب بن ابي بلتعه يو ليک وليکه قريشو ته يې د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) د تيارۍ او ارادې په هکله خبر پکې ليکلی و، يوې ښځې ته يې ورکړ تر څو د اجرت په بدل کې يې قريشو ته ورسوي. نوموړې ښځې دغه ليک پخپلو کوڅيو کې پټ کړ او روانه شوه.

رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) ته غيبي خبر ورکړ شو چې حاطب ليک ليږلی دی، فوراً يې علي او مقداد (رضي الله عنهما) ته وظيفه ورکړه چې پدې ښځې پسې ورشي، امر يې ورته وکړ : (**انطلقوا حتى تأتوا رَوْضَةَ خَاخ، فإن بها ظعينة معها كتاب إلى قريش**). لاړ شئ د روضه خاخ سيم ې ته ورشئ هلته يوه مسافره ده او ورسره د قريشو لپاره يو ليک دی. هغوی په ډيره بيړه ورپسې ورغلل، آسونه يې ځغلول چې په هماغه ځای کې يې همغه ښځه وليده، ورته ويې ويل: له تا سره يو ليک دی؟ دې ورته وويل: نه، له ماسره ليک نشته. دوی يې بار تلاشي کړ، خو ليک په لاس ور نه غی.

علي (رضي الله عنه) ورته وويل: په خدای قسم رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) دروغ نه وايي، مونږ هم دروغ نه وايو، يا به ليک راکوې او يا به دې جام ې هم تلاشي کوو لوڅوو به دې!! ښځې چې دا حالت او جديت وليد، نو ويې ويل: لاړ اخوا شئ، هغوی بلي خوا ته لاړل، دې خپلې کوڅې خلاصې کړې،ليک يې ورنه راويوست او دوی ته يې ورکړ. هغوی بيا رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) ته راوړ.

پدې ليک کې داسې ليکل شوي و: د حاطب بن ابي بلتعه له خوا قريشو! ته وروسته پکې ليکل شوي و چې رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) ستاسې په لور دروانيږي، خبر اوسئ. رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) حاطب راوغوښت ورته ويې ويل چې دا ولې؟ ده وويل: يا رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم)! حوصله وکړه، زه مسلمان يم، نه مرتد شوی يم او نه مې دين بدل کړی دی، څرنګه چې زه قريشي نه يم، خو ورسره ترلی يم، زما اولادونه او کورنۍ هلته له دوی سره دي، ورسره داسې اړيکې او خپلوي هم نلرم چې زما د اولادونو حمايت وکړي، د نورو اصحابو خو هلته خپلوان شته چې دفاع ورنه وکړي، په همدې خاطر ما وغوښتل چې د دوی داسې ملاتړ حاصل کړم چې زما د اهل او اولاد ساتنه وکړي. عمر (رضي الله عنه) وويل: يا رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم)! اجازه راکړه

چې سر یې غوڅ کړم، ده له الله او رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) سره خیانت کړیدی، دا منافق شویدی. رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) وفرمایل: (**إنه قد شهد بدراً، وما يدريك يا عمر لعل الله قد اطلع على أهل بدر فقال: اعملوا ما شئتم فقد غفرت لكم**). نه یې خبر چې حاطب په بدر غزا کې برخه اخیستې ده، او نه یې خبر اې عمره! چې الله تعالی د بدر ټولو غازیانو ته خبر ورکړیدی فرمایلي یې دي: هر څه چې کوئ ویې کړئ، ما (الله تعالی) عفوه درته کړې ده. ددې فرمودې په اوریدو سره د عمر (رضي الله عنه) له سترګو اوښکې روانې شوې، او ویې ویل الله او رسول ښه پوهیږي[7].

پدې ترتیب سره الله تعالی د مسلمانانو راز پټ وساته، د قریشو غوږونه کانړه او سترګې یې پټې شوې، جاوسوسان ټول غافل شول او د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) د جنګي تیارې په هکله هیڅ خبر نه شول.

اسلامي لښکر د مکې په لور

د آتم هجري کال د روژې په لسمه رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) مدینه د مکې په نیت پرېښوده، لس زره اصحاب (رضي الله عنهم) ورسره ملګري وو، ابو رهم غفاري یې د مدینې خلیفه وټاکه او پخپله مکې ته روان شو.

د لارې په اوږدو کې په جحفه یا لږ اخوا سیمه کې یې تره عباس (رضي الله عنه) په مخه ورته راغی، هغه له اسلام راوړلو نه وروسته له خپل اهل و عیال سره د هجرت لاره نیولې وه چې همدلته له رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) سره مخامخ شو. رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) چې ابواء ته ورسید د تره زوی یې ابو سفیان بن حارث او د عمه زوی یې عبدالله بن ابي امیه هم په مخه ورته راغلل، رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) مخ ترې واړاوه ځکه له دوی نه یې ډیر تکلیفونه او اذیتونه لیدلي وو. ام سلمه (رضي الله عنها) ورته وویل: دا نه ښایي چې د تره او ترور زوی دې د ستا په حضور کې تر ټولو بدبخت وي. علي (رضي الله عنه) ابو سفیان بن حارث ته وویل: ځان د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) مخ ته ورسوه او هغه خبره ورته وکړه چې د یوسف (علیه السلام) وروڼو یوسف

[7] صحیح البخاري ۲/ ۴۲۲- ۲/ ۶۱۲۱۶۳.

(عليه السلام) ته کړي وه ((قَالُوا تَاللَّهِ لَقَدْ آثَرَكَ اللَّهُ عَلَيْنَا وَإِنْ كُنَّا لَخَاطِئِينَ)) (يوسف: ۹۱)[قسم خورو چې الله تا ته پر مونږ فضيلت در کړيدی. او مونږ په غلطه او خطا کاران وو.]

ځکه رسول الله (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) نه خوښوي څوک له ده نه زياته غوره خبره وکړي، هيڅوک هم له ده نه زيات د نبي خبرې خاوند ندی. ابو سفيان همدا سې وکړل د رسول الله (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) مخې ته ورغی او همدا خبره يې ورته وکړه. په ځواب کې رسول الله (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) ورته وفرمايل:

((لا تَثْرِيبَ عَلَيْكُمْ الْيَوْمَ يَغْفِرُ اللَّهُ لَكُمْ وَهُوَ أَرْحَمُ الرَّاحِمِينَ)) (يوسف: ۹۲)

[ترجمه: نن هيڅ ملامتيا نشته دربانديې، الله به بښنه درته کوي او هغه له ټولو نه زيات مهربان دی.]

بيا ابو سفيان دا شعرونه وويل:

لعمرك اني حين احمل راية لتغلب خيل اللات خيل محمد

لكالمدلج الحيران اظلم ليله فهذا اواني حين اهدى فاهتدي

هداني هاد غير نفسي و دلني على الله من طردته كل مطرد

[ستا په عمر قسم! هغه وخت چې ما ددې لپاره جنډه پورته کړې وه چې د لات لښکرې به د محمد (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) پر لښکرو غلبه مومي، زما مثال د هغه مسافر وۀ چې د شپې په تياره کې حيران او سرګردان وي، خو اوس هغه وخت راغلی دی چې د هدايت لاره ومومم او په سمه روان شم، ما ته يوه لارښود هدايت وکړ، همدې هادي د الله لور ته بوتلم، که څه هم ما هغه ته ډير تکليف رسولی او له ځان نه مې شړلی وۀ.]

پدې سره رسول الله (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) هغه په سينه وواهه او ورته ويې فرمايل: (أنتَ طَرَّدْتَني كل مُطَرَّد؟)[1]. [تا زه له ځان او وطن نه شړلی وم].

ابو سفيان ښه مسلمان شو، او ويل شوي پخپل ژوند کې يې د حيا له مخې د رسول (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) په وړاندې سر پورته نکړ. رسول الله (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) هم مينه ورسره لرله د جنت زيری يې ورکړی و، او فرمايل به يې: هيله لرم د حمزه خليفه شي. کله چې د ابوسفيان ځنکدن وۀ خلکو وربانديې ژړل.

[1]. زاد المعاد ۱۶۲/۲_۱۶۳.

ده ويل: مه ژاړئ قسم په خدای چې له اسلام نه وروسته مې هيڅ د ګناه خبره په ژبه نده راوړې.

اسلامي لښکر له مرالظهران سره اړوي

رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) له خپلو اصحابو (رضي الله عنهم) سره روان وۀ، ټولو روژه نيولې وه، مخکې لاړل تر څو د عسفان او قديد تر مينځ پرتې کديد نومې چينې ته ورسيدل، هلته رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) روژه ماته کړه، مسلمانانو هم دده اطاعت وکړ، ټولو روژه ماته کړه[1].

بيا روان شول، مابنام يې په مرالظهران (وادي فاطمه) کې يې واړول. اصحابو ته يې امر وکړ هغوی ټولو اورونه بل کړل، لس زره اورونه بل شول. عمر (رضي الله عنه) ته يې وظيفه ورکړه چې د پيرې د امورو مشري په غاړه واخلي.

ابو سفيان د رسول الله (ﷺ) په حضور کې

عباس (رضي الله عنه) د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) په سپينه قاطره (کچره) سپور شو، لاړ کتل يې تر څو کوم بوټوه او يا بل څوک پيدا کړي چې قريشو ته خبر يوسي او ورته ووايي چې راشي او له رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) نه مکې ته له داخليدو نه مخکې د امن سوال وکړي. ځکه د الله په کرم سره قريش هيڅ خبر نه وو د ويرې او خوف په حالت کې وو. ابو سفيان به له مکې نه د باندې ووت حالات او لاړې به يې څارلې. پدې ورځ هم چې حکيم بن حزام او بديل بن ورقاء هم ورسره ملګري وو راوتلی و خبرونه يې تعقيبول. عباس (رضي الله عنه) وايي: زه د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) په قاطره سپور وم چې د ابو سفيان آواز مې واورېد، له بديل سره يې خبرې کولې.دواړه د بيرته ستنيدو په حال کې وو. ابوسفيان ورته وايي: ما د ننۍ شپې په شان دومره زيات اورونه او لښکرې کله هم ندي ليدلې. بديل ورته ويل: کيدای شي دا به د خزاعه قبيلې خلک وي، چې جګړې سورولې دي. ابو سفيان ورته وايي: خزاعه لدينه ډيرکم او کمزوري دي، هغوی دومره عسکر له کومه کړل چې دومره اورونه بل کړي! عباس (رضي الله عنه) زياتوي: ما غږ

[1] . صحيح البخاري ٦١٣/٢.

وربانديې وکړ اې ابو حنظله! ابو سفيان وپيژندلم ويې ويل: ابو الفضل يې؟ ما وويل: هو. ده راته وويل: مور او پلار مې درنه جار، څه کوې؟ ما ورته وويل: دا دی رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) له خپل لښکر سره راغلی، سهار دې قريشو ته خير وي، د قريشو تباهي ده. ابو سفيان وويل: وايه، چاره څه ده؟ مور او پلار مې له تا قربان؟ ما ورته وويل: قسم په خدای که د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) لاس دربانديې بر شو نو سر به دې قلم کړي، راځه له ما سره پدې قاطره سپور شه تر څو د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) حضور ته دې ورولم او امن درته وغواړم. ابو سفيان راغی او را سره سپور شو، او دواړه نور ملګري يې بيرته ستانه شول.

عباس وايي: ابو سفيان مې چې د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) حضور ته راوست، له هر اور ځای نه به چې تيريدو هغوی به راته ويل چې دا څوک دی؟ خو کله به يې چې زه د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) پر قاطره وليدم، نو يو بل ته به يې وويل د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) تره دی. همداسې روان وو تر څو د عمر (رضي الله عنه) ځای ته ورسيدو، مونږ يې چې وليدو، را پاڅيد ويل يې دا څوک دی؟ راغی او چې ابوسفيان يې له ما سره وليد ويې ويل: دا د خدای دښمن ابو سفيان. الحمد لله چې بې له کوم تړون او عهد نه په لاس راغی، بيا په منډه د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) په لور روان شو، ما قاطره ورپسې وځغلوله، ترينه مخکې شوم، هلته له قاطرې نه کوز شوم فوراً د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) خدمت ته ورغلم، عمر (رضي الله عنه) هم راغی ويې ويل: يا رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) ابو سفيان راغلی، اجازه راکړه چې سر يې پرې کړم. عباس وايي: ما ورته وويل: يا رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) ما هغه ته پناه ورکړيده. بيا د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) خوا ته کيناستم خبرې مې ورسره پيل کړې او له خ ا ن سر ه مې ويل چې نن شپه به له ما پرته بل څوک ورسره مجلس ونکړي. عمر (رضي الله عنه) چې ډير اصرار وکړ نو ما ورته وويل: عمره! لږ حوصله وکړه. که ابو سفيان ستا له قبيلې بني عدي بن کعب څخه وای، نو بيا به دې دا خبرې نه کول. عمر وويل: پريږده عباسه! قسم په خدای چې ستا په اسلام د خپل پلار خطاب له اسلام نه زيات خوشاله شوم، دا ځکه چې زه پوهيږم چې ستا په اسلام راوړلو رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) د خطاب له مسلمانيدو نه زيات خوشاله دی. پدې پسې رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) وفرمايل: (**اذهب به يا عباس إلى**

رحلك، فإذا أصبحت فأتني به). اې عباسه! ابوسفيان خپلې مېنې ته درسره بوزه، سهار يې راته راوله. سهار مې ورووست. رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) ورته وفرمايل: (**ويحك يا أبا سفيان، ألم يأن لك أن تعلم أن لا إله إلا الله؟**) افسوس ستا په حال اې ابو سفيانه، آيا اوس هم پدې اعتراف نه کوې چې الله يو دی، او نه غواړې ووايې: لا اله الا الله. ابو سفيان وويل: مور او پلار مې له تا قربان. ته څومره مهربان، کريم او نژدې دوست يې. زه فکر کوم که له الله (جل جلاله) پرته بل خدای موجود وای نو زما به يې څه مدد کړی وای! رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) وفرمايل: (**ويحك يا أبا سفيان، ألم يأن لك أن تعلم أني رسول الله؟**)افسوس ستا په حال اې ابو سفيانه! آيا اوس پدې باور نلرې چې زه (محمد) د الله رسول (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) يم؟ ابو سفيان وويل: مور او پلار مې درنه قربان، ته بې حده زيات مهربان، کريم او نژدې دوست يې، پدې اړه (ستا د رسالت) مې لا تر اوسه په زړه کې څه خو شته. عباس ورته وويل: خوار شې، اسلام راوړه او د شهادت کلمه ووايه، مخکې لدينه چې سر دې قلم شي د (**لا اله الا الله محمد رسول الله**) مبارکه کلمه ووايه. همغه وه چې ابو سفيان په اسلام مشرف شو او د شهادت کلمه يې وويله. عباس وويل: يا رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم)! ابو سفيان داسې شخص دی چې فخر او وياړ يې ډير خوښيږي ده ته يو څه ورکړه! رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) وفرمايل: (**نعم، من دخل دار أبي سفيان فهو آمن، ومن أغلق عليه بابه فهو آمن، ومن دخل المسجد الحرام فهو آمن**).څوک چې د ابو سفيان کور ته داخل شو هغه په امن دی، چا چې د خپل کور دروازه ورپسې بنده کړه هغه هم په امن دی، څوک چې مسجد حرام ته داخل شو هغه هم په امن دی. يعنې دا دری ډوله خلک په امن دي.

اسلامي لښکر له مرالظهران نه د مکې په لور

د اتم هجري کال د رمضان مياشتې په اوولسمه د سه شنبې ورځې په سهار رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم)، مرالظهران د مکې په لور پرېښود. عباس (رضي الله عنه) ته يې امر وکړ چې ابو سفيان د درې په تنګي کې د غره له پزې سره ودروي تر څو د الله تعالى لښکرې پخپلو سترګو وګوري. عباس (رضي الله عنه)

همداسې وکړل د دري په تنګه برخه کې يې ابو سفيان ودراوه، د رسول الله (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) لښکرې تيريدلې، هرې قبيلې بيل بيرغ درلود، هر يوه به چې لدې ځای نه تيريدله ابو سفيان به پوښتنه کوله دا څوک دي؟ عباس (رضي الله عنه) به ورته معرفي کوله مثلاً ورته ويل به يې چې دا سليم قبيله ده. ابو سفيان به ويل چې: له سليم سره زما څه کار. بيا به يې بله ورته معرفي کوله چې دا مزينه قبيله ده، ده به همدغه خبره کوله چې له دوی سره زما څه. تر څو رسول الله (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) له خپل شنه ګروپ سره رابنکاره شو، انصار او مهاجرين ورسره ملګري وو، ټول وسله بند وو ابو سفيان چې دا مؤمن لښکر وليد پوښتنه يې وکړه وې ويل سبحان الله، دا څوک دي اې عباسه ؟ عباس (رضي الله عنه) ورته وويل: دا رسول الله (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) دی چې د انصارو او مهاجرينو په منځ کې روان دی. ابو سفيان وويل: هيڅوک هم د دوی مقابله نه شي کولی، او زياته يې کړه، ابو فضله! ستا د وراره پاچايي ډيره لويه شوه. ابو الفضل عباس ورته وويل: دا نبوت دی زما وراره د الله رسول (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) دی. ابو سفيان وويل بې شکه چې دا عظمت د نبوت دی، اوس همدا ويل سيي دی. د انصارو جنډه له سعد بن عباده (رضي الله عنه) سره وه، کله چې له ابو سفيان سره مخ شو ورته ويې ويل: نن د جنګ ورځ ده، نن به دا حرمت له مينځه ځي، الله به نن قريش خوار او ذليل کړي.

خو کله چې ابو سفيان له رسول الله (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) سره مخامخ شو عرض يې وکړ يا رسول الله (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم)! آيا د سعد خبره دې واوريدله؟ رسول الله (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) وفرمايل: څه يې وويل. خبره يې ورته وکړه، پدې ترڅ کې عثمان او عبدالرحمن بن عوف وويل: مونږ هم ويره لرو هسې نه سعد په قريشو کې څه مرګ ژوبله ونکړي! رسول الله (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) وفرمايل: (**بل اليوم يوم تُعَظَّم فيه الكعبة، اليوم يوم أعـز الله فيـه قريشاً**). نن د کعبې د درناوي او احترام ورځ ده، نن د قريشو د عزت او سر لوړې ورځ ده. بيا يې له سعد (رضي الله عنه) نه د جنډې اخستلو حکم وکړ، او دده زوی قيس بن سعد (رضي الله عنه) ته يې وسپارله. ددې معنی دا ده چې ګويا جنډه له سعد نه وانه خستله شوه ځکه قوماندې ورسره پاتې شوه. او په بل روايت سره جنډه زبير (رضي الله عنه) ته ورکړل شوه.

قريش په ناڅاپي توګه د اسلامي لښکر په وړاندې

کله چې رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) د ابو سفیان د دریدو له ځای نه تیر شو، نو عباس (رضي الله عنه) ورته وویل: ابو سفیانه! زرکوه خپل قوم ته نجات ورکړه، ویې ژغوره. ابو سفیان په منډه ځان مکې ته ورساوه او په لوړ آواز سره یې چیغه وکړه: اې قریشو! دا دی محمد (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) راورسید، له هغه سره دومره لښکر دی چې هیڅوک یې هم مقابله نه شي کولی، واورئ! څوک چې د ابوسفیان کور ته داخل شو هغه په امن دی. ددې خبرې په اوریدو سره یې ښځه هند بنت عتبه راغلله او خپل میړه (ابوسفیان) یې له بریتونو راونیو او ویې ویل: مړ کړئ دا له غوړیو نه ډک ژی، مړ کړئ دا د نریو پنډیو خاوند، بدي دې وي دې مخکښ خبر راوړونکي ته. ابو سفیان بیا وویل: افسوس ستاسې په حال، دا به هیڅ ستاسې په درد و نه خوري، ګورئ غره نه شئ دا ښځه مو تیر نه باسي له محمد (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) سره دومره لښکر دی چې حساب یې نشته، څوک چې د ابو سفیان کورته داخل شو هغه په امن دی. قریشو ورته وویل: الله دې خوار کړه، ستا کور به مونږ ته څه ګټه راورسوي؟ ده ورته وویل: څوک چې پخپل کور ننوزي او دروازه ورپسې بنده کړي هغه هم په امن دی، چا چې جومات ته پناه یووړه هغه هم په امن دی. همدا وه چې خلک تیت شول څوک خپلو کورونو او څوک جومات ته ننوتل، خو ځینې اوباشان یې وهڅول، او د مقابلې خبره یې ورته وکړه، ویل یې که دوی غالب شول نو مونږ به ورسره وو، او که ووژل شول، نو څه چې غواړي هغه به ورکړو. پدې ترتیب سره یو شمیر جاهل او لویدلي خلک، له عکرمه بن ابي جهل سره راغونډ شول، له دوی سره صفوان بن امیه او سهیل بن عمرو هم وو، په خندمه کې یې له مسلمانانو سره د مقابلې لپاره سنګر ونیو. پدې ډله کې د بني بکر قبیلې یو کس چې حماس بن قیس نومیده هم ملګری وٴ، ده چې کله وسلې برابرولې ښځې یې ورته وویل: دا وسلې د څه لپاره تیاروې؟ ده وویل: له محمد (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) او اصحابو سره د مقابلې لپاره. ښځې یې وویل: قسم په خدای چې هیڅوک د محمد (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) مقابله نه شي کولی. ده ورته وویل: زه غواړم چې د محمد (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) ځینې ملګري ستا خادمان کړم بیا یې دا شعر ووایه:

ان يقبلوا اليوم فما لي عله هذا سلاح كامل و اله

و ذو غرارين سريع السله

[كه هغوی نن مقابلې ته راغلل نو زه به هيڅ عذر ونلرم، ټوله وسله، نيزې، او دوه تيغه لرونكی توري هر څه پوره دي، يعنې بالكل مقابلې ته تياريم.]
په خندمه نومي ځای كې مقابلې ته راټولو شويو كسانو كې همدغه كس هم و چې له محمد (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) سره د جګړې لپاره راغلی و.

اسلامي لښكر په ذي طوی كې

رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) مخكې روان وٴ تر څو ذي طوی ته ورسيد، د الهي لوی نعمت يعنی مكې د فتحې د شكرانې په دود يې خپل مبارک سر د الله تعالى د عظمت، رحمت او كرم په وړاندې له ډيرې تواضع نه دومره خم كړی وٴ چې د مبارکې ږيرې وينښتان يې نژدې د اوښې له ځل سره لګيدل. رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) په همدې ځای كې خپل لښكر تقسيم كړ: خالد بن وليد (رضي الله عنه) ته يې د ښي اړخ قوماندې وسپارله پدې طرف كې د اسلم، سليم، غفار، مزينه، جهينه او ځينې نورې عربي قبيلې وې. هغه ته يې امر وكړ چې د مكې له لاندينۍ برخې نه داخل شي، او ورته ويې ويل: (إن عرض لكم أحد من قريش فاحصدوهم حصداً، حتى توافوني على الصفا). ((كه څوک مو مخې او مقابلې ته راغلل نو له مينځه يې يوسئ او پدې ترتيب سره به صفا كې له ما سره يوځای شئ)). د كينې خوا قوماندې له زبير بن عوام (رضي الله عنه) سره وه د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) بيرغ هم له ده سره وٴ. هغه يې مامور كړ چې د مكې له پورتنۍ برخې (كداء) نه داخل شي، او په حجون كې دې له خپل بيرغ سره د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) د رسيدو انتظار كوي. ابو عبيده (رضي الله عنه) له پليو او بې وسلې سپايانو سره وځ هغه ته يې امر وكړ چې د مكې وسطي لار په ښكته ونيسي او له همغې لارې نه په مكه كې د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) حضورته حاضر شي.

اسلامي لښكر په مكه مكرمه كې

ټول لښکر روان و، هر ګروپ په ټاکل شوي لار د مکې په لور وخوځيد. خالد (رضي الله عنه) له خپلو ملګريو سره مخکې لاړ ځوک يې چې مخې ته ودريد له مينځه يې يوړ، دده له ملګرو نه هم دوه کسان کرز بن جابر فهري او خنيس بن خالد بن ربيعه په شهادت ورسيدل. دوی دواړه له لښکر نه ګوښي په بيله لار روان وو چې د مشرکينو تر برید لاندې راغلل او شهيدان شول.

خالد (رضي الله عنه) په خندمه کې د مشرکينو له اوباشانو او کم عقلانو سره مخ شو، څه نښته وشوه چې په ترڅ کې يې ۱۲ تنه مشرکين ووژل شول او نور وتښتيدل. حماس بن قيس هغه چې له ډير پخوا نه يې مقابلې ته وسلې تيارولې هم له جګړې نه وتښتيد، کور ته لاړ او خپلې ښځې ته يې وويل: دروازه راپسې بنده کړه. ښځې يې ورته وويل: هغه ستا غوري څه شوې؟!، ده په ځواب کې دا شعر ورته ووايه:

انك لوشهـــدت يوم الخندمه	اذ فر صفوان و فر عكرمه
و استقبلتنا بالسيوف المسلمه	يقطعن كل ساعد و جمجمه
ضربا فلا يسمع الا غـــمغمه	لـــهم نهيت خلفنا و همهمه
لم تنـــطقي في اللوم ادنى كلمه	

[که تا د خندمه صحنه ليدلې وای چې صفوان او عکرمه وتښتيدل، مونږ ته د (مسلمانانو) له خوا نه په تورو سره هرکلی وويل شو داسې تورې چې سرونه او پښې يې ريبلې، د تورې ګوزارونه به يې کول او د زمريانو په شان آوازونه به يې کول په مونږ پسې وو، که تا دا ليدلي وای نو د ملامتيا يوه خبره به دې هم نه وای کړې.]

خالد (رضي الله عنه) مکې ته داخل شو او ځان يې په صفا کې د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) حضور ته ورساوه. زبير (رضي الله عنه) هم مخکې لاړ د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) بيرغ يې په حجون کې له فتح جومات سره پورته کړ، او وربانديې د پوستکي (چرم) يوه خيمه ودروله او هملته انتظار ؤ تر څو رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) تشريف راوړ.

رسول الله (ﷺ) مسجد حرام ته داخليږي او بتان نسکوروي

رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) حرکت وکړ مهاجرين او انصار چار چاپير ورنه روان وو مسجد حرام ته يې تشريف يووړ حجر اسود ته ورغی لمس يې کړه،

طواف يې وکړ، نيزه يې په لاس کې وه، پدې وخت کې په بيت الله او شاو خوا کې (۳۶۰) بتان وو، رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) به بتان پخپله نيزه وهل او فرمايل به يې: ((وَقُلْ جَاءَ الْحَقُّ وَزَهَقَ الْبَاطِلُ إِنَّ الْبَاطِلَ كَانَ زَهُوقاً)) (الاسراء: ۸۱) [ووايه چې حق راغی او باطل له مينځه لاړ، بيشکه باطل له مينځه تلونکی دی.] (قُلْ جَاءَ الْحَقُّ وَمَا يُبْدِئُ الْبَاطِلُ وَمَا يُعِيدُ)) (سبا: ٤٩) [ووايه حق راغی باطل نه د نوي کار توان لري او نه تير شوی کار بيرته را ګرځولی شي.] رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) دا ويل او بتان به پرمخې رانسکوريدل.

بتان ټول نسکور شول

رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) پخپله اوښه سپور وۀ طواف يې کاوه، احرام يې هم نه و تړلی، کله يې چې طواف وکړ، نو عثمان بن طلحه يې راوغوښت د کعبې شريفې کليانې يې ورنه واخيستلې امر يې وکړ چې دروازه دې خلاصه شي. دروازه خلاصه شوه، رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) ور داخل شو هلته يې عکسونه وليدل، د عکسونو په منځ کې يې د ابراهيم (عليه السلام) او اسماعيل (عليه السلام) عکسونه هم وليدل چې دواړه په غشو څه سره ويشي. پدې وخت کې رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) وفرمايل: (قاتلهم الله، والله ما استقسما بها قط). ((الله تعالى دې مشرکان خوار او تباه کړي، قسم په خدای ابراهيم او اسماعيل (عليهما السلام) کله هم به غشو سره تقسيم ندی کړی)). هلته له لرګي نه جوړه شوې يوه کوتره هم وه هغه يې پخپل مبارک لاس ماته کړه او امر يې وفرمايه چې دلته موجود ټول عکسونه دې له مينځه يووړل شي.

رسول (ﷺ) په کعبه کې لمونځ کوي او قريشو ته خطبه اوروي

رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) کعبې شريفې ته له داخليدو نه وروسته دروازه ورپسې بنده کړه، اسامه او بلال (رضي الله عنهما) هم ورسره وو. د دروازې ديوال ته مخامخ ودريد، په داسې ځای کې ولاړ وۀ چې له ديوال نه يې دري ګزه فاصله درلوده، دوې ستنې يې چپې او يوه ستنه يې ښې خوا ته او دری ستنې يې شا

ته وې. هغه وخت د کعبې شریفې چت په شپږو ستنو ولاړ وۀ، بیا یې هملته لمونځ ادا کړ. ورپسې په بیت الله کې وګرزید، تکبیر یې وایه، د توحید نعره یې په ژبه وه، دروازه یې پرانیستله، قریش په زیات شمیر کې جومات ته راغلي وو، لـیـکې لـیـکې ناست وو، انتظار یې یوست چې رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) به څه معامله ورسره کوي؟ پداسې حال کې چې قریش ټول د لاندې ناست وو، رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) د کعبې د دروازې دواړه څنګ درې ونیولې ویې فرمایل: (**لا إله إلا الله وحده لا شريك له، صدق وعده، ونصر عبده، وهزم الأحزاب وحده، ألا كل مأثُرَة أو مال أو دم فهو تحت قدمي هاتين، إلا سِدَانَة البيت وسِقاية الحاج، ألاوقتيل الخطأ شبه العمد ــ السوط والعصا ــ ففيه الدية مغلظة، مائة من الإبل أربعون منها في بطونها أولاد.**

يا معشر قريش إن الله قد أذهب عنكم نخوة الجاهلية وتعظمها بالآباء، الناس من آدم، وآدم من تراب ثم تلا هذه الآية: {يا أيها الناس إنا خلقناكم من ذكر وأنثى وجعلناكم شعوبا وقبائل لتعارفوا إن أكرمكم عند الله أتقاكم إن الله عليم خبير}(الحجرات : ۱۳). له یوه الله پرته بل څوک د عبادت وړ ندي، الله یو دی شریک نلري، الله خپله وعده ریښتونې کړه، له خپل بنده سره یې مرسته وکړه، ټولو احزابو ته یې ماتې ورکړه، واورئ! د بیت الله شـریـفې د کلیانو له ساتنې، او حاجیانو ته له اوبو ورکولو نه پرته نورې ټولې ویاړنې، کمالات، خون او مال ټول زما تر پښو لاندې دي، یعنې دا ټول ملغی اعلانوم، واورئ! په سهوه سره قتل، شبه عمد چې په متروکه (دره) یا ډنډه سره وي، پدې ډول قتل سره مغلظ یا سخت دیت لازمیږي ددې دیت اندازه سل اوښان دي چې څلویښت به یې حمل (بار لرونکې) اوښانې وي.

اې قریشو! الله تعالى له تاسې نه د جاهلیت د زمانې بیځایه غیرت، غرور په پلار او نیکونو ویاړ له مینځه یوړ، ټول انسانان له آدم (عليه السلام) نه او آدم (عليه السلام) له خاورو نه پیدا شویدی.

[اې خلکو تاسې مو له یوه نارینه او ښځې نه پیدا کړي یاست، بیا مو په څانګو او قبیلو ددې پخاطر سره ویشلي یاستئ چې یو بل سره وپیژنئ، د الله په نزد تر ټولو زیات د قدر او منزلت خاوند هغه دی چې د زیاتې تقوی خاوند وي، الله تعالى په هرڅه

عالم او خبر دی.]

نن په تاسې ملامتيا نشته

بيايې زياته کړه: (**يا معشر قريش ما ترون أني فاعل بكم؟**) **قالوا: خيرًا، أخ كريم وابن أخ كريم، قال: (فإني أقول لكم كما قال يوسف لإخوته: {لاَ تَثْرَيبَ عَلَيْكُمُ} اذهبوا فأنتم الطلقاء**).اې قريشو! څه فکر کوئ زه به څه ډول معامله درسره وکړم؟ دوی وويل: حتماً به ښه معامله راسره کوې، ته مهربان ورور او مهربان وراره يې. رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) وفرمايل: زه نن هغه خبره درته کوم کومه چې يوسف (عليه السلام) خپلو وروڼو ته کړې وه [نن په تاسې باندې ملامتيا نشته] ورځئ تاسې آزاد ياست.

د بيت الله شريف کليانې بيرته خپل اهل ته سپارل

پدې پسې رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) په جومات کې کيناست، علي (رضي الله عنه) ورغی د بيت الله کليانې يې په لاس کې وې، ويې ويل: يا رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم)! حجاجو ته د اوبو ورکولو له دندې سره د حجابت (کليانو ساتلو) دنده هم راوسپاره. په بل روايت کې راځي چې دا خبره عباس (رضي الله عنه) ورته کړې وه. رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) ورته وفرمايل: (**أين عثمان بن طلحة؟**). عثمان بن طلحه چيرته دی؟ هغه راوغوښتل شو. رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) ورته وفرمايل: (**هاك مفتاحك يا عثمان، اليوم يوم بر ووفاء**). واخله عثمانه دا کليانې بيرته واخله، نن د وفا او نيکۍ ورځ ده. ابن سعد په طبقات کې روايت کوي چې د کليانو ورکولو په وخت کې يې داسې ورته وفرمايل: (**خذوها خالدة تالدة، لا ينزعها منكم إلا ظالم، يا عثمان إن الله استأمنكم على بيته، فكلوا مما يصل إليكم من هذا البيت بالمعروف**).واخلئ دا کليانې واخلئ، د تل لپاره يې واخلئ، دا به له ظالم نه پرته بل څوک نه درنه اخلي، اې عثمانه! الله تعالى خپله خونه تاسې ته امانت در کړيده، د الله تعالى لدې خونې چې

څه په لاس درځي له هغې نه په حلاله او شرعي توګه استفاده وکړئ.

بلال (رضي الله عنه) د کعبې معظمې په بام آذان کوي

د لمانځه وخت شو، رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) خپل مؤذن بلال (رضي الله عنه) ته امر وکړ چې د کعبی بام ته وخیژي او آذان وکړي. پدې وخت کې ابو سفیان بن حرب، عتاب بن اسید او حارث بن هشام د کعبې په صحن کې ناست وو، عتاب وویل: زما پلار اسید بختور ؤ چې دا حالت یې ونه لید، ددې شخص آواز یې وانه ورید او هغه څه یې وا نه وریدل چې د غوسې سبب یې کیدل.حارث وویل: که زه پدې پوه شم چې محمد (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) په حق دی، نو حتماً به یې پیروي کوم. ابو سفیان ورته وایي: زه خو هیڅ نه وایم، ځکه که هر څه ووایم دا شګې به راباندې شاهدي ووایي، دغه کانې به مې احوال افشا کړي. همدا وه چې رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) تشریف راوړ ورته ویې فرمایل: زه پوه شوم چې تاسې څه ویلي، او دوی چې څه ویلي وو هماغه خبرې یې ورته تکرار کړې. حارث او عتاب وویل: مونږ شاهدي وایو چې ته د الله رسول (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) یې، قسم په خدای که زمونږ خبرې هیچا هم اوریدلې وي، یعنې هیڅوک داسې نه وو چې مونږ ووایو هغه به درته دا خبرې رسولې وي.

د فتحې یا شکرانې لمونځ

په همدې ورځ رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) د ام هانئ بنت ابي طالب (رضي الله عنها) کور ته تشریف یووړ، غسل یې وکړ او هملته یې اته رکعته لمونځ ادا کړ، دا د ضحی (غرمې) وخت ؤ.

ځینې ګمان کوي چې دغه لمونځ د څاښت(ضحی) لمونځ ؤ، خو صحیح دا ده چې دا د څاښت نه، بلکه د فتحې یا شکرانې لمونځ ؤ. ام هانئ په خپل کور کې خپلو دوو لیورو ته پناه ورکړې وه، رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) ورته وفرمایل: (قد أجرنا من أجرت يا أم هانئ).چا ته چې تا پناه ورکړیده زمونږ قبوله ده، مونږ هم پناه ورکوو یا ام هانئ! که څه هم علي (رضي الله عنه) غوښتل چې هغه دواړه ووژني، خو ام هانئ دروازه ورپسې بنده کړه، او له رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) نه یې دا وغوښتل چې ددې پناه قبوله کړي، چې هغه همداسې

وکړل.

د څو لویو مجرمینو د وژلو حکم

د فتحې په ورځ رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) د نهو لویو مجرمینو د قتل امر صادر کړ، هغوی یې مباح الدم و بلل او امر یې وکړ چې که د کعبې تر پردو لاندې هم په لاس راشي باید ووژل شي. ددغه مجرمینو نومونه دا وو: عبدالعزی بن خطل، عبدالله بن ابي سرح، عکرمه بن ابي جهل، حارث بن نفیل بن وهب، مقیس بن صبابه، هبار بن اسود، د ابن خطل دوې ډمانی چې دواړو به تل د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) هجوه کوله، ساره چې د بني مطلب خادمه وه دا همغه ښځه ده چې قریشو ته یې د حاطب لیک راوړه او ورسره ونیول شو.

ابن ابي سرح خو نجات وموند ځکه عثمان (رضي الله عنه) د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) حضور ته راووست، د هغه شفاعت یې وکړ تر څو چې اسلام یې ومنل شو، لومړی رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) څه شیبه پدې خاطر سکوت غوره کړ چې ګوندې اصحاب ورپاڅیږي او ابن ابي سرح ووژني، خو داسې و نه شول نو عفوه یې ورته وکړه، او له مرګ نه وژغورل شو. ابن ابي سرح مخکې اسلام راوړی او هجرت یې کړی وٴ، خو بیا بیرته مرتد شوی او مکې ته ستون شوی وٴ.

عکرمه یمن ته وتښتید، ښځې یې دده لپاره له رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) نه امن وغوښت، رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) امن ورته اعلان کړ. ښځه یې ورپسې ورغله رایې ووست په اسلام مشرف او ښه مسلمان شو. ابن خطل د کعبې په پردو کې پټ شوی وٴ، ځان یې ورپورې نښلولی و، پدې وخت کې یو صحابي (رضي الله عنه) د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) حضور ته راغی او خبر یې ورکړ، رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) وفرمایل مړ یې کړئ، هغه لاړ او هملته یې وواژه.

مقیس بن صبابه د نمیله بن عبدالله له لاسه ووژل شو. مقیس مخکې اسلام راوړی وٴ، مدینې ته تللی او هلته یې یو انصاري وژلی وو بیا بیرته مرتد شوی او مکې ته راستون شوی وٴ. حارث چې په مکه کې به یې رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) ته ډیر زیان او اذیت رساوه د علي (رضي الله عنه) په لاس جهنم ته واستول شو.

هبار بن اسود هغه څوک وٴ چې د زینب (رضي الله عنها) د هجرت په وخت کې یې د هغې اوښه تریولې وه چې په نتیجه کې زینب (رضي الله عنها) له اوښ نه پر یوه تیږه لویدلې او خپل ماشوم یې ضایع کړی وٴ. همدغه هبار چې مباح الدم اعلان شوی وٴ د

فتحې په ورځ وتښتيد وروسته په اسلام مشرف شو او ريښتونی مسلمان ورنه جوړ شو. هغه دوې ويـنځې ډمـانې چې د وژلو امر يې شوی وٴ يوه يې ووژل شوه او بـلې ته يې امن وغوښتل شو، پناه ورکړل شوه په اسلام مشرفه او نجات يې وموند. همدا راز ساره هم مسلمانه شوه او امان ورکړل شو.

ابن حجر وايي: ابو معشر وايي: د مباح الدم اعلان شويو په ډله کې حارث بن طلاطل خزاعي هم شامل وٴ چې د علي (رضي الله عنه) په لاس په هلاکت ورسيد. حاکم په همدې ډله کې د کعب بن زهير نوم هم راوړی دی. دده کيسه مشهوره ده، خو هغه وروسته راغی، اسلام يې راوړ. او د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) ډيره مدحه يې وکړه. همدا راز حاکم پدې جمله کې د وحشي بن حرب، هند بنت عتبه چې د ابو سفيان ښځه وه او مسلمانه شوه، ارنب چې د ابن خطل وينځه وه او ووژل شوه او ام اسعد چې هغه هم په قتل ورسيده نومونه هم راوړيدي. (لدې جملې نه يوازې دوې وروستۍ ښځې (ارنب – ام سعد) وژل شوې دي دا د ابن اسحاق روايت دی) او پدې ترتيب هغه کسان چې د وژلو حکم يې شوی و ۱۴ تنه وو چې ۸ يې نارينه او ۶ يې ښځې وې امکان لري چې ام سعد او ارنب هماغه د ابن خطل وينځې وي، په نومونو، او يا لقبونو او کنيه نومونو کې به يې اختلاف پيدا شوی وي.[1]

صفوان بن اميه او فضاله بن عمير اسلام راوړي

که څه هم رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) د صفوان د وژلو حکم نه وٴ کړی او هغه يې مباح الدم نه وٴ بللی، خو څرنګه چې د قريشو د مخورو مشرانو له ډلې څخه و، وويريد او له مکې نه وتښتيد.

عمير بن وهب جمحي له رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) نه امن ورته وغوښت، رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) يې غوښتنه ومنله، امن يې ورکړ او خپله هغه مبارکه لنګۍ (دستار) يې ورولېږله چې مکې ته ورسره راغلی و.

عمير ورپسې ورغی هغه په جده کې وٴ پداسې حال کې يې ونيو چې په کښتۍ کې د يمن په لور روانيدونکی وٴ، د امن خبر يې ور ورساوه او بيرته يې راوګرځاوه. د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) حضور ته راغی او ورته ويې ويل: دوې مياشتې مهلت راکړه چې په مسئله کې ښه غور وکړم. رسول الله (صلى الله عليه و اله

---

[1]. فتح الباري ۸/ ۱۱_۱۲.

و صحبه و سلم) ورته وفرمایل: (أنت بالخیار أربعـــة أشـــهر). څلور میاشتې مهلت درکوم.

هماغه وه چې وروسته صفوان په اسلام مشرف شو، ښځه یې له ده نه مخکې مسلمانه شوی وه، رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) په هماغه زړه نکاح دوی ته د ګډ ژوند اجازه ورکړه. فضاله چې ډیر میړنی شخص وٴ، کله چې رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) طواف کاوه، هغه راغی نیت یې درلود رسول الله (صلی الله علیـه و الـه و صـحبه و سلم) پـه قتـل ورسـوي، خـو رسـول الله (صـلی الله علیـه و الـه و صحبه و سلم) هغه ته دده د بدې ارادې په هکله خبر ورکړ، پدې ترتیب سره هغه هم په ایمان مشرف شو.

د فتحې په دوهمه ورځ د رسول الله (ﷺ) خطبه

د فـتـحې په دوهمه ورځ رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) د خطبې لپاره پورته شو، خلک ورته ناست وو. خطبه یې په حمد او ثنا سره پیل کړه ویې فرمایل: (**أیها الناس، إن الله حرم مکة یوم خلق السموات والأرض، فهي حرام بحرمة الله إلی یوم القیامة، فلا یحل لامرئ یؤمن بالله والیوم الآخر أن یسفك فیها دماً، أو یعضد بها شجرة، فإن أحد ترخص لقتال رسول الله صلی الله علیه وسلم فقولوا: إن الله أذن لرسولة ولم یأذن لکم، وإنما حلت لي ساعة من نهار، وقد عادت حرمتها الیوم کحرمتها بالأمس، فلیبلغ الشاهد الغائب**).

اې خلکو! الله تعالی له هغې ورځې نه چې ځمکه او آسمان یې پیدا کړیدي مکې ته حرمت ورکړیدی او تر قیامته پورې د الله تعالی په حکم د همدې حرمت درلودونکې ده، هیڅ مؤمن ته هغه چې په الله او آخرت ایمان لري نده روا چې په مکه کې د چا وینه تویې کړي، یا د مکې ونه پرې کړي. که چا په مکه کې د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) په جنګ استدلال کاوه، نو ورته ووایئ چې الله تعالی خپل رسول (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) ته اجازه ورکړې وه خو تاسې ته یې اجازه نده درکړې، ما ته د ورځې یوه برخه حلاله وګرزول شوه، خو نن بیرته د پرون په شان د مکې حرمت اعاده شو. موجود کسان دې دغه لارښوونې غایبینو ته ورسوي. په بل

روايت کې راځي چې وې فرمايل: **(لا يعضد شوكه، ولا ينفر صيده ولا تلتقط ساقطته إلا من عرفها، ولا يختلى خلاه)، فقال العباس: يا رسول الله، إلا الإذخر، فإنه لقينهم وبيوتهم، فقال: (إلا الإذخر)**. د مکې اغزي پرې کول هم ندي روا، ښکار يې له ځايه نه پورته کول کيږي، په ځمکه پراته يې مالکه شيان يې نه اخيستل کيږي، يعنې چا ته نده روا چې په لارو کې موندل شوي شيان واخلي، خو هغه کسان چې دا شيان و پيژني يعنې خپل يې وي او يا يې مالک ته ورسولی شي نو بيا ورته روا ده چې پورته يې کړي. او نه ده روا چې څوک ددې ځای واښه پرې کړي يعنې د وښو پرې کول هم جواز نلري. عباس (رضي الله عنه) عرض وکړ يا رسول الله! له اذخر (يو ډول بوټی دی) پرته ځکه دا يې د کورونو او وينځو لپاره دی. رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) وفرمايل: بيله اذخر څخه. مطلب دا چې دا بوټی مستثنی شو، پرې کول يې جواز لري.

پدې ورځ خزاعه قبيلې له بني ليث قبيلې نه يو کس د خپل مړي په بدل کې چې د جاهليت په دوران کې بني ليث وژلی وۀ وواژه. پدې هکله رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) داسې وفرمايل: **(يا معشر خزاعة، ارفعو أيديكم عن القتل، فلقد كثر القتل إن نفع، ولقد قتلتم قتيلا لأدينه، فمن قتل بعد مقامي هذا فأهله بخير النظرين، إن شاءوا فدم قاتله، وإن شاءوا فعقله)**.

اې خزاعه والو! له وژلو نه ډډه وکړئ که په وژلو کې ګټه وي، نو بس دي ډير مو وژلي دي، تاسې داسې څوک وواژه چې بايد زه يې ديت ورکړم که چا لدينه وروسته څوک ووژل، نو د مقتول کورنۍ کولی شي په خپله خوښه يا قاتل ووژني (قصاص شي) او يا دا چې د مقتول ديت تر لاسه کړي. په بل روايت کې راغلي، د يمن يو اوسيدونکی چې ابو شاه نومېده پورته شو او عرض يې وکړ يا رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم)! ماته څه وليکه. رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) وفرمايل: **(اكتبوا لابي شاه)**. ابو شاه ته وليکئ[1].

د انصارو اندېښنه

[1]. صحيح البخاري ۱/۲۲، ۲۱٦_۲٤۷_۳۲۸_۳۲۹+۲/٦۱٥_٦۱۷. صحيح مسلم ۱/٤۳۷_٤۳۹. ابن هشام ۲/٤۱٥تر ٤۱٦. ابو داود ۱/۲۷٦.

کله چې د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) له خوا مکه مکرمه فتحه شوه، هغه مکه چې د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) کور، وطن، اصلي ټاټوبی وۀ. انصارو پخپل مینځ کې سره وویل: اوس چې الله تعالی خپل رسول (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) د مکې په فتحې سره ونازاوه، او خپل ټاټوبی یې ورته فتح کړ، نو آیا فکر نه کوئ چې دې به همدلته پاتې شي؟! دا خبرې یې پداسې وخت کې کولې چې رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) په صفا ولاړ وۀ لاسونه یې په دعا پورته نیولي و. کله چې له دعا نه فارغ شو، انصارو ته یې وویل: (**ماذا قلتم؟**) څه مو سره وویل؟ دوی ځواب ورکړ هیڅ مو هم ندي ویلي. رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) اصرار وکړ تر څو هغوی خپله خبره ورته وکړه. رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) ورته وفرمایل: (**معاذ الله، المحیا محیاکم، والممات مماتکم**). الله ته پناه وړم، مرګ به مې له تاسې سره وي، او ژوند به مې هم له تاسې سره وي.

بیعت

وروسته له هغې چې د الله په کرم سره مکه فتحه شوه، د مکې خلکو ته حقیقت څرګند شو، په حق پوه شول باوري شول چې له اسلام پرته بله د نجات او بري لاره نشته، نو په اسلام مشرف شول او له رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) سره د بیعت لپاره راټول شول. رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) په صفا ناست و خلک ورته راتلل او بیعت یې ورسره کاوه، عمر (رضي الله عنه) لاندې ولاړ وۀ خلک یې تنظیمول. خلکو ټول پدې بیعت ورسره وکړ چې د توان په اندازه به د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) امر مني او پیروي به یې کوي.

په تفسیر مدارک کې راځي[1]: وروسته له هغې چې رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) د نارینه وو له بیعت نه فارغ شو، نو ښځو ورسره بیعت پیل کړ. رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) هملته صفا کې تشریف درلود عمر لاندې ورنه ناست و. ښځې به راتللې او عمر به د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) په امر بیعت ورنه اخیست، او د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) خبره به یې ورته رسوله. په همدې وخت هند بنت عتبه راغله ځان یې پیچلی او

[1]. تفسیر المدارک د بیعت آیت ته دی مراجعه وشي.

پټ کړی وٴ، له رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) نه ویریدله چې ویې نه پیژني ځکه له حمزه (رضي الله عنه) سره یې ډیر ظلم کړی وٴ، همدا وجه وه چې پداسې حال کې بیعت ته راغله چې ځان یې ښه پیچلی وٴ.

رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) ښځو ته وفرمایل: (**أبایعکن علـــی ألا تشرکن بالله شیئا**).

پدې بیعت درنه اخلم چې له الله تعالی سره به هیڅ شریک نه نیسئ، عمر (رضي الله عنه) په همدې سره چې له الله سره به شریک نه نیسئ له ښځو نه بیعت واخیست. بیا رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) وفرمایل: (**ولا تسرقن**) پدې به بیعت کوئ چې غلا به نه کوئ، پدې وخت کې هندې وویل: ابو سفیان ډیر سخت او بخیل سړی دی، که فرضا زه د هغه له مال نه څه اندازه واخلم، نو آیا دا هم غلا شمیرل کیږي؟ ابو سفیان وویل: ځه، څه دې چې زما له مال نه واخیستل یا دې اخیستې هغه درته حلال دي. رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) وخندل، هنده یې وپیژندله او ویې فرمایل: (**وإنك لهند؟**) ته هنده یې؟ دې وویل: هو، زه هنده یم عفوه راته وکړه، یا نبي الله، الله تعالی دې تا ته عفوه وکړي!

بیا رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) وفرمایل: (**ولا یـــزنین**). پدې به بیعت کوئ چې زنا به نه کوئ، هند وویل: آیا اصیله ښځه هم زنا کوي؟ رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) وفرمایل: (**ولا یقتلن أولادهـــن**). د بیعت بل ټکی به دا وي چې خپل اولاد به نه وژنئ. هند وویل: مونږ خو هغوی واړه لوی کړل، خو تـــا سې راته ووژل، تاسې پوه شه او دوی، د بدر په ورځ ددې زوی حنظله بن ابي سفیان وژل شوی وٴ. پدې سره عمر (رضي الله عنه) دومره وخندل چې پریوت، او رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) هم مسکی شو. بیا رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) وفرمایل: (**ولا یأتین ببهتان**) پدې به بیعت کوئ چې بهتان به نه کوئ، هند وویل: بهتان ډیر بد کار دی، یا رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم)! ستا ټول امرونه ډیر نیک او غوره دي.

بیا رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) وفرمایل: (**ولا یعصـــینك في معروف**) پدې به بیعت راسره کوئ چې په نیکۍ کې به سرغړونه نه کوئ، همیشه به

مې امر منئ، هند وويل: دلته چې درته راغلي يوو، نو دا مو په زړه کې نشته چې بيا به دې نافرماني کوو. هند چې کله ستنه شوه، د خپل بت په ماتولو يې شروع وکړه او ويل يې مونږ په تا غوليدلي او تيروتلي وو.

په مکه کې د رسول الله (ﷺ)هستوګنه

رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) نولس (۱۹) ورځې په مکه کې پاتې شو، خلک يې اسلام ته رابلل، د هدايت او تقوى لارښوونې يې ورته کولې. په همدې ورځو کې يې اسيد خزاعي ته وظيفه ورکړه چې د حرم شريف پولې تازه او نوې کړي، نوي بريدونه يې ورته کيښودل. رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) د اسلامي بلنې لپاره يوه خوا بله خوا دعوتي ګروپونه واستول، دې ګروپونو ته يې همدارنګه امر کړى وٴ چې د مکې په شاو خوا کې موجود بتان مات کړي. همدا وه چې ټول بتان مات شول. د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) له اړخه په مکه کې اعلان وشو: څوک چې په الله او آخرت ايمان لري بايد پخپل کور کې بت ونه ساتي که له چاسره بت وي بايد فوراً يې مات کړي.

جنګي ګروپونه او پلاوي

۱- له فتحې نه وروسته چې رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) ډاډه شو، د آتم هجري کال د رمضان په ۲۵ مه يې خالد بن وليد (رضي الله عنه) ته وظيفه ورکړه چې عزى نومي بت ته ورشي او دړې وړې يې کړي. دغه بت په نخله نومه سيمه کې وٴ دا د قريشو او ټولو بني کنانه تر ټولو لوى معبود وٴ، منجوري يې له بني شيبان قبيلې سره وه. خالد له ۳۰ سپرلو سره ورغى او دړې وړې يې کړ. کله چې بيرته راغى رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) پوښتنه ورنه وکړه : (**هل رأيت شيئا؟**) **قال : لا قال: (فإنك لم تهدمها فارجع إليها فاهدمها) فرجع خالد متغيظًا قد جرد سيفه فخرجت إليه امرأة عريانة سوداء ناشرة الرأس فجعل السادن يصيح بها، فضربها خالد فجزلها باثنتين، ثم رجع إلى رسول الله صلى الله عليه وسلم فأخبره، فقال: (نعم، تلك العزى، وقد أيست أن تعبد في بلادكم أبدا)**خه دې وليدل؟ ده وويل: هيڅ مې هم و نه ليدل. رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) وفرمايل: نو بيا دې

مات کړي ندی، ورشه او مات يې کړه.
خالد (رضي الله عنه) بيا ور روان شو ښه په غوسه ؤ توره يې په لاس کې نيولې وه، که ګوري چې يوه لوڅه لغړه توره ببر سرې ښځه يې مخې ته راووتله، منجور چيغې پسې و هلې، خو خالد د توري په ګوزار سره دوې ټوټې کړه بيا د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) خدمت ته حاضر شو او کيسه يې ورته وکړه. رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) وفرمايل: هو، همدا ښځه عزى بت ؤ، هغه به نور تر قيامته دلته ونه نمانځل شي.

۲- په همدې ميا شت کې يې عمرو بن عاص (رضي الله عنه) ته وظيفه ورکړه چې لاړ شي او سواع نومى بت ونړوي. دغه بت له مکې نه درى ميله ليرې د رهاط په سيمه کې ؤ او هذيل قبيلې به يې عبادت کاوه. کله چې عمرو هلته ور ورسيد منجور يې ورته وويل: څه غواړې؟ ده وويل: رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) امر راته کړى چې دغه بت ونړوم. منجور ورته وويل: دا کار نه شې کولى. ده ورته وويل: ولې؟ هغه وويل: ددې کار اجازه نه درکول کيږي، يعنې لاس به دې نيول کيږي. عمرو ورته وويل: ته لا تر اوسه هم په غلطه روان يې، ستا په حال صد افسوس، آيا دغه بت وينې او اورې؟ چې ته يې په هکله دا تصور لرې؟ بيا ورنږدې شو او بت يې ټوټې کړ، خپلو ملګرو ته يې امر وکړ چې د بت د خزانو کوټې هم ونړوي، هغه يې رنګې کړې خو هيڅ يې پکې ونه موندل، بيا يې منجور ته وويل: ودې ليدل څنګه شو؟ هغه وويل: الله ته تسليم يم.

۳- په همدې ميا شت کې يې سعد بن زيد اشهلي (رضي الله عنه) ته امر وکړ چې له ۲۰ سپرو سره لاړ شي او منات بت رنګ کړي. دغه بت په مشلل سيمه کې له قديد سره نژدې پروت و، اوس، خزرج او غسان قبيلو به يې عبادت کاوه. کله چې سعد ورغى منجور يې ورته وويل: څه غواړې؟ ده ورته وويل: منات نړوم. ده ورته وويل: دا ته او دا منات. سعد ورځې شو، دلته هم يوه توره بربنډه ببرسرې ښځه راووتله، ښيرې او نالي کوي، سينه ډبوي، منجور ورته وويل: اې مناته! پام دا له تا نه باغيان دي، نيسه يې! سعد ګوزار پرې وکړ او ويې وژله. بيا بت ته ورغى درې وړې يې کړ، دلته يې هم په خزانه کې هيڅ و نه موندل.

۴- خالد چې د عزی له ماتولو نه بيرته راستون شو، رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) د همدې کال په شعبان میاشت کې بني جذیمه ته ولیږه تر څو هغوی اسلام ته رادعوت کړي. همدا وه چې له (۳۵۰) مهاجرو او انصارو او د بني سلیم له کسانو سره روان شو ورغی هغه خلک یې اسلام ته راوبلل. دوی ددې پر ځای چې ووایي اسلمنا یعنې اسلام مو راوړیدی ویې ویل صبانا، صبانا یعنې دین موبدل کړ، دین موبدل کړ، پدې خبرې سره خالد پیل وربانديې وکړ وژل یې او نیول یې، دومره اسیران یې ورنه ونیول چې هر کس ته یې یو اسیر ورکړ، یوه ورځ یې بیاخپلو ملګرو ته امر وکړ چې هر څوک دې خپل اسیر ووژني، ابن عمر او ملګرو یې دا امر ونه مانه. او کله چې د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) حضور ته راغلل دا کیسه یې ورته وکړه، رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) خپل لاسونه پورته کړل او ویې فرمایل: (**اللهم إني أبرأ إليك مما صنع خالدًا**). اې ربه! زه د خالد له کړو نه برائت اعلانوم، دا خبره یې دوه ځله تکرار کړه.[1]

د خالد له ملګرو نه یوازې د بني سلیم کسانو خپل بندیان وژلي وو، مهاجرینو او انصارو دا امر نه وۀ منلی. پدې پسې رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) علي (رضي الله عنه) واستاوه تر څو د هغې قبیلې د مړیو دیت ورکړي او د تاوان معاوضه یې ادا کړي. ددې پیښې په اړه د خالد او عبدالرحمن بن عوف تر مینځ سخت جنال را پیدا شوی وۀ، خبره ان رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) ته ورسیده چې بیایې خالد ته وفرمایل: (**مهلا يا خالد، دع عنك أصحابي، فوالله لو كان أحد ذهبا، ثم أنفقته في سبيل الله ما أدركت غدوة رجل من أصحابي ولا روحته**). پام کوه خالده! زما له اصحابو سره غرض مه لره، قسم په خدای که د احد غره په اندازه سره زر د خدای په لار کې خیرات ورکړې، زما د یوه صحابي د سهار او یا مابنام قدرې اجر به هم ونه مومې.[2]

دا وه د مکې فتحه، همدا سرنوشت ټاکونکې غزا او لویه سوبه وه، په همدې سوبې سره شرک له منځه لاړ، له عربي جزیره نه د شرک ټغر ټول شو. مخکې زیاترو قبیلو د اسلام او کفر تر منځ د جګړې پایلې او نتیجې ته انتظار یوست. دوی دا باور

---

(1). صحيح بخاري ۱/ ۴۵۰ . ۲/ ۶۲۲

(2). ددې غزا تفصیلات مو لدې کتابونو څخه اخستی دي: ابن هشام ۲/ ۲۸۹ تر۴۳۷. بخاري۱کتاب الجهاد و کتاب المناسک او ۲/ ۶۱۲ تر ۶۲۲، فتح الباري ۳/۸تر ۲۷، مسلم۱/۴۳۷_۴۳۹، ۲/۱۰۲_۱۰۳_۱۳۰ زاد المعاد۲/۱۶۰تر۱۶۸، مختصره سيره الرسول۳۲۲_۳۵۱.

درلود چې په حرم شريف کې به حتماً د حق غلبه وي. دوی ته دا باور هغه وخت پيدا شوی وٴ او ورنه په اثبات رسيدلی و چې نيمه پيړۍ مخکې اصحاب الفيل مات او هلاک شوي وو، و ي نه شوای کړای بيت الله شريف او حرم ونيسي. دوی ايمان درلود چې په حرم به د حق حاکميت وي. د حديبيې ټرون ددې لوي فتحې سريزه او پيلامه وه. د هغه ټرون له برکته خلک په امن شول يو له بل سره يې د اسلام په هکله مناقشې وکړې، په مکه کې پټ مسلمانان را ښکاره شول، او له همدې امله ډير خلک په اسلام مشرف شول، ومو ليدل چې د فتحې په ورځ د اسلامي لښکر شميره لس زرو ته رسيدلې وه.

د مکې په فتحې سره له ټولو حقايقو نه پردې پورته شوې، په ټوله عربي جزيره کې د اسلام او مسلمانانو سياسي او ديني حاکميت ثابت شو، په ديني او د نيوي لحاظ دواړو سره مشرتابه د دوی په لاس کې ولويده حالاتو د مسلمانانو په ګټه بدلون ومونډ، روښانه او ځلانده سوبه وشوه، پدې پسې نور حالات له هر پلوه د مسلمانانو په ګټه ځرخيدل. هر څه د دوی په واک کې وو. نورو اقوامو او قبايلو بله چاره نه درلوده، مجبور وو ټول د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) خدمت ته حاضر شي پخپله په اسلام مشرف او نور خلک ورته راوبولي. په دې ډول سره په دوو راتلونکو کلونو کې ټول خلک د اسلام دعوت منلو او نورو ته رسولو لپاره تيار او چمتو شول.

دريمه مرحله

دا مرحله د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) د ژوند وروستنۍ مرحله ده په همدې دوره کې د اسلامي دعوت ونې بار راوړ جهاد او کړاونو نتيجه ورکړه. او عربي جزيرې د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) او مسلمانانو د نه ستړويدونکو هلو ځلو، منډو ترړو او مشکلاتو په نتيجه کې پخه شوې ميوه وخوړه. د مکې فتحه هغه لويه کاميابي او ګټاټ وٴ چې په لاسته راوړو سره يې د تاريخ مسير بدل شو، په دغه سوبې سره ماضي له راتلونکې نه بيله شوه، د جاهليت په زمانه کې قريش د ديني زعامت د سمبول په حيث پيژندل کيدل، خلکو ټولو هغوی د دين انصار بلل، ټولو د دوی ديني زعامت منلی وٴ، خو اوس د همدې ديني مشرانو (قريشو) تسليمي او له اسلام نه پيروي په حقيقت کې په ټوله عربي جزيره کې د بت پرستۍ د له مينځ تللو په معنی وه، حقيقت هم همداسې وٴ په همدې فتحې سره له جزيرې نه د بت پرستۍ ټغر ټول شو.

دا مرحله په دوو برخو ويشلی شو:

۱- د جهاد او قتال برخه.

۲- اسلام ته د ولسونو او قبايلو تسليمي.

دا دواړه برخې يو له بل سره اوبدل شوې، يو له بل سره تړل شوې او يو په بل کې ننوتلې دي، خو مونږ زيار ايستلی هره برخه بيله تر نظر تيره کړو، ځرنګه چې جهاد او قتال په مخکيني دور پورې ډير تړلی دی، نو ځکه مو لومړی د جهاد او قتال برخې ته ځای ورکړيدی.

د حنين غزا

مکه مکرمه د ناڅاپي او داسې حملې په ترڅ کې فتحه شوه چې عربان يې حيران کړل، شاو خوا پرتې قبيلې له فتحې نه وروسته د داسې واقعيت په وړاندې ولاړې وې چې د بدلون او تغييږ وس يې نه درلود. همدا وجه وه چې له څو زورورو، شريرو او کبرجنو پرته نورې ټولې قبيلې په اسلام مشرفې شوې. له هغې جملې نه چې کبر او سرکشي يې وکړه د هوازن او ثقيف قبيلې وې. دوی اسلام و نه مانه د مقابلې لاره يې خپله کړه، ورسره د قيس عيلان قبيلې ځينې کورنۍ لکه نصر، جشم، سعد بن بکر او د بني هلال ځينې کسان هم ملګري وو. دوی د ځان لپاره دا مناسبه و نه بلله چې اسلام ته سر کيږدي، فيصله يې وکړه چې له رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) سره په ټکر کوي. لاړل خپل مشر مالک بن عوف نضري ته ورغلل له هغه نه راټول شول او د جګړې لپاره يې ملا وترله.

د دښمن لښکرې په اوطاس کې

د دښمن ځواکونو عمومي قوماندان مالک بن عوف له خپلو لښکرو سره روان شو، له ټولو سره يې اولادونه ښځې او مالونه هم وو، مخکې تر اوطاس پورې ورسيدل. اوطاس حنين ته نژدې د هوازن قبيلې يوه دره وه. حنين او اوطاس دوې بيلې بيلې دري دي، حنين د ذي مجاز خوا ته پرته ده چې ددې ځای او عرفات د غره تر مينځ څه باندې لس ميله مسافه ده .[1]

د پوځي امورو ماهر بوډا د خپل مشر غلطي په ګوته کوي

کله چې مالک بن عوف په اوطاس کې واړول. د خلکو په مينځ کې دريد بن صمه هم وئ، نوموړی ډير زوړ، خو غيرتي، په جنګي امورو کې ماهر او تجربه کار سپين ږيری وئ. دريد له خپلو ملګرو نه پوښتنه وکړه اوس مونږ په کومه دره کې پراته يوو؟ دوی

---

[1]. فتح الباري ۸/ ۲۷ - ۴۲

ورته وويل: په اوطاس دره کې يوو. دغه زاړه تجربه کار جنګي ماهر وويل: دا د آسونو د جنګ لپاره ډيره مناسبه دره ده، نه تيږې شته پکې نه ډيره نشيبه او ځوړه ده، نه ډيره کلکه ده او نه ډيره نرمه، ښه آس ځغلولو ته برابره ده.

بيايې وويل دا څه دي د اوښ آواز مې تر غوږو شو، د خرو او پسونو آوازونه هم اوريدل کيږي، د ماشومانو ژړاګانې هم اورم دا څه دي؟ خلکو ورته وويل چې مالک بن عوف امر کړی چې ټول خلک بايد له ځان سره ښځې، اولادونه او مالونه ټول راولي. مالک يې راوغوښت او ددې کار د علت په هکله يې پوښتنه تري وکړه. مالک ورته وويل زما هدف دا دی چې له خلکو سره چې مالونه او اولادونه وي، نو دوی به سخته جګړه او مقاومت وکړي، له خپل اولاد او مال نه د دفاع پخاطر به هر څه کوي. درید ورته وويل: ربښتيا چې شپون يې يعنې د مشرتابه وړ نه يې، څوک چې يو ځل ماتې وخوري بيايې څه شی راټينګولې شي؟! که بری ستا وي نو يوازې وسله وال کسان به دې په درد وخوري او که ماتې درباندې ګډه شوه نو د مال، اولاد او ښځو تاوان به هم در اوښتی وي، رسوا او شرميدلی به وي. بيا يې د ځينو سردارانو او قبيلو نه پوښتنه وکړه بيا يې ورته وويل: اې مالکه! تا د بنې هوازن ماشومان او ښځې د سپرو تورزنو مقابلې ته راوستلې دي، دا مناسب کار ندی. دوی محفوظ، خوندي او د قوم هسکو مينو ته وليږه، د دوی له ليږلو نه وروسته په آسونو پښه واړوئ او له بې دينانو سره وجنګيږئ، که بريالي شوئ نو وروسته پاتې شوي به درسره يو ځای شي، او که ماتې مو وخوړه، نو ستاسې اولاد، ښځې او مالونه خو به خوندي پاتې شوي وي! مالک ددې زاړه خبره ونه منله، د هغه نصيحت ته يې غوږ ونه نيو، او ويې ويل: زه داسې نه شم کولی ته زوړ شوی يې، عقل دې هم زوړ شويدی، قسم په خدای چې هوازن به يا زما اطاعت کوي او يا به دا توره پخپله خپله منډم تر څو له شا مې ووزي. حقيقت دا دی چې اصلاً مالک نه غوښتل د درید نوم لوړ شي، او پدې جګړه کې دده رول وي، پدې خبرې سره د هوازن خلکو وويل: مونږ ستا پيروي کوو. درید وويل چې: دا داسې جګړه ده چې نه پوره ونډه پکې لرم او نه پوره ورنه بيل يم بيا يې دا شعر ووايه:

يا ليتني فيها جذع اخب فيها و اضع

اقود وطفاء الدمع كانها شاة صدع

[کاشکی زه پدې ورځ ځوان وای، برید، حمله او منډه ترړه مې کولی، هغه آس مې ځغلولی چې د متوسط يا برابر پسه په شان اوږده ويښتان لري.]

د دښمن جاسوسان

په همدې وخت کې هغه جاسوسان هم بيرته راورسيدل کوم چې مالک د مسلمانانو د حالاتو معلومولو پخاطر ليږلي وو. هغوی په ډير بد حالت کې راغلي وو، ټوک ټوک وو، روحيات يې لويدلي وو، مالک ورته وويل: خوار شئ دا څه درباندې شوي؟ هغوی ورته وويل: مونږ وليدل چې سپين سپين خلک په تور بخونو آسونو سپاره دي، ددې منظر په ليدو سره له واکه ووتلو نور ټينګ نه شوو او پدې حالت ګرفتار شو.

د رسول الله (ﷺ) استخبارات

وروسته له هغې چې رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) د دښمن ځواکونو له تحرکاتو نه خبر شو، ابو حدرد اسلمي ته يې وظيفه ورکړه چې لاړ شي د دښمن په مينځ کې ځای ونيسي او مکمل احوال يې راوړي.

رسول الله (ﷺ) د حنين په لور

د آتم هجري کال د شوال په شپږمه د شنبې په ورځ مکې ته د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) د راتګ په نولسمه ورځ، اسلامي لښکر چې شميره يې دولس زره تنه وه له مکې نه د حنين په لور روان شو. په اسلامي لښکر کې لس زره هغه مسلمانان وو چې د مکې په فتحه کې يې برخه درلوده او پاتې دوه زره نور د مکې خلک وو چې زياتره يې تازه په اسلام مشرف شوي وو. رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) عتاب بن اسيد په مکه کې خليفه وټاکه، له صفوان بن اميه نه يې چې لا مشرک وٴ سل زغرې عاريت واخيستلې او روان شو.

د شپې له خوا يو سپور راغی خبر يې راوړ چې: زه فلاني غره ته تللی وم، ومې ليدل چې هوازن قبيله ټوله له اولادونو، ښځو او مالونو سره راوتلې ده. رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) تبسم وکړ او ويې فرمايل: (**تلك غنيمة المسلمين غدًا إن شاء اللّه**). ان شاء الله سبا ته به دا ټول شيان د مسلمانانو له خوا ولجه نيول کيږي. په همغه شپه انس بن ابي مرثد غنوي[1] په رضا کارانه توګه پيره کوله.

---

[1]. سنن ابي داود و شرحه عون المعبود ۲/ ۳۱۷

مسلمانانو د لاړې په اوږدو کې يوه لويه شنه ونه وليدله چې ذات انواط بلل کيدله. عربانو به په هغې باندې خپلې وسلې را ځړولې او هملته به يې ذبحه کوله او څه وخت به ورسره پاتې کيدل. له مسلمانانو نه هم ځينو وويل: يا رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم)! مونږ ته هم لکه د مشرکينو په شان يوه ذات انواط جوړه کړه! رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) ورته وفرمايل: (**اللّه أكبر، قلتم والذي نفس محمد بيده كما قال قوم موسي: اجعل لنا إلها كما لهم آلهة، قال: إنكم قوم تجهلون، إنها السَّنَنُ، لتركبن سُنَنَ من كان قبلكم**)[1].

الله اکبر، تاسې خو داسې خبره وکړه لکه څرنګه چې د موسى قوم موسى (عليه السلام) ته کړې وه. ورته ويلي يې وو، مونږ ته هم د دوی د خدايانو په شان خدای جوړ کړه! په څو اب کې موسى (عليه السلام) ورته ويلي وو چې تاسې نه پوهيږئ، ربښتيا ده چې دا هماغه طريقه ده تاسې به حتما د پخوانيو قومونو لارې او طريقې تعقيبوئ.

ځينو مسلمانانو چې د لښکر دا دومره زيات شمير ليدلی و؛ نو ويل يې نن خو به بالکل ماتې ونه خورو، خو دا خبره په رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) ډيره سخته تمامه شوې وه.

اسلامي لښکر تر غلچکي برید لاندې

د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) لښکر د چارشنبې په شپه د شوال په لسمه حنين ته ورسيد. خو مالک بن عوف له مسلمانانو نه مخکې هلته رسيدلی وؤ، خپل عسکر يې د درې په مهمو ځايونو، لارو او تنګيو کې ځای په ځای کړي وو، امر يې ورته کړی و چې دې ځای ته د مسلمانانو په رسيدو سره سم بايد برید ورباندې وشي او په غشو وويشتل شي.

رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) سهار وختي خپل لښکر تيار کړ، جنډې او بيرغونه يې وترڼ په مسلمانانو يې وويشل، او په دره کې مخ په وړاندې روان شول. په همدې وخت کې په کمين کې ناست دښمن د غشو باران پرې جوړ کړ، سخته حمله يې ورباندې وکړه، مسلمانان مجبور شول شا تګ وکړي، خو منظم شاتګ نه، بلکه ماتې ورباندې ګډه شوه هر چا خپله مخه ونيوه، يو په بل خبر نه و، ابو سفيان

---

[1]. ٢- الترمذي.

چې نوی مسلمان شوی وٴ ددې حالت په لیدو سره وویل اوس یې والله که څوک په سره بحیره کې هم راټینګ کړای شي!

جبله یا کلده چې د جنید زوی وٴ وویل: خبردار! دا دی نن جادو او سحر باطل او مات شو. رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) ښې طرف ته مخ واړاوه او فرمایل یې: (**هَلُمُّوا إلى أيها الناس، أنا رسول الله، أنا محمد بن عبد اللّه**) اې خلکو! زما خوا ته راشئ، زه رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) یم، زه محمد بن عبدالله یم. پدې شیبو کې یوازې کم شمیره مهاجرین او د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) د کورنۍ غړي ورسره پاتې وو. همدلته یو ځل بیا د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) بې مثله غیرت او میړانه په اثبات ورسیدله په پوره جرات او شجاعت سره یې مقابله کوله او فرمایل به یې: (**أنـــــا النبي لا كَذِبْ ** أنا ابـــن عبد المطلب**) زه ریښتونی پیغمبر یم، زه د عبدالمطلب زوی یم.

رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) د غره په شان ولاړ وٴ ابو سفیان بن حارث یې د قاطرې واګې نیولې وې، عباس (رضي الله عنه) یې رکاب ته ولاړ وٴ د جګړې په همدې سختو لحظاتو کې رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) راکوز شو او له خپل رب نه یې د بري سوال وکړ، ویې ویل: (**اللّهم أنزل نصرك**). یا ربه! بری راکړې، نصرت را په برخه کړې!

مسلمانان بیرته راګرځي

رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) خپل تره عباس (رضي الله عنه) ته چې ښه لوړ غږ یې درلود امر وکړ چې خلکو ته چیغه وکړي. عباس (رضي الله عنه) وایي: ما په لوړ آواز غږ وکړ: چیرته دي د بیعه الرضوان یاران؟ وایي: ددې آواز په اوریده سره هغوی داسې را تاو شول او دومره په بیړه راغلل لکه چې غوا پخپل خوسي پسې ورځي، ټولو وویل: لبیک، لبیک[1]. ځینو به کوشش کاوه چې د خپل اوښ مخه راواړوي خو نه به یې شوای کولی، نو له اوښ نه به راکوزیده، هغه به یې پریښود، له خپلې زغرې او توري سره به د آواز په لور راته، پدې ترتیب سره تقریبا سل تنه راټول شول او په دښمن یې ورودانګل.

---

[1] .صحیح مسلم ۱۰۰/۲.

بيايې انصارو ته بلنه ورکړه، غږ يې وکړ اې انصارو! اې انصارو! بيا يې يوه يوه قبيله يادوله پدې ترتيب سره خبره بني حارث بن خزرج ته ورسيده.

مسلمانان ټول يو په بل پسې راتلل، ټول ګروپ ګروپ بيرته د جګړې ميدان ته راغلل، سخته جګړه پيل شوه، رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) چې د جګړې حالت ولید ويې فرمايل:

(**الآن حَمِي الوَطِيسُ**) اوس د جګړې تنور ګرم شو.

بيا يې يو موټی خاورې واخيستلې او د مشرکانو پر مخونو يې وروشيندلې او ويې فرمايل (**شاهت الوجوه**) [بد دې وي دا مخونه.] دا خاورې د مشرکينو په سترګو کې ولويدلې د ټولو سترګې ډکې شوې او په همدې ډول ورو ورو د کفر په لښکر کې ماتې ګډه شوه او د مقابلې توان يې له لاسه ورکړ.

د دښمن ماتې

د همدې يو موټي خاورو له شيندلو نه لږ وروسته په دښمنانو کې ماتې ګډه شوه، يوازې له ثقيف قبيلې نه ۷۰ تنه ووژل شول. مسلمانانو د هغوی مال، وسله، اهل اولاد ټول غنيمت کړل.

دې حالت ته الله تعالى داسې اشاره فرمايي:

((**لَقَدْ نَصَرَكُمْ اللَّهُ فِي مَوَاطِنَ كَثِيرَةٍ وَيَوْمَ حُنَيْنٍ إِذْ أَعْجَبَتْكُمْ كَثْرَتُكُمْ فَلَمْ تُغْنِ عَنْكُمْ شَيْئاً وَضَاقَتْ عَلَيْكُمْ الأَرْضُ بِمَا رَحُبَتْ ثُمَّ وَلَّيْتُمْ مُدْبِرِينَ (۲۵) ثُمَّ أَنزَلَ اللَّهُ سَكِينَتَهُ عَلَى رَسُولِهِ وَعَلَى الْمُؤْمِنِينَ وَأَنزَلَ جُنُوداً لَمْ تَرَوْهَا وَعَذَّبَ الَّذِينَ كَفَرُوا وَذَلِكَ جَزَاءُ الْكَافِرِينَ**)) (التوبة: ۲۵ – ۲۶)

[الله تعالى له تاسې سره په ډيرو ځايونو کې مدد کړيدی، او خصوصا د حنين په ورځ چې غره کړی تاسې ډيروالي ستاسې، دغه ډيروالي ستاسې هيڅ درد دوا نه کړ، له ويرې نه دا ارته ځمکه درباندې تنګه شوه، بيا مو شا کړه دښمن ته بيا الله خپل تسکين نازل کړ پر رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) او مؤمنانو باندې، او داسې لښکرې يې راوليږلې چې نه وې ليدلې تاسې او کافرانو ته يې عذاب او جزا ورکړه، د کافرانو سزا همدا ده.]

مسلمانان په دښمنانو پسې

دښمن ماتې وخوړه، ځيـــنې يې طائف، نور يې نخله او يوه ډله يې اوطاس ته وتښتيدل. رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) ابو عامر اشعري د يوه ګروپ په مشرۍ اوطاس ته وليږه. هلته څه کمه جګړه وشوه مشرکينو بيا ماتې وخوړه، خو ابو عامر (رضي الله عنه) هم په شهادت ورسيد.

د سپرو مسلمانانو يو بل ګروپ په هغو مشرکينو پسې ورغی چې نخلې ته تښتيدلي وو. هلته ربيعه بن رفيع هغه زوړ درید بن صمه وواژه. زيات شمير مشرکان طائف ته وتښتيدل چې رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) د غنيمتونو له ټولولو وروسته هلته ورپسې ورغی.

غنيمتونه يا ولجې

ددې غزا ولجې ډيرې زياتې وې، پدې ولجو کې ۶۰۰۰ اسيرانې (وينځې) ۲۴۰۰۰ اوښان، له څلويښت زرو نه زيات پسونه، ۴۰۰۰ اوقيه نقره يا سپين زر(اوقيه هغه وخت د زرو د اندازې يو مقياس ؤ چې تقريبا له ۷ مثقالو سره برابره ده) چې ټول ۱۶۰ زره درهم کيدل. رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) امر وکړ چې ټول غنيمتونه په جعرانه کې راټول شي، مسعود بن عمرو غفاري ته يې وظيفه ورکړه چې د هغې ساتنه وکړي، او د طائف له غزا نه مخکې يې د ويشلو حکم نه وکړی.

د اسيرو ښځو په ډله کې شيماء بنت حارث السعديه چې د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) رضاعي خور کيدله هم وه کله چې هغه راوستل شوه، رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) خپل چادر ورته وغواړاوه، شيماء ورباندې کيناسته، نيکي يې ورسره وکړه او خپل قوم ته يې وليږله.

د طائف غزا

د طائف غزا په حقيقت کې د حنين د غزا ادامه ده، ځکه د هوازن او ثقيف ماتې خوړلې لښکرې له خپل قوماندان مالک بن عوف نضري سره يو ځای لاړې، او ټول په طائف کې ميشته شول، هملته يې په کلاګانو کې ځايونه ونيول. رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) چې په جعرانه کې د ولجو له ټولولو نه فارغ شو د همدې آتم کال په شوال مياشت کې د طائف په لور وخوځيد.

خالد (رضي الله عنه) يې له زرو مخکښانو سره مخکې وليږه، رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) هم ورپسې روان شو له نخله يماني، قرن المنازل ورپسې له ليه نه تير شو، هلته د مالک يوه کلا وه هغه يې ړنګه کړه، مخکې لاړ طائف ته له رسيدو سره سم يې د طائف کلا محاصره کړه، نژدې يې سنګر ورته ونيو. ددغه کلابندۍموده لنډه نه وه. مسلم له انس (رضي الله عنه) نه په روايت سره دا موده څلويښت (۴۰) ورځې ښودلې ده، خو سيرت ليکونکو دغه موده د روياتو په خلاف سره شل ورځې، يا ۱۸ ورځې او يا ۱۵ ورځې ښودلې ده.[۱]

د محاصرې په دوران کې دواړو خواوو يو پر بل د تيرو او غشو وارونه کول، په لومړي سر کې مسلمانان د محاصره شويو کفارو له خوا د غشو تر سخت بريد لاندې راغلل. يو شمير ورنه ټپيان او ۱۲ تنه شهيدان شول، په پاې کې مجبور شول خپل سنګر بدل کړي او په هغه ځای کې يې نوې قرارګاه جوړه کړه چيرته چې اوس د طائف جومات دی.

رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) منجنيق يا د هغه وخت توپ نصب کړ په مشرکينو يې ګوزارونه وکړل، کلا درز وکړ، او څو تنو مسلمانانو د هغه وخت له ټانک نه په استفادې سره له همدې درز نه کلا ته د ننوتلو هڅه وکړه ترڅو اور ورته کړي، خو کفارو په اور سرې شوې اوسپنې پرې واچولې، هغوی له ټانګونو نه راووتل او کفارو په غشو سره څو تنه ورنه په شهادت ورسول.[۲]

---

(1). فتح الباري ۴۵/۸ .

(2). د هغه وخت ټانک د اوسني وخت د ټانک په شان نه و، بلکه دا به له لرګي نه جوړيده خلک به پکې ننوتل، بيا به د کلا بيخ ته ورټيل وهل کيده چې هلته پداسې حال کې چې پکې ناست کسان ديوال سوری کړي او يا له شته سوريو نه کلا ته د ننه شي.

پدې وخت کې رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) له نوي جنګي تاکتیک نه کارواخیست او داسې اقدام یې وکړ چې کفار دې ته اړ باسي تسلیم شي. پدې لړ کې یې د هغوی د انګورو د ونو او تاکونو قطع کولو او سیځلو امر وکړ، تاکونه پرې او وسوځول شول، همدا وه چې ثقیف غوښتنه وکړه چې د خدای پخاطر او د خپلوی په اساس دغه سلسله نوره بنده کړئ. رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) د دوی غوښتنه ومنله. د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) له خوا آواز وشو هر غلام چې له کلا نه راووزي او زمونږ لوري ته راشي هغه آزاد دی. پدې اعلان پسې ۲۳ تنه راغلل[1]. پدې ډله کې یو هم ابوبکره وٴ، هغه د طائف له کلا نه راکوز شوی وٴ، او د لاندې د یوه څاه په څرخ باندې ناست وٴ پښې یې ځوړندې کړې وې، له همدې امله رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) د ابو بکره نوم ورباندې کیښود. دا ټول غلامان یې آزاد کړل، هر یو یې یوه یوه مسلمان ته وسپاره تر څو د دوی خرڅ و خوراک ورکړي، پدې کار سره کفار په غوسه شول، او دا ډیر سخت ورباندې تمام شو.

محاصره اوږده شوه، د کلا فتحه کول سخت او مشکل وٴ، د کفارو په غشو او سرو شویو اوسپنو سره یو شمیر مسلمانان زخمیان او شهیدان شول، په کلا کې د ننه له کفارو سره د یوه کال آذوقه هم وه، له بیرون نه هم لاره موندل ورته ګران و. رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) له نوفل بن معاویه سره مشوره وکړه، نوفل ورته وویل: هغوی لکه ګیدړې په غارونو کې د ننه دي، که همدلته انتظار وباسې نو وبه یې نیسې، او که خوشي یې کړې نو زیان نه شي در رسولئ. همدا وه چې رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) د محاصرې پاې ته رسولو فیصله وکړه، عمر (رضي الله عنه) ته یې امر وکړ چې خلکو ته غږ وکړي چې: ((ان شاء الله سبا به روانیږو)). دا اعلان مسلمانانو ته عجیب ښکاره شو، سخت ورباندې تمام شو، ویې ویل: ځو به خو مخکې لدینه چې دا کلا فتحه کړو!! رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) وفرمایل: (**اغدوا علی القتال**).ځئ، سبا هم جنګ وکړئ.

مسلمانان سهار جنګ ته لاړل، یو شمیر ورنه تپیان شول. بیا رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) پخپله اعلان وکړ: (**إنا قافلون غداً إن شاء اللّه**).[ان شاء الله سبا به ستنیږو] مسلمانان دا ځل خوښ شول او ټول روان شول. رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) تبسم کاوه، او کله یې چې کوچ کاوه امر یې وکړ چې داسې وایي :

---

[1] . بخاري۲/۶۲۰ .

(آيبون تائبون عابدون، لربنا حامدون). يعنې په داسې حال کې بيرته ځو چې توبه ګار يوو، عبادت کوونکي او د خپل رب ثنا ويونکي يوو. چا عرض وکړ يا رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم)! ثقيف ته بنيري وفرمايه. رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) وفرمايل: (اللّهم اهد ثقيفا، وائت بهم).اې ربه ثقيف ته هدايت وکړې، او زما حضور ته يې راولې.

په جعرانه کې د ولجو ويشل

رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) له طائف نه ستون شو او څه د پاسه لس ورځې په جعرانه کې پاتې شو، غنيمت شوي مالونه يې نه ويشل انتظار يې يوست چې کيداى شي د هوازن نمايندګان راشي او خپل مالونه بيرته ور وسپاري، خو څوک را معلوم نه شول. رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) د غنيمتونو ويشل پيل کړل، تر څو د مکې مشران د قبايلو سرداران او نور مخور چې ډير حريص وو، پدې مالونو سره خوښ چوپ او قانع کړي. لومړى يې هغو کسانو ته چې نوي مسلمان شوي وو او ددې ضرورت ليدل کيده چې زړونه يې راجلب شي، تشويق او ترغيب شي، بيا برخه ورکړه ، دې ډول خلکو ته مؤلفت القلوب ويل کيږي، همدوى ته يې له نورو نه مخکې ښه لويه برخه وربيله کړه.

ابو سفيان ته يې څلويښت اوقيې نقره (سپين زر) او سل اوښان ورکړل، خو لدې سره هم ابو سفيان وويل: زوى مې يزيد؟ يعنې زوى ته مې هم برخه ورکړه! رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) يې زوى ته هم همدومره برخه ورکړه. ابو سفيان بيا وويل: هغه بل زوى مې معاويه؟ هغه ته هم څه ورکړه! هغه ته يې همدومره برخه ورکړه. ورپسې يې حکيم بن حزام ته سل اوښان ورکړل، هغه د نورې برخې سوال وکړ، نور هم همدومره اوښان ورکړل شول. صفوان بن اميه ته يې هم درى ځله سل، سل، اوښان يعنې ټول ۳۰۰ اوښان ورکړل. دا په شفاء نومي کتاب کې راغلي[1].

او حارث بن کلده ته يې هم سل اوښان ورکړل، همدا راز د قريشو او نورو قبايلو سردارانو ته يې سل، سل اوښان ورکړل، نورو ته يې پنځوس، پنځوس اوښان، ورپسې څلويښت، څلويښت اوښان ورکول، خلکو به ويل محمد (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) دومره بخښش ورکوي لکه چې له فقر نه بالکل ويره نلري.

په همدې وخت کې کوچيانو يو ځل چور جوړ کړ، په رسول الله (صلى الله عليه و اله و

[1] . الشفاء بتعريف حقوق المصطفى للقاضي عياض ۸٦/۱.

صحبه و سلم) ورټول شول هر يوه مال ورنه غوښت، رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) مجبور شو د يوی ونې خوا ته ودريد ، چادر يې په زور ورنه کش شو، ويې فرمايل: (**أيها الناس، ردوا علي ردائي، فو الذي نفسي بيده لو كان عندي عدد شجر تهامة نعماً لقسمته عليكم، ثم ما ألفيتموني بخيلاً ولا جباناً ولا كذاباً**).

[اې خلکو! چادر مې پريږدئ، چادر مې راکړئ، قسم په هغه ذات چې زما مرګ او ژوند يې په لاس کې دی، که د تهامې د ونو په اندازه څاروي م ي لرلئ ټول به مې درباندې ويشلي وای، بله دا چې تاسې خو زه کله هم بخيل، ډارن او دروغجن نه يم ليدلئ.]

ورپسې د خپلې اوښې خوا ته ودريد ، له بوکام نه يې يو ويښته راويوست په ګوتو کې يې نيولی و فرمايل ي:(**أيها الناس، واللّه مالي من فيئكم ولا هذه الوبرة إلا الخمس، والخمس مردود عليكم**).

[اې خلکو! په خدای قسم که مې لدې غنيمتونو نه ددې ويښته په اندازه هم څه شی اخيستي وي، يوازې خمس (پنځمه برخه) زما حق ده، ګورئ چې هغه هم بيرته تاسې ته درکول کيږي.]

مؤلفه القلوب ته لدې لويو لويو برخو ورکولو نه وروسته يې زيد بن ثابت ته امر وکړ چې غنيمتونه او خلک را حاضر کړي، ټول مالونه يې وويشل، چې هر پلي کس ته څلور اوښان، څلويښت پسونه ورسيدل، د سپرو برخه دوولس اوښان او ۱۲۰ پسونه وو. رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) په ډيره حکيمانه توګه دا مالونه وويشل، ځکه ډير داسې کسان شته چې د خيټې له لارې اسلام ته راوستل کيدی شي، يعنې له مادي لارو نه د حق په لور رابلل کيدی شي، لدې ډول کسانو سره عقل او منطق کارنه کوي، لومړی به يې خيټه ور ډکوي بيا به يې حق ته رابول ي، دا کسان هغو څارويو ته پاتې کيږي چې په شنو وښو يا شفتلې سره يې په لاره بوولی شې، دا ډله انسانان هم همداسې مادي تشويقونو او اسبابو ته ضرورت لري تر څو ورو ورو له اسلام سره الفت او مينه پيدا کړي او په حق اعتراف وکړي.[1]

---

[1]. فقه السيره ص ۲۹۸ - ۲۹۹ .

د رسول الله (ﷺ)لدې ويش نه د انصارو خفګان

په پيل کې اصحاب (رضي الله عنهم) د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) ددې حکيمانه ويش او مدبرانه سياست په راز او ګټو پوه نه شول ددې ويش تر شا پټ اهداف يې درک نه شوای کړی، نو همدا وه چې ځينې اعتراضونه او انتقادات راولاړ شول. پدې ويش کې انصارو د زيات تاوان احساس کاوه، ځکه هغوی ته د حنين له بخششونو نه هيڅ ونه رسيدل. دوی خو هغه کسان وو چې د سختۍ او ماتې په وخت غږ پرې وشو او دوی په ډيره بيړه دجګړې ډګر ته راودانګل، جهاد يې کاوه او له رسول (صلى الله عليه وسلم) نه کلکه دفاع وکړه. او د همدوی دمقاومت له برکته ماتې په برې بدله شوه، خو اوس چې د ولجو د ويشلو وخت شو د همغو فراريانو او له جګړې نه په شا شويو کسانو لاسونه ډک دي، ډير بخششونه ورکړل شول، خو دوی (انصارو) ته هيڅ هم په برخه ونه رسيدل.[۲] دا تصور ددې سبب شو چې ناراضه شي.

ابن اسحاق له ابو سعيد خدري (رضي الله عنه) نه روايت کوي وايي: کله چې رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) دا بخششونه په قريشو او نورو عربي قبيلو وويشل، او انصارو ته يې هيڅ برخه ورنکړه، دوی خفه شول او پدې هکله خبرې او پوښتنې راولاړې شوې. ځينو وويل: اوس خو رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) له خپل قوم سره يو ځای شو. سعد بن عباده (رضي الله عنه) رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) ته ورغی او عرض يې وکړ:يا رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم)! ستا لدې ويش نه انصار خفه شويدي، تا بخششونه خپل قوم ته ورکړل، نورو عربانو ته دې هم لويې برخې ورکړې، خو انصارو ته دې هيڅ ورنکړل! رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) وفرمايل :

(**فأين أنت من ذلك يا سعد؟**) ستا څه نظر دی اې سعده! ده وويل: زه خو هم د همدې قوم يو غړی يم. رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) ورته وفرمايل: (**فاجمع لي قومك في هذه الحظيرة**). لاړ شه او خپل قوم دې پدې پټه غالي کې راته راغونډ کړه. سعد لاړ او انصار يې په يوه پټه غالي کې راټول کړل، يو شمير مهاجرين

(2). فقه السيره ص ۲۹۸_۲۹۹ .

هم راغلل هغوی ته يې اجازه ورکړه ورسره کيناستل، ورپسې نور راغلل، خو هغوی ته يې اجازه ورنکړه. کله چې ټول راغونډ شول، سعد ورغی او رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) ته يې وويل چې انصار را ټول شويدي. رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) تشريف راوړ حمد او ثنا يې وويله بيايې وفرمايل: (**يا معشر الأنصار، ما قَالَةٌ بلغتني عنكم، وَجِدَةٌ وجدتموها على في أنفسكم؟ ألم آتكم ضلالاً فهداكم اللّه؟ وعالة فأغناكم اللّه؟ وأعداء فألف اللّه بين قلوبكم؟**) قالوا: **بلى، اللّه ورسوله أمَنُّ وأفْضَلُ**. اې انصارو! ستاسې يوه خبره راته رارسيدلې ده، لکه چې تاسې له ما خفه شوي ياستئ؟ آيا داسې نده چې زه تاسې ته پداسې حالت کې درغلم چې تاسې ګمراهان وئ الله تعالی هدايت درته وکړ، تاسې بې وسه وئ الله تعالی وس او دارايي در کړه، يو د بل دښمنان وئ الله تعالی سره دوستان کړئ؟ انصارو وويل هو همداسې ده، پر مونږ باندې د الله تعالی او رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) زياته مهرباني او کرم دی او له هر څه نه راته غوره دي. بيا يې زياته کړه: (**ألا تجيبوني يا معشر الأنصار؟**) اې انصارو ولې ځواب نه را کوئ؟ دوی وويل: د څه ځواب در کړو يا رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم)؟! پر مونږ د الله او رسول (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) لوی فضل شويدی. رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) وفرمايل: (**أما واللّه لو شئتم لقلتم، فصَدَقْتُمْ ولصُدِّقْتُمْ: أتيتنا مُكَذَّبًا فصدقناك، ومخذولاً فنصرناك، وطريداً فآويناك، وعائلاً فآسَيْنَاك**).

قسم په الله که غواړئ چې ووايئ او که ووايئ رينبتوني به هم وئ، ووايئ چې يا رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم)! ته مونږ ته پداسې حالت کې راغلې چې خلکو دروغ در پورې تړل او مونږ دې تصديق وکړ، چا مرسته نه درسره کوله مونږ دې مدد وکړ، چا ځای نه درکاوه او مونږ ځای درکړ، محتاج وې مونږ دې مرسته وکړه. بيا يې زياته کړه: (**أوَجَدْتُمْ يا معشر الأنصار في أنفسكم في لَعَاعَة من الدنيا تَألفَّتُ بها قوماً ليُسْلِمُوا، ووَكَلْتُكم إلى إسلامكم؟ ألا ترضون يا معشر الأنصار أن يذهب الناس بالشاة والبعير، وترجعوا برسول اللّه صلى الله عليه**

وسلم إلى رحالكم؟ فوالذي نفس محمد بيده، لولا الهجرة لكنت امرأ من الأنصار، ولو سلك الناس شِعْبًا، وسلكت الأنصار شعباً لسلكت شعب الأنصار، اللّهم ارحم الأنصار، وأبناء الأنصار، وأبناء أبناء الأنصار). [اې انصارو د ناچيزې مادي متاع په سبب له ما خفه نه شئ. ما غوښتل پدې بې ارزښته متاع سره د خلکو زړونه واخلم تر څو اسلام راوړي ستاسې په اسلام ډاډ څرګند شوی. اې انصارو! آيا دا مو نده خوښه چې خلک له اوښانو او پسونو سره روان وي او تاسې له رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) سره خپلې مېنې ته ستانه شئ؟ قسم په هغه ذات چې زما نفس د هغه په واک کې دی، که هجرت نه وی نو زه به له انصارو نه يو فرد وای، که ټول خلک په يوه لاره روان شي او انصار په بله زه به د انصارو په لاره ځم. اې الله ته په انصارو رحم وکړه، د انصارو په زامنو رحم وکړه او د انصارو په لمسيانو رحم وکړه.] پدې خبرو سره ټولو دومره وژړل چې ږيرې يې په اوښکو لمدې شوې، ټولو وويل: زمونږ لپاره رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) کافي دی، همدا عظيمه برخه راته بس ده. بيا رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) تشريف يووړ. او دوی هم سره تيت شول[1].

د هوازن پلاوی

وروسته له هغې چې غنيمتونه وويشل شول، د هوازن قبيلې نمايندګان پداسې حال کې د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) حضور ته راغلل چې په اسلام مشرف شوي وو. دوی ۱۴ کسان وو، مشر يې زهير بن صُرَد وٴ، ابو بُرقان چې د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) رضاعي تره کيده هم ورسره وٴ. د نوموړي د نوم په هکله څه اختلاف شته ځينو يې نوم ابومروان او ابو ثروان هم بللی دی. هغوی له رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) نه سوال وکړ چې احسان ورسره وکړي بنديان او مالونه يې بيرته ورکړي، او داسې خبرې يې وکړې چې د ټولو زړونه پرې وسوځيدل. ابن اسحاق وايي: پدې ډله کې نهه سرداران وو، چې اسلام يې راوړ، بيعت يې وکړ، بيا يېعرض وکړ: يا رسول الله (صلى الله عليه وسلم)! د تاسو له خوا په نيول شويو کسانو کې مينډې، خويندې، تروريانې(عمه ګانې او خاله ګانې دي،چې دا ټولې د قومونو ناموس او غيرت شميرل کيږي:

[1]. ابن هشام ۴۹۹/۲_۵۰۰. په بخاري کی هم ديته ورته روايت ذکر شويدی ۶۲۰/۲_۶۲۱.

فامنن علينا رسول اللّه في كـــرم ** فإنـــك المرء نرجـــوه وننتظر

امنن على نسوة قد كنت ترضعها ** إذ فوك تملؤه من محضها الدرر

[يا رسول الله(عليه السلام) د خپل كرم له مخې پر مونږ منت كيږده، ته هسې شخصيت يې چې مونږ تمه او هيله درته لرو، پر هغو ميرمنو احسان وكړه چې تا يې شيدې خوړلې او رضاعي اړيكې ورسره لري.]

رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) ورته وفرمايل: : (**إن معي من تـــرون، وإن أحب الحديث إلى أصدقه، فأبناؤكم ونساؤكم أحب إليكم أم أمـــوالكم؟**) له ماسره خو دغه كسان شته چې تاسې يې وينئ، ربښتيا خبرې ډيرې غوره ګڼم، دا راته ووايئ چې خپل اولادونه او ښځې ډيرې درباندې ګراني دي او كه خپل مالونه؟ دوی وويل: مونږ هيڅ شی له خپل نسب،ا ولاد ، حسب او شرف سره نه برابره وو. رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) وفرمايل: (**إذا صليت الغداة ـــ أي صلاة الظهر ـــ فقوموا فقولوا: إنا نستشفع برسول اللّه صلى الله عليـــه وســـلم إلى المـــؤمنين، ونستشفع بالمؤمنين إلى رسول اللّه صلى الله عليه وسلم أن يرد إلينا سبينا**).كله مو چې د ماسپښين لمونځ ادا كړ پورته شئ او ووايئ چې مونږ رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) مسلمانانو ته او مسلمانان رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) ته شفيع وړاندې كوو چې زمونږ بنديان راته آزاد كړي. د ماسپښين لمونځ چې وشو، هغوی پورته شول او همدا خبرې يې وكړې، رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) وفرمايل: : (**أما ما كان لي ولبني عبد المطلـــب فهـــو لكـــم، وسأسأل لكم النـــاس**).كوم شی چې په ما او بني مطلب پورې اړه لري هغه ټول ستاسې، او ستاسې لپاره له نورو خلكو نه همداسې غوښتنه كوم. مهاجرينو او انصارو وويل: له مونږ سره چې څه شيان شته هغه ټول د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) دي، خو **الأقْرَع بن حابس** وويل: زه او بنو تميم دا مالونه او شيان بيرته نه وركوو. **عُيَيْنَة بن حِصْن** هم وويل: زه او بنو فزاره هم دا كار نه كوو. عباس بن مِرْدَاس هم همدا ډول خبره وكړه ويې ويل: زه او بنو سُلَيْم هم دا شيان نه مستردوو، خو

بنو سليم وويل: زمونږ شيان د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) دي. عباس ورته وويل: تاسې زه توهين کړم. رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) وفرمايل: (**إن هؤلاء القوم قد جاءوا مسلمين، وقد كنت استأنيت سَبْيَهُمْ، وقد خيرتهم فلم يعدلوا بالأبناء والنساء شيئاً، فمن كان عنده منهن شيء فطابت نفسه بأن يرده فسبيل ذلك، ومن أحب أن يستمسك بحقه فليرد عليهم، وله بكل فريضة ست فرائض من أول ما يفيء اللّه علينا**). دا خلک پداسې وخت مونږ ته راغلي چې اسلام يې راوړيدی، ما خو د دوی د بنديانو په هکله څه انتظار هم ويوست اوس مې هم دوی ته اختيار ورکړ چې مالونه غواړي او که اولادونه، خو هغوی وويل هيڅ شی هم له خپلو اولادونو او ښځو سره نه برابروي، نو له چا سره چې د دوی اسير شته که خوښه يې وي هغه دې بيرته دوی ته ورکړي، او که څوک نه غواړي له خپل حق نه تير شي، نو غوره ورته دا ده چې اسير بيرته ورکړي زه به د دوی د هرې برخې په عوض کې له راتلونکي غنيمت نه شپږ برخې ورکړم. خلکوپه ځواب کې وويل: مونږ ته د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) خوښه له هرڅه نه غوره ده، يعنې دده پخاطر ټول اسيران بيرته دوی ته ورکوو. رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) وفرمايل: (**إنا لا نعرف من رضي منكم ممن لم يرض، فارجعوا حتى يرفع إلينا عُرَفَاؤكم أمركم**). تاسې لاړ شئ تر څو ستاسې مشران او قومندانان ګزارش راکړي، ځکه اوس ما ته ستاسې راضي او ناراضي معلوم نه شو. بيا ټولو د هوازن قبيلې بنديان ځوانان وو که ماشومان او که ښځې ټول يې بيرته ورکړل، يوازې عيينه چې يوه زړه ښځه يې په برخه رسيدلې وه نه ورکوله، په پای کې يې له څه بحث نه وروسته هغه هم ورکړه. رسول اکرم (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) هرې اسيرې ښځې ته يو يو جوړه قبطي جامې هم ورکړې.

عمره او مدينې ته ستنيدل

رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) په جعرانه کې د ولجو له ويش نه وروسته عمره ادا کړه او بيا يې مدينې منورې ته تشريف يووړ. عتاب بن اسيد يې په مکه مکرمه کې خپل خليفه وټاکه د کائناتو سردار د هجرت د اتم کال د ذي القعدې په ۲۴ مه بيرته مدينې ته ستون شو.

محمد غزالي وايي: د الله تعالى له لوري د څرګندې فتحې له پيرزويني وروسته مدينې

ته د ستنیدلو او لدینه آته کاله وړاندې هجرت تر منځ څومره فاصله او څومره توپیر موجود دی؟! وګ ورئ رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) پداسې حال کې مدینې ته هجرت کړی وۀ چې له مکې نه شړل شوی، تر تعقیب او څارنې لاندې وۀ، ګوښې وۀ، مسافر وۀ، د انس، الفت، ځای او ځای ګیر په لټه کې وۀ چې د مدینې اوسیدونکو ښه راغلاست ورته ووایه، دده راتګ یې نیکمرغي وبلله، ځای یې ورکړ، تود هرکلی یې ورته ووایه، اطاعت یې ورنه وکړ، ورته تسلیم شول، مرستې یې ورسره وکړې، له لارښوونو څخه یې ګټه پورته کړه، دده (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) د حضور او موجودیت په بدل کې یې د ډیرو دښمنۍ ته تن ورکړ، خو دا دی اوس آته کاله وروسته بیرته همغه مدینې ته چې مخکې بې پناه پکې لټوله پداسې حال کې روان دی چې مکه یې فتحه کړې، د جاهلیت واکمني یې نسکوره او غرور یې ورمات کړی، د کفر او شرک زور اوبه شوی، د جاهلیت غرور تر پښو لاندې شوی، همغه جاهل او ګمراه خلک په اسلام مشرف او عزتمن شوي، اسلام ورته له هر څه محترم او مقدم شوی، همدا وجه ده چې مخکینۍ ګناوې یې ورته ښبل شوې الله تعالی فرمایې:

((إِنَّهُ مَنْ يَتَّقِ وَيَصْبِرْ فَإِنَّ اللَّهَ لا يُضِيعُ أَجْرَ الْمُحْسِنِينَ)). (یوسف: ۹۰)

[ترجمه: چا چې تقوی او صبر وکړ نو الله تعالی د نیکو کارانو اجر نه ضایع کوي[1].]

[1] . فقه السیرة ۳۰۳. ددی غزواتو ـ دمکې فتحه، حنین او طائف ـ د تفصیل لپاره دا کتابونه وګورئ:زاد المعاد ۱۲۰/۲تر ۲۰۱. اپن هشام ۳۸۹/۲ تر ۵۰۱. صحیح البخاري ۲۱۲/۲ تر ۲۲۲. فتح الباري ۳/۸تر۵۸.

د مکې له فتحې وروسته
پلاوي او سرايا

لدې اوږده او بريالي سفر څخه له راتګ نه وروسته د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) حضور ته ډير پلاوي او وفدونه راغلل، همدا راز رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) مختلفو سيمو ته واليان، موظفين او بلونکي واستول. او د هغو قوتونو په خلاف يې عسکري اجرآت وکړل کوم چې اسلام ته يې سر نه ايښود، کبر يې کاوه او په واقعيت يې اعتراف نه کاوه، په لاندې کرښو کې لدې وضعې نه په لنډه توګه داسې يادونه کوو:

د زکات راټولونکي

مخکې مو وويل چې رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) د آتم هجري کال په وروستيو کې له مکې نه راستون شو، لږه موده وروسته د ۹ (نهم) هجري کال د محرم مياشت رابره شوه، رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) لاندينې کسان مختلفو قبايلو ته وليږل تر څو له هغوی نه د زکات مالونه راټول کړي:

۱- عيينه بن حصن بني تميم قبيلې ته
۲- يزيد بن حصين اسلم او غفار قبيلو ته.
۳- عباد بن بشر اشهلي سليم او مزينه قبيلو ته.
۴- رافع بن مکيث جهينه قبيلې ته.
۵- عمرو بن العاص بني فزاره ته.
۶- ضحاک بن سفيان بني کلاب ته.
۷- بشير بن سفيان بني کعب ته.
۸- ابن لتبيه ازدي بني ذبيان ته.
۹- مهاجر بن ابي اميه صنعاء ته. (نوموړی هملته ؤ چې اسود عنسي بغاوت او د نبوت دعوه وکړه).
۱۰- زياد بن لبيد حضر موت ته.
۱۱- عدي بن حاتم طيئ او بنو اسد ته.
۱۲- مالک بن نويره بني حنظله ته.
۱۳- زبر قان بن بدر د بني سعد يوی برخې ته.
۱۴- قيس بن عاصم د بني سعد بلې برخې ته.

۱۵- علاء بن حضرمي بحرين ته.
۱۶- علي بن ابي طالب نجران ته (د صدقې او جزيې را ټولولو لپاره).
دا کسان ټول د نهم هجري کال په محرم مياشت کې ندي استول شوي، بلکه ځينې يې لدې نيټې نه وروسته هغه وخت ليږل شويدي چې مربوط قبايل په اسلام مشرف شوي.
خو ددې عاملينو يا د زکات راټولونکو موظفينو د ليږلو پيل د نهم کال په محرم مياشت کې وؤ، دا هم د حديبيې ترون له مثبتو نتايجو څخه دی، او پدې دلالت کوي چې لدې ترون نه وروسته اسلام او مسلمانان ډير ځواکمن شويدي. د مکې له فتحې نه وروسته خو خلک ډله ډله په اسلام مشرف شوي او ډيرو خلکو د اسلام امر ته غاړه ايښې ده.

سرايا (جنګي ګروپونه)

رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) کله چې خوا مختلفو قبايلو ته زکات راټولونکي وليږل، له بلې خوا دا هم يو ضرورت وؤ چې بايد د عربي جزيرې امنيت په ځانګړې توګه د لارو ساتلو ته هم پاملرنه شوی وای. له همدې امله رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) دا لاندې سرايا (واړه جنګي ګروپونه) يوې او بلې خوا ته واستول:

۱- د عيينه بن حصن فزاري سريه: د نهم هجري کال د محرم په مياشت کې يې د ۵۰ سپرو په مشرۍ بني تميم ته وليږه. پدې ډله کې له انصارو او مهاجرينو څخه هيڅوک نه وو. ددې سريې سبب دا وؤ چې بنو تميم ځينې کورنۍ له زکات ورکولو نه منعې کولې، او د مسلمانانو په خلاف يې راپاروله. عيينه ورپسې ورغی، د شپې به يې مزل کاوه او د ورځې به يې کمين نيوه، تر څو ور ورسيد او په دښته کې يې حمله ورباندې وکړه هغوی وتښتيدل. عيينه وتوانيد يوولس سړي، يوويشت ښځې او ديرش ماشومان په اسارت ونيسي، هغوی يې له ځان سره مدينې ته راوستل، هلته يې د رملة بنت حارث په کور کې واچول. همدا وه چې د هغوی لس تنه مشران مدينې ته ورپسې راغلل د رسول (صلى الله عليه وسلم) دروازې ته ودريدل، چيغې يې وهلې اې محمده (صلى الله عليه وسلم)! زمونږ فرياد واوره! رسول (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) ورته تشريف راوړ، دوی له لمنې ونيو، خبرې يې ورسره پيل کړې. رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) څه وخت ورسره ولاړ وؤ، بيا يې تشريف يووړ د ماسپښين لمونځ يې ادا کړ او بيا په جومات کې کيناست. هغه خلک راغلل خپل څه ويارونه يې ياد کړل، خپل خطيب (وياند) عطارد بن حاجب يې رامخې ته کړ هغه څه خبرې وکړې. رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) د اسلام خطيب (وياند) ثابت بن قيس بن شماس ته امر وکړ چې د دوی د وياند ځواب ووايي.

بيا د هغوی شاعر زبرقان بن بدر شعر ووايه مدح او ستاينه يې وکړه خپل ويارونه يې ياد کړل، په ځواب کې د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) شاعر حسان بن ثابت (رضي الله عنه) شعر ورته ووايه.

پدې پسې اقرع بن حابس وويل: بيشکه چې د دوی (مسلمانانو) ویاند زمونږ له ویاند نه غوره دی، او شاعر يې زمونږ له شاعر نه ډير مخکی دی، آواز يې له مونږ نه لوړ او خبرې يې زمونږ له خبرو نه ډيرې درنې دي، دايې وويل بيا ټول په اسلام مشرف شول.

رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) ورته ښې تحفې او سوغاتونه ورکړل، د دوی ښځې او اولادونه يې ورته وسپارل. سيرت ليکونکي عقيده لري چې دغه سريه د نهم هجري کال په محرم کې شويده، خو دا خبره د نقد او اعتراض وړ ده، ځکه لدې نه خو داسې څرګندیږي چې اقرع بن حابس لدې تاريخ نه مخکې اسلام ندی راوړی پداسې حال کې چې همدې اقرع خو د هوازن د اسيرانو د بيرته ورکولو په وخت کې ويلي و چې زه او بنو تميم خپل بنديان بيرته نه ورکوو! دا ددې معنی لري چې بايد اقرع له هوازن نه مخکې مسلمان شوی وي.

۲- د قطبه بن عامر سريه: د نهم هجري کال په صفر مياشت کې د خثعم يوې کورنۍ ته چې تربه ته نژدې (تباله) کې يې اړولې وٴ واستول شو. له قطبه سره شل کسان او لس اوښان وو چې په نوبت سره به پرې سپريدل. لاړل او پر هغوی يې برید وکړ، سخته جګړه ونښتله، دواړو خواوو ډير تلفات ورکړل، قطبه له څو ملګرو سره يو ځای په شهادت ورسيد، خو په پای کې مسلمانان پدې بريالي شول چې له کفارو نه څو ښځې په اسارت ونيسي، پسونه او اوښان ورنه غنيمت کړي.

۳- د ضحاک بن سفيان کلابي سريه: د نهم هجري کال د ربيع الاول په مياشت کې د کلاب قبيلې په لور. رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) دا ګروپ ددې پخاطر ولیږه تر څو کلاب قبيله اسلام ته راوبولي، خو هغوی اسلام و نه مانه او له مسلمانانو سره په جنګ شول، په پای کې يې ماتې وخوړه، د سر تلفات يې هم ورکړل، او مسلمانان بيرته ستانه شول.

۴- د علقمه بن مجزز مدلجي سريه: د نهم هجري کال په ربيع الآخر مياشت کې د جدې د ساحلي برخو په لور وه. له علقمه سره دری سوه جنګيالان وو. رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) وظيفه ورکړه چې د هغو حبشيانو مقابلې ته ورشي کوم چې په مکه او د جدې په شا و خوا ساحلی برخو کې د چور و چپاول لپاره

راټول شوي وو. علقمه د بحر له لاري مخکې لاړ تر څو جزيرې ته ورسيد ، حبشيان خبر شول او ټول وتښتيدل[1].

۵ – د علي بن ابي طالب سريه: د نهم هجري کال په ربيع الاول مياشت کې رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) هغه ته وظيفه ورکړه چې لاړ شي او د طيئ قبيلې قلس نومی بت ويجاړ کړي. له ده سره (۱۵۰) تنه مجاهدين ملګري وو، چې سل اوښان او پنځوس آسان هم ورسره وو دوه بيرغونه چې يو لوی او رنګ يې سپين او بل وړوکی تور رنګی وۀ.

د سهار په وخت کې يې د حاتم پر کلي حمله وکړه، بت يې مات کړ، زيات شمير پسونه او اوښان يې غنيمت کړل، زيات کسان يې بنديان کړل، د بنديانو په جمله کې د عدي بن حاتم خور هم وه. عدي پخپله شام ته وتښتيد ، مسلمانانو د بت په خزانو کې دری تورې، دری زغرې او څه نور شيان وموندل، غنيمتونه يې سره وويشل، د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) برخه يې ورنه جدا کړه، خو د حاتم کورنۍ يې و نه ويشله، کله چې مدينې ته ستانه شول د حاتم لور له رسول الله (صلى الله عليه وسلم) نه د احسان سوال وکړ او ويې ويل: يا رسول الله (صلى الله عليه وسلم) پلار مې مړ شو ، وروڼه مې ورک شول، سرپرست نه لرم، زه يوه زړه ښځه يم د چا خدمت نه شم کولی، احسان راباندې وکړه! رسول (صلى الله عليه وسلم) ورته وفرمايل: (**من وافدك؟**) سرپرست مو څوک دی؟ دې وويل: عدي بن حاتم. رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) وفرمايل: (**الذي فر من اللّه ورسوله؟**). هغه چې له الله او رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) نه يې فرار کړيدی؟ دا يې وويل او ورنه لاړ.

د عدي خور بله ورځ بيا همداسې عرض وکړ، دريمه ورځ يې بيا تکرار کړ، همدا وه چې رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) احسان پرې وکړ، او هغه يې آزاده کړه. دلته يو صحابي چې په اغلب ګمان سره علي (رضي الله عنه) وۀ ورته وويل: له رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) نه د ځان لپاره سورلۍ هم وغواړه! هغې د مرکب سوال وکړ. رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) مرکب هم ورکړ. بيا د حاتم لور لاړه او شام ته ورسيده هلته يې خپل ورور عدي ته وويل. دې

[1]. فتح الباري ۵۹/۸.

شخص (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) دومره احسان راباندې وکړ چې ستا پلار به هم نه وي راباندې کړی، ويريږې او که تمه ورته لرې کـه هر څه وي حتماً به ورځې! هماغه وه چې عدي هم بې له امانه او بې ضمانته د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) حضور ته راغی. رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) هغه خپل کور ته بوته، هلته يې ورته وويل: **ما يُفِرُّكَ؟ أيُفِرُّك أن تقول: (لا إله إلا اللّه؟ فهل تعلم من إله سوى اللّه؟) قال: لا. ثم تكلم ساعة ثم قال: (إنما تفر أن يقال: اللّه أكبر، فهل تعلم شيئاً أكبر من الله؟) قال: لا. قال: (فإن اليهود مغضوب عليهم، وإن النصاري ضالون). قال: فإني حَنِيف مسلم، فانبسط وجهه فرحاً، وأمر به فنزل عند رجل من الأنصار، وجعل يأتي النبي صلى الله عليه وسلم طرفي النهار.**

ولې تښتيدلی وې، آيا د کلمې ((**لا اله الا الله**)) نه دې فرار کړی؟ آيا له الله پرته بل حق معبود پيژنې؟ عدي وويل: نه. بيا څه نورې خبرې وشوې. رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) ورته وفرمايل: آيا لدې تښتې چې وويل شي (**الله اکـبر**). آيا له خدای نه پرته بل لوړ او غوره څيز پيژنې؟ عدي وويل: نه. رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) وفرمايل: په يهودو د خدای قهر شوی، او نصرانيان بې لارې شويدي. عدي وويل: زه يو رينبتونی مسلمان يم. د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) ټنډه له ډيرې خوشالۍ نه وغوړيده امر يې وکړ چې عدي ته دې د يوه انصاري په کور کې ځای ورکړل شي، پدې ترتيب سره به عدي سهار او مابنام د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) خدمت ته حاضر يده.[1]

ابن اسحاق روايت کوي چې عدي وايي: زه رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) پخپل کور کې کينولم راته ويې فرمايل: (**إيه يا عدي بن حاتم، ألم تكن رَكُوسِيّا؟**) **قال: قلت: بلي، قال: قال: قلت: بلي. قال: قال: قلت أجل واللّه. قال: وعرفت أنه نبي مرسل، يعرف ما يُجْهَل.**

ايګ عدي! آيا ته رکوسي (هغه وخت د نصرانيت او صائبيت تر منځ د مشرکانو يو

---

[1]. زاد المعاد ۲/ ۲۰۵

دريم مروج مذهب وئ نه وي؟ ما وويل: هو. ده وفرمايل: (**أو لم تكن تسير في قومك بالمِرْبَاع؟**).آيا د غنيمت څلورمه برخه به دې نه اخيستله؟ وايي: ورته ومې ويل: هو . راته ويې فرمايل: (**فإن ذلك لم يحل لك في دينك**). پداسې حال کې چې دې کار ستا په دين کې جواز نه درلود. ما ورته وويل: هو، په خدای قسم چې همداسې ده. عدي زياتوي: همدلته پوه شوم چې دا د الله رسول (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) دی، ځکه له داسې څه نه معلومات لري چې ورته ويل شوي ندي[1].

احمد روايت کوي وايي چې: رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) وفرمايل: (**يا عدي، أسلم تسلم**). يا عدي! مسلمان شه تر څو په امن شې. عدي ورته وايي: زه خو دين لرم. رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) وفرمايل: (**أنا أعلم بدينك منك**). زه ستا د دين په هکله له تا نه ډير معلومات لرم. عدي وايي: ته زما د دين په هکله له ما نه ډير معلومات لرې؟ ويې فرمايل: (**نعم، ألست من الركوسية، وأنت تأكل مرباع قومك؟**). هو. آيا ته رکوسي نه يې؟ بيا يې راته وفرمايل: آيا د خپل قوم د غنيمت څلورمه برخه به دې نه خورله؟ ما وويل : هو. همداسې ده. رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) وفرمايل: (**فإن هذا لا يحل لك في دينك**). ستا په دين کې خو دا کار جواز نلري. عدي وايي چې دا خبره يې وفرمايله نو ورته تسليم شوم[2].

بخاري هم له عدي نه په روايت سره وايي: **قال: بينا أنا عند النبي صلى الله عليه وسلم إذ أتاه رجل فشكا إليه الفاقة، ثم أتاه آخر فشكا إليه قطع السبيل، فقال: (يا عدي، هل رأيت الحيرة؟ فإن طالت بك حياة فلترين الظعينة ترتحل من الحيرة حتى تطوف بالكعبة، لا تخاف أحداً إلا اللّه، ولئن طالت بك حياة لتفتحن كنوز كسري، ولئن طالت بك حياة لترين الرجل يخرج ملء كفه من ذهب أو فضة، ويطلب من يقبله فلا يجد أحداً يقبله منه...) الحديث وفي آخره: قال عدي: فرأيت الظعينة ترتحل من**

---

[1]. ابن هشام ۵۸۱/۲.

[2]. مسند الامام احمد.

الحيرة حتى تطوف بالكعبة لا تخاف إلا اللّه. وكنت فيمن افتتح كنوز كسري بن هرمز، ولئن طالت بكم حياة لترون ما قال النبي أبو القاسم صلى الله عليه وسلم: (يخرج ملء كفه[1]).

کله چې له رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) سره ناست وم، یو سړی راغی له لوړې نه یې شکایت وکړ، ورپسې بل څوک راغی چې له غلو نه یې شکایت درلود. رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) وفرمایل: اې عدي! حیره دې لیدلې ده؟ که ژوندی وې و به یې ویني، یوه ښځه به له حیره نه راځي، د کعبې طواف به کوي، او له الله پرته به د بل هیچا ویره ورسره نه وي. که دې عمر یاري درسره وکړه نو د کسری خزانې به فتحه کړې او که عمر دې اوږد و نو و به ګورې چې خلک به طلا او یا نقره په لاس کې ګرزوي، پدې لټه کې به وي چې څوک فقیر پیدا کړي او خیرات ورکړي، خو داسې غریب به نه مومي چې دده خیرات واخلي. دا حدیث شریف ډیر اوږد دی چې په وروستۍ برخه کې یې راځي: عدي وایي: ما پخپلو سترګو یوه ښځه ولیدله چې له حیره نه راغلې او د کعبې طواف یې کاوه او له الله پرته د بل هیچا ویره ورسره نه وه. زیاتوي: همدارنګه زه د هغو کسانو په ډله کې شامل وم چې د کسری بن هرمز خزانې مو فتحه کړې، که تاسو ژوندی وئ حتماً به همداسې حالت وګورئ لکه څرنګه چې ابو القاسم محمد (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) فرمایلي چې غني به پداسې حال کې چې لاس به یې له طلا او نقرې ډک وي، غریب به لټوي چې خیرات ورکړي، خو فقیر به نه مومي.

[1] . صحيح البخاري، مشكاة المصابيح ٥٢٤/٢ ته دی مراجعه وشي.

د تبوک غزا

۹ هجري کال د رجب مياشت

د مکې فتحه ډيره لويه کارنامه او د حق او باطل تر منځ پريکنده غزا وه. لدې سوبې نه وروسته مشرکينو ته د رسول الله (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) په رسالت کې د شک ځای پاتې نه شو، د تاريخ مسير بدلون وموند، خلک ډلې ډلې په اسلام مشرف شول. مخکې مو وليدل چې څومره وفدونه او نمايندګان د رسول الله (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) خدمت ته حاضر شول، او دا به هم وګورو چې په حجه الوداع کې د مسلمانانو شميره څو ته لوړيږي، دا ټول د مکې د فتحې له برکته. پدې ترتيب سره د رسول الله (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) د حکومت داخلي ستونزې حل شوې، نور مسلمانانو دا فرصت درلود چې په پوره ډاډ سره د الله د دين زده کړه او تبليغ وکړي او خلکو ته اسلام ورسوي.

ددې غزا سبب

مسلمانانو په جزيره کې د ننه مشکلات نه درلودل، خو دغه وخت بې موجبه د رومیانو له مخالفت او تهديد سره مخ شول، رومیان د هغه وخت زبر ځواک وٴ.

په تيرو پاڼو کې مو ولوستل چې د بصری والي ته د رسول الله (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) قاصد حارث بن عمير ازدي (رضي الله عنه) د شرحبيل بن عمرو غساني له خوا په شهادت ورسيد او همدا د تيري پيل و. د همدې تيري په ځواب کې رسول الله (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) د زيد بن حارثه (رضي الله عنه) په مشری يو لښکر وليږه چې په موٓته کې له رومیانو سره ونښت، سخته جګړه يې وکړه خو ويې نه شوای کولی له خپل ظالم او کبرجن دښمن نه پوره انتقام واخلي. خو د ليرو او نژدې عربانو پر زړونو يې ډيره غوره اغيزه وکړه. د روم مشر قيصر ديته متوجه و، او پدې پوهيده چې د جګړې پايله څومره د مسلمانانو په ګټه وه او له مسلمانانو سره يې د ځينو عربي قبايلو هم غړي او له روم نه د استقلال هڅې له پامه نه وې اچولې. او په رښتيا سره چې دا هغه خطر و چې ګام په ګام د روم پولو ته ورنژدې کيده، له عربو سره

ګاونډ کې د شام پولې یې تهدیدولې.
همدې ته په توجه سره قیصر تصمیم ونیو چې باید مخکې لدینه چې مسلمانان په نه ماتیدونکي ځواک او خطر بدل شي، او مخکې لدینه چې د روم په خوا کې پرتو عربي برخو کې پاڅونونه او انقلابونه پیل شي باید د اسلامي دولت جړې له بیخه وایستل او د مسلمانانو ځواک اوبه شي.
له همدې کبله له موټه جګړې نه وروسته پوره یو کال قیصر د جنګ تیاري نیوله، له رومیانو او تر خپل کنترول لاندې عربانو لکه آل غسان او نورو نه یې لوی لښکر جوړ کړ، او د فیصله کوونکي جنګ ټول وسایل یې برابر کړل.

د رومیانو د تیارۍ خبر په مدینه کې

مدینې ته دا خبرونه رارسیدل چې رومیانو له مسلمانانو سره د پریکنده جګړې تیاري نیولې ده. په مدینه کې د ننه له مسلمانانو سره تشویشونه پیدا شوي وو، حتی چې د یوه پردي او نا آشنا آواز په اوریدو سره به ډیرو داسې تصور کاوه چې ګویا رومیانو پر مدینه برید وکړ.
ددې حالت اندازه له هغه حالت نه ښه څرګندیدای شي چې عمر (رضي الله عنه) ورسره مخ شویدی. رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) په نهم هجري کال کې له خپلو بیبیانو سره ایلاء وکړه، (ایلاء دیته وایي چې څوک قسم وکړي چې زه به له خپلې ښځې سره جماع نه کوم نه به ورسره یوځای کیږم، که دا موده له څلورو میاشتو نه کمه وي پروا نلري یعنې له څلور میاشتو نه مخکې هر وخت کولی شي له خپلې ښځې سره یو ځای شي خو د قسم کفاره به ورکوي، او که څلور میاشتې تیرې شوې او نوموړې خپلې ښځې ته ورنژدې نه شو نو بیا به قاضي او محکمه مداخله کوي چې هغه دې یا ښځې ته رجوع وکړي یا دې طلاق ورکړي).
د یو شمیر اصحابو (رضي الله عنهم) په رایه د څلورو میاشتو له تیریدو وروسته طلاق واقع کیږي. رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) په همدې کال له خپلو میرمنو نه خفه شوی و او یوه میاشت یې ایلاء وکړه، د خپل کور په بالاخانه کې اوسیده، په پیل کې مسلمانان (اصحاب) نه وو خبر، پدې حکم نه پوهیدل بلکه فکر یې کاوه لکه چې رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) خپلو میرمنو ته طلاق ورکړیدی او پدې سره ټول له حده زیات خفه شوي وو.

عمر (رضي الله عنه) **دا کيسه داسې بيانوي:**

زما يو انصاري ملګری وٴ، هغه به چې د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) په مجلس کې حاضريده او زه به نه وم، نو د مجلس احوال به يې ماته راوړ، او که به زه موجود وم او هغه به نه وٴ بيا به ما د مبارک مجلس ګزارش ورکاوه. مونږ دواړو په يوه سيمه کې ژوند کاوه، په نوبت به د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) مجلس ته حاضريدو د غسان قبيلې د يوه پاچا دا خبر هم راته رسيدلی وٴ چې پر مدينه د حملې نيت لري، نو لدې پلوه ويريدو او تشويش راسره وٴ. يوه ورځ ناڅاپي زما انصاري دوست راغی دروازه يې ووهله او ژغږ يې وکړ: خلاصه کړه، خلاصه کړه! عمر (رضي الله عنه) وايي: ما ورته وويل: څه چل دی؟ آيا غساني حمله وکړه؟ هغه راته وويل: نه لدينه هم لويه پيښه شويده، رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) له خپلو ميرمنو نه بيل شويدی... د حديث تر پايه.[1]

په بل روايت کې راغلي چې عمر (رضي الله عنه) وايي: ما او انصاري دوست به خبرې سره کولې او ويل به مو چې غسانيان آسونه راته نعل کوي او د برید تياري نيسي. ملګری مې يوه ورځ د خپل نوبت په اساس د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) مجلس ته تللی وٴ چې د شپې بيرته راغی دروازه يې په شدت سره وټکوله غږ يې وکړ چې عمر ويده دی؟ زه وويريدم فوراً ور ووتلم. هغه راته وويل: ډيره لويه پيښه شويده. ما ويل: څه دي؟ آيا غسانيان را ورسيدل؟ ويل يې نه، له دې نه هم لويه او مهمه پيښه، رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) خپلو ميرمنو ته طلاق ورکړيدی.[2]

دا کيسه پخپله دا ښيي چې مسلمانانو د رومیانو له لوري څومره ويره او تشويش درلود. د رومیانو خطر او لدې طرفه متوجه تهديد دومره لوی وٴ چې منافقان يو ځل بيا را ژوندي او اميدوار شوي وو، که څه هم د سر په سترګو يې ليدل چې رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) څومره بريالیتوبونه تر لاسه کړل، څومره قوت لري. د مسلمانانو همت او غيرت هم ورته ثابت وٴ خو بيا هم پدې تمه وو چې کيدای شي رومیان حمله وکړي او مسلمانان نابود کړي. د مسلمانانو کمزوري او تباهي د دوی هيله وه، پدې وخت کې دوی خپل شوم هدف لنډ ليدلو او له همدې امله يې د شر

---

(1). صحيح البخاري ٢/ ٧٣٠ .

(2). صحيح البخاري ١/ ٣٣٤ .

او توطئو یوه اډه جوړه کړه. د شر دغه اډه یې د جومات په نوم ونومولـه چې په اسلامي تاریخ کې ورته مسجد الضرار ویل کیږي. منافقانو هیله درلوده لـه همدې مرکز نـه په استفادې سره د مسلمانانو تر مینځ نفاق واچوي، همدا به د کفر او کفارو لپاره مرکز او اډه وي. دوی چې دا جومات جوړ کړ لـه رسول الله (صلی الله علیـه و الـه و صـحبه و سلم) نه یې وغوښتل چې تشریف راوړي او لمونځ پکې ادا کړي، لدې کار نه یې هدف دا ؤ تر څو مسلمانان پرې وغولوي، او متوجه نه شي چې دوی دلته د اسلام په خلاف څه توطئې جوړوي. دوی لدې ځای نه د فساد او توطئې جوړونې مطمئنه او آرامه اډه جوړوله، خو رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) دلته لمونځ کول له غزا نه تر بیرته راتګ پورې وځنډاوه، ځکه پدې وخت کې غزا ته تیارۍ باندې مصروف ؤ. پدې ترتیب سره منافقان پخپل هدف کې ناکام شول، الله تعالی وشرمول، او کله چې رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) لـه غزا نـه بیرتـه راستون شو د همدې مسجد د نړولو حکم یې وکړ، او مسجد وران شو.

د رومیانو او غسان قبیلې د تیارۍ خاص رپوټونه

دا و هغه حالت او خبرونه چې مسلمانان ورسره مخامخ وو، پـه همدې ډول حـالاتو کې نبطیونو هغـه چې لـه شـام نـه یـې مـدینې تـه تیـل یـا غـوړې راوړل خبر راوړ چې هرقـل څلویښت زره کسیزه لښکر تیار کړیدی، مشر یې یو مخور رومي ټاکلی، لخم، جذام او نـوري عربـي قبـیلې هـم ورسره دي. د همدې لښکر لومړنی ټولګی (مقدمـه) د بلقـا سیمې ته رارسیدلې ده. پدې سره مسلمانان لـه لـوی خطر او تهدید سره مواجـه شـول. یادونه باید وکړو چې نبطیـان د اسـماعیـل (ع) د زوی نابت اولاده وه، یـو وخـت یـې پـه شمالي حجاز کې ښه برم درلـود، خـو ورو ورو مـخ پـه ځـوړ لاړل او عـادي سـوداګران او بزګران شول.

حالات نور هم ترینګلي شول

حالات ډیر خراب او ترینګلي شول، د سختۍ او شدیدې ګرمۍ موسم ؤ. مسـلمانان لـه نورو ستونزو علاوه د وچکالۍ، بې وسۍ او د سواریۍ لپـاره د ځـارویو لـه کمبـود سـره لاس او ګریوان وو. بله دا چې میـوې هـم پخـې شـوې وې، د هـر چـا زړه دا غـوښتـل چې پخپل باغ کې تر سیوري لاندې وي پداسې وخت کې له کور نه وتل ډیر ګـران و، ګرمـي هم وه، لاره ډیره اوږده او سخته وه.

د رسول الله ﷺ پريکنده اقدام

رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) حالاتو او د شرايطو بدلون ته په ډير دقت کتل، د پيښو اسباب او عواقب يې څيړل، باور يې درلود که په موجوده حالاتو کې له روميانو سره له جګړې نه ډډه وشي، سستي وشي، دښمن فرصت وموميِ د اسلامي دولت له پولو نه تيری وکړي د مدينې په لور مخکې راشي، دا به د مسلمانانو لپاره ډيرې ناوړې اغيزې ولري. جنګي ځواک، شهرت او حيثيت به يې صدمه وموميِ، تشويشونه به راولاړ شي، او کيدای شي هغه مشرکان چې له حنين غزا نه وروسته د بشپړې نابودۍ په مورګه ولاړ وو بيرته ځانونه منظم کړي او هڅه وکړي چې بيا د ژوند او ځواک خاوندان شي. بل خطر دا ؤ چې منافقانو هم پر مسلمانانو د پريکنده برید لپاره مناسب فرصت لټاوه، د فاسق ابو عامر له لارې يې د روميانو له پاچا سره اړيکې ټينګې کړې وې. پلان يې جوړ کړی ؤ چې د روميانو د حملې په صورت کې به دوی له شا نه پر مسلمانانو د توري ګوزار کوي. او که داسې شوي واې نو د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) او اصحابو (رضي الله عنهم) د اوږدو او سختو هلو ځلو، جنګونو او کوششونو نتيجه به اوبو وړې وای! رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) دا ټول واقعيتونه درک کړي ؤ، همدا وه چې له زياتو مشکلاتو سره سره يې له روميانو سره د دوی له پولو نه اخوا د جګړې او ټکر فيصله وکړه، امر يې وکړ چې بايد روميان فرصت و نه مومي د اسلامي حکومت د پولو او سرحدونو په لوري وړاندې تګ وکړي.

له روميانو سره د جګړې لپاره د تيارۍ امر

رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) خپل تصميم اصحابو (رضي الله عنهم) ته ورساوه، هغوی يې خبر کړل چې بايد له روميانو سره د جګړې تياري ونيسي. د مکې او شاوخوا نورو سيمو قبايلو ته يې هم د تيارۍ فرمان صادر کړ. د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) سنت او عادت داسې ؤ چې د جګړې په وخت کې به يې خپله لاره او خپل هدف پټ ساته له توريې نه به يې کار اخيست پدې معنی که غوښتل به يې د شمال په لوري لاړشي نو اعلان به يې داسې کاوه چې جنوب ته ځي، او يا بر عکس، خو دا ځل څرنګه چې شرايط ډير سخت، تنګ او خطرناک وو نو په څرګنده توګه يې اعلان وکړ چې له روميانو سره يې د جګړې پريکړه کړيده، ټول يې

خبر کړل تر څو د جګړې تيارئ ونيسي او جهاد ته يې تشويق کړل. په همدې ورځو کې د سوره برائت څو مبارک آيتونه نازل شول، چې مسلمانان هاند او جګړې ته هڅوي. رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) خپلو اصحابو ته د الله په لار کې د مالي قربانۍ اهميت هم بيان کړ او ديته يې وهڅول چې هر يو د خدای په لار کې خپل غوره مال په مصرف ورسوي.

جهاد ته په تيارۍ کې سيالي

له روميانو سره د جګړې لپاره د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) له فرمان نه وروسته مسلمانانو يو له بل سره د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) د امر په تعيمل کې سيالي کوله. هر چا په ډيره بيړه د جګړې تياري نيوله، مختلفې قبيلې او کورنۍ له هر لوري نه د مدينې په خوا را ماتې وې. ټول مسلمانان آماده شول، له منافقانو پرته ټولو د جګړې اراده کړې وه. ټول جګړې ته روان شول، يوازې دری کسه رينبتوني مسلمانان ورنه پاتې شول نور ټول وخوځيدل.

جګړې ته له روانيدو نه مخکې بې وسه، محتاج او فقير مسلمانان د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) خدمت ته راتلل د جګړې لپاره يې د سپرلۍ او وسايلو سوال کاوه خو کله به يې چې د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) دا لاندينی ځواب اوريده نو پداسې حال کې به بيرته ورنه تلل چې سترګې به يې له اوښکو ډکې وې: ((**لا أَجِدُ مَا أَحْمِلُكُمْ عَلَيْهِ تَوَلَّوا وَأَعْيُنُهُمْ تَفِيضُ مِنْ الدَّمْعِ حَزَنًا أَلاَّ يَجِدُوا مَا يُنفِقُونَ**)). (التوبة: ۹۲)

[ترجمه: نو ويل تا دوی ته چې ستاسې د سپرلۍ لپاره څه نلرم، نو بيرته تلل دوی پداسې حال کې چې سترګې يې له اوښکو ډکې وې، او پدې خفه دي چې د جهاد په لارکې د نفقې لپاره څه نلري.]

مسلمانانو د الله په لار کې د مال او دارايۍ په خرڅولو کې هم يو له بل سره سيالي کوله د هر يوه هيله دا وه چې زيات اجر وګټي. عثمان (رضي الله عنه) هغه تجارتي کاروان چې د شام د تجارت لپاره يې تيار کړی وٴ ټول رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) ته ورکړ، پدې کاروان کې دوه سوه اوښان سره له ځلونو او کجاوو، دوه سوه اوقيې يعنې ۵/ ۲۹ کيلو ګرامه نقره دا ټول يې د الله په لار کې صدقه کړل. دا ټول مجهز کاروان يې صدقه کړ، سل اوښان سره له ټولو لوازمو او زر ديناره (پنځه نيم کيلو سره زر) نور يې هم د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) حضور ته

راوړل عرض يې وکړ چې دا هم د الله په لار کې په خرڅ ورسوئ. رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) پداسې حال کې چې دغه دينارونه يې په لاس کې اړول را اړول فرمايل يې: (**ما ضَرَّ عثمان ما عمل بعد اليـــوم**)[1]. لدې ورځې نه وروسته چې عثمان هر عمل وکړي هيڅ زيان نه ورسوي. عثمان (رضي الله عنه) پدې هم اکتفا ونکړه، نور مالونه يې هم خيرات کړل، ټول نهه سوه اوښان او سل آسونه يې صدقه کړل، البته د طلا او نقرې حساب خو يې لا بيل وٴ.

عبدالرحمن بن عوف (رضي الله عنه) دوه سوه اوقيې نقره راوړه. ابوبکر (رضي الله عنه) خپل ټول مال چې څلور زره درهمه وو راوړل، د خپل اولاد لپاره يې الله او رسول کافي وبلل. عمر (رضي الله عنه) هم خپل نيم مال راوړ. عباس (رضي الله عنه) هم ډير څه راوړل. طلحه، سعد بن عباده، محمد بن مسلمه (رضي الله عنهم) هر يوه ډير څه حاضر کړل. عاصم بن عدي (رضي الله عنه) نوي وسقه خرما (يو وسق ۶۰ صاع کيږي او پدې حساب ټول ديارلس نيم زره کيلو يا ديارلس نيم ټنه خرما) راوړه. اصحابو (رضي الله عنهم) يو په بل پسې د خپل توان په اندازه مالونه راوړل، د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) په حضور کې يې اينبودل، داسې کسان هم وو چې يوازې يو مُد يا دوه مُده يا کمې او زياتې خرماوې يې راوړلې. [يو مُد ٦٧٥ ګرامه وزن لري] ښځو هم چې څه درلودل رايې وړل، چا به مشک راوړل، چا پايزيب، بنګړې، لښتی، ګوتيې او، ټول يې حاضر کړل. له منافقانو پرته هيچا هم بخل ونکړ، ډير څه جمع شول. ((**الَّذِينَ يَلْمِزُونَ الْمُطَّوِّعِينَ مِنْ الْمُؤْمِنِينَ فِـــي الصَّدَقَاتِ وَالَّذِينَ لا يَجِدُونَ إِلاَّ جُهْدَهُمْ فَيَسْخَرُونَ مِنْهُمْ....**))). (التوبه: ۷۹)

[ترجمه: هغه منافقان چې عبب وايي په خيرات کوونکو مؤمنانو باندې په ادا د صدقاتوکې او بل د هغو بې وزلو عبب وايي چې هيڅ نه مومي مګر په اندازه د توان او زيار خپل، پس مسخرې کوي دغه منافقان په دوی پورې...]

اسلامي لښکر د تبوک په لور

لښکر تيار شو، رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) محمد بن مسلمه او په بل روايت سباع بن عرفطه په مدينه کې خپل خليفه وټاکه. علي (رضي الله عنه) ته يې

[1]. جامع الترمذي،مناقب عثمان بن عفان ۲۱۱/۲.

وظيفه ورکړه چې دده د کورنۍ سر پرستي وکړي. کله چې رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) روان شو منافقانو داسې خبرې وکړې چې علي (رضي الله عنه) هغه تحمل نه شوی کړی، روان شو له مدينې نه ووت او ځان يې رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) ته ورساوه، خو رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) بيرته امر ورته وکړ چې لاړ شي او د خپلې کورنۍ سر پرستي وکړي او ورته ويې فرمايل: (**ألا ترضى أن تكون مني بمنزلة هارون من موسي، إلا أنه لا نبي بعـــدي**). اې علي! آيا دا دې نده خوښه چې زما په وړاندې داسې مقام ولرې لکه چې هارون يې د موسی (عليه السلام) په وړاندې لري. خو له ما نه وروسته بل هيڅ پيغمبر نشته.

رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) د پنجشنبې په ورځ د شمال په لور مدينه د تبوک په قصد پرېښوده، د مجاهدينو شميره ډيره زياته وه، ديرش زره کسان جګړې ته روان وو، که څه هم ډير مالونه راټول شول خو بيا هم ددې دومره لوی شمير عسکرو لپاره کافي نه وو.

لښکر د سورلۍ او توښې له پلوه له مشکلاتو سره مخ و، هرو اتلسو کسانو ته يوه سورلي وه په نوبت به ورباندې سپريدل. غازيانو به له ډيرې لوږې د ونو پانې خوړلې د اکثرو کسانو شونډې وپړسيدلې، که څه هم اوښانو ته ډيره اړتيا وه خو بيا هم له ډيرې تندې او لوږې نه ديته مجبور شول څه اوښان حلال کړي، دومره تږې وو چې بايد د اوښانو د خيټې اوبه يې چښلې وای. او ځرنګه چې لښکر ډيرې سختۍ ليدلې نو دې لښکر ته جيش العسره يعنې د سختيو لښکر هم ويل کيږي.

اسلامي لښکر د لارې په اوږدو کې د ثموديانو له سيمې (حجر) نه تير شو، ثموديانو هلته وادي قری کې له تيږو نه لويې لويې خونې جوړې کړې وې. اصحابو(رضي الله عنهم) اراده وکړه ددې ځای له اوبو نه څه وچښي، خو رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) امر وکړ چې: (**لا تشربوا من مائها ولا تتوضأوا منه للصلاة، وما كان من عجين عجنتموه فاعلفوه الإبل، ولا تأكلوا منه شـــيئاً**). دا اوبه مه چښئ او مه اودس ورباندې کوئ او کوم اوړه مو چې پدې اوبو خوشته کړي هغه خپلو اوښانو ته ورکړئ خپله يې مه خورئ. او زياته يې کړه چې يوازې له هغې چينې نه اوبه وڅښئ له کومې نه به چې د صالح (عليه السلام) اوښې اوبه چښلې.

بخاري او مسلم له ابن عمر (رضي الله عنهما) نه روايت کوي وايي: کله چې رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) له حجر نومې سيمې نه تيريده ويې فرمايل: (**لا تدخلوا مساكن الذين ظلموا أنفسهم أن يصيبكم ما أصابهم إلا أن تكونوا باكين**). د

هغه چا کورونو ته مه داخلیږئ چې پخپلو نفسونو یې ظلم کړیدی، هسې نه چې د دوی عذاب تاسې ته هم در ورسیږي، دلته پداسې حالت کې داخل شئ چې د الله له ویرې نه ژړا کوونکي وئ. بیا رسول (صلی الله علیه وسلم) خپل مبارک سر پټ کړ او په بیړه ، بیړه لدې درې نه ووت.[1]

د لارې په اوږدو کې غازیان سخت تږي شول، اوبو ته زیات اړ وو، رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) ته یې شکایت وکړ رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) د باران سوال وکړ، یو ځل وریځې راښکاره شوې ښه باران وشو. خلکو اوبه وڅښلې او د ضرورت په اندازه یې ورسره واخیستلې. کله چې رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) تبوک ته نژدې شو ویې فرمایل: (**إنكم ستأتون غداً إن شاء اللّه تعالى عين تبوك، وإنكم لن تأتوها حتى يَضْحَي النهار، فمن جاءها فلا يمس من مائها شيئاً حتى آتي**). [تاسې به سبا د تبوک چینې ته ورسیږئ (ان شاء الله) خو تر نیمې ورځې پورې به ور ونه رسیږئ، که له ما نه مخکې ور ورسیدئ نو ترهغې پورې اوبه مه ورنه چښئ تر څو زه نه وم راغلی.]

معاذ (رضي الله عنه) وایي مونږ پداسې حال کې چینې ته ورسیدو چې له مونږ نه مخکې دوه کسان ورسیدلي وو، د چینې اوبه لږ لږ روانې وې، رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) له هغو دوو کسانو نه پوښتنه وکړه : (**هل مسستما من مائها شيئاً؟**) آیا د چینې اوبو ته مو لاس ورورې دی؟ هغوی وویل: هو. بیا رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) ورته د خدای د ارادې او خپلې خوښې مطابق خبره وکړه. بیا یې په مبارکو لاسونو اوبه رابندې کړې تر څو یوه اندازه جمع شوې، مبارک مخ او لاسونه یې ورباندې پرې مینځل، نورې یې بیرته په چینه کې واچولې پدې سره یو ځل له چینې نه زیاتې اوبه روانې شولې، خلکو وچښلې او د ضرورت په اندازه یې ورسره واخیستلې. بیا رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) وفرمایل: (**يوشك يا معاذ، إن طالت بك حياة أن ترى ماهاهنا قد ملئ جناناً**). اې معاذه! که عمر یاري درسره وکړي، نو به وینې چې یو وخت به دا سیمه ټوله د میوو له باغونو ډکه وي.[2]

همدا راز رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) د تبوک په لاره کې او په بل

---

(1). صحیح بخاري ۲/ ۶۳۷.

(2). مسلم ۲/ ۲۴۶

روایت تبوک ته له رسیدو وروسته وفرمایـل: (**ټب علیکم اللیلة ریح شدیدة، فلا یقم أحد منکم، فمن کان له بعـیر فلیشـد عِقَالَـه**). نـن شپه بـه سـخت بـاد دربانـدې راوالوزي، هیڅوک به نه دریږي، د اوښانو خاوندان دې د اوښانو ګونډې وتړي.
هماغه وه چې د شپی سخت بـاد راغـی، یـو سړی د رسول الله (صلی الله علیـه و الـه و صحبه و سلم) د امر په خلاف پاڅید ودرید، چې باد پورته کړ او ان د طیئ په غـره یـې وغورځاوه[1].
همدارنګه د رسول الله (صلی الله علیـه و الـه و صـحبه و سلم) عـادت داسې وٴ چې د لارې په اوږدو کې به یې د ماسپښین او لمـازدیګر، مابنـام او لماسـختن لمونځونـه یـو ځای ادا کول یعنې د لمازدیګر لمونځ به یې د ماسپښین او لماسختن به یـې د مابنـام په وخت کې یـو ځـای ادا کـاوه چې دیتـه جمع تقدیم وایـي، او یـا بـه یـې د ماسپښین لمونځ د لمازدیګر او مابنام د لماسختن په وخت کې یو ځای ادا کـول چې دیتـه جمع تاخیر وایي.

اسلامي لښکر په تبوک کې

اسلامي لښکر تـبـوک تـه ورسـید، لـه دښمـن سره د مقـابلې پـوره تیـاري یـې درلـوده، مرکز یې جوړ کړ. رسـول الله (صـلی الله علیـه و الـه و صـحبه و سلم) ډیـره مهمـه خطبـه وویله، په لنډو ټکو کې یې لوی مفاهیم ادا کړل، مسلمانان یې د دنیا او آخرت ښیګڼو ته راوبلل، د بدو اعمالو او شر له عواقبو نه یـې وویـرول، وېې ګـو ابښل. همدا راز د خوښۍ څرګندونـه یـې وکـړه، او دوې تـه یـې هم د خوښۍ او بـرې زیـری ورکـړ. پـدې ترتیب سره یې د هغـوی روحیـات دومـره لـوړ کړل چې د وسـایلو د کمبـود او مـوادو د نشتوالي جبران پـرې وشـو. رومیـانو چې د رسـول الله (صـلی الله علیـه و الـه و صـحبه و سلم) د لښکر کشۍ خبر واورید ویرې واخیسـتل، د وړانـدې تـګ او مقـابلې جـرات یـې نه شوی کولی، له پولو نه اخوا ښـارونو کې سره تیت شـول. دې کـار د مسـلمانانو لپـاره په زړه پورې نتیجې درلودې، او مسلمانانو داسې سیاسي بریاوې لاسته راوړې چې د جنګ او وسلوالې مقابلې په حالت کې یې لاسته نه شوای راوړی. د ایله مشر یحنـه بـن روبه د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صـحبه و سلم) حضـور تـه راغـی او د جزیې پـه منلـو سره یـې لـه رسـول الله (صـلی الله علیـه و الـه و صـحبه و سلم) سره سـوله وکـړه. د جرباء او اذرح خلک هم حاضر شول جزیه ورکول یې ومنل، رسول الله (صلی الله علیه و

[1]. صحیح مسلم.

اله و صحبه و سلم) هغوی ته يو ليک وليکه. د ايله واکمن ته د ليکل شوي ليک متن داسې و:

(**بسم اللّه الرحمن الرحيم، هذه أمنة من اللّه ومحمد النبي رسول اللّه ليحنة بن رؤبة وأهل أيلة، سفنهم وسياراتهم في البر والبحر لهم ذمة اللّه وذمة محمد النبي، ومن كان معه من أهل الشام وأهل البحر، فمن أحدث منهم حدثاً، فإنه لا يحول مالـــه دون نفسه، وإنه طيب لمن أخذه من الناس، وأنه لا يحل أن يمنعوا ماء يردونه، ولا طريقاً يريدونه من بر أو بحر**). [**بسم اللّه الرحمن الرحيم**، دا د مهربان الله او محمد رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) له خوا د يحنه بن روبه او ايله د خلکو لپاره امان ليک دی. د دوی کښتی او ځمکنی کاروانونه به ټول محفوظ او خوندي وي، الله او رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) يې ذمه وار دي. دا ټرون او عهد د دوی او د شام او سمندر ټولو هغو خلکو لپاره دی چې له دوی سره همکاري لري، او ديته ورته نظر ولري. که له دوی نه څوک د بد او نا مناسب کار مرتکب کيږي، نو مال يې د مجازاتو مخه نشي نيولی، او د جرم د ارتکاب په صورت کې د هغه مال نورو ته روا دی چې وايي خلي. همدا راز دوی اجازه لري له هرې چينې نه ګټه واخلي او له هرې بحري او ځمکنی لارې نه استفاده وکړي.] رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) يو څلور سوه شل کسيز سپور ګروپ د خالد بن وليد (رضي الله عنه) په مشری د دومه الجندل مشر اکيدر ته وليږه، ورته ويې فرمايل: (**إنـــك ســـتجده يصـــيد البقر**).اکيدر به پداسې حال کې ووينئ چې د غوايانو ښکار به کوي. خالد (رضي الله عنه) لاړ او کله چې د هغوی برجونه ورته ښکاره شول، يو نيلي رنګه غويی يې د قصر له دروازې سره وليدل شو چې د قصر دروازه يې په ښکرو موښله، اکيدر هم ورپسې راغی او د هغه د ښکار هڅه يې کوله، شپه وه خو سپوږمی رڼا کوله، خالد (رضي الله عنه) اوملګري يې پدې وتوانيدل چې اکيدر ونيسي او بيا يې د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) حضورته راووست.

رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) هم د هغه دمرګ حکم ونکړ، بلکه سوله يې ورسره وکړه او هغه دا ومنله چې رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) ته به له جزيې سره سره دوه زره اوښان، اته سوه وزې، څلور سوه زغرې او څلور سوه نيزې ورکوي، او پدې ترتيب سره يې له هغه سره هم د يحنه، دومه،تبوک، تيماء

او ایله په شان تړون وکړ.
د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) د بریالي سیاست په نتیجه کې هغه عربي قبایل چې له رومیانو سره یې همکاري درلوده په بله وا وښتې، په رومیانو یې باور کم شو د مسلمانانو خوا ته نژدې شوې.
او پدې سره د مسلمانانو د حکومت دایره پراخه شوه، او د روم تر اصلي پولو پورې وغزیده د رومیانو نوکران نور ختم شول خپله ماتې یې ولیده او خبره مستقیماً په رومیانو پورې مربوطه شوه.

بیرته د مدینې په لور

د مسلمانانو بریالی لښکر پداسې حال کې بیرته مدینې ته روان شو چې الله تعالی له جګړې او وسله والې نښتې پرته ډیر بریالیتوب ورپه برخه کړې وۀ.
د لارې په اوږدو کې له یوې کړ لیچې غونډۍ سره دوولسو منافقانو د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) د شهادت توطئه جوړه کړه. کیسه داسې وه چې رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) لدې نقطی نه پداسې حال کې تیریده چې نور لښکر په دښته کې روان و، له رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) سره یوازې دوه کسان موجود وو، عمار (رضي الله عنه) چې د اوښې واګې نیولې وې، او حذیفه (رضي الله عنه) چې ورپسې روان وۀ.
منافقانو پدې وخت کې هڅه وکړه لدې فرصت نه ناوړه ګټه پورته کړي، رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) له خپلو دوو ملګرو سره روان و چې د پښو څپا او آواز یې واورید پوه شو چې څوک ورپسې په منډه را روان دي ویې کتل چې څو نقاب پوشان په تیزۍ سره د دوی په لور راځي، فوراً یې حذیفه (رضي الله عنه) ته وظیفه ورکړه چې د هغوی مخه ونیسي. حذیفه هم د دوی د سورلیو پر مخونو د ورسره موجود ډال ګوزارونه وکړل، پدې سره منافقان وډار شول او وتښتیدل. او د نور لښکر سره یو ځای شول. وروسته رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) د همدې منافقانو نومونه حذیفه (رضي الله عنه) ته وښودل، او دا یې هم ورته وویل چې هغوی کوم شوم نیت او هدف درلود، خو ورته ویې فرمایل چې افشا کوه یې مه. له همدې وجې نه حذیفه (رضي الله عنه) د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) صاحب السر یعني د راز یار بلل کیږي.
الله تعالی د منافقانو ددې بدې ارادې په هکله فرمایي: ((وَهَمُّوا بِمَا لَمْ يَنَالُوا))

(التوبة: ٧٤) [دوی د داسې کار هڅه وکړه چې پکې بریالي نه شول] یعنې هغوی غوښتل رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) په شهادت ورسوي خو ویې نه شوی کولی خپل هدف تر لاسه کړي. کله چې مدینه را ښکاره شوه رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) وفرمایل: (**هذه طَابَةُ، وهذا أحُدٌ، جبل یحبنا ونحبه**).دا طابه ده، هغه د احد غر دی، هغه احد چې له مونږ سره مینه لري او مونږ هم ورسره مینه لرو.

د مدینې اوسیدونکي چې د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) له راتګ نه خبر شول، ښځې او ماشومان یې مخې ته را ووتل، په ډیر احترام او درناوي یې هرکلی کاوه، او دا شعرونه یې ویل:

طلــع البــدرعلینا من ثنیات الوداع

وجب الشــکرعلینا مادعــاالله داع [1]

[د څورلسم سپوږمۍ راوختله، د وداع له غونډیو نه یې راباندې رڼا واچوله، تر څو پورې چې د الله لوري ته دعوت روان دی تر هغې پورې پر مونږ شکر لازم دی.]

رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) د رجب په میاشت کې د تبوک په لور روان شوی وۀ او د رمضان په میاشت کې بیرته راستون شو. ددې غزا ټولې موده پنځوس ورځې وه چې دیرش یې په تبوک او نورې یې په سفر کې تیرې شوې. د تبوک غزا د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) وروستۍ غزا وه.

له غزا نه د پاتې شویو کیسه

بیرته پاتې شوي هغه چې بې عذره له رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) نه پاتې شوي وو، غزا ته نه وو ورسره تللي. د دوی په هکله خاص حکم وشو چې باید له ټولنې ګوښې کړی شي تر څو توبه یې قبوله شوه او بیرته په اسلامي ټولنه کې ومنل شول. د تبوک غزا د ځانګړو شرایطو درلودونکې وه، د مسلمانانو لپاره یې له هر پلوه د سخت امتحان حیثیت درلود په همدې جګړې سره مؤمنان له نورو نه بیل او وپیژندل شول. الله تعالی تل په سختیو سره ریښتوني له دروغجنو نه بیلوي، الله

---

[1]. دا د ابن قیم نظر دی.

تعالی فرمايي: ﴿مَا كَانَ اللَّهُ لِيَذَرَ الْمُؤْمِنِينَ عَلَى مَا أَنْتُمْ عَلَيْهِ حَتَّى يَمِيزَ الْخَبِيثَ مِنْ الطَّيِّبِ﴾ (آل عمران: ۱۷۹)

[ترجمه: ندی الله چې پريږدي مؤمنان مختلط ستاسې په شان، تر څو جلا کړي ناپاکه له پاکه ځنې.]

کله چې رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) د تبوک د غزا حکم صادر کړ، ټول مؤمنان روان شول، څوک چې پاتې شول مطلب يې دا وۀ چې په زړه کې يې نفاق دی. رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) ته به چې وويل شول چې فلانی ندی راغلی په مدينه کې پاتی شويدی نو ده به فرمايل: (**دعوه، فإن يكن فيه خير فسيلحقه اللّه بكم، وإن يكن غير ذلك فقد أراحكم منه**). [پرې يې ږدئ، که خير پکې وي نو الله تعالی به يې حتماً راولي، او که خير نه وي پکې نو ښه ده خدای يې له شر نه وژغورلئ.]

له همدې کبله له رينبتينو مومنانو نه هيڅا هم لدې غزا نه سر و نه غړاوه، يوازې د عذر خاوندان پاتې شول او هغه منافقان و نه وتل کوم چې په الله او رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) يې ايمان نه وۀ. ځينو په دروغو سره بهانې جوړې کړې له رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) نه يې د پاتې کيدو اجازه واخيسته. لنډه دا چې يوازې منافقان او د عذر خاوندان پاتې شول، نور ټول لاړل، دلته دری کسان داسې هم وو چې له يوې خوا رينبتونې مؤمنان وو، عذر يې هم نه درلود، او له بلې خوا له غزا نه هم پاتې شوي وو همدغو کسانو ته پاتې شوي وايي په همدوی الهي ازموينه راغله تر څو بريالي ورنه ووتل.

کله چې رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) له تبوک نه بيرته مدينې ته تشريف راوړ، لومړی جومات ته لاړ، دوه رکعته لمونځ يې ادا کړ بيا يې له خلکو سره خبرې شروع کړې. منافقان چې شميره يې له اتيا[1] نه زياته وه راغلل ډول ډول عذرونه يې وړاندې کول، قسمونه يې خوړل، رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) به هم د دوی عذر مانه، د دوی ظاهري اعتراف به يې قبلاوه بيعت به يې ورنه اخيست د مغفرت دعا به يې ورته کوله او نور به يې خدای ته سپارل.

پدې ډله کې چې له رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) سره غزا ته نه وو

---

[1]. واقدي ويلي چې دغه د انصارو د منافقانو وه، او د اعرابو(بدويانو) لکه بني غفار او نورو د عذر وړاندې کوونکو تعداد هم ۸۲ کسان وو.او عبد الله بن ابي او پيروان يې لدينه جدا وو او د هغوی شميره هم زياته وه. فتح الباري ۱۱۹/۸ وګوره.

تللي، درې کسه داسې وو چې د کلک ايمان خاوندان وو، اوس يې هم د رښتيا لاره غوره کړه، دروغ يې ونه ويل اعتراف يې وکړ چې بې عذره لدې غزا نه پاتې شوي وو. دغه دری کسان کعب بن مالک، مراره بن ربيع او هلال بن اميه نومیدل. دوی ومنل چې هيڅ عذر يې نه درلود خو په غزا کې يې ګډون ونکړ، همدا وه چې رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) امر وکړ چې بايد دوی له ټولنې نه ګوښې شي، مسلمانانو ته يې وويل چې له دوی سره اړيکې وشلوي او خبرې کول ورسره بند کړي. دوی له ټولنې نه داسې پرې او بيل شول چې دا دومره لويه ځمکه وربانديې تنګه شوه، له ژوند نه ماړه شول له ځلويښتو ورځو نه وروسته امر ورته وشو چې له خپلو ښځو نه هم جدا شي، لس ورځې نورې هم له ټولو نه پردي وو، تر څو له پنځوس ورځې بيلتون نه وروسته الله تعالى رحم پرې وکړ توبه يې قبوله شوه او دا آيت شريف نازل شو:((وَعَلَى الثَّلاثَةِ الَّذِينَ خُلِّفُوا حَتَّى إِذَا ضَاقَتْ عَلَيْهِمْ الأَرْضُ بِمَا رَحُبَتْ وَضَاقَتْ عَلَيْهِمْ أَنفُسُهُمْ وَظَنُّوا أَنْ لا مَلْجَأَ مِنْ اللَّهِ إِلاَّ إِلَيْهِ ثُمَّ تَابَ عَلَيْهِمْ لِيَتُوبُوا إِنَّ اللَّهَ هُوَ التَّوَّابُ الرَّحِيمُ.))(التوبة: ١١٨)

[په هغو دريو کسانو چې بيرته پاتې شوي وو تر هغه پورې چې تنګه شوه پر دوی دا ارته ځمکه او تنګ شول پر دوی زړونه د دوی او يقين يې وکړ چې نشته ځای د پناه له قهره د الله، پناه يوازې له الله سره ده، بيا الله دوی ته د توبې توفيق ورکړ بيشکه چې الله ښه توبه قبلونکی ډير رحم والا دی.]

پر دوی الهي رحم وشو، مسلمانان زيات خوشاله شول، دوی هم له ډيرې خوشالۍ نه صدقې ورکړې او دا يې د ژوند تر ټولو نيکمرغه ورځ وه.

د هغو مؤمنانو په هکله چې د عذر په اساس يې په دې غزا کې ګډون نه و کړی، دا آيتونه را نازل شول: ((لَيْسَ عَلَى الضُّعَفَاءِ وَلا عَلَى الْمَرْضَى وَلا عَلَى الَّذِينَ لا يَجِدُونَ مَا يُنفِقُونَ حَرَجٌ إِذَا نَصَحُوا لِلَّهِ وَرَسُولِهِ مَا عَلَى الْمُحْسِنِينَ مِنْ سَبِيلٍ وَاللَّهُ غَفُورٌ رَحِيمٌ (٩١) وَلا عَلَى الَّذِينَ إِذَا مَا أَتَوْكَ لِتَحْمِلَهُمْ قُلْتَ لا أَجِدُ مَا أَحْمِلُكُمْ عَلَيْهِ تَوَلَّوا وَأَعْيُنُهُمْ تَفِيضُ مِنْ الدَّمْعِ حَزَناً أَلاَّ يَجِدُوا مَا يُنفِقُونَ)) (التوبة: ٩١- ٩٢)

[نشته هيڅ ګناه په کمزورېو او نه په رنځورانو او نه په هغو کسانو چې نه مومي دوی هغه مال چې ولګوي يې په غزا کې کله چې اخلاص کوي له الله او رسول سره او نشته پر محسنانو ملامتيا. او نشته ګناه په هغو کسانو چې تا ته راغلل تر څو د سورلۍ

لپاره څه ورکړي، تا ورته وويل ستاسې د سورلۍ لپاره څه نلرم، او دوی پداسې حال بيرته ستانه شول چې سترګې يې له اوښکو ډکې وې پدې غمجن وو چې د خدای په لار کې د لګښت لپاره څه نلري]

همدا راز رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) چې کله د بيرته ستنيدو په وخت کې مدينې ته را لنډ شو نو ويې فرمايل: (**إن بالمدينة رجالاً ما سرتم مَسِيراً، ولا قطعتم وادياً إلا كانوا معكم، حبسهم العُذْرُ**)، **قالوا: يا رسول اللّه، وهم بالمدينة؟ قال:** (**وهم بالمدينة**). په مدينه کې داسې کسان شته چې ناست هلته دي خو ستاسې ټول ثواب يې ګټلی دی، په هره دښته او هره لاره چې تاسې تللي ياست د هغې ثواب دوی ته هم ور رسيدلی دی، ځکه دوی عذر درلود او عذر يې ددې مانع شو چې له تاسې نه پاتې شي. اصحابو (رضي الله عنهم) ورته وويل يا رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم)! دوی ته ثواب په مدينه کې ورکول کيږي؟ ده وفرمايل: هو همدا ثواب يې پداسې حال کې په برخه دی چې دوی په مدينه کې ناست دي.

د تبوک غزا پايلې او اغيزې

دې غزا په عربي جزيره کې د مسلمانانو د نفوذ د پراختيا او پياوړتيا په لار کې لويه اغيزه درلوده خلکو ته ثابته شوه چې دلته يوازې اسلام هغه ځواک دی چې د بقا او دوام چانس لري او مسلمانان له ټولو نه ځواکمن او د زيات نفوذ خاوندان دي.

پدې غزا سره د منافقانو او جاهلانو هيلې له خاورو سره خاورې شوې. دوی تمه درلوده چې ګوندې روميان به مسلمانان له مينځه يوسي خو هسې ونه شول، همدا وه چې دوی هم مجبور شول ډيخوا ته مخه کړي، نورې لارې وربانديې بنديې شوي، نو واقعيت ته تسليم شول. او لدينه وروسته نور داسې دليل نه و پاتې چې مسلمانان نرمې ورسره وکړي. الله تعالى امر وکړ چې سختي ورسره وشي، صدقې يې ونه منل شي د جنازې لمونځ يې ادا نه شي، رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) بايد نور د دوی لپاره مغفرت و نه غواړي او په قبرونو يې ونه دريږي. امر وشو چې د مسجد ضرار په نامه جوړ شوی د شر مرکز ونړول شي. د قرانکريم آيتونه نازل شول منافقان يې د اسې معرفي کړل لکه چې نومونه يې ياد کړي وي، ډير سپک او رسوا شول، نور ټولو پيژندل، پردې يې له مخونو پورته شوې. ددې غزا اغيزه دا وه چې د عربي پلاويو شميره ډيره شوه، که څه هم د مکې له فتحې نه وړاندې او وروسته د عربي قبايلو نمايندګان د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) خدمت ته راتلل خو

له تبوک نه وروسته ددې ډول وفدونو شمير نور هم زيات شو.[1]

ددې غزا په هکله د قرآنکريم لارښوونې

د برائت سورت زيات آيتونه د همدې غزا د حالاتو او احکامو په هکله نازل شول. پدې آيتونو کې ځينې داسې دي چې غزا ته له روانيدو نه مخکې نازل شوي، ځينې د سفر په دوران کې او نور له غزا نه له بيرته ستنيدو نه وروسته نازل شويدي. ددې آيتونو په واسطه الله تعالی ددې غزا حالات او شرايط بيان کړي، د منافقانو حقيقت يې پکې څرګند او په ګوته کړيدی. د ريښتينو مجاهدينو مقام او فضيلت ته يې اشاره کړيده، د هغو دريو کسانو توبه پکې قبوله شوې چې بې عذره پاتې شوي وو او داسې نور.

ددې کال ځينې مهمې پيښې

پدې کال کې څه داسې پيښې شوې چې په تاريخ کې د ډير اهميت درلودونکې دي:

۱- له تبوک څخه د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) له ستنيدو نه وروسته د عويمر عجلاني او ميرمنې تر مينځ يې لعان واقع شو. لعان يعنې د ښځې او ميړه له خوا يو پر بل لعنت ويل.

ددې حکم تفصيل د نور سورت په نهم آيت کې راغلی دی چې لنډيز يې داسې دی: کوم کسان چې خپلو ښځو ته د زنا نسبت کوي او پدې هکله شاهدان ونلري، نو بايد لومړی ميړه څلور ځلې قسم وخوري او په قسم سره ووايي چې پخپله خبره کې صادق دی او پنځم ځل ووايي که دروغ يې ويلي وي نو د خدای لعنت دې ورباندې وي، لدينه وروسته حد په ښځه راځي، خو که ښځې هم لعان ووايه يعنې څلور ځلې په قسم سره يې د ميړه خبره دروغ وبلله او پنځم ځل يې وويل چې که دروغ وايي نو د الله غضب دې پرې وي پدې سره له حد نه نجات مومي خو دواړه سره جدا کيږي.

---

[1]. ددې غزا تفصيلات مو لدې کتابونونه اخيستي دي: ابن هشام ۵۱۵/۲تر۵۳۷.. زاد المعاد۲/۳تر۱۳، بخاري ۶۳۳/۲تر ۶۳۷، صحيح مسلم مه شرحه للنووي۲۴۶/۲، فتح الباري ۱۱۰/۸تر۱۲۶، مختصر سيره الرسول ۳۹۱تر۴۰۷.

۲- له غامدي قبیلې نه یوه ښځه راغله د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) په حضور کې یې په زنا اعتراف وکړ هغه وخت یې وړوکی ماشوم درلود، خو کله یې چې ماشوم له شیدو نه جدا شو، ډوډۍ خوړل یې شروع کړل نو هغه ښځه سنګساره شوه.

۳- د حبشې پاچا اصحمه وفات شو، او رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) یې د جنازې غائبانه لمونځ ادا کړ.

۴- د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) لور ام کلثوم (رضي الله عنها) چې د عثمان (رضي الله عنه) میرمن وه وفات شوه. رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) ډیر غمګین شو او عثمان (رضي الله عنه) ته یې وفرمایل: (**لو کانت عندي ثالثة لزوجتکها**). که دریمه لور مې درلودی هغه به مې هم تا ته په نکاح درکړې وای.

۵- د منافقانو رئیس عبدالله بن ابي مړ شو. رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) یې د جنازې لمونځ وکړ او د مغفرت دعا یې ورته وکړه. عمر (رضي الله عنه) مخالفت کاوه چې باید جنازه یې ونه شي، له جنازې نه وروسته هغه آیتونه را نازل شول چې د عمر (رضي الله عنه) دریځ او خبره پکې تایید شویده.

د ابوبکر (رضي الله عنه) حج

(نهم هجري کال)

د همدې نهم هجري کال په ذي القعده يا ذي الحجه مياشت کې رسول الله (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) خپل يار ابوبکر (رضي الله عنه) د حاجيانو امير وټاکه. امر يې ورته وکړ چې لاړ شي او د حج په دوران کې د مسلمانانو لارښوونه وکړي او مناسک وربانديې ادا کړي. ورپسې د برائت سورت هغه آيتونه نازل شول چې د تساوي او برابرۍ په بنسټ يې له مشرکينو سره د شويو تړونونو ما تول اعلان کړل.

له همدې کبله رسول الله (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) علي (رضي الله عنه) ته وظيفه ورکړه چې لاړ شي او په مکه کې د رسول الله (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) له خوا دا فرمان خلکو ته اعلان کړي. دغه کار د مالونو او نفسونو په اړه تړونونو کې د عربو د عاداتو مطابق و (د دوی دا دستور ؤ چې دا ډول اعلان به سړی يا پخپله کاوه او يا به يې د کورنۍ د کوم غړي په واسطه اعلاناوه، د کورنۍ له غړو پرته د بل چا له خوا به اعلان نه منل کيده).

علي (رضي الله عنه) روان شو او په عرج او يا په ضجنان کې يې له ابوبکر (رضي الله عنه) سره ملاقات وشو. ابوبکر (رضي الله عنه) پوښتنه ورنه وکړه چې امير يې او که مامور؟ علي (رضي الله عنه) په ځواب کې وويل: نه، زه مامور يم.

بيا دواړه روان شول، ابوبکر (رضي الله عنه) د حج د مناسکو مشري وکړه، د اختر په ورځ علي (رضي الله عنه) له جمرې سره ودريد او خلکو ته يې د رسول الله (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) فرمان او پيغام ولوست.

پدې فرمان سره له ټولو مشرکينو سره تړونونه مات او لغوه شول، هغوی ته يې څلور مياشتې وخت ورکړ چې له سره فکر وکړي، له کومو مشرکينو سره چې تړون نه و شوی هغوی ته همدا مهلت وټاکل شو، خو هغه مشرکين چې مسلمانانو ته يې اذيت نه و رسولی او د مسلمانانو په خلاف يې له چاسره مرسته نه وه کړې هغوی ته اعلان وشو چې له دوی سره به تړون تر ټاکلې مودې پورې نافذ، د اعتبار وړ او عملي وي. ابوبکر (رضي الله عنه) ځينی کسان توظيف کړل چې اعلان وکړي لدې کال نه وروسته هيڅ

مشرک نه شي کولی د حج په مراسمو کې ګډون وکړي، هيڅا ته اجازه نشته په بربنډ حالت کې طواف وکړي. ددې فرمان په اعلان سره په حقيقت کې له عربي جزيرې نه د بت او بت پرستۍ ټغر په کلي توګه ټول شو، دا اعلان شوه چې نور شرک ختم شو، د بت پرستۍ تاريخ پای ته ورسيد ، او بيا به دلته بت پرستي رواج ونه مومي.[1]

[1]. صحيح بخاري ۱/۲۲۰_۴۵۱. ۲/۶۲۶_۶۲۷، زاد المعاد ۳/۲۵_۲۶، ابن هشام ۲/۵۴۳_۵۴۴_۵۴۵_۵۴۶.

د رسول الله ﷺ غزاګانو ته يو نظر

که د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) غزاګانو او دده له لوري استول شويو جنګي ګروپونو او پلاويو ته نظر وکړو، په نتايجو کې يې غور او دقت وکړو، نو دا به راته په ډاګه شي چې رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) د تاريخ تر ټولو لوی او بې سياله قوماندان و، په شجاعت او حکمت، تدبر او پوهه کې يې ساری نه درلود. او هغه لکه څرنګه چې د نبيانو سردار او سالار دی همداسې د جنګ په ډګر کې هم د با تدبيره، زړورو او بريالیو جنګ سالارانو سردار دی.

رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) بې وخته او بې ضرورته جګړه نده کړی، او کله چې د جګړې ضرورت پيښ شوی، نو په پوره شجاعت، تدبير او قاطعيت سره يې د جګړې امور ترتيب او عملي کړيدي. کله هم داسې نده شوې چې د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) لښکر دې د جنګي استراتيژی، پلان او تګلارې د کمزورۍ له امله ماتې خوړلې وي، د مناسب ځای انتخاب، د لښکر تنظيم، مناسبه استراتيژي او نورو برخو کې رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) دا په اثبات رسولې ده چې هغه د نړۍ له هر بل جنګي قوماندان نه پوه او مخکې دی.

د احد او حنين د پيښو او ماتې سبب د يو شمير غازيانو کمزوري او د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) د اوامرو مخالفت او هغه څه نه پلي کول و چې رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) له پوځي اړخه لازمي بللي و. او پدې دواړو غزاګانو کې د مسلمانانو له ماتې نه وروسته د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) نبوغ، شجاعت او حکمت په اثبات رسيږي. د احد په ورځ د جګړې په ډګر کې دومره استقامت او مقاومت کوي چې له املې يې د جګړې مخه په بله اوړي، ماتې بيرته په بري بدليږي، همدا راز د حنين په غزا کې هم په پوره حکمت او دقت سره ماتې خوړلی لښکر مقاومت ته رابولي، او داسې يې تنظيموي چې دښمن يې نور په وړاندې مقاومت نه شي کولی، د دښمن روحيات ماتوي، حوصلې يې پريوزي او ماتې خوري. پدې دول حالاتو کې ډير لوی او زړور قوماندانان خپله روحيه له لاسه ورکوي، هر څه ورنه شړيږي او د ځان له ژغورنې پرته د بل څه په فکر کې نه وي، خو رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) نه يوازې مقاومت کوي بلکه د دښمن

بری په ماتې بدلوي. مطلب دا چې د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) جنګي پوهه او حکمت دومره ؤ چې تاریخ یې ساری نلري.

رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) د خپل حکیمانه جنګي تاکتیک او بریالی استراتیژۍ پواسطه وکولی شوای په عربي جزیره کې امنیت ټینګ کړي. د اسلام او سولې دښمنان له مینځه یوسي، مشرکان سولې ته اړ کړي او د اسلامي دعوت په وړاندې ټول خنډونه لیرې کړي هغه پخپل حکمت سره منافقان هم تجرید کړل، ریښتوني مومنان له دروغجنو او منافقانو نه بیل شول.

رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) نه یوازې پخپله عظیم لارښود او قوماندان ؤ، بلکه هغه ډیر نور نومیالي قوماندانان هم روزلي دي. او همدا د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) په لاس روزل شوي قوماندانان وو چې د خپل لارښود له وفات نه وروسته یې د فارس او روم په مقابل کې جګړې وکړې، د شام او عراق په ډښتو کې یې د مقابلې په ډګر کې پر دښمن غلبه وموندله، خپله برلاسي یې په اثبات ورسوله، او پخپل تدبر او حکمت سره یې وکولای شوای دښمنان مات کړي، او د وخت دوې امپراطورۍ درې وړې کړي.

د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) د جګړو او غزاګانو بله ګټه دا وه چې د مسلمانانو لپاره کور، ځمکه او کار پیدا شو، د بې وسه مهاجرینو مشکلات حل شول، هغوی هم جنګي وسایل او مصارف پیدا کړل. دا ټول مشکلات پداسې حال او داسې طریقې سره حل شول چې په هیڅا هم یوه ذره ظلم و نه شو.

رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) د جاهلیت د زمانې ټول دودونه بدل کړل، د هغې توري دورې د جنګ اسباب او اهداف یې هم له مینځه یووړل. په جاهلیت کې د جنګ معنی او هدف چور، چپاول، ظلم، تیری، انتقام، د نورو حقوق تر پښو لاندې کول، د کلیو او کورونو ورانول، د بې ګناه خلکو بې ځایه وژل، د ښځو په عفت تیری، د ماشومانو، ښځو، زړو او بې وسانو پر حقوقو تیری، د فصلونو او ونو له مینځه وړل او په ځمکه کې هر ډول فساد خورول ؤ. هو جنګ د اسم او معنی دواړو له مخې بدل شو، جنګ په جهاد بدل شو چې هدف یې مقدس او سپیڅلی ؤ دا داسې جنګ و چې انسانیت پرې ویاړي، ددې جنګ هدف له ظلم او وحشت نه د انسان آزادي وه. پدې سره بې وسانو خپل حقوق تر لاسه کړل، د زورورو زور اوبه شو، د زور او ظلم دوره تیره شوه، حق او انصاف قایم شو. ددې جهاد هدف د هغو ښځو، ماشومانو او بو ډاګانو آزادي وه چې ویل به یې: اې ربه! مونږ لدې ظالمانو نه خلاص کړې، مونږ لدې کلي نه چې اوسیدونکي یې ظالمان دي وباسې، ربه! زمونږ چاره

وکړي، زمونږ سره مرسته وکړي، او مونږ ته ولي او سرپرست پيدا کړي.
د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) د جګړو هدف دا وۀ چې ځمکه له فريب، چل، غدر، خيانت، تيري او فساد نه پاکه کړي. ځای يې انصاف، وفا، عدل، او پاکي ونيسي. رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) د جنګ لپاره شريفانه او سپيڅلي قواعد وضع کړل او کله به يې چې کوم صحابي د لښکر قوماندان ټاکه نو د تقوی، عدل او انصاف توصيه به يې ورته کوله، امر به يې ورته کاوه چې له خلکو سره ښه معامله وکړي. سليمان بن بريده له خپل پلار نه روايت کوي: رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) به چې څوک د لښکر قوماندان وټاکه نو د تقوی او له مسلمانانو سره د نيکۍ امر به يې ورته کاوه او فرمايل به يې: (**اغزوا بسم اللّـــه، في سبيل اللّه، قاتلوا من كفر باللّه، اغزوا، فلا تغلوا، ولاتغدروا، ولا تمثلوا، ولا تقتلوا وليداً...**) **الحديث**.[د الله په لار کې د الله په نامه جنګيږئ، له کافرانو سره جګړه وکړئ، جنګ وکړئ خو خيانت، غدر، فريب او چل مه کوئ، څوک مه مثله کوئ (اندامونه يې مه پرې کوئ) ماشومان مه وژنئ....] همدا راز د نرمۍ امر به يې ورته کاوه فرمايل به يې: (**يسروا ولا تعسروا، وسكنوا ولا تنفروا**). آساني کوئ، سختي پريږدئ، خلک خپل کړئ او له ځان نه يې مه بيزاروئ.[1]
رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) به د شپې له خوا پر دښمن برید نه کاوه، په اور د سوځيدو اجازه يې نه ورکوله د ماشومانو، ښځو او زړو له وژلو، او چور چپاول نه يې په کلکه سره نهي کوله، فرمايل به يې: (**إن النُّهْبَى ليست بأحـــل مـــن الميتة**).غلا او لوټ شوی مال د مرداري غوښې په شان مردار دی. د فصلونو له تباه کولو، ونو، بوټو له قطع کولو نه يې منع فرمايلې. او له خاصو ضروري شرايطو پرته يې کله هم د ونو د پرې کولو اجازه نده ورکړې. دمکې د فتحې په وخت کې يې فرمايلي: (**لا تجهزن على جريح، ولا تتبعن مدبراً، ولا تقتلن أســـيراً**). زخمي مه وژنئ، او څوک چې درنه تښتي هغه پسې مه ورځئ، او اسير مه وژنئ. رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) فرمان صادر کړی وۀ چې سفير او قاصد به نه وژل کيږي، د ذمي (هغه مشرک چې له مسلمانانو سره عهد او ټرون ولري) مرګ ندی روا.

---

[1]. صحيح مسلم ۲/ ۸۲-۸۳ .

رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) فرمايي:

(من قتل معاهداً لم يُرِحْ رائحة الجنة، وإن ريحها لتوجد من مسيرة أربعين عاماً). چا چې ذمي وواژه د جنت بوی به و نه مومي، پداسې حال کې چې د جنت بوی د څلويښتو کلو سفر په مسافه ليرې محسوسيږي.

دا او ديته نوري هغه اساسي لارښوونې دي چې د جاهليت د زمانې جنګ يې په مقدس جهاد بدل کړ.[1]

[1]. د تفصيلاتو لپاره : زاد المعاد ۲/ ۶۳ تر ۶۸ و الجهاد في الاسلام للاستاذ ابي الاعلى المودودي ص ۲۱۶ تر ۲۶۲ .

خلک ډلې ډلې اسلام راوړي

لکه مخکې مو چې وويل د مکې فتحه هغه لويه سوبه وه چې پواسطه يې د بت پرستۍ ستړه له بيخه ووته. عربانو حق او باطل وپيژندل، شک او شبهې له زړونو نه ووتلې، ټولو د اسلام خوا ته رجوع وکړه، او ډلې ډلې خلک اسلام ته راتلل.

عمرو بن سلمه وايي: مونږ له يوې داسې چينې سره اوسيدلو چې د خلکو لار وه را باندې پدې وخت کې ډير کاروانونه زمونږ له خوا سره تيريدل، پوښتنه به مو کوله په خلکو څه شوي؟ او دا محمد (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) څوک او څه کاره دی؟ په ځواب کې به يې را ته ويل: محمد (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) وايي چې: هغه د الله (جل جلاله) رسول (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) دی او وحي ورته راځي او الله داسې او هسې وحي ورته کړيده، ما به دا خبره داسې په ذهن کې ساتله لکه په زړه مې چې ليکل شوې وي.

عربان د مکې تر فتحې پورې په انتظار کې وو ويل به يې پريږدئ محمد (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) او قوم يې چې سره معلومه يې کړي، هر وخت که محمد (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) برلاسی شو، نو دا به ثابته شي چې هغه په حق دی، او ريښتونی رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) دی.

کله چې مکې فتحه شوه نو هرې قبيلې به هڅه کوله له نورو نه مخکې په اسلام مشرفه شي. عمرو زياتوي زما پلار هم له نورو نه مخکې د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) خدمت ته حاضر او په اسلام مشرف شو، کله چې بيرته راغی مونږ ته يې وويل: زه د هغه ريښتوني پيغمبر (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) له لوري تاسې ته راغلی يم چې فرمايي: دا لمونځ پدې وخت او دا پدې وخت کې ادا کړئ، کله چې د لمانځه وخت شي، نو يو کس بايد آذان وکړي، او بيادې هغه څوک امامت وکړي چې ډير قرآن کريم يې حفظ وي[1]. د حديث تر پايه.

لدې حديث نه دا څرګنديږي چې د مکې فتحې د اسلام او مسلمانانو په قوت او د

[1]. صحيح البخاري۲/۲۱۵_۲۱۲.

شرک په له مينځه وړلو کې زيات اثر درلود. لدې فتحې نه وروسته عربان اسلام ته تسليم شول. تاريخ شاهد دی چې په نهم او لسم هجري کال کې مختلفې قبيلې ډلې ډلې مدينې منورې ته راغلې او په اسلام مشرفې شويدي. د خدای بندګانو ډلې ډلې اسلام راوړی، او پدې مرحله کې د مسلمانانو شميره دومره زياتيږي چې د مکې په فتحه کې لس زره کسيز لښکر د تبوک په غزا کې په ديرش زره کسيز لښکر بدليږي. په ډيره لنډه موده کې د لښکر شميره دومره زياتيږي، لدې نه يو کال وروسته د حجه الوداع په دوران کې له رسول الله (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) سره يو لک يا يو لک او څلويښت زره تنه برخه اخلي، او ټول د الله له رسول (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) سره يو ځای تکبير، تهليل او تلبيه وايي.

پلاوي او استازي

هغه پلاوي چې د قومونو په نمايندګۍ د رسول الله (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) خدمت ته راغلي، سيرت ليکونکو يې شميره اويا (۷۰) ښودلې ده، خو دلته د ټولو په هکله خبرې نه شو کولی. او څرنګه چې په مفصله کيسه کې يې ډيره ګټه نشته، نو په اختصار سره له هغو پلاويو نه يادونه کوو چې زيات تاريخي ارزښت لري، خو دا بايد په ياد ولرو چې که څه هم د اکثرو قبيلو پلاوي د مکې له فتحې نه وروسته راغلي، خو د مکې له فتحې نه مخکې هم د ځينو قبايلو يو شمير پلاوي د رسول الله (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) حضور ته راغلي دي.

۱- عبدالقيس پلاوی: د دې قبيلې دوه هيئتونه استولي وو، چې لومړې يې په پنځم هجري کال يا له هغه نه هم مخکې وۀ.

ددې قوم يو کس چې منقذ بن حيان نوميده هر وخت به د تجارت لپاره مدينې ته راته، د رسول الله (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) له هجرت نه وروسته هم مدينې ته راغی د اسلام په هکله يې معلومات تر لاسه کړل او مسلمان شو. بيايې د رسول الله (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) ليک او پيغام خپل قوم ته يووړ هغوی هم ټول په اسلام مشرف شول. ورپسې يې د حرام په مياشت کې يو ۱۳ يا ۱۴ کسيز پلاوی مدينې ته ولېږه، دوی د همدې سفر په دوران کې د ايمان او هغو لوښو په هکله پوښتنه وکړه کوم چې شراب به يې پکې ساتل. ددې پلاوي مشر اشج عصري وۀ چې رسول الله (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) يې په هکله فرمايلي: (**إن فيك خصلتين يحبهما**

اللّه: الحلم والأناة).په تا کې دوه داسې صفتونه شته چې د الله او رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) خوښ دي دا صفتونه يو حلم دې او بل تاني (دقت).
ددې قبيلې دوهم هيئت له فتحې نه وروسته په هغه کال کې مدينې ته راغی چې د عام الوفود په نامه يادیږي. پدې پلاوي کې څلويښت تنه راغلي وو، له دوی سره جارود بن علاء عبدي هم وۀ، نوموړی لدينه مخکې مسيحي وۀ چې بيا په اسلام مشرف شو.[1]

۲- د دَوس قبيلې پلاوی: پداسې وخت کې چې رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) په خيبر کې تشريف درلود، ددې قبيلې پلاوی راغی، مخکې پاڼو کې مو وويل چې طفيل بن عمرو الدوسي له هجرت نه مخکې مسلمان شو، مکې ته راغلی وۀ او هملته يې د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) په لاس ايمان راوړ، بيا خپلی قبيلې ته ستون شو، هغوی ته يې د اسلام بلنه ورکړه، خو قوم يې مثبت ځواب نه ورکاوه، طفيل ورنه ناهيلی شو بيرته د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) حضورته راغی، عرض يې وکړ: يا رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم)! دوس قبيلې ته بنيرې وکړه. رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) وفرمايل: (**اللهم اهد دوساً**). اې ربه! ته دوس قبيلې ته هدايت وکړې. وروسته يې اسلام راوړ په اووم هجري کال کې چې رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) په خيبر کې تشريف درلود طفيل د خپل قوم له ۷۰ يا ۸۰ کورنيو سره يو ځای مدينې ته راغی او ټول په اسلام مشرف شوي وو.

۳- د فروه بن عمرو جذامي استازی: فروه د روميانو تر حکم لاندې يو عربي قوماندان وۀ له روم سره د نژدې پرتو عربي قبايلو قومانده يې په غاړه درلوده. مرکز يې په معان نومې سيمه کې وۀ چې اوس د اردن په جنوب کې پرته ده. فروه چې په اتم هجري کال کې د موتې غزا په ترڅ کې د مسلمانانو شجاعت، مقاومت، صبر او تدبير ولید په اسلام مشرف شو او يو نماينده يې د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) حضور ته واستاوه، د خپل اسلام خبر يې ورکړ او يوه سپينه کچره يا قاطره يې هم ورته د تحفې په شکل وليږله.

---

[1]. شرح مسلم نووي ۱/ ۳۳ .فتح الباري ۸/۸۵_۸۶.

رومیان چې د فروه په اسلام خبر شول بندې یې کړ او ورته ویې ویل یا به اسلام پریږدې او یا به دې سر پرې کوو، هغه په اسلام قایم پاتې شو، همغه وه چې رومیانو په فلسطین کې له عفراء نومې چینې سره په دار وځړاوه او سر یې پرې کړ.[1]

۴- د صُدَاء پلاوی: دا پلاوی هغه وخت راغی چې رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) په اتم هجري کال کې له جعرانه څخه راستون شو. کیسه داسې وه چې رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) یو څلور سوه کسیز جنګي ګروپ ته وظیفه ورکړه چې لاړ شي او د یمن هغه سیمه تر پښو لاندې کړي چیرته چې د صداء قبیله میشته وه. کله چې دغه ګروپ غازیان د قناه درې په پاسنۍ برخه کې ځای په ځای شول، زیاد بن حارث صدایي خبر شو چې د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) سپایان د دوی سیمې ته راغلي، هماغه وه چې سیخ د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) حضور ته ورغی عرض یې وکړ یا رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم)! ((زه د خپل قوم د نماینده په صفت درته راغلی یم. هیله ده خپل لښکر ته د بیرته ستنیدو امر وکړې، زه د خپل قوم ضامن یم، ضمانت یې کوم)). رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) خپل سپایان له قناه درې نه راوغوښتل، زیاد هم لاړ خپل قوم یې تشویق کړ چې د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) حضور ته ورشي، په نتیجه کې ۱۵ کسه د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) خدمت ته راغلل په اسلام مشرف شول. بیا بیرته ستانه شول خپل قوم یې اسلام ته راوباله، او پدې توګه ددوی په منځ کې اسلام خور شو، د حجه الوداع په وخت کې له همدې قبیلې نه سل کسان د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) خدمت ته راغلل.

۵- کعب بن زهیر ابي سلمی د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) په حضور کې: کعب د شاعرانو له کورنۍ او ډیر مشهور او معروف شاعر وۀ. ده به د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) هجوه کوله، په آتم هجري کال کې چې رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) له طائف نه ستون شو د کعب ورور بجیر بن زهیر خپل ورور کعب ته لیک ولیکه چې پکې لیکلي یې و: رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) د قریشو یو شمیر هغه کسان ووژل کوم چې دده هجوه

---

[1]. زاد المعاد ۳/ ۴۵، تفهیم القران ۲/ ۱۶۹ .

يې کړې وه او زيان يې ورسولی و او نور يې له مکې نه تښتيدلي دي، که خپل ژوند درته ګران وي نو د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) خدمت ته ورشه، ځکه که څوک توبه وباسي او خدمت ته يې حاضر شي هغه نه وژني، که دا نه کوې نو د خپل ژوند څه چاره دې کوه.

کعب هم خپل ورور ته ځواب وليکه، د دواړو تر منځ خطونه تبادله شول، په پای کې په کعب باندې ځمکه تنګه شوه، ټيکان يې ورک شو، وويريد او مجبور شو مدينې ته لاړ شي. هلته د جهينه قبيلې د يوه تن کره ورغی د سهار لمونځ يې له هغه سره ادا کړ بيا هغه سړي اشاره ورته وکړه، نو د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) حضور ته ورپاڅيد خپل لاسونه يې د هغه په مبارکو لاسونو کې کيښودل. رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) لا نه و پيژندلی چې دا کعب دی، کعب وويل : يا رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم)! کعب پناه درته راوړي، اسلام يې راوړی، ستا حضور ته راتلل غواړي امان درنه غواړي، که زه يې درته راولم، خپل حضور ته يې منې، توبه يې قبلوې؟! رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) وفرمايل: هو. کعب وويل: زه پخپله کعب يم. يو انصاري پورته شو اجازه يې وغوښته چې رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) امر ورته وکړي چې د کعب سر پرې کړي. رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) وفرمايل: (**دعه عنك، فإنه قد جاء تائباً نازعاً عما كان عليه**).پريږده هغه توبه ايستلی اسلام يې راوړی او تيره لاره يې بدله کړيده.

کعب پدې وخت کې خپله مشهوره قصيده وويله چې پيل يې داسې و:

بانت سعاد فقلبي اليوم متبول متيم اثرها لم يفد مكبول

[سعاد را نه ليرې شوې زړه مې ورپسې نا آرام دی، زړه مې ورپسې کشال دی، د هغې د عشق په زنجير تړل شوې دی خو هغې يې هيڅ بدل او عوض ندی ورکړی.]

په همدې قصيده کې يې د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) مدح کړی او د خپلې پخوانۍ خطا ښښنه يې غوښتې، وايي:

نبئت ان رسول الله اوعدني و العفو عند رسول الله مامول

مهلا هداك الذي اعطاك نافلةال قران فيها مواعيظ وتفصيل

لا تاخذني باقوال الوشاة و لم اذنب ولو كثرت في الاقاويل

لقـــد اقـــوم مقاما لو يقـــوم به ارى و اسمع ما لو يسمع الفيـــل
لظل يرعد الا ان يكـــون له من الـــرســـول باذن الله تنويل
حتى وضعـــت يميني ما انازعه في كـــف ذي نقمات قيله القيل
فلهو اخوف عندي اذا اكلمه و قيل انـــك منسوب و مسئول
من ضيغم بضراء الارض مخدره في بطـــن عشـــر غيل دونه غيل
ا ن الرســـول لنور يستضاء به مهـــند من سيوف الله مسلول

[خبر شوم چې رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) راته ګوابنس کړيدی، خو عفوه د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) مامول ده، احتياط، هغه خدای دې هدايت درته وکړي، چې قرآنکريم يې درته هديه کړيدی، چې پکې نصيحتونه او د مسايلو تفصيلات دي، ما د چغلګرو په خبرو مه نيسه، زه بې ګناه يم که څه هم په هکله مې خبرې ډيرې شوې، زه پداسې ځاې کې ولاړ يم داسې څه اورم او وينم که هلته فيل ولاړ وای او دا يې اوريدلي وای نو لړزيدلی به وای، او تر هغې پورې به نه ؤ آرام شوی تر څو چې رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) د الله په امر ورته عفوه او مهرباني وکړي تر دې پورې چې لاس مې بې له کوم مخالفته د هغه چا په مبارکو لاسونو کيښودل، چې د انتقام پوره توان لري او خبرې يې پوره مردانه او په ځای دي، په هغه شيبو کې چې زه ورسره خبرې کوم، هغه وخت چې راته ويل کيږي دغه او هغه خبره دې را رسيدلې او پدې هکله پوښتنه درنه کيږي، په همدې وخت کې هغه د عشر نومې سيمې له زمري نه ډير ويرونکی راته ښکاري، پدې سيمه کې يوې خوا بلې خوا ته ګڼې ونې دي. او زيات ځننور لري بيشکه چې رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) داسې نُور دی چې نور ورنه ګټه اخلي، نور ورنه رڼا اخلي، او هغه د الله په تورو کې د هغه هندي تورې په شان دی چې د دښمن د مقابلې لپاره له تيکي نه ايستل شوې وي.]

ورپسې يې د قريشو مهاجرينو صفت او ستاينه وکړه، ځکه چې دده د راتګ په وخت کې له دوی نه يوه هم دده په هکله نا مناسبه خبره ونکړه، د انصارو مدحه يې ونکړه بلکه طنز يې پرې وکړ ځکه له دوی نه يوه تن دده د مرګ اجازه غوښتې وه، ويلي يې دي:

يمشون مشي الجمال الزهر يعصمهم ضرب اذا عرد السود التنابيل

[قريش لکه د ښکلیو سپينو اوښانو په شان روان وي تورې وهونکي يې ساتنه کوي

کله چې هغوی را مخکې شي نو تور او کمزوري خلک لاره پريږدي او تښتي.]
کعب له اسلام راوړلو نه وروسته، هغه وخت چې ايمان يې ښه په زړه کې ځای ونيو د انصارو صفت هم وکړ او د دوی په هکله يې تيره غلطي جبران کړه، هغه په يوه قصيده کې وايي:

من سره كرم الحياة فلا يزل في مقنب من صالحي الانصار

ورثوا المكارم كابرا عن كابر ان الخيـــار هم بنو الاخيار

[ځوک چې شرافتمندانه او محترم ژوند غواړي هغه به د انصارو په يوه ځانګه کې اوسيږي انصار پشت په پشت بزرګان او قدرمن دي، دوی غوره دي د غوره بندګانو زامن دي.]

۶- د عـذره قبـيلې نمايـندګان: ددې قبيلې دوولس کسيز پلاوی د حمزه بن نعمان په ګډون د نهم هجري کال د صفر په مياشت کې حاضر شو. کله چې پوښتنه ترې وشوه تاسې د کومې قبيلې ياستئ؟ ويانديې وويل: مونږ له بنو عذره قبيلې څخه يو، مونږ د قصي مادري وروڼه يو، مونږ هغه څوک يوو چې د قصي ملاتړ مو کړی، خزاعه او بنو بکر مو له مکې نه ايستلي، مونږ د صله رحمې او خپلوی خاوندان يوو. نو رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) تود هرکلی ورته ووايه، او د شام د فتحې زيری يې ورکړ، او له کاهنو (کوډګرو) ښځو نه له سوال کولو او د جاهليت د زمانې په شان قربانۍ (ذبح) کولو نه يې منـــع ې کړل. د پلاوي غړي ټول په اسلام مشرف شول، څو ورځې يې په مدينه کې تيرې کړې، بيا خپلې مېنې ته ستانه شول.

۷- د بلي پلاوی: دغه هيات د نهم هجري کال په ربيع الاول مياشت کې مدينې ته راغی اسلام يې قبول کړ، درې شپې يې په مدينه کې تيرې کړې. د پلاوي مشر ابو الضبيب سوال وکړ چې آيا ميلمه پالنه ثواب لري که نه؟ رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) ورته وفرمايل: (**نعم، وكل معروف صنعته إلى غني أو فقـــير فهـــو صدقة**). هره نيکي له غنې سره وي که له فقير سره صدقه ده. نوموړي د ميلمستيا د مودې په هکله پوښتنه وکړه؟ رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) وفرمايل: (**ثلاثة أيام**). ميلمستيا دری ورځې وي. ابو الضبيب سوال وکړ: ورک شوی پسه د چا

دی؟ رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) وفرمایل: (**هي لك أو لأخيك أو للذنب**). هغه یا ستا دی، یا ستا د ورور او یا د لیوه. د ورک شوي اوښ په هکله یې هم پوښتنه وکړه. رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) ځواب ورکړ : (**مالك وله؟ دعه حتى يجده صـــاحبه**). ته ورک شوې اوښ څه کوې، خوشی یې کړه تر څو مالک یې پیدا شي.

۸- د ثقیف نمایندګان: دا پلاوی د نهم هجري کال په رمضان میاشت کې له تبوک غزا نه وروسته مدینې ته راغی. ددې پلاوي د اسلام کیسه داسې ده: د ثقیف سردار عروه بن مسعود ثقفي د آتم هجري کال په ذي القعده کې له طائف غزا نه وروسته او مدینې ته له رسیدو نه مخکې د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) حضور ته راغلی وٴ اسلام یې راوړ، بیرته خپل قوم ته ستون شو او هغوی یې هم اسلام ته راوبلل. دده تمه دا وه چې قوم به یې ایمان راوړي، ځکه د خپل قوم په منځ کې یې زیات محبوبیت درلود یو منل شوی سردار وٴ، خلکو ته له خپلو ښځو او اولادونو نه هم زیات ګران وٴ، نو ځکه یې دا ګمان و چې قوم به یې بلنه او خبره مني، خو هغوی دا ځل دده د اسلامي بلنې په ځواب کې نه یوازې منفي ځواب ورکړ بلکه د غشو باران یې پرې جوړ کړ تر څو د اسلام په ګناه شهید شو.

لدینه وروسته ثقیف قبیله څو میاشتې همداسې سر ګردانه وه، بالاخره یې مشورې سره وکړې او پوه شول چې د مسلمانانو مقابله نه شي کولی، تصمیم یې ونیو یو کس د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) حضور ته ولیږي. لومړی یې عبدیالیل بن عمرو غوره کړ تر څو د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) خدمت ته ورشي، خو هغه وویرید او ویې ویل هسې نه له ده سره هم لکه د عروه په شان معامله وشي همدا وه چې د خپل قوم دا غوښتنه یې و نه منله او ورته ویې ویل: زه دا کار هغه وخت کولی شم چې څو نور کسان هم راسره ملګري کړئ! قوم دوه کسان له ثقیف او دری تنه له بني مالک نه ورسره ملګري کړل، پدې ترتیب سره شپږ کسان چې عثمان بن ابي العاص ثقفي هم ورسره وٴ د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) حضور ته لاړل.

دوی چې مدینې ته ورسیدل، رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) امر وکړ چې په جومات کې د ننه ورته یو ځای تیار شي تر څو هملته د قرآنکریم تلاوت واوري او مسلمانان د لمانځه په حالت کې وګوري.

د پلاوي غړي څه موده همدلته پاتې شول، وخت نا وخت به د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) زیارت ته راتلل، هغه به اسلام ته رابلل. په پای کې د هیئت مشر له رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) نه د امن او سولې د داسې ټرون سوال او غوښتنه وکړه چې پکې دوې ته د زنا، شراب څښلو، سود خوړلو، او لمونځ نه کولو اجازه وي، لوی بت (لات) یې مات نشي او نور بتان به هم دوی پخپل لاس نه ماتوي. رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) د دوی دا یوه غوښتنه هم قبوله نکړه. هغوی بیا مشورې سره وکړې، بالاخره دې نتیجې ته ورسیدل چې له اسلام او د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) له پیروی او اطاعت نه پرته بله لاره او چاره نلري. همدا وه چې د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) حضور ته راغلل او مسلمانان شول، خو یوه غوښتنه یې وکړه چې لات بت دې رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) مات کړي ثقیف ته دې دا کار نه سپاري، دا غوښتنه یې ومنل شوه. رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) لیک ورته ولیکه، عثمان بن ابي العاص یې امیر ورته وټاکه ځکه هغه له نورو نه زیات د اسلام او قرآنکریم له زده کړې سره مینه لرله. د وفد غړي به هر سهار د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) حضور ته راتلل او عثمان به یې له خپل سامان سره پرېښوده، خو کله به چې دوی د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) له حضور نه بیرته راتلل د غرمې له مخې به ویده کیدل، عثمان به د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) حضور ته راته او ورته ویل به یې د قرآنکریم تلاوت راته واوروه! د دین د احکامو په هکله به یې هم سوالونه کول او که به یې رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) ونه موند نو بیا به د همدې غرض لپاره د ابوبکر (رضي الله عنه) خدمت ته ورته. دا همغه برکتي او مؤمن شخص ؤ چې د ارتداد په زمانه کې د خپل قوم لپاره لوی رحمت ثابت شو، ځکه هغه وخت چې دې قوم اراده وکړه له اسلام نه واوړي ده ورته وویل: اې د ثقیف خلکو! تاسې وروستی قوم یاستئ چې اسلام مو راوړ، اوس په کفر کې له نورو نه مه مخکې کیږئ! قوم یې خبره ومنله او په اسلام ثابت پاتې شول.

پلاوی له مدینې نه ستون شو، کله چې خپل قوم ته ورسیدل حقیقت یې ورنه پټ کړ، څو ورځې یې د خپل اسلام خبره ورته ونه کړه، خو دا مشوره یې ورکړه چې جنګ ته زړه ښه نکړي ځانونه یې غمجن او خفه ښکارول او دا یې ورته وویل چې رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) له دوی نه د اسلام راوړلو غوښتنه کړیده، او

ورته ویلي یې دي چې زنا، شراب، سود او نور ناروا کارونه به پریږدي، که نه نو جنګ به ورسره کوي.

ثقیفیان چې ډیر کبرجن خلک وو مغرور شول، دوې دری ورځې یې د جنګ اراده درلوده، خو وروسته یې په زړونو کې ویره پیدا شوه او د پلاوي غړو ته یې وویل: لاړ شئ او د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) د امر مطابق عمل وکړئ غوښتنې یې ومنئ. همدلته وه چې هغوی حقیقت ورته بیان کړ او هغه مطالب یې ورته وویل چې له رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) سره یې منلي وو. پدې ترتیب سره ثقیف قبیله هم په اسلام مشرفه شوه. رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) خالد (رضي الله عنه) ته وظیفه ورکړه چې د یوه ګروپ په مشرۍ لاړ شي او لات دړې وړې کړي. مغیره بن شعبه ګرز یا یو غټ تبر واخیست او خپلو ملګرو ته یې وویل: تاسې به د ثقیف په باره کې خندوم، هماغه وه چې یو ځل یې تبر پورته کړ پر لات یې وار وکړ بیا یې ځان وغورځاوه او منډه یې کړه، د طائف خلکو پداسې حال کې چې لړزیدل وویل: خدای د مغیره ورک کړي، دا دی د لات منجورې وواژه.

مغیره راسم شو او ویې ویل: خوار شئ، دا بت خو له خټو او تیږو نه جوړ شوی، بل څه ندی، ورپسې یې په دروازه ګوزار وکړ ماته یې کړه، بیا یې په لوړ دیوال ور پورته شو، خلکو هم ورسره شروع وکړه دیوال یې ونړاوه، بت یې مات کړ، تهداب یې را لوخ کړ هلته چې څه کالي، زیورات وو ټول یې را وایستل د ثقیف قبیلې خلک حیران دریان ولاړ وو.

خالد (رضي الله عنه) دا کالي او زیورات ټول د رسول (صلی الله علیه وسلم) حضور ته راوړل، رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) په همغه ورځ وویشل. د الله تعالی د نعمت او نصرت شکر یې ووایه، حمد او ثنا یې وویله.[1]

۹- د یمن د پاچایانو لیک: رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) چې له تبوک نه راستون شو د حِمیر د پاچایانو لیک ورته راغی. دغه مشران چې لیک یې راستولی و عبارت وو له: الحارث بن عبدکُلال، نعیم بن عبدکلال، النعمان، قَیل ذي رعین، هَمدان، او مُعافر وو. دوی مالک بن مره الرهاوي خپل نماینده وټاکه او رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) ته یې ولیږه چې خبر ورکړي دوی په اسلام مشرف شوي او شرک یې پرې اینبی دی.

---

[1]. زاد المعاد ۲۶/۲ تر ۲۸ ابن هشام ۲/ ۵۳۷ تر ۵۴۲.

رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) دوی ته اسلامي لارښوونې وکړې، د مومنانو مسوولیتونه او حقوق يې ورته په ګوته کړل. او په همدې لیک کې يې دا ورته څرګنده کړه که معاهده کوونکي ټاکلی جزیه ورکړي ، نو د دوی لپاره د الله تعالی او رسول الله (صلی الله علیه وسلم) عهد او ژمنه ده. **یو ګروپ اصحاب يې د معاذ بن جبل** (رضي الله عنهم) په مشرۍ د هغوی د رهنمایۍ او لارښوونې لپاره ولیږل. معاذ (رضي الله عنه) يې د الکورة العلیا چې د عدن له خوا د السکون او سکاسک تر منځ واقع ده، مسئول وټاکه چې د قاضي، د جنګ د قوماندان ، جزیې او صدقاتو راټولولو او امامت دنده يې ورله. او ابو موسی الاشعري (رضي الله عنه) يې الکورة السفلی ته واستاوه چیرته چې زُبید،مارب، زمع او الساحل قبیلې میشته وې. او دواړو ته يې داسې امر وکړ: (**یسرا ولا تعسرا، وبشرا ولا تنفرا، وتطاوعا ولا تختلفا**). [آساني کوئ او له سختۍ نه ډډه کوئ، زیری ورکوئ، تشویقوئ يې او زړونه يې مه بدوئ ، یو له بل سره مرسته کوئ او اختلاف مه کوئ.]

معاذ (رضي الله عنه) تر هغې په یمن کې پاتې و، تر څو رسول (صلی الله علیه وسلم) رحلت وکړ. او ابو موسی الاشعري (رضي الله عنه) په حجة الوداع کې د رسول اکرم (صلی الله علیه وسلم) خدمت ته ورسید.

۱۰- د همدان پلاوی: دا پلاوی په نهم هجري کال کې له تبوک غزا نه وروسته را ورسید. رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) لیک ورته ولیکه او څه شیان يې چې دوی غوښتي وو ورکړل. مالک بن نمط يې د خپل قوم د مسلمانانو امیر وټاکه، او د نورو لپاره يې خالد بن ولید (رضي الله عنه) ورولیږه، چې اسلام ته يې را وبولي. هغه هلته شپږ میاشتې پاتې شو، هغوی يې اسلام ته رابلل، خو دوی اسلام ونه مانه، بیا رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) د خالد په ځای علي (رضي الله عنه) مقرر کړ، خالد (رضي الله عنه) را ستون شو. علي (رضي الله عنه) د همدان خلکو ته ورغی د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) لیک يې ورته ولوست، اسلام ته يې را دعوت کړل، په همدې سره هغوی ټول په اسلام مشرف شول. علی (رضي الله عنه) د خپلې کامیابۍ او همدان قبیلې د اسلام زیری رسول الله (صلی

الله علیه و اله و صحبه و سلم) ته ولیږه. رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) ته چې دا لیک ورسید له خوشالۍ نه په سجده پریوت او کله یې چې مبارک سر له سجدې نه پورته کړ ویې فرمایل: (**السلام علی همدان، السلام علی همدان**).سلام پر همدان، همدان دې سلامت وي.

۱۱- د بني فزاره نماینده ګان: دغه پلاوی په نهم هجري کال کې له تبوک نه له راستنیدو وروسته د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) خدمت ته حاضر شو، شمیره یې څه د پاسه لس تنه وو چې راغلل په اسلام یې اعتراف وکړ او ورسره جوخت یې د خپلې بدې ورځې، قحطۍ او وچکالۍ نه شکایتونه وکړل. رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) منبر ته پورته شو لاسونه یې پورته کړل، د باران دعا یې وکړه ویې فرمایل: (**اللهم اسق بلادك وبهائمك، وانشر رحمتك، وأحْي بلدك المیت، اللهم اسقنا غَيْثاً مُغيثاً، مريئًا مَرِيعاً، طَبَقاً واسعاً، عاجلاً غير آجل، نافعاً غير ضار، اللّهم سقيا رحمة، لا سقيا عذاب، ولاهَدْم ولا غَرَق ولا مَحْق، اللّهم اسقنا الغيث، وانصرنا على الأعداء**). یا لویه خدایه! خپل ښارونه او چارپایان سیراب کړه! رحمتونه دې نازل کړه، دا مړ (وچ) ملک بیرته ژوندی کړه، خدایه! داسې باران راباندې وکړه چې درد مو دوا کړي، آرامي راته راوړي، ګټه را ورسوي، ډیر پراخ وي، زر وي وروسته نه، ګټور وي، تاوان ونلري! لویه خدایه! د رحمت باران غواړو، نه د عذاب باران او نه داسې باران چې نړوونکی، ډوبونکی او له مینځه وړونکی وي! لویه خدایه! پر مونږ باران وکړې، او پر دښمن برلاسي او نصرت را په برخه کړې! [1]

۱۲- د نجران پلاوی: نجران د مکې جنوب د یمن لور ته اوه منزله لیرې پروت لوی ښ ا ر دی. نجران دري اویا (۷۳) کلي درلودل، سپور په تیز رفتار سره په یوه ورځ کې ورسیدلی شوای.[2]

دلته یو لک مسیحي جنګیالان هم وو. د نجران هیئت په نهم هجري کال کې مدینې ته راغی. پدې پلاوي کې ۶۰ کسان وو، چې ۲۴ یې سرداران وو، دری یې هغه وو چې د نجران مشرتابه یې په غاړه وه:

---

[1]. زاد المعاد ۳/ ۴۸

[2]. فتح الباري ۸/ ۹۴

الف: عاقب چې نوم یې عبدالمسیح وٴ، نوموړي د حکومت مشري په غاړه درلوده.
ب : سید چې نوم یې ایهم یا شرحبیل وٴ، ده د سیاسي او فرهنګي چارو مسئوولیت درلود.
ج: اسقف چې نوم یې ابو حارثه بن علقمه وٴ او د دیني چارو ریاست یا دیني مشرتابه ورسره وه.
دغه نمایندګان چې مدینې ته راغلل له رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) سره یې وکتل، یو له بل نه یې څه پوښتنې وکړې. رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) اسلام ته راوبلل، قرآنکریم یې ورته تلاوت کړ، دوی د اسلام له منلو نه معذرت وغوښت، د عیسی (علیه السلام) په هکله یې دده نظر وغوښت.
رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) پدې ورځ ځواب ورنکړ تر څو دا مبارک آیاتونه نازل شول: ((إِنَّ مَثَلَ عِيسَى عِنْدَ اللَّهِ كَمَثَلِ آدَمَ خَلَقَهُ مِنْ تُرَابٍ ثُمَّ قَالَ لَهُ كُنْ فَيَكُونُ (٥٩) الْحَقُّ مِنْ رَبِّكَ فَلا تَكُنْ مِنَ الْمُمْتَرِينَ (٦٠) فَمَنْ حَاجَّكَ فِيهِ مِنْ بَعْدِ مَا جَاءَكَ مِنَ الْعِلْمِ فَقُلْ تَعَالَوْا نَدْعُ أَبْنَاءَنَا وَأَبْنَاءَكُمْ وَنِسَاءَنَا وَنِسَاءَكُمْ وَأَنْفُسَنَا وَأَنْفُسَكُمْ ثُمَّ نَبْتَهِلْ فَنَجْعَلْ لَعْنَةَ اللَّهِ عَلَى الْكَاذِبِينَ)). (آل عمران: ٥٩- ٦١)
[بیشکه صفت د عیسی په نزد د الله د آدم د صفت او مثال په شان دی. الله پیدا کړ آدم له خاورو څخه بیا یې وویل ده ته بشر شه پسې بشر شو. حق هغه دی چې راغلی دی له جانب د رب ستا، نو مه کیږئ له شک کوونکو نه، نو هر څوک چې جګړه او مناقشه کوي له تا سره په باره د عیسی (علیه السلام) کې وروسته له هغه چې حاصل شو تا ته صحیح علم د عیسی په بندګی او نبوت کې نو وایه اې محمده (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) راځئ چې راوبولو زامن زمونږ او زامن ستاسې او ښځې زمونږ او ښځې ستاسې او ځانونه خپل او ځانونه ستاسې بیا به التجا وکړو په دعا کې نو و به ګرځوو مونږ (وبه وایو) لعنت د الله په دروغجنو باندې.]
چې سهار شو، رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) د همدې آیتونو په رڼا کې د عیسی (علیه السلام) په هکله خپل نظر وړاندې کړ بیا یې هغوی (نمایندګانو) ته یوه ورځ وخت ورکړ چې فکر او غور وکړي. وروسته دې کسانو د عیسی (علیه السلام) په هکله د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) رایه او نظریه ونه منله، اسلام یې هم را نه وړ.
بل سهار رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) پداسې حال کې چې حسن او

حسين (رضي الله عنهما) يې پخپل چادر کې پټ کړی، فاطمه (رضي الله عنها) ورپسې شا ته روانه وه، راغی او له دې نصرانيانو نه يې وغوښتل چې راځئ اوس مباهله وکړو! (مباهله دې ته ويل کيږي چې ټول حاضر شي او بيا دعا او التجا وکړي چې الله دې دروغجن هلاک کړي).

هغوی چې د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) جديت وليد، سره ګوښه شول خبرې يې سره وکړې، عاقب او سيد ورته وويل چې مباهله نه کوو، ځکه که دا کار مو وکړ او هغه ريښتونی رسول وي، نو بيا به نه مونږ خير وګورو او نه زمونږ راتلونکي نسلونه، ټول به هلاک شو، هيڅ به راته پاتې نه شي ټول به هلاک شو، بالاخره يې دا خبره سره غوټه کړه چې رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) به حکم ګرزوي. راغلل او رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) ته يې عرض وکړ د فيصلې واک تا ته درکوو ته چې څه غواړې همغه به درکوو.

رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) جزيه ورباندې وټاکله. جزيه دوه زره جوړې (جامې او کالي) وې چې زر به يې په رجب او زر نورې به يې په صفر ميا شت کې ورکوي. دا شرط يې هم ورباندې کيښود چې له هرو دوو حلو (جامو) سره به يوه اوقيه (۱۵۲ ګرامه سپين زر) هم ورکوي. ددې جزيې په مقابل کې يې دوی ته پوره ديني آزادي او د الله او رسول ذمه او ضمانت ورکړ او ليک يې ورته وليکه.

دې نمايندګانو سوال وکړ چې يو امين شخص دوی ته واستوي. هماغه وه چې رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) ددې امت امين يعنې ابو عبيده بن جراح (رضي الله عنه) ورولېږه تر څو جزيه ورنه راوړي.

وروسته بيا د اسلام نور په نجران کې هم خور شو. سيرت ليکونکي وايي چې :

عاقب او سيد هم نجران ته له رسيدو نه وروسته په اسلام مشرف شول.

رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) دوهم ځل علي (رضي الله عنه) ته وظيفه ورکړه چې له دوی نه صدقې او جزيه راوړي، څرګنده ده چې صدقه له مسلمان څخه اخستل کيږي[1].

۱۳- د بني حنيفه قبيلې پلاوی: دا اوولس کسيز پلاوی چې مسيلمه الکذاب بن ثمامه بن کبير بن حبيب بن الحارث هم ورسره وۀ په نهم هجري کال کې مدينې ته

---

[1]. فتح الباري ۸/ ۹۴_۹۵. زاد المعاد ۳۹/۳تر ۴۱د نجران د پلاوې د څرنګوالي په اړه مختلف روايات راغلي، تردې چې ځنې محققين وايي چې د نجران پلاوی دوه ځله راغلی و. او مونږ پدې هکله هغه نظر وړاندې کړ چې راجح راته معلوم شو.

راغلی[1].

د پلاوي غړي لومړی د يوه انصاري کره ورغلل، بيا د رسول الله (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) خدمت ته حاضر شول او اسلام يې راوړ. د مسيلمه الکذاب د اسلام په هکله مختلف روايتونه راغلي دي خو که دقت وشي دا څرګندېږي چې نومورې اسلام نه و منلی، د تکبر، غرور، سرغړونې او قدرت غوښتنې څرګندونه يې کړې وه او د هيئت له نورو غړو سره د رسول الله (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) خدمت ته نه وۀ حاضر شوی. رسول الله (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) په لومړي سر کې هڅه وکړه په قولي او فعلي نيکۍ او شفقت سره هغه راجلب کړي، خو کله يې چې وليدل چې نيکي اثر نه پرې کوي نو پخپل فراست سره يې د شر اثرات او نښانې پکې وليدلې.

لدينه مخکې رسول الله (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) خوب وليدلی وۀ چې د ځمکې ټولې خزانې دده حضور ته راوړل شي او دوې کړې (د لاس حلقې) ورنه دده په مبارک لاس کې ولويږي. پدې سره رسول الله (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) ډير خفه شي او دا ډيرې ګرانې وربانديې تمامې شي، پدې وخت کې وحي ورته وشي چې پف يې کړه، کله يې چې پف کړي دواړه ورکې او ايسته شي. رسول الله (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) ددې خوب تعبير داسې وکړ چې دا دواړه (کړې يا بنګړې) به دوه دروغجن وي چې له ده نه وروسته به ظهور کوي.

او کله چې مسيلمه الکذاب دا تکبر او انکار وکړ او ويې ويل: که محمد (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) له ده نه وروسته واک ما ته راسپاري نو پيروي به يې وکړم پدې وخت کې رسول الله (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) پداسې حال کې هلته تشريف يووړ چې د خرما ونې يوه څانګه يې په لاس کې وه، شاعر يا خطيب يې ثابت بن قيس بن شماس هم ورسره و، له مسيلمه الکذاب او ملګرو سره يې ودريد خبرې يې ورته وکړې. په ځواب کې مسيلمه ورته وويل: که دې خوښه وي اوس به اختيار تا ته پرېږدو، خو پدې شرط چې له تا نه وروسته واک زمونږ شي. رسول الله (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) وفرمايل: (**لو سألتني هذه القطعة ما أعطيتكها، ولن تعدو أمر اللّه فيك، ولئن أدبرتَ ليعقرنك اللّه، واللّه إني لأراك الذي أُريتُ فيه ما رأيتُ، وهذا ثابت يجيبك عني**). که دغه د خرما څانګه يا پوستکی را نه وغواړې هم در به يې

[1]. فتح الباري ۸۷/۸.

نکړم، ته د خپل ځان په هکله د الله تعالی امر نه ښي بدلولی، که د شا وارولـه، انکـار دې وکړ الله تعالی به دې مات کړي، قسم په خدای چې زه تا هغه شخص ګڼم د کـوم پـه هکله چې ما خوب ليدلی، نور به دا ثابت زما په عوض ستا پوښتنې ځوابـوي. دا خبـره يې وفرمايله او ورنه لاړ.[1]

په پای کې همغـه څه وشـول چې رسـول الله (صـلی الله عليـه و الـه و صـحبه و سـلم) يـې وړاند وينه کړې وه. مسيلمه چې بيرته يمامه ته ستون شو، سوچونه يې کـول او بـالاخره يې دعوه وکړه چې له رسول الله (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) سره په نبـوت کـې شريک کړی شويدی. په دروغو يې د نبوت دعوه وکـړه، څه سـجع ويـل يـې پيـل کـړل د خپل قوم لپاره يې د شرابو او زنا جواز ورکړ، لدې شر سره بـه يـې دا شـاهدي هـم ويلـه چې محمد (صلی الله عليه و اله و صـحبه و سـلم) د الله رسـول دی. د بنـي حنيفـه ځيـنې خلک پرې وغوليدل ددې دروغجـن اطاعـت يـې وکـړ، ورسـره ملګـري شـول، خبـره يـې لويه شوه، تر دې حده چې د يمامه په رحمان مشهور شو.

مسـيلمه لـږ مـوده وروسـته رسـول الله (صـلی الله عليـه و الـه و صـحبه و سـلم) تـه ليـک واستاوه چې پکې ليکلي يې وو: زه له تا سره په نبوت کې شريک کړای شوی يـم، نـيم واک زمونږ لپـاره دی، او پاتـه نـيم د قريشـو لپـاره. رسـول الله (صـلی الله عليـه و الـه و صحبه و سلم) يې په ځواب کې ليـک ورتـه وليکـه چې دا آيـت يـې هـم پکـې ليکلـی و: ((إِنَّ الأَرْضَ لِلَّهِ يُورِثُهَا مَنْ يَشَاءُ مِنْ عِبَادِهِ وَالْعَاقِبَةُ لِلْمُـتَّقِينَ)) (الاعـراف: ۱۲۸) [ځمکه د الله تعالی ده، چا ته يې چې زړه وي همغـه تـه يـې ورکـوي عاقبت د متقيـانو دی.][2]

له ابن مسعود نه روايت دی وايي چې: ابن نواحه او ابن اثال د مسيلمه الکذاب د قاصدانو په توګه د رسول الله (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) حضور ته راغلل، رسول الله (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) ورته وفرمايل: (**أتشهدان أني رسول اللّه؟**) آيا پدې شاهدي وايئ او ايمان لرئ چې زه د الله رسول يم؟ دوی وويل: مونږ شاهدي وايو چې مسيلمه د الله رسول دی. رسول الله (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) وفرمايل: (**آمنت باللّه ورسوله، لو كنت قاتلاً رسولاً لقتلتكما**). په الله او

---

[1] صحيح البخاري باب وفد بني حنيفة، و باب قصة الاسود العنسي۲/۶۲۷_۶۲۸. فتح الباري ۸/۸۷ تر۹۳.

[2] زاد المعاد ۳/ ۳۱- ۳۲.

رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) مې ایمان راوړی، که قاصد او نماینده مې وژلی، نو تاسې به مې حتماً وژلي وای.[1]

مسیلمه الکذاب د هجرت په لسم کال د نبوت دعوه وکړه او په ۱۲ هجري کال د ربیع الاول په میاشت کې د ابوبکر (رضي الله عنه) د خلافت په وخت کې د یمامه په مشهوره جګړه کې د حمزه (رضي الله عنه) د قاتل وحشي په لاس ووژل شو.

دوهم دروغجن او د نبوت مدعي اسود عنسي وٴ، چې په یمن کې را پیدا او بیا د فیروز له لاسه ووژل شو. فیروز د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) له وفات نه یوه شپه او ورځ مخکې د اسود سر غوڅ کړ، رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) ته د وحي په واسطه خبر راغی او بیا دغه خبر له یمن نه د ابوبکر (رضي الله عنه) دخلافت په دوران کې راورسید[2].

۱۴- د بني عامر بن صعصعه نمایندګان: پدې ډله کې د خدای دښمن عامر بن طفیل او اربد بن قیس چې د لبید میرنی ورور کیده، خالد بن جعفر، جبار بن اسلم او نور شیطانان شامل وو. عامر هغه وحشي ظالم وٴ چې د بئر معونه له اصحابو (رضي الله عنهم) سره یې غدر او خیانت کړی و او ۷۰ کسان یې په شهادت رسولي وو.

کله چې دې هیئت مدینې ته د تګ اراده وکړه لوی شیطان عامر بن طفیل او اربد توطئه جوړه کړه او پدې سره متفق شول چې په چل او فریب سره به رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) په قتل رسوي مدینې ته چې ورسیدل، عامر له رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) سره خبرې شروع کړې، اربد د شا له لورې را تاو شو او د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) شا ته ودرید توره یې له تیکي را ایستله، لږ یې چې را وایستله نور یې لاس وچ شو او توره یې ونه شوای را ایستلی، او پدې ترتیب سره الله تعالی خپل رسول (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) وساته. رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) دواړو ته ښیرې وکړې، کله چې ستانه شول الله تعالی په اربد او اوښ یې تندر را نازل کړ دواړه یې وسیځل، عامر د یوې سلولې ښځې کره ورغی هلته یې په ستوني کې یوه غده (دانه) را پیدا شوه، او ویل به

---

[1]. امام احمد، مشکاه المصابیح ۲/ ۳۴۷ .

[2]. فتح الباري ۹۳/۸.

یې: آیا د اوښ د غدې په شان غده؟! د سلولي ښځې په کور کې مرګ!!
بخاري روایت کوي چې عامر د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) حضور ته راغی ویې ویل: د دریو شیانو وړاندیز کوم خوښه ستا کوم غوره کوې؟
لومړی دا چې د دښتې خلک به ستا او د کلیو او ښارونو اوسیدونکي به زما وي، یا دا چې له تا نه وروسته به واک زما وي، او که نه نو د غطفان لښکرې چې زر آسونه او زر آسپې به وي پکې درباندې راولم.
لدینه وروسته هغه د یوې ښځې په کورکې په طاعون مرض اخته شو، او هلته به یې ویل: دا غده خو لکه د اوښ د غدې په شان ده، اوس به د همدې ښځې په کور کې مرم، آس مې راولئ، آس یې راغی پرې سپور شو او د آس په شا یې ساه ورکړه.

۱۵- د تُجیب پلاوی: دا وفد چې ۱۳ کسان وو پکې د خپل قوم له صدقو سره یو ځای راغی. د قرآنکریم او احادیثو زده کړه به یې کوله، له رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) نه یې ډیر شیان وغوښتل او ډیرې پوښتنې یې ورنه وکړې.
رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) هغه ټول ورته ولیکل، ډیر پاتې نه شول، کله چې رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) د تګ اجازه ورکړه، دوی لاړل او هغه ځوان یې ورته راولیږه چې له خپل سامان سره یې پرې اینبې وئ.
ځوان راغی عرض یې وکړ: یا رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم)! صرف ددې لپاره راغلی یم چې له الله نه راته مغفرت او رحمت وغواړې، دا دعا راته وکړې چې الله د زړه غنا را کړي.
رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) همدا دعا ورته وکړه. لدینه وروسته دا ځوان د بې حده زیات قناعت خاوند وئ.
د ارتداد په وخت کې په اسلام ثابت او قایم پاتې شو، خپل قوم ته یې لارښوونه کوله هغوی هم په اسلام ثابت پاتې شول.
ددې پلاوي غړي په لسم هجري کال د حجه الوداع په وخت کې هم له رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) سره مخامخ او په زیارت یې مشرف شویدي.

۱۶- د طیئ وفد: دا پلاوی چې زید الخیل هم پکې وئ د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) خدمت ته راغلل اسلام یې ومانه. رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) د زید په هکله فرمایي: (**ما ذکر لي رجل من العرب بفضل، ثم جاءني**

إلا رأيته دون ما يقال فيه ، إلا زيد الخيل، فإنه لم يبلغ كل ما فيه). ما ته چې تر اوسه د عربانو د کوم شخص ښيګڼې يادې شوې بيا چې هغه راته راغلی نو ليدلي مې دي چې په هغه کې بيا دومره ښيګڼې نه وي لکه څومره چې ما اوريدلې وي، يوازې زيد الخيل داسې شخصيت دی چې ښيګڼې يې ډيرې زياتې دي او ټولې ماته نه وې بيان شوې. او له همدې امله يې د زيد الخير نوم وربانديې کيښود.

پدې ترتيب سره په نهم او لسم هجري کال زيات پلاوي او نمايندګان مدينې ته راغلل. تاريخ او سيرت ليکونکو پدې لړ کې د يمن، ازد ، د قضاعه له بني سعد نه هذيم، بني عامر بن قيس، بني اسد ، بهراء، خولان، محارب، بني حارث بن کعب، غامد ، بني منتفق، سلامان، بني عبس، مزينه، مراد ، زبيد ، کنده، ذي مره، غسان، بني عيش او نخع چې تر ټولو وروستی هيئت وۀ ياد کړيدی. د نخع پلاوی چې دوه سوه کسان وو د ۱۱ هجري کال د محرم په مياشت کې راغلی وۀ. نور زياتره هيئتونه په ۹ او ۱۰ کال کې راغلي وو، ددې هيئتونو مسلسل راتلل پدې دلالت کوي چې اسلامي دعوت په عربي جزيره باندې تسلط موندلی وۀ، د جزيرې ټولو اوسيدونکو مسلمانانو ته د قدر او احترام په سترګه کتل، هغوی پدې واقعيت باوري شوي وو چې د اسلام له اطاعت نه پرته بله لاره په مخکې نلري. مدينه منوره د عربي جزيرې په پايتخت او مرکز بدله شوې وه، خو دا هم نه شو ويلی چې اسلام په حقيقي معنی سره ددې ټولو خلکو په زړونو کې ځای نيولی و. ډير داسې کسان وو چې له خپلو مشرانو نه د پيروی په اساس يې اسلام منلی وۀ، زړونه يې د جاهليت، قتل او غارت له ميکروبونو نه بالکل نه وو صفا شوي، په بشپړه توګه د اسلام په قالب کې نه وو جوړ شوي، قرانکريم دې مطلب ته داسې اشاره فرمايي:

((**الأَعْرَابُ أَشَدُّ كُفْراً وَنِفَاقاً وَأَجْدَرُ أَلاَّ يَعْلَمُوا حُدُودَ مَا أَنزَلَ اللَّهُ عَلَى رَسُولِهِ وَاللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ (۹۷) وَمِنْ الأَعْرَابِ مَنْ يَتَّخِذُ مَا يُنفِقُ مَغْرَماً وَيَتَرَبَّصُ بِكُمْ الدَّوَائِرَ عَلَيْهِمْ دَائِرَةُ السَّوْءِ وَاللَّهُ سَمِيعٌ عَلِيمٌ**)) (التوبة: ۹۷– ۹۸).

[ترجمه: دغه باندې چيان عرب (کوچيان) په کفر او نفاق کې ډير کلک او د هغوی په هکله ددې خبرې امکانات زيات دي چې د هغه دين له حدودو نه بې خبره پاتې شي چې الله پخپل رسول (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) نازل کړيدی پدې باندې چيانوکې داسې کسان شته چې د خدای په لار کې چې څه لګوي نو هغه پر خپل ځان باندې د زور قلنګ ګڼي او ستاسې په باب د زمانې د څرخ انتظار باسي، پداسې

حال کې چې د بدۍ څرخ پخپله پر دوی مسلط دی، الله اوریدونکی او عالم دی.]
ورپسې بیا د نورو مدح او توصیف کوي فرمایي: ((وَمِنْ الأَعْرَابِ مَنْ يُؤْمِنُ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الآخِرِ وَيَتَّخِذُ مَا يُنفِقُ قُرُبَاتٍ عِنْدَ اللَّهِ وَصَلَوَاتِ الرَّسُولِ أَلا إِنَّهَا قُرْبَةٌ لَهُمْ سَيُدْخِلُهُمْ اللَّهُ فِي رَحْمَتِهِ إِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَحِيمٌ)) (التوبة: ۹۹) [ترجمه: او له همدې باندې چیانو څخه ځنې داسې دي چې په الله او ورځ د آخرت ایمان لري. او څه چې لګوي هغه الله ته د نژدې کیدو او له رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) نه د رحمت د دعا ګانو اخیستلو وسیله ګرځوي، هو هغه د هغو لپاره د نژدیوالي وسیله ده، الله به هغوی په رحمت کې داخل کړي الله غفور او رحم کوونکی دی.]
خو هغه ښاریان چې په مدینه، مکه، ثقیف، همدا راز زیات شمیر چې په یمن او بحرین کې وو د هغوی ایمان قوي و او د همدوی له ډلې نه د مسلمانانو سرداران، مشران او لوی صحابیان (رضي الله عنهم) دي[1].

[1]. دا د خضري خبرې دي محاضرات في تاريخ الامم الاسلامية ۱/۱٤٤. د یاد شویو پلاویو د تفصیلاتو لپاره دي کتابونو ته مراجعه وکړه: صحيح البخاري۱/۲/۱۳،٦۲٦تر٦۳۰. ابن هشام۲/٥۰۱تر٦۰۱. زاد المعاد۳/۲٦تر ٦۰. فتح الباري ۸/۸۳ تر ۱۰۳. رحمة للعالمين۱/۱۸٤ تر ۲۱۷.

د اسلامي دعوت بری
او
اغيزې يې

مخکې لدينه چې د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) د ژوند د وروستنيو ورځو څيړنې او مطالعې ته يو ګام نور هم ورلنډ شو، غواړو په هغې ويارمنې، عظيمې او بې ساري کارنامې څه نا څه رڼا واچوو کومه چې د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) په لاس تر سره شوې. هغه يې د ژوند ثمره ده او په همغې سره يې له نورو رسولانو (علیهم السلام) نه امتياز او برتري موندلې ده. او د همغې عظيمې کارنامې په وجه الله تعالی د دواړو کونينو سردار بللی، او د ړومبنيو او وروستنيو د سيادت تاج يې ور په سر کړی دی.

رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) ته د الله تعالی له لوري امر وشو:

((يَا أَيُّهَا الْمُزَّمِّلُ (١) قُمْ اللَّيْلَ إِلاَّ قَلِيلاً)) (المزمل: ١- ٢) [اې نغښتونکيه د ځان په جامه کې! ودريږه لمانځه ته په شپه کې مګر خو په لږه شپه کې.]

((يَا أَيُّهَا الْمُدَّثِّرُ (١) قُمْ فَأَنذِرْ)) (المدثر: ١-٢) [ترجمه: اې جامه کې نغښتونکيه! دريږه پورته شه او ووياروه.]

د همدې الهي حکم د تعميل لپاره رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) کلکه ملاوتړله، او له ٢٠ کلونو نه زياته موده يې د ځمکې په مخ ددې عظيم امانت د ادا کولو په لار کې نه ستړې کيدونکې هلې ځلې وکړې. د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) په غاړه د ټول بشريت مسؤوليت پروت وۀ، د عقيدې او په بيلابيلو ډګرونو کې د جهاد دروند مسؤوليت يې درلود.

رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) وظيفه درلوده د هغه ويده ضميرونو په خلاف جهاد وکړي چې د جاهليت په خرافاتو او باطلو تصوراتو کې ډوب شوي وو، د مادي شهواتو، هوسونو او غوښتنو په ځنځيرونو تړل شوي وو. رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) چې پدې وتوانيد د څو غوره اشخاصو ضميرونه د جاهليت

له ډنډ او ځنځيرونو نه آزاد کړي، په خپل صف کې يې ودروي، او د اصحابو مقام ته يې ورسوي، نو د بل ډول جهاد ډګر ته داخل شو. دا داسې جهاد ؤ چې يو په بل پسې يې مختلفې مرحلې درلودې. دا جهاد د بې شميره او سوګند خوړلو دښمنانو په خلاف جهاد او مبارزه وه، هغه دښمنان چې په پوره توان سره يې ددې هڅه کوله د خير، راحت، هدايت او برکت دغه نوې ونه له بيخه وباسي او پرېږدي په ځمکه کې ريښې وغزوي او سيوري يې هرې خوا ته خواره شي. رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) لا په عربي جزيره کې له جګړې نه بې غمه شوی نه و چې روميانو يې په خلاف د جګړې اور بل کړ، او د مقابلې لپاره يې تياري ونيوله.

دا بايد له ياده و نه باسو چې د جهاد او مبارزې پدې ټولو مراحلو کې د ويده ضمير په خلاف جګړه روانه وه. له ويده ضمير سره جګړه پای نلري، دا طولاني او همېشنۍ جګړه ده، ځکه د دې جګړې مقابل لوری شيطان دی. شيطان هيڅکله هم د انسان له اغوا، منحرف کولو څخه لاس نه اخلي، هغه تل هڅه کوي په انساني ضمير خپل واک قايم وساتي. رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) د الهي دعوت په ميدان کې د غره په شان ثابت ولاړ ؤ، د جهاد او مقاومت لاره يې نيولې وه، د ژوند سختيو ته يې اوږه ورکړې وه. د مادي امکاناتو د شتون او موجوديت په صورت کې يې هم د زهد او تقوی لاره خپله کړې وه. رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) پخپلو اصحابو (رضي الله عنهم) او نورو انسانانو د رحمت، امن، برکت، او سکون سيوره غوړولې وه. د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) لاره د زحمت، کړاو، تکليف، صبر او مقاومت لار وه. هغه به د شپې د خپل رب عبادت کاوه د قرآنکريم تلاوت به يې کاوه، او د خپل رب په وړاندې به يې د عجز او تسليمۍ سر په سجده اينبود.[1] او د همدې عظيم عمل، صبر، ستړيا له برکته يې نور خلک له امن او سوکالۍ نه برخمن کړي وو.

پدې ترتيب سره رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) له شل کاله نه زياته موده جهاد او جګړه وکړه. هيڅ ډول خندې يې مخه ډب نه شوای کړی، په پای کې دعوت بريالی شو. دا يو بې ساري بريالیتوب ؤ، خلک ورته حيران شول. ټوله عربي جزيره د محمد (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) ترواک لاندې راغله، د جاهليت جړې له بيخه ووتلې، رنځور عقلونه روغ شول د بتانو عبادت يې پرېښود. هرې خوا ته د توحيد نور خور شو په هره سيمه او هره دښته کې د توحيد او آذان انګازې پورته

---

[1]. دا د سيد قطب خبرې دي، فی ظلال القران ۲۹ /۱۶۸ .

شوې، د قرآن داعيان او قاريان شمال او جنوب ته لاړل قران به يې لوست او الهي احکام به يې پلي کول او پدې توګه هر چيرته د توحيد مدرسې جوړې شوې.
بيلابيلې او ګډې وډې قبيلې سره يو شوې، انسان د انسان له بندګۍ نه آزاد شو، ټول د الله بندګان وګرزيدل. طبقاتي نظام ختم شو، هلته نور بادار او غلام، ظالم او مظلوم، حاکم او محکوم نه و، ټول خلک برابر او د يوه الله بندګان وو، ټول سره ورورنه وو، د جاهليت ټولې نښانې له مينځه لاړې. داسې يوه ټولنه جوړه شوه چې پکې عربي په عجمي، عجمي په عربي، تور په سره، سور په تور برتري نه درلوده، د برترۍ معيار تقوی او ديندارې وه ځکه انسانان ټول د آدم (عليه السلام) اولاده ده او آدم له خاورو نه پيدا شوی .
د اسلامي دعوت له برکته بې ساري عربي او انساني يووالی مينځته راغی، اجتماعي عدالت حاکم شو. بشريت نيکمرغه او سوکاله شو، د تاريخ مسير بدل شو، د ځمکې مخ بدلون وموند ، فکر او افکار نوي شول. د اسلامي دعوت له پيل نه مخکې هر چيرته جاهليت حاکم وٴ، ضميرونه ويده وو، آرزوګاني ملوثې شوې وې، معيارونه لويدلي وو، د ظلم او جبر بازار ګرم وٴ. په ځينې ځايونو کې به عياشي او اسراف و، بل ځای به خلک له محروميت، فقر او لوږې نه ځوريدل. د کفر، طاغوت، او ګمراه ۍ پاچايي وه. که څه هم د آسماني اديانو ځينې نښانې وې، خو هر څه تحريف شوي وو او ديندارې ډيره کمزورې او له زړونو نه وتلې وه. کله چې د اسلامي بلنې رول پيل شو، اسلام د ژوند په ډګر کې خپل ځای ونيو، بشريت او بشري دماغ له وهم، خرافاتو، بندګۍ، غلامۍ، فساد، انحلال، ګمراهۍ او بې لارۍ نه پاک شو، ظلم، سرکشي، بې نظمي، استبداد او طبقاتي نظام پای ته ورسيد، د عفت، پاکۍ، آزادۍ، ابتکار، نوښت، پوهې، يقين، باور، اعتماد عدالت، کرامت دايمي او مخلصانه کار، ترقۍ او ايمان نوې دنيا آباده شوه.[1]
د همدې لوی او ژور بدلون له برکته په عربي جزيره کې د تاريخ او انساني ژوند نوی باب پرانيستل شو، او دا د جزيرې په تاريخ کې زرين باب او داسې خوځښت و چې تاريخ يې مثال نلري.

---

[1]. دا هم د سيد قطب خبرې دي، چې د ما ذا خسر العالم بانحطاط المسلمين کتاب په مقدمه کې يې ليکلې دي.

حجة الوداع

د رسول الله (ﷺ) وروستی حج

د اسلامي بلنې کارونه پای ته ورسيدل، رسالت ادا شو، د الهي دين په اساس او د قرآنکريم د هداياتو په رڼا کې نوې ټولنه جوړه شوه. په عملي توګه عبادت يوازې د الله حق جوړ شو، د دروغجنو، بې وسه، او بې روحه خدايانو پاچايي ړنګه شوه، اسلام حاکميت وموند. رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) خپله دنده په پوره توګه ادا کړه. په همدې وخت کې د غيبي خبر په اساس د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) په زړه کې دې خبرې ځاې ونيو لکه چې نور يې په دنيا کې وخت مخ په پوره کيدو دی.

په لسم هجري کال يې چې معاذ (رضي الله عنه) يمن ته استوه ورته ويې فرمايل: (**يا معاذ، إنك عسى ألا تلقاني بعد عامي هذا، ولعلك أن تمر بمسجدي هذا وقبري**).اې معاذه! کيدای شي راتلونکی کال ما و نه وينې، ښايي ته به راتلونکی کال زما په جومات او زما په قبر تير شې! ددې خبرې په اوريدو سره د معاذ (رضي الله عنه) اوښکې روانې شوې، او د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) په فراق کې يې په زار زار وژړل.

د الله تعالى اراده داسې وه چې رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) د خپل ۲۳ کلن دعوت، نه ستړي کيدونکو هلو ځلو، کړاوونو او زحمتونو ميوه وخوري. هغه ونې بار راوړ چې له ۲۰ کلونو زياته موده په وينو، اوښکو او خولو خړوبه شوې وه. رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) خپل هدف ته ورسيد، د مکې په څنډو کې د عربي قبايلو له نمايندګانو او مشرانو سره ګوري، هغوی ټول ورته راغلي الهي احکام او لارښوونې ورنه زده کوي، په مقابل کې رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) له هغوی نه دا اعتراف اخلي چې ده ورته دين او رسالت رسولی، الهي امانت يې په مکمله توګه دوی ته سپارلی، او امت ته يې نصيحت کړی او د ټولو خير يې غوښتی دی.

رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) د حج اراده وفرمايله. اعلان وشو، بې شميره خلک مدينې ته راغلل. ټولو دا تمه درلوده چې په رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) پسې اقتدا وکړي، او يو ځای حج ورسره ادا کړي.[1]

همدا وه چې د شنبې په ورځ چې دذي القعدې مياشتې څلور ورځې لا پاتې وې رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) د سفر تياري ونيوله.[2] خپل مبارک ويښتان يې ږومنځ کړل، تيل يې ووهل، لنګ او څادر يې واغوستل، د قربانۍ څاروي ته يې قلاده (غاړه کې) واچاوله، او له ماسپښين نه وروسته يې حرکت وکړ، چې له لمازديګر نه مخکې ذي الحليفه ته ورسيد ، هلته يې د لمازديګر لمونځ قصر(دوه رکعته) وکړ. شپه يې هملته تيره کړه سهار يې اصحابو (رضي الله عنهم) ته وفرمايل: (أتاني الليلة آت من ربي فقال: صَلِّ في هذا الوادي المبارك وقل: عمرة في حجة). د شپې د الله له لوري راتلونکی راته راغی او راته ويې ويل چې پدې مبارکه دره کې لمونځ وکړه او ووايه: حج او عمره.[3]

رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) له ماسپښين لمانځه نه مخکې غسل وکړ، بيا عائشې (رضي الله عنها) پخپل لاس خوشبويي ورباندې ووهله په مبارک بدن او سر يې داسې خوشبويي ور ووهله چې ذريره او مشک پکې ګډ و. په مبارکه ږيره يې د خوشبويۍ آثار له ورايه ښکاريدل چې ويې هم نه مينځل، بيا يې خپل لنګ او چادر واغوست بيا يې د ماسپښين لمونځ وکړ ورپسې يې د لمانځه په ځای د حج او عمرې دواړو په نيت احرام وتاړه تلبيه يې وويله. بيا د باندې ووت په قصوا نومې اوښه سپور شو تلبيه يې وويله، روان شو چې آزاد ميدان ته ورسيد هلته يې هم تلبيه وويله.

روان وُ تر څو مکې ته ورلنډ شو، شپه يې په ذي طوى کې وکړه د سهار له لمانځه نه وروسته يې غسل وکړ او مکې ته داخل شو. دا د لسم کال د ذي الحجې څلورمه د يکشنبې ورځ وه. په لارو کې يې اته ورځې تيرې شوې وې.

کله چې مسجد حرام ته داخل شو د بيت الله شريف طواف يې وکړ، د صفا او مروه تر مينځ يې سعي وکړه، احرام يې خلاص نکړ ځکه چې د حج قران نيت يې کړې وُ او د قربانۍ څاروي يې ورسره راوستلی و. له سعي نه وروسته يې د مکې په پورتنۍ سيمه

---

(1). مسلم عن جابر باب حجۍ النبي ۱/ ۳۹۴

(2). فتح الباري ۸/ ۱۰۴

(3). بخاري عن عمر ۱/ ۲۰۷

(حجون) کې واړول، او بيا يې د حج له طواف نه پرته د بيت الله بل طواف ونکړ. او له کومو کسانو سره چې د قربانۍ څاروي نه وو، هغوی ته يې امر وکړ چې لومړنی احرام يې يوازې د عمرې لپاره وګرزوي، يعنې له طواف او سعې نه وروسته بايد احرام خلاص کړي، ځانونه له احرام نه وباسي، خو څرنګه چې رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) پخپله احرام نه وٴ خلاص کړی، نو اصحاب (رضي الله عنهم) په شک کې ولويدل متردد شول. رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) ورته وفرمايل: **(لو استقبلت من أمري ما استدبرت ما أهديت، ولولا أن معي الهدي لأحللت)**.که زه د خپلې معاملې په رابطه په هغه څه چې اوس ورباندې پوه يم مخکې پوه شوی وای، نو د قربانۍ څاروی به مې نه وٴ راسره راوستلی، که دا څاروی نه وای راسره، نو له احرام نه به مې ځان حلالاوه. په همدې امر سره هغو اصحابو (رضي الله عنهم) چې د قربانۍ څاروي نه وو ورسره ټولو اطاعت وکړ او احرام يې خلاص کړ.

د ترويه يعنې د ذي الحجې په اتمه رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) د منى په طرف روان شو، هلته يې د ماسپښين، لمازديګر، مابنام، لماخستن او سهار لمونځونه ادا کړل. د سهار له لمانځه وروسته يې لږ ځنډ وکړ تر څو لمر څوک وواهه بيا د عرفات په لور روان شو، هلته ورته خيمه وهل شوې وه، نو هملته يې تشريف يووړ، تر څو زوال وشو. امر يې وفرمايه چې او ښه يې (قصواء) آماده کړای شي، د ميدان منځ ته راغی، شا و خوا ته يې يو لک څلويښت يا يو لک څلور څلويښت زره خلک را غونډ شوي وو. رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) پدې وخت کې دا خطبه ولوستله:

(أيها الناس، اسمعوا قولي، فإني لا أدري لعلى لا ألقاكم بعد عامي هذا بهذا الموقف أبداً)[1]. **(إن دماءكم وأموالكم حرام عليكم كحرمة يومكم هذا، في شهركم هذا، في بلدكم هذا. ألا كل شيء من أمر الجاهلية تحت قدمي موضوع، ودماء الجاهلية موضوعة، وإن أول دم أضع من دمائنا دم ابن ربيعة بن الحارث ــ وكان مسترضعاً في بني سعد فقتلته هُذَيْل ــ وربا الجاهلية موضوع، وأول ربا أضع من ربانا ربا عباس بن عبد المطلب، فإنه موضوع كله)**.**(فاتقوا اللّه في النساء، فإنكم أخذتموهن بأمانة اللّه، واستحللتم فروجهن بكلمة اللّه، ولكم عليهن ألا يوطئن فرشكم أحداً**

[1]. ابن هشام۲/۲۰۳.

تكرهونه، فإن فعلن ذلك فاضربوهن ضرباً غير مُبَرِّح، ولهن عليكم رزقهن وكسوتهن بالمعروف).

(وقد تركت فيكم ما لن تضلوا بعده إن اعتصمتم به، كتاب اللّه[1]).

(أيها الناس، إنه لا نبي بعدي، ولا أمة بعدكم، ألا فاعبدوا ربكم، وصلوا خمسكم، وصوموا شهركم، وأدوا زكاة أموالكم، طيبة بها أنفسكم، وتحجون بيت ربكم، وأطيعوا أولات أمركم، تدخلوا جنة ربكم[2]). (وأنتم تسألون عني، فما أنتم قائلون؟) قالوا: نشهد أنك قد بلغت وأديت ونصحت. فقال بأصبعه السبابة يرفعها إلى السماء، وينكتها إلى الناس: (اللهم اشهد) ثلاث مرات[3]. وكان الذي يصرخ في الناس بقول رسول اللّه صلى الله عليه وسلم ــ وهو بعرفة ــ ربيعة بن أمية ابن خَلَف[4].

اې خلكو! زما خبره واورئ، نه پوهيږم، ښايي له سړ کال نه وروسته نور تاسې پدې ځای کې د تل لپاره و نه وينم. ستا سې وينې او مالونه په تاسې باندې د تاسې پدې ښار کې د تاسې ددې میاشتې ددې ورځې د حرمت په شان حرام دي. خبر اوسئ چې د جاهلیت ټول امور او شیان زما تر پښو لاندې ایښودل شوي، د جاهلیت د زمانې وینې هدر او لغوه دي. لومړنی وینې چې زه يې له خپلو وینو نه هدر اعلانوم هغه د ابن ربیعه بن حارث وینې دي. (ابن ربیعه په بني سعد قبیله کې یوې دایې ته د شیدو خوړلو لپاره ورکړل شوی ؤ او د هذیل قبیلې له لاسه په قتل رسیدلی ؤ). د جاهلیت د زمانې د سود معاملې هم لغوه دي، او لومړنی د سود معامله چې زه يې ملغی اعلانوم هغه د عباس د سود معامله ده، هغه معامله ټوله لغوه او بې اعتباره ده. د ښځو په حق کې له الله نه وویریږئ، ځکه تاسې هغوی د الهي امانت په اساس خپلې کړیدي، او د خدای په امر او کلمې سره مو د جنسي استفادې لپاره حلال ګرزولې دي،

---

[1]. مسلم ۳۹۷/۱.
[2]. معدن الاعمال، رواه ابن ماجة و ابن عساكر، رحمة للعالمين۲٦۳/۱.
[3]. مسلم۳۹۷/۱.
[4]. ابن هشام ٦۰٥/۲.

پر هغوی ستاسې حق دا دی چې ستاسې په کور او فرش کې داسې چا ته اجازه ورنکړي چې ستاسې نه خوښیږي، که دا کار یې وکړ، نو تادیبا یې ووهئ داسې وهل چې کلک او ډیر دردوونکي نه وي. او پر تاسې باندي د هغوی حق دا دی چې په ښه او مناسبه طریقه ورته خوراک او لباس برابر کړئ. ما تاسې ته داسې څه پرې اینبې دي چې که منګولې پرې ونښلوئ نو کله به هم ګمراه او بې لارې نه شئ، او هغه قرآنکریم دی.

اې خلکو! له ما نه وروسته نبي نشته، او له تاسې نه وروسته بل امت نشته. خبردار اوسئ، د خپل رب عبادت کوئ، پنځه وخته لمونځ ادا کوئ، د رمضان میاشت روژه نیسئ، پخپله خوښه د خپلو مالونو زکات ورکوئ. د بیت الله حج کوئ، د خپلو آمرینو اطاعت کوئ نو د خپل رب جنت ته به داخل شئ.

له تاسې نه زما په هکله پوښتنه کیږي، تاسې به څه وایئ؟ حاضرینو وویل: مونږ شاهدي وایو چې تا د الله دین مونږ ته رارسولی دی، خپل رسالت دې ادا کړیدی، نصیحت دې کړی او خیر دې غوښتی دی. بیا رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) پخپله بټه یعنې د شهادت ګوته چې د آسمان لوري ته یې نیولې وه او د خلکو خوا ته یې کړوله اشاره وکړه، او ویې فرمایل: اې خدایه! شاهد اوسه، اې خدایه شاهد اوسه! اې خدایه شاهد اوسه! رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) چې دا خبرې کولې، ربیعه بن امیه بن خلف هغه په لوړ آواز نورو خلکو ته رسولې.

د الله رسول (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) چې خطبه ولوسته له، دا آیت شریف نازل شو: {الْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ وَأَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِي وَرَضِيتُ لَكُمُ الإِسْلاَمَ دِينًا}. (المائده: ۳)

[ما خپل دین ستاسې لپاره بشپړ کړ، او خپل نعمت مې درباندې تمام کړ او اسلام مې ددین په حیث درته غوره کړ.] عمر (رضي الله عنه) چې دا آیت شریف واورید ویې ژړل، رسول (علیله السلام) پوښتنه ترې وکړه ولې ژاړې؟ ده وویل: په کمال پسې نقصان وي. ورته ویې فرمایل: (صدقت) رښتیا دې وویل.[1]

له خطبې وروسته بلال (رضي الله عنه) آذان او اقامت ووایه، د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) په امامت د ماسپښین لمونځ ادا شو، ورپسې اقامت وویل شو او د لمازدیګر لمونځ ادا شو. ددې دواړو لمونځونو تر منځ یې بل هیڅ لمونځ

---

(۱). بخاري عن ابن عمر، رحمه للعالمین ۱/ ۲۶۵.

ونکړ. بیا رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) پخپله اوښه سپور شو او موقف (په عرفات د دریدو ځای) ته راغی د اوښي (قصواء) خیټه یې د پرښو (تیږو) خوا ته کړه، حبل مشاه (د پلیو لارې) ته مخامخ داسې ودریدو چې مخ یې قبلې ته وۀ او تر لمر پریوتو پورې لاس په دعا ولاړ وۀ. له لمر لویدو وروسته د مزدلفې په لور روان شو، اسامه (رضي الله عنه) یې له ځان سره سپور کړې وۀ، په مزدلفه کې یې د مانښام او لماسختن لمونځونه په یوه آذان او دوو اقامتونو ادا کړل، او د دوارو تر منځ یې بل لمونځ ونکړ. بیایې استراحت وکړ او تر سهاره ویده وۀ. د سهار لمونځ یې ښه په رڼا کې له آذان او اقامت وروسته ادا کړ، بیا پخپله اوښه سپور شو او مشعر الحرام ته یې تشریف یووړ، هلته مخ په قبله ودریدو، د الله ذکر یې کاوه ((**الله اکبر، لا الـــه الا الله وحده لا شریك له**)) کلمه یې ویله، تر څو ښه رڼا شوه. بیایې له لمر ختو نه مخکې د منی په طرف حرکت وکړ، فضل بن عباس (رضي الله عنه) یې له ځان سره په اوښه سپور کړی وۀ. د محسر دري ته چې ورسیدل، اوښه یې لږ تیږه کډه ، لږ مخکې لاړ ، بیا یې لویې جمري ته وتلې منځنۍ لاره ونیوله او جمره الاولی یا جمره العقبه ته چې هغه وخت یوه ونه هم ورسره وه ورسید. جمره یې په اوو وړو شګو وویشتله هر ځل به یې تکبیر وایه، او د دري له منځ نه به یې داسې ویشتله لکه څوک چې ننبه ولي. بیا د ذبحې ځای ته راغی ۶۳ اوښان یې پخپل مبارک لاس ذبح کړل، نور یې علي (رضي الله عنه) ته وسپارل چې دده په نمایندګۍ یې ذبح او حلال کړي. پدې ترتیب سره علي (رضي الله عنه) ۳۷ اوښان حلال کړل او ټول ۱۰۰ اوښان برابر شول. رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) پخپله قربانۍ کې علي (رضي الله عنه) هم ورسره شریک کړ، بیا یې امر وکړ چې له هر اوښ نه یوه یوه ټوټه غوښه واخیستل شي، یو ځای پخه شي. همداسې وشول غوښه پخه شوه، رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) او علي (رضي الله عنه) غوښه وخوړله او شوربا یې وڅښله. ورپسې رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) پخپله اوښه سپور شو او د طواف افاضه (د حج د ورورستي طواف) پخاطر مکې ته روان شو. د بیت الله شریف طواف یې ورکړ د ماسپښین لمونځ یې وکړ. بیا د زمزم اوبو ته ورغی، هلته یې ولیدل چې د عبدالمطلب اولاده خلکو ته اوبه ورکوي، ده ورته وفرمایل: (**انزعوا بني عبد المطلب، فلولا أن یغلبکم الناس علی سقایتکم لنزعت معکـــم**). اې د عبدالمطلب زامنو او اولادې! اوبه راوکاږئ، که ددې ویره نه وئ چې خلک به را ډیر شي ټول به اوبه

راوباسي نو ما به هم اوبه درسره را ايستلې واى! يعنې كه زه اوبه را ايستل پيل كړم، نو اصحاب (رضي الله عنهم) به ټول همدې كار ته را وړاندې شي، بنو عبدالمطلب به نظم و نه شي ساتلئ او حاجيانو ته د اوبو وركولو په شرف ګټلو كې به خلل واقع شي. هغوى يوه ډولچه رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) ته هم وركړه چې اوبه يې ورنه وڅښلې.[1]

رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) د عيد يعنې د ذي الحجې په لسمه ورځ له لمر ختلو نه وروسته پداسې حال كې چې پخپله شهباء نومې كچره سپور وۀ خطبه وويله، علي (رضي الله عنه) يې خبرې په لوړ آواز تكرارولې او خلكو ته يې رسولې خلک څوک ناست او څوک ولاړ وو.[2]

پدې خطبه كې يې هم د عرفات د خطبې ځنې مطالب بيان كړل.

بخاري او مسلم له ابوبكر (رضي الله عنه) نه روايت كوي وايي: رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) د عيد په ورځ په خطبه كې داسې وفرمايل: (**إن الزمان قد استدار كهيئته يوم خلق الله السموات والأرض، السنة اثنا عشر شهراً، منها أربعة حرم، ثلاث متواليات، ذو القعدة وذو الحجة والمحرم، ورجب مُضَر الذي بين جمادي وشعبان**). زمانه خپل لومړني شكل ته اوښتې ده، د هغې ورځې په شان ده په كومه چې آسمانونه او ځمكه پيدا شول. كال دولس مياشتې دى، څلور مياشتې يې حرامې دي، دا څلور حرامې مياشتې درى مسلسلې يوه په بله پسې دي او هغه ذي العقده، ذي الحجه او محرم دي، څلورمه يې رجب مضر ده چې د جمادي او شعبان تر منځ ده. بيايې وفرمايل: (**أي شهر هذا؟**) دا كومه مياشت ده؟ ابوبكر وايي مونږ وويل: الله او رسول ښه پوهيږي. رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) هم چپ پاتې شو مونږ ګمان وكړ لكه چې دا مياشت په بل نوم نومولې، بيا يې وفرمايل: (**أليس ذا الحجة؟**) آيا دا د ذي الحجې مياشت نده؟ مونږ وويل: بلې همدا ذي الحجه ده. ويې فرمايل: (**أي بلد هذا؟**) دا كوم ښار دى؟ مونږ عرض وكړ الله او رسول ښه عالم دى. رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) چپ شو، مونږ ګمان وكړ لكه چې بل نوم وربانده ږدي. بيايې وفرمايل: (**أليست البلدة؟**) آيا دا مكه نده؟ مونږ وويل: هو

---

[1]. مسلم عن جابر ۱/ ۳۹۷تر ۴۰۰.

[2]. ابو داود ۱باب اي وقت يخطب يوم النحر/ ۲۷۰

همدا مکه ده. بيا يې وفرمايل: (**فأي يوم هذا؟**) نن کومه ورځ ده؟ مونږ وويل: الله او رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) ښه پوهيږي. چپ و، ګمان مو کاوه لکه چې کوم نوم ورته لټوي. بيا يې وفرمايل: (**أليس يوم النحر؟**) دا د نحر (قربانۍ) ورځ نده؟ مونږ وويل: هو، همدا د قربانۍ ورځ ده. بيا يې وفرمايل: (**فإن دماءكم وأموالكم وأعراضكم عليكم حرام كحرمة يومكم هذا، في بلدكم هذا، في شهركم هذا، (وستلقون ربكم، فيسألكم عن أعمالكم، ألا فلا ترجعوا بعدي ضلالاً يضرب بعضكم رقاب بعض، ألا هل بلغت؟) قالوا: نعم، قال: (اللهم اشهد، فليبلغ الشاهد الغائب، فَرُبَّ مُبَلَّغ أوعي من سامع**[1]). خبر اوسئ چې ستاسې وينې، مالونه، عزت او آبرو په تاسې باندې پدې ښار کې ددې مياشتې ددې ورځې د حرمت په شان حرام دي. تاسې به له خپل رب سره مخ کيږئ، هغه به ستا سې د عملونو پوښتنه کوي، خبر اوسئ! له ما نه وروسته بې لارې نه شئ داسې نه شئ چې يو د بل غاړې به پرې کوئ. خبر اوسئ آيا ما خپل امانت ادا کړ خبره مې ورسوله؟ دوی (اصحابو) وويل: هو تا تبليغ وکړ، امانت دی ادا کړ. ويې فرمايل: اې الله ته شاهد اوسه، حاضرين دې دا خبره غائبو ته ورسوي، ډير هغه کسان چې تبليغ ورته رسول کيږي له اوريدونکو نه پوه او زيرک وي.

په بل روايت کې راځي چې رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) پدې خطبه کې وفرمايل: (**ألا لا يجني جَانٍ إلا على نفسه، ألا لا يجني جان على ولده، ولا مولود على والده، ألا إن الشيطان قد يئس أن يُعْبَد في بلدكم هذا أبداً، ولكن ستكون له طاعة فيما تحتقرون من أعمالكم، فسيرضى به**[2]).

خبردار! جاني (مجرم) يوازې د خپل ځان په حقه کې جنايت کوي (يعنې سزا د هغه چا لپاره ده چې جرم او ګناه وکړي) خبر اوسئ چې هيڅ جنايتکار پخپل زوی تجاوز او تيری نه کوي، او نه زوی په پلار ظلم او تيری کوي (ددې مطلب دا دې چې پلار د زوی او زوی د پلار په ګناه نه مجازات کيږي). خبر اوسئ ! شيطان لدينه بالکل نا اميده شوی چې بيا به يې ستاسې په دې ښار کې عبادت وشي، خو په هغه کارونو او

---

[1]. صحيح بخاري باب الخطبة ايام منى ۱/ ۲۳۴.

[2]. تر مذي ۲/ ۳۸_۱۳۵. ابن ماجه في الحج، مشكاة المصابيح ۲۳۴/۱.

امورو کې به چې تاسې یې واړه او بې ارزښته شمیرئ د شیطان پیروي کیږي، او هغه به پدې هم خوشاله وي.
رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) د تشریق ورځې (د ذي الحجې ۱۱-۱۲-۱۳) په منی کې تیرې کړې، خپل مناسک یې ادا کړل، خلکو ته یې د حج احکام وښودل. تل به یې د الله ذکر کاوه، د ابراهیم (علیه السلام) سنت یې را ژوندي کړل، د شرک نښانې یې له مینځه یوړې په ځینې ورځو کې یې خطبې هم وویلې.
ابو داود له سراء بنت نبهان نه روایت کوي وایي: رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) د ذي الحجې په دوولسم خطبه وویله او ویې فرمایل: (**أليس هذا أوسط أيام التشريق**[1]).آیا نن د تشریق د ورځو منځنۍ ورځ نده؟ دغه خطبه هم لکه دعید د ورځې خطبې په شان وه چې د نصر سورت له نازلیدو وروسته یې وویله. د عید په څلورمه یعنې د ذي الحجې په ۱۳ رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) له منی نه روان شو، له ابطح نه لاندې را کوز شو او د بني کنانه په خیف کې یې واړول. د ورځې پاتې برخه او شپه یې هملته تیره کړه، د ماسپښین، لمازدیګر، مابنام او لماسختن لمونځونه یې هملته ادا کړل. بیا لږه ویده شو، بیا په اوښه سپور شو مکې ته راغی د بیت الله طواف یعنې طواف وداع یې وکړ، اصحابو ته یې هم ددې طواف امر وکړ.
د حج د مناسکو د بشپړیدو وروسته یې خپلو سپرو یارانو ته د تګ حکم وکړ، او هغوی یې د مدینې په لور د تګ لپاره تشویق کړل، خو دا ددې لپاره نه چې لاړ شي او هلته آرام وکړي بلکه ددې لپاره چې لاړ شي او د الله په لار کې د جهاد او مبارزې لړۍ جاري او دوامداره وساتي.[2]

---

[1]. ابو داوٗد ۱ باب اي یوم یخطب بمنی/ ۲۲۹.
[2]. د نبي (علیه السلام) د حج د تفصیلاتو لپاره دا کتابونه وګوره: البخاري کتاب المناسک ۲۳۱/۱. مسلم باب حجة النبي. فتح الباري ج ۳ و ۱۰۳/۸ تر ۱۱۰. ابن هشام ۲/ ۲۰۱ تر ۲۰۵. زاد المعاد ۱۹۲/۱_۲۱۸ تر ۲۴۰.

وروستی پوځي تحرک

د رومیانو طاغوت همداسې د ناروا لاره نیولې وه، له کبر نه یې حق ته غاړه نه ایښوده، د اسلام او مسلمان د ژوندي پاتې کیدو په حق یې اعتراف نه کاوه. بلکه څوک به چې په اسلام مشرفیدل هغه به یې وژل. لکه چې فروه بن عمرو الجذامي چې د رومیانو له خوا د معان والی وٴ او د اسلام په ګناه د رومیانو له خوا ووژل شو.

د رومیانو د دې کبر او غرور د ماتولو په نیت رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) د ۱۱ هجري کال په صفر میاشت کې یو لوی لښکر تیار کړ، اسامه بن زید بن حارثه یې د لښکر قوماندان وټاکه . امر یې ورته وکړ چې د فلسطین داروم او بلقاء سیمو ته به ځي، تر څو رومیان وویریږي، او هلته پولو کې پراته عربان جرات او حوصله پیدا کړي، او دا ورته ثابته شي چې د کلیسا د واکدارانو مقابله ممکنه ده او داسې نده چې څوک یې د ظلم مخه نشي نیولی. او تر څو له خلکو سره دا تصور پیدا نه شي چې اسلام منل یعنې مرګ او ځان وژنه یعنې دا چې مسلمانان ځان په خطر کې و نه شمیري بلکه مطمئن شي چې ددوی د دفاع لپاره اقدامات کیږي.

اصحابو د اسامه د قیادت په هکله څه خبرې وکړې ځکه هغه ډیر کشر وٴ خبره څه نا څه وځنډیده خو رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) وفرمایل: (**إن تطعنوا في إمارته، فقد كنتم تطعنون في إمارة أبيه من قبل، وايم الله، إن كان لخليقاً للإمـــارة، وإن كان من أحب الناس إلى، و إن هذا من أحب الناس إلي بعـــده**[1]). [تاسې که اوس دده د امارت په هکله اعتراض کوئ، لدینه مخکې مو دده د پلار د امارت په هکله هم نیوکې درلودې، پداسې حال کې چې قسم په خدای هغه د قیادت اهلیت درلود ، او زما ډیر خوږ دوست وٴ له ټولو نه راته ګران وٴ، اوس همدا (اسامه) له ټولو نه راته نژدی او ګران دی.]

همدا وه چې خلک ټول راضي شول له اسامه نه راتاو شول، په لښکر کې یې راټول شول، تر څو جرف نومې سیمې ته ورسیدل. دغه ځای درې میله د مدینې نه لیرې وٴ

---

[1]. صحيح بخاري باب بعث النبي (ص) اسامه۲/ ۶۱۲

هلته يې واړول، خو څرنګه چې رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) رنځور
وٴ، د دوی زړونه د هغه خوا ته کشال وو له ډيره غمه مخکې لاړ نه شول، هملته يې
الهي فيصلې نه انتظار يوست. بيا د الله اراده داسې وه چې همدا لنبکر د ابوبکر
(رضي الله عنه) د خلافت لومړنی لنبکر و چې له مدينې نه د باندې واستول
شو.[1]

[1]. ابن هشام ۲/ ۶۰۶

له فاني دنیا نه رحلت

د رحلت ننبانې

کله چې دعوت بشپړ شو، اسلام حاکم او مسلط شو، د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) په زړه کې له ژوند او فاني دنیا نه د رحلت آثار او احساس پیدا شو، دغه احساس دده مبارک په قول او عمل کې ښه څرګند و.

د لسم هجري کال د رمضان په میاشت کې یې شل ورځې په اعتکاف کې تیرې کړې، پداسې حال کې چې نور کلونه به یې یوازې لس ورځې اعتکاف کاوه. په همدې کال او همدې میاشت کې جبریل (علیه السلام) دوه ځله قرآنکریم ورته تکرار کړ او د حجه الوداع په مراسمو کې یې وفرمایل: (**إني لا أدري لعلی لا ألقاکم بعد عامي هذا بهذا الموقف أبداً**). ښایي له سږني کال نه وروسته د تل لپاره تاسې پدې ځای کې و نه وینم. له جمره العقبه سره یې هم وفرمایل: (**خذوا عني مناسککم، فلعلي لا أحج بعد عامي هذا**). د حج مناسک له ما نه زده کړئ، ښایي زه بیا کله هم حج ونکړم. د تشریق په ورځو کې د ((النصر)) سورت وربانديې نازل شو، د همدې سورت له نازلیدو نه هغه پوه شوچې ژوند یې پای ته رسیدلی دی، نور د رخصتی وخت دی.

د ۱۱ هجري کال په صفر میاشت کې رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) احد ته تشریف یووړ، شهیدانو ته یې داسې دعا وکړه لکه له ژوندیو او مړیو نه چې بیلیدونکی او تلونکی وي. بیا خپل منبر ته راغی ویې فرمایل: (**إني فرط لکم، وأنا شهید علیکم، وإني والله لأنظر إلی حوضي الآن، وإني أعطیت مفاتیح خزائن الأرض، أو مفاتیح الأرض، وإني والله ما أخاف علیکم أن تشرکوا بعدي، ولکني أخاف علیکم أن تنافسوا فیها**). ز ه ستاسې د کاراوان مشر او پر تاسې ګواه یم، قسم په خدای چې زه همدا اوس خپل حوض ته ګورم، ما ته د دنیا د ټولو خزانو کلیانې راکړل شویدي، (او یا د ځمکې کلیاني را کړل شویدي) زه لدینه ویره نلرم چې تاسې به

له ما نه وروسته مشرکان شئ، زما ويره لدينه ده چې په دنيا کې به يو له بل سره په سيالۍ او مقابله اخته شئ.[1]

يوه شپه نا وخته له کور نه ووت، بقيع ته يې تشريف يووړ هلته ښخو شويو مسلمانانو ته يې د مغفرت دعا وکړه ويې فرمايل: (**السلام عليكم يا أهل المقابر، لِيَهْنَ لكم ما أصبحتم فيه بما أصبح الناس فيه، أقبلت الفتن كقطع الليل المظلم، يتبع آخرها أولها، والآخرة شر من الأولى**)، **وبشرهم قائلاً**: (**إنا بكم للاحقون**). اې د قبرونو خاوندانو، سلام دې درباندې وي! په کوم حالت کې چې خلک دي د هغوی په نسبت ستاسې دا خپل حال مبارک شه، فتنې او فساد لکه د شپې د تيارو په شان داسې راغلې دي، يو په بل پسې را روانې دي، وروستۍ يې له لومړنۍ نه ډيره بده او خرابه ده. او همدلته يې هغوی ته د خپل ورتګ زيری هم ورکړ ويې فرمايل: موږ تاسې ته درتلونکي يوو.

د ناروغتيا پيل

د ۱۱ هجري کال د صفر مياشتې په **۲۹** مه د دوشنبې په ورځ رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) په بقيع کې په يوه جنازه کې برخه درلوده. کور ته د ستنيدو په لار کې يې په مبارک سر درد شو، سختی تبې ونيو، دومره ګرم وُ چې د لمدې شوې پټۍ په سر به يې هم حرارت محسوسيده. رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) ۱۱ ورځې د بيماری په حالت کې خلکو ته لمونځ ورکاوه، د بيماری ټوله موده يې ۱۳ يا ۱۴ ورځې وه.

وروستۍ اونۍ

د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) مرض زيات شو، زيات په تکليف شو، له خپلو ميرمنو نه به يې پوښتنه کوله : (**أين أنا غداً؟ أين أنا غداً؟**) سبا مې له چاسره نوبت دی؟ زه سبا له چا سره يم؟ درنې ميرمنې يې په هدف پوه شوې اجازه يې ورکړه هر چيرته يې چې زړه وي هملته دې پاتې شي. رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) پداسې حال کې چې د فضل بن عباس او علي (رضي الله عنهم) په اوږو

---

[1]. متفق عليه.

يې تکيه کړې وه د عائشې (رضي الله عنها) کور ته ورغی، مبارک سر يې ترلی و، مبارکې پښې يې پر ځمکه څنبيدلې او د عائشې (رضي الله عنها) کور ته ننوت او هملته يې د مبارک ژوند وروستۍ اونۍ تيره کړه.

عائشې (رضي الله عنها) به معوذتين (الفلق، الناس سورتونه) وربانديې لوستل او په هغه دعاګانو به يې دماوه کومې يې چې له رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) نه زده کړې وې. دا سورتونه به يې لوستل په رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) به يې چپول او کوفول، او د برکت په نيت به يې مبارک بدن دده په خپل مبارک لاس مسح کاوه.

له رحلت نه پنځه ورځې وړاندې

له وفات نه پنځه ورځې وړاندې د چارشنبې په ورځ د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) په مبارک بدن سخت دردونه راغلل، مرض يې دومره ډير شو چې د الله حبيب (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) پرکاله شو، بيهوشي پرې راغله ويې فرمايل: (**هريقوا علي سبع قِرَب من آبار شتي، حتى أخرج إلى الناس، فأعهد إليهم**). اوبه راباندې واچوئ! له بيلابيلو څاه ګانو نه اوه ژيه اوبه راباندې تويې کړئ، تر څو وکولی شم خلکو ته ورشم وصيت ورته وکړم. دهمدې امر په اساس په يوه لګن کې کينول شو، اوبه وربانديې واچول شوې تر څو په خود راغی، ويې فرمايل: (**حسبكم، حسبكم**).بس دي، بس دي.

پدې سره يې لږ آرامي وشوه مرض يې کم شو، جومات ته يې پداسې حال کې تشريف يووړ چې مبارک سر يې ترلی وۀ، په منبر کيناست، دا يې وروستی مجلس و، له حمد او ثنا وروسته يې خلکو ته وفرمايل: (**أيها الناس، إلي**). اې خلکو دلته راشئ! خلک ټول ورته راټول شول، بيا يې پخپلو خبرو کې وفرمايل: (**لعنة الله على اليهود والنصارى، اتخذوا قبور أنبيائهم مساجد**) ــ وفي رواية: (**قاتل الله اليهود والنصارى، اتخذوا قبور أنبيائهم مساجد**) ــ وقال: (**لا تتخذوا قبري وثناً يعبد**).

په يهودو او نصرانيانو دې د الله لعنت وي، چې د خپلو رسولانو له قبرونوڅخه يې جوماتونه جوړ کړيدي.(۱) په بل روايت کې راځي چې ويې فرمايل: الله تعالى دې يهود او نصارى هلاک کړي، دوى د خپلو رسولانو له قبرونو نه جوماتونه جوړ کړيدي. بيا يې زياته کړه: زما له قبر نه بت مه جوړوئ چې عبادت يې وشي.(۲) يعنې زما د قبر عبادت ونکړئ.

بيايې خپل مبارک نفس يا ځان د محاکمې او انتقام (قصاص) لپاره مخ کې کړ ويې فرمايل: (**من كنت جلدت له ظَهْرًا فهذا ظهري فليستقد منه، ومن كنت شتمت له عِرْضاً فهذا عرضي فليستقد منه**). که څوک مې په شا وهلي وي دا ده زما شا، زه حاضر يم انتقام دې واخلي، که چا ته مې بده خبره کړې وي، د هغه آبرو مې تويې کړې وي، دا دى زه حاضر يم له ما نه دې خپل وار واخلي. بيا له منبر نه راکوز شو د ماسپښين لمونځ يې وکړ. بيا بيرته منبر ته پورته شو، کيناست او خپله خبره يې تکرار کړه. د دښمنۍ او نورو په هکله يې خبره وکړه، پدې وخت کې يوه شخص وويل: زما په تا باندې درى درهمه دي! رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) وفرمايل: (**أعطه يا فضل**). اې فضل! درى درهمه ورکړه. بيا يې د انصارو په هکله وصيت وکړ ويې فرمايل: (**أوصيكم بالأنصار، فإنهم كِرْشِي وعَيْبَتِي، وقد قضوا الذي عليهم وبقي الذي لهم، فاقبلوا من مُحْسِنهم، وتجاوزوا عن مسيئهم**)، وفي رواية أنه قال: (**إن الناس يكثرون، وتَقِلُّ الأنصار حتى يكونوا كالملح في الطعام، فمن ولي منكم أمراً يضر فيه أحداً أو ينفعه فليقبل من محسنهم، ويتجاوز عن مسيئهم**). زه تاسې ته د انصارو په هکله د نيکۍ وصيت کوم، هغوى زما زړه او جګر دي، هغوى خپل مسوولیت ادا کړيدى، خو حقوق يې پاتې دي، د هغوى د نيکو کارانو نيکۍ ومنئ او د ګنهګارانو له ګناه نه تير شئ. په بل روايت کې راځي چې ويې فرمايل: د خلکو شميره زياتيږي، خو انصار کميږي، بالاخره به دومره کم شي لکه مالګه په طعام کې. که له تاسو نه چا ته داسې دنده او کار وسپارل شو چې د ګټې او زيان رسولو توان يې درلود، نو د انصارو نيکي دې ومني او د مقصرينو له ګناه نه يې دې تير شي(۳).

(1). بخاري ۱/ ۲۲ - موطا الامام مالک ص ۳۲۰
(2). موطا الامام مالک ص ۲۵.
(3). بخاري ۱/ ۵۳۶

بيا يې وفرمايل: (**إن عبداً خيره الله بين أن يؤتيه من زهرة الدنيا ما شاء، وبين ما عنده، فاختار ما عنده**). الله تعالى خپل يوه بنده ته اختيار ورکړيدی چې خوښه يې د دنيا له شان، شوکت، زيب او زينت نه چې څه غواړي اخلي او که هغه څه اخلي چې له الله سره دي، همدې بنده د دنيا په مقابل کې هغه څه خوښ کړل چې له الله تعالى سره دي.

ابو سعيد الخدري وايي ددې خبرې په اوريدو سره ابوبکر (رضي الله عنه) په ژړا شو ويې ويل: يا رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم)! زمونږ مور او پلار له تا قربان شه، ټول دې له تا قربانوي. راوي وايي مونږ د ابوبکر ژړا ته حيران شوو، ځينو وويل: دې شيخ ته وګورئ، رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) د هغه بنده په هکله خبرې کوي چې الله تعالى د دنيا او آخرت په مينځ کې اختيار من کړيدی، خو دا شيخ يعنې ابوبکر (رضي الله عنه) رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) ته وايي ميندې او پلرونه درنه قربانوو! ابو سعيد (رضي الله عنه) وايي مونږ هغه وخت نه وو پوه شوي، وروسته پوه شوو چې همدا اختيار من شوی بنده پخپله رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) وٴ، او ابوبکر (رضي الله عنه) له مونږ نه ډير پوهيده.[1]

بيا رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) وفرمايل: (**إن من أمنّ الناس علي في صحبته وماله أبو بكر، ولو كنت متخذاً خليلاً غير ربي لا تخذت أبا بكر خليلاً، ولكن أخوة الإسلام ومودته، لا يبقين في المسجد باب إلا سد، إلا باب أبي بكر**).

له ما سره د ملګرتيا او مالي همکارۍ له وجې نه تر ټولو زيات احسان او نيکي ابوبکر (رضي الله عنه) کړيده، که له الله پرته مې خليل (دوست) نيولی، نو ابوبکر به مې خليل وای، خو له هغه سره مې د وروري او اسلام اړيکې دي، ددې جومات ټولې دروازې دې بندې شي، يوازې د ابوبکر (رضي الله عنه) دروازه دې خلاصه وي او نه دې بنديږي.[2]

---

[1]. متفق عليه

[2]. متفق عليه

څلور ورځې له رحلت نه مخکې

له رحلت نه څلور ورځې وړاندې د پنجشنبې په ورځ د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) مرض ډير سخت شوی وۀ، په همدې حالت کې يې وفرمايل: **(هلموا أكتب لكم كتاباً لن تضلوا بعده)**. زرکوئ، راشئ چې يو ليک درته وليکم، تر څو وروسته هيڅ ګمراه او بې لارې نه شئ. په خونه کې څو کسه اصحاب ناست وو چې عمر (رضي الله عنه) هم پکې و، هغه وويل: په رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) مرض زيات شوی، سخت په تکليف دی، ستاسې سره قرآنکريم شته، همغه درته کافي دی. پدې سره د حاضرو اصحابو (رضي الله عنهم) تر مينځ اختلاف پيدا شو، غالمغال جوړ شو،ځينو ويل راوړئ چې رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) څه درته وليکي، نورو د عمر (رضي الله عنه) قول تاييداوه، په همدې ترتيب شور جوړ شو او رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) وفرمايل: **(قوموا عني)**. لاړ شئ، رانه لاړ شئ.[1]

وأوصى ذلك اليوم بثلاث: أوصى بإخراج اليهود والنصاري والمشركين من جزيرة العرب، وأوصى بإجازة الوفود بنحو ما كان يجيزهم، أما الثالث فنسيه الراوي. ولعله الوصية بالاعتصام بالكتاب والسنة، أو تنفيذ جيش أسامة، أو هي: (الصلاة وما ملكت أيمانكم).

په همدې ورځ رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) دری اوامر صادر کړل يعنې د دريو شيانو توصيه يې وکړه : امر يې وکړ چې يهود، نصرانيان او مشرکان دې له عربي جزيرې نه اخراج شي، بل امر يې دا وۀ چې له نمايندګانو سره دې دده (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) د سنت مطابق نيکه معامله کيږي او په ښې طريقې سره دې رخصتيږي، خو دريم امر يې د راوي هير شويدی کيدای شي دريم امر په قرآنکريم او سنتو د عمل کولو په هکله وي او يا د اسامه د لښکر په هکله دده د حکم د تعميل په اړه وي او يا د لمانځه د پابندۍ او غلامانو سره د نيکۍ په هکله وي.

رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) د همدې پنجشنبې تر ورځې چې څه هم ډير په تکليف وۀ خو د لمونځونو امامت يې کاوه پدې ورځ يې هم خلکو ته د مانښام لمونځ ورکړ، د والمرسلات عرفا سورت يې پکې تلاوت کړ.[1]

---

[1]. بخاري عن ام الفضل باب مرض النبي ،عليه السلام، ۲/ ۶۳۷

[1]. متفق عليه

خو لماسختن يې بيماري ډيره زياته شوه ونه توانيد جومات ته تشريف يوسي. عائشه (رضي الله عنها) وايي: لماسختن رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) پوښتنه وکړه : (**أصلى الناس؟**) آيا خلکو لمونځ کړئ؟ مونږ ورته وويل: نه، يا رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم)! هغوی ستا انتظار باسي، ويې فرمايل: (**ضعوا لي ماء في المِخْضَب**). په لګن کې لږ اوبه راته واچوئ، مونږ اوبه ورته واچولې، رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) غسل وکړ او غوښتل يې لاړ شي خو بيهوشه شو، او کله چې په حال راغی ويې فرمايل: (**أصَلَّى الناس؟**) آيا خلکو لمونځ ادا کړئ؟ دوهم او دريم ځل يې همداسې فرمايل، زمونږ ځواب به داسې وُ چې نه يا رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) هغوی ستا په انتظار ناست دي، ده به غسل وکړ هڅه به يې وکړه لاړ شي خو بيهوشي به وروباندې راغله، نو بالاخره يې ابوبکر (رضي الله عنه) ته خبر وليږه چې امامت وکړي او په خلکو لمونځ ادا کړي. د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) د مـريـضۍ په ورځو کې حضرت ابوبکر (رضي الله عنه) د ۱۷ لمونځونو امامت کړيدی.[۲]

عائشې (رضي الله عنها) درې، څلور ځلې د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) حضور ته عرض وکړ چې امامت له ابوبکر (رضي الله عنه) نه واخلي ځکه ويريده هسې نه خلک يې پلار په بدفالۍ او بدشګونۍ ونيسي، خو رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) ورته وفرمايل: (**إنكن لأنتن صواحب يوسف، مروا أبا بكـــر فليصل بالناس**).تاسې د يوسف (عليه السلام) ملګرې ياستئ، يعنې په زړه کې مو يو څه دي او په خوله بل څه وايئ، ابوبکر ته امر وکړئ چې خلکو ته لمونځ ورکړي. عائشې (رضي الله عنها) په خوله عرض وکړ، يا رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم)! ابوبکر چې ستا په ځای ودريږي له ډيرې ژړا نه خلکو ته قرآنکريم نه شي اورولئ، دا يې د خولې خبره وه خو په زړه کې يې دا هم وه چې که رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) لدې مرض نه وفات شي هسې نه چې خلک د ابوبکر (رضي الله عنه) امامت په بدفالۍ ونيسي او همدا عقيده يې په زړه کې پخه شي، خو رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) امر وکړ ابوبکر ته ووايئ چې د خلکو امامت وکړي.

---

[۲]. بخاري ۹۹/۱

لـه رحلت نـه دری ورځې وړانـدې

جابر (رضي الله عنه) وايي:له رحلت نه دری ورځې وړاندې مې له نبي (صلى الله عليه و سلم) نه واوريدل چې فرمايل يې: (**ألا لا يموت أحد منكم إلا وهو يحسن الظن بالله**).د تاسو هر يوه ته ښايي پداسې حال کې ومري چې په الله تعالى يې ګمان نيک وي.

له رحلت نه يوه يا دوې ورځې وړاندې

د شنبې يا يکشنبې په ورځ د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) صحت څه نا څه ښه وٴ، د دوو کسانو په مرسته يې جومات ته تشريف يووړ، پدې وخت کې ابوبکر (رضي الله عنه) خلکو ته د ماسپښين لمونځ ورکاوه، خو کله چې ابوبکر وليدل رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) تشريف راوړ کوښښ يې وکړ په شا شي، ولې رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) اشاره ورته وکړه چې په شا نه شي او ويې فرمايل: ما د ابوبکر چپې خوا ته کينوئ، همغه وه چې د ابوبکر چپې خوا ته کينول شو، ابوبکر (رضي الله عنه) به د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) په لمانځه پسې اقتدا وکړه او دده مبارک تکبير به يې تکراراوه او خلکو ته به يې رساوه[1].

له رحلت نه يوه ورځ مخکې

د يکشنبې په ورځ يعنې له رحلت نه يوه ورځ مخکې رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) خپل ټول غلامان آزاد کړل، اوه (۷) ديناره يې درلودل هغه يې هم صدقه کړل، خپله وسله يې هم مسلمانانو ته ورکړه. د شپې له خوا عائشې (رضي الله عنها) د چراغ لپاره تيل له کومې ګاونډۍ نه پور واخيستل، او په همدې وخت کې د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) زغره د ۳۰ صاعه تقريباً ۷۵ کيلو ګرامه وربشو په بدل کې له يوه يهودي سره ګرو وه.

د رسول الله ﷺ د مبارک ژوند آخرينۍ ورځ

[1]. صحيح البخاري ۹۸/۱_۹۹.

انس بن مالک (رضي الله عنه) روايت کوي چې د دوشنبې په سهار ابوبکر خلکو ته لمونځ ورکاوه، ناڅاپه خلک متوجه شول چې رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) د عائشې (رضي الله عنها) د کوټې پرده پورته کړې او دوی ته ګوري، دوی په لمانځه ولاړ وو. رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) ددې حالت په لیدو سره تبسم وکړ، ابوبکر (رضي الله عنه) فکر وکړ چې رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) تشریف راوړي نو له خپل ځای نه په شا شو چې صف ته ورسیږي.

انس (رضي الله عنه) وايي: د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) په لیدو سره مسلمانان دومره خوشاله شول چې نژدې وه لمونځ پریږدي، او د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) خدمت او پوښتنې ته ورشي، خو رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) پخپل مبارک لاس اشاره وفرمایله چې خپل لمونځ پوره کړي، بیا يې خپلې حجرې ته تشریف یووړ او پرده يې را کوزه کړه.[1]

لدینه وروسته په رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) د بل لمانځه وخت رانغی. چې غرمه شوه رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) خپله ګرانه لور فاطمه (رضي الله عنها) راوغوښتله پټ په غوږ کې يې څه ورته وویل: فاطمه (رضي الله عنها) په ژړا شوه، بیا يې بله خبره پټه ورته وکړه په هغې سره فاطمه (رضي الله عنها) په خندا شوه.

عائشه (رضي الله عنها) وايي: وروسته مې له فاطمې (رضي الله عنها) نه ددې موضوع په هکله وپوښتل، هغې راته وویل: رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) پټ راته وویل: زه رحلت کوم، له همدې مرض نه وفات کیږم، ما ددې خبرې په اوریدو سره وژړل، بیا يې راته وویل چې زما په کورنۍ کې به ته له تولو نه لومړی په ما پسې راځې، زه پدې سره خوشاله شوم او ومې خندل.[2]

همدا راز رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) فاطمې (رضي الله عنها) ته زیری ورکړ چې ته د ټولې دنیا د ښځو سرداره يې[1] ځکه روایتونه پدې دلالت کوي چې له فاطمې (رضي الله عنها) سره د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) دا خبرې او دا زیری د ژوند په وروستۍ ورځ نه بلکه وروستۍ اونۍ اواز کې و.

---

(1). صحيح بخاري باب مرض النبي (عليه السلام) ۲/ ۶۴۰

(2). بخاري ۲/ ۶۳۸

(1). رحمة للعالمين ۱/۲۸۲.

فاطمی (رضي الله عنها) چې د خپل محبوب پلار دا مرض او درد ولید، چیغه یې کړه، وای، په پلار مې څه حال دی، څومره په تکلیف دی؟ رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) وفرمایل: (**ليس على أبيك كرب بعد اليوم**). ستا پلار به له نن نه وروسته هیڅ غم او درد ونه ویني.[۲]

بیا یې حسن او حسین (رضي الله عنهما) راوغوښتل دواړه یې مچي کړل او د دوی په هکله یې د نیکۍ وصیت وکړ، بیا یې خپلې میرمنې راوغوښتلې ټولو ته یې وعظ او نصیحت وکړ، هماغه وه چې درد او مرض یې زیات شو، په بدن کې یې د هغو زهرو اثر ښکاره شو چې په خیبر کې یې خوړلي وۀ، فرمایل به یې: (**يا عائشة، ما أزال أجد ألم الطعام الذي أكلت بخيبر، فهذا أوان وجدت انقطاع أبْهَرِي من ذلك السم**). اې عائشه! د هغه طعام درد احساسوم کوم مې چې په خیبرکې خوړلی وۀ، فکر کوم چې د ملا رګ مې له هغه زهرو نه پری شویدی.[۳]

پر مبارک مخ یې څادر پروت و، چې په تنګ شو څادر یې ایسته کړ او خلکو ته یې د وصیت او نصیحت په توګه چې همدا یې وروستی نصیحت و، وفرمایل: (**لعنة الله على اليهود والنصارى، اتخذوا قبور أنبيائهم مساجد ـ يحذر ما صنعوا ـ لا يبقين دينان بأرض العرب**). پر یهودو او نصرانیانودې د الله لعنت وي، د خپلو نبیانو قبرونه یې په عبادتخانو بدل کړي،ـ لدینه مطلب د خلکو منع کول وـ په عربي سیمه کې دوه دینونه ته پاتې کیږي. او خلکو ته یې د نصیحت په توګه فرمایل: (**الصلاة، الصلاة، وما ملكت أيمانكم**[٤]). د لمانځه او هغو غلامانو خیال ساتئ چې تر لاس لاندې مو دي. همدا فرموده یې د ځان کندن په وخت کې څو ځله تکرار کړه.

ځنکدن

د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) ځنکدن را لنډ شو، عائشې (رضي الله عنها) ځانته را تکیه کړ، تکیه یې وربانده کړې وه. له همدې امله به عائشې

---

[۲]. صحيح بخاري ۲/ ۶۴۱ .
[۳]. صحيح بخاري ۲/ ۶۳۷ .
[٤]. نفس المصدر.

(رضي الله عنها) هميشه ويل: پر ما باندې د الله تعالى له رحمتونو او نعمتونو څخه يو دا دی چې رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) زما په کور کې، زما د نوبت په ورځ او زما د غاړې او لمنې تر مينځ وفات شوی، او الله تعالى د ده(صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) د وفات په وخت زما د خولې لاړې د هغه له مبارکو لاړو سره ګډې کړې. عبدالرحمن بن ابوبکر (رضي الله عنهما) زما کور ته راغی، په لاس کې يې مسواک و، رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) په ما باندې تکيه کړې وه، متوجه شوم چې رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) د هغه د مسواک په لور ګوري، پوه شوم چې مسواک غواړي، عرض مې وکړ: مسواک درته واخلم؟ ده په اشاره سره پوه کړم چې هو. ما هغه مسواک ورنه واخيست، د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) لپاره کلک ؤ عرض مې وکړ درته نرم يې کړم؟ په مبارک سر يې اشاره وکړه، چې هو. ما ورته نرم کړ او ورمې کړ هغه ډير ښه استعمال کړ.

په يوه روايت کې دا هم راغلي چې رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) په ډيره ښه طريقه مسواک وواهه، له خوا سره يې د اوبو منګی ايښې و، دواړه لاسونه به يې پکې غوټه کړل او پر مبارک مخ به يې راکش کړل او فرمايل به يې: (**لا إله إلا الله، إن للموت سكرات...**) **الحديث.** [له يوه الله پرته بل د عبادت وړ نشته، بيشکه چې مرګ سختی لري.][1] کله چې رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) مسواک استعمال کړ، مبارک لاس يا ګوته يې پورته کړه سترګې يې چت ته ونيولې مبارکې شونډې يې وخوځيدې، عائشې (رضي الله عنها) غوږ ورته ونيو او وايی وريدل چې فرمايي: ((**مع الذين انعمت عليهم من النبيين و الصديقين و الشهداء و الصالحين و حسن اولئك رفيقا اللهم اغفر لي و ارحمني و الحقني بالرفيق الاعلى اللهم الرفيق الاعلى**)) [2] [له هغو کسانو سره چې نعمت دې ورکړی له انبياوو (عليهم السلام)، صديقانو، شهيدانو او صالحينو نه، هغوی ډير غوره ملګري دي اې خدايه! عفوه راته وکړې، رحم راباندې وکړې او ما له رفيق اعلى سره يو ځای کړې، اې خدايه رفيق اعلى درنه غواړم.] دا و ر و سته کلمه يې دری ځله تکرار کړله مبارک لا س يې په اړخ ولويد او له رفيق اعلى سره يو ځای شو. ((**انا لله و انا اليه راجعون**))

---

[1]. بخاري باب مرض النبي ٠عليه السلام) ۶۴/۲.

[2] بخاري همغه باب .او اخر ما تكلم به النبي (عليه السلام) ۲۳۸/۲تر ۲۴۱.

دغه وخت د د وشنبې ورځ غرمه مهال د سختې ګرمۍ وخت وۀ، د هجرت يوولسم کال د ربيع الاول ۱۲ نيټه وه. د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) مبارک عمر ۶۳ کاله او څلور ورځې و.

پر اصحابو (رضي الله عنهم) د غمونو انبارونه

د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) د رحلت دردونکی خبرخور شو د مدينې په اوسيدونکو قيامت جوړ شو، په سترګو يې تپه تياره شوه. انس (رضي الله عنه) وايي: ما مدينې ته د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) د راتګ له ورځې نه بله زياته روښانه او نيکمرغه ورځ نده ليدلې، او د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) د وفات له ورځې نه مې بله زياته تياره او د رد ونکې ورځ نده ليدلې.[1]

کله چې رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) رحلت وکړ فاطمې (رضي الله عنها) وويل: واى پلار جانه! ستا غم جبريل (عليه السلام) ته ژاړو![2]

د عمر (رضي الله عنه) دريځ

عمر (رضي الله عنه) د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) د وفات د خبر په اوريدو سره له خود نه ووت دا يې نه شواى منلى، حيران وۀ، دهشت اخيستى وۀ.

ويل به يې: ځينې منافقان ګمان کوي چې رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) رحلت کړيدى، رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) رحلت ندى کړى، بلکه خپل رب ته ورغلى لکه موسى بن عمران (عليه السلام) چې خپل رب ته ورغلى و او ۴۰ ورځې له خپل قوم نه غايب شوى و، دا وروسته له هغې چې وويل شول مړشويدى خو هغه بيرته ورته راغى، قسم په خداى چې رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) هم بيرته راځي، او د هغو کسانو لاسونه او پښې به پرې کوي چې ګمان کوي او وايي وفات شويدى[1].

---

[1]. الدارمي. مشكاة المصابيح ۵۴۷/۲.

(2). بخاري باب مرض النبي (عليه السلام) ۲/ ۲۴۱

[1]. ابن هشام ۶۵۵/۲.

د ابوبکر (رضي الله عنه) دريځ

ابوبکر (رضي الله عنه) د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) د رحلت په وخت کې له مدينې نه د باندې په سنح نومې کلي کې وۀ، په آس سپور راغی مخامخ جومات ته داخل شو له چا سره يې خبرې نه کول، د عائشې (رضي الله عنها) کور ته ورغی او د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) له مبارک سر سره ودريد. پر هغه مبارک يمني ليکه دار چادر غورڅول شوی و، چادر يې له مبارک مخ نه پورته کړ، مبارک مخ يې مچې کړ، ويې ژړل او ويې ويل: مور او پلار مې له تا قربان، الله تعالی تا ته دوه ځله مرګ نه درکوي، کوم مرګ يې چې درته ټاکلی وۀ هغه درته راغی. بيا د باندې راووت. هلته عمر (رضي الله عنه) له خلکو سره په مناقشه بوخت وۀ ابوبکر وويل: اې عمره! کينه. عمر نه کيناست خلک ټول له عمر نه ابوبکر ته راغلل، ابوبکر وويل: اما بعد: چا چې د محمد (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) عبادت کاوه هغه دې پوه شي چې محمد (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) وفات شو، او څوک چې د الله عبادت کوي هغه دې پوه شي چې الله د محمد (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) خدای ژوندی دی مرګ نه لري. الله تعالی فرمايي: ((**وَمَا مُحَمَّدٌ إِلاَّ رَسُولٌ قَدْ خَلَتْ مِنْ قَبْلِهِ الرُّسُلُ أَفَإِيْن مَاتَ أَوْ قُتِلَ انْقَلَبْتُمْ عَلَى أَعْقَابِكُمْ وَمَنْ يَنْقَلِبْ عَلَى عَقِبَيْهِ فَلَنْ يَضُرَّ اللَّهَ شَيْئاً وَسَيَجْزِي اللَّهُ الشَّاكِرِينَ**)) (آل عمران: ١٤٤)

[نه دی محمد (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) مګر يو رسول د الله په تحقيق سره له ده نه مخکې ډير رسولان تير شويدي آيا نو که مړ شي محمد يا شهيد کړی شي نو بيرته به وګرځئ تاسې به پوندو خپلو (کفر ته) او هر څوک چې بيرته وګرځيده په پوندو خپلو (کفر ته) نو الله ته به هيڅ زيان ونه رسوي او ژر به جزا ورکړي الله شکر ګزارو ته.]

ابن عباس (رضي الله عنهما) وايي: کله چې ابوبکر دا آيت تلاوت کړ خلک داسې شول لکه چې دا آيت همدا اوس نازل شوی وي، او پدې سره ټولو همدا آيت شريف تلاوت کاوه. ابن مسيب وايي: عمر (رضي الله عنه) وويل: په خدای قسم کله چې ابوبکر دا آيت تلاوت کړ، بالکل بې حسه شوم، په لاره نه شوای تلی، پښې مې بې سيکه شوې او دا آيت مې چې ولوست په ځمکه ولويدم او پوه شوم چې رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) وفات شوی دی.[1]

---

[1]. بخاري ٢/ ٦٤٠_٦٤١.

تجهيز، تكفين او تدفين

د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) له تجهيز او تدفين نه مخكې د خلافت په اړه اختلاف پيدا شو، د انصارو او مهاجرينو تر مينځ بحث او مناقشه پيل شوه. دوی په سقيفه بني ساعده كې راټول شوي وو، د خلافت په هكله يې ډير بحث وكړ په پای كې يې په اتفاق سره ابوبكر (رضي الله عنه) د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) خليفه وټاكه. د خلافت په هكله دا بحث او مناقشه د دوشنبې تر مابنام پورې جاري وه، پدې شپه هم د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) تجهيز او تدفين و نه شو.

سهار شو پر رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) باندې هماغه يمني چادر غوړيدلی وۀ، كورنی يې دروازې ورپسې بندې كړې وې، د سه شنبې په ورځ يې رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) ته غسل وركړ، خو جامې يې همداسې په غاړه كې وې. عباس. علي، د عباس زامنو فضل او قثم (رضي الله عنهم) رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) ته غسل وركړ. له دوی سره شقران چې د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) ازاد شوی غلام وۀ، اسامه بن زيد، اوس بن خولي(رضي الله عنهم) هم ملګري وو. عباس، قثم او فضل به په يوه اړخ او بل اړخ اړاوه، اسامه او شقران اوبه وربانديې اچولی او علي (رضي الله عنهم) به غسل وركاوه، اوس (رضي الله عنه) د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) مبارک جسد په خپله سينه تكيه كړی وۀ.

وروسته يې رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) په دريو يمني كتاني جامو كې ونغښت، پدې كې كميس او عمامه (لنګي) نه وه[۲] دا جامې يې كفن وې.

بيا د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) د دفن كولو په هكله سره مخالف شول، تر څو ابوبكر (رضي الله عنه) وويل: ما له رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) نه اوريدلي چې فرمايي: (**ما قبض نبي إلا دفن حيث يقبض**).هر پيغمبر په هغه ځای كې دفن كيږي چيرته چې وفات شوی وي. په همدې اساس ابو طلحه انصاري (رضي الله عنه) د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) هغه بستره چې پرې وفات شوی وۀ پورته كړه او ترينه لاندې ځای ژور شو او قبر ورته جوړ

---

[۲]. متفق عليه. بخاري ۱۲۹/۱. مسلم ۲۰۲/۱.

شو. قبر یې لحد وۀ، خلک به لس لس تنه راتلل او په رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) به یې لمونځ کاوه، د لمانځه امام یې نه وۀ. لومړی د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) کورنۍ او خپلوانو لمونځ پرې وکړ، ورپسې مهاجرینو، بیا انصارو، له نارینه و نه وروسته ښځو، ورپسې ماشومانو په رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) لمونځ ادا کړ. پدې ډول د سه شنبې ورځ هم تیره شوه او د چارشنبې شپه را داخله شوه. عائشه (رضي الله عنها) وایي: مونږ تر هغې پورې د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) له دفن کولو نه خبر نه وو تر څو د چارشنبې په نیمایي شپه کې مو د بیلچو آواز واورید.[1]

[1]. مختصر سیره الرسول للشیخ عبدالله النجدي ص ۴۷۱. د نبي (علیه السلام) د رحلت په هکله دا کتابونه وګوره: بخاري باب مرض النبي (علیه السلام)، فتح الباري، صحیح مسلم، مشکاة المصابیح باب وفاة النبي (علیه السلام). ابن هشام ۲۴۹/۲ تر ۲۲۵. تلقیح فهوم اهل الاثر ص ۳۸_۳۹. رحمة للعالمین ۲۷۷/۱ تر ۲۸۲. مونږ عام تاریخونه له وروستي مصدر نه اخستي دي.

مبارکه نبوي کورنۍ

۱- له هجرت نه مخکې په مکه کې نبوي کورنۍ عبارت وه له: رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) او خدیجه (رضي الله عنها) . د واده په وخت کې رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) ۲۵ کلن او خدیجه (رضي الله عنها) ۴۰ کلنه وه، او تر څو چې ژوندۍ وه رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) بل واده ونکړ.
له خدیجې (رضي الله عنها) نه د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) لونې او زامن پیدا شول، خو زامن یې یو هم ژوندی پاتې نه شو. او لونې یې عبارت دي له: زینب، رقیه، ام کلثوم او فاطمه (رضي الله عنهن). زینب (رضي الله عنها) له هجرت نه مخکې د خپلې ترور (خاله) له زوی ابو العاص بن الربیع سره واده کړی وۀ. رقیه او ام کلثوم یې یوه په بله پسې عثمان (رضي الله عنهم) ته په نکاح ورکړې وې، فاطمه چې له علي (رضي الله عنه) سره یې د بدر او احد په مینځ کې واده کړې وۀ. د فاطمې (رضي الله عنها) اولادونه حسن، حسین، زینب او ام کلثوم (رضي الله عنهم) وو.
رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) د خپل امت په نسبت له نورو امتیازاتو او ځانګړتیاوو نه علاوه یو امتیاز دا درلود چې له څلور نه له زیاتو ښځو سره نکاح ورته روا وه. ددې امر تر شا ډیر حکمتونه او رازونه پټ وو. نو رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) له ۱۳ ښځو سره نکاح کړې وه، د رحلت په وخت کې یې نهه (۹) میرمنې ژوندۍ وې. دوې دده مبارک په ژوند کې وفات شوې وې چې یوه خدیجه او بله ام المساکین زینب بنت خزیمه (رضي الله عنهما) وه، او دوې میرمنې یې داسې وې چې ورسره یو ځای شوی نه و.
دلته د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) د نورو بیبیانو نومونه او ژوند په لاندې ډول وړاندې کوو:

۲- سوده بنت زمعه (رضي الله عنها): رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) د بعثت په لسم کال د خدیجې (رضي الله عنها) له وفات نه څو ورځې وروسته واده ورسره کړی وۀ. سوده مخکې د خپل تره له زوی سکران سره واده کړی وۀ، وروسته هغه

وفات شو، کونډه شوه او بیا یې د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) سره د ګډ ژوند شرف تر لاسه کړ.

۳- عائشه بنت ابی بکر (رضي الله عنهما): رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) ورسره د بعثت په یوولسم کال له سوده سره له واده نه یو کال وروسته د شوال په میاشت کې یعنې له هجرت نه دوه کاله او پنځه میاشتې مخکې نکاح کړې وه، چې دغه وخت عائشه (رضي الله عنها) (۶) کلنه وه، بیا له هجرت نه اوه میاشتې وروسته کله چې د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) عمر **۵۶** کاله او د عائشې (رضي الله عنها) عمر (۹) کاله وۀ په مدینه کې د لومړي هجري کال د شوال په میاشت کې واده وکړ. عائشه یوازینۍ پیغله ده چې رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) ورسره واده کړی، نورې میرمنې یې ټولې کونډې وې. رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) له عائشې سره ډیره مینه درلوده، عائشه (رضي الله عنها) له نورو نه ډیره هوښیاره، فقیهه او عالمه میرمن وه.

۴- حفصه بنت عمر (رضي الله عنهما): د نومورې میړه خنیس بن حذافه سهمي د بدر او احد تر مینځ مړ شو، نو وروسته په دریم هجري کال کې یې له رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) سره د نکاح شرف وګاټه.

۵- زینب بنت خزیمه (رضي الله عنها): دغه بي بي له بني هلال بن عامر بن صعصعه کورنۍ څخه وه. له فقیرانو او بیوزلانو سره یې ډیره همدردي لرله، نیکي به یې ورسره کوله او له همدې کبله په ام المساکین د مسکینانو په مور مشهور وه. لومړې یې له عبدالله بن جحش (رضي الله عنه) سره واده کړی و، هغه د احد په غزا کې په شهادت ورسید، او د هجرت په څلورم کال رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) نکاح ورسره وکړه، خو له رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) سره له واده نه دوې یا دری میاشتې وروسته وفات شوه.

۶- ام سلمه هند بنت ابي اميه (رضي الله عنها): لومړنۍ ميړه يې ابو سلمه (رضي الله عنه) وۀ، هغه د څلورم هجري کال په جمادي الاخر کې وفات شو، نو رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) په همدې کال د شوال په میاشت کې واده ورسره وکړ.

۷- زينب بنت جحش (رضي الله عنها) بن رئاب چې له بني اسد بن خزيمه قبيلې څخه وه. د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) د عمه لور هم کيدله، لومړی يې له زيد بن حارثه (رضي الله عنه) سره واده وکړ. وروسته زيد طلاقه کړه، او الله تعالی رسول (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) ته داسې حکم وکړ: ((فَلَمَّا قَضَى زَيْدٌ مِنْهَا وَطَراً زَوَّجْنَاكَهَا)) [وروسته له دينه چې زيد ورسره يو ځای شو مونږ هغه تا ته په نکاح در کړه.]
پدې هکله د احزاب سورت څو آيتونه نازل شول، پدې آيتونو کې د نسبتي زوی (پسر خواندګی) مسئله ښه توضيح شويده چې وروسته به اشاره ورته وکړو. رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) د پنځم هجري کال په ذي القعده کې له زينب سره واده وکړ.

۸- جويريه بنت حارث (رضي الله عنها): حارث د بني مصطلق کورنۍ سردار وۀ، جويريه له غزا نه وروسته اسيره شوه، لومړی د ثابت بن قيس بن شماس په برخه ورسيده، هغه مکاتبه ورسره وکړه يعنې د پيسو په مقابل کې يې د آزادۍ موافقه ورسره وکړه. رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) پيسې ورکړې آزاده شوه او د شپږم هجري کال په شعبان میاشت کې يې واده ورسره وکړ.

۹- ام حبيبه رمله بنت ابي سفيان (رضي الله عنها): نومورې د عبيدالله بن جحش ښځه وه. دواړو حبشۍ ته هجرت وکړ، خو ميړه يې هلته مرتد شو، مسيحي شو او هملته مړ شو، ام حبيبه پخپل دين قايمه وه. رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) په اووم هجري کال د محرم په میاشت کې د عمرو بن اميه ضمري په لاس نجاشي ته ليک وليږه چې له ام حبيبه سره يې د واده هيله پکې څرګنده کړې وه، نو هغه يې هملته د نکاح عقد وتاړه او له شرحبيل بن حسنه (رضي الله عنه) سره يې ورته راوليږله.

۱۰- صفيه بنت حيي بن اخطب (رضي الله عنها): صفيه په خيبر کې د مسلمانانو په اسارت کې ولويده، رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) هغه د ځان لپاره غوره کړه، آزاده يې کړه او په ۷ هجري کال کې د خيبر له فتحې وروسته نکاح ورسره وکړه.

۱۱- ميمونه بنت حارث (رضي الله عنها): دا د عباس (رضي الله عنه) د ښځې ام الفضل لبابه بنت حارث (رضي الله عنها) خور وه. رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) په عمره القضاء کې يعنې د اووم هجري کال په ذي القعده کې له احرام نه له حلاليدو وروسته نکاح ورسره وکړه.

دا وې هغه يوولس ميرمنې چې له رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) سره يې د نکاح او واده شرف حاصل کړی وۀ. خديجه او ام المساکين (رضي الله عنهما) د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) په ژوند وفات شوې، خو نهه (۹) نورې ميرمنې د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) د رحلت په وخت کې ژوندۍ وې او دوې ښځې داسې وې چې رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) د نکاح عقد ورسره ترلې وۀ خو واده يې ورسره و نه شو، هغه يوه له بني کلاب او بله له کنده کورنۍ څخه وه چې په جونيه سره يې شهرت درلود. پدې هکله د روايتونو تر مينځ څه اختلاف شته چې د تفصيلاتو بيانول يې ضروري نه شميرو.

د وينځو په هکله ويلی شو چې رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) له دوو وينځو سره يو ځای شوی و چې يوه يې ماريه قبطي (رضي الله عنها) وه چې د مصر مقوقس ورکړې وه او له هغې څخه يې يو زوی درلود چې نوم يې ابراهيم وۀ. ابراهيم ماشوم وۀ چې وفات شو، د وفات نيټه يې د لسم هجري کال د شوال ۲۸ يا ۲۹ تاريخ وۀ چې د ۶۲۲م کال د جنوري له ۲۷ مې سره سمون خوري. بله وينځه يې ريحانه بنت زيد نضري يا قرظي (رضي الله عنها) وه چې د بني قريظه په غزا کې په اسارت ونيول شوه، رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) هغه د ځان لپاره غوره کړه. ځينې روايتونه وايي چې ريحانه د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) ميرمن وه چې له اسارت نه وروسته يې آزاده او په نکاح کړې وه، خو ابن قيم لومړنۍ خبرې او روايت ته ترجيح ورکوي. ابو عبيده دوې نورې ميرمنې هم د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) د ميرمنو په ډله کې شاملوي چې يوه يې جميله وه چې په اسارت

نيول شوې وه او بله هغه وينځه وه چې زينب بنت جحش (رضي الله عنها) رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) ته ورکړې وه.[1]

که د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) مبارک ژوند ته په ځير وکتل شي، نو دا به له ورايه ښکاره شي چې لدې دومره ودونو نه د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) هدف د جنسي غريزې اشباع کول نه وۀ ځکه رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) د ځوانۍ لومړني تقريبا ديرش کاله له يوې څلويښت کلنې ښځې (خديجه (رضي الله عنها)) او بيا سوده (رضي الله عنها) سره تير کړيدي.

د ځوانې عمر يې له همدې زړو ميرمنو سره تير شويدی، نو آيا دا معقوله ده چې له ځوانۍ نه وروسته د پخوالي په عمر کې دې د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) جنسي قوت دومره زيات شوې وي چې يو بل پسې (۹) نهه ودونه وکړي؟ که واقعيت ته وکتل شي او د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) د ژوند مراحل تر نظر تير شي، نو دا په ډاګه شي چې د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) د هر واده شا ته هغه لوی مقاصد وو چې د عامو ودونو له مقاصدو نه ډير لوی وو، دا ودونه د مادي غرض لپاره نه بلکه د ډيرو سترو اهدافو پخاطر وو.

رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) پرخپلو څلورو يارانو کوم چې د الله او اسلام په لار کې يې ډير مشکلات ګاللي او په آزمويښه کې بريالي وتلي وو ډير عنايت او شفقت کړی له هغوی سره يې خپلې اړيکې ډيرې ټينګې ساتلې، او د همدې اړيکو د لا زيات ټينګيدو پخاطر يې له عائشه بنت ابوبکر (رضي الله عنهما) او حفصه بنت عمر (رضي الله عنهما) سره واده وکړ، رقيه او ورپسې ام کلثوم يې عثمان، او فاطمه يې علي (رضي الله عنهم) ته په نکاح ورکړې.

هغه وخت عربانو خپلوي او دوستي ډيره پالله، خپلوانو ته يې زيات احترام درلود، په دوستۍ سره د قبايلو تر مينځ اړيکې مضبوطيدلې، دښمنۍ او جګړې ورباندې پاې ته رسيدلې، او له خپلوانو سره دښمني او جګړه د شرم او بې ننګۍ خبره بلل کيدله.

له همدې امله رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) وغوښتل د خپلوۍ او ودونو له لارې ځينې قبيلې د ځان کړي، له همدې لارې له اسلام سره د هغوی دښمني او عداوت ختم کړي. ام سلمه (رضي الله عنها) له بني مخزوم قبيلې څخه وه، ابوجهل او خالد هم له همدې قبيلې څخه وو، له ام سلمه (رضي الله عنها) سره له واده نه وروسته خالد د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) په خلاف د احد د غزا

---

[1]. زاد المعاد ۱/ ۲۹

په شان سخته دښمني او کلک دريځ نه درلود ، بلکه څه وخت وروسته پخپله خوښه مسلمان شو. همدا راز ابو سفيان له هغې نه وروسته چې رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) يې لور ام حبيبه نکاح کړه د مسلمانانو په خلاف جګړه ونکړه. له جويريه او صفيه سره له واده نه وروسته د يهودانو دوې قبيلې بني مصطلق او بني نضير هم پداسې عمل لاس ندی پورې کړی چې په دښمنۍ دلالت وکړي بلکه جويريه خو د خپل قوم لپاره تر ټولو نه زياته برکتي ښځه وه ځکه لدې سره له واده نه وروسته اصحابو (رضي الله عنهم) د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) د خپلوۍ د درناوي په خاطر د هغې د قوم سل کورنۍ آزادې کړې او ټولو به ويل: دوی د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) خپلوان دي بايد آزاد شي، څرګنده ده چې دې احسان او نيکۍ د هغوی پر زړونو ډيره مثبته اغيزه درلوده.

د اسلام او مسلمانانو په خلاف د دښمنۍ د کمولو او له مختلفو قبايلو سره د دوستۍ له ټينګولو نه علاوه د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) د ودونو ستر هدف دا وۀ چې رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) غوښتل له خپلو ميرمنو نه د داعيانو او معلمانو کار واخلي، ځکه هغه (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) پدې مکلف وۀ چې دا له تمدن، فرهنګ او ثقافت نه ليرې او پردی قوم داسې وروزي چې د ژوند په ټولو آدابو او اخلاقو سمبال وي. هغه (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) نوې ټولنه جوړوله، او د ټولنې حاکمو اصولو دا اجازه نه ورکوله چې نارينه او ښځينه دې سره ګډ وي، او دا ممکنه نه وه چې د عربي ټولنې ښځې دې خپل نوي اسلامي فرهنګ او ثقافت مخامخ له نارينه وو نه زده کړي. ښځې د ټولنې يوه مهمه برخه وه او د هغوی پوهه، روزنه او ښوونه لکه د نارينه وو په شان ضروري او لازمي وه، بناءً رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) مجبور وو ددې لوی عمل د ادا کولو پخاطر د ښځو د روزنې او ښوونې پخاطر د مختلفو عمرونو درلودونکې ښځې غوره کړي، د مختلفو عمرونو او مختلفو صلاحيتونو خاوندانې ښځې په نکاح کړي، هغوی په اسلام او اسلامي اخلاقو وروزي، د دين احکام ور زده کړي او داسې معلمانې ورنه جوړې کړې چې وکولې شي په بريالیتوب سره ښاري او باندې والې ميرمنې وروزي، هغوی ته د اسلام پيغام ورسوي، زړو او ځوانو ښځو ته اسلامي آداب او اخلاق په عملي توګه ور زده کړي او ښځو ته د تبليغ دنده ادا کړي. د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) قدرمنو ميرمنو (رضي الله عنهن) د اسلام د مبلغانو رول ادا کړی، هغوی په ډيره ښه توګه د رسول الله (صلی الله علیه و اله و

صحبه و سلم) کورني او ژوندني حالات ښځو ته انتقالول، هغوی به په ټولو امورو کې له رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) نه زده کړه کوله او بيا به يې نورو ښځو ته ښوونه کوله. دا دنده هغو بيبيانو ډيره ښه ادا کړيده چې ډير عمر ژوندۍ وې لکه عائشه (رضي الله عنها)، نومورې د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) زيات شمير مبارک اقوال او سپيڅلي اعمال نورو ته رسولي دي.

د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) يو واده داسې وٴ چې په هغه سره د جاهلي دور يو زوړ عادت او رواج مات شو، په عربانو کې زوې نيول (پسر خواندګی) رواج درلود. پسر خوانده به د اصلي او نسبي زوی په شان ټول حقوق درلودل او په هر څه کې به د نسبي زوی په شان معامله ورسره کيدله. دا رواج دومره خور شوی و چې له مينځه وړل يې آسانه او ساده کار نه وٴ، څرګنده ده چې دې رواج د طلاق، نکاح، ميراث او نورو معاملاتو په برخه کې له اسلامي احکامو سره تعارض درلود، پدې عادت او رواج کې نور ډير داسې مفاسد او فتنې پټې وې چې اسلام د هغو د له مينځه وړلو لپاره راغلي و. د همدې جاهلي عادت د ابطال او له مينځه وړلو لپاره الله تعالی خپل رسول (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) ته امر وکړ چې له زينب بنت جحش سره نکاح وکړي. زينب (رضي الله عنها) د زيد ښځه وه، زيد د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) پسر خوانده وٴ يعنې هغه يې په فرزندۍ يا زوی توب نيولی وٴ. زيد چې له زينب سره واده وکړ، له واده نه وروسته د دواړو تر مينځ د ګډ ژوند شرايط نه وو برابر، اختلاف يې سره درلود، نو زيد اراده وکړه طلاقه يې کړي. دا داسې وخت وٴ چې کافران له هرې خوا نه پر مسلمانانو د حملې په حال کې وو، رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) د مشرکانو، يهودانو او منافقانو له تبليغاتو نه ويريده، او دا تشويش يې درلود چې هسې نه دښمنان لدينه هم دده په خلاف د يوې تبليغاتي وسيلې په توګه کار واخلي، نو خوښه يې نه وه چې زيد خپله ښځه زينب طلاقه کړي. متردد وٴ او څرګنده ده چې د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) دا تردد او تمايل له هغه عزم او عزيمت سره پوره برابري نه درلوده، کوم چې له املـه يې د الله تعالی له خوا را استول شوی و. الله تعالی پدې مساله کې عتاب ورته وکړ او ويې فرمايل: (وَإِذْ تَقُولُ لِلَّذِي أَنْعَمَ اللَّهُ عَلَيْهِ وَأَنْعَمْتَ عَلَيْهِ أَمْسِكْ عَلَيْكَ زَوْجَكَ وَاتَّقِ اللَّهَ وَتُخْفِي فِي نَفْسِكَ مَا اللَّهُ مُبْدِيهِ وَتَخْشَى النَّاسَ وَاللَّهُ أَحَقُّ أَنْ تَخْشَاهُ)) (الاحزاب: ۳۷)

[او کله چې تا وويل هغه (زيد) ته چې انعام کړی ؤ الله پر هغه او انعام کړی ؤ تا پر هغه (په آزادولو سره) چې خپله ښځه وساته او وويريږه له الله ته حال دا چې پټوله تا په زړه کې هغه خبره چې الله يې ښکاره کوونکی ؤ او ته ويريدې له خلکو نه او الله ډير لايق دی چې ويره ورنه ولرې.]

په پاې کې زيد هغه طلاقه کړه او له عدت نه وروسته رسول الله (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) واده ورسره وکړ. دا نکاح هغه وخت وشوه چې بني قريظه محاصره شوي وو. دا نکاح د الله په امر وشوه او الله دا وربانديې واجبه کړې وه هيڅ اختيار او مجال يې نه ؤ ورکړی، رسول الله (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) پدې هکله هيڅ بله لاره او اختيار نه درلود. الله تعالی فرمايي: ((فَلَمَّا قَضَى زَيْدٌ مِنْهَا وَطَراً زَوَّجْنَاكَهَا لِكَيْ لا يَكُونَ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ حَرَجٌ فِي أَزْوَاجِ أَدْعِيَائِهِمْ إِذَا قَضَوْا مِنْهُنَّ وَطَراً وَكَانَ أَمْرُ اللَّهِ مَفْعُولاً)) (الاحزاب: ٣٧) [کله چې پوره کړ زيد له هغې (زينب) نه خپل غرض (او طلاقه يې کړه او عدت يې پوره شو) نو په نکاح درکړه مونږ تا ته دغه (زينب) د پاره ددې چې نه وي پر مؤمنانو سختي او ويال په نکاح کولو د ښځو د ادعياوو کې کله چې تمام کړي دوی خپل غرض ورنه او د الله امر نافذ دی.]

ددې حکم تر شا دا حکمت پروت ؤ تر څو پدې سره د فرزندۍ او پسر خواندګۍ په نامه مشهور شوی جاهلي دود له مينځه يوسي، الله تعالی دې ته اشاره فرمايي: (ادْعُوهُمْ لآبَائِهِمْ هُوَ أَقْسَطُ عِنْدَ اللَّهِ)) (الاحزاب: ٥)

[وبولئ تاسې دغه ادعياء (پسر خواندګان) پلرونو د دوی ته دغه ډير غوره دی په نزد د الله.]

((مَا كَانَ مُحَمَّدٌ أَبَا أَحَدٍ مِنْ رِجَالِكُمْ وَلَكِنْ رَسُولَ اللَّهِ وَخَاتَمَ النَّبِيِّينَ)) (الاحزاب: ٤٠) [ندی محمد (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) حقيقي پلار د هيڅ يو تن له سړيو ستاسې نه، ليکن رسول الله (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) او خاتم د رسولانو دی.]

ډير عادتونه او رواجونه داسې وي چې په تشه خبره او قول سره نه پرېښودل کيږي، بلکه د هغه له مينځه وړل له قول سره عملي مثال ته هم ضرورت لري. همدې ته ورته يوه پېښه د عمرة الحديبيه په وخت کې هم وشوه هغه مسلمانان او اصحاب (رضي الله عنهم) چې د رسول الله (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) د پزې اوبه هم ځمکې

ته نه پريږدي بلکه د عروه بن مسعود ثقفي په خوله هغه را اخلي او په بدن يې موښي، د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) د اوداسه د اوبو په را اخيستلو کې يو له بل سره مقابله کوي، همدوی وو چې له خپل ګران رهبر سره يې د مرګ بيعت کړی، په همدې ډله کې ابوبکر، عمر او نور ياران وو، همدغو اصحابو (رضي الله عنهم) ته چې له ټرون نه وروسته امر کيږي لاړ شئ خپل د قربانۍ څاروي حلال کړئ، ځانونه له احرام نه خلاص کړئ، وينو چې په قولي امر سره يو هم د حکم تعميل نه کوي، رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) ددې صحنې په ليدو سره غمګين او خوابدی کيږي، خو کله چې ام سلمه (رضي الله عنها) مشوره ورکړه چې لومړی خپله قرباني ذبح کړي، له هيچا سره څه خبره ونکړي، نو بيا به ټول همدا کار عملي کوي. همداسې وشول رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) چې خپله د قربانۍ ځ ا ر و ی حلال کړ، اصحاب (رضي الله عنهم) ټول پاڅيدل د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) متابعت يې وکړ. د همدې مثال په رڼا کې د قولي او عملي حکم تر مينځ توپير معلومولی شو، او وينو چې عملي حکم څه ډول اغيزه او اثر لري.

له زينب بنت جحش (رضي الله عنها) سره د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) له نکاح نه وروسته منافقانو ډير زهرجن تبليغات وکړل، ډيرې شبهې يې را ولاړې کړې، تردې حده چې ځينې کمزورې مسلمانان تر متاثر هم شول، پدې وخت کې يو بل مشکل دا وُ چې له زينب سره واده د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) پنځم واده کيده، او مسلمانانو ته خو له ځلورو نه د زياتو ودونو جواز نه و، نو دلته دوه مشکله وو: لومړی دا چې دا د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) پنځم واده کيده، بله دا چې زيد د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) پسر خوانده وُ چې د جاهلي عادت مطابق د هغه له طلاقې شوې ښځې سره واده نه وُ ورته روا. د همدې مشکلاتو د حل لپاره الله تعالی د احزاب سورت څو آيتونه را نازل کړل دا موضوع ګاڼي يې ښې وڅيړلې او مسلمانانو ته يې وښودله چې پسر خواندګي په اسلام کې اصل نلري او بله دا چې الله تعالی خپل رسول (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) ته د ودونو په هکله داسې امتياز ورکړيدی چې بل چا ته نشته، دده لپاره له ځلورو نه زيات ودونه روا دي، او د لوړو اهدافو پخاطر الله تعالی خپل رسول (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) ته دا ځانګړتيا ورکړيده.

رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) له امهات المؤمنين (رضي الله عنهن) سره ډير د شرف، عزت اطمينان، احسان او نيکۍ ژوند وکړ. ټولې بيبيانې د

شرف، قناعت، صبر، تواضع، خدمت او حق پیژندنې نمونه وې، کـه څه هم رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) ډیر د محرومیت ژوند تیراوه. انس (رضي الله عنه) وایي: فکر نه کوم چې رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) به تر وفاته نرمه ډوډۍ خوړلې وي او یا یې دې پخپلو سترګوکباب شوی پسه لیدلی وي[1].

عائشـه (رضي الله عنهـا) وایـي: ډیر ځلـه داسې کیدلـه چې دوې، دوې میاشتې بـه مسلسل او د دریمې میاشتې تر رابره کیدو پورې به د رسول الله (صلی الله علیـه و اله و صحبه و سلم) په کور کې اور نه بلیده. عـروه ورتـه وویـل: ژوند مو په څه تیـراوه؟ عائشه وفرمایل: په اوبو او خرما[2]. پدې هکله ډیر روایات را نقل شویدي.

لدې اقتصادي مشکلاتو سره سره د رسول الله (صلی الله علیـه و اله و صحبه و سلم) میرمنو هیڅ اعتراض نه درلود، قانع وې، یوازې یو ځل یې له خپل ژوند او سخت حالت نه شکایت وکړ، خو پدې کې هم لوی حکمت پروت و دا د احکامو د تشریع علت شو، او په همدې مناسبت دا آیت نازل شو:

((يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ قُلْ لأَزْوَاجِكَ إِنْ كُنْتُنَّ تُرِدْنَ الْحَيَاةَ الدُّنْيَا وَزِينَتَهَا فَتَعَالَيْنَ أُمَتِّعْكُنَّ وَأُسَرِّحْكُنَّ سَرَاحاً جَمِيلاً (٢٨) وَإِنْ كُنْتُنَّ تُرِدْنَ اللَّهَ وَرَسُولَهُ وَالدَّارَ الآخِرَةَ فَإِنَّ اللَّهَ أَعَدَّ لِلْمُحْسِنَاتِ مِنْكُنَّ أَجْراً عَظِيماً). (الاحزاب: ٢٨- ٢٩)

[اې نبي! ووایه ته ښځو خپلو ته که چیرې تاسې غواړئ همدغه ژوندون د دنیا او ښایست ددې بې ارزښته ژوندون، نو راشئ چې فایده در ورسوم او خوشې کړم تاسې په نیکۍ سره او که اراده لرئ د الله او د رسول الله (صلی الله علیـه و اله و صحبه و سلم) او د آخرت پس بیشکه الله تیار کړی دی د صالحینو د تاسې لپاره ډیر لوی اجر.]

دې عظیمو میرمنو د شرف او عزت په حکم ټولو دنیا ته شا کړه، رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) یې له هر څه نه غوره وبالـه یـوې هم دا خوښه نکړه چې د دنیا مال او متاع دې وغواړي.

ددې میرمنو تر مینځ سره لدې چې شمیره یې ډیره وه، داسې څه مشکل ندې پیښ شوی کوم چې معمولاً د بنو تر مینځ واقع کیږي، خو کله نا کله بـه د انسـاني کمزورۍ له امله څه ستونزې پیښیدلې. او چې کله څه غلطي ور نه شوې الله تعـالی عتـاب

[1]. صحیح البخاري ٢/٩٥٢.
[2]. نفس المصدر والصفحة.

ورته کړی او دوی بیا هغه ندی تکرار کړی. الله تعالی فرمایي: (يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ لِمَ تُحَرِّمُ مَا أَحَلَّ اللَّهُ لَكَ). (التحريم: ۱) د پنځم ایت تر پایه [اې رسوله ولې حراموې هغه څه چې الله درته حلال کړي دي.]

په پای کې وایم چې د میرمنو د تعدد په هکله بحث ته ضرورت نشته ځکه ددې مسئلې یعنې د ښځو د تعدد زیات مخالفین هغه کسان دي چې د غربي تمدن نمایندګي کوي، خو که د اروپا او غربي نړۍ ژوند ته وګورو د هغوی هغه مشکلات او ستونزې تر نظر تیرې کړو، هلته کیدونکي هغه جرایم او جنایات وګورو چې ورباندې راغلي، هغه بدبختۍ او مصیبتونه وشمیرو کوم چې له همدې اصل (تعدد) نه د انحراف او انکار له امله ورباندې رالویدلي دي، نو بیا ددې ضرورت نه پاتی کیږي چې ددې نظر د ابطال په هکله نور استدلال وشي، د اروپایانو او ټولو غربیانو عملي ژوند ددې لپاره ښه دلیل دی چې تعدد مشکل او نقص نه بلکه ضرورت او حل دی.

د رسول الله (ﷺ) صفات او اخلاق

رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) د داسې جسماني او اخلاقي کمال، جمال او ښکلا خاوند ؤ چې په ژبه يې وصف او بيان نه شي کيدلی. زړونه دده په محبت او دوستۍ ودان و، هره سينه يې له قدر او درناوي ډکه وه، خلکو دده له عظمت او کرم نه ځانونه قربانول. د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) په شان قدر او منزلت د هيڅا نه ؤ او نه دی او نه به په راتلونکي کې شي، چا چې ژوند ورسره کړی دده د مينې او محبت بنديوان شوی، اصحابو (رضي الله عنهم) دومره مينه ورسره درلوده چې پخپله يې مرګ قبلاوه خو دا يې نه غوښتل د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) يو نوک خوږ شي.

له رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) سره د خلکو د مينې او محبت يو علت دا ؤ چې هغه (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) د دومره کمال خاوند ؤ چې هر څوک يې خپلولی شوای. په راتلونکو کرښو کې به په مختصره توګه د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) د جمال او کمال په هکله را نقل شوي روايات تر نظر تير کړو، خو مخکې لدينه چې ددې عظيم لارښود د کمال او ښکلا په هکله څه ووايو پدې اعتراف کوو چې مونږ په هيڅ صورت هم د هغه (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) حق په قلم او ژبه سره نه شو ادا کولی.

د رسول الله ﷺ اخلاقي کمال او شمايل

کله چې رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) د هجرت په سفر کې د ام معبد خزاعي له خيمې نه تير شو، له ام معبد سره يې ملاقات وشو، نوموړې خپل ميړه ته دده (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) صفات بيان کړل او پدې هکله يې داسې وويل: يو شخص مې وليد چې ډير ښکلی او باوقاره ؤ، ځليدونکی مخ او غوره اخلاق يې درلودل، نه مريض ؤ او نه يې اندامونه غير متناسب وو، ډير ښکلی او برابر ؤ. زړه رابنکونکی سر او مخ يې درلودل، تورې سترګې، لوړ آواز، اوږده غاړه، ګڼه ږيره،

اوږده بانډه، نښتې نرۍ وروځې او اوږده تور ویښتان یې درلودل، چې چپ به ۍ ځانګړی وقار یې درلود او که خبرې به یې کولې عظمت او لوړوالی به یې له واریه ښکاریده. له لیرې نه ډیر با هیبته او درونډ ښکاریده او له نژدې نه ډیر خوږ، شیرین زبانه ۍ، خبرې یې لنډې او مقبولې وې، نه یې زیاتې خبرې کولې او نه له اندازې نه کمې، خبرې یې لکه ملغلرې وې. د متوسطې ونې خاوند ۍ نه ډیر لوړ او نه ډیر ټیټ ۍ، د داسې یوې ځانګې په شان ۍ لکه چې د دوو ځانګو تر مینځ واقع شي او له دواړو نه وتلې او غوره وي، ملګرو یې ډیره مینه ورسره درلوده، چې ده به خبرې کولې ملګري به یې چوپ وو، امر به یې چې وکړ ټول به یې تعمیل ته ولاړیدل، امر یې منل کیده، نه بد خوی ۍ او نه ظالم . (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم)[1]

علي بن ابي طالب (رضي الله عنه) د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) په وصف کې وایي: نه ډیر بې اندازې لوړ او نه ډیر ټیټ ۍ، متوسطه ښکلې ونه یې درلوده، ښه چار شانه ۍ، ویښتان یې نه ډیر نرم ۍ او نه ډیر تاو تاو، مبارک مخ یې غوښن نه ۍ ګرد او سور رنګه ۍ، سترګې یې غټې بادامي، بانډه یې اوږده او ګڼ، اوږې یې پلنې، له ټټر نه تر ګیډې یا نامه پورې یې نري ویښتان وو، نور جسم یې ویښتان نه درلودل د لاسونو او پښو ګوتې یې غوښنې وې، د تګ په وخت کې به د مخې لور ته مایل ۍ تا به ویل چې په ځوړ کوزیږي، که چا ته به یې التفات او توجه کوله نو په ټول بدن سره به ورته ملتف کیده.

د دواړو اوږو تر مینځ یې د نبوت مهر ۍ، له ټولو نه زیات مهربان او ښونکی ۍ، د زیاتې حوصلې درلودونکی ۍ چا به چې ژوند ورسره تیر کړ، معرفت به یې ورسره حاصل شو، نو ډیره مینه به یې ورسره پیدا کیدله، چا به یې چې صفت کاوه ویل به یې: دده په شان شخص مې نه مخکې لیدلی او نه وروسته.[2]

په بل روایت کې له علي (رضي الله عنه) نه رانقل شوي چې وایي: د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) مبارک سر لوی او په غوښو ډک ۍ له ټټر نه ترنامه پورې یې ویښتان وو، د تګ په وخت کې به د مخې خوا ته مایل ۍ ته به وایې لکه چې په ځوړ کوزیږي.[3] جابر بن سمره (رضي الله عنه) وایي: د رسول الله (صلی الله علیه و

(1). زاد المعاد ۲/ ۴۵

(2). ابن هشام ۱/ ۴۰۱_۴۰۲. جامع الترمذي مع شرحه تحفة الاحوذي ۴/۳۰۳.

(3). المصدر الاخیر.

اله و صحبه و سلم) مبارکه خوله لويه وه، په سترګو کې يې لږ څه سوروالی وۀ، پوندې يې ډنګرې او بې غوښې وې.[۴]

ابو طفيل (رضي الله عنه) وايي: رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) سپين، نمکين، ښکلی او د متوسط قامت او معتدل بدن خاوند وۀ[۱].

انس بن مالک (رضي الله عنه) وايي: د رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) لاسونه غټ او پلن وو، رنګ يې ښکلی وۀ نه ډير بې نمکه سپين او نه ډير ګندمي (غنم رنګه) وۀ، پداسې حال کې وفات شو چې په سر او ږيره کې يې له شلو نه زيات سپين ويښتان نه وو.[۲] او وايي: په مبارکو شقيقو کې يې سپين والی و. او په بل روايت کې وايي: په مبارک سر کې يې ځای ځای سپين ويښتان وو[۳].

ابو جحيفه وايي: ما يې تر لاندينۍ شوندې لاندې سپين والی ليدلی[۴]. عبدالله بن بسر (رضي الله عنه) وايي: په مبارکه زنې يې څو تاره سپين ويښتان وو[۵].

براء (رضي الله عنه) وايي: رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) چار شانه وۀ، اوږې يې پلنې وې، ويښتان يې د غوږو تر نرميو پورې اوږده وو، ما هغه په سرو جامو کې ليدلی، چې دده د ښکلا په شان ښکلا مې نده ليدلې. [۶]

رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) په لومړيو کې له اهل کتابو سره د موافقت پخاطر خپل مبارک ويښتان له مخې نه شا ته ږومنځول، خو وروسته يې ويښتان په دوو برخو ويشل.[۷]

براء وايي: رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) له ټولو نه زيات خوش اخلاقه او ښکلی و.[۸] پوښتنه ترې وشوه چې آيا مخ يې لکه د توري په شان داسې ځليده؟ ويې ويل: نه، د توري په شان نه بلکه مخ يې لکه د سپوږمۍ په شان ځليده. په بل روايت کې راځي چې مخ يې ګردی وۀ[۹].

---

[٤]. صحيح مسلم ۲/ ۲۵۸.
[۱]. صحيح مسلم ۲۵۸/۲..
[۲]. صحيح بخاري ۱/ ۵۰۲.
[۳]. بخاري، مسلم ۲۵۹/۲.
[٤]. بخاري ۵۰۱_۵۰۲.
۵ .نفس المصدر ۵۰۲/۱.
[٦]. نفس المصدر.
[۷]. صحيح بخاری ۵۰۳/۱.
[۸]. نفس المصدر ۵۰۲/۱. مسلم ۲۵۸/۲..
[۹]. بخاري ۵۰۲/۱. صحيح مسلم ۲۵۹/۲.

الرُبیع بنت معوذ (رضي الله عنها) وایي: د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) مخ ته به دې چې وکتل تا به ویل لمر ته ګورم.(۱۰)

جابر بن سمره (رضي الله عنه) وایي: یوه شپه مې چې سپوږمۍ بره راختلې وه رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) ته وکتل، بیا مې سپوږمۍ ته وکتل، رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) سرې جامې اغوستې وې، ومې کتل چې رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) مې په سترګو کې له سپوږمۍ نه زیات ښکلی او ځلیدونکی ښکاریده(۱).

ابو هریره (رضي الله عنه) وایي: له رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) نه زیات ښکلی شی مې ندی لیدلې، تا به ویل لمر یې په مخ کې شعلې وهي، څوک مې هم په تګ کې له رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) نه تیز ندی لیدلې، داسې به روان و تا به ویل لکه چې ځمکه یې تر پښو لاندې منډې وهي، مونږ به ورپسې سترې شوو خو هغه به نه سترې کیده.(۲)

کعب بن مالک (رضي الله عنه) وایي: د خوشالۍ په وخت کې به د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) مخ داسې شعلې وهلې تا به ویل د سپوږمۍ ټوټه ده(۳).

یو ځل د عائشې (رضي الله عنها) په کور کې خولې شو، مبارک مخ یې داسې په ځلا شو چې عائشې (رضي الله عنها) یې په هکله د ابو کبیر هذیلي دا شعر ووایه:

و اذا نظرت الی اسرة وجهه برقت کبرق العارض المتهلل(۴)

[چې د مخ لیکو ته یې وګورې نو داسې ځلیږي لکه ځلیدونکې وریځ چې د آسمان په څنډو کې ځلیږي.] ابوبکر (رضي الله عنه) به چې رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) ته وکتل نو ویل به یې:

امین مصطفی بالخیر یدعو کضوء البدر زایله الظلام(۵)

[امین دی مصطفی (غوره شوی) د نیکۍ لور ته بلنه کوي، لکه د څوارلسم سپوږمۍ داسې ځلیږي چې هیڅ تیاره پکې نشته.]

---

(۱۰). رواه الدارمي. مشکاة المصابیح ۵۱۷/۲.

(۱). ترمذي في الشمائل ص ۲. الدارمي. مشکاة المصابیح ۵۱۸/۲.

(13) جامع الترمذي مع شرحه تحفة الاحوذي ۳۰۲/۴. مشکاة المصابیح ۵۱۸/۲.

(۲). ترمذي

(۳). بخاری ۱/ ۵۰۲.

(٤). رحمه للعالمین. ۱/ ۱۷۲.

(٥). خلاصه السیر ص ۲۰.

عمر (رضي الله عنه) به يې په وصف کې د مثال په توګه د زهير هغه شعر وايه چې د هرم بن سنان په هکله يې ويلی و:

لو کنت من شئ سوی البشر کنـــت المضئ ليـــلة البدر

[که ته له بشر نه پرته بل څه وای، نو پخپله رڼا به د څوارلسم سپوږمۍ په شان شپه رڼا کوله] بيا به يې ويل رسول الله (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) همداسې وئ[1].

رسول الله (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) به چې په قهر شو مخ به يې رنګين شو تا به ويل په مخ يې د انار دانې ماتې شوې دي[2].

جابر بن سمره (رضي الله عنه) وايي: پوندې يې نرۍ وې، له تبسم نه لوړه خندا يې نکوله که به مو ورته کتل ګمان به مو کاوه چې سترګې يې په رنجو تورې کړيدي پداسې حال کې چې په حقيقت کې به يې رانجه نه واستعمال کړي.[3]

ابن عباس (رضي الله عنهما) وايي: د مخې د دواړو غاښونو تر مينځ يې کمه فاصله وه، خبرې به يې چې کولې تا به ويل د غاښونو لـــه مـــنځ نـــه يې نـــور راوځي[4].

ښکـــلې غاړه يې درلوده لکه سپين زر داسې به ځليده، ګڼ بانه او ګڼه ږيره يې درلوده، ټنډه يې پراخه وه، وروځې يې سره وصل وې، لوړه پزه، او ګلالی مخ يې درلود. له ټټر نه تر نامه پورې يې ويښتان وو، دا ويښتان لکه د يوې څانګې په شان وو، په بدن يې نور ويښتان نه وو، يوازې متې او اوږې يې له ويښتانو ډکې وې. سينه او خيټه يې برابره، پراخه سينه، غټ غټ بندونه او پلن لاسونه يې درلودل، مناسب قامت يې درلود، خيټه يې له لوږې نه ډيره وړه وه، پښې يې له ځمکې نه لوړې وې (موزه پای وئ) اندامونه يې موزون او قوي وو، په ډيره تواضع او وقار به روان وئ.[5]

انس (رضي الله عنه) وايي: داسې ابريشمي او وريښمينه ټوټه مې نده ليدلې چې د رسول الله (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) له لاسونو نه زياته نرمه وي، او نه مې دده (صلی الله عليه و اله و صحبه و سلم) د مبارک بدن د ښکـــلـــي بوی په شان خوشبويي ليدلې. په بل روايت کې راځي چې: داسې مشک او عنبر مې ندي بوی کړي

---

[1]. خلاصة السير ص ۲۰.

[2]. مشکاة المصابيح ۲۲/۱. الترمذي ابواب القدر ۳۵/۲.

[3]. الترمذي. مع شرحه تحفة الاحوذي ۳۰۲/۴.

[4]. رواه الدارمي. مشکاة المصابيح ۵۱۸/۲.

[5]. خلاصه السير ۱۹ – ۲۰.

چې د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) د بدن له مبارک بوی نه زیاته خوشبویي ولري.[۶]

ابو جحیفه (رضي الله عنه) وایي: د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) دواړه لاسونه مې ونیول په خپل مخ مې کیښودل ومې لیدل چې له واورې نه یخ او له مشکو نه زیات خوشبودار وو.[۱]

جابر بن سمره (رضي الله عنه) وایي: د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) خولې له ټولو عطرو نه زیاتې خوشبوداره وې. جابر (رضي الله عنه) وایي: زه ماشوم وم، رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) مې غومبوري ته لاس راوورې، د شقفت لاس یې پرې راکاړه، ومې ولیدل چې مبارک لاسونه یې یخ او داسې خوشبودار وو تا به ویل همدا اوس یې د عطار له خلتې نه را ایستلي دي.[۲]

انس وایي: خولې یې لکه ملغرلې داسې وې .ام سلیم (رضي الله عنها) وایي: د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) د مطهر بدن ښکلی بوی یا خولې له غوره عطرو نه هم غوره وې[۳].

جابر (رضي الله عنه) وایي: رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) به چې په کومه لاره لاړ، که بل څوک به په همدې لاره لاړل، نو د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) له مبارک بوی نه به پدې پوهیده چې رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) په همدې لاره تللی دی یعنی دد ه له خوشبویی نه پدې پوهیده چې هغه پدې لاره تللی دی، دده خوشبویې او یا دده د خولو خوشبویي به د دوی د لارې رهنما وه.[۴]

د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) د دواړو اوږو تر منځ د کوترې د هګۍ په اندازه د نبوت مهر لګیدلی وٴ رنګ یې د مبارک بدن د رنګ په شان وٴ، د چپې اوږې خوا ته پدې نرم هډوکي وٴ، او د نخود په اندازه دانې غوندې ورباندې شګکاریدلې[۵].

---

[۶]. صحیح بخاري ۱/ ۵۰۳. صحیح مسلم ۲۵۷/۲.

[۱]. صحیح بخاري ۱/ ۵۰۲

[۲]. مسلم ۲/ ۲۵۶

[۳]. نفس المصدر.

[۴]الدارمي، مشکاه المصابیح ۵۱۷/۲ .

[۵]. صحیح مسلم ۲۵۹/۲_۲۶۰.

غوره اخلاق او روحاني کمال

رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) د بې ساري فصاحت او بلاغت خاوند وٴ سليسې، روانې، لنډې، با معنی او بې تکلفه خبرې يې ځانګړتيا وه.

رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) ته جوامع الکلم و الحکم ورکړل شوی و، يعنې د داسې بياني کمال در لودونکی و چې زيات مفاهيم به يې په ډيرو لنډو ټکو کې بيانول او د ډير زيات حکمت او کمال خاوند وٴ.

د عربانو په مختلفو لهجو ښه پوهيده او له هرې قبيلې سره به يې به د همغې قبيلې پخپله لهجه خبرې کولې، په حاضر جوابۍ کې لکه د کوچيانو (باندې والو) په شان وٴ، د کلماتو په نظم، غوراوي او استعمال کې لکه د ښار اوسيدونکی داسې وٴ په الهي مرستې سره چې د وحي په صورت کې ورته راتله د زيات حلم، حوصلې، مهربانۍ او ښښنې خاوند وٴ د قدرت په وخت کې عفوه، د مشکلاتو په وړاندې صبر او مقاومت هغه صفتونه وو چې الله تعالی ور باندې لورولي وو. انسان که هر څومره حليم او برده بار شي خو بيا هم کله نا کله له سختۍ نه کار اخلي، خو رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) داسې حليم وٴ چې که هر څومره به اذيت او زيان به وروا وښت د صبر او حوصلې لمن يې نه پريښوده، د هر جاهل په وړاندې يې له حلم نه کار اخيست.

عائشه (رضي الله عنها) وايي: رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) به کـــه د دوو کارونو تر مينځ د اختيار او واک حق درلود، نو هغه کار به يې غوره کاوه چې آسانه به وٴ، خو دا په هغه صورت کې چې آسانه کار به ګناه نه وه، ځکه هغه (صلی الله علیه وسلم) له ګناه نه تر ټولو زيات پاک او ليرې وٴ. رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) کله هم خپل انتقام له چا نه ندی اخيستی، خو د شريعت مخالفت يې نه شوای زغملی، او پدې صورت کې به يې د الله لپاره انتقام اخيست[1]. هغه له قهر نه ډير ليرې، رضا او نـرمۍ ته ډير نژدې وٴ.

رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) له ټولو نه زيات سخي او کريم وٴ، داسې بخششونه به يې ورکول تا به ويل لکه چې له فقر نه بالکل ويره نلري. ابن عباس (رضي الله عنهما) وايي: رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) له ټولو نه

---

[1]. صحيح بخاري ۱/ ۵۰۳

زیات سخي و، په رمضان کې به چې جبریل ورته راته سخاوت یې نور هم زیاتیده. د رمضان په میاشت کې به هره شپه جبریل ورته راته قرآنکریم به یې ورته تلاوت کاوه. رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) د خیر او نیکۍ په کارونو کې د سهار له نسیم نه زیات مهربانه لطیف او خوځنده وۀ. [۱]

جابر (رضي الله عنه) وایي: رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) هیڅکله هم د چا د سوال په ځواب کې (لا) نه ندي ویلي. [۲]

په شجاعت، له نورو سره مرسته، همکارۍ او تعاون کې ساری نلري. د عمل په ډګر کې یې په اثبات رسولې چې له هر چا نه د زیات غیرت او شجاعت خاوند و، پداسې مواقعو کې یې مقاومت کړی چې بل چا هلته د مقاومت وس نه درلود، په ډیرو سختو حالاتو او شیبو کې به د غره په شان په ځای ولاړ وۀ، نه یوازې په شا تګ به یې نه کاوه بلکه مخ په وړاندې به روان وۀ. داسې قهرمان او پهلوان به نه وي چې یو او یا څو ځله یې له میدان نه عقب نشیني نه وي کړې، خو رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) پخپل ژوند کې عقب نشیني او په شا تګ ندی کړی. علي (رضي الله عنه) وایي: کله به چې جګړه ښه ګرمه شوه، سترګې به سرې شوې، مونږ به د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) خوا ته ورتلو او دده په حمایت کې به مو ځانونه ساتل، هیڅوک به هم له رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) نه دښمن ته زیات ورلنډ نه وۀ. [۳]

انس (رضي الله عنه) وایي: یوه شپه د مدینې خلکو د خطر احساس وکړ، غږ یې تر غوږو شو، یوه ډله خلک په غږ پسې ووتل، د لارې په اوږدو کې یې رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) ولید چې بیرته را روان دی، د ابو طلحه په شا توري آس سپور دی، له ټولو نه مخکې په هغه غږ پسې وروتلی وۀ، توره یې په غاړه کې پرته وه او فرمایل یې: ((مه ویریږئ، مه ویریږئ)). [۴]

په حیا او چشم پوشۍ کې له ټولو نه لوړ او مخکې وۀ، ابو سعید خدري (رضي الله عنه) وایي: رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) له مستورې پیغلې نه زیاته حیا

---

[۱]. بخاري ۱/ ۵۰۲ .
[۲]. بخاری ۱/ ۵۰۲ .
[۳]. الشفا ۱ للقاضي عیاض ۱/ ۸۹ .
[۴]. مسلم ۲/ ۲۵۲ ، بخاري ۴۰۷/۱ .

درلوده. له کوم شي نه به يې چې نفرت کيده او بد به يې ورنه راغلل نو د کراهت نښانې به يې په مخ کې ښکاره کيدلې.[۵]

چا ته به يې مخامخ ډير نه کتل، بلکه مبارکې سترګې به يې يوې او بلې خوا ته اړولې، ځمکې ته به يې له آسمان نه ډير کتل، ډير غور، تدبر او تفکر به يې کاوه، کوم څه به چې د چا نه خوښيدل هغه به يې نه يادول، چا ته به يې چې نصيحت کاوه او يا به يې چې د چا عيب بيانولو، نو نوم به يې نه ورته اخيست بلکه ويل به يې: د هغه چا حال به څه وي چې داسې او هسې کارونه کوي. د فرزذق د لاندينې قول تر ټولو غوره مصداق و:

يغضي حياء و يغضى من مهابته فــلا يكلــم الا حين يبتسم

[خپلې سترګې له حيا نه پټوي پداسې حال کې چې له هيبت نه يې د نورو سترګې پټيږي، يوازې هغه وخت خبرې ورسره کيږي چې په شونډو يې تبسم وي.]

رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) د زيات عدل، عفت، صدق، امانت او استقامت درلودونکی وٴ.

دښمنان له دوستانو نه مخکې دده په امانت، صداقت او عفت اعتراف کوي، له اسلام نه مخکې په امين مشهور شوی وٴ ټولو به خپل امانتونه له ده سره اينبودل. او ټولو به د حکم په توګه مراجعه ورته کوله.

امام ترمذي روايت کوي چې ابو جهل رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) ته وويل: مونږ تا دروغجن نه شميرو بلکه دا څه دې چې راوړې هغه دروغ بولو، همدا وه چې الله تعالى دا آيت نازل کړ[۱]:

((فَإِنَّهُمْ لا يُكَذِّبُونَكَ وَلَكِنَّ الظَّالِمِينَ بِآيَاتِ اللَّهِ يَجْحَدُونَ)) (الانعام: ۳۳) [هغوی تا دروغجن نه ګڼي بلکه دا ظالمان د الله آيتونه نه مني.]

هرقل (هيراکليوس) له ابوسفيان نه پوښتنه وکړه: آيا تاسو له محمد (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) نه مخکې لدينه چې د نبوت دعوه وکړي دروغ اوريدلي؟ ابو سفيان ځواب ورکړ: نه.

رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) ډير متواضع او بې کبره شخص و، دا يې نه خوښيدل چې خلک لکه د شاهانو په شان معامله ورسره وکړي او ورته پورته

---

[۵]. صحيح بخاري ۱/ ۵۰۴.

[۱]. مشکاه المصابيح۲/ ۵۲۱.

شي. د فقيرانو پوښتنه به يې کوله، مرسته به يې ورسره کوله، د غلامانو دعوت او بلنه به يې قبلوله او د اصحابو (رضي الله عنهم) په مينځ کې به د عادي شخص په توګه ناست وؤ.

عائشه (رضي الله عنها) وايي: رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) به خپلې (پښې) بوټونه پخپله ګنډل (پيوندول)، جامې به يې هم ګنډلې او پيوندولې، پخپل کور کې به يې پخپل لاس کار کاوه. هغه لکه د نورو انسانانو په شان يو انسان و؛ جامې به يې ګنډلې، ميږې به يې لوشلې او خپل خدمت به يې پخپله کاوه.(۱)

حضرت نبي (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) ډير با وفا، د زيات صله رحم خاوند، مشفق، مهربانه او رحيم انسان وؤ له هر چا نه په غوره اخلاقو کې وړاندې وؤ. بده خبره يې نده کړې، په چا يې لعنت ندی ويلی په بازار کې يې هم غالمغال ندی جوړ کړی. په هره نيکۍ کې د کمال درجې ته رسيدلې وؤ. د بدۍ ځواب يې په بدۍ نه ورکاوه، تل به يې نورو ته عفوه، ښښنه کوله، دا يې هم نه وؤ خوښ چې نور خلک دې شا ته ورپسې روان وي. په خوراک، جامه او پوښاک کې به يې د خپل ځان او غلامانو تر مينځ توپير نه کاوه، اوف قدري يې هم نه ويل. د غلام او خادم کارونه به يې هم پخپله کول، کله يې هم خادم او غلام ته سخته خبره نده کړې ورباندې په غوسه شوی ندی، په تقصير يې رټلی ندی. مسکينان يې خوښيدل ناسته ولاړه يې ورسره درلوده، جنازې ته به يې حاضريده، او فقيرانو ته يې په کمه سترګه نه کتل.

يو ځل رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) د يوه سفر په دوران کې امر وکړ چې يو پسه دې حلال او پوخ شي! يو کس پسه راونيو ذبح کاوه يې، بل د پخولو بند و بست وکړ، رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) وفرمايل: (**وعلي جمع الحطب**)، **فقالوا: نحن نكفيك. فقال: (قد علمت أنكم تكفوني ولكني أكره أن أتميز عليكم، فإن الله يكره من عبده أن يراه متميزاً بين أصحابه)، وقام وجمع الحطب.** زه به خس او خاشاک راټول کړم. اصحابو (رضي الله عنهم) ورته وويل: مونږ يې ستا په ځای راټولوو. ده ورته وفرمايل: زه پوهيږم چې تاسې زما په عوض دا کار کوئ، خو زه دا نه خوښوم، چې ځانته دا امتياز ورکړم، ځکه الله تعالى دا نه خوښوي چې يو بنده دې د نورو په مينځ کې ځانته په امتياز قايل وي. دا يې وفرمايل پاڅيد او خس يې راټول کړل.(۲)

---

(۱). مشكاه ۲ المصابيح/ ۵۲۰ .

(۲). خلاصه السير ص ۲۲ .

غوره به وي دلته د هند بن ابي هاله له خولې نه د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) صفت واورو:

هغې به ویل: رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) به همیشه غمګین ښکاریده، ډیر تفکر او تدبر به یې کاوه، څه خاص آسایش او سهولیات یې نه درلودل، بې ضرورته به یې خبرې نه کولې، زیات به خاموش وۀ، خبره به یې چې پیل کړه پای ته به یې رسوله، بې تکلفه خبرې به یې کولې، خوله به یې دې خوا اخوا نه کوله زیات مفاهیم به یې په لنډو ټکو کې بیانول، خبره به یې مکمله او بشپړه وه، ډیر نرم او شیرین وۀ، بدخویه او سخت معامله نه وۀ. نعمت به که هر څومره وړوکی و لوی یې شمیره. د هیڅ شي (خوراک) یې بد نه ګڼل، څه به یې چې خوړل نه به یې ستایل او نه به یې بدي بیانوله، که به حق تر پښو لاندې شو دومره به په غوسه شو چې هیڅوک یې مخې ته نه شوی دریدلای. د حق لپاره به یې انتقام اخیست، د خپل ځان لپاره نه په غوسه کیده او نه یې شخصي انتقام اخیست. اشاره به یې چې کوله نو په ټول لاس سره به یې کوله د تعجب په وخت کې به یې مخ بـــلې خوا ته اړاوه که به خوشاله و نو سترګې به یې ښکته وې، خندا یې یوازې تبسم وه، او غاښونه به یې لکه ملغلرې داسې ځلیدل.

یوازې هغه خبرې به یې کولې چې ضروري به وې، اصحاب به یې سره یو کول، نه دا چې هغوی سره بیل او تیت کړي. د هر قوم مشر ته به یې د مشر په سترګه کتل او هغه به یې د خپل قوم مسوول ټاکه. ځان به یې د نورو له شر نه محفوظ ساته. د خپلو اصحابو (رضي الله عنهم) خوښه به یې مراعاتوله، د خلکو د حالاتو په هکله به یې له خلکو نه پوښتنې کولې، تل به یې له اعتدال نه کار اخیست او اختلاف یې نه کاوه. ددې له امله چې نور څوک غفلت ونکړي د هیڅ غفلت اجازه یې نه ورکوله، د هر ډول حالاتو د مقابلې لپاره پوره تیار وۀ د حق په لار کې یې هیڅ کوتاهي نه کوله او د نورو په حق یې کله هم تجاوز ندی کړی.

ملګری یې هغه وۀ چې غوره خیر غوښتونکی به وۀ، د نورو غمخور او مرستندوی دده په وړاندې ډیر محترم او د لوړ مقام خاوند و. تل به یې د الله ذکر کاوه د ځان لپاره یې ځانګړی ځای نه و غوره کړی، مجلس ته به چې ورغی هلته به کیناست چیرته به چې ځای خالي وۀ، او همدا یې امر هم وۀ. ټولو ته یې په یوه سترګه کتل د هر چا د حقوقو رعایت یې کاوه چا به چې د ضرورت په وخت کې کیناوه، او یا به یې ودراوه نو تر هغې پورې به ورسره ناست او یا ولاړ وۀ تر څو به د هغه ضرورت رفع شو، د هغه سوال

ته به يې په پوره صبر غوږ نيوه او په ډيره ښه طريقه به يې ځواب ورکاوه. اصحاب (رضي الله عنهم) نورو سترګې يې په وړاندې برابر وو، هغه ډير ورته نژدی وۀ چې د زياتې تقوی درلودونکی به وۀ، مجلس يې د حلم، صبر، حيا، امانت او صداقت مجلس وۀ، هلته به غالمغال نه وۀ، يو له بل سره به همکاري او نرمي کيدله. د لوی او مشر درناوی به کيده او په فقير او محتاج به رحم کيده، د بې وسه لاس نيوی به کيده. تل به خوښ و، خوش اخلاقه او مهربانه وۀ، هيڅ بدخويه، بدګفتاره، سخت زړی او غالمغالي نه وۀ، له دريو شيانو نه يې ځان پاک ساتلی وۀ: له ريا نه، بل له زيات خوراک، زياتو خبرو، او دريم له بې هدفه کار نه.

د چا بدي يې نه بيانوله، بد يې نه ورته ويل، عيبونه يې نه پسې راپلټل، بې ثوابه خبره يې نه کوله، خبرې به يې چې کولې د مجلس ملګري به يې ټول متوجه کيدل غوږ به يې ورته نيوه، خبره به يې نه اخلالوله، بل چا به چې خبره ورته کوله غوږ به يې ورته اينبود او تر هغې پورې به چوپ وۀ تر څو به د هغه خبره خلاصه شوه. د خندا په خبره به يې خندل د تعجب په وخت کې به يې تعجب کاوه د نورو د نامناسبې خبرې په مقابل کې به يې له زغم او صبر نه کار اخيست. فرمايل به يې: د حاجتمند حاجت پوره کړئ. د نيکۍ په بدل کې به يې له چا نه د شکرانې تمه نه کوله.[1]

خارجه بن زيد (رضي الله عنه) وايي: رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) له ټولو نه د زيات وقار درلودونکی وۀ، په آسانۍ او بې ضرورته به يې خبره نه کوله. زياتره به خاموش وۀ، د نا مناسبې خبرې په اوريدو سره به يې مخ ګرزاوه. خندا يې د تبسم تر حده وه. خبرې يې په اندازه برابرې وې، نه به يې زياتې کولې او نه له حده کمې، دده په وړاندې به اصحابو (رضي الله عنهم) هم يوازې تبسم کاوه، او دده په درناوي کې به يې په زوره نه خندل[2].

لنډه دا چې رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) هغه کامل انسان وۀ چې مثال نه لري، الله تعالى هغه ته ادب ورکړی وۀ او الله تعالى د هغه د غوره او لوړو اخلاقو په اړه فرمايي: ((وَإِنَّكَ لَعَلى خُلُقٍ عَظِيمٍ)) (القلم: ٤) [ته د لويو اخلاقو خاوند يې.]

همدا د کمال صفات او ځانګړتياوې وې چې خلک يې له رسول الله (صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم) سره نژدې کړي وو، د همدې صفاتو له برکته يې د هر چا په زړه کې

---

[1] .الشفا للقاضي عياض ١/ ١٢١تر ١٢٦. - شمائل الترمذي .

[2] . نفس المصدر ١٠٧/١.

ځای او لوړ مقام درلود. د همدې غوره اخلاقو په وجه هغه داسې یو رهبر وٴ چې زړونه ورپورې تړلي وو، د همدې کمالاتو په سبب هغه خپل مغرور، خود خواه او سرکش قوم د ځان کړ، او همغه جاهل خلک داسې شول چې ډله ډله د الله تعالی په دین مشرفیدل او اسلام ته یې غاړه ایښودله.

دا صفتونه مو چې یاد کړل دا د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) د کمالانو او غوره اخلاقو یوه ډیره کوچنۍ نمونه ده، د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) په عظمت او حقیقت پوهیدل او د هغه بیانول یو ناممکن کار دی. د داسې یو انسان صفت به څوک وکړای شي چې اخلاق یې قرآن کریم وي. بیشکه چې د رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) د عظمت حقیقت بیانول د چا له وسه ندي پوره.

اللهم صل علی سیدنا محمد و علی آل سیدنا محمد کما صلیت علی سیدنا ابراهیم و علی آل سیدنا ابراهیم انك حمید مجید. اللهم بارك علی سیدنا محمد و علـــی آل سیدنا محمد کما بارکت علی سیدنا ابراهیم و علی آل سیدنا ابراهیم انك حمیـــد مجید.

سلطان محمود صلاح
پیښور – حیات آباد
۱/۷/ ۲۰۰۲م = ۱۰ /۴/ ۱۳۸۱ هـ ش

د مراجعې پای
د جمعې ورځ ۴/۸/ ۲۰۰۶ م.

د کتاب مراجع

۱. اخبار الکرام باخبار المسجد الحرام، شهاب الدين احمد بن محمد الاسدي المکي (۱۹۲۲هـ) المطبعة ا لسلفية بنارس الهند ۱۳۹۲هـ/۱۹۷۲م.

۲. الادب المفرد، محمد بن اسماعيل البخاري (۲۵۶هـ) طبع استنابول ۱۳۰۴هـ.

۳. الاعلام، خير الدين الزرکلي. الطبعة الثانية القاهرة ۱۹۴۵م.

۴. البداية والنهاية، اسماعيل بن کثير الدمشقي مطبعة السعادة مصر ۱۹۳۲م.

۵. بلوغ المرام من ادلة الاحکام، احمد بن حجر العسقلاني (۷۷۳_۸۵۲هـ) المطبع القيومي کانفور الهند۱۳۲۳ هـ.

۶. تاريخ ارض القرآن، السيد سليمان الندوي (۱۳۷۳ هـ) معارف پريس اعظم کده، الهند ۱۹۵۵م (الطبعة الرابعة).

۷. تاريخ اسلام، شاه اکبر خان نجيب آبادي مکتبة رحمت يوبند يوبي الهند.

۸. تاريخ الامم و الملوک، ابن جرير الطبري المطبعة الحسينية المصرية.

۹. تاريخ عمر بن الخطاب، ابو الفرج عبدالرحمن بن الجوزي مطبعة التوفيق الادبية بمصر.

۱۰. تحفة الاحوذي، ابو العلی عبدالرحمن المارکفوري (۱۳۳۵هـ_۱۹۳۵م) جيد برقي پريس دهلي الهند ۱۳۴۶_۱۳۵۳هـ.

۱۱. تفسير ابن کثير، اسماعيل بن کثير الدمشقي دار الاندلس بيروت.

۱۲. تفهيم القرآن، الاستاذ السيد ابو الاعلی المودودي ، مرکزي مکتبة جماعت اسلامي الهند.

۱۳. تلقيح فهوم الاثر، ابو الفرج عبد الرحمن بن الجوزي (۵۹۷ هـ) جيد برقي پريس دهلي الهند.

۱۴. جامع الترمذي ، ابو عيسی محمد بن عيسی بن سورة الترمذي (۲۰۹_۲۷۹هـ) المکتبة الرشيدية دهلي الهند.

۱۵. الجهاد في الاسلام، (اردو)، الاستاذ السيد ابو الاعلی المودودي،

اسلامک پبلیکشنز لمیتد لاهور باکستان.
۱۶.خلاصة السیر، محب الدین ابو جعفر احمد بن عبدالله الطبري ۲۷۴ھ دهلي پرنټنګ پریس دهلي الهند ۱۳۴۳ھ.
۱۷.رحمة للعالمین، محمد سلیمان المنصور فوري (م ۱۹۳۰م) حنیف بک ډیپو دهلي.
۱۸.رسول اکرم کي سیاسي زندګي (اردو) الدکتور حمید ال،له پاریس سالم کمپني دیوبندیو_ بي الهند ۱۹۲۳م.
۱۹.الروض الانف، ابو القاسم عبد الرحمن بن عبد الله السهیلي (۵۰۸- ۵۸۱ ھ) المطبعة الجمالیة بمصر ۱۳۳۲ھ_۱۹۱۴م.
۲۰.زاد المعاد، شمس الدین ابو عبد الله محمد بن بکر بن ایوب المعروف بابن القیم (۲۹۱_ ۷۵۱) المطبعة المصریة الطبعة الاولی ۱۳۴۷_ ۱۹۲۸م.
۲۱.سفر التکوین.
۲۲.سنن ابن ماجة، ابو عبد الله محمد بن یزید بن ماجة القزویني، (۲۰۹_۲۷۳ھ).
۲۳.سنن ابي داؤد، ابو داؤد سلیمان بن الاشعث السجستاني (۲۰۲_۲۷۵ھ) ج ا المطبع المجیدي کانفور الهند ۱۳۷۵ھ، ۲ المکتبة الرحیمیة دیوبند یو بي الهند.
۲۴. سنن النسائي، ابو عبدالرحمن احمد بن شعیب النسائي (۲۱۵_۳۰۳ ھ) المکتبة السلفیة لاهور باکستان.
۲۵.السیرة الحلبیة، ابن برهان الدین.
۲۲.السیرة النبویة، ابو محمد عبدالملک بن هشام بن ایوب الحمیري، ۲۱۳ او ۲۱۸ھ) شرکة مکتبة و مطبعة مصطفی البابي الحلبي و اولاده بمصر المطبعة الثانیة ۱۳۷۵ هـ_۱۹۵۵م.
۲۷. شرح شذور الذهب، ابو محمد عبد الله جمال الدین بن یوسف المعروف بابن هشام الانصاري (۷۰۸_۷۲۱) مطبعة السعادة بمصر.
۲۸. شرح صحیح مسلم، ابو زکریا محیي الدین یحیی بن شرف النووي (۶۷۲ ھ) المکتبة الرشیدیة دهلي الهند ۱۳۷۲ھ.
۲۹. شرح المواهب اللدنیة، الزرقاني نسخة عتیقة مخرومة الاوائل.

Edited by Foxit PDF Editor
Copyright (c) by Foxit Software Company, 2003 - 2009
For Evaluation Only.

٣٠.الشفا بتعريف حقوق المصطفى، القاضي عياض، مطبعة عثمانية استانبول ١٣١٢هـ.
٣١.صحيح البخاري، محمد بن اسماعيل البخاري (٢٥٢ هـ) المكتبة الرحيمية (ديوبند الهند) ١٣٨٤ _١٣٨٧هـ).
٣٢. صحيح مسلم، مسلم بن الحجاج القشيري المكتبة الرشيدية دهلي الهند ١٣٧٢هـ.
٣٣.صحيفة حبقوق.
٣٤. صلح الحديبية، محمد احمد باشميل (الطبعة الثانية) دار الفكر ١٣٩١هـ _١٩٧١م.
٣٥.الطبقات الكبرى، محمد بن سعد مطبعة بريل ليدن ١٣٢٢ هـ.
٣٦.عون المعبود شرح ابي داؤد ، ابو الطيب شمس الحق العظيم آبادي (الطبعة الاولى الهندية).
٣٧. غزوة احد ، محمد احمد باشميل (الطبعة الثانية).
٣٨. غزوة بدر الكبرى، محمد احمد باشميل (الطبعة الثانية) ١٣٧٢ هـ _ ١٩٧٢م.
٣٩. غزوة خيبر، محمد احمد باشميل (الطبعة الثانية) دار الفكر ١٣٩١_١٩٧١.
٤٠. غزوة بني قريظة، محمد احمد باشميل (الطبعة الاولى) ١٣٧٢ هـ_١٩٢٢م.
٤١.فتح الباري، احمد بن علي بن حجر العسقلاني (٧٧٣_٨٥٢) المطبعة السلفية و مكتبتها الروضة القاهرة.
٤٢. فقه السيرة، محمد الغزالي، دار الكتاب العربي بمصر الطبعة الثانية ١٣٧٥ هـ=١٩٥٥م.
٤٣. في ظلال القرآن، سيد قطب، دار احياء العربي بيروت لبنان الطبعة الثالثة.
٤٤. القرآن الكريم.
٤٥. قلب جزيرة العرب، فؤاد حمزة ، المطبعة السلفية و مكتبتها، الروضة بمصر١٣٥٢ هـ_١٩٢٣م.
٤٢.ما ذا خسر العالم بانحطاط المسلمين، السيد ابو الحسن علي الحسني الندوي، الطبعة الرابعة مكتبة دار العروبة القاهرة ١٣٨١ هـ_١٩٢١م.
٤٧.محاضرات تاريخ الامم الاسلامية، الشيخ محمد الخضري بک، المكتبة

Edited by Foxit PDF Editor
Copyright (c) by Foxit Software Company, 2003 - 2009
For Evaluation Only.

التجارية الكبرى بمصر، الطبعة الثامنة ١٣٨٢ هـ.
٤٨. مختصر سيرة الرسول، شيخ الاسلام محمد بن عبد الوهاب التميمي النجدي (م ١٢٢٠) مطبعة السنة المحمدية القاهرة الطبعة الاولى ١٣٧٥ هـ _١٩٥٦م.
٤٩. مختصر سيرة الرسول، الشيخ عبد الله بن محمد النجدي آل الشيخ (م بمصر ١٢٤٢هـ
٥٠. مدارك التنزيل، النسفي.
٥١. مرقاة المفاتيح ج٢، الشيخ ابو الحسن عبيد الله الرحماني المباركفوري نامي پريس لكنهو الهند ١٣٧٨ هـ _١٩٥٨م.
٥٢. مروج الذهب، ابو الحسن علي المسعودي مطبعة الشرق الاسلامية القاهرة.
٥٣. المستدرک، ابو عبد الله محمد الحاكم النيسابوري دائرة المعارف العثمانية حيدر آباد الهند.
٥٤. مسند احمد، الامام احمد بن محمد حنبل الشيباني ٢٢٤ هـ.
٥٥. مسند الدارمي، ابو محمد عبد الله بن عبد الرحمن الدارمي ١٨١_ ٢٥٥ هـ.
٥٦. معجم البلدان، ياقوت الحموي.
٥٧. مشكاة المصابيح، ولي الدين محمد بن عبد الله التبريزي، المكتبة الرحيمية ديوبند يوبي الهند.
٥٨. المواهب اللدنية، القسطلاني المطبعة الشرفية ١٣٣٢ هـ، ١٩٠٧م.
٥٩. موطا الامام مالک، الامام مالک بن انس الاصبحي (م١٢٩هـ) المكتبة الرحيمية ديوبند يوبي الهند.
٦٠. وفاء الوفا، علي بن احمد السمهودي.

Download
from:aghalibrary.com